فتاوی حقانیه

پښتو

له افاداتو د

شیخ الحدیث حضرت مولانا عبدالحق صاحب رحمه الله علیه

څارنه او اهتمام

حضرت مولانا سمیع الحق صاحب مهتمم جامعه حقانیه

ترتیب: مفتی مختار الله حقانی

پښتو ژباړونکی

مولوی قاری محمد فاروق ملنګ مهتمم مدرسه دار العلوم ابوهریره ارګون

ناشر:

جدید کتب خانه

جنوبی وزیرستان ایجنسی وانا بازار

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned with CamScanner



تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احایث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ ودعوت
تمام فنون		

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام
Maktaba Tul Ishaat.com

وَلَوْ رَدُّوْهُ اِلَى الرَّسُوْلِ وَاِلٰى اُولِى الْاَمْرِ مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ الَّذِيْنَ يَسْتَنْبِطُوْنَهٗ

د جامعه دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک د نیمې پیړۍ د فتاوا ووو مجموعه

فتاوی حقانیه

پښتو

له افاداتو د

شیخ الحدیث حضرت مولانا عبدالحق صاحب رحمه الله علیه

او د دارالعلوم حقانیه نور مفتیانِ کرام

څارنه او اهتمام

حضرت مولانا سمیع الحق صاحب مهتمم جامعه حقانیه

ترتیب

مفتی مختار الله حقانی

پښتو ژبارونکی

مولوی قاری محمد فاروق ملنګ مهتمم جامعه دارالعلوم ابوهریرة ارګون

خپرونکی

جدید کتب خانه

حاجی بخت عالم مارکیټ جنوبی وزیرستان انګیشی د انا بازار

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned with CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

دژباړونکی لنډه پیژندنه

مولوي قاري محمد فاروق ملنګ دمیزان په میاشت کښې سنه ۱۳۴۴هـ ش کښې دبالیشو دکلي په یوه دینداره کورنئ کښې دنیاته سترګی خلاصي کړي دي دپلارنوم ئي حاجي محمد اعظم دنیکه نوم ئي محمد عظیم اودغورنیکه نوم ئي ملك محمد رحیم دی.

دتعلیم سلسه :- ناظره ،قرآن کریم اوبعض فارسي کتابونه ئي پخپل پلارني کلي دعلماء کراموڅخه وویل اودده نه وروسته دبالیشو په عالی لیسه کښې داخل شوچه ددریم صنف نه په نهه نبروسره کامیاب شوچه په دغه وخت کښې زمونږپه پاکه اواسلامي خاوره باندې دروسانو اودهغوئ لاس پوځوګوډاګیانوسره لشکریرغل وکړو ،چه دده کورنئ هم دعلماء کرامودفتوی مطابق دخپل ګران هیواد افغانستان نه پاکستان ته هجرت وکړواودبنوپه هویدکلي کښې دیره شواوڅه ابتدائی کتابونه ئي هم هلته وویل اودیوکال نه وروسته پیرخیلوکلی ته ولاړ اوهلته په ګورنمنټ پرائمیری (ابتدائی مکتب) کښې هم شامل شواوبیان بهریت کلی ته ولاړواودهغه ځائ دمکتب څخه دڅلورم صنف نه اول نمره فارغ اوپه ګورنمنټ هائی سکول (عالی لیسه) حکیم عبرت کښې داخل شواوپه دغه دوران کښې دمکتب دوتلوسره سره په یوولسم درمضان مطابق داول دجولائی سنه ۱۹۸۲ دقرآن کریم حفظ شروع کړوچه په دوه کاله کښې یې دقرآن کریم حفظ مکمل کړواودحافظ کرمت الله په لاس دستارفضیلت حفظ القرآن په سرکړواوپه سنه ۱۹۹۰کښې دګورنمنټ هائی سکول حکیم عبرت نه ئی دلسم ټولګی نه فارغ اوبورډ سندئی هم ترلاسه کړواودخپل دینی کتابونوسلسله ئي جاری وساتله چه په دغه سلسله کښې جنوبي وزیرستان وانه زړینورکیمپ ته ولاړوبعضی دصرف اونحو کتابونه پیه بنوکښې دحضرت مولینا احمد چراغ الدین مهتمم دارالعلوم محمودیه نه وئیلی وو.

وروسته دوانه په زیړنورکیمپ کښې دضیاء المدارس الفاروقیه په مدرسه خپل دیني تعلیماتوته دوام ورکړو ورسره ئي خپل عصري علوم پرائیویټ په مخ بیول چه په ضیاء المدارس کښې ئي دصرف نحو اصول دلاندې علماء کراموڅخه وویل حضرت مولوی اختر محمد صاحب حضرت مولینا علی خان صاحب ،حضرت مولیناقاري عبدالکبیرصاحب شهید ،حضرت مولیناقاری اسمعیل خان صاحب اوکله چه دضیاء المدارس مدرسه غزنی ته نقل شوه نونومړی په دارالعلوم وانه کښې شامل شو اودمختلفو اساتذه ؤنه خپله تعلیمي تنده ماته کړه چه دهغوئ اساتذه کرامونومونه لاندې ذکردي.

۱- مولوي صاحب نورمحمد رحمه الله مهتمم دارالعلوم وانا.

۲- شیخ الحدیث مولانا اصلاح الدین صاحب

۳- شیخ الحدیث مولانا اسید الله صاحب

۴- شیخ الحدیث مولانا عبدالسلام صاحب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

وَلَوْ رَدُّوهُ إِلَى الرَّسُولِ وَإِلَىٰ أُولِي الْأَمْرِ مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ الَّذِينَ يَسْتَنْبِطُونَهُ مِنْهُمْ

رفاقہ دارالعلوم الحقانیہ اکوڑہ خٹک ریسرچ لائبریری فتاوی و مجموعہ

فتاوی حقانیہ

پښتو

۱

له افاداتو د

شیخ الحدیث حضرت مولانا عبدالحق صاحب رحمۃ اللہ علیہ

اود دارالعلوم حقانیہ نورو مفتیانو کرامو

څارنه او اهتمام

حضرت مولانا سمیع الحق صاحب مدظلہ مہتمم جامعہ حقانیہ

ترتیب

مفتی مختار اللہ حقانی

پښتو څېړنې مرکز

مولوی قاری محمد فاروق ملنګ مهتمم جامعه دارالعلوم ابوهریره اړګون

جدید کتب خانه

حاجی بخت عالم مارکیټ جنوبی وزیرستان ایجنسی وانا

جلد اول

۵۔ شیخ الحدیث مولانا عبدالمجید صاحب

۶۔ شیخ الحدیث مولانا تاج محمد ابن مولوي نورمحمد صاحب

حضرت مولیناوهاج الدین صاحب

په ۱۹۹۸ دارالعلوم وزیرستان څخه فارغ اودستار فضیلت په سرکړو اوپه همدی کال ئې دوفاق المدارس پاکستان نه هم سند ترلاسه کړو اودعصري علوموپه ترڅ کښې دبنوبورډ نه په پولټیکل ساتنس دسیاست ددولسم صنف (۱۲ صنف) سند واخست اوپه سنه ۱۹۹۵ دګرګل یونیورسټی دپوهنتون څخه په عربي کښې د ۱۴ صنف سند واخست اوده وروسته دبعض مشکلاتو په وجه سره دعصري علوموسلسله پاتې شوه.

خدمات :۔ دخپل تعلیم په دوران کښې دخپل شهید ورور قاری ګل اعظم سره ئې یوځائی په سنه ۱۹۹۱م کښې دهجرت په هغه سختو شرائیطو اوکړاوونو کښې دزیرینووانه په کیمپ کښې ددارالحفاظ بنیادکیښوده چه په مدرسه حفظ القرآن سلیمانیه باندې مشهوره وه

چه ددوئې داخلاص اودمحنت اودملګرو اودوستانو په همکاری سره ئې دیرزر ترقي وکړه اودیرشاګردان ئې وروزل چونکه په دغه کال کښې روسانو ماته وخوړه اودیرمهاجرین هم خپل وطن ته ولاړل، اووطن هم په هرلحاظ سره رنګ اوویجاړوو هم په تعلیمی لحاظ سره اوهم په تخنیکي لحاظ سره فلهذا ځنګه چه دارګون دخلکو دزیاتی غوښتنی سره اودمدرسی داساتذه ؤ په مشهوره سره دمدرسې یوه حصه ئې ارګون ته نقل کړه چه دارګون دبرخې سرپرستي دهغه ورورقاری صاحب ګل اعظم کوله اودانتظام کارونه ئې دخطیب ارګون مولوی محمد عالم پرغاړه وو اوپه سنه ۱۹۹۷م قاری صاحب ګل اعظم صادق بانی دمهتمم دارالعلوم ابوهریره داریاناطیاري په سقوط کښې جام شهادت نوش کړو اناللہ وانا الیه راجعون.

دغې واقعې نه بعد ددواړو مدرسو مسئولیت دده په غاړه شو اوپه ۱۹۹۸م وروسته دستاربندی نه مستقل ارګون ته راغې اوددارالعلوم ابوهریره مستقل مهتمم شو اوکله چه په سنه ۲۰۰۱م کښې چه دطالبانو حکومت رنګ اودامریکاتیانو دیرغل نه بعد دحکومت وخت اودبعضې مجرمینو دخوانه دمدرسی دخدمت نه سره دخپلو ملګرونه چه مولوی محمد عالم عابد ناظم دمدرسې ،مولوي حمیدالله شخالی ،ملا اغاګل نعمانی ،لری کړی شول

په دغه وخت کښې ئې مفتاح المنطق ،ترفضائل حفظ القرآن اوفتاوی دارالعلوم حقانیه ئې په پښتو ترجمه کړه چه دا ډیرزر زرچاپ شول الله تعالی دې قبول اومنظوروګرځوي ، اودوه کاله وروسته بیادمنطقی دعلماء طلباء اودقومی مشرانوپه ډیراصرار اوفیصلی سره دمدرسې دمهتمم په توګه وګمارل شو چه تراوسه هم خپله دنده پرمخ بیائي. خدائ پاک دې قبول اومنظوروګرځوي

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned with CamScanner

د چاپ تول حقوق په حق د جديد کتب خانه وانا کښې محفوظ دي

د کتاب نوم: فتاوی حقانیه (لومړی جلد)
له افاد اتو دي: شیخ الحدیث حضرت مولانا عبد الحق صاحب رحمة الله علیه
بانی جامعه د ار العلوم حقانیه او د دي جامعې نور مفتیان کرام
څارنه او اهتمام: شیخ الحدیث حضرت مولانا سمیع الحق صاحب د دي جامعې مهتمم
ترتیب: مولانا مفتي مختار الله حقاني د تخصص فی الفقه والافتاء د شعبې استاذ
پښتو ژباړه: حضرت مولانا قاري محمد فاروق ملنګ مهتمم جامعهٔ دار العلوم ابو هریرة ارګون
کمپوز اوډیزاین ژباړې ترتیب: قاري عبد القیوم لوګري
د چاپ کال: ۱۵ صفر المظفر ۱۴۳۱ هجري، په مطابق د ۳۱ دسمبر ۲۰۰۹ میلادي
د چاپ تعداد: ۱۱۰۰
خپروونکی: جدید کتب خانه حاجي بخت عالم مارکیټ جنوبي وزیرستان ایجنسي وانا
د لاس ته راوړلو ځایونه: مکتبهٔ رشیدیه سرکي روډ کوئټه
مکتبه الحرم، سرد ار پلازه نزد جامعه د ار العلوم حقانیه اکوړه خټک
وحیدي کتب خانه قصه خواني بازار پیښور
جدید مدینه کتب خانه حاجي رشید مارکیټ ارګون بازار
مکتبهٔ فریدیه محله جنګي، قصه خواني بازار پیښور، له مولوي امیر الله شیراني سره
ټاکست:

جلد اول

د سرتکی

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لحضرت الجلالة و الصلوة و السلام علی خاتم الرسالة

بحمد الله عز وجل د دار العلوم حقانیه لوړ علمي مقام او دار الافتاء ته ئي دخدایي مقبولیت پر بناء په ملک کښې د ننه او د باندې په علمي، تحقیقي (خیرنیز) او عد التي حلقو کښې د اعتماد سند او په عوامو کښې د مقبولیت مقام ورکړ شوی دی، د دار العلوم دار الافتاء د تاسیس له کال ۱۹۴۷ء څخه مسلمانانو ته په وړاندې کیدونکو علمي، دیني او دنیاوي مسائلو کښې دخلکو مرجع وګرځیده۔ د دار العلوم بانې او لومړنی مهتمم سیدي او والدي شیخ الحدیث حضرت مولانا عبد الحق قدس سره په پخپله دا فتواوي په غور سره کتلې، کموالی او زیاتوالی به ئي پکښې وکړ او بیا به ئي په ډیر اهتمام سره د غه تحقیقي ملغري کتابچو ته نقل او محفوظولې۔ له نیمې پیړۍ څخه په زیاتې مودې کښې را تولې شوې دا فتواوي د دار العلوم په کتابچو کښې محفوظې دي۔ له ډیرې زمانې راهیسې د علمي کړیو او عامو مسلمانانو د غوښتنې او پخپله د ناچیز بنده هیله وه چه دا ټاټوبستې خزانه له کتابچو څخه په را ایستلو سره د اُمت د افادې او استفادې ذریعه جوړه شي او بیا د فقه او فتواوو په نړۍ کښې یوبل د توجه ور زیاتوالی ثابت شي لیکن د دار العلوم د محدودو وسائلو، مختلفو حالاتو او د ناچیز بنده د زیاتو مختلفو مصرفیتونو (په داسې حال کښې چه ما دا مشکل او نازک کار د خپلې نګرانۍ لاندې سر ته رساوه) له وجې دا هیله زر تر زره د تکمیل پوړۍ ته نه ورسیده۔ لیکن بالآخره د الله تعالی په فضل او کرم سره دا عظیمه او پراخه ذخیره د ترتیب، تدوین، انتخاب او تحقیق، تخریج او تنقیح له مشکلو مراحلو څخه تیر او د فتاوی حقانیه شکل ئي غوره کړ کوم چه له شک پرته د خپل وخت یوه عظیمه فقهي اضافه او کارنامه ده او تر قیامته پورې د دین او علم د تړو طالبانو او د حق او صداقت پلټونکو لپاره د لارښوونې ذریعه ده انشاء الله۔ دا تول یواځې او یواځې د خدایي توفیق او پروردګاري فضل نتیجه ده۔

د علماوو مقام د نبوت وراثت دی، د دوی د تولوڅخه واړیو او د تعلیم او تعلیم فرائضو، تدریس او تصنیف، دعوت او تبلیغ لپاره د زیات صلاحیت او استعداد، د فن د استاذ انو صحبت او تربیه، د علم د طلب په لاره کښې د دماغ او زړه سترپې د تقوې، ربط او استناد د تدین ضرورت دی چه له هغو پرته د وراثت فریضه نه شي ادا کیدلی لیکن له دغو تولو ذمه واریو څخه په پُل صراط باندې د تللو غوندې یوه نازکه او باریکه ذمه واري د قضاء او افتاء ذمه راړي ده چه شرائط او صفات ئي همدومره نازک، حساس، او ژور دي۔ یواځې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

ذکاوت، ذهانت او د مطالعې زیاتوالی نه بلکه د راسخینو علماوو رسوخ، علمي تبحر، د قرآن او حدیثو په پراخو او ګنو قدیمو او نویو ذخائرو باندې عبور، د زمانې له تغیراتو او تبدیلیو څخه باخبري او په هره لحظه کښې پیدا کیدونکو تهذیبي، معاشرتي، اخلاقي او عرفي حالاتو او د نوې زمانې د نویو پیدا شویو مسائلو او چیلنجونو څخه واقفیت، بیا د سائل او مستفتي د سوال او د شریعت د ماخذ د نصوصو پوره پوهیدنې ته د رسیدو صلاحیت لازمي خبره ده چه دې ته د فقهي په تعریف کښې "فهم غرض المتکلم" وایي. او په حدیثو کښې چه کوم شی د "خیر" یوه عظیمه سرمایه ګڼل شوې ده. "من یرد الله به خیراً یفقهه فی الدین" (الحدیث) د اتولې خبرې د مفتي او قاضي د منصب غوښتنې دیرې نازکې ګرځوي. الحمد لله چه الله تعالی د دار العلوم له اولې ورځې څخه د فضل او کمال په دغو صفتونو باندې ښائسته او متصف کړی دی او د اسې مفتیان او مدرسین ئې ور نصیب کړي دي چه په نبوغ، رسوخ، تقوی او دیانت د اړې باندې ئې پوره اعتماد او بروسه کیدلی شي. او په دې مجموعي فتواوو کښې د همدې ډول ګڼ شمیر راسخینو علماوو او مفتیان کرامو محنت او هڅه شامله ده. الله تعالی دې هغو تولو ته په اعلی علیین کښې د راسخینو علماوو او د اُمت د فقهاوو په ډله کښې ځای ورکړي.

د کتاب په شروع کښې د فقهي او فتواوو په اړه ضروري بحثونه، د فقهي ماخذونه او د څلوریزو مذهبونو په فقه او اجتهاد باندې هم د یوې مقالې په ترڅ کښې رنا اچول شوې ده تر څو چه یو عام لوستونکی هم استفاده تري وکولی شي، د مفتیانو کرامو مختصر او لنډ حالات هم بیان شوي دي، د عربي عباراتو او حوالو تصحیح، د اصل ماخذ له محولې سره تطبیق بیا د زیات تائید لپاره د اضافي حوالو تعبیر او ور سره ورسره د جلد او صفحاتو د شمیرې د ورکولو هم کوشش شوی دی. دا مفتیان کرام اکثره هغه خلك دي چه مورنی ژبه ئې اردو نه ده، د هغو په لیکل شویو ځوابونو کښې د اردو محاورې، ګرامر، سلاست او د تذکیر او تانیث پیر لحاظ نه دی شوی په دا سې حال کښې چه د فتوی اصل مقصد هم د حکم او مسئلې بیانول دي نه مضمون لیکنه او د لفظي فصاحت او بلاغت اظهار. البته تر خپلې وسې پورې د فتاوی ترتیب کوونکو او اکثره زما غوندې ناچیزه هم د اردو عباراتو د تصحیح او د غلطیو د پلټنې کوشش کړی دی. د دې تر څنګ د عباراتو د اصلاح زیات ګنجائش شته او که چېرته لوستونکي د دې فتاوي لفظي او معنوي غلطي او خامي په ګوته کړي نو په راتلونکي کښې به ئې اصلاح وشي. انشاء الله. دا فتاوی د دار العلوم د غوره شویو استاذانو او مفتیانو د علمي څیړنو ثمره ده لیکن د تخصص فی الفقه و الافتاء د درجې د ګڼ شمیر شاګردانو او فاضلانو، د دوی د استاذانو او مشرفینو د خولې تویونې، بیا په تحقیق او تدوین کښې ئې ډیر د کار خلك شامل دي چه یادونه ئې د کتاب په مقدمه کښې راځي او بیا محترم ملګری مولانا مفتي مختار الله حقاني چا چه له خو کلونو څخه په دې دروند کار کښې خپل وخت لګولی دی.

لنډه دا چه د کتابت، اشاعت او تصحیح پورې له نیمې پیړۍ څخه په زیاتې مودې باندې را چار پیر شوی دا لوی کار د دغو تولو حضراتو او د یوې لویې ډلې د ګډو محنتونو په نتیجه کښې د شهود په تختې باندې ځلیدونکی دی. الله تعالی دې د دغو تولو حضراتو دا کوششونه قبول کړي او د اُمت د پوهنې ذریعه او زموږ د تولو لپاره دې صدقه جاریه وګرځوي. آمین.

سمیع الحق
خادم العلوم بدار العلوم حقانیه اکوړه خټك
۷ ذیقعده ۱۴۲۲ هجري/ ۲۲ جنوري ۲۰۰۲ء

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

د لوی او مهربان خپلن په نامه

د فتاوی دار العلوم حقانیه په پښتو ژبه کښې د ژباړې وجوهات

لکه څرنګه چه د دومره دیني علومو حاصلول په هر مسلمان نر او ښځې باندې فرض عین دی چه خپل خلورویشت ساعته ژوند د اسلامي عقاندو او احکامو د زرینو اصولو مطابق تیر کړي. تر څو د آخرت له شرموونکي بد انجام څخه محفوظ پاتې شي. لیکن د دې خبرې تر څنګ چه د ضرورت مطابق د دیني علومو حاصلول فرض عین دی او د دین او دُنیا د سرلوړۍ او خوشحالۍ نتیجه ده د څوارلسمې پیړۍ مسلمانان د دُنیا، د دُنیا د فاني کیدونکو اسبابو او د غربي نړۍ د تش په نامه پر مختګ د آوازې تر تاثیر لاندې راغلي او پخپل ټول توان او قدرت سره د تش په نامه عصري علومو او پر مختګونو په لټه کښې دي چه له مخې ئې د دیني علومو حصول ورته یو عبث کار او د وخت ضائع کول ښکاري.

خو د اسلام رښتوني پېچیان د اسلام د لوی سپه سالار او لارښود حضرت محمد رسول الله ﷺ سپیڅلي شاګرد ان، په اسلام باندې رښتوني سرښندونکي سلفِ صالحین د دین په هر ډګر کښې لکه جهاد، تبلیغ، درس او تدریس، تعلیم او تعلم، تصنیف او تالیف او د اسې نورو کښې نه سترې کیدونکي هلي ځلي کړي دي. د تصنیف او تالیف په ډګر کښې د مصنفینو حضراتو هلي ځلي، خوله تویونه، خواري، او سترې د ټول اُمت د پوهنې په لاره کښې د بلې شمعې مثال لري چه له مخې ئې د اُمت په هر قدم باندې د دوی د شکریې ادا کول ضروري دي. دغو حضراتو د تیرو زمانو په غربت، د وسائلو په نشتوالي کښې دومره تصنیفونه کړي اودومره کتابونه ئې په میراث پریښي دي چه د نن دور علماء ئې له تش کتنې څخه هم عاجز دي.

په دې زمانه کښې له دیني علومو سره د بې شوقي او له دُنیا سره د محبت له وجې د ډیرو خلکو توجه د دیني علومو له حصول څخه ګرځیدلې بلکه عام خلك خو پریږده اکثره علماء کرام هم په دُنیوي کارونو کښې د ډیر شغل له وجې نه شي کولی چه د سلفِ صالحینو د عربي ژبو له دیني ذخائرو څخه په آسانۍ سره ګه اخذ کړي او خلکو ته پرې لارښوونه وکړي، چه دا د دوی په حق کښې د ډیر لوی تاوان خبره ده.

خو د دیوبند د مدرسې او د دې په شان د نورو دیني درسګاوو شاګرد ان میدان ته راوداڅګل او په اردو او د اسې نورو ژبو کښې ئې د اسې دیني ذخائر خلکو ته وړاندې کړل چه تر ډیره حده پورې ئې دا تاوان جبیره کړ، الله تعالی دې د دوی قبرونه له نور څخه ډك کړي چه د ګنو مشکلاتو لکه د انګریزي استعمار پرلاسي، په اسلام او مسلمانانو باندې د هغوی له خوا

نو لکه څرنګه چه د دُنیا مسلمانان د بیلا بیلو ژبو خاوندان دي او علماء کرام د خلکو مشکلاتو ته په کتنې سره د علماء دیوبند او د اسې نورو عظیمو اسلامي او علمي پوهنتونو علمي ذخائر په هرې ژبې کښې ژباړلي او خلکو ته ئې د ګټې اخیستنې لپاره وړاندې کړي دي. د افغانستان او پاکستان د پښتنو سیمو اکثره خلك په اردو او د اسې نورو ژبو باندې ډیر کم پوهیږي او له دغو علمي ذخائرو او فتاواوو څخه ګټه نه شي اخیستلای چه په دې اړوند له ما احقر ژباړونکي سره دا فکر پیدا شو چه د سلفِ صالحینو او حقاني علماوو په پل باندې پل کښیږدم او د دوی د زړه خواله په پښتو ژبه وژباړم چه له یوې خوا څخه د پښتنو سیمو د خلکو علمي تنده پرې ماته شي او له بلې خوا څخه د دغو قیمتي علمي آثارو د کتونکو سلسله د پښتنو سیمو ته هم وغزیږي تر څو ګټه ئې نوره هم زیاته شي او اجر ئې خپلو مصنفینو ته دوه ګونې شي.

له الله تعالی څخه غواړم چه د احقر ژباړونکي او زما د همکارانو لکه هر یو ملا آغا ګل نعماني صاحب، قاري عبد القیوم لوګري صاحب، مولانا حمد الله صاحب او مولانا لعل ګل صاحب دا ناچیزه کوشش پخپل دربار کښې قبول کړي او زمونږ د ټولو لپاره ئې د خپلې رضا او د آخرت د ټولو منازلو له عذابونو څخه د نجات ذریعه وګرځوي. آمین.

د اسې خو په اردو ژبه کښې نورې فتاوا وي هم موجودې وي لیکن په ځانګړې توګه د فتاوی حقانیه په پښتو ژبې سره د ژباړلو وجوهات په لاندې ډول دي.

﴿۱﴾ دا چه د افتاوی د سیدي و مُرشدي، منبع العلوم و التقوی، استاذ علماء اسلام خصوصا علماء افغانستان او پاکستان، مربي مجاهدین عالم اسلام، بانې او مهتمم د دار العلوم حقانیه شیخ الحدیث حضرت مولانا عبد الحق نور الله مرقده او د دې ترځنګ د هغو علماء ربانیینو چه په نن دور کښې د زهد، علم، تقوی پیژندل شوي ځیري دي فتاوی ده چه په ټوله اسلامي نړۍ کښې په ځانګړې توګه په لر او بر پښتنو کښې د پوره اعتماد او باور مقام لري، هره یوه فتوی ئې په سر او سترګو منې، په عوامو او خواصو کښې یو شان مقبولیت لري او د ډیرې افادې او استفادې ور فتاوی ده.

﴿۲﴾ دا چه په دې فتاوی کښې د شیخ الحدیث ابن شیخ الحدیث، مهتمم دار العلوم حقانیه حضرت مولانا سمیع الحق صاحب دامت برکاتهم العالیه فتواوي او هغه سیاسي، جهادي، اصلاحي مضمونونه هم پکښې شامل دي چه هر وخت ئې د طاغوتي او اسلام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

دښمنه قوتونو، د ملکي او بهـــــر ملکي فساد اتو په مقابل کښې د اوسپنې د ديوال مثال لري. حضرت مولانا صاحب په دغو مضامينو کښې د شرقي او غربي استعمار په خلاف د جهاد اعلان، په پارلمان کښې د ننه او د باندې د قاديانيانو، لاهوري مـــرزايانو، د اسلام او د اسلام د ربښتوني او آخري پيغمبر حضرت محمد ﷺ د دښمنانو او د اسې نورو دين دښمنه ډلو ارزښتناکه مقـــابله کړې ده او د دين او اسلام دا لويه کلا يعنې دار العلوم حقانيه ني د دوی د شومو اهدافو له ګذار څخه محفوظه ساتلې. همدارنګه ني د هر ډول مبتدعينو لکه اهل حديث، اکبر دې ګريټ او د اسې نورو چـــــه د اسلام په نوم د اســـــلام په خرابولو او رنګولو کښې مشغول وو د پتو اسلام دښمنه اهدافو څخه پرده پورته کړې.

چونکه دا غلط عقائد او بدعتونه په يو نوم او بل نوم سره افغانستان ته هم را رسيدلي دي نو د دې فتاوی د ژبارې په لړ کښې به د افغانستان عوام او خواص هم د مولانا صاحب د دغو مضامينو په کتنې سره د اسلام دښمنه ډلو تپلو له اسلام دښمنې څخه خبر شي تر څو هر ډول ميد اني، ژبنې او سياسي مقابله ورسره وکړي او په افغانستان کښې هم د دوی دا هيلې او آرزوګانې له خاورو سره خاورې شي.

برسيره پر دې د مرتب عليه الرحمه مفتي نوجوان، عالم با عمل حضرت مولانا مفتي مختار الله حقاني صاحب چه دغو مضامينو ته کوم ترتيب ورکړی او د فتاوی د ار العلوم حقانيه په مناسبو ځايونو کښې ني په درجولو سره نظر ثاني پرې کړی دی چه د دې کار له وجې فتاوی د ار العلوم حقانيه د خلکو په زړونو کښې لازيات مقبوليت او محبوبيت پيدا کړی دی. هيله ده چه په ژبارلو سره ني د نورو ډيرو خلکو په زړونو کښې هم دا فتاوی د مقبوليت او محبوبيت لوړ مقام تر لاسه کړي.

﴿۳﴾ دا چه ما (ژبارونکی) پخپله هم د ډيرو مسائلو د حل په لاره له دې فتاوی څخه ګټه پورته کوله ځکه چه په دې فتاوی کښې د خلکو د اکثرو قديمو او جديدو مسائلو حل له حوالو سره موجود دي او خلکو ته ډير په زړه پورې دي نو له دې وجې له ماسره پخپله هم دا فکر پيدا شو او له ځينو ملګرو سره مې مشوره هم وکړه چه هغو هم د همدې فتاوی د ژبارلو مشوره راکړه.

نو ما په دې اړوند استخاره وکړه او خوب وينم چه يوه مدرسه وي په لومړي سر کښې خو را ته د کهی مدرسه ښکاري ليکن وروسته څرګنديږي چه د ار العلوم حقانيه ده چه په اوسني شکل کښې نه بلکه په خپل زاړه شکل کښې يعنې يو جومات وي او شا و خوا ته توله غبر آباده شګلنه زمکه وي. زه او زما يو بل ملګری مولوي خليفه محمد اکرم صاحب په دې مدرسې کښې سبق وايو او کوم سبق چه وايو هغه ليکو هم او بيا ئې محتر

حضرت شيخ الحديث مولانا عبد الحق رحمه الله ته ښکارووم. ما له خليفه مولوي اکرم صاحب څخه ډير ليکل کړي وو نو حضرت شيخ الحديث صاحب نور الله مرقده را ته وايي چه دا خو دي په کمپيوتر کښې هم ثبت کړي دي او را ته وايي چه اوس د افتاوی نوره هم مضبوطه شوه. تر دې وروسته مې د دې فتاوی په ژبارلو شروع وکړه تر څو د خوب له تعبير سره سم فتاوی نوره هم مضبوطه شي او د حضرت شيخ الحديث نور الله مرقده لپاره په جنت کښې د درجات عليا، سبب وګرځي او زما لپاره د خدای د رضا و په قيامت کښې له عذابونو څخه د نجات ذريعه وګرځي.

﴿٤﴾ دا چه د الويه اداره د د ار العلوم ديوبند ثاني حيثيت لري او په توله نړۍ کښې په ځانګړې توګه په جنوبي او مرکزي آسيا کښې له يوې مشهورې او مقبولې اداري څخه عبارت ده نو لکه څرنګه چه د دغو سيمو ټول خلك خصوصاً پښتانه له همدې وجې د دې اداري په تولو علماء کرامو او مفتي صاحبانو او د دوی په ليکل شويو فتاواوو پوره اعتماد او باور لري او له دوی سره خصوصي محبت او عقيدت لري چه دا اعتماد او باور د دوی له فتاواوو څخه د ګټې اخيستنې لويه ذريعه ده. چه په ژبارې سره ني دا ګټه اخيستنه نوره هم زياتيږي.

﴿٥﴾ دا چه زه پخپله هـــم له دې لويې او علمي اداره سره هم کلکې مذهبي، تلمذي او سياسي اړيکي لرم چه با لواسطه ني د تلمذ درجه هم را ته حاصله ده او په دې سلسله کښې مې د بنو د بنار په مدرسه معراج العلوم کښې براه راست د حضرت شيخ الحديث صاحب نور الله مرقده په لاس مبارك باندې بيعت کړی دی چه اوس هم په هم هغه بيعت باندې ولاړ او د قيامت په ورځ ني د سفارش او شفاعت ډير اميدوار يم. او د دې فتاوی په ژبارې سره مې دا هيله نوره هم زياته شوه.

﴿٦﴾ دا چـــــه په دې فتاوی کښې له ډير افراط او تفريط څخه کار نه دی اخيستل شوی او د مسائلو په حل کښې ني د اعتدال او ميانه روي لاره غـــــوره کړې ده ځکه چه د اردو ژبې په نورو فتاواوو کښې چه په ځينو مسائلو کښې څه نا څه له افراط او تفريط څخه کار اخيستل شوی دی هغـــــه د خپلو سيمو او منطقو مطابق دی او د هغو علاقو په نسبت په سرحد، بلوچستان او افغانستان کښې هغه مسائل کم بريښي. نو د دار العلـــوم د زيات محبوبيت او د استاذانو او مفتي صـــاحبانو د ځيرنيزو علمي کمالاتو پر بناء په دې فتاوی کښې د کومې خاصې ډلې يا شخصيت په خلاف فتوی نه ده ورکړ شوې بلکه تولې فتواوې ني د قـــــرآن، حديث او حنفي فقهي په رڼا کښې د فتوی او افتاء د زرينو اصولو مطـــابق د خلکو د رواج او عنعناتو د زياتې پاملرنې تر څنګ د قلم له خوا کې څخه راوتلې دي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

﴿۷﴾ دا چـــه د دار العلوم حقانیه تولې نړۍ خصوصاً جنوبي آسیا او بیا په ځانګړې توګـــه د افغانستان او پاکستان پښتون میشتو سیمو ته د اسې عالمان او فاضلان وړاندې کړي چه په هر ډګر کښې نې خپلو اړوندو سیمو ته ډیر خدمتونه کړي دي او د اسلام په لار کښې نې د جهاد، درس تدریس، تصنیف او تالیف او د اسې نورو شعبو کښې د خلکو ښه لارښوونه او رهبري کړې ده۔ نو لکه څرنګه چه دار العلوم حقانیه د خپل موقعیت له مخې پښتون میشتو سیمو ته ډیر خدمت کړی دی او اکثره پوښتنې د همدغو سیمو خلکو د دار العلوم له دار الافتاء څخه کړي دي او د دار العلوم مفتي صاحبان هم د خدای ورکړو صلاحیتونو پر بناء د دې خلکو د دود، رسم، رواج او عنعناتو مطابق دوی ته ځوابونه ورکړي دي کوم چه د پښتنو د عوامو او خواصو لپاره یوه لویه، قیمتي او علمي سرمایه ده تر څو پښتانه ورونه وکولای شي چه د ژوند په تولو امورو کښې د علم له دې لوېي ذخیري څخه استفاده وکړي او د دُنیا او آخرت له بنیګړې څخه برخمن شي۔ الله تعالی دې زما او زما د همکارانو دا نیمګړی کوشش پخپل دربار کښې قبول او تولو مسلمانانو په ځانګړې توګه پښتنو ورونو ته د دُنیا او آخرت د نجات او فلاح ذریعه وګرځوي۔ آمین۔

قـــاري محمد فاروق ملنګ عفي عنه

د دې فتـــاوی ژباړونکی

۱۴۳۱/۱/۱۵ هجرۍ

فتاوی حقانیه د مشهورو علماوو، رسائلو او جریدو په نظر کښې

د شیخ الحدیث حضرت مولانا سلیم الله خان صاحب مد ظله د وفاق المدارس العربیه پاکستان صدر او جامعه فاروقیه کراچي مهتمم په فتاوی حقانیه باندې عالمانه تبصره

زمونږ ښاغلی استاد حضرت مولانا عبد الحق صاحب نور الله مرقده ته الله تعالی ډیر لوی او ځانګړي صفات ورکړي وو۔ هغه په علم، عمل، اخلاص، للّهیت، تواضع او عاجزي کښې د اسلافو یوه نمونه وو۔ الله تعالی د ژوند انه په مختلفو شعبو کښې له هغه څخه د اسلام د دین ډیر چنل شوي خدمتونه واخیستل۔ د هغه له خدمتونو او ماثراتو له جملې څخه یو هم د دار العلوم حقانیه د جوړولو عظیم الشان ویاړ دی۔ حضرت مولانا صاحب نور الله مرقده په دار العلوم دیوبند کښې د عالیه درجې استاذ وو۔ په ۱۹۷۰ء کښې نې خپل پلرنی کلي اکوړه خټک ته تشریف راوړ۔ او چه کله د هندوستان د ویش او د بد امني په سبب سره بیرته نه شوای تللی نو نې د خپل کلي په جومات کښې درس او تدریس شروع کړ۔ طالبانو ډیر په کثرت سره راتګ شروع کړ۔ جومات کوچنی وو نو د دار العلوم حقانیه خپل موجوده ځای ته منتقل شو۔ په دې ډول پرته له کومې وړاندینې منصوبې او ارادې څخه د پاکستان د دې لوېي اداري بنیاد کیښودل شو او الله تعالی له دې اداري څخه د دین په مختلفو شعبو کښې چه د دین کومې هستۍ پیدا کړې ښایي چه کومه بله اداره نې له دې اړخه سیالي و نه شي کړی۔ د حقانیه دار العلوم چه چېرته د اسلام د دین په نورو شعبو کښې د قدر وړ کارونه پر مخ بیولي دي هلته نې د نشر او اشاعت (خپرونې)، تصنیف او تالیف کښې هم د طباعت د وسائلو د نشتوالي تر څنګ ډیر لوی کار سر ته رسولی دی۔ د "الحق" په نامه یوه موقره او علمي میاشتنۍ تقریبا له ۳۷ کلونو څخه خپریږي، له دې برسیره د دار العلوم حقانیه له خپرندویه اداري یعني موتمر المصنفین څخه په لس ګونو علمي او تحقیقي کتابونه شائع او خپاره شوي دي۔ او اوس د کلونو کلونو تر محنت وروسته د دار العلوم د فتاوی تر نظر لاندې مجموعه په شپږو جلدونو (چه پښتو ژباړه نې په پنځو جلدونو کښې ده) کښې له چاپه را وتلې او د خلکو د استفادې سبب ګرځیدلې ده۔

د دار العلوم حقانیه د افتاء شعبې ته د ملک له داخل او د باندې څخه خلک زیاتره د شرعي مسائلو په اړه سوالونه را لیږي۔ د صوبه سرحد مسائل په ځانګړي توګه دلته راځي او د دار العلوم مفتي حضرات د نظم او قاعدې د ترتیب تر څنګ ځواب لیکي۔ د دغو فتاواوو د نقلونو محفوظول او په بیلا بیلو کتابچو کښې نې د لیکلو هم اهتمام کیږي۔ د دار العلوم منتظمینو د دغو فتاواوو د خپرونې اراده وکړه او د تخصص د شعبې د سرپرستو مفتیانو تر نګرانۍ لاندې د تخصص د درجې طالبانو ته په ګنو کلونو کښې د جاري شویو فتواوو مختلفې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

برخي د ترتيب او تحقيق لپاره ور سپارل شوي دي. چه دا دی اوس د ترتيب او تحقيق له مراحلو څخه تر تيريدو وروسته دا علمي ذخيره ترتيب شوې او مخي ته راغلې ده.

په دي شپږو جلدونو کښې په زرګونو سوالونه د عامه پوهيدنې په طريقه او اسلوب کښې ځوابونه راغلي دي. د دغو ځوابونو په تحقيق او ترتيب کښې چه د کومو خبرو لحاظ ساتل شوی دی له هغو څخه يو څو په لاندې ډول دي.

﴿۱﴾ د هر ځواب مراجع او مصادر او د فقه له معتبرو کتابونو څخه د هغه حواله ذکر شوې ده.

﴿۲﴾ په هر کتاب کښې ذيلي بابونه قائم شوي دي او له هري پوښتنې سره د مسئلې عنوان هم ذکر شوی دی او همدارنګه د هر جلد شاته په هغه کښې د مشتملو کتابونو فهرست هم ليکل شوی دی.

﴿۳﴾ د دي زمانې د پيدا شويو نويو فقهي مسائلو معتد به برخه هم پکښې راغلې ده. په دي ضمن کښې د جامعه حقانيه له دار الافتاء څخه ليکل شوي جديد مسائل کوم چه د "الحق" په مياشتنۍ کښې خپاره شوي دي، د مناسبت له مخي د دي فتاوی په اړوندو بابونو کښې ليکل شوي دي.

د مثال په توګه د کتاب الجهاد لاندې د "سي ټي بي ټي" شرعي حيثيت، په کتاب البيوع کښې "د ټيليفون په ذريعې سره د بيع د عقد حکم"، د "ټريډ مارک (تجاري علامې) د اخيستلو او خرڅولو حکم"، د "الکحل د تجارت حکم"، په کتاب الصوم کښې د "هلال د کميټي د موجودوالي تر څنګ د کوم ديني عالم د فيصلې حکم"، د کتاب الصلوٰة لاندې "د کرفيو له وجې په لمانځه کښې د قصر او اتمام حکم". لنډه دا چه د دي زمانې دا ډول د ډيرو پوښتنو ځوابونه پکښې راغلي دي.

فتاوی حقانيه په اردو فتواوو کښې يوه د قدر وړ اضافه ده. هيله ده چه له دي ذخيرې څخه عوام او خواص ټول فائده واخلي او په دار الافتاء پورې اړونده مفتيان کرام او د تخصص طلباء له دي څخه استفاده واخيستلی شي.

(ماهنامه الحق جامعه فاروقيه کراچي ۶۰/ ۶۱ ربيع الاول ۱۴۲۳ هجري)

د حضرت مولانا مفتي محمد تقي عثماني صاحب مد ظله، نائب مهتمم دار العلوم کراچي د حضرت مولانا سميع الحق په نامه يو مکتوب او په فتاوی حقانيه باندې د هغه جامع او مانع تاثرات

گرانقدر ورور محترم جناب مولانا سميع الحق صاحب زيد مجده

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

له ډيرې اوږدې زمانې څخه وروسته له نازه ډکه ليکنه دې د سترګو فردوس وګرځيد او په زړه او ذهن کښې د يادونو موجونه پيدا شول. د خطاب له دې انداز څخه زه په کلونو کلونو محروم وم اوس د تخاطب دې ډول څرنګوالي ته د نوي ژوند په ورکولو سره ستاسو مننه په کومې ژبې سره ادا کړم؟

کاش چه زه دومره بې پروا نه وای چه مخکښينې خطونه مې نه شوای محفوظولی. تر څو پورې مې چه يادپرې ما له اوله خطونه محفوظ ايښي وو ليکن د فاتلونو له ترتيب څخه بې برخې وو. له دې وجې د انقلاباتو په زمانه کښې دا خزانه را څخه ورکه شوې ده. انا لله و انا اليه راجعون.

د فتاوی حقانيه په خپريدو سره نوره خوشحالي هم را په برخه شوه او د حکم مطابق پرې يو څو ليکي ليکم او ستاسو حضور ته ئې در ليږم. زما عزيزانو هر يو راشد او حامد سلمهما ته ډير ډير سلامونه او دُعا ګاني. کاش چه په راتلونکي کښې هم د داسې محبوبې ليکنې توفيق را کړل شي.

و السلام

محمد تقي عثماني

الحمد لله رب العالمين و الصلوة و السلام على رسوله الكريم و على آله و اصحابه اجمعين.

شيخ الحديث حضرت مولانا عبد الحق صاحب قدس سرّه (د دار العلوم حقانيه بانې) زمونږ د زمانې له هغو شخصيتونو څخه وو په چا چه ټول ملّت څومره ويار او فخر وکړي کم دی. الله تعالی په دي زمانې کښې هغه د سلف صالحينو يوه نمونه ګرځولې وه، په اکوړه خټک کښې د هغه جوړ شوی دار العلوم حقانيه په زرګونو علماء کرام د علم ډګر ته ايستلي دي او د اسلامي علومو نه هيريدونکي خدمتونه نې سر ته رسولي دي، د دغو جليله خدمتونو يوه شعبه دا ده چه د هغه ځای دار الافتاء له کلونو کلونو راهيسې د ټولې دُنيا د ديني پوښتنو ځوابونه ورکوي. دا فتواوي د دار العلوم په کتابچو کښې ليکل کيدلې او د دي خبرې ضرورت وو چه مدونې شي او د عامې افادې لپاره خپرې شي. الله تعالی دې د حضرت قدس

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

سره فاضل زوی بناغلی ورور مولانا سمیع الحق صاحب (مهتمم دار العلوم حقانیه) ته د خیر بدله ورکړي چه د خپلې مدرسې د یوې ډلې په ذریعه نې تر لوبې خولې تویونې وروسته دا فتاوی په بابونو باندې د مرتب کولو تر څنګ په شپږو جلدونو کښې شائع کړې ده۔ دا فتاوی د دار العلوم حقانیه د ګنو مفتي حضراتو لخوا لیکل شوي دي لیکن لکه څرنګه چه دا ټولې فتواوي د شیخ الحدیث حضرت مولانا عبد الحق صاحب قدس سره تر څارنې لاندې لیکل شوي دي د دې لپاره د هغه خوا ته منسوبې شوي دي او مجموعه نې د فتاوی حقانیه په نامه ونومول شوه۔ په فتوی لیکنې کښې د هر مفتي ترتیب او طریقه بیله وي او کله کله په مسائلو کښې هم د اهل علم او افتاء لپاره د اختلاف ګنجائش باقي پاتې وي لیکن تر کومه ځایه پورې چه د دغو فتواوو د مستند والي خبره ده د هغه لپاره همدومره کافي ده چه دا د دار العلوم حقانیه د مستندې اداري لخوا څخه جاري شوي دي او د حضرت شیخ الحدیث مولانا عبد الحق صاحب قدس سره غوندې د علم د غره تر څارنې لاندې جاري شوي دي۔ بې له شکه دا د فقهي او علم په ذخیره کښې یو لوی او د پام وړ زیاتوالی دی او انشاء الله چه د اهل علم او عوامو دواړو لارښوونه به کوي۔ دار العلوم حقانیه او حضرت مولانا سمیع الحق صاحب د دې علمي خزانې د بهر را ایستلو له وجې د مبارکبادی مستحق دي۔

په فتاوی حقانیه باندې د البینات د میاشتنی له مغزو ډکه تبصره

افادات: شیخ الحدیث حضرت مولانا عبد الحق صاحبؒ او نور مفتیان کرام

نګرانې او اهتمام: حضرت مولانا سمیع الحق صاحب مد ظله

ترتیب: مولانا مفتي مختار الله حقاني

د فتوی د جلیله منصب د قدر او مرتبې لپاره همدومره کافي ده چه الله تعالی په قرآن مجید کښې په افتاء منصب له خپل عالي او لوړ ذات سره منسوب کړی دی لکه څرنګه چه الله تعالی فرمایلي دي: قل الله یفتیکم فی الکلالة ..... (الآیة)

د کلاله په اړه د استفتاء په ځواب کښې پخپله الله تعالی فتوی صادروي، په دومره لوی نسبت سره د دې جلیله منصب په شان د هغه نزاکت هم یو په دوه کښې. هر مفتي چه کله څه فتوی ورکوي نو ګواکه هغه مستفتي (سوال کوونکي) ته په وړاندې شوي مسئلې کښې الهي حکم بیانوي۔ که چېرته خدای مکړه په حقیقت کښې معامله د مفتي د ورکړ شوي فتوی په خلاف راشي نو ګواکه د حق تعالی خوا ته د دې خبرې نسبت وشو کوم چه الله تعالی نه دي ویلي، نو په دې صورت کښې د مفتي او مستفتي دواړو د وبال ذریعه ده۔ (ضلوا و اضلوا) د دې معنی دا شوه چه د فتوی په باره کښې د ډیر احتیاط ضرورت وي، هر کس او ناکس دې میدان ته د ور د انګلو جرأت باید و نه کړي۔ همدارنګه په فتوی ورکولو کښې د شرعي غوښتنو په تر پښو لاندې کولو سره د فتوی د روح زخمي کول هم لویه او سنګینه ګناه ده کوم چه د مداهنت فی الدین په ځملې کښې راځي۔ د دې منصب له دې دروندوالي څخه د ویریدو په صورت کښې د اهل علم د اسلافو اکثر بزرګان په کوم کار کښې د فتوی په صادرولو سره په وریږدیدل، بلکه ځینو خو د فتوی له ورکولو څخه بالکل اجتناب او ځان ساتنه کوله۔ او په سلف صالحینو کښې د افتاء منصب هغو علماوو ته ورسپارل کیده چه د هغو په علم او عمل، امانت او دیانتدارۍ باندې به د ټولو خلکو پوره اتفاق وو۔ ځکه چه د اسلافو په نزدې د افتاء په منصب باندې د چا د فائز کیدو لپاره یواځې د علم خاوندوالی کافي او پوره نه ګڼل کیده۔ بلکه تر نږدې ماضي پورې په هرې زمانې به کښې د علم له خاوند انو څخه د افتاء د منصب لپاره یو څو هستې غوره کیدلې چه د هغو علمي رأیې به د فتوی درجې درلودلې (کوم چې یو اوږد فهرست تري مرتب کیدلی شي)

د کومې خبرې چه واضح مطلب دا دی چه د فتوی لپاره یواځې علم، د معلوماتو ذخیره یا د کتابونو مطالعه یا کتنه هیڅکله معیار نه دی تاکل شوی۔ او که نه نو درجه په درجه به هر څوک د علم څه نا څه حامل وو او له دې وجهې به د افتاء په منصب باندې ټې فائز کیدل غوښت۔ لیکن په تاریخ کښې تر نن پورې داسې و نه شول بلکه حقیقت دا دی چه د هر فن لپاره د ځانګړې مهارت او محنت ضرورت وي چه د هغه لپاره د اهل فن لارښوونې او د هغو د عملي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

نمونې موجود والی هم ضروري دي. الحمد لله چه د فتاوی په دې میدان کښې دار العلوم حقانیه اکوړه خټک د یوې بهترینې دروازې زیاتوالی وکړ کوم چه د "فتاوی حقانیه" نوم ورکړ شوی دی. فتاوی حقانیه د دار العلوم له دار الافتاء څخه په جاري کیدونکو هغو ګرانقدرو فتاوو باندې شامله ده چه ځینې خو د حضرت شیخ الحدیث مولانا عبد الحق صاحب پخپل لاس لیکل شوي دي په دې مجموعې کښې چه ځینې ئې د نورو مفتیانو او اساتذه کرامو لیکل شوي فتاوي دي. په دې مجموعې کښې یو بل شی هم په نظر راغی او هغه دا چه ځینې د اسې مضمونونه او مقالې چه په ماهنامه "الحق" کښې خپرې شوي دي هغه دلته هم شاملې او د فتاوی یوه برخه ګرځول شوې ده. د فتاوی حقانیه په پیل کښې په فقهي مباحثو باندې مشتمله یوه د اسې مقدمه لیکل شوې ده چه پخپل ځای کښې د یوې ضخیمې مقالې حیثیت لري، په مقدمه کښې د فقهي مباحثو مقدماتو نه تر خپلې وسه پورې د ځای ورکولو تر ځنګ د تولو مفتیانو کرامو تعارف او پیژندګلوي هم وړاندې شوې ده د کومو چه لیکل شوي فتاوي په دې مجموعې کښې درج شوي دي. فتاوی حقانیه د خپلې بهترینې سرپاڼې، مناسب کاغذ او غمده یعني غوره شوي کتابت له وجې د باطني ښائست تر ځنګ د ظاهري زړه را ښکلو نیګارندوی هم دی. فتاوی حقانیه د خپل تحقیق، تخریج او سلاست او ښې لیکنې له مخې د علماوو، طلباوو، وکیلانو او دیني درد لرونکو عوامو لپاره یو شان ګټوره ده.

دُعا ده چه دا فتاوی دې د عوامو او خواصو لپاره ګټوره او لیکونکو، ترتیب ورکوونکو او تولو معاونینو لپاره دې صدقه جاریه وګرځي.

آمین و لا زکی علی الله احدا. (ماهنامۂ بینات کراچي، جون ۲۰۰۲)

په فتاوی حقانیه باندې د الحسن لاهور د میاشتنی جامع تاثرات

افادات: شیخ الحدیث حضرت مولانا عبد الحق صاحب او نور مفتیان کرام

څارنه او اهتمام: حضرت مولانا سمیع الحق مد ظله

ترتیب: مولانا مفتي مختار الله حقاني

د تبصرې لاندې فتاوی "فتاوی حقانیه" د هغو فتواوو مجموعه ده چه حضرت اقدس مولانا عبد الحق محدث اکوړوي قدس سره او د دار العلوم حقانیه د اکابرینو مفتیان کرامو د علمي، فهمي او خدای ورکړي بصیرت (کره کتنې) بې مثاله خدمت دی.

د فتاوی حقانیه په وړاندې کولو کښې د فقهي ترتیب په پام کښې نیولو سره د هغې مباحث په جلدونو تقسیم شوي دي.

ګوا که له عقائدو څخه واخله تر فرائضو پورې هره فتوی پکښې شامله ده. د فتاوی حقانیه د تقدیم او ترتیب دا کار د حضرت شیخ الحدیث نور الله مرقده مشر زوی او د دار العلوم حقانیه مهتمم حضرت مولانا سمیع الحق مد ظله تر څارنې لاندې پای ته رسول شوي ده. د دې فتاوی یوه خوبي خو دا ده چه د ننني زماني نوي مسائل په د اسې شان سره پکښې حل شوي دي چه د کتونکو، اوریدونکو او لوستونکو لپاره هیڅ ډول مشکل یا تنده پکښې نه ده پاتې شوې.

حضرت مولانا عبد الحق محدث اکوړوي صاحب قدس سره ته الله تعالی ډیرې خوبۍ ورکړې وې، اخلاص، للّهیّت، زهد او تقوی کښې ئې مثال نه وو، د اسلافو او د دین د بزرګانو د علومو محافظ نه بلکه امین هم وو. حضرت د دین له هغو بزرګانو څخه دی په کومو چه عالم اسلام پخپل ځای کښې ویاړ کوي. حضرت اقدس خو د تفسیر او حدیث د علومو بحر او دریاب وو لیکن د دې تر ځنګ په فقهي کره کتنې کښې ئې څانګړی حیثیت درلود. د حضرت شیخ الحدیث صاحب فتاوی ته په کتو سره دا اندازه لګیدلی شي چه د فتوی ورکولو په وخت کښې به ئې یو اړخي فقهي جزئیات تر نظر لاندې نه نیول بلکه په حاضرو حالاتو باندې ئې هم ژور نظر وو. همدا وجه ده چه د حضرت شیخ الحدیث صاحب فتاوی د افتاء په نړۍ کښې د یوه ځانګړي حیثیت خاوند دی. د ده مبارک د احتیاط د کمال او کره کتنې څو مثالونه په لاندې ډول دي.

﴿۱﴾ د ده به په عمومي توګه کوشش دا وو چه سائل پخپل ځواب پوره پوه شي. له دې وجې ئې د ځواب لیکلو په وخت کښې خبره ښه ښکاره کوله اګر که ئې بیان ډیر اوږد هم شو.

﴿۲﴾ د فتوی د لیکلو په وخت کښې به ئې د حنفي فقهي له مشهورو کتابونو لکه بدائع الصنائع، هدایه او رد المحتار څخه استفاده کوله.

﴿۳﴾ په فتوی ورکولو کښې ئې دومره احتیاط کاوه چه پخپله خو څه کوې د دار العلوم حقانیه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

نورو مفتیانو به هم چه کله فتوی لیکله نو هغو ته به ئې ده ته د ور اورولو حکم کاوه.

حضرت مولانا مفتي غلام الرحمٰن صاحب مد ظله فرمایي چه په ۱۹۷۸ء کښې د کلني رخصتي په دوران کښې د دار العلوم تاظم حضرت مولانا سلطان محمود صاحبؒ د شیخ الحدیث د اپیغام ما ته را ورساوه چه په رخصتیو کښې دلته پاتي شه او د دار الافتاء خدمتونه سر ته ورسوه، نو په ما باندې د ادروند بار ډیر دروند تمام شو، پخپله مي د اجرأت نه شو کولی چه کومه فتوی له تصویب پرته ورکړم او د حضرت شیخ الحدیث په خدمت کښې تر دې مخکښې د مسائلو او جزئیاتو موقع هم په لاس نه وه راغلې. چه کله زه د حضرت شیخ الحدیث په خدمت کښې حاضر شوم نو ده وفرمایل چه کومه مسئله ته لیکې نو ما ته ئې یو ځل تر لیکلو مخکښې بیان کړه. دا ځکه چه کله چه ته کومه نوې مسئله وې نو په ذهن کښې به ښه کښینې. له دې ځخه د هغه مقصد د مسائلو استحضار نه بلکه احتیاط ملحوظ وو. لکه څرنګه چه هیڅ یوه مسئله ده ته تر اوریدو پرته د لیږلو ما ته اجازه نه وه. د دې لپاره ما چه به مسائل ولیکل نو د حضرت شیخ الحدیث خدمت ته به مي وړاندې کړل، که چېرته هغه به تائید کړل نو ما به سائل ته ور ولیږل. لیکن تر لسو ورځو څارنې وروسته ئې چه کله اعتماد پیدا شو نو وئې فرمایل چه ما ته د اوریدو ډیر کم وخت په لاس راځي د دې لپاره ما ته ئې تر اورولو مخکښې سائل ته ور ولیږه.

﴿٤﴾ حضرت شیخ الحدیث به د مسائلو په بیانولو یا لیکلو کښې د چاپیریال، حالاتو او د هغو د نتائجو او عواقبو هم لحاظ ساته او مصلحتونو ته ئې په کتو سره ځوابونه ورکول تر ځو چه په معاشره کښې بې خوندي پیدا نه شي او خلك د شریعت په کومه مسئله باندې توکي تکاري و نه کړي.

حضرت مولانا مفتي غلام الرحمٰن صاحب لیکي:

﴿٥﴾ په کال ۱۹۷۸ء کښې د دار العلوم د کلني رخصتیو په دوران کښې مي د قضاء عمري په باره کښې فتوی ورکړه چه په هغې کښې مي د قضاء عُمري روایت لره د موضوعي تر ثابتولو وروسته ولیکل چه قضاء عُمري د کوم صحیح حدیث ځخه ثابته نه ده او یو قبیح بدعت دی. چه کله مي ده مبارك ته دا ځواب ووایه نو ئې فرمایل چه ځواب صحیح دی په دې کښې هیڅ شك نشته لیکن زمونږ د ښځنو په علاقو کښې خلك په ډیرې دیانتدارۍ سره د قضاء عُمري د اسي عاشقان دي چه د اسي سختو الفاظو په نتیجه کښې کید ای شي چه په احساساتو کښې راشي او د فتني، فساد او بد رد ویلو په ګناه کښې اخته شي. د دې لپاره په دې الفاظو کښې د اسي ترمیم وکړه. "قضاء عُمري له کوم صحیح حدیث ځخه ثابت نه دی او زمونږ اسلافو بدعت بللی دی".

﴿٦﴾ همدارنګه یو ځل د پاخه سرك د جورولو په مخکښې یو زوړ قبر مخې ته راغی او

حکومت غوښت چه قبر ړنګ کړي او سړك تیر کړي لیکن د کلي خلك په دې باندې خوښ نه وو. چه کله حکومتي خلکو دار العلوم ته د فتوی د اخیستلو لپار رجوع وکړه نو ما له حضرت شیخ الحدیث صاحبؒ سره مشوره وکړه نو ده وفرمایل چه اګر که زوړ قبر ړنګول د شریعت له مخې روا دي لیکن زمونږ له دې فتوی ځخه خلك نه مطمئن کیږي بلکه د مذهبي لیونتوب له وجې ښایي چه د دار العلوم هم یو فریق یا طرف وګڼي. د دې لپاره فتوی باید د اسي ورکړل شي چه د قبر په سر دې پُل جوړ شي او سړك دې برسیره پر پُل باندې تیر شي. چنانچه د ده د ښه تدبیر، حزم او احتیاط په نتیجه کښې سړك هم جوړ شو او خلك هم له شرکیه عقائدو ځخه بچ شول.

﴿٧﴾ یو ځل یوه ملګري د تصوف د سلسلو په باره کښې پوښتنه وکړه نو حضرت شیخ الحدیث صاحب په ځواب کښې ورته وویل چه: "قادریه او چشتیه سلسې د یوه حوض دوه ویالي دي، د دواړو مرکز او مخزن یو دی. اوبو یو دي یواځي لاري جدا جدا دي. د نورو سلسلو او مختلفو مذهبونو هم همدا حال دی. حنفیت، حنبلیت، شافعیت او مالکیت تولو ته له یوه حوض ځخه اوبو رسیږي، تول د همدې یوه حوض له اوبو ځخه ډنیا خړوبوي یواځي لاري او ویالي جلا جلا دي، منزل او مقصد د تولو یو دی. ځینې خلك سره له پوهې د تصوف دا سلسلو او فقهي مذهبونو ته فرقه واریت وایي، ډنیا ګمراه کوي او خلکو ته د هوکه ورکوي. مسلمانان باید له د اسي خلکو ځخه ځان وساتي. (ماهنامه الحق شیخ الحدیث نمبر)

﴿٨﴾ له دې برسیره به ده مبارك د پوښتنو ځوابونه ډیر ساده او په آسانه الفاظو کښې ورکول او په هغو کښې به ئې د حواله جاتو په ځانګړې توګه اهتمام کاوه تر ځو چه کوم ډول شك او شبهه پکښې پاتي نه شي. (ماخوذ له صفحه فتاوی حقانیه لومړی جلد ځخه)

په دې فتاوی کښې چه د کومو جیدو مفتیانو فتواګاني شاملې شوي دي د هغو تعداد اتلس (۱۸) دی لیکن په هغو کښې حضرت شیخ الحدیث نوّر الله مرقده ته مرکزي حیثیت حاصل وو. دا یواځې د هغه د فیض نتیجه وه. د فتاوی حقانیه یو خصوصیت دا هم دی کوم چه په نورو فتاواوو کښې ډیر کم تر سترګو کیږي او هغه په دې پوري مربوطه او مبسوطه مقدمه ده. دا مقدمه د حضرت مولانا سمیع الحق صاحب مهتمم او شیخ الحدیث دار العلوم حقانیه اکوړه ختك په قلم لیکل شوې ده. په دې مقدمې کښې د فقهي د لغوي او اصطلاحي تعریف تر ځنګ فقهي ماخذونه قرآنکریم، سُنت، اجماع، قیاس، استحسان، عرف او عادت، استصحاب، مصالح مرسله، د افتاء لطائف، فتاوی په نبویؐ دور کښې، فتاوی د صحابه ووؓ په دور کښې، فتاوی د تابعینوؒ په دور کښې، د مفتیانو صحابه کرامو رضوان الله تعالی علیهم اجمعین او د هغو ډولونه او طبقې، تابعین فقهاء کرام او د هغو طبقې، د مفتي او مستفتي د شرائطو او آداب تر ځنګ په ځینو نورو اهمو مسائلو او موضوعاتو باندې پوره بحث شوې ده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

د افتاء له فن سره د تعلق لرونکو حضراتو لپاره په عمومي توګه او د دې فن د متخصصينو لپاره په خصوصي توګه د دې مقدمې مطالعه له اندازې زیاته ضروري ده. که چېرته داسې اداره چه هلته تخصص فی الفقه موجوده وي هغوی دا مقدمه د عقود رسم المفتي تر څنګ د طلباوو په نصاب کښې داخله کړي نو د طلباوو لپاره به ډېره ګټوره وي. همدارنګه د فتاوی اهمیت، ضرورت او په هغې باندې د مولانا انوار الحق حقاني هغه مقاله هم د کتنې وړ او د اهل علم لپاره د استفادې موجبه ده کومه چه د فتاوی حقانیه د مقدمې اهمه برخه ده. مولانا انوار الحق د حضرت شیخ الحدیث قدس سره هغه زوی دی چه هغه ته د حضرت شیخ الحدیث د خدمت زیاته موقع خدای په لاس ورکړې وه. په سفر او حضر کښې اکثره مولانا انوار الحق صاحب له حضرت اقدس سره پاتې کیده. دې تبصره لیکونکي ته په ښه توګه یادیږي چه کله حضرت شیخ الحدیث د سترګو د عملیات لپاره لاهور ته تشریف راوړو نو په هغه وخت کښې مولانا انوار الحق صاحب د هغه خادم وو. مولانا انوار الحق صاحب په مقدمه کښې په شامل شوي مقالې کښې د افتاء د فن په سلسله کښې لیکي چه دا دومره لوی کار دی چه الله تعالی ئې نسبت خپل ځان ته کړی دی او فرمایلي ئې دي چه یفتیکم فی الکلالة. مولانا انوار الحق صاحب پخپلې مقالې کښې چه په کومو موضوعاتو رڼا اچولې ده په هغو کښې په قضاء او افتاء کښې فرق، د افتاء د منصب عظمت، د افتاء منصب او خطرې، په اسلامي مملکت کښې د افتاء قیام او د هغې ضرورت او اهمیت، د احنافو په مسلک کښې د فتوی عظمت او په جامعهٔ دار العلوم حقانیه کښې د افتاء قیام شامل دي. مولانا انوار الحق مد ظله د جامعه دار العلوم حقانیه نائب مهتمم او د حدیثو استاذ دی. درویش صفته انسان دی، له ریا او ځان ښوونې څخه لرې تېښتیدونکی یو باعمله عالم دی. د فتاوی حقانیه په طباعت او د هغې په ترتیب او وړاندې کولو کښې د هغه برخه لول د قدر وړ دي.

مؤتمر المصنفین او د فتاوی حقانیه په چاپ او خپرونې باندې له مامورینو څخه هیله ده چه په راتلونکي چاپ کښې دا کار واضح او روښانه کړي چه کومه کومه فتوی د چا چا ده؟ تر څو چه د حضرت الشیخ خپلې فتواوې معلومې شي او دا هم څرګنده شي چه حضرت شیخ صاحب پخپل مبارک لاس باندې څو فتواوې صادرې کړي دي او څومره فتواوې د اسې دي چه د هغو تصویب ئې فرمایلی دی. لکه څرنګه چه په فتاوی د دار العلوم دیوبند او د اسې نورو کښې دي. په دې سره به د فتاوی اهمیت نور هم زیات شي. د تبصره لیکونکي په نزد د هر دار الافتاء لپاره نه بلکه د یوې ښې کتب خانې (لائبریري) هم ضرورت دی. فتاوی حقانیه له هرې لویې کتب خانې برسیره له ناشر څخه هم لاس ته راوړل کیږي.

(محمد اکرم کاشمیري، ماهنامه "الحسن" لاهور)

په فتاوی حقانیه باندې د "الخیر" ملتان د میاشتنی بهترینه تبصره

افادات: شیخ الحدیث حضرت مولانا عبد الحق صاحب او نور مفتیان کرام

څارنه او اهتمام: حضرت مولانا سمیع الحق مد ظله

ترتیب: مولانا مفتي مختار الله حقاني

د هرې مختې راتلونکي مسئلې په اړه شریعت د راسخ فی العلم د شرعي دلائلو په پام کښې نیولو سره حکم بیانولو ته فتوی وایي. د افتاء او استفتاء دا طریقه کومه نوي طریقه نه ده بلکه د نبوت له دور څخه را روانه ده. حضرات صحابهٔ کرامؓ به خپلې مسئلې مخامخ له حضرت اقدس نبي کریم ﷺ څخه حل کولې. د نبي کریم ﷺ تر وصال وروسته عامو صحابه کرامؓ او تابعینؒ خپل مشکلات د فتوی خاوند انو اجله صحابهٔ کرامؓ ته بیانول او شرعي حکم به ئې ځان ته معلومول. په صحابهٔ کرامؓ کښې به ئې چه ډیرې فتواوې ورکولې په هغو کښې حضرت عمر، حضرت علي، حضرت عبد الله بن مسعود، حضرت سیده عائشه، حضرت زید بن ثابت، حضرت عبد الله بن عباس او حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهم اجمعین شامل دي. له حضراتو صحابه کرامؓ نه وروسته دا متوارث او مبارک عمل په اُمت کښې طبقاً عن طبق را روان دی. نن هم چه کوم سلیم العقل مسلمان ته په انفرادي یا اجتماعي توګه کوم مشکل یا تکلیف مختې راځي نو یوې دار الافتاء ته خامخا رجوع کوي.

د علماء کرامو د دغو فتواوو حیثیت د عدالتي فیصلو غوندې دی کوم چه د آئین د شقونو او جزئیاتو توضیح او د اطلاق تشریح کوي. دا فتواوي د اُمت د علماوو د هڅو او مشقتونو چنل شوي او قیمتي علمي سرمایه ده چه د راتلونکي نسلونو لپاره په صراط مستقیم باندې د تګ کولو لپاره د لارې بهترینه توښه ده. د پاکستان په لویو دیني مدارسو او جامعاتو کښې د مسلمانانو د دیني لارښوونې لپاره جوړې شوې دار الافتاوي شپه او ورځ د حق د پلټونکو او غوښتونکو د لارښوونې فریضه سر ته رسوي. د فتواوو له دغو مرکزونو څخه جاري کیدونکي فتواوي په منظم ډول محفوظیږي.

ځینې جامعات د اتحقیقي ملغلرې د عامې افادې لپاره خپروي او یو اهم دیني خدمت سر ته رسوي. په همدې اوس وخت کښې د مُلک د مشهورې دیني درسګاه "جامعهٔ دار العلوم حقانیه اکوړه ختک ضلع نوشهره" له خوا څخه په شپږو جلدونو (پښتو ترجمه ئې په پنځو جلدونو کښې دی) کښې د "فتاوی حقانیه" په نامه یوه لویه فقهي ذخیره را برسیره کړې او خپره کړې ده. جامعه دار العلوم حقانیه اکوړه ختک له ۱۹۴۷ء څخه هر ډول دیني خدمتونه سر ته رسوي. د جامعه باني او لومړنی مهتمم حضرت شیخ الحدیث مولانا عبد الحق صاحب قدس سره مبارک ذات ته په علماوو او مشائخو کښې د یوې مرجع حیثیت حاصل دی. همدا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

فقیـــــه العصر شیخ الحدیث حضرت مولانا مفتي محمـــد زرولي خان صاحب مـــد ظله

د جامعه عربیه احسن العلوم گلشن اقبال کراچي د دار الافتاء رئیس

د دار العلوم دیوبند د مسلك ترجمانی کوونکي اداره په هند او پاکستان کښي ډیري دي الله تعالی دي نوري هم زیاتي کړي. له هغو څخه ځیني اداري پخپله د دیوبند د نمونې او د کامیابه مجسم وارث په جوړیدو سره د طوبی د ونې په شان میوه او سیوري لرونکي دي چه د هغو له جملي څخه یوه هم جامعه دار العلوم اکوړه خټك دی چه بانی ئې شیخ الحدیث حضرت مولانا عبد الحق صاحب وو. د نومورې په جامع علمي او عملي لوړ والي هند اره لرونکی جاوداته ژوند اته باندي د قدردانی جلدونه راغلي دي. د دار العلوم هره ورځ او هره میاشت بلکه هره ګړی او هره ثانیه او د هغه ذره ذره د روح او ایمان حلاوت او خوند د لویي، عظمت او ښائستوالي د وربخښلو حامل دي. په همدي اوس حال کښي د دار العلوم حقانیه له نیمي پیړۍ څخه د زیاتي مودي قیمتي وختونه او د قدر وړو لمحو په زاویو کښي محققینو فقهاوو او مفتیانو د افتاء عظیم منصب پاللی دی او د هغو قیمتي فتاوی په کمال تحقیق، ښه ترتیب او بهترین طباعت باندي په ښائسته کیدو سره د شهود تختي ته راغلي ده. په شپږو ضخیمو جلدونو کښي د اسلامي فقهي دا ذخیره او د حنفي فقهي مسلّم برهان او د دیوبند مسلك لره د حق او رُشد د میزان منونکي دا فتاوی په ډیره کمه موده کښي د طباعت (چاپ کیدو) په جامه باندي په ښائسته کیدو سره له اهل علم څخه د شکریه، منني او د تحقیق شابلسی اخیستی دی. زه ډیر خوشحاله یم چه زما محسن او مخدوم، یادګار سلف او فخر الخلف او زعیم ملت حضرت مولانا سمیع الحق صاحب مد ظله د خصوصي پاملرنو له مخي د معارف دا حامله دائره په ډیري کمي مودي کښي د مخکښینیو فتاواوو په شان په لومړي کتار کښي خپل مقام پیدا کړی دی، نومورې مولانا مد ظله د کرم د پلسه کرم په کولو سره ئې تر ټولو مخکي ما عاجز او فقیر ته د علم دا تحفه را ولیږله. او دا هم خوشحالي ده چه زما ملګری او دوست مولانا مفتي مختار الله حفظه الله د تخصص فی الفقه د شعبي استاذ او مفتي پرې د شباب (ځوانی) ملغلري او بهترینو صلاحیتونو په صرفولو سره د کتاب په ترتیب، تدوین او ښه چاپوالی او د ترقی تر معراجه پورې په رسولو کښي محمود کوشښونه کړي دي. الله تعالی دي دا عظیمه او مقتدره فتاوی لومړی د دار العلوم حقانیه لپاره او بیا د ټول اُمت لپاره د اسلام د فقهي او د اسلافو د منهج (طرز او طریقي) ترجمان او هند اره لرونکي کامله ذخیره ثابته کړي.

د الله تعالی شکر او کرم دی چه تر کومه ځایه پورې چه ما نظر پرې اچولی او تحقیق او پلټنه مې وکړه نو فتاوی حقانیه له هر ډول خطا ګانو او شطحیاتو څخه محفوظه پاتي شوي ده. الله تعالی دي دا جلیل القدر خدمت قبول کړي او د دار العلوم حقانیه د عزت او شرافت لپاره دي د ترقیاتو معراج ثابت کړي. (ماهنامۀ الاحسن)

وجه ده چه عام مسلمانان هم د خپلو علمي او ډنیوي مسائلو لپاره د حضرت مرحوم له خوا د جوړي شوي جامعي دار الافتاء ته رجوع کوي. تر اوسه پورې د دار العلوم له دار الافتاء څخه په زرګونو فتواوي جاري شوي دي چه نقل ئې په کتابچو کښي محفوظ دی. حق تعالی شانه دي د اهل علم له خوا څخه له زیات څخه زیات د خیر بدله خلف الرشید حضرت مولانا سمیع الحق صاحب د امت برکاتهم ته ورکړي، چا چه دا قیمتي خزانه له کتابچو څخه را او ایسته او د اُمت د افادي او استفادي لپاره ئې عامه کړه.

د فتاوی له پراخي او عظیمي لیکن غیر مرتبي ذخیري څخه انتخاب او بیا ترتیب او تدوین، تحقیق او تخریج یو لوی او سخت کار دی کوم چه د مولانا صاحب د شپې او ورځې د محنت، ذاتي توجه او د علم د خدمت په برکت سره بالآخر سر ته ورسید. په دي مجموعي کښي د حضرت مولانا شیخ الحدیث عبد الحق صاحب قدس سره برسیره د نورو لس ګونو راسخینو علماوو او مفتیان کرامو فتواوي شاملي دي کوم چه د دار العلوم د افتاء په منصب باندي ګمارل شوي دي. چه احساس ئې حضرت مولانا سمیع الحق صاحب پخپل لیکل شوي مضمون د "سر تکی" کښي فرمایلی دی.

د تبصره کوونکي د ناقصي رأیي مطابق دا مجموعه د مدارسو او جامعاتو برسیره د شخصي کتب خانو هم ضرورت دی.

ماهنامه "الخیر" ملتان مبصر مولانا محمد ازهر (جولائی ۲۰۰۲)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

نور الله مرقده د دې جامعې بانيې او مهتمم وو او ټول صباونه د هغه ځاى ناستې مفتي اعظم الهند، استاذ محترم حضرت مولانا سميع الحق د امت پر کتابونو ټې مهتمم دې. له کومو وخت راهيسې چې جامعه د العلوم حقانيه جوړه شوې وه له هغه وخته د فقهې، فتوې او قضا، شعبه هم پکښې جوړه شوې وه. په تيرو لسو کلونو کښې د دار العلوم حقانيه په نښې پيژندې بانده شوې او مفتيان کرام او فقهې، تخصصي او علمي مقاله څېړنې يې تر سره کړې. له دې ټولو څخه د مفتي اعظم الهند، فقيه، مفتيان کرام او د تخصص د درجې طالبانو د حضرت مولانا سميع الحق تر سرپرستۍ لاندې د دې علمي، تاريخي او فقهي څېړنې په ترتيب او تدوين کښې مصروفيت وو. چې په نتيجه کښې علمي فقهي ذخيره د فتاوې حقانيه په صورت کښې په شپږو جلدونو کښې منځ ته راغله.

دغې مدرسې دې او کله د ار القاوې اصل مقصد ئې د دې ساتنه، دفاع او د لاسې تلو، تغې پرې او کلتور څېړنه، د دې د ساتنې د عوت او خپرولو او عمر ارکلو په هغه باندې د فکرې استعمار نښې نښانې او علمي ځواب دې کارم چې د مخالفانو لپاره ګټور ثابت شوې وې.

له دې لړې څخه علم ترې دې. له اخلاقي مسائلو څخه د ناخبرې حالت هم د دې جوړ شوې وې. د فتاوې حقانيه القمه په مسلم معاشرې پېژندنه کلونې کړ ځښلې دې. فتاوې حقانيه القمه د ټولو ضرورت هم پوره کړې دې او علمي، دېني، فقهي قيادت او سيادت په پرله پسې ډول په چاپېر ډال کښې د را پورته کيدو ډنګ بخار ګوره، د پرېستانې د موجودې، د اخبارو او د لسې نورو تيارې او رېښه نيول په پام کښې وساتي او د يوې د لسې بهترينې فقهي ذخيرې په صورت کښې د يوې علمي تحفې په توګه مخته راغله. د فتاوې حقانيه په ترتيب او تدوين کښې د محترم استاذ حضرت مولانا سميع الحق صاحب مد ظله کومې ښېرې او لمسونه مشتمل کړ امر او په خانګړې توګه د حقاني دردونو لپاره د قدر وړ او له هر لحاظ ځنې د ستاينې وړ دې.

څلن لرونکې چاپ، بهترين کتابت، مضبوط جلد بندۍ او بهترين کاغذ د هرې دار الاشاعت، دار القضاء، دار المطالعه، لايبريرۍ، کتب خانې، مدرسې پلکه د هر کور ضرورت دې.

(ماهنامه "القلم" نوشهره، کتب چوڼ چوڼ لپلې ۲۰۰۲)

د فتاوې حقانيه په اړه د القلم د مياشتنۍ د مدير مولانا عبدالقيوم حقاني جې سره تبصره

افادات: شيخ القديث حضرت مولانا عبدالحق صاحب او نور مفتيان کرام

خلاصه او احتمام: حضرت مولانا سميع الحق مد ظله

ترتيب: مولانا مفتي منذر الله حقاني

د لاسې تاريخ ماخې د علماوو، فقهاوو، جامعاتو، دار العلومونو او د فضلا او کمال د خاوند لوى کار د کتبې او نقوشو، محدثينو الدفګر، په مسائلو کښې د قرآن او سنت پر رڼا کښې د پر دغه لړۍ د يوې ښه کړۍ په توګه پرته دا د علماوو، فقهاوو او د دار العلوم دېوبند او دار العلوم حقانيه څېړنې د لوى لوى جامعاتو مقام او منصب دې چې په حال او مستقبل کښې هم د ملت رښتونې او حقيقي رهبرۍ وکړي. څلاښ سوه ويرکلې د دې لړۍ او د علماوو په ژوند ليکلې دې چې ته چې کلله ضبطه کړې نو صحيح او صواب ته رسيدو ډنګې تيصله وکړې، چې کلله کوم اقدام کوې نو بهتر او مورډن اقدام کوې او چې کلله خبرې اترې کوې نو حسې او فطرې طريقه او اندازه څخه ونه کړې".

نن د ملت مسائل څه دې؟ په اخلاقي او اقتصادي حالاتو کښې څه مشکلات دې او کومې ټوټې ملت سره لګيا دې؟ اسلام بايد لږ هرې مختلفې سطحې څخه د علمي اعتراضاتو څخه څه ليدنه وکړې؟ علماء، فقهاء او مفتيان کرام د ملت د ساتنې او د انسانيت د لارښودنې او د عظيم مسئوليت او ذمه وارۍ په څنګه سر ته رسوې؟

فتاوى حقانيه د دې پوښتنو علمي او عملي ځواب کوم چې لحکم من الناس هذا ولاة الله..... په مطالعې د شرعي قوانينو تعبير او تشريح، انضباط او تدوين، د فقهې د ترويج او خپرونې د عظيم مقصد پورې کړل او د ټول ملت لپاره د لوى سعادت او خوشحالي پيغام دې. علمي مور، د علم مرکز د دار العلوم حقانيه په هيښې آسې کښې ټر د دار العلوم د پوهنې د رڼا لوى او آزاد لاسې پرې هيڅوک شک نه وي، کوم د علم د فروغ او پرمختګ خبره وه، کوم د درسي او تدريسي تسلسل دې، کوم د درسي نظامې د ساتنې او بقاء مسئله وه، کوم په مالک کښې د شريعت د ناڼو او په پاڼو کښې د شريعت د ظلې جد و جهد دې، کوم د فرقو باطلو د سره جنګ دې يا د مغربي تهذيب او مغربي لسمول په خلکو باندې دې، کوم د جهاد فتوې دې وه يا عملي اقدام، کوم د حکومت د لاسې نظام تشکيل او لسحکام دې او کوم د فقهې، فتوې او قضا، مسائل دې په دې ټولو کښې د جامعه د ار العلوم حقانيه او د هغې د بانې، مهتمم، لسناڼ الو او قاضې القضات کړ د ار مشالې او تاريخي دې.

لسناڼې د لسناڼ العلماء، معدن کبير شيخ القديث حضرت مولانا عبدالحق صاحب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

د فتاوی حقانیه په پښتو ژبې سره د ژباړې تائید او تقریظ

له جناب محترم حضرت مولانا سمیع الحق صاحب مهتمم دار العلوم حقانیه اکوړه

ختك څخه:

لکه څرنګه چه فتاوی دار العلوم حقانیه یوه عالمي فتاوی ده او د دُنیا په ګوټ ګوټ کښي مشهوره او معروفه ده او تر اوسه پوري یو اخې په اردو ژبې سره له چاپه را وتلې وه۔ د پښتانه علاقو د ضرورت په خاطر مولوي قاري محمد فاروق ملنګ زمونږ نه د فتاوی په پښتو ژبې سره د ترجمې مطالبه او غوښتنه وکړه نو مونږ اجازه ورکړه تر څو فائده او ثمره ئې نوره هم زیاته شي او مونږ د دې فتاوی د پښتو ژباړې ځینې ځایونه وکتل او د اردو له اصل کتاب سره مو موافق وموند۔ هیله ده چه توله ژباړه له اصل فتاوی سره موافقه وي۔ بیا هم که چا ته په پښتو ترجمه کښي یا په کومه مسئله کښي څه اشکال پیدا شي نو د دار العلوم حقانیه د دار الافتاء او د فتاوی حقانیه د مرتب مولانا مفتي مختار الله حقاني سره دې رابطه وکړي تر څو چه اشکال ئې حل او رفع شي۔

سمیع الحق

خادم دار العلوم حقانیه اکوړه ختك

تقریظ

حضرت مولانا الحاج محمد عالم عابد صاحب د ابو هریرهؓ د جامع جومات ارګون خطیب

نحمده و نصلی علی رسوله الکریم اما بعد: یرفع الله الذین آمنوا منکم و الذین اوتوا العلم درجٰت. الآیة

لکه څرنګه چه تلسو ته معلومه ده چه د علمي مور، دویم دیوبند "دار العلوم حقانیه اکوړه ختك" دیني فیوضات د دُنیا ګوټ ګوټ ته رسیدلي دي۔ په ځانګړي توګه د افغانستان په سلو کښي ۹۵ علماء او د اسلام سر لوړي مجاهدین د همدې دار العلوم شاګردان او روزل شوي خلك دي۔ د دې خدمت په څنګ کښي یو بل اهم او ضروري خدمت د فتاوی په شکل کښي چه د خپل دور مختلف مشهور مفتیان عظام لکه شیخ المشائخ استاذ الاساتذه باني دار العلوم حقانیه مولانا عبد الحق صاحب، مولانا عبد الحلیم صاحب، محدث اعظم، مفکر ملت اسلامیه د طریقت د څلورواړو سلسلو پیر حضرت مولانا مفتي محمد فرید صاحب مد ظله، حضرت مولانا مفتي غلام الرحمٰن صاحب، حضرت مولانا مفتي سیف الله رحماني صاحب او نور مفتیان کرام چه د دغو تولو مفتیان کرامو مجموعه فتواوي د فتاوی حقانیه په نامه نومول شوي ده د عامې افادې لپاره ورانديشوی دی۔

چونکه دا فتاوی په اردو ژبې باندې وه او اکثر پښتانه ورونه په ځانګړي توګه زمونږ افغاني علماء او عوام له اردو ژبې سره پوره آشنا او بلد نه دي نو د افغاني علماء کرامو لپاره خصوصاً او د تعلیم یافته عوامو لپاره عموماً د فاضل نوجوان، خادم علماء دیوبند حضرت مولانا قاري محمد فاروق ملنګ صاحب د "دار العلوم ابو هریرهؓ ارګون" مهتمم او د "دار العلوم ابو حنیفه بالش" باني له خوا یو داسې قیمتي خدمت چه تر اوسه پوري د پکتیکا په ولایت کښي نه بلکه په ټول افغانستان کښي چا نه دی ترسره کړی د ډیرې ستائني او قدر دانی ور دی۔ قاري صاحب موصوف د دې مقولې مصداق دی چه صغر جسمه و کبر علمه۔ د الله تعالی په دربار کښي دا دُعا ده چه د نومورې قاري مولوي صاحب دا لوی خدمت دې پخپل دربار کښي قبول کړي او د نور خدمت موقع دې ور په برخه کړي۔

الحاج مولوي محمد عالم عابد صاحب

خطیب جامع مسجد ابو هریرهؓ ارګون

(۱۷ اسد ۱۳۸۸)

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned with CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

د مجاهد ځوان ورور حضرت مولانا لعل ګل صاحب مدرس د ار العلوم ابو هريرهؓ ارګون تقريظ

الحمد لله نحمده و نستعينه و نستهديه و نستغفره و نعوذ با لله من شرور انفسنا و من سيّئات اعمالنا من يهده الله فلا مضل له و من يضلله فلم نجد له وليا مرشداً. و بعد قال رب العزة يؤتى الحكمة من يشآء .الآية. و قال رسول اللهﷺ نضر الله امرءً سمع مقالتى فوعاها.

د خوشحالي او افتخار مقام دی چه د ديوبند ثاني د ځلور شپيتو کلونو د استفتاء او افتاء زبده، يا نتيجه د تولو پښتنو لپاره په روانه، ساده او سليسه پښتو ژبه کښې د چاپ زينت او ښائست ګرځيدلي ده چه د مبارکي وياړ ني لومړی حضرت مولانا قاري محمد فاروق ملنګ صاحب ته او بيا دار العلوم حقانيه با لخصوص حضرت مولانا سميع الحق صاحب د امت برکاتهم ته ور په برخه دی کوم چه قاري صاحب ته ني د همکاری او تعاون ډاډ او تسلي ورکړه. چه قاري مولوي صاحب هم د دي همکاری او تعاون په نتيجه کښې په معذور بدن سره دي خدمت ته تير واهه او دا دی الحمد لله ستاسو د قدرمنو لوستونکو حضور ته در وړاندې شوي ده.

زه د يوه حقير او عاجز بنده په حيث مولوي قاري صاحب ملنګ ته لاس په دُعا يم چه الله تعالى دي د ده قلم د تل لپاره د ديني خدمتونو په لار کښې چليدونکی لري تر ځو د لوستونکو لپاره د ديني پوهې او علمي لوړوالي سبب او د قاري صاحب لپاره د آخرت توښه وګرځي.

و السلام

مولوي لعل ګل

د دار العلوم ابو هريرهؓ مدرس

د مولانا حمد الله حامد حقاني قوم ځـــدران ولسوالي نکـــه طوري خيل تقريظ

نحمده و نصلى على رسوله محمد و آله و اصحابه و اولاده و ازواجه و ذرّيته و اهل بيته و اطهاره و انصاره و محبيه و امته و علينا معهم اجمعين يا ارحم الرّحمين اما بعد: هَلْ يَسْتَوِى الَّذِيْنَ يَعْلَمُوْنَ وَ الَّذِيْنَ لاَ يَعْلَمُوْنَ الآية. و ايضا: يُؤتِى الحِكْمَةَ مَنْ يَشَآءُ وَ مَنْ يُؤتَ الحِكْمَةَ فَقَدْ اُوتِىَ خَيْراً كَثِيْراً الآية.

لکه څرنګه چه علم د خداوند متعال له صفتونو څخه يو صفت دی چه له وجې ني حضرت آدم عليه السلام هم د ملائکه وو مسجود وګرځيد. د دي صفت د نشر او اشاعت لپاره الله سبحانه و تعالى يو لك ځلور ويشت زره کم او زيات پيغمبران را وليږل او په ځانګړي توګه د نبي کريم عليه الصلوٰه و السلام امت ته د دين د اشاعت او خپروني له وجهې د بهترين اُمت لقب ورکړ شوی دی او صحابهٔ کرامؓ ته د هدايت ستوري ويل شوي دي.

لکه څرنګه چه علماء کرام د انبياوو عليهم السلام وارثان دي او د وراثت د همدې مرتبې له مخې علماء کرامو د زمکې پر مخ زيات ديني خدمتونه سر ته رسولي دي چه له دې جُملې څخه د جهاني شهرت مينډونکي علمي اداري د ار العلوم حقانيه علماء کرام او مفتيان عظام هم دي چه پخپل دور کښې ني مختلف علمي خدمتونه په هر ميدان کښې تر سره کړي دي چه د دوی د کوششونو او ستړيو په نتيجه کښې په نورو تصنيفونو برسيره فتاوٰی حقانيه په اردو ژبه کښې د تاليف په ګيډه ښائسته شوه. چونکه پښتانه اکثره له اردو ژبې سره نا آشنا دي نو د دوی د علمي تندي د ماتولو لپاره خادم العلم و العلماء حضرت مولانا قاري محمد فاروق ملنګ صاحب مهتمم دار العلوم ابو هريرهؓ ارګون او باني د ار العلوم ابو حنيفة بالش دا فتاوٰی په مکمله توګه په پښتو ژبه وژباړله. الله تعالى دي د ده دا خدمت ته پخپل عالي او لوړ دربار کښې د قبوليت درجه ورکړي. آمين

مولانا حمد الله حامد حقاني

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

بسم الله الرحمن الرحیم

د مضامینو فهرست

فتاوی حقانیه لومړی ځلد

مقـــــدمه

د علم ډولونه ۲۳
د فقه لغوي معنی ۲۴
د فقه اصطلاحي معنی ..... //
د فقه اصطلاحي تعریف د متاخرینو په نزد ۲۵
د شرعي احکامو ډوله ..... //
د فقه د علم حکم ..... //
د فقه تدوین ۲۶
د فقه د تدوین لپاره د کمیسون جوړونه ۲۷
د استدلال طریقه ..... //
د ضعیف حدیث په قیاس باندې ورانديوالی ۲۸
د تدوین طریقه ..... //
د فقه ماخذونه ۳۰
القرآن الحکیم ۳۰
السنه ۳۲
په سُنت او حدیث کښې فرق ۳۲
د سُنتو حجیت ۳۳
الاجماع ۳۵
اجماع د کومو خلکو معتبر دی ۳۶
د اجماع حجیت ..... //
د اجماع حجیت د احادیثو له مخې ۳۷
د اجماع کوونکو خلکو شرائط او اوصاف ۳۹
د اجماع ډولونه ۴۰
د سکوتي اجماع د ثبوت لپاره شرطونه ۴۱
د اجماع حکم ..... //
القیاس ..... //

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

د قیاس ضرورت ---- ٤٦
د قیاس شرعي ثبوت ---- ٤٧
د قیاس ارکان ---- //
الاستحسان ---- ٤٨
استحسان او د اسلام فقهاء کرام ---- //
امام شاه ولي الله او استحسان ---- ٤٩
د استحسان مشروعیت ---- ٥٠
عرف او عادت ---- //
د عرف تعریف ---- ٥١
د مقبول عرف لپاره شرائط ---- //
الاستحصاب ---- ٥٣
د استحصاب ډولونه ---- //
مصالح مرسله ---- //
د مصالح مرسله شرائط ---- ٥٤
امام مالك او مصالح مرسله ---- ٥٥
د فقه د ذخیري ویش ---- ٥٦
د فتوی لغوي معنی ---- //
د افتاء اصطلاحي تعریف ---- //
د افتاء لطائف ---- ٥٧
فتاوی د نبوي ﷺ په دور کښي ---- ٥٨
فتاوی د صحابه کرامو په دور کښي ---- ٥٩
د مفتیانو صحابه کرامو اقسام او طبقي ---- ٦٠
فتاوی د تابعینو په دور کښي ---- //
د تابعینو فقهاوو طبقي ---- ٦٢
د مفتي شرائط او آداب ---- ٦٥
د فتوی ورکولو آداب ---- ٧٠
د مستفتي آداب ---- ٧٢
د فتوی اهمیت او په جامعه دار العلوم حقانیه کښي د دار الافتاء جوړیدنه ----
حضرت مولانا انوار الحق صاحب
د مفتیانو حضراتو لنډ سوانحي انځور ---- ٨١
پیش لفظ (سریزه) از مولانا مفتي مختار الله حقاني ---- ١١٣

كتاب العقائد و الايمانيات

د الله تعالی په شان کښي له سپکاوي څخه د ډکو کلماتو استعمالول ---- ١٢٢
د قرآن مجید سپکاوی د کفر موجب دی ---- //
کلمه طیبه ته ښکنځل کوونکی کافر دی ---- ١٢٣
اسلامي نظام ته د فرسوده نظام ویل کفر دی ---- //
د رسول ﷺ د شاتم (ښکنځا کوونکی) توبه مقبوله ده ---- //
د انبیاء کرامو علیهم السلام په شان کښي د سپکاوي حکم ---- ١٢٤
د صدیق اکبر د صحبت منکر کافر دی ---- //
شیخینو ؓ ته ښکنځا د فسق موجب دی ---- ١٢٥
د امیر معاویة ؓ په شان کښي د ګستاخی حکم ---- //
د حضرت حسین رضی الله عنه د صحابي توب ثبوت ---- ١٢٦
دیوبندي علماوو ته د وهابي ویلو حکم ---- ١٢٧
د ديني عالم سپکاوی د کفر موجب دی ---- //
کوم مسلمان د خره په ویلو سره کفر نه لازمیږي ---- //
د پیري پریښودونکي ته د ښکنځا حکم ---- ١٢٨
د سُنتو او نوافلو سپکاوی د کفر موجب دی ---- //
د بُتانو تاجر او جوړوونکي ته د کافر ویلو حکم ---- ١٢٩
د نبوي ﷺ سُنتو سپکاوی کفر دی ---- //
د لمانځه د سپکاوي حکم ---- //
د علماء کرامو په حق کښي له سپکاوي څخه د ډکو کلماتو ویل ---- ١٣٠
د جومات په اړه نابنائسته الفاظ ویل ---- //
د ختم نبوت منکر کافر دی ---- ١٣١
حضرت خضر علیه السلام نبي وو ---- //
انبیاء علیهم السلام له نبوت څخه مخکښي هم معصوم وو ---- ١٣٢
د انبیاوو علیهم السلام لغزشونه د هغو له عصمت سره تکر نه دي ---- ١٣٣
د تقدیر په مسئلي باندي ایمان راوړل ضروري دي ---- ١٣٤
د عیسی علیه السلام د ژوندي توب عقیده له قرآني نص څخه ثابته ده ---- ١٣٦
د عیسی علیه السلام په اړه د څو شبهاتو ازاله ---- //
د مهما تما بد هـ په اړه د نبوت عقیده صحیح نه ده ---- ١٣٨
د انبیاوو علیهم السالم د ژوندي توب د عقیدې ثبوت ---- ١٣٩

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

د نبي کريم ﷺ علم له تولو مخلوقاتو څخه زيات دی ۱۴۰
د جميع ما کان و ما يکون علم يواځې له الله تعالی سره خاص دی ۱۴۱
رسول الله ﷺ بشر دی، نور نه دی ۱۴۳ //
د يا محمد او يارسول الله ويلو حکم ۱۴۵
د حضرت خضر عليه السلام د ژوندي توب عقيده ۱۴۶ //
د امام مهدي ؒ له راتګ څخه د منکر سړي حکم ۱۴۶
د کرامت حقيقت ۱۴۷ //
د اولياوو د کراماتو حکم ۱۴۷
قرآنکريم ته مخلوق ويل کفر دی ۱۴۸
انبياوو کرامؑ د فواحشو خواته په منسوبولو سره ايمان له منځه ځي ۱۴۹
په پښتو ژبې کښې حضور ﷺ ته کمينه ويل د کفر موجب نه دي ۱۴۹ //
د انبياوو عليهم السلام افعالو او اقوالو ته مجنونانه ويونکی کافر دی ۱۵۰
د الله تعالی په اړه د زوجيت او ولديت عقيده درلودل کفر دی ۱۵۰ //
د نبي کريم ﷺ په اړه د سميع او بصير والي عقيدې څرګندونه ۱۵۱
د نبي کريم ﷺ د معراج په اړه د يوې بې بنيادي واقعي حقيقت ۱۵۱ //
په حضور ﷺ باندې د خطاب په صيغې سره د درود ليږلو حکم ۱۵۲
که چېرته ما د فيصلي خلاف ورزي وکړه نو قرآنکريم به مې دروغ ګڼلی وي ۱۵۳
د لا اله الا الله ايوب خان رسول الله کلمې ويونکی کافر دی ۱۵۳ //
د امام غزالي ؒ له قول څخه انکار کفر نه دی ۱۵۴ //
د اهل فترت په باره کښې شرعي عقيده ۱۵۴ //
د عبد الله بن اُبی بن سلول په اړه د جنتي والي عقيده درلودل ۱۵۵
د آنحضرت ﷺ له سفارش څخه انکار کفر نه دی ۱۵۶
په ځينو خلکو باندې د قبر عذاب منکشف کيدلای شي ۱۵۶
د جمعې په ورځ په مړ کيدونکي باندې د قبر د عذاب د نشتوالي عقيده ۱۵۷ //
د جُمعې تر شپې پورې د قبر په ساتنې سره د عذاب قبر د نشتوالي مسئله ۱۵۷
په عالم برزخ کښې جسم او روح دواړو ته عذاب او ثواب وي ۱۵۸
په قبر کښې له نابالغو کوچنيانو څخه د سوال او ځواب وضاحت ۱۵۸ //
قبر يا برزخ په عذاب او ثواب کښې دواړه برابر دي ۱۵۹
قبر ته د سجدې کولو د ډولونو تفصيل ۱۵۹
د غيرالله د خوشحالولو لپاره د ځناور د حلالولو حکم ۱۶۰

ځناور قبر ته بوول او هلته ني د ذبح کولو حکم ۱۶۰
په قبرونو باندې د ګلد ارو ځادرونو غوړول او د څراغونو روښانه کول ۱۶۱
پير (مُرشد) ته د سجدې کولو حکم ۱۶۲ //
د قبر د ښکلولو حکم ۱۶۲
د قبر طواف او د خاورې ني په ځان پورې منبلو حکم ۱۶۳
د "مدد کُن" په الفاظو سره شاه صاحب ته د آواز کولو حکم ۱۶۴ //
د فوت شوي بزرګانو حاضر او ناظر ګڼلو حکم ۱۶۴
اولياء کرام په امورو کښې متصرف ګڼل د کفر موجب دي ۱۶۵ //
د غير الله په اړه د "يَعلَمُ مَا فِی الصُّدُور" عقيدې درلودل ۱۶۵
په مصائبو او مشکلاتو کښې غير الله ته د ناړې وهلو حکم ۱۶۶ //
د "يا شيخ عبد القادر جيلاني شيئاً لله" وظيفه کول شرک دي ۱۶۶
حضرت علي رضی الله تعالی عنه لره مشکل کُشا ګڼل شرک دی ۱۶۷ //
د ريږي لندول جائز بلل او ګناه نه ګڼلو حکم ۱۶۷
د دين په ضرورياتو باندې مسخرې کفر دی ۱۶۸
د قرآن پاک د پانو څيرل او بې حرمتي ني کول د کفر موجب دی ۱۶۸ //
په حرامو باندې د حلالو عقيده درلودل د کفر موجب دي ۱۶۹
د رقص او سرود د حلال ګڼلو حکم ۱۶۹ //
په يزيد باندې لعنت ليږل جائز نه دي ۱۷۰
په شريعت مطهره باندې د فيصلې له کولو څخه انکار کوونکی د اسلام له دائرې څخه وتلی دی ۱۷۰
"زه شريعت ته ضرورت نه لرم" د ويلو حکم ۱۷۱ //
له خدای جل جلالُه او رسول ﷺ څخه د بيزاری اعلان د کفر موجب دی ۱۷۱
په لمانځه کښې د رسول الله ﷺ د تصوّر په زړه کښې د راوستلو حکم ۱۷۲
د نبي کريم ﷺ په اړه د سيوري د نه درلودلو عقيدې وضاحت ۱۷۳ //
کوم غوث يا قطب ما فوق الاسباب متصرف ګڼل شرک دي ۱۷۵
د کوم مخلوق په باره کښې دا عقيده درلودل چه د الله تعالی له نور څخه جلا شوی دی، د اسلام خلاف دی ۱۷۶ //
د شيخ عبد القادر جيلاني ؒ په اړه شرکيه او بې بنياده کيسه ۱۷۶
د جنّت اندازه کول په دُنيا کښې ممکن نه دي ۱۷۷ //
د تقوية الايمان د ځينو عبارتونو وضاحت ۱۷۷

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

د صراطِ مستقیم د یوه عبارت وضاحت ۱۷۹
ډنیا ته د روحونو د پیرته راتلو عقیده غلطه ده ۱۸۰
ځینو نیکانو ته د وفات په وخت کښې د الله له لوري د نجات زیري ۱۸۱
د شاه اسمٰعیل شهید او د هغه د تصنیف "تقویه الایمان" یادونه //
په ډنیا کښې د جنت غوندې د زمکې تیارول ممکن نه دي ۱۸۲
د صفر په میاشت کښې د بلیاتو او آفاتو د نزول عقیده صحیح نه ده //
په قیمتونو کښې کموالی او زیاتوالی د الله تعالی له لوري وي ۱۸۳
د جماعت د لمانځه پریښودونکی منافق دی //
بې اودسه د لمونځ کوونکي حکم ۱۸٤
هیڅوک هم د عمل له وجې له صحابي څخه نه شي وړاندې کیدلی //
د دې الفاظو ویل چه "دا شی له ما څخه خدای هم نه شي اخیستلی" د کفر موجب دی ۱۸۵
ختنه (سُنتي) د امراضو موجب ګڼل د کفر سبب دی ۱۸٦
د مسلمان په تکفیر کښې احتیاط ضروري دی //
حنفي فقهي ته د معتزله وو تصنیف ویونکي باندې توبه لازمه ده ۱۸۷
د نبويؐ حدیثونو د منکر سړي ایمان سلامت نه شي پاتې کیدلی //
په صالحینو (نیکانو) پوري توسّل جائز دی ۱۸۸
د معتوه د ارتداد حکم //
د فاسق او فاجر تعریف ۱۹۰
فسق او فجور د کفر موجب نه دی //
له قتل عمد (قصداً قتل) څخه توبه د قبلیدو وړ ده //
کوم مسلمان ناحقه قتل کول ګوا که د ټولو خلکو قتلول دي ۱۹۱
د والدینو او استاذ نافرمان کافر نه دی ۱۹۲
په توبې باندې حقوق الله معاف کیدلی شي نه حقوق العباد //
د والدینو د نافرمان یو عبادت هم قبول نه وي ۱۹۳
د معراج په شپه کښې د باري تعالی د رویت د عقیدې وضاحت //
د حضورﷺ له نامه سره درود ویلو نه د لکې ویلو حکم ۱۹٤
له نبويؐ معراج څخه د انکار کولو حکم ۱۹۵
قیامت ته نژدې د عیسٰی علیه السلام نزول له ختم نبوت سره تکر نه دی ۱۹٦
د مړي د جسم د تکړې کیدو په صورت کښې د قبر د عذاب او ثواب حکم ۱۹۷
د قبرونو د زیارت په موقع باندې د ځینو غیر شرعي رواجونو یادونه ۱۹۸

اسلام د ژوندانه یوه مکمله ضابطه ده ۱۹۸
د قرآنکریم په اړه د تبدیلۍ د عقیدې درلودل ۱۹۹
کفار به په جهنم کښې د تل لپاره وي ۲۰۰
په رمضان المبارک کښې د مړ شوي ګنهګار مسلمان لپاره د قبرد عذاب سپکوالی ۲۰۱
د "کل شیءٍ هالك الا وجهه و کلّ نفسٍ ذائقة الموت" کښې د هلاکت او مرګ تفصیل ۲۰۲
د الله تعالی د رویت (لیدنې) مسئله ۲۰۳
د حضورﷺ د والدینو د جنتي توب عقیده ۲۰٤
د قبر د عذاب کیفیت څنګه دی؟ ۲۰۵
د اعمالو د وړاندې کیدو تحقیق ۲۰٦
د معجزې او کرامت حقیقت //
انبیاء کرام علیهم السلام د نبي کریمﷺ له ټولو اُمتیانو څخه افضل دي ۲۰۷
له صحابۂ کرامؓ څخه د خطایي پیښیدل د هغو له له عدالت سره تکر نه دي //
د صحابۂ کرامو رضی الله عنهم مشاجرات ۲۰۸
له مسیح موعود څخه یواځې عیسٰی ابن مریمؑ مراد دی ۲۰۹
د علیؓ د الوهیت عقیده درلودل شرک دی ۲۱۰
د عیسایانو د ایمان په تعریف باندې اعتراض او د هغه ځواب ۲۱۱
د کفار و جهنم ته په داخلولو باندې اعتراض او د هغه ځواب //
له "قرآن کریم سره به مې جماع کړې وي" په ویلو باندې د کفر د لزوم حکم ۲۱۳
د پیرې سپکاوی کوونکی کافر دی //
د آذان او مؤذن د سپکاوي کوونکي حکم //
د "ستا په سبق دې آسماني تکه ولویږي" د ویلو حکم ۲۱٤
د فقهي او اجتهاد څخه د منکر سړي حکم //
جنّات (پیریان) په غیبو باندې نه پوهیږي //
د نزع (ځنکدن) په حالت کښې د ایمان راوړلو شرعي حیثیت ۲۱۵
د باري تعالی د ذات تصور عقیدې ته تاوان نه رسوي //
ستا په عبادت دې لعنت وي د ویلو حکم ۲۱٦
د مرتد د دوباره مسلمانیدو څخه وروسته د هغه د مخکښینیو نیکیو حکم //
د نشې په حالت کښې د ارتداد حکم ۲۱۷
د مکره د ارتداد حکم //
د ښځې د ارتداد حکم ۲۱۸

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

مُرتد به کله قتل کيږي؟ ۲۱۸
د مُرتد د مال د تقسيمولو حکم ۲۱۹
د الله تعالی لپاره د ځای د ټاټولو حکم //
د کفر د غوره کولو مشوره ورکوونکی پخپله کافر کيږي ۲۲۰
په کفر باندې رضا کفر دی //
د بل چا په کفر باندې رضا کفر دی او که نه؟ //
د داسې سړي حکم چه د الله تعالی خوا ته په کفر باندې د رضا نسبت کوي ۲۲۱
د الله تعالی خوا ته د عجز د نسبت کولو حکم ۲۲۲
حضرت عائشهؓ ته د زنا د نسبت کوونکو حکم //
په ارتداد سره نکاح فوراً له منځه ځي ۲۲۳
د آسمان له وجود څخه د منکر کيدو حکم //
د قرآنکريم د بې ادبي کوونکي شرعي حکم ۲۲۶
د ډارون د ارتقاء نظريه او اسلام ۲۲۷
زليخا ته زانيه او داسې نور ويل ۲۲۸
"عبادت را وغيبی" د کفر کلمه نه ده ۲۲۹
د الله تعالی لپاره د "خدا" د لفظ استعمالولو حکم //
ډيرې ته د ووزې د لکۍ ويونکي حکم //
د کوم نبي اشارةً يعني د کومې فرضي کيسې له مخې سپکاوی کفر دی ۲۳۰
"المونځونه خو خره او سپي کوي" د ويلو حکم ۲۳۲
د نبي کريمﷺ يا د کوم بل نبي د سپکاوي سزا ۲۳۳
د نيمې کلمې په ويلو سره که چېرته ساه له سړي وخيژي نو ۲۴۱
د تقدير د مسئلې په اړه يو استفسار (يوه پوښتنه) ۲۴۲
د مجازاتو مسئله ۲۴۸
په ايمان کښې د کموالي او زياتوالي مسئله او د هغې تحقيق ۲۵۲
د "ايمانی کابيمان جبريل" مطلب ۲۵۳
د امام مهديؑ د ظهور او د عيسیٰ عليه السلام د نزول په باره کښې فتویٰ ۲۵۴
په حضرت ابراهيم عليه السلام باندې ايمان راوړونکي خلك مسلمانان وو ۲۵۸
آيا قاتل به د تل لپاره په جهنم کښې وي ۲۵۹
د قيامت په ورځ د توبې او تائب سړي سره به هم حساب کتاب کيږي ۲۶۱
د آسمان او سپوږمۍ تحقيق ۲۶۲

د خلايي سفر شرعي حيثيت ۲۶۴
يوه شبه او د هغې ځواب ۲۶۵
د لمر او سپوږمۍ صعود //
د حضرت ابراهيم عليه السلام د خاندان په اړه د يوې پوښتنې ځواب ۲۶۷
آيا نبي کريمﷺ ته د دې حکم شوی وو چه بُت خانو ته لاړ شي او تبليغ وکړي؟ ۲۶۹
جديد سائنسي تحقيق، د انساني کلوننگ شرعي حيثيت ۲۷۲

ترسپوږمۍ پورې د انسان رسيدنه او اسلام

خلايي پرواز په اسلامي تعليماتو باندې هيڅ اثر نه اچوي ۲۷۹
په کائناتو باندې د انسان فضيلت //
د دې فضيلت وجه د امانت د بار اوچتول دي //
د انسان په فطرت کښې محبت پروت دی ۲۸۰
په کائناتو کښې د تصرف کولو لارښوونه انبياء کرامؑ کړې ده ۲۸۱
د علومو ظهور او تکميل ټې د نبي کريمﷺ په ذات اقدس باندې وشو //
اُمت دعوت او اُمت اجابت ۲۸۲
اصل علوم د نبوت علوم وو چه مسلمانانو ته په لاس ورغله //
مادي او روحاني علوم د نبي کريمﷺ له بعثت څخه وروسته ښکاره شول ۲۸۳
خلايي پرواز او اسلامي لار ښوونې //
په قرآنکريم کښې د تيز رفتارو سورليو خوا ته اشاره //
خلايي تسخير خالصه تمدّني او سائنسي مسئله ده ۲۸۴
قرآنکريم او لا محدود پروازونه //
خلايي پرواز د شرافت مدار نه دی //
د پيريانو تر آسمانه پوره رسيدنه ۲۸۵
په اسلام کښې ترستورو پورې د ختلو لپاره له آسمانونو څخه د تيريدلو يادونه نشته ۲۸۶
د سائنس متضادي نظريې او اسلام //
د موجوده ترقياتو (پرمختګونو) اثر په باطلو مذهبونو او فلسفو باندې لويږي //
تول ستوري تر آسمان لاندې دي ۲۸۷
د "كُلٌّ فِي فَلَكٍ يَّسْبَحُوْنَ" تفسير //
له سائنس څخه د اسلام غيبي تائيد کيږي ۲۸۸
د قيامت او معراج تائيد //
د عيسیٰ عليه السلام د پورته خيژولو تائيد ۲۸۹

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

د آدم علیه السلام نزول ۲۸۹
تول مسلمانان له اووم آسمان څخه هم پورته خیژي //
کومه مسئله حل شوه؟ ۲۹۰
له سائنس څخه یواځي او یواځي باطل مذهبونه پخپله متاثر کیږي //
وحی او د اسلام د نورو دعوو تائید //
معجزه د امکان دلیل دی ۲۹۱
د قرآنکریم بنیادي مقصد //
په قرآنکریم کښي د علومو لامتناهي (نه پای ته رسیدونکي) ذخیره //

اسلام او د نن زمانې سائنسي ویاړونه

د اکتشافاتو (څیړنو) زمانه ۲۹۲
د سائنس او مذهب د کار حدود //
فطري پلټنه ۲۹۳
د سائنس پاتې راتلنه او د سائنسدانانو اعتراف //
د کائناتو حقیقت او د سائنسدانانو د عجز اعتراف ۲۹۴
د مذهب د چاپیریال حدود او پراخی ۲۹۶
د کائناتو په تسخیر کښي د مذهب لاربښونه //
د ډیرو دعوو تائید او توثیق ۲۹۷
رسول کریم ﷺ او د عروج او پرواز منزلونه //
د مخلوقاتو تسخیر د خالق د معرفت (پیژندنې) ذریعه ۲۹۸
قرآن او تسخیر و اکتشاف //
د تسخیر د نعمت حق او غوښتنې ۳۰۰
تر سپوږمۍ پورې د انسان رسیدنه او د اسلام موقف ۳۰۱
طبعاتي علوم او د امام غزالي یوه اصولي خبره //
د ښه والي او بد والي دار و مدار په مقاصدو او استعمال پورې اړه لري ۳۰۲
ایجاد او اختراع او د عالم بربادي ۳۰۳
د نوي تهذیب سائنسي فتنه انګیزي ۳۰۴

د سپوږمۍ او ستورو تسخیر (تابع کول)

د انساني فطرت د تجسس (پلټنې) قابل تسلیم ځواب ۳۰۵
لامحدود کائنات او سائنسي اعترافات //

د غیبو عالم ۳۰۷
د کائناتو د تخلیق مقصد او د کائناتو د تسخیر خدایي تقاضاوي //
د مذهب او سائنس سرحدونه او سرچینې ۳۰۸
په سائنس او مذهب کښې هیڅ تکر نشته ۳۰۹
د خدایي لار ښوونو اصل موضوع //
د اعتدال لاره //
د سپوږمۍ په تسخیر کښې د اسلام موقف ۳۱۰
فلکي نظام او د سلفو امامان ۳۱۱
د آسمانونو وجود //
اسلام هیڅکله څوک له سائنسي او مادي ترقیاتو نه دي منع کړي ۳۱۲
د مسلمانانو د تخلّف اصل ذمه واران //
د تسخیري کوششونو هیبتناکي نتیجې ۳۱۳
تر سپوږمۍ پورې د انسان رسیدنه د څو شبهاتو ازاله //

باب الفرق الاسلامیه وغیرها

د اهل السنت و الجماعت تعریف ۱۳۸
د ډاکټر عثماني او د هغه د ډلې شرعي حکم //
د محمد بن عبد الوهاب نجدي او د هغه د پیروانو حکم ۳۱۹
د نیچریه فرقې عقیده //
د پرویزي فرقې عقائد او نظریې ۳۲۱
د رسول ﷺ د ګستاخ سلمان رشدي سزا //
د آغاني ډلې عقائد او نظریات ۳۲۲
د شیعه ګانو د کفر او اسلام څیړنه ۳۲۳
د ختم نبوت په اړه د اثناء عشریه د ډلې فاسد تاویل ۳۲۴
د شیعه ګانو څینې کفري عقیدې //
بهایي مذهب څوره کول کفر دی ۳۲۵
د ختم نبوت د وخت د تاکلو تحقیق ۳۲۶
د قادیانیانو کفر د قرآن او حدیث په رنا کښې ۳۲۷
د قادیانیانو دلائل او د هغو ځوابونه ۳۲۸
د مرزایانو لاهوري ډلې هم کافره ده ۳۳۲
لاهوري مرزایان هم کافران او د اسلام له دائرې څخه وتلي دي ۳۳۳

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

د شيعه مذهب په اختيارولو سره د نکاح حالت ---- ۳۳۵
د ذکري ډلې د کفر حکم ---- ۳۳۶
د بريلوي ډلې يادونه ---- ۳۳۷
د مولانا پنج پير او د هغه پيروانو ته کافر ويل صحيح نه دي ---- //
مودودي او د هغه د هم خيالانو جدت خوښوونکي نظريات ---- ۳۳۸
له قاديانيانو سره د مسلمانانو غوندي تعلقاتو ساتل جائز نه دي ---- ۳۴۱
د علامه عنايت الله مشرقي په باره کښې د يوې پوښتنې ځواب ---- ۳۴۲
د مودودي صاحب د عقائدو په باره کښې د يوې پوښتنې ځواب ---- ۳۴۳
د يهودو ذکر په قرآنکريم کښې ---- ۳۴۷

د قومي اسمبلي تاريخي فيصلـــــه

سفارشات او په آئين کښې د ترميمونو بيل ---- ۳۵۶
د قاديانيانو په باره کښې د صدارتي فيصلې مکمل متن ---- ۳۶۰

په قادياني مسئلې کښې د مسلمانانو فتح مبين

د نبوت د قصر حفاظت ---- ۳۶۲
ختم نبوت ---- ۳۶۳
متنبي کذاب او د انبياوو توهين ---- //
د مسلمانانو تکفير ---- ۳۶۴
د جهاد نسخ ---- //
د انګريز اطاعت (پيروي) ---- ۳۶۵
له ملک او قوم سره غداري ---- //
په قومي اسمبلي کښې د ځجت پوره والی ---- ۳۶۶
د انګريزانو صفتونه ---- ۳۶۷
له معاشرتي تعلقاتو ځخه ممانعت ---- ۳۶۸
د لاهوري ډلې منافقت ---- //
د اسلام په نامه له اسلام سره دښمني ---- ۳۶۹
له اسرائيلو سره اړيکي ---- ۳۷۰
د قومي اسمبلي متفقه فيصله ---- //
د الله تعالى مدد ---- ۳۷۱

د مسلمانانو فتح مبين ---- ۳۷۲

د قاديانيت په باره کښې د قومي فيصلې متفقه فيصله او په هغې پورې اړوندې غوښتنې ---- ۳۷۸
الشيخ محمد صالح القزاز ---- //
مولانا مفتي محمودؒ ---- ۳۷۹
علامه ظفر احمد عثمانيؒ ---- ۳۸۲
مولانا مفتي محمد شفيعؒ ---- //
علامه شمس الحق افغانيؒ ---- ۳۸۵
حکيم الاسلام مولانا قاري محمد طيب قاسمي صاحبؒ ---- ۳۸۶
مولانا ميان عزيز گلؒ ---- ۳۸۷
مولانا سيد ابو الحسن علي ندويؒ ---- //
د دار العلوم ديوبند اکابر استاذان ---- ۳۸۸
مولانا سيد ازهر شاه قيصر ---- ۳۹۰
مولانا سيد محمد يوسف بنوريؒ ---- ۳۹۱
مولانا غلام غوث هزارويؒ ---- ۳۹۲
مولانا ابو الاعلى مودودیؒ ---- //
مولانا محمد اسحق سنديلوي ---- ۳۹۶
مولانا محمد اشرف صاحب ---- ۳۹۷
مولانا قاضي عبد الکريم کلاچويؒ ---- ۴۰۵
مولانا امين احسن اصلاحي ---- ۴۰۸
مولانا محمد طاسينؒ ---- //
مولانا عبد الحليم زروبويؒ ---- ۴۱۰
مولانا مفتي محمد فريد زروبوي ---- ۴۱۲
مولانا عبيد الله انورؒ ---- //
مولانا منظور احمد چينوتي ---- ۴۱۴
مولانا ظفر احمد انصاري ---- ۴۱۵
شاعر اسلام ابو الاثر حفيظ جالندهريؒ ---- ۴۱۶
مولانا ماهر القادريؒ ---- ۴۱۷
مولانا عبد القدوس هاشمي ---- ۴۱۸
ډاکټر محمد حميد الله پيرس ---- ۴۱۹
ډاکټر صغير حسين معصومي ---- ۴۲۰

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

٤٢١
ډاکټر سید عبد الله ٤٢٤
مولانا محمد شریف جالندهري ٤٢٥
مولانا احمد عبد الحلیم کانپوري ٤٢٧
محترم زید لمې سلهري ٤٢٩
د اقلیت د غوښتنې یوه سرسري کتنه ٤٣٠
د دین او دُنیا په هرې شعبې کښې د جلا اُمت والې اعلان ٤٣٢
عباداتو، معاشرتي معاملات //
د اسلامي اصطلاحاتو او شعائرو استعمال ٤٣٣
د مسلمان او کلمه ویونکي حقیقت ٤٣٤
اُمتونه له انبیاوؑ څخه جوړیږي ٤٣٦
قادیانیت او د مکې معظمې اجتماعي قرارداد ٤٤٠
بهائیت ٤٤١
غیر اسلامي صهیوني ډله //
له مذهب څخه زیات صیهوني سیاسي ډله ٤٤٢
د بهائیت سرچینه او مقصدونه //
د استعماري مقاصدو لاسپوڅی ٤٤٣
د اسلامي حکومتونو فریضه //
فري میسن روتري او لائز کلب //
د رفض فتنه اوله صحابه وؓو څخه انکار ٤٤٤
د صحابه وؓو تعدیل د دین مدار دی ٤٤٥
د صحابه وؓو په عظمت او د عدالت په شان باندې حملې ٤٤٦
د صحابه وؓو دفاع او زمونږ فریضه //
د صحابه وؓو دفاع د سُني مسلمانانو فریضه ده ٤٤٧
د فتنو او الحاد د خلکو زور ازمونه //
د دروغجن نبوت خپرونه ٤٤٨
د شیعه معتقداتو فروغ //
له حکومتي نصاب څخه د خلافت راشده ایستل ٤٤٩
سُني کمیسون ٤٤٩
په سُني سواد اعظم باندې بنکاره زور زیاتی ٤٥١
له اختلافي معتقداتو څخه جوړه شوې د اسلام کلمه

د متجددینو او حدیثو د منکرینو د نبوت جاهلانه تصور ٤٥٢
د رسالت منصب ٤٥٢
د رسول اللهﷺ سُنت او د مستشرقینو او تجدد وهلې طبقه ٤٥٣
د سُنتو او حدیثو په باره کښې منافقانه رویه ٤٥٤
د سُنت جاریه او غیر جاریه نظریه //
له پرویزي نظریې څخه زیات مهلک //
آزاد اجماع او شخصي رایه ٤٥٥
عوامو ته د فیصلې کولو حق //
د جمهوریت په نامه د اجماع او د لسې په باره کښې د صدر ایوب خان غلط خیالات ٤٥٦
ملائیت، پاپائیت نه دی ٤٥٧
د جمهورو رأیه او جمهوریت تر کومه ځایه اهمیت لري //
اجاره داري نه، اهلیت شرط دی //
اجتهاد او اجماع ٤٥٨
د بحث خلاصه //
د حدیثو د انکار فتنه ٤٦٠
د حدیثو د منکرینو بې ځایه وکالت //
د استشراق فتنه ٤٦٣
په انکار حدیث او انکار ختم نبوت کښې یو له بله مماثلت ٤٦٤
د رسول تشریعي منصب ٤٦٧
د تجدد او الحاد فتنه ٤٦٨
د تجدد او اصلاح د نارو اصل حقیقت
د اکبر دې ګـــــریټ ماډرن (نوی) اسلام ٤٦٩
د دین د غربت عبرتناکه زمانه //
د بې دینانو بې دینه ترجمانې ٤٧٠
د اجتهاد منصب ٤٧١
د سلفوؒ بې حرمتي //
د صحابه کرامؓو بې قدري //
د رسالتؐ په شان کښې سپکاوی //
د روشن خیالي په نامه په دین باندې توکې ٤٧٢
له نبوت او غیب له خبرو څخه انکار //
د معجزاتو سپکاوی ٤٧٣

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

د رسالت په شان کښې بې حمیتي ---- ۴۷۳
اکبر د رسالت په منصب باندې (معاذ الله) ---- //
اسلامي مشاورتي کمیسون او تحقیقاتي اداري ---- ۴۷۴
د تاریخ پاکوالی ---- ۴۷۵
د اکبر د لورینې نتیجه ---- //
فرنګي ثقافت او دود و دستور ---- ۴۷۶
سیاست که الحاد ---- //
نوی ملت او که ماډرن اسلام ---- ۴۷۷
د وفاداري لوړه ---- //
تمغې یا مډالونه ---- ۴۷۸
اکبري عقیدې او عبادتونه ---- ۴۸۰
نور اصلاحات ---- ۴۸۴
د شاه ولي الله محدث دهلويؒ تبصره ---- //
د اکبر د آنیډیل وړاندې کوونکي ---- ۴۸۵

د تجـــــدد او اصلاح د نارو اصل حقیقت ---- ۴۸۵

په عالم اسلام کښې د قدیم او جدید معرکه ---- ۴۸۵
د مغرب په باره کښې معتدله لاره ---- //
د تجدد او اصلاح د علمبردارانو اصل مقاصد ---- ۴۸۶
د تجدید آوازه که د فرنګ تقلید ---- //
د علماوو او مسلمانانو تشویش ---- ۴۸۷
د ننني زماني غوښتنې او اسلام ---- //
مغربي بدعملیو ته د ننني زماني غوښتنې نه شي ویل کیدلی ---- ۴۸۸
د اسلام جمود او تصلب ---- //
د پلټنې او څېړنې اصل هدف ---- //
زمونږ د اندېښنو تاییدونه ---- ۴۸۹
د ډاکټر فضل الرحمٰن څېړنې ملحدانه خیالات ---- ۴۹۰

دماډرن ازم یا د باطنیت نوی شکل ---- ۴۹۲

د قرآني اصطلاحاتو نوي لغت ---- ۴۹۲
د باطنیت تجدید ---- ۴۹۳

کتاب الاجتهاد و التقلید

د تقلید شرعي حیثیت ---- ۴۹۴
د مجتهد او مقلد په دلایلو کښې فرق ---- //
د مذاهب اربعه وو د حق ګټلو تر څنګ په قرآن او حدیثو باندې عمل کول ---- ۴۹۵
په دوه مذاهبو باندې عمل کول ---- //
د ضرورت په موقع کښې په بل مذهب باندې عمل کول ---- //
د اهل الظاهر په فتوی باندې د عمل کولو حکم ---- ۴۹۶
امام ابو حنیفة تابعي دی ---- //
د امام ابو حنیفة د مرویاتو شمیر ---- ۴۹۷
په صحاح سته وو کښې د امام ابو حنیفة روایتونه ---- //
د میزان الاعتدال د عبارت تحقیق ---- ۴۹۸
په پاکستان کښې د نورو مذهبونو د تقلید حکم ---- //
شاه ولی اللّٰه مقلد وو ---- ۴۹۹
حنفي مذهب د سُنتو موافق مذهب دی ---- //
د څلورو مذهبونو د مخالفت حکم ---- ۵۰۰
له مذاهب اربعه وو څخه پرته د نورو مذهبونو تقلید کول ---- //
د اجتهاد د دروازې د خلاص والي حکم ---- //
د صحابۂ کرامؓو په دور کښې د تقلید مسئله ---- ۵۰۱
مجتهد ته په خطا باندې هم اجر ورکول کیږي ---- ۵۰۲
د مجتهدینو په اقوالو باندې د فتوی ورکولو حکم ---- //
د څلور مذاهبو د تقلید ثبوت د احادیثو له مخې ---- //
شاه اسمٰعیل شهیدؒ مقلد وو ---- ۵۰۳
د اجماع او قیاس شرعي حیثیت ---- //
مقلدینو ته د مشرک ویونکو خلکو د ایمان حکم ---- ۵۰۴
څلور مذهبونه د قرآن او سُنتو موافق دي ---- //

کتاب البدعه و الـــــرسوم

د بدعت تعریف ---- ۵۰۶
د بدعت حسنه او بدعت سیئه تحقیق ---- //
د بدعت للدین د جواز حکم ---- ۵۰۷
په قبر باندې د آذان ورکولو حکم ---- //
مړي ته تر غسل ورکولو مخکښې د تعزیت حکم ---- ۵۰۸

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

له دري ورځو وروسته د تعزيت حکم ۵۰۹
په چاره سره د ډوډۍ پرې کولو د رواج حکم //
د تعزيت لپاره خلک بايد په مناسب ځای کښې کښيني //
د ايصال ثواب لپاره قرآن خواني او د ځلوېښتمې ورځې شرعي حيثيت ۵۱۰
په صفر المصفر کښې د ډوډۍ د ماليدې د رواج شرعي حيثيت //
د بزرګانو (مشرانو او نيکانو) د لاسونو بڼکلول بدعت نه دي ۵۱۱
په التحياتو کښې په ګوتې سره د اشارې حکم //
له پګړۍ سره په دوامداره توګه د لمانځه د ادا کولو حکم ۵۱۲
له دري ورځو مخکښې د مړي په کور کښې د خوراک او څښاک حکم ۵۱۳
د ډوډۍ بڼکلول بدعت نه دي //
د ضرورت په وخت کښې په چاره باندې د ډوډۍ د پرې کولو حکم ۵۱۴
د جنازې د پورته کولو په وخت کښې ذکر يا لجهر مکروه دی //
په قرآني کلماتو باندې منقش شوی ځادر په مړي باندې د اچولو حکم ۵۱۵
د ځان لپاره له مخکښې څخه د قبر تيارول بدعت نه دي //
د جُمعې او اخترونو تر لمونځونو وروسته د مصافحې حکم ۵۱۶
له عذر پرته د مړي له تابوت سره د خښولو حکم ۵۱۶
د جنازې تر لمانځه وروسته د دُعا حکم ۵۱۹
مروجه قضاء عمري بدعت ده ۵۲۰
د اسقاط د حيلې شرعي حيثيت ۵۲۲
د حيلې اسقاط تشريح ۵۲۳
د فقهاء کرامو حيله اسقاط او په مروجه اسقاط کښې فرق ۵۲۷
له سُنتو وروسته په اجتماعي هيئت سره د دُعا حکم //
د رسول اللهﷺ د موی مبارک شرعي حيثيت ۵۲۹
له فرض لمونځونو وروسته په جګ آواز سره د کلمه طيبه د ويلو حکم ۵۲۹
يوه بل نه د "اختر دي مبارک شه" د ويلو حکم ۵۳۰
جوماتونو ته د تعزيې راوړلو حکم ۵۳۱
د ختنې (سُنتي) دعوت بدعت نه دی //
د درود شريف لپاره د دريدلو حکم ۵۳۱
په مصيبتونو کښې د بخاري شريف د ختم حکم //
د لوبو خلکو د کليزو د لمانځلو حکم //
د واده په موقع کښې د تاج د په سر کولو حکم ۵۳۲

د کليزې د لمانځلو شرعي حيثيت //
د عيسوي کال په شروع باندې د خوښۍ حکم ۵۳۳
د نوي کار د شروع کولو په وخت کښې د قرآن خواني د اهتمام حکم //
د جُمعې د لمانځه نه وروسته د درود شريف د لوستلو حکم //
په خوږو باندې د لاس په کيښودو سره دُعا غوښتل ۵۳۴
د اولياء الله وو په قبرونو باندې د طواف حکم //
په قبرونو باندې د ګلدارو ځادرونو غوړول ۵۳۵
د والدينو د قبرونو د بڼکلولو په باره کښې شرعي حکم ۵۳۶
د لمانځه له ادا کولو پرته د شپيني (شپې تيرولو) حکم //
په دريمه (رسم قُل) کښې د قرآن د ختم حکم //
تر لمانځه وروسته د التزام په توګه د "اِنَّ اللهَ وَ مَلٰئِکَتَه الخ" لوستلو حکم ۵۳۷
د عرفې په ورځ له حاجيانو سره د مشابهت له وجې له بنار څخه د باهر وتلو حکم ۵۳۸
د چندې له روپو څخه د شيريني د ويشلو شرعي حيثيت //
د قرآن د ختم په مجلس کښې د جومات د روښانه کولو حکم ۵۳۹
د تعزيې په توګه د بُراق د شکل جوړولو حکم //
د تعزيې په جلوس کښې شريکيدل حرام دي ۵۴۰
د صفر المظفر په آخري چهار شنبې کښې د خوښۍ د لمانځلو حکم //
د رمضان المبارک په درويشتمه شپه د خورو د ويشلو حکم ۵۴۱
تر فرض لمونځونو وروسته په جګ آواز سره دُعا بدعت نه ده ۵۴۲
د جُمعې او اخترونو په خطبو کښې د لاس په پورته کولو سره دُعا کول ۵۴۶
د عيد ميلاد النبي تاريخي او شرعي حيثيت ۵۴۷
تر لمانځه وروسته د مصافحې حکم ۵۵۰
په محرم الحرام کښې د واده د کولو حکم //
په جومات کښې په زوره د ذکر کولو حکم ۵۵۰
د ښځو لپاره د قبرونو زيارت ته د تللو حکم ۵۵۱
د ايصال ثواب او د ورځو د تخصيص په باره کښې څو پوښتنې ۵۵۸
د اپريل فول د لمانځلو حکم ۵۶۱
د بسنت جشن د لمانځلو حکم ۵۶۳

کتاب العلـــــم

په لاسپيکر باندې د قرآن د درس ورکولو حکم ۵۶۵
د قرآنکريم د شکيدلو پاتو د حفاظت (ساتنې) طريقه //

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

د معاش د کسب لپاره د تدریس پریښیدلو حکم ۵۶۶
د نجونو لپاره د عصري تعلیم د حاصلولو حکم ۵۶۷
د تعلیم او تهذیب په خاطر کوچني بچي ته د سزا ورکولو حکم //
د اُستاذ لپاره شاګرد ته د سزا ورکولو حکم //
د دیني علومو د طالب د نفقې حکم ۵۶۸
د دیني علماوو د سپکاوي حکم //
هر کال پرته له کومې وجې د مدرسې تبدیلول ۵۶۹
د حرام مال د صدقه کولو حکم //
د فیض الباري د یوه عبارت تحقیق ۵۷۳
د رحم د استبراء لپاره د عدت په نه شتون باندې د یوه اشکال ازاله //
د قیل د لفظ وضاحت ۵۷۴
د ګنو میرونو لرونکي ښځه به په جنت کښې له چا سره وي؟ //
حضرت علي ته د کرم الله وجهه د ویلو وجه //
ذبیح الله اسمٰعیل علیه السلام وو او که اسحاق علیه السلام؟ وو؟ ۵۷۵
د خدا نرادهار دی مطلب

کتاب التفسیر

د قرآن مجید رسم الخط توفیقي دی ۵۷۶
د قرآنکریم د حروفو تعداد //
د قرآنکریم د آیتونو تعداد ۵۷۷
په مکي او مدني سورتونو کښې فرق //
د مکي او مدني سورتونو پیژندنه ۵۷۸
د تعوذ حکم ۵۷۹
د تعوذ د جزئیت حکم //
د تسمیه د جزئیت حکم //
د سورت فاتحه د آیتونو تعداد ۵۸۰
فاتحه الکتاب د قرآن جزء کیدل //
د سورت فاتحه نومونه ۵۸۱
د کوم آیت یواځي د ترجمې د خپرولو حکم //
د شیطان ابتدایي ذمه واري ۵۸۲
د حضرت عیسیٰ علیه السلام د آدم علیه السلام په مثل باندې د کیدلو خبره //

د قاتل د توبې قبول والی ۵۸۳
د آدم علیه السلام په زامنو کښې د نزاع (اختلاف) سبب ۵۸۴
د غیر ذوی العقولو لپاره د ذوی العقول د لفظ استعمال ۵۸۵
په "مَا لاَ یَخلُقُ" کښې د "ما" معنٰی او مطلب //
د "عباد" د لفظ تفسیر ۵۸۶
د فرعون د لاش تحقیق //
د "لاَ جَرَمَ" د لفظ څیړنه ۵۸۷
د حضرت یوسف علیه السلام او زلیخا د نکاح تحقیق //
د حضرت یوسف علیه السلام د حیلې حقیقت ۵۸۸
د روح مسئله //
د اصحاب کهف د سپي جنت ته تلل ۵۹۰
د موسٰی د صاحب (ملګري) بشر والی ۵۹۱
د خضر علیه السلام نبوت //
د خضر علیه السلام د ژوندیتوب څیړنه ۵۹۲
ذو القرنین څوک وو؟ //
د لاَ تَبدِیلَ لِخَلقِ اللّٰه تفسیر ۵۹۴
د حضرت ایوب علیه السلام د بیماري تحقیق ۵۹۵
حضرت داود علیه السلام او اسرائیلي روایتونه //
د حضرت داود علیه السلام د پیښیانو شمیر ۵۹۶
د اَم کُنتَ مِن العٰلِینَ تفسیر ۵۹۷
د اعداء الله د لفظ تفسیر //
د منافقینو له لرګي سره تشبیه ۵۹۹
د وَ رَفَعنَا لَکَ ذِکرَکَ په عموم باندې حمل کول //
د قرآنکریم ښکُلول ۶۰۰
د قرآنکریم د ختم په وخت کښې سورت اخلاص درې واري ویل ۶۰۰
په قرائت سبعه باندې د قرآنکریم ویل //
د قرائت عشره ثبوت ۶۰۱
له مقام محمود څخه څه مراد دی؟ ۶۰۲
د تلاوت په دوران کښې د نبي کریم ﷺ له نامه سره د درود ویلو حکم //
د آذان د کیدو په وخت کښې د قرآنکریم تلاوت کول ۶۰۳

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

د قرآنکريم تلاوت کول بهتر دي او که درود شريف ويل ---- //
د قرآنکريم تلاوت کول بهتر دي او که درود شريف ويل ---- ۶۰۴
د قرآنکريم د پرې شويو پانو سوځول جائز نه دي ---- //
د نيکر د اغوستونکو په مخکښې د قرآنکريم تلاوت کول بې ادبي ده ---- ۶۰۵
د شکيدلي قرآنکريم ځبنول جائز دي ---- ۶۰۶
په کومې کوټې کښې چه قرآنکريم وي د هغې بام ته ختل ---- //
د قيامت د ورځې په مقدار کښې د اختلاف تطبيق ---- //
ابليس هم د سجدې په حکم مکلف وو ---- ۶۰۷
د معيشه ضنکاً تفسير ---- ۶۰۸
د الزانی لا ينکح الا زانية تفسير ---- //
له اقيمو الصلوة څخه مراد لمونځ دی ---- ۶۰۹
له لمانځه څخه د باندې د قرآن د تلاوت اوريدل واجب نه دي ---- //
د وَ علی الَّذِيْنَ يُطِيْقُوْنَهٗ فِدْيَةٌ حکم منسوخ دی ---- ۶۱۰
د قرآني آيتونو يواځې د ترجمې د خپرولو حيثيت ---- ۶۱۱
د ټولو سورتونو نومونه توقيفي دي ---- //
د هاروت او ماروت د کيسې تحقيق ---- ۶۱۲
د حضرت ابراهيم عليه السلام د ذبيحې غوښه چا خوړلې وه ---- //
د قَالُوْا اَلَمْ تَكُنْ اَرْضُ اللّٰهِ وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُوْا فِيْهَا تحقيق او تشريح ---- ۶۱۳
تر مسخ مخکښې د شيطان تر نورو ملائکو څخه د بهترۍ مسئله ---- ۶۱۴
وَ اللّٰهُ اَنْبَتَكُمْ مِّنَ الْاَرْضِ نَبَاتًا او د هارون د ارتقاء نظريه ---- //
د مِنَ الْجِنَّةِ وَ النَّاسِ تفسير او مصداق ---- ۶۱۵
د اِنَّهٗ مِنْ سُلَيْمَانَ وَ اِنَّهٗ بِسْمِ اللّٰهِ الخ تحقيق ---- ۶۱۶
د "لعمرك" جمله قسميه ده ---- //
د جواهر القرآن د تفسير ويل او بل ته ور ښوول ---- //
د سليمان عليه السلام د گوتيې او د شيطان د بادشاهۍ کيسه ---- ۶۱۷
په پښتو ژبې کښې د قرآنکريم معتبر تفسيرونه ---- ۶۱۸
د حضرت يوسفؑ په برائت کښې د تې رودونکي کوچنۍ گواهي ورکول ---- //
د حنفيه وو په نزد د سورت حج د دويمې سجدې حکم ---- //
د وَ قِيْلَ مَنْ رَاقٍ پښتو ترجمه ---- ۶۱۹
د حضرت سليمان عليه السلام د خپلو اسانو د قتل کولو د واقعي تحقيق ---- //
د اَنَّ الْمَسٰجِدَ لِلّٰهِ فَلَا تَدْعُوْا مَعَ اللّٰهِ اَحَدًا تفسير ---- ۶۲۰
د عوام الناس لپاره د تفهيم القرآن د تفسير مطالعه صحيح نه ده ---- ۶۲۱

بسم الله الرحمٰن الرحيم

مقـــدمـــه

له فضيلت الشيخ مفکر اسلام فائد ملت اسلاميه حضرت العلامه مولانا سميع الحق صاحب مد ظله العالي څخه

الحمد لحضرت الجلالة و الصلوٰة و السلام علی خاتم الرسالة اما بعد:

په توله نړۍ کښې چه څومره علوم هم مروج دي خلك ني په تحصيل کښې تول وخت مصروف او مشغول دي او د حصول په لاره کښې ني د ځان، مال او وخت له مصرفولو څخه دريغ نه کوي او لوی لوی پوهنتونونه، مدرسې او مکتبونه او د اسې نورې اداري جوړوي چه د عوامو او حکومت پې شميره روپۍ پرې مصرفيږي. په نومورې اداره کښې حاصليدونکي علوم په دري ډوله دي کوم چه په لاندې ډول دي:

﴿۱﴾ **عقلي علوم:** دا ډول علوم يواځې له عقل سره اړه لري او نقل هيڅ د خل پکښې نه لري لکه د رياضي، نجوم او د اسې نورو علوم. په دې علومو کښې ځينې په کذب او دروغو باندې مبني وي. او د صداقت او رښتونولي ښوي هم پکښې نه وي لکه سحر، جادو او د اسې نور. نو د دې لپاره د اسې علومو لاس ته راوړل شرعاً ناجائز او حرام دي په د اسې حال کښې چه ځينې علوم بيا په رښتونولي او صداقت باندې مبني دي ليکن د هغوی په لاس ته راوړلو کښې څه نفع او گټه نه وي او يواځې وخت پرې ضائع کيږي چه نه اخروي فائده پکښې وي او نه دنياوي او همدارنگه د پې معنی علومو حاصلول هم د شريعت له مخې ممنوع دي. البته کوم علوم چه څه دنياوي يا اخروي فائده ولري نو حاصلول نې مقصود وي.

﴿۲﴾ **خالص نقلي علوم:** دا علوم خالص په نقل پورې اړه لري او عقل هيڅ د خل پکښې نه لري. او دا علوم د نصوصو او رواياتو په واسطې سره تر مونږ را رسيدلي دي لکه قرآني آيتونه، مبارك حديثونه او تفسيرونه. د دې علومو د صداقت لپاره د راوي ثقاهت، روايت او د حافظې قوت کافي وي او د غور کولو حاجت پکښې نه وي. د دې علومو حاصلول يوه ديني فريضه ده. د رسول الله ﷺ مبارك ارشاد دی چه:

نضّر الله امرأ سمع مقالتي فوعاها ثم ادا كما سمعها

"الله تعالی دې د اسې سړی سرسبز او خوشحاله لري چا چه زما کومه خبره اوريدلې وي بيا ني محفوظه کړې وي او نور ته ني د اسې ور اورولې وي لکه څرنگه چه هغه اوريدلې وي". د دې علومو ماهرينو ته محدثين او مفسرين ويل کيږي.

﴿۳﴾ **د نقلي او عقلي علومو مجموعه:** دا علوم نه يواځې له نقل سره او نه يواځې له عقل سره تعلق لري بلکه دواړه پکښې يو شان گډ وي. دي ته اشرف العلوم ويل کيږي چه د فقهي او اصول

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

فقهي علوم له همدي جملي څخه دي- الله تعالی د دغو علومو د حاملینو تعریف په دي الفاظو سره کړی دی:

وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُونَ لِيَنفِرُوا كَافَّةً ۚ فَلَوْلَا نَفَرَ مِن كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَائِفَةٌ لِّيَتَفَقَّهُوا فِي الدِّينِ وَلِيُنذِرُوا قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُوا إِلَيْهِمْ (سورة التوبة)

"په هر قوم کښې یوه ډله باید د لسې وي چه د دین پوهه حاصله کړي او خپل قوم وویروي چه کله بیرته ورته راوګرځي"-

همد ارنګه د رسول الله ﷺ مبارک ارشاد دی چه:

من یرد الله به خیرا یفقهه فی الدین (الحدیث)

"چه کله الله تعالی چاته د خیر اراده کوي نو هغه ته په دین باندې پوهه ور په برخه کوي"-

د دغو علومو ماهرینو ته فقهاء ویل کیږي- الله تعالی د اسلامي احکامو او مسائلو د زده کولو او په هغو باندې د ځان د پوهولو لپاره له د لسې خلکو څخه د پوښتنې کولو حکم کړی دی- چنانچه فرمایي:

فاسئلوا اهل الذکر ان کنتم لا تعلمون ☆ (سورة النحل آیت ۴۳)

"پس د ذکر له خاوند انو څخه پوښتنې وکړی که چیرته نه پوهیږي"-

د مفسرینو د اجماع له مخې د ذکر له خاوند انو څخه د امت علماء او فقهاء مراد دي کوم چه د دین له احکامو او مسائلو څخه خبر وي او چه کله دا حضرات د مسئلې حل بیان کړي نو اطاعت او فرمانبرداري ئې د شرعي له مخې مطلوب دی"-

د الله تعالی ارشاد دی چه:

یاایها الذین امنوا اطیعوا الله و اطیعوا الرسول و اولی الامر منکم (سورة النساء آیت ۵۹)

"ای د ایمان خاوند انو د الله تعالی او د هغه د رسول او د خپلو امیرانو او مشرانو اطاعت وکړي"-

د فقهي لغوي معنی: فقه په لغت کښې د یوه شي خلاصولو، واضح کولو او د یوه شي پیژندلو ته وایي. فقیه د دین هغه عالم ته ویل کیږي چه شرعي احکامات ئې سپرلي، څرګند کړي او په حقانۍ باندې ئې ځان خبر کړی وي او د مسائلو مشکلات ئې حل کړي، سم کړي او آراسته کړي وي- د فقهي لفظ اګر که د مطلق خلاصولو او سپرلو او پوهیدلو په معنی باندې راځي لیکن دا لفظ د شریعت له احکامو سره ځانګړی شوی دی-

د فقهي اصطلاحي معنی: د فقهي اصطلاحي معناوي په مختلفو زمانو کښې مختلفې راغلې دي- امام غزالي رحمه الله لیکي چه په اولي زماني کښې د فقهي لغوي مفهوم تر یوې خاصې اندازې پورې محدود نه وو لکه چه ئې صبا محض نکاح، طلاق، بیع او د میراث په تفصیلاتو باندې پوهیدلو ته فقه ویل کیږي بلکه په هغه وخت کښې د آخرت د لارې علم، له نفساني آفاتو څخه ځان ساتنه، د اعمالو د خرابوالي اسباب او د هغو د وجوهاتو معلومول، دنیا ذلیله او حقیره او آخرت یو لوی شی ګڼل او همد ارنګه د خدای ویره د سړي په زړه باندې غالب راتلو ته

فقه ویل کیدله- (احیاء علوم الدین للغزالي ج۱، ص۳۲، باب ما یدل من الفاظ العلوم)

نو د دي لپاره امام ابو حنیفه رحمه الله د فقهي تعریف د لسې کړی دی:

هو معرفة النفس ما لها و ما علیها. (التوضیح و التلویح ج۱، ص۱۰)

همد ارنګه د فقهي یو جامع تعریف په دي الفاظو سره هم شوی دی الفقه فهم غرض المتکلم یعني د متکلم د خبرو د مقصد پیژندل او د هغه تر پایه پورې رسیدلو ته فقه وایي-

همدا وجه ده چه کله له حضرت امام حسن بصري رحمه الله د فقیه په باره کښې پوښتنه وشوه چه فقیه چا ته ویل کیږي نو هغه وفرمایل:

انما الفقیه المعرض من الدنیا، الراهد فی الآخرة، البصیر بعیوب نفسه. (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج۱، ص۳۷)

"بې له شکه فقیه هغه سړی دی چه له دنیا ځخه بیزار او د آخرت شوقین وي او پخپلو عیبونو نې ژور نظر وي"-

د فقهي په دي تعریف کښې علم العقائد، تصوف، آداب معاشرت او مروجه د فقهي ټول علوم شامل دي-

د متاخرینو په نزد د فقهي تعریف: لیکن د زماني له تیریدو سره د فتنو د پیدا کیدو له وجهې علم عقائد او علم تصوف د جلا جلا علومو شکلونه غوره کړل نو د فقهي محرر هم څه نا څه محدود شو- نو د دي لپاره متاخرینو د دي علم مختلف تعریفونه کړي دي لیکن معروف او مشهور تعریف نې په لاندې ډول دی:

العلم بالاحکام الشرعیه الفرعیة المکتسب من ادلتها التفصیلة. (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج۱، ص۳۶)

"فقه د هغو فروعي احکامو پیژندلو ته وایي چه له تفصیلي دلائلو څخه مستنبط وي"-

د شـــــــرعي احکامو ډولونه

اسلامي احکامات په دوه ډوله دي

﴿۱﴾ **اعتقادي:** هغه احکام چه له عقیدې سره تعلق لري هغو ته اعتقادي احکام ویل کیږي چه د اصلي احکامو په نامه هم یاد شوي دی-

﴿۲﴾ **عملي:** هغه احکام چه تعلق نې یوائې تر عمله پورې وي هغو ته عملي احکام ویل کیږي- او د فروعي احکامو په نامه هم یاد شوي دي- د متاخرینو په تعریف کښې د "الاحکام الشرعیة الفروعیة" په قید سره اعتقادي احکامات ووتل نو د دي لپاره په اعتقادي احکامو کښې بحث کول په علم کلام سره یادیږي- کوم چه یو مستقل علم دی-

د فقهي د علم حکم: په هر مسلمان باندې د دومره معلوماتو حاصلول فرض عین دی چه په دین کښې ځومره احتیاج ورته ولري او پرته له هغه څخه هیڅوک د شریعت مطابق کار نه شي کولی- او له ضرورت څخه د زیات علم حاصلول تر څو چه خلك له محرماتو او منهیاتو څخه منع شي فرض

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

کړی وو۔ او په عالم کښې ډیر بدلونونه راغلي وو چه مخنیوی ئې څه اسان کار نه وو۔ اهل علم حضرات ورو ورو له دنیا څخه تلل او خلك د زوال په خوا ګامونه پورته کول۔ نو هغو ته دا احساس پیدا شو چه که چېرته دا علم په یوه ځای جمع نه شي نو بیا د ضائع کیدو ډیر امکان لري۔ د علم او فضل کوم مینارونه چه نن په دنیا کښې وجود لري د هغوی له فراست او علمیت څخه فائده اخیستل ضروري دي او که نه نو په راتلونکي کښې به د دې درانده بار پورته کوونکی څوك پاتې نه شي۔

د فقهي د تدوین لپاره د کمیټون جوړونه: د دې کار لپاره امام ابو حنیفه رحمه الله د خپلو زرګونو شاګرد انو څخه ځلوینښت کسه چه په علم او فضل، فهم او فراست، زهد، تقوی او ذکاوت کښې بې مثاله وو غوره کړل او یوه کمیټه یا غونډه ئې تشکیل کړه د دې کمیټې رئیس پخپله حضرت امام ابو حنیفه رحمه الله وو۔ په دې کمیټې کښې د هر علم او فن ماهرین حضرات شامل وو او د خپل علمي مهارت تر څنګ د زهد او تقوی، خدای ویریدنه او فرض پیژندنې غوندې په ښو او زرینو اوصافو موصوف وو۔ د دې کمیټې ټول غړي د اجتهاد درجې ته رسیدلي وو۔ کمیټې کښې به وړاندې کیدونکي په هري مسئلې باندې به له پوره آزادی، شرح او بسط سره بحث کیده او هر یوه ته د بساط مطابق پخپلو رایو باندې د دلائلو د وړاندې کولو اختیار حاصل وو۔ له دغو حضراتو څخه پرته نورو محدثینو او فقهاوو هم اکثره وخت د حدیثو او فقهي د ابحثونه اوریدل او هغوی ته هم د خپل علم او صوابدید مطابق د څه ویلو او اورولو برابر حق ورکول کیده۔ د دغو ټولو خبرو تر څنګ بیا هم په دې ځلوینښت غړیزه کمیټې کښې د لسو تنو یوه ځانګړې کمیټه قائمه وه چه په هغوی کښې امام ابو یوسف، امام زفر، امام احمد بن حسن الشیبانې، امام عبد الله ابن مبارك، عافیه ازدي، قاسم بن معن، اسد بن عمرو او پخپله امام ابو حنیفه رحمهم الله شامل وو۔

د استدلال طریقه: علامه ابن حجر مکي رحمه الله د امام ابو حنیفه رحمه الله د استدلال او استنباط په باره کښې لیکي:

انه اولاً یاخذ بما فی القرآن فان لم یجد فبا لسنة فان لم یجد فبقول الصحابةؓ فان اختلفوا اخذ بما کان اقرب الی القرآن و السنة من اقوالهم و لم یخرج عنهم فان لم یجد لاحد منهم قولاً و لم یاخذ بقول احد من التابعین بل یجتهد کما اجتهدوا. (الخیرات الحسان ص ۶۹، الفصل الحادی عشر)

"بې له شکه ده مبارك به لومړی له قرآنکریم څخه استدلال کاوه۔ که چېرته به ئې په قرآنکریم کښې پیدا نه کړ نو د رسول الله ﷺ له سنتو څخه به ئې استدلال کاوه او که به ئې هلته هم پیدا نه کړ نو بیا به ئې د صحابۀ کرامو رضوان الله علیهم اجمعین اقوال را واخیست او که د صحابه وؓ په اقوالو کښې به اختلاف وو نو بیا به ئې په هغو کښې چه د چا قول قرآن او حدیث ته ډیر نژدې وو هغه به ئې را واخیست او د هغه مخالفت به ئې بیا نه کاوه۔ او که په هغو

کفایه دی۔ او په علم کښې تبحر حاصلول او د طهارت (پاکوالی) لمونځ، زکات، روژه، حج، نکاح، طلاق، عتاق او داسې نورو د علم د ټولو ډولونو حاصلول مستحب دي۔ له دې پرته چه کوم خلك له کومو شعبو سره تعلق لري که هغه تجارت وي یا نوکري او مزدوري د هغو مسائلو حلول او زده کول هم ضروري دي تر څو چه په محرماتو کښې له پریوتو څخه بچ شي۔

د فقهي تدوین: د صحابۀ کرامو تر آخري دورې پورې اسلام د دنیا کونج کونج ته رسیدلی وو او په هر ځای کښې د اسلام لوړوالی منځ ته راغلی وو۔ خلك به د خپلو مسائلو د حل پوښتنې له حضراتو صحابۀ کرامو رضی الله عنهم څخه کولې، په هغو کښې به چه کوم یو د اجتهاد په منصب باندې فائز وو هغوی به د خلکو مسائل حل کول او همدارنګه دا سلسله به همدا سې جاري وه۔ کله چه د صحابۀ کرامو رضی الله عنهم دور ختم شو نود دوی دا عظیم منصب د دوی اجله شاګرد انو یعني تابعینو حضراتو رحمهم الله په اوږو واخیست۔ په هغه وخت کښې به اوو ځایونو کښې لویې لویې دار الافتاوي موجودې وې۔ چه اوله به مدینه منوره دو همه په مکه معظمه، دریمه په کوفه، څلورمه په بصره، پنځمه په شام، شپږمه په مصر او اوومه په یمن کښې وه۔ په دغو ځایونو کښې به د خلکو مسئلې حل کیدلې او خلکو به هم د حل مطابق عمل پرې کول۔

لیکن په دې اوه واړه ځایونو کښې کوفې یو ځانګړی خصوصیت درلود دلته د حضرت عبد الله ابن مسعود او نورو جیدو صحابۀ کرامو شاګردان موجود وو۔ کوفه د فقهي د علومو مرکز وو د دنیا له ګوټ ګوټ څخه خلك د فقهي او حدیثو د علم د حصول لپاره راتلل او دلته به ئې خپله علمي تنده ماتوله او خپلو منطقو ته به د دین د رسولو او خپرولو لپاره بیرته تلل۔

امام ابو حنیفه رحمه الله هم د دغې عظیمې درسګاه یو ذهین، فهیم او ممتاز طالب او شاګرد وو۔ په ۱۲۰ هجري کښې چه کله مشهور فقیه او محدث امام حماد بن ابي سلیمان رحمه الله له دې فاني دنیا څخه ستر ګي پټې کړې نو د ده د ځای نیوونکي په حیث امام ابو حنیفه رحمه الله غوره کړی شو او د هغه په منصب باندې فائز شو او د دې ځای استاذ او مفتي وټاکل شو۔

علامه خوارزمي رحمه الله لیکلي دي چه له امام صاحبؒ څخه مخکښې د صحابۀ کرامو رضی الله عنهم او تابعینو د فقهي د علومو په ابوابو او مسائلو باندې مشتمل کوم تصنیف نه وو شوی۔ د هغو په خپلو محافظو باندې باور او اعتماد وو۔ لیکن امام ابو حنیفه رحمه الله د متاخرینو سوء حفظ ته په نظر کولو سره دا ضرورت محسوس کړ چه د دنیا د بدلیدونکو حالاتو له مخې باید د فقهي مسائل مدون او مرتب کړی شي۔ وجه ئې دا وه چه د مسلمانانو د دنیا له نورو اقوامو او مذاهبو سره اړیکي وې په ځینو ځایونو کښې مختلف ډول رواجونه رواج شوي وو او مختلفې فتنې پیدا شوې وې او د وضع حدیث فتنې هم سر را پورته

کښې هم له چا څخه کوم روایت موجود نه وو نو بیا به ئې د تابعینو قول نه را اخیست بلکه د لسې اجتهاد ئې پکښې کاوه لکه څنګه اجتهاد چه تابعینو کړی وو".

د ضعیف حدیث په قیاس باندې ورڅرګندې والی: د مسائلو په استنباط کښې په رایې او قیاس باندې ضعیف حدیث ته هم ترجیح ورکوله او هیڅکله ئې هم رایه او قیاس په یوه ضعیف حدیث باندې نه مقدم کاوه. علامه ابن قیم فرمایي:

اصحاب ابی حنیفۃ مجمعون علی ان مذهب ابی حنیفۃ ان ضعیف الحدیث اولی عنده من القیاس و الرأی.

(اعلام الموقعین ج۱، ص۸۲)

"د ابو حنیفه رحمه الله د ملګرو په دې خبرې باندې اجماع دی چه د امام ابو حنیفه رحمه الله مذهب دا دی چه د هغو په نزد ضعیف حدیث له قیاس او رأیې څخه بهتر دی"

د تدوین طریقه: چونکه امام ابو حنیفه رحمه الله د دې کمیټې هر غړي ته دا اړتیا ورکړې وو چه په آزاده توګه خپل موقف او رایه وړاندې کړي او د حدیثونو، د صحابۀ وو د آثارو، د اجماع او قیاس په رڼا او آزاده فضا کښې خبرې اترې وکړي. په یوې موقع باندې ئې وفرمایل چه ما پخپله دوی ته دا اړتیا او اختیار ورکړی دی او دوی مو د دې خبرې عادي جوړ کړي دي چه هغوی به له چا څخه نه مرغوب کیږي او د یو بل سړي په دلائلو آن تر دې پورې چه زما په دلائلو باندې هم نیوکې کولې شي تر څو چه خبره ښه څرګنده، پاکه او واضحه مخته را ووځي. د بحث او خیړنې څخه وروسته چه کله په یوې مسئلې باندې به د ټولو اتفاق راغی یعنې چه ټول به پرې متفق شول نو بیا ئې د هغې د لیکلو حکم وکړ. علامه ابن عابدین رحمه الله فرمایي:

روی الامام ابو جعفر الشیر مازیؒ عن شقیق البلخیؒ انه یقول کان الامام ابو حنیفۃؒ من اورع الناس و اعبد الناس و اکرم الناس و اکثرهم احتیاطاً فی الدین و ابعدهم عن القول بالرأی فی دین الله عزّ و جلّ کان لا یصنع مسئلة فی العلم حتی یجمع اصحابه علیها و یعقد علیها مجلساً فاذا اتفق اصحابه کلهم علی موافقتها للشریعة قال لابی یوسفؒ او غیره ضعها فی الباب الفلانی. (رد المحتار ج۱، ص۶۲)

"امام ابو جعفر الشیرمازيؒ له شقیق البلخيؒ څخه روایت کوي چه هغه به فرمایل چه امام ابو حنیفه رحمه الله په خلکو کښې له ټولو څخه پرهیزګار، عبادت ګذار، زیات نرم زړه او د دین په باره کښې له ټولو څخه زیات احتیاط کوونکی او د خپلې رأیې په استعمالولو کښې له خلکو څخه ډیر لرې وو. ده مبارکۀ به تر هغه وخته پورې کومې مسئلې ته حتمي شکل نه ورکاوه چه تر څو پورې به د ده د مجلس ټول ملګري پرې متفق شوي نه وو او چه کله به ټول متفق شول نو بیا به ئې امام ابو یوسف رحمه الله یا کوم بل یوه ته ووېل چه دا مسئله په فلاني باب کښې ولیکه"

همدارنګه په ځینو مسائلو باندې به څو څو ورځې بحثونه کیدل او له هغه نه وروسته به لیکل کیدل. علامه کوثريؒ فرمایي:

قال اسد بن عمرو کانوا یختلفون عند ابی حنیفۃ فی جواب المسئلة فیأتی هذا بجواب و هذا بجواب ثم یرفعونها الیه و یسئلونه عنها فیأتی بجواب من کتب ای من قرب و کانوا یقیمون فی مسئلة ثلاثة ایام ثم یکتبونها فی الدیوان. (مقدمه نصب الرایة ج۱، ص۳۸)

"اسد بن عمرو فرمایي چه د کمیټې کومو غړیو به چه د امام صاحبؒ په مخکښې د کومې مسئلې د ځواب په باره کښې اختلاف کاوه. یوه به یو ځواب ورکړ او بل به بل ځواب ورکړ نو بیا به ئې دا مسئله د امام صاحبؒ مخ ته وړاندې کړه او له هغه ځخه به ئې د ځواب غوښتنه وکړه نو ده مبارکۀ به تحقیقي ځواب ولیکه او بیا به هغو په آخر کښې پخپلو کتابچو کښې لیکل".

بلکه علامه ابن عابدین رحمه الله خو آن تر دې پورې لیکلي چه:

فکان اذا وقعت واقعة شاورهم و ناظرهم و حاورهم و سئالهم فیسمع ما عندهم من الاخبار و الآثار و یقول ما عنده و یناظرهم شهراً او اکثر حتی یستقر آخر الاقوال فیثبته ابو یوسفؒ حتی اثبت الاصول علی هذا المنهاج شورٰی لا انه تفرد بذلك. (رد المحتار ج۱، ص۶۲)

"چه کله به کومه واقعه مخته راغله نو امام ابو حنیفه رحمه الله به د خپلې کمیټې له ټولو غړو سره مشوره او بحث مباحثه کوله او ټولو به خپل نظرونه وړاندې کول. لومړی به ورته ویل کیدل چه که له چا سره حدیثونه یا د صحابۀ کرامو رضی الله عنهم د اقوالو کومه ذخیره وي هغه دې وړاندې کړي او بیا به ئې د خپلو دلائلو ذخیره خپلې مخې ته کیښوده. له دې وروسته به ئې یوه میاشت یا تر دې زیات په هغې باندې بحثونه کول تر څو چه خبره به آخري ته ورسیده او امام ابو یوسفؒ به بیا ولیکله. دا ډول د شورایي طریقې په ذریعې سره ټول اصول منضبط شول. د لسې هیڅکله هم نه دي شوي چه یو اړخي پخپل سر ئې کومه خبره کړې وي".

د احتیاط ئې دا حالت وو چه د بحث په دوران کښې به د کمیټې یو غړی یعنې قاضي عافیه به نه وو نو ده مبارکۀ به فرمایل چه تر څو پورې عافیه نه وي راغلی نو دا مسئله پریږدی. د هغه له راتګ وروسته به ئې چه له تورو غړو سره اتفاق راغی نو بیا به ئې وفرمایل چه اوس ئې ولیکی".

خلاصه: دا حنفي فقه یو اړخي د یوه سړي رایه نه بلکه دا د هغو ځلوېښتو علمي غړونو حضراتو د شورٰی ترتیب شوی قانون دی. او تر څو پورې چه به یوې مسئلې د نبه تحقیق او تفتیش ټولې مرحلې نه طی کولې هغه به ئې په کتابچې کښې نه لیکله تر دې پورې چه یوه ورځ ئې قاضي ابو یوسف رحمه الله ته وفرمایل:

ویحك یا یعقوب لا تکتب کلا ما تسمع منی فانی قد اری الرأی الیوم و اترکه غداً و اری الرأی غداً و اترکه فی غده. (مقدمة نصب الرایة ج۱، ص۳۸)

"ای یعقوبه! چه کوم شی له ما څخه اوري هغه په چتکی سره مه لیکه، د دې لپاره چه زه کله کله نن د یوې مسئلې په باره کښې یوه رأیه ولرم نو صبا هغه پریږدم او بله رأیه به لرم او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

بیا یله ورځ هغه پریږدم او یله رأیه مې ذهن ته راغلې وي".

په هري مسئلې باندې د کمیتې هر غړي ته د خپلې رأیې وړاندې کولو پوره آزادي وه او یخپلې خوښې باندې یه ټې خپلې خپلې رأیې وړاندې کولې او بیا به ښه جرح او قدح پرې وشو او بیا به له هغه وروسته په اخر کښې هغه مسئله د قبول درجې ته رسیدله.

امام ابو حنیفه رحمه الله چه په کومې طریقې باندې د فقهې د تدوین کار وکړ دا دومره عظیم الشانه کارنامه ده چه نمونه، نظیر او مثال ټې په اسلامي تاریخ کښې نه شي پیدا کیدلی. د تدوین په دې طریقې سره ده مبارک د اقوالو په اختلاف سره شپیته زره یا پنځه لکه مسئلې استنباط کړې دي.

علامه خوارزمي رحمه الله فرمایي چه په دغو پنځو لکو مسائلو کښې اته دیرش زره مسائل په عباداتو پورې او پاتې ټې تول په معاملاتو پورې اړه لري.

د فقهې ماخذونه

لکه څرنګه چه د فقهې په تعریف کښې راغلې دي چه "المستنبط من الادله الشرعیه" (کوم چه له شرعي دلائلو څخه څلور دلیلونه مراد دي. او دا ډیر صحیح قول هم دی. په عمومي توګه له شرعي دلائلو څخه څلور دلیلونه مراد دي. او د ادله په اړه څه یادونه وشي. لیکن حقیقت دا دی چه په دغو څلورو ماخذونو کښې قرآن او حدیث دوه بنیادي اصول دي او نور دوه چه له اجماع او قیاس څخه عبارت دي د دې دوو تابع دي. نو د دې لپاره کوم اجماع او قیاس چه د قرآن او حدیثو سره معارض یعني تکروي نو هغه د اعتبار وړ نه وي. ځکه چه امام شافعي رحمه الله فرمایي:

ان الاحکام تؤخذ من نص او حمل علی نص. (د اسلامی فقهی اصول ص ۷۹، دویم باب)

"شرعي احکام یا خو له نص څخه را اخیستل کیږي یا له هغه امر څخه اخذ کیږي چه په نص باندې محمول وي".

دا څلور دلیلونه د امت د فقهاوو په نزد متفق علیه دي لیکن له دغو څخه پرته هم څو ماخذونه شته چه د فقهاء کرامو په نزد مختلف فیه دي. ځینو دلائلو ته یو فقیه او مجتهد د ماخذ درجه ورکوي لیکن دوهم فقیه هغه لره ماخذ نه تسلیموي. دلته د دغو ټولو ماخذونو لنډه یادونه کوو چه په لاندې ډول دي.

القـــــرآن الحکیم

د شرعي احکامو تر ټولو لومړی او اصل الاصول ماخذ قرآنکریم دی. د فقهې د اصولو په کتابونو کښې قرآنکریم د "الکتاب" په نامه یادیږي. او همدا د قرآنکریم په نومونو کښې یو نوم دی. له دې پرته ټې نورنومونه هم پکښې ذکر شوي دي چه د هغو له جملې څخه

ټې پنځه مشهور ترین نومونه دا دي. القرآن، الفرقان، الکتاب، الذکر او التنزیل. په قرآنکریم کښې ځای په ځای دا نومونه راغلي دي.

په دې کتاب کښې د جزئیاتو او فروعاتو ډیره کمه یادونه شوې ده او اکثره پکښې د اصولو، قواعدو او کلیاتو یادونه شوې ده. علامه شاطبي رحمه الله په الموافقات نومي کتاب کښې لیکلي دي:

القرآن علی اختصاره جامع و لا یکون جامعا الا و المجموع فیه امر کلیات لان الشرعیة تحت بتمام نزوله لقوله "الیوم اکملت لکم دینکم (الآیة) و انت تعلم ان الصلوة و الزکوة، و الجهاد و اشباه ذلك لم یبن جمیع احکامها فی القرآن انما بینتها السنة و کذلك العادیات من الانکحة و العقود و القصاص والحدود و غیرها. (الموافقات ج۳، ص۳۶۷، المسئلة الخامسة)

"قرآن کریم د اختصار تر څنګ یو جامع کتاب دی او دا جامعیت هلته ممکن دی چه کله په هغه کښې د کلیاتو ذکر وي د دې لپاره چه شریعت مطهره کامل او مکمل شوی دی او د دې خبرې خوا ته الله تعالی د "الیوم اکملت لکم دینکم الخ" (تر ورځ ما تاسو ته ستاسو دین مکمل کړی دی) په الفاظو سره اشاره کړې ده. او تاسو پوهیږی چه لمونځ، زکات، جهاد او د داسې نورو حکمونو تفصیلات او جزئیات لکه د لمونځونو وختونه په قرآن کریم کښې نه دي راغلي البته دا تفصیلات سنتو بیان کړي دي. همدارنګه نکاح، اخیستل او خرڅول، قصاص او حدود او داسې نورو معاملاتو د جزئیاتو ذکر هم په قرآنکریم کښې نه دی راغلی لیکن احادیثو د هغو تفصیلات بیان کړي دي.

علامه شاطبي رحمه الله په یوه بل ځای کښې لږ په واضحو او څرګندو الفاظو سره لیکي:

تعریف القرآن بالاحکام الشرعیة اکثره کلي لا جزئي و حیث جاء جزئیا فیاخذه من الکلیة. (الموافقات ج۳، ص۲۶۶)

"په قرآنکریم کښې د اکثرو شرعي احکاماتو کلي یادونه شوې ده لیکن چیرته چه د جزئي حکم یادونه شوې وي نو هغه له کوم کلي څخه اخذ شوی وي"

قرآنکریم اګر که د کوم تعارف یا تعریف محتاج نه دی د دې لپاره چه دا یو بدیهي کلام دی لیکن د ځینو مصلحتونو له مخې د اصول فقهې علماوو ټې د لسې تعریف کړی دی:

هو القرآن المنزل علی رسول الله ﷺ المکتوب فی المصاحف المنقول عنه نقلاً متواترا بلا شبه. (نور الانوار ص۸/۹)

"قرآنکریم د الله تعالی هغه کلام دی چه د الله تعالی له خوا څخه په رسول الله ﷺ باندې نازل شوی دی او د مصحفونو په شکل کښې منقوش شوی دی او تر مونږ پورې په تواتر سره پرته له شبهې را رسیدلی دی".

د قرآنکریم څومره حصه ماخذ دی: قرآنکریم اګر که د فقهې ماخذ دی لیکن په ځانګړي توګه ټې د احکامو آیات ماخذ دي چه په هغو باندې مستقل کتابونه لیکل شوي دي چه تعداد ټې ځینو پنځه سوه او ځینو له سلګونو څخه زیات ذکر کړي دي کوم چه د فقهې ماخذ دي او د یوه فقهې لپاره په هغو باندې تیریدل ضروري دي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

د مطالعې لپاره څرګنده: لیکن د دې عبور لپاره د څو شیانو علم ضروري دی چه په لاندې ډول دي:

﴿۱﴾ د ناسخ او منسوخ علم: یعني فقهي به په دې پوهیږي چه کوم آیت ناسخ او کوم منسوخ دی.

﴿۲﴾ د مجمل او مفسر علم: یعني فقهي به په دې پوهیږي چه په دغو آیتونو کښې کوم یو مجمل او کوم یو مفسر دی.

﴿۳﴾ د خاص او عام علم: د یوه فقهي لپاره دا علم هم ضروري دی چه کوم آیت د خپل مفهوم په لحاظ سره خاص دی او کوم یو عام دی.

﴿۴﴾ د محکم او متشابه علم: او په دې به هم علم لري چه کوم آیتونه متشابه دي او کوم محکم دي.

﴿۵﴾ د نوعیت علم: او په دې باندې به هم خبر وي چه په دغو آیتونو کښې کوم د اوامرو آیتونه دي او د امر نوعیت ئې څه دی او کوم یو امر د وجوب مقتضي دی او کوم یو د فرض، مستحب او اباحت تقاضا کوي او کوم آیتونه په نواهیو پورې اړه لري او په هغو کښې کومه نهی د حرامو تقاضا کوي او کومه د کراهیت تحریمي او کومه د کراهیت تنزیهي.

السنـــــــه

د فقه دوهم ماخذ سنت دی. سُنت په لغت کښې طریقې یا عادت ته ویل کیږي. په عربي ژبه کښې چه کله د الفظ پر ته له کوم قید څخه استعمال شي نو د عمده (بهترینه) طریقه او ښه سیرت په معنی سره راځي. د رسول الله ﷺ مبارک ارشاد دی چه:

من سن في الاسلام سنة حسنة فله اجرها و اجر من عمل بها و من سن في الاسلام سنة سيئة فله وزرها و وزر من عمل بها.

"کوم سړي چه په اسلام کښې یو ښه سنت (یوه ښه طریقه) جاري کړي نو د هغه لپاره د هغه اجر ور په برخه کیږي او چه کوم خلك عمل پرې کوي د هغو اجر هم ور په برخه کیږي. او چا چه په اسلام کښې یو بد سنت (بده طریقه) رواج کړي نو هغه ته به د هغه وبال (ګناه او بدله) رسیږي او چه کوم خلك عمل پرې وکړي د هغو وبال به هم هغه ته رسیږي".

او د فقهي په کتابونو کښې د سنت اطلاق په هغه عمل باندې شوی دی چه فرض او واجب نه وي لیکن په اصطلاح کښې په پراخې پیمانې سره د سنتو اطلاق په دې ډول شوی دی چه:

السنة تطلق على قول الرسول ﷺ و فعله و سكوته و على اقوال الصحابة و افعالهم. (نور الانوار ص ۱۷۵، باب اقسام السنة)

"د سنتو اطلاق د رسول الله ﷺ په قول، فعل او سکوت (چپو الي) باندې کیږي او د دې ترڅنګ د صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم په اقوالو او افعالو باندې هم د سُنتو اطلاق کیږي".

په سنت او حدیثو کښې فرق: په دې باره کښې د امت د علماوو اقوال مختلف فیه دي:

﴿۱﴾ د فقهاء کرامو په نزد حدیث خاص دی او اطلاق ئې یوازې د رسول الله ﷺ په مبارکو اقوالو باندې کیږي. او سنت عام دی چه قول، فعل، تقریر او داسې نور ټول پکښې شامل دي.

﴿۲﴾ لیکن د محدثینو حضراتو په نزد حدیث او سنت دواړه مترادف الفاظ دي چه معنی ئې یوه ده. علامه ابن حجر رحمه الله فرمایي:

المراد بالحديث في عرف الشرع ما اضيف الى النبي ﷺ (نزهة النظر ص ۸)

"الـــــــه حدیثو څخه مراد د شریعت له مخې هغې شی دی چه نسبت او اضـــــــافت ئې نبي کریم ﷺ ته کیږي".

اوس لکه څرنګه چه د اقوالو نسبت د نبي کریم ﷺ خوا ته کیږي نو د افعالو، تقریرونو او صفاتو نسبت هم ده مبارك ﷺ ته کیږي. د دې لپاره ملا علي قاري رحمه الله فرمایي چه:

"د رسول الله ﷺ ټول اقوال، افعال، تقریرونه او صفات که د بیداری د حالت وي او که د خوب او همدارنګه د رسول الله ټولو حرکاتو او سکناتو ته حدیث ویل کیږي او سنت او حدیث پخپل منځ کښې سره مترادف الفاظ دي".

د سنتو حجیت: علامه تقي امیني د سنتو عجیبه تشریح کړي ده چه قرآنکریم د تعمیر نقشه ده او درسول الله سنت د دې نقشې مطابق یوه تیاره شوې آبادي ده. له نقشې (کتاب) سره د رسول (انجینر) د لیږلو په اصولو باندې له هغه وخت سره برابر عمل کیږي له کوم وخت څخه چه د الهي هدایت د سلسلې ابتداء شوې ده. په دې بناء باندې د حالاتو او زماني د تقاضاوو په مناسبت سره د عمارت په تعمیر او جوړولو کښې د انجینر د ښوول شویو لارښوونو په قطعي توګه له نظره غورځول له اصل نقشې سره مطابقت نه شي راتلی. (د اسلامي فقهي تاریخي پس منظر ص ۹۴)

نو لکه څرنګه چه د قرآنکریم منل او د حُجت په توګه تسلیمول ضروري دي همدارنګه د دې هم زیات ضرورت دی چه سنت هم حُجت ومنل شي. او که نه وي نو په قرآن باندې عمل کول ممکن نه وي. ځکه چه قرآنکریم له کلیاتو څخه بحث کوي او د هغه د جزئیاتو او تشریح لپاره رسول الله ﷺ را لیږل شوی دی. قرآنکریم پخپله د سنتو حجیت ته خلك رابولي لکه:

﴿۱﴾ وَالنَّجْمِ إِذَا هَوٰى ۞ مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ وَمَا غَوٰى ۞ وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى ۞ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُّوحٰى ۞

"قسم دی په ستورو باندې چه کله هغوی ډوبیږي. د غه له تاسو سره اوسیدونکی رسول ﷺ نه له حقې لارې څخه خطا او نه په غلطې لارې باندې روان دی او نه دی له خپل نفساني خواهش څخه خبرې جوړوي. د هغه خبرې خالصه وحی ده"

که وحی متلو (قرآن) ده او که غیر متلو (سنت) دواړه وحیې منزل من الله دي.

﴿۲﴾ يٰأَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ. (سورة المائدة، آیت)

"ای د خدای پیغمبره! چه کوم شی په تا باندې ستا د پروردګار له خوا څخه نازل شوی دی د هغه تبلیغ وکړه یعني خلکو ته ئې ورسوه".

په دې آیت کښې د "ما" لفظ عام دی او په دې کښې وحی متلو او غیر متلو دواړه شامل دي.

همدارنګه رسول الله ﷺ پخپلو اقوالو، افعالو او تقریرونو باندې چه د قرآنکریم کوم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

تبلیغ او تشریح کوي هغه به یو اخي له قرآن څخه ماخوذ وي. علامه شاطبي رحمه الله فرمايي:

لیس فی السنة الا و اصله فی القرآن اما هی تبین له و تفصیل. (الموافقات ج٤، ص ٢١، المسئلة الثالثة)

"په سنتو کښي یو هم د لسي عمل نشته چه اصل ئې په قرآنکریم کښي نه وي بلکه سنت د قرآن وضاحت او د هغه تفصیل دی".

د سنتو حیثیت د تفسیر او شرحې په شان دی. شارح یا مفسر خو د متن د مراد وضاحت کوي او د هغه خلاف نه کوي. علامه شاطبي رحمه الله لیکلي دي:

فکان السنة بمنزلة التفسیر و الشرح احکام الکتب. (الموافقات ج٤، ص ١٠، المسئلة الثالثة)

"سنت د قرآنکریم د احکامو تفسیر او د هغه د شرحې غوندې دی"

الله تعالی پخپله رسول الله ﷺ ته د تشریح او تفسیر د منصب په ور ببنلو سره فرمایلي دي:

وَ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ اِلَيْهِمْ وَ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُوْنَ☆

"مونږ په تا باندې ذکر (قرآن) نازل کړ تر څو چه ته په خلکو هغه شی (قرآن) واضح کړې کوم چه هغوته ور لیږل شوی دی. د دې لپاره چه هغوی غور او فکر پرې وکړي".

د دې آیت لاندې علامه شاطبي رحمه الله لیکي:

فلا تجد فی السنة امراً الا و القرآن قد دل علی معناه دلالة اجمالیة او تفصیلة. (الموافقات ج٤، ص ١٢، المسئلة الثالثة)

"تاسو به په سنتو کښي د لسي خبره پیدا نه کړی چه په قرآنکریم کښي ئې کوم اجمالي او تفصیلي دلالت نه وي".

د الله تعالی ارشاد دی:

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَ اَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ وَ اُولِي الْاَمْرِ مِنْكُمْ فَاِنْ تَنَازَعْتُمْ فِيْ شَيْءٍ فَرُدُّوْهُ اِلَى اللّٰهِ وَ الرَّسُوْلِ اِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَ الْيَوْمِ الْاٰخِرِ ذٰلِكَ خَيْرٌ وَّ اَحْسَنُ تَاْوِيْلًا☆ (سورة النسآء آیت ٥٩)

"ای د ایمان خاوند انو! د الله تعالی اطاعت وکړی او د هغه د رسول ﷺ اطاعت وکړی او د هغو خلکو اطاعت وکړی چه په تاسو کښي د امر خاوند ان دی. بیا که چیرته ستاسو په کوم شي (معاملي) باندې نزاع (اختلاف) پیدا شي نو د الله تعالی او د هغه د رسول خوا ته رجوع وکړی (ور وګرځی) که چیرته تاسو په الله تعالی او د قیامت په ورځ ایمان لرئ، دا بهتر دی او انجام ئې هم ښه دی.

علامه شاطبي په الموافقاتو کښي لیکي:

الرد الی الله هو الرد الی الکتاب و الرد الی الرسول هو الرد الی سنة. (الموافقات ج٤، ص ١٤، المسئلة الثالثة)

"د الله تعالی خوا ته رجوع کول په اصل کښي د کتاب الله خوا ته رجوع کول دي او د رسول الله ﷺ خوا ته رجوع کول په اصل کښي د سنتو خوا ته رجوع کول دي".

پر دې آیتونو برسیره په قرآن مجید کښي نور دومره بې شمیره آیتونه هم شته چه په دې خبرې باندې دلالت کوي چه لکه څرنګه چه قرآنکریم حجت دی همدارنګه د رسول الله ﷺ سنت هم

حجت دی. او په دې موضوع باندې د امت علماوو ګڼ شمیر کتابونه هم تصنیف کړي دي.

الاجماع

دریم ماخذ اجماع دی. اجماع په لغت کښي عزم او اتفاق ته وایي. د امت فقهاوو د اجماع مختلف تعریفونه کړي دي. علامه قاضي شوکاني لیکي:

اتفاق مجتهدی امة محمد ﷺ بعد وفاته فی عصر من الاعصار علی امر من الامور. (ارشاد الفحول ص ٧١، التیسیر ج٣، ص ٨١)

"د محمدي ﷺ امت د مجتهدینو د رسول الله ﷺ له وفات څخه وروسته په یوي زماني کښي په یوي مسئلي باندې اتفاق کول"

امام غزالي رحمه الله د اجماع داسي تعریف کړی دی:

اتفاق امة محمد ﷺ خاصة علی امر من الامور الدینیة. (المستصفی ج١، ص ١٧٣)

"د محمدي ﷺ امت په دیني معاملاتو کښي په یوي معاملي باندې متفق کیدل".

لیکن علامه آمدي رحمه الله په دې تعریف باندې د مختلفو وجوهاتو له مخې اعتراض کړی دی.

﴿١﴾ په دې تعریف کښي له اتفاق څخه د محمدي ﷺ امت الفاظ دي کوم چه تر قیامته پورې راتلونکي پکښي شامل دي چه د دې خبرې څرګندونه مشکله ده چه د امت په کومې خبرې باندې اتفاق راغلی دی.

﴿٢﴾ په تعریف کښي د "من الامور الدینیه" په عقلي او معاشرتي مسائلو باندې اجماع خارجیږي کوم چه د عقل له مخې هم صحیح نه ده.

علامه آمدي د امام غزالي په تعریف باندې له اعتراض څخه وروسته د اجماع داسي تعریف کړی دی.

الاجماع عبارة من اتفاق جملة اهل الحل و العقد من امة محمد ﷺ فی عصر من الاعصار حکم واقعة من الوقائع. (الاحکام فی اصول الاحکام ج١، ص ٢٨١)

"اجماع له هغه اتفاق او یو والي څخه عبارت دی چه د محمدي ﷺ امت د حل او عقد ټول ګړي په کومې زماني کښي په کومې واقعې باندې راغلی وي".

او همدا ډول تعریف قاضي بیضاوي هم کړی دی. او ملا محمد یعقوب اللبناني هم د دې ډول تعریف په کولو سره لیکي:

اتفاق المجتهدین من امة محمد ﷺ فی کل عصر علی امر من الامور. (المولوی حاشیة حسامی ص ٣٨٣، باب الاجماع)

"د رسول الله ﷺ د امت د مجتهدینو په یوي زماني کښي په یوي معاملي باندې متفق کیدلو ته اجماع وایي"

د اجماع له دغو ټولو تعریفونو څخه څرګنده شوه چه اجماع له یوي زماني او وخت سره ځانګړي نه ده بلکه په هر دور کښي د اجتهاد اهل په یوي مسئلي باندې اتفاق کولی شي او د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

دوی دا اتفاق په مقبول وي- زمونږ په نزد صحیح مذهب دا دی چه د هرې زمانې د اجتهاد خاوند انو او عدل لرونکو حضراتو اجماع معتبر او شرعي حجت دی- ملا محمد یعقوب اللبناني لیکي:

و الصحیح عندنا ان اجماع علماء کل عصر من اهل العدالة و الاجتهاد حجة. (المولوی حاشیه حسامی ص ۳۸٤، باب الاجماع)

"زمونږ په نزد صحیح خبره دا ده چه د هرې زمانې د عدل او اجتهاد د خاوند انو اجماع حجت دی".

اجماع د کوم خلکو معتبر دی: دا مسئله هم د امت د علماوو تر منځ اختلافي ده چه اجماع د کومو حضراتو معتبر دی؟ د زیدیه وو او امامیه وو په نزد یوازې د اهل بیتو اجماع معتبر دی او د امام مالک په نزد یوازې د مدینې د خلکو اجماع معتبر دی-

د اجماع حجیت: لکه څرنګه چه له رسول الله ﷺ څخه وروسته بل نبي نه راځي او د ده راوړل شوی دین تر قیامته پورې د رانلونکو خلکو دین دی. نبي کریم ﷺ خو مسئلې په الهي وحی باندې حل کولې لیکن د ده مبارک له دنیا څخه د رحلت له کولو وروسته به د وحی سلسله تر قیامته پورې بنده وي- په دې حال کښې چه تر قیامته پورې د محمدي ﷺ امت لپاره نوي نوي مسائل مخته راځي چه څه نا څه حل خو به ئې غواړي- نو الله تعالی د دې لاره وښوده چه د هرې زمانې د اجتهاد د خاوند انو علماء کرام به په نوي پیښیدونکو مسائلو باندې غور او فکر کوي او حل به ئې پلتي- قرآن کریم دا حجیت څو ځلې ذکر کړی دی- د الله تعالی ارشاد دی چه:

﴿۱﴾ وَ مَنْ يُّشَاقِقِ الرَّسُوْلَ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدٰى وَ يَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيْلِ الْمُؤْمِنِيْنَ نُوَلِّهٖ مَا تَوَلّٰى وَ نُصْلِهٖ جَهَنَّمَ وَ سَآءَتْ مَصِيْرًا﴾ (سورة النسآء آیت)

"او چه څوک تر دې وروسته چه د هدایت لاره ورته څرګنده شوې وي د رسول مخالفت کوي او د مسلمانانو له لارې پرته په بله لار لاړ شي نو مونږ هغه لره په هم هغې لار روانوو چه په کومه لار دی روان دی او وایه ئې چوو جهنم ته او هغه د لستوګنې ډیر بد ځای دی".

﴿۲﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَ اَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ وَ اُولِي الْاَمْرِ مِنْكُمْ (سورة النسآء آیت)

"ای د ایمان خاوند انو! د الله تعالی اطاعت وکړی او د رسول اطاعت وکړی او د هغو خلکو اطاعت وکړی چه په تاسو کښې د رأیې خاوند ان دي".

﴿۳﴾ كَذٰلِكَ جَعَلْنٰكُمْ اُمَّةً وَّسَطًا لِّتَكُوْنُوْا شُهَدَآءَ عَلَى النَّاسِ (سورة البقرة آیت)

"همدارنګه مونږ تاسې بهترین امت ګرځولي یې تر څو چه تاسو په خلکو ګواهان جوړ شی".

علامه ابو بکر الجصاص الرازي رحمه الله پورتنۍ آیت د اجماع د حجیت لپاره د استدلال په ډول سره فرمایي:

(فی هذه الآیة دلالة) علی صحة اجماع الامة من وجهین احدهما وصفه ایاها بالعدالة و انها فیازو ذلك یقتضی تصدیقها و

لعلکم بصحه قولها و ناف لاجماعها علی الضلال و الوجه الآخر (قوله) لتکونوا شهداء علی الناس علی الحجة علیهم. (احکام القرآن للجصاص ج۱، ص۱۰۹، سورة البقرة)

"دا آیت د امت د اجماع په صحیح والي باندې له دوو وجهو څخه دلالت کوي- یوه دا چه الله تعالی دا امت د عدالت په صفت موصوف کړی دی. د دې لپاره چه دا بهترین امت دی او دا صفت د دوی د تصدیق مقتضا دی او د دې په قول باندې د صحت تقاضا کوي او د دوی په اجماع باندې د ګمراهي لپاره منافي دی- دوهمه وجه دا ده چه د الله تعالی فرمان دی (لتکونوا شهداء علی الناس) چه تاسو په خلکو باندې حجت جوړ شی".

علامه رازي صاحب مخکښې لیکي:

فدل علی ان الجماع فی ای حال حصل من الامة فهو حجة الله عز و جل غیر صائغ لاحد ترکه و لا الخروج عنه و من حیث دلت الایة علی صحة الصدر الاول فهی دالة علی صحة اجماع اهل الاعصار. (احکام القرآن ج۱، ص۱۱۵، سورة البقرة)

"پس دا آیت په دې خبرې باندې دلالت کوي چه بې شکه په کوم حال کښې چه د محمدي ﷺ امت کومه اجماع جوړه شي نو هغه د خدای حجت دی او هیڅوک ئې پریښودلی نه شي او نه له هغې څخه وتل جائز دي. لکه څرنګه چه دا آیت د اولې زمانې د اجماع په صحیح والي باندې دال دی همدارنګه د هرې زمانې په اجماع باندې هم دلالت کوي".

همدارنګه د پاکستان مفتي اعظم حضرت مولانا مفتي محمد شفیع رحمه الله د قرطبي په حوالې سره لیکي چه:

"دا د امت د اجماع د حجت کیدو دلیل دی. ځکه چه کله دا امت الله تعالی د ګواهانو په جوړولو سره د نورو امتونو په مقابل کښې د دوی خبره حجت جوړ کړ نو ثابته شوه چه د دې امت په هرې مسئلې باندې اجماع حجت دی او عمل پرې واجب دی- همدارنګه د صحابه وؤ اجماع په تابعینو او د تابعینو اجماع په تبع تابعینو باندې حجت دی". (معارف القرآن ج۱، ص۳۷۳)

د الله تعالی ارشاد دی:

"د الله تعالی په رسی کلکې منګولې ولګوی او اختلاف مه کوی (پخپل منځ کښې له یوه بل څخه مه جدا کیږی)

د محمدي امت علی صاحبها الصلوٰة و السلام د اجماعي فیصلې مخالفت په هغو کښې د درز له اچولو سره برابر دی کوم چه شرعا ممنوع دی. نو ګوا که اجماعي فیصله یو شرعي حجت دی د دې لپاره نې الله تعالی مخالفت منع کړی دی.

د اجماع حجیت د احادیثو له مخې: د اجماع د حجیت په باره کښې دومره روایتونه له نبي کریم ﷺ څخه روایت شوي دي چه د تواتر د قدر مشترک درجې ته رسیدلي دي. چه له هغو څخه یو څو

په دې ځای کښې وړاندې کوو۔

﴿۱﴾ له حضرت علی رضی الله عنه څخه روایت دی چه هغه له رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چه یا رسول الله ﷺ که چیرته موټر ته داسې یوه مسئله یا معامله را وړاندې شي چه د هغې په باره کښې په قرآن کریم او ستا په سنتو کښې کوم وضاحت نه وي نو بیا به مونږ د هغې د حل په باره کښې کومه طریقه غوره کوو؟ نو نبي کریم ﷺ په ځواب کښې ورته وویل:

شاور فيه الفقهاء العابدين (مجمع الزوائد ج۱، ص۴۲۸، رقم الحديث ۸۳۴)

"تاسو په هغې معاملې کښې له متقي او پرهیزګارو فقهاء کرامو سره مشوره وکړی۔"

دا روایت دا خبره په وضاحت سره ثابتوي چه د عابدینو فقهاوو رایه او د هغو اجماع واجب الاتباع حجت دی۔

﴿۲﴾ همدارنګه په یوه بل روایت کښې نبي کریم ﷺ ویلي دي:

لن يزال امر هذه الامة مستقيما حتى تقوم الساعة (صحيح بخاری ج۱، ص۱۶، كتاب العلم)

"د دې امت حالت به د تل لپاره صحیح وي تر څو چه قیامت قائمیږي"۔

دا خو نه شي کیدلی چه ټول امت به په حقه باندې وي۔ د مشاهدو او وړاندوینې له روایاتو څخه ثابتیږي چه ځینې خلك به په باطل باندې هم وي۔ لیکن له دې روایت څخه څرګندیږي چه د امت یوه ډله به نیکان او لازمیندونکي وي او د دوی رایه به واجب الاتباع وي۔

﴿۳﴾ همدا ډول د حضور ﷺ یو بل مبارك ارشاد دی چه:

ان الله لا يجمع امتي او قال امة محمد على ضلالة و يد الله على الجماعة و من شذ شذ في النار. (جامع الترمذی ج۲، ص۴۹، ابواب الفتن، باب لزوم الجماعة)

"الله تعالی زما امت نه یو ځای کوي یا ئې دا وفرمایل چه الله تعالی د محمد رسول الله ﷺ امت به په ګمراهۍ باندې نه متفق (جمع) کوي"۔

د امام الانبیاء محمد رسول الله ﷺ دا حدیث څو صحابه کرامو روایت کړی دی تر دې پورې چه ځینو تابعینو هم دا حدیث مرسلاً روایت کړی دی۔

﴿٤﴾ رسول الله ﷺ د حجت الوداع په خطبه کښې د ټولو صحابه کرامو په مخکښې وفرمایل:

ثلاث لا يغل عليهن قلب مسلم اخلاص العمل لله و النصيحة للمسلمين و لزوم جماعتهم فان دعوتهم تحيط من ورائهم. (سنن ابن ماجة ص۲۱۹، كتاب المناسك، باب الخطبة يوم النحر)

"د دریو خبرونو په موجودوالي کښې د هیڅ یوه مسلمان زړه به خیانت نه کوي۔ لومړی چه په اعمالو کښې نې د الله تعالی لپاره اخلاص وي۔ دوهم چه په زړه کښې نې د مسلمانانو خیر خواهي وي۔ دریم چه د مسلمانانو د جماعت د اتباع لزوم وي۔ ځکه چه د هغو دعا د شاله خوا څخه هغوی را چاپیره کړي دي"۔

پورتنۍ ټول روایتونه او قرآني ایتونه په دې باندې دلالت کوي چه د امت اجماع

حجت دی۔ له دې برسیره د صحابه کرامو رضی الله عنهم آثار، د تابعینو، تبع تابعینو او د امت تعامل هم د اجماع په حجیت باندې دلالت کوي او دا د اسلامي فقهي د یوه اهم ماخذ په توګه وړاندې کوي۔

د اجماع کوونکو خلکو شرائط او اوصاف: لکه څرنګه چه اجماع هم د هر یوه معتبر نه وي لکه د دې لپاره هغه خلك په کار دی چه د حل او عقد اهل وي او په هغو کښې د داسې اوصافو موجود والی ضروري دی چه هغوی پرې د حل او عقد د اهل جوړیدو مستحق شي او خلك د هغو په فیصلو باندې عمل کوونکي شي او هغوی د سند په توګه حق په جانبه وي۔ په اجماع کوونکو کښې د لاندې صفتونو موجودوالی ضروري دي۔

﴿۱﴾ په قرآنکریم کښې به پوره مهارت لري یوائې په ترجمې باندې یو هیدل ئې کافي نه دي۔

﴿۲﴾ د رسول الله ﷺ په سنتو باندې به روایتاً او درایتاً پوره عبور لري۔

﴿۳﴾ د صحابه کرامو له ژوند څخه واقفیت او د هغوی په اجماعي فیصلو باندې به پوره خبر وي۔

﴿٤﴾ د قیاس او اجتهاد په ذریعې سره د نصوصو او مسائلو د استنباط قواعد او اصول ورته معلوم وي۔

﴿۵﴾ د زمانې له حالاتو، تقاضاوو، د قوم د عاداتو او اطوارو او د هغوی په رسم او رواج او د هغوی په مزاجونو باندې به پوه وي۔

﴿۶﴾ په اجماع کښې باید داسې خلك وي چه د نوي رجحانونو (میلانونو) او د هغو د تقاضاوو په تیټوالي او جګوالي باندې خبر وي تر څو چه په مخکښې راتلونکو معاملو باندې د پوره پوهنې تر څنګ د غور او فکر په کولو سره خپله رایه وړاندې کولی شي۔

نو ځکه د کومې فني مسئلې لپاره د هم هغه فن د ماهرینو موجودوالی ضروري دی۔

الاجماع المعتبر في فنون العلم هو اجماع اهل ذلك الفن العارفين به دون من غيرهم فلا لمعتبر في الاجماع في المسائل الفقهية قول جميع الفقهاء و في المسائل الاصولية قول جميع الاصوليين و في المسائل النحوية قول جميع النحويين و من اهل ذلك الفن هو في حكم العوام. (حصول المامول من علم الاصول بحواله د فقه اسلامی تاریخی پس منظر ص۱۱۸)

"د علم د فنونو لپاره د هغو خلکو اجماع معتبر دی چه د هم هغه فن ماهر وي۔ له هغو پرته د کوم بل چا اجماع هیڅ اعتبار نه لري۔ د دې لپاره په فقهي مسائلو کښې د ټولو فقهاوو اجماع به معتبر وي او په اصولي مسائلو کښې به د ټولو اصولیینو قول معتبر وي۔ د نحو په مسائلو کښې به د ټولو نحوییانو قول معتبر وي۔ له هغو پرته خلك د عوامو په درجې کښې دي"۔

﴿۷﴾ د عملي اعتبار له مخې به د اجماع خلك د لوړو او اعلی اخلاقو خاوندان وي او په اوامرو باندې به عمل کوونکي وي او له نواهیو څخه به ځان ساتونکي وي۔ د فسق، فجور، بدعتونو او داسې نورو بدو اخلاقو او عاداتو څخه به پاك وي۔ متقي او پرهیزګاره به وي۔ او له دې سره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

سره به ډیر محتاط وي۔ البته خفیه فسق د اجماع مانع نه دی۔

د دې لپاره فقهاء کرامو فرمایلي دي:

ان کان معلنا بفسقه فلا یعتبر بقوله فی الاجماع و ان کان غیر مظهر له یعتبر بقول فی الاجماع. (التقریر و التحبیر ج۳، ص/ ماخوذ له د فقه اسلامی تاریخی پس منظر ص۱۱۸ څخه)

"چه کوم سړی په ښکاره توګه فاسق وي په اجماع کښې د هغه د خبرې هیڅ اعتبار نه وي او چه کوم سړی په ښکاره فاسق نه وي نو په اجماع کښې به د هغه خبره معتبره وي"۔

د اجماع ډولونه: اجماع په عمومي توګه په درې ډوله بیان شوی دی۔ لومړی قولي اجماع، دوهم عملي اجماع، دریم سکوتي اجماع۔

﴿۱﴾ **قولي اجماع:** د اجتهاد اهل حضرات په یوې دیني مسئلې باندې په ژبني توګه اتفاق ښکاره کړي۔ لکه د حضرت ابو بکر صدیق رضی الله تعالی عنه په خلافت باندې چه ټولو صحابه کرامو په ژبې باندې په اقرار کولو سره د ده مبارک په لاس باندې بیعت ونه وکړل۔

﴿۲﴾ **عملي اجماع:** د اجتهاد خاوند ان چه په کومې دیني مسئلې باندې په ژبې باندې اتفاق ښکاره نه کړي بلکه عملاً خپل اتفاق ښکاره کړي او په هغې باندې د مباح، مستحب یا جائز په درجې کښې عمل پرې وکړي نو دې ته عملي اجماع ویل کیږي۔

علماوو لیکلي دي چه د اجماع له دې ډول څخه واجب والی نه ثابتیږي البته د کوم عمل د اباحت او مستحب والي سبب جوړیدلی شي لکه د ماسپښین د لمانځه د مخکښینې څلورو سنتونو په مؤکد والي باندې د صحابه کرامو رضی الله عنهم عملي اجماع دی۔ حضرت ابو عبیده السلماني رضی الله عنه فرمایي:

ما اجتمع اصحاب رسول الله ﷺ علی شیء کاجتماعهم علی محافظة الاربع قبل الظهر و الاسفار بالفجر و تحریم نکاح الاخت فی عدة الاخت.

"د رسول الله ﷺ صحابه کرام رضوان الله تعالی علیهم اجمعین په هیڅ عمل باندې د اسې نه دي جمع شوي یا متفق شوي لکه څرنګه چه له ماسپښین څخه مخکښې په څلورو رکعتو سنتو باندې، د سهار د لمانځه لپاره د ښې رنا په جوړیدو باندې او د خور په عدت کښې د دوهمې خور په نکاح کولو باندې۔

﴿۳﴾ **سکوتي اجماع:** ځینې مجتهدین د اسې دي چه که چېرته هغوی په کومې مسئلې باندې اتفاق وکړي او هغه خبره دومره مشهوره شي چه د هغې زمانې هر مجتهد ته ورسیږي او له غور او فکر څخه وروسته په هغې باندې د خپلې رایې په نه ښکارولو سره سکوت (چُپتیا) غوره کړي او له دې فیصلې سره اختلاف و نه کړي نو دې ته سکوتي اجماع ویل کیږي۔

د سکوتي اجماع حکم: د لومړیو دوو اجماع ګانو حجیت متفق علیه دی۔ البته د دریم ډول اجماع یعنې اجماع سکوتي حجیت مختلف فیه دی۔ اکثره حنفیانو، حنبلیانو او ځینې شافعیانو دا هم

قطعي حجت منې په دا سې حال کښې چه مالکیان او شافعیان تر دې پورې چه پخپله امام شافعي رحمه الله هم دا اجماع د حجت په توګه نه منې۔ او د ځینو فقهاوو په نزد د دې اجماع حجیت ظني دی نه قطعي۔

د سکوتي اجماع د ثبوت لپاره شرائط: د سکوتي اجماع د ثبوت او هغه ته د اعتبار د ورکولو لپاره څو شرائط شته چه په لاندې ډول دي۔

﴿۱﴾ د سکوت د غوره کوونکو له خوا څخه دلالةً یا اشارةً یا صراحةً کوم دا سې قول مروي نه وي چه د هغه د مخالفت یا موافقت څرګندونه نې کړې وي۔

﴿۲﴾ په مسئلې باندې غور کوونکي سره له دې چه ډیر وخت ولري لیکن د دې ترڅنګ نې سکوت کړی وي۔

﴿۳﴾ په مسئلې کښې د اجتهاد ګنجائش موجود وي۔

﴿۴﴾ سکوت کوونکي مجتهدین علماء وي۔

﴿۵﴾ هغه مجتهد د اقول یا فعل دومره څرګند کړي چه له هیڅا څخه پټ پاتې نه شي او هر یو پرې خبر شي۔

د دغو شرائطو په درلودو سره سکوتي اجماع معتبر دی او په بل صورت کښې معتبر نه دی۔

د اجماع حکم: چه کله په کومې مسئلې باندې د امت علماء کرام متفق شي نو د هغې منل او عمل پرې کول واجب دي۔ د دې لپاره چه اوس د هغې مسئلې ثبوت قطعي شو۔

اجماع شرعي حکم ثابتوي او د قیاس غوندې مظهر نه دی بلکه مثبت دی لیکن دا اثبات د حکم د وصف اثبات وي نه نې د ذات۔ د ذات د اثبات لپاره نې یوائې قرآن او سنت کافي دي۔ بنا پر دې وجهې باندې د اصول ځینو علماء کرامو اجماع هم د قیاس غوندې د حکم مظهر بللی دی۔

وضاحت: اوس دلته دا پوښتنه مخته راځي چه په عامو کتابونو کښې راغلي دي چه په څلور ګونو دلائلو کښې دریم دلائل (قرآن، سنت او اجماع) د حکم مثبت شول او قیاس د حکم مظهر شو په دا سې حال کښې چه اثبات د ذات کیږي؟

نو د دې څواب دا دی چه د اصولو خاوندان او فقهاء د حکم په ذات او وصف په دواړو باندې یوائې د حکم اطلاق کوي او د حکم د ذات غوندې د حکم وصف ته هم حکم وایي۔ نو د دې لپاره د حکم په وصف باندې د حکم اطلاق کوي او اجماع نې د حکم لپاره مثبت ګرځولی دی۔ او که نه نو اجماع یوائې د حکم د وصف لپاره مثبت دی او د حکم ذات یوائې په قرآن او حدیثو سره ثابتیږي۔

القیـــــاس

د اسلامي فقهي څلورم ماخذ قیاس دی۔ قیاس په لغت کښې اندازه لګول او برابرولو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

ته وایي. لکه څرنګه چه ویل شوي دي چه "قاس النعل بالنعل" (یوه څپلی له بلي سره برابره ته وایي. لکه څرنګه چه ویل شوي دي چه "قاس النعل بالنعل" (یوه څپلی له بلي سره برابره شوه) نو په شرعي قیاس کښي هم فرعي لره په حکم کښي د اصل مماثل او برابر بولي.

او د قیاس اصطلاحي تعریف له مختلفو الفاظو سره په لاندي ډول شوی دی.

﴿۱﴾ علامه ابو الحسن البصريؒ فرمايي:

تحصيل حكم الاصل في الفرع لاشتباههما في علة الحكم عند المجتهد. (د اسلامي فقهي اصول او مبادی ص ۱۴۶)

"د اصل حکم په فرع کښي جاري کول د دي لپاره چه د مجتهد په نزد په دواړو کښي د حکم د علت مشابهت پیدا کیږي".

﴿۲﴾ علامه ابو بکر باقلاني رحمه الله فرمايي:

حمل معلوم على معلوم في اثبات حكم لهما او نفيه عنهما بامر جامع بينهما. (د اسلامي فقهي اصول او مبادی ص ۱۴۶)

"یو څرګند امر یا کار په بل څرګند کار باندي په داسي ډول حمل کول چه له دواړو څخه د کوم جامع کار له وجهي حکم ثابت یا نفی شي".

﴿۳﴾ د "نور الانوار" مصنف ملا جیونؒ فرمايي:

تقدير الفرع بالاصل في الحكم و العلة. (نور الانوار ۲۲۴، باب القياس)

"فرع له اصل سره په حکم او علت کښي مساوي او برابرول".

له دي پرته نې نور تعریفونه هم شوي دي چه د ټولو حاصل دا دی چه د کوم امر او کار (جزئیه) په باره کښي د اسلامي شریعت په نصوصو (قرآن او سنت) کښي کوم حکم ثابت نه شي او دا فرع په علت کښي له ثابت شوي امر سره مشابه وي نو دي فرعي ته هم د اصل حکم ورکولو ته قیاس ویل کیږي.

مقیاس ضرورت: ځینې خلك چه له قیاس څخه منکر دي هغوی وایي چه د قیاس ضرورت څه دی؟ په داسي حال کښې چه قرآن او سنت زمونږ لپاره کافي دي او ټول شیان پکښي موجود دي. او تر ټولو مخکښي قیاس شیطان کړی وو نو شیطاني عمل روا نه بلکه ناروا دی. نو قیاس ته هیڅ ضرورت نشته بلکه په قیاس باندي عمل کول ممنوع دي.

د دي برعکس که چېرته په غور سره وکتل شي نو دا څرګندیږي چه قیاس ته په هري زمانې کښي ضرورت شته او ورته پیدا کیږي به. قرآن او سنت اګر که بنیادي ماخذ دي لیکن په قیاس باندي ثابته شوي مسئله هم په اصل کښي د قرآن او سنتو په مسائلو باندي قیاس کیږي او کوم نوی حکم نه ایجادیږي. د قیاس د ضرورت بنیادي وجه دا ده چه په قرآن او سنتو کښي کلیات بیان شوي دي او جزئیات پکښي کم دي او کلیات د خپل ظاهري مفهوم له مخې محدود وي. د هري زمانې د حالاتو نوي نوي غوښتنې وي، تغیر او تبدیل پکښي راځي، نوي نوي شیان ایجاد کیږي، نوي نوي انکشافات او ساینسي ترقیات مخته راځي چه نمونه نې په مخکښنی زمانې کښي نه وي او د هغو له وجهي نوي نوي مسائل پیدا کیږي چه حل کول نې لازمي خبره وي.

نو په هغو کلیاتو او اصولو کښي د غور او فکر په کولو سره، د هغو د مفهوم په پوهیدو سره او د هغو له علت څخه ترخبریدو وروسته په فرع (نوي مسائل) کښي د علت د مشابهت له وجهي حکم ثابتیږي. پرته له دي طریقي څخه د نوي مسائلو د حل کولو بله طریقه نشته او که نه نو بیا به هر څوك د غو مسائلو ته له خپل ذهن او میلان څخه رنګ ورکوي نو په دي طریقي سره به د اسلامي شریعت بنیاد وخیژي.

تر کومه ځایه پوري چه د شیطان قیاس اړه لري نو دا خبره بې بنیاده ده. د دي لپاره چه د حضرت آدم علیه السلام له تخلیق (پیدائش) څخه مخکښي الله تعالی له ملائکه وو څخه د آدم علیه السلام د تخلیق په باره کښي مشوره اخیستې وه. لکه څرنګه چه له انسان څخه مخکښي د زمکي په دي کُري کښي یواځي پیریانو وجود درلود کوم چه مفسدین وو. نو په دي بنا باندي ملائکه وو حضرت آدم علیه السلام په هغو باندي قیاس کړ او د نه پیدائش مشوره نې ورکړه. نو ګوا که له ټولو نه مخکښي قیاس کوونکي ملائکه دي. برعکس د دي خبرې چه د امت په مقتدرو علماء کرامو کښي (الا ما شاء الله) داسي څوك نشته چه د دي نظریې قائل وي.

نو په هري زمانې او هر دور کښي قیاس د ډیر اهمیت او ضرورت وړ شی پاتې شوی دی او پاتې به شي او انکار تري نه شي کیدلی او چه څوك انکار تري کوي نو د هغو انکار د عناد او تعصب له وجهي وي.

د قیاس شرعي ثبوت: قیاس یو داسي عمل نه دی چه له ځانه جوړ شوی او بې بنیاده وبلل شي. په قرآن او سنتو کښي نې اساس موجود دی. ډیر مبارك آیتونه او قولي، فعلي او تقریري روایتونه نې په مشروعیت باندي دلالت کوي. او له هغو څخه نې په وضاحت سره ثبوت څرګندیږي.

﴿۱﴾ د الله تعالی ارشاد دی:

فَاعْتَبِرُوْا يٰٓاُولِي الْاَبْصَارِ (سورة الحشر آیت ۲)

"ای د سترګو خاوند انو! اعتبار وکړی".

په دي آیت کښي الله تعالی د بصیرت خاوند انو ته د اعتبار کولو حکم کړی دی. او فقهاء کرام د اعتبار معنی د داسي کړي ده.

ردّ الشيء الى نظيره اى الحكم على الشيء بما هو ثابت لنظيره. (توضیح و تلویح ج۲، ص۱۱۶، باب القیاس)

"کوم شي لره د هغه د نمونې خواته راګرځول یعنې په دي شي باندي هغه حکم لګول چه په نظیر (نمونه، مانند، مثل) کښي نې ثابت وي اعتبار ویل کیږي. (او هم دې ته قیاس وایي)

﴿۲﴾ همدارنګه د الله تعالی یو بل ارشاد دی.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَ اَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ وَ اُولِي الْاَمْرِ مِنْكُمْ فَاِنْ تَنَازَعْتُمْ فِيْ شَيْءٍ فَرُدُّوْهُ اِلَى اللّٰهِ وَ الرَّسُوْلِ اِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَ الْيَوْمِ الْاٰخِرِ ذٰلِكَ خَيْرٌ وَّ اَحْسَنُ تَاْوِيْلًا ☆ (سورة النساء آیت ۵۹)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

"ای د ایمان خاوند انو! د الله تعالی اطاعت او د هغه د رسول اطاعت او د خپل اولو الامر (حاکمانو) اطاعت وکړی پس که چیرته تاسو په کوم شی کښې اختلاف وکړی نو د الله تعالی او د هغه د رسول خوا ته رجوع وکړی که چیرته مو په الله تعالی او په ورځې د قیامت ایمان راوړی وي"۔

په دې آیت باندې چه کله غور وشي نو معلومیږي چه په دې کښې د خلورو شرعي دلائلو یادونه شته۔ د "فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ" پورې د کتاب الله او سنتِ رسول ﷺ او د اجماع ثبوت دی او له "فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ" جملې څخه د قیاس مشروعیت ثابتیږي۔ او هغه دا رنګه چه ای د ایمان خاوند انو د الله اطاعت وکړی او د هغه د رسول اطاعت وکړی او د خپلو امیرانو اطاعت وکړی۔ البته د امیرانو اطاعت به د الله او رسول الله ﷺ په فرمانبرداری باندې موقوف وي او امراوو ته حکم وشو چه "فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ الخ" که چیرته په کوم حکم کښې ستاسو تر منځ اختلاف پیدا شي چه د هغه په باره کښې د قرآن او حدیثو صریح حکم نه وي نو په داسې امر کښې د حکم د ثبوت لپاره د الله او رسول ﷺ خوا ته رجوع وکړی۔ د دې رجوع مطلب دا دی چه د قرآن او حدیثو په صریح حکم باندې قیاس وکړی او په دې غیر منصوص امر کښې حکم ثابت کړی۔

﴿۳﴾ د الله تعالی ارشاد دی چه:

إِنَّا أَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ لِتَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ بِمَا أَرَاكَ اللَّهُ. (سورة النساء آیت ۱۰۵)

"بې شکه (ای محمده ﷺ) مونږ په تا باندې په حقه کتاب نازل کړی دی تر څو چه ته د خلکو تر منځ د الله تعالی د درښودل شوي احکامو مطابق فیصله وکړې"۔

د قیاس د روا والي لپاره علامه ابن رشد قرطبي له دې آیت څخه د استدلال په کولو سره فرمایي چه له "بِمَا أَرَاكَ اللَّهُ" څخه له استنباط او قیاس څخه لاس ته راغلي نتائج مراد دي۔ (په حواله د اسلامي فقهي اصول او مبادي ص۱۵۰)

د قیاس د حجیت ثبوت د احادیثو په رڼا کښې: د قیاس د حجیت لپاره په مبارکو احادیثو کښې هم پوره ذخیره موجوده ده چه د دې مسئلې د وضاحت لپاره بس دي۔ په دې ذخیره کښې قولي، فعلي او تقریري درې واړه قسمه احادیث شتون لري۔

﴿۱﴾ د حضرت معاذ رضی الله عنه واقعه ډیره زیاته مشهوره ده چه کله رسول الله ﷺ یمن ته ولیږه او هلته نې والي وټاکه نو د خدای په امانې په وخت کښې نې ترې پوښتنه وکړه۔

بما تقضي يا معاذ؟ قال بكتاب الله قال فان لم تجد في كتاب الله؟ قال فسنة رسوله، قال فان لم تجد فيهما؟ قال اجتهد برائي، فقال الحمد لله الذي وفق رسول رسوله بما يحبّ و يرضى. (ابو داؤد ج۲، ص۱۴۹، باب اجتهاد الراس في القضاء)

"ای معاذ! چه کله تاته کومه معامله وراندې شي نو ته به نې په څه شي فیصله کوې؟ هغه عرض وکړ چه د الله تعالی په کتاب به نې فیصله کوم۔ په دې باندې ده مبارک ﷺ ورته وفرمایل چه که چیرته نې په کتاب الله کښې حل پیدا نه کړې نو؟ هغه عرض وکړ چه د خدای د

رسول ﷺ په سنتو به نې فیصله کوم۔ ده مبارک ﷺ وفرمایل که چیرته نې په دواړو کښې حل پیدا نه کړې نو؟ هغه عرض وکړ چه په خپلې رایې باندې به اجتهاد وکړم۔ په دې باندې نبي کریم ﷺ وفرمایل چه تول تعریفونه د هغه ذات لپاره دي چا چه د خپل رسول ﷺ رسول ته د دې خبرې توفیق ورکړ چه له هغه څخه پرې خوشحاله کیږي او هغه لره خوښوي"۔

﴿۲﴾ همدا رنګه په ابن ماجه شریفه کښې یو روایت داسې راغلی دی چه:

اذا حكم الحاكم فاجتهد فاصاب فله اجران فان اخطاء فله اجر واحد. (ابن ماجة ص۱۶۷، ابواب الاحكام)

"چه کله کوم حاکم په کومې معاملې کښې د حکم لپاره اجتهاد وکړي او په دې اجتهاد کښې هغه رسیدلی وي نو د هغه لپاره دوه ګوني اجر دی او که چیرته پکښې خطا وي نو د هغه لپاره یو اجر دی"۔

﴿۳﴾ رسول الله ﷺ پخپله بذاتِ خود څو مسائل په نورو منصوصې مسائلو باندې د قیاس په کولو سره غیر منصوص مسائل حل کړي دي۔

په بخاري شریف کښې راغلي دي چه یوه ښځه د جناب نبي کریم ﷺ په خدمت کښې حاضره شوه او عرض نې وکړ چه یا رسول الله ﷺ زما پلار ډیر کمزوری دی۔ نه په سورلی باندې د کښیناستو طاقت لري او نه د حج لپاره په پښو سفر کولی شي۔ آیا زه د هغه له خوا څخه حج کولی شم؟ نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل:

كان على امك دين اكنت قاضيه قالت نعم قال فدين الله احق ان تقضيه (صحيح بخاری)

"که چیرته ستا په مور باندې د چا قرضه وای نو تا به هغه ادا کوله او که نه؟ هغې ورته وویل چه هو خامخا به مې ادا کړې وه نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل چه الله تعالی د دې ډیر حقدار دی چه ته د هغه قرضه ادا کړې"۔

په دې روایت کښې رسول الله ﷺ د حج ادا کول په عامې قرضې باندې له قیاسولو سره څواب ورکړ چه د اترې څرګندیږي چه قیاس شرعي حجت دی۔

له صحابه کرامو رضی الله عنهم څخه د قیاس ثبوت: د امت علماوو لیکلي دي چه د قیاس په شرعي حجیت باندې د صحابۂ کرامو رضی الله عنهم اجمعین اجماع دی۔ لکه څرنګه چه د کشف الاسرار مصنف فرمایي:

ان مدرك الاحتجاج با لقياس اجماع الصحابة فقد علمنا من تتبع احوالهم في مجرى اجتهادهم انهم كانوا يقيسون الفرع على الاصل. (كشف الاسرار)

"بې شکه د قیاس په شرعي حجیت باندې د صحابۂ کرامو اجماع دی۔ د صحابۂ کرامو په اجتهادونو کښې له پلټنې څخه څرګندیږي چه هغو به فرع په اصل باندې قیاس کوله"۔

﴿۱﴾ له حضرت ابو بکر صدیق رضی الله عنه څخه چه کله د میراث په باره کښې پوښتنه وشوه نو هغه وفرمایل:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

قول فيها برأيي فان يكن صوابا فمن الله و ان يكن خطاء فمني و من الشيطان. (منهاج الاصول، الكتاب الرابع القياس)

"زه د دي مسئلي په باره کښې له خپلې رأيې څخه فيصله کوم. که چېرته صحيح شي نو بيا به د الله تعالى له خوا څخه وي او که چېرته خطا شي نو بيا به زما او د شيطان له خوا څخه وي".

﴿۲﴾ له حضرت عمر فاروق رضی الله عنه څخه چه کله د نيکه د ميراث په اړه پوښتنه وشوه نو ده مبارک وفرمايل:

قضى فيه برأيي. (منهاج الاصول، الكتاب الرابع القياس)

"زه د دي معاملي په باره کښې له خپلې رأيې څخه فيصله کوم".

﴿۳﴾ چه کله د حضرت عبد الله ابن عباس رضی الله عنه مخته د هغې ښځې معامله وړاندې شوه چا نه چه د طلاق اختيار ورکړ شوی وو نو ده مبارک وفرمايل چه:

"زه په دې باره کښې له خپلې رأيې څخه فتوی ورکوم. که چېرته صحيح وي نو د الله تعالى له خوا څخه به وي او که چېرته صحيح نه وي نو زما او د شيطان له خوا څخه به وي، الله تعالى او د هغه رسول ﷺ به تر ې بري وي".

﴿٤﴾ پخپله حضرت عمر رضی الله تعالى عنه ابو موسى اشعريؓ لره د بصرې د والي په توګه د تاکلو په وخت په يوه شاهي فرمان کښې د نورو خبرو تر څنګ دا خبره هم ورته ليکلې وه چه:

اعرف الاشباه و النظائر و قس الامور برايك. (منهاج الاصول، كتاب الرابع، القياس)

"د راتلونکو مسائلو نظائر او اشباه وپيژنه او په هغو کښې پخپلې رأيې باندې د قياس په کولو سره فيصله وکړه".

پورتنۍ آيتونه، احاديث، اعمال او د صحابۂ کرامؓ اقوال د قياس په شرعي دليل کيدو باندې دلالت کوي. او له دغو څخه په ښه توګه څرګنديږي چه قياس شرعي حجت دی. او د قياس له مخې ډير احکام مستنبط کيدلی شي.

د قياس ارکان: قياس څلور رکنونه لري. لومړی اصل. دوهم حکم. دريم فرع. څلورم ګډ علت.

﴿۱﴾ **اصل:** هغه مسئله ده چه په هغې کښې حکم منصوصي وي او په نوي مسائلو کښې د حکم د اثبات لپاره احتياج ورته پيدا شوی وي.

﴿۲﴾ **حکم:** هغه امر چه د دليل له وجهې د کومې معاملې لپاره ثابت کړی شي لکه حُرمت، حلت، کراهيت او داسې نور.

﴿۳﴾ **فرع:** هغه نوې مسئله چه په باره کښې نې منصوصي حکم نه وي بلکه په هغې کښې د حکم د اثبات لپاره اصل ته احتياج پيدا شي.

﴿۴﴾ **[illegible] هغه ګډ صفت چه په اصل او فرع دواړو کښې پيدا شي او شارع عليه السلام د [illegible] مؤثر ټاکلی وي**

[illegible] د قياس لپاره د دريو شيانو وجود ډير ضروري دی.

﴿۱﴾ **اصل:** چه مقيس عليه ورته ويل کيږي.

﴿۲﴾ **فرع:** هغه نوې مسئله چه حل نې مطلوب وي چه هغې ته مقيس ويل کيږي.

﴿۳﴾ **علت:** هغه ګډ او مشترک شی چه د دواړو (اصل او فرع) ترمنځ وي چه له وجهې نې په فرع کښې د اصل حکم جاري کيږي ګواکه چه په قياس کښې ټول دارومدار په علت باندې دی.

د علت ماخذ: په يوه اصل کښې د حکم لپاره د علت پيژندګلوي به يا له قرآنکريم څخه وي چه قرآنکريم هغه لره د علت ګرځولو لپاره تصريح يا اشاره کړې وي او يا سنت په صريحو يا کنايي الفاظو سره د هغه د علت والي يادونه کړې وي. که چېرته په دواړو (قرآن او سُنتو) کښې نې څرګنده نه وي شوې نو د علت تعين به نې د امت په اجماع باندې وي. او که چېرته د اجماع له مخې نې هم معلومات نه کيده نو بيا به مجتهد د داسې حکم د معلومولو لپاره غور او فکر کوي تر څو چه په اجتهاد او استنباط سره د حکم د علت معلومات وشي. ګواکه دا څلور طريقې د علت ماخذ ګڼل کيږي او د هغه په ذريعې سره په مقيس عليه کښې د حکم علت پلټل کيږي.

الاستحسان: قياس په دوه ډوله دی. لومړی قياس جلي او دوهم قياس خفي. قياس خفي ته استحسان هم ويل کيږي.

د استحسان تعريف: استحسان له حسن څخه مشتق دی چه معنی نې ده "يو شی ښه جوړول". او اصطلاحي تعريف نې په مختلفو الفاظو سره شوی دی. لکه څرنګه چه ابو الحسن الکرخي رحمه الله فرمايي:

﴿۱﴾ الاستحسان هو ان يعدل المجتهد عن ان يحكم المسئلة بمثل ما حكم به في نظائرها لوجه اقوى يقتضي العدول عن الاول. (الفقه الاسلامي في ثوبه الجديد، للشيخ زرقاء ص ۹۰۹)

"استحسان دا دی چه مجتهد په کومې مسئلې باندې د هغې د نظائرو له حکم څخه دقوي دليل په بنا عدول وکړي چه د ليل له اول حکم څخه د انحراف مقتضي وي".

﴿۲﴾ قطع المسئلة عن نظائرها بما هو اقوى. (د فقه اسلامی تاریخی پس منظر ص ۱۷۲)

"د کومې مسئلې حکم د قوي (زوروي) وجهې له مخې د هغې له خپلو نظائرو څخه جدا کول".

﴿۳﴾ العدول عن قياس الى قياس اقوى العدول في مسئلة من مثل حكم به في نظائرها الى خلافه لوجه هو اقوى. (منهاج الاصول، الاستحسان)

"يو قياس پريښودل او له هغه څخه زيات قوي قياس غوره کول. د مسئلې په نظائرو کښې چه کوم حکم موجود دی د کومې قوي وجهې په بنا باندې د هغه په پريښودو سره د هغه په خلاف حکم لګول".

استحسان او د اسلام فقهاء: احنافؒ، مالکيانؒ، او حنابلة قياس د شرعي دليل په توګه مني په داسې حال کښې چه امام شافعيؒ فرمايي:

"د هيڅا لپاره دا جائزه نه ده چه هغه د استحسان خبره غوره کړي. استحسان په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

قول فيها برأيي فان يكن صواباً فمن الله و ان يكن خطاء فمني و من الشيطان. (منهاج الاصول، الكتاب الرابع القياس)

"زه د دي مسئلي په باره کښې له خپلې رأيې څخه فيصله کوم. که چېرته صحيح شي نو بيا به د الله تعالى له خوا څخه وي او که چېرته خطا شي نو بيا به زما او د شيطان له خوا څخه وي".

﴿۲﴾ له حضرت عمر فاروق رضی الله عنه څخه چه کله د نيکه د ميراث په اړه پوښتنه وشوه نو ده مبارکې وفرمايل:

قضى فيه برأيي. (منهاج الاصول، الكتاب الرابع القياس)

"زه د دي معاملي په باره کښې له خپلې رأيې څخه فيصله کوم".

﴿۳﴾ چه کله د حضرت عبد الله ابن عباس رضی الله عنه مخته د هغې ښځې معامله وړاندې شوه چا ته چه د طلاق اختيار ورکړ شوی وو نو ده مبارک وفرمايل چه:

"زه په دي باره کښې له خپلې رأيې څخه فتوی ورکوم. که چېرته صحيح وي نو د الله تعالى له خوا څخه به وي او که چېرته صحيح نه وي نو زما او د شيطان له خوا څخه به وي، الله تعالى او د هغه رسول ﷺ به تري بري وي".

﴿٤﴾ پخپله حضرت عمر رضی الله تعالى عنه ابو موسى اشعريؓ لره د بصرې د والي په توګه د تاکلو په وخت په يوه شاهي فرمان کښې د نورو خبرو ترڅنګ دا خبره هم ورته ليکلې وه چه:

اعرف الاشباه و النظائر و قس الامور برايك. (منهاج الاصول، كتاب الرابع، القياس)

"د راتلونکو مسائلو نظائر او اشباه وپيژنه او په هغو کښې پخپلې رأيې باندې د قياس په کولو سره فيصله وکړه".

پورتنۍ آيتونه، احاديث، اعمال او د صحابۂ کرامؓ اقوال د قياس په شرعي دليل کيدو باندې دلالت کوي. او له دغو څخه په ښه توګه څرګنديږي چه قياس شرعي حجت دی. او د قياس له مخې ډير احکام مستنبط کيدلی شي.

د قياس ارکان: قياس څلور رکنونه لري. لومړی اصل. دوهم حکم. دريم فرع. څلورم ګډ علت.

﴿۱﴾ **اصل:** هغه مسئله ده چه په هغې کښې حکم منصوصي وي او په نوي مسائلو کښې د حکم د اثبات لپاره احتياج ورته پيدا شوی وي.

﴿۲﴾ **حکم:** هغه امر چه د دليل له وجهې د کومې معاملې لپاره ثابت کړی شي لکه حُرمت، حلت، کراهيت او داسې نور.

﴿۳﴾ **فرع:** هغه نوې مسئله چه په باره کښې ئې منصوصي حکم نه وي بلکه په هغې کښې د حکم د اثبات لپاره اصل ته احتياج پيدا شي.

﴿۴﴾ **ګډ علت:** هغه ګډ صفت چه په اصل او فرع دواړو کښې پيدا شي او شارع عليه السلام د حکم لپاره اصل مؤثر ټاکلی وي.

د قياس اصل مدار: د قياس لپاره د دريو شيانو وجود ډير ضروري دی.

﴿۱﴾ **اصل:** چه مقيس عليه ورته ويل کيږي.

﴿۲﴾ **فرع:** هغه نوې مسئله چه حل ئې مطلوب وي چه هغې ته مقيس ويل کيږي.

﴿۳﴾ **علت:** هغه ګډ او مشترک شی چه د دواړو (اصل او فرع) ترمنځ وي چه له وجهې ئې په فرع کښې د اصل حکم جاري کيږي ګواکه چه په قياس کښې تول د لړو مدار په علت باندې دی.

د علت ماخذ: په يوه اصل کښې د حکم لپاره د علت پيژندګلوي به يا له قرآنکريم څخه وي چه قرآنکريم هغه لره د علت ګرځولو لپاره تصريح يا اشاره ګڼي وي او يا سنت په صريحو يا کنايي الفاظو سره د هغه د علت والي يادونه کړي وي. که چېرته په دواړو (قرآن او سُنّتو) کښې ئې څرګندونه نه وي شوې نو د علت تعين به ئې د امت په اجماع باندې وي. او که چېرته د اجماع له مخې ئې هم معلومات نه کيده نو بيا به مجتهد د داسې حکم د معلومولو لپاره غور او فکر کوي تر څو چه په اجتهاد او استنباط سره د حکم د علت معلومات وشي. ګواکه دا ځلور طريقې د علت ماخذ ګڼل کيږي او د هغه په ذريعې سره په مقيس عليه کښې د حکم علت پلټل کيږي.

الاستحسان: قياس په دوه ډوله دی. لومړی قياس جلي او دوهم قياس خفي. قياس خفي ته استحسان هم ويل کيږي.

د استحسان تعريف: استحسان له حسن څخه مشتق دی چه معنی ئې ده "يو شی ښه جوړول". او اصطلاحي تعريف ئې په مختلفو الفاظو سره شوی دی. لکه څرنګه چه ابو الحسن الکرخي رحمه الله فرمايي:

﴿۱﴾ الاستحسان هو ان يعدل المجتهد عن ان يحكم المسئلة بمثل ما حكم به في نظائرها لوجه اقوى يقتضي العدول عن الاول. (الفقه الاسلامي في لونه الجديد، للشيخ زرقاء ص ۹۰۹)

"استحسان دا دی چه مجتهد په کومې مسئلې باندې د هغې د نظائرو له حکم څخه دقوي دليل په بنا عدول وکړي چه د ليل له اول حکم څخه د انحراف مقتضي وي".

﴿۲﴾ قطع المسئلة عن نظائرها بما هو اقوى. (د فقه اسلامي تاريخي پس منظر ص ۱۷۲)

"د کومې مسئلې حکم د قوي (زوروي) وجهې له مخې د هغې له خپلو نظائرو څخه جدا کول".

﴿۳﴾ العدول عن قياس الى قياس اقوى العدول في مسئلة من مثل حكم به في نظائرها الى خلافه لوجه هو اقوى. (منهاج الاصول، الاستحسان)

"يو قياس پريښودل او له هغه څخه زيات قوي قياس غوره کول. د مسئلې په نظائرو کښې چه کوم حکم موجود دی د کومې قوي وجهې په بنا باندې د هغه په پريښودو سره د هغه په خلاف حکم لګول".

استحسان او د اسلام فقهاء: احنافؒ، مالکيانؒ، او حنابلة قياس د شرعي دليل په توګه منې په داسې حال کښې چه امام شافعيؒ فرمايي:

"د هيڅا لپاره دا جائزه نه ده چه هغه د استحسان خبره غوره کړي. استحسان په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

حقیقت کښې د خوند د حاصلولو یوه طریقه ده۔ (الرساله ص۲۹۴/۲۹۵، د استحسان بیان)

او په منهاج الاصول کښې دا ډول راغلي دي چه:

من استحسن فقد شرع او وضع شرعاً جدیداً۔ (منهاج الاصول، الاستحسان)

"چا چه له استحسان څخه کار واخیست نو هغه نوی شریعت جوړ کړ"۔

لیکن بلي خوا ته محققین شافعیانو فرمایي چه:

ان الحق ما قالهٗ ابن الحاجب و اشار الیه الآمدی انهٗ لا یتحقق استحسان مختلف فیه۔ (منهاج الاصول په حواله دی د اسلامی فقهی تاریخی پس منظر ص۱۹۱)

"حقه خبره هغه ده کومه چه ابن حاجب کړې ده او آمدیؒ د هغې خوا ته اشاره کړې چه مختلف فیه استحسان نشته۔

له دې څخه څرګنده شوه چه د استحسان د حجیت او د اعتمادۏر کیدو کښې د هیڅا اختلاف نشته بلکه د ځلورو امامانو په متفقه توګه شرعي دلیل دی۔

امام شاه ولي الله او استحسان: د امام شافعي رحمه الله د مشهور قول غوندې امام شاه ولي اللهؒ هم د استحسان مخالفت کړی دی بلکه په دین کښې ئې تخریب کاري بللي ده۔ لکه څرنګه چه دیؒ فرمایي:

و من اسباب التحریف الاستحسان۔ (حجة الله البالغه ج۱، ص۳۵۰)

"د تحریف له اسبابو څخه یو سبب استحسان دی"۔

لیکن ممکنه ده چه د دغو حضراتو له استحسان څخه مطلق استحسان مراد نه وي بلکه هغه استحسان به مراد وي چه په هغه کښې د شرعي ضوابطو او اصولو هیڅ رعایت نه وي شوی او د خپل نفس د خواهش له مخې کومه مسئله مستنبطه شوې وي کوم چه په دین کښې د تحریف سره برابر دی۔

په هر حال په اسلامي احکاماتو کښې د استحسان په ذریعې د مستنبط شوي احکامو پوره ذخیره موجوده ده او د امت فقهاوو استحسان د شرعي دلیل په توګه استعمال کړی دی او ګڼ مسائل پرې مستنبط شوي دي۔

د استحسان مشروعیت: استحسان کوم نوی عمل نه دی چه له نظره وغورځول شي بلکه په مخکښینیو بین الاقوامي قوانینو کښې هم دا سې مادي وي چه له هغو څخه د استحسان مفهوم څرګندیږي۔ د یونانیانو په قوانینو کښې د "ای پاکیا" (Epie Keia) په نامه او د رومیانو په قوانینو کښې د "اکیوتي" (Aequita) په نامه سره اصول موجود دي چه له هغو څخه استحسان څرګندیږي۔

قرآنکریم هم د دې اصل خوا ته اشاره کړې ده۔

فبشر عبادی الذین یستمعون القول فیتبعون احسنهٗ۔ (سورة الزمر)

"ته ای پیغمبره ﷺ زما هغو بندګانو ته زیری ورکړه کوم چه خبره اوري او د احسن متابعت کوي"۔

د قرآنکریم په یوه بل ځای کښې په دې باره کښې ارشاد دی چه:

و امر قومك یاخذوا باحسنها۔ (سورة الاعراف)

"ته خپل قوم ته حکم وکړه چه هغوی احسن کار غوره کړي"۔

"په استحسان کښې هم د احسن اتباع او د هغه اختیارول مقصود وي او په دې کښې یُسر یعني آساني دی کوم چه الله تعالی د خپلو بندګانو لپاره نې اراده کړې ده۔ الله تعالی فرمایي:

یرید الله بکم الیسر و لا یرید بکم العسر۔ (سورة البقرة)

"الله تعالی له تاسو سره د آسانۍ اراده لري او تاسو په مشکل کښې اچول نه غواړي"۔

حضرت عبد الله ابن مسعود رضی الله عنه قول هم یُسر (آساني) لره بنه او بهتر دین ګرځولی دی خیر دینکم الیُسر (الاشباه و النظائر) "ستاسو بنه دین آسانتیا ده"۔

له دې وجهې په دین کښې د آسانۍ او یُسر په باره کښې چه څومره روایتونه، د صحابه وؓ او تابعینوؒ آثار راغلي دي له هغو څخه د استحسان روا والی او مشروعیت او ثبوت لاس ته راځي۔

عرف او عادت: عرف او رسم او رواج له مخکښینۍ زماني څخه د قانون لپاره د یوه مأخذ په حیث را روان دی۔ په رومي قوانینو کښې هم د قانون سازۍ لپاره عرف د اصل په توګه استعمالیده۔ اسلام هم په خپلو فروعي احکاماتو کښې عرف او عادت ته د مأخذ مقام ورکړی دی۔ علامه ابن عابدین رحمه الله فرمایي:

و العرف فی الشرع لهٗ اعتبار لذا علیه الحکم قد یدار۔ (رسائل ابن عابدین ج۱، ص۴۴، الرسالة الاولی)

"عرف په شریعت کښې معتبر دی او د دې لپاره کله کله پرې د حکم دارومدار وي"۔

تر دې پورې چه د عرف او عادت په تبدیلي سره په خپلو شرعي احکامو کښې هم تغیر او بدلون راغلی دی چه مثالونه نې د فقهي په کتابونو کښې ډیر موجود دي۔ علامه ابن عابدینؒ فرمایي:

و اعلم ان اعتبار العادة و العرف ... فی مسائل کثیرة حتی جعلوا ذلك اصلاً فقالوا فی الاصول فی باب ما تترك به الحقیقة ترك الحقیقة بدلالة الاستعمال و العادة ..... الثابت بالعرف ثابت بدلیل شرعی و فی المبسوط الثابت بالعرف کالثابت بالنص۔ (رسائل ابن عابدین ج۲، ص۱۱۵)

"پوه شه چه بیشکه عرف او عادت ته په اعتبار ورکولو سره په ډیرو مسائلو کښې رجوع ورته کیږي تر دې پورې هغوی عرف او عادت اصل بللی دی او د اصولو په دې باب کښې چه د عادت او عرف په بناء باندې حقیقت پریښودل کیږي، لیکلي دي چه په عرف باندې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

ثابته شوي مسئله په شرعي دليل سره د ثابتي شوي مسئلې غوندې ده. او په مبسوط کښې دي چه په عرف باندې ثابته شوي مسئله په نص سره د ثابتي شوي مسئلې غوندې ده".

او امام شاه ولي الله محدث د هلوي په حجه الله البالغه کښې عرف د تشريعي امورو يوه ماده بللې ده. دی فرمايي:

هي مادة تشريعية "عرف يوه تشريعي ماده ده".

او په يو بل ځای کښې نې فرمايلی دي:

نهى عن الرسوم الفاسدة و امر با لصالحة

"رسول الله ﷺ خلك له فاسدو رسمونو او رواجونو څخه منع کړي دي او د ښو او صحيحو رواجونو اجازت نې ورکړی دی".

د عرف تعريف: فقهاء کرامو د عرف مختلف تعريفونه کړي دي. د اختصار او نه اوږدوالي په خاطر نې دلته يو څو تعريفونه وړاندې کيږي چه په لاندې ډول دي.

﴿۱﴾ علامه ابن عابدين رحمه الله فرمايي:

العادة عبارة عما يستقر في النفوس من الامور المتكررة المقبولة عند الطباع السليمة. (رسائل ابن عابدين ج۲، ص۱۱۵)

"عادت له هغه مکرر (پيا پيا) کار څخه عبارت دی چه په نفسونو (زړونو) کښې نې ځای نيولی وي او سليمو طبعيتونو هم قبول کړی وي".

﴿۲﴾ امام غزالي رحمه الله فرمايي چه:

"عرف او عادت د ادی چه کوم فعل يا طريقه په عقلي توګه د خلکو په نفسونو کښې د اسې ځای نيولی وي چه سليم فطرت قبول کړی وي او د اسلامي دنيا د سليم طبعيتونو خاوند ان د هغه عادي شوي وي په دې شرط چه د شرعي نص په خلاف نه وي". (د اسلامي فقهي اصول او مبادي ص۱۸۳)

﴿۳﴾ امام ابو زهره رحمه الله فرمايي:

العرف ما اعتاده الناس من معاملات و استقامت عليه امورهم. (د اسلامي فقهي اصول او مبادی ص ۱۸٤)

"عرف هغه دی چه خلك پخپلو معاملاتو کښې د هغه عادي شوي وي او خپل کارونه نې په هغه برابر کړي وي".

د مقبول عرف شرائط: ليکن عرف او عادت په مطلقه توګه مقبول نه دي. کوم عرف چه د شرعي په نزد مقبول دی او د مادې (اصل) حيثيت ورته حاصل دی فقهاء کرامو د هغه لپاره څو شرائط ذکر کړي دي.

﴿۱﴾ چه د منصوص حکم سره معارض يعنې تکر نه وي.

﴿۲﴾ په معاشره کښې ورته د اسې مقام او مرتبه حاصله وي چه کول نې ضروري شوی وي.

﴿۳﴾ چه په معاشره کښې عام او غالب وي.

﴿٤﴾ د هغه حکم په وخت کښې هغه عرف موجود وي.

﴿٥﴾ متعاقدين د دي عرف په خلاف معاهده يا شرط و نه لګوي.

(د اسلامي فقهي اصول او مبادي ص۱۹۱)

الاستصحاب

د فقهي خزانو په لستنباطاتو کښې استصحاب هم د ماخذ په توګه استعمالېږي ليکن دا کوم مستقل ماخذ نه دی د دي لپاره اکثرو حضراتو د فقهي ماخذ کښې د دي ډيره کمه يادونه کړي ده. دا په هغه وخت کښې په کار راځي چه بل هيڅ يو ماخذ موجود نه وي. د دي مطلب دا دی چه په مخکښې وخت کښې چه کوم شی ثابت نه وي هغه اوس هم پخپل حال باندې پرېښودل شي او څه بدلون پکښې و نه شي تر څو پورې چه د تغير کوم دليل قائم نه شي. ځکه چه د دي په باره کښې ظن غالب دا دی چه دا صورت په ثبوت يا نه ثبوت کښې په دستور سره پاتې وي.

د استصحاب اصطلاحي تعريف: نو د دي لپاره اصوليينو نې د اسې تعريف کړی دی.

ما ثبت في الزمن الماضي فا لاصل بقاء هٗ في الزمن المستقبل ما لهٗ يوجد ما يغيره هول الحاصل من علم الاصول. (د اسلامي فقهي اصول او مبادي ص۱۹۱)

"چه کوم شی په مخکښينی زمانې کښې ثابت وي نو اصل دا دی چه هغه دې په مستقبل کښې هم تر هغه وخته پورې پرېښودل شي چه تر څو پورې کوم مغير (تغير ورکوونکی) دليل مخته را نه شي".

او دو هم تعريف نې په دې الفاظو سره شوی دی.

الحكم بقاء امر متحقق لم يظن عدمه. (الاشباه و النظائر ج۱، ص۲۲۳، القاعدة الثالثة)

"د کوم متحقق امر حکم تر هغه وخته پورې پخپل حال پرېښودل تر څو پورې نې چه په عدم باندې کوم ظن غالب پيدا نه شي".

علامه ابن قيم رحمه الله نې د اسې توضيح او تشريح کوي:

"ثابت شوی امر ثابت شوی پريږدی او نه ثابت شوی تر هغه وخته پورې په همدې نه اثبات کښې پريږدی چه تر څو پورې کوم مغير (تغير ورکوونکی) دليل مخته را نه شي. دې ته استصحاب وايي. د دي مثال دا دی چه په يوه سړي باندې د چا لس زره روپی قرض دي او په دي قرض باندې ګواه هم شته او د دواړو ترمنځ ليکلی سند هم شته نو دا قرضه د ده په غاړې باندې لس کاله هم پاتې وي تر څو چه په ورکولو باندې نې کوم شرعي دليل نه وي راوړی".

د استصحاب ډولونه: د فقهي دا ماخذ په څلورو ډوله دی.

﴿۱﴾ **استصحاب براء ة الاصليه:** يعنې انسان له تکليفونو څخه تر هغه پورې بری الذمه دی تر څو پورې چه په مکلف والي باندې نې کوم دليل وړاندې شوی نه وي. مثلاً يو څوك په چا باندې د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

قرضي دعوی کوي او هغه تري منکر دی نو تر څو پورې چه مدعی کوم دلیل وړاندې نه کړي تر هغه وخته پورې منکر سړی بری الذمه دی۔

﴿۲﴾ **استصحاب شرعي یا عقلي:** یعني شریعت یا عقل د کوم امر په باره کښې چه د ثبوت یا نه ثبوت حکم وکړي نو هغه به تر هم هغه وخته پورې پخپل حال پاتې وي تر څو پورې چه دوهم دلیل ئې بدل نه کړي۔

د مثال په توګه کوم سړي ته په وراثت کښې څه زمکه ورسیده نو هغه به تر هغه وخته پورې مالك ګڼل کیږي چه تر څو پورې د ملکیت د زوال کوم ثبوت ئې قائم نه شي۔

﴿۳﴾ **استصحاب حکم اصلي:** د یوه شرعي امر په باره کښې په جائز والي او ناجائز والي باندې د کوم شرعي دلیل د موجود والي په صورت کښې هغه حکم تر هغه وخته پورې قائم پاتې کیږي چه تر څو پورې بدلوونکی دلیل موجود نه وي۔ د مثال په توګه په مخ د زمکې کښې مفید او په کار راتلونکي شیان حلال دي او د دنیا تولې ښځې حرامې دي لیکن هغه شیان او ښځې چه د هغو په حلال والي او حرام والي باندې دلیل موجود وي۔

﴿۴﴾ **استصحاب وصفي:** یعني له کوم امر سره چه یو صفت په مخکښینی زمانې کښې لګیدلی وي نو هغه وصف او صفت په راتلونکي کښې هم په هغه توګه وي۔

په استصحاب وصفي کښې اختلاف: په لومړنیو دریو ډولونو کښې اګر که فقهاء کرام جزئي اختلافات لري لیکن په اصولي توګه باندې ټول متفق دي البته په استصحاب وصفي کښې اختلاف زیات دی۔

د مالکیانو او احنافو په نزد استصحاب وصفي د یوه امر په دفع کولو کښې مفید دی لیکن کوم امر نه شي ثابتولی۔

مطلب دا دی چه کوم حقوق او ذمه واری له اول څخه ثابت شوي وي هغه نه ختمیږي او نوي ذمه واری نه عاید کیږي۔ مثلا یو سړی مفقود الخبر یعني ورک دی نو ښځه به ئې تر هغه وخته پورې په نکاح کښې پاتې وي چه تر څو پورې ئې په فوت کیدو باندې کوم دلیل قائم شوی نه وي۔ او یا عدالت د حالاتو او شواهدو په رڼا کښې د مرینې نتیجې ته نه وي رسیدلی۔ البته که چېرته یو څوك وصیت ورته وکړي یا مورث وفات شي نو هغه ته په میراث کښې برخه نه ور رسیږي او نه به د وصیت حقدار وي څکه چه دا نوي ذمه واري ده چه کومه چه په ده باندې نه عائده کیږي۔

لیکن شافعیانو او حنبلیانو دا ډول استصحاب هم په دفع او ثبوت دواړو کښې مؤثر بولي نو د دې لپاره د هغوی په نزد مفقود الخبر به د خپلو املاکو هم مالك وي او د وراثت او وصیت په هم مالك وي۔

مصالح مُرسله

په اسلامي فقه کښې مصالح مرسله هم د ماخوذ په توګه ذکر کیږي چه استصلاح هم ورته ویل کیږي چه په هغه کښې یواځې ضرورت او مصلحت د بنیاد د جوړیدو په صورت کښې د مسائلو استنباط کیږي۔

﴿۱﴾ **تعریف:** علامه شاطبي ئې په الموافقات کښې تعریف دا سې ذکر کړی دی۔

المصالح المرسلة و هی التی له یشهد لها اصل با لاعتبار فی الشرع و لا با لالغاء و ان کانت علی سنن المصالح و تلقها العقول با لقبول. (الموافقات ج ۱، ص ۳۹، فصل)

"مصالح مرسله هغه ده چه د معتبر والي لپاره شرعا نه اصل ګواهي وکړي او نه ئې لغو وبولي بلکه یواځې د مصالحو په توګه وي او عقل ئې هم قبول کړي"۔

﴿۲﴾ دوهم تعریف ئې دا سې شوی دی:

المصالح المرسلة و هی التی لم یشهد لها اصل شرعی من نص او اجماع لا با لاعتبار و لا بالغاء. (منهاج الاصول)

"مصالح مرسله هغه ده چه شرعي اصل که نص (قرآن او سنت) وي او که اجماع، نه د هغې د معتبر والي ګواهي وکړي او نه ئې لغو کړي"۔

د مصالح مرسله شرائط: مصالح مرسله د اسلامي فقهي هلته ماخذ جوړیدلی شي کله چه په هغې کښې لاندینې شرائط موجود وي۔

﴿۱﴾ چه مصالح له هغو مصالحو سره مشابه وي چه شارع علیه السلام اعتبار ورکړی وي۔

﴿۲﴾ چه د هغو مصالحو حصول یقیني وي۔

﴿۳﴾ چه په هغو مصالحو کښې عموم وجود ولري او د قوم او ملك د فائدې لپاره وي د کوم خاص سړي یا ډلې لپاره نه وي۔ (الموافقات ج۳، ص۳۷۳، القسم الثاني، المسئله الثامنه)

امام مالکؒ او مصالح مرسله: په ائمهٔ مجتهدینو کښې امام مالك رحمه الله د مسائلو د استنباط لپاره نسبت نورو ائمهٔ کرامو ته له مصالح مُرسله څخه ډیر کار اخیستی دی له دې وجهې دا اصل (ماخذ) د ده خواته منسوب دی۔ اګر که نور ائمه مجتهدین ئې هم له افادیت څخه انکار نه شي کولی او نه ئې انکار کړی دی۔ له دې خبرې څخه د امام غزالي استحسان او استصلاح په موهومو دلائلو کښې شمارول هم بې ځایه او بې محله پاتې کیږي ځکه چه نور ائمه مجتهدین هم له مصالح مرسله څخه خامخا تر یوه عنوان لاندې د ضرورت په خاطر کار اخیستی دی۔

له دې ماخذ څخه پرته نور ماخذونه لکه شرائع من قبلنا، تعامل، اقوال صحابهؓ، مُلکي قانون، ذرائع، تعامل اهل مدینه او دا سې نور هم شته۔

د اسلام فقهاوو د فقه د تدوین لپاره دا ماخذونه بې بنیاده ګرځولي دي لیکن د غور او خوض له کولو څخه وروسته دا ټول ماخذونه د هغو څلورو بنیادي اصولو لاندې داخلیږي چه په لومړي سر کښې یاد شول لکه قرآن، حدیث، اجماع او قیاس۔ او بیا له زیات غور او فکر کولو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

څخه وروسته دا څلور ماخذونه هم یو اخي د دوو یعني قرآن او سنتو لاندي د اخلیږي.

مونږ دلته په دي مقدمي کښي په لنډه توګه د دغو یادونه وکړه. د تفصیل لپاره د نورو اوردو کتابونو مطالعه ضروري ده. د امت علماوو په دغو باندي مستقل کتابونه لیکلي دي.

د فقه د ذخیري وینا له دغو ماخذونو څخه تر اوسه پورې چه څومره مسائل مستنبط شوي دي او د فقهي په کتابونو کښي لیکل شوي او ذخیره شوي دي نو د اسلامي فقهي د کتابونو دا ذخیره په دري ډوله ده. لومړی متون، دوهم شروح، دریم فتاوی.

فتاوی د هغو حوادثو او واقعاتو د حل مجموعه ده چه په مختلفو حالاتو او زمانو کښي د امت د علماوو په وراندي د پوښتنې او سوال په شکل کښي وړاندي شوي دي او هغود دغو ماخذونو لاندي د حل په پلټلو سره د امت مخته وړاندي کړي دي.

دي حل ته فتوی، مجموعي ته ئې فتاوی، حل کوونکي ته ئې مفتي او حل غوښتونکي ته ئې مستفتي ویل کیږي په د اسي حال کښي چه دا عمل د افتاء په نامه سره هم یادیږي.

لکه څرنګه چه فتاوی حقانیه هم د دغو ماخذونو له جملي څخه دی د دي لپاره اوس مونږ د فتوی او افتاء لغوي او اصطلاحي تعریف، آداب او د اسي نور ئې ذکر کوو.

د فتـــوی لغوي معنی

د لغت له مخي فتوی په دوه ډوله لوستل کیږي. لومړی د فاء په زور سره الفتوی او دوهم د فاء په پیښ سره یعني الفُتوی. لیکن لومړنی قول ډیر صحیح دی. د مصباح المنیر د ص۴۶۲ له عبارت څخه څرګندیږي چه د فاء پیښ یا ضمه صحیح نه ده او په اصل کښي فاء فتحه لري. د قاموس مصنف دواړه صحیح بللي دي په د اسي حال کښي چه نورو محققینو لیکلي دي چه: ان القیا با لیاء لا یکون الاّ مضمومة و ان الفتوی با لواو لا تکون الا مفتوحة. (المصباح ج۱، ص۱۵) "یعني د فتوی استعمال چه کله له یا سره وي نو مضموم الفاء به وي او کله چه په واو سره وي نو مفتوح الفاء به وي".

په عربي ژبه کښي د فتوی په ځای فتیا زیات استعمالیږي لیکن معنی او مقصد ئې یو دی. لکه چه ابن منظور په لسان العرب کښي لیکلي دي چه: الفتوی و الفیا اسمان یوضعان من موضع الافتاء الا ان لفظه الفتیا اکثر استعمالا فی کلام العرب من لفظة الفتوی الخ. (لسان العرب ج۵، ص۲۰) لیکن استعمال د دواړو صحیح دی. د فتوی جمع الفتاویٰ او الفتاوی راځي. (مصباح اللغت ص۶۱۸) اګر که د مصباح المنیر مصنف په زیر د واو یعني الفتاویٰ اصل ګڼلی دی او په فتح یعني زور د واو سره یو اځي د تخفیف لپاره جائز ویلي دي لیکن نن صبا عموما په فتحه د واو سره لوستل کیږي.

د اشتقاق مادہ: د فتوی په اشتقاق کښي اختلاف دی. د ځینو په نزد فتاوی د "الفَتوّة" څخه اخیستل شوی دی چه کرم، سخاوت، مروّت او زور آوري ته وایي. نو فتوی ته هم فتوی ځکه وایي چه مفتي د خپل سخاوت، مروت او خپل عالمانه قوت څخه کار اخلي او یوه ديني مسئله حل کوي په د اسي حال کښي چه د ځینو په نزد فتوی په اصل کښي د الفتی څخه اخیستل شوی دی چه معنی ئې دی الثابت القوي. یو مفتي چونکه مسائلو ته پخپلو دلائلو سره قوت او ثبوت مهیا کوي نو د دي لپاره ګواکه د مدلل ثبوت لرونکی ځواب دی.

علامه ابن عابدین رحمه الله فرمایي: الفتوی مشتقه من الفتی و هو الشّاب القوی و سمیت به لان المفتی یقوی السائل بجواب حادثة. (مقدمه رد المحتار ج۱، ص۷۲)

الافتاء: افتاء په لغت کښي هو الجواب لای السؤال کان سواء کان متعلقا با لاحکام الشرعیة او بغیرها من المعاملات الاخرٰی الدینیوية المحضة. (المصباح ج۱، ص۱۵)

یعني فتوی د پوښتنې ځواب ورکولو ته وایي. سوال که د شرعي احکامو په اړه وي یا د کوم دنیوي کار په اړه وي. لکه څرنګه چه د قرآنکریم ارشاد دی چه: یُوْسُفُ اَیُّهَا الصِّدِّیْقُ اَفْتِنَا فِیْ سَبْعِ بَقَرَاتٍ (سورة یوسف آیت ۴۳) او د عزیز مصر خپلو وزیرانو ته د اسي ویل چه یٰاَیُّهَا الْمَلَاُ اَفْتُوْنِیْ فِیْ رُؤْیَایَ (سورة یوسف آیت ۴۳) په دغو دواړو آیتونو کښي د دنیاوي امورو په باره کښي سوال ته فتوی ویل شوي دي.

امام رازي رحمه الله د افتی د اتو معناوو په بیانولو سره فرمایي "معنی الافتاء اظهار المشکل،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

لیکن امام رازيؒ په نزد فتوی او فتیا دواړه د افتاء په ځای استعمالیږي. په دې بنا باندې مفتي ته له دې وجهې مفتي ویل کیږي چه "کانه یفوی بیانه ما اشکل و یصیل فویا فتیا". (البشریٰ لاصول الفتاء ص ۷، من تفسیر کبیر، سورت النساء)

امام راغب اصفهاني فرمايي: "الفتیا و الفتوی، الجواب عما اشکل من الاحکام" (مفردات ص ۳۷۳، کتاب الفاء)

نو گوا که فتوی د شرعي مسئلې هغه حل ته ویل کیږي او مفتي حل کوونکی ته وائي او مستفتي هغه سوال کوونکی دی چه د خپل مشکل د حل کولو لپاره له مفتي څخه سوال کوي.

د افتاء اصطلاحي تعریف: محققینو علماوو د افتاء اصطلاحي تعریف داسي کړی دی. هو الاخبار بحکم الله تعالی بمقتضی الادلة الشرعیة عن مسئال عنه فی امر نازل علی جهة العموم و الشمول لا علی وجه الالزام. (المصباح شرح اصول الفتاء ج ۱، ص ۱۶)

څینو نې د لسي تعریف کړی دی: هو بیان حکم الله تعالی بمقتضی الادلة الشرعیة علی جهة العموم و الشمول. (الاساس الشرعی و القانونی ص ۱۲۸)

علامه قرافيؒ ليکي: اخبار حکم الله تعالی فی الالزام و الاباحة. (الفروق ج ٤، ص ۵۳)

ليکن د دې ټولو تعریفاتو حاصل دا دی چه "د الله تعالی د احکاماتو ور ښوول".

د افتاء لطائف: علامه عبد النبي احمد نګرؒ په دستور العلماء کښي د فتوی په سلسلي کښي اوه اهمي نکتي بیان کړي دي کوم چه یو مفتي نې باید خپلې مخې ته کښیږدي.

﴿۱﴾ افتاء چه په اصل کښي له فی څخه اخیستل شوی دی په اعتبار د ثلاثي مجرد له غیر متصرف افعالو څخه دی. په دې کښي دې ته اشاره شوې ده چه یو مفتي په بنیادي اصولو او نصوصو کښي یو ډول تصرف هم نه شي کولی البته په فروعاتو کښي تصرف کولی شي.

﴿۲﴾ افتاء یو متعدي فعل دی نو د دې لپاره د مفتي علم باید هم متعدي وي.

﴿۳﴾ افتاء د افعال له باب څخه ده چه د ثلاثي مزید فیه په بابونو کښي اولنی باب دی نو د دې لپاره په دې کښي دا عبرت دی چه کوم سړی د افتاء درجې ته ورسیږي نو د هغه مخې ته د کامیابۍ نور بابونه هم خلاصیږي.

﴿٤﴾ د مفتي لپاره مناسبه ده چه د فتوت خاوند وي ځکه چه فتوی او فتوت تر منځ اخوت دی. نو مفتي به نه د فتوی له پوښتونکي څخه هیڅ ډول طمع یا لالچ نه کوي او نه د فتوی له کثرت څخه د کوم ډول ملال (ستړي) او بیزاري اظهار کوي.

﴿۵﴾ د افتاء په اول او آخر کښي الف دی چه په دې کښي دې خبرې ته اشاره شوې ده چه مفتي ته له ابتداء څخه تر انتهاء پورې د دیني امورو په باره کښي د استقامت او صداقت پیکر وي.

﴿۶﴾ افتاء په اعتبار د عدد ابجد سره نې قیمت ۴۸۲ دی چه په دې کښي دې خبرې ته اشاره ده چه له مفتي سره به د اصولو او فروعو د کتابونو تعداد له دې څخه کم نه وي. چنانچه د تفحص او مطالعې څخه وروسته محققین دې نتیجې ته رسیدلي دي چه د ظاهر الروایه کتابونه هم د

افتاء له عدد دي قیمت (۴۸۲) سره برابر دي.

﴿۷﴾ په افتاء کښي پنځه حروف دي چه اشاره نې دي ته ده چه مفتي به د ظاهر الروایه په پنځو کتابونو باندې د نظر درلودو څخه پرته د اسلام د پنځو ارکانو هم پاملرنه کوي. (دائره المعارف اردو، ج ۱۵، ص ۱۴۰)

فتاوی د نبويﷺ په دور کښي: فتوی او افتاء کومه نوې خبره نه ده بلکه تاریخي دور نې له مخکښینې زمانې څخه را روان دی. د رسول اللهﷺ په زمانې کښي د مسائلو حل مخامخ د ده له ذات اقدس سره ترلی وو کله به چه صحابه کرامو رضی الله عنهم اجمعین ته کومه مسئله پیښیده له نو د نبوت دربار ته به حاضریدل او پوښتنې به نې کولې. او حضورﷺ د وحی په ذریعې سره او یا به نې کله کله د ذاتي اجتهاد له مخې هغه مسئلې حل کولې. ګوا که چه حضورﷺ پخپله د قرآن کریم د ورښوولو تر څنګ د قانون سازۍ، فتاوی، قضاء او د لسي نور فرائض نې هم سر ته رسول. نو د دې لپاره د ده ﷺ په مبارکې زمانې کښي نه باقاعده ترتیب موجود وو او نه نې هغه ته ضرورت محسوس کیده. لیکن له دې سره سره د ده فیصلې او فتواوې په عمومي توګه د یوه دستور او اصول په شکل کښي وي. د دې لپاره څینو صحابه کرامو هغه یادې کړې وي چه بې شمیره مثالونه نې د حدیثو په کتابونو کښي موجود دي د مثال په توګه:

﴿۱﴾ ده مبارکﷺ د سود او ربو د تعین او پیژندنې او د متفق الاجناسو شیانو په یوه او بل باندې د بیع لپاره د شپږ ګونې شیانو په باره کښي وفرمایل: الحنطة با لحنطة و الشعیر با لشعیر و الذهب با لذهب و الفضة با لفضة و الملح با لملح و التمر با لتمر مثلا بمثل یداً بید و الفضل ربو. (مشکوة ص ۲۴۴، باب الربو)

دا حدیث اګر که په بنکاره توګه د شپږو شیانو د بیع په باره کښي حکم بیانوي چه د دغو شیانو لاس په لاس او برابر برابر اخیستل او پلورل جائز دي لیکن د غور او فکر له کولو وروسته څرګندیږي چه په دې حدیث کښي د هر همجنس شي تجارت پخپل منځ کښي په جنس سره د کولو حکم بیان شوی دی.

نو د دې لپاره ابو حنیفه رحمه الله په دې حدیث باندې د ربو د تعین لپاره دا اصل او بنیاد وټاکه چه په کوم شي کښي قدریت او جنسیت وي د هغه د بیع طریقه همدا ده. او که د زیاتوالي ارتکاب پکښي وشي نو هغه به ربوا یعني سود وي.

﴿۲﴾ د حضورﷺ دا مبارک ارشاد دی چه کُلُّ قرض جرّ نفعاً فهو حرام. (مسئلۂ سود از مفتی محمد شفیع)

دا اساسي ځواب هري هغې نفعې ته شامل دی چه قرض ورکوونکی نې له مقروض څخه اخیستل غواړي. که بدني نفع وي او که مالي او یا د قرض په بدل کښي مقروض یو شی رهن اینبی وي او قرض ورکوونکی له هغه څخه یو ډول نفع واخلي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

دا ټول د دې حدیث لاندې راځي۔ دا ډول اساسي څو ابونه په کافي تعداد سره جمع دي۔ د حضور ﷺ دا څو ابونه لکه څرنګه چه د غیر متلو وحی په شکل کښې وو۔ همدارنګه په وحی متلو کښې هم موجود دي لکه:

﴿۱﴾ يَسْئَلُوْنَكَ عَنِ الْمَحِيْضِ قُلْ هُوَ اَذًى فَاعْتَزِلُوا النِّسَآءَ فِي الْمَحِيْضِ (سورة البقرة)

﴿۲﴾ يَسْئَلُوْنَكَ مَاذَا يُنْفِقُوْنَ قُلْ مَا اَنْفَقْتُمْ مِّنْ خَيْرٍ (سورة البقرة)

﴿۳﴾ يَسْئَلُوْنَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ قُلْ فِيْهِمَا اِثْمٌ كَبِيْرٌ وَّمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَاِثْمُهُمَا اَكْبَرُ مِنْ نَّفْعِهِمَا (سورة البقرة)

گوا که د نبي کریم ﷺ څو ابونه د وحی جلي یعني قرآني آیتونو په شکل کښې وو یا د وحی خفي یعني احادیثو غیر متلو په شکل کښې وو۔ لیکن کله کله د حضور ﷺ دا څو ابونه به په اجتهادي صورتونو کښې وو۔ او مسئلې به نې پخپلې رایې حل کولې لیکن وروسته به د قرآنکریم یا وحی غیر متلو په واسطه سره به نې توثیق کیده۔

چنانچه علامه آمدي په الاحکام نومي کتاب کښې د امام شعبي قول را نقل کړی دی چه نبي کریم ﷺ به چه په کومې مسئلې کښې اجتهاد کاوه نو له هغه وروسته به د قرآنکریم یا وحی په ذریعې سره به نې یا توثیق وشو او یا به ېې برته د هغه په خلاف حکم کیده۔ که چېرته به خلاف وو نو ده مبارک ﷺ به هغه اجتهادي مسئله پرېښوده۔

دا ډول ډېر واقعات د احادیثو په کتابونو کښې موجود دي چه چېرته به ده مبارک ﷺ اجتهاد کاوه او ورسته به د الله تعالی له لورې کله د هغه توثیق کیده او مسئله به نې پخپل حال پرېښوده له او کله به نې تردید کیده نو ده مبارک ﷺ به هغه پرېښوده۔ گوا که ده مبارک ﷺ پخپل مبارک ژوند کښې د صحابۂ کرامو مسائل په لومړي ځل کښې د وحی په رنا کښې حل کولې او کله کله به نې اجتهاد هم کاوه۔ پخپل دور کښې به یواځې فتواوې ده مبارک ﷺ ورکولې او صحابۂ کرامو ته به نې د یادولو امر کاوه۔ کوم چه نن صبا د حدیثو د کتابونو په شکل کښې زمونږ په مخکښې موجود دي اگر که ځینې صحابۂ کرامو رضی الله عنهم ته د ده مبارک ﷺ دفتوی ورکولو اجازه ورکړې وه۔

فتوی د صحابۂ کرامؓو په دور کښې: ځینو صحابۂ کرامو رضی الله عنهم د نبي کریم ﷺ په زمانه کښې هم فتواوې ورکولې لکه حضرت ابو بکر صدیق رضی الله عنه او حضرت عمر فاروق رضی الله عنه۔ (الطبقات لابن سعد ج۲، ص۱۱)

امام شعبي فرمایي چه د نبي کریم ﷺ په صحابۂ کرامو رضی الله عنهم کښې له شپږو صحابۂ کرامو څخه نورو صحابۂ کرامؓو علم حاصل کړی دی چه له هغو څخه یو حضرت عمر، حضرت عبد الله ابن مسعود، حضرت زید بن ثابت چه دا دواړه په علم کښې د یوه او بل برابر وو چه ځینو به له ځینو څخه اخذ کاوه۔ او حضرت علي، حضرت ابی بن کعب او حضرت ابو موسی اشعري رضی الله عنهم چه دوی دواړه هم له یوه او بل سره په علم کښې برابر وو او له یو

بل څخه به نې علم حاصلول۔ (طبقات ابن سعد ج۲، ص۱۱)

د مفتیانو صحابۂ کرامؓو اقسام او طبقې: په صحابۂ کرامو کښې چه کومو حضراتو فتواوې ورکولې هغوی په دوه ډوله دي۔

﴿۱﴾ کوم صحابي به چه کوم کار یا خبره له خپلې رایې او اجتهاد څخه کوله او چه کله به هغه خبره تر نبي کریم ﷺ ورسیده او ده مبارک ﷺ به صحابۂ کرام په دي عمل یا فتوی باندې برقرار ساتل او څه ممانعت به نې نه کاوه نو هغه فتوی به حجت وه۔

﴿۲﴾ څو صحابۂ کرامؓو د کوم قول یا کار په باره کښې به چه له نبي کریم ﷺ څخه څه اوریدل او هغه به نې د نقل کولو په صورت کښې خلکو ته بیانول۔ دا حضرات به په دې اساسي فتوی کښې د زړو اتو په توګه وو۔ (اعلام الموقعین ج۲، ص۲۴۳، ص۲۴۴)

چه کله د نبي کریم ﷺ وصال وشو یعني رحلت نې وکړ نو د علامه ابن قیمؒ په قول په ټولو صحابه کرامؓو کښې ۱۳۰ یا ۱۶۰ صحابه وؓو فتواوې ورکولې لیکن د هغو هم درې طبقې وې لکه:

﴿۱﴾ مکثرین: یعني هغه صحابۂ چه ډېرې ډېرې فتواوې به نې ورکولې۔

﴿۲﴾ متوسطین: یعني هغه صحابۂ چه کمې فتواوې به نې ورکولې۔

﴿۳﴾ مقلّلین: هغه صحابۂ چه ډېرې کمې فتواوې به نې ورکولې۔

مکثرین فقهاء صحابۂ کرامؓ اوه کسان وو چه له حضرت عمر، حضرت علي ابن ابي طالب، حضرت عبد الله ابن مسعود، ام المؤمنین حضرت عائشه صدیقه، حضرت زید بن ثابت، حضرت عبد الله بن عباس او حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهم اجمعین څخه عبارت دي۔

علامه ابن حزمؒ فرمایي چه ممکنه ده چه د دغو حضراتو فتواوې چه چېرته یو ځای شي نو د هر یوه له فتواوو څخه یو ضخیم کتاب جوړېږي۔

امام ابو بکر محمد بن موسی بن یعقوبؒ د حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنهما فتواوې په شلو جلدو کتاب کښې یو ځای کړي دي۔

د متوسطینو تعداد له مکثرینو څخه زیات دی چه تر دیارلسو پورې رسېږي او له حضرت ابو بکر صدیق، حضرت ام سلمه، حضرت انس بن مالك، حضرت ابو سعید خدري، حضرت ابو هریره، حضرت عثمان بن عفان، حضرت عبد الله بن عمرو بن العاص، حضرت عبد الله بن زبیر، حضرت ابو موسی اشعري، حضرت سعد بن ابي وقاص، حضرت سلمان فارسي، حضرت جابر بن عبد الله او حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنهم اجمعین څخه عبارت دي۔

علامه ابن قیمؒ فرمایي چه که چېرته د دغو حضراتو فتواوې جمع کړی شي نو د هر یوه له فتواوو څخه یو یو جلد کتاب جوړېږي۔

ځینې علماء کرام په دغو صحابۂ کرامو رضی الله عنهم کښې حضرت طلحه، حضرت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

دا ټول د دې حدیث لاندې راځي. دا ډول اساسي خوابونه په کافي تعداد سره جمع دي۔ د حضور ﷺ دا خوابونه لکه څرنګه چه د غیر متلو وحی په شکل کښې وو۔ همدارنګه په وحی متلو کښې هم موجود دي لکه:

﴿۱﴾ يَسْئَلُونَكَ عَنِ الْمَحِيضِ قُلْ هُوَ أَذًى فَاعْتَزِلُوا النِّسَاءَ فِي الْمَحِيضِ (سورة البقرة)

﴿۲﴾ يَسْئَلُونَكَ مَاذَا يُنفِقُونَ قُلْ مَا أَنفَقْتُم مِّنْ خَيْرٍ (سورة البقرة)

﴿۳﴾ يَسْئَلُونَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ قُلْ فِيهِمَا إِثْمٌ كَبِيرٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَإِثْمُهُمَا أَكْبَرُ مِن نَّفْعِهِمَا. (سورة البقرة)

گوا که د نبي کریم ﷺ خوابونه د وحی جلي یعني قرآني آیتونو په شکل کښې وو یا د وحی خفي یعني احادیثو غیر متلو په شکل کښې وو۔ لیکن کله کله د حضور ﷺ دا خوابونه به په اجتهادي صورتونو کښې وو۔ او مسئلې به ئې پخپلې رایې حل کولې لیکن وروسته به د قرآنکریم یا وحی غیر متلو په وسیله سره به ئې توثیق کیده۔

چنانچه علامه آمدي په الاحکام نومي کتاب کښې د امام شعبي قول را نقل کړی دی چه نبي کریم ﷺ به چه په کومې مسئلې کښې اجتهاد کاوه نو له هغه وروسته به د قرآنکریم یا وحی په ذریعې سره به ئې یا توثیق وشو او یا به ئې بیرته د هغه په خلاف حکم کیده۔ که چیرته به خلاف وو نو ده مبارک ﷺ به هغه اجتهادي مسئله پریښوده۔

دا ډول ډیر واقعات د احادیثو په کتابونو کښې موجود دي چه چیرته به ده مبارک ﷺ اجتهاد کاوه او وروسته به د الله تعالی له لوري کله د هغه توثیق کیده او مسئله به ئې پخپل حال پریښودله او کله به ئې تردید کیده نو ده مبارک ﷺ به هغه پریښوده۔ گوا که ده مبارک ﷺ پخپل مبارک ژوند کښې د صحابۂ کرامو مسائل په لومړي څل کښې د وحی په رنا کښې حل کولې او کله کله به ئې اجتهاد هم کاوه۔ پخپل دور کښې به یواځې فتواوې ده مبارک ﷺ ورکولې او صحابۂ کرامو ته به ئې د یادولو امر کاوه۔ کوم چه نن صبا د حدیثو د کتابونو په شکل کښې زمونږ په مخکښې موجود دي اګر که ځینې صحابۂ کرامو رضی الله عنهم ته د ده مبارک ﷺ دفتوی ورکولو اجازه ورکړې وه۔

فتوی د صحابۂ کرامو په دور کښې: ځینو صحابۂ کرامو رضی الله عنهم د نبي کریم ﷺ په زمانه کښې هم فتواوې ورکولې لکه حضرت ابو بکر صدیق رضی الله عنه او حضرت عمر فاروق رضی الله عنه۔ (الطبقات لابن سعد ج۲، ص۱۱)

امام شعبي فرمایي چه د نبي کریم ﷺ په صحابۂ کرامو رضی الله عنهم کښې له شپږو صحابۂ کرامو څخه نورو صحابۂ کرامو علم حاصل کړی دی چه له هغو څخه یو حضرت عمر، حضرت عبد الله ابن مسعود، حضرت زید بن ثابت چه دا دواړه په علم کښې د یوه او بل برابر وو چه ځینو به له ځینو څخه اخذ کاوه۔ او حضرت علي، حضرت ابی بن کعب او حضرت ابو موسی اشعري رضی الله عنهم چه دوی دواړه هم له یوه او بل سره په علم کښې برابر وو او له یو

بل څخه به ئې علم حاصلول۔ (طبقات ابن سعد ج۲، ص۱۱)

د مختلفو صحابۂ کرامو اقسام او طبقې: په صحابۂ کرامو کښې چه کومو حضراتو فتواوې ورکولې هغوی په دوه ډوله دي۔

﴿۱﴾ کوم صحابي به چه کوم کار یا خبره له خپلې رایې او اجتهاد څخه کوله او چه کله به هغه خبره تر نبي کریم ﷺ ورسیده او ده مبارک ﷺ به صحابۂ کرام په دې عمل یا فتوی باندې برقرار ساتل او څه ممانعت به ئې نه کاوه نو هغه فتوی به حجت وه۔

﴿۲﴾ څو صحابۂ کرامو د کوم قول یا کار په باره کښې به چه له نبي کریم ﷺ څخه څه اوریدل او هغه به ئې د نقل کولو په صورت کښې خلکو ته بیانول۔ دا حضرات به په دې فتوی کښې د زړو اتو په توګه وو۔ (اعلام الموقعین ج۲، ص۲۴۳، ص۲۴۴)

چه کله د نبي کریم ﷺ وصال وشو یعني رحلت ئې وکړ نو د علامه ابن قیم په قول په تولو صحابه کرامو کښې ۱۳۰ یا ۱۶۰ صحابه وو فتواوې ورکولې لیکن د هغو هم درې طبقې وې لکه:

﴿۱﴾ مکثرین: یعني هغه صحابۂ چه ډیرې ډیرې فتواوې به ئې ورکولې۔

﴿۲﴾ متوسطین: یعني هغه صحابۂ چه کمې فتواوې به ئې ورکولې۔

﴿۳﴾ مقلّلین: هغه صحابۂ چه ډیرې کمې فتواوې به ئې ورکولې۔

مکثرین فقهاء صحابۂ کرامو اوه کسان وو چه له حضرت عمر، حضرت علي ابن ابي طالب، حضرت عبد الله ابن مسعود، ام المؤمنین حضرت عائشه صدیقه، حضرت زید بن ثابت، حضرت عبد الله بن عباس او حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهم اجمعین څخه عبارت دي۔

علامه ابن حزم فرمایي چه ممکنه ده چه د دغو حضراتو فتواوې که چیرته یو ځای شي نو د هر یوه له فتواوو څخه یو ضخیم کتاب جوړیږي۔

امام ابو بکر محمد بن موسی بن یعقوب د حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنهما فتواوې په شلو جلدو کتاب کښې یو ځای کړي دي۔

د متوسطینو تعداد له مکثرینو څخه زیات دی چه تر دیارلسو پورې رسیږي او له حضرت ابو بکر صدیق، حضرت ام سلمه، حضرت انس بن مالك، حضرت ابو سعید خدري، حضرت ابو هریره، حضرت عثمان بن عفان، حضرت عبد الله بن عمرو بن العاص، حضرت عبد الله بن زبیر، حضرت ابو موسی اشعري، حضرت سعد بن ابي وقاص، حضرت سلمان فارسي، حضرت جابر بن عبد الله او حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنهم اجمعین څخه عبارت دي۔

علامه ابن قیم فرمایي چه که چیرته د دغو حضراتو فتواوې جمع کړی شي نو د هر یوه له فتواوو څخه یو یو جلد کتاب جوړیږي۔

ځینې علماء کرام په دغو صحابۂ کرامو رضی الله عنهم کښې حضرت طلحه، حضرت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

زبیر، حضرت عبد الرحمن بن عوف، حضرت عمران بن حصین، حضرت ابو بکر، حضرت عباده بن صامت او حضرت معاویه بن ابي سفیان رضی الله عنهم شماروي.

په مقلّلینو کښي له دغو صحابۂ کرامو برسیره نور صحابۂ کرامؓ هم شامل دي لیکن له دغو صحابۂ کرامو څخه زیاتي فتواوي نه دي نقل شوي. بو اځي د ضرورت په وخت کښي یوه یا دوه مسئلي یا تر دي د زیاتو مسائلو په باره کښي څه فتواوي راغلي دي. که چېرته د دوی تولي فتواوي را جمع شي نو یو کوچنی کتاب ترې جوړېږي. دا صحابۂ کرامو له حضرت ابو درداء، حضرت ابو البشر، حضرت ابو سلمه المخدومي، حضرت ابو عبیده بن الجراح، حضرت سعد بن زید، حضرات حسن و حسین د حضرت علي ز امن، حضرت نعمان بن بشیر، حضرت ابی بن کعب، حضرت ابو ایوب انصاري، حضرت ابو طلحه، حضرت جعفر بن ابي طالب، حضرت براء بن عازب، حضرت لسامه بن زید، حضرت حفصه، حضرت صفیه، حضرت ام حبیبه، حضرت اسماء بنت ابي بکر او د اسي نور رضی الله عنهم اجمعین عبارت دي. (اعلام الموقعین ج۱، ص۱۳/۱۲)

نو ګوا که د نبي کریم ﷺ له رحلت څخه وروته صحابۂ کرامو رضی الله عنهم د دین د نورو شعبو تر څنګ دا ضروري او اهم کار هم پر مخ بیول او په خپرونې او ترویج کښي ئې په محنت سره کارونه وکړل چه له وجهي ئې د دین دا شعبه تر ننه پورې ژوندۍ ده.

فتوی د تابعینؒ په دور کښي: د حضرت عثمان غني رضی الله عنه له شهادت څخه وروسته د فتوی کار حضرت عبد الله ابن عباس، حضرت عبد الله بن عمر، حضرت ابو سعید خدري، حضرت ابو هریره، او د حضرت جابر بن عبد الله رضی الله عنهم ته وسپارل شو. په دغو حضراتو کښي آخري صحابي چه په لاس کښي ئې دا منصب باقي پاتي شو حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنه وو. د دغو حضراتو په لاس لویو لویو تابعینو چه په هغو کښي فقهاء سبعه او د اسي نور حضرات هم شامل دي د فتوی تربیه حاصله کړه. (المصباح في رسم المفتي و مناهج الافتاء، ج۱، ص۶۲)

دا حضرات د خپل وخت لوی لوی مفتیان او قاضیان ګنل کیدل او د دوی فتواوي نن صبا د دلیل په توګه وړاندې کیږي.

چنانچه د صحابۂ کـــــرامؓ له زماني وروسته دا نبوي ﷺ منصب تابعینو حضراتؒ په لاس کښي واخیست او الحمد لله دا سلسله قطعه نه شوه. دغو حضراتو د نبوي ﷺ او الحمد لله دا سلسله تر اوسه بنده شوي نه ده. دا حضراتو د نبوي ګلزار باغواني پخپله غـــــاړه واخیسته او دا کار ئې په مختلفو بنارونو کښي کوم چه مسلمانانو د خپلو فتوحاتو په زماني کښي آباد کړي وو شروع کړ.

د تابعینو فقهاوو طبقې: تابعین فقهاء کرام په دوه قسمه دي.

﴿۱﴾ هغه تابعین فقهاء کرامؒ چه خپل ټول وخت ئې د حدیثو په روایت کښي مصرف کړی وو او د فقهي مسائلو استنباط ته ئې کومه توجه نه ورکوله او هغه مسائل چه په قرآن او حدیثو کښي په څرګنده توګه ذکر وو هغو ته ئې ډیره توجه ورکوله دغو حضراتوؒ په رأیي او قیاس کښي مشغولیت مکروه ګڼل او د فتوی او مسائلو له استنباط څخه پرته له ضرورت څخه به په ویره او حراس کښي وو. لیکن بیا هم له دغو ئې خلاصون مشکل وو. همدا ارنګه ځینو کبارو صحابۂ کرامو رضی الله عنهم د کومې واقعې له پیښیدو څخه مخکښي د دې حل نه خوښاوه. لکه څرنګه چه له حضرت معاذ ابن جبل رضی الله عنه څخه روایت دی چه "و لا تخلّوا بالثلاثة قبل یروله".

همدا ارنګه حضرت عمر، حضرت علي، حضرت ابن عباس او حضرت عبد الله ابن مسعود رضی الله تعالی عنهم څخه مخکښي د حادثې له نزول څخه مخکښي په هغې باندې د تکلم او بحث کولو د کراهیت اقوال مروي دي.

﴿۲﴾ دوهم هغه تابعین فقهاؒ وو کومو چه خپل ځانونه ئې د فقهي او فتوی لیکلو لپاره وقف کړي وو. دغو حضراتو د حدیثو په روایاتو او آثارو باندې اکتفاء نه کوله بلکه د هرې مسئلې په حل کښي ئې له اجتهاد څخه هم کار اخیست او د راتلونکو واقعاتو د حل کوششونه به ئې هم کول او ځینو خو به فقهي ته کتابي شکل هم ورکاوه لکه امام شعبي، امام مکحول او د اسي نور. (اصول افتاء ص۷۰۶)

لکه څرنګه چه دا حضرات په مختلفو بنارونو کښي اوسیدل د دې لپاره هغوی د هم هغو ځایونو امامان ګنل کیدل. چنانچه د نبي کریم ﷺ په مدینه منوره کښي تابعین مفتیان سعید بن المسیب، عروه بن زبیر، قاسم بن محمد، عبید الله بن عتبه بن مسعود، خارجه بن زید، ابو بکر بن عبد الرحمن بن حارث بن هشام او سلیمان بن یسار رحمهم الله د فقهاء سبعه په نامه سره موصوف دي. د یوه شاعر په قول:

اذا قیل من فی العلم سبعة ابحر

روایتهم لیست عن العلم خارجة

فقل هو عبید الله، عروه، قاسم

سعید، ابو بکر، سلیمان و خارجة

له دغو حضراتو برسیره ابان بن عثمان، سالم بن عبد الله، نافع رحمهم الله او د اسي نورو به په مدیني منوري کښي فتواوي ورکولې. (اعلام الموقعین ج۱، ص۲۴)

په مکه مکرمه کښي عطاء بن ابي رباح، طاوس بن کیسان، مجاهد بن جبیر، عبید بن عمیر او د اسي نور رحمهم الله اهل فتوی وو. (اعلام الموقعین ج۱، ص۲۵)

عمرو بن سلمه الجرمي، ابو مریم الحنفي، کعب بن اسود، حسن بصري او د اسي نور رحمهم الله د بصري مفتیان وو. له دوی وروسته ایوب السختیاني، سلیمان التیمي، قاسم بن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

ربیعه او د اسي نورو رحمهم الله په د فتوی ورکولو کار کاوه او د دوی فتواوي به چلیدلي.
له صحابۂ کرامؓو وروسته علقمه، بن قیس الهمد اني، مسروق بن اجدع، شریح بن الحارث القاضي، سلیمان بن ربیعه الباهلي، سوید بن غفله، حارث بن قیس الجعفي او د اسي نورو ډیرو علماوو رحمهم الله په کوفي کښي خلکو ته د مسائلو د حل په هکله فتواوي ورکولي. له دوی وروسته ابراهیم النخعي، عامر الشعبي، سعید بن جبیر او د اسي نورو رحمهم الله په فتواوي ورکولي، له دوی وروسته امام اعظم ابو حنیفه، قاسم بن معن، سفیان الثوري او د اسي نورو رحمهم الله په فتواوي ورکولي. (اعلام الموقعین ج۱، ص۲۶)

ابو ادریس الخولاني، شرجیل بن سمط، عبد الله بن ابي زکریا الخزاعي، قبیصه بن ذویب الخزاعي او د اسي نور رحمهم الله د شام د ښار له مفتیانو څخه وو.

یزید بن ابي حبیب، بکیر بن عبد الله بن الشجع. او له دوی وروسته عمرو بن الحارث، لیث بن سعد، عبید الله بن ابي جعفر، او د اسي نور ځینو فقهاوو رحمهم الله په مصر کښي د فتوی ورکولو عهدي په غاړه درلودي.

مطرف بن مازن قاضي صنعا، عبد الرزاق بن همام، هشام بن یوسف او د اسي نورو رحمهم الله به په یمن کښي د فتواوو د ورکولو اهل وو.

علامه ابن قیم رحمه الله فرمایي چه خلیفه منصور چه کله د بغداد ښار جوړ کړ نو جید ائمه کرام، فقهاء عظام او په ګڼ تعداد سره محدثین نې راوبلل چه په هغو کښي ابو عبید، قاسم ابن سلام، ابو ثور ابراهیم بن خالد الکلبي او د اسي نور رحمهم الله شامل دي. (اعلام الموقعین ج۱، ص۲۶ تا ۲۹)

د مفتي شـــــرائط او آداب

د افتاء په مسند باندې د کښیناستونکو لپاره څو ضروري شرائط دي لکه: مفتي باید د قرآن او سنت ماهر عالم وي د دي لپاره د غیر عالم لپاره د فتوی ورکول شرعا درست نه دي. دي خبري په نظر کولو سره امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمایي: لا یجوز الفتیا الا لرجل عالم بالکتاب والسنة. (اعلام الموقعین ج۲، ص۳۵۲)

لومړی مفتي باید مسلمان وي، دوهم مفتي باید عادل، دیندار او له خدای څخه ویریدونکی وي. د فاسق او فاجر فتوی ورکول ممنوع دي. البته د دي لپاره ظاهري عدالت کافي دی او باطني فسق ورته تاوان نه دی. دریم د مفتي عاقل والی، بالغ والی هم ضروري دي. علامه سید طحطاوي رحمه الله فرمایي:

شرط المفتی اسلامه و عدالته و لزم منها بلوغه و عقله فیردّ فتوی الفاسق و الکافر و غیر المکلف. (طحطاوی علی الدر المختار ج۴، ص۱۷۵)

"د مفتي لپاره ل[illegible] عدل شرط دی او د فتوی لپاره د هغه بالغ والی او عاقل والی

لازم دي. پس کافر، فاسق او غیر مکلف (نابالغ) فتوی به مردوده وي".
البته په دي کښي د عمر کوم قید نشته، که د څوانۍ په عمر کښي وي یا په پاخه عمر کښي وي. لیکن بیا هم علمي رسوخ یو لازمي شی دی.
د معین الحکام مصنف فرمایي:

و لا یعتبر السن بلا کثرت العدد لان الاصغر الواحد قد یوفق للصواب فی حادثة ما لا یوفق الاکبر و الجماعة. (معین الحکام ص ۳۰)

"په فتوی کښي د عمر او د عدد ډیر والی معتبر نه دی د دي لپاره چه د کم عمر سړي لپاره په کومې حادثې کښي د زیات تصویب توفیق وي کوم چه د لوی عمر خاوند ته حاصل نه وي.
همدا وجه ده چه حضرت عمر رضی الله عنه د لویو لویو صحابۂ کرامو په موجود والي کښي هم حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنهما څخه مشوره اخیستله په داسي حال کښي چه عمر ئې ډیر کم وو.
همدارنګه په مفتي کښي بید ار مغزي (زیرک والی)، د ضبط قوت او د اجتهاد د اهل والي غوندې صفاتو شتون هم ضروري دي.
علامه ابن نجیم المصري رحمه الله فرمایي: "و یشترط تیقظه و قوة ضبطه و اهلیة اجتهاده. (البحر الرائق ج۶، ص۲۶۶)

همدارنګه په مفتي کښي د دي خبرې شتون هم ضروري دی چه د اغنیاوو، بادشاهانو، امیرانو او وزیرانو خواته مائل نه وي. د نور الهدی نومي کتاب مصنف فرمایي:

و من شرائط المفتی کون المفتی لا یمیل الی الاغنیاء و اعوان السلطان و الامراء. (فتاوی نور الهدی ص ۱۹۵)

"د مفتي له شرائطو څخه یو دا شرط هم دی چه د مالدارو، وزیرانو او بادشاهانو خوا ته نې میلان نه وي.
د یوه مفتي لپاره دا هم ضروري ده چه د کوم ماهر مفتي شاګرد پاتې شوی وي او د هغه د نګرانۍ لاندې نې د فتوی لیکنې تربیه حاصله کړې وي. (عقود رسم المفتي)
د دي لپاره چه یو اځې د کتاب په مطالعې باندې هم اعتماد کول کافي نه دي بلکه د معتمدو علماء کرامو صحبت ورته لازمي ده په دي شرط چه هغه ته په دي فن کښي مهارت تامه هم حاصله وي او په هغه کښي یوه نفساني ملکه هم موجوده وي. نو د اسي څوک به د فتوی ورکولو اهل وي او که نه وو نو نه به وي.
په یوه مفتي کښي د دور اندیشي د صفت موجودوالی ډیر ضروري دی. علامه ابن عابدین رحمه الله فرمایي:

قلت و هذا شرط لازم فی زماننا و الحاصل ان من غفلته المفتی یلزم ضررٌ عظیمٌ فی هذا الزمان. (رد المحتار ج۴، ص۴۱۸)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

"زه وایم چه په دي زمانې کښې دا شرط د دې لپاره ډیر ضروري دی چه د مفتي د معمولي غوندې غفلت له وجهې د یوه عظیم نقصان د پیدا کیدو امکان وي".

مفتي باید د لوړ کردار، بردباري او نرم خویي خاوند وي.

د مفتي لپاره دا هم لازمي ده چه د خپلې زمانې په عرف او عـــــاد اتو باندې په پوهیږي. د دې لپاره که چېرته یوې خوا ته ظاهر الروایة وي او بلې خوا ته عرف د هغې په خلاف وي نو مفتي به د عـــــرف په پرېښودو سره په ظاهر الروایة باندې فتوی نه شي ورکولی. علامه ابن عابدین رحمه الله فرمایي:

و فی القنیة لیس للمفتی و لا قاضی ان یحکما علی ظاهر المذهب و یترکا العرف و هذا صریح فیما قلنا ان المفتی لا یفتی بخلاف عرف زمانه. (رسم المفتی ص ۴۰)

"په قنیه کښې دي چه مفتي او قاضي په ظاهر مذهب باندې د فیصلې په کولو سره عرف نه شي پرېښودلی او دا زمونږ په خبر کښې په صراحت سره راغلې دي چه بېشکه مفتي د خپلې زمانې د عرف په خلاف فتوی نه شي ورکولی".

بلکه علامه ابن عابدین تر دې پورې لیکلې دي چه:

من جهل باهل زمانه فهو جاهل. (رسم المفتی ص ۴۰)

"چه کوم سړی د خپلې زمانې له عرف څخه خبر نه وي نو هغه جاهل دی".

یعني مفتي به حالاتو ته ګوري د مبتلی به د حالاتو او حیثیت مطابق به آسانه فتوی ورکوي تر څو چه خلك له دین څخه متنفر نه شي. له دې وجهې د مفتي لپاره ضروري ده چه په آساني او رخصت باندې په عمل کولو سره به فتوی ورکوي او د عوامو لپاره به آساني پیدا کوي. شاه ولي الله محدث د هلوي فرمایي:

و فی عمدة الاحکام من کشف البزدوی یستحب للمفتی الاخذ بالرخص تیسرا علی العوام مثل التوضی بماء الحمام و الصلوة فی الاماکن الظاهرة بدون المصلی. (عقد الجید ص ۷۳)

"او په عمده الاحکام کښې د بزدوي مصنف د کشف نومي کتاب څخه منقول دي چه د مفتي لپاره مستحب دي چه په عوامو باندې د آسانۍ په غرض سره په رخصت باندې فتوی ورکړي. مثلا د حمام په اوبو باندې اودس کول او په پاکو ځایونو کښې له مصلی (جای نماز) پرته لمونځ کول".

لیکن کوم خلك چه محتاط او خواص دي هغوی باید په عزیمت باندې عمل وکړي د دې لپاره شاه صاحب فرمایي چه:

و لا یلیق ذلك باصل العزلة بالاخذ بالاحتیاط و العمل بالعزیمة اولی بهم. (عقد الجید ص ۷۳)

"او دا رخصت له ګوشه نشینانو سره نه ښایي بلکه د هغو په حق کښې دا بهتره ده چه د احتیاط پابند وي او په عزیمت باندې عمل وکړي".

له غلطیو څخه ځان ساتل هم د مفتي لپاره ضروري خبره ده. او له کوم مفتي څخه چه

غلطي ډیري کیږي هغه د اعتماد ورنه پاتې کیږي. علامه سید احمد طحطاوي فرمایي:

و ذکر فی الملتقط اذا کان صوابه اکثر من خطاه حل له ان یفتی و ان لم یکن من اهل الاجتهاد. (طحطاوی علی الدر المختار ج۳، ص ۱۷۲)

"او په ملتقط کښې دي چه کله د مفتي ښه کارونه له غلطیو څخه زیات وي نو هغه د فتوی ورکولو اهل دی اګر که د اجتهاد درجې ته نه وي رسیدلی".

که چېرته مفتي مقلد وي نو له تولو څخه زیات باید دا وصف پکښې وي چه د خپل امام مستنبط مسائل او قواعد ورته معلوم او د خپل امام د اسلوب په طریقه مهارت ولري.

علامه سید احمد طحطاوي رحمه الله فرمایي چه مفتي باید نرم خویه، د ښو اخلاقو او خوږ طبعیت خاوند او متواضع وي. تند خویي، سخت طبعي، غرور، تکبر او انانیت د مفتي لپاره سخت د عیب خبره ده. د مفتي لپاره دا هم ضروري ده چه له ښه اطمینان سره ځواب ورکړي تر څو چه پخپله مطمئن نه وي نو له ځواب ورکولو څخه به هم ډډه کوي او له اندازې څخه به ځواب نه ورکوي. همدارنګه که چېرته مفتي مقلد وي نو له کوم کتاب څخه چه ځواب ورکوي نو د هغه کتاب د مصنف حال به ورته معلوم وي او د سوال به په ښه اطمینان ارد زړه په تسلی سره ځواب ورکوي. (رسم المفتي ص۳/۵)

د فتوی ورکولو آداب

﴿۱﴾ د فتوی ورکولو له آدابو څخه یو دا ادب دی چه مفتي به له مذهبي کتابونو څخه د خرګندې جزئیې پلتنه کوي او تر څو چه خرګنده جزئیه نه وي میندلې نو یواځې د کلیاتو او تعلیلاتو له مخې به ځواب نه ورکوي.

﴿۲﴾ البته که چېرته ضرورت پیدا شي یعني له پوره پلتنې او تتبع وروسته هم جزئیه پیدا نه کړي نو په ځواب کښې به دا لیکل مناسب وي چه جزئیه پیدا نه شوه له دې وجهې ځواب د قواعدو له مخې ولیکل شو. د حضرت تهانوي رحمه الله همدا طریقه وه. دی فرمایي: "د قواعدو له مخې ځواب لیکم نو په دې کښې دا احتیاط کوم چه دا ولیکم چه دا ځواب له قواعدو څخه لیکل شوی او جزئیه پیدا نه شوه". (اشرف المعمولات ص۳۲، بحواله تحفه العلماء ج۲، ص۲۳۷)

﴿۳﴾ او مفتي به د داسې هم نه کوي چه یوه جزئیه په یوه کتاب کښې پیدا کړي او په هغې باندې به فتوی ورکوي بلکه په ګڼو کتابونو کښې له کتلو او تحقیق وروسته به فتوی ورکوي. د دې لپاره ممکنه ده چه په دې کتاب کښې کومه غلطي شوې وي لکه د شاتم رسول ﷺ (د رسول الله ﷺ سپکاوی کوونکي) د توبې د قبولیت په باره کښې ډیرو کتابونو د حنفي مذهب له مخې د نه قبولیت خبره لیکلې ده په داسې حال کښې چه د احنافو په نزد ئې توبه قبلیږي. (تحقیق رساله ابن عابدین)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

﴿٤﴾ څواب به د ظاهري عبارت موافق ورکوي اګر که په حقیقت کښې معامله بل ډول وي لیکن دا لیکنه به ورسره کوي چه بنا یه صورت مسئوله یا د صورت مسئوله مطابق څواب دا دی.

﴿٥﴾ مفتي باید څواب په څرګند و، صریحو او چټل شوي ژبې باندې ورکوي. د لغاتو او سختو الفاظو د لیکلو په صورت کښې اصل مقصد تري فوت کیږي. حکیم الامت حضرت تهانوي فرمایي چه "کوم وال درنه وشي د هغه له تکلف پرته پښه څواب باید ورکړي، تاو شوي او سخت الفاظ هیڅکله مه استعمالوی، تکلف او تصنع چه نن صبا د دوهم عادت په توګه را ځرګند شوی دی یا لکل د اخلاص خلاف او ډیر تکلیف ورکوونکي شیان دي". (ملفوظات اشرفیه ص۱۹۸)

﴿٦﴾ کوم مستفتي چه معترض یا معاند (اعتراض کوونکی او ضدي) وي او یواځي د اعتراض او عناد له مخې سوال کوي او د عمل کولو اراده ئې نه وي نو هغه ته باید څواب ورنه کړل شي بلکه له دلسې سړي سره خاموشي (چپتیا) بهتره ده څکه چه د لسې سړي ته څواب ورکول ګټمن نه وي.

حکیم الامت فرمایي چه ضدي سړي ته باید څواب ورنه کړل شي بلکه د څواب ورکولو په ځای خاموشي بهتره ده او د چا چه یواځي اعتراض مقصود وي نو هغو ته باید دا ووایل شي چه پوه شه او لاړ شه. البته که چا پوهنه غوښتنه نو د هغه پوهول په کار دي. (تحفة العلماء ج۲، ص۲۵۲)

﴿٧﴾ په هري مسئلي باندې له فتوی ورکولو څخه ډډه باید وشي بلکه د فتوی څواب به له ډیر غور او فکر وروسته ضروري دی. چه د لسې نه وي چه کله کله فتوی د فساد اتو د را ویښولو ذریعه جوړه شي. که چیرته د مفاسدو خطره وي نو په د لسې حال کښې بیا خاموشي بهتره ده.

حکیم الامت فرمایي چه ډیر مسائل د لسې دي چه پخپل ذات کښې خو صحیح وي لیکن د فتنو او فسادونو خواته مفضي وي چه عوام پرې خبر شي نو آفتونه پرې را پورته کیږي. د دې لپاره د لسې مسائل باید بیان نه شي. ما ډیر ځله ویلي دي چه د دین علم ځینو خلکو ته مُضر (تاوان رسوونکی) وي. نو دلته هم له ضرر څخه خلك بچ کول مقصود دي.

﴿٨﴾ که چیرته یو څوك فتنه انګیزه پوښتنه وکړي لکه د کوم دیني عالم، واعظ یا کوم بل سړي د عقیدې په اړه څه ووایي نو هغه ته به د لسې جواب ورکوی چه د لسې عقیده د کوم دیني عالم یا مسلمان نه وي. که چیرته د نوموړي سړي دا عقیده وي نو هغه به خپله پخپلې ژبې یا د خط په ذریعې سره پوښتنه وکړي. دا طریقه د حکیم الامت د فتوی ورکولو وه. (تحفه العلماء ج۲، ص٤٥٥)

﴿٩﴾ که چیرته فتوی اوږده وي او په یوه کاغذ باندې نه ځایېده نو په بل کاغذ کښې ئې له لیکلو وروسته دواړه کاغذونه مهر کړی تر څو چه د تحریف شك او شبهه پکښې پاتې نه شي.

﴿١٠﴾ باید چه فتوی لنډه او جامعه وي. اوږدوالي ته ئې ضرورت نشته ځکه چه له فتوی څخه د مستفتي غرض د شرعي حکم بیانول وي او کومه مناقشه ئې مقصود نه وي.

﴿١١﴾ بیا هم که چیرته د لنډ والي په وجه سره د مطلوب وضاحت نه کیده نو هلته له اوږدوالي سره فتوی ورکول واجب دي. لکه د کوم سړي د کوم موجب کفر عقیدې په باره کښې پوښتنه وشي نو پرته له شرعي بیني یا اقرار څخه به فتوی نه ورکوی. او همدارنګه که چیرته د دوو معناوو لرونکو الفاظو په باره کښې پوښتنه وشي نو پرته له تفصیل او وضاحت څخه فتوی مه ورکوی. (اصول الدعوه ص۱٦۸، المطلب الرابع الفتوی)

﴿١٢﴾ د فتوی په ورکولو کښې د زمانې او ځای لحاظ کول ضروري دي ځکه چه د زمانې او مکان له وجهې فتوی اکثره بدلیږي خو په دې شرط چه شرعي حکم د کوم خاص ټبار په عرف باندې مبني وي او نوی عرف د شرعي نص مخالف نه وي. یا شرعي حکم په کومې خاصې معنی پورې مبني نه وي او هغه معنی د زمانې له وجې تغیر خوړونکي وي. (اصول الدعوه. ص۱٦۹، المطلب الرابع الفتوی)

﴿١٣﴾ د ضرورت او مصلحت له مخې په فتوی کښې د سختو الفاظو لیکل او په سختی سره فتوی ورکول جائز دي لکه د فتوی له ورکولو څخه وروسته به د لسې لیکي چه په دې خبرې باندې د مسلمانانو اجماع دی او کوم سړی چه د دې خلاف ورزي کوي نو هغه به ګنهګار وي. (اصول الدعوه ص۱۷۰، المطلب الرابع الفتوی)

او که چیرته چا ته د کومې فتوی څواب معلوم نه وي نو په ځرګندو الفاظو دې ووایي چه زه نه پوهیږم د دې لپاره چه "لا ادري" (زه نه پوهیږم) هم نیم علم دی. له امام مالك رحمه الله څخه د ٤٨ مسائلو په باره کښې پوښتنې وشوې نو ده مبارك ۳۲ ځله "لا ادري" ورته ووېل. (اصول الدعوه ص۱۵۹)

﴿١٤﴾ مفتي به د فتوی ورکولو په وخت کښې ځرګنده جزئیه نقل کوي او د هري جزئي په نقل کولو کښې به په معتبرو کتابونو باندې اکتفاء کوي. (معین الحکام ص۳۱)

﴿١٥﴾ مفتي به د فتوی ورکولو په وخت کښې له غیر مشهورو کتابونو د حوالې له ورکولو څخه ډډه کوي البته که چیرته ئې له معتبرو کتابونو څخه تائید شوی وي نو بیا څه پروا نه لري.

و علی هذا تحرم من الکتب الغریبة التی لم تشتهر حتی تظاهر علیها الخواطر و یعلم صحة ما فیها. (معین الحکام ص۳۲)

"په دې بناء باندې له غیر مشهورو کتابونو څخه فتوی ورکول حرام دي تر دې پورې چه عقل قبول کړی نه وي او د هغې د صحیح والي معلومات نه وي شوی.

﴿١٦﴾ د مفتي لپاره ضروري ده چه څواب د استفتاء مطابق ورکړي او له استفتاء څخه د باندې له څواب څخه به ډډه کوي تر څو چه مستفتي ته اصل مقصود په لاس ورشي. (اصول الدعوه ص۱٦۷)

﴿١٧﴾ مفتي چه کله څواب لیکي نو له دلیل سره به څواب لیکي تر څو چه مستفتي ته د زړه سکون او اطمینان حاصل شي.

علامه حافظ ابن القیم رحمه الله فرمایي چه "ان یذکر دلیل الحکم و ماخذه ما امکنه من ذلك. چه مفتي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

به د امکان تر اندازې پورې د ځواب دلیل او د هغه د ماخذ یادونه کوي۔

﴿۱۸﴾ مفتي چه کله د فتوی لیکل شروع کوي نو د صفحې په سر باندې به تسمیه لیکي یا الجواب و باالله التوفیق لیکي او په آخر کښې به والله اعلم و هو الموفق لیکي۔

علامه طحطاوي رحمه الله لیکلی دي چه:

ینبغي ان یکتب عقب جوابه و الله اعلم و قبل یکتب في العقائد۔ و الله الموفق۔ (طحطاوی علی الدر المختار ج۱، ص۴۹)

"د مفتي لپاره مناسب دي چه د ځواب په آخر کښې به و الله اعلم لیکي او که چېرته مسئله په عقائدو پورې اړه ولري نو په آخر کښې به و الله الموفق لیکي"۔

﴿۱۹﴾ مفتي باید چه د ځواب د لیکلو په وخت کښې خپل زړه د خدای خوا ته متوجه کړي او د ډیرې محتاجۍ په صورت کښې به ځان د خدای په حضور کښې ورانده کوي او ډیرې دعا ګانې به کوي۔ یلیق بالمفتي ان یکثر الدعاء۔ (اعلام ج۲، ص۲۷۱)

﴿۲۰﴾ مفتي باید د طبعیت د خرابتیا او د زړه د مشغولتیا په حالت کښې فتوی ورنه کړي لکه د غصې په حالت، د غم او خوښۍ، تکلیف، د خوب د غلبې، د لوږې او تندې په حالت یعنې په هر هغه حالت کښې چه طبعیت له اعتدال او برابرې څخه وتلی وي فتوی ورکول جائز نه دي۔ البته که چېرته له اعتدال څخه وتلی نه وي نو بیا په ځینو داسې حالاتو کښې فتوی ورکول جائز دي۔ (شرح المهذب ج۱، ص۴۶)

﴿۲۱﴾ کومه فتوی چه په ایمان، اقرار یا په دې ډول نورو امورو پورې اړه ولري نو تر ځو پورې چه د لاقط احوال او عرف یا کوم معتبر او معتمد عالم څخه نې چه د دغو الفاظو او عرف ماهر وي پوښتنه نه وي کړي تر هغو پورې به ځواب نه ورکوي۔ (شرح المهذب ج۱، ص۴۶)

﴿۲۲﴾ په فتاوی کښې تساهل حرام دی چه کوم سړی په تساهل کښې مشهور وي نو هغه څخه استفتاء کول هم صحیح نه دي۔ په تساهل کښې دا هم داخل دي چه کما حقه د استفتاء له لیدلو څخه مخکښې د ځواب په لیکلو کښې له بیړې څخه کار واخلي۔ همدارنګه سائل لا سوال نه وي کړی او مفتي په ځواب ورکولو شروع وکړي۔ البته که چېرته سوال مخکښې ورته معلوم وي نو بیا په ځواب ورکولو کښې بیړه صحیح ده۔ همدارنګه په تساهل کښې دا هم شامل دي چه حرامي او مکروه حیلې وپلتي او په دې کښې نې کوم فاسد غرض او مقصد موجود وي۔ (شرح المهذب ج۱، ص۴۶)

﴿۲۳﴾ مفتي چه کله فتوی مکمله کړي نو خپلو همځنګو علماوو او فضلاوو ته نې (اګر که نې خپل شاګردان هم وي) د مشورې په توګه باید ورانده کړي۔ که چېرته څه فرق پکښې وي نو د نرمۍ او انصاف له مخې به له هغو سره بحث او مباحثه کوي او کومه حقه خبره چه مخې ته ورشي نو له تامل پرته به نې قبلوي۔ (مقدمه شرح مهذب، فصل آداب المستفتي و المفتي)

﴿۲۴﴾ که چېرته نې په فتوی کښې د کوم کتاب عبارت نقل کړی وي نو د هغه کتاب د جلد او

صفحې ګنه او که چېرته امکان ولري نو باب او فصل به نې هم ولیکي۔ او که چېرته هغه کتاب مختلف الطبع نسخې ولري نو د مطبع نوم دي هم ورسره ولیکي۔

﴿۲۵﴾ که چېرته د کوم کتاب عبارت په بل کتاب کښې وویني نو لومړی دي خپله له همدې کتاب څخه نقل کړي او که نه نو په بل صورت کښې د دې کتاب حواله دي د دوهم کتاب په حوالې سره ولیکي۔ مثلاً مفتي صاحب کومه مسئله په امداد الفتاوی کښې د شامي په حوالې سره لیدلې وي او شامي له مفتي سره نه وي نو د هغه مسئلې په ځواب کښې به داسې لیکي چه هکذا في رد المحتار بحواله امداد الفتاوی۔

﴿۲۶﴾ مفتي به د ځواب په ورکولو کښې له میانه روي څخه کار اخلي۔ نه به خط ډیر نرۍ لیکي او نه به نې ډیر غټ او پلن لیکي او نه به په ځواب کښې مختلف رنګونه استعمالوي تر ځو چه د جعل سازي احتمال پاتې نه شي۔ بلکه په یوه رنګ قلم او سیاهي باندې به ځواب لیکي۔ (مقدمه شرح مهذب ج۱، ص۱۲، آداب الفتوی)

﴿۲۷﴾ د ځواب په لیکلو کښې به د استفسار اتو د ترتیب پاملرنه کوي یعنې کوم چه مخکښې دي د هغه ځواب به مخکښې لیکي علی هذا الترتیب۔ البته د مسافرو او بیځوله لحاظ به ساتي په داسې حال کښې چه په ځنډولو کښې نې نقصان وي۔ (البحر الرائق ج۶، ص۲۶۸)

﴿۲۸﴾ که چېرته د استفسار یعنې سوال تر منځ یا آخر کښې ځای خالي وي چه جعل سازي پکښې کیدلی شي نو مفتي به هلته له ځانه نکتې (.....) یا د ضرب علامې (××××) ولګوي تر ځو چه د ځواب ورکولو ځخه وروسته ځوک جعلسازي پکښې و نه کړي او په راتلونکي کښې د فتنې او فساد باعث و نه ګرځي۔ که چېرته سوال مختلف اجزاء ولري نو مفتي به د اجزاوو د ترتیب په لحاظ سائلو سره نمبروار ځواب لیکي تر ځو چه په مستفتي باندې التباس را نه شي۔

او که چېرته بالفرض په تحریري ځواب کښې د فتنې او فساد اندیښنه وي لکه مسئله په قضا پورې اړه ولري یا د تحریري فتنه انګیزي باعث جوړیده نو په ژبني ځواب ورکولو به اکتفاء کوي او تحریري ځواب به نه ورکوي۔ د دې لپاره چه د کومې مسئلې تحریري ځواب ورکول لازمي نه دي۔ که چېرته کومه واقعه پخپله مفتي ته معلومه وي او پوښتنه د واقعې خلاف وي نو په داسې صورت کښې به له ځواب ورکولو ځخه ډډه کوي او که چېرته له سره د صحیح صورت حال موافق سوال تر وشي نو بیا دې ځواب ولیکي۔ د دې لپاره چه کله کله خلك یواځې د دنیوي اغراضو د تکمیل لپاره په فتوی پورې لاس نیسي چه له وجهې نې د فتنې سخته اندیښنه وي۔ (د فتوی لیکنې راهنما اصول ص۳۸)

﴿۲۹﴾ که چېرته د مفتي مخې ته کومه داسې مسئله وراندې شي چه د دوو اړخونو تر منځ متنازع وي او دا نزاع مشهوره هم وي نو باید چه له کومې حیلې ځخه د کار اخیستلو له مخې ځان تر خلاص کړي او په دې ډول مسائلو کښې د ځان د ورښکیل کولو ځخه ډډه وکړي۔

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

﴿۳۰﴾ که چېرته د مستفتي نیت د سوال نه بلکه د اعتراض وي نو هغه ته دې بالکل ځواب نه ورکوي۔

﴿۳۱﴾ که چېرته د مفتي مخې ته د وراثت مسئله راشي نو له ډېر احتیاط ځخه به کار اخلي ځکه چه د میراث مسئلې اکثره وخت د نزاع او جګړو باعث ګرځي۔ له دې وجهې په ښه توګه د تحقیق له مخې دې له مستفتي ځخه د وارثانو د تعداد په معلومولو سره ځواب ولیکي او په آخر کښې به دا ځو الفاظ لیکي۔

"د واقعي د صحت په بناء سره که چېرته د وارثانو تعداد د صورت مسئوله مطابق وي نو ځواب به دا وي" د دې لپاره چه مفتي د خدای او د خلکو په نزد ماخوذ نه وي۔ او همدا رنګه د تولو وارثانو برخې دې ځان خانته ولیکي۔

﴿۳۲﴾ د خپلې ورکړ شوې فتوی یو نقل به له ځان سره یوځای تر ځو چه د ضرورت په وخت کښې له فتنې ځخه د ځان ساتلو سبب ورته جوړ شي او یوه علمي سرمایه هم تیاره شي۔

﴿۳۳﴾ مفتي باید د مسئلې د ځواب له لیکلو وروسته نظر ثاني پرې وکړي تر ځو چه ځواب له خلط او التباس ځخه پاک شي او که چېرته د تصحیح ضرورت وي نو ځواب دې صحیح کړي۔

(شرح مهذب ج۱، ص۱۲)

د فتوی په ورکولو کښې د دغو تولو امورو لحاظ سائل ضروري دي۔ له دې پرته د فتوی صادرول د فتنې او فساد ذریعه ګرځي په دې حال کښې چه اسلام له فتنې او فساد ځخه ممانعت کړی دی۔

د مستفتي آداب

مستفتي هر هغه سړي ته ویل کیږي چه له کوم دیني عالم ځخه د کومې دیني مسئلې په باره کښې پوښتنه کوي۔

لکه ځرنګه چه ټول دین د ادب او احترام پورې اړه لري او دین وایي ادب ته۔ د دې لپاره فقهاوو د مستفتي لپاره ځو ادبونه ټاکلي دي چه د هغو په لحاظ سائلو سره له مفتي ځخه به د خپلې مسئلې د حل پوښتنه کوي۔ او هغه آداب په لاندې ډول دي۔

﴿۱﴾ مستفتي ته چه کله کومه واقعه مخته راشي نو باید چه له کوم معتمد مفتي ځخه د خپلې مسئلې حل وغواړي۔ که چېرته نې پخپل ښار کښې د اعتماد وړ مفتي نه وي نو د ځواب د معلومولو لپاره دې کوم بل ښار ته سفر وکړي۔

﴿۲﴾ د خپلې مسئلې پوښتنه به له داسې سړي ځخه کوي چه د فتوی ورکولو اهل وي او د اهلیت لپاره دا کافي ده چه په عامو خلکو کښې مشهور وي۔ یا د متاخرینو په قول چه هغه خپله دا دعوه وکړي چه انا اهل الفتوی (زه د فتوی اهل یم)۔

﴿۳﴾ د مفتي مخې ته به له احترام او ادب سره کښینې۔ په خبرو اترو کښې به له وړاندې والي ځخه کار نه اخلي او نه به په لاس باندې د مفتي د ځیرې خواته اشاره کوي۔

﴿۴﴾ د استفتاء په وخت کښې به مفتي ته داسې نه وایي چه چه د دې مسئلې په باره کښې ستا رایه ځه ده یا د دې مسئلې په باره کښې ستا د امام یا امام شافعي ځه مذهب دی۔ بلکه د مفتي مخې ته به خپله مسئله وړاندې کوي او د حل پوښتنه به تري کوي۔ البته که چېرته د مسئلې په حل کښې د کوم تاکلي امام د مذهب په باره کښې پوښتنه وکړي نو بیا به دا ویل ورته په ځای وي چه د دې په باره کښې د فلاني امام صاحب ځه مذهب دی؟

﴿۵﴾ د مفتي له ځواب ورکولو وروسته به دا نه وایي چه زما هم په زړه کښې دا خبره وه یا زما هم همدا رایه ده او نه به دا وایي چه فلاني سړي هم دا ویلي وو او نه به دا وایي چه که چېرته ستا فتوی د فلاني سړي له فتوی سره برابره وي نو وئې لیکه او که نه وي نو مه ئې لیکه۔

﴿۶﴾ له مفتي ځخه به د هغه د قیام، خوب یا کوم بل حالت کښې د مسئلې پوښتنه نه کوي۔ همدا رنګه چه کله د مفتي زړه په کوم بل کار کښې مشغول وي نو په داسې وخت کښې به هم د مسئلې له پوښتنې ځخه ډډه کوي۔

﴿۷﴾ که چېرته غواړي چه سوال په تحریري توګه وکړي او خپله نې نه شوای لیکلی نو په داسې لیکونکي به نې لیکي چه د سوال غرض او غایه په مکمله توګه واضحه کړي او پاک او صاف او خوشخطه نې ولیکي۔

﴿۸﴾ د مستفتي په آداب کښې دا هم داخله ده چه له مفتي ځخه به د فتوی د دلیل غوښتنه نه کوي البته که چېرته په همدې مجلس کښې د دلیل غوښتنه ضروري وي نو باید چه لومړی به د مفتي فتوی قبلوي او بیا به وروسته د دلیل غوښتنه تري کوي لیکن بهتره دا ده چه دا ډول غوښتنه به له مفتي ځخه په بل ځای او مجلس کښې وکړي۔

﴿۹﴾ مستفتي باید چه خپله مسئله په کوم لوی کاغذ کښې په واضحه توګه ولیکي۔ او په لوی کاغذ کښې د لیکلو وجه دا ده چه کله کله ځواب د تفصیل غوښتونکی وي چه مفصل ځواب لیکل ضروري وي په داسې حال کښې چه په کوچني کاغذ کښې هم په لنډه توګه لیکل کیږي او کیدای شي چه هغه ځواب د مستفتي د ضرر او نقصان سبب جوړ شي۔ د دې لپاره استفتاء (سوال) په لوی کاغذ باندې لیکل ضروري دي۔

﴿۱۰﴾ په استفتاء کښې دعائیه کلمات باید ولیکل شي۔ که چېرته له کوم تاکلي سړي ځخه غواړی چه پوښتنه وکړی نو په ځانګړي توګه د هغه لپاره دعائیه کلمات ولیکی او که نه نو دعائیه کلمات په عمومي الفاظو ولیکی۔

﴿۱۱﴾ که چېرته په چټکی سره غواړی چه ځواب په لاس درشي نو مستفتي باید چه کاغذ خلاص کړي او په ډېر ادب سره نې د مفتي مخې ته کښیږدي او هغه ته د کاغذ د خلاصولو تکلیف ورنه کړي او نه به هغه ته د کاغذ د بندولو تکلیف ورکوي۔

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

د فتوی اهمیت

او په جامعهٔ د دار العلوم حقانیه کښې د دار الافتاء قیام

حضرت مولانا حافظ انوار الحق صاحب لستاذ الحدیث و نائب مهتمم جامعهٔ د دار العلوم حقانیه

الحمد لله رب العالمین و الصلوٰة و السلام علی رسوله الکریم اما بعد:

د دنیا په کائناتو کښې د الله تعالی هر حکم او تصرف د بې شمارو حکمتونو، اسرارو، رموزو او لطائفو خزانه ده. چه کله هم یو عاقل، بالغ او د شعور خاوند انسان په دې کښې غور او فکر وکړي نو عقل به ئې حیران شي او په آخر کښې به دا ووایي چه "سُبْحٰنَكَ لَا عِلْمَ لَنَا إِلَّا مَا عَلَّمْتَنَا إِنَّكَ أَنْتَ الْعَلِيْمُ الْحَكِيْمُ"

او بیا د کائناتو خالق د اشرف المخلوقات حضرت انسان لپاره یو دلسې عجیب او غریب او د فطرت مطابق قانون او نظام نازل کړ چه په هغه باندې د عمل کولو له وجهې د بنې نوع انسان ټول مسائل حل کیږي. په دې کښې د امیر او غریب، سید او غیر سید، آقا او غلام، ښائسته او بدرنګه هیڅ فرق او امتیاز نشته. او نه ځوک دا ویلی شي چه زما فلانی مسئله د اسلامي قانون لاندې حل نه شوه. د دې لپاره په اسلامي امارت کښې چه چیرته د قضاء د محکمې د قیام حکم دی هلته د افتاء د محکمې قیام هم ډیر ضروري دی.

په قضاء او افتاء کښې فرق: قضاء او افتاء ډیر سره نژدې او یو دي. په ډیرو اصولو او شرائطو کښې سره برابر دي. نو د دې لپاره فقهاء کرامو چه چیرته د قاضي او یا د قضاء شرائط او آداب بیان کړي دي نو هلته ئې دا خبره په وضاحت سره کړې ده چه دا ټول شرائط د مفتي لپاره هم دي. او چیرته چه د مفتي لپاره شرائط ذکر شوي دي هلته ئې دا هم ورسره فرمایلي دي چه قاضي هم په دې شرائطو کښې له مفتي سره برابر دی. البته په قاضي او مفتي کښې یو اځې دومره فرق دی چه قاضي په اکثرو وختونو کښې د معاملاتو مسائل حل کوي او مفتي د عباد اتو مسائل حل کوي. او بل فرق ئې دا دی چه د قاضي فیصله به په خلکو باندې جبراً نافذ کیږي ځکه چه قاضي د قوت نافذه مالك وي لیکن د دې برعکس د مفتي فتوی جبراً په خلکو باندې نه نافذ کیږي ځکه چه مفتي یو اځې مبین دی.

دلته زه لومړی د قضاء او افتا معناوي څرګندوم او بیا وروسته د افتاء په عظمت او اهمیت باندې په لنډه توګه د څه ویلو کوشش کوم.

قضاء په لغت کښې د یوه شي مضبوط جوړولو ته وایي او په شریعت کښې په اسلامي معاملاتو او مسائلو کښې فیصله کولو ته وایي. او فتوی په لغت کښې قوي کولو، څرګندولو او بیانولو ته وایي. او دا معنی د قرآنکریم په سورت یوسف کښې راوړل شوې ده. د الله تعالی ارشاد دی:

یُوْسُفُ اَیُّهَا الصِّدِّیْقُ اَفْتِنَا فِی سَبْعِ بَقَرَاتٍ سِمَانٍ الخ یعني ځواب راکړی۔۔۔۔ او په اصطلاح او شریعت کښې فتوی د کومې شرعي مسئلې حل کولوته وایي او د رباني جل جلاله له دې ارشاد ځخه چه "یَسْتَفْتُوْنَكَ قُلِ اللّٰهُ یُفْتِیْكُمْ فِی الْكَلٰلَةِ (یعني د حکم پوښتنه کوي له تا ځخه ته ورته ووایه تاسو ته د کلاله حکم بیانوي)

چه کله د فتوی معنی معلومه شوه یعني د کومې شرعي مسئلې ځواب ورکول نو له دې وروسته د فتوی په اهمیت باندې پوهیدل هم آسانیږي.

د افتاء د منصب عظمت: فتوی یا افتاء یو عظیم او د لوړ شان لرونکی منصب دی او د عظمت او اهمیت اندازه ئې له دې ځخه لګول کیږي چه الله تعالی جل جلاله د فتوی نسبت د ځان خوا ته کړی دی او فرمایي چه: یَسْتَفْتُوْنَكَ قُلِ اللّٰهُ یُفْتِیْكُمْ فِی الْكَلٰلَةِ الخ (سورة النساء آیت ۱۷۶) یعني له تا ځخه د حکم پوښتنه کوي نو ته ورته ووایه چه الله تعالی تاسو ته د کلاله فتوی درکوي یعني حکم بیانوي.

د فتوی د شان د لوړوالي لپاره دا خبره کافي ده چه الله تعالی د فتوی او اسلامي مسئلې د ځواب ورکولو نسبت د خپل ذات اقدس خوا ته کړی دی. رسول الله ﷺ په ټول ژوند کښې دا عظیمه او له وقار ځخه ډکه دنده تر سره کړې ده او بې شماره فتواوي ئې جاري کړي دي اګر که په هغه وخت کښې د فتوی یا مفتي اصطلاح رائج نه وو لیکن مونږ ځکښې وویل چه د فتوی په اصل کښې د کومې شرعي مسئلې حل کولو ته وایي. د دې اعتبار له مخې د پیغمبر علیه الصلوٰة و السلام په زمانه کښې د مسائلو ځواب ورکول فتاواوي وي او ده مبارک ﷺ د خپلې زماني ځواب ورکوونکی او اعظم مفتي هم وو. لکه څرنګه چه د رسول لفظ له مفتي ځخه په ډیرو درجو سره بهتر او افضل دی له دې وجهې ځخه دی مبارک ﷺ د رسول په مقدس نامه باندې یادیده. اګر که حضور ﷺ د خپلې زماني قاضي القضات او مفتي اعظم هم وو او د ده مبارک ﷺ فتواوي د نبوي حدیث په نامه سره یادیدل. له حضور ﷺ ځخه وروسته دا منصب صحابهٔ کرامو ته وسپارل شو لیکن د زیات نازك والي او خطرناك والي له وجهې ځخه اکثرو صحابهٔ کرامو دا هیلي کولې چه دا کار د کوم بل صاحب ته وسپارل شي او پخپله له داسې ذمه واري ځخه بچ پاتې شي. له دې وجهې ځخه په صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم کښې د فتوی ورکوونکو تعداد کم وو.

علامه ابن قیم الجوزي رحمه الله پخپل مشهور کتاب "اعلام الموقعین" کښې په صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم کښې د مفتیانو حضراتو تعداد له ۱۳۰ ځخه پورته ښوولی دی او دا ئې هم ویلي دي چه د صحابهٔ کرامو په دور کښې د ډیرو فتوی ورکوونکو حضراتو تعداد یو اځې اوه کسان وو چه مبارك نومونه ئې په لاندې ډول دي:

حضرت عمر ابن الخطاب، حضرت علي بن ابي طالب، حضرت عبد الله بن مسعود، ام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

المؤمنین حضرت عائشه صدیقه، حضرت زید بن ثابت، حضرت عبد الله بن عباس، حضرت عبد الله ابن عمر رضی الله تعالی عنهم اجمعین.

د افتاء منصب او خطرات: د افتاء منصب اګر که یوه عظیمه او لویه مرتبه ده لیکن د عظمت تر څنګ عظیم خطرات هم پکښې موجود دي څکه چه لوړ ځای ته خټونکي چه کله ولوېږي نو له لوړ ځای څخه لوېږي. نو د افتاء د منصب او دندې لوړوالي ته په کتو سره غفلت پکښې کول او یا په بې پروایي سره فتوی ورکول د عذاب سبب وي. لکه:

﴿۱﴾ د رسول الله ﷺ مبارک ارشاد دی چه چا چه له علم پرته فتوی ورکړه نو ګناه به ئې په فتوی ورکوونکي باندې وي. (ابو داود ص کتاب العلم)

﴿۲﴾ دا هم د نبي کریم ﷺ مبارک ارشاد دی چه په تاسو کښې د فتوی په ورکولو باندې زیات جرأت مند به هغه سړی وي کوم چه په تاسو کښې د دوزخ په اور باندې جرأت مند وي. (مقدمه د ارمي باب ۱۷۵)

﴿۳﴾ علامه ابن قیمؒ د جناب نبي کریم ﷺ ارشاد نقل کړی دی چه کوم سړی له علم پرته خلکو ته فتواوي ورکوي په هغه باندې د آسمان او زمکې ملائکي لعنت وایي. (اعلام الموقعین ج۲، ص۲۰۲)

﴿٤﴾ آن تر دې پورې چه که چېرته یو چا فتواوي ورکولې او په حقیقت کښې د فتوی د ورکولو اهل نه وو نو د وخت حاکم دا حق لري چه له فتوی ورکولو څخه ئې منع کړي او که ئې منع نه کړي نو د وخت حاکم به په ګناه کښې ورسره شریک وي.

حافظ ابن قیمؒ لیکلي دي:

"یعني چه کوم سړی خلکو ته د فتوی په ورکولو لګیا شي او د فتوی ورکولو اهل نه وي نو هغه ګنهګار او نافرمانه دی او چه کوم د اختیار خاوند سړی ئې په دې منصب باندې پریږدي هغه به هم ګنهګار وي".

د دې سخت وعید له وجهې په دې خطرناک منصب کښې به اکابرینو ډیر احتیاط کاوه.

﴿۵﴾ ابن ابي لیلی فرمایي چه ما په انصارو صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم کښې یو سل او شل صحابهٔ کرام داسې پیدا کړل چه کله ترې د کومې مسئلې په اړه پوښتنه کیدله نو هغو به نومورې مسئله بل ته او بیا به هغه بل ته لیږله. آن تر دې پورې چه سائل به بیا لومړنې مسئول ته راوګرځید. (مباحث فی احکام الفتوی ص۱۹۶)

﴿۶﴾ حضرت ابن مسعود او حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنهما فرمایي چه کوم مفتي د هرې مسئلې څواب ورکوي نو هغه مجنون او لیونی دی.

﴿۷﴾ همدارنګه حافظ ابن قیمؒ فرمایي چه قاسم بن محمد بن ابو بکرؒ ته یو سړی د فتوی د پوښتنې لپاره راغی نو ده په څواب کښې ورته وویل چه زه نه پرې پوهیږم. نو سائل ورته

وویل چه زه ستاسو څخه پرته بل څوک د دې منصب اهل نه ګڼم او نه ویلم. نو ده مبارک په څواب کښې ورته وویل چه "لا تنظر الی طول لحیتی و کثرة الناس حولی". (اعلام الموقعین ج۲، ص۲۵۷) (یعني ته زما اوږدې ږیرې او زما شاوخوا د ډیرو خلکو هجوم ته مه ګوره).

﴿۸﴾ امام شعبي او امام حسن رحمهما الله (چه دواړه تابعي حضرات دي) فرمایي چه په تاسو کښې یو څوک د کومې مسئلې په اړه فتوی ورکوي. که چېرته دا مسئله د حضرت عمر رضی الله عنه څه راغلې وای نو ده به یقیناً نه حل کوله بلکه د دې مسئلې د حل لپاره به ئې بدریین صحابهٔ کرام رضی الله عنهم را جمع کول. (امام نوويؒ شرح المهذب ص)

﴿۹﴾ امام اعظم ابو حنیفه رحمه الله فرمایي چه که چېرته ما ته دا ویره نه وای چه علم به ضائع شي نو ما هم فتواوي نه ورکولې څکه چه مستفتي حضراتو ته له مسئلې او تکلیف څخه پرته مسئله پیدا کیږي او ګناه ئې په ما باندې وي.

﴿۱۰﴾ امام مالک رحمه الله به په فتوی ورکولو کښې دومره احتیاط کاوه چه کله کله به ئې په پنځوسو مسائلو کښې د یوې مسئلې څواب هم چا ته نه ورکاوه. (شرح عقود رسم المفتي ص)

﴿۱۱﴾ امام احمد بن حنبلؒ فرمایي چه کوم سړی چه خپل ځان د افتاء لپاره وړاندې کړي نو هغه یو لوی او درونده بار په خپل سر پورته کړي. نو باید چه سخت ضرورت نه وي د فتواوو په ورکولو کښې دې جرأت نه کوي.

﴿۱۲﴾ امام مالک رحمه الله فرمایي چه ما د فتوی له ورکولو څخه ځان ساته تر دې پورې چه زما په باره کښې به اویاوو علماء کرامو دا ګواهي وکړه چه زه د فتوی ورکولو اهل یم. نو تر دې وروسته به ما بیا د استفتاء د څواب په ورکولو شروع وکړه.

په اسلامي مملکت کښې د دار الافتاء قیام: لهذا د دغو خطراتو له په کتو سره د دار الافتاء قیام او په هغې کښې د ماهرو مفتي صاحبانو تاکنې د اسلامي حکومت ذمه واري ده او په حکومت باندې دا هم ضروري ده چه د دغو دار الافتاء ګانو پوره نګراني وکړي، اهل اشخاص پکښې وتاکي، کم علمه او نه صلاحیت لرونکي، غیر عادل او فسق او فجور کښې مبتلاء او په حیله بازو مفتیانو دې پابندي ولګوي او د فتواوو له ورکولو څخه دې منع کړي لکه څرنګه چه حضرت امیر المؤمنین حضرت عمر فاروق رضی الله عنه په زمانه کښې داسې شوي وو.

علامه شبلي نعماني رحمه الله فرمایي:

"په اسلام کښې د هغه یوه خاصه محکمه وه چه د افتاء په نامه یادیدله او طریقه ئې دا وه چه ډیر لائق او قانون پوه یعني فقهاء کرام به هر ځای موجود وو او کوم سړي چه به د کومې مسئلې په اړه پوښتنه کوله له دغو فقهاوو څخه به ئې پوښتنه کولې شوای. د دې لپاره هیڅ یوه سړي به دا عذر نه شوای وړاندې کولای چه زه د قانون له مسئلې څخه ناخبره یم. دا طریقه د اسلام په شروع کښې پخپله را پیدا شوه او تر اوسه پورې قائمه ده. لیکن د حضرت عمر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

رضی الله تعالی عنه په دور کښې چه د کومې باقاعده ګې له مخې عمل پرې کیده د هغه په را
وروسته زمانې کښې بلکه له هغه ځخه په مخکښې یعنې د ابو بکر صدیق رضی الله عنه په دور
کښې هم دلسې عمل نه وو پرې شوی۔ د دې طریقې لپاره تر تولو ضروري خبره دا ده چه عامه
اجازه به نه وي بلکه په خاصه توګه یو ځو قابل سړي د افتاء لپاره ځانګړي شي تر ځو چه هر کس او
ناکس و نه شي کړای چه غلط مسائل رواج کړي۔ حضرت عمر رضی الله عنه دا تخصیص د تل
لپاره په پام کښې ساتلی وو او کومو خلکو ته نې چه د افتاء اجازه ورکړې وه لکه حضرت علي،
حضرت عثمان، حضرت معاذ بن جبل، حضرت عبد الرحمٰن بن عوف، حضرت ابی بن کعب،
حضرت زید بن ثابت، حضرت ابو هریره، او حضرت ابو الدرداء او دلسې نور رضی الله تعالی
عنهم اجمعین له دوی پرته نورو خلکو نه د فتوی د ورکولو اجازه نه وه۔ شاه ولي الله رحمه الله په ازالة
الخفاء کښې لیکي: "سابق علماء فتوی موقوف به دوره اے خلیفه وآنهاء علماء هم ګاهے فتوی میدادند"۔ (الفاروق ص ۲۲۱)

د مسلمانانو خلیفه حضرت عمر فاروق رضی الله تعالی عنه په دې معاملې کښې
دومره سخت وو چه کوم نه تاکل شوي سړي به د فتوی د ورکولو جرأت نه شوای کولای تر دې
پورې چه د تاکل شویو مفتیانو فتواوې به هم کنټرول کیدلې۔

علامه نعمانې مخکښې نور هم لیکي:

"بلکه هغه به دومره احتیاط کاوه چه د تاکل شویو مفتیانو فتواوې به نې هم کنټرولې۔
له حضرت ابو هریره رضی الله عنه ځخه به نې ځو ځو واړي پوښتنې وکړې چه تا په دې مسئلې
کښې څنګه فتوی ورکړه؟ او کله به چه هغه خپل ځواب بیان کړ نو بیا به نې وویل چه که چېرته
تا په دې مسئلې کښې کوم بل ځواب راکړی وای نو په راتلونکي کښې به تا ته هیڅکله د فتوی
د ورکولو اجازه نه وه"۔ (الفاروق ص ۲۲۱)

د احنافو مسلک او د فتوی عظمت: مسلمان ملت په دې خبرې باندې متفق دی چه د اسلام په دین
کښې په اکثرو فروعي مسائلو کښې د مجتهدینو اختلاف دی لیکن دا اختلاف د مجتهدینو
په ذاتي اغراضو او مفاد اتو پورې نه دی تړلی بلکه دا اختلاف د مسائلو په بنیاد او د اصل په
څرنګوالي پورې تړلی دی۔ او په خاصه توګه د احنافو په مسلک کښې د مسئلې د بنیاد د
څرګندولو تر څنګ دا خبره به هم تر نظر لاندې نیول شوي ده چه په کومه مسئله کښې له قوي
دلیل سره سره په ضعیف دلیل باندې باید عمل و نه شي۔ تر دې پورې چه د احنافو علماوو د
ضعیف دلیل په مقابله کښې په قوي دلیل باندې عمل کول واجب ګڼلی دی۔ او د قوي دلیل په
مقابله کښې په ضعیف دلیل باندې نې عمل کول ناجائز بللي دي۔ دلیل کله د ماخذ او مصدر له
اعتباره قوي وي او کله د جمهورو علماء کرامو د رأیې د یو والي په اعتبار سره قوي وي۔

امام اعظم ابو حنیفه رحمه الله د فتوی اهمیت د نظر لاندې ساتلو سره دومره احتیاط
وکړ چه یو اځې نې خپله فتوی او خپل تحقیق کافي و نه باله بلکه پخپل دار التحقیق او دار

الافتاء کښې د مسائلو د تحقیق او پلټنې لپاره د هم هغه وخت د مجتهدینو او علماء کرامو یوه
شورٰی جوړه کړه۔ دا شورٰی د حالاتو له مخې به کله کم او کله زیات شول لیکن تاریخ پوهانو
علماوو لیکلي دي چه د امام ابو حنیفه رحمه الله د دار التحقیق و الافتاء د محققینو او
مشاورینو تعداد ځلویښت وو۔

حضرت العلامه امام الکردري رحمه الله د امام اعظم رحمه الله د شورٰی د مجلس په
یادونې سره پخپل کتاب "مناقب الامام اعظم" کښې فرمایي چه امام الائام د خپل مذهب د
بنیاد لپاره د یوې شورٰی د جوړولو په صورت کښې د مسائلو په اجتهاد او تحقیق کښې ټې
یو اځې په ځان اعتماد و نه کړ تر ځو په مقدس دین کښې د صحیح اجتهاد په کیدو سره د دین
خیر خواهي وشي، په یوې یوې مسئلې باندې به په شورٰی کښې بحث کیده او امام الائام به په
باقاعده توګه د مسئلې په باره کښې د دلائلو پوښتنه کوله۔ کله کله به په یوې مسئلې باندې تر
یوې میاشتې پورې بلکه تر دې هم زیات وخته پورې بحث جاري وو او د تحقیق او نقیح له کمال
ځخه وروسته به چه کله مسئله مدلله شوه نو امام ابو یوسف ته به نې امر کاوه چه اوس ټې
ولیکه۔ ګوا که امام اعظم صاحب هیڅکله هم له خپل تخمین او خپلې رأیې ځخه فتوی نه ده
ورکړې۔

علامه اسد بن الفرات پخپل کتاب "حسن التقاضي" کښې لیکي چه د امام صاحب د
شورٰی هغه غړي چه کتابونه ټې مدون کول ځلویښت کسان وو چه له هغو ځخه لس کسان د
متقدمینو په نامه سره مشهور دي چه امام ابو یوسف، امام زفر، داود الطائي، اسد بن عمرو،
یوسف بن خالد، یحي بن زکریا رحمهم الله د یادونې وړ دي۔

د امام اعظم ابو حنیفه رحمه الله په فتوی او تحقیق کښې د احتیاط د کمال دا نتیجه
را ووته چه د امت علماوو د اجتهاد په درجه کښې هغه لره د مطلق مجتهد او د امام اعظم په
لقب سره ملقب کړ۔ او د اعظم لقب کوم بل مجتهد ته نه دی ورکړی شوی۔

علامه ابن نجیم المصري پخپل کتاب "الاشباه و النظائر" کښې لیکي چه "هو کما لصدیق
رضي الله تعالی عنه ای ان الصدیق رضي الله عنه اول من آمن من الرجال و ابا حنیفة اول من دوّن الفقه" یعنې امام
اعظم رحمه الله د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه غوندې دی۔ حضرت ابو بکر صدیق
رضی الله تعالی عنه په سړیو کښې لومړنی هغه سړی دی چه تر تولو مخکښې ټې اسلام قبول کړ
او ایمان ټې راوړ او امام اعظم ابو حنیفه رحمه الله هم لومړنی هغه سړی دی چه تر تولو مخکښې
ټې فقه تدوین کړه۔ همدا حال د امام ابو یوسف هم وو کوم چه د خپل وخت مجتهد وو۔ ده مبارک
هم په اجتهاد کښې د امام ابو حنیفه رحمه الله متابعت وکړ او په انفرادي توګه ې پخپل اجتهاد اعتماد و
نه کړ۔ دا د دوی د احتیاط دلیل دی او د دې احتیاط نتیجه دا راووتله چه په اسلامي دنیا کښې
د قاضي القضات لقب تر تولو مخکښې یو اځې او یو اځې ده مبارک ته ور په برخه شو۔

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

امام سمعاني پخپل کتاب "الانساب" کښې ليکلي دي: اولهم و اجلهم ای من اعضاء الشوری قاضی القضاة فقيه العراقين حافظ الحديث ابو يوسف يعقوب بن ابراهيم و هو اوّل من دعی بقاضی القضاة فی الاسلام و اول من وضع الكتب فی اصول الفقه و املی المسائل و نشرها.

حضرت مولانا قاري محمد طيب صاحبؒ د افتاء د منصب د اهميت په بيانولو سره ليکلي دي چه "د افتاء منصب په علمي سلسلو کښې تر ټولو زيات مشکل، دقيق او اهم ترين ګنل شوی دی. د فقهي په لکونو متمائل (د يو بل په شان) جزئيات او د هغو په اړه په احکامو کښې د لږلږ فرق څخه د حکم فرق محسوسول عميق او ژور علم غواړي. کوم چه د هر عالم د وس خبره نه ده تر څو پوري ئې چه له فقهي سره کامل مناسبت، ذهن او ذکاوت، يو خاص ډول صلاحيت او په زړه کښې د تفقه ماده نه وي. له دي وجهې په ديني مدارسو کښې د افتاء لپاره د شخصيت غوره کول يوه ډيره پيچيده مسئله ګنل کيږي کوم چه له کافي غور، فکر او پلټني وروسته لاس ته راځي او بيا به هم د تجرباتو محتاج پاتې کيږي. (فتاوی دار العلوم ديوبند ج ص۲۶)

الغرض فتوی ليکنه د هلکانو کومه لوبه نه ده چه هر سړی ئې اهل وبلل شي او هغه ته د فتوی ورکولو اجازه ورکړ شي. نن صبا د حکومت د نه سرپرستی له وجهې د مصنوعي او نا اهلو مفتيانو ډير والی دی چه له وجهې نې ابو الفضل او فيضي طبعيته خلك پيدا کيږي. لکه څرنګه چه پاکستان تر اوسه پوري له اسلامي دار القضاء او افتاء څخه محروم دی او نه د حاکمي طبقې په نظر کښې دا کار د کوم اهميت وړ دی د دي لپاره عربي مدارسو د حقيقي او اهل مفتي او غير اهل مفتي تر منځ د امتياز د پيدا کولو او د امت مسلمه د ښې لارښوونې لپاره د دار الافتاء ګاڼي جوړې کړي دي او مستند مفتيان کرام ئې د سوال کوونکو د سوالونو د ځواب ورکولو لپاره مقرر کړي دي.

په جامعه دار العلوم حقانيه کښې د دار الافتاء قيام: الحمد لله جامعه د ار العلوم حقانيه د ديني علومو په ميدان کښې د پيژندګلوي محتاجه نه ده. په ټول عالم کښې د جامعه حقانيه عظمت او شرافت دومره خپور شوی دی چه بيابي د جامعه د ار العلوم حقانيه غوندې بلې غريبې او لرې پرتې اداري ته داسې عظمت او شرافت حاصل نه وي. دلته د تحديث نعمت په توګه عرض دی چه د حقانيه د انړيوال شهرت د اسبابو او وسائلو له وجهې نه بلکه د الله تعالی د کرم او د ننني زمانې کامل ولي، د حقانيه باني والدي و سيدي شيخ الحديث حضرت مولانا عبد الحق صاحب نور الله مرقده د اخلاص، مجاهدې او دعاګانو برکت دی. د حقانيې د تاسيس نه کومه باقاعده منصوبه وه او نه کوم پروګرام، بلکه د حضرت شيخ الحديث رحمه الله د عالم اسلام له عظيم ديني مرکز دار العلوم ديوبند څخه فراغت او بيا هلته په تدريسي مشاغلو کښې د مصروفيت په دوران کښې د رمضان په رخصتيو کښې اکوړې ته تشريف راوړ. په دي دوران کښې بر صغير پاك او هند تقسيم شو او ملکي حالاتو د بيا لپاره د ار العلوم ديوبند ته د تللو

اجازه ور نه کړه. دلته له ديوبند څخه ورسره راغلي او د شا و خوا د نبويﷺ علومو تړي حضرت شيخ الحديث لره له خپل کور سره لګيدلی په يوه کوچنی غوندې جومات کښې د علم او معارفو خپرند ځای د جامعۀ حقانيه په نامه سره په تاسيس کولو باندې مجبور کړ. ورو ورو طلباء زياتيدل او د جومات د تنګوالي له وجهې د درس او تدريس سلسله جاري ساتل هلته ممکن نه وو. بنابي چه همدا وجه به وه چه د حضرت شيخ الحديثؒ په زړه کښې د الله تعالی له خوا څخه دا الهام شوی وو چه له جومات څخه د باندې په خلاص ميدان کښې د جامعۀ حقانيه بنياد کښيږدي.

د دي لنډ غوندې تمهيد د ذکر کولو مقصد دا دی چه د ار العلوم ته د مجبوری په حالت کښې الهامي وجود ور په برخه شو. د الله تعالی په فضل او کرم سره په د ار العلوم او شيخ الحديث باندې د خلکو اعتماد لا زيات شو چه له وجهې له لرې لرې ځايونو څخه د اسلام د محبينو راتګ شروع شو. خلك له ديني مسائلو څخه د خبرېدو لپاره او په دي سلسله کښې د شکونو او شبهاتو د لرې کولو په خاطر به د شپې او د ورځې ډار العلوم ته راتلل او حضرت شيخ الحديث صاحب به د هغو مسائل د شريعت مطهره په رنا کښې حل کول. بلې خوا ته منطقوي او تدريسي ذمه واری، دومره پرې ډيرې شوې چه حضرت شيخ الحديث ته د عوامي مسائلو د حل کولو او فتواوو د ورکولو لپاره وخت ايستل مشکل شو. او مستفتي حضراتو به د فتواوو د لاس ته راوړلو لپاره انتظار ايستل. لکه څرنګه چه د دي سخت ضرورت لاندې په د ار العلوم کښې په باضابطه توګه د دار الافتاء شعبه قائمه شوه او بحمد الله د دار العلوم له جوړېدو څخه واخله تر ننه پورې بې شميره فتواوي ورکړ شوي. په دا سې حال کښې چه ځينو سائلينو د ژبني سوال په کولو سره ژبني ځوابونه لاس ته راوړل. له دي برسيره په زرګونو مسائل او د هغو ځوابونه په کتابچو کښې ليکل کيدل.

حضرت شيخ الحديث صاحبؒ پخپل حيات طيبه کښې د افتاء له شعبې پرته د نورو شعبو نګراني هم پخپله کوله او د هغه له انتقال څخه وروسته د الله تعالی د خصوصي احسان او د حضرت شيخ الحديثؒ د اخلاص، خصوصي دعاګانو په برکت سره د ار العلوم په هره شعبه کښې د پرمختګ ګامونه پورته کوي او د هيڅ ډول کمي احساس نه کوي.

د د ار العلوم حقانيه په لومړيو ورځو کښې يواځې يوه د ار الافتاء وه وروسته د کار د زياتوالي له وجهې دوهمه د ار الافتاء قائمه شوه چه په هغې کښې د حضرت شيخ الحديثؒ د صوابديد مطابق جيد علماء کرام او مفتي حضرات د افتاء د ذمه واريو د پرمخ بيولو دندې په غاړه لري. په د ار الافتاء کښې د ثبت شويو فتاواوو د ترتيب کار د حضرت مولانا مفتي غلام الرحمٰن صاحب نائب مفتي جامعه حقانيه تر نګرانۍ لاندې د تخصص فی الفقه الاسلامي د درجې طلباء د تحقيق، تخريج او مکرراتو د حذف په صورت کښې شروع کړ او تر کافي اندازې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

پوري ني د اکابر ترسره کړ چه نومورې حضرت مفتي صاحب د خپلو مجبوريو له وجهې له دار العلوم څخه تشريف يوړو او د اکابر تر يوه وخته پوري ودريد.

اوس بيا مخدومي او محترمي مکرم ورور حضرت مولانا سميع الحق صاحب مد ظله د جامعهٔ حقانيه مهتمم په حکم او د هغه تر سرپرستي لاندې نوجوان عالم دين او د جامعې د تخصيص في الفقه الاسلامي د شعبې استاذ مولانا مفتي مختار الله صاحب حقاني او د تخصص د شعبې څينو طلباوو د شپې او ورځې په يو کولو سره تر اوسه پورې جاري شوې فتاوا اوي دوباره غوره کړي او هغه ټوله ذخيره چه له لومړني دور څخه پاتې وه مرتب کړله.

د شکر (مفتي) اظهار: د دې عظيم کار د ټولو مراحلو په پای ته رسولو سره مونږ د الله تعالی په حضور کښې خپل سر سجدې ته په ښکته کولو سره د هغه شکريه ادا کووو چه کريم او رحيم پروردګار د دې عظيم او ګرانقدري علمي خزانې د مکمل کولو همت او توفيق را په برخه کړ. د دې تر څنګلا مونږ له هغو مفتي صاحبانو حضراتو او د تخصص د شعبې له طلباوو څخه شکرګذاره يو کومو چه يواځې او يواځې د الله تعالی د رضا لپاره د شپې او ورځې له محنت او مشقت څخه د کار په اخيستلو سره د ادروند بار د تکميل پايې ته ورساوه.

زمونږ دعا ده چه رب تعالی دې د دغو حضراتو د ټولو کوششونو په نتيجه کښې له خپل ايزدي دربار څخه په ثمراتو باندې د نازولو تر څنګ د افتاوی حقانيه ته د قبوليت مرتبه ور وبخښي او د اسلسله نوره هم د قيامت تر ورځې پورې قائمه او دائمه ولري او د جامعې مونږ ټولو خادمانو ته د مغفرت او بخښنې ذريعه جوړه شي. آمين.

وما ذلك على الله بعزيز

(مولانا) حافظ انوار الحق عفی عنه
نائب مهتمم جامعه د ار العلوم حقانيه
۱۲ ربيع الاول ۱۴۲۲ هجري/ ۵ جون ۲۰۰۱ء

د مفتي صاحبانو حضراتو لنډ سوانحي انځور

شيخ الحديث حضرت مولانا عبد الحق صاحب رحمه الله

حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله په ۱۹۱۰ء يا ۱۹۱۲ء کښې په اکوړه خټک پيدا شوی دی. د يوه تحقيق مطابق د ده د پلرونو او نيکونو اصلي وطن غزني (افغانستان) دی ممکنه ده چه د سلطان محمود غزنوي سره د جهاد په غرض له هندوستان څخه راتلونکو مجاهدينو سره راغلی وي او بيا دلته مقيم شوی وي.

د ده والد ماجد د خپل کلي د خوشحال او د ثروت لرونکو خلکو څخه ګڼل کيده. د دينې خدمت تر څنګ کاروبار او تجارت ني د معاش ذريعه وه. په هغې زماني کښې ده د ديني غيرت او حميت له مخې د منکراتو، بدعتونو او غير شرعي کارونو د له منځه وړلو لپاره د علماوو پوره تر څنګ ودريده تر دې پورې چه د خپل دور عظيم مجاهد حاجي صاحب ترنګزيي سره د جهاد په تحريک کښې ملګری او معاون پاتې شوی دی.

ابتدايي تعليم او تربيه: د کور د پاک چاپيريال او د والدينو د زهد او تقوی برکت وو چه له کوچنيوالي څخه ني په زړه کښې د ديني تعليم غوښتنه پيدا وه او ابتدايي تعليم ني له خپلو والدينو او د کلي له يوه مشهور بزرګ حاجي صاحب قصابان او ممتاز او لوی مولانا عبد القادر صاحب او د اسې نورو څخه حاصل کړ.

ده د اتو کلونو په عمر کښې د نور تعليم د حاصلولو لپاره په سفر باندې شروع وکړه او په مختلفو ځايونو کښې تې له جيدو او ممتازو علماء کرامو څخه تعليم حاصل کړ. تر دې پورې چه په ۱۳۴۷ هجري کښې ني د آسيا عظيمې اسلامي مدرسې د ار العلوم ديوبند ته تشريف يووړ. هلته ني د درس نظامي پاتې شوي کتابونه وويل او په ۱۳۵۲ هجري کښې ني د فراغت سند لاس ته راوړ.

په ديوبند کښې ني اساتذه کرام: په د ار العلوم ديوبند کښې ني چه له کومو استاذانو څخه استفاده کړې ده د هغو په سر کښې شيخ العرب و العجم حضرت مولانا حسين احمد مدني صاحب دی. له ده برسيره شيخ الادب حضرت مولانا اعزاز علي ديوبندي، حضرت مولانا محمد ابراهيم بليياوي، مولانا رسول خان هزاروي، مولانا اصغر حسين ديوبندي، مولانا مرتضی حسن، مولانا عبد السميع ديوبندي او د اسې نورو څخه ني د تلمذ مرتبه حاصله کړې ده.

د تدريس پيل: له د ار العلوم ديوبند څخه له فراغت وروسته ني خپل پلارني کلي اکوړه خټک ته تشريف راوړ او دلته ني په يوه کوچني جومات (کوم چه اوس د مولانا عبد الحق صاحب په مخکښيني جومات باندې مشهور دی) کښې د مختلفو علومو او فنونو د لويو او وړو کتابونو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

تدریس شروع کړ او سهار او ماښام په درس او تدریس کښې مشغول وو۔ په ډیر زر وخت کښې له لرې پرتو سیمو او شاوخوا څخه د دینې علومو شائقین د خپلې علمي تندې د ماتولو لپاره راتګ شروع کړ او د ده د درس حلقه پراخه شوه۔ د طلباوو د کثرت له وجهې ئې پلار محترم پخپلو پیسو باندې یو بل جید عالم دین د ده د معاون په توګه مدرس وتاکه۔

یه دار العلوم دیوبند کښې ئې ناکله: دلته ئې د درس حلقه ورځ په ورځ پراخیده له چه په ۱۳۶۲ هجري کښې د دار العلوم دیوبند لویو لویو استاذ انو ده ته پخپل علمي بڼ یعنې د دار العلوم دیوبند کښې د درس او تدریس درخواست وکړ چه ده په ډیرې خوښۍ سره قبول کړ۔

لکه څرنګه چه الله تعالی قوي علمي استعداد ورکړی وو د دې لپاره ډیر زر ئې د لوړې درجې د کتابونو تدریس ته ورسید او په لویو لویو استاذ انو کښې شمار شو۔

د دار العلوم حقانیه بنیاد: له دار العلوم دیوبند څخه ده په کال ۱۳۶۶ هجري کښې د رمضان المبارک په رخصتیو کښې اکوړه خټک ته راغی او په همدې دوران کښې په ۱۹۴۷ء کښې هندوستا تقسیم شو او مسلمانان پاکستان ته او هندوان هندوستان ته لاړل نو په لار کښې د چور او چپاول، قتل او غارتګرۍ بازار ګرم شو چه له وجهې ئې و نه شوای کولای چه بیا دار العلوم دیوبند ته لاړ شي۔ په دې باندې حضرت مدني صاحبؒ په حکومتي سطحې سره ده لره دیوبند ته د رسولو څانګړی انتظام هم وکړ لیکن والد صاحب ئې دې ته تیار نه شو او دی ئې دیوبند ته له تلو څخه منع کړ۔

الله تعالی ته بل څه منظور وو او هغه دا چه ډیر زر په اکوړه خټک کښې د دار العلوم دیوبند په طرز باندې د فیض یوه چینه جاري کړه۔ د ډیر غربت په حالت کښې د الله په توکل باندې ئې په ۱۳۶۶ هجري په مطابق دې ۱۹۴۷ء کښې د دار العلوم حقانیه بنیاد کیښود چه ابتداء ئې د یوه کوچني غوندې جومات څخه وشوه لیکن الله تعالی ته منظوره وه چه دا اداره به د علومو او معارفو خزانه او چینه جوړیږي۔ او بیا هغه وخت را ورسیده چه د دار العلوم حقانیه تبلیغي، تعلیمي او دیني خدماتو له وجهې د دار العلوم دیوبند مهتمم حضرت مولانا قاري محمد طیب صاحب رحمه الله دا اداره دیوبند ثاني وبلله۔

بیعت او سلوک: ده مبارک د عارف باالله، عظیم مجاهد حضرت حاجي صاحب ترنګزي رحمه الله په لاس باندې بیعت کړی وو چه د هغه له انتقال څخه وروسته د خپل مشفق استاذ حضرت مدني رحمه الله څخه بیعت وکړ او د سلوک ټولې مرحلې ئې له ده څخه طی کړې۔

نور خدماتونه: ده خپل ټول ژوند د دین او دیني علومو په ترویج او خپرونې کښې تیر کړ او له درس او تدریس تر څنګ ئې په ملي، سیاسي او معاشرتي خدماتو کښې پوره کردار ادا کړی دی۔ ده د بدعاتو او رسوماتو په خلاف په حکیمانه انداز سره کامیاب جهاد وکړ چه په نتیجه کښې ئې له اکوړه خټک او له شاو خوا ځایونو څخه بدعتونه او غیر شرعي رسمونه او رواجونه له منځه لاړل۔ د خاکسار او قادیانیت د فتنې د تعاقب او د ناموس رسالت د تحفظ لپاره ئې له نورو علماوو سره اوږه په اوږه کار کړی دی۔

له دې پرته ده په ملکي سیاست کښې هم پوره برخه واخیسته او ۱۹۷۱ء، ۱۹۷۷ء او ۱۹۸۵ء په عامو انتخاباتو کښې په درانه اکثریت سره د قومي اسمبلي وکیل وتاکل شو او په ایوان کښې ئې د شریعت د نفاذ لپاره نه ستړي کیدونکي کوشښونه وکړل۔

په ۱۹۷۷ء کښې چه کله د نظام مصطفی تحریک شروع شو نو د دې ترڅنګ چه مریض او ضعیف وو له نورو علماوو سره ئې اوږه په اوږه کار وکړ او په ځانګړیتوب سره ئې د افغانستان په جهاد کښې ډیره لویه برخه واخیسته۔

د فتوی طرز او احتیاط: حضرت شیخ رحمه الله لکه څرنګه چه یو عظیم او لوی محدث، مدبر سیاست دان او د روحاني لارښود په حیثیت سره پیژندل کیده همدارنګه په عوامو او خواصو کښې یو لوی فقیه او محتاط مفتي په حیثیت سره هم پیژندل کیده۔ خلکو به له ده څخه مخامخ د زرګونو مسائلو د حل غوښتنې کولې او خپل ذاتي اختلافات او کورنۍ جنګونه به ئې په ده باندې حل کول۔ دلته په لنډه توګه د ده د فتوی ورکونې طرز او طریقه او په هغو کښې د احتیاط د کولو څو نمونې درته وړاندې کیږي۔

﴿۱﴾ ده به په عمومي توګه دا کوشش کاوه چه د سائل په سوال باندې ځان بنه پوه کړي ځکه چه د ځواب د لیکلو په وخت کښې ده د حنفي فقهي له مشهور کتابونه لکه بدائع الصنائع، هدایې او رد محتار څخه استفادې کولې۔

﴿۲﴾ په فتوی کښې ئې د احتیاط دا حالت وو چه پخپله خو څه کوې د دار العلوم حقانیه نور مفتي صاحبانو به هم چه کله کومه فتوی لیکله نو ورته وبه ئې فرمایل چه فتوی ما ته تیره کړی۔

حضرت مولانا مفتي غلام الرحمٰن صاحب مد ظله فرمایي چه په ۱۹۷۸ء کښې د کلنې رخصتي په وخت کښې د دار العلوم حقانیه ناظم حضرت مولانا سلطان محمود صاحب د حضرت شیخ الحدیث صاحبؒ دا پیغام ما ته ورساوه چه په رخصتیو کښې دلته پاتې شه او د دار الافتاء خدمت کوه۔ نو په ما باندې دا خبره ډیره درنه شوه، پخپله مې دا جرأت نه شو کولی چه د تصویب پرته فتواوې ورکړم او د حضرت شیخ الحدیث صاحبؒ په خدمت کښې تر دې مخکښې د مسائلو د جزئیاتو د وړاندې کولو موقع هم نه وه را ته پیدا شوې یعنې له دې څخه مخکښې مې د مسائلو جزئیات نه وو ورته وړاندې کړي۔ کله چه زه د حضرت شیخ الحد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

صاحبؒ په خدمت کښې حاضر شوم نو ده وفرمایل چه ته کومه مسئله هم لیکې نو ما ته ئې لومړی را اوروه۔ دا ځکه چه که چېرته نوې مسئله وي چه بنه ذهن ته ولوېږي۔ له دې ځخه د ده د مسائلو د استحضار مقصد نه وو بلکه د احتیاط لحاظ ئې کاوه۔ لکه څرنګه چه د هیڅ یوې مسئلې ځواب هم ده ته له ور اوړولو پرته د لیږلو اجازه ما ته نه وه د دې لپاره ما به د مسائلو ځواب ولیکه او د حضرت شیخ صاحبؒ په خدمت کښې به مې وړاندې کاوه۔ که چېرته به هغه تائید کړ نو سائل ته به ئې هم هغه ځواب ولیږه۔ لیکن له لسو ورځو نګرانی ځخه وروسته ئې چه کله اعتماد پیدا شو نو وئې فرمایل چه ما ته د اوریدو ډیر کم وخت پیدا کیږي د دې لپاره ما ته ئې له اوړولو پرته ځواب ولیږه۔

﴿٤﴾ حضرت شیخ الحدیث صاحبؒ د مسائلو په بیانولو او یا لیکلو کښې د ماحول، حالاتو او د هغه د نتائجو او عواقبو هم ډیر لحاظ کاوه او مصلحت به ئې مخې ته کیښود او ځواب به ئې ورکړ تر ځو چه په معاشره کښې بد خوندي پیدا نه شي او خلك د شریعت له هیڅ یوه حکم ځخه هم توقې جوړې نه کړي۔

حضرت مولانا مفتي غلام الرحمن صاحب لیکي:

﴿٥﴾ په ۱۹۷۸ء کښې د دار العلوم د کلني رخصتي په دوران کښې ما د قضاء عمري په باره کښې یوه فتوی صادره کړه چه د قضاء عمري په باره کښې مې روایت د موضوعي حدیث له ثابتولو وروسته ولیکه چه مروجه قضاء عمري د کوم صحیح حدیث له مخې ثابته نه ده او دا یو قبیح بدعت دی۔ کله مې ده ته دا فتوی تیره کړه نو وئې فرمایل چه ځواب ځو صحیح دی او هیڅ شك پکښې نشته لیکن زمونږ د پښتنو په علاقو کښې خلك د ډیر تدین له وجهې د قضاء عمري دومره عاشقان دي چه که چېرته د دلسي سختو الفاظو په نتیجه کښې په ضد کښې راشي نو د فتنې او فساد او سب او شتم سبب به جوړ شي۔ نو ځکه په دې الفاظو کښې ترمیم وکړه۔ او دلسي ولیکه چه قضاء عمري د کوم صحیح حدیث له مخې ثابته نه ده او زمونږ اسلافو هم جمعت ګڼلې ده۔

﴿٦﴾ همدارنګه په یوې موقع کښې د کوم سړك د جوړولو په وخت کښې یو زوړ قبر د سړك مخې ته راغی۔ حکومت دې قبر لره د ړنګولو په صورت کښې د سړك سیده کول غوښتل لیکن ځایې خلك پرې خوشحاله نه وو۔ چه کله سرکاري خلکو له دار العلوم ځخه د فتوی غوښتنه وکړه نو ما له حضرت شیخ الحدیث صاحبؒ سره مشوره وکړه هغه را ته وفرمایل چه اګر که زوړ قبر ړنګول د شریعت له مخې جائز دی لیکن زمونږ په دې فتوی باندې خلك نه مطمئن کیږي بلکه د مذهبي جنون له وجهې ښایي چه دا خلك د دار العلوم هم یو جانب مقابل ګڼي وګڼي۔ د دې لپاره په دلسي اند از باید فتوی ورکړی شي چه د قبر په سر دې پل جوړ شي او سړك دې په پل باندې د پلسه تیر کړی شي۔ لکه څرنګه چه د ده د بنه تدبیر او احتیاط له

مخې سړك هم جوړ شو او خلك هم له شرکیه عقائدو ځخه بچ شول۔

﴿٧﴾ یو ځل کوم ملګري د تصوف د سلاسلو په باره کښې پوښتنه وکړه نو حضرت شیخ الحدیث صاحبؒ په ځواب کښې وفرمایل چه "سلسله قادریه او سلسله چشتیه د یوه حوض دوه نهرونه دي، د دواړو مخزن او مرکز یو دی، اوبو یو دي لیکن یو اخې ویالې جلا جلا دي، د تصوف نورې سلسلې او مختلفو فقهي مذهبونو هم همدا حال دی۔ حنفیت، حنبلیت او مالکیت ټولو ته له یوه حوض ځخه اوبو ور رسیږي، ټول د همدې یوه حوض له اوبو ځخه دنیا خړوبوي، یو اخې لاړې جلا جلا دي، منزل او مقصد د ټولو یو دی، ځینې خلك سره له دې چه بنه پو هیږي د تصوف دا سلسلې او فقهي مذهبونه په فرقه واریت باندې د حمل کولو په صورت کښې دنیا ګمراه کوي او خلکو ته فریب ورکوي۔ مسلمانان باید چه له دلسي خلکو ځخه هوښیار وي او د دلسي خلکو په فریبونو غلط نه شي۔ (ماهنامهٔ الحق، شیخ الحدیث)

﴿٨﴾ له دې برسیره ده به د سوالونو ځوابونه په انتهایي ساده او آسانو الفاظو سره ورکول او د حواله جاتو به ئې خصوصي اهتمام پکښې کاوه تر ځو چه هیڅ ډول شك او شبهه پکښې پاتې نه شي۔

حضرت مولانا مفتي محمد یوسف صاحبؒ

حضرت مولانا مفتي محمد یوسف صاحبؒ د دار العلوم حقانیه له پخوانیو استاذانو ځخه دی او په دار العلوم کښې ئې لوړ کتابونه تدریسول۔ نومورې په علم معاني، علم اصول او فقهي په علم کښې ید طولی یعني بنه مهارت درلود۔ د دې لپاره هدایه آخرین، مختصر المعاني، مطول، حسامي او تلویح او توضیح غوندې کتابونه به له ده سره وو۔ د حدیثو د دورې هم ځینې کتابونه ورسره وو لیکن د نومورې کتابونو لپاره له لرې لرې ښارونو ځخه هم طلباء کرام ورته راتلل۔

زیږیدنه: دی د ضلع بونیر سوات په یوه کوچني کلي باچکته کښې پیدا شوی وو چونکه په مخکښینیو زمانو کښې په کلیو کښې د پیدائش د تاریخ د لیکلو رواج نه وو نو له دې وجهې د ده د پیدائش تاریخ په لاس را نه غی۔ بیا هم د جناب هدایت الرحمٰن صاحب، شاکر بونیري او د ده همزولی عالم دین مولانا عبد الکریم صاحب د کلیاني اوسیدونکی د بیان مطابق ئې د وفات په وخت کښې عمر ۹۰ کاله وو۔ له دې ځخه اندازه لګیږي چه دی د کال ۱۹۰٤ء په شا و خوا کښې پیدا شوی وو۔

کورنی ټرون: د پس ماندګانو د بیان مطابق دی د نسل له مخې "پښتون" وو او د پښتنو له یوې ذیلي قبیلې "اخون خیل" سره تعلق درلود۔ دا قوم کوم چه له میان قوم ځخه هم زیات شهرت لري په سوات کښې آباد دي۔

اخون خیل قبیله په حقیقت کښې د یوه بزرګ د نامه خواته منسوبه ده کوم چه د اخون بابا په نامه یادیږي چه مزار ئې د بونیر په لار د کابګرام په کلي کښې واقع دی۔ دا اخون بابا د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

"اخون خیل" د قوم غور نیکه دی۔ د اقوم له پیریو راهیسي په سوات کښي آباد دي۔

ابتدایي زده کړې: ده خپل ابتدایي تعلیم له مختلفو مراحلو څخه په تیریدو سره حاصل کړ۔ دی د خپل کورنی لومړنی غړی دی چه الله تعالی د دیني علومو پراخه برخه ور په برخه کړ۔ له ده سره د دیني علم د لاس ته راوړلو له ابتداء څخه شوق وو۔ قرآن مجید نې په ناظره باندې د خپلې علاقې له یوه ځایي عالم څخه زده کړ او له دې وروسته نې د علم د شوق له مخې نې پخپلې علاقې (کلیاني، پیلنی، امتور او داسي نورو) کښي له مختلفو علماء کرامو څخه ابتدائي کتابونه وویل۔ له هغه وروسته په ۱۳۵۰ء کښي د درس نظامي د پوره کولو او د نبوت د علومو حاصلول د خپل پلرني وطن په پریښودلو او د سفر سختیو او صعوبتونو د برداشتلو لپاره مجبور کړ او له خپل وطن څخه په زرګونو میلونه لرې نې په هندوستان کښي په مشهور دیني او علمي درسګاه د ار العلوم امینیه د هلي کښي داخله واخیسته کومه چه په هغه وخت کښي نې مهتمم مولانا مفتي کفایت الله د هلوي صاحبؒ وو۔ په دې وخت کښي نې عمر د پنځه ویشتو کلونو په شاوخوا کښي وو۔ په د ار العلوم امینیه کښي نې پوره اوه کاله له الهي دین سره د وابستګي د پیدا کولو په خاطر تیر کړل او د حدیثو تر دورې پورې نې له همدې مدرسې څخه استفاده وکړه او د وخت د عظیم عالم په جوړیدو سره خپل کلي ته بیرته راغی۔

ابتدایي اساتذه کرام: د ده د همزولي مولانا عبد الکریم د بیان مطابق چه له کومو علماء کرامو څخه ده استفادې کړې دي د هغو له جملې څخه مولانا عبد المالك صاحب د امنور اوسیدونکی، مولانا سید جبار صاحب د باچکته اوسیدونکی، مولوي محمد فاضل صاحب میلنی او مولوي محمد انبیاء کاکاد کلیاني اوسیدونکی د یادونې وړ دي۔ او هندوستان ته له تللو څخه وروسته نې چه له کومو شخصیاتو څخه استفادې کړې دي د هغو له جملې څخه حضرت مولانا عبد الغفور صاحب د سوات اوسیدونکی مدرس د ار العلوم امینیه د هلي او پس له هغه څخه لومړنی صدر مدرس د د ار العلوم حقانیې اکوړه خټك، مولانا سکندر الدین صاحب د هزاري، مولانا خدا بخش مرحوم د مشرقي پنجاب (هندوستان) نومونه په ځانګړي توګه د یادونې وړ دي۔

د حدیثو د دورې سعادت: د هندوستان د مایهٔ ناز دیني درسګاه د ار العلوم امینیه د هلي څخه نې د فراغت سند تر لاسه کړ۔ د حدیثو په کتابونو کښي نې بخاري شریف او ترمذي شریف له حضرت مولانا کفایت الله صاحبؒ څخه ولوستل په د لسي حال کښي چه مسلم شریف او ابو د اود شریف نې له حضرت مولانا ضیاء الحقؒ څخه ولوستل۔

له فراغت څخه وروسته د خدمت کښي ټاکنه: په د ار العلوم امینیه کښي نې د تعلیم له پوره کولو څخه وروسته چه کله بیرته خپل کلي ته راغی نو په درس او تدریس نې شروع وکړه او د دیني علومو د طلباوو راتلل ورته شروع شو۔ په دې دوران کښي د سوات په ریاست کښي د قضاء د دندې د ترسره کولو وړاندیز ورته وشو کوم چه ده قبول کړ او د سوات د ریاست قاضي

وټاکل شو او د خلکو فیصلې نې د شریعت مطابق کولې۔ دې کاله په دې دندې باندې برقرار پاتې وو چه وروسته د سیاسي اختلافاتو په بناء د قضاء له دې عهدې څخه معزول کړی شو۔

له د ار العلوم حقانیې سره ټرون: شیخ الحدیث حضرت مولانا عبد الحق صاحب رحمه الله د ار العلوم حقانیې ته د راتلو دعوت ورکړ کوم چه ده قبول کړ او په ۲۷ ذی الحجه ۱۳۶۹ هجري کښي په د ار العلوم حقانیه کښي د مدرس په توګه وټاکل شو۔ وروسته د ده د علمي او تحریري صلاحیتونو له مخې د د ار الافتاء ذمه واري هم ور وسپارل شوه کومه چه په ډیري ښې طریقې سره نې سنبالوله۔ د ده د فتاواوو ډیره لویه ذخیره ستاسو په مخکښي کتاب کښي محفوظه ده۔ نومورې په هري مسئلې باندې ډیره جامعه او پراخه رڼا اچوله او په ډیر ښائسته انداز نې فتوی واضحوله او لیکل نې هم ډیر ښه وو۔

په ۱۱ شوال ۱۳۷۸ هجري کښي ده د ځینو وجوهاتو له مخې استعفا ورکړه او د اکوړه خټك څخه جامعه اسلامیه ته لاړ او هلته نې تقریبا دري کاله د درس او تدریس سلسله جاري وساتله۔ او په ۱۰ شوال ۱۳۸۱ هجري کښي بیا د د ار العلوم حقانیه مدرس وټاکل شو او په رمضان المبارك کال ۱۳۸٤هجري کښي له د ار العلوم حقانیه څخه و ایستل شو۔ په مجموعي توګه نې تقریبا څوارلس کاله د افتاء او درس او تدریس خدمتونه سر ته ورسول۔

له د ار العلوم حقانیې څخه نې د خارجولو وجوهات: حضرت مولانا مفتي محمد یوسف صاحبؒ د مولانا مودودي له نظریاتو او د هغه له تحریراتو او رایو څخه ډیر زیات متاثر وو چه د دې اظهار ده پخپله په ځینو محفلونو برسیره د درس په عمومي دوران کښي هم کاوه۔ د د ار العلوم حقانیه ماحول د علماء دیوبند د لویانو د افکارو او نظریاتو تر اثر لاندې وو د دې لپاره د هغه د تدریسي صلاحیتونو په بناء باندې حضرت شیخ الحدیث صاحبؒ تر خپله وسه پورې پرې سترګې پټولې۔ د حضرت مولانا سید حسین احمد مدني قدس سره العزیز، حضرت مولانا غلام غوث هزاروي، مولانا سید ګل بادشاه طور او د اسي نور رحمهم الله له جامعه د ار العلوم حقانیې سره نې ژور تعلق درلود۔ او د ده د مودودي نظریاتو د درلودلو له وجهې له جامعه د ار العلوم حقانیې څخه نې په لرې کولو باندې مصر وو۔ او بلې خوا ته ده د خپلو خیالاتو د رواجولو او خپرولو سره د ځینو طلباوو د خپل هم خیال جوړولو کوشش کاوه۔ لیکن په مجموعي توګه کومه ځانګړې کامیابي ورته حاصله نه شوه۔ یوا ځې نې په دې باندې اکتفاء ونه کړه بلکه د جماعت اسلامي په مجلو او رسالو کښي د مضامینو او مستقلو تصنیفونو په ذریعې سره هم د امت د لویو لویو علماوو په مودودي باندې د اعتراضونو ځوابونه او د هغه دفاع کوله او له د ار العلوم څخه نې له بیلولو وروسته په لیکنو کښي د جذباتي رد عمل ثبوت هم موجود دی۔ او د اسلافو د مسلمه موقف څخه نې د متصادم موقف په شدت سره ترجماني کوله۔

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

په آخر کښې حضرت شیخ الحدیث صاحب قدس سره العزیز د اکابرینو د هیلې او غوښتنې او د ده د حالاتو له وجهې به رمضان المبارک ۱۳۸٤هجري کښې له دار العلوم حقانیې څخه بیل کړ.

له دې وروسته نې په راولپنډي او د اسې نورو مختلفو مدارسو کښې د درس او تدریس سلسله جاري وساتله او بالآخره د پښاور د حدیقة العلوم په مدرسې کښې ئې انتقال وشو او د ژوند تر آخري لمحو پورې له همدې مدرسې سره وو.

شاګردان: د ده د شاګردانو فهرست ډیر اوږد دی. په دار العلوم حقانیې کښې د اوسیدو په مهال په زرګونو طلباء او فضلاء له ده څخه استفادې وکړې. د دار العلوم د موجوده مشهورو استاذانو کښې حضرت مولانا سمیع الحق صاحب مهتمم دار العلوم حقانیه، حضرت العلامه مولانا ډاکتر سید شیر علي شاه صاحب المدني او د دار العلوم حقانیې د تفسیر استاذ حضرت مولانا عبد الحلیم دیروي نې هم شاګردان دي.

حضرت مولانا مفتي محمد فرید صاحب مد ظله

زیږیدنه: دی په اول د شوال المکرم ۱۳٤٤ هجري په مطابق د اپریل ۱۹۲٦ء کښې د جمعې په ورځ د سهار د را ختو په وخت کښې د مولانا حبیب الله صاحب په کور کښې په زروبي ضلع صوابی کښې پیدا شوی دی. والد محترم نې مولانا حبیب الله صاحبؒ یو جید او متبحر دیني عالم وو او په څینو کتابونو او فنونو کښې نې دومره زیات شهرت درلود چه د صوبه سرحد له مختلفو علاقو څخه علاوه د بلوچستان او افغانستا څخه هم طلباء کرام ورته راتلل او فیض به نې تري حاصلولو او نن هم د نومورو علاقو لوی لوی علماء کرام یا لواسطه یا بلا واسطه د هغه شاګردان دي.

لکه څرنګه چه کورنی ماحول نې علمي ماحول وو له دې وجهې ده ته د علم د لاس ته راوړلو لپاره په ابتداء کښې د سفر ضرورت ور پیښ نه شو او د فنونو ټول کتابونه نې له ابتداء څخه تر انتها پوري له خپل والد محترم څخه ولوستل. په س۱۳٦۸هجري کښې نې چه کله والد محترم وفات شو نو د منطق، فلسفې او ریاضي آخري کتابونه نې له حضرت العلامه مولانا خان بهادر صاحب عرف مارتونګ مولانا صاحب، حضرت مولانا محمد نذیر چکیسر صاحب، حضرت مولانا عبد الرزاق شاه منصور صاحب او څینو نورو اساتذهٔ کرامو څخه ووئیل. په حدیثو کښې د صحاح سته کتابونه له محدث کبیر حضرت مولانا نصیر الدین غورغوشتوي قدس سره څخه ووئیل او په ۱۳۷۱ هجري په مطابق د ۱۹۵۲ء کښې اکابرو اساتذه کرامو نې په سر باندې د فضیلت پګړی ور وترله او له مولانا غورغشتويؒ څخه برسیره د دار العلوم حقانیه باني او مهتمم حضرت شیخ الحدیث مولانا عبد الحق صاحبؒ هم ده ته د حدیثو د کتابونو د تدریسولو اجازه ورکړه.

تدریس او افتاء: له تعلیم څخه له فارغیدو وروسته ده پخپل کلي زوربی کښې پخپلې پلرنۍ

درسګاه کښې درس شروع کړ او له یوه کال څخه وروسته د اکوړه ختک مشهوره دیني درسګاه د جامعهٔ اسلامیه د منتظمینو په دعوت او اصرار باندې د جامعه اسلامیه د مدرس په حیث اکوړه ختک ته تشریف راوړ او دلته نې د تدریس تر څنګ د افتاء کار هم شروع کړ او تر اوه کلونو پورې نې د مدرس او مفتي په حیث نې د خدماتو له سر ته رسولو څخه وروسته د څینو ضروري وجوهاتو په بناء مستعفي شو او د دار العلوم اسلامیه چارسده ته لاړ او هلته د صدر المدرسین او حدیثو د استاذ په حیث وتاکل شو. لکه څرنګه چه تر دریو کلونو پورې نې له مختلفو علومو او فنونو له تدریسولو پرته صحیح مسلم او سنن ابي د اود هم تدریس کاوه او د دې تر څنګ نې د افتاء کار هم جاري وساته.

په ۱۹٦٦ء کښې شیخ الحدیث حضرت مولانا عبد الحق صاحب رحمه الله ورته دیوبند ثاني ته د راتلو دعوت ورکړ او ده قبول کړ. په ۱۹۸٦ء کښې په دار العلوم حقانیه کښې د بیا لپاره وتاکل شو. په دې سلسله کښې ده یو ځل مولانا سمیع الحق صاحب ته وفرمایل چه کله حضرت مولانا مرحوم ما ته د دار العلوم حقانیې ته د راتلو دعوت راکړ نو زه د استخاري د کولو په فکر کښې شوم چه د شپې مې خوب ولیده چه د دار العلوم حقانیې په بهرنۍ دروازې باندې یوه لویه تخته لګیدلې وي چه په ډیرو واضحو الفاظو سره سره دا آیت کریمه چه "مَنْ دَخَلَهٗ کَانَ اٰمِنًا" لیکلی وي. له دې وروسته مې په چتکی سره شرح صدر وشو او د دار العلوم حقانیې ته د راتلو دعوت مې قبول کړ.

په د دار العلوم حقانیه کښې نې تقریبا دیرش کاله له ۱۹٦٦ء څخه تر ۱۹۹۵ء پورې درس، تدریس او د افتاء خدمتونه سر ته ورسول. په دې اوږدې مودې کښې نې مختلف علوم او فنون تدریس کړ او عموماً په جامع جومات کښې د جُمعې لمونځ ده پخپله ادا کاوه یعنې د جُمعې د لمانځه امامت نې پخپله کاوه. یوه ورځ د سهار د لمانځه په وخت کښې پرې د فالج (ګزن) مرض حمله وکړه چه له مخې نې په ژبې او جسم څه نا څه برخه متاثره شوه. او د هر ممکن علاج او معالجې تر څنګ د تدریس او افتاء د فرائضو د سر ته رسولو وړ و نه ګرځید. او د دار العلوم حقانیه نې له خدماتو څخه محرومه شوه.

بیعت: ده په کال ۱۳٦۹هجري کښې له قطب الارشاد حضرت مولانا خواجه عبد المالک صدیقيؒ څخه د قادریې، چشتیې او نقشبندیې په دریواړو سلسلو کښې بیعت وکړ او ډیر زر د شیخ له خوا څخه د بیعت د ورکولو اجازه ورته وشوه. او د باطن د اصلاح لپاره ګڼ شمیر علماوو او طلباوو له ده څخه د بیعت اخیستل شروع کړل.

تصانیف: د یوه مقبول مدرس تر څنګ دی د لوړ پوړي مصنفینو له جملې څخه هم دی. د ده څو تصنیفونه او تالیفات چاپ شوي او د عامې افادې په خاطر بازار ته را وتلي دي کوم چه په دیني او علمي حلقو کښې بې اندازې مقبول دي. چه له هغو څخه یو څو په لاندې ډول دي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

﴿۱﴾ هدایت القاري شرح صحیح البخاري لومړنی برخه ﴿۲﴾منهاج السنن شرح جامع الترمذي. ﴿۳﴾العقائد الاسلامیه ﴿٤﴾البشری ﴿٥﴾المقالات ﴿٦﴾د حج مسئلي ﴿۷﴾رساله التوسل

له دغو برسیره نې په سلګونو فتواوي، مقالات او وقیع علمي مضامین هم د دار العلوم حقانیې په ترجمان میاشتنۍ "الحق" کښې چاپ شوي دي کوم چه په دې مجموعې (فتاوی حقانیه) کښې هم شامل کړل شوي دي.

ولادت او ابتدایي تعلیم: لکه څرنګه چه پورته نې یادونه وشوه چه دی د یوه جید مدرس والي تر څنګ یو بهترین مفتي هم دی. په دار العلوم حقانیې کښې نې تر ډیره وخته پورې د صدر مفتي په حیث باندې پاتې شوی دی. د دار العلوم حقانیې د علمي عظمت او مرتبې له وجهې په هیواد کښې د نته او دباندې د ده فتواوي په هرې مسئلې کښې د سند حیثیت لري. دی ډیره لنډه لیکن جامعه فتوی لیکي چه دا نې په فقهي باندې د عبور ښکاره ثبوت دی. په دې بناء باندې چه دی د یوې دومره لویې دیني ادارې صدر مفتي دی او په زرګونو فتواوي نې لیکلي دي که ضرورت ورته د مفتي اعظم سرحد لقب ورکړشي نو یقینا به په دې کښې هیڅ مبالغه نه وي.

چونکه دی په دار العلوم حقانیه کښې تر ډیره وخته پورې د دار الافتاء په خدمت باندې فائز پاتې شوی دی نو د دې لپاره د فتواوو تعداد نې تر نورو مفتیان کرام و ډیر دی. د هر یوه مفتي د فتوی د ورکولو خپل طرز او طریقه وي چه پخپلو خپلو فتواوو کښې نې ځلیږي. د حضرت مفتي محمد فرید صاحب دام ظله د زرګونو فتواوو له مطالعې څخه وروسته د ده د فتواوو طرز او خصوصیت چه کله محسوس شو نو په لنډو الفاظو نې دا خصوصیت په لاندې ډول دي.

﴿۱﴾ د ده په فتواوو کښې ډیر اختصار او ایجاز موجود دی او له اطناب څخه نې ډډه کړې ده. بیا هم که چیرته نې د فتوی د نوعیت په اعتبار سره نې که چیرته ضرورت ورته محسوس کړی دی نو د ضرورت تر اندازې پورې نې تفصیل هم پکښې کړی دی. لیکن د ده په کومو فتاواوو کښې چه اختصار او ایجاز وي نو اهل علم حضراتو لپاره د یوه عجیب علمي ښکلا او زړه را کښلو باعث جوړیږي.

﴿۲﴾ د فقاهت د کمال له وجهې د باریکو قیودو په ذکر کولو سره به نې مسئله جامع ګرځوله تر څو چه په دې بنیاد باندې څوک نې د ځان لپاره د غلط استدلال لپاره استعمال نه کړي او مسئله هم په پوره توګه څرګنده شي. دې احتیاط ته په کتو سره دا ویل په ځای دي چه د ده فتوی د یوه قانوني دستاویز او اثینې مادې په شان جامع او لنډ وي.

﴿۳﴾ د ده په فتواوو کښې دا خبره د رنا ورځ غوندې ښکاره په سترګو کیږي چه ده ته په فقهي جزئیاتو باندې مکمل عبور حاصل دی. دی د فتوی دلیکلو پهو خت کښې لومړی د اعتبار وړ له فقهي جزئیاتو څخه استدلال کوي. ګواکه په فتوی لیکنې کښې دی نومورې جزئیات بنیاد

او اساس جوړوي. البته که چیرته په کومې مسئلې کښې د قرآن پاک کوم څرګند نص یا په مبارکو احادیثو کښې کوم صحیح حدیث موجود وي کوم چه د حکم په باره کښې راغلی وي نو هغه هم د دلیل په توګه ذکر کوي او که چیرته په کومې مسئلې کښې د قرآن او حدیث کوم واضح حکم موجود نه وي او یا کومه فقهي جزئیه موجوده نه وي نو دی کلي قواعدو او اصولو ته لاس ور غزوي او د هغو په مطابق حکم کوي.

﴿٤﴾ د افتاء په مسند باندې ښې د ناکل کیدو له مخې دا ضروري نه ده چه د ده فتواوي به د جزئیاتو تر نقل کولو پورې محدودې وي بلکه کله کله حالاتو ته د کتو له مخې د مخورو فقهاوو او مفتیانو سره د اختلاف اظهار هم کاوه. البته پرته له کوم سند او حوالې څخه به نې فتوی نه ورکوله او په فتوی ورکولو کښې نې له مضبوطو دلائلو څخه کار اخیست.

﴿٥﴾ د ده په فتواوو کښې دا خبره په ښکاره توګه تر سترګو کیږي چه چیرته د حوالې د ورکولو ضرورت ورته پیښ شوی دی نو زیات نې له شامي، عالمګیري، بدائع الصنائع، البحر الرائق او د اسې نورو مخکښینانو فقهي خزانو څخه کار اخیستی دی. البته په نوي مسائلو کښې د حضرت تهانوي رحمه الله په تحقیقاتو باندې ژور نظر لري. لکه څرنګه چه د نن دور جدید او نوی دور دی او نوي نوي مسائل وراندې کیږي د اسې مسائل هم د نورو او هل علمو غوندې د ده په فتاواوو کښې موجود دي لکه د بیمې ژوند، انعامي پرائز بانډ او د اسې نور.

حضرت العلامه مولانا عبد الحلیم زروبوي صاحب رحمه الله

ولادت او ابتدایي تعلیم: دی په ۱۹۰۸ء کښې د مولانا خلیل الرحمٰن په کور په زروبی (صوابی) کښې پیدا شو او ډیر په کوچنیوالي کښې د تعلیم خواته متوجه شو د ابتدایي تعلیم لومړنی مکتب له ویلو وروسته نې د ځایي روایت مطابق فارسي نظم اود صرف او نحوي ابتدایي کتابونه نې له خپل محترم والد څخه شروع کړل. پلار نې چه کله پخپل ایماني فراست سره د ذهانت او فطانت آثار ولیدل نو وئې فرمایل چه "زما دا زوی به انشاء الله ډیر لوی عالم او فاضل جوړیږي ځکه چه په تندي کښې ئې د علم نور ځلیږي". دی فطرتاً ډیر کم ګو او عزلت خوښوونکي طبعیت خاوند وو نو ډ دې لپاره همه تن او تول وخت د کتابونو په مطالعې کښې بوخت وو.

مختلف ابتدایي کتابونه، فارسي نظم او تر کافیې پورې کتابونه نې پخپلې علاقې کښې له ویلو وروسته چې علاقې ته تشریف بوړ او هلته نې په ویسه او جلالیه نومي ځای کښې شرح جامي، الفیه او سعدیه کتابونه پوره کړل. په دې دواړو ځایونو کښې نې د صرف او نحوي مشهور درس کیده او د مختلفو ځایونو طالبان دلته د صرف او نحوي د کتابونو د ویلو لپاره راتلل.

له دې وروسته نې د دوابې ضلع پیشاور صریخ نومي ځای ته راغی او دلته نې د مشهور عالم دین مولانا صاحب حق صاحبؒ صریخ څخه د منطقو څو کوچني او لوی کتابونه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

وویل۔ د دې ځای درس د منطقو په علم کښې مشهور وو۔ او له لرې لرې ځایونو څخه د منطقو د علم شاقینو خپلې تندې دلته ماتولې۔

لکه څرنګه چه په هغې زمانې کښې په دې علاقې کښې د دینې مدارسو باقاعده رواج نه وو یواځې په جوماتونو کښې علمي درسونه موجود وو۔ د دې لپاره د دینې علم طالبانو په دغو درسونو کښې د شرکت کولو لپاره له یوه کلي څخه بل کلي او له یوې علاقې څخه بلې علاقې ته د مختلفو کتابونو د ویلو لپارهٔ تلل۔ د دې لپاره حضرت صدر صاحب رحمه الله څه وخت په شاه منصور کښې له مولانا عبد الرزاق صاحبؒ عرف لالا مولوي صاحب څخه استفاده حاصله کړه۔ برسیره پر دې نې په مردان کښې له مولانا سمندر خان صاحبؒ څخه هم د ځینو روایتونو په مطابق مستفید شو۔

په کډې نومې ځای کوم چه صوابی ته نژدې یو کلی دی کښې نې له استاذ کل حضرت مولانا عبد الروف صاحبؒ څخه د نحوي څو نور کتابونه وویل۔

په مختلفو ځایونو او مختلفو درسونو کښې نې له شرکت کولو وروسته د چج علاقې مشهور کلي غورغشتي ته تشریف یووړ او او هلته نې د زمانې علامه حضرت مولانا قطب الدین صاحب غورغشتويؒ د درس په حلقې کښې شامل شو۔ مولانا قطب الدین صاحبؒ د تل لپاره د شفقت په نظر ورته کتل د دې لپاره چه دی نه یواځې دا چه یو د استعداد خاوند او ذهین او فطین طالب علم وو بلکه علامه صاحبؒ د حضرت صدر صاحبؒ د مور له خوا نیکه د مولانا شاه صاحبؒ شاګرد هم وو۔ دلته نې له هغه څخه سلم العلوم، ملا حسن، نور الانوار، غلام یحیی، قاضي مبارک، امورِ عامه او خیالي غوندې اهم کتابونه وویل۔ حضرت علامه صاحبؒ به پخپل دې هونهار او رشید شاګرد په ډاهنت او فطانت باندې ډیر ویاړ کاوه او ځینې کتابونه نې د دې تر څنګ چه وخت ورسره نه وو ورته ویل او په سفر او حضر کښې نې له ځان سره یو ځای اوساوه۔

گلن چمن کو اپنی بہاروں پہ ناز تھا　　وہ آگئے تو ساری بہاروں پہ چھا گئے

له دې وروسته نې د ګیدړ پور ضلع هزاره نومي ځای ته تشریف یووړ او هلته نې له مولانا قاضي غلام نبي صاحبؒ محسني حمد الله څخه منطق او د نورو فنونو کتابونه وویل۔ حضرت صدر صاحبؒ چه هلته څومره و اوسیده د هغه په خدمت کښې به وړاندې وړاندې وو۔ دا وجه ده چه ده له هغه څخه د استفادې کافي موقع په لاس ورغله۔ ده له هغه څخه شرح عقائد، سبع المعلقات، مفتاح العروض، میبذي، صدرا، حمد الله او داسې نور کتابونه وویل او د هغه د ژوند تر آخري سلګیو پورې له هغه سره پاتې وو۔

له ګیدړ پور څخه د بیرته راتلو څخه وروسته له خپل ما ما مولانا محمد صاحب قدس سره چکوال ته لاړ او هلته نې مختصر المعاني، مطول، مشکات شریف، جلالین او بست باب

(ریاضي) وویل۔

په دغو ټولو دورونو کښې ضعف، نقاهت او مریضي د ده د بدن جزو لاینفک وو لیکن د دې تر څنګ د اتول عوارض د ده د علم د شوق په لاره کښې د پښې د زنځیر د جوړیدو په ځای د شګو دیوال ثابت شول او په کوم غرض او د مقصود د لیلی په پلټنې پسې چه وتلی وو د هغې په لاس ته راوړو کښې مصروف وو۔

دست از طلب ندارم تا کام من برآید　　یا تن رسد بجانان یا جان من برآید

په دار العلوم دیوبند کښې داخله: د فنونو له تکمیل څخه وروسته د انسانیت جامعې او برصغیر عظیم اسلامي پوهنتون د دار العلوم دیوبند کښې نې په ۱۳۵۱ هجري کښې داخله واخیسته۔ هلته نې صحاح سته او ځینې نور کتابونه د فقهي، تفسیر او حدیثو له مجاهد حریت، اسیر مالتا، شیخ الاسلام مولانا سید حسین احمد مدني، مولانا محمد ابراهیم بلیاوي، مولانا رسول خان هزاروي، مولانا اعزاز علي صاحبؒ او مولانا مفتي محمد شفیعؒ او داسې نورو حضراتو څخه وویل۔ موقوف علیه او دورهٔ حدیث په ویلو سره نې په کال ۱۳۵۳ هجري کښې د فراغت سند لاس ته راوړ۔

د تدریسي سفر پیل: په ۱۳۵۴ هجري کښې نې له مدرسهٔ رحیمیه د هلي څخه خپل تدریسي سفر شروع کړ۔ چېرته چه له ابتداء څخه د اهمو کتابونو تدریس ور وسپارل شو او ډیر زر د کامیابو مدرسینو له جملې څخه وګڼل شو۔

په ۱۹۴۷ء کښې چه کله هندوستان تقسیم شو نو د بیا لپاره د هلي ته نه شو تلی او د خپل کلي بهایي خیل په جومات کښې نې حسبه لله درس شروع کړ۔ له لرې پرتو ځایونو څخه به طلباء کرام نې په درس کښې د شرکت لپاره راتلل۔ د بیضاوي شریف، خیالي او شرح عقائد غوندې سخت، مغلق او مهتم بالشان کتابونو په تدریسولو کښې ډیر مشهور وو۔ له دې وروسته څه وخت مکهد (ضلع اتك) ته تشریف یووړ او له هغه ځای څخه د بیرته راتلو په صورت کښې په اکوړه خټك کښې د تدریس د خدمت په سر ته رسولو باندې مامور شو۔

دار العلوم حقانیې ته راګډه: د صحت د خرابوالي له وجهې د جامعه اسلامیه څخه خپل کلي ته لاړ او هلته نې د صحت د شرط په بنا سره تدریس کاوه۔ او د ذریعهٔ معاش لپاره نې یوناني دواخانه خلاصه کړه۔ کله چه حضرت شیخ الحدیث مولانا عبد الحق صاحب ته څرګنده شوه چه له جامعه اسلامیه څخه خپل کلي ته راغلی دی نو په ۱۵ د شوال ۱۳۶۸ هجري کښې نې دار العلوم حقانیه ته راوست۔ لیکن دلته نې هم د صحت د خرابوالي له وجهې په تدریس کښې خنډ واقع شو او څلور میاشتې او لسو ورځو وروسته په تاریخ د ۲۲ محرم الحرام ۱۳۶۹ هجري کښې بیا خپل کلي ته لاړ او په دې دوران کښې نې خپل علاج وکړ۔

دار العلوم مظهر العلوم کښوده کراچي: د علاج، معالجې او هوا بدلونې په خاطر نې کـــــراچي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

ته تشـــــریف یووړ او هلته ئې له مولانا محمد یوسف بنوري صاحبؒ سره خصوصي ملګرتیا وه. د دې لپاره د هغه په مشوري او تعاون باندې د دار العلوم مظهر العلوم کهډه کښې مدرس وتاکل شو.

دار العلوم حقانیې ته ئې د بیا راتګ دوره: له کراچۍ څخه د بیرته راتلو څخه وروسته ئې څه وخت په کلي کښې تیر کړ. له هغه وروسته شیخ الحدیث حضرت مولانا عبد الحق صاحب قدس سره په غوښتنې باندې په ۲۷ شوال المکرم ۱۳۷۷ هجري کښې بیا د دوهم ځل لپاره د دار العلوم حقانیې ته تشریف راوړ او تر بیا تګ پورې په دار العلوم حقانیې کښې د دین متین د خدمت او اعلاء کلمه الله لپاره کوشان وو. په دې دوران کښې نورې لویې لویې اداري او مدرسي د تدریس د کولو لپاره غوښتنې او هیلې ترې وکړې لیکن ده ټولو ته دا وویل چه زما مقصد د دین حصول دی نه د معاش حصول او د دین خدمت دلته په ښې طریقې سره کیږي. دلته ئې په دوره حدیث کښې مسلم شریف، بخاري شریف دوهم جلد او له تفاسیرو څخه بیضاوي شریف، د فقهې له اصولو څخه ئې تلویح توضیح او مسلم الثبوت تدریساوه. له دې برسیره ئې شرح عقائد، خیالي او جلالین شریف هم تدریسول.

بیعت او ارادت: په دار العلوم دیوبند کښې د اوسیدو په وخت ئې د بیعت تعلق له حضرت شیخ الاسلام حضرت مولانا سید حسین احمد مدني قدس سره سره وو. له هغه وروسته د شیخ الحدیث حضرت مولانا نصیر الدین غورغشتويؒ د ارادت په حلقې کښې داخل شو. نژدې وو چه شیخ الحدیث صاحبؒ د خلافت اجازه ورکړي وای ځکه چه ده د تصوف ټول اسباق مکمل کړي وو لیکن د شیخ صاحبؒ د بلنې وخت را ورسید او همد اسې ئې له خپل شیخ صاحبؒ څخه د خلافت تمنا په زړه کښې پاتې شوه.

قطب الارشاد حضرت مولانا خواجه عبد المالك صدیقي صاحبؒ د خانیوال چه د ارادت په حلقې کښې ئې ډیر علماء او صلحاء شامل وو او پخپله شیخ الحدیث حضرت مولانا عبد الحق صاحبؒ هم د ده له خلفاوو څخه وو. د دې لپاره چه کله به د صوبه سرحد په دوري باندې راتلو نو یوه شپه به ئې خامخا په دار العلوم حقانیې کښې تیروله. په دې دوران کښې به علماوو، صلحاوو، مریدینو او مسترشدینو یوه عظیمه ډله به د اشرفي خانقاه عجیب او غریب رونق او ښایست جوړ شول. لکه څرنګه چه له خپلو دواړو شیخانو (شیخ الاسلام مولانا سید حسین احمد مدني او شیخ الحدیث حضرت مولانا نصیر الدین غرغشتوي رحمهما الله) له وفات څخه وروسته ئې د حضرت خواجه صاحبؒ ده ته د خلافت پګړۍ ور وترله. وروسته له دې د افغانستان د سفر په دوران کښې د مجددي خاندان له مشهور بزرګ او پیر طریقت حضرت ضیاء المشائخ مولانا محمد ابراهیم جان المجددي هم ورته په سلسله نقشبندیه مجددیه کښې اجازه ورکړه او یوه خرقه ئې د هدیې په توګه ور بخښله.

د سعادت سفر: د هر مسلمان غوندې د ده هم دا هیله وه چه د وحي مهبط، د رسول الله ﷺ د دیار او د جبریل امینؑ د تیریدو ځای زیارت ئې نصیب شي، د رسول الله ﷺ دیوه ربښتوني عاشق په شان د ده هم په زړه کښې دې خبرې موجونه وهل چه یو ځل په دې مستعار ژوند کښې ورته د بیت الله شریف حج ور په برخه شي. لکه څرنګه چه تر لسو کالو پورې ئې دا مسلسله هلیه وه چه تر څو پورې ئې منظوري راغله او په ډیرې خوشۍ او خوشحالۍ سره د دې عظمی سعادت څخه برخه مند شو.

شاګـــــردان: دی د خپلې مضبوطې حافظې او قوي استعداد له مخې د طالب علمي په دوران کښې هم په فارغو وختونو کښې طالبانو ته کتابونه لوستل او له فراغت وروسته خو همه تن د دې فریضې خواته پرته له هغو وختونو څخه چه دی به د فراش خاوند وو متوجه شو او د تعلیم او تعلم سلسله ئې جاري وساتله. نو له دې حساب څخه د محتاطې اندازې مطابق د ده شاګردان تر زرګونو پورې رسیږي چه د هغو له جملې څخه په څانګړي توګه مجاهد کبیر، د افغانستان د جهـــــاد د الهام مدار حضرت مولانا جلال الدین حقاني، مولانا محمد یونس خالص، مولانا سید شیر علي شاه صاحب شیخ الحدیث و التفسیر او د مدیني د پوهنتون فاضل، مولانا فضل الرحمن بن مولانا مفتي محمود صاحبؒ، مولانا عبد الغني صاحب (ایم این اے چمن)، مولانا سمیع الحق صاحب، مولانا عبد الخالق رحماني کراچي، مولانا احمد ګل حقاني شهید د یادونې وړ دي.

د فتوی طرز او انداز: لکه څرنګه چه په تفسیر، حدیث، فقهې، عقائد او معقولاتو کښې الله تعالي ورته لوړ او اعلی مقام وربخښلی وو همد ارنګه ئې د فتاوی اکثر کتابونه له مطالعې څخه پاتې شوي نه دي. فتاوی قاضیخان، شامي، عالمګیري، هدایه، بحر الرائق او فتح القدیر ځینې عبارتونه ئې له یادو وو لیکن چونکه افتاء ئې شعبه نه وه د دې لپاره ئې د فتواوو تعداد ډیر کم دی. د ده فتواوي به اکثره د عقائدو او کلامیاتو په اړه وي او د دغو استفساراتو په باره کښې به ئې ځوابونه لیکل. او په څانګړي توګه په هغو معرکه الآراوو مسائلو کښې چه علماوو ته به په هغو کښې مشکلات مخته راغلل ده به هغه مسائل په ډیرې چټکۍ سره حل کولې. د دې لپاره ښکاره خبره ده چه فتواوي د عامو اذهانو له پوهنې څخه پورته وي. البته د عامو استفساراتو په باره کښې به ئې ځواب انتهایي څرګند، مدلل او مفصل وو.

تصنیفونه: ګوا که دی په علمي دنیا کښې د یوه عبقري شخصیت خاوند وو او د داسې لطیفې او باریکې نکتې به د درس په دوران کښې بیانولې چه انساني عقل به ورته حیران شو لیکن د دې ترڅنګ هم هیڅکله د کوم کتاب د تصنیف او تالیف کولو اراده نه ده ښکاره کړې. چنانچه راقم اراده وکړه چه د ده په ژوند کښې د ده د معتمدو او ثقه شاګردانو څخه د ده تقریرونه او درسي افادات را ټول کړي او کار پرې شروع کړي او پخپله د حضرت صدر صاحبؒ توجه د دې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

ضرورت خو اته را وګرځوي. لیکن د حضرت خاکساري او عاجزي ته وګورې چه سره له علمي تفوق او ژور کتنې به ئې ویل چه د "اکابرو حضراتو په شل ګونو تصنیفونو په موجود والي کښې به زما د کوم تصنیف یا تالیف څه قدر او قیمت وي او د دغو حضراتو په تصنیفاتو او تالیفاتو کښې کومه نیمګړتیا پاتې ده چه زه هغه پوره کړم." لیکن با لآخره د بنده د سخت اصرار له مخې ئې ملا وتړله. د مسلم شریف د کتاب الایمان ډیره حصه مې د درس په دوران کښې لیکلې وه او هغه مسوده مې ده محترم ته ور وسپارله. ده پرې نظر ثاني وکړه او د هغې د تبییض کولو کار ئې شروع کړ لیکن د شاعر په قول چه:

ما کل ما یتمنی المرء یدرکه تجری الریاح بما لا تشتهي السفن

دلته ئې چه اوس د لیکلو اراده وکړه چه د ناڅرګندو وجوهاتو په بناء باندې په ښې لاس کښې درد شروع شو او تقریباً څلور میاشتې ئې په دې درد او تکلیف کښې تیرې کړې. په هر حال هغه کار پوره کیدو ته همد اسې تړې پاتې شو.

﴿۱﴾ **امالي ترمذي:** په دار العلوم دیوبند کښې ئې د تعلیم په دوران کښې د شیخ الحدیث حضرت مولانا سید حسین احمد مدني نور الله مرقده څخه د ترمذي شریف افادات او آمالي لیکلي وو او بنده د هغه د تخریج او د اسې نورو شیانو کار شروع کړ. انشاء الله چه ډیر زر به د چاپ په ګیټې باندې ښائسته شي.

﴿۲﴾ **تقریر مسلم شریف:** د ده شاګرد انو د درس په دوران کښې د مسلم شریف تقریر تر قلم ایستلی وو. بنده هم د هغه د کتاب الایمان اکثره برخه لیکلې ده. له دې پرته ئې کتاب الایمان او د مسلم شریف مقدمه په شمول د کتاب البیوع د بنده سره محفوظ دي.

﴿۳﴾ **تقریر بیضاوي شریف:** د بیضاوي شریف په تفسیر باندې د ده درسي افادت او آمالي د ده له مختلفو شاګرد انو سره موجود دي.

﴿۴﴾ **د مسلم الثبوت د مفلقاتو حل:** د تلویح او توضیح او مسلم الثبوت د مشکلو ځایونو توضیح او تشریح باندې مشتمل افادات ئې وجود لري.

﴿۵﴾ **مباحث کلابیه بخاري دوهم جلد:** د بخاري شریف کوم ځایونه چه په علم کلام پورې اړه لري حضرت صدر صاحبؒ د خپل تکلم د شان مطابق ډیر په ښائسته (په زړه پورې) انداز باندې د هغه تشریح کړې ده.

﴿۶﴾ **امالي شرح شرح عقائد او خیالي:** ده چه په کوم وخت کښې پخپل کلي کښې درس ورکاوه هلته په هغه وخت کښې ئې شاګرد انو له ده څخه د شرح عقائد او خیالي افادات لیکلي وو.

﴿۷﴾ **افادات حلیم:** راقم دا لنډه رساله کوم چه د بخاري شریف د آخري حدیث تشریح او د مسلم شریف د باب الکبائر و اکبرها باندې مشتمله ده او د دې تر څنګ د حضرت صدر صاحبؒ لنډ سوانح (۱) عمري هم پکښې شامله ده شائع کړې ده.

اولاد: د ده درې زامن او درې لونړې دي. مشر زوی ئې مولانا حافظ محمد ابراهیم فاني په د ار العلوم حقانیه کښې مدرس دی او دوهم درېم زوی محمد اسمعیل او عبد الحفیظ ئې په تجارت او د اسي نورو کارونو کښې مشغول دي.

د اخرت سفر: په ۶ جنوري ۱۹۸۳ء کښې ئې له دې فاني دنیا څخه ستر ګي پټې کړې. شیخ الحدیث حضرت مولانا عبد الحق صاحبؒ ئې د جنازې لمونځ ادا کړ چه په زرګونو علماء، صلحا، طلباء او عوامو شرکت پکښې وکړ. رحمه الله.

(۱) د ده د ژوند مفصل حالات او مکمل سوانح د پیژندلو لپاره د "صدر المدرسین" مولفه حضرت مولانا حافظ محمد ابراهیم فاني ملاحظه کړی.

حضرت مولانا مفتي محمد علي سواتي رحمه الله

نوم نسب او د پیدائش ځای: مولانا محمد علي په ۱۹۱۹ء کښې د جناب عنایت الله صاحب په کور کښې په خوازه خیله ضلع سوات په مالاکنډ ډویژن کښې پیدا شو.

ابتدایي تعلیم او استادان: ده ابتدائي تعلیم په سوات کښې حاصل کړ او په استاذ انو کښې ئې مولانا عبد الرشید صاحب، مولانا محمد صدیق صاحب او مولانا مفتاح الدین صاحب نومونه ځرګند دي. له دغو حضراتو څخه ئې مطول، مختصر المعاني، شرح عقائد، کافیه او شرح جامي او د اسې نور کتابونه ووایل.

اعلی تعلیم او استادان: د اعلی تعلیم د حصول لپاره ئې په ۱۹۴۳ء کښې مظاهر العلوم سهارنپور (هند) ته تشریف یووړ هلته ئې درې کاله له نور تعلیم څخه وروسته له دورۀ حدیث څخه د فراغت سند حاصل کړ. د حدیثو په دورې کښې ئې استاذ ان هر یو مولانا محمد زکریا صاحب، حضرت مولانا عبد الرحمٰن صاحبؒ کامل پوري صدر المدرسین مظاهر العلوم او حضرت مولانا عبد اللطیف صاحب مهتمم مظاهر العلوم غوندې د وخت نابغه اشخاص شامل دي.

تدریسي خدمتونه: له فراغت څخه وروسته ئې یو کال په د ار العلوم سهارنپور کښې د تدریس فریضه سر ته ورسوله. د هند له تقسیم څخه وروسته خپل وطن پاکستان ته راغی او په حکمت آباد چارسده کښې ئې د درس او تدریس سلسله شروع کړه چه تر اتو کالو پورې جاري وه. په ۱۹۵۵ء کښې په د ار العلوم حقانیه کښې د مدرس په توګه وتاکل شو او تر آخري وخته پورې ئې دلته د تدریس سلسله جاري وه.

اولاد: د اولادونو له جملې څخه ئې مولانا عبد الصمد، مولانا عبد الاحد او مولانا صدیق احمد د جامعۀ د ار العلوم حقانیه فاضلین دي.

فقهي مرتبه: دی د خپلې زمانې مشهور فقهي عالم وو. د هدایه آخرین غوندې د مشکل کتاب په تدریس کولو کښې ئې ځانګړې مهارت درلود چه له وجهې ئې له لرې لرې ځایونو څخه ګڼ شمیر طلباء کرام د هدایې د لوستلو لپاره جامعۀ د ار العلوم حقانیې ته راتلل. دی پخپل وخت کښې د یوې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

خانګړي حلقې د ننه د فقهي امام ګڼل کیده. له فقهي پرته ئې له علم معاني او علم نحو سره هم خانګړی شوق درلود.

د اخرت سفر: په ۱۱ محرم الحرام ۱۴۰۱ هجري کښې د حنفي فقهي مشهور کتاب هدایه آخرین له درس څخه فارغ شو او د پورته کیدو په حالت کښې د زړه دوره پرې راغله او کتاب ئې په سر باندې کیښود او کښینست او بیا د جګیدو وړ نه شو. په دې دول د ۶۱ کلونو په عمر خپل حقیقي مالک ته وصل شو. رحمه الله علیه رحمه واسعه.

حضرت مولانا مفتي قاضي نور الدین صاحب مد ظله

نوم او نسب: مولانا قاضي انور الدین صاحب د قاضي زین العارفین صاحب په کور کښې په اکوړه ختک کښې پیدا شو. قاضي زین العارفین صاحب د قاضي نظیف الدین صاحب زوی وو او د نسب په لحاظ سره د حسني له ساداتو څخه وو.

کورنۍ تاریخچه: د قاضي صاحب د لیکنو په رنا کښې دا څرګندیږي چه دی له یوې علمي کورنۍ سره تعلق لري او پلار او نیکه ئې په علمي لحاظ سره د ښه شهرت خاوند ان وو. د قاضي صاحب نیکونه د دین د اشاعت لپاره له مدیني منورې څخه ووتل او په بلخ او بخارا کښې د دیني علم د خپرولو په صورت کښې فرغاني ته لاړل.

د ده پلرونو او نیکونو د علمي بصیرت د درلودو له وجهې د ظهیر الدین بابر په دربار کښې ښکاره مرتبه ترلاسه کړه. کله چه بابر په هندوستان باندې حمله وکړه نو د قاضي صاحب اسلاف د قضاء په منصب باندې فائز وو.

لومړی افغانستان ته او بیا له ظهیر الدین بابر سره هندوستان ته له راتلو وروسته ئې اسلافو په مختلفو ادوارو کښې د قضاء په منصب باندې پاتې وو او حق به ئې خپرول. د بابر لپاره د مختلفو خدماتو او وفادارۍ له مخې د بابر د دربار د مرتبې خاوند ګڼل کیدل. قاضي نور الدین صاحب پخپله هم د قضاء په منصب باندې فائز دی او په اکوړه ختک کښې خپل فرائض په ښې طریقې سره ترسره کوي.

ابتدایي تعلیم: ده خپل تعلیم له دار العلوم حقانیه څخه شروع کړ او د دار العلوم حقانیې په شعبهٔ "تعلیم القرآن" مکتب کښې ئې ابتدایي تعلیم ترلاسه کړ. په تعلیم القرآن مکتب کښې ئې د عصري تعلیم تر څنګ د حضرت شیخ الحدیث مولانا عبد الحقؒ له خوا په مدرسهٔ تعلیم القرآن کښې جاري کړی شوي "درجهٔ عربیه" له مولانا قاضي حبیب الرحمٰن صاحب فاضل دیوبند څخه وویل. په دې درجې کښې د صرف، نحو، منطق، فقه او د اصول فقهه کتابونه ویل کیدل. ځینې ابتدایي کتابونه ئې له خپل والد محترم څخه وویل. کافیه، شرح جامي او هدایه الحکمه او داسې نور ئې په اکوړه ختک کښې له حضرت مولانا سید محمد کرم علي شاه المعروف په پاچاګل مولوي صاحب څخه ولوستل.

اساتذهٔ کرام: د ده د ابتدایي اساتذهٔ کرامو نومونه په لاندې ډول دي:
شیخ غلام حیدر۔ (۲) شیخ محمد عمر صاحب (۳) شیخ غلام جیلاني صاحب (٤) شیخ عبد اللطیف صاحب۔

دا حضرات په تعلیم القرآن مکتب کښې د ده استاذ ان وو۔ د ده نور استاذ ان د ده خپل پلار محترم مولانا قاضي زین العارفین صاحب، قاضي حبیب الرحمٰن صاحب، حضرت مولانا سید مبارک شاه صاحب او شیخ عبد الرحیم صاحب د یادونې وړ دي۔

قاضي صاحب د فارسي نظم کتابونه لکه ګلستان، بوستان، تحفه نصائح، سکندر نامه، یوسف زلیخا او مثنوي مولانا روم او د اسي نور ئې له شیخ عبد الرحیم صاحب څخه ولوستل۔

ده د حدیثو دوره په دار العلوم حقانیه کښې په مکمل کولو سره د فراغت سند ترلاسه کړ۔ په علم حدیث کښې چه له کومو حضراتو څخه فیضیاب شو د هغو له جملې څخه شیخ الحدیث مولانا عبد الحق صاحب، صدر المدرسین مولانا عبد الحلیم زروبويؒ او مولانا مفتي محمد یوسف صاحبؒ نومونه د یادونې وړ دي۔

تدریسي خدمتونه: له فراغت څخه وروسته په ۱۳۷۸ هجري کښې په دار العلوم حقانیه کښې د نائب مفتي او مدرس په توګه وتاکل شو او وروسته بیا مفتي وتاکل شو۔ قاضي صاحب په افتاء کښې له مولانا مفتي محمد یوسف صاحب، مولانا عبد الحق قندهاري صاحب او مولانا زروبوي صاحب څخه استفاده کړې ده۔ د تدریس په وخت کښې ئې د صرف، نحو، فقه، اصول فقه، علم معاني او علم بیان کتابونه تدریساوه۔ د مدرس او مفتي په حیث ئې تقریباً لس کاله پخپل علمي مور د دار العلوم حقانیې کښې خدمت وکړ۔

افتاء او قضاء: قاضي صاحب په دار العلوم حقانیه کښې د تدریس په دوران کښې د افتاء کار شروع کړ۔ له هغه وخت څخه تر دې وخته پورې د خدای د بندګانو اختلافات د قرآن او سنتو په رنا کښې حل کوي او دا ټول خدمتونه پرته له کومې معاوضې یواځې د خدای د رضا لپاره سر ته رسوي۔

انداز فتوی: د ده اکثري فتواوي له حضرت مولانا مفتي محمد یوسف صاحب له فتواوو څخه ماخوذې دي۔ تر یو څه وخته پورې ئې یواځې د مفتي محمد یوسف صاحبؒ لیکل شوې فتواوي په کتابچې کښې لیکلې۔ تر دې وروسته د ترقۍ په ورکولو سره مفتي وتاکل شو۔ د بیان په طرز او طریقې کښې ئې د مفتي محمد یوسف صاحب اثر زیات دی لیکن په فقهي ذخائرو هم نظر اچوي۔ اوس ئې هم په علاقې کښې فتواوو او فیصلو ته اهمیت ورکول کیږي۔ د ترستر ګو لاندې فتاواوو په مجموعه کښې د ده په لاس د لیکل شویو فتاواوو یوه لویه ذخیره شامله ده۔ په ۱۳۸۸ هجري کښې د ځینو ذاتي مجبوریو او معاشي تقاضاوو له وجهې پخپله له دار العلوم حقانیې څخه بیل شو۔

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

بیعت: په تصوف او سلوك كښې د قـــــــادریه او نقشبندیه له سلسلو سره تعلق لري. حضرت مولانا عبد الغفور صاحب مهاجر مدني چه كله له مدیني منوري څخه په لومړي ځل اكوړه ختك ته تشریف راوړو نو ده د هغه په لاس باندې بیعت وكـــــړ او د مریدي د اسلسله نې تر اوسه پورې هم جاري ده.

حضرت مولانا عبد الحلیم كوهستاني

نوم او نسب او مولد: مولانا عبد الحلیم كوهستاني په كال ۱۹۱٤ء كښې د مولانا رستم خان په كور كښې د كوهستان په علاقه كښې پیدا شو.

ابتدایي تعلیم: ده خپل تعلیم د پنځو كلونو په عمر كښې له خپل والد محترم څخه شروع كړ. له هغه څخه نې ابتدایي كتابونو تر لوستلو وروسته د علم د تكمیل لپاره په دار العلوم حقانیه سیدو شریف (سوات) كښې داخله واخیسته او له همدې ځای څخه نې په كال ۱۹۶۲ء كښې د فراغت سند تر لاسه كړ.

اساتذه كرام: ده د خپل والد محترم څخه پرته له ډیرو نورو استاذانو څخه د خپل علم تنده ماته كړې ده. صرف او نحو نې له مولانا بنارس خان څخه وویل، شرح جامي نې له مولانا عبد اللطیف صاحب څخه، معقولات نې له مولانا خان بهادر صاحب عرف مارتونګ مولانا صاحب او مولانا محمد نذیر صاحب حق صاحب چكیسري څخه او علم بلاغت نې له مولانا عبد الحلیم سواتي صاحب څخه حاصل كړ.

تدریس: له فراغت څخه نې وروسته یو كال د پشین په جامع جومات كښې او دوه كاله نې په مارتونګ كښې تیر كړل. له هغه وروسته په كال ۱۳۷۷هجري كښې په جامعه دار العلوم حقانیه اكوړه ختك كښې د مدرس په توګه وتاكل شو او تر اوه كلونو پورې نې د علم او فضل ملغلري خوړولي.

افتاء: مولانا مفتي محمد یوسف صاحب بونیرې له جامعهٔ دار العلوم حقانیه څخه له تللو وروسته د افتاء اهمه ذمه واري هم ده ته ور وسپارل شوه. په فتوې ورکولو كښې نې ډیر له احتیاط څخه كار اخیست او له ښه غور او فكر او تدبر وروسته به نې فتوا اوې ورکولې.

بیعت: د نفس د تزكیې لپاره نې له پیر طریقت حضرت مولانا عبد المالك صاحب نقشبندي رحمه الله په حق لاس باندې بیعت وكړ.

تصانیف: نومورې د درس او تدریس تر څنګ د تصنیف او تالیف سلسله هم جاري وساتله. د ده د فخر وړ یو كتاب "هدایة العلوم" منظر عام ته راوتلی دی. نور شپږ تصنیفونه نې مكمل كړي دي لیكن تر اوسه پورې نې خپاره شوي نه دي چه د هغو له جملې څخه په تفسیر كښې "هدایه آیات" "رسالهٔ توحید" او په فقهي كښې "الاستدلال فی القرآن" مسودې ورسره محفوظې دي.

شاګردان: دلسې خو د ده شاګردان ډیر دي لیكن د هغو له جملې څخه مولانا سمیع الحق

صاحب مهتمم جامعه دار العلوم حقانیه اكوړه ختك، مولانا قاضي حمید الله صاحب، مولانا فضل حق صاحب، مولانا عصمت الله صاحب او مولانا عبد الباقي صاحب د یادونې وړ دي.

حضرت مولانا سمیع الحق صاحب مد ظله

نوم او نسب: حضرت مولانا سمیع الحق صاحب دامت برکاتهم په ۱۸ د ستمبر كال ۱۹۳۷ء كښې د حضرت شیخ الحدیث مولانا عبد الحق صاحب رحمه الله په كور اكوړه ختك كښې پیدا شو. د ده پلرونو او نیكونو له سلطان محمود غزنوي رحمه الله سره د جهاد په سلسله كښې هندوستان ته تشریف راوړی وو او بیا په اكوړه ختك كښې په مستقله توګه پاتې شول.

ابتدایي تعلیم: ده د ابتدایي دوري عصري تعلیم پخپل كلي كښې د حضرت شیخ الحدیث صاحبؒ په لاس جوړ شوي انجمن تعلیم القرآن اسلامیه په ابتدایي مكتب كښې حاصل كړ او دیني تعلیم نې له ابتدایي درجو څخه واخله تر لوړو درجو پورې په جامعهٔ دار العلوم حقانیه كښې حاصل كړ او په ۱۹۵۷ء كښې نې د حدیثو له دورې څخه له فراغت وروسته نې له الامام الكبیر شیخ التفسیر حضرت مولانا احمد علي لاهوري رحمه الله څخه په كال ۱۳۷۸هجري كښې د تفسیر دوره وكړه.

اعزازي اسناد: له جامعه دار العلوم حقانیې څخه د فراغت د سند له لاس ته راوړو پرته ځینو نورو اكابرینو لكه قطب العالم شیخ الحدیث حضرت مولانا نصیر الدین غورغشتوي، حضرت مولانا بدر عالم میرتهي مهاجر مدني، حضرت مولانا فخر الدین صاحب شیخ الحدیث دار العلوم دیوبند او د مكي مكرمي شیخ علوي مالكي رحمهم الله هم اعزازي سندونه او د حدیثو اجازې ورکړې.

اساتذان: د ده په استاذانو كښې ولي كامل حضرت شیخ الحدیث حضرت مولانا عبد الحق صاحب، حضرت مولانا عبد الحلیم زروبوي، شیخ التفسیر حضرت مولانا احمد علي لاهوري او محدث العصر حضرت مولانا نصیر الدین غورغشتوي او د اسې نور رحمهم الله اكابرین شامل دي.

تدریس: له تعلیم څخه تر فارغیدو وروسته نې په كال ۱۹۵۸ء كښې په جامعه دار العلوم حقانیه كښې په درس او تدریس شروع وكړه او ډیر زر د خدای ورکړیو صلاحیتونو له مخې له ابتدایي كتابونو څخه د حدیثو تر كتابونو پورې ورسیده كوم چه تر ننه پورې جاري او ساري ده. د درس او تدریس تر څنګ نې په كال ۱۹۶۵ء كښې د "الحق" په نامه باندې د میاشتنۍ رسالې د یوې دیني او علمي رسالې خپرونه هم شروع كړه. كومه چه ډیر زر د ملك د دننه او د باندې مقبولیت ورته حاصله شوه او تر ننه پورې له ډیر شور او زور سره جاري ده.

تحریكونه او ملي خدمتونه: د درس او تدریس تر څنګ نې په مختلفو تحریكونو كښې هم برخه اخیستې ده. د صدر ایوب خان د حكومت په دورې كښې چه كله د ماډرن ازم داعي ډاكټر فضل الرحمٰن فتنې سر را پورته كړ نو دی په مكمله توګه ورپسې شو چه په دې باندې پ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

"الحق" میاشتنی رسالې کښې د ده مضمونونه دلالت کوي۔

په کال ۱۹۷٤ء کښې چه کله د ختم نبوت تحریک شروع شو نو ده هلته هم د خپل والد محترم او حضرت مولانا مفتي محمود صاحب او د اسې نور لویو لویو علماوو سره زیاته برخه واخیسته۔ حضرت مفتي صاحبؒ په قومي اسمبلي (پارلمان) کښې د مسلمه امت د ترجماني په صورت کښې د "قادیانیت په باره کښې د اسلامي امت موقف" چه کوم مضمون واوراوه د هغه اکثره برخه ده لیکلې وه۔

په ۱۹۷۷ء کښې چه کله د نظام مصطفی تحریک شروع شو نو په هغه کښې ئې هم قائد انه کردار ادا کړ چه په نتیجه کښې ئې د هري پور په جیل کښې د قید او بند سختۍ په ورین تندي باندې برداشت کړې۔

تصنیف او تالیف: د تدریسي، سیاسي او د دار العلوم د انتظامي امورو د بار د اوچتولو تر څنګ ئې د تصنیف او تالیف په میدان کښې هم ښکاره کردار ادا کړی دی۔ د ده لاندینې تصنیفات خواصو او عوامو کښې بې اندازې مقبول دي۔

﴿۱﴾ د قادیانیت په باره کښې د اسلامي ملّت موقف ﴿۲﴾ د شریعت بل معرکه ﴿۳﴾ کاروان آخرت ﴿٤﴾ په پارلمان کښې د اسلام معرکه ﴿٥﴾ اسلام او عصر حاضر ﴿٦﴾ دعوات حق دوه جلده ﴿۷﴾ د اکل او شرب په نظام کښې د شریعت لاز بنوونه ﴿۸﴾ شرح شمائل ترمذي۔

د فتوی طرز: د درس او تدریس، د ماهنامه الحق اداره او د اسې نورو مصروفیاتو تر څنګ په ئې د جامعه دار العلوم حقانیه له دار الافتاء څخه د پوښتل شویو سوالونو جوابونه هم ورکول، همدارنګه د ده اکثره فتواوي د لاهور په "خدام الدین" اونیزه کښې خپریږي۔ لکه څرنګه چه طبیعت ئې تحقیق خوښوونکی دی نو هم هغه رنګ ئې په فتواوو کښې هم غالب دی۔ د ده اکثره فتواوي اوردي او د خپلې موضوع په اکثرو اړخونو باندې چاپیره دي۔

له دې جملې څخه د ده څو اهم مضمونونه لکه القضایا، حوادث او نوازل، خاندانې منصوبه بندي، فتن، انساني حقوق او په ځانګړي توګه د ښځو حقوق او د اسې نورو باندې کوم چه د عامې افادې لپاره په "فتاوی حقانیه" کښې شامل شوي دي۔

سیاسي خدمتونه: د درس او تدریس، تصنیف او تالیف، ماهنامه الحق د اداري او د دار العلوم د انتظامي امورو تر څنګ ئې په ملکي سیاست کښې هم اهم خدمتونه سر ته رسولي دي۔ په ۱۹۷۰ء کښې چه کله د جمیعت علماء اسلام اکابرینو حضرت مولانا عبد الله درخواستي، حضرت مولانا مفتي محمود او مجاهد ملت حضرت مولانا غلام غوث هزاروي رحمهم الله حضرت شیخ الحدیث مولانا عبد الحق صاحب په عامو انتخاباتو کښې په برخې اخیستلو باندې مجبور کړ نو ده (مولانا سمیع الحق صاحب) د مجبورۍ له مخې برخه پکښې واخیسته او د حضرت شیخ الحدیث صاحبؒ تول انتخابي مهم ئې پخپلو خدای ورکړیو صلاحیتونو

باندې له کامیابۍ سره سر ته ورسول۔ د حضرت شیخ الحدیث صاحبؒ له کامیابۍ وروسته ئې په قومي اسمبلي (پارلمان) کښې تول کارونه د پردې تر شا ده سرته رسول۔ د التواء د تحریکونو قرارداد ونه او د کال ۱۹۷۳ء د آئین د ترمیمونو په وړاندې کولو کښې هم دی مخکښې مخکښې وو۔

د جنرل محمد ضیاء الحق مرحوم د مارشل لاء په دور کښې دی د وفاقي مجلس شورٰی ممبر وټومول شو نو د زکات او عشر، حدود، قصاص او دیت او د قادیانیت د امتناع آرډیننس نفاذ او آئین کښې د بې شمیره اسلامي شقونو او دفعاتو شاملول د ده د شپې او ورځې د جد او جهد په نتیجه کښې ممکن شول۔ او چه کله په کال ۱۹۸۵ء کښې د پاکستان د سنا مجلس ممبر جوړ شو نو د اتو کلونو له تاریخي کوشښونو ځخه وروسته ئې شریعت بل منظور کړ۔

د اسلامي جمهوري د یو والي قیام: د پاکستان په هیواد کښې چه کله د سیکولر لزم منحوس سیوری بیا خپرول شروع شو نو د هغه د تدارک لپاره ده په هم هغه وخت کښې د اسلامي جمهوري یو والي بنیاد کیښود چه له مخې نهه سیاسي او مذهبي ډلې پکښې شاملې شوې او په متفقه توګه ئې دی د دې اتحاد سینئیر نائب صدر منتخب کړ۔

د متحده علماء کونسل قیام: په کال ۱۹۸۸ء کښې چه کله د بې نظیري حکومت جوړ شو نو ده د هغه د ختمولو لپاره د متحده علماء کونسل تر منشور لاندې د تول مکاتب فکر علماء او اکابرین جمع کړل چه له وجهې د نسوانې حکومت خاتمه ممکنه شوه۔

د متحده دیني محاذ تشکیل: په هندوستان کښې چه کله د بابري جومات د ړنګولو زړه دردوونکي واقعه مخته راغله نو په ملک کښې د دیني اقدارو او آثارو له تباهي ځخه د ساتنې لپاره په ۱۵ دسمبر ۱۹۹۲ء کښې ئې یو ځل بیا د دیني ډلو رهبرانو په جمع کولو سره د "متحده دیني محاذ" په نامه یو محاذ تشکیل کړ۔

د دیني مدارسو د تحفظ تحریک: په ۱۹۹٤ء کښې چه کله د بې نظیري حکومت د دیني مدارسو په خلاف د بې بنیادو الزاماتو د لګولو او د مدارسو د پلټنې او تحقیقاتو د ورکولو سلسله شروع کړه نو مولانا صاحب په اول د جنوري کال ۱۹۹۵ء کښې د مکاتبِ فکر تول علماء او د مدارسو تول خاوندان سره راتول او د "دیني مدارسو د تحفظ تحریک" ئې جوړ کړ او د حکومت ناپاک مقاصد ئې له خاوري سره خاوري کړ۔

اوس چه کله د جنرل مشرف فوجي حکومت او د هغه ناعاقبت اندیشو وزیرانو د امریکي د خوشحالۍ د حاصلولو لپاره د دیني مدارسو په خلاف کار شروع کړ نو همدې مرد مجاهد په ۳۰ د اپریل ۲۰۰۰ء په د ار العلوم حقانیه کښې د تولو دیني مدارسو مهتممین را جمع او د هغو منصوبه ئې هم له خاوري سره خاوري کړ۔

د ملي یکجهتي د کمیټي تشکیل: په ۱۹۹٦ کښې په پاکستان کښې د فرقه واریت اور ولګید او په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

حکومتي سطحي باندي د امریکي د نیو ورلډ آرډر د پوره کولو سازشونه شروع شول. نو په دا سي نازکي مرحلي کښي ده ټول سیاسي او مذهبي ډلي په یوه منشور باندي سره راجمع او د "ملي یکجهتي" په نامه کمیټه ني جوړه کړه.

سي ټي بي ټي: په ۱۹۹۸ء کښي چه کله د نواز شریف حکومت په سي ټي بي ټي باندي د امضاء کولو لپاره تیار شو نو مولانا صاحب نه یواځي دا چه له جامعهٔ دار العلوم حقانیي څخه د هغي په مخالفت باندي مدلله او شرعي فتوی صادره کړه بلکه په شپه شپه کښي د سنا تر مجلس او ملي او ولایتي شورۍ ګانو په غړیو باندي هم تقسیم کړل بلکه په ۵ مئی کال ۱۹۹۸ء کښي د تولو دیني او مذهبي ډلو د "آل پارټیز کانفرنس" په نامه غونډه وغوښته او د ناپاک سازش هم له ناکامي سره مخامخ کړ.

د افغانستان او پاکستان د دفاع د کمیټي جوړیدنه: په جهاد افغانستان او طالبانو په تحریک کښي د حضرت مولانا سمیع الحق کلیدي کردار له هیڅا څخه هم پټ نه دی چه هغه په دې جهاد کښي رهبرانه رویه ادا کړه او ادا کوي ني. د دې لپاره د طالبانو په تحریک کښي شامل طلباء کرام او د هغو د رهبرانو نه یواځي مربي دی بلکه د دار العلوم حقانیي د مهتمم په حیثیت سره د زرګونو په تعداد سره علماء او د طالبانو رهبران ني بي واسطي شاګرد ان دي. له تن څخه تقریباً یو کال مخکښي چه کله امریکي په افغانستان باندي د پابندیو د لګولو فیصله وکړه نو مولانا صاحب د ملك د تولو دیني او سیاسي ډلو مرکزي مشران په دار العلوم حقانیي کښي سره را جمع کړل. په دې غونډې کښي د امریکي استعمار په خلاف د جنګ د اعلان په کولو سره د "افغانستان او پاکستان د دفاع د کمیټي" په نامه د کمیټي باقاعده اعلان وشو او د رأیو د اتفاق له مخي مولانا صاحب د دې کمیټي چیئرمین ونومول شو.

د سود په خلاف د ال بارتز (نول کونډیز) کانډنس (غونډې) انعقاد: د پاکستان لوړي عدالتي ادارې سپریم کورټ (سترې محکمې) حکومت ته د جون تر ۳۰ کال ۲۰۰۱ء پورې د سودي نظام د ختمولو حکم ورکړ. حکومت د مخکښي غونډې په دې سلسله کښي د لیت او لعل د پالیسي غوره کول شروع کړ. نو مولانا سمیع الحق صاحب مد ظله په ۱۹ مئی کال ۲۰۰۱ء کښي په کراچي کښي د تولو دیني او سیاسي ډلو د ګډې رهبرۍ غونډه را وغوښته او حکومت ته ني د سپریم کورټ په فیصلي باندي د عمل کولو خبرداری ورکړ او په بل صورت کښي ني د حکومت په خلاف د تحریک د چلولو اعلان وکړ.

حضرت مولانا محمد هاروت صاحب

مولانا محمد هاروت صاحب د سوات د ضلع په یوه شا ته پاتي شوي کلي کښي دنیا ته سترګي وغړولي.

ابتدایي تعلیم: ده د خپلي زده کړي د دورې شروع له سوات څخه وکړه. په دي وخت کښي په

سوات کښي د لوړي پایي علماء او فقهاء موجود وو چه له وجهي ني د سوات ریاست ته د علمي مرکز حیثیت حاصل وو او د نبوي علومو تږي له لرې لرې ځایونو څخه دلته راتلل او خپله علمي تندي ني ماتولي. د ده د ابتدایي استاذ انو له جملي څخه هر یو مولانا خان بهادر صاحب مارتونګ، مولانا عبد الحلیم صاحب، مولانا محمد نذیر صاحب حق صاحب، مولانا عبد الرشید صاحب او مولانا عبد الحنان صاحب نومونه د یادونې وړ دي.

په کال ۱۳۷۰هجري کښي ني په جامعه دار العلوم حقانیه کښي له شیخ الحدیث حضرت مولانا عبد الحق صاحب او نورو اکابرو اساتذه وو څخه د حدیثو دوره پوره کړه. دی د دار العلوم حقانیي د ممتازو فضلاوو څخه ګڼل کیږي.

درس او تدریس: له فارغیدو څخه وروسته ني په مردان او شمس آباد (اتك) کښي خپل درس او تدریس شروع کړ. وروسته له هغه په کال ۱۳۷۳هجري کښي په مطابق د کال ۱۹۵۴ء کښي په دار العلوم حقانیه کښي د مدرس په حیث وتاکل شو او تر آخري ګړۍ پورې د نبوي علومو په همدې مرکز کښي تدریسي خدمتونه سر ته رسول. بالآخره په اګست ۱۹۹۰ء کښي له دې فاني دنیا څخه سترګي پټي کړي.

افتاء: اګر که په افتاء کښي ني په مستقله توګه له چا څخه استفاده نه ده کړي لیکن په فقهي او منطقو کښي د پوره مهارت د درلودو له وجهي ني دا خدمت هم سر ته رساوه. چونکه دی د تدریس او د لسي نورو مصروفیاتو له وجهي د فتوی لیکنې لپاره په مستقله توګه خلاص نه وو د دې لپاره د دار العلوم له خوا څخه دی د دې ذمه واري خوا ته تشویق نه شو. البته په کلني رخصتیو کښي چه به مفتي صاحبان نه وو او دی به د دار العلوم کښي د اوسیدو له وجهي د دار العلوم منتظمینو ده ته دا ذمه واري ورسپارلي وه. په کتابچو کښي د لیکل شویو فتاواوو له کتنې څخه دا اندازه لګول کیږي چه ده اکثره د میراث د مسائلو ځوابونه ورکړي دي په دا سي حال کښي چه ده د میراث په فن کښي هم پوره مهارت درلود.

بیعت او سلوک: په تصوفو او سلوک کښي دی د حضرت مولانا خواجه عبد المالك صدیقي صاحب رحمه الله په لاس مبارك باندي بیعت کړی دی. او په ډیر کم وخت کښي ني د خلافت پګړۍ ور وترله.

تصانیف: لکه څرنګه د ده اکثره وخت په تدریس باندي تیریده د دې لپاره ني د تصنیف او تالیف خوا ته پوره توجه نه شوای ورکولای. لیکن د دې تر څنګ ني د منطقو په یوه کتاب (ایساغوجي) باندي څه تعلیقات لیکلي دي کوم چه د "افادات هاروتي" په نامه سره په کتابي شکل کښي خپور شوی دی. په میراث کښي ني د "میزان الاعتدال" په نامه یو کتاب لیکلی دی کوم چه د ده په ژوند کښي چاپ نه شو البته له وفات څخه ني وروسته چاپ شو او عام منظر ته راوتلی دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

حضرت مولانا مفتي غلام الرحمٰن صاحب مد ظلـــــه

حضرت مولانا مفتي غلام الرحمٰن صاحب د يوې ممتازې علمي کورنۍ سترګې او بانډه دي. دی په ۱۳ اګست کال ۱۹۵۴ء کښې د مانسهرې د اوګي په ضلع د بيليان په کلي کښې د مولانا شمس الحق صاحب په کور کښې پيدا شو.

ابتدايي زده کړې: ابتدايي زده کړې ئې په حکومتي ابتدايي مکتب کښې حاصلې کړې او د ابتدايي مکتب د پوره کولو تر څنګ ئې له قاري غلام حبيب صاحب څخه په ۱۹۶۹ء کښې قرآنکريم هم حفظ کړ. د ديني علومو د لاس ته راوړو لپاره ئې دوه کاله د راولپنډي په جامعۀ فاروقيه کښې تير کړل او د نورو زده کړو لپاره ئې په کال ۱۹۷۱ء کښې د بر صغير ديوبند ثاني جامعۀ دار العلوم حقانيه اکوړه خټک کښې داخله وکړه. او د شپږو کالو په موده کښې په دار العلوم حقانيه کښې د ديني علومو زده کړې تر سره کړې. د ديني علومو تر څنګ ئې د عصري علومو لاس ته راوړل هم جاري وساته او په کال ۱۹۷۳ء کښې ئې لسم صنف سر ته ورساوه. په کال ۱۹۷۷ء کښې ئې د وفاق المدارس د نګرانۍ لاندې د دورۀ حديث په ازموينې کښې کامياب شو او د ټول ملک د مدارسو په سطح ئې دريم نمبر حاصل کړ. په کال ۱۹۸۶ء کښې ئې په جامعۀ ازهر (مصر) کښې تدريبي دوره وکړه. د ديني علومو تر څنګ ئې عصري علوم هم حاصلاوه. چنانچه په کال ۱۹۸۰ء کښې د پشاور د پوهنتون د بي اې، په کال ۱۹۸۲ء کښې ايم اې اسلاميات او په کال ۱۹۹۶ء د علامه اقبال له اوپن پوهنتون څخه ايم فل ډګري لاس ته راوړه.

د حديثو استاذان: د ده د حديثو په مشائخو کښې مولانا عبد الحق صاحبؒ، مولانا عبد الحليم زروبوي صاحبؒ، مولانا محمد علي سواتي صاحبؒ، مولانا مفتي محمد فريد صاحب زروبوي، مولانا محمد حسن جان صاحب مدني، مولانا سميع الحق صاحب او مولانا انوار الحق صاحب غوندي مشهوري هستۍ شاملې دي.

تدريسي خدمتونه: له دار العلوم حقانيه څخه د فراغت د سند له لاس ته راوړو وروسته په کال ۱۳۹۷هجري په مطابق د ۱۹۷۷ء کښې د دار العلوم حقانيه د بانۍ او مهتمم د لارښوونې سره سم په دار العلوم حقانيه کښې خپل تدريس شروع کړ. د اتو کلونو د درس نظامي له تدريسولو وروسته د شيخ الحديث مولانا عبد الحق صاحبؒ د شفقت له مخې د جامع ترمذي دويم جلد او د سنن نسايي تدريس ده ته ور وسپارل شو. د تدريس تر څنګ د دار العلوم حقانيه د تعليماتو د ناظم، نائب مفتي او تخصص في الفقه الاسلامي و الافتاء د شعبې نګران هم پاتې شوی دی. او په کال ـــــ کښې پشاور ته خپلې جوړې شوې مدرسې جامعۀ عثمانيه ته تشريف يووړ.

افتاء: په کال ۱۹۷۸ء په دار العلوم حقانيه کښې د تدريس د ذمه واری، د مخته بوولو تر څنګ د فتوی ليکنې ذمه واری هم ورسپارل شوې وه. په ابتداء کښې ئې د مولانا مفتي محمد فريد صاحب په لاس د ليکل شويو فتواوو په کتابچې کښې د ليکلو ذمه واری سر ته رسوله. تر دې

وروسته د شيخ الحديث حضرت مولانا عبد الحق صاحبؒ په حکم باندې ئې پخپله د فتوی ليکل شروع کړل.

تصنيفونه: حضرت مفتي صاحب څو کتابونه ليکلي دي چه چه د هغو له جملې څخه (۱)د عقيقې شرعي حيثيت (۲)حيات بيلياني (۳)له دار العلوم حقانيې څخه تر جامعۀ ازهره پورې (سفرنامه) (٤)د تيستۍ تيوب بې بې شرعي حيثيت او د لسي نور د خپلې موضوع په لحاظ د ځانګړې مرتبې حامل دي. نن صبا د "العصر" پشاور د مياشتنۍ لوړ پورې مدير دی.

حضرت مولانا مفتي سيف الله هاشم خان صاحب مد ظله

نوم او نسب: مولانا مفتي سيف الله حقاني صاحب په ۲۶ دسمبر کال ۱۹۴۹ء کښې په سالار خان ضلع و تحصيل لکي مروت کښې د جناب هاشم خان صاحب په کور کښې پيدا شوی دی.

ابتدايي زده کړې: ده ابتدايي زده کړې په دار العلوم اسلاميه لکي مروت کښې حاصلې کړې دي او د حديثو د دورې او لوړو تعليماتو لپاره د آسيا عظيم اسلامي پوهنتون دار العلوم حقانيې ته تشريف راوړ. له دې ځای څخه ئې په کال ۱۹۷۱ء کښې د حديثو له دورې څخه د فراغت سند تر لاسه کړ.

اساتذۀ کرام: د ده له استاذانو څخه د شيخ الحديث مولانا عبد الحق صاحبؒ، مولانا عبد الحليم ديروي صاحب، مولانا محمد علي صاحبؒ، مولانا مفتي محمد فريد صاحب، مولانا سيد شير علي شاه صاحب، مولانا عبد الغني ديروي صاحب، مولانا سميع الحق صاحب، مولانا مفتي محمد يوسف صاحبؒ او مولانا صحبه الله صاحب نومونه د يادونې وړ دي.

تدريس: د ديني علومو له فراغت څخه وروسته ئې په دار العلوم حسينيه ميرانشاه کښې د درس او تدريس سلسله شروع کړه او د علم د نور په خپرولو مصروف شو.

افتاء: په دار العلوم حسينيه کښې له څه وخت تيرولو څخه وروسته ئې بيرته خپلې علمي مور دار العلوم اسلاميه لکي مروت ته تشريف راوړ. دلته د تدريس تر څنګ په کال ۱۹۷۳ء کښې د افتاء سلسله هم شروع کړه چه تر اوسه پورې جاري ده.

په دار العلوم حقانيه کښې ئې ټاکنه: په کال ـــــء کښې د مولانا سميع الحق په غوښتنې او د حضرت شيخ الحديث قدس سره په حکم باندې ئې د حقانيې په دار العلوم کښې د تدريس کار شروع کړ. يو څه وخت د حضرت مولانا مفتي محمد فريد صاحب او نورو مفتي صاحبانو سره د معاون مفتي او وروسته بيا د مستقل مفتي په توګه ئې ذمه واری سر ته رسولې. تر اوسه پورې ئې په زرګونو فتواوې له قلم څخه وتلې دي او تر دې دمه پورې دی په حقانيه کښې همدا فريضه په ښې طريقې سره سر ته رسوې.

بيعت: ده د رئيس المشائخ حضرت مولانا خواجه عبد المالک صديقيؒ د حق په لاس باندې د نقشبنديې په سلسله کښې بيعت وکړ او د هغه له وفات څخه وروسته ئې د هغه له مجاز خليفه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

حضرت مولانا مفتي محمد فريد صاحب مد ظله څخه بيعت وکړ.

حضرت مولانا مفتي عبد الحليم کلاچوي

د نسب سلسله: دی د حضرت مولانا عبد الکريم صاحب په کور کښې د ډيره اسمٰعيل خان په مشهور او معروف کلي کلاچي کښې پيدا شوی دی.

د ده د نسب له سلسلي څخه دا څرګنديږي چه دی د يوې نجيب الطرفين او علمي کورنۍ سترګي او بانډه دي.

ابتدايي زده کړې: ده له کوچنيوالي څخه د زده کړې شوقين وو. له دې وجهې نې په کوچنيوالي کښې د خپل والد صاحب په لاس د جوړې شوې مدرسې مدرسه نجم المدارس کلاچي کښې پخپلو ابتدايي زده کړو باندې پيل وکړ. ډير کتابونه نې له خپل والد صاحب څخه ولوستل او د دې ترڅنګ نې له نورو استاذانو څخه نې هم استفادې کولې.

دلوړو تعليم لپاره د آسيا عظيم ديني پوهنتون ديوبند ثاني جامعه دار العلوم حقانيه اکوړه خټک ته تشريف راوړ او په کال ۱۹۵۵ء کښې نې دلته د حديثو د دورې په کولو سره د فراغت سند تر لاسه کړ. د تکميل کتابونه نې په جامعهٔ قاسم العلوم ملتان کښې له حضرت مولانا موسیٰ خان صاحبؒ څخه ووېل. له دې وروسته په اسلامي فقهي کښې نې د تخصص لپاره جامعه العلوم اسلاميه علامه بنوري ټاون کراچۍ ته تشريف يووړ او هلته نې له محدث العصر حضرت مولانا سيد محمد يوسف بنوري رحمه الله او مفتي اعظم پاکستان حضرت مولانا مفتي ولي حسن ټونکي څخه استفادې وکړې.

اساتذه کرام: د ده په استاذانو کښې نې د شيخ الحديث حضرت مولانا عبد الحق صاحبؒ، شيخ الاسلام علامه شمس الحق صاحب افغاني، حضرت مولانا مفتي محمد فريد صاحب مد ظله، حضرت مولانا عبد الحليم زروبوي رحمه الله او د ده والد محترم حضرت مولانا قاضي عبد الکريم صاحب کلاچوي نومونه د يادونې وړ دي.

درس او تدريس: له فراغت څخه وروسته نې په جامعه دار العلوم حقانيه کښې د درس او تدريس سلسله شروع کړه او دا سلسله تر دريو کلونو پورې جاري وه. د درس او تدريس تر څنګ نې د نائب مفتي فرائض هم سر ته رسول. له دې وروسته نې د خانيوال مشهوري ديني درسګاه ته د صدر المدرسين په حيث تشريف يووړ. هلته نې د يوه کال له تيرولو څخه وروسته جامعه انوريه اسلام آباد ته تشريف يووړ. دلته هم يو اځي يو کال پاتې شو. له دې وروسته ده د خپل والد په لاس جوړې شوې مدرسې "نجم المدارس کلاچي" ته راغی او تر دې دمه پورې همدلته تدريسي خدمتونه سر ته رسوي.

بيعت او خلوت: په کال ۱۹۶۷ء کښې نې له حضرت العلامه شمس الحق افغاني صاحبؒ څخه بيعت وکړ چه د هغه له انتقال څخه وروسته نې له حضرت مولانا جميل احمد سواتي صاحبؒ

څخه بيعت وکړ. د هغه له انتقال څخه وروسته نې د شيخ التفسير حضرت مولانا احمد علي لاهوريؒ خليفه مجاز حضرت العلامه مولانا قاضي محمد زاهد الحسيني صاحبؒ د حق په لاس باندې بيعت وکړ.

حضرت مولانا عبد الحق قندهاري صاحب

دی د جامعه دار العلوم حقانيې له جيدو مدرسينو څخه ګڼل کيږي. د درس او تدريس تر څنګ نې د جامعې په دار الافتاء کښې ډير خدمتونه سر ته ورسول او له قلم له څوکې څخه نې ډيرې فتواوې جاري شوې. د ده فتواوې ډيرې محققانه دي. د ده له لقب څخه څرګنديږي چه دی د افغانستان د قندهار د ولايت اوسيدونکی دی. د ډيرې پلټنې او کوشښونو تر څنګ نې د نورو حالاتو معلومات و نه شو د دې لپاره نې يو اځي په نامه باندې اکتفاء کيږي.

حضرت مولانا مفتي محبوب الرحمٰن صاحب

پيدائش: دی په تاريخ د ۲۸ دسمبر کال ۱۹۴۵ء کښې د حکيم عبد الرحمٰن زندو ډهيري ضلع مردان کښې پيدا شوی دی.

زده کړې: ابتدايي زده کړې نې پخپل کلي کښې له حاصلولو وروسته په جامعه دار العلوم حقانيه کښې داخله واخيسته او په کال ۱۹۷۳ء کښې نې له همدې جامعې څخه د فراغت سند تر لاسه کړ.

د حديثو استاذان: د حديثو په استاذانو کښې نې د شيخ الحديث مولانا عبد الحق صاحبؒ مولانا عبد الحليم زروبوي صاحبؒ، مولانا مفتي محمد فريد صاحب مد ظله غوندې عباقره وو (نبو او ځانګړو) څخه فيض تر لاسه کړی دی.

درس او تدريس: له زده کړو څخه له فارغيدو وروسته په جامعهٔ دار العلوم حقانيه کښې مدرس وتاکل شو. د دې تر څنګ نې د دار العلوم په دار الافتاء کښې د فتوی ليکنې د نقل کولو کار هم ده ته ورسپارل شوی وو.

د فتوی انداز: لکه څرنګه چه ده اکثره د فتوا وو د نقل کولو کار کاوه د دې لپاره نې له ځانه ورته د فتوی ليکنې ډيره کم وخت په لاس ورتلو. ليکن کومې فتواوې چه د ده د قلم له څوکې څخه را وتلې دي په هغو کښې به نې کوشش دا وو چه ځواب مکمل، مفصل، مدلل او له حوالې سره وي. همدا وجه ده چه ده په ځوابونو کښې صفا انداز غوره کړی دی کوم چه ډير د پوهې وړ او هر خاص او عام تري استفاده کولای شي.

حضرت مولانا مفتي رشيد احمد صديقي صاحب مد ظله

نوم، نسب او د پيدائش ځای: مولانا رشيد احمد صديقي د حضرت مولانا مفتي محمد فريد صاحب په کور د ضلع صوابی په زروبي کلي کښې په کال ۱۹۵۵ء کښې پيدا شوی دی. پلرونه او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

نیکونه ئې له شپږو پیړیو راهیسې د اسلام په ترویج او خپرونې کښې مصروف وو او د دنیا کونج کونج ته ئې د علم او معرفت، رشد او هدایت رنا ګانې خورې کړې دي۔

ابتدایي زده کړې: ده خپلې زده کړې د آسیا په مشهورې او معروفې دیني درسګاه دار العلوم حقانیه اکوړه خټک کښې شروع کړه او له همدې ځای څخه ئې د فراغت سند تر لاسه کړ۔

دلته ئې له انتهایي قابل، مشفق او مهربانو استاذ انو څخه استفادې وکړې چه د هغو له جملې څخه د شیخ الحدیث حضرت مولانا عبد الحق صاحبؒ، حضرت مولانا عبد الحلیم زروبوي صاحبؒ، له خپل بزګوار پلار حضرت مولانا مفتي محمد فرید صاحب، حضرت مولانا سمیع الحق صاحب، حضرت مولانا انوار الحق صاحب نومونه د یادونې وړ دي۔

افتاء: له درس نظامي څخه له فارغیدو وروسته په فتوی لیکنې او افتاء کښې د خپل محترم پلار حضرت مولانا مفتي محمد فرید صاحب د شاګردي مرتبه تر لاسه کړه او په دار العلوم کښې د افتاء په منصب باندې فائز شو۔ د دې تر څنګ ئې د درس او تدریس سلسله هم شروع کړه چه تر شلو کلونو پورې جاري وه۔ په دې دوران کښې په زرګونو د نبوي علومو طالبانو استفادې تري وکړې۔

بیعت او سلوک: ده د خپل محترم پلار د حق په لاس باندې د نقشبندیې په سلسله کښې بیعت وکړ او د خپل پلار خلیفۀ مجاز هم دی۔

تصنیفونه: له درس او تدریس سره سره ئې د تصنیف او تالیف سلسله هم جاري ساتله او ډیر مفید کتابونه ئې تر اوسه پورې تصنیف کړي دي چه د هغو له جملې څخه ئې عالیقدر تصنیف "ضروري مسائل" په نامه چاپ شوی دی کوم چه په عام او خاص کښې مقبول دی۔ له دې برسیره ئې "مفید الواعظین" او "دعا بعد السنته" او د لسې نور هم د ده د فخر وړ تصنیفونه دي۔

حضرت مولانا مفتي غلام قادر نعماني صاحب مد ظله

نوم او نسب: دی په کال ۱۹۶۴ء کښې د سید محمود بن غلام رسول په کور کښې پیدا شو۔ د نسب سلسله ئې حضرت علي کرم الله وجهه ته رسیږي یعني دی د نسب له مخې هاشمي دی۔ د ده پلرونه او نیکونه له ۱۵۰ کلونو راهیسې د مهمند و په ایجنسي، خویزي قوم او خلوداګ په کلي کښې اوسیږي۔

زده کړې: ده خپلې ابتدایي زده کړې له خپل مشر وروړ حضرت مولانا فضل معبود عرف صاحب حق صاحب فاضل دار العلوم حقانیه څخه پوره کړې او له دوهمې درجې څخه واخله د تخصص فی الفقه الاسلامي تر درجې پورې کتابونه ئې د نبوي علومو په مرکز جامعۀ دار العلوم حقانیه اکوړه خټک کښې له جید و استاذ انو څخه وویل۔ د الله تعالی په فضل او کرم سره دی د دار العلوم حقانیې د تخصص د درجې لومړنی طالب علم او په دې شعبه کښې د ممتازې

درجې لومړنی سند اخیستونکی دی۔

هده د جامعۀ دار العلوم حقانیه او وفاق المدارس دواړه سندونه تر لاسه کړي دي۔ په جامعۀ اشرفیه کراچی کښې ئې تخصص فی الدعوه و الارشاد او په جامعۀ دار العلوم حقانیه کښې تخصص فی الفقه الاسلامي و الافتاء هم کړي دي۔ همدارنګه ئې د ایم اې اسلامیات او عربي ډګري ئې د پشاور له پوهنتون څخه تر لاسه کړې ده۔

تصنیفونه: تر اوسه پورې د ده لاندینې تصنیفونه عام منظر ته راوتلي دي۔ (۱)وحدت رمضان و عیدین (۲)مسائل سفر (اردو او پښتو) (۳)زیارت الحرمین الشریفین۔

استادان: حضرت شیخ الحدیث مولانا عبد الحق صاحبؒ، حضرت مولانا مفتي محمد فرید صاحب، شیخ الحدیث مولانا سید شیر علي شاه صاحب، شیخ الحدیث مولانا محمد مالک کاند هلویؒ جامعۀ اشرفیه لاهور، شیخ الحدیث مولانا محمد حسن جان صاحب، شیخ القرآن مولانا عبد الهادي صاحبؒ شاه منصور (صوابی) شیخ التفسیر مولانا سرفراز خان صفدر صاحب، مولانا مفتي محمد یوسف لدهیانویؒ (کراچي) مولانا سمیع الحق صاحب مهتمم جامعۀ دار العلوم حقانیه اکوړه خټک، مولانا انوار الحق صاحب نائب مهتمم جامعۀ دار العلوم حقانیه اکوړه خټک، مولانا مفتي غلام الرحمٰن صاحب مهتمم جامعۀ عثمانیه پشاور د ده مشهور اساتذه کرام دي۔

تدریس: له کال ۱۴۰۹هجري په مطابق د ۱۹۸۹ء څخه په دار العلوم حقانیه کښې تدریسي خدمتونه سر ته رسوي او له کال ۱۹۹۷ء څخه تر اوسه پورې د دار العلوم حقانیې د تخصص فی الفقه الاسلامي و الافتاء په درجې کښې د استاذ په حیث تاکل شوی دی۔

حضرت مولانا مفتي مختار الله حقاني صاحب (د فتاوا حقانیه ترتیب کوونکی)

نوم، نسب او د زیږیدنې ځای: دی په ۲۳ مارچ کال ۱۹۶۹ء کښې د جناب حبیب الله صاحب په کور په جهانګیره ضلع صوابی کښې پیدا شوی دی او په یوسف زئي خانخیل قبیلې پورې اړه لري۔

ابتدایي زده کړې: ده تر متوسطې پورې زده کړې په حکومتي مکتب جهانګیره کښې حاصلې کړې، له دې سره سره ئې د خپلې علاقې له جید دیني عالم مولانا عبد الحنان صاحب مد ظله فاضل دیوبند څخه د صرف او نحو ابتدائي کتابونه ولوستل۔ له متوسطې څخه وروسته د حضرت الاستاذ په مشوري باندې د نورو دیني زده کړو د حاصلولو لپاره د جون د میاشتې ۱۹۸۵ء کښې جامعه الاسلامیه بنوري ټاون کراچی ته لاړ او په فروري کال ۱۹۹۳ء کښې هلته د درس نظامي ټول کتابونه ووایل۔ له دې وروسته د تخصص فی الفقه الاسلامي و الافتاء لپاره جامعۀ دار العلوم حقانیه اکوړه خټک کښې داخله واخیسته او د مولانا مفتي غلام الرحمٰن صاحب مد ظله تر څارنې لاندې ئې فتوی لیکنه زده کوله۔ د تخصص له فراغت څخه وروسته ئې د پشاور له پوهنتون څخه د اسلامي علومو ایم اې (ماسټر) ډګري لاس ته راوړه۔

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

تدریسي خدمتونه: په کال ۱۹۹۶ء کښي جامعهٔ مظهر العلوم قادریه تورډهیر (صوابی) ته تشریف یووړ او هلته ئي د دوو کلونو د درس او تدریس تر څنګ د افتاء ذمه واری هم سنبالولې. وروسته له دي جامعهٔ د دار العلوم حقانیه ته راغی او تر اوسه پورې په همدي جامعې کښي د افتاء او تدریسي خدمتونه سر ته رسوي.

اساتذه کرام: د ده په استاذانو کښي د مولانا ډاکتر حبیب الله مختار (کراچي) مولانا سید مصباح الله شاه، مولانا مفتي نظام الدین شامزئي، مولانا مفتي عبد السلام چاټګامي، مولانا ډاکتر عبد الرزاق اسکندر، مولانا محمد یوسف لدهیانوي او مولانا مفتي غلام الرحمٰن صاحب غوندي اکابرینو نومونه د یادونې وړ دي.

تصنیفي خدمتونه: د درس او تدریس تر څنګ ئي په ځینو اهمو موضوعاتو باندي مضمونونه او رسالي هم لیکلي دي لکه (۱) اختلاف مطالع او د رویت هلال شرعي حیثیت (۲) د ښځو د جماعت شرعي حیثیت (۳) په مال سره د تعزیر شرعي حیثیت (٤) شیخ الحدیث حضرت مولانا سمیع الحق صاحب مد ظله د "درس ترمذي" ضبط او ترتیب د "د اسلام د اکل او شرب نظام" تر عنوان لاندې د یادونې وړ دي.

د فتوی انداز: په فتوی لیکنې کښي ئي ډیر له احتیاط څخه کار اخلي او ځوابونه ئي اکثره د متقدمینو فقهاوو په عباراتو باندي بنانسته وي. له دي سره سره د ځواب د لیکلو په وخت کښي د حالاتو او واقعاتو هم خاصه پاملرنه کوي.

حضرت مولانا حافظ محمد ابراهیم فاني صاحب

دی په تاریخ د ۱۵ مارچ ۱۹۵٤ء کښي د صوابی د ضلع په مشهور کلي زروبی کښي د اسلام د متکلم، د دار العلوم حقانیه صدر المدرسین حضرت مولانا عبد الحلیم صاحب په کور کښي پیدا شوی دی. قرآن مجید ئي په ناظره باندي پخپل کور کښي زده کړ. تر متوسطي پورې ئي زده کړې پخپل کلي زروبی کښي لاس ته راوړې او لسم ئي په توپي مکتب کښي ووایه. له لسم څخه وروسته په جامعه د دار العلوم حقانیه کښي داخل شو او د قرآن مجید له حفظ کولو وروسته ئي د درس نظامي د تولو کتابونو په ویلو سره ئي سند تر لاسه کړ. له فراغت څخه وروسته پخپلي علمي مور کښي د مدرس په توګه وتاکل شو. د تدریس تر څنګ ئي د حضرت مولانا مفتي محمد فرید صاحب تر سیوري لاندې د فتوی لیکنې مشق او تمرین هم کول. چنانچه د فتاوی د دار العلوم حقانیې په مدونه دفترونو او لومړیو کتابچو کښي د ده څو فتواوي موجودي دي چه د حضرت مفتي صاحب د فتواوو رنګ پکښي څلیږي. له دي سره سره تصنیف او تالیف باندي هم مصروف دی او څه کتابونه ئي په نشر او نظم کښي د ننداري میدان ته راوتلي دي.

پیش لفظ (سریزه)

الحمد لله و کفی و الصلوة و السلام علی رسوله محمد ن المصطفی و علی اله النجباء و اصحابه الشرفاء الی یوم الجزاء.

د هندوستان له تقسیم څخه مخکښي حضرت شیخ الحدیث مولانا عبد الحق صاحب نور الله مرقده په دار العلوم دیوبند کښي مدرس وو. د رمضان المبارک په میاشت په کال ۱۳٦٦هجري کښي چه کله د کلني رخصتي په وخت کښي اکوړه خټک ته تشریف راوړ نو ډیر زر ورپسي د هندوستان د تقسیم مسئله مخته راغله چه له وجهې ئي هر ځای د وحشت، بربریت، قتل او غارت بازار ګرم وو. د دغو حالاتو له وجهې بیرته دیوبند ته تلل ورته مشکل شو. چنانچه په ذی القعده ۱۳٦٦هجري په مطابق د ۱۹٤۷ء کښي ئي خپل کور ته نږدې په یوه ډیر کم وخت کښي ئي د یوې عظیمې اسلامي درسګاه شکل غوره کړه. چه وروسته په کښیناستو سره شروع شوه. په دي لحاظ سره د جامعهٔ حقانیه تاسیس د دار العلوم دیوبند له تاسیس سره ډیر مشابهتونه لري چه د هغې ابتداء هم د یوه جومات د انارو د ونې له لاندې د محمود استاذ او محمود شاګرد څخه شوې وه لیکن د نیت د اخلاص او للّهیت په برکت سره ئي د پرمختګ په کولو سره دار العلوم دیوبند بې اندازې شهرت تر لاسه کړ. همدارنګه حضرت مولانا قاري محمد طیب صاحب (مهتمم دار العلوم دیوبند) د جامعهٔ حقانیې خدماتو او په لنډې زماني کښي ئي د هر دلعزیزي په لیدو سره د دیوبند ثاني خطاب ورکول هم د اخلاص او للّهیت ثمره او نتیجه ده.

همدا وجه ده چه د جامعهٔ دار العلوم حقانیې مشهورتیا په ډیرې کمې مودې کښي ځلورو خواوو ته خپره شوه او د ملک له کونج کونج څخه د دیني علومو شاقینو د جامعې حقانیې په غوره کولو سره به دلته راغلل او استفادې به ئي شروع کړې. او همدارنګه په عوامو کښي د دین درد لرونکي حضراتو هم د خط او کتابت، سوال او ځواب، استفتاء او افتاء په ذریعې سره د خپلو مسائلو د حل په لپاره کښي جامعهٔ حقانیې ته راتلل.

د دار الافتاء شعبه: لکه څرنګه چه په ابتداء کښي په جامعهٔ دار العلوم حقانیه کښي د دین د تبلیغ او د علم د خپرونې شعبې جوړې شوې. همدارنګه د دار الافتاء غوندي اهمه شعبه هم جوړه شوه. چنانچه یوا ځې عوام نه بلکه له تولې دنیا څخه علماء کرام، سکالران (سیاستدانان)، وکیلان حضرات د خپلو مسائلو حل له نومورې جامعې څخه غوښتل. تر دي پورې چه خپل ذاتي تنازعات ئي هم د جامعې د همدې شعبې په ذریعه ختمول او د دې ځای فیصلې به ئي په ښه اعتماد او پرته له چون او چرا څخه قبلولې او د خدای په فضل سره د اسلسله له ابتداء څخه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

تر ننه پورې قائمه او دائمه ده۔ او په دار الافتاء کښې د کوم دنیاوي عدالت غوندې د فیصلو د غوښتونکو هجوم (ډیر والی) وي۔

د دې اعتماد وجه دا ده چه له دار الافتاء څخه چه د ځومره سوالونو ځوابونه جاري کیږي د هغو له جملې څخه د اهمو مسائلو په باره کښې د جامعې له اکابرو اساتذه کرامو څخه هم مشوري اخیستل کیږي او په هغو باندې ئې د هغو له خوا تصدیقونه اخیستل کیږي۔ په ځانګړي توګه د دار الافتاء د رئیس (چه کوم یو وي) له نظر څخه تقریبا ټولې فتواوي تیریږي او هغه خپلې تصویبي کلمې او دستخط ثبت کوي چه بیا په اصلي کتابچې کښې محفوظ کیږي۔ لکه څرنګه چه شیخ الحدیث حضرت مولانا عبد الحق صاحب نور الله مرقده د ملکي او بین الاقوامي مسائلو خوا ته به پخپله هم اشاري کولې او له نورو استاذ انو څخه به ئې هم مشوري اخیستلې۔ همدارنګه د جامعې اوسنی مهتمم حضرت مولانا سمیع الحق صاحب مد ظله هم د فتواوو په اړه ټول خطونه پخپله خلاصوي او فتواوي د هغو د نوعیت او اهمیت مطابق په مفتي صاحبانو باندې ویشي۔ او په ځینو باندې د خپلې رأیې په لیکلو سره مفتي ته له ځان سره د مشورې د کولو لارښوونه کوي۔

د دغو احتیاطي مراحلو په بناء د ملک اکثره عدالتونه په ځانګړي توګه د صوبه سرحد، شمالي علاقې، قبائلو او ایجنسیانو کښې د سماعت لائدې مقدماتو په باره کښې له دار العلوم حقانیې څخه د شرعي حل غوښتنې کوي او د دې په رنا کښې قاضي صاحبان د قانوني غوښتنو لائدې د مقدماتو فیصلې کوي۔

همدا وجه ده چه د نوموړې جامعې د دار الافتاء په کار کښې ورځ په ورځ زیاتوالی راځي۔ په ابتداء کښې دوه ماهر مفتي صاحبانو به دا فریضه سر ته رسوله۔ چه کله په دې کار کښې ډیر پراخوالی منځ ته راغی او له خارجي ملکونو څخه هم ډیر استفسارات راغلل نو د دې کار د تر سره کولو لپاره د جلیل القدرو مفتیانو کرامو او معاونینو تعداد هم ورسره لورېدل۔ او د جامعۀ حقانیه د تخصص فی الفقه الاسلامي و الافتاء طلباء هم د دار الافتاء په دې عظیم او اهم کار کښې معاونت او امداد کاوه۔

د فتاواوو ثبت: له ابتداء څخه د فتاواوو د نقلونو د اینبودلو اهتمام په نوموړې جامعې کښې موجود دی او د دې کار لپاره ئې څو محررین (لیکونکي) حضرات له دار الافتاء څخه د جاري شویو فتاواوي په کتابچو کښې لیکي۔ او د دې تر څنګ د مخامخ سوالونو او د استفتاء د ځوابونو فوتو کاپي هم د ثبت په توګه پرې دي۔

د فتواوو دا ثبتیدنه په درځونو کتابچو او د زرګونو مخونو په فوټو کاپیو باندې مشتمل دی۔ له دار العلوم حقانیې څخه تر اوسه پورې د جاري شویو فتواوو تعداد له شك او شبهې پرته له زرګونو څخه اووښتی دی۔ دا فتواوي د فقهي، عقائدو، حدیث، تفسیر، د نوي

عصر نوي مسائلو او حوادثو او نوازلو په احکاماتو باندې مشتملې دي۔

د دار الافتاء اهمیت: د دار الافتاء جوړیدنه اکثره په دیني مدارسو کښې د دې نیت د خلوص په نتیجه کښې منځ ته راځي چه خلك د خپلو مسائلو حل له دغو ځایونو څخه له فیس پرته غواړي او خپل اختلافات پرته له کوم تاخیر او ځنډ څخه له منځه وړي۔

زمونږ په عدالتونو کښې د تنازعاتو او مقدماتو د حل طریقه له هیڅا څخه هم پته نه ده بلکه په زرګونو، لکونو روپۍ د وکلاء فیس، کورټ فیس او د اسې نورو درانه بارونو د پورته کولو تحمل له وس څخه د باندې خبره ده۔ او له دې سره سره تر اوږدې مودې پورې د تاریخونو او پیشیو له تیریدو څخه وروسته د فیصلې انتظار کول خو یو بیل درونه بار دی او په نتیجه کښې بیا هم د عدل او انصاف صورت له ډیر رشوت او مدعي مدعي علیه د مالي مقابلې تابع وي۔

د دې برعکس د دیني مدارسو د دار الافتاء په شعبو کښې د تنازعاتو د تصفیې لپاره نه تاریخ په تاریخ ورکول وي، نه کورټ فیس او د اسې نور چور او چپاول وي بلکه د اسلامي شریعت د عادلانه قانون په مطابق انصاف ورپا خلکو ته ورکول کیږي۔ د دې لپاره په اسلام کښې انصاف د اخیستلو او خرڅولو شی نه دی۔ که چیرته ئې خلك غنیمت وګڼي او په شرعي حکم باندې متفق شي او د دغو اسلامي مرکزونو خوا ته رجوع وکړي نو له لکونو پریشانیو او مصیبتونو څخه بچ کیدلای شي۔

لیکن افسوس چه خلك د خپل انانیت (زه والی) په جنګ په زرګونو او لکونو دولتونو په بربادولو سره د مختلف ډول په سلګونو مسائلو او پریشانیو باندې د ور ختلو په صورت کښې په محاکمو کښې جتکي خوري۔ په دې دوران کښې له یوې تنازعې څخه نور ډیر تنازعات او دښمنۍ پیدا کیږي۔

بحمد الله د جامعۀ دار العلوم حقانیې د افتاء شعبه دا کار په ښې طریقې سره سر ته رسوي۔ هره ورځ ګڼ اختلافات د فریقینو د یوه او بل په رضامندۍ سره په ډیر لنډ وخت کښې حل کیږي او فریقین په ډیرې خوښۍ سره دا فیصلې قبلوي او د شریعت مطهره له برکاتو څخه برخمن کیږي۔

په فتوی کښې احتیاط: د فتوی لیکنه د خپل نوعیت له مخې یو اهم منصب دی او په دې کښې له ډیر احتیاط څخه کار اخیستل ضروري دي۔ د امت د اکابرو علماوو دا دستور وو چه هغو به د خپل علمي تبحر تر څنګ کتاب وکوت او له ښه تحقیق څخه وروسته ئې د سوال ځواب د فتوی په طریقې سره ورکاوه۔ کله کله به ئې د احتیاط په بناء سره د ځواب له ورکولو څخه هم ځنګ کاوه۔

جامعۀ دار العلوم حقانیه هم د خپلو اکابرینو په نقش قدم باندې د تګ په ذریعه سره د دې ذمه واری په تر سره کولو کښې له ډیر احتیاط سره ګام پورته کوي۔

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

د ډیر اهمیت وړو فتاواوو د حل په سلسله کښې د نوموړې جامعې د علماوو شورٰی پخپل منځ کښې سره کښینې او د ښه غور او تحقیق له کولو څخه وروسته پخپل منځ کښې متفق کیږي او مسئله حل کوي۔ اختلافي مسائل، ملکي او سیاسي مسائل او په متنازعه مسائلو کښې ډیر د استدلال له مخې فتواوي جاري کوي کومې چه د دار الافتاء د رئیس تصدیق او مهر پرې لګیدلی وي۔ د یوه سړي یا یوه ګوند د تکفیر او تفسیق په باره کښې د امکان تر اندازې پورې له تولو تحقیقاتو څخه وروسته د اسې عمومي فتوٰی جاري کوي چه تر خپلې وسه پورې د یوه سړي یا یوې ډلې په باره کښې غلطه استعمال نه شي۔ د اکثرو استفتاء ګانو په ځواب کښې د یوه معتمد او معتبر کتاب حواله ورکوي او کله کله له یوه څخه د زیاتو کتابونو د حوالې د ورکولو اهتمام هم کوي۔ او ډیر واړي د ډیر کار له وجهې یو اخې د یوه کتاب په حوالې باندې اکتفاء کوي۔

همدارنګه کوم سوالونه چه د ډاکخانې یا نورو ذرایعو په واسطې سره د دار الافتاء ته راشي نو که چیرته سوالونه په مکمله توګه منقح (واضح) نه وي او مبهم او کور وور وي چه له مخې نې صورت مسئوله په څرګنده توګه په پوهې کښې نه شي راتللی او له هغه څخه مستفتي د غلطې فائدې اخیستل مقصد وي نو د اسې سوالونه له نظره د اچولو تر څنګ له هغه څخه د مسئلې په څرګنده توګه لیکل او بیا راالیږل غواړي۔

د اهم او متنازعه استفسار اتو د تنقیح لپاره مبتلٰی به (ګرفتار یا ککړ شوی) یا فریقین د سوال د ښه وضاحت لپاره غواړي او په ځانګړې توګه په متنازعه مسائلو کښې د فریقینو له موجودو والې پرته د ځواب له ورکولو څخه ډډه کوي۔

د فتاواوو ځیرونه: چونکه د جامعۀ دار العلوم حقانیه له احتیاط څخه ډکه د دې شعبې د جاري شویو فتاواوو مقبولیت د هر خاص او عام په زړه کښې ځای نیولی دی او د جامعۀ حقانیې د فضلاوو او نورو علماء کرامو او عوامو هیله او تمنا وه چه د دغو فتاواوو یوه مجموعه د چاپ په ګیټې باندې د ښایسته کیدو په صورت کښې د عامې افادې لپاره ذریعه جوړه شي او هر څوک تري مستفید شي۔ د دغو تولو په دې بې حده اصرار باندې د جامعې لراکینو خصوصا حضرت مولانا سمیع الحق صاحب د امت برکاتهم (د جامعۀ دار العلوم حقانیه مهتمم) د دغو فتاواوو ته د نوي تحقیق او ترتیب ورکولو څخه وروسته له حوالې سره د کتاب په شکل کښې د خپرولو فیصله وکړه او د دې کار لپاره نې د جامعې نائب مفتي حضرت مولانا غلام الرحمٰن صاحب غوره کړ او مفتي صاحب د خپل تدریس او افتاء د مصروفیاتو تر څنګ د دې دروند بار د پورته کولو ذمه واري هم قبوله کړه۔

د فتاوی تحقیق او ترتیب: په ۱۴۰۹ هجري کښې د حضرت شیخ الحدیث مولانا عبد الحق صاحب رحمه الله تر سرپرستي لاندې حضرت مولانا سمیع الحق صاحب د امت برکاتهم د تخصص فی الفقه الاسلامي و الافتاء شعبه قائمه کړه نو په هغه وخت کښې د دې شعبې تقریبا توله ذمه واري

د جناب حضرت مولانا مفتي محمد فرید صاحب د امت برکاتهم او حضرت مولانا مفتي غلام الرحمٰن صاحب مد ظله ته وسپارل شوه۔

د تخصص د شعبې د شروع له کال څخه چه کوم طلباء کرام د تخصص درجې ته د اخل شول نو له یو بل سره د مشورې په نتیجه کښې دغو طلباوو ته د اختتامي مقالې په توګه له جامعۀ دار العلوم حقانیې څخه د جاري شویو فتاواوو د ترتیب، تحقیق او تخریج لپاره یوه خاصه برخه هر یوه طالب علم ته ور وسپارل شوه۔ او د تخصص د شعبې د څارونکي استاذ تر څارنې لاندې دغو طلباوو خپل کارونه پر مخ بیول او د اسلسله تر اوسه پورې جاري ده۔ په دې اوږد او له محنت څخه په ډک کار کښې د تخصص فی الفقه الاسلامي و الافتاء د شعبې لاندینې شریکانو د حضرت مفتي غلام الرحمٰن تر څارنې لاندې او د خپل وخت د دار الافتاء او د تخصص فی الفقه الاسلامي و الافتاء د شعبې رئیس حضرت مولانا مفتي محمد فرید صاحب مد ظله تر سرپرستي لاندې په پوره توګه برخه واخیسته۔

(۱) مولانا غلام قادر نعماني صاحب د یکه غونډ مهمند ایجنسي اوسیدونکی۔
(۲) مولانا مسعود الرحمٰن صاحب د مانسهره اوسیدونکی۔
(۳) مولانا فضل هادي د بې سود اوسیدونکی۔
(٤) مولانا عمر شیر د ګند هاب مهمند و ایجنسي اوسیدونکی۔
(٥) مولانا حسین احمد د جدون اوسیدونکی۔
(٦) مولانا جاوید اقبال د کرک اوسیدونکی۔
(۷) مولانا محمد حنیف د معیار، مردان اوسیدونکی۔
(۸) مولانا عبد الولي د کنړ، افغانستان اوسیدونکی۔
(۹) مولانا حبیب حضرت د ننګرهار، افغانستان اوسیدونکی۔
(۱۰) مولانا محمد عقیل سواتي۔
(۱۱) راقم الحروف مولانا مختار الله د جهانګیري اوسیدونکی۔
(۱۲) مولانا محمد عارف د چارسدې اوسیدونکی۔
(۱۳) مولانا ګوهر علي د تنګي، چارسدې اوسیدونکی۔
(۱٤) مولانا نجم الرحمٰن د تمبولك، مردان اوسیدونکی۔
(۱٥) مولانا ذاکر حسن د مصري باندې، نوښار اوسیدونکی۔
(۱٦) مولانا محمد اجمل د ډومیل، بنو اوسیدونکی۔
(۱۷) مولانا نور الحق د بنو اوسیدونکی۔
(۱۸) مولانا امام الدین مهدي د فرمان خیل، افغانستان اوسیدونکی۔
(۱۹) مولانا عبد الحمید د نوښار اوسیدونکی۔

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

(۲۰) مولانا ارشاد احمد د مرغز، صوابی اوسیدونکی۔
(۲۱) مولانا محمد کفیل د شموزئي، سوات اوسیدونکی۔
(۲۲) مولانا دلبر شاه د ډاګی، صوابی اوسیدونکی۔
(۲۳) مولانا محمد فرید د پشوري، هزاره اوسیدونکی۔
(۲۴) مولانا ګلزار احمد د سلیم خان، صوابی اوسیدونکی۔
(۲۵) مولانا فدا محمد د لاهور، صوابی اوسیدونکی۔
(۲۶) مولانا امداد الله د راولپنډي اوسیدونکی۔
(۲۷) مولانا حیات د شهروان، افغانستان اوسیدونکی۔

همد ارنګه هر کال به یوه ځانګړي ټولنی تیاریدله تر دي پورې چه حضرت مولانا مفتي غلام الرحمن خپلې مدرسې جامعۀ عثمانیه پشاور ته تشریف یووړ۔ له هغه وروسته د تخصص د درجې استاذ انو او مسئرفینو ته د تخصص د څانړي او تدریس موقع په لاس ورغله چه د هغو له جملې څخه علامه ډاکتر سید شیر علي شاه الحقاني المدني (کوم چه د همدې جامعې فیض میندونکی، فاضل او اوس استاذ الحدیث دی)، حضرت مولانا مفتي غلام قادر صاحب او حضرت مولانا مفتي سیف الله حقاني صاحب نومونه د یادونې وړ دي۔

حضرت مولانا مفتي غلام الرحمن صاحب له جامعه حقانیه څخه پشاور ته له تللو وروسته د فتاواوو د ترتیب پوره کار پاتې وو۔ د مسائلو تخریج تقریبا په نیمایي کښې پاتې وو۔ د ځینو مسائلو د حواله جاتو تخریج هم پوره نه وو۔ له دي وجهې حضرت مفتي صاحب له جامعې څخه د تللو په وخت کښې د فتاواوو د حواله جاتو د تصحیح او په هغو باندې د نظر ثاني لپاره د جامعې د انتظامیې د خپل منځي مشورې له مخې د راقم الحروف نوم خوښ کړی شو چه په نتیجه کښې نې دا اهم او مشکل کار دي ناچیز ته ور وسپارل شو۔

اګر که د دي درومد بار زما غوندې د ناتوان طالب علم لپاره پورته کول مشکل وو لیکن د جامعې د مشفقو او اکابرو استاذ انو تر سیوري لاندې مې د الله تعالی د نامه په یادولو سره دا کار شروع کړ۔ له کتاب الطهارت څخه واخله تر کتاب الحج پورې چه کله په مقالو باندې نظر ثاني وشوله نو فی الجمله په هغو کښې ډیرې کمې پیدا شولې چه د سخت محنت په نتیجه کښې مکمل کړای شو۔ له هغه وروسته د ځینو وجوهاتو په بناء باندې د څه وخت لپاره دا کار وځنډیده۔

په کال ۱۹۹۷ء کښې ناچیز بنده چه کله په دار العلوم حقانیه کښې وتاکل شو نو حضرت مولانا سمیع الحق صاحب مهتمم جامعۀ حقانیه په حکم باندې د فتاواوو په ترتیب او تحقیق او د فتاوی حقانیه له مدونه کتابچو څخه د نورو فتاواوو را ایستلو (کوم چه د مقالو په شکل کښې درج شوي نه وو) کار او له دي سره سره د کتابت څارنه هم را وسپارل شوه۔ کار اګر

که مشکل او لویه ذمه واري وه لیکن احقر د کم استعدادي او کم علمي تر څنګ د حضرت مهتمم صاحب د حکم په عملي کولو د الله تعالی د نامه په یادولو سره دا کار شروع کړ۔ په کومو کومو ځایونو کښې چه مشکلات مخي ته راتلل له حضرت مهتمم صاحب او د جامعۀ حقانیه له مشفقو استاذ انو او مفتیانو کرامو سره مې مشوري کولې۔ د الله تعالی په فضل کرم او د دغو حضراتو په لارښوونې باندې دا کار راته آسانه کیده۔ حضرت مولانا سمیع الحق صاحب له خپل ډول ډول مصروفیاتو، درس او تدریس، د جامعۀ حقانیه اهتمام او د ټول ملک سیاسي مندې تړې تر څنګ له اول څخه تر آخره پورې د دي ټول کار د ترتیب، تخریج، تبویب او کتابت د څارنې لپاره هم وخت را ایستلو۔ د دي ټول کار د کتنې و پلټنې لپاره به احقر له هغه سره کله کله اوږده صحبتونه هم تر سره شول۔ الله تعالی د دغو ټولو حضراتو مساعي بار آور او مقبول کړي او د آخرت لپاره دي ذریعه ورته جوړه کړي۔ (آمین)

د دي نوي ترتیب شروع په کال ۱۹۹۸ء کښې وشو او د دریو ځلورو کلونو په مودې کښې د فتاواوو له مدونه کتابچو څخه د نیمایي برخې تخریج سره له تحقیق او ترتیبه (کوم چه له ترتیب کوونکو څخه پاتې وه)، د مرتبو شویو مقالو نظر ثاني او په هغو کښې د پیدا شویو کمیو تکمیل او له هغو سره په جدید طرز باندې د حواله جاتو تحریراً تکمیل وشو۔ د فتاواوو له مدونه کتابچو څخه د تخریج او تحقیق څه برخه د جامعې اراکینو د تخصص فی الفقه الاسلامي و الافتاء د شعبې ځینو شریکانو ته د مقاله جاتو په توګه ور سپارلې وه چه د هغو نګراني هم د جامعې اراکینو د راقم الحروف په ذمه وسپارله۔ په هغو طلباوو کښې د (۱) مولانا محمد وهاب د منګلوري، سوات اوسیدونکی۔ (۲) مولانا عبد العزیز د جهانګیري اوسیدونکی۔ (۳) مولانا سجاد احمد د کټوزئي، چارسده اوسیدونکي نومونه شامل دي۔ الله تعالی دي د تخصص د شعبې د دغو ټولو شریکانو کوششونو ته پخپل دربار کښې د قبولیت مرتبه ورکړي او د هغو په علم او عمل کښې دي برکت واچوي۔

د ترتیب طرز او خانګړتیاوې: د فتاوی دار العلوم حقانیې د ترتیب طرز او طریقه د نورو عصري فتاواوو څخه مختلفه ده تر څو چه د عوامو تر څنګ علماء کرامو او مفتیانو کرامو ته له حوالې سره د مسئلې حل په لاس ورشي۔ د حواله جاتو په سلسله کښې یواځې په یوه کتاب باندې اکتفاء نه ده شوې بلکه له ګڼو کتابونو څخه د حواله جاتو د نقل کولو اهتمام شوی دی۔ د فتاوی په ترتیب کښې د کار لاندینی طریقې تر نظر لاندې نیول شوي دي۔

﴿۱﴾ فتاوی حقانیه لکه څرنګه چه په ګڼو کتابچو او زرګونو فوټو کاپیو باندې مشتمله وه چه له هغو څخه د امکان تر اندازې پورې د تکراري مسائلو د حذف په صورت کښې فتاوی ته حتمي شکل ورکړ شوی دی۔

﴿۲﴾ د فتاوی په خپرونې کښې د نوې اردو فتاواوو په طرز باندې ترتیب شوې ده چه کتاب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

العقائد، تفسیر، حدیث، بدعات، رسومات او د اسې نورو ذکر په سر کښې راغلی دی او د پاتې فقهي بابونو یادونه د ترتیب د زاړه طرز په مطابق شوې ده۔ البته کتاب الکراهیت و الاباحه د بدعاتو او رسوماتو سره لګول شوي دي۔

﴿۳﴾ ځواب په لنډو الفاظو لیکن د جامع او مانع والي لحاظ پکښې شوی دی۔

﴿٤﴾ تمهیدي کلمات له اکثرو ځایونو څخه ایستل شوي دي۔ له هر جلد سره تفصیلي فهرست (لړ لیک) مرتب شوی دی چه له وجهې نې د مسائلو په تخریج کښې آسانتیا راغلي ده۔

﴿٥﴾ د هر ځواب د حوالې پلتنه شوې ده او د هر ځواب دوه درې حوالې لیکل شوي دي۔ له ځواب سره د ځواب ورکوونکي مفتي نوم نه دی لیکل شوی ځکه چه په ځینو فتاوو کښې د مفتي نوم په لاس نه راغی لیکن د هر مفتي علمي تبحر او ثقاهت مسلّم پاتې شوی دی۔ د دې لپاره د ټولو فتاوو نسبت په مجموعي ډول د جامعۀ دار العلوم حقانیې خوا ته شوی دی۔

﴿٦﴾ حواله جاتو ته په دې ډول ترتیب پکښې ورکړ شوی دی چه یوه حواله له ځواب سره لیکل شوې ده او دوه حوالې په حاشیه کښې لیکل شوي دي۔ لیکن د هغو له جملې څخه یوه حواله له عبارت سره لیکل شوې ده په دې حال کښې چه د نورو حوالو لپاره یو اځې د کتاب د جلد او مخ په نمبرو باندې اکتفاء شوې ده۔ په حواله جاتو کښې د کتاب نوم، جلد نمبر او د مخ له نمبر څخه پرته د باب او فصل د ذکر کولو لحاظ پکښې شوی دی۔ تر څو چه د زړو اونیو نسخو او چاپونو د اختلاف له وجهې د اصلو مراجعو خوا ته په رجوع کولو کښې آساني وي۔

﴿۷﴾ دا کوشش شوی دی چه د فتاوی ټول مسائل پخپلو اړوندو بابونو کښې د ذیلي عنوانو لاندې ذکر کړی شي لیکن چه په کومو ځایونو کښې دا امکان نه وو نو د هر جلد په آخر کښې د مسائل شتّی تر عنوان لاندې د هم هغه کتاب اړوند مسائل لیکل شوي دي۔

﴿۸﴾ په هر کتاب کښې چه کوم ذیلي بابونه دي هغه په غټو حروفو سره د لیکلو په صورت کښې په هغه پورې اړونده مسائل پکښې لیکل شوي دي تر څو چه د مسئلې د پلټونکي لپاره آسانتیا وي۔

﴿۹﴾ د دار العلوم حقانیه مؤقره جریده "الحق" میاشتنی وخت په وخت د نوي حالاتو په اړه د نوي مسائلو په حل کښې د دار العلوم د مفتیانو او د دار الافتاء له خوا څخه چه کوم مضمونونه او فتواوي خپریدلي هغه هم د مناسبت له وجهې د خپلو اړوندو بابونو لاندې شامل کړی شوي دي۔ په ځانګړې توګه موجوده نوي مسائل، مخته راتلونکي حوادث اونوازلو کښې د حضرت مهتمم صاحب لیکل شوي مضمون یا په اسمبلي کښې د وړاندې شویو مباحث او د اسې نور هم شامل کړی شوي دي۔

د مفتي (تکویي) خرګندونه: راقم الحروف په لومړي سر کښې د هغه لوړ او عالي ذات شکر ګذار دی چا چه د دې عظیم کار د پوره کولو همت را په برخه کړ او بیا له هغو حضراتو څخه د زړه له

کومې مشکور یم کومو چه د دې ګرانقدر او مشکل کار په تصحیح او نظر ثاني کښې برخه واخیسته۔ د هغو له جملې څخه مولانا محمد ابراهیم فاني صاحب د جامعۀ دار العلوم حقانیې استاذ، مخدوم زاده مولانا حافظ راشد الحق سمیع د جامعۀ دار العلوم حقانیه استاذ او د ماهنامه "الحق" مدیر، جناب سراج الاسلام سراج صاحب، جناب پروفیسر محمد افضل رضا صاحب، جناب پروفیسر مفتي محمد الیاس صاحب په ځانګړې توګه د شکریې مستحق دي۔

د محترم جناب ابو عثمان محمد لطیف کیلاني صاحب (د فتاوی حقانیې کاتب) د شکریې ادا کول هم ضروري ګڼم چا چه د اردو محاورا تو په تصحیح کښې پوره معاونت راسره وکړ۔


الله تعالی دې د غو ټولو حضراتو ته د خیر بدله ورپه برخه کړي۔ (آمین)

ضروري هیله: د اهل علم حضراتو له حضور څخه هیله ده چه اګر که د فتاوی حقانیې د تصحیح په کار باندې خصوصي توجه ورکړ شوې ده لیکن بیا هم الانسان مرکب عن الخطاء و النسیان په مطابق د غلطیو پاتې کیدل له ممکناتو څخه دي د دې لپاره که چیرته کوم ډول غلطي یا خامي په نظر ورشي نو د کرم له مخې دې هغه را په ګوته کړي تر څو چه په راتلونکي چاپ کښې ئې تصحیح وشي۔

شکریه (مننه)

(مولانا مفتي) مختار الله حقاني
د جامعۀ دار العلوم حقانیه د تخصص او د دار الافتاء د شعبې خادم
اکوړه خټك (نوښار)
۲۰ رمضان المبارك ۱٤۲۲ هجري

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

کتاب العقائد و الایمانیات

(د ایمان او عقائدو احکام او مسئلي)

د الله تعالی په شان کښي د سپکاوي د الفاظو استعمالول

سوال: یوه سړي له چا سره د ذاتي عناد او ضد له وجهي د الله تعالی په عالي او لوړ شان کښي د سپکاوي کلمي استعمال کړي۔ آیا د دا سې سړي شرعاً څه حکم دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: فقهاء کرامو لیکلي دي چه د الله تعالی د ذات او صفاتو او د هغه د نواهیو او اوامرو په شان کښي د سپکاوي د الفاظو استعمالول د کفر او ارتداد موجب دی۔ بیا هم که چیرته دا سې سړی توبه وباسي نو توبه به ئې قبوله وي۔ او که چیرته ئې واده وي نو له توبې وروسته به نکاح هم نوي کوي۔

لما قال فی الهندیة: و یکفر اذا وصف الله تعالی بما لا یلیق به او سخر باسم من اسمائه او بامر من اوامره او انکر وعده او وعیده. (الفتاوی الهندیة ج۲، ص۲۵۸، الباب التاسع فی المرتدین)

قال العلامة ابن نجیم المصری رحمه الله: فیکفر اذا وصف الله تعالی بما لا یلیق به او سخر باسم من اسمائه او بامر من اوامره او انکر وعده او وعیده..... الخ. (البحر الرائق ج۵، ص۱۲۰، احکام المرتدین) و مثله فی خلاصة الفتاوی ج٤، ص۳۸۳، کتاب الفاظ الکفر، الفصل الثانی)

د قرآن مجید سپکاوی د کفر موجب دی

سوال: د قرآن مجید په سپکاوي سره سړی کافر کیږي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د الله تعالی په شعائرو کښي تر ټولو لوی شعار قرآن مجید دی او د هغه تعظیم او احترام په هر مسلمان فرض دی۔ قال الله تعالی: وَمَنْ يُعَظِّمْ شَعَائِرَ اللهِ فَإِنَّهَا مِنْ تَقْوَى الْقُلُوبِ (سورة الحج، آیت ۳۲) او په سپکاوي باندې ئې سړی کافر کیږي۔

لما قال ملا علی قاری رحمه الله: و من استخف با لقرآن او با لمسجد او بنحوه مما یعظم فی الشرع کفر. (شرح الفقه الاکبر ص۱۶۸، فصل فی القراة و الصلوة)

له دي وجهي د قرآن مجید سپکاوی کوونکي ته د ایمان او نکاح د دوارو تجدید ضروري دی ځکه چه د خپل بد فعل له وجهي مرتد شوی دی۔

لما قال العلامة الحصکفی: ما یکون کفراً اتفاقاً یبطل العمل و النکاح و اولاده اولاد الزنا و ما فیه خلاف یؤمر با لاستغفار و التوبة و تجدید النکاح. (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج٤، ص۲٤۵، باب المرتد، مطلب جملة من لا یقتل اذا ارتد)

قال العلامة عالم بن العلاء الانصاری: رجل یقرأ القرآن فقال رجل "این چه بانك طوفان است" فهذا کفر. (الفتاوی التاتارخانیة ج۵، ص٤۹۱، کتاب احکام المرتدین..... فیما یتعلق با لقرآن)

و قال الملا علی القاری: من قال لا ادری صفة الاسلام فهو کافر. قال شمس الائمة الحلوانی فهذا رجلٌ لا دین له و لا صلوٰة و لا صیام و لا طاعة و لا نکاح و اولاده اولاد الزنا. (شرح الفقه الاکبر

ص۲٦۷، فصل فی الکفر صریحا و کنایة) و مثله فی فتاوی دار العلوم دیوبند ج۱۲، ص۲٦۲، احکام المرتد.

کلمې ته ښکنځل کوونکی کافر دی

سوال: که چیرته یو څوك کلمۀ طیبه ته ښکنځا وکړي نو د شریعت له مخې به د دا سې سړي څه حکم وي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: چه کوم سړی کلمۀ طیبه ته ښکنځا وکړي نو کافر کیږي ځکه چه کلمۀ طیبه ته ښکنځا د اسلام د دین سپکاوی دی او د دین سپکاوی د کفر او ارتداد موجب دی۔

قال العلامة ابن عابدین: و یظهر من هذا ان ما کان دلیل الاستخفاف یکفر به و ان لم یقصد الاستخفاف لانه لو توقف علی قصده لما احتاج الی زیادة عدم الاخلال بما مر لان قصد الاستخفاف منافٍ للتصدیق. (رد المحتار ج٤، ص۳۲۲، باب المرتد قبل مطلب فی منکر الاجماع)

قال العلامة ملاّ علی القاری: من اهان الشریعة او المسائل التی لا بد منها کفر. (شرح الفقه الاکبر ص۱۷٤، فصل فی العلم و العلماء)

اسلامي نظام ته یو فرسوده نظام ویل کفر دی

سوال: که چیرته یو مسلمان د هوش او حواس په حالت کښي دا اعلان وکړي چه اسلامي نظام یو فرسوده (بیکاره) نظام دی نو د شریعت له مخې د دا سې سړي حکم څه دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: الله تعالی اسلام تر قیامته پورې د راتلونکو خلکو لپاره د ژوند یوه مکمله ضابطه او د امن او سلامتی نظام ګرځولی دی۔ له دې وجهي اسلام ته د "فرسوده نظام" نسبت کول په شریعت پورې استهزاء ده او د هوش او حواسو په حال کښي په شریعت مقدسه پورې استهزاء کوونکی مسلمان کافر کیږي۔

قال العلامة ابن عابدین: ما کان دلیل الاستخفاف یکفر به و ان لم یقصد الاستخفاف. (رد المحتار ج۳، ص۳۱۱، باب المرتد)

قال العلامة ملاّ علی القاری: و من قال الشرع و امثاله لا یفیدنی و لا ینفذ عندی کفر. (شرح الفقه الاکبر ص۲٦۳، فصل فی العلم و العلماء) و مثله فی فتاوی دار العلوم دیوبند ج۱۲، ص۳۵۳، احکام المرتد.

د شاتم رسول ﷺ توبه مقبوله ده

سوال: که چیرته یو مسلمان د رسول الله ﷺ په مقدس شان کښي د سپکاوي الفاظ استعمال کړي نو د شریعت له مخې د هغه توبه قبلیږي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د جناب رسالت مآب ﷺ په مقدس شان کښي ګستاخي کوونکی مسلمان د اسلام له دائرې څخه ووځي۔

قال العلامة ابن عابدین: اجمع المسلمون ان شاتمه کافر و حکمه القتل. (رد المحتار ج٤، ص۲۳۲، باب المرتد، مطلب مهم فی حکم سب الانبیاء)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

بیا هم که چېرته شاتم رسول ﷺ پخپل دي فعل باندې پښېمان شي او توبه وباسي نو توبه ئې قبلیږي او د ایمان له تجدید څخه وروسته به بیا مسلمان ګڼل کیږي۔

قال ابو الحسن علی بن الحسین اسعدیؒ من سبّ رسول اللہ ﷺ فانہٗ مُرتد و یفعل بہ ما یفعل بالمرتد. (التنف فی الفتاوی ج۲، ص۶۹۴، باب المرتد)

قال العلامة ابن عابدینؒ: ظاهر فی قبول توبته کما لا یخفی. (منحة الخالق علی البحر الرائق ج۵، ص۱۳۵، باب المرتد)

قال العلامة ابن عابدینؒ: و ان مذهب ابی حنیفةؒ و الشافعیؒ ان حکمه حکم المرتد و قد علم ان المرتد تقبل توبته و یؤیده ما نقله هنا عن التنف. (رسائل ابن عابدین ج۱، ص۳۳۳، تنبیه الولاة و الحکام علی احکام شاتم خیر الانام)

د انبیاء کرام علیهم السلام په شان کښې د سپکاوي حکم

سوال: د یوه سړي دا ویل چه انبیاء علیهم السلام نعوذ باللہ له مرد اړي نطفې څخه پیدا شوي دي۔ نو د داسې نابښسته الفاظو د ویونکي شرعاً څه حکم دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په هر مسلمان باندې د ټولو انبیاؤ علیهم السلام احترام او تعظیم واجب دی۔ د دې لپاره چه انبیاء کرام د اللہ تعالی خوښ کړل شوي او معصوم بندګان دي۔ په هغو باندې عیب لګول او د هغو په شان کښې د بې ادبو کلماتو استعمالول د کفر سبب دی۔ مسلمانان باید چه د داسې کلماتو له استعمالولو څخه ځان وساتي۔

لما قال العلامة ابن البزازؒ: و لو عاب نبیاً کفر..... و قیل قال ان آدم علیه السلام نسج الکرباس فقال نحن اذن اولاد الحائک یکفر. (الفتاوی البزازیة علی هامش الهندیة ج۶، ص۳۲۷، احکام المرتدین، الثالث فی الانبیاء)

و فی الهندیة و لو قال محمد درویشک بُود او قال جامهٔ پیغمبر ریمناک بود (ترجمه) محمد رسول اللہ ﷺ کان درویشاً او قال کانت ملابس الرسول تلزة او قال قد کان طویل الظفر فقد قیل یکفر مطلقاً و قد قیل یکفر اذا قال علی وجه الاهانة. (الفتاوی الهندیة ج۲، ص۲۶۴، الباب التاسع فی احکام المرتدین) و مثله فی التاتارخانیة ج۵، ص۴۸۱، احکام المرتدین، فصل فیما یعود الی الانبیاء علیهم السلام.

د صدیق اکبر د صحبت منکر کافر دی

سوال: د حضرت ابو بکر صدیق رضی اللہ عنه د صحابي توب منکر کافر دی او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د حضرت ابو بکر صدیق رضی اللہ عنه صحابي توب په قرآن مجید سره ثابت دی۔ قال اللہ تبارک و تعالی: اِذْ یَقُوْلُ لِصَاحِبِهٖ لَا تَحْزَنْ اِنَّ اللّٰهَ مَعَنَا. (سورة التوبة آیت ۴۰)

قال الامام الرازیؒ: ان الامة مجتمعة علی ان المراد من (اِذْ یَقُوْلُ لِصَاحِبِهٖ) هو ابو بکر. (تفسیر الکبیر ج۱۶، ص۶۵، سورة التوبة)

نو څوک چه له دې خبرې څخه انکار وکړي چه حضرت ابو بکر صدیق رضی اللہ عنه صحابي نه دی نو صحابهٔ کرامو د لسې سړی کافر او مرتد بللی دی۔

قال ابن عابدینؒ: نعم لا شک فی تکفیر من قذف السیدة عائشةؓ او الکر صحبة الصدیق الخ. (رد المحتار ج۴، ص۲۳۷، باب المرتد)

قال العلامة ملا علی القاریؒ: فقد اجمعوا علی ان من انکر صحبة ابی بکر الصدیقؓ کفر بخلاف انکار صحبة غیره لورود النص فی حقه حیث قال اللہ تعالی: "اِلَّا تَنْصُرُوْهُ فَقَدْ نَصَرَهُ اللّٰهُ اِذْ اَخْرَجَهُ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا ثَانِیَ اثْنَیْنِ اِذْ هُمَا فِی الْغَارِ اِذْ یَقُوْلُ لِصَاحِبِهٖ لَا تَحْزَنْ اِنَّ اللّٰهَ مَعَنَا". فاتفق المفسرون ان المراد بصاحبه هو ابو بکر الصدیق و فیه ایماء الی انه الفرد الاکمل من اصحابه حیث یحمل الاطلاق علی بابه. (شرح الفقه الاکبر ص۱۰۱، الفضیل الخلفاء بعد الانبیاء)

شیخینوؓ ته بنکنځا د فسق موجب دی

سوال: جناب مفتي صاحب! شیعه ګان شیخینو حضراتو ته بنکنځلي کوي۔ نو آیا د شیخینو په بنکنځا باندې کفر په سړي لازمیږي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د شیخینو یعني حضرت ابو بکر صدیق او حضرت عمر فاروق رضی اللہ عنهما په شان کښې سپکاوی کول او بنکنځا کول د محققینو علماوو په نزد کفر نه دی لیکن فسق او ګمراهي خو خامخا ده۔ او د داسې بد فعل څخه توبه استل ضروري دي۔ البته که چېرته د شیخینو د سپکاوی د حلال ګڼلو عقیده ولري نو بیا ئې په کفر کښې څه شک نشته۔

قال العلامة ابن عابدینؒ: اتفق الائمة علی تضلیل اهل البدع اجمع تحقیقهم: سبّ احدٍ من الصحابة و بغضه لا یکون کفراً لکن یضلل. (رد المحتار ج۳، ص۳۲۱، باب المرتد، مطلب فی حکم سبّ الشیخین)

قال العلامة ملاً علی القاری رحمه اللہ: ان سبّ الشیخین لیس بکفر کما صححه ابو الشکور السالمی فی تمهیده و ذلک لعدم ثبوت مبناه و عدم تحقق معناه فان سبّ المسلم فسق کما فی حدیث ثابت. (شرح الفقه الاکبر ص۷۱، الکبیرة لا تخرج المؤمن عن الایمان)

د امیر معاویه رضی اللہ عنه په شان کښې د ګستاخی حکم

وال: څینې خلک د حضرت امیر معاویه رضی اللہ تعالی عنه په شان کښې زبان درازي کوي او مشاجرات ئې په علني توګه بیانوي او وایي چه دی د رسول ﷺ د اهل بیتو دښمن وو نو دا خبره د شریعت له مخې څومره حقیقت لري او د یوه مسلمان په حیث په دې اړه باندې یو څوک باید کومه عقیده ولري؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: څومره احادیث چه د حضرت امیر معاویةؓ په مناقبو کښې راغلي دي له هغو ټولو څخه څرګندیږي چه دی مبارکؓ د کبارو (لویو) صحابهٔ کرامو څخه وو۔

عن عبد الرحمٰن بن ابی عُمیرة و کان من اصحاب النبی ﷺ عن النبی ﷺ انه قال لمعاویة اللّٰهم اجعله هادیاً مهدیاً و اهد به. (ترمذی ج۲، ص۲۲۴، مناقب معاویة بن ابی سفیانؓ)

او د دوی تر منځ چه کوم مناقشات راغلي وو هغه په ظاهره د اعتقاد د تصویب له مخې راغلي وو۔

قال العلامة ملاً علی القاریؒ: قال ابو منصور البغدادیؒ: و اما معاویة فهو من العدول الفضلاء و الصحابة الاخیار و الحروب التی جرت بینهم کانت لکل طائفة شبهةً اعتقدت تصویب انفسها بسببها و کلهم متأولون فی حروبها و لم یخرج بذلک احدٌ منهم من العدالة لانهم مجتهدون اختلفوا فی مسائل کما اختلفت المجتهدون فی مسائل و لا یلزم من

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

ذلك نقص احد منهم. (مرقاة ج ۱۱، ص ۲۷۲، باب مناقب الصحابة)

قال العلامة ابن تيميةؒ: ان هذه الآثار المروية في مساويهم..... و الصحيح منه هم فيه معذورون اما مجتهدون مصيبون و اما مجتهدون مخطئون و هم مع ذلك لا يعتقدون ان كل واحد من الصحابة معصوم من كبائر الاثم و صغائره بل يجوز عليهم الذنوب في الجملة و لهم من الفضائل و السوابق ما يوجب مغفرته ما يصدر منهم ان صدر. (شرح العقيدة الواسطية ص ۱۹۸، تفصيل مراتب القدر)

د حضرت حسين رضی الله عنه د صحابي توب ثبوت

سوال: ځينې خلك دا ته مني چه حضرت حسين رضی الله عنه صحابي دی او دا وايي چه د نبي کريم ﷺ د رحلت په وخت کښې د هغه عمر پنځه کاله او نابالغ وو۔ په دې باره کښې که څه وضاحت وکړی نو ډيره مهرباني به مو وي؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د جمهورو محدثينو او فتوا وو د خاوند انو په نزد حضرت حسين رضی الله عنه ته د تولو فضائلو او مناقبو تر څرنګ د صحابي توب مرتبه هم حاصله ده بلکه په تولو فضائلو کښې صحابي توب ام الفضائل دی او د صحابي توب په ثبوت کښې د عمر کموالی مانع ګڼل کومه د توجه وړ خبره نه ده۔ د عامو محدثينو په نزد صحابي هغه چا ته ويل کيږي چه د ايمان په حالت کښې ئې د حضور ﷺ زيارت کړی وي اګر که ئې عمر کم هم وي۔ ځينو علماوو د نبوي ﷺ د صحابي توب لپاره د بلوغ قيد لګولی دی ليکن د جمهورو محدثينو په نزد دا قول ضعيف او مردود دی۔ پاتې شوه دا خبره چه د نبي کريم ﷺ د وفات په وخت کښې د حضرت حسين رضی الله عنه د پنځه کلني خبره يقيني او قطعي نه ده بلکه په دې باره کښې تر اوو کلونو پورې روايتونه هم راغلي دي۔ او د اوه کلونو په عمر کښې يو هلك پوهې او شعور ته رسيږي۔ بلکه د حديثو په کتابونو کښې ئې له خپل نيکه حضرت محمد مصطفی ﷺ څخه روايتونه هم موجود دي او محدثينو معتبر هم ګرځولي دي۔ له دې وجهې په هيڅ يوه صورت کښې هم د ده په نه صحابي توب باندې قائل اوسيدل بې اصله او بې بنياده خبره ده۔

لما قال الامام محمد بن اسماعيل البخاریؒ: من صحب النبی ﷺ او رآه من المؤمنين فهو صحابی. (بخاری شريف ج ۱، ص ۵۱۵، باب فضائل اصحاب النبی ﷺ)

و قال العلامة ابن حجر العسقلانی رحمه الله: و مهم من اشترط فی ذلك ان يكون حين اجتماعه بالغاً و هو مردود لانه يخرج مثل الحسين بن علیؓ و نحوه من احداث الصحابة و الذی جزم به البخاری هو قول احمد و الجمهور من المحدثين. (فتح الباری شرح البخاری ج ۳، ص ۷، فی باب تحريض النبی ﷺ علی صلوة الليل و النوافل)

قال العلامة ابن كثيرؒ: فانهٗ من سادات المسلمين و علماء الصحابة و ابن بنت رسول الله ﷺ التی هی افضل بناته و قد كان عابداً و شجاعاً و سخياً. (البداية و النهاية ج ۸، ص ۲۰۴، قبيل بحث و اما قبر الحسين رضی الله تعالی عنه) و مثله فی مشكوة ص ۵۷۰، فی مناقب اهل بيت. و كذا فی المرقاة المفاتيح

ديوبندي علماوو ته د وهـــابي ويلو حکم

سوال: د د يوبند د علماوو لپاره د وهابي لفظ استعمالول څنګه دي؟ او دا لفظ د کومې فرقې يا ډلې لپاره استعماليږي؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د ديوبند د علماوو په باره کښې د "وهابي" لفظ استعمالول کوم اصل او بنياد نه لري۔ "وهابي" په اصل کښې د محمد بن عبد الوهاب نجدي منونکو ته ويل کيږي او هغه حنبلي مذهبه وو په دې اسې حال کښې چه د ديوبند علماء کرام د امام ابو حنيفه رحمه الله مقلدين دي۔ نو د دې لپاره هغوته غير مقلد يا وهابيان ويل سر تر پايه جهل او تعصب دی۔

د دين د کوم عالم تحقير (سپکاوی) د کفر موجب دی

سوال: د دين علماوو ته بنکنځلي او يا هغوی د سکانو او هندوانو خوا ته په منسوب کولو باندې انسان کافر کيږي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د ذاتي تکليف، عداوت يا دنياوي معاملاتو له وجهې چـــــاته بنکنځا کول د فسق موجب دی۔ لقوله عليه السلام سباب المسلم فسوق و قتاله كفر. (ترمذی ج ۲، ص ۱۹، باب ما جاء فی الشتم)

هو! که چېرته د دين د يوه عالم سپکاوی د هغه د علم له وجهې وشي نو فقهاء کرامو د اسې سړي په کفر او ارتداد باندې فتوی ورکړې ده۔

لما قال العلامة طاهر بن عبد الرشيد البخاریؒ: من البغض عالماً من غير سبب ظاهر خيف عليه الكفر. (خلاصة الفتاوی ج ٤، ص ٣٨٨، كتاب الفاظ الكفر)

قال العلامة ملا علی القاریؒ: قلت الظاهر انه يكفر لانه بغض العالم من غير سبب دنيوی او اخروی فيكون بغضه لعلم الشريعة و لا شك فی كفر من انكر. (شرح الفقه الاكبر ص ۱۷۳)

قال العلامة ابن البزاز الكردریؒ: و شتم العالم و العلوی لامر غير صالح فی ذاته و عداوته لخلاف الشرع لا يكون كفراً و لا خطاءً. (فتاوی البزازية علی هامش الهندية ج ٦، ص ٣٣٧، الثامن فی الاستخلاف با لعلم) و مثله فی امداد الفتاوی ج ٥، ص ٣٩٣، كتاب العقائد و الكلام.

همدارنګه يوه عام مسلمان ته د هندو، سك يا برهمن نسبت کول د کفر موجب دی۔

لما قال العلامة مُلاّ علی القاریؒ: و من قال بـ "تاثر نسكت المخاطب كان الفقيه ابو بكر البلخیؒ: يقول يكفر هذا القاذف ای الشاتم الخ. (شرح الفقه الاكبر ص ۱۸۱، فصل فی الكفر صريحاً و كناية)

يو مسلمان ته د خـــــره په ويلو باندې سړی نه کافر کيږي

سوال: جناب مفتي صاحب! يو مسلمان ته د خره په ويلو سره سړی کافر کيږي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: پرته له کوم سبب څخه يو مسلمان د کوم قبيح او بد شي خوا ته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

منسوبول جرم او ګناه ده۔ لیکن کوم مسلمان ته د خره په ویلو سره سړی نه کافر کیږي۔ البته د دا سي الفاظو ویونکی سړی د تعزیر وړ دی او د وخت حاکم به په دا سي سړي باندې تعزیر جاري کولی شي۔ او دلته دا خبره په ذهن کښې کښینوی چه تعزیر ورکول یو اځې د حکومت کار دی۔ په رعایاوو کښې چا ته قانون پخپل لاس کښې نیول او له ځانه د تعزیر د جاري کولو اختیار نشته۔

قال العلامة قاضی خانؒ: رجل قال لصالح یا فاسق یا حمار یا فاجر یا خبیث یا خنزیر..... ذکر الفاطفیؒ: ان علیه التعزیر فی هذه الالفاظ. (فتاوی قاضی خان علی هامش الهندیة ج۳، ص۴۷۹، فصل فیما یوجب التعزیر)

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: ان المنسوب من الاشراف کا لفقهاء و العلویة یعزر لانه یلحقهم الوحشة بذلك و ان کان من العامة لا یعزر. (رد المحتار ج۴، ص۷۱، باب التعزیر، مطلب فی الحرح المجرد)

د زیږي پریښودونکي ته د ښکنځا حکم

سوال: د زیږي پریښودونکي مسلمانانو ته د کافر او بدو ردو خبرو د ویونکو د شریعت له مخې څه حکم دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: زیږي پریښودل یو اځې د رسول اللهﷺ محبوب سنت نه دی بلکه د تولو انبیاء کرامو سنت دی او د اسلام ددین له شعائرو څخه ګڼل کیږي۔ د دې لپاره د زیږي د پریښودو له وجهې د کوم مسلمان سپکاوی او هغه ته د بدو ردو الفاظو په ویلو سره ایمان له منځه ځي۔ له دې وجهې له دې ډول کلماتو څخه باید یو مسلمان پرهیز وکړي۔

لما فی الهندیة: و لو قال این چه رسم است سبت بست کردن و دستار بزیر گلو آوردن (ای ما هذه العادة تقصیر الشارب و ارخاء الطیلسان تحت الوقیة) فان قال ذلك علی سبیل الطعن فی سنّة رسول اللهﷺ فقد کفر کذا فی المحیط. (فتاوی الهندیة ج۲، ص۲۶۵، الباب التاسع فی احکام المرتدین)

قال العلامة ملاّ علی القاریؒ: و قص الشارب من سنن الانبیاء فتعییبه کفرٌ بلا اختلاف بین العلماء. (شرح فقه اکبر ص۱۷۳)

د سنتونو او نوافلو سپکاوی د کفر موجب دی

سوال: سنتونه (رواتب) او نوافل د سپك ګڼلو له وجهې د نه ادا کوونکي او د ځناور د لکۍ خوا ته ني د نسبت کوونکي سړي د شریعت له مخې څه حکم دی؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د هدی او مؤکدو سنتونو پریښودونکي ګنهګار دي او استخفافاً پریښودل ني د کفر موجب دی۔ لهذا د دا سي سړی دي باید پخپلې خبرې باندې توبه وباسي او خپل ایمان بیرته نوی کړي۔

قال العلامة ابن عابدینؒ: تحت قوله لو عامداً غیر مستخف) فلو غیر عامد فلا اساءة ایضاً بل تندب اعادة الصلوة کما قدمناه فی اوّل بحث الواجبات و لو مستخفا کفر لما فی النهر عن البزازیة لو لم یر السنة حقاً کفر لانه استخفاف. (رد المحتار ج۱، ص۴۷۴، مطلب سنن الصلوة)

و فی الهندیة: رجل ترك سنن الصلوة ان لم یر السنن حقا فقد کفر لانه ترکها استخفافاً و ان رآها حقا فالصحیح

انهٗ یأثم لانه جاز استحساناً کذا فی المحیط. (الفتاوی الهندیة ج۱، ص۱۱۳، الباب التاسع فی النوافل) و مثله فی شرح الفقه الاکبر ص۱۵۲، لفظ القرآن اسم لنظم و المعنی۔

د بتانو سود اګڼلو او جوړوونکي ته د کافر ویلو حکم

سوال: په فتاوی قاضیخان کښې دي چه من رضی بکفر الغیر یعد کافر نو که چېرته یو څوك د بتانو د اخیستلو او خرڅولو او د هغو د جوړولو کار کوي نو آیا د دا سي سړي ته کافر ویل صحیح دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د بتانو جوړول۔ اخیستل او خرڅول نه بت پرستي ده او نه د دې فعل له وجهې په بت پرستي باندې خوښي لازمیږي۔ د دا سي سړي ته کافر ویل ناپوهي او بې علمي ده او د فقهاوو په عبارتونو کښې ئې مثالونه موجود دي۔

قال العلامة قاضیخانؒ: و لو استاجر رجلاً لیخت لهٗ اصناماً او لیزخرف لهٗ بیتا یا لتماثیل فلا اجر لهٗ. (فتاوی قاضیخان مع سراجیة ج۳، ص۱۵، کتاب الاجارات)

قال العلامة طاهر بن عبد الرشید البخاریؒ: و لو استاجر رجلاً لیحت لهٗ اصناماً او یجعل علی الوابه تماثیل و الصبغ من رب الثوب لا شیء له. (خلاصة الفتاوی ج۳، ص۱۵۰، کتاب الاجارات) و مثله فی الهندیة ج۴، ص۴۵۰، کتاب الاجارات۔

د نبوي سنتو سپکاوی کفر دی

سوال: د نبويﷺ سنتو د سپکاوی او په هغو پورې د توقي کوونکو شرعا څه حکم دی؟

الجواب باسم ملهم الصواب: کله چه د کوم عمل سنت والی د شرعي دلیل له مخې ثابت شي نو د هغه سپکاوی او په هغه پورې توقي او مسخري د کفر موجب دی۔

لما قال فی الهندیة: د ر روز عاشوراء یکی را گویند که سرمه درین روز سنت است او گوید کار زنان و مخنثان بود کافر گردد. (الفتاوی الهندیة ج۲، ص۲۶۵، الباب التاسع فی احکام المرتدین)

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: بل با لمواظبة علی ترك سنة استخفافاً بها بسبب انهٗ فعلها النبیﷺ زیادة او استقباحها کمن استقبح من آخر جعل بعض العمامة تحت حلقه او احفاء شاربه. (رد المحتار ج۴، ص۲۲۲، باب المرتد) و مثله فی شرح الفقه الاکبر ص۱۵۲، استحلال المعصیة صغیرة..... کفر۔

د لمانځه د سپکاوي حکم

سوال: یوه سړي ته وویل شو چه لمونځ وکړه۔ هغه په ځواب کښې ورته وویل چه لمونځ هیڅ شی هم نه دی او په لمانځه کښې څه ګټه ده۔ نو آیا د لمانځه په اړه د دا سي الفاظو د ویونکي شرعا حکم څه دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: لمونځ د الله تعالی له شعائرو څخه او واجب التعظیم عمل دی۔ او د اسلام د دین یو اهم رکن دی۔ د لمانځه په باره کښې د اسي له سپکاوي څخه د ډکو الفاظو استعمالول د کفر موجب دی۔

جلد اول

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

لما قال في الهندية: او قال نماز ميكم چيزى بر سر نمى آيد، او قال تو نماز كردى چه بر سر آوردى.....

فهذا كله كفر كذا في الخزانة المفتين. (الفتاوى الهندية ج۲، ص۲۶۸، احكام المرتدين)

قال العلامة ابن عابدينؒ: قلت و يظهر من هذا ان ما كان دليل الاستخفاف يكفر به و ان لم يقصد الاستخفاف.

(رد المحتار ج٤، ص٢٢٢، باب المرتد) و مثله في فتاوى قاضى خان على هامش الهندية ج٣، ص٥٧٥، باب ما يكون كفراً من المسلم الخ.

د علماء کـــــــرامو په حق کښې د سپکاوي د کلماتو د استعمال حکم

سوال: يوه ديني عالم ته بد رد ويل او هغه د بې ديني خواته منسوبول شرعاً څنګه دي؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د کوم ديني عالم او د شريعت تابع سړي سپکاوى او د بې ديني نسبت ورته کول که چېرته د دنياوي او ذاتي عداوت او ضد له وجهې وي نو اګر که کفر او ارتداد خو نه دى ليکن فسق او نامردي خو خامخا ده. البته که چېرته د کوم ديني عالم سره کوم ذاتي عداوت او دښمني نه وي بلکه يوائې په دي وجه چه هغه يو ديني عالم او د شريعت تابع دى او د هغه ناسته ولاړه د نبوي سنتو مطابقه ده. نو بناء په دي صورت د هغه سپکاوى او ذليلول په حقيقت کښې د شريعت مطهره له سپکاوى او تذليل سره برابر دى او د شريعت مطهره سپکاوى، عداوت او استهزاء د کفر موجب دى. لهذا د ديندارى او ديني علم له وجهې د کوم ديني عالم سپکاوى له کفر سره برابر دى.

لما قال العلامة ملا علي القاريؒ: و في الخلاصة: من ابغض عالماً من غير سبب ظاهر خيف عليه الكفر قلت الظاهر انه يكفر لانه اذا ابغض العالم من غير سبب دنيوى او اخروى فيكون بغضه لعلم الشريعة و لا شكّ في كفر من انكر فضلاً عمن ابغضه. (شرح الفقه الاكبر ص٢٦٠، فصل في العلم و العلماء)

و قال في الهندية في النصاب من ابغض عالماً من غير سبب ظاهر خيف عليه الكفر و اذا قال لرجل مصلح ديدار وى ترين چنان است كه ديدار خوك يخاف عليه الكفر كذا في الخلاصة اذا شتم عالما او فقيهاً من غير سبب. (الفتاوى الهندية ج٢، ص٢٧٠، و منها ما يتعلق با لعلم و العلماء) و مثله في البزازية على هامش الهندية ج٦، ص٣٣٦/٣٣٧، الثامن في الاستخفاف با لعلم.

د جومات په اړه د ناشائسته الفاظو د استعمالولو حکم

سوال: يوه سړي د جومات په اړه د لسې ناشائسته الفاظ وايي چه په خولې کښې نه شي راتلى- نو د داسې سړي په اړه شرعاً څه حکم دى؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: جومات د الله تعالى په شعائرو کښې داخل دى او د شعائر الله سپکاوى کله کله د کفر موجب جوړيږي او له بنکنځا څخه به زيات سپکو الى څه وي؟ د داسې سړى د کفر له سخت خطر سره مخامخ دى او له هغه سره د مسلمانانو غوندې رويه کول تر هغه وخته پورې

جائز نه دي چه تر څو پورې نې له خپلې دې خبرې څخه توبه نه وي ايستلې او استغفار نې نه وي کړى. البته د کوم مسلمان خوا ته له تحقيق پرته د داسې کلماتو نسبت بايد و نه شي کوم چه هغه ويلى نه وي.

لما قال العلامة مُلاّ على القارى رحمه الله: من استخف با لقرآن او با لمسجد او بنحوه مما يعظم في الشرع كفر. (شرح الفقه الاكبر ص٢٥٠، فصل في القراءة و الصلوة)

و قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (من هزل بلفظ كفر) اى تكلم به باختياره غير قاصد معناه..... لان التصديق و ان كان موجوداً حقيقة لكنه زائل حكماً لان الشارع فعل بعض المعاصى امارة على عدم وجوده كما لهزل المذكور.....

و با لجملة فقد ضم الى التصديق با لقلب او با لقلب و اللسان في تحقيق الايمان امور الاحلال بها احلال با لايمان اتفاقاً كترك السجود يصنم و قتل نبى و الاستخفاف به و با لمصحف و الكعبة. (رد المحتار ج٤، ص٢٢٢، باب المرتد)

د ختم نبوت منکر کافـــــــر دى

سوال: د نبي کريم ﷺ د ختم نبوت عقيده فرض ده، که سنت او که مستحبه؟ او د ختم نبوت انکار کفر دى او که يوه معمولي غوندې ګناه ده؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د ختم نبوت عقيده د قرآن او حديثو د نصوصو له مخې فرض ده. رسول الله ﷺ خاتم الانبياء و المرسلين دى او د ده راوړل شوى دين خاتم الاديان ګنل فرض دي. د دې د ختم منکر او له ده څخه وروسته د کوم نبي د راتلو معتقد کافر او د اسلام له دائرې څخه وتلى دى.

قال الله تبارك و تعالى: مَا كَانَ مُحَمَّدٌ اَبَا اَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِكُمْ وَ لٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ وَ خَاتَمَ النَّبِيّٖنَ. (سورة الاحزاب آيت ٤٠)

عن ابى هريرةؓ: قال قال رسول اللهﷺ: مثلى و مثل الانبياء كمثل قصر احسن بنيانه تُرك منه موضع لبنة فطاف به النظار يتعجّبون من حُسن بنيانه الا موضع تلك اللبنة فكنتُ انا فسددتُ موضع اللبنة ختم بى البنيان و ختم بى الرسل و في رواية فانا اللبنة و انا خاتم النبيين. متفق عليه. (مشكوة ج٣، ص١٦٠١، حديث ٥٧٤٥)

قال العلامة ملاّ على القاريؒ: دعوى النبوة بعد النبيﷺ كفر با لاجماع. (شرح الفقه الاكبر ص٢٠٣، فصل و الكفر صريحاً و كناية)

حضرت خضر عليه السلام نبي وو

سوال: په عوامو کښې د حضرت خضر عليه السلام په باره کښې اختلاف دى چه دى د الله نبي وو او که ولي؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د امت جمهور علماء د حضرت خضر عليه السلام د نبوت قائل دي او په نبوت باندې نې د قرآن مجيد د څو آيتونو له مخې استدلال کوي.

قال العلامة القرطبيؒ: تحت قوله تعالى (و علّمناهُ من لدُنّا علماً) و الآية تشهد بنبوته لان بواطن افعاله لا تكون الاّ بوحى و ايضاً فان الانسان لا يتعلّم و لا يتّبع الا من كان فوقه و ليس يجوز ان يكون فوق النبى من ليس نبى. (تفسير قرطبى ج١١، ص١٦)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

په قرآن مجید کښې راغلي دي چه د ده له افعالو څخه څرګنديږي چه دی د الله تعالی نبي وو لکه د بچي قتل او د اسې نور. څکه چه د الهي وحي څخه پرته د اسې عمل سر ته رسول جائز نه دي۔

قال العلامة الوسیؒ تحت قوله (و الذی رحمةً مّن عنده) و الجمهور علی انها الوحی و قد اطلقت علی ذلك فی مواضع من القرآن. (روح المعانی ج۱۵، ص ۳۲۰)

قال العلامة اسمٰعیل حقی البروسوی: و فی تفسیر ابن حیان و الجمهور علی ان الخضر نبی و کان علمه معرفة بواطن امور اوحیت الیه. ((روح البیان ج۵، ص ۲۸۱، سورة الکهف، پاره ۱۶) و مثله فی عمدة القاری ج۲، ص ۶۰، باب ما ذکر فی ذهاب موسی فی البحر.

انبیاء علیهم السلام له نبوت څخه مخکښې هم معصوم وو

سوال: یو سړی د اسې عقیده لري چه له څو انبیاء کرامو له نبوت څخه مخکښې کبیره ګناهونه شوي دي لکه له حضرت آدم علیه السلام څخه له نبوت مخکښې په جنت کښې په قصد سره ګناه شوې وه. او د اسړی د قرآن کریم دا آیت چه "ربنا ظلمنا انفسنا... الخ" آیت د استدلال په توګه وړاندې کوي او په دې خپلې عقیدې باندې مصر دی. شرعاً د اسې سړي څه حکم دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د ټول اهل سنت و الجماعت دا متفقه عقیده ده چه انبیاء علیهم السلام هیڅکله په قصد سره کومه ګناه نه ده کړې. نه له نبوت څخه مخکښې او نه وروسته۔ البته په ځینو مواقعو کښې د بشرې تقاضاوو په بناء باندې له ځینو انبیاوو کرامو څخه له قصد پرته د سهوې او لغزش ارتکاب شوی دی او کله کله د اسې هم شوي دي چه حضرات انبیاوو علیهم السلام کوم کار د الله تعالی د رضا، خوښۍ او هغه ته د نژدې کیدو لپاره کړي دي لیکن په واقع کښې هغه کار د الله تعالی د رضا او خوښۍ د منشأ خلاف وتلی وي۔ د دې لپاره الله تعالی په هیڅ یوه حالت کښې هم خپلو خوښ کړ شویو انبیاوو ته د خپلې منشأ په خلاف په کار باندې برقرار نه دی ساتلی بلکه وخت په وخت نې خبرداری ورکړی دی۔ له دې وجهې د اسې لغزشونه او سهوې د انبیاوو په عصمت باندې کوم اثر نه اچوي. د دې لپاره په حقیقت کښې ګناه هغه عمل ته وایي چه بنده په قصد سره ګناه باللو سره د الله تعالی د نافرمانۍ په بنیاد وکړي۔ له دې ټول معصیت څخه انبیاء علیهم السلام منزه او پاک دي. مخالفینو چه د قرآن پاک د عصیان او ظلم له آیت څخه په حضرت آدم علیه السلام باندې د کبیره ګناه د ارتکاب استدلال کړی دی او هغه نې په حقیقي عصیان باندې محمول کړی دی دا د قرآن پاک د یوه بل آیت مخالفت دی. د الله تعالی ارشاد دی چه "ولقد عهدنا الی ادم من قبل فنسی و لم نجد له عزماً (سورة طٰهٰ، آیت ۱۱۵) (یعني حضرت آدم علیه السلام په قصد او عمد سره د نافرمانۍ له مخې له ممنوعه ونې څخه نه دي خوړلې بلکه زمونږ وعده نې هیره کړې وه او د هیریدو په صورت کښې له قصد پرته دا فعل تري صادر شو). بله دا چه څوک هر څومره مقرب او نژدې وي د هغه په

خلاف اولی کار هم د عتاب او ملامتۍ وړ ګڼل کیږي لکه څرنګه چه ویل شوي دي چه حسنات الابرار سیئات المقربین او د ظلم له لفظ څخه دلیل نیول هم صحیح نه دي ځکه چه ظلم "وضع الشیء فی غیر محله" ته وایي او عام دی چه کبیره، صغیره ترک اولی او د اسې نور ټول پکښې راځي۔ لهذا په آخري باندې محمول کولو د قرآن د نص عین مطابق دی. لهذا چه کوم سړی د انبیاوو د عصمت قائل نه دی هغه له اهل سنت و الجماعت څخه وتلی دی. البته د احتیاط له مخې هغه ته کافر نه ویل کیږي۔ لوجود الاختلاف۔

لما قال ابو محمد علی بن احمد بن حزم الظاهری رحمه الله: و ذهبت جمیع اهل الاسلام من اهل السنة و المعتزلة و النجاریة و الخوارج و الشیعه الا انه لا یجوز البتة ان یقع من نبی اصلاً معصیة بعمد لا صغیرة و لا کبیرة و هو قول ابن مجاهد الاشعری شیخ ان فورك و الباقلانی المذکورین. قال ابو محمد و هذا قول الذی نتدین الله تعالی به و لا یحل لاحد ان یدین بسواه و نقول انه یقع من الانبیاء السهو عن قصد و یقع فیهم ایضاً قصداً الشیء یریدون به وجه الله تعالی و التقرب به منه فیوافق خلاف ما مراد الله تعالی الا انه تعالی لا یقرهم علی الشیء من هذین الوجهین اصلاً بل ینبههم علی ذلك و لا یدائرو وقوعه منهم و یظهر عزّ و جل ذلك لعباده و لبس لهم. (الفصل فی الملل و اهواء و النحل ج٤، ص٢، هل تعصی الانبیاء)

قال الامام ابو حنیفة رحمه الله: و الانبیاء علیهم السلام کلهم منزهون عن الصغائر و الکبائر و الکفر و القبائح و قد کانت منهم زلات و خطیئات. و قال ملا علی قاریؒ: تحت قوله و قد کانت منهم زلات ای للصغیرات و خطیئات ای عثرات بالنسبة الی ما لهم من اعلی المقامات و سیء الحالات کما وقع لآدم علیه السلام فی اکله من الشجرة علی وجه النسیان او ترك العزیمة و اختیار الرخصة ظنا منه ان المراد بالشجرة المنهیة المشار الیها بقوله تعالی "و لا تقربا هٰذه الشجرة" هی الشخصیه لا الجنسیة فاکل الجنس لا من الشخص بناء علی الحکمة الالٰهیة لیظهر ضعف قدرة البشریة و قوة اقتضاء مغفرة الربوبیة. (شرح الفقه الاکبر ص۵۷، الانبیاء منزهون عن الکبائر و الصغائر) و مثله فی شرح العقائد ص۱۳۹، (طبع خیر کثیر)

د انبیاوو لغزشونه د هغو له عصمت سره تکر نه دي

سوال: څه فرمایي د دین علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چه د بشریت د تقاضاوو له مخې له سړي څخه غلطي کیږي او که نه؟ که چیرته نه کیږي نو له ځینو انبیاء کرامو څخه لکه حضرت آدم علیه السلام او حضرت زکریا علیه السلام څخه چه څه نا څه غلطي شوي دي نو؟ هغه به په څه شي محمول کیږي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د انبیاوو علیهم السلام د عصمت مطلب دا دی چه هغوی ګناه نه کوي او چه څه نا څه عمل تري صادریږي هغه د لغزشونو له جملې څخه وي او په قصد سره ګناه نه وي۔ او د لغزشاتو او زلاتو صادریدل د انبیاوو له عصمت سره تکر نه دی۔ په دې کښې قصد او اراده دخیل نه وي۔

لما قال الامام الاعظم ابو حنیفة النعمان بن ثابت رحمه الله: و الانبیاء علیهم السلام کلهم منزهون عن الصغائر و الکبائر و قد کانت منهم زلات و خطیئات. (شرح الفقه الاکبر ص۵۷)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

و قال محمد علی بن احمد بن حزم الظاهری: و نقول انه یقع من الانبیاء السهو عن غیر قصد و یقع منهم ایضاً قصد الشیء یریدون به وجه الله تعالی و التقرب به منه فیوافق خلاف مراد الله تعالی الا انه تعالی لا یقرهم علی شیء من هذین الوجهین اصلاً بل ینبههم علی ذلك. الخ. (الفصل فی الملل و الاهوا و النحل ج۳، ص۲، هل تعصی الانبیاء) و مثله فی شرح العقائد النسفی ص۱۳۹، طبع خیر کثیر.

د تقدیر په مسئلې باندې ایمان راوړل ضروري دي

سوال: زید بکر لره قتل کړ او یو ملګری ئې د دې خبرې قائل دی چه هر شی د خدای له خوا ځخه وي او له ازل ځخه د دواړو په تقدیر کښې لیکل شوي وو. او بل ملګری ئې وایي چه د لسې نه ده که چیرته ئې په تقدیر کښې لیکلی وي نو انسان ولې قاتل بلل کیږي؟ د اد الله تعالی بنده دی او کومه ګناه ئې نه وکړه بلکه د هغه حکم ئې په ځای کړ کوم چه د الله تعالی خوښه همد لسې وه. د دې لپاره دا هر ځه د نوموړي سړي د فعل له وجهې وشول او دا توله ذمه واري د قاتل په سر باندې وي او دا خبره په ازل کښې د دغو دواړو په تقدیر کښې لیکل شوې نه وي. د کرم او مهربانی له مخې په دې مسئلې باندې د قرآن او حدیث له مخې رنا واچوی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: په تقدیر باندې ایمان درلودل فرض دي ځکه چه په تقدیر باندې عقیده د ایمان یوه لازمي برخه ده. له دې پرته مؤمن مؤمن نه شي پاتې کیدلی او نه له دې پرتې ئې کوم عمل د خدای په دربار کښې مقبول وي. له قرآن او حدیثو ځخه پرته له کوم ابهام او اجمال ځخه همدا خبره ثابته ده. او د دې د خلاف لپاره په شریعت کښې هیڅ ګنجائش نشته. لیکن د دې مطلب هیڅکله دا نه دی چه په دنیا کښې چه هر څه کیږي نو د خدای حضور ته له تللو وروسته هغه ته د خدای له خوا ځخه کومه سزا او جزا نه ورکول کیږي او بندګان په دې باره کښې مجبور محض دي. بلکه د دې معنی دا ده چه د بندګانو اعمال او افعال اګر که له بندګانو ځخه د الهي تقدیر لاندې صادریږي لیکن په هغو باندې بندګان د سزا او جزا مستحق دي او باید چه وي. ځکه چه په دنیا کښې چه له بندګانو ځخه کوم اعمال صادریږي نو هغه د هغو په اختیار او ارادې باندې صادریږي. په ورځنۍ کارونو باندې له نظر اچولو ځخه دا ځرګندیږي چه له بنده ځخه چه کوم افعال صادریږي د هغو په صادرید و کښې هغه مجبور نه وي. چه کوم کار را و اخلی په هغه کښې بنده ته دا اختیار هم وي چه وئې کړي یا ئې و نه کړي. په کولو او نه کولو باندې هیڅوك هم مجبور نه دي. مثلا د خوړلو او چښلو شیان مونږ او تاسو هره ورځ استعمالوو نو په دې کښې هیڅ مجبوري په نظر نه راځي چه کله غواړو خورو او چښو او چه کله غواړو نو پریږدو ئې. نه په خوړلو او چښلو کښې د لسې مجبوري شته چه د پریښودلو ئې پا لکل اختیار رلسره نه وي او نه په پریښودلو کښې د اسې مجبوري لیدل کیږي چه د خوړلو او چښلو اختیار بالکل موجود نه وي. دا حالت د تولو هغو افعالو دی کوم چه له بندګانو ځخه صادریږي. که هغه د دین اعمال وي یا د دنیا معاملات، جائز کار وي یا ناجائز، قتل وي یا کوم بل

کار. د دغو له جملې ځخه هیڅ یو د لسې کار نشته چه په هغه کښې انسان مجبور وي ځکه چه د مجبورۍ مطلب دا وي چه د کار یو اړخ (کول یا نه کول) د انسان په وس کښې وي او دو هم اړخ ئې د هغه په وس کښې نه وي. مثلا په کولو ئې قدرت ولري او په نه کولو باندې ئې قدرت و نه لري. دې ته مجبوري ویل کیږي او دا ډول مجبوري د بندګانو په یوه کار کښې هم نه لیدل کیږي.

چه کله دا ځرګنده شوه چه د بندګانو تول افعال اختیاري دي نو اوس په دې باندې پوهیدل په کار دي چه د اختیاري افعالو سره د تعلق دا معنی نه ده چه هغه افعال په هر حال کښې په لازمي توګه صادریږي او که نه نو بیا په بنده به افعالو کښې مجبو وي بلکه له هغو سره د تقدیر د تعلق معنی دا ده چه که چیرته انسان د دغو افعالو د کولو مصممه اراده ونه کړي او پخپل اختیار سره اقدام و نه کړي نو هغه تري نه صادریږي. د تقدیر له دې تعلق ځخه بنده په تولو افعالو کښې مجبور نه ګرځي. بلکه پوره خود مختاره پاتې وي. او کله چه ده پوره خود مختاري په لاس وراغله نو په روا او نیکو اعمالو باندې هغه ته اجر ورکول په کار دي ځکه چه ده پخپل اختیار سره د الله تعالی اطاعت کړی دی. او په حرامو او ناجائزو کارونو باندې ورته سزا ورکول په کار دي ځکه چه له پوره اختیار سره ئې د ارادې له مخې د الله تعالی د حکم نافرمانی کړې ده.

اوس د قتل معامله را واخلی چه زید کله چه بکر په قتل ورساوه نو په دې کښې دوه شیان دي. یو د بکر مرګ. دوهم د زید مرکول کوم چه مونږ ئې قتل بولو. موت یا مرګ هم تقدیر دی او قتل هم تقدیر دی. لیکن د موت تقدیر مبرم دی چه معنی ئې دا ده چه بکر په هر حال په همدې ساعت کښې مړ کیده یا د چا د وژلو په سبب او یا پخپل مرګ سره. او د قتل تقدیر مبرم نه دی بلکه د زید په اختیار او ارادې باندې معلق دی چه معنی ئې دا ده چه زید که چیرته پخپل اختیار سره د بکر د قتل ارادو کړي او اقدام وکړي نو قتل وجود ته راځي او که و نه کړي نو نه راځي. اوس چونکه زید د قتل په اختیار او ارادې باندې مجبور نه دی بلکه خود مختاره دی د دې لپاره قتل د ده د فعل په شمارولو سره د بکر قاتل ګنل کیږي. او چونکه د زید دا اختیاري فعل د قانون له مخې حرام هم دی. د دې لپاره په دې باندې هغه د سزا هم مستحق ګرځي. نو قتل د دې معنی په لحاظ سره چه تقدیر هم دی د زید یو سنګین جرم تاکل کیدلای شي او زید په دې باندې د سزا مستحق ګرځیدلای شي. چه کله دا تحقیق تاسو ته معلومه شوه نو په مذکوره دوو ملګرو کښې د یوه دا خبره چه "دا تول د الله تعالی له طرفه کیږي او دواړه په تقدیر کښې لیکلي وي" بالکل صحیح ده لیکن که چیرته له دې ځخه د هغه مطلب دا وي چه د قتل له وجهې زید مجرم نه بلل کیږي نو دا غلطه خبره ده ځکه چه قتل د زید یو اختیاري فعل دی. او د اختیاري افعالو سره له دې چه تقدیر دی د هغه مجرم والی نه زائلیږي لکه څرنګه چه تحقیق ئې مخکښې تیر شو. او د بل ملګري دا ویل چه "دا تقدیري نه دی" سر تر پایه غلطه خبره ده. دی باید توبه وباسي. له تقدیر ځخه انکار د اسلام له یوي اجتماعي عقیدې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

ځکه انکار کول دي کوم چه د قرآن او حدیثو له مخې ثابته ده.

قال الله تبارك و تعالى: (١) انّا كلّ شيء خلقنه بقدر (٢) خلق كلّ شيء فقدّره تقديراً. (٣) و الذي قدّر فهدى.

عن عبد الله بن عمرؓ قال قال رسول الله ﷺ كتب الله مقادير الخلائق قبل ان يخلق السموت و الارض بخمسين الف سنة.

(مشكوة ص باب الايمان بالقدر)

قال الامام الرازيؒ: قال القاضي: اما الاجل و الرزق فهما مضافان الى الله اما الكفر و الفسق و الايمان و الطاعة فكل ذلك مضافاً الى العبد فاذا كتب الله تعالى ذلك فانما يكتب بعلمه من اختيار العبد و ذلك لا يخرج العبد من ان يكون هو المذموم او الممدوح. (تفسير الكبير ج٩، ص ٢٤، من برد ثواب الدنيا)

د عیسیٰ علیه السلام د ژوند عقیده د قرآني نص له مخې ثابته ده

سوال: آیا حضرت عیسیٰ علیه السلام ژوندی آسمان ته پورته کړی شوی دی او که د نورو انبیاوو غوندې وفات شوی دی؟ د یوه مسلمان په حیث په دې باره کښې کومه عقیده باید سړی ولري؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د محمدي ﷺ د ټول امت منصوصي او بنیادي عقیده دا ده چه حضرت عیسیٰ علیه السلام ژوندی آسمان ته پورته کړل شوی دی او د ځینو فرائضو د سرته رسولو پورې به ژوندی پاتې وي. الله تعالی فرمایي: وَمَا قَتَلُوْهُ يَقِيْناً بَلْ رَّفَعَهُ اللّٰهُ. (سورة النسآء، آیت ۱۵۷)

او همدارنګه نبوي ﷺ احادیث ئې په ژوند باندې ناطق دي:

اخرج اسماعيل بن كثيرؒ: قال الحسنؒ قال رسول الله ﷺ ان عيسى لم يمت و انه راجع اليكم قبل يوم القيمة.

(تفسير ابن كثير ج١، ص ٣٦٦، سورة النسآء)

قال الامام البخاريؒ: ان سعيد بن المسيب سمع ابا هريرة قال قال رسول الله ﷺ و الذي نفسي بيده ليوشكن ان ينزل فيكم ابن مريم مقسطاً فيكسر الصليب و يقتل الخنزير و يضع الجزية. (صحيح البخاري ج١، ص ٢٩٦) و مثله في عقيدة الاسلام في حياة عيسى عليه السلام.

د حضرت عیسیٰ علیه السلام په اړه د ځو شکونو او شبهاتو ازالـــــه

سوال: جناب مفتي صاحب! مونږ شپه او ورځ اورو چه اسلام د اسې وایي او اسلام د اسې وایي او چه کله د حوالې پوښتنه ترې وشي نو کله ځوک د تفسیر طبري او ځوک د تفسیر ابن کثیر او ځوک د امام غزالي نومونه اخلي. تر دې پورې چه کله کله د مولانا روم او بُلې شاه پورې حوالې هم ورکوي کیږي. لیکن بنکاره خبره ده چه د کومې خبرې د اسلامي والي یا نه اسلامي والي لپاره د کوم انسان د خولې خبره دلیل نه شي جوړیدلی. له خدای او رسول ﷺ پرته د بل چا نوم د حوالې په توګه وراندې کول د کوم ځای انصاف دی؟ د اسلافو خیالونه (ګمانونه) او مقالات (خبرې) د اسلام جزء نه شي بلل کیدلی ځکه چه د رسالت په زمانې کښې دین کامل شوی دی. د کرم او مهربانۍ له مخې د لاتدیني سوالونه د قرآن او حدیثو په رنا کښې حل کړی او عند الله ماجور شئ! بینوا توجروا.

﴿۱﴾ مریم علیها السلام د حال چښتنه ده. نبه خو دا وه چه هغې خپله فرمایلي وای چه "ولدتُ و لم اتزوج".

﴿۲﴾ آیا عیسیٰ علیه السلام پخپله کوم وخت دا اقرار کړی دی چه: ولدتني اُمّي مريم الصديقة و لم تتزوج.

﴿۳﴾ آیا قرآن مجید کښې چېرته دا خبره راغلې ده چه: ولدته مريم و لم تتزوج.

﴿٤﴾ آیا رسول الله ﷺ کله د اسې ویلي دي چه مریم علیها السلام له نکاح پرته عیسیٰ علیه السلام زیږولی دی.

﴿٥﴾ یا ئې کله دا اسې فرمایلي دي چه د حضرت عیسیٰ علیه السلام پیدائش په پلار پورې هیڅ اړه نه لري. یعنې بې پلاره پیدا شوی دی.

که چېرته د دې تولو سوالونو ځوابونه د نفي صورت ولري او یقیناً د نفي صورت لري نو بیا دا ووایی چه په مسلمانانو کښې دا نظریه له کوم وخت راهیسې پیدا شوې ده او له تولو ځخه مخکښې چا دې نظریې اظهار کړی دی؟ همدارنګه له نکاح پرته حمل ځه حقیقت لري؟

آیا د هر نبي علیه السلام له حلالې نکاح ځخه پیدائش لازم وو؟ لکه ځرنګه چه په طبراني کښې نبوي ارشاد دی چه "زما د نسب په سلسلې کښې یو هم له نکاح پرته نه دی پیدا شوی. چه ځومره انبیاء علیهم السلام د نبوت درجې ته رسیدلي دي تول د نسب له خوا شریفان او نجیب الطرفین وو.

که چېرته د عیسیٰ علیه السلام له پلار ځخه پرته پیدا کیدل له اعتقادي او ایماني مسائلو ځخه وي نو بیا ئې ثبوت د اهل فن په نزد له صریحو متواتراتو ځخه لازم دی او په استدلالاتو باندې ئې ثبوت صحیح نه دی. هو! د عیسیٰ علیه السلام د پلار ثبوت زما په ذمې نه دی بلکه په الهي نظام کښې دا راغلي دي او لکه ځرنګه ئې چه مشاهده هم کیږي او د خدای په کلام کښې هم دا اصل خبره ده لکه ځرنګه چه فرمایلي ئې دي: يٰاَيُّهَا النَّاسُ اِنَّا خَلَقْنٰكُمْ مِّنْ ذَكَرٍ وَّ اُنْثٰى (سورة الحجرات آیت ۱۳) وَ بَثَّ مِنْهُمَا رِجَالاً كَثِيراً وَّ نِسَآءً (سورة النسآء)

بچی له مور او پلار دواړو ځخه پیدا کیږي او یواځې له احد الزوجین ځخه نه پیدا کیږي. په تفسیر ابن کثیر کښې دي چه "و كانت النفخة التي نفخها في درعها فنزلت حتى ولجت فرجها بمنزلة نكاح الاب و الأم. (تفسیر ابن کثیر)

جبریل علیه السلام د حضرت مریم علیها السلام په ګریوان کښې پوکی وکړ او په دې ډول دا پوکی د هغې فرج ته داخل شو لکه ځرنګه چه د چا له پلار ځخه د حمل اخیستلو لپاره د هغه له مور سره یو ځای والی کیږي.

تاسو خلك دا محوله عبارت منی په د اسې حال کښې چه زه انکار ترې کوم ځکه چه دا فعل د ملائکه وو نه دی بلکه د یوه ځاوند دی. ما ته شریف همجنس انسان لره له باضابطه شرعي نکاح ځخه پلار تاکل خوند راکوي په د اسې حال کښې چه خلك دا ته خوښوي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

د حضرت عیسی علیه السلام په اړه په خلکو کښې ګډوډي او ډډ عقیدې موجودې دي. چا له نکاح پرته پلار ګڼلی دی او چا یو غیر جنس ملائکه د هغه پلار بللی دی. لنډه دا چه له پلاره نې هیڅوک منکر نه دي یواځې د همجنس والي او نکاح ځخه منکر دي. او دا تولې عقیدې د شریعت خلاف دي. زه د اسلامي شریعت مطابق د یوه همجنس او پاک مسلمان سړه د نکاح په متلو سره پلار ورته ټاکم که هغه عیسی علیه السلام وي یا کوم بل بنې آدم. چه ځوک هم له نبوت ځخه سرفراز شوي دي هغه شریف النسب او نجیب الطرفین وي. د کوم نبي نسب د هغه د زماني د خلکو په نزد په تیاره کښې نه وي؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د حضرت عیسی علیه السلام د پلار د ثبوت لپاره چه څومره مقدمې تا بیان کړي هغه تولې باطلې او استدلالات دي تول غلط او نیمګړي دي. د عیسی علیه السلام له پلار پرته د پیدا کیدلو لپاره نې د قران مجید دا یو آیت هم کافي دی چه و لم یمسسنی بشرٌ و لم اکُ بغیاً (سورة مریم آیت ۲۰) په دې آیت کښې د حرامي او حلالي جماع د دواړو نفی راغلې ده. همد ارنګه د دې آیت له سیاق او سباق ځخه د عیسی علیه السلام په خارق العاده توګه پیدا کیدل هم ظاهر دي.

د مهاتمانُد په اړه د نبوت عقیده صحیح نه ده

سوال: په قرآن مجید کښې د الله تعالی مبارک ارشاد دی چه: (۱) لکلّ قومٍ هادٍ☆ (سورة الرعد، آیت ۷) (۲) و ما من اُمّةٍ إلاّ خلا فیها نذیرٌ☆ (پاره ۲۲)

له دغو آیتونو ځخه څرګندیږي چه د هر قوم لپاره یو نه یو پیغمبر راغلی دی نو هندوستان ته به هم کوم پیغمبر راغلی وي. په داسې حال کښې چه مهاتمانُد تعلیمات هم د انبیاء کرامو علیهم السلام د تعلیماتو مطابق دي. نو آیا ده منل هم صحیح دي او که څنګه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د پورته ذکـــــر شوي آیتونو مطلب دا دی چه له حضورﷺ ځخه مخکښې داسې قوم او امت هم نه دی تیر شوی چه هغو ته هادي (لارښوونکی) او نذیر (ویروونکی) نه وي راغلی. لیکن له دې ځخـــــــه دا نتیجه اخیستل چه په دنیا کښې کوم مذهبي لارښوونکی تیر شوی وي هغه دې خامخا پیغمبر وي تر ځو چه "مهاتمانُد" دې هم نبي جوړ کړی شي.

د تیر شویو قومونو د انبیاوو په باره کښې د اسلامي شریعت قطعي فیصله دا ده چه د کومو انبیاء کرامو په اړه په کتاب او سنت کښې کومه تصریح نه وي راغلې نو د هغو په اړه په اجمالي توګه دا عقیده ولرې چه کوم ځوک الله تعالی د مخلوق د هدایت لپاره رالیږلی وي هغه به نبي وي او چا ته چه دا منصب نه وي ور په برخه شوی هغه به نبي نه وي. اګر که د هغه تعلیمات د آسماني شریعت مطابق وي. له زیات ځخه زیات که چېرته په دې باره کښې څه وویل شي نو هغه دا چه که چېرته د داسې سړي تعلیمات له شرک ځخه پاک او په توحید باندې

مشتمل وي نو هغه به یو نیک سړی وي. لنډه دا چه له نبي کریمﷺ ځخه مخکښې پرته له هغو حضراتو ځخه چه د هغو په نبوت باندې په قرآن او حدیثو کښې تصریح شوې ده د کوم بل سړي په باره کښې په ځانګړې توګه دا نه شي ویل کیدلی چه هغه نبي دی او نه دا ځوک ویلی شي چه هغه نبي نه دی. دا احتمال هم لري چه هغه دې نبي وي او دا احتمال هم لري چه نبي دې نه وي.

پاتې شوه له حضور نبي کریمﷺ ځخه وروسته خبره نو په دې اړه باندې د اسلام قطعي فیصله دا ده چه د نبي کریمﷺ له بعثت ځخه وروسته تر قیامته پورې هیڅاته هم هیڅ ډول نوی نبوت نه ور په برخه کیږي که تشریعي وي یا غیر تشریعي. او چا چه هم د نوي ډول نبوت دعوی وکړه نو هغه کافر کیږي او د اسلام له دائرې ځخه ووځي او چه ځوک نې په نبوت سره ومني هغه به هم کافر وي.

قال الشیخ ظفر احمد العثمانیؒ: قال الموفق فی المغنی: و من ادعی النبوّة او صدق من ادعاها فقد ارتد لان مسیلمة لما ادعی النبوة فصدقه قومه صاروا بذلك مرتدین الخ. (اعلاء السنن ج۱۲، ص۵۹۸، من ادعی النبوّة او صدق من ادعاها)

و قال الشیخ المفتی محمد شفیع رحمه الله: د دې لپاره له دې آیت ځخه دا نه لازمیږي چه په هندوستان کښې دې هم کوم نبي یا رسول پیدا شي البته د رسولﷺ د دعوت رسوونکي او خپروونکي علماء کرامو په کثرت سره دلته راتګ هم ثابت دی. (معارف القرآن ج۵، ص۱۶۴، تحت الآیه لکلّ قومٍ هادٍ)

د انبیاوو علیهم السلام د ژوندي توب د عقیدې ثبوت

سوال: جناب مفتي صاحب! د حضور اکرمﷺ د ژوند په اړه د قران، حدیث او اجماع امت متفقه فیصله څه ده؟ د دلائلو او براهینو له مخې نې وضاحت وکړئ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: حضور اکرمﷺ او د نورو تولو انبیاوو علیهم السلام په باره کښې د تول اهل سنت و الجماعت او د علماء دیوبند د تولو اکابرینو مسلک دا دی چه له موعود وفات ځخه وروسته تول انبیاء کرام علیهم السلام پخپلو قبرونو کښې ژوندي دي او د هغوی مقدس بدنونه بعینه محفوظ او مامون دي. او له عنصري جسد سره په عالم برزخ کښې هغو ته ژوند ور په برخه دی کوم چه د دنیاوي ژوند مماثل دی. فرق یواځې دومره دی چه د شرعي احکامو مکلف نه وي لیکن د فطرتي تقاضاوو له مخې په عباداتو مشغول دي. او د حضور اکرمﷺ د مبارکې روضې په ځنګ کښې چه کوم درود او سلام ویل کیږي هغه دی مبارکﷺ له واسطې پرته اوري او داد اهل سنت و الجماعت د تولو محدثینو او متکلمینو متفق علیه عقیده ده. د علماء دیوبند د اکابرو په مختلفو رسائلو کښې د دې خبرې تصریح موجوده ده. د حضرت مولانا محمد قاسم نانوتوي رحمه الله د انبیاوو په ژوند باندې یو مستقل تصنیف د "آب حیات" په نامه سره موجود دی. حضرت مولانا خلیل احمد چه د مولانا رشید احمد ګنګوهي راشد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

خلیفه دی د هغه یو تالیف په نامه د "المهند علی المفند" هم د کتلو وړ دی. له دې پرته د "انبیاء کرامو" د ژوند" په نامه چه مرتب نې سید عبد الشکور صاحب دی د مطالعې لپاره ګټمن دی۔ په نوموړې مسئلې باندې یو څو دلائل ملاحظه کړی چه په لاندې ډول دي۔

و عن انس بن مالك رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ الانبیاء احیاء فی قبورهم یصلّون. مسند ابی یعلی (جامع الصغیر ص ۱۰۳، و صححه ابن حجر فی فتح الباری ص ۱۳، و القاری فی المرقاة ج ۲، ص ۲۱۲، و فیض الباری ج ۲، ص ٦٤، باب رفع الصوت، کتاب الصلوة)

قال الله تعالی: وَلَا تَقُوْلُوْا لِمَنْ یُّقْتَلُ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ اَمْوَاتٌ بَلْ اَحْیَآءٌ وَّلٰكِنْ لَّا تَشْعُرُوْنَ ☆ (سورہ البقرة، رکوع ۲)

چه کله د شهید لپاره د قتل د واقع کیدو تر څنګ دا مبارك ژوند حاصل دی نو د انبیاوو علیهم السلام لپاره له دې څخه هم پورته او اعلی ژوند په طریقهٔ اولی سره ثابتیږي۔ دا آیت د دلالة النص له مخې د انبیاء کرامو له وفات څخه وروسته په ژوندون باندې یو واضح دلیل دی۔ چنانچه علامه قاضي شوکاني رحمه الله لیکي: ورد النص فی کتاب الله فی حق الشهداء انهم احیاء یرزقون و ان الحیاة فیهم متعلّقة بما لجسد فکیف بالانبیاء و المرسلین. (نیل الاوطار ج ۳، ص ۲۱۲)

قال النبی ﷺ: من صلّی علی عند قبری سمعته و من صلی علی نائیاً ابلغته. (المشکوة المصابیح ص ۸۷، فی باب الدعاء فی التشهد فی الفصل الثالث) و مثله فی سنن ابی داؤد ج ۱، ص ۱۵۷، باب تفریع ابواب الجمعة

د نبي کریم ﷺ علم له ټولو مخلوقاتو څخه زیات دی

سوال: دا عقیده درلودل چه د ابلیس علیم د نبي کریم ﷺ له علم څخه زیات وو صحیح دي او که نه؟ او که چېرته صحیح نه وي نو په "البراهین القاطع" کښې چه دا دعوه شوې ده د هغې په څه مطلب وي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: نبي کریم ﷺ ته الله تعالی دومره علم ورکړی دی چه په ټولو کائناتو کښې هیڅوك هم له ده سره د علم د برابرو الي دعوه نه شي کولای۔ د مسلمان په توګه زمونږ دا عقیده ده چه د اولینو او آخرینو ټول علوم کوم چه د نبوت له شان سره بنایي الله تعالی د هغو مجموعي برخه نبي کریم ﷺ ته ورکړي ده۔ پاتې شوه د "البراهین القاطعه" خبره نو د هغې خبره پخپل ځای کښې په ځای او صحیح ده چه د "شیطان علم د حضور ﷺ له علم څخه زیات دی" څخه مراد علم غیر نافع دی. او د شیطان علم غیر نافع تر حضور ﷺ څخه زیات دی۔ ځکه چه ده مبارك ﷺ پخپله له داسې ډول علم نه له الله تعالی څخه پناه غوښتې ده۔

قال النبی ﷺ اللّٰهم انی اعوذ بك من علم لا ینفع و قلب لا یخشع. (الجامع الترمذی ج ۲، ص ۱۸٦، کتاب الدعوات، باب ما جاء فی جامع الدعوات)

او دا علم د الله تعالی د رضا، خوښې او مرتبې او اکرام باعث نه دی۔

او چه څوك د شیطان لپاره تر نبي علیه السلام د زیات علم نافع د ثابتولو کوشش کوي د هغه په اړه حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله فرمایي:

و ان سیدنا و شفیعنا محمد اعلم الخلق و افضلهم جمیعا فمن سوّی بین علمه ﷺ العنیّ و المحنون او علم احد من الخلائق او تفوه بان ابلیس اللعین اعلم منه ﷺ فهو کافرٌ ملعون لعنة الله علیه. (امداد الفتاوی ج ٦، ص ۳۲۷، کتاب العقائد و الکلام)

د "جَمیع ما کان و ما یَکُونُ" علم یوا ځي له الله تعالی سره خـــــاص دی

سوال: که چېرته د چا دا عقیده وي چه رسول الله ﷺ ته د جمیع ما کان و ما یکون علم ورکړ شوی دی او له هغه څخه هیڅ شی هم پټ نه دی نو د داسې عقیدې لرونکي سړي شرعا څه حکم دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: علم غیب کُلي او علم محیط د الله تعالی خاصه ده۔ له الله تعالی څخه پرته له هیڅا سره هم علم غیبِ کُلي او علم محیط نشته۔ همدارنګه نبي کریم ﷺ هم علم غیب کُلي نه درلود بلکه د ځینو مغیباتو علم الله تعالی د وحی په ذریعې سره ورکړی وو۔ او د الله تعالی چه چا ته خوښه شي د ځینو مغیباتو خبر ورکوي۔ د دې خبرې اعلان نې د ده ﷺ په مبارکې ژبې باندې داسې کړی دی:

﴿۱﴾ قُلْ لَّا یَعْلَمُ مَنْ فِی السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ الْغَیْبَ اِلَّا اللّٰهُ. (سورة النمل، آیت ۲۵)

﴿۲﴾ وَ لَوْ کُنْتُ اَعْلَمُ الْغَیْبَ لَاسْتَکْثَرْتُ مِنَ الْخَیْرِ. (سورة الاعراف، آیت ۱۸۸)

لهذا زمونږ په نزد حقه خبره همدغه ده چه دا علم د الله تبارك و تعالی خاصه ده او څوك چه د حضور نبي کریم ﷺ په اړه دا عقیده ولري چه د هغه د جمیع ما کان و ما یکون علم لري نو هغه د قطعي نص مخالف دی۔ نو د دې لپاره داسې عقیدې لرونکی سړی کافر دی او باید چه خپل ایمان نوی کړی او که چېرته نې واده وي نو د نکاح تجدید هم پرې ضروري ده۔

لما صرح به ملا علی القاریؒ: فا لعلم با لغیب امر تفرّد به سبحانهٗ و تعالٰی و لا سبیل للعباد الیه الا باعلام منه و الهام بطریق المعجزة او الکرامة او الارشاد الی الاستدلال با لامارات فیما یمکن فیه ذلك و لهذا ذکر فی الفتاوی ان قول القائل عند رؤیة هالة القمر ای دائرته یکون مطرٌ مدعیاً علم الغیب لا بعلامة کفر. (شرح الفقه الاکبر ص ۱۵۱، تصدیق الکاهن بما یخبر)

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: و اما ما وقع بعض الخواص کا لانبیاء و الاولیاء با لوحی او الالهام فهو باعلام من الله فلیس مما نحن فیه..... قلت و حاصله ان دعوی علم الغیب معارضه لنص القرآن فیکفر بها. (رد المحتار ج ٤، ص ۲٤۳، باب المرتد، مطلب فی دعوی علم الغیب)

رسول الله ﷺ بشر دی نور نه دی

سوال: نبي کریم ﷺ بشر دی او که نه؟ او په قرآن مجید کښې چه د ده ﷺ لپاره ځای په ځای د نور الفاظ استعمال شوي دي د هغو معنی څه ده؟ په وضاحت سره نې بیان کړی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د اهل سنت و الجماعت دا عقیده ده چه نبي کریم ﷺ بشر دی نور نه دی۔ او مونږ دا هم منو چه نبي کریم ﷺ نور هم دی۔ لیکن دا نور په دوو معناوو سره راځي۔

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

یوه دا چه "کیفیةٌ ظاهرةٌ بنفسها مظهرٌ لغیره" او بله دا چه د عناصرو عالم له کیفیاتو او مخصوص آثارو څخه د بیلتون په صورت کښې د هوا په شان غیر مرئي شي۔ د اهل سنت و الجماعت په نزد نبي کریم ﷺ نور دی لیکن د اولې معنی په اعتبار سره نه د دوهمې معنی په اعتبار سره۔ د نبي کریم ﷺ نور دی لیکن د اولې معنی په اعتبار سره نه د دوهمې معنی په اعتبار سره او با ځینو خلکو دا عقیده ده چه نبي کریم ﷺ نور دی لیکن د دوهمې معنی په اعتبار سره او با لکل بشر هم نه دی۔ او په دلیل کښې د سورت المائده دا آیت وړاندې کوي چه: ﴿قَدْ جَآءَكُمْ مِّنَ اللّٰهِ نُوْرٌ وَّ كِتٰبٌ مُّبِيْنٌ﴾ او دا حدیث هم د دلیل په توګه وړاندې کوي چه: اوّل ما خلق الله نوری. او نبي کریم ﷺ پخپلې دعا کښې هم فرمایلي دي چه: اَللّٰهُمَّ اجعلنی نوراً.

د اهل سنت و الجماعت دا عقیده ده چه نبي کریم ﷺ د خلقت له مخې بشر دی او قرآن حکیم نې په بشریت باندې ګواه دی۔

﴿۱﴾ قُلْ اِنَّمَآ اَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوْحٰٓى اِلَيَّ اَنَّمَآ اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ. (سورة الکهف، آیت ۱۱۰)

"ته ووایه! چه زه لکه تاسو غوندې یو سړی یم، ما ته د دې حکم راځي چه ستاسو معبود یو دی۔ یعنې زه هم ستاسو غوندې بشر یم او خدای نه یم"۔

﴿۲﴾ وَ مَا مَنَعَ النَّاسَ اَنْ يُّؤْمِنُوْٓا اِذْ جَآءَهُمُ الْهُدٰٓى اِلَّآ اَنْ قَالُوْٓا اَبَعَثَ اللّٰهُ بَشَرًا رَّسُوْلًا. (سورة بنی اسرائیل، آیت ۹۴)

"او خلك نې له ایمان راوړلو څخه نه دی منع کړی چه کله هغوته هدایت راغی نو و نې ویل چه الله تعالی پیغام راوړونکی بشر را ولیږه"۔

له دې څخه ثابته شوه چه د نبي کریم ﷺ بشریت د تولو په نظر کښې مسلم وو۔ البته الله تعالی د دې خواب د اسې کړی دی چه:

﴿۱﴾ قُلْ لَّوْ كَانَ فِي الْاَرْضِ مَلٰٓئِكَةٌ يَّمْشُوْنَ مُطْمَئِنِّيْنَ لَنَزَّلْنَا عَلَيْهِمْ مِّنَ السَّمَآءِ مَلَكًا رَّسُوْلًا. (سورة الاسراء، آیت ۹۵)

"که چیرته په زمکي باندې اوسیدونکي فرښتي وای نو مونږ به د هغو د لارښوونې او هدایت لپاره فرښتي رالیږلی لیکن چونکه په زمکي باندې اوسیدونکي خلك بني آدم دي د دې لپاره مونږ د هغو د لارښوونې لپاره بني آدم رسول را ولیږه تر څو چه افاده او استفاده آسانه شي"۔

﴿۲﴾ لَقَدْ مَنَّ اللّٰهُ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ اِذْ بَعَثَ فِيْهِمْ رَسُوْلًا مِّنْ اَنْفُسِهِمْ. (سورة آل عمران، آیت ۱۶۴) کښې دا تصریح ده چه نبي کریم ﷺ د دوی غوندې بشر دی او د ملایکو غوندې نور نه دی۔

په سورت البقره کښې ارشاد دی چه: كَمَآ اَرْسَلْنَا فِيْكُمْ رَسُوْلًا مِّنْكُمْ. (آیت ۱۵۱) له مِنکُمْ څخه خبره په څرګنده توګه واضحه ده چه نبي کریم ﷺ بشر دی نور نه دی۔

په ځینو ځایونو کښې اګر که د حضور اکرم ﷺ په مقدس شان کښې د نور لفظ استعمال شوی دی نو د هغه خواب دا دی چه په حضور ﷺ باندې د نور اطلاق مجازاً دی۔ په دې معنی چه "النور کیفیة ظاهرة بنفسها مظهر لغیرها" او نبي کریم ﷺ هم ظاهر بنفسها او با لصفت کوم چه نبوت دی او مظهر ملحق دی۔ او د دې حدیث چه "اول ما خلق الله نوری" څواب دا دی چه که چیرته حدیث صحیح وي نو په دې کښې هم د نور اطلاق مجازي دی۔

قال اسماعیل بن کثیر رحمه الله: تحت قوله "مِنْ اَنْفُسِهِمْ" ای من جنسهم لیتمکنوا من مخاطبته و مسائله و مجالسته و الانتفاع به. (تفسیر ابن کثیر ج۱، ص۴۲۴)

قال العلامة الزرکشي رحمه الله: بانه ﷺ سراج و نور کا لشمس فی هذا العالم مثال نوره فی العوالم کلّها مثل نور الشمس فکما ان الشمس یردها من المشرق الی المغرب فی ساعة واحدةٍ و بصفات مختلفة کذلك هو ﷺ. (قطب الارشاد ص۳۹۱، المقصد السادس فی الصلوة علی النبی ﷺ، الفصل الثالث)

د یا محمد او یا رسول الله ویلو حکم

سوال: یا محمد او یا رسول الله ویل شرعاً جائز دي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: یا محمد او یا رسول الله له درود او سلام سره ویونکی که چیرته په دې نیت ندا کوي چه نبي کریم ﷺ زما آواز پخپله په هر وخت او هر ځای کښې اوري یا دا چه پخپله دی مبارك ﷺ د درود مجلس ته تشریف راوړي نو په دې صورت کښې دا ندا ناجائزه بلکه د کفر موجب دی۔ د دې لپاره چه دا صورتونه د غیر الله لپاره د علم غیب د ثابتولو متضمن دي۔ او علم غیب د الله تعالی جل علی شانه صفتِ خاصه دی۔ او د شریعت په اصطلاح کښې له ذات یا صفاتِ مختصه یا عبادت کښې کوم غیر خدای لره شریکولو ته شرك وایي۔ کما هو مصرح في کتب الکلام۔

و منها ما قال العلامة مُلّا علی القاریؒ: و بالجملة العلم بالغیب امر تفرّد به سبحانه و تعالی و لا سبیل للعباد الیه الاّ باعلام منه و الهام بطریق المعجزة و الکرامة و الارشاد الی الاستدلال با لامارات فیما یمکن فیه ذلك..... و ذکر الحنفیة تصریحاً با لتکفیر باعتقاده ان النبی ﷺ یعلم الغیب لمعارضه قوله تعالی. "قُلْ لَّا یَعْلَمُ مَنْ فِی السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ الْغَیْبَ اِلَّا اللّٰه". (شرح الفقه الاکبر ص۱۵۱، حکم تصدیق الکاهن الخ)

قال العلامة ابن البزاز رحمه الله: و علی هذا قال علمائنا من قال ارواح المشائخ حاضرة تعلم بکفر. (الفتاوی البزازیة علی هامش الهندیة ج۶، ص۳۲۶، الثانی فیما یتعلق با لله)

او که چیرته پورتنۍ عقیده نه وي بلکه محض د تخیل او ګومان په توګه په شاعرانه او عاشقانه انداز باندې خطاب وکړي نو دا صورت في ذاته جائز دی لکه څرنګه چه د اهل معاني او بلاغت د اسې ویلي دي چه کله کله کوم معدوم شي لره د موجود په فرض کولو سره یا غیر حاضر لره د حاضر په فرض کولو سره خطاب کیدلی شي۔ او دا یوه نوع بلاغت دی کوم چه په قرآن پاك کښې په کثرت سره موجود دی۔ په اشعارو او نظمونو کښې دا ډول پرته له کومې نیوکې د تولو علماوو په نزد جائز دی بلکه پخپله د لویو لویو علماوو معمول پاتي شوی دی۔ او دا په حقیقت کښې د کومې باطلې عقیدې بنکارندوی نه دی بلکه د اسې کول د محبت له آثارو څخه وي۔ لهذا د محبت په فرط او ذوق کښې که چیرته د حاضر او ناظر والي له عقیدې څخه څوك خطابي کلمات ووایي نو پروا نه لري۔ البته د شرك د موهم معنی کیدو له وجهې په مجلسونو کښې بیا جائز نه دي۔ د دې لپاره چه له وجهې ئې د عوامو عقیدې خرابیږي او د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

شریعت له مخې د لسې لفظ یا فعل چه مفضي الی القبح وي منع دی. لکه څرنګه چه الله تعالی صحابۀ کرامو ته چه پاخه او تکړه مسلمانان وو د "راعنا" د لفظ له ویلو څخه منع کړي وو په د لسې حال کښې چه صحابۀ کرامو قبیحه معنی تري نه اخیستله.

قال الله تعالی: یٰاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا لَا تَقُوْلُوْا رَاعِنَا وَ قُوْلُوا انْظُرْنَا. (سورة البقرة، آیت ۱۵٤)

قال العلامه ابن عابدینؒ: فینبغی او یجب التباعد عن هذه العبارة (ای موهم المعنی الشرك). (رد المحتار ج٤، ص٤٤٩، باب المرتد)

البته له درود او سلام پرته یا محمد او یا رسول الله ویل که کومه باطله عقیده، علم غیب، حاضر او ناظر والی، استمداد او د لسې نور هم نه وي بیا هم جائز نه دی او که چېرته د چا د کفر او شرك عقیده هم ورسره ولري نو په هلاکت د پاسه هلاکت دی. د دې تفصیل په دې دول دی چه د قرآن کریم دا آیت چه: اِنَّ الَّذِیْنَ یُنَادُوْنَكَ مِنْ وَّرَآءِ الْحُجُرٰتِ اَكْثَرُهُمْ لَا یَعْقِلُوْنَ (الحجرات آیت ۵) په شان نزول کښې اکثره مفسرین دا لیکي چه د نبوت له آداب څخه ناخبره ځینې کلیوال خلك به راغلل او د نبوي ﷺ د حجرې شاته به ودریدل او نبي کریم ﷺ ته به ئې د یا محمد یا محمد یا په بل روایت د یا رسول الله نعرې وهلې. نو نبي کریم ﷺ په دې باندې د خفګان په بېکاره کولو سره ځواب نه ورکاه. چنانچه علامه ابن کثیر رحمه الله د دې آیت لاندې لیکي چه دا آیت د اقرع بن حابس التمیمي په اړه نازل شوی دی کوم چه له مبارکې حجرې څخه د باندې ئې نبي کریم ﷺ ته په دې الفاظو چه یا محمد یا محمد و في روایة یا رسول الله په زوره زوره نارې وهلې. لهذا له کومو الفاظو څخه چه جناب نبي کریم ﷺ پخپل ژوند کښې ممانعت کړی دی نو له وفات څخه وروسته په هغسې الفاظو باندې نارې وهل به څرنګه جائز وګڼل شي.

لما قال العلامة ابن کثیرؒ: و قد ذکر انها نزلت فی الاقرع بن حابس التمیمی فیما اورده غیر واحد. قال الامام احمد فی سنده حدثنا عفان تذکر السند عن الاقرع بن حابس انه نادی رسول الله ﷺ فقال یا محمد یا محمد و فی روایة یا رسول الله فلم یجبه الخ. (تفسیر ابن کثیر ج٤، ص ۳۷۱، سورة الحجرات)

و قال فی تفسیر القرآن العظیم: تحت قوله تعالی "اِنَّ الَّذِیْنَ یُنَادُوْنَكَ الخ" و قد ذکر انها نزلت فی الاقرع بن حابس التمیمی فیما اورده غیر واحد قال الامام احمد حدثنا عفان تذکر السند عن الاقرع بن حابس التمیمی انهٗ نادی رسول الله ﷺ فقال یا محمد یا محمد و فی روایة یا رسول الله فلم یجبهٗ الخ. (تفسیر القرآن العظیم ج٤، ص۲۱۹)

و مثله فی تفسیر روح المعانی للعلامة آلوسیؒ ج٦، ص۲٦/۱۳۹/۱٤۳)

له دې څخه څرګندیږي چه نبي کریم ﷺ ته د یا محمد یا محمد یا یا رسول الله په الفاظو سره نارې وهل د بې وقوفانو کار دی او په دې الفاظو باندې به نبي کریم ﷺ په ژوند کښې خفه کیده نو لا محاله له وفات څخه وروسته به هم خفه کیږي. لهذا نبي کریم ﷺ ته د یا محمد او یا رسول الله په الفاظو سره نارې وهل په هیڅ صورت کښې جائز نه دي نه په ژوند کښې او نه له وفات څخه وروسته. البته چه کله د نبي کریم ﷺ په مخکښې څوك موجود وي

نو په تیټ آواز باندې په لفظ د یا رسول الله سره نبي کریم ﷺ مخاطبول عین ادب دی. او چه کله څوك په بل ځای کښې وي او بیا هم په زوره زوره د یا رسول الله نارې وهي نو دا بې ادبي ده. له دې وجهې له دومره لرې مسافي څخه په زوره زوره چغې ور وهل به خامخا بې ادبي وي لکه څرنګه چه د آیت کریمه له شان نزول څخه څرګندیږي.

د خضر علیه السلام د ژوندي توب عقیده

سوال: آیا حضرت خضر علیه السلام ژوندی دی او که وفات شوی دی؟ په دغو دواړوه کښې د کومې خبرې عقیده لرل د شریعت موافق دي؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د حضرت خضر علیه السلام په ژوندون او وفات پورې کومه شرعي عقیده نه ده ترلې. که چېرته یو څوك د دلائلو له مخې د هغه د ژوندون قائل شي نو د هغه د اسلام په عقیدې باندې هیڅ اثر نه اچوي. او چه څوك ئې د وفات قائل وي نو بیا به هم مسلمان وي. لنډه دا چه په دې مسئلې پورې کومه شرعي عقیده نه ده ترلې. د دې لپاره په دې مسئلې باندې نکیر مه کوی. البته په دغو دواړو کښې احوطه دا ده چه لکه څرنګه په بحر المحیط کښې راغلې ده چه "و الجمهور علی انه مات" (ج٦، ص۱٤۷) او له کومو بزرګانو سره ئې چه ملاقات ثابت دی نو د هغه په باره کښې قاضي ثناء الله پاني پتي صاحب فرمایي:

عن المجدد الف ثانیؒ: فانهٗ حین سُئل عن حیوة الخضر علیه السلام و وفاته توجه الی الله سبحانه مستعلماً من جنابه عن هذا الامر فرأی الخضر علیه السلام حاضراً عنده فسأله عن حاله فقال أنا و الیاس لسنا من الاحیاء لکن الله سبحانه اعطی ارواحنا قوة نتجسد بها و نفعل بها افعال الاحیاء من ارشاد الضال و اغاثة الملهوف اذا شاء الله و تعلم العلم اللدنی. (تفسیر المظهری ج٦، ص٦۲، سورة الکهف)

قال العلامة البغوی رحمه الله: اختلف الناس فی ان الخضرؑ حیٌّ ام میّتٌ قیل ان الخضر و الیاس حیان یلتقیان کل سنة با لموسم کان سبب حیاته فیما یحکی به ان شرك من عین الحیوة الخ. (تفسیر المظهری ج٦ ص٦۱، سورة الکهف)

د امـــــام مهدي له راتګ څخه د منکر سړي حکم

سوال: که چېرته یو څوك د مهدي آخر الزمان په باره کښې وارد شوي حدیثونه موضوعي او له ځانه جوړ شوي وبولي او د مهدي له راتګ څخه په څرګنده توګه انکار وکړي نو د شریعت له مخې به د د لسې سړي حکم څه وي؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: قیامت ته نژدې د امام مهدي راتګ له صحیحو احادیثو او د امت له اجماع څخه ثابته شوې مسئله ده او انکار تري له صحیحو احادیثو او اجماع څخه د انکار کولو سره برابر دی په دا لسې حال کښې چه له احادیثو څخه انکار کفر دی.

عن ابی سعیدؓ قال ذکر رسول الله ﷺ بلاءً یصیب هذه الأمة حتی لا یجد الرجل ملجاءً یلجاءُ الیه من الظلم فیبعث الله رجلاً من عترتی اهل بیتی فیملاء به الارض قسطاً و عدلاً کما ملئت ظلماً و جوراً یرضی عنه ساکن الارض. رواه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

الحاکم و قال صحیح و هو ابو عبد الله محمد بن عبد الله النیسابوری امام الحدیث فی وقته. (مشکوة باب اشراط الساعة ص ۴۷۱، الفصل الثانی)

قال العلامة التفتازانیؒ: قد وردت الاحادیث الصحیحة فی ظهور امام من وُلد فاطمة الزهراءؓ. (شرح المقاصد ج۲، ص۳۰۷)

قال العلامة ملا علی القاریؒ: و اما ظهور المهدی فی آخر الزمان و انه یملاء الارض قسطاً و عدلاً کما ملئت ظلماً وَ جوراً و انه من عترته من وُلد فاطمة رضی الله عنها فثابتٌ. (شرح الفقه الاکبر ص ۱۴۷، مسئله نصب الامام)

له دي روایت څخه د امام مهدي په اړه پوره تفصیل څرګندیږي په دې حال کښې چه له دي برسیره د حدیثو په نورو کتابونو کښې هم ګڼ صحیح روایتونه موجود دي. نو له دومره صحیحو روایتونو څخه به د انکار څه جواز وي او د زُبې له یو واړي څنډني څخه د صحیحو احادیثو له یوه پوره باب څخه انکار څه معنی لري؟ نو کوم سړی چه له مهدي آخر الزمان څخه انکار کوي نو په اصل کښې له نبوي احادیثو څخه انکار کوي او په دې سړي باندې هغه حکم لګول کیږي کوم چه د حدیثو په یوه نه منونکي باندې لګول کیږي.

قال العلامة ملا علی القاری رحمه الله: و فی المحیط من قال لفقیه یذکر شیئاً من العلم او یروی حدیثاً صحیحاً ای ثابتاً لا موضوعاً هذا لیس بشیء کفرٌ. (شرح الفقه الاکبر ص ۱۷۵، فصل فی العلم و العلماء)

د کـــــرامت حقیقت

سوال: جناب مفتي صاحب! د کرامت حقیقت څه دی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: له کوم تابع شریعت نیک سړي څخه د اسي خارق العادت کار صادر یدل چه عام خلک تري عاجزه وي د شریعت له مخې "کرامت" ویل کیږي. البته د ولایت د منصب لپاره د کرامت ظهور لازم نه دی او نه دا د کوم کمال نښه ده.

لما قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: فالحاصل ان الامر الخارق للعادة یا لنسبة الی النبی معجزة..... و یا لنسبة الی الولی کرامة لخلوه عن دعوی النبوة. (رد المحتار ج۳، ص ۵۵۱، فصل فی ثبوت النسب، مطلب فی ثبت کرامات الاولیاء)

قال الشیخ ابن العز الحنفیؒ: فالمعجزة فی اللغة نعم کل خارق للعادة و کذلك الکرامة فی عرف ائمة المتقدمین و لکن کثیر من المتاخرین یفرقون فی اللفظ بینهما فجعلوا المعجزة للنبی و الکرامة للولی. (شرح العقیدة الطحاویة ص ۵۵۸، فی قوله و نؤمن بما جاء من کراماتهم و صح عن الثقات من رؤیاتهم) و مثله فی النبراس ص ۲۷۲، فی بحث علی المعجزات و اقسام الخوارق سبعة.

د اولیاوو د کـــــرامانو حکم

سوال: څه فرمایي علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چه د اولیاوو کرامات شرعاً ثابت دي او

که نه؟ او که ثابت وي نو د منکر حکم ني څه دی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د الله تعالی له نیکو او تابع د شریعت له بندګانو څخه په مختلفو زمانو کښې بې شمیره کرامتونه ښکاره شوي دي. د صحابهٔ کرامؓ، تابعینوؒ او د اسي نورو په مبارک ژوند او له مرګ څخه وروسته زماني کښې په کثرت سره د اسي مستند واقعات موجود دي چه که هغو ته وکتل شي نو د انکار هیڅ ګنجائش نه پاتي کیږي. کوم خلك چه د اولیاوو کرامات نه مني او له حقیقت څخه ني انکار کوي هغوی له اهل سنت و الجماعت څخه وتلي دي او د معتزله وو په ډله کښې داخل دي.

لما قال العلامة ابن عابدینؒ: و عبارة النسفی فی عقائده و کرامات الاولیاء حق منتظر الکرامة علی طریق نقض العادة للولی من قطع المسافة البعیدة فی المدة القلیلة..... و لا بس بما لمعجزة جواب عن قول المعتزلة المنکرین لکرامات الاولیاء. (رد المحتار ج۳، ص ۵۵۱، فصل فی ثبوت النسب، مطلب فی ثبوت کرامات الاولیاء)

قال العلامة ملا علی القاریؒ: و الکرامات للاولیاء حق ای ثابتٌ بالکتاب و السنة و لا عبرة بمخالفة المعتزلة و اهل البدعة فی انکار الکرامة. (شرح الفقه الاکبر ص ۱۱۳، بحث فی ان الخوارق العادات للانبیاء و الکرامات للاولیاء حقٌ) و مثله فی النبراس ص ۲۹۵، کرامات الاولیاء.

قـــــرآنکریم ته مخلوق ویل کفر دی

سوال: څه فرمایي علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چه یو سړی قرآنکریم ته مخلوق او حادث وایي په دې حال کښې چه بل سړی قرآنکریم ته قدیم وایي او له مخلوق والي څخه ني انکار کوي. په دغو دواړو کښې د کوم یوه خبره صحیح ده؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د دوهم سړي خبره د اسلامي عقیدې موافق دی او د لومړي سړي خبره د اسلامي شریعت او د اهل سنت و الجماعت له عقیدې څخه مخالفه ده. معتزله ډله د کلام د مخلوق والي او حدوث قائل دي په دې حال کښې چه اهل سنت و الجماعت د قرآنکریم مخلوق او حادث بلونکی کافر او معتقد ني مرتد ګڼي. په دغو دواړو ډلو کښې چه په کوم شي باندې نزاع او اختلاف دی هغه د کلام نفسي او کلام لفظي په باره کښې دی. او دا یوه اورده مسئله ده کوم چه د علم کلام له معرکه الآراء مسائلو څخه دی او د لفظي نزاع مترادف دی.

قال العلامة ملا علی القاریؒ: ان لا نزاع فی هذه القضیة اذ لا خلاف لاهل السنّة فی حدوث الکلام اللفظی و لا نزاع للمعتزلة فی قدم الکلام النفسی. (شرح الفقه الاکبر ص ۲۹، القرآن کلام الله)

اهلسنت د کلام لفظي د حدوث قائل دي لیکن د قرائت په درجي باندې نه د مقروء په درجي باندې. مقروء قدیم او قرائت د کلماتو او حروفو د احداث له مخې حادث دي. لیکن دا نزاع یو علمي بحث دی چه عوامي عقیده ور پورې هیڅ اړه نه لري. بلکه د عوامو لپاره چه فقهاوو کومه لاره ښوولې ده او هغه دا چه عوام به د قرآن خواته د مخلوق والي او حادث والي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

نسبت نه کوي. ځکه چه موجوده لفظي کلام د هغه نفسي مدلول اطلاق دی او د شرعي احکامو مظهر او مدار همدغه الفاظ دي. که چېرته په دغو باندي د مخلوق او حادث اطلاق وشي نو د هغه د مدلول خواته د افضاء احتمال دی نو ځکه منع تري شوي ده. او د مخلوق اطلاق ته ئې کفر ویلی دی.

کما ذکر مُلا علی القاریؒ: فی عدة مواضع: و القرآن کلام الله تعالی فی المصاحف مکتوب و فی القلوب محفوظ و علی الالسن مقروءٌ ای بحروفه الملفوظة المسموعة..... و هٰذا من قولهم المقروء قدیم و القراة حادثة. و علی النبیﷺ منزل..... غیر مخلوق. و قال فخر الاسلام قد صح عن ابی یوسفؒ انه قال ناظرتُ ابا حنیفةؒ فی مسئلة خلق القرآن فا تفق رائی و رایه و علی ان من قال بخلق القرآن فهو کافرٌ و صح هٰذا القول ایضاً عن محمد رحمه الله (ص۲۶) و ما ذکره الله تعالی فی القرآن عن موسیٰ و غیره من الانبیاء علیهم السلام ای اخباراً منهم او حکایةً عنهم و عن فرعون و ابلیس و نحوهما فان ذلك کله کلام الله اخباراً عنهم قد کتب الکلمات الدالة علیه فی اللوح المحفوظ قبل خلق السماء و الارض و الروح لا بکلام حادث حصل بعد علم حادث عند سمعه من موسیٰ و عیسیٰ و غیرهما من الانبیاء علیهم السلام و من فرعون و ابلیس و هامان و قارون و سائر الاعداء فاذن لا فرق بین اخبار الله تعالی عن اخبارهم و احوالهم و اسرارهم کسورة تبّت و آیة الفتال الخ. (ص۲۸) و مع هٰذا لا یجوز لاحدٍ ان یقول القرآن اللفظی مخلوق لما فیه الایهام المؤدی الی الکفر..... فاذا ذکر مطلقاً یحمل علی الصفة الازلیة. (ص۲۹) فلا یجوز ان یقال القرآن مخلوق علی الاطلاق..... و بالجملة اهل السنة کلهم من اهل المذاهب الاربعة و غیرهم من السلف و الخلف متفقون علی ان القرآن غیر مخلوق. (ص۳۵) (شرح الفقه الاکبر ص۲۸ الی ۳۰، القرآن کلام الله)

انبیاء کرام علیهم السلام د فواحشو خواته د منسوبوونکي ایمان لـــه منځه ځي

سوال: یو سړی کوم چه د لاتدیني واقعي د ربښتیا ګنلو عقیده لري چه "رسول اللهﷺ په یوې ښځې باندې مین شوی وو او یو ځل ئې له هغې ځنه د هغې د نفس غوښتنه هم کړې وه چه په دې باندې هغه ښځه ډیره غصه شوه" نو د دې واقعي د ربښتیا ګنلو د عقیدې د درلودونکي ایمان سلامت پاتې کیدلی شي او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د انبیاوو عصمت د ایمان یو بنیادي او انتهایي اهم شی دی. د یوه مسلمان په حیث زمونږ دا عقیده ده چه انبیاء کرام له نبوت ځنه مخکښې هم او له نبوت ځنه وروسته هم له ټولو ناوړو اعمالو ځنه معصوم، محفوظ او مامون دي.

لما قال العلامة ملا علی القاریؒ: الانبیاء معصومون قبل النبوّة و بعدها عن کبائر الذنوب و صغائرها و لو سهواً علی ما هو الحق عند المحققین. (مرقاة ج۱، ص۱۲۷، باب الکبائر، الفصل الاول)

و فی الهندیة: سئل عمن ینسب الی الانبیاء الفواحش کزعمهم علی الزنا و نحوهٗ قال یکفر لانه شتم لهم استخفاف بهم. (الفتاوی الهندیة ج۲، ص۲۶۳، الباب التاسع فی احکام المرتد)

یاد ولري چه د انبیاء کرامو خواته د داسي بدو او فاحشو خبرو نسبت او بیا په ځانګړي توګه د امام الانبیاء نبي کریمﷺ خواته د داسي واقعاتو په نسبت کولو سره ایمان هیڅکله هم روغ او سلامت نه پاتې کیږي.

پـــــه پښتو ژبې کښې په نبي کـــــریمﷺ باندې د "کمینه" اطلاق د کفر موجب نه دی

سوال: د نبي کریمﷺ د تواضع د صفت په یادولو سره که چېرته د پښتو ژبې ویونکی ده مبارك ته د "کمینه" د لفظ اطلاق وکړي نو په شریعت کښې د داسي سړي حکم څه دی؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د پښتو ژبې د محاورې مطابق د "کمینه" لفظ د متواضع او منکسر المزاج سړي لپاره استعمالیږي. لهذا د دې لفظ ویونکی ګنهګار نه دی او قائل هم دې لفظ لره د مدح په ځای کښې استعمال کړی دی او نور احتمالات پخپله د له منځه تلو په صورت کښې نې مراد او مطلب معلوم دی. لهذا د دې لفظ په ویلو سره هغه د اسلام له دائرې ځنه نه ووځي لیکن چونکه چه د دې لفظ استعمال په نورو ژبو کښې د سپکاوي باعث دی د دې لپاره د داسي لفظ له استعمال ځنه پرهیز وکړی او د بیا لپاره نې د جناب محمد رسول اللهﷺ په شان کښې مه استعمالوی.

د انبیاء علیهم السلام افعالو او اقوالو ته د مجنونانه ویونکی کـــافر دی

سوال: د انبیاء علیهم السلام افعالو او اقوالو ته مجنونانه ویونکی د شریعت له مخې د اسلام له دائرې ځنه ووځي او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: له قرآن مجید ځنه په صراحت سره ثابت دي چه یواځې او یواځې کفارو به د انبیاء علیهم السلام خواته داسي نسبتونه کول. په دې اړه په لاتدیني آیتونو باندې غور وکړی.

﴿۱﴾ وَ اِنْ یَّکَادُ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا لَیُزْلِقُوْنَكَ بِاَبْصَارِهِمْ لَمَّا سَمِعُوا الذِّكْرَ وَ یَقُوْلُوْنَ اِنَّهٗ لَمَجْنُوْنٌ☆ (سورة القلم آیت ۵۱)

﴿۲﴾ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوْحٍ فَكَذَّبُوْا عَبْدَنَا وَ قَالُوْا مَجْنُوْنٌ وَّ ازْدُجِرَ☆ (سورة القمر، آیت ۹)

﴿۳﴾ اَفْتَرٰی عَلَی اللّٰهِ كَذِبًا اَمْ بِهٖ جِنَّةٌ. (سورة السباء، آیت ۸)

فقهاء کرامو دا تصریح کړې ده چه په انبیاء کرامو علیهم السلام باندې د جنون (لیونتوب) اثر ته شي کولای د دې لپاره فقهاء کرامو د داسي الفاظو ویونکی کافر ګنلی دی.

قال العلامة ابن البزاز الکردری الحنفیؒ: و لو قال جن النبیﷺ ذکر فی نوادر الاصول انهٗ کفرٌ. (فتاوی البزازیة علی هامش الهندیة ج۶، ص۵۷۴، الثانی ما یتعلق الانبیاء)

چه کله د چا افعالو او اقوالو ته مجنونانه ویل د هغه ذات ته له مجنون ویلو سره برابر دی نو د انبیاء علیهم السلام د افعالو او اقوالو خواته دا نسبت کول د نومورې حکم په ضمن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

کښې داخل دي۔

د الله تعالی لپاره د زوجیت او ولدیت عقیده لرل کفـــــر دی

سوال: که چېرته کومه بنځه له ژبې څخه دا الفاظ وباسي چه بنایي چه نبي کریم ﷺ د الله تعالی زوی وي نو د داسي بنځې حکم څه دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د الله تعالی ذات د زوجیت او ولدیت څخه پاک او منزه دی۔ الله تعالی ته بنځه لري او نه زوی، نه دی چا زېږولی دی او نه له ده څخه څوک زېږېدلی دی۔ له دې وجهې الله تعالی ته زوجیت او ولدیت ثابتول یا په دې خبرې کښې شک کول د کفر موجب دی۔

و قال الله تعالی: قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ☆ اَللّٰهُ الصَّمَدُ ☆ لَمْ یَلِدْ وَ لَمْ یُوْلَدْ ☆ (سورة الاخلاص آیت ۱ تا ۳)

و قال ایضاً: تَکَادُ السَّمٰوٰتُ وَ الْاَرْضُ یَتَفَطَّرْنَ مِنْهُ وَ تَنْشَقُّ الْاَرْضُ وَ تَخِرُّ الْجِبَالُ هَدًّا ☆ اَنْ دَعَوْا لِلرَّحْمٰنِ وَلَدًا ☆ وَ مَا یَنْبَغِیْ لِلرَّحْمٰنِ اَنْ یَّتَّخِذَ وَلَدًا ☆ (سورة مریم، آیت ۹۰/۹۱)

البته کـــــه چېرته د چا له ژبې څخه په ناد انسته توګه داسي الفاظ ووځي نو د کفـــــر موجب نه دی۔ د دې لپاره د ناپوهۍ له وجهې له ژبې څخه داسي الفاظ ایستل د اکثرو علماوو په نزد عذر نه دی۔

لما قال العلامة عالم بن العلاء الانصاریؒ: من الی بلفظة الکفر مع علمه انها لفظة الکفر عن اعتقاده فقد کفر و لو لم یعتقد او لم یعلم انها لفظة الکفر و لکن الی بها علی اختیار فقد کفر عند عامة العلماء لا یعذر با لجهل و قال بعضهم الجاهل اذ تکلم بکفر و لم یدر انّه کفر لا یکون کفراً و یعذر الجهل.....

و قال ایضاً: و فی الاجناس عن محمد ان من اراد ان یقول اکلت فقال کفرت انه لا یکفر. (الفتاوی التاتارخانیة ج۵، ص۴۵۸/۴۵۹، کتاب احکام المرتدین)

و قال العلامة ابن نجیم المصری رحمه الله: فیکفر اذا وصف الله تعالی بما لا یلیق به او سخر باسم من اسماء ..... او جعل لهٗ ولداً او زوجةً..... الخ. (البحر الرائق ج۵، ص ۱۲۰، کتاب احکام المرتدین) و مثله فی خلاصة الفتاوی ج۳، ص۳۸۳، کتاب الفاظ الکفر، الفصل الثانی.

د نبي کریم ﷺ په اړه د سمیع او بصیر والي د عقیدې څرګندونه

سوال: چه کوم سړی د نبي کریم ﷺ په اړه دا عقیده ولري چه دی مبارک سمیع او بصیر دی۔ نو د داسي سړي حکم په څه وي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: سمیع او بصیر دواړه د الله تعالی صفات دي۔ که چېرته نبي کریم ﷺ څوک په دې معنی سره سمیع او بصیر وبولي چه سړی هر څومره لرې وي کله چه نبي کریم ﷺ ته غږ وکړي نو نبي کریم ﷺ د هغه غږ اوري او هغه وینې او د هغه امداد ته رسیدلی شي نو د داسي عقیدې په شرک والي کښې هیڅ شک نشته ځکه چه په دې معنی سره سمیع او بصیر یواځې د الله تعالی صفات دي چه الله تعالی هر یو سړی په هر ځای کښې وینې او د هر چا آواز

په هر ځای کښې اوري۔ د نبي کریم ﷺ مبارک ارشاد دی چه کله څوک له لرې څخه په ما باندې درود را لیږي نو د خدای په حکم سره ملایکې هغه درود ما ته را رسوي او چه کله څوک له نږدې څخه (مبارکې روضې ته په راتلو سره) په ما باندې درود وایي نو بیا ئې زه خپله اورم۔

لما ورد فی الحدیث قال النبی ﷺ من صلّی علیّ عند قبری سمعته و من صلّی علیّ نائیاً ابلغته. (مشکوٰة المصابیح ص۸۷، باب الدعاء فی التشهد)

و قال النبی ﷺ انّ لله ملائکة سیاحین یبلغونی من أمتی السلام. (مشکوٰة ص۸۶، کتاب الصلوٰة)

و قال العلامة ملا علی القاریؒ: هو مخصوص بمن بعد عن حضرة مرقده المنور. (مرقات شرح مشکوٰة ج۱۰، ص۲)

د نبي کریم ﷺ د معراج په اړه د یوې بې بنیادي واقعي حقیقت

سوال: په ځینو تاریخونو کښې دا واقعه راغلې ده چه "رسول الله ﷺ د معراج د واقعي تفصیل بیانولو چه هلته ناست یو یهودي دا واقعه دروغ وبلله او د جناب نبي کریم ﷺ له مجلس څخه جګ شو بازار ته راغی او یو لوی کب یا ماهي ئې واخیست او خپلې بنځې ته ئې ورکړ او ورته وئې ویل چه زر زر له دې څخه کباب جوړ کړه زه غسل کوم او بیرته راځم۔ چه کله له غسل څخه فارغ شو نو خپل ځان ئې د ځواني بنځې په شکل کښې ولیده په دې ډول اوه کاله پرې تیر شول او بچي تري پیدا شول۔ له اوه کلونو وروسته ئې جنس بیرته بدل شو یعنې بیرته سړی شو او خپل کور ته راغی۔ څه ګوري چه بنځه ئې لا تر اوسه پورې د کب په پاکولو کښې مصروفه ده۔ له دې وروسته ئې بیا "ایمان راوړ" آیا د دې واقعې په بیانولو سره د نبي کریم ﷺ په معراج باندې رنا لویږي او آیا په دې ضمن کښې د دې واقعې بیانول جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د معراج په سلسله کښې نومورې واقعه بالکل غلطه او بې بنیاده ده۔ د معراج د واقعې د اثبات لپاره قرآنکریم او صحیح حدیثونه زمونږ لپاره کافي دي او ثبوت ئې د غلطو او بې بنیاده واقعو په ذریعه سره صحیح نه دی۔ او د دې واقعې د صحیح والي عقیده د عقل او نقل دواړو له مخې د اعتماد ور نه ده۔

نومورې واقعه په کوم معتبر کتاب کښې نه دی ترسترګو شوی۔ البته په لاهور کښې د "جهانګیر بک ډپو" مالکانو د "قصص الانبیاء" په نامه یو کتاب خپور کړ چه د هغه ناخرګنده مصنف له دې پرته نور هم وچ او لانده سړه یو ځای کړي دي۔ د داسي کتابونو له کتنې څخه د عوامو عقیده په ځای نه پاتې کیږي د دې لپاره د داسي کتابونو له کتنې څخه ډډه وکړی۔

په نبي کریم ﷺ باندې د خطاب په صیغې سره د درود لیږلو حکم

سوال: په نبي کریم ﷺ باندې د خطاب په صیغې سره یعنې "الصلوٰة و السلام علیك یا رسول الله" درود لیږل جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د غیبت په حالت کښې له لرې څخه که چېرته د خطاب په صیغې سره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

په دې نیت باندې درود وویل شي چه نبي کریم ﷺ حاضر او ناظر دی او "صلوٰه او سلام" پخپله اوري نو بیا ناجائز او حرام دي او که چېرته په دې نیت سره نې ولیږي چه ملائکې نې د نبي کریم ﷺ په خدمت کښې ورانده کوي نو بیا جائز دي۔ البته په دا سې مشتبهو الفاظو باندې له درود ویلو څخه باید ډډه وکړی۔

لما قال الشیخ رشید احمد گنگوهیؒ: چه کله انبیاء کرام علیهم السلام علم غیب نه لري نو یارسول الله ویل به هم ناجائز وي۔ که چېرته دا عقیده څوک ولري چه هغه له لري د علم غیب په سبب سره اوري نو دا کفر دی او چه څوک دا عقیده و نه لري نو بیا کفر نه دی لیکن مشابه کفر دی۔ البته که چېرته دا کلمه د درود شریف په ضمن کښې ووایي او دا عقیده څوک ولري چه دا درود شریف ملائکه د ده مبارک ﷺ خدمت ته ورانده کوي نو بیا صحیح دی۔ (تالیفات رشیدیه ص۷۲، کتاب الایمان و الکفر)

قال الشیخ اشرف علی التهانوی رحمه الله: د استعانت او استغاثې یا د حاضر او ناظر والي په اعتقاد سره منهي عنه (منع) دی او پرته له اعتقاده محض د شوق او استلذاذ له مخې ماذون فیه دی (اجازه پکښې شته)۔ چونکه د اشعارو د ویلو غرض محض د شوق اظهار او استلذاذ وي د دې لپاره په نقل کښې نې توسع شوی دی لیکن که چېرته په کوم ځای کښې د دې خلاف ولیدل شي نو منع دې کړی شي۔ (امداد الفتاوی ج۵، ص۳۸۵، کتاب العقائد و الکلام) و مثله في معارف القرآن ج۷، ص۲۲٤، سورة الاحزاب.

که چېرته ما د فیصلې خلاف ورزي وکړه نو قرآنکریم به دروغ ګنم

سوال: زید د یوې فیصلې په باره کښې وویل چه "که چېرته زه د دې فیصلې خلاف ورزي وکړم نو قرآن به دروغ وګنم" وروسته زید له هغې فیصلې څخه منحرف شو۔ نو آیا زید د خپلې خبرې له وجهې کافر ګڼل کیږي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: نوموړي الفاظ د کفر موجب نه دي۔ په عامه توګه د دې مطلب دا اخیستل کیږي چه قرآن دروغ نه شم بللی۔ د دې لپاره دا فیصله به خامخا تسلیموم۔ او د کفر فتوی هلته پرې لګول کیږي چه په د تاویل ګنجائش پکښې نه وي۔ البته په دې الفاظو باندې یمین پرې لازمیږي۔ او د یمین د کفارې په ادا کولو سره له ګناه څخه خلاصیدلی شي۔

لما في الهندية: و لو قال ان فعلت كذا فانا برئ من القرآن او القبلة او الصلوٰة او صوم رمضان فا لكل يمين هو المختار. (الفتاوی الهندية ج۲، ص۵۳، الباب التاسع في احكام المرتدين)

قال العلامه الحصكفي رحمه الله: و قال العينيؒ: و عندی ان المصحف يمين لا سيما في زماننا و عند الثلاثة المصحف و القرآن و كلام الله يمين زاد احمد و النبي ﷺ ايضا و لو تبرأ من احدها فيمين اجماعاً. (الدر المختار على هامش رد المحتار ج۳، ص۵۲، كتاب الايمان، مطلب في القرآن)

د لا اله الاّ الله ایوب خان رسول الله ویونکی کافر دی

سوال: یوه سړي په یو مجلس کښې ووایل چه که چېرته صدر صاحب غله منع کړي او خلکو ته غله و نه رسیږي نو مونږ به د لا اله الاّ الله ایوب خان رسول الله کلمه ووایو۔ د دا سې سړي په باره کښې د شریعت څه حکم دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په کلمه طیبه کښې د ایوب خان رسول الله الفاظ که چېرته په دې عقیدې او په دې معنی سره ووایل شي چه کله ایوب خان هم رسول الله کیدلی شي نو دا کفري عقیده ده ځکه چه تر رسول الله ﷺ وروسته د چا په باره کښې د نبوت او رسالت عقیده درلودل کفر دی۔ او که چېرته د دې اعتقاد له وجهې نه وي بلکه په چا باندې د اعتراض له وجهې ووایل شي مثلا د قوم د بنه راغلاست او په ذهني غلامي باندې د توکې په توګه دا کلمات ووایل شي چه دا قوم دومره په ذهني غلامي کښې ګرفتار دی چه خپل حکمرانانو ته کله کله د خدای پیغمبر ویلو ته تیار دي۔ نو دا بیا کفر نه دی۔

په نوموړي صورت کښې چونکه ایوب خان رسول الله د ویونکي عقیده مونږ ته پوره معلومه نه ده د دې لپاره په دا سې سړي باندې یقیني حکم نه شو لګولی۔

د امام غزالي له کومې خبرې څخه انکار کفر نه دی

سوال: جناب مفتي صاحب! ننه صبا له دین او دیني تعلیماتو څخه د لرې والي له وجهې ځینې خلك د حق د علماوو بې ادبي او سپکاوی کوي او چه کله په کومې شرعي مسئلې کښې د ثقه دیني عالم حواله ورکړی شي نو پرته له کومې وېرې او خطر څخه انکار کوي۔ همدارنګه زمونږ په کلي کښې یوه صاحب د امام غزالي په حوالي سره یوه مسئله بیان کړه نو بل سړي انکار ترې وکړ۔ لهذا که چېرته یو څوک د امام غزالي له کوم قول څخه انکار وکړي نو د شریعت له مخې به د هغه څه حکم وي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته د کوم فقیه یا عالم قول له قرآن او حدیثو سره تکر نه وي نو له هغه څخه باید انکار و نه شي۔ له دې وجهې که چېرته د دین د سپکاوي له مخې انکار وشي نو د ایمان د زوال باعث دی۔ البته که چېرته انکار د شریعت د سپکاوي له مخې نه وي بلکه له هغه سره د ذاتي عناد او بغض له وجهې وي نو بیا د فسق موجب دی نه د کفر۔ ځرګنده دي وي چه د نورو مذاهبو د فقهي تقلید نه کول په دې حکم کښې داخل نه دي۔

قال فخر الدين الاوزجندی رحمه الله: و لو قال انا لا اعمل بفتوى الفقهاء او ليس كما قال العلماء فانه لا يعذر و لا يكفر. (فتاوی قاضيخان على هامش الهندية ج۳، ص٤٦٩، كتاب الكراهية)

د اهل فترت په باره کښې شـــــرعي عقیده

سوال: په ځینو کتابونو کښې لیکلي دي چه د حضرت عیسیٰ علیه السلام او جناب حضرت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

محمد رسول الله ﷺ تر منځ شپږ سوه کاله د فترت زمانه وه چه کوم نبي پکښې نه دی راغلی۔ نو آیا د فترت په زمانې کښې چه کوم خلك تیر شوي دي د هغو په باره کښې به سړی باید څه عقیده ولري؟ آیا هغوی به جنتیان وي او که جهنمیان؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د فترت په زمانې کښې چه کوم خلك د کوم رسول له تعلیماتو سره آشنا نه وي بلکه یو اځي د باري تعالی د توحید قائل تیر شوي وي نو جمهورو علماوو د هغو په جنتي توب باندې قائل دي۔ هو که چیرته څوك د نبوي ﷺ بعثت څخه مخکښې د کفر او شرك په عقیدې باندې مړ شوی وي نو د هغو په مشرك او جهنمي توب کښې هیڅ شك نشته۔ البته که چیرته په هغو کښې د کوم یوه د عقیدې حال معلوم نه وي نو د هغو په باره کښې باید توقف وشي۔ یعني هیڅ و نه ویل شي۔

لما قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: فقد صرح النوويّ و الفخر الدين الرازيّ بان من مات قبل البعثة مشركا فهو في النار ـــــ و بخلاف من اهتدى منهم بعقله كقس بن ساعده و زيد بن عمرو بن نفيل فلا خلاف في نجاتهم. (رد المحتار ج۵، ص۴۱۹، كتاب الحظر و الاباحة)

قال الشيخ عبد الوهاب الشعرانيّ: ابانك ان تحكم على اهل الفترات (اى بين نوح و ادريس و بين عيسى و محمد) كلهم بحكم واحد. (اليواقيت ج۲، ص۵۲) و مثله في امداد الفتاوى ج۵، ص۳۸۸، كتاب العقائد و الكلام.

د عبد الله ابن ابی ابن سلول د جنتي توب عقیده درلودل

سوال: آیا دا صحیح ده چه عبد الله ابن ابی ابن سلول د ایمان په حالت کښې مړ شوی وو؟ ځکه چه رسول الله ﷺ خپل کمیس د هغه د کفن لپاره ورکړی وو او د هغه د مغفرت دعاګانې ئې کړې وي چه له مخې ئې د هغه مسلمان و الی تري څرګندیږي۔ د قرآن او حدیثو له مخې په دې باره کښې د وضاحت هیله لرو؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د قرآن او حدیثو له څرګندونو څخه د منافقینو جهنم ته تلل ثابت دي لکه څرنګه چه الله تعالی فرمایلي دي: إِنَّ الْمُنَافِقِينَ فِي الدَّرْكِ الْأَسْفَلِ مِنَ النَّارِ ☆ (سورة النساء آیت ۱۴۵) او د عبد الله ابن ابی ابن سلول په کفر کښې مړ کیدل او جهنمي توب د رښا ورځې ځوندي بنکاره خبره ده۔ د قرآنکریم مفسرین فرمایي چه: أَنَّهُمْ كَفَرُوا بِاللهِ وَ رَسُولِهِ وَ مَاتُوا وَ هُمْ فَاسِقُونَ ☆ (سورة التوبة، آیت ۸۴)

دا آیت د عبد الله ابن ابی ابن سلول په باره کښې نازل شوی دی۔

پاتې شوه دا خبره چه رسول الله ﷺ د عبد الله ابن ابی ابن سلول ته د مغفرت دعاګانې او د جنازې لمونځ ئې پرې کړی دی۔ نو له دې واقعې څخه مخکښې دی مبارك ﷺ د منافقینو لپاره د مغفرت له دعاګانو څخه په بنکاره توګه منع شوی نه وو۔ همدا وجه ده چه د جنازې د کولو په وخت کښې چه کله حضرت عمر رضی الله تعالی عنه مزاحمت وکړ نو رسول الله ﷺ ځواب ورکړ چه: لقد عنى يا عمرُ ان الله خيرني فما خيرت فقال (اِسْتَغْفِرْ لَهُمْ اَوْ لَا تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ) (التوبة، آیت ۸۴) فو الله

لو اعلم يا عمرُ انى لو زدت على سبعين مرّة ان يغفر له لزدتُ ـــــ ثم مشى رسول الله ﷺ معه و قام على قبره حتى دفن ثم يلبث الاّ قليلاً حتى انزل الله (وَ لَا تُصَلِّ عَلٰى اَحَدٍ مِّنْهُمْ مَّاتَ اَبَدًا وَّ لَا تَقُمْ عَلٰى قَبْرِهٖ (التوبة ۸۴) فو الله ما صلى الله رسول الله ﷺ على احد من المنافقين الخ. (احكام القرآن للجصاص ج۴، ص۳۵۱، سورة التوبة)

او رسول الله ﷺ هغه د کفن لپاره د خپل کمیس د ورکولو څو وجوهات دي چه په لاندې ډول دي:

قال الشيخ الرازى رحمه الله: اما دفع القميص اليه فذكروا فيه وجوها الاوّل ان العباس عمّ رسول الله ﷺ لما اخذ اسيرا ببدر لم يجدوا له قميصاً و كان رجلاً طويلاً فكساه عبد الله قميصه ـــــ ان الله تعالى امرهٗ ان لا يرد سائلاً بقوله و اَمَّا السَّآئِلَ فَلَا تَنْهَر فلما طلب القميص منه دفعه اليه لهذا المعنى ـــــ و ان ابنه عبد الله بن عبد الله بن ابى كان من الصالحين و ان رسول الله اكرمه لمكان ابنه. (التفسير الكبير ج۱۶، ص۱۵۳، سورة يوسف)

قال العلامة ملا على القارئ: قال الخطابى هو منافق ظاهر النفاق و النزل فى كفره و نفاقه و من القرآن. (مرقاة المفاتيح ج۴، ص۴۰، باب غسل الميت و تكفينه، الفصل الثالث)

د نبي کریم ﷺ له سفارش څخه انکار کفر نه دی

سوال: په یوې معاملې باندې د زید او بکر ترمنځ ترخې خبرې راغلې نو زید ورته وویل چه که چیرته په دې معاملې کښې الله تعالی او د هغه رسول ﷺ هم ما ته سفارش وکړي نو زه به د هغو سفارش هم و نه منم۔ د شریعت مطهره له مخې زید پخپل دې قول له وجهې کافر شو او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د الله تعالی او د هغه د رسول ﷺ په اړه باید د دلسې الفاظو له استعمالولو څخه ډډه وکړی۔ په زید باندې د کفر فتوی نه شي لګول کیدلای ځکه چه د ده له خولې څخه وتلې جمله تفصیل غواړي۔ زید د الله تعالی او د هغه د رسول ﷺ د حکم له منلو څخه انکار نه دی کړی بلکه د هغو د سفارش له منلو څخه ئې انکار کړی دی۔ او د الله تعالی او د هغه د رسول ﷺ له حکم سره چه کله حتمي حکم نه وي نو یو اځي سفارش پخپله کوم حتمي حکم نه دی۔

قال العلامة الكردرىّ: وقعت بين الرّجلين منازعة فقال لو امر رسول الله ﷺ ثم الثامر بامره لا يكفر. (فتاوى البزازية على هامش الهندية ج۶، ص۳۴۵)

د دې لپاره کله کله صحابه کرام به هم د رسول الله ﷺ په سفارش او مشوري باندې عمل نه کاوه۔

لما ورد فى الحديث عن ابن عباسؓ قال كان زوجُ بريرة عبداً اسود يقال لهٗ مغيث كانى انظر اليه يطوف خلفها فى سكك المدينة يبكى و دُموعه تسيل على لحيته فقال النبى ﷺ للعباسؓ يا عباس! الا تعجب من حب مغيث بريرة و من بُغض بريرة مغيثا فقال النبى ﷺ لو راجعتيه فقالت يا رسول الله تامرنى قال انما اشفع قالت لا حاجة لى فيه. رواه البخارى. (مشكوة ج۲، ص۹۴۴، باب المباشرة)

قال بدر الدين العينىّ: علمت ان امرهٗ واجب الامتثال فلما اعرض عليها ما عرض استفصلت هل هو امر فيجب عليها امتثاله او مشورة. (عمدة القارى ج۹، ص۳۴۲)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

په ځینو خلکو باندې د قبر عذاب منکشف کیدلای شي

سوال: اکثره له خلکو څخه اوریدل شوي دي چه په فلاني ځای کښې د قبر عذاب ولیدل شو۔ نو آیا د شریعت له مخې په دنیا کښې د عامو خلکو لپاره دا ممکنه ده چه هغوی عذاب قبر وویني؟ په دې حال کښې چه د رسول اللهﷺ فرمان دی چه "یسمع صوته کل شیء الا الثقلین" نو د دې ترځنګ د دې دوو روایتونو حکم څه دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په دنیا کښې د قبر د عذاب مشاهده د خلکو لپاره ممکنه ده او دا سې شوي هم دي۔ په ځانګړي توګه الله تعالی کله کله اولیاء کرام د اهل قبورو له حالاتو څخه خبروي۔

قال الشیخ عبد الوهاب الشعرانیؒ: قال الشیخ فی الباب الثامن و السبعین و للکمالة ان کل رزقه الله تعالی الامانة من الاولیاء سمع عذاب القبر. (الیواقیت ج۲، ص۱۲۶)

قال ابن قیمؒ: فروية هذه للنار فی القبر کرویة الملائکة و الجنّ تقع احیاناً لمن شاء الله ان یریه ذلك. (کتاب الروح ص۸۹، المسئلة السابعة، فصل الامر الخامس)

لیکن د قبر د عذاب د منکشف کیدو لپاره ولایت شرط نه دی بلکه کله کله فاسق او فاجر ني هم په خپلو سترګو لیدلای شي او په مبارک حدیث کښې د غیر الثقلین قید عادیه دی په دا سې حال کښې چه د ثقلینو خلاف العادت مشاهده کول هم څه لري خبره نه ده۔

د جُمعې په ورځ په مړ کیدونکي باندې د عذاب قبر د نشتوالي عقیده

سوال: له ځینو خلکو څخه مې اوریدلي دي چه څوک د جُمعې په ورځ مړ شي نو هغه ته د قبر عذاب نه وي۔ نو آیا که چېرته د جُمعې په ورځ کوم فاسق یا فاجر مړ شي نو په هغه باندې به هم د قبر عذاب نه وي؟ د دې عقیده درلودل جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په مبارک حدیث کښې راغلي دي چه: قال رسول اللهﷺ ما من مسلم یموت یوم الجمعة او لیلة الجمعة الا وقاه الله فتنة القبر. (ترمذی ج ص۲۰۵، باب ما جاء فی من یموت یوم الجمعة)

د جُمعې د عزت او تکریم له وجهې چه څوک د جُمعې په ورځ یا د جُمعې په شپه مړ شي اګر که هر څومره ګنهګار یا کوم صالح مسلمان او نیک سړی هم وي نو پرته له یوه پرک او یو اځي د قبر د ضغطې څخه به د نور عذاب قبر څخه مامون او محفوظ وي۔

لما قال العلامة علاؤ الدین الحصکفیؒ: و فیه تجمع الارواح و تزار القبور و یامن المیت من عذاب القبر و من مات فیه او فی لیلته امن من عذاب القبر. (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج۱، ص۱۵۴، باب الجمعة، مطلب ما اختص به یوم الجمعة)

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: و المؤمن المطیع لا یعذب بل لهٗ ضغطة یجد هول ذلك و خوفه و العاصی یعذب و یضغط لکن ینقطع عنه العذاب یوم الجمعة و لیلتها ثم لا یعود و ان مات یومها لیلها قد یکون العذاب ساعة واحدة و ضغطة القبر لم ینقطع. (رد المحتار ج۲، ص۱۶۵، باب الجمعة، مطلب ما اختص به یوم الجمعة) و مثله فی شرح الفقه

الاکبر ص۱۰۲، ضغطة القبر و عذابه حق.

د جُمعې د شپې پورې د قبر په ساتنې باندې د عذاب قبر مسئله

سوال: د کنز د باب الجُمعه په حاشیه کښې دا عبارت لیکل شوي دي چه: "و ان مات فی هذا الیوم او فی لیلة الجمعة لا یکون عذاب القبر ساعة واحدة و ان حفظه القبر الی لیلة الجمعة یقع العذاب و لا یعود الی یوم القیمة". (غرائب) یعنې د جُمعې په ورځ په مړ شوي سړي باندې د قبر عذاب نه وي که چېرته له جُمعې څخه مخکښې دفن کړی شي او د جُمعې تر شپې پورې د هغه د قبر حفاظت وشي یعنې یو څوک ورته کښینوي نو بیا به هم د قبر له عذاب څخه په امن شي۔ د شریعت له مخې د "غرائب" په عبارت باندې عقیده درلودل صحیح دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: چه کوم مسلمان د جُمعې په شپه یا په ورځ مړ شي نو د هغه په باره کښې له احادیثو څخه دا ثابته ده چه په هغه باندې به د قبر عذاب نه وي۔

لما ورد فی الحدیث عن عبد الله ابن عمرؓ قال رسول اللهﷺ ما من مسلم یموت یوم الجمعة او لیلة الجمعة الا وقاهُ الله فتنة القبر رواه احمد. (مشکوة باب الجمعة ص۱۲۱، ضغطة القبر و عذابه حق)

د اسلام فقهاوو هم پخپلو تصنیفاتو کښې دا ډول لیکلي دي: قال العلامة مُلاّ علی القاری رحمه الله: نعم ثبت فی الجملة ان من مات یوم الجمعة او لیلة الجمعة یرفع العذاب عنه. (شرح الفقه الاکبر ص۱۰۲، عذاب القبر حق)

پاتې شوه دا خبره "چه څوک تر جُمعې مخکښې مړ شي او بیا د جُمعې تر شپې پورې ني د قبر حفاظت وشي نو دی به هم د قبر له عذاب څخه محفوظ وي"۔ په دې باره کښې نه کوم صحیح روایت موجود دی او نه د کوم فقیه له قول څخه دا خبره ثابته ده چه د قبر د حفاظت له وجهې څوک د قبر له عذاب څخه محفوظ کیږي۔

او د کنز د محشی ابو المکارم یا غرائب مسئله له دې وجهې د اعتماد ور نه شي جوړیدلی چه د ابو المکارم په اړه علماوو لیکلي دي چه دا یو مجهول (نامعلوم) سړی دی او کتاب ني هم غیر معتبر دی۔

لما قال الشیخ عبد الحیؒ: من الکتب الغیر المعتبرة شارحو مختصر الوقایة للقهستانی المشهور بجامع الرموز و شرح الوقایة لابی المکارم. (مقدمة عمدة الرعایة ص۱۰)

همدارنګه "غرائب" هم یو غیر مشهور کتاب دی چه د مصنف حال ني تر اوسه پورې معلوم نه دی۔ د دې لپاره مسائل هم د اعتماد ور نه ګڼل کیږي۔

قال ابن عابدینؒ: فی تنقیح الفتاوی الحامدیة فی بحث کراهة لبس الثوب الاحمر ان فی الثناء الرد علی الشرنبلالیؒ القائل بجوازه المستند الی کلام ابی المکارم و القهستانی علی ان الذی یجب علی المقلد اتباع مذهب امامه. و الظاهر ان ما نقله هؤلآء الایة هو مذهب الامام لا ما نقله ابو المکارم فانه رجل مجهول و کتابه کذلك و القهستانی کحارف سبیل خصوصاً و استناده الی کتب الزاهدی المعتزلی انتهی. (مقدمة عمدة الرعایة ص۱۹)

قال السید الحمدیؒ: نقلا عن بعض رسائل مؤلف الاشباه لا تجوز الفتوی من التصانیف الغیر المشهورة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

النهی. (مقدمة عمدة الرعاية ص ۱۱، فالذة الكتب الذى لا تجوز بها الفتوى)

په عالم برزخ کښې جسم او روح دواړو ته عذاب او ثواب ورکول کيږي

سوال: څيني خلك وايي چه په قبر (برزخ) کښې عذاب او ثواب روح ته ورکول کيږي او څيني بيا د روح او جسم دواړو خبره کوي. نو جناب مفتي صاحب! د قبر د عذاب په باره کښې د جمهورو علماوو رايه څه ده؟ آيا عذاب يوائې په روح وي او که په جسم هم وي؟ همد ارنګه د قرآن او حديثو له مخې د دې څه دلائل دي؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د اهلسنت و الجماعت د جمهورو علماوو په دې باندې اتفاق دی چه په برزخ کښې په روح او جسم دواړو باندې عذاب يا ثواب وي.

لما قال العلامة ملا على القارئ: و اعلم ان اهل الحق اتفقوا على ان الله تعالى يخلق فى الميت نوع حياة فى القبر قدر ما يتألم او يتلذذ. (شرح الفقه الاكبر ص ۱۰۱، ضغطة القبر)

همد ارنګه له قرآن او حديثو څخه هم د دې ثبوت پيدا کيږي: قال الله تعالى: اَلنَّارُ يُعْرَضُوْنَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَّعَشِيًّا. (اى فى البرزخ). (سورة المؤمن آيت ٤٦)

زيد ابن ثابت رضى الله عنه څخه روايت دی چه د دواړو جهانو سرد ارﷺ فرمايلي دي چه: تعوذوا بالله من عذاب القبر. (مشكوة ج۱، ص۲۵، باب اثبات عذاب القبر)

قال الشيخ ابو المعين: فيعذب اللحم متصلاً بالروح و الروح متصلاً بالجسد يتألم الروح مع الجسد و ان كان خارجاً عنه آه. (ابو المعين على هامش شرح العقائد ص۷۲، عذاب القبر) و مثله فى شرح الفقه الاكبر ص۱۴۹، الياس من رحمة الله كفر.

په قبر کښې له نابالغو کوچنيانو څخه د سوال او ځواب وضاحت

سوال: جناب مفتي صاحب! د نابالغو فوت شوي کوچنيانو څخه په قبر کښې سوال او ځواب وي او که نه؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: په قبر کښې له نابالغو کوچنيانو څخه د نکير او منکر د سوال او ځواب په باره کښې په علماوو کښې اختلاف دی. څيني علماء کرام فرمايي چه په قبر کښې له هر يوه څخه سوال او ځواب کيږي ليکن نابالغو کوچنيانو ته د هغو د سوالونو په ځواب کښې د الله تعالى له خوا الهام کيږي. او څيني علماء کرام فرمايي چه له کوچنيانو څخه هيڅ سوال او ځواب نه وي د دې لپاره چه نابالغ کوچنيان مکلف نه دي او همد اقول راجح هم دی.

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: و الاصح ان الانبياء لا يسئلون و لا اطفال المؤمنين. (رد المحتار ج۲، ص۱۹۲، فى مطلب فى التلقين بعد الموت)

قال العلامة ملا على القارئ: و استثنى من عموم سوال القبر الانبياء و الاطفال و الشهداء. (شرح الفقه الاكبر ص۱۰۰، سوال منكر و نكير فى القبر حق) و مثله فى شرح العقيدة الطحاوية ص۴۵۳، فى تشريح و سؤال منكر و نكير فى قبره.

قبر او برزخ په عذاب او ثواب دواړو کښې برابر دي

سوال: که چېرته يو مړی څوك ښخ نه کړي بلکه وني سوځوي او اپرې ئې په هوا کښې والوځوي يا ئې دریاب ته واچوي نو آيا د لسې سړي ته هم د قبر عذاب وي او که نه؟ همد ارنګه د قبر او د برزخ په عذاب کښې څه فرق وي او که نه؟ په وضاحت سره ځواب راکړئ! بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: مړي ته په قبر کښې عذاب او ثواب ورکول د قرآن مجيد او احاديثو څخه په صراحت سره ثابت دي. او قبر هغه ځای ته ويل کيږي چه د مړي اجزاوي پکښې پرتې وي که هغه حسي يعني معلوم قبر وي يا غير حسي يعني نامعلوم. د تول اهلسنت و الجماعت د اعقيده ده چه د مړي اجزاوي که په هوا کښې والوځول شي او که په دریاب کښې واچول شي يا ئې کوم ځناور وخوري نو بيا به هم د قبر له عذاب يا ثواب سره مخامخ کيږي. له دې څخه دا هم څرګنده شوه چه برزخ او قبر دواړه يو دي او له مړ کيدو څخه وروسته تر قيامته پورې ژوند ته برزخي ژوند ويل کيږي.

قال الحافظ ابن القيم: و مما ينبغى ان يعلم ان عذاب القبر هو عذاب البرزخ فكل من مات و هو مستحق العذاب ناله نصيبه منه قبر او لم يقبر فلو اكلته السباع او احرق حتى صار رماداً و نسف فى الهواء او صلب او غرق فى البحر وصل الى روحه و بدنه من لاعذاب ما يصلى القبور. (الروح ص۵۸، المسئلة السادسة)

قال العلامة فخر الدين الرازى: ان عرض النار عليهم غدوًّا و عشيًّا ما كان حاصلاً فى الدنيا فثبت ان هذا العرض انما حصل بعد الموت و قبل يوم القيامة ذلك يدل على اثبات عذاب القبر فى حق هؤلآء و اذا ثبت فى حقهم ثبت فى حق غيرهم لانه لا قائل بالفرق. (التفسير الكبير ج۲۷، ص۷۳، سورة المؤمن)

قبر ته د سجدې کولو د ډولونو تفصيل

سوال: جناب مفتي صاحب! قبر ته له سجدې کولو څخه سړی يو اځې ګنهګار کيږي او که کافر کيږي؟ د کرم او مهربانی له مخې د دې وضاحت راته وکړی؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د قبر څنګ ته سجده کول په دې حال کښې چه په منځ کښې کوم شی حائل نه وي مکروه تحريمي دي او قبر ته د تعظيم سجده حرامه ده او د عبادت سجده شرك ده. او څيني خو قبر ته تعظيمي سجده هم شرك بللې دی. لهذا هر يوه قبر ته له سجدې کولو څخه ډډه وکړی. او چه څوك ئې کوي هغه ترې منع کړئ او د توبې او استغفار تلقين ورته وکړی.

لما قال فى الهندية: من سجد للسلطان على وجه التحية او قبل الارض بين يديه لا يكفر و لكن يأثم لارتكابه الكبيرة و هو المختار و قال ابو جعفر رحمه الله و ان سجد للسلطان بنية العبادة او لم يحضره النية فقد كفر كذا فى الجوهر الاخلاطى. (الفتاوى الهندية ج۵، ص۳۶۹، الباب الثامن و العشرون فى ملاقاة الملوك)

قال العلامة ملا على القارى رحمه الله: و فى الخلاصة و من سجد لهم اراد به التعظيم كتعظيم الله سبحانه كفر و ان اراد به التحية اختار بعض العلماء انه لا يكفر اقول هذا هو الاظهر. (شرح الفقه الاكبر ص۱۹۳، فصل فى الكفر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

صریحاً و کنایة) و مثله فی رد المحتار ج۶، ص۳۸۳، کتاب الکراهیة.

له الله تعالی پرته د بل چا د خوشحالولو لپاره د څناور د حلالولو حکم

سوال: څه فرمایي علماء کرام د دي مسئلې په باره کښې چه کوم څناور د کوم ولي یا بادشاه د تعظیم یا خوشحالولو لپاره ذبح کړی شي یا په دي نیت باندي چه د بادشاه په سترګو کښې مقبول شم او ما ته کومه عهده او دنده را وسپاري یا په موجوده دندي باندي مې پریږدي نو د دي حلال شوي څناور او د حلالوونکي شرعاً څه حکم دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: کوم څناور چه د کوم ولي د تعظیم او تکریم یا د کوم بادشاه د خوشحالولو لپاره ذبح شي یا په دي نیت باندي نې څوک ذبح کړي چه د بادشاه په دربار کښې مقبول شم او ما ته کومه عهده یا دنده را وسپاري یا مې پخپلې عهدې باندي پریږدي نو په دې تولو صورتونو کښې حلال شوی څناور حرام او مردار ګرځي۔ اګر که نې د ذبح په وخت کښې زر واړي د الله تعالی نوم پرې یاد کړی وي۔ او اکثره فقهاء کرام دي فعل ته د کفر موجب وایي۔ البته څینو په کافر کولو کښې د احتیاط ارخ غوره کړی دی۔ په هر حال د اسې مذبوحه د مَا أُهِلَّ بِهٖ لِغَیْرِ اللّٰهِ، مَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ او د لعن الله من ذبح لغیر الله کښې د مفسرینو، محدثینو او فقهاوو په نزد داخله ده۔ البته که چېرته د الله تعالی د رضا او د هغه د نعمتونو د شکریې په بدل کښې ذبح کړی شي یعنې په دي نیت باندي چه د نیک او خیر خواه بادشاه په مونږ باندي مقرر دل یو لوی نعمت دی۔ یو اځي د دي نعمت د شکریې په خاطر کوم څناور څوک ذبح کړي او د بادشاه د خوشحالولو مقصد نې نه وي نو دا صورت جائز دی او د غوښې خوړل نې جائز دي۔ او که چېرته د بادشاه او د اسې نورو د دعوت په خاطر نې حلال کړي نو بیا هم جائز او حلال دی۔

لما قال العلامة علاؤ الدین الحصکفیؒ: ذبح لقدوم الامیر و نحوه کواحد من العظماء یحرم لانه اهل به لغیر الله و لو وصلیة ذکر اسم الله تعالی و الفارق ان قدم لیأکل منه کان الذبح لله و المنفعة للضیف او للولیمة او للربح و ان لم یقدمها لیأکل منها بل یدفعها لغیره کان لتعظیم غیر الله فتحرم و هل هو یکفر؟ قولان بزازیة شرح وهبانیة قلت و فی صید المنعة انه یکره و لا یکفر لانه الظن بالمسلم انه یتقرب الی الآدمی بهذا النحر و نحوه فی شرح الوهبانیة عن الذخیرة و نظمه فقال، و فاعله جمهورهم قال کافر. و فضلی و اسماعیلی لیس بکفر. (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج۶، ص۳۰۹، کتاب الذبائح)

قال العلامة ابن نجیم المصری رحمه الله: و فی التتمة رجل ذبح للضیف شاه فذکر اسم الله تعالی علیها فقال یحل اکله و لو ذبح لاجل قدوم الامیر او قدوم واحد من العظماء و ذکر اسم الله تعالی یحرم اکله لانه ذبح لاجله تعظیماً له. (البحر الرائق ج۸، ص۱۶۸، کتاب الذبائح) و مثله فی البزازیة علی هامش الهندیة ج۶، ص۳۰۲، نوع من کتاب الصید.

د څناور قبر ته بیول او هلته ئې د حلالولو حکم

سوال: څینې خلک قبرونو ته څناور یعنې وزې، میږې او د اسې نور بیایي او هلته نې ذبح کوي شرعاً د اسې څناورو حکم څه دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د یوه بزرګ یا ولي د ایصال ثواب لپاره کوم څناور حلالول او غوښه نې په غریبانو او مسکینانو باندې ویشل یو جائز صورت دی۔ لیکن وزې او د اسې نور مالونه د هغو قبرونو ته بیول او د هغو په نومونو نې حلالول حرام دي او له دي څخه ذبیحه حرامیږي اګر که د ذبح په وخت کښې ډیر واړي بسم الله الله اکبر ویلي هم وي۔

لما قال العلامة ابن نجیمؒ: ذبح لقدوم الامیر او لواحد من العظماء یحرم و لو ذکر الله تعالی. (الاشباه و النظائر ج۳، ص۲۳۰، کتاب الصید و الذبائح)

قال العلامة ابن نجیم المصری رحمه الله: و فی التتمة رجل ذبح للضیف شاة فذکر اسم الله تعالی علیها فقال یحل اکله ولو ذبح لاجل قدوم واحداً من العظماء و ذکر اسم الله تعالی یحرم اکله لانه ذبح لاجله تعظیماً له. (البحر الرائق ج۸، ص۱۶۸، کتاب الذبائح) و مثله فی البزازیة علی هامش الهندیة ج۶، ص۳۰۲)

په قبرونو باندې د ګلانو څادرونه خوړول او څراغونو بلول

سوال: د اولیاوو قبرونه سپینول او په هغو باندې د ګلدارو څادرونو غوړول، غلاف خوړول، بنګلول او د څراغونو بلول شرعاً جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: دا ټول کارونه بد او مفضي الی الشرک دي۔ ځکه چه دا کارونه د تعظیم په توګه کیږي په د اسې حال کښې چه له الله تعالی څخه پرته د هیڅا هم د اسې تعظیم ناجائز دی۔ او په دې کښې د مال ضائع کیدل هم دي او په بې فائدې کارونو کښې د مال مصرفول شرعاً منع دي۔ لهذا له د اسې بدو کارونو څخه ځان ساتل ضروري دي او کوم کار چه د محمدي ﷺ له طریقې (قرآن او سنت) څخه ثابت دی هغه باید اختیار کړی۔

لما ورد فی الحدیث: و عن جابرؓ قال نهی رسول اللهﷺ ان یجصص القبر و ان یبنی علیه و ان یقعد علیه. رواه مسلم. و قال ایضاً: عن ابی الهیاج قال لی علی الا ابعثك علی ما بعثنی علیه رسول اللهﷺ ان تدع تمثالاً الا طمسته و لا قبراً مشرفاً الا سویته. رواه مسلم. (مشکوة ص۱۴۸، باب فی دفن المیت)

قال العلامة عینیؒ: قال الفقهاء الخراسان و لا یمسح القبر و لا یقبله و لا یمسه فان کل ذلك من عادة النصاری. (البنایة فی شرح الهدایة ج۳، ص۵۴۰، باب الجنائز)

قال العلامة الحصکفیؒ: و اعلم ان النذر الذی یقع للاموات من اکثر العوام و ما یؤخذ من الدراهم و الشمع و الزیت و نحوها الی ضرائح الاولیاء الکرام تقرباً الیهم فهو با لاجماع باطل حرام ما لم یقصدوا صرفها لفقراء الانام و قد ابتلی الناس بذلك. (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج۲، ص۱۳۹، قبیل باب الاعتکاف، مطلب فی النذر الخ) و مثله فی الهندیة ج۵، ص۳۵۱، الباب السادس عشر فی زیارة القبور.

پیر (مرشد) ته د سجدې کولو حکم

سوال: جناب مفتي صاحب! زمونږ علاقې ته یو پیر راځي او خلك نې پښې بنګلوي او سجدې هم ورته کوي۔ د د اسې خلکو په اړه د شریعت مطهره څه حکم دی؟ بینوا توجروا۔

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

الجواب باسم ملهم الصواب: د ټول مسلمه امت په دې خبري باندې اتفاق دی چه له الله تعالی څخه پرته بل هیڅوا ته سجده لګول جائز نه دي او غیر الله ته سجده لګول شرك او کفر دی۔ د رسول الله ﷺ مبارك ارشاد دی چه "که چېرته له الله تعالی څخه پرته بل چا ته سجده جائزه وای نو ما به ښځو ته حکم کاوه چه خپلو خاوند انو ته سجدې وکړی"۔ لهذا په هیڅ صورت کښې هم له الله تعالی پرته بل چا ته سجدې مه کوی۔ البته د پښو ښکُلول ځینو علماوو جائز کړي دي په دې شرط چه د غیر شرعي کار ارتکاب یکښې نه وي۔

قال العلامة الحصكفيؒ: و كذا ما يفعلون من تقبيل الارض بين العلماء و العظماء فحرام و الفاعل و الراضي به آثمان لانه يشبه عبادة الوثن و هل يكفران على الوجه العبادة و التعظيم كفر و ان على وجه التحية لا و صار آثماً مرتكباً للكبيرة. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج٦، ص ٣٨٣، الكراهية، باب الاستبراء)

قال العلامة ملا على القاريؒ: و في الخلاصة و من سجد لهم ان اراد به التعظيم كتعظيم الله سبحانه كفر و ان اراد به التحية اختار بعض العلماء انه لا يكفر اقول هذا هو الاظهر. (شرح الفقه الاكبر ص ٢٩٤، فصل في الكفر صريحاً و كناية) و مثله في الهندية ج٥، ص ٣٦٨، الباب الثامن و العشرون في ملاقاة الملوك

د قبر د ښکُلولو حکم

سوال: ځینې خلك د اسې دي چه د اولیاء کرامو قبرونه ښکُلوي نو آیا د قبرونو ښکُلول شرعا جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د تعظیم او تکریم په توګه د قبرونو ښکُلول کفر او ګمراهي ده۔ او پرته د تعظیم له نیت څخه ښکُلول ئې حرام او کبیره ګناه ده۔ ځکه چه دا د یهودو او نصاراوو طریقه ده له دې وجهې له دې څخه پرهیز وکړی۔

قال العلامة الحصكفيؒ: و كذا ما يفعلون من تقبيل الارض بين يدى العلماء و العظماء فحرام و الفاعل و الراضي به آثمان لانه يشبه عبادة الوثن و هل يكفر ان على الوجه العبادة و التعظيم كفر و ان على وجه التحية لا و صار آثماً مرتكباً للكبيرة. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج٦، ص ٣٨٣، الكراهية، باب الاستبراء)

قال العلامة ملا على القاريؒ: و في الخلاصة و من سجد لهم ان اراد به التعظيم كتعظيم الله سبحانه كفر و ان اراد به التحية اختار بعض العلماء انه لا يكفر اقول هذا هو الاظهر..... و اما تقبيل الارض فهو قريب من السجود. (شرح الفقه الاكبر ص ٢٩٤، فصل في الكفر صريحاً و كناية) و مثله في الهندية ج٥، ص ٣٦٨، الباب الثامن و العشرون في ملاقاة الملوك

د قبر طواف او د خـــــاوري ئې په ځان پورې د مبتلو حکم

سوال: د کوم بزرګ د قبر خاوره، تیږه او د اسې نور په ځان پورې مبتل یا د هغه په شاوخوا باندې د طواف کولو شرعا څه حکم دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د کوم بزرګ د قبر مسح کول، ښکُلول، یا د هغه خاوره، ډبره او د اسې نور په ځان پورې مبتل ټول ناروا او قبیح بدعت دي۔ همدارنګه د قبر طواف هم حرام دی ځکه چه طواف یو عبادت دی چه له بیت الله شریف سره خاص دی۔ له دغو ټولو کارونو څخه باید مسلمانان ځانونه وساتي۔ د یوه مسلمان له شان سره د دې کارونو ترسره کول نه ښایي۔

قال العلامة بدر الدين العينيؒ: قال الفقهاء الخراسان لا يمسح القبر و لا يقبله و لا يمسه فان كل ذلك من عادة النصارى قال و ما ذكروه صحيح. و قال الزعفرانيؒ: لا يستلم القبر بيده و لا يقبله قال و على هذا مضت السنة و ما يفعله العوام الآن فهو من البدع المنكرة شرعاً. (البناية شرح الهداية ج٣، ص ٥٤٠، في آخر باب الجنائز)

و في الهندية: و لا يمسح القبر و لا يقبله فان ذلك من عادة النصارى. (الفتاوى الهندية ج٥، ص ٣٥١، الباب السادس عشر في زيارة القبور الخ)

مـــــــد د کُن شاه جیلاني مدد کُن شاه بغداد په الفاظو ســـــــره شیخ عبد القادر جیلاني ته د ناري وهلو حکم

سوال: که چېرته یو سړی د شیخ عبد القادر جیلاني په اړه د اعقیده ولري چه که چېرته هغه ته د مصیبت په وخت کښې په لاندینې الفاظو ناري ووهل شي نو د ناري وهونکي سړي مدد کوي او مصیبت ئې لري کوي۔

اغثني و امددني في قضاء حاجتي يا قاضي الحاجات، يا شيخ عبد القادر جيلانيؒ، مدد کُن شاه شهاني، مدد کُن شاه جيلانيؒ، مدد کُن شاه بغدادؒ۔

او دا الفاظ پخپله هم د وظیفې په توګه تلاوت کوي او نورو ته هم د دې الفاظو ترغیب ورکوي۔ نو د شریعت له مخې د د اسې عقیده لرونکي سړي په څه حکم وي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته څوك سیدنا شیخ عبد القادر جیلاني رحمه الله ته په دې نیت او عقیدې سره ناري وهي چه هغه زمونږ ناري اوري او را رسیږي او امداد مي هم کوي نو دا یوه مشرکانه عقیده ده ځکه چه دا د الله تعالی صفات دي او په دې کښې له هغه سره څوك شریك او ملګری نشته۔

لما قال العلامة الكردرى رحمه الله: من قال ان ارواح المشائخ حاضرة تعلم بكفر. (فتاوى بزازية على هامش الهندية ج٦، ص ٣٢٦، الفصل الثاني فيما يتعلق با لله تعالى)

قال العلامة عبد الحي اللكهنوى رحمه الله: جواب او كافر است في البزازية من قال ارواح المشائخ حاضرون يعلمون يكفر. (مجموعة الفتاوى فارسى ج٣، ص ٥، باب العقائد)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

وفات شوي بزرګان حاضر او ناظـــــر ګڼل

سوال: يو سړی دا وايي چه اولياء الله له وفات څخه وروسته هم حاضر او ناظر دي او په مشکلاتو کښې هغو ته ناري وهل صحيح دي۔ ليکن د دي په خلاف يو بل سړی دا صفات له الله تعالی سره د خاص کولو قائل دی۔ شرعاً د کوم يوه خبره صحيح ده؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: مشکل کښا يو اخي د الله تعالی ذات دی او هغه فعّالٌ لّمَا يُرِيْدُ دی۔ هغه ته په هر شي باندې قدرت کامله حاصل دی۔ له قرآنکريم او نبوي احاديثو څخه ثابت دي چه په دغو صفاتو کښې کوم نبي،ولي ور سره شريک او ملګری نه دی۔ البته د انبياوو او اولياوو په وسيلې سره دعا کول جائز دي۔ په قرآن پاک کښې راغلي دي چه: يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَ ابْتَغُوْٓا اِلَيْهِ الْوَسِيْلَةَ. (سورة المائدة، آيت ۳۵)

پاتې شوه دا خبره چه غير الله ته په دي معنی باندې ناري ور وهل چه هر څه د هغه په اختيار کښې دي شرک جلي دی کوم چه د هميشه لپاره جهنم ته د تلو ذريعه ده۔ ځکه چه د الله تعالی ارشاد دی چه: اِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ اَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ وَ يَغْفِرُ مَا دُوْنَ ذٰلِكَ لِمَنْ يَّشَآءُ (سورة المائدة، آيت ۴۸) و قال الله تعالی: وَ مَنْ اَضَلُّ مِمَّنْ يَّدْعُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَنْ لَّا يَسْتَجِيْبُ لَهٗٓ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ. (سورة الاحقاف، آيت ۵)

و قال العلامة ابن نجيم المصری رحمه الله: و منها ان ظن ان الميت يتصرّف فی الامور دون الله اعتقاده ذلك كفر. (البحر الرائق ج۲، ص۲۹۸، فصل عقد ليبان ما يوجب العبد علی نفسه بعد ما ذكر ما اوجبه الله تعالی عليه) و مثله فی البزازية علی هامش الهندية ج۶، ص۳۲۶، الفصل الثانی فيما يتعلق با لله.

اولياء کرام په امورو کښې متصرف ګڼل د کفر او شرک موجب دی

سوال: که چيرته يو څوک دا عقيده ولري چه اولياء الله په مونږ باندې بارانونه وروي او د بارانونو بنديدل هم د هغوی د خفګان دليل دی، هغوی په مشکلاتو او مصيبتونو کښې زمونږ مدد کوي۔ يعنې په تولو امورو کښې هغوی متصرف ګڼي۔ نو آيا شرعاً د دا سې سړي څه حکم دی؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: اولياء کرام اګر که د الله تعالی د دربار مقربين او محبوب ترين بندګان دي ليکن هغو ته د خدايي درجه ورکول او په کارونو کښې نې متصرف ګڼل د کفر او شرک موجب دی۔ د بارانونو ورول، خلکو ته د ګټې او تاوان رسول د الله تعالی کار دی بل څوک پکښې شريکول شرک جلي دی۔ د دي لپاره له د سې دول عقيدې څخه ځان ساتل ضروري دي۔

لما قال العلامة ابن نجيم المصری: و منها ان ظن ان الميت يتصرّف فی الامور دُون الله اعتقاده ذلك كفر. (البحر الرائق ج۲، ص۲۹۸، فصل عقد ليبان ما يوجب العبد علی نفسه بعد ما ذكر ما اوجبه الله تعالی عليه)

قال الله تعالی: قُلْ لَّآ اَمْلِكُ لِنَفْسِيْ نَفْعًا وَّ لَا ضَرًّا اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ وَ لَوْ كُنْتُ اَعْلَمُ الْغَيْبَ لَا سْتَكْثَرْتُ مِنَ الْخَيْرِ وَ مَا مَسَّنِيَ السُّوْٓءُ اِنْ اَنَا اِلَّا نَذِيْرٌ وَّ بَشِيْرٌ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ☆ (سورة الاعراف) و قال الله تعالی: قُلْ اِنِّيْ لَآ اَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَّ لَا رَشَدًا. (سورة الجن)

د غير الله په اړه د يعلم ما فی الصدور عقيده لـــــرل

سوال: له الله تعالی څخه پرته د کوم نبي يا ولي په اړه دا عقيده درلودل چه هغه د زړونو په راز خبر دي۔ آيا د دا سې عقيدې د درلودونکي سړي شرعاً څه حکم دی؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د زړونو د راز او پټو خبرو پيژندونکی يو اخي او يو اخي د الله تعالی ذات دی، دا د الله تعالی يو ځانګړی صفت دی، له الله تعالی پرته هيڅوک دا قدرت نه لري چه د انسان په ما في الضمير باندې پرته له خبرولو خبر وي۔ د غير الله په باره کښې دا سې عقيده درلودل شرک دی۔

قال الله تعالی: قُلْ لَّا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ الْغَيْبَ اِلَّا اللّٰهُ. (سورة النمل، آيت ۶۵)

قال الله تعالی: وَ اِنْ تُبْدُوْا مَا فِيْٓ اَنْفُسِكُمْ اَوْ تُخْفُوْهُ يُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللّٰهُ (سورة البقرة آيت ۲۸۴)

بلکه فقهاء کرام هغه کسان چه غير الله عالم الغيب ګڼي او په امورو کښې نې متصرف ګڼي کافر بللي دي۔

لما فی الهندية: رجل تزوج امرأة و لم يحضره الشهود قال خدای و رسول را گواه كردم، قال خدای را و فرشتگان را گواه كردم كفر. (الفتاوی الهندية ج۲، ص۲۶۶، الباب التاسع فی احكام المرتدين)

قال العلامة قاضيخانؒ: رجل تزوج امرأة بغير شهود فقال الرجل و المرأة خدای را و پيغامبر را گواه كرديم قالوا يكون كفراً لانهٗ اعتقد ان رسول اللّٰهﷺ يعلم الغيب حين كان فی الاحياء فيكف بعد الموت. (فتاوی قاضی خان علی هامش الهندية ج۳، ص۵۷۶، باب ما يكون اسلاماً من الكافر و ما لا يكون) و مثله فی البزازية علی هامش الهندية ج۶، ص۳۲۶، الثانی فيما يتعلق با لله.

په مصيبتونو او مشکلاتو کښې غير الله ته د ناري وهلو حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام د دي مسئلې په باره کښې چه په يوه مشکل او مصيبت کښې غير الله ته ناري وهل جائز دي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په مصيبتونو او مشکلاتو کښې له غير الله څخه استمداد او اعانت (کومک غوښتنه) ناجائز او حرام دي او د دا سې عقيده درلودل چه له الله تعالی پرته کوم وفات شوی نبي يا ولي په دنيا کښې د بندګانو په امورو کښې مداخله او تصرف کولی شي او د خلکو مشکلات حل کولی شي۔ دا عقيده درلودل کفر دی يعنې ما فوق الاسباب پرته له کوم سبب څخه د چا اسره نيول۔ شريعت له الله تعالی څخه د استعانت او استمداد (کومک او مدد غوښتنې) امر کړی دی۔

کما قال الله تعالی: وَ لَا تَدْعُ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَنْفَعُكَ وَ لَا يَضُرُّكَ فَاِنْ فَعَلْتَ فَاِنَّكَ اِذًا مِّنَ الظّٰلِمِيْنَ☆ (سورة يونس، آيت ۱۰۶)

و قال الله تعالی ايضاً: وَ مَنْ اَضَلُّ مِمَّنْ يَّدْعُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَنْ لَّا يَسْتَجِيْبُ لَهٗٓ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ. (سورة الاحقاف، آيت ۵)

لما ورد فی الحديث: قال رسول اللّٰهﷺ اذا سألت فا سئل الله و اذا استعنت فا ستعن با لله. (مشكوة ص۴۳۵، باب الصبر و التوكل)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

د یا شیخ عبد القادر جیلاني شیئاً لله وظیفه لوستل شرک دی

سوال: د یا شیخ عبد القادر جیلاني شیئاً لله وظیفه کول د شریعت له مخې څه حکم لري؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د یا شیخ عبد القادر جیلاني شیئاً لله وظیفه کول په دې عقیدې سره چه دی حاضر او ناظر دی او زموږ دا ندا او وظیفه اوري صریح شرک دی او له دا سې وظائفو څخه ځان ساتل ضروري دي۔

قال العلامة الكردري: تزوج بلا شهود و قال رسول خداى در او فرشتگان را گواه كردم، يكفر لانه اعتقد ان الرسول و الملك يعلمان الغيب. (الفتاوى البزازية على هامش الهندية ج٦، ص ٣٢٥، الثاني فيما يتعلق با لله)

قال العلامة قاضي خان: رجل تزوج امرأة بغير شهود فقال الرجل و المرأة خداى را و پيغامبر را گواه كرديم قالوا يكون كفراً لانه اعتقد ان رسول الله ﷺ يعلم الغيب حين كان في الاحياء فكيف بعد الموت. (فتاوى قاضيخان على هامش الهندية ج٣، ص ٥٧٦، باب ما يكون اسلاماً من الكافر ما لا يكون)

حضرت علي رضی الله تعالی عنه لره مشکل کُشا ګڼل شـــــــرک دی

سوال: د حضرت علي کرم الله وجهه په باره کښې د مشکل کشا والي عقیده درلودل د شرعي نقطهٔ نظر له مخې څه حکم لري؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: له الله تعالی څخه پرته له مخلوق څخه د مافوق الاسبابو افعالو د کیدلو عقیده درلودل شرک دی ځکه چه په دې صفت سره د مخلوق مصائب او مشکلاتو لرې کول د الله تعالی خاصه ده۔ البته که چېرته حضرت علي رضی الله عنه ته مجازاً مشکل کُشا وویل شي نو په دې سره شرک نه لازمیږي۔ بیا هم عوام د دې فرق او امتیاز نه شي کولی۔ هغوی باید د دا سې عقائدو له درلودلو څخه ځان وساتي۔

لما قال العلامة ابن نجيم: منها ان ظن ان الميت يتصرف في الامور دعن الله اعتقاده ذلك كفر. (البحر الرائق ج٢، ص ٢٩٨، فصل عقد ليمان ما يوجب العهد على الخ)

د ږیرې د لنډولو جائز بلل او ګناه نه ګڼلو حکم

سوال: څه فرمایي علماء کرام د دا سې سړي په باره کښې چه د هغه عقیده دا وي چه د ږیرې لنډول جائز دي او هیڅ ګناه پکښې نشته۔ او په ژبې سره د خپلې دې عقیدې اظهار هم کوي۔ د شریعت له مخې د دا سې سړي څه حکم دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د ږیرې پریښودل د اسلام په شعائرو کښې داخل دي او له روایتونو څخه دا ثابت شوي دي چه ږیره د رسول الله ﷺ او د صحابهٔ کرامو له متواترو سنتونو څخه ده۔ د فقهاوو په نزد د ږیرې اندازه تاکل شوي ده۔ چه دې ته په کتو سره د ږیرې لنډول حرام او ناجائز دي۔ که چېرته یو څوک دا ګناه ګڼونه بولي او په دیده او دانسته توګه د دې جرأت وکړي او د

ږیرې پریښودل له ځانه یوه جوړه شوې طریقه وبولي نو دا سې عقیده د کفر موجب دی۔ البته که چېرته د ږیرې د لنډولو د جواز عقیده و نه لري یوا ځې په ژبه باندې اصرار پرې کوي نو بیا هم دا خبره د کفر له خطرې څخه خالي نه ده۔ د دا سې عقیدې له درلودلو یا په ژبې باندې د دا سې خبرو د اصرار له کولو څخه پرهیز وکړي۔

لما قال العلامة ملا علي القاري: و منها ان استحلال المعصية صغيرة كانت او كبيرة كفر اذا ثبت كونها معصية بدلالة قطعية و كذا الاستهانة بها كفر بان يعدها هينة سهلة و يرتكبها من غير مبالات بها و يجريها مجرى المباحات في ارتكابها. (شرح الفقه الاكبر ص ٢٢٥، مسئلة في استحلال المعصية)

قال العلامة ابن عابدين: لكن في شرح العقائد النسفية استحلال المعصية كفر اذا ثبت كونها معصية بدليل قطعي. (رد المحتار ج٢، ص ٢٩٢، مطلب استحلال المعصية القطعية كفر) و مثله في شرح العقيدة الطحاوية ص ٣٦٣، لا نكفر احداً من اهل القبلة الخ

د دین په ضروریاتو باندې د استهزاء کولو حکم

سوال: څه فرمایي علماء کرام د دا سې سړي په باره کښې چه دا عقیده ولري چه د الله تعالی توحید (نعوذ با لله) یوه توکه ده، شریعت دسرمایه دارانه او جاګیردارانه نظام پلوی دی، لمونځ او روژه هیڅ شیان نه دي، زما یو مستقل دین دی چه په قبلولو سره ټي خلکو ته کامیابي ده۔ نو شرعاً د دا سې سړي حکم څه دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د دا سې عقیدې درلودونکی سړی مرتد او کافر دی ځکه چه د دین په ضروریاتو باندې توکي کوي او تري منکر دی۔ د اهل اسلام با اثره خلك (د وخت حاکم) ته ضروري ده چه د توبې نه ایستلو په صورت کښې د دا سې مرتد ته سزا ورکړي او ټول مسلمانان دې له دا سې سړي څخه قطع تعلق اختیار کړي۔

لما قال العلامة ملا علي القاري: و من وصف الله بما لا يليق به او سخر باسم من اسمائه او بامر من اوامره او انكر وعده او وعيده يكفر و كذا مخالفة ما اجمع عليه و انكاره بعد العلم به يعني من امور الدين كفر. (شرح الفقه الاكبر ص ٢٢٧، مسئلة استحلال المعصية و لو صغيرة كفر)

قال العلامة ابن عابدين: و كذا في مخالفته او انكار ما اجمع عليه بعد العلم به لان ذلك على ان التصديق مفقود. (رد المحتار ج٤، ص ٢٢٢، باب المرتد) و مثله في البزازية على هامش الهندية ج٦، ص ٣٢٣، كتاب الفاظ الكفر اسلاماً، الثاني فيما يتعلق الخ

د قرآن پاك د پانو څیرل او بې حُرمتي کول د کفر موجب دي

سوال: د قرآن کریم د پانو څیرل او د بې ادبي او بې حرمتي په صورت کښې ټي په زمکي باندې د غورځوونکي سړي شرعاً څه حکم دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: فقهاوو تصریح کړي ده چه د قرآن پاك توهین او سپکوالی کفر دی۔

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

اګر که سپکاوی کوونکی د الله تعالی په یو والي باندې او د رسول الله ﷺ په رسالت باندې قائل او معتقد هم وي. د لسې سرې چه په زړه کښې د قرآن پاک دومره عظمت نه وي چه پاڼې ئې پرې کوي او په زمکې باندې ئې غورځوي د اسلام له دائرې څخه خارج دی.

لما قال العلامة ابن عابدینؒ: او وضع مصحفاً فی قاذورة فانه یکفر و ان کان مصدقاً لانهٗ ذلك فی حکم التکذیب. (رد المحتار ج٤، ص٢٢٢، باب المرتد)

قال العلامة ملا علی القاریؒ: من استخف بالقرآن او بالمسجد او بنحوه مما یعظم فی الشرع کفر و من وضع رجله علی المصحف خالفاً استخفافاً کفر. انتهی. (شرح الفقه الاکبر ص٢٤٩، فصل فی القرأة و الصلوٰة) و مثله فی الهندیة ج٢، ص٢٢٦، الباب التاسع فی احکام المرتدین.

په حرامو باندې د حلال عقیده درلودل د کفر موجب دی

سوال: که چېرته یو سړی په حرام شي باندې د حلالوالي عقیده ولري نو شرعاً ئې څه حکم دی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: فقهاء کرامو دا تصریح کړې ده چه د علم او پوهې تر څنګ په حرام شي باندې د حلال او په حلال شي باندې د حرامو عقیده درلودل د کفر موجب دی. البته د ځینو استثنایي صورتونو حکم فقهاء کرامو په جلا توګه بیان کړی دی چه مذکوره الصدر حکم هلته لاڼ میږي چه بعینه حرام حلال وګڼي او د حرام لغیره د حلال ګڼلو عقیده د کفر موجب نه دی. د حرام بعینه د حلال ګڼلو عقیده هم په هغه وخت کښې د کفر موجب وي چه حرمت ئې په قطعي دلیل سره ثابت وي. که چېرته ئې حرمت د خبر واحد له مخې ثابت وي نو بیا دا هم د کفر موجب نه دی.

لما فی الهندیة: و من اعتقد الحرام حلالاً او علی القلب یکفر اما لو قال لحرام هذا حلال لترویج السلعة او بحکم الجهل لا یکون کفراً و فی الاعتقاد هذا اذا کان حراماً لعینه و هو یعتقدهٗ حلالاً حتی یوکن کفراً و اما اذا کان حراماً لعینه انما یکفر اذا کان حراماً لعینه انما یکفر اذا کانت الحرمة ثابتةً بدلیل مقطوع به اما اذا کانت باخبار الاحاد فلا یکفر کذا فی الخلاصة. (الفتاوی الهندیة ج٢، ص٢٧٢، الباب التاسع فی احکام المرتدین)

قال العلامة ابن نجیمؒ و الاصل ان من اعتقد الحرام حلالاً فان کان حراماً لغیره کمال الغیر لا یکفر و ان کان لعینه فان کان دلیله قطعیاً کفر و الا لا. (البحر الرائق ج٥، ص١٢٢، باب المرتد) و مثله فی خلاصة الفتاوی ج٤، ص٣٨٣، الفصل الثانی فی الفاظ الکفر الخ.

د رقص او سرود د حلال او روا ګڼلو حکم

سوال: یو سړی رقص (ګډا) او سرود او سندري حلال او جائز بولي. شرعاً د لسې سړي حکم څه دی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: ساز، سرود، رقص او سندري د شریعت له مخې ناجائز او حرام دي

لیکن په کولو سره ئې یو مسلمان د اسلام له دائرې څخه نه ووځي. البته چه کوم سړی دا حرام فعل لره حلال وګڼي او حرام ئې و نه بولي نو دا د کفر موجب دی. لهذا چه کوم سړی ساز او سرود، رقص او سندري حلال او جائز وبولي هغه د اسلام له دائرې څخه وتلی دی.

لما قال العلامة ابن البزاز الکردریؒ: قال القرطبیؒ علی ان هذا الغناء و ضرب القضیب و الرقص حرام بالاجماع عند مالك و ابی حنیفةؒ و الشافعیؒ و احمد فی مواضع کتابه و سید الطائفة شیخ احمد صرح بحرمته و رأیت فتوی شیخ الاسلام سید جلال الملة و الدین (الگیلانی) ان استحل هذا الرقص کافراً و لما علم ان حرمته بالاجماع لزم ان یکفر استحلاله. (الفتاوی البزازیة علی هامش الهندیة ج٦، ص٣٤٩، کتاب الفاظ القرآن تکون اسلاماً او کفراً او خطاء، المتفرقات فی آخر الکتاب)

و قال العلامة علاؤ الدین الحصکفیؒ: و فی السراج و دلت المسئلة ان الملاهی کلها حرام و یدخل علیهم بلا اذنهم لانکار المنکر. قال ابن مسعود رضی الله تعالی عنه صوت اللهو و الغناء ینبت النفاق فی القلب کما ینبت الماء النبات. (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج٦، ص٣٤٨، کتاب الخطر و الاباحة) و فی ج٤، ص٢٥٩، و من یستحل الرقص قالوا بکفره، باب المرتد) و مثله فی رد المحتار ج٤، ص٢٥٩، باب المرتد.

په یزید باندې لعنت ویل جائز نه دي

سوال: څه فرمایي علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چه د کربلا په میدان کښې په اهل بیتو یعني حضرت حسین رضی الله عنه او د هغه په ملګرو باندې یزید او شمر بې شمیره ظلمونه کړي او هغوی ئې له ډیرې بې رحمۍ سره شهید ان کړي دي. نو د لسې د کلك زړه لرونکی او ظالم سړي ته کافر او لعنتي ویل جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د یزید او د هغه د متابعینو په فسق، فجور، ظلم او زیاتي کښې هیڅ شك او شبهه نشته لیکن د دې ظلم او فسق له وجهې په هغو باندې د کفر او ارتداد حکم لګول مشکل دی ځکه چه له هغو څخه هیڅ داسې یو کار نه دی تر سره شوی چه د هغو په ارتداد باندې دلالت وکړي او نه دا ثابته ده چه حضرت حسین رضی الله عنه ئې د حلال ګڼلو په صورت کښې قتل کړی دی. همدارنګه په هغو (یزید او شمر) باندې له لعنت ویلو څخه د ځان ساتل هم بهتر دي. ځکه چه نبي کریم ﷺ په لمونځ کوونکو او اهل قبله باندې لعنت ویل منع کړي دي. همدا وجه ده چه اکثره محققین علماء کرام په دې مسئلې کښې د توقف ارخ غوره کړی دی ځکه چه د ایمان دارومدار په خاتمې باندې دی او دا علم یواځې او یواځې الله تعالی لري چه د چا خاتمه به په ایمان باندې وي او د چا به نه وي.

لما قال العلامة ملا علی القاریؒ: و اما اختلفوا فی یزید بن معاویة حتی ذکر فی الخلاصة و غیره انهٗ لا ینبغی اللعن علیه ای و لا علی الحجاج لان النبی ﷺ نهی عن لعن المصلّین و من کان من اهل القبلة..... و علی الجملة فلی لعن الاشخاص خطر فیجتنب و لا خطر فی السکوت عن لعن ابلیس فضلاً عن غیره. انتهی. و لان الامر بقتل الحسینؓ لا یوجب الکفر فان قتل غیر الانبیاء علیهم السلام کبیرة عند اهل السنة و الجماعة الا ان یکون مستحلاً و هو غیر مختص بالحسینؓ و

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

نحوه مع ان الاستحلال امر يطلع عليه الا ذو الجلال. (شرح الفقه الاكبر ص ۷۲، الكبيرة لا تخرج المؤمن عن الايمان)

و قال العلامة تفتازانيؒ: انما اختلفوا في يزيد بن معاوية حتى ذكر في الخلاصة و غيرها انهٗ لا ينبغي اللعن عليه و لا على الحجاج لان النبيﷺ نهى عن لعن المصلين و من كان اهل القبلة. (شرح العقائد ص ۱۱۶، كف عن ذكر الصحابةؓ الا بخير) و مثله في مجموعة المفتاوی (اردو) ج ۱، ص ۵۹، كتاب العقائد.

په شـــــــريعت مطهره باندې د فيصلې له منلو څخه انکـــــــار کوونکی د اســـــــلام له دائرې څخه وتلی دی

سوال: د دوو سړيو تر منځ په کومې خبرې باندې اختلاف راغی۔ يوه وويل چه مونږ په محمدیﷺ شريعت باندې فيصله کوو او بل په ښکاره الفاظو انکار تړې وکړ او وئې ويل چه زه د انګريزي قانون په مطابق فيصله کول غواړم او په شريعت باندې د فيصلې کولو ته تيار نه يم۔ او هغه په دې خبرې باندې اقرار کوي بلکه د حاکم په مخکښې ئې د شريعت د فيصلې په انکار باندې دستخط هم کړی دی۔ شرعاً د دې سړي حکم څه دی؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د ايمان ننبنه دا ده چه مؤمن د ژوند په ټولو معاملاتو کښې فيصله کُن قانون يواځې او يواځې خدايي قانون او اسلامي شريعت ومنې۔ او چه کوم سړی له زړه څخه اسلامي شريعت د ژوند په معاملاتو کښې فيصله کُن قانون نه مني هغه هيڅکله او هيڅکله مؤمن نه دی بلکه کافر او د اسلام له دائرې څخه وتلی دی ليکن که چېرته له زړه څخه اسلامي شريعت فيصله کُن قانون مني ليکن په هغه باندې فيصله کولو ته تيار نه وي نو دا بيا د منافقانو علامه ده۔ الله تعالی د مسلمانانو په باره کښې فرمايي: فَلاَ وَ رَبِّكَ لاَ يُؤْمِنُوْنَ حَتّٰى يُحَكِّمُوْكَ فِيْمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لاَ يَجِدُوْا فِيْ اَنْفُسِهِمْ حَرَجاً مِّمَّا قَضَيْتَ وَ يُسَلِّمُوْا تَسْلِيْماً. (النسآء آيت ۶۵) او د منافقينو په باره کښې فرمايي: وَ اِذَا قِيْلَ لَهُمْ تَعَالَوْا اِلٰى مَا اَنْزَلَ اللّٰهُ وَ اِلَى الرَّسُوْلِ رَاَيْتَ الْمُنٰفِقِيْنَ يَصُدُّوْنَ عَنْكَ صُدُوْداً. (سورة النساء آيت ۶۱) د دې لپاره هيڅ يو مسلمان بايد د لسې و نه کړي۔

لما قال العلامة طاهر بن عبد الرشيد البخاریؒ: رجل قال لآخر اذهب معي الى الشرع فقال الآخر انا پياده نياورى نروم لا يكفر ..... و لو قال من شريعت چه دائم او قال ديوس است مرا بشريعت چه كنم يكفر. (خلاصة الفتاوی ج ۴، ص ۳۸۸، كتاب الفاظ الكفر، الجنس الثامن)

قال العلامة قاضيخانؒ: رجل بينه و بين غيره خصومة فقال رجل حكم خدائی چنين است فقال آخر من حكم خدا را چه دانم، قال ابو قاسم رحمه الله هو كفر لانه استخفاف بامر الله. (الفتاوی قاضی خان علی هامش الهندية ج ۳، ص ۵۷۵، باب ما يكون كفراً و ما لا يكون) و مثله في الهندية ج ۲، ص ۲۷۲، كتاب احكام المرتدين، و منها ما يتعلق با لعلم و العلماء.

"زه شريعت ته ضرورت نه لرم" د ويلو حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چه د خسر او زوم تر منځ څه کورنی اختلاف وو۔ خسر زوم ته وويل چه له ما سره د شريعت مطهر مطابق فيصله وکړه۔ زوم په

ځواب کښې ورته ووېل چه "زه شريعت ته ضرورت نه لرم" د دلسې سړي په باره کښې د شريعت حکم څه دی؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: "زه شريعت ته ضرورت نه لرم" په الفاظو کښې څه نا څه ابهام پيدا کيږي۔ که چېرته ئې د ويونکي مقصد دا وي چه زه په دې مسئلې کښې په شريعت باندې د فيصلې کولو ضرورت نه محسوسوم۔ نو ښکاره خبره ده چه دا الفاظ د کفر موجب نه دي۔ ليکن که چېرته ئې له دلسې الفاظو څخه مقصد له شريعت څخه انکار وي نو شريعت چونکه د انساني عالم لپاره د ژوند پوره ضابطې ته وايي له دې وجهې له هغه څخه انکار د کفر موجب دی۔

قال العلامة طاهر بن عبد الرشيد البخاریؒ من به رسم كنم نه يحكم قال الحاكم عبد الرحمٰن ان كان مراده فساد الخلق و ترك الشرع و اتباع الرسم لا رد الحكم لا يكفر و ان كان مراده فساد الخلق و ترك الشرع و الحكم يكفر. (خلاصة الفتاوی ج ۴، ص ۳۸۴، الفصل الثاني في الفاظ الكفر الخ)

لما قال في الهندية: رجل قال لخصمه اذهب معي الى الشرع او قال با لفارسية با من بشرع برو و قال خصمه پياده بيار تا بروم پيے چير نروم يكفر لانه عائد الشرع. (الفتاوی الهندية ج ۲، ص ۲۷۱، الباب التاسع في احكام المرتدين و منها ما يتعلق با لعلم و العلماء)

قال العلامة ابن بزاز الكردریؒ قال من شريعت چه دائم او قال ديوس هست من شريعت را چه كنم يكفر. (فتاوی بزازية على هامش الهندية ج ۶، ص ۳۳۸، كتاب الفاظ تكون اسلاماً او كفراً او خطاءً، الباب الثامن في الاستخفاف با لعلم) و مثله في فتاوی قاضی خان على هامش الهندية ج ۳، ص ۵۷۵، باب ما يكون كفراً من المسلم و ما لا يكون.

له خدای او رسول څخه د برائت (بيزاری) اعلان د کفر موجب دی

سوال: يوه سړي د غصې په حالت کښې ووېل چه زما له خدای او رسول سره هيڅ واسطه نشته او زه له هغو څخه بيزاره يم۔ د دې دول الفاظو ويونکي شرعاً څه حکم دی؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: "زما له خدای او رسول سره هيڅ واسطـــــــه نشته" مطلب دا دی چه ما ته د خـــــــدای او رسول ضرورت نشته۔ لهذا که چېرته له پوهې سره او دې کلمې لره د کفر د کلمې په ګټلو سره له خولې را و ايستلـــــــه نو په دلسې خبرې باندې د خدای او رسولﷺ استخفاف (سپکاوی) لازميږي کوم چه د کفر موجب دی۔ له دې وجهې دلسې سړی مرتد او واجب القتل دی۔

لما قال العلامة عالم بن العلاء الانصاریؒ: و لو قال لرجلٍ حكم خدا تعالى چنين است فقال من چه كنم حكم خدا چه دانم فهذا استخفاف با لله فيكفر. (الفتاوی التاتارخانية ج ۵، ص ۴۶۸، كتاب احكام المرتدين، المتفرقات)

قال العلامة ابن البزاز الكردری رحمه الله: و لو قال الله يعلم انی افعل او لا افعل او برىء من الانبياء و الملئكة يكفر اذا علم انهٗ كاذب. (فتاوی بزازية على هامش الهندية ج ۶، ص ۳۲۶، الثاني فيما يتعلق با لله) و مثله في خلاصة الفتاوی ج ۴، ص ۴۷۵، كتاب الفاظ الكفر.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

په لمانځه کښې د رسول الله ﷺ تصور په زړه کښې راوستل

سوال: د لمانځه په حالت کښې د نبي کریم ﷺ تصور په زړه کښې راوستل جائز دي او که نه؟ په داسې حال کښې چه په تشهد کښې د "صلوٰة او سلام" په وخت د ده مبارک ﷺ تصور په زړه کښې راوستل ضروري ده۔ نو په داسې حالت کښې د ده مبارک ﷺ د شمائلو د تصور په کولو سره پرې درود او سلام ویل د شریعت له مخې څه حکم لري؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: لمونځ یو داسې عبادت دی چه له سره تر پایه په خالصه توګه د الله تعالی عبادت دی۔ د دې لپاره د عبادت او بندګی په توګه د لمانځه په هرې یوې برخې کښې باید د خدای د یاد او د هغه په خشوع او خضوع کښې سړی ډوب وي۔ نو د عبادت او بندګی په توګه په لمانځه کښې له الله تعالی پرته هیڅوک هم په ذهن او تصور کښې نه راوستل ضروري دي۔

قال شرف الدین اسماعیل بن المقریؒ فی قصیدة تائیة: تخاطبه ایّاك نعبد. علی غیره فیها بغیر ضرورة. الی ان قال و با لجملة فا لتفکر فی الصلوٰة بغیر ما یتعلق بها الحال ان کان دنیویاً فهو مکروه اشد الکراهة بل مفسد عند اهل الحقیقة لفوات الرکن الاصلی المقصود با لذات.

البته که چېرته د عقیدت او احترام په توګه د تشهد په ضمن کښې د نبي کریم ﷺ تصور په ذهن کښې راشي او ذهن د هغه خوا ته لاړ شي نو بیا څه پروا نه لري۔

لما قال الامام الغزالیؒ: و احضر قلبك النبی ﷺ و شخصه الکریم و قل "سلام علیك" ایها النبیّ و رحمة الله و برکاته لیصدق املك فی انه یلقه و یرد علیك ما هو او فی عنه. (احیاء علوم الدین ج۱، ص ۱۶۹، ما ینبغی ان یحضر فی القلب)

همدارنګه د درود او سلام د ویلو په وخت کښې د نبي کریم ﷺ په اړه د حاضر او ناظر او مخامخ درود د اوریدو عقیده مه لري بلکه په دې عقیدې باندې ټې ولولی چه الله تعالی د ملائکو یا نورو ذرائعو باندې زما درود او سلام نبي کریم ﷺ ته رسوي۔

د نبي کریم ﷺ په اړه د سیوري د نه درلودو عقیدې وضاحت

سوال: جناب محمد رسول الله ﷺ دعا کړې ده چه اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِیْ نُوراً او په قرآن مجید کښې هم ځای په ځای په نبي کریم ﷺ باندې د نور اطلاق شوی دی۔ نو چه کله دی مبارک ﷺ نور وي نو د نور خو باید چه سیوری نه وي۔ په داسې حال کښې چه د ده په اړه د سیوري د نه درلودو خبره په ځینو کتابونو کښې هم راغلې ده۔ نو آیا دا ربنتیا ده چه نبي کریم ﷺ سیوری نه درلود؟ د دې مسئلې څرنګوالی مطلوب دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته له صحیح نقل ځخه ثابته شي چه د معجزې په توګه د نبي کریم ﷺ سیوری په زمکې باندې نه لویده نو هیڅ یو مسلمان هم د دې خبرې په تسلیمولو کښې تأمل نه شي کولای۔ لیکن په دې اړه کوم صحیح حدیث او نقل موجود نه دی۔ د حدیثو

په متد اوله کتابونو یعنې صحاح سته کښې په دې مضمون کوم حدیث نه دی راغلی۔ البته شیخ جلال الدین سیوطي رحمه الله په خصائص الکبرٰی کښې په دې مضمون باندې یو حدیث مرسلاً روایت کړی دی:

عن ذکوان ان رسول الله ﷺ لم یکن یُرٰی لهٗ ظل فی شمس و لا قمر و لا انر قضاء حاجة. قال السیوطیؒ قال ابن سبع من خصائصه ان ظله کان لا یقع علی الارض و انهٗ کان نورا فکان اذ مرّ فی الشمس او القمر لا ینظر لهٗ. (خصائص الکبرٰی ج۱، ص۶۸، باب الآیة فی انه ﷺ لم یرٰی لهٗ ظل)

لیکن دا روایت د څو وجوهاتو له مخې ثابت او معتبر نه دی چه په لاندې ډول دي:

﴿۱﴾ د دې لپاره چه په لمر او سپوږمۍ کښې د تګ، راتګ، نلستې او ولاړې واقعات کوم چه په سفر، حضر او د صحابۂ کرامو د مجامعو په مخکښې د نبي کریم ﷺ په ټول عمر کښې غیر محصور او ډیر واړې پیښې شوې دي۔ او لیدونکي صحابۂ کرام ټي زرګونو ته رسیږي۔ بیا د صحابۂ کرامو له عادت څخه دا هم څرګندیږي چه هغو به د نبي کریم ﷺ وړې وړې خبرې، تګ او راتګ، آثار او حالاتو د بیانولو ډیر اهتمام کاوه۔ د دغو کارونو په یقیني توګه دا مقتضٰی ده چه که چېرته دا واقعه د معجزې په توګه هم پیښ شوې وای نو روایتونه به ټي د صحابۂ کرامو له یوې عظیمې ډلې څخه راغلي وای او د تواتر حد ته به رسیدلی وای۔ لیکن چه کله د حدیثو په ذخیره باندې نظر واچول شي نو په دې باره کښې یو مرسل حدیث او هغه هم د سند له خوا ضعیف تر لاسه کیږي کوم چه قوي قرینه د دې خبرې ده چه دا خبره د واقعې خلاف ده۔

﴿۲﴾ دا مرسل حدیث دی او د محدثینو یوه عظیمه ډله مرسل حدیث حجت نه بولي۔

﴿۳﴾ دا چه د دې حدیث لومړنی راوي عبد الرحمٰن ابن قیس زعفراني ضعیف، مجروح او د اعتبار وړ نه دی۔

قال الشیخ العلامة الذهبی رحمه الله: کذبه ابن مهدی و ابو زرعة و قال البخاری ذهب حدیثه و قال احمد لم یکن بشیء و صرح له الحاکم حدیثاً منکراً و صححه. (میزان الاعتدال ج۲، ص۵۸۳، و مثله فی التقریب ص) و قال العلامة ابن حجر کان ابن مهدی یکذبه. و قال احمد حدیثه ضعیف و لم یکن بشیء متروك الحدیث. و قال النسائی متروك الحدیث. و قال زکریا الساجی ضعیف کثیت عن حوثرة المنقری عنه. و قال صالح بن محمد کان یضع الحدیث. و قال ابن عدی عامة ما یرویه لا یتابعه علیه الثقات قُلتُ. قال الحاکم روی عن محمد بن عمر و حماد ابن سلمة احادیث منکرة منها حدیث من کرامة المؤمن علی الله ان یغفر لمشیعیه قال و هذا عندی موضوع و لیس الحمل فیه الا علیه. و قال الحاکم ابو احمد ذاهب الحدیث. و قال ابو نعیم الاصبهانی لا شیء. (تهذیب التهذیب ج۶، ص۲۳۱، رقم ۴۱۳۰)

او دوهم راوي عبد الملك بن عبد الله بن الولید هم مجهول الحاله دی او په متد اوله کتابونو کښې ټي حال مذکور نه دی۔

لنډه دا چه لومړی خو دا چه په داسې یوې عامې واقعې په اړه د ټولو صحابۂ کرامو سکوت او یواځې په دې باره کښې د یوه مرسل حدیث راتلل یواځې او یواځې له قوي راویت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

څخه د نه ثابت شوي علامه او تنبیه ده دوهمه دا چه دا روایت مرسل دی. دریمه دا چه راوي نې بالکل کاذب او واضع حدیث دی.

او ځینو حضراتو چه د نبي کریم ﷺ د سیوري په نه درلودلو کښې له دي حدیث څخه استدلال کړی دی چه الله تعالی نبي کریم ﷺ ته په قرآن مجید کښې نور ویلي دي یا ده مبارک ﷺ پخپله دا دعا کړې ده چه اللّٰهُمَّ اجْعَلْنِی نُوراً

نو دا استدلال بالکل د کتلو وړ نه دی. ښکاره خبره ده چه په آیت کښې او همدارنګه د دعا په حدیث کښې د نور کیدو څخه د هیڅا په نزد هم دا مراد نه دی چه د عناصرو د عالم کیفیات او آثار په ده مبارک ﷺ کښې نه وو یا د ده مبارک ﷺ دا هیله او دعا وه چه د عناصرو د عالم له مخصوصو آثارو څخه د جلا کیدو په صورت کښې (معاذ الله) د هوا غوندې نه لیدنکی شی جوړ شم. بلکه د علماوو او عقلاوو په اتفاق سره مراد تري دا دی چه لکه څرنګه چه نور د هدایت او بصیرت ذریعه ده همدا اوول نبي کریم ﷺ هم د هدایت ذریعه ده. او چونکه د نبي انتهایي کمال په همدې کښې دی چه د نبوت او هدایت نې د کمال درجې ته رسیدلی وي. د دې لپاره نبي کریم ﷺ اکثره پخپلو دعاګانو کښې د دې کمال غوښتنې کولې. او د همدې معنی په بناء قرآنکریم او تورات ته د قرآن د نص له مخې نور ویل شوي دي او د همدې معنی په اساس باندې صحابۀ کرامو نه هم د هدایت ستوري ویل شوي دي. برسیره پر دي د دې دعا چه "اللّٰهُمَّ اجعل لی نوراً" تول امت ته تلقین شوی دی او د نبي کریم ﷺ خصوصیت پکښې نشته.

ځینو حضراتو د جناب نبي کریم ﷺ د سیوري د نه درلودلو توجیه کړې ده چه دی مبارک ﷺ به چه کومې خوا ته روان وو په سر مبارک باندې به نې فرښتو یا د رحمت وریځو سیوری جوړاوه. دا روایت که چېرته ثابت هم شي نو نور صحیح او او صریح روایتونه ورسره تکر دي. مثلاً د صحیح بخاري شریف په حدیث کښې د هجرت په باره کښې د عائشه رضی الله عنها په روایت سره راغلي دي چه: ان ابا بکرٍ قام للناس و جلس رسول اللّٰه ﷺ صامتاً فطفق من جاء من الانصار ممن لم یرَ رسول اللّٰه ﷺ یحی ابا بکرٍ حتی اصابت الشمس رسول اللّٰه ﷺ فاقبل ابو بکر حتی ظلّ علیه بردائه فعرف الناس رسول اللّٰه ﷺ عند ذلك. کذا فی المواهب، و قال الزرقانی فی شرح المواهب: و عن ابی عقبة عن الزهری فطفق من جاء من الانصار یحسبه ایاهُ حتی اصابته الشمس اقبل ابو بکر یشیٖ ءاظله به. (شرح المواهب للزرقانی ج۱، ص۲۵۰) و بمثله یروی تظلیله علیه السلام فی حجة الوداع و هو مشهور و مذکورٌ فی عامة الکتب.

د دې لپاره یا خو د سیوري د نه درلودلو حدیث د دغو روایاتو په مقابله کښې نه ثابت شوی وګڼی او یا دا ووایی چه اول به د اسې کیدل او وروسته بیا دا حالت پاتې نه شو. علامه ابن حجر قسطلاني په مواهب کښې همدا صورت اختیار کړی دی. لکه څرنګه چه د هجرت د مذکور الصدر حدیث (په سر کښې د هجرت ذکر شوي حدیث) تر نقل کولو وروسته نې

فرمایلي دي.

قال الشیخ اشرف علی التهانویؒ: د سیوري د نه درلودلو یو روایت مو هم تر مخ تیر نه شو، یو اخې ځینو له "و اجعلنی نوراً" څخه استدلال کړی دی چه د نورو سیوری نه وي ځکه چه سیوری تباره وي لیکن د دي ضعیف والی ښکاره دی۔۔۔ روایت دی چه دی مبارک ﷺ پخپل سر باندې کله کله به سفر کښې د جامو سیوری کاوه۔ (امداد الفتاوی ج۵، ص۴۰۶۔ کتاب العقائد و الکفر)

کوم غوث یا قطب له مافوق الاسباب څخه متصرف ګڼل شرک دی

سوال کوم غوث یا قطب له مافوق الاسباب څخه پورته متصرف ګڼل جائز دي او که نه؟ او د شریعت له مخې د د اسې القابو استعمالول ورته صحیح دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب په احادیثو کښې نیکو او صالحو خلکو ته د ابدالو، اولیاوو او مجددینو اطلاق ثابت دي.

عن اُمّ سلمة عن النبی ﷺ قال یکون اختلاف عند موت خلیفة فیخرج رجل من اهل المدینة هارباً الی مکة فیاتیه ناسٌ من اهل مکة فیخرجونه فیبایعونه بین الرکن و المقام و یبعث الیه البعث من الشام فیخسف بهم بالبیداء بین مکة و المدینة فاذا رأی الناس ذلك اتاه ابدال الشام. الحدیث. (مشکوٰة ص۴۷۰، باب اشراط الساعة، الفصل الثانی)

په د اسې حال کښې چه د قطب او غوث اطلاق د نبي کریم ﷺ په احادیثو کښې هیڅیرته هم په لاس نه دی راغلی. البته علماء کرام او صوفیاء کرامو دا الفاظ هم د اولیاوو لپاره استعمالوي.

قال العلامة مُلّا علی القاریؒ: قلت فهم الاقطاب فی الاقطار یاخذون الفیض من قطب الاقطاب المسمّٰی بالغوث الاعظم فهم بمنزلة الوزراء تحت حکم الوزیر الاعظم الخ. (مرقاة المصابیح ج۱۰، ص۱۷۸)

قال الشیخ عبد الوهاب الشعرانیؒ: المبحث الخامس و اربعین فی بیان ان اکبر اولیاء بعد الصحابة القطب ثم الاقراء علی خلاف فی ذلك ثم الامامان ثم الاوتاد ثم الابدال. (الیواقیت و الجواهر ج۲، ص۶۹)

هو! که چېرته کوم سړی کوم غوث، قطب یا بل کوم ولي الله لره مافوق الاسباب متصرف وګڼي یا دا عقیده ولري چه الله تعالی د ټول عالم انتظام او انصرام د هغه لاس ته ور اچولي دي او جزوي کارونه پخپله حل کوي نو د شریعت له مخې جائز نه دي بلکه د دي خبرې معتقد مشرک ګڼل کیږي.

د کوم مخلوق په بـــــاره کښې دا عقیده چه د الله تعالـــــی له نور څخه جلا شوی دی، د اسلام خلاف ده

سوال انبیاء کرام یا پنج تن پاك (نبي کریم ﷺ، حضرت علي، حضرت فاطمه، حضرت حسن، حضرت حسین رضی الله عنهم) د الله تعالی د نور یوه برخه ګڼل او دا اویل چه دوی د الله تعالی له نور څخه جلا شوي دي، د شریعت له مخې څنګه دي؟ بینوا توجروا۔

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

الجواب باسم ملهم الصواب: د انبیاء کرام یا پنج تن پاك یا نور مخلوق د الله تعالی له نور څخه د جلا والي عقیده باطله او غلطه عقیده ده۔ او د جناب محمد رسول الله ﷺ په اړه خو په حیث د مسلمان زمونږ دا عقیده ده چه دی مبارك ﷺ نور دی لیکن په دي معنی سره چه "کیفیة ظاهرة بنفسها مظهر لغیرها" په انبیاء کرامو باندي په دي معنی سره د نور اطلاق صحیح دی۔ او د دي عقیدي لاندي چه د الله تعالی د نور یو جزء دي او د هغه له نور څخه جلا شوي دي د هغو له بشریت څخه انکار کول د قرآن او حدیثو له مخي باطل دي۔ او همد ارنګه د دوی له بشریت څخه خو انکار کول ممکن هم نه دي ځکه الله تعالی پخپله د ده مبارك ﷺ په ژبې باندي دا اعلان کړی دی چه "قل إنما انا بشر مثلكم" (سورت الکهف آیت ۱۱۰) البته که چېرته نور په معنی د هدایت سره شي نو اطلاق ئې په انبیاء کرامو او د دین په نورو مقتدایانو باندي هم صحیح دی۔

د شیخ عبد القادر جیلاني په اړه شرکیه او بې بنیاده کیسه

سوال: آیا دا صحیح ده چه د معراج په موقع باندي چه کله جبریل امین علیه السلام په سدرة المنتهی کښې د نبي کریم ﷺ ملګرتیا پریښوده نو شیخ عبد القادر جیلاني اوږه ورکړه او نبي کریم ﷺ ئې پورته کړ او د جنتونو د لیدلو په وخت کښې چه کله د ده ﷺ مبارکه پښه د کیلي په پتوکي باندي چه یوي حوري د کیلي له خوږلو څخه وروسته غورځولي وه، وښویدله نو سیدنا شیخ عبد القادر جیلاني له لویدو څخه بچ کړ۔ آیا داسي واقعات له شریعت سره ټکر دي او که نه او په دغو خبرو باندي عقیده درلودل شرعا جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د شیخ عبد القادري جیلاني په اړه زمونږ دا عقیده ده چه هغه یو با عمله عالم او د شریعت تابع ولي الله وو۔ د ده د ولایت مقام او مرتبه پخپله د هغه له کتابونو څخه څرګندیږي۔ دا ډول کیسي اصل نه لري او د تو هماتو له جملي څخه دي او د دي ډول کیسو په صداقت باندي د عقیدي په درلودلو سره ایمان سالم نه پاتي کیږي۔ نو د دي ډول بې ځایه او بې اصله کیسو په منونکو باندي توبه لازمه ده۔ که چېرته توبه و نه باسي نو اعتقاد پرې څرګند کفر او شرك دی۔

د جنت کچل په دنیا کښې ممکن نه دي

سوال: آیا د جنت د سور او اوږدوالي د دنیا د کچلو په شیانو باندي ممکن دي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د جنت سور او اوږدوالی د دنیا په پیمانشونو باندي به څرنګه معلوم کړی شي چه د هغه په اړه الله تعالی فرمایلي دي چه جَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمٰوٰتُ وَالْأَرْضُ (سورة آل عمران آیت ۱۳۳) او همد ارنګه په ګڼو احادیثو کښې هم د جنت د پراخوالي په اړه د مختلف ډول تشبیهاتو ذکر راغلی دی۔

من عبادة بن الصامتؓ قال قال رسول الله ﷺ مائة درجة ما بين كلّ درجتين كما بين السماء و الارض و الفردوس اعلاها درجة منها تجرى انهار الجنة الاربعة و من فوقها يكون العرش فاذا سألتم الله فاسئلوا الفردوس. (مشکوٰة ص ۴۹۶، باب صفة الجنة، الفصل الاوّل)

قال الشيخ فخر الدين الرازى رحمه الله: المقصود المبالغة في وصف سعة الجنة و ذلك لانهٗ لا شيء عندنا اعرض منهما و نظيره. قوله تعالى: خَالِدِيْنَ فِيْهَا مَا دَامَتِ السَّمٰوٰتُ وَ الْأَرْضُ. فان اطول الاشياء بقاءً عندنا هو السّمٰوٰت و الارض فخوطبنا على وفق ما عرفناه فكذا ههنا. (تفسير الكبير ج ۳، ص ۷۴، آل عمران، آیت ۱۳۳)

د تقویت الایمان د کتاب د ځینو عبارتونو وضاحت

سوال: "تقویت الایمان" چه مؤلف ئې حضرت مولانا شاه اسمٰعیل شهیدؒ دی۔ لاندینې عبارتونه ئې د شریعت له مخې صحیح دي او که څنګه؟

﴿۱﴾ وَإِذْ قَالَ لُقْمٰنُ لِابْنِهٖ وَهُوَ يَعِظُهٗ يٰبُنَيَّ لَا تُشْرِكْ بِاللّٰهِ إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيْمٌ۔

"او دا په یقین سره ومنی چه هر مخلوق که کوچنی وي یا لوی د الله تعالی د شان په وړاندي له چمار (څرمنو ته رنګ ورکوونکی) څخه هم زیات ذلیل دی"۔ (تقویت الایمان ص ۱۲/۱۴، فصل دوم، شرك فی العلم د بدي بیان)

﴿۲﴾ قال الله تعالی: وَمَا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللّٰهِ بِهٖ یعني لکه څرنګه چه خنزیر، لهو او مردار ناپاك او حرام دي همد ارنګه هغه ځناور هم حرام او مردار دي چه پخپله د ګناه صورت جوړیږي چه د الله تعالی څخه پرته د بل چا لپاره ګرځول کیږي۔ (تقویت الایمان ص ۳۳، کتاب العقائد)

﴿۳﴾ د مشکات د حدیث "باب عشرة النساء" کښې د اوښ د سجدې کولو لاندي دی لیکي چه له دي حدیث څخه څرګنده شوه چه انبیاء، اولیاء، امام، امام زادګان، پیران، پیر زادګان او شهیدان چه څومره د الله تعالی مقرب بندګان دي هغه ټول انسانان دي او عاجز بندګان زمونږ مشران ورونه دي لیکن هغو ته الله تعالی لویي ورکړې ده هغوی مشران ورونه شول۔ (تقویت الایمان ص ۵۰)

د دغو عبارتونو شرعي حیثیت واضح کړی چه د دغو عبارتونو له مخې حضرت شاه اسمٰعیل شهیدؒ باندي د کفر نسبت صحیح دی او که نه؟ که چېرته صحیح نه وي نو بیا حضرت شاه اسمٰعیل شهیدؒ ته چه څوك کافر وایي د شریعت له مخې ئې څه حکم دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د "تقویت الایمان" د نومورو عبارتونو مطلب دا دی چه:

﴿۱﴾ له دي عبارت څخه مراد د الله تعالی د انتهایي لوی والي څرګندول دي که د هغه ټول مخلوقات اګر که د هرې درجې وي له هغه سره هیڅ مناسبت نه لري لکه یو کولال چه له خټو څخه ښائسته کوزه جوړوي او په ډیر احتیاط سره ئې ردي۔ لیکن سره له دي ئې د ماتولو اختیار هم لري۔ او لوته په هیڅ درجه کښې له کولال سره نه شي برابرېدلی۔ پس د الله تعالی پاك ذات چه خالق محض دی له هغه سره د کوم مخلوق څه مناسبت کیدلی شي۔ چمار (د څرمنو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

رنګوونکی) د دنیا له شهنشاه د آدم علیه السلام له اولاد سره مناسبت او مساوات لري. د شهنشاه د چمار نه خالق دی او نه رازق. نو چمار (د خرمنو رنګوونکی) د ځینو وجوهاتو له مخې له شاهنشاه سره مساوات لري. لیکن له حق تعالی سره د چا د غومره مناسبت هم نه شي کیدلی. د دواړو جهانو سردار ﷺ د دې تر ځنګ چه له تول مخلوق ځخه لوړ، معزز، افضل او اعلی دی چه هیڅوک به هم د هغه په شان نه وي لیکن د الله تعالی د پاک ذات په مقابله کښې هغه هم یو مخلوق بنده دی. نو د اتول حق دي لیکن ځینې ناپوه خلك د خپلې ناپوهۍ له مخې د بې ځایه اعتراضونو په کولو سره د حق تعالی شان ته نقصان رسوي او بیا دي ته د رسول الله ﷺ محبت وایي. (فتاوی رشیدیه ص ۴۳، کتاب العقائد)

﴿۲﴾ د تقویت الایمان دا عبارت یعنې خنزیر، لهو او مردار ..... الخ

دا عبارت یا لکل صحیح دی ځکه چه ما اُهِلَّ بِهٖ لِغَیْرِ اللهِ اصلي مطلب او خلاصه مولانا شهید صاحب را ایستلی دی. او له ډیرې لویې مشرکانه عقیدې او طریقې ځخه نې مسلمانان بچ کړي دي. ځکه چه حضرت شیخ الهند د "وَ مَا اُهِلَّ بِهٖ لِغَیْرِ اللهِ" په تفسیر کښې لیکي چه:

په دغو ځناورو باندې چه له الله تعالی ځخه پرته د بل چا نوم وویل شي یعنې له الله تعالی پرته د کوم بُت، پیرې یا کوم بل خبیث روح، یا پیر یا پیغمبر په نامه نې ونومول او د هغو لپاره نې د نذر په صورت کښې د هغو د نږدې والې یا د هغو د خوشحالی د لاس ته راوړو په نیت نې ذبح کړی او یواځې د هغو د خوښی په غرض سره د نوموړې ځناور حلالول نې مقصود وي نو د دغو تولو ځناورو غوښې خوړل حرام دي اګر که نې د ذبح په وخت کښې تکبیر ویلی وي او د الله تعالی نوم نې پرې اخیستی وي. ځکه چه د روح له پیدا کوونکي پرته د بل چا لپاره نذر او نیاز کول هیڅکله درست او صحیح نه دي. د دې لپاره د کوم ځناور روح چه د غیر الله لپاره نذر شي نو خبائث او مردار نې د مردار له خبائث ځخه هم زیات وي ځکه چه په مردار کښې خو دا خرابي وه چه روح د الله تعالی په نامه نه دی وتلی بلکه پخپله مړ شوی دی او د دې ځناور روح خو د غیر الله لپاره نومولی شوی دی کوم چه عین شرك دی. نو لکه څرنګه چه خنزیر او سپی د تکبیر په ویلو سره د ذبح کولو په صورت کښې نه حلالیږي او په مُردار باندې د الله د نامه یادول کومه ګټه نه لري، همدا رنګه د کوم ځناور چه روح د غیر الله لپاره نذر او د هغو په نامه نومول شوی وي په هغه باندې د ذبح کولو په وخت کښې د الله تعالی نوم اخیستل هیڅکله کومه ګټه نه رسوي او په دې باندې هیڅکله نه حلالیږي. پس شاه صاحب ځومره په ښو الفاظو دا حقیقت ښکاره کړی دی.

همدا رنګه امام فخر الدین رازي هم پخپل تفسیر کښې د دې مسئلې دا ډول وضاحت کړی دی: قال الرازی قال العلماء لو ان مسلماً ذبح ذبیحة و قصد بذبحها التقرب الی غیر الله صار مرتداً و ذبیحته المرتد. (تفسیر کبیر ج۵، ص۱۲، سورة البقرة)

﴿۳﴾ د مشکات شریف په باب عشرة النساء کښې د اوښ د سجده کولو حدیث دا دی:

و عن عائشةؓ ان رسول اللهﷺ کان فی نفر من المهاجرین و الانصار فجاء بعیر فسجد لهٗ فقال اصحابه یا رسول اللهﷺ نسجد لك البهائم و الشجر فنحن احق ان نسجد لك فقال اعبدوا ربکم و اکرموا اخاکم و لو آمر احدا ان یسجد لاحدٍ لامرتُ المرأة ان تسجد لزوجها و لو امرها ان تنقل من جبل اصفر الی جبل اسود و من جبل اسود الی جبل ابیض کان ینبغی لها ان تفعله. رواه احمد. (مشکوة ص ۲۸۲)

لما قال محمد الطیبیؒ یعنی اکرموا من هو بشرٌ مثلکم و مفرع من صلب ابیکم آدم (شرح طیبی ج می باب عشرة النساء و ما لکل واحدٍ من الحقوق، الفصل الثالث)

له دې ځخه څرګنده شوه چه د اخ اطلاق په شریك فی الوصف باندې جائز دی. نو که چیرته شاه اسمٰعیل شهیدؒ له "اکرموا اخاکم" ځخه د استنباط په کولو سره دا ویلي دي چه انبیاء اولیاء او د اسې نور د الله تعالی بندګان او زمونږ وړونه دي نو دا نې کومه بده خبره نه ده کړې. ځکه چه پخپله رسول اللهﷺ خپل ځان زمونږ ورور بللی دی. نو چه هر کله په رسول اللهﷺ باندې د ورور د لفظ اطلاق صحیح دی نو په نورو انبیاوو، اولیاوو، امامانو، او پیرانو باندې خو په طریقه اولی سره صحیح دی. ځکه چه د بشریت په وصف کښې تول سره شریك دي. د دې لپاره د شاه اسمٰعیل شهیدؒ پورتنی عبارت بالکل صحیح دی او شرعا پکښې هیڅ ډول ابهام نشته.

د صراطِ مستقیم د یوه عبارت څرګندونه

سوال: "او شیخ او د ده غوندې نور بزرګانو خو اته که پخپله رسالتمآبﷺ هم وي خپل همت کول او پخپلو خپلو غوارو او خرو په صورت کښې له مستغرق کیدلو ځخه بهتر دي". (صراط مستقیم ص۹۷)

د دې عبارت وضاحت وکړی او همدا رنګه دا وښایی چه دا عبارت د شریعت مطابق دی او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: دا مسئله د شیخ د تصور مسئله ده چه مطلب نې دا دی چه کله یو ذاکر د خدای په ذکر کښې مشغول شي او مراقبه کوي نو شیطان نې په زړه کښې وسوسې اچوي چه له وجهې نې د ذاکر ګومان او فکر بلې خوا ته مائلیږي. نو په دې وخت کښې نوموړی سالك د شیطاني وسوسو د دفع په غرض د خپل شیخ تصور کوي او چه کله وسوسه لرې شي نو بیا د الله تعالی په ذکر او فکر کښې مشغول کیږي. دا تصور د شیطاني وساوسو د دفع لپاره د حضرت مجدد الف ثاني رحمه الله او حضرت شاه محمد معصوم رحمه الله په سلسلې کښې یوه طریقه وه. او د دې ډول تصور ثبوت په احادیثو کښې پیدا کیږي.

همدا رنګه په دا سې نورو حدیثونو کښې کوم چه صحابۀ کرامو رضی الله تعالی عنهم د جناب نبي کریمﷺ د زماني حالت بیانوي نو د بیانولو په وخت کښې د هغې زماني تصور کوي. لنډه دا چه د شیخ دا تصور تر ډیرې زماني پورې د تصوفو په سلسله کښې د شیطاني

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

وسوسو د دفع کولو لپاره جاري وو۔ لیکن وروسته ځینو جاهلانو له دې څخه غلطه فائده پورته کړه او د شیخ تصور ئې د نجات د ذریعې په ګنلو سره په همدې تصور باندې ئې د بروسې په کولو سره الهي ذکر په طاقچې کښې کیښود او یوائې د شیخ تصور ئې د اصلي مقصد په ګنلو سره په همدې کښې مستغرق شول۔ پس د دین علماوو په دې طریقې باندې د شیخ تصور منع کړ او د اسې کوونکي ئې مشرکین وګڼل۔ شاه صاحبؒ د دې مسئلې خو اته د خلکو د ګومانونو د را اړولو په صورت کښې وویل چه: "شیخ یا د ده ځوندي د نورو بزرګانو که پخپله رسالتمآبﷺ هم وي خپل همت لګول یعني د هغه په خیالي تصور باندې د بروسې په کولو سره هغه کارساز او حاضر او ناظر په ګنلو سره د تقرب لپاره له کافي ګنلو څخه پخپلو غواوو او خرو په صورتونو کښې له مستغرق کیدلو څخه بد دي"۔ لکه څرنګه چه د خره او غوا په صورت کښې له مستغرق کیدلو څخه څه فائده نه حاصلیږي همدارنګه د بزرګانو په یوائې تصور کښې په مستغرق کیدلو سره د الله تعالی ذکر او فکر پریښودل له دې څخه بد دي او هیڅ فائده پکښې نشته۔ د اتشبیه په عدم منفعت باندې دی"۔

د شاه صاحبؒ خبره د لمانځه په حالت کښې د کوم غیر الله له تصور سره تړلې ده۔ د دې لپاره چه لمونځ د الله تعالی لپاره ادا کیږي۔ که چېرته سړی د کوم بل چا د تعظیم خو اته خپل همت وګرځوي نو دا به د عبادت په منځ کښې شرک وي۔ کما قالة او د غیر تعظیم او بزرګي کوم چه په لمانځه کښې ملحوظ وي نو هغه د شرک خو اته سړی کشوي الخ۔ (صراط مستقیم ص۱۶۹/۱۷۰ مرتب)

دنیا ته د روحونو د بیرته راتلو عقیده غلطه ده

سوال: په عوامو کښې دا خبره مشهوره ده چه کله یو څوک مړ شي نو تر یوه کاله پورې ئې روح په مسلسله توګه هره جُمعه کور ته ځي او راځي۔ په شریعت کښې د دې خبرې څه ګنجائش شته او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: له مرګ څخه وروسته د روح کور ته یا دُنیا ته بیرته راتلل په کوم صحیح روایت سره ثابت نه دي او نه ئې عقل تائیدوي۔ بلکه له مرګ څخه وروسته د روح په جنت یا په دوزخ کښې اوسیدل په صحیحو روایتو سره ثابت دي۔ د دې لپاره د اسې عقیده درلودل د شریعت خلاف دی، عوام باید له د اسې غلطې عقیدې څخه منع کړی شي۔

لما ورد فی الحدیث: و عن کعب بن مالك رضی الله عنه ان رسول اللهﷺ قال ان ارواح الشهداء فی اجواف طیر خضر تعلق من ثمر الجنة او شجر الجنة. (رواه الترمذی و قال حدیث حدیث حسن. (الترغیب و الترهیب للمنذری ج۲، ص۳۱۶، ما جاء فی فضل الشهید، کتاب الجهاد)

ځینو صالحینو (نیکانو) ته د وفات په وخت کښې د الله تعالی له لوري د نجات زیری

سوال: د احتساب لپاره خو الله تعالی د قیامت ورځ تاکلې ده لیکن د ځینو اولیاء الله وو په اړه مشهور دي چه په خوب کښې ئې پخپل حساب او کتاب کښې د کامیابي زیري اوریدلي دي چه زما اعمال د الله تعالی په دربار کښې مقبول شوي دي۔ اوس پوښتنه دا ده چه آیا له قیامت څخه مخکښې یو څوک له خپل حساب او کتاب څخه خبر دلی شي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: الله تعالی د قیامت ورځې ته د "یوم الحساب" ورځ ویلی دی لیکن دا هم ثابته ده چه مؤمن صالح سړي ته د مرګ په وخت کښې د الله تعالی له خوا څخه د ملایکو په ذریعې سره دا زیری ورکول کیږي چه تا ته نجات حاصل شوی دی او ستا عملونه قبول شوي دي۔

قال الله تعالی: اِنَّ الَّذِیْنَ قَالُوْا رَبُّنَا اللّٰهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوْا تَتَنَزَّلُ عَلَیْهِمُ الْمَلٰٓئِكَةُ اَلَّا تَخَافُوْا وَ لَا تَحْزَنُوْا وَ اَبْشِرُوْا بِالْجَنَّةِ الَّتِیْ كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ۝ (سورة فصلت، آیت ۳۰)

په برزخ کښې هم د حضرت براء بن عازب رضی الله عنه په روایت سره د زیري ثبوت راغلی دی۔

قال فینادی منادٍ ان قد صدق عبدی فافرشوه من الجنة و البسوه من الجنة و افتحوا بابا لهٗ الی الجنة. (مشکوٰة ج۱، ص۲۵، باب اثبات عذاب القبر، الفصل الثانی)

عن البراء عاذب قال خرجنا مع رسول اللهﷺ فی جنازة رجل من الانصار..... فینادی منادٍ من السماء ان صدق عبدی فافرشوه من الجنة و البسوه من الجنة و افتحوا له بابا الی الجنة. (سنن ابی داؤد ج۲، ص۲۹۸، کتاب السنة، باب فی المسألة فی القبر و عذاب القبر)

چه کله دا څرګنده شوه چه مؤمن نیک سړي ته د مرګ په وخت او برزخ کښې د جنت زیری ورکول کیږي نو د خوب په ذریعه سره هم کوم مسلمان او نیک سړي ته د خپل حساب او کتاب په اړه په دنیا کښې خبر ورکول هم همد غه معنی لري چه ما ته جنت ته د تلو زیری راکول شوی دی۔ د دې مثال د اسې دی لکه د حکومت چه کوم وفادار نوکر او ملازم د کومې لویې دندې اُمیدوار وي او حکومت هغه ته خبر ورکړي چه په فلاني تاریخ کښې به ته فلاني دندې ته ترقي وکړې او هغه سړی د خوښۍ او خوشحالۍ په جوش کښې خپلو خپلوانو ته ووایي چه ما فلاني منصب ته ترقي وکړه۔

د شاه اسمٰعیل شهیدؒ او د هغه د تصنیف "تقویت الایمان" یادونه

سوال: آیا شاه اسمٰعیل شهید په ربښتیا هم یو با عمله عالم او ولي الله وو؟ همدارنګه د هغه تصنیف "تقویت الایمان" څرنګه کتاب دی؟ ځینې خلك هغه ته کافر وایي۔ آیا دا خبره صحیحه ده او که غلطه؟ بینوا توجروا۔

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

الجواب باسم ملهم الصواب: حضرت مولانا شاه اسمٰعیل شهیدؒ په ربښتیا هم یو با عمله عالم، ولي کامل او مجاهد في سبیل الله وو او دا له انکار نه لري خبره ده۔ اهل اسلام تر تنه پوري د ده د کردار ستاینه کوي۔ په ځانګړي توګه د ده جهادي لارښوونو د هندوستان په مسلمانانو کښي د جهاد جذبه پیدا کړه چه په نتیجه کښي نې هند آزاد شو۔ او د ده تصنیف "تقویت الایمان" په باره کښي د حضرت مولانا رشید احمد ګنګوهيؒ فتوی دا ده چه د شاه اسمٰعیل شهیدؒ تالیف "تقویت الایمان" ډیر چنولی او ربښتونی کتاب دی او د ایمان د اصلاح او قوت موجب (سبب) دی۔ او د قرآن او حدیثو پوره مطلب پکښي موجود دی۔ د دي کتاب مؤلف شاه اسمٰعیل شهیدؒ یو مقبول بنده وو چه ځوک کافر ورته وایي هغه پخپله د حق تعالی ملعون شیطان دی۔ (فتاوی رشیدیه، کتاب الایمان و الکفر)

په دنیا کښي د جنت د زمکي غوندي د زمکي تیارول نا ممکن دي

سوال: آیا د جنت د زمکي غوندي د زمکي تیارول د کوم انسان لپاره ممکن دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د جنت د یوه لویشت غوندي ځای په دنیا کښي برابرول د هیڅ یوه انسان لپاره ممکن نه دي۔ ځکه چه د جنت د زمکي اوصاف، لوازمات د دنیا له زمکي څخه ډیر مختلف دی۔ مثلاً د دي ځای د زمکي حقیقت خاوره ده او د جنت د زمکي حقیقت مُشک او زعفران دی۔

قال رسول اللهﷺ لبنة من فضة و لبنة من ذهب و ملاطها المسك الاذفر و حصباها اللؤلؤ و الياقوت و ترابها الزعفران. (الترمذی ج۲، ص۷۹، باب ما جاء فی صفة الجنة و نعیمها)

همدارنګه هلته لوړه، تنده او لغړو الی نشته۔ قال الله تعالی: اَلَّا تَجُوْعَ فِيْهَا وَ لَا تَعْرٰى. (سورة طٰه آیت ۱۱۷)

او دا اوصاف د دنیا په زمکي کښي نه شي پیدا کیدلی۔ پر دي بنا د جنت غوندي معمولي زمکه په دنیا کښي جوړول د چا د وس خبره نه ده۔ لهذا دا اعقیده درلودل سر تر پایه له اسلامي تعلیماتو سره تکر ده۔

لما ورد فی الحدیث: عن ابی هریرةؓ قال رسول اللهﷺ موضع سوط فی الجنة خیر من الدنیا و ما فیها متفق علیه. مشکوة ص۴۹۶، باب صفة الجنة و اهلها)

د صفر په میاشت کښي د بلیاتو او آفاتو د نزول عقیده صحیح نه ده

سوال: د صفر میاشت سپیره او د بلا ګانو او آفتونو میاشت بلل نې څرنګه دی؟ دا عقیده د شریعت له مخي جائزه ده او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د صفر د میاشتي په اړه خلك مختلفي نظریي او مختلف ګومانونه لري کوم چه سر تر پایه لغو او بې بنیاده دي۔ او دي میاشتي د آفتونو میاشت ویل یو اځي توهم

پرستي ده۔ په شریعت مطهره کښي د دي ډول توهم پرستي هیڅ ګنجائش نشته۔

لما ورد فی الحدیث: قال رسول اللهﷺ لا عدوی و لا هامة و لا صفر. (مشکوة ص۳۹۱، باب الفال و الطیرة، الفصل الاول)

قال العلامة ملا علی القاریؒ قال القاضی و یحتمل ان یکون نفیا لما یتوهم ان شهر صفر تکثر فیه الدواهی و الفتن. (مرقاة المفاتیح ج۹، ص۴، الفصل الاول)

په قیمتونو کښي کموالی او زیاتوالی د الله تعالی له لوري وي

سوال: آیا د ورځني شیانو په قیمتونو کښي جګوالی او ټیټوالی د الله تعالی له لوري وي؟ که یو ځوک دا عقیده ولري چه دا ټول د الله تعالی له لوري دي شرعاً نې دا عقیده څنګه ده؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د ورځني استعمال د شیانو په قیمتونو کښي کموالی او زیاتوالی د الله تعالی له خوا تاکل کیږي ځکه چه ډیر واري د خلکو د خوښي خلاف جګوالی او ټیټوالی پکښي راځي۔

لما ورد فی الحدیث: عن انس بن مالكؓ قال غلا السعر علی عهد رسول اللهﷺ فقالوا یا رسول الله قد غلا السعر فسعر لنا فقال ان الله هو المسعر القابض الباسط الرّازق انی لأرجو ان القی ربی و لیس احدٌ یطلبنی بمظلمة فی دم و لا مال. (ابن ماجة ص۱۵۹)

هو! که چېرته خلك په قیمتونو کښي بې انصافي شروع کړي نو حاکمان د اهل رأیي په مشوري باندي د کوم شي د قیمت د تاکلو اجازه لري۔

لما صرح ابن عابدینؒ: الا اذا تعدی الارباب عن القیمة تعدیاً فاحشاً فیسعر بمشورة اهل الرأی. (تنویر الابصار علی هامش رد المحتار ج۵، ص۲۸۳، کتاب الحظر و الاباحة)

و قال الشیخ اسعد الدین التفتازانیؒ: السعر تقدیر ما یباع به الشیء و یکون غلاء و رخصاً باسباب من الله تعالی و لو کان البعض فی اکتساب العباد فالمسعر هو الله تعالی وحدهٗ. (المقاصد فی علم الکلام علی هامش شرح المقاصد ج۲، ص۱۶۲) و مثله فی مجموعة الفتاوی (اردو) ج۲، ص۲۸۴، کتاب الحظر و الاباحة.

د جماعت د لمانځه پریښودونکی منافـــــق دی

سوال: کوم سړی چه د خپلې رتبې او متمول والي له وجهې د جماعت لمانځه ته نه حاضریږي او له عامو خلکو سره د لمانځه په کولو باندي شرمیږي او وایي چه زما مقام او مرتبه تر دي لوړه ده۔ د شریعت له مخي د دلسي سړي حکم څه دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: دا سړی که چېرته د جماعت لمانځه ته د دي لپاره نه حاضریږي چه د هغه په نزد د جماعت لمونځ د شرعي دلائلو له مخي ثابت نه دی نو د دي عقیدي د درلودلو مطابق د اسلام له دائري څخه وتلی دی۔

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

قال فی الهندیة: رجل ترك سُنن الصلوٰة ان لم یر السنن حقاً فقد کفر لانه ترکها استخفافاً و ان رآها حقاً فانه لصحیح انه یأثم لانه جاز استحساناً کذا فی المحیط. (الفتاوی الهندیة ج۱، ص۱۱۲، الباب التاسع فی النوافل)

او که چېرته د جماعت په لمانځه ئې عقیده وي لیکن د نورو وجوهاتو له مخې پرته له کوم شرعي عذر څخه نه حاضریږي نو د حدیث له مخې عملي منافق دی. له دې وجهې باید چه توبه وباسي.

لما فی الحدیث: و عن معاذ ابن انس عن رسول اللهﷺ انه قال الجفاء کل الجفاء و الکفر و النفاق من سمع منادی اللّٰه الی الصلوٰة فلا یجیبهٗ. رواه احمد و الطبرانی. (الترغیب و الترهیب للمنذری ج۱، ص۲۷۲)

قال العلامة علاؤ الدین الحصکفیؒ: و سنتها ترك السنة لا یوجب فساداً و لا سهواً بل اساءة لو عامداً غیر مستخف. قال العلامة ابن عابدینؒ..... و لو مستخفا کفر لما فی النهر عن البزازیة لو لم یر السنة حقاً کفر لانه استخفاف. (رد المحتار ج۱، ص۴۷۴، مطلب سنن الصلوٰة)

بې اودسه د لمونځ کوونکي حکم

سوال: د بې اودسه لمونځ کوونکي او نورو ته د امامت کوونکي سړي د شریعت له مخې څه حکم دی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د غفلت له مخې او د استخفاف له قصده پرته بې اودسه لمونځ کولو باندې سړی فاسق کیږي لیکن کافر کیږي نه. البته که چېرته د افعل حلال وبولي یا په قصد سره د استهزاء (توکي او مسخري) په نیت سره بې اودسه لمونځ وکړي نو د اسلام له دائرې څخه ووځي.

قال العلامة مُلاّ علی القاری رحمه اللّٰه: من صلّی الی غیر القبلة متعمّداً هو کافر کما لمستخف و کذا اذا صلّی بغیر طهارة. (شرح الفقه الاکبر ص۱۷۲/۱۷۳، فصل فی القرأة و الصلوٰة)

هیڅوك هم د عمل له وجهې تر صحابۀ کرامو وړاندې کیدلی نه شي

سوال: د یوه سړي د اسې عقیده ده چه که چېرته په دې امت کښې یو سړی د اسې پیدا شي چه کردار او اخلاق ئې د صحابۀ کرامو رضی اللّٰه عنهم غوندې وي نو هغه به فضیلت کښې تر صحابه وؤ افضل وي. او په دې خبرې باندې دا دلیل وړاندې کوي چه صحابۀ کرامؤ ته لکه څرنګه چه د نبي کریمﷺ صحبت په نصیب شوی وو، حضورﷺ ئې پخپلو سترګو لیدلی وو، وحی د هغو په مخکښې نازلیدله. له دې وجهې د هغو په نبي کریمﷺ باندې ایمان راوړل ضروري وو. او مونږ لکه څرنګه چه نه نبي کریمﷺ لیدلی دی او نه مو د وحی د نزول منظر لیدلی دی بیا هم مونږ په ده مبارکﷺ باندې ایمان راوړی دی. بناء پر دې چه کوم سړی صحیح مسلماني غوره کړي نو په درجه کښې به له صحابۀ کرامو رضی اللّٰه عنهم څخه وړاندې کیدلی شي. د دې خبرې وضاحت وکړی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د صحابۀ کرامو رضی اللّٰه عنهم شان او مرتبه د نبي کریمﷺ د صحبت له وجهې د کوم غیر صحابي، له لوی څخه لوی ولي اللّٰه چه د نبي کریمﷺ د صحبت

درجه نه وي ور په برخه شوی د یوه ادنی څخه ادنی صحابي مرتبې ته نه شي رسیدلی. د ټول اهل اسلام او اهل حق په دې باندې اجماع ده چه تر انبیاء کرامؤ وروسته صحابۀ کرام رضی اللّٰه تعالی عنهم له ټول انسانانو څخه افضل او بهتر دي. مولانا ثناء اللّٰه پاني پتي رحمه اللّٰه په "ارشاد الطالبین" کښې لیکلي دي چه: "عبد اللّٰه بن مبارك تابعی است میگوید" الغبار الذی دخل انف فرس معاویة خیر من اویس قرنیؒ و عمر بن عبد العزیز المروانیؒ".

لهذا ټول مسلمانان باید دا عقیده ولري چه صحابۀ کرام د ټول امت له اولیاء اللّٰه څخه افضل او بهتر دي. د هیڅ یوه عمل له وجهې له صحابۀ کرامؤ څخه څوك نه شي وړاندې کیدلی.

لما ورد فی الحدیث: قال النبیﷺ اکرموا اصحابی فانهم خیارکم. (مشکوة ص۵۵۴، باب مناقب الصحابة)

قال العلامة ملا علی القاری رحمه اللّٰه: و منها تفضیل سائر الصحابة بعد الاربعة رضی اللّٰه عنهم. قال ابو منصور البغدادیؒ: من اکابر الشافعیة اجمع اهل السنّة و الجماعة علی ان افضل الصحابة ابو بکر، فعمر، فعثمان، فعلیؓ فبقیة العشرة المبشرة بالجنّة فاهل بدر فباقی اهل الأحد فباقی اهل بیعة الرضوان بالحدیبیة فباقی الصحابة رضی اللّٰه عنهم. (شرح الفقه الاکبر ص۱۱۹، تفضیل سائر الصحابة بعد الاربعة) و مثله فی العقیدة الطحاویة ص۵۳۱، فضیلة الصحابة.

د دې الفاظو ویل چه "دا شی له ما څخه اللّٰه تعالی هم نه شي اخیستلی" د کفر موجب دی

سوال: د دوو کسانو تر منځ په کوم شي باندې جګړه وه. له هغو څخه یوه ئې د جرګې په صورت کښې څو کسان له ځان سره کړه او د خپل غوښتنه ئې له بل څخه وکړه. په دې باندې هغه بل ورته وویل چه دا شی له ما څخه هیڅوك هم نه شي اخیستلی تر دې پورې چه اللّٰه تعالی ئې هم نه شي راڅخه اخیستلی. همدا ارنګه دا خبره ئې هم وکړه چه نه زه جرګه منم او نه خدای. د دې دول کلماتو ویونکی سړی د شریعت له مخې څه حکم لري؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: اللّٰه تعالی په هر شي باندې کامل قدرت لري، هیڅ شی هم د ده د قدرت له قبضې څخه د باندې نه دی. هغه واجب الوجود ذات دی. له دې وجهې د اللّٰه تعالی خواته د یوه داسې شي نسبت کول چه د اللّٰه تعالی د وجود یا کامل قدرت نفی ترې کیږي د فقهاوو په نزد د کفر موجب دی. په صورت مسئوله کښې په ظاهره د نوموړي سړي دا کلمات د کفر موجب څرګندیږي. لهذا توبه او استغفار او د نکاح تجدید ورته ضروري دی.

لما قال العلامة عالم بن العلاء الانصاریؒ: اذا وصف اللّٰه تعالی بما لا یلیق به سخر باسم من اسمائه او بامر من اوامره او انکر وعده او وعیده یکفره. (الفتاوی التاتارخانیة ج۵، ص۴۶۱، و قال ایضاً: رجل قال لآخر از خدا بترس فقال خدا کجا است. یکفره. (الفتاوی التاتارخانیة ج۵، ص۴۷۳، احکام المرتدین)

قال العلامة قاضی خان رحمه اللّٰه: و لو ان رجلا طالب رجلاً بحق و قال بالفارسیة اگر وی خدای جهان است

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

از وی بستانم. قال الشیخ ابو قاسم یصیر مرتداً لانهٗ ادعی انهٗ یغلب اللّٰه تعالی. و قال بعضهم لا یکون کفراً لان المراد من هذا الکلام فی العرف التهویل دون التحقیق. (الفتاوی قاضی خان علی هامش الهندیة ج۳، ص ۵۷۵، باب ما یکون اسلاماً من الکافر و ما لا یکون) و مثله فی البزازیة علی هامش الهندیة ج۶، ص ۳۲۳، الثانی فیما یتعلق باللّٰه.

ختنه د امراضو موجب ګڼل د کفر باعث دی

سوال: یو سړی د شرعي ختنې (سنتي) په باره کښې وایي چه د ډاکټري اصولو مطابق باید چه څوک ختنه و نه کړي ځکه چه د متیازو په لګیدو سره جراثیم پیدا کیږي او بیماري خپریږي او مسلمان د ختنې له وجهې مریض کیږي. د داسې سړي په باره کښې د شریعت څه حکم دی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته له دې خبرو څخه د متکلم مقصد د ختنې کوم چه د فقهاوو په نزد سنت مؤکده ده او د اسلام او اهل اسلام علامه، نښانه او پیژند ګلوي دي توهین، سپکاوی او استخفاف وي نو په دې باندې د کفر له سخت خطر سره مخامخ کیږي. د دې لپاره فقهاء کرامو لیکلي دي چه کله د کوم عمل په اړه دا ثابته شي چه دا د نبوي ﷺ عمل دی او دا عمل نبي کریم ﷺ کړی دی یا د کولو امر کړی دی نو د داسې عمل استخفاف او سپکاوی د کفر موجب دی. البته که چېرته ئې دا خبره د طبي نقطهٔ نظر له مخې کړي وي نو اګر که خلاف الواقعه ده (یعني د داسې خو نه ده لکه دی چه وایي) لیکن د کفر موجب نه دی. لیکن د دې تر څنګ باید له د داسې کلماتو څخه سړی خامخا ځان وساتي.

لما قال فی الهندیة: و لو قال این چه رسم است سبلت بست کردن و دستار بزیر گلو آوردن. (ترجمه) ما هذه العادة تقصیر الشارب و ارخاء الطیسان تحت الرقبة فان قال ذلک علی سبیل الطعن فی سنة رسول اللّٰه فقد کفر کذا فی المحیط. (الفتاوی الهندیة ج۲، ص ۳۶۵، الباب التاسع فی احکام المرتدین)

قال العلامة ابن البزاز الکردریؒ: و الحاصل انهٗ اذا استخف بسنّة او حدیث من احادیث النبی ﷺ کفر. (الفتاوی البزازیة علی هامش الهندی ج۶، ص ۳۲۸، کتاب الفاظ تکون اسلاماً او کفراً او خطاءً، الفصل الثالث فی الانبیاء) و مثله فی شرح الفقه الاکبر ص ۱۰۲، بحث فی ان الکبیرة لا تخرج المؤمن عن الایمان.

د مسلمان په کافر کولو کښې احتیاط ضروري دی

سوال: که چېرته د یوه سړي هوش او حواس صحیح وي او د اللّٰه تعالی په شان کښې داسې ووایي چه "اللّٰه تعالی هم د غریبانو....." نو د داسې کلماتو د ویونکي شرعاً حکم څه دی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: څرګنده دي وي چه نوموړي الفاظ ډیر خطرناک دي چه له مخې ئې د ایمان د زائلیدو سخت خطر دی. البته د لرې احتمالاتو د امکان له وجهې په داسې سړي باندې د یقین په صورت کښې د کفر فتوی نه شي لګیدلی. د دې لپاره په مسلمان باندې د کفر د

فتوی په لګولو کښې انتهایي احتیاط ضروري دی.

لما قال العلامة علاؤ الدین الحصکفی رحمه اللّٰه: اذا کان فی المسئلة وجوهٌ توجب الکفر و واحدٌ یمنعه فعلی المفتی المیل لما یمنعه لمّا لو نیّته ذلک فمسلم و الا لم ینفعه حمل المفتی علی خلافه. (الدر المختار علی هامش رد المحتار ج۳، ص ۳۱۶، باب المرتد)

قال العلامة ابن البزاز الکردریؒ: اذا کان فی المسئلة وجوه توجه الکفر و وجه واحد یمنعه یمیل العالم الی ما یمنع الکفر و لا یُرجح الوجوه علی الوجه..... الخ. (الفتاوی البزازیة علی هامش الهندیة ج۶، ص ۳۲۱، الثانی فیما یکون کفراً من المسلم الخ) و مثله فی مرقاة المفاتیح ج۵، ص ۱۸، الفصل الاول)

حنفي فقهي ته د معتزله وو د تصنیف په ویونکي باندې توبه لازمه ده

سوال: یو څل زید د فقهي د علم په باره کښې دا دعوی وکړه چه "د فقهي علم د دجلي په دریاب کښې ډوب شو او موجوده حنفي فقه د معتزله وو له خوا لیکل شوي ده". په زید باندې د شریعت له مخې د نوموړي عقیدې د درلودلو له وجهې څه حکم لګول کیږي؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د زید له نوموړي جملي څخه څرګندیږي چه یو دوکه باز غیر مقلد دی او دا خبره ئې سر تر پایه غلطه او په جهالت باندې مبني ده. آیا هغه ته دا نه ده معلومه چه هدایه، فتح القدیر، بحر الرائق، قاضي خان، بزازیه او مبسوط ټول د معتزله وو تصنیف شوي کتابونه دي؟ زید که چېرته دومره علم نه لري چه د موجوده فقهي اصلیت څرګند کړي نو آخر داڅه واړي چاور سپارلي ده چه د اسلام د فقهاوو د فقهي تصنیفونه د ژبې په یو څل بټورولو سره د معتزله وو تصنیفونه ګڼي. زید ته له دې عقیدې څخه توبه ایستل ضروري دي او که نه نو خدای مکړه چه دا بیباکي ئې د خسران او تاوان ذریعه جوړه نه شي.

د نبوي حدیثو د منکر ایمان سالم نه شي پاتي کیدلی

سوال: که چېرته یو څوک د صحیح حدیث له منلو څخه انکار وکړي نو دا ووایي چه زه فلانی او فلانی حدیث نه منم. نو د شریعت له مخې په داسې سړي باندې څه حکم لګول کیږي؟

الجواب باسم ملهم الصواب: څرګنده دي وي چه د نبي کریم ﷺ حدیثونه په اصل کښې الٰهي وحي دي. د اللّٰه تعالی ارشاد دی چه "وَمَا یَنطِقُ عَنِ الْهَوَىٰ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ یُوحَىٰ (سورة النجم آیت ۴) د دې لپاره له نبوي احادیثو څخه انکار د ضلالت او ګمراهي موجب دی. که چېرته د عقیدې له مخې د حقارت یعني سپک ګڼلو په بنیاد باندې له حدیثو سره تکر وکړي نو له دې وجهې بیا معتقد کافر کیږي.

لما فی الهندیة: من انکر المتواتر فقد کفر و من انکر المشهور یکفر عند البعض و قال عیسی بن ابانؒ: یُضلّ و لا یکفر و هو الصحیح. و من انکر خبر الواحد غیر انه یأثم بترک القبول هکذا فی الظهیریة. (الفتاوی الهندیة ج۲، ص ۲۶۵، الباب التاسع، احکام المرتدین)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

قال العلامة مُلاّ علی القاری رحمه الله: و فی المحیط من قال لفقیه یذکر شیئاً مِّن العلم او یُروِی حدیثاً صحیحاً ای ثابتاً لا موضوعاً هذا لیس بشیء..... کفر. (شرح الفقه الاکبر ص۱۷۵، الفصل فی العلم و العلماء) و مثله فی فتاوی دار العلوم دیوبند ج۱۲، ص۴۳۰، احکام المرتد.

توسل با لصالحین جـــــائز دی

سوال: د کوم نبي یا ولي په توسل سره دعا غوښتل شرعا څنګه دي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د اهل سنت و الجماعت په نزد توسل که له مړو څخه وي یا له ژوندو څخه، همد ارنګه له ذواتو څخه وي یا له اعمالو څخه په هر حال جائز دی۔ بلکه ارجی للقبول کیدو کښې نې هیڅ شك او شبهه نشته۔ د دي لپاره د دي حقیقت او مرجع توسل په رحمت د الله تعالی دی۔ په دي توګه چه په فلاني مقبول باندي چه ستا کوم خصوصي رحمت شوی دی د هغه په واسطه او وسیله سره زه دعا کوم، یا یو څوك نیك اعمال وسیله وګرځوي او له الله تعالی څخه دعا وغواړي نو دا هم جائزه ده او هیڅ قباحت پکښې نشته۔ د وسیلې مشروعیت د قرآني آیتونو، نبوي ﷺ احادیثو او سلف صالحینو د اقوالو او افعالو له مخې ثابت دی۔ حضرت زکریا علیه السلام د حضرت مریم علیها السلام په وسیلي سره دعا غوښتل او د هغې قبلیدل په قرآن کښې راغلي دي، نبي کریم ﷺ د ضعیفو مهاجرینو په وسیلي سره دعا ګانې کولې، همد ارنګه حضرت عمر رضی الله تعالی عنه په وچکالي کښې د حضرت عباس بن عبد المطلب رضی الله عنه په وسیلي سره د رحمت د باران لپاره الله تعالی ته دعا کول د صحیحو احادیثو او آثارو له مخې ثابت دي۔ لیکن د اولیاء الله وو په توسل سره د غوښتل شوي دعا په الله تعالی باندي خامخا قبلول په شرعي باندي له زیادت سره برابره ده۔ د دي لپاره له دي دول اعتقاد څخه ځان ساتل ضروري دي۔

قال الله تعالی: یٰاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَ ابْتَغُوْۤا اِلَیْهِ الْوَسِیْلَةَ. (المائدة آیت ۳۵)

قال محی الدین الخطیبؒ: عن اُمَیّة بن خالد بن عبد الله بن اُسید رضی الله عنه عن النبی ﷺ انهٗ کان یستفتح بصعالیك المهاجرین. رواه فی شرح السنة. مشکوة ص۴۴۷، باب فضل الفقراء، فصل الثانی)

لما ورد فی الحدیث: و عن انس رضی الله عنه ان عمر بن الخطاب رضی الله عنه کان اذا قحطوا استسقی بالعباس بن عبد المطلب رضی الله عنه فقال اللّٰهمّ انا کنا نتوسل الیك بنبینا ﷺ فتسقینا و انا نتوسل الیك بعمّ نبیّنا فاسقنا فیسقوا. (مشکوة ص۱۳۲، باب الاستسقاء، الفصل الثالث) و مثله فی فتح الباری شرح البخاری ج۲، ص۳۹۹، فی باب تحویل الرداء فی الاستسقاء.

د معتوه د ارتداد حکـــــم

سوال: زما یو ملګری د دول دول مشکلاتو له وجهې لیونی شوی دی۔ په دي حالت کښې کله کله نې له خولې څخه د کفر کلمات هم راووځي۔ یو ځل نې په ډیر مفلوك الحال (لیونتوب) په حالت

کښې وویل چه "زما له د اسې خدای څخه نفرت دی چه زه نې په دي مصیبت او تکلیف کښې اچولی یم" څو ورځې وروسته نې په همدي حالت کښې وویل چه "زه د خدای په هغې مهربانۍ کښې متیازي کوم چه په ماباندي نې کوي" د شریعت له مخې د د اسې سړي حکم څه دی؟ آیا د دغو کلماتو د ویلو له وجهې مسلمان پاتې کیدلی شي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د نوموړي سړي حالت ته په کتو سره دا څرګندیږي چه د اسې معتوه دی چه ځینې خبرې نې د لیونیانو غوندي دي او ځینې خبرې نې د عقل لرونکو غوندي دي۔ د اسې سړي ته فقهاء او د علم اصول په اصطلاح کښې معتوه ویل کیږي او معتوه سړی د عاقل هلك په حکم کښې ګڼل کیږي

قال العلامة الحسامیؒ: و اما العتة و هو اختلال العقل بحیث یختلط کلامه فیشبه کلام العقلاء مرة و کلام المجانین مرّة اُخریٰ قال الاخسیکثی و اما العتة بعد البلوغ فمثل الصباء مع العقل یمنع العهدة. (الحسامی ص۱۶۷، القیاس مجتبائی)

اوس د ارتداد په باره کښې چه کوم حکم د عاقل هلك دی د ده هم هغه حکم دی۔ او د امام ابو یوسفؒ په نزد د عاقل هلك ارتداد معتبر نه دی او نه په هغه باندي د ارتداد احکام جاري کیدلی شي۔ د امام ابوحنیفه او امام محمد رحمهما الله په نزد نې ارتداد معتبر دی او د ارتداد احکام پرې جاري کیږي۔

قال العلامة البابرتیؒ: و ارتداد الصبی الذی یعقل ارتداد عند ابی حنیفة و محمد رحمهما الله یعنی یجری علیه احکامه فیبطل نکاحه و یحرم عن المیراث و قال ابو یوسفؒ ارتداده لیس بارتداد الخ. (العنایة علی هامش فتح القدیر ج۵، ص۳۲۸، احکام المرتدین)

قال العلامة ابن عابدینؒ: و اذا ارتدا العاقل صح خلافاً للثانی. (رد المحتار ج۳، ص۳۳۵)

لیکن فقهاوو دا تصریح کړي ده چه امام ابو حنیفه رحمه الله د امام ابو یوسف رحمه الله د قول خوا ته رجوع کړي ده۔ قال ابن عابدینؒ: و فی التتارخانیة عن الملتقی ان الامام رجع الیه. (رد المحتار ج۳، ص۳۳۵، باب المرتدین)

اوس د عاقل هلك په باره کښې د امام ابو حنیفه رحمه الله مذهب برقراره پاتې کیږي چه ارتداد نې معتبر نه دی۔ او چه کله دا خبره مخکښې څرګنده شوې ده چه معتوه د عاقل هلك په حکم کښې دی نو لکه څرنګه چه د عاقل هلك ارتداد د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد د مرجوع الیه قول په بناء معتبر نه دی نو د معتوه ارتداد هم د دۀ په نزد به معتبر نه وي۔

قال العلامه ابن عابدینؒ: فی المغرب المعتوه الناقص العقل و قیل المدهوش من غیر جنون. (رد المحتار ج۲، ص۳، کتاب الطلاق)

و قال العلامة قاضی خانؒ: و اما ردّة المعتوه و المجنون لم تذکر فی الکتب المعروفة قال مشائخنا رحمهم الله تعالی هو فی حکم الردة بمنزلة الصّبی. (الفتاوی قاضی خان علی هامش الهندیة ج۳، ص۵۷۷، باب ما یکون کفراً من المسلم)

لهذا که چیرته نوموړی سړی په واقعي توګه معتوه وي نو د مذکوره کفري کلماتو له

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

وجهي مرتد نه ګرځول کيږي. البته چونکه په دې مسئلې کښې اختلاف دی نو د دې لپاره بهتره دا ده چه د خپل اسلام تجدید وکړي او د ګواهانو په موجودوالي کښې پرته له کومې حلالې څخه خپله نکاح هم نوې کړي.

د فاسق او فاجـــــــر تعـريف

سوال: فاسق او فاجر چاته ویل کيږي او د فاسق او فاجر تعریف څه شی دی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د شریعت مطهره په اصطلاح کښې فاسق هغه سړي ته ویل کيږي چه د ایمان له راوړلو وروسته د الله تعالی په نافرمانیو کښې ګرفتار وي او د شریعت ځینې یا ټول احکامات شاته وغورځوي او عملي بې لاري توب غوره کړي او د خپلو ګناهونو څخه په غلفت کښې ولویږي.

لما قال ابو القاسم الراغب الاصفهانیؒ: تحت لفظ "فسق" فلان خرج عن حجر الشرع و ذلك من قولهم فسق الرطب اذا خرج من قشره و هو اعم من الكفر و الفسق يقع بالقليل من الذنوب و بالكثير لكن يعرف فيما كان كثيرا و اكثر ما يقال لمن التزم حكم الشرع و اقرّ به ثم اخلّ بجميع احكامه او ببعضه. (مفردات القرآن للراغب ص ۳۹٤)

او فاجر هغه سړي ته ویل کيږي چه د شرعي خلاف کارونو کښې مبتلا وي او د توبې د ارادې کولو سره هم توبه و نه باسي.

قال ابو القاسم الراغب الاصفهانیؒ: قيل معناه يذنب و يقول غدا اتوب ثم لا يفعل فيكون ذلك فجوراً لبذله عهداً لا يعنى به. (مفردات للراغب ص ۳۷۳)

قال العلامة محمود الآلوسیؒ: الفاسقين جمع فاسق من الفسق و هو شرعاً خروج العقلاء عن الطاعة فيشمل الكفر و دونه من الكبيرة و الصغيرة و اختص في العرف و الاستعمال بارتكاب الكبائرة. (روح المعانی ج۱، ص ۲۱۰، سورة البقرة، آیت ۲۶)

فسق او فجور د کفر موجب نه دی

سوال: آیا د فسق او فجور له وجهې یو مسلمان د اسلام له دائرې څخه ووځي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: یوائې د فسق او فجور له وجهې یو مسلمان د اسلام له دائرې څخه نه ووځي تر څو چه د فسق او فجور د حلال ګنلو عقیده و نه لري او نه پخپل فسق او فجور باندې مُصر (اصرار کوونکی) وي.

لما قال ابو حنيفةؒ: لا نكفّر مسلماً بذنب من الذنوب و ان كانت كبيرة اذا لم يستحلها. (شرح الفقه الاكبر ص ۷۱، الكبيرة لا تخرج المؤمن عن الايمان)

په قصد سره د قاتل سړي توبه مقبولـــــــه ده

سوال: که چېرته یو قاتل له قتل عمد څخه توبه ایستل وغواړي نو آیا توبه ئې قبلیږي او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: قاتل که چېرته د زړه په اخلاص سره توبه وباسي نو هیله ده چه الله تعالی ئې توبه قبوله کړي.

قال الله تبارك و تعالى: اِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ اَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ وَ يَغْفِرُ مَا دُوْنَ ذٰلِكَ لِمَنْ يَّشَآءُ. (سورة النساء، آیت ٤٨)

د قرآن او سنتو په رڼا کښې د اهل سنت و الجماعت همدا عقیده ده چه لوی ګناه څخه چه کله په ریښتوني زړه سره توبه و ایستل شي نو الله تعالی ئې معاف کوي. البته له وارثانو څخه به د وینې معافول یا هغوته به د قصاص ورکول ضروري وي.

قال العلامة ملاّ على القاریؒ: و في عمدة النسفيؒ و من تاب عن كبيرة صحت توبته مع الاصرار على كبيرة اخرى و لا يعاقب بها على الكبيرة التي تاب. (شرح الفقه الاكبر ص ۱۵٦، مطلب يجب معرفة المكفرات)

قال العلامة فخر الدين الرازیؒ: دلت الآية على ان التوبة من كل ذنب مقبولة و قول من قال التوبة غير مقبولة خطاء لان الشرك اشد من القتل فاذا قبل الله توبة الكافر مقبولة توبة القاتل. (تفسير كبير ج۵، ص ۱۳۲، سورة البقرة، المسئلة الثالثة)

قال العلامة التفتازانیؒ: في المبحث الثاني عشر اتفقت الأمة و نطق الكتاب و السنة بان الله تعالى عفوٌّ غفورٌ يعفو عن الصغائر مطلقاً و عن الكبائر بعد التوبة. (شرح المقاصد ج۲، ص ۲۳۵)

قال العلامة ظفر احمد العثمانیؒ: اتفق الائمة كما في رحمة الأمة على ان لا يخلد في النار و تصح توبته من القتل. (اعلاء السنن ج۱۸، ص ۷۳، كتاب الجنايات، باب وجوب القصاص الخ) و مثله في مرقاة المفاتيح ج۷، ص ٦۱، كتاب القصاص، الفصل الثاني)

کوم مسلمان لره په ناحقه قتلول ګواکه د ټولو خلکو قتلول دي

سوال: د یو مسلمان پرته له کومې وجهې په قتلولو سره سړی کافر کيږي او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: په دې کښې هیڅ شک نشته چه کوم بې ګناه انسان لره قتلول یوه عظیمه ګناه او بدترین جرم دی. په قرآن پاک کښې د الله تعالی ارشاد دی چه: مَنْ قَتَلَ نَفْساً بِغَيْرِ نَفْسٍ اَوْ فَسَادٍ فِي الْاَرْضِ فَكَاَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيْعاً (سورة المائدة، آیت ۳۲)

"چا چه یو سړی پرته له کوم جرم څخه په ناحقه قتل کړ هغه ګواکه ټولو انسانانو ئې قتل کړل"

لیکن سره له دې ټولو خبرو د اهل السنت و الجماعت په دې خبرې باندې اتفاق دی چه که چېرته یو څوک قتل وکړي او دا قتل حلال و نه ګڼي نو قاتل نه کافر کيږي. البته دیر لوی ګنهګار او مجرم به خامخا وي او که چېرته قتل حلال وبولي نو یقیناً چه په دې سره کافر کيږي ځکه چه قطعي حرام لره حلال ګنل د کفر څخه دی.

لما قال العلامة ابن عابدينؒ: و الاصل ان من اعتقد الحرام حلالاً فان كان حراماً لغيره كمال الغير لا يكفر و ان كان لعينه فان كان قطعية كفر و الا لا. (رد المحتار ج۳، ص ۲۲۳، باب المرتد)

و قال في الهندية: من اعتقد الحرام حلالاً او على القلب يكفر اما لو قال لحرام هذا حلالٌ لترويج السلعة او بحكم الجهل لا يكون كفر و في الاعتقاد هذا اذا كان حراماً لعينه و هو يعتقده حلالاً حتى يكون كفراً اما اذا كان حراماً لغيره فلا و فيما اذا كان حراماً لعينه انما يكفر اذا كانت الحرمة ثابتة بدليل مقطوع به اما اذا كان باخبار الاحاد فلا يكفر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

کذا فی الخلاصة. (الفتاوی الهندیة ج۲، ص۲۷۲، الباب التاسع فی احکام المرتدین) و مثله فی شرح الفقه الاکبر ص۱۵۲، استحلال المعصیة و لو صغیرة کفر.

د والدینو او استاذ نافرمان کافر نه دی

سوال: چه کوم سړی د والدینو یا استاذ نافرمانه وي شرعاً د دلسي سړي حکم څه دی؟ آیا دلسي سړی د خپل دي عمل په وجه کافر کیږي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د والدینو او استاذ نافرماني کبیره ګناه ده لیکن کافر کیږي نه البته په فاسقانو، فاجرانو او ظالمانو کښې خو خامخا شمارل کیږي۔

لما ورد فی الحدیث: قال رسول اللهﷺ احدثکم باکبر الکبائر قالوا بلی یا رسول الله قال الاشراك بالله و عقوق الوالدین. (ترمذی ج۲، ص۱۲، ابواب البر)

قال امام ابو حنیفةؒ: و لا نکفر مسلماً بذنب من الذنوب و ان کانت کبیرة اذا لم یستحلها. (فقه الاکبر ص۷۱، الکبیرة لا تخرج المؤمن عن الایمان)

قال العلامة التفتازانیؒ: ان الکبیرة التی هی غیر الکفر لا تخرج العبد المؤمن من الایمان. (النبراس علی شرح العقائد ص۲۲۶، الکبیرة لا تخرج عن الایمان)

په توبې سره حقوق الله معاف کیږي لیکن حقوق العباد نه معاف کیږي

سوال: آیا په توبې سره د انسان ټول صغیره او کبیره ګناهونه معاف کیږي او که یواځې حقوق الله معاف کیږي او که حقوق العباد هم معاف کیږي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: توبه که چېرته له خپلو ټولو شرائطو سره و ایستل شي نو هیله ده چه الله تعالی ئې په قبلولو سره خپل ټول حقوق انسان ته معاف کړي۔

لما قال العلامة مُلاّ علی القاری رحمه الله: فاما وقوع قبولها شرعاً هو مرجوٌ غیر مقطوعٌ. (شرح الفقه الاکبر ص۱۵۵، التوبة و شرائطها)

البته حقوق العباد په توبې سره نه معاف کیږي بلکه حقوق العباد د حقوقو په ادا کولو سره معاف کیږي یا پخپله د حق خاوند پخپلې خوښې سره معاف کړي۔

لما قال العلامة مُلاّ علی القاری رحمه الله: و ان کانت عما یتعلق بالعباد فان کانت من مظالم الاموال فتوقف صحة التوبة منها مع ما قدمناه فی حقوق الله تعالی علی الخروج عن عهدة الاموال و ارضاء الخصم فی الحال و الاستقبال بان یتحلل منهم او یؤدها الیهم او الی من یقوم مقامهم من وکیل او وارث هذا. (شرح الفقه الاکبر ص۱۵۸، مطلب یجب معرفة المکفرات)

عن عائشه رضی الله تعالی عنها قالت قال رسول اللهﷺ الدواوین ثلاثة دیوان لا یغفر الله الاشراك بقول الله عز وجل انّ اللّٰهَ لا یَغْفِرُ اَنْ یُشْرَكَ بِهٖ و دیوان لا یترکه الله ظلم العباد فیما بینهم حتی یقتص بعضهم من بعض الخ..... قال الملا علی القاریؒ: تحت حدیث آخر و فیه اشعار بانهٗ اشعار لا عفو و شفاعة فی حقوق العباد الا ان شاء الله یرضی بما اراد. (مرقاة المفاتیح ج۸، ص۸۵، کتاب الآداب، الفصل الثانی و الثالث)

د والدینو د نافرمان یو عبادت هم نه قبلیږي

سوال: چه کوم سړی خپل والدین وهي او تکوي او بنکنځاوي ورته کوي د دلسي سړي په باره کښې د شریعت مقدسه څه حکم دی؟ او تر څو پورې چه والدین له خپل اولاد څخه ناراضه وي نو آیا د اولاد عبادتونه قبلیږي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د والدینو نافرماني کبیره ګناه ده۔ له دي بد فعل څخه توبه ایستل او والدین راضي کول ډیره ضروري خبره ده۔ او تر څو پورې چه له خپلې نومورې بد فعل څخه توبه و نه باسي له مور او پلار څخه به عاق وي او د والدینو د عاق هیڅ یو عبادت هم د الله تعالی په دربار کښې مقبول نه وي او نه جنت ته تللی شي۔ په نبويﷺ احادیثو کښې د والدینو د نافرمان مختلفې سزاګانې بیان شوي دي۔

لما ورد فی الحدیث: عن ابی امامةؓ قال قال رسول اللهﷺ ثلاثة لا یقبل الله عز وجل منهم صرفاً و لا عدلاً عاق و لامنان و مکذب بقدر. رواه ابن ابی عاصم فی کتاب السنة باسناد حسن. (الترغیب و الترهیب ج۳، ص۳۲۸)

قال المفتی عزیز الرحمٰن: دلسي سړی فاسق، ظالم او د مور او پلار عاق دی او د الله تعالی په مقدس شان کښې د ګستاخی کومه کلمه ویل کفر او ارتداد دی۔ (فتاوی دار العلوم دیوبند ج۱۲، ص۲۶۶، احکام المرتد)

د معراج په شپه کښې د الله تعالی د لیدلو د عقیدې وضاحت

سوال: آیا په لیلة الاسرٰی (د معراج په شپه) کښې رسول اللهﷺ الله تعالی پخپلو ظاهري سترګو (د سر په سترګو) لیدلی دی او که د زړه په سترګو؟ د شریعت مقدسه په رنا کښې د دې مسئلې وضاحت وکړی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په لیلة الاسرٰی کښې د رسول اللهﷺ د الله تعالی د لیدلو په باره کښې د صحابۂ کرامو له زمانې څخه اختلاف راروان دی۔ حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها او ابن مسعود رضی الله تعالی عنه د الله تعالی د نه لیدلو قائل دي۔ په دلسي حال کښې چه ابن عباس، کعب، حسن رضی الله تعالی عنهم ئې د لیدلو قائل دي۔ د لیدلو د قائلینو پخپل منځ کښې بیا اختلاف دی چه ځینې ئې د سر په سترګو د لیدلو قائل دي او ځینې د زړه په سترګو د لیدلو قائل دي۔ فلذهب جماعة الی انه رأی ربه بفؤاده دون عینه و ذهب جماعة الی انه رأه بعینه. (مرقات ج۱۰، ص۳۴۹)

لومړنی قول ته علماء کرام ترجیح ورکوي۔

لما قال العلامة ملا علیؒ القاریؒ: و علی هٰذا رأی بقلبه ربهٗ رؤیة صحیحة و هو ان الله تعالی جعل بصرهٗ فی فؤاده او خلق لفؤاده بصراً حتی رأی ربه رؤیة صحیحة کما یری بالعین قلتُ و هٰذا قول حسن و وجه مستحسن یمکن به الجمع بین متفرقات الاقوال. (مرقاة علی المشکوٰة ج۱۰، ص۳۴۹)

قال العلامة التفتازانیؒ: و ما قال بعض السلف من وقوع الرؤیة بالبصر لیلة المعراج فالجمهور علی خلافه و قد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

روی انهٗ سئل هل رأیت ربك فقال رأیت ربی بفؤادی. (شرح المقاصد ج۲، ص۱۲۳)

د نبي کریم ﷺ له نامه سره درود ویل له لکی سره د مشابه کولو حکم

سوال: یوه سړي د نبي کریم ﷺ له مبارك نامه سره درود ویل له لکی سره تعبیر ورکړ. آیا د محمد ﷺ له نامه سره درود ویل د (لکی) له لګولو سره برابر دي؟ د شریعت له مخي د دې سړي حکم څه دی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: الله تعالی ته په ټولو کائناتو کښې تر ټولو افضل او محبوب د انبیاوو او مرسلینو امام جناب محمد رسول الله ﷺ دی. د ده مبارك ﷺ عظمت، عزت او متابعت د الله تعالی د خوشنودی او رضا سبب دی او د ده عزت، عظمت او احترام نه کول د الله تعالی د نارضایي سبب ګرځي. په نبي کریم ﷺ باندې درود ویل د ده د تعظیم او تکریم لپاره روا شوی دی. د الله تعالی ارشاد دی چه: یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَیْهِ وَ سَلِّمُوْا تَسْلِیْمًا☆ (سورة الاحزاب، آیت ۵۶)

و قال العلامة ابن عابدینؒ: بان المقصود من الصلوة علیه ﷺ تعظیمه. (رد المحتار ج۱، ص۳۸۳)

الله تعالی خپلو بندګانو ته حکم کوي چه "زما په محبوب محمد رسول الله ﷺ باندې ډیر ډیر درود او سلام وایی" همدارنګه د درود نه لوستونکو په اړه په احادیثو کښې ډیر ډیر وعیدونه راغلي دي. علامه ابن عابدینؒ په رد المحتار کښې هغه ټول حدیثونه را نقل کړي دي. د مستدرك یو روایت دی چه: عن کعب بن عُجرة..... یو اوږد حدیث دی چه یوه جمله ئې دا ده: فلما رقیت الثانیة قال جبریل بعد ما ذکرت فلم یُصَلِّ علیك فقلتُ آمین. (الحدیث)

چه د چا په مخکښې د جناب محمد رسول الله ﷺ مبارك نوم واخیستل شي او درود پرې و نه وایي هغه ته جبریل علیه السلام بد دعا کړي ده او نبي کریم ﷺ پرې آمین ویلی دی. په بل روایت کښې د: رغم انف رجل ذکرت عنده فلم یصلّ علیك الفاظ راغلي دي. په یو بل روایت کښې دا ډول ویل شوي دي چه: "شقی عبد ذکرت عندهٗ فلم یصلّ علیك".

علامه سیوطي په "جامع صغیر" کښې یو روایت په دې الفاظو سره نقل کړی دی: "من الجفاء ان اذکر عند الرجل فلا یصلی علیّ".

د دغو ټولو قرآني آیتونو او د حدیثو له روایتونو له مخي فقهاوو لیکلي دي چه په ټول عمر کښې یو ځل په نبي کریم ﷺ باندې درود ویل فرض دي او چه کله د نبي کریم ﷺ مبارك نوم اخیستل کیږي نو د صحیح مذهب له مخي په دې وخت کښې درود ویل واجب دي. او په لمانځه کښې سنت دي او نور چه څومره ممکن وي درود ویل پرې مستحب دي.

لما قال العلامة علاؤ الدین الحصکفیؒ: و رجحه فی البحر باحادیث الوعید کرغم و ابعاد و شقاء و بخل و جفاء ثم فتکون فرضاً فی العمر و واجباً کلما ذکر علی الصحیح و حراماً عند الفتح المتاع. (الدر المختار علی هامش رد المحتار ج۱، ص۳۴۲)

له دغو ټولو نصوصو څخه په څرګنده توګه دا معلومیږي چه درود شریف یو روا کار دی او فقهاوو لیکلي دي چه د شریعت د هر یوه کار یا امر سپکاوی د کفر موجب دی. درود

شریف هم یو مشروع کار دی له دې وجهې انکار ترې کول یا په دین کښې معتبر شی نه ګڼل یا سپکاوی کول د کفر موجب دی.

لما فی الهندیة: سألت صدر الاسلام جمال الدین عمن قرأ حدیثاً من احادیث النبی ﷺ فقال رجلٌ "بمروز طاق باخواند" قال ان اجاف ذلك الی القاری لا الی النبی ﷺ یکفر ان حدیثاً ان کان حدیثاً یتعلق با لدین و احکام الشرع یکفر و ان کان حدیثاً لا یتعلق به لا یکفر و تحمل مقالته علی ان ارادته قرأة غیره اولی. (الفتاوی الهندیة ج۲، ص۲۹۶، الباب التاسع فی احکام المرتدین)

قال العلامة عالم بن العلاء الانصاری رحمه الله: و اذا روی رجل حدیثاً عن النبی ﷺ و رده آخر قال بعض مشائخنا انهٗ یکفر و من المتأخرین من قال ان کان متواتراً یکفر و کذلك لو قال بطریق الاستخفاف سمعناه کثیراً یکفر. (الفتاوی التاتارخانیة ج۵، ص۴۸۱، کتاب احکام المرتدین) و مثله فی رد المحتار ج۴، ص۲۲۲، باب احکام المرتدین.

د نبي کریم ﷺ له معراج څخه د انکار کولو حکم

سوال: یو سړی د نبي کریم ﷺ د معراج په اړه دا عقیده لري چه نبي کریم ﷺ په خوب کښې معراج ته تللی وو. نبي کریم ﷺ آسمانونو ته د ور بللو څه ضرورت وو په دې اسې حال کښې چه الله تعالی په هر ځای کښې حاضر، ناظر او موجود دی. شرعا په دې اسې سړي باندې څه حکم لګول کیږي؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د اهل سُنت و الجماعت دا متفقه فیصله ده چه الله تعالی خپل خور او محبوب بنده حضرت محمد مصطفی، احمد مجتبیٰ ﷺ د معجزې په توګه او په ډیر اعزاز او اکرام سره نبي د نازولو په خاطر خپل خاص دربار ته د ور بللو سره له ځان سره د خبرو کولو مرتبه ورکړې ده. چنانچه دی مبارك ﷺ د ویښې په حالت کښې له خپل عنصري جسد سره د جبریل علیه السلام په ملګرتیا په براق باندې سور شو لومړی نبي مسجد اقصیٰ ته تشریف یوړ. هلته له براق څخه ښکته او براق نبي د دروازې په ځنځیر کښې وتاړه او بیا نبي د ټولو انبیاء کرامو امامت وکړ. بیا له هغه ځای څخه لومړی آسمان، دوهم، دریم تر دې پورې چه اووم آسمان، عرش او کرسي او د جنت او جهنم سیل نبي وکړ. دې ته معراج ویل کیږي او حق او ثابت دی. د معراج څه برخه له مسجد حرام څخه تر مسجد اقصیٰ پورې قطعي او یقیني ده ځکه چه ثبوت ئې د قرآن پاك له دې آیت کریمه څخه چه: سُبْحٰنَ الَّذِیْٓ اَسْرٰی بِعَبْدِهٖ لَیْلًا مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ اِلَی الْمَسْجِدِ الْاَقْصَی (سورة الاسراء، آیت ۱) کیږي. له دې څخه منکر کافر او مرتد دی. او بیا له بیت المقدس څخه پورته تر آسمانونو پورې ثبوت ئې د صحیحو احادیثو له مخي شوی دی. لهذا د دې منکر اګر که کافر نه دی لیکن فاسق، فاجر، ضال او مبتدع خو خامخا دی. په دې اسې حال کښې چه د الله تعالی عادت شریفه دی چه د خپلو خوښ کړ شویو نبیانوؑ حقانیت او د هغه دښمنان د عاجزولو او ذلیلولو په خاطر د خپلو نیکو بندګانو په لاس د اسې افعال صادروي چه د هغه له کولو څخه عام خلك عاجزه وي او په هیڅ صورت ئې نه شي تر سره کولی. دې ته معجزه ویل کیږي. نو د معراج واقعه هم د نبي کریم ﷺ له معجزاتو څخه دی. له دې وجهې دا اعتراض

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

چه په دا سې حال کښې چه الله تعالی هر ځای حاضر او ناظر دی نو بیا نبي کریم ﷺ آسمانونو ته د ور بللو ضرورت څه وو؟ بې ځایه، بې محله او ناقابل التفات دی۔ بیا خو نعوذ باالله دا هم ویل کیدلی شي چه الله تعالی په دومره مخلوقاتو کښې نبي کریم ﷺ ولې آخري نبي جوړ کړ او تر تولو مخکښینیو پیغمبرانو ټې ولې ده مبارک ﷺ ته یو امتیازي شان ور په برخه کړ؟ نعوذ بك من شرّ الوسواس الخنّاس۔

لما قال العلامه مُلاّ علی القاریؒ و فی الخلاصة من انکر المعراج ینظر ان انکر الاسراء من مکة الی بیت المقدس فهو کافر و لو انکر المعراج من بیت المقدس لا یکفر. (شرح الفقه الاکبر ص ۱۴۴، بحث فی انّ المعراج حق)

قال فی النبراس: فالاسراء و هو من المسجد الحرام الی بیت المقدس قطعی ای یقینی ثبت بالکتاب ای القرآن و السنة و یکفر منکرهٗ و المعراج من الارض الی السمآء مشهور ای ثبت بالحدیث المشهورة فلا یکفر منکره بل یفسق و من السماء الی الجنة او العرش او غیر ذلك احاد ای مروی غیر الآحاد بالم منکره. (النبراس ص ۴۷۴، سورة الاسراء) و مثله فی شرح العقیدة الطحاویة ص ۲۴۵، تحت قوله و المعراج حق الی آخره.

قیامت ته نژدې وخت کښې د عیسیٰ علیه السلام راکښته کیدل د ختم نبوت سره تکر نه دی

سوال: څه فرمایي علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چه کله حضرت عیسیٰ علیه السلام قیامت ته په نژدې وخت کښې له آسمان څخه را کښته کیږي۔ نو آیا د پیغمبر په حیثیت سره را کښته کیږي او که د امام الانبیاء محمد رسول الله ﷺ د اُمتي په حیث را کښته کیږي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د حضرت عیسیٰ علیه السلام ژوندی آسمان ته خیژول، او قیامت ته په نژدې وخت کښې بیرته را کښته کیدل او بیا د محمدي شریعت د تابع جوړیدلو په صورت کښې په دنیا کښې اوسیدل د مسلمه امت متفقه عقیده ده او له قرآني آیتونو او متواتر المعنی حدیثونو څخه ثابته ده ثبوت تر لاسه کیږي۔ د حضرت عیسیٰ علیه السلام ذاتي حیثیت به په یقیني توګه د نبي او پیغمبر وي او د مخکښینیو انبیاوو په شان به د الله تعالی له خوا څخه وحی هم نازلیږي۔ لیکن د دې تر څنګ به دی د محمدي ﷺ شریعت تابع وي۔ البته دا وحی به د محمدي شریعت د بدلولو لپاره نه وي بلکه د هغه وخت د حالاتو له مخې به ضروري احکام وي۔ لهذا دی به له نزول څخه وروسته په دوو صفتونو موصوف وي یو د نبوت شان او بل د محمدي امتي توب شان۔ لیکن دنبوت شان به ټې د نبي کریم ﷺ له ختم نبوت سره به تکر نه وي۔ ځکه چه د ختم نبوت مطلب دا دی چه تر نبي کریم ﷺ وروسته هیڅا ته هم د نبوت منصب نه ورکول کیږي او حضرت عیسیٰ علیه السلام له نبي کریم ﷺ څخه مخکښې نبي وو او دنیا ته راغلی وو۔

لما قال الامام فخر الدین الرازیؒ: تحت قوله تعالی: و ان من اهل الکتاب الاّ لیؤمنن به قبل موته ای قبل موت عیسیٰ المراد ان اهل الکتاب الذین یکونون موجودین فی زمان نزوله لا بد ان یؤمنوا به قال بعض المتکلمین انهٗ لا یمنع نزوله من السماء الی الدنیا الا انهٗ انما ینزل عند ارتفاع التکالیف او بحیث لا یعرف اذ لو نزل مع بقاء التکالیف علی وجه یعرف انهٗ عیسیٰ علیه السلام لکان اما ان یکون نبیاً و لا نبی بعد محمد ﷺ او غیر و غیر ذلك جائز علی الانبیاء و هذا الاشکال عندی ضعیف لان انتهاء الانبیاء الی مبعث محمد ﷺ فعند مبعثه انتهت تلك المدة فلا یبعد ان یصیر بعد نزوله تبعاً لمحمد ﷺ. (تفسیر کبیر ج۱۱/۱۲، ص۱۰۴، سورة النسآء، آیت ۱۵۹)

قال العلامة ابن البزاز الکردریؒ: و اما الایمان بسیدنا علیه السلام فیجب بانه رسولنا فی الحال و خاتم الانبیاء و الرسل فاذا آمن بانه رسول و لم یؤمن بانهٗ خاتم الرسل لا ینسخ دینه الی یوم القیامة لا یکون مؤمناً و عیسیٰ علیه السلام ینزل الی الناس و یدعوا الی شریعته و سائق لأمته الی دینه. (فتاوی بزازیة علی هامش الهندیة ج۶، ص۳۲۷، نوع فیما یتصل بها مما یجب اکفاره من اهل البدع، الثالث فی الانبیاء) و مثله فی شرح الفقه الاکبر ص۱۱۲.

د مړي جسم د تکړې تکړې کیدو په صورت کښې د قبر د عذاب او ثواب حکم

سوال: د هندوانو د رسم او رواج مطابق چه کوم سړی په اور کښې وسوځول شي یا په اوبو کښې ډوب شي او تکړې تکړې شي یا ټې کوم ځناور وخوري نو آیا د لسې سړي ته به هم د قبر عذاب او ثواب ورکول کیږي او که نه؟ او که ورکول کیږي نو کیفیت به ټې څرنګه وي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په عالم برزخ کښې عذاب او ثواب له مختلفو آیتونو او حدیثو څخه ثابت دي۔ د کوم مړو بدنونه چه پورتنیو طریقو مطابق بالکل له منځه لاړ شي او په ظاهره له سترګو څخه پناه شي هغو ته هم جزا او سزا ورکول کیږي چه مونږ ټې د حقیقت له ادراك څخه قاصر یو۔ په هر حال جزا او سزا روح او بدن دواړو ته ورکول کیږي او دا تر تولو صحیح قول دی۔ په عالم برزخ کښې د روح له جسم سره یو ډول تعلق او ربط وي چه له مخې ټې روح ته د سزا په ورکولو سره جسم هم متاثر کیږي۔ او کوم تکلیف او راحت چه روح ته ورکول کیږي باقاعده ټې جسم هم محسوس کوي اګر که د جسم اجزاوي تکړې تکړې شوی وي او په بنکاره توګه له سترګو څخه پناه شوی وي۔

لما قال الامام ابو حنیفةؒ: و ضغطة القبر حق و عذابه حق کائن للکفار کلهم و لبعض المسلمین و قال مُلاّ علی القاریؒ فی شرحه و اعلم ان اهل الحق اتفقوا علی ان الله تعالی یخلق فی المیّت نوع حیاة فی القبر قدر ما یتألم او یتلذذ الخ. (شرح الفقه الاکبر ص۱۴۷، فی ان عذاب القبر حق)

و قال العلامة ابن ابی العز الحنفیؒ: و قد تواترت الاخبار عن رسول اللهﷺ فی ثبوت عذاب القبر و نعیمه لمن کان ذلك اهلاً و سوال الملکین فیجب اعتقاد ثبوت ذلك و الایمان به و لا نتکلم فی کیفیته الخ ص۴۵۰/۴۵۱ و کذلك عذاب القبر یکون للنفس و البدن جمیعاً باتفاق اهل السنة و الجماعة تنعم النفس و یعذب مفردة عن البدن و متصلة به و

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

اعلم ان عذاب القبر هو عذاب البرزخ فكل من مات و هو مستحق للعذاب نالہ نصیب منه قبر او لم یقبر اكلت السباع او احترق حتی صار رماداً و نسف فی الهواء او صلب او غرق فی البحر وصل الی روحه و بدنه من العذاب ما یصلی المقبور. (شرح العقیدة الطحاویة ص ۴۵۰/۴۵۱، الایمان بعذاب القبر) و مثله فی شرح العقائد النسفی ص ۹۸، عذاب القبر.

د قبرونو د زیارت په موقع باندې د ځینو غیر شرعي رسمونو او رواجونو یادونه

سوال: په ځینو زیارتونو کښې ځینې عجیب او غریب کارونه ترسترګو کیږي لکه له صاحبِ قبر څخه مدد غوښتل، د مالګې را اخیستل او خوړل او وړې وړې غونډۍ جوړول او د اسې نور. شرعاً دا افعال څه حیثیت لري؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: غیر الله ته پخپلو حاجاتو کښې ناري وهل او له هغه څخه مافوق الاسباب امداد غوښتل لکه څرنګه چه له عامو قرآني نصوصو او احادیثو څخه ثابت دي حرام او د شرکیه امورو له جملې څخه دي۔ همدا رنګه د په زیارتونو کښې د پرتو خلکو په نامه باندې نذر او نیاز هم حرام او شرک دي او د دې عقیدې لاندې له هغه ځای څخه مالګه اخیستل او وړې وړې غونډې جوړول هم ناجائز او حرام دي۔

قال الله تبارك و تعالی: وَ مَنْ اَضَلُّ مِمَّنْ یَّدْعُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَنْ لَّا یَسْتَجِیْبُ لَهٗ اِلٰی یَوْمِ الْقِیٰمَةِ وَ هُمْ عَنْ دُعَآىِٕهِمْ غٰفِلُوْنَ☆ (سورة الاحقاف، آیت ۶)

لما ورد فی الحدیث: و عن جابرؓ قال نهی رسول اللهﷺ ان یجصص القبر و ان یبنی علیه و ان یقعد علیه. (المشکوٰة ص ۱۴۸، باب دفن المیت)

و قال العلامة الحصکفیؒ: و اعلم ان النذر الذی یقع للاموات من اکثر العوام و ما یؤخذ من الدراهم و الشمع و الزیت و نحوها الی ضرائح الاولیاء الکرام تقرباً الیهم فهو با لاجماع باطل حرام ما لم یقصدوا صرفها لفقراء الانام و قد ابتلی الناس بذلك. (الدر المختار علی هامش رد المحتار ج ۲، ص ۴۳۹، کتاب الصوم)

قال الله تبارك و تعالی: وَ لَا تَدْعُ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا یَنْفَعُكَ وَ لَا یَضُرُّكَ فَاِنْ فَعَلْتَ فَاِنَّكَ اِذًا مِّنَ الظّٰلِمِیْنَ☆ (سورة یونس، آیت ۱۰۶)

و عن ابی الهیاج قال قال لی علی الا ابعثك علی ما بعثنی رسول اللهﷺ اَنْ لَا تَدَعَ تِمْثَالًا اِلَّا طَمَسْتَه و لا قبراً مشرفاً اِلَّا سَوَّیْتَهٗ رواه مسلم. (مشکوٰة ص ۱۴۸، باب دفن المیت)

و قال رسول اللهﷺ اذا سئلت فاسئل الله و اذا استعنت فاستعن بالله. (مشکوٰة المصابیح ص ۴۵۳، باب التوکل و الصبر) و مثله فی الفتاوی الهندیة ج ۵، ص ۳۵۱، الباب السادس عشر فی زیارة القبور الخ.

اسلام د ژوند یوه مکمله تګلاره ده

سوال: آیا اسلام د ژوند یوه مکمله ضابطه ده او آیا د راتلونکو تولو نوي مسائلو حل په اسلام کښې موجود دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: مسلمان باید د اسې عقیده ولري چه د حضرت محمد رسول اللهﷺ

په لاس راوړل شوی د اسلام دین د ژوند یو مکمل قانون دی۔ محمدیﷺ دین عالم گیر هم دی او احوال گیر هم۔ د ژوند هیڅ یو اړخ او یوه شعبه نشته چه اسلام په هغې کښې لارښوونه نه وي کړې۔ اسلامي نظام په معاشرتي، معاشي او اقتصادیاتو په تولو اړخونو باندې چاپیره دی۔ په اسلام کښې یوائې د مسلمانانو لپاره نه بلکه د تول بشریت لپاره د فلاح او بهبود پیغام موجود دی بلکه د تولو حقوق او د هغو د پاملرنې لحاظ په اسلام کښې شوی دی۔ همدا رنګه د محمدیﷺ دین او شریعت هیڅ یوه خبره د عقل په خلاف نه ده۔ البته مونږ لکه څرنګه چه ناقص العقله یو د دې لپاره ډیرې خبرې مونږ ته تر عقل پورته ښکاریږي چه نقصان زمونږ د کمزورۍ او ناقص عقل دی نه د اسلام د دین۔

قال الله تبارك و تعالی: وَ لَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ فِیْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ مِنْ كُلِّ مَثَلٍ لَّعَلَّهُمْ یَتَذَكَّرُوْنَ☆ قُرْاٰنًا عَرَبِیًّا غَیْرَ ذِیْ عِوَجٍ لَّعَلَّهُمْ یَتَّقُوْنَ☆ (سورة الزمر آیت ۲۷/۲۸)

و قال ایضاً: اَلْیَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِیْنَكُمْ وَ اَتْمَمْتُ عَلَیْكُمْ نِعْمَتِیْ وَ رَضِیْتُ لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِیْنًا. (المائدة آیت ۳)

و قال ایضاً: وَ نَزَّلْنَا عَلَیْكَ الْكِتٰبَ تِبْیَانًا لِّكُلِّ شَیْءٍ وَّ هُدًی وَّ رَحْمَةً وَّ بُشْرٰی لِلْمُسْلِمِیْنَ☆ (سورة النحل، آیت ۸۹)

لما ورد فی الحدیث: قال ابن مسعود رضی الله تعالی عنه من اراد العلم فعلیه با لقرآن فان فیه خبر الاولین و الآخرین. رواه سعید بن منصور فی سننه. و قال ایضا: انزل فی هذا القرآن کل علم و بین لنا فیه کل شیء و لکن علمنا یقصر عما بین لنا فی القرآن. (رواه ابن جریر و ابن حاتم فی تفسیرهما) و قال: اذا احدثتکم بحدیث اتیتکم بتصدیقه من کتاب. (رواه ابن ابی حاتم و قال النبیﷺ ستکون فتنة قیل و ما المخرج منها؟ قال کتاب الله فیه نبأ ما قبلکم و خبر ما بعدکم و حکم ما بینکم. (الجامع الترمذی ج ۲، ص ۱۱۸، باب ما جاء فی فضل القرآن) و مثله فی نزول عیسیٰ بن مریم للامام جلال الدین سیوطی ص ۴۰/۴۱.

د قرآنکریم په اړه د تبدیلي عقیده درلودل

سوال: کوم قرآن مجید چه په دې وخت کښې له مسلمانانو سره موجود دی آیا دا هم هغه قرآن دی کوم چه نبي کریمﷺ د رحلت په وخت کښې صحابۂ کرامو ته پریښی وو او که څه تبدیلي پکښې راغلي ده؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د مسلمه امت بنیادي عقیده دا ده چه کوم قرآن مجید په دې اوس وخت کښې له مونږ سره موجود دی دا پخپله هغه قرآنکریم دی کوم چه د الله تعالی له خوا څخه د جبریل علیه السلام په واسطه په حضرت محمد مصطفی احمد مجتبیٰﷺ باندې په درویشتو کلونو کښې نازل شوی وو او تر اوسه پکښې کوم بدلون نه دی راغلي او نه به تر قیامته پورې پکښې راشي۔ تر دې پورې چه لهجه او رسم الخط ئې هم په هم هغه ډول محفوظ دی۔ د نبي کریمﷺ له مبارکې زمانې څخه واخله تر اوسه پورې په هرې زمانې کښې د لکونو او میلیونونو حافظانو په سینو کښې په محفوظه توګه را رسیدلی دی۔ او انشاء الله تر قیامته پورې به د هر ډول تغیر او تبدیل څخه محفوظ وي۔ د دې لپاره چه د قرآن مجید هر حرف د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

اعلم ان عذاب القبر هو عذاب البرزخ فكل من مات و هو مستحق للعذاب ناله نصيب منه قبر او لم يقبر اكلت السباع او احترق حتى صار رماداً و نسف في الهواء او صلب او غرق في البحر وصل الى روحه و بدنه من العذاب ما يصلى المقبور. (شرح العقيدة الطحاوية ص ٤٥٠/٤٥١، الايمان بعذاب القبر) و مثله في شرح العقائد النسفي ص ٩٨، عذاب القبر.

د قبرونو د زيارت په موقع باندې د ځينو غير شرعي رسمونو او رواجونو يادونه

سوال: په ځينو زيارتونو کښې ځينې عجيب او غريب کارونه ترسترګو کيږي لکه له صاحب قبر څخه مدد غوښتل، د مالګې را اخيستل او خوړل او وړې وړې غونډې جوړول او د اسې نور. شرعاً دا افعال څه حيثيت لري؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: غير الله ته پخپلو حاجاتو کښې ناري وهل او له هغه څخه مافوق الاسباب امداد غوښتل لکه څرنګه چه له عامو قرآني نصوصو او احاديثو څخه ثابت دي حرام او د شرکيه امورو له جملې څخه دي. همدارنګه د په زيارتونو کښې د پرتو خلکو په نامه باندې نذر او نياز هم حرام او شرک دي او د دې عقيدې لاندې له هغه ځای څخه مالګه اخيستل او وړې وړې غونډې جوړول هم ناجائز او حرام دي.

قال الله تبارك و تعالى: وَمَنْ أَضَلُّ مِمَّنْ يَدْعُوا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَنْ لاَّ يَسْتَجِيْبُ لَهٗ إِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ وَهُمْ عَنْ دُعَائِهِمْ غٰفِلُوْنَ☆ (سورة الاحقاف، آيت ٦)

لما ورد في الحديث: و عن جابرؓ قال نهى رسول اللّٰهﷺ ان يجصص القبر و ان يبنى عليه و ان يقعد عليه. (المشكوة ص ١٤٨، باب دفن الميت)

و قال العلامة الحصكفيؒ: و اعلم ان النذر الذى يقع للاموات من اكثر العوام و ما يؤخذ من الدراهم و الشمع و الزيت و نحوها الى ضرائح الاولياء الكرام تقرباً اليهم فهو باجماع باطل حرام ما لم يقصدوا صرفها لفقراء الانام و قد ابتلى الناس بذلك. (الدر المختار على هامش رد المحتار ج ٢، ص ٤٣٩، كتاب الصوم)

قال الله تبارك و تعالى: وَلاَ تَدْعُ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لاَ يَنْفَعُكَ وَلاَ يَضُرُّكَ فَإِنْ فَعَلْتَ فَإِنَّكَ إِذًا مِّنَ الظّٰلِمِيْنَ☆ (سورة يونس، آيت ١٠٦)

و عن ابى الهياج قال قال لى على الا ابعثك على ما بعثنى رسول اللّٰهﷺ أَنْ تَدَعَ تِمْثَالاً اِلاَّ طَمَسْتَهٗ وَلاَ قَبْراً مُشْرِفاً اِلاَّ سَوَّيْتَهٗ. رواه مسلم. (مشكوة ص ١٤٨، باب دفن الميت)

و قال رسول اللّٰهﷺ اذا سئلت فاسئل الله و اذا استعنت فاستعن بالله. (مشكوة المصابيح ص ٤٥٣، باب التوكل و الصبر) و مثله في الفتاوى الهندية ج ٥، ص ٣٥١، الباب السادس عشر في زيارة القبور الخ.

اسلام د ژوند يوه مکمله تګلاره ده

سوال: آيا اسلام د ژوند يوه مکمله ضابطه ده او آيا د راتلونکو تولو نوي مسائلو حل په اسلام کښې موجود دی او که نه؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: مسلمان بايد داسې عقيده ولري چه د حضرت محمد رسول اللّٰهﷺ

په لاس راوړل شوی د اسلام دين د ژوند يو مکمل قانون دی. محمدي ﷺ دين عالم گير هم دی او احوال گير هم. د ژوند هيڅ يو اړخ او يوه شعبه نشته چه اسلام په هغې کښې لارښوونه نه وي کړې. اسلامي نظام په معاشرتي، معاشي او اقتصادياتو په تولو اړخونو باندې چاپيره دی. په اسلام کښې يواځې د مسلمانانو لپاره نه بلکه د ټول بشريت لپاره د فلاح او بهبود پيغام موجود دی بلکه د تولو حقوق او د هغو د پاملرنې لحاظ په اسلام کښې شوی دی. همدارنګه د محمدي ﷺ دين او شريعت هيڅ يوه خبره د عقل په خلاف نه ده. البته مونږ لکه څرنګه چه ناقص العقله يو د دې لپاره دېرې خبرې مونږ ته تر عقل پورته ښکاريږي چه نقصان زمونږ د کمزورۍ او ناقص عقل دی نه د اسلام د دين.

قال الله تبارك و تعالى: وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ فِيْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ مِنْ كُلِّ مَثَلٍ لَّعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ☆ قُرْاٰناً عَرَبِيًّا غَيْرَ ذِيْ عِوَجٍ لَّعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ☆ (سورة الزمر آيت ٢٧/٢٨)

و قال ايضاً: اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَاَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ وَرَضِيْتُ لَكُمُ الْاِسْلاَمَ دِيْناً. (المائدة آيت ٣)

و قال ايضاً: وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ تِبْيَاناً لِّكُلِّ شَيْءٍ وَّهُدًى وَّرَحْمَةً وَّبُشْرٰى لِلْمُسْلِمِيْنَ☆ (سورة النحل، آيت ٨٩)

لما ورد في الحديث: قال ابن مسعود رضى الله تعالى عنه من اراد العلم فعليه بالقرآن فان فيه خبر الاولين و الآخرين. رواه سعيد بن منصور في سننه. و قال ايضا: انزل في هذا القرآن كل علم و بين لنا فيه كل شيء و لكن علمنا يقصر عما بين لنا في القرآن. (رواه ابن جرير و ابن حاتم في تفسيرهما) و قال: اذا احدثكم بحديث اتيتكم بتصديقه من كتاب. (رواه ابن ابى حاتم و قال النبيﷺ ستكون فتنة قيل و ما المخرج منها؟ قال كتاب الله فيه نبأ ما قبلكم و خبر ما بعدكم و حكم ما بينكم. (الجامع الترمذى ج ٢، ص ١١٨، باب ما جاء في فضل القرآن) و مثله في نزول عيسى بن مريم للامام جلال الدين سيوطى ص ٤٠/٤١.

د قرآنکريم په اړه د تبديلي عقيده درلودل

سوال: کوم قرآن مجيد چه په دې وخت کښې له مسلمانانو سره موجود دی آيا دا هم هغه قرآن دی کوم چه نبي کريم ﷺ د رحلت په وخت کښې صحابۀ کرامو ته پريښی وو او که څه تبديلي پکښې راغلې ده؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د مسلمه امت بنيادي عقيده دا ده چه کوم قرآن مجيد په دې اوس وخت کښې له مونږ سره موجود دی دا پخپله هغه قرآنکريم دی کوم چه د الله تعالى له خوا څخه د جبريل عليه السلام په واسطه په حضرت محمد مصطفى احمد مجتبى ﷺ باندې په درويشتو کلونو کښې نازل شوی وو او تر اوسه پکښې کوم بدلون نه دی راغلې او نه به تر قيامته پورې پکښې راشي. تر دې پورې چه لهجه او رسم الخط ټې هم په هم هغه ډول محفوظ دی. د نبي کريم ﷺ له مبارکې زمانې څخه واخله تر اوسه پورې په هرې زمانې کښې د لکونو او ميليونونو حافظانو په سينو کښې په محفوظه توګه را رسيدلی دی. او انشاء الله تر قيامته پورې به د هر ډول تغير او تبديل څخه محفوظ وي. د دې لپاره چه د قرآن مجيد هر حرف د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

تواتر حد ته رسیدلی دی۔ د ټولو فقهاء کرامو او متکلمینو په دې باندې اتفاق دی چه کوم سړی په قرآن کښې د تغیر او تبدل عقیده ولري هغه پرته له شك او شبهې څخه کافر دی۔ له دې وجهې چه الله تعالی د قرآن مجید د حفاظت ذمه واري پخپله وهلې ده۔ د الله تعالی ارشاد دی چه:

قال الله تعالی: اِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَ اِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ☆ (سورة الحجر آیت ۹)

و قال ایضا: قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا غَيْرَ ذِيْ عِوَجٍ لَّعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ☆ (سورة الزمر، آیت ۲۸)

و قال العلامة عماد الدین ابن کثیرؒ تحت قوله تعالی: اِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَ اِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ ای لم قال تعالی انه هو الذی انزل علیه الذکر و هو القرآن و هو الحافظ لهٗ من التغیر و التبدیل. (تفسیر ابن کثیر ج۲، ص۵۴۷، سورة الحجر، پاره ۱۴، آیت ۵)

لما قال العلامة ابو عبد الله احمد القرطبیؒ: اِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَ اِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ من ان یزاد فیه او ینقص منه قال قتادة و ثابت البنانی حفظه الله من ان تزید فیه الشیاطین باطلاً او تنقص منه حقاً فتولّی سبحانهٗ حفظه فلم یزل محفوظاً. (الجامع لاحکام القرآن ج۱۰، ص۵، پاره ۱۴، سورة الحجر، آیت۹) و مثله فی شرح الفقه الاکبر ص۱۶۷، فصل فیما یتعلق با لقرآن.

کفـــــار به د تل لپاره په جهنم کښې وي

سوال: که چېرته یو څوك دا عقیده ولري چه کفار به هم په جهنم کښې د کفر او شرك د سزا له تیرولو وروسته جنت ته داخلیږي ځکه چه یع سړي شپیته یا اویا کاله کفر او شرك کړی وي او عذاب پرې د همیشه لپاره وي نو دا ظلم دی۔ سزا باید د جرم مطابق وي۔ د دا سې سړي په باره کښې د شریعت څه حکم دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د مسلمه امت دا عقیده ده چه کوم سړی له دې دنیا څخه د کفر او شرك په حالت کښې لاړ شي او تر مرګه پورې د اسلام دولت ور په برخه نه شي نو هغه به د تل لپاره په جهنم کښې پاتې وي۔ او هیڅکله به هم له جهنم څخه خلاصون نه پیدا کوي۔ د قرآنکریم له بې شماره آیتونو او صحیحو حدیثونو څخه په څرګنده توګه د دې عقیدې ثبوت لاس ته راځي۔ الله تعالی د دې تل تر تله عذاب وجه داسې بیان کړې ده: وَ لَوْ رُدُّوْا لَعَادُوْا لِمَا نُهُوْا عَنْهُ. (سورة الانعام، آیت۲۸) "چه که چېرته دا خلك د بیا لپاره دنیا ته ور ولیږم نو دا خلك بیا د کفر او شرك خواته مخ اړوي"۔

لهذا الله تعالی ته له ازل څخه دا معلومه وه چه که چېرته دې سړي ته ابدي ژوند ورکړ شي نو همیشه به له کفر او شرك څخه نه منع کیږي۔ پس د نوموړي کفر او شرك هم ابدي دی او سزا به هم ابدي وي۔ له دې وجهې چه کوم سړی د ناقص العقلي په بناء باندې له دې عقیدې څخه اوښتی وي نو هغه له محمدي ﷺ دین څخه وتلی دی۔

قال الله تبارك و تعالی: اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِنَا سَوْفَ نُصْلِيْهِمْ نَارًا كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُوْدُهُمْ بَدَّلْنٰهُمْ جُلُوْدًا غَيْرَهَا لِيَذُوْقُوا الْعَذَابَ. (سورة النساء آیت ۵۶)

وقال الله تعالی ایضاً: وَيَاْتِيْهِ الْمَوْتُ مِنْ كُلِّ مَكَانٍ وَّمَا هُوَ بِمَيِّتٍ وَ مِنْ وَّرَآئِهٖ عَذَابٌ غَلِيْظٌ☆ (سورة ابراهیم، آیت ۱۶/۱۷)

و فی موضع آخر قال: اِنَّهٗ مَنْ يَّاْتِ رَبَّهٗ مُجْرِمًا فَاِنَّ لَهٗ نَارَ جَهَنَّمَ لَا يَمُوْتُ فِيْهَا وَ لَا يَحْيٰى☆ (سورة طٰه، آیت ۷۴)

و قال الله تعالی: قِيْلَ ادْخُلُوْا اَبْوَابَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا. (سورة الزمر، آیت ۷۲)

و قال الله تعالی: وَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَهُمْ نَارُ جَهَنَّمَ لَا يُقْضٰى عَلَيْهِمْ فَيَمُوْتُوْا وَ لَا يُخَفَّفُ عَنْهُمْ مِّنْ عَذَابِهَا. (سورة فاطر، آیت ۱۳۶)

و قال العلامة تفتازانی رحمه الله: و الجنّة و النار حق و هما مخلوقتان موجودتان باقیتان لا تفنیان و لا یفنی اهلها. ای دائمتان لا یطرء علیهما عدم مستمر. لقوله تعالی فی حق الفرقتین خٰلِدِيْنَ فِيْهَا اَبَدًا. و اما ما قیل من انهما تهلکان و لو لحظة تحقیقاً. لقوله تعالی: كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ اِلَّا وَجْهَهٗ فلا ینافی البقاء بهذا المعنی لانك قد عرفت انه لا دلالة فی الآیة علی الفناء و ذهبت الجهمیة الی انهما تفنیان و یفنی اهلها و هو قول المخالف الکتاب و السنة و الاجماع لیس علیه شبهة فضلاً عن حجة. (شرح العقائد ص۸۲، الجنة و النار الخ) و مثله فی شرح الفقه الاکبر ص۹۸/۹۹، الجنة و النار مخلوقان. و کذا فی شرح العقیدة الطحاویة ص۴۸۴، الجنة و النار.

د رمضـــــان المبارك په میاشت کښې د مړ شوی ګنهګار مسلمـــــان لپاره د قبر په عذاب کښې کموالی

سوال: که چېرته یو ګنهګار مسلمان د رمضان المبارك په میاشت کښې وفات شي نو له هغه څخه تر قیامته پورې عذاب پورته کیږي او که یو اخې د رمضان المبارك په میاشت کښې عذاب پرې سپك وي او بیا وروسته له رمضان څخه بیا عذاب ورکول کیږي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په حدیث شریف کښې راغلي دي چه کله د رمضان المبارك میاشت شروع شي نو د جنت دروازې خلاصیږي او د جهنم دروازې بندیږي"۔ له دې څخه څرګندیږي چه کوم ګنهګار مسلمان د رمضان المبارك په میاشت کښې وفات شي هغه به د قبر له عذاب څخه محفوظ وي۔

همدارنګه علامه ابن عابدین رحمه الله د رد المحتار ج۔۔۔۔ باب الجمعه کښې لیکلي دي چه که چېرته کوم ګنهګار مسلمان د رمضان المبارك په میاشت یا په غیر رمضان کښې د جمعې په ورځ یا شپه کښې وفات شي نو هغه د قیامت تر ورځې پورې د قبر له عذاب څخه محفوظ او مامون وي۔ البته کافر به همیشه په عذاب کښې مبتلا وي یو اخې د جمعې په ورځ او د رمضان په میاشت کښې عذاب پرې سپکیږي۔ البته ځینو دا خبره چه "ګنهګار د قیامت تر ورځې د قبر له عذاب څخه محفوظ پاتې کیږي" مرجوح ګڼلی دی۔

لما ورد فی الحدیث: قال النبی ﷺ اذا دخل رمضان فتحت ابواب السماء و فی روایة ابواب الجنة و غلقت ابواب جهنم الخ. (مشکوٰة المصابیح ص۱۷۳، کتاب الصوم)

قال العلامة ابن عابدینؒ: و ضغطة القبر حق ان کان کافراً فعذابه یدوم الی یوم القیامة و یرفع عنه یوم الجمعة و شهر رمضان..... و العاصی یعذب و یضغط لکن ینقطع عنه العذاب یوم الجمعة و لیلتها ثم لا یعودُ وَ من مات یومها او لیلتها یکون العذاب ساعة واحدة و ضغطة ثم لا یعود. (رد المحتار ج۱، ص۴۱۰، باب الجمعة) و مثله فی شرح الفقه الاکبر ص۱۰۲، ضغطة القبر.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

کل شیء هالك الا وجهه و کل نفس ذائقة الموت کښې د هلاکت او مرګ تفصیل

سوال: آیا په کل شیء هالك الاّ وجهه کښې جنت، جهنم او پل صراط داخل دي او که نه؟ او همدارنګه په کل نفس ذائقة الموت کښې د عرش حاملین او مقربې فرښتې داخلې دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د قرآن مجید دا مبارك آیت چه کل شیء هالك الاّ وجهه په تفسیر کښې د متکلمینو او مفسرینو قولونه مختلف دي۔ ځینو حضراتو د الفاظو عموم او ظاهر ته په کتو سره په تولو باندې د فناء کیدو حکم لګوي چه د الله تعالی له ذات ځخه پرته تول موجودات به هلاکیږي تر دې پورې چه جنت، دوزخ او د اسې نور به هم د هستې له صفحې ځخه رنګیږي یوا ځي او یوا ځي به د الله تعالی ذات بابرکات باقي او دائمي وي۔ البته دا هلاکت به د جنت او جهنم لپاره کم وخت وي او د همیشه لپاره به نه فناء کیږي۔ د دې لپاره چه هلاکت دائمي د فناء مستلزم نه وي۔ او دا د کوم وخت لپاره فنا والی د قرآن کریم د دې آیت چه کل شیء هالك الاّ وجهه د تحقیق لپاره وي۔ لکه څرنګه چه د جهنم په اړه د الله تعالی په بل ځای کښې ارشاد دی چه وَاِنْ مِّنْكُمْ اِلَّا وَارِدُهَا لاندې مفسرینو لیکلي دي چه هر نیك او بد سړی به جهنم باندې تیریږي لیکن د نیك سړي لپاره به یوا ځي تیریدل وي او د جهنم شحلي څه نقصان نه شي ور رسولی۔ په د اسې حال کښې چه ځینو مفسرینو فرمایلي دي چه لکه څرنګه چه جنت او جهنم پیدا شوي دي او اوس هم موجود دي نو قرآني نصوص په دې باندې دلالت کوي چه هغوی به نه فناء کیږي بلکه باقي او دائمي به وي لکه څرنګه چه الله تعالی ویلي دي: خٰلِدِيْنَ فِيْهَا اَبَدًا ، اُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِيْنَ. و غیر ذلك. (سورة آل عمران، آیت ۱۳۳)

لهذا د دغو نصوصو په بناء کل شيء د اکثریت لپاره دی او په تولو شیانو به محیط نه وي او جنت او جهنم به له دې حکم ځخه مستثنی وي لکه څرنګه چه د الله تعالی مبارك ارشاد دی چه: و اوتیت من کلّ شیء

او ځینو حضراتو فرمایلي دي چه دلته له هلاکت ځخه مراد مرګ دی او عمومیت ئې په دې اعتبار سره دی چه هر ذي روح چه په دنیا کښې موجود دی یعنې هر ذي روح ته به مرګ راځي او فناء کیږي به۔ د دې تائید حضرت ابن عباس رضی الله عنه له روایت ځخه هم کیږي کوم چه هغه د دې آیت په تفسیر کښې نقل کړی دی۔ کلّ حیّ میت الاّ وجهه

علامه ابن ابی العزاء الحنفي رحمه الله فرمایي چه "کل شیء هالك" ځخه تول هغه موجودات مراد دي چه د هغو په اړه الله تعالی د فناء او هلاکت فیصله کړې ده او جنت، جهنم او عرش ئې د باقي ساتلو لپاره پیدا کړي دي نه د فناء کیدو لپاره۔ لکه څرنګه چه قرآني نصوص ئې د مستثنی وي۔

همدارنګه کل نفس ذائقة الموت" کښې تول هغه روح لرونکي شیان داخل دي او ملائکي هم له دې حکم ځخه مستثنی نه دي۔ په تولو باندې یو ځل خامخا مرګ راځي او بیا په له سره پیدا کیږي لکه د نورو روح لرونکو شیانو غوندې۔

لما قال العلامة التفتازانی رحمه الله: و هما ای الجنة و النار مخلوقتان الا ان موجودتان باقیتان لا تفنیان و یفنی اهلها ای دائمتان لا یطرء علیها عدم مستمر لقوله تعالی فی حق الفریقین خٰلِدِيْنَ فِيْهَا اَبَدًا. و اما ما قیل انها تهلکان و لو لحظة تحقیقاً لقوله تعالی: كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ اِلَّا وَجْهَهٗ. فلا ینافی البقاء بهذا المعنی لانك عرفت انه لا دلالة فی الآیة علی الفناء و ذهبت الجهمیة الی انهما تفنیان و یفنی اهلها و هو قول مخالف الکتاب و السنة و الاجماع. (شرح العقائد ص۱۰۶)

و قال العلامة آلوسیؒ: و قال غیر واحد المراد بالهلاك خروج الشیء عن الانتفاع به المقصود منه اما بطرق اجزائه او نحوه و المعنی کل شیء سیهلك و یخرج عن الانتفاع به المقصود منه الا ذاته عز و جل و الظاهر انه أرید بالشیء الموجود المطلق لا الموجود وقت النزول فقط فیؤول المعنی الی قولنا کل موجود فی وقت من الاوقات سیهلك بعد وجوده الا ذاته عز و جل فیدل ظاهر الآیة علی هلاك العرش و الجنة و النار و الذی دل علیه الدلیل عدم هلاك الآخرین و جاء فی الخبر ان الجنة و سقفها عرش الرحمٰن و لهذا اعترض بهذه الآیة علی القائلین بوجود الجنة و النار الآن و المنکرین له القائلین بانهما سیوجد ان یوم الجزاء و یستمر ان ابد الآباد و اجتلفوا فی الجواب عن ذلك فمنهم من قال ان کلاً لیست للاحاطة بل للتکثیر کما فی قولك کل الناس جاء الا زیداً اذا جاء اکثرهم دون زید و ابد بما روی عن الضحاك انه قال فی الآیة کل شیء هالك الا الله عز و جل و العرش و الجنة و النار و منهم من قال ان المراد بالهلاك الموت و العموم باعتبار الاحیاء الموجودین فی الدنیا و ابد بما روی عن ابن عباسؓ انه قال فی تفسیر الآیة کل حی میت الا وجهه. (تفسیر روح المعانی ج۲۰، ص۱۱۳، سورة القصص، پاره ۲۰، آیت۸۸)

و قال الامام الرازیؒ: (تحت هذه الآیة) استدلت المعتزلة به علی ان الجنة و النار غیر مخلوقتین قالوا لان الآیة تقتضی فناء الکل فلو کانتا مخلوقتین لفنیتا و هذا یناقض قوله تعالی فی صفة الجنة، اُكُلُهَا دَآئِمٌ، و الجواب هذا معارض بقوله تعالی فی صفة الجنّة (اُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِيْنَ) و فی صفة النار (وَقُوْدُهَا النَّاسُ وَ الْحِجَارَةُ اُعِدَّتْ لِلْكٰفِرِيْنَ) ثم اما ان یحمل قوله کل شیء هالك علی الاکثر کقوله (وَ اُوْتِيَتْ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ) او یحمل قوله اُكُلُهَا دَآئِمٌ علی ان زمان فنائهما لما کان قلیلاً بالنسبة الی زمان بقائهما لا جرم اطلق لفظ الدوام علیه. (تفسیر کبیر ج۲۵/۲۶، سورة القصص، آیت۸۸، پاره ۲۰)

و قال الامام عماد الدین ابن کثیر رحمه الله: تحت قول الله تعالی كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ یخبر الله تعالی اخباراً عاماً یعم جمعی الخلیقة بان كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ کقوله تعالی: كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ وَّيَبْقٰى وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلٰلِ وَ الْاِكْرَامِ فهو تعالی حی الذی لا یموتُ و الجنّ و الانس یموتون و کذلك الملٰئکة و حملة العرش و ینفرد الواحد الاحد القهار بالدیمومة و البقاء فیکون آخراً کما کان اوّلاً. (تفسیر ابن کثیر ج۱، ص۴۴۳، سورة آل عمران) و مثله فی شرح العقیدة الطحاویة مفصلاً ص۴۷۶ تا ۴۸۸)

د الله تعالی د دیدار مسئلـــــه

سوال: د قیامت په ورځ مخلوق خپل خالق لیدلی شي او که نه؟ که چېرته ئې لیدلی شي نو کیفیت به ئې څنګه وي؟ بینوا توجروا۔

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

الجواب باسم ملهم الصواب: د اهل سنت و الجماعت اجماعي عقيده دا ده چه الله تعالى به خپل ځان په جنتيانو باندې په ظاهري سترګو باندې ووينې او د الله تعالى له ديدار څخه زيات به هغو ته د کوم بل نعمت په ورکولو سره دومره خوښي او خوند نه ورپه برخه کيږي. او په دې عقيدې باندې د ټولو صحابهٔ کرامؓ، تابعينوؒ او مجتهدينو امامانو اجماع ده.

لما قال العلامة ملا علي القاري رحمه الله: و الله تعالى يُرى (بصيغة المجهول) اى ينظر اليه بعين البصر في الآخرة اى يوم القيامة..... و يراه المؤمنون و فهم في الجنّة باعين رؤسهم بلا تشبيه و لا كيفية و لا كميّة الخ. (شرح الفقه الاكبر ص ۱۱۹، بحث في ان الله تعالى يُرى في الآخرة بلا كيف)

و قال العلامة نجم الملة عمر النسفي رحمه الله: و رؤية الله تعالى جائزة في العقل واجبة في النقل و قد ورد الدليل السمعي بايجاب رؤية المؤمنين الله تعالى في دار الآخرة. (شرح العقائد ص ۷۱ تا ۷۳، رؤية باري تعالى) و مثله في شرح العقيدة الطحاوية ص ۲۱۲، رؤية الله تعالى.

د نبي کريم ﷺ د والدينو د جنتي توب عقيده

سوال: آيا د نبي کريم ﷺ والدين په اسلام مشرف شوي وو او که نه؟ مسلمانان بايد په دې باره کښې څه عقيده ولري؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د نبي کريم ﷺ د والدينو په مسلماني او نه مسلماني کښې د علماوو تر منځ اختلاف دی او د دې اختلاف بنيادي وجه د روايتو اختلاف دی.

علامه ابن عابدين رحمه الله د دلائلو له مخې دا خبره ثابته کړې ده چه د نبي کريم ﷺ والدين ماجدين دواړه مسلمانان دي يا خو په دې صورت چه د نبي کريم ﷺ د اعزاز او اکرام په خاطر هغوی ژوندي کړی شول او دواړو په نبي کريم ﷺ باندې ايمان راوړ او د محمدي ﷺ دين اقرار ني وکړ او يا دا چه هغوی د فترت په زمانې کښې وفات شوي دي. لهذا د اشاعره وو د اصول مطابق "من مات و لم تبلغه الدعوة يموت ناجيا". (يعنې چه څوک په داسې حال کښې مړ شي چه د الٰهي دين دعوت نه وي ور رسيدلی نو هغه به ناجي وي). او د ماتريديه په نزد د نجات لپاره دا هم شرط دی چه د کفر او شرک اعتقاد و نه لري. او له کومو روايتونو څخه چه د نبي کريم ﷺ د والدينو په کفر باندې مړ کيدل ثابت دي لکه څرنګه د صحيح مسلم په يوه حديث کښې راغلي دي چه نبي کريم ﷺ د يوه صحابي رضى الله عنه د پوښتنې په ځواب کښې وويل چه "ابى و ابوك فى النار" نو د دې ځواب دا دی چه دا تر علم مخکښې وو.

علامه جلال الدين سيوطي رحمه الله په دې باره کښې يوه مستقله رساله ليکلې ده چه دا ثابته کړې ده چه د نبي کريم ﷺ والدين مسلمان او جنتي دي.

لما قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: الا ترى ان النبي ﷺ قد اكرمه الله تعالى بحياة ابويه لهٗ حتى امنا به كما في حديث صححة القرطبي و ابن ناصر الدين حافظ الشام و غيرهما فانتفعا بالايمان بعد الموت على خلاف القاعدة اكراماً لنبي ﷺ كما احيا قتيل بنى اسرائيل ليخبر بقاتله..... و ما قيل ان قوله تعالى وَ لَا تُسْئَلُ عَنْ اَصْحٰبِ الْجَحِيْمِ

نزل فيها لم يصح و خبر مسلم "ابى و ابوك فى النار" كان قبل علم. (رد المحتار ج ٤، ص ٢٣١، باب المرتد)

لما قال العلامة محمد عبد العزيز الفرهاريؒ: تحت قوله فانهٗ محمد بن عبد الله..... و روى باسانيد ضعيفة ان النبي ﷺ دعا ربه فاحياه و آمنة اُمّ رسول الله ﷺ و امنّا به و اختار الامام الرازيؒ انهما ماتا على ملّة ابراهيم عليه السلام و الجمع ان الاحياء كرامة لهما ليضاعف لوالديهما و قد الف الحافظ المحقق جلال الدين السيوطيؒ رسائل سمّا في اثبات ايمانها و ايمان جميع آباء النبي ﷺ الى آدم عليه السلام و تبعه المحققون المتأخرون. (النبراس ص ۳۱۹، نصب الامام و يكون من قريش)

د عذاب قبر کيفيت څنګه دی

سوال: څه فرمايي علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چه د قبر د عذاب کيفيت به څنګه وي او حساب او کتاب به په قبرکښې څرنګه وي او ګنهګار مسلمان ته به څرنګه عذاب ورکول کيږي؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: دا مسئله د اهل السنت و الجماعت په نزد متفقه مسئله ده چه له مرګ څخه وروسته په عالم برزخ کښې کفارو، منافقينو او ځينو ګنهګارو مسلمانانو ته عذاب ورکول کيږي. په قرآن، احاديثو او د علم کلام په ټولو کتابونو کښې د قبر د عذاب ثبوت په څرګنده توګه لاس ته راځي. همدارنګه له هر سړي څخه له مرګ وروسته په قبر کښې دري پوښتنې کيږي. (۱) من رَّبُّكَ (۲) من نَّبِيُّكَ (۳) ما دِيْنُكَ هر يو به د دغو پوښتنو ځوابونه ورکوي. نو چه څوک ځواب ور نه کړي يا ني غلط ورکړي نو هغه ته به عذاب ورکول کيږي. نبي کريم ﷺ پخپله هم د قبر له عذاب څخه له الله تعالى څخه پناه غوښتې ده او صحابهٔ کرامو ته ني د دې تعليم ورکړی دی.

پاتې شوه دا خبره چه چا ته به څه ډول عذاب ورکول کيږي؟ نو د دې په اړه دومره بايد پوه شی چه د کافر او منافق عذاب به له ټولو څخه سخت وي او تر قيامته پورې به وي. لقوله تعالى: اِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ اَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ وَ يَغْفِرُ مَا دُوْنَ ذٰلِكَ الخ او ځينو ګنهګارو مسلمانانو عذاب د ګناهونو په لحاظ سره به مختلف وي ځکه چه سزا د جرم د نوعيت په اعتبار سره ورکول کيږي ليکن د کافرانو له عذاب څخه به د ګنهګارو مسلمانانو عذاب [illegible] اب په هر حال کښې سپک او آسانه وي.

لما ورد في الحديث: فسألت عائشةؓ رسول الله ﷺ عن عذاب القبر فقال نعم عذاب القبر حق قالت عائشةؓ فما رأيت رسول الله ﷺ بعد صلى صلوة الا تعوذ بالله من عذاب القبر. متفق عليه. (مشكوة ص ۲۵، باب اثبات عذاب القبور)

و قال ايضاً: عن حديث زيد ابن ثابتؓ: قال تعوذوا بالله من عذاب القبر قالوا نعوذ بالله من عذاب القبر. رواه مسلم. (مشكوة ص ۲۵، باب اثبات عذاب القبور)

و قال ابن ابى العز الحنفيؒ: و قد تواترت الاخبار عن رسول الله ﷺ في ثبوت عذاب القبر و نعمته لمن كان كذلك اهلاً و سوال الملكين فيجب اعتقاد ثبوت ذلك و الايمان و لا تتكلم في كيفيته. الخ. (شرح العقيدة الطحاوية ص ٤٥٠، الايمان بعذاب القبر) و مثله في شرح الفقه الاكبر ص ۱۰۱، ضغطة القبر.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

د اعمالو د وړاندې کیدو تحقیق

سوال: آیا نبي کریم ﷺ ته د امت اعمال د دوشنبې او پنجشنبې په ورځو کښې وړاندې کیدل د کوم صحیح حدیث له مخې ثابت دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: له مبارکو احادیثو څخه دا خبره ثابته ده چه له نبي کریم ﷺ څخه پرته د نورو انبیاء کرامو علیهم السلام په مخکښې هم د خپلو خپلو امتیانو اعمال وړاندې کیږي۔ د اعمالو د وړاندې کولو لپاره کومه خاصه ورځ نه ده تاکل شوې بلکه هره ورځ سهار او مابنام نبي کریم ﷺ ته د خپل امت عملونه وړاندې کیږي او له اوریدو وروسته د امت لپاره د مغفرت دعاګانې هم کوي۔ له دې برسیره په ځینو احادیثو کښې عزیزانو او اقاربو ته هم د اعمالو د وړاندې کیدو تصریح راغلې ده۔

لما قال الحافظ و اخرج ابن المبارك في الزهد من طريق سعيد بن المسيب، قال ليس من يوم الا يعرض على النبي ﷺ اعمال امته غدوة و عشيته فيعرفهم بسيماهم و اعمالهم فبذلك يشهد عليهم. (فتح الباری ج۹، ص۸۶)

و في المواهب مع شرحه للعلامة الزرقانيؒ: (روى ابن مبارك) عبد الله الذي تستنزل رحمة بذكره عن سعيد بن المسيبؒ (التابعي الجليل ابن الصحابي) قال ليس من يوم الا و تعرض على النبي ﷺ اعمال امته غدوة و عشيا فيعرفهم بسيماهم و اعمالهم يحمد الله و يستغفر لهم. (الزرقاني ج۵، ص۱۳۰)

و قال العلامة الآلوسيؒ: في تفسير قوله تعالى "وَ جِئْنَا بِكَ عَلَى هٰؤُلَآءِ شَهِيْدًا" فاعمال امته عليه السلام تعرض عليه بعد موته فقد روى عنه ﷺ انه قال حياتي خيرٌ لكم تحدثون و يحدث لكم و مماتي خيرٌ لكم تعرض علي اعمالكم فما رأيت من خير فحمدت الله تعالى و ما رأيت من شر استغفرت الله تعالى لكم بل جاء ان اعمال العبد تعرض على اقاربه الموتى و هكذا نقل عدة احاديث في معناه. (تفسير روح المعاني ج٤، ص١٩٤) و مثله في مشكوة ص٦٩، باب المساجد، الفصل الثاني.

د معجزې او کـــــرامت حقیقت

سوال: په عمومي توګه د خارق العادة کار ظهور ته خلك معجزه وایي نو آیا په نبي کریم ﷺ باندې د نبوت له ختم کیدو څخه وروسته له چا څخه د معجزې ظهور ممکن دی؟

الجواب باسم ملهم الصواب: معجزه د شریعت له مخې د هر هغه خارق العاده کار ظهور ته ویل کیږي چه د کوم ربښتوني د نبوت له مدعي څخه ظاهریږي۔ او د کوم غیر نبي بزرګ په لاسونو باندې د خارق العاده کار ظهور ته کرامت ویل کیږي۔ او د کوم بې دینه سړي په لاس باندې د خارق العاده کار بنکاره کیدو ته استدراج ویل کیږي۔ د دې لپاره د هرې خارق العاده واقعې ظهور ته معجزه ویل نامناسب دي او که چېرته اصطلاحي معجزه تري مراد نه وي نو بیا پروا نه لري۔

لما قال العلامة ابن عابدينؒ: فالحاصل ان الامر الخارق العادة يا لنسبة الى النبي ﷺ معجزة سواء ظهر من قبله او من قبل احاد امته و يا لنسبة الى الولي كرامة لخلوه عن دعوى النبوة. (رد المحتار ج۳، ص۵۵۱، فصل في ثبوت

النسب، مطلب في ثبوت كرامات الاولياء)

و قال العلامة الفرهاريؒ: و كرامته ظهور امر خارق العادة من قبله (اى من جانبه) غير قارن دعت لامر او حال منه لدعوى النبوة فما لا يكون مقروناً با لايمان و العمل الصالح يكون استدراجاً و ما يكون مقروناً بدعوى النبوة يكون معجزة. (النبراس ص۲۹۵، كرامات الاولياء حقٌ) و مثله في شرح الفقه الاكبر ص۷۹، خوارق العادات.

انبیاء کرام علیه السلام د نبي کریم ﷺ له تولو امتیانو څخه افضل دي

سوال: آیا دا خبره صحیح ده چه د محمدي ﷺ امت کرامت لرونکي اولیاء کرام له مخکښینیو انبیاء کرامو علیهم السلام څخه افضل دي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د مسلمه امت متفقه عقیده ده چه هیڅ ولي که د کرامت خاوند وي یا نه وي د هیڅ یوه نبي درجي ته نه شي رسیدلی۔ د دې لپاره چه الله تعالی چا ته د نبوت منصب ورکړی وي په هغه کښې نې د اولیاوو تول کمالات په پوره درجې سره اچولي وي۔ لهذا د کوم جزوي فضیلت په بناء سره کوم ولي په کوم نبي باندې افضل ګڼل د کفر موجب دی۔

لما قال العلامة ابن عابدينؒ: اجمعت الأمّة على ان الانبياء افضل الخليقة و ان نبينا عليه السلام افضلهم. (رد المحتار ج۱، ص۵۲۷، مطلب في عدد الانبياء و الرسل عليهم الصلوة و السلام)

و قال العلامة ابن ابى العز الحنفيؒ: تحت قوله و لا نفضل احداً من الاولياء على احدٍ من الانبياء عليهم السلام و نقول نبي واحد افضل من جميع الاولياء/ش يشير الشيخ الى الرد على الاتحاد به و بجهلة المتصوّفة الخ. (شرح العقيدة الطحاوية ص۵۵۵، تفضيل الانبياء) و مثله مفصلاً في شرح الفقه الاكبر ص۱۲۱، تفضيل اولاد الصحابة.

له صحابۀ کرامو څخه د خطایي پیښیدل د هغو له عدالت سره تکر نه دي

سوال: یو سړی د صحابۀ کرامو رضی الله عنهم په اړه دا عقیده لري چه له هغو څخه چه کومې خطاګانې شوي دي هغه الله تعالی معاف کړي دي او د هغو د مخکښینیو خطاګانو یادونه نې نه ده کړې۔ په دې اساس حال کښې چه یو بل سړی د دې پر خلاف عقیده لري او هغه دا چه له صحابۀ کرامو څخه خطاګانې شوي دي چه هغو ته پرې سزاګانې هم ورکول شوي دي۔ په دغو دواړو کښې شرعاً کوم یوه عقیده صحیح او د شرعي موافقه ده؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: صحابۀ کرام رضی الله تعالی عنهم انسانان او بشر وو، فرښتې او انبیاء نه وو چه له هر ډول غلطیو څخه معصوم او مامون وو۔ د بشریت د تقاضاوو له مخې اجتهادي غلطي یا کومه بله تیروتنه د تقوی او عدالت سره تکر نه دی۔ د اهل سنت و الجماعت دا عقیده ده چه تر تولو پیغمبرانو علیهم السلام څخه وروسته د نبي کریم ﷺ د صحابۀ کرامو رضی الله عنهم مرتبه لوړه ده۔ له صحابۀ کرامو سره محبت درلودل د دین او ایمان برخه ده او له هغو سره بغض او نفرت کفر، نفاق، فسوق او عصیان دی۔ لکه څرنګه چه نبي کریم ﷺ له تولو انبیاء کرامو علیهم السلام څخه افضل دی همدارنګه د نبي کریم ﷺ امت هم له نورو تولو امتونو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

څخه افضل او بهتر دی۔ كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ. (سورة آل عمران، آیت ۱۱۰) او بیا په تولو امتیانو کښې افضل او بهتر خلك د نبي کریم ﷺ صحابۂ کرامؓ دي۔ لهذا د صحابۂ کرامو رضی الله عنهم غوندې عظیمې هستۍ د نزاع او اختلاف محل جوړول فسق او ګمراهي ده۔ په قرآن کریم کښې چه د الٰهي بارګاه مقربینو ته د کومو نعمتونو وعده شوې ده د هغې لومړنۍ مصداق صحابۂ کرام رضوان الله علیهم اجمعین دي۔

قال الله تبارك و تعالى: وَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ هَاجَرُوْا وَ جٰهَدُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَ الَّذِيْنَ اٰوَوْا وَّ نَصَرُوْۤا اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ حَقًّا لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّ رِزْقٌ كَرِيْمٌ☆ (سورة الانفال، آیت ۷٤)

لما ورد في الحديث: و قال النبي ﷺ لا تَسُبُّوا اصحابي فلو ان احدكم انفق مثل احدٍ ذهباً ما بلغ مُدَّ احدهم و لا نصيفه متفقٌ عليه. (مشكوة ص ٥٥٣، مناقب الصحابة)

قال العلامة ملا علي القاريؒ: الصحابة كلهم عدول مطلقاً لظواهر الكتاب و السنة و اجماع من يعتمد عليه. (مرقاة ج ١٠، ص ٢٥٥، مناقب الصحابة) و مثله في شرح الفقه الاكبر ص ٧١، الكبيرة لا تخرج المؤمن عن الايمان. و كذا في اشعة اللمعات ج ٤، ص ٦٤١، مناقب الصحابة.

د صحابۂ کرامو رضوان الله علیهم اجمعین مشاجـــــرات

سوال: سیّدنا حضرت علي رضی الله تعالی له حضرت امیر معاویه رضی الله عنه سره کوم جنګ وکړ او له دواړو خواوو صحابۂ کرام له یوه او بل سره جنګیدل۔ نو آیا په دغو دواړو ډلو کښې کومه یوه ډله په حقه باندې وه او کومه یوه په غلطه باندې وه؟ او مونږ باید په دې اړه څه عقیده ولرو؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د صحابۂ کرامو رضی الله عنهم پخپل منځ کښې اختلافات او جنګ جګړې راغلي دي لکه د جمل، صفین او داسې نور جنګونه۔ دا شخړې باید مونږ په نیک نیتي باندې محمول کړو او له خواهش پرستي، حبِ جاه او حبِ مال څخه ځې لرې وګڼو ځکه چه داد نفس امّاره ذلیل او بې کاره خصلتونه دي۔ او د دوی حضراتو نفسونه د نبي کریم ﷺ د صحبت په برکت سره له خواهش پرستي، حرص او هوا، حبِّ جاه او حب مال څخه د هندارې (آئینې) غوندې پاك او صفا شوي وو۔ له دې وجهې د تول امت دا اجماع ده چه له لوی څخه لوی ولي الله چه د جناب کریم ﷺ صحبت ور په برخه شوی نه وي د کوم ادنیٰ څخه ادنیٰ صحابي درجې ته نه شي رسیدلی۔ البته صحابۂ کرام رضی الله عنهم هم انسانان او بشر وو او د بشریت د تقاضاوو له مخې د خطاګانو پیښیدل د هغو له تقوی، ورع او عدالت سره تکر نه دی۔ لهذا دواړه ډلې متقیان او پرهیزګاره صحابۂ کرامؓ وو او دواړه ډلې به جنت ته ځي۔ د هغو صلح هم د حق لپاره وه او جنګ ځې هم د حق لپاره وو۔ هرې یوې ډلې د خپل اجتهاد مطابق عمل وکړ پس چه کومه یوه مصیب (په سیخه) وه هغه ته دوه چنده اجر ورکول کیږي او چه کومه یوه په خطا باندې وه هغه ته یو چنده اجر ورکول کیږي۔ علماوو لیکلي دي چه په دغو

جنګونو کښې حضرت علي رضی الله تعالی عنه په حقه باندې وو او مخالفین ځې په خطا باندې وو لیکن دا خطا اجتهادي خطا وه چه لعن او طعن هیڅکله پرې جائز نه دي۔

د اهل سنت و الجماعت دا مسلك دی چه د صحابۂ کرامو رضی الله عنهم خپل منځي اختلافاتو او مشاجراتو په اړه باید خوك څه و نه وایي بلکه سکوت او توقف (چپتیا) اختیار کړي او تر څو پورې چه ممکنه وي په دې کښې باید سړی خبرې و نه کړي۔

له حضرت امام شافعي رحمه الله څخه چا پوښتنه وکړه چه د حضرت علي او حضرت عائشه رضی الله عنهما د خپل منځي جګړې حقیقت څه وو؟ ډه ورته وفرمایل چه کله له دې وینې تویونې څخه الله تعالی زمونږ لاسونه پاك ساتلي دي نو مونږ په دې کښې ولې ځان ککړوو؟

همد ارنګه له حضرت امام حنبل رحمه الله څخه د دغو جنګونو په اړه پوښتنه وشوه نو هغه وفرمایل چه: تِلْكَ اُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَ لَكُمْ مَّا كَسَبْتُمْ وَ لَا تُسْئَلُوْنَ عَمَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ☆ (شرح الفقه الاكبر ص ٦٧/٧١)

و قال ابو محمد بن علي بن احمد الظاهريؒ: و ذهب سعد بن ابي وقاص و عبد الله بن عمر و جمهور الصحابة الى الوقوف في عليؓ و اهل الجمل و اهل صفين و به يقول جميع اهل السنة و الجماعة. (الفصل في الملل و الاهواء و النحل ج ٤، ص ١٥٣، الكلام في حرب علي و من حاربه من الصحابة)

له مسیح موعود څخه عیسیٰ ابن مریم مراد دی

سوال: څه فرمایي علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چه قیامت ته نږدې نازلیدونکی له مسیح موعود څخه عیسیٰ ابن مریم مراد دی او که کوم بل عیسیٰ یا مسیح؟ ځکه چه نن صبا ډیر مسیح موعود جوړیږي او ګرځي۔ مخالفین وایي چه د مهدي او عیسیٰ په اړه چه سُنې حضرات کوم حدیثونه بیانوي تول موضوعي او ضعیف حدیثونه دي۔ د دلسې عقیدې درلودلو شرعي حکم څه دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د اهل سنت و الجماعت دا متفقه عقیده ده چه حضرت عیسیٰ ابن مریم علیه السلام ژوندی آسمانونو ته خیژول شوی دی او له قیامت څخه مخکښې ژمکې ته را کښته کیږي۔ د قرآن پاك له ډیرو قطعي نصوصو څخه دا عقیده ثابتیږي او د ذرې غوندې شك او شبهه پکښې ځای نه لري۔ همد ارنګه د عیسیٰ علیه السلام د را کښته کیدو په اړه دومره ډیر حدیثونه راغلي دي چه علماء کرامو جمع کړي دي او مستقل تصنیفونه ځې پرې کړي دي۔ حضرت مولانا علامة العصر انور شاه کشمیري رحمه الله په دې موضوع باندې په نامه د "عقیدة الاسلام في نزول عیسیٰ علیه السلام" او حضرت مولانا مفتي محمد شفیع صاحب رحمه الله د "التصریح بما تواتر في نزول المسیح" په نامه باندې کتاب پرې لیکلی دی۔ دوی او ددغو غوندې نورو محققینو علماء کرامو د مسیح د ژوند او د عیسیٰ علیه السلام په راکښته کیدو باندې محققانه بیان کړی دی چه تول روایتونه ځې معنیً د تواتر حد ته رسیدلي دي۔ پاتې شوه دا خبره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

چه له مسیح موعود څخه مراد عیسی ابن مریم علیهما السلام دی یا کوم بل عیسی او مسیح؟ په دې باره کښې پخپله امام الانبیاء حضرت محمد مصطفی ﷺ د عیسی علیه السلام د را کښته کیدو په حدیثونو کښې یو اځې د ابن مریم یادونه کړې ده تر څو چه وروسته کوم کذاب او دروغجن دا دعوه و نه کړي چه زه هغه مسیح یم چه پیشګویي نې په قرآن او حدیثو کښې راغلې ده۔ اګر که په روایتونو کښې د عیسی د لفظ یادونه نه ده شوې د دې لپاره چه صبا ته کوم دجّال تري غلطه استفاده و نه کړي بلکه په زیاترو روایتونو کښې د ابن مریم (د مریم د زوی) تصریح موجود دی۔ او د ابن مریمؑ د نزول په باره کښې له اوله تر آخره پورې تولې علامې پکښې بیان شوې دي۔ د دغو تولو حقائقو تر څنګ که چېرته کوم کذاب د دې دعوی وکړي چه زه مسیح موعود یم یا د نبي کریم ﷺ له ور ښوول شویو علاماتو بر خلاف د مهدي موعود یا نزول عیسی یا د دجّال او د لسې نورو واقعاتو په باره کښې له ځانه قیاسونه وکړي نو د د لسې سړي عقیده د قرآني تعلیماتو سر ترپایه مخالفه ده بلکه د قرآن پاک د قطعي نصوصو سره ټکر دی۔

قال الله تبارك و تعالى: وَ قَوْلِهِمْ إِنَّا قَتَلْنَا الْمَسِيحَ عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ رَسُولَ اللَّهِ وَ مَا قَتَلُوهُ وَ مَا صَلَبُوهُ وَ لَكِنْ شُبِّهَ لَهُمْ وَ إِنَّ الَّذِينَ اخْتَلَفُوا فِيهِ لَفِي شَكٍّ مِنْهُ مَا لَهُمْ بِهِ مِنْ عِلْمٍ إِلَّا اتِّبَاعَ الظَّنِّ وَ مَا قَتَلُوهُ يَقِيناً بَلْ رَفَعَهُ اللَّهُ إِلَيْهِ. (سورة النساء آیت ۱۵۸)

و قال الامام فخر الدین الرازیؒ: (تحت هذه الآیة) رفع عیسی علیه السلام الی السماء ثابت بهذه الآیة و نظیر هذه الآیة قوله تعالی فی آل عمران إِنِّي مُتَوَفِّيكَ وَ رَافِعُكَ إِلَيَّ وَ مُطَهِّرُكَ مِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا. (تفسیر کبیر ج۱۱، ص۱۰۳، المسألة الثالثة، سورة النساء)

لما ورد فی الحدیث: قال رسول اللهﷺ کیف انتم اذا نزل ابن مریم فیکم و امامکم منکم متفق علیه. (مشکوٰة ص ۴۸۰، باب نزول عیسی علیه السلام)

و قال ایضاً: ینزل عیسی ابن مریم الی الارض فیتزوّج و یولد له و یمکث خمساً و اربعین سنة ثم یموتُ فیدفن معی فی قبری فاقوم انا و عیسی ابن مریم فی قبر واحد بین ابی بکر و عمرؓ. (مشکوٰة المصابیح ص ۴۸۰)

د علي د الوهیت عقیده درلودل شرك دی

سوال: حضرت علي رضی الله تعالی په خدایي باندې د منونکي او د د لسې عقیدې لرونکي سړي شرعاً څه حکم دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: چه څوك له الله تعالی سره کوم مخلوق شریکوي نو هغه سړی کافر او مشرك دی۔ د حضرت علي رضی الله عنه د الوهیت عقیده درلودلو ته فقهاء کرامو با خصوص شرك ویلی دی۔

قال العلامة ابن عابدینؒ: لا شك فی تکفیر من قذف العائشةؓ او انکر صحبة الصدیقؓ و اعتقد ألوهیة علی..... او نحو ذلك من الکفر الصریح. (رد المحتار ج ۴، ص ۲۳۷، باب المرتد)

قال العلامة مُلا علی القاریؒ: و بعضهم قالوا انهٗ "إله" و ان ضلوا الی القبلة لیسوا بمؤمنین. (شرح الفقه الاکبر ۱۶۲، مطلب یجب معرفة المکفرات)

د عیسایانو د ایمان په تعریف باندې اعتراض او د هغه ځواب

سوال: یوه عیسایي دا اعتراض وکړ چه که چېرته زه د مولانا مفتي محمود په لاس باندې اسلام قبول کړم نو د بریلویانو او اهل حدیثو په نزد به بیا هم کافر یم ځکه چه هغه مسلمانان چه اسلام یو عالمګیر دین بولي د ایمان یو جامع تعریف نه شي کولی۔ ځینې خلك وایي چه کوم سړی په الله تعالی، ملایکه، انبیاء او آسماني کتابونه او د آخرت په ورځ ایمان ولري هغه مسلمان دی۔ ځینې وایي چه په شهادتینو او د آخرت په ورځ باندې چه څوك ایمان ولري او په لمانځه کښې د بیت الله شریفې خوا ته مخ اړوي هغه به مسلمان وي۔ له دې وجهې عرض دا دی چه د مسلمان متفقه تعریف څه شی دی؟ او په دې تعریف کښې اختلاف ولې موجود دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: څرګنده دې وي چه د ایمان په تعریف کښې کوم معنوي او حقیقي اختلاف نشته۔ و هو التصدیق بجمیع ما جاء به النبیﷺ مما علم مجیئه به بالضرورة یعني د دین تول ضروریات او واضحات لکه الله تعالی، ملائکه، آسماني کتابونه خصوصاً قرآن مجید، رسولان او د لسې نور د عظیم پیغمبر جناب محمد رسول اللهﷺ او صحابه کرامو رضی الله عنهم د تشریحاتو مطابق منل۔ په مسلمانانو کښې د هیچا هم له دې تعریف سره اختلاف نشته۔ او د مسلمانۍ لپاره یواځې دعوه هم کافي نه ده ځکه چه ایمان او اسلام یوه عملي وعده ده۔ عیسایان باید چه د عیسائیت د لسې تعریف وړاندې کړي چه د دنیا تولو ډلو ته مقبول وي۔ د عیسائیت په متفقه تعریف باندې د عیسایانو ډیر لوی اختلاف دی۔ چه کله تر اوسه پورې هغوی د انجیل په تعین کښې متفق نه دي نو د هغه په تشریحاتو باندې به د دوی څنګه اتفاق راشي۔

قال العلامة الحصکفیؒ: الایمان و هو تصدیق محمدﷺ فی جمیع ما جاء به عن الله تعالی مما عُلم مجیئه ضرورةً. و قال ابن عابدینؒ: لما علم بالضرورة انهٗ من دین محمدﷺ بحیث العامة من غیر افتقار الی نظر و استدلال کالوحدانیة و النبوّة و البعث و الجزاء و وجوب الصلوٰة و الزکوٰة و حرمة الخمر و نحوها الخ. (الدر المختار علی هامش رد المحتار ج۳، ص ۳۱۰، باب المرتد)

د کفارو جهنم ته په د اخلولو باندې اعتراض او د هغه ځواب

سوال: څه فرمایي علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چه جهنم فناء کیږي او که نه؟ او که چېرته د چا دا عقیده وي چه کوم سړی چه تول عمر لکه شپیته کاله په کفر کښې تیر کړي نو الله تعالی ولې دائمي عذاب ورکوي، دا خو ظلم دی، باید چه د جرم مطابق سزا ورکړل شي، له یوه دیني عالم څخه مې اوریدلي دي چه په آخر کښې کفار هم جنت ته ځي۔ آیا دا عقیده د اهل السنت و الجماعت عقیده ده او که د نورو خلکو؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د اهل سنت و الجماعت دا عقیده ده چه دوزخ به د تل لپاره وي او کفار به هم د تل لپاره پکښې وي۔ الله تعالی د کفارو په اړه د خَالِدِينَ فِيهَا أَبَداً (سورة البینة آیت، پ، ع۱)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

لفظ استعمال کړی دی کوم چه د کفارو همیشه په دوزخ کښې په پاتې کیدلو باندې عبارتاً دلالت کوي او د دوزخ په دائمي توب باندې اقتضاءً دلالت کوي۔

همدارنګه الله تعالی فرمایي چه: فی العَذَابِ هُمْ خٰلِدُوْنَ (سورة المائدة آیت ۸۰، پاره ۷، آیت ۱٤) کوم چه په دواړو ارخونو باندې لکه د مخکښینې آیت دلالت کوي۔ او د الله تعالی دا قول چه کُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُوْدُهُم (سورة النساء، آیت ٥٦، پاره ٤، ع ٥) په دې خبرې باندې دلالت کوي چه کفار له اور سره عادي کیږي نه بلکه د بې شمیره کلونو د عذاب له تیرولو وروسته به ئې هم حال د اول ځل د اخلیدلو غوندې وي۔

و یدل علیه ما اخرجه الطبرانی و جعل لهم الابد و ما اخرجه ایضاً خلود بلا موت و ما اخرج الشیخان یا اهل النار لا موت و کذا حدیث ذبح الموت. و اما ما روی عن ابی هریرة رضی الله عنه و ابن مسعود رضی الله عنه و غیرهما "لیاتینّ علی جهنم زمان لیس فیها احد فقال البغویّ ان تثبت فمعناه ان لا یبقی فیها احد من اهل الایمان کذا فی التفسیر المظهری ج٥، ص ٥٥، سورة هود.

پس د دې عقیدې درلودونکی دیني عالم چه "په آخر کښې کفار هم جنت ته ځي" د دین له ضروریاتو څخه منکر دی۔ د اسي عالم باید د کفارو او زیغ(له اسلام څخه د مخ ګرځوونکو) امام وي۔ بله مسئله دا ده چه د قرآن کریم دا آیت کریمه چه وَ لَو رُدُّوا لَعَادُوا لِمَا نُهُوا (سورة الانعام، آیت ۲۸، پاره ۷، ع ۹) څخه دا څرګندیږي چه الله تعالی ته دا معلومه ده چه که چېرته دا سړی د تل لپاره ژوندی پاتې شي نو د تل لپاره به کافر وي۔ پس کفر هم ابدي دی او سزائې هم ابدي ده۔ دا خبره بالکل د اسي ده لکه یو حکومت چه د کوم جرم سزا وتاکي نو په هغه جرم باندې اقدام به د نومورې سزا التزام وي۔

له "قرآن سره به مې جماع کړې وي" په ویلو باندې د کفر د لزوم حکم

سوال: یوه سړي د خلکو په مخکښې د اسي وویل چه "که چېرته ما فلانی بد کار وکړو نو ما به له قرآن کریم سره جماع کړې وي" وروسته هغه کار تړي وشو۔ اوس هغه سړی ژاړي او پښیمانه دی چه ما د اسي کفریه الفاظ ویلي دي۔ ته ده معلومه چه ما ته به څه ډول عذاب راکول کیږي؟ نو آیا دا سړی په ربښتیا هم کافر کیږي او که نه؟ او د توبې په صورت کښې به څه کفاره ورکوي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: دا د یمین یعني قسم معامله ده۔ مثل ان فعلت کذا فانا یهودی لکون جماع المصحف توهیناً و کفراً. پس چه کله نومورې سړي هغه بد کار تر سره کړو نو حانث شو۔ او که چېرته ئې عقیده دا وه چه په د اسي صورت کښې د اسي بد کار کوونکی کافر کیږي نو دا سړی به هم کافر کیږي او که نه وي نو نه کافر کیږي۔ په هر حال دا سړی دي توبه او استغفار وکړي، خپل ایمان دي تازه کړي او د احتیاط له مخې دي کفاره هم ادا کړي۔

لما فی الهندیة: و لو قال ان فعل کذا فهو یهودی او نصرانی او مجوسی او بریء من الاسلام او کافر او یعبد من دون الله او یعبد الصلیب او نحو ذلك مما یکون اعتقاده کفراً فهو یمین استحساناً کذا فی البدائع. حتی لو فعل ذلك الفعل یلزمه الکفّارة و هل یصیر کافراً اختلف المشائخ فیه. قال شمس الائمة السرخسی رحمه الله و الد حقار للفتوی انهٗ ان کان عنده انه یکفر متی اتی بهذا الشرط و مع هذا اتی یصیر کافراً لرضاه با لکفر..... و ان کان عنده انهٗ اذا اتی بهٰذا الشرط لا یصیر کافراً لا یکفر الخ. (الفتاوی الهندیة ج۲، ص ٥٤، الباب الثانی فیما یکون یمیناً و ما لا یکون یمیناً)

د پیرې سپکاوی کوونکی کافر دی

سوال: د پیرې د سپکاوي او بې عزتي کوونکي شرعاً څه حکم دی؟ او مسلمان ته ښکنځا او بد رد ویل څه حکم لري؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: پیره د ټولو انبیاء کرامو علیهم السلام سُنّت دی د دې لپاره د پیرې سپکاوی او بې عزتي کوونکی پرته له شك او شبهې کافر دی۔ همدارنګه د سنتو د استقباح (بد ګڼلو) له وجهې هم سړی کافر کیږي۔

قال العلامة ابن عابدینؒ: او استقباحها کم استقبح من آخر..... الی ان قال ان ما کان دلیل الاستخفاف یکفر به و ان لم یقصد الاستخفاف۔ (رد المحتار ج۳، ص ۳۱۱، مطلب فی منکر الاجماع)

او مسلمان ته په ښکنځا او بد رد ویلو سره سړی فاسق کیږي۔

د آذان او مؤذن د سپکاوي کوونکي حکم

سوال: زمونږ په کلي کښې یوه سړي په جومات کښې آذان کاوه چه یوې ښځې وویل چه دا ووزه وګوری چه بغاري وهي۔ د دې ښځې به شرعاً څه حکم وي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: آذان د دین له شعائرو څخه دی او استهزاء او توقي مسخري پرې کفر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

دی۔ په دا سې حال کښې چه غیر شعائر الله باندې استهزاء کفر نه دی۔ او که چېرته د آواز د بلد والي اظهار ئې مقصود وي نو بیا فسق دی کفر نه دی۔

یدل علی الاوّل ما فی رد المحتار ج۳، ص ۳۱۱، باب المرتد قبیل مطلب فی منکر الاجماع. او استظهرها کمن استقبح من آخر جعل بعض العمامة تحت حلقه او احفاء شاربه آه و اما الثانی فلقوله تعالی: لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِّنْ قَوْمٍ. (سورة الحجرات، آیت ۱۱)

لما فی الهندیة: فی التخیر مؤذن آذان فقال رجل "این بانگ خوغا است" یکفر ان قال علی وجه الانکار. (الفتاوی الهندیة ج۲، ص ۲۶۹، منها ما یتعلق با لصلوة و الصوم) و مثله فی البحر الرائق ج۵، ص ۱۲۲، احکام المرتدین.

"ستا په سبق دې آسماني تکه ولوېږي" د ویلو شـــــرعي حیثیت

سوال: د زید لس کلن زوی قرآن مجید له مخې زده کوي۔ د زید بښځه هنده له کومې وجهې په غصه شوه او بچي ته ئې بښکنځاوې وکړې او دا ئې هم ورته وویل چه "ستا په سبق دې تندر پرېووځي" نو آیا په دا سې ویلو باندې د زید د بښځې په نکاح کښې کوم فرق راځي او که نه؟ او که چېرته فرق پکښې راځي نو کفاره ئې څه ده؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: دا جاهلانه غصه ده۔ په دې کښې کفریه، شرکیه یا قسمیه الفاظ نشته۔ له دې وجهې د هنده په نکاح کښې نه کوم فرق راځي او نه کفاره پرې لازمېږي۔

و فی الهندیة: و ما کان خطأ من الالفاظ و لا یوجب الکفر فقالله مؤمن علی حال و لا یؤمر بتجدید النکاح و الرجوع عن ذلک کذا فی المحیط. (الفتاوی الهندیة ج۲، ص ۲۸۳، قبیل الباب العاشر فی البغاة)

د فقهي او اجتهاد څخه د منکـــــرسړي حکم

سوال: د فقهي او اجتهاد منکر ته ځینې حضرات مرتد، کافر او ځینې مسلمان وایي۔ لهذا د دا سې سړي په باره کښې شرعي حکم څرګندګړی تر څو چه خلک له اصل حقیقت څخه خبر شي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د فقهي له منکر څخه مراد که چېرته غیر مقلد وي نو د دا سې انکار کفر نه دی۔ البته د دا سې سړي د اهل تقلید د خلکو د امامت اهل نه دی۔ او که چېرته ئې مراد د اجتهاد او ائمهٔ کرامو سپکاوی وي نو په ظاهره د دا سې سړي ته مسلمان ویل صحیح او بنه نه بنکاریږي۔

و فی الهندیة: رجل قال قیاس ابی حنیفة رحمه الله تعالی حق لیست یکفر کذا فی التاتارخانیة. (الفتاوی الهندیة ج۲، ص ۲۷۱، موجبات الکفر منها ما یتعلق با لعلم و العلماء)

جنات (پیریان) په غیبو باندې نه پوهیږي

سوال: زمونږ د کلي په یوه هلک باندې د پیریانو اثر پروت دی او مخکښینې او وروستي ځینې واقعات بیانوي، د سوال کوونکو د هر سوال ځواب هم ورکوي۔ نو آیا په ربښتیا هم جنات په غیبو باندې خبر وي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: جنات په غیبو باندې خبر نه دي۔ البته د تیز رفتار له وجهې د یوه شي زر خبر ورکولی شي۔ لیکن په پیریانو کښې اکثره دروغجن دېر وي د دې لپاره د هغو د خبرو تصدیق او په صدق باندې ئې تینګیدل د شریعت او عقل دواړو خلاف هم دی او حرام هم۔

لما ورد فی الحدیث: عن عائشه رضی الله تعالی عنها قالت سمعت رسول الله ﷺ یقول ان الملئکة تنزل فی العنان و هو السحاب فتذکر الامر قضی فی السّماء فتسترق الشّیاطین السمع فتسمعه فتوحیه الی الکهان فیکذبون معها مائة کذبة من عند انفسهم. رواه البخاری. (مشکوة المصابیح ج۲، ص ۳۹۳، باب الکهانة، الفصل الاول)

قال العلامة قاضی خان رحمه الله: فان قال هذا القائل انا اخبر باخبار الجنّ ایای بذلک قال هو و من صدقه یکون کافراً با لله لقوله علیه السلام من اتی کاهناً فصدقه فیما قال فقد کفر بما انزل الله علی محمد ﷺ لا یعلم الغیب الا الله لا الجنّ و الانس یقول الله تعالی فی الاخبار عن الجنّ فَلَمَّا خَرَّ تَبَيَّنَتِ الْجِنُّ أَنْ لَّوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ الْغَيْبَ مَا لَبِثُوا فی العذاب المُهِين☆ (فتاوی قاضی خان علی هامش الهندی ج۳، ص ۵۷۶، باب ما یکون کفراً من المسلم و ما لا یکون) و مثله فی ردا لمحتار ج۳، ص ۳۲۵، مطلب فی دعوی علم الغیب.

د نزع (ځنکدن) په حالت کښې د ایمان راوړلو شرعي حیثیت

سوال: څه فرمایي علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چه د ځنکدن په حالت کښې مسلمان کافر او کافر مسلمانیدلی شي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د ځنکدن په حالت کښې ایمان راوړل د خدای په نزد مقبول نه دي۔

و قال رسول الله ﷺ ان الله یقبل توبة العبد ما لم یغرغر. (ابو داؤد ج ص)

او په دې وخت کښې د کوم مسلمان له ژبې څخه کفریه کلمات را وتل غیر متصور دي: لانه یشاهد ما کان یؤمن به با لغیب. او که چېرته په ظاهره د دا سې کلمات ئې له خولې څخه و هم ووځي نو د حال د غلبې له وجهې معاف کیږي۔

قال العلامة ابن عابدین: و اما ایمان الیاس فلذهب اهل الحق انهٗ لا ینفع عند الغرغرة و لا عند معاینة عذاب الاستئصال لقوله تعالی فَلَمْ يَكُ يَنْفَعُهُمْ إِيمَانُهُمْ لَمَّا رَأَوْا بَأْسَنَا و لذا اجمعوا علی کفر فرعون الخ. (رد المحتار حاشیة علی الدر المختار ج۳، ص ۳۱۶، مطلب توبة الیاس و ایمان الیاس)

د الله تعالی د ذات د وجود تصور د عقیدې لپاره نقصاني نه دی

سوال: ما ته په لمانځه کښې د الله تعالی د وجود په اړه مختلف ګومانونه را لوېږي۔ په کوچنیوالي کښې مې له چا څخه اوریدلي وو چه الله تعالی یو نور دی د دې لپاره اکثره د الله تعالی د وجود په اړه له نور څخه جوړې شوې لیکې په ذهن کښې راځي۔ څو میاشتې مخکښې مې په آسمان کښې د شنو، سرو او زیرو وریځو غوندې لیکې ولیدلې او اوس مې همدا شی په لمانځه کښې مخې مخې ته راځي۔ کله کله مې ځینو عکسونه هم په ذهن کښې راځي۔ د مهربانۍ له مخې په دې باره کښې مې د زړه وسواس لرې کړی چه د دا سې نه وي چه په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

کفر کښې مبتلا نه شم؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د دې ډول ګومانونو ذهن ته راتلل نه شرک دی او نه ګناه بلکه لکه څرنګه چه یو له موره پیدا شوی روند د کوم سړي په اره مختلف ډول ګومانونو کښې مبتلا وي نو ستا معامله هم په همدې ډول ده۔ په هر حال ستا په ذهن کښې چه د الله تعالی د ذات د وجود په اړه چه کوم ګومانونه، عکسونه او انوار راځي د هغو په اړه په زړه کښې دا عقیده ولره چه دا خدای نه دی۔

و فی الهندیة: من خطر بقلبه ما یوجب الکفر ان تکلم به و هو کاره لذلك فذلك محض الایمان. (الفتاوی الهندیة ج۲، ص۴۸۳، قبیل الباب العاشر فی البغاة)

قال العلامة الحصکفیؒ: فلا تصح ردة مجنون و معتوه و موسوس. قال ابن عابدینؒ: و لکن موسوس لهٗ او الیه ای تلقی الیه الوسوسة و قال اللیث الوسوسة حدیث النفس. (الدر المختار علی هامش رد المحتار ج۳، ص۳۱۲، مطلب ما یشك فی انه ردة لا یحکم بها)

ستا په عبادت دې لعنت وي

سوال: جناب مفتي صاحب! زما یو زوی ډیر بې ادبه، ګستاخ او نافرمانه دی چه هره خبره ورته کوم نو ځواب غلط راکوي او که څه نصیحت ورته کوم نو عمل پرې نه کوي بلکه برخلاف ماته بد رد او ښکنځاوي کوي۔ یو ځل ما ورته وویل چه سهار وختي را پورته شه خلك دې د باندې راتلو لپاره بولي او زه په هغه وخت کښې په عبادت کښې مصروف وم او چه ته نه ور ووځي نو زه بیا بیا د باندې وتلو ته مجبوره کیږم چه له وجهې نې زما په عبادت کښې خنډ واقع کیږي۔ په دې خبرې باندې هغه وویل چه "ستا په عبادت دې لعنت وي"۔ د مهربانۍ له مخې دا راته ووایی چه د داسې نافرمانه زوی په شریعت کښې څه سزا ده؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: دا الفاظ ډیر خطرناك الفاظ دي د داسې سړی دې باید فوراً توبه وباسي او د پلار د نافرمان عذاب جهنم دی۔ که چېرته توبه و نه باسي نو په دنیا کښې به هغه ته تعزیراً سزا ورکول کیږي لیکن د تعزیري سزا جاري کول د قاضي یا حکومت کار دی نه د عوامو۔

د مرتد د بیا مسلمانیدو څخه وروسته د هغه د مخکښینیو نیکیو حکم

سوال: چه کله یو څوك له ارتداد څخه وروسته توبه وباسي او بیا مسلمان شي نو د هغه د مخکښینیو اعمالو ثواب هغه ته دوباره ورکول کیږي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: له اسلام څخه مخ اړول (مرتد کیدل) یو سنګین یعني بد ترین جرم دی چه له وجهې نې د مرتد شوي سړي تولې نیکۍ برباد یږي لیکن که چېرته توبه وباسي او بیا مسلمان شي نو د هغه د مخکښینیو نیکیو د اجر په بیا ورکولو کښې د علماوو تر منځ اختلاف دی۔ لکه څرنګه چه ابو علي، ابو هشام او ځینې نورو علماء کرامو په نزد هغه ته د مخکښینیو نیکیو

اجر بیا نه ورکول کیږي او دوباره د هغو نیکیو د اجر او ثواب مستحق نه پاتې کیږي۔ او د ابو القاسم الکعبي په نزد هغه ته د هغه د مخکښینیو نیکو اعمالو اجر دوباره ورکول کیږي۔

لما قال العلامة عالم بن العلاء الانصاریؒ: قیل لهٗ لو تاب اتعود حسناته؟ قال هذه المسئلة مختلفة فعند ابی علی و ابی هشام و اصحابنا انها لا تعود و عند ابی القاسم الکعبی انها تعود و نحن قلنا انهٗ لا یعود ما بطل من ثوابه لکنه تعود طاعته المقدمة مؤثرة فی الثواب من بعد. (الفتاوی التاتارخانیة ج۵، ص۴۶۱، کتاب احکام المرتدین)

لما قال العلامة ابن عابدینؒ: فی التاتارخانیة معزیاً الی التتمة قیل لو تاب اتعود حسناته قال هذه المسئلة مختلفة فعند ابی علی و ابی هشام و اصحابنا انهٗ لا یعود و عند ابی القاسم الکعبی انها تعود و نحن نقول انهٗ لا یعود ما بطل من ثوابه لکنهٗ تعود طاعته المتقدمة مؤثرة فی الثواب. (رد المحتار ج۳، ص۳۳۱، باب المرتد، مطلب المعصیة تبقی بعد الردة) و مثله فی البحر الرائق ج۵، ص۱۲۷، باب المرتد.

د نشې په حالت کښې د ارتداد حکم

سوال: که چېرته یو سړی د نشې په حالت کښې داسې الفاظ له خولې وباسي چه سړی پرې مرتد کیږي نو آیا د ارتداد حکم پرې لګیږي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: فقهاء کرامو د ارتداد لپاره د عقل صحیح والی شرط بللی دی۔ د دې لپاره که چېرته د چا عقل د نشې له وجهې ختم شوی وي او په همدې حالت کښې نې کفري الفاظ له خولې ووځي نو نه مرتد کیږي او نه په داسې سړي باندې د مرتد احکام جاري کیدلای شي۔

لما قال العلامة الکاسانیؒ: و کذلك السکران الذاهب العقل لا تصح ردتهٗ استحساناً و القیاس ان تصح فی الاحکام. (بدائع الصنائع ج۷، ص۱۳۴، باب المرتد)

قال العلامة ابن نجیم رحمه الله: و کذا لا تصح ردة السکران الذاهب العقل. (البحر الرائق ج۵، ص۱۱۹، باب المرتد) و مثله فی ردّ المحتار ج۳، ص۳۱۲، مطلب ما یشك فی انهٗ ردة لا یحکم بها.

د مکـــــره د ارتداد حکم

سوال: چه کله کوم مسلمان د کفر د کلمې په ویلو باندې مجبور کړی شي او د دې مجبورۍ لاندې د کفر کلمه له خولې څخه وباسي لیکن په زړه کښې نې د ویلو هیڅ اراده نه وي۔ نو آیا په داسې صورت کښې نوموړی د اسلام له دائرې څخه ووځي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د جبر او اکراه په صورت کښې یو مسلمان د اسلام له دین څخه نه ووځي په دې شرط چه زړه نې د الله تعالی په وحدانیت باندې مطمئن وي۔ کقوله تعالی مَنْ کَفَرَ بِاللّٰهِ مِنْ بَعْدِ اِیْمَانِهٖ اِلَّا مَنْ اُکْرِهَ وَ قَلْبُهٗ مُطْمَئِنٌّ بِالْاِیْمَانِ. (سورة النحل، آیت۱۰۶)

و لما قال العلامة الکاسانیؒ: و منها الطوع فلا تصح ردة المکره علی الردّة استحساناً اذا کان قلبهٗ مطمئناً بالایمان و القیاس ان تصح فی احکام الدین و سنذکره وجه القیاس و الاستحسان فی کتاب الاکراه انشاء الله تعالی. (بدائع الصنائع ج۷، ص۱۳۴، فصل فی احکام المرتدین)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

قال العلامة ابن نجيم رحمه الله: و من شرائط صفة الردّة الطوع فلا تصح ردّة المكره عليها. (البحر الرائق ج٥، ص١١٩، باب المرتد) و مثله في الدر المختار على هامش رد المحتار ج٣، ص٣١٢، باب المرتد، مطلب ما يشك في انه ردة لا يحكم بها.

د بنځې د ارتداد حکم

سوال: که چېرته کومه مسلمانه بنځه د اسلام دین پریږدي او مرتده شي نو د هغې د قتل کولو حکم څه دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: مسلمانه بنځه چه کله مرتده شي نو هغه به نه قتلیږي بلکه د بیا لپاره به ئې اسلام ته مجبوروي اوبندي خانې ته به ئې اچوي تر دې پورې چه بیرته اسلام راوړي او یا په بندي خانې کښې مړه شي۔

لما قال العلامة الكاساني: و اما المرأة فلا يباح دمها اذا ارتدت و لا تقتل عندنا و لكنها تجبر على الاسلام و اجبارها على الاسلام ان تحبس و تخرج في كل يوم فتستتاب و يعرض عليها الاسلام فان اسلمت و الا حبست ثالثاً هكذا الى ان تسلم او تموت و ذكر الكرخي و زاد عليه و تضرب اسواطاً في كل مرّة تعزيراً لها على ما فعلت. (بدائع الصنائع ج٧، ص١٣٥، فصل احكام المرتدين)

و قال العلامة ابن نجيم: لا تقتل المرأة بل تحبس حتى تسلم لنهيه ﷺ عن قتل النساء. (البحر الرائق ج٥، ص١٢٩، باب المرتد) و مثله في الهندية ج٢، ص٢٥٤، الباب التاسع في احكام المرتدين.

مُرتد به کله قتل کیږي

سوال: که چېرته یو څوک د اسلام دین پریږدي او کفر غوره کړي نو د هغه د قتل په باره کښې څه حکم دی چه کله به قتلیږي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: چه کله یو څوک د اسلام دین پریږدي او کفر غوره کړي نو بهتره طریقه دا ده چه لومړی د اسلام دعوت ورکړي۔ که چېرته اسلام قبول کړي نو ډیره ښه خبره ده او که ئې قبول نه کړي نو او مهلت یا وخت وغواړي نو حاکم به هغه ته دري ورځې وخت ورکوي۔ که چېرته په دریو ورځو کښې مسلمان شو نو صحیح ده او که نه نو بیا به قتل کیږي۔ او که چېرته اسلام هم بیرته قبول نه کړي او مهلت هم و نه غواړي نو په هم هغه وخت کښې دې قتل کړی شي۔

لما قال العلامة الكاساني رحمه الله: و منها انه يستحب ان يستتاب و يعرض عليه الاسلام لاحتمال ان يسلم لكن لا يجب لان الدعوة قد بلغته فان اسلم فمرحباً و اهلاً بالاسلام و ان ابى نظر الامام في ذلك فان طمع في توبته او سأل هو التأجيل اجّله ثلثة ايام و ان لم يطمع في توبته و لم يسأل التأجيل قتله من ساعته. (بدائع الصنائع ج٧، ص١٣٤، فصل في احكام المرتدين)

و قال العلامة التمرتاشي: من ارتد عرض عليه الاسلام استحباباً و تكشف شبهته و يحبس ثلثة ايام ان استمهل و الا لا فقتله من ساعته. (تنوير الابصار على هامش رد المحتار ج٣، ص٣١٢، باب المرتد) و مثله في البحر الرائق ج٥، ص١٢٥، باب المرتد.

د مـــــرتد د مال د تقسیم حکم

سوال: که چېرته کوم مسلمان نعوذ بالله د اسلام له دین څخه واوړي او کفر غوره کړي نو د هغه د مال حکم څه دی؟ آیا مال به ئې په وارثانو باندې تقسیمیږي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: چه کله کوم سړی د اسلام دین پریږدي او کفر غوره کړي نو د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد د مرتد کیدو له وجهې ئې له مال څخه ملك له منځه ځي۔ لیکن که چېرته بیا مسلمان شي نو بیا به ئې ملك دوباره برقراره کیږي۔ او د صاحبینوؒ په نزد د ارتداد له غوره کولو څخه وروسته ئې ملکیت برقراره پاتې کیږي او مال ئې وارثان پخپل منځ کښې نه شي تقسیمولی۔ لهذا که چېرته د ارتداد په حالت کښې مړ یا قتل شي نو د امام صاحبؒ په نزد د اسلام په حالت کښې ئې ګټلی مال د وارثانو دی او د مرتد والي په حالت کښې ئې مال د فيء په حکم کښې دی۔ او د صاحبینوؒ په نزد په دواړو حالتونو کښې ئې مال د وارثانو دی۔

لما قال العلامة المرغيناني: قال و يزول ملك المرتد عن امواله بردته زوالاً مراعى فان اسلم عادت الى مالها قالوا هذا عند ابى حنيفةؒ و عندهما لا يزول ملكه لانهٗ مكلّف محتاج قال ان يقتل بقى ملكه..... و قال و ان مات او قتل على ردته انتقل ما اكتسبه في اسلامه الى ورثته المسلمين و كان ما اكتسبه في مال ردته فيئاً و هذا عند ابى حنيفةؒ و قالا كلماهما لورثته. (الهداية ج٢، ص٥٦٦، باب المرتد)

قال العلامة التمرتاشيؒ: و يزول ملك المرتد عن مالهٖ زوالاً موقوفاً فان اسلم عاد ملكه و ان مات و قتل على ردته ورث كسب اسلامه وارثه المسلم بعد قضاء الدّين الاسلام و كسب ردته فيء بعد قضاء دَين ردته. (تنوير الابصار على هامش رد المحتار ج٣، ص٣٢٩، باب المرتد) و مثله في بدائع الصنائع ج٧، ص١٣٦، فصل في احكام المرتدين.

د الله تعـــــالى لپاره د مکان (ځای) د ثابتوونکي حکم

سوال: که چېرته یو څوک دا عقیده ولري یا دا ووایي چه الله تعالى په فلاني ځای کښې موجود دی او په فلاني ځای کښې نشته۔ نو آیا نوموړی په دې خبرې باندې کافر کیږي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د الله تعالى ذات د مخلوق غوندې له جسم څخه پاك او منزه دی چه نه په دې دنیا کښې کومو سترګو لیدلی دی او نه په دغو سترګو کښې د هغه د لیدنې او مشاهدې طاقت شته۔ او نه په کوم عقل کښې د هغه د ذات په باره کښې د فکر کولو استعداد شته۔ همدا وجه ده چه په حدیث کښې د الله تعالى د ذات په باره کښې له فکر کولو څخه ممانعت شوی دی۔ د دې لپاره د انسانانو په ذواتو باندې د قیاس کولو په صورت کښې د الله تعالى د ذات په باره کښې خبرې اترې د ضلالت او ګمراهۍ سبب دی۔ لهذا د الله تعالى لپاره په داسې کیفیت سره د ځای ثابتولو کوم چه د مخلوق لپاره ثابت دی د عقیدې په درلودلو سره سړی کافر کیږي۔ هو! که چېرته د الله تعالى لپاره د ځای د ثابتولو مطلب یواځې او یواځې اخبار (حکایت) وي لکه څرنګه د قرآن او احادیثو په ګنو ځایونو کښې ثابت دی نو په داسې خبرې او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

عقیدې باندې سړی نه کافر کیږي۔

لما قال العلامة علام بن العلاء الانصاری رحمه الله: اذا قال الله تعالی فی السماء عالم ان اراد به المکان کفر و ان اراد به الحکایة عما جاء فی ظاهر الاخبار لا یکفر و ان لم تکن له نیة یکفر عند اکثرهم و فی التخیر و هو الاصح و علیه الفتوی. (الفتاوی التاتارخانیة ج۵، ص۴۶۴، کتاب احکام المرتدین)

و قال العلامة ابن نجیم المصریؒ: و یکفر بقوله یجوز ان یفعل الله تعالی فعلاً لا حکمة فیه و بالیات المکان لله تعالی فان قال الله فی السمآء فان قصد به حکایة ما جاء فی ظاهر الاخبار لا یکفر و ان اراد المکان کفر و ان لم یکن له نیة کفر عند الاکثر و هو الاصح و علیه الفتوی. (البحر الرائق ج۵، ص۱۲۰، باب المرتد) و مثله فی الهندیة ج۲، ص۲۵۹، الباب التاسع فی احکام المرتدین.

د کفر د غوره کولو مشوره ورکوونکی پخپله هم کافر کیږي

سوال: یوه سړي بل سړي ته د کفر د کلمې د ویلو مشوره ورکړه او د کفر د غوره کولو حکم ئې ورته وکړ۔ نو آیا د مشورې ورکوونکی سړی پخپله هم کافر کیږي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: لکه څرنګه چه پخپله د کفر د الفاظو په ویلو سره یو مسلمان د اسلام له دائرې څخه ووځي همدارنګه کوم بل مسلمان ته د کفر د کلمې تلقین کوونکی او په کفر باندې حکم کوونکی هم د اسلام له دائرې څخه ووځي۔

لما قال العلامة عالم بن العلاء الدهلویؒ: و فی غرر المعانی لا خلاف بین مشائخنا ان الامر با لکفر کفرٌ. (التاتارخانیة ج۵، ص۴۶۰، کتاب احکام المرتدین، فصل اجراء کلمة الکفر)

و قال العلامة ابن عابدینؒ: فی منحة الخالق و فی التاتارخانیة و فی غرر المعانی لا خلاف بین مشائخنا ان الامر با لکفر کفرٌ. (منحة الخالق علی هامش البحر الرائق ج۵، ص۱۲۴، باب المرتد)

په کفر باندې رضا (خوښي) کفر دی

سوال: د کوم سړي د خپل نفس په کفر باندې د خوښي ښکاره کول کفر دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د کوم سړي لپاره د خپل نفس په کفر باندې خوښي او رضا ښکاره کول یقیناً له اسلام څخه د وتلو سبب دی او کفر ته پرې د اخلیږي۔ لهذا د دا سې سړي په کفر کښې هیڅ شك او شبهه ځای نه لري۔

لما فی الهندیة: و من رضی بکفر نفسه فقد کفر. (الفتاوی الهندیة ج۲، ص۲۵۷، الباب التاسع فی احکام المرتدین)

و قال العلامة عالم بن العلاء الدهلویؒ: و من رضی بکفر نفسه فقد کفر. (التاتارخانیة ج۵، ص۴۶۰، کتاب احکام المرتدین، فصل فی اجراء کلمة الکفر)

د بل چا په کفـــــر باندې رضا کفر دی او که نه؟

سوال: آیا د بل سړي په کافر کیدو باندې خوښیدل کفر دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د بل سړي په کافر کیدلو باندې د خوښی ښکارول د دې لپاره چه هغه

د الهي عذاب مستحق وګرځي نو دا کفر نه دی۔ البته په دې نیت باندې خوښیدل چه هغه د الله تعالی په حق کښې او د هغه په ذات او صفاتو کښې ناښائسته الفاظ استعمالوي نو په دې سره ئې په کافر کیدو کښې هیڅ شك و شبهه نه پاتې کیږي۔

لما قال العلامة ابن عابدینؒ: فی منحة الخالق و فی التتارخانیة و فی غرر المعانی الامر بالکفر لیس بکفر. (منحة الخالق علی هامش البحر الرائق ج۵، ص۱۲۴، باب المرتد)

و قال العلامة عالم بن علاء الدهلوی رحمه الله: و من رضی بکفر غیره فقد اختلف المشائخ و فی الصحیح انه لا یکفر با لرضاء بکفر الغیر و فی غرر المعانی مسئلة تدل علی ان الرضا بکفر الغیر لیس بکفر. (التاتارخانیة ج۵، ص۴۶۰، کتاب احکام المرتدین، فصل فی اجراء کلمة الخبر) و مثله فی الهندیة ج۲، ص۲۵۷، الباب التاسع فی احکام المرتدین.

د دا اسې سړي حکم چه د الله تعالی خوا ته په کفر باندې د رضا نسبت کوي

سوال: د الله تعالی خوا ته دا نسبت کول چه یا دا عقیده درلودل چه الله تعالی په کفر باندې راضي دی د شریعت له مخې څه حکم لري؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: لکه څرنګه چه الله تعالی د انسانانو خالق دی همدارنګه د هغو د ټولو اعمالو او افعالو هم خالق دي لیکن انسان ئې د خپلو اعمالو په باره کښې محض مجبور نه دی پیدا کړی بلکه هغه ته د خپلې خوښې مطابق او د هغه د قدرت مطابق د افعالو د کولو پوره اختیار هم ورکړی دی۔ په نیکو او بدو افعالو کښې د تمیز او په افعالو باندې د مرتب کیدونکو نتائجو د بیانولو لپاره ئې انبیاء کرام علیهم السلام را لیږلي دي۔ هغو د هغو ټولو افعالو له نتائجو څخه ټول انسانان ښه خبر کړي دي۔ د دې ترڅنګ که چیرته یو څوك بد افعال غوره کوي نو هغه پخپلې خوښې باندې دا کار کوي۔ د دې لپاره دا د هغه ذاتي عمل وي ځکه چه الله تعالی په زور سره څوك نه منع کوي اګر که هغه د انسان په دې فعل باندې راضي نه وي۔ لهذا د الله تعالی خوا ته دا نسبت کول یا دا عقیده درلودل چه هغه د چا په کفر باندې خوښ دی د کفر موجب دی۔

لما قال العلامة ابن نجیم المصری رحمه اللهؒ: و یکفر ان اعتقد ان الله تعالی یرضی با لکفر. (البحر الرائق ج۵، ص۱۲۰، باب المرتد)

و فی الهندیة: و یکفر ان اعتقد ان الله تعالی یرضی با لکفر کذا فی البحر. (الفتاوی الهندیة ج۲، ص۲۵۸، الباب التاسع فی احکام المرتدین)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

الله تعالی ته د عجز د نسبت کولو حکم

سوال: الله تعالی ته د عجز د نسبت کولو حکم څه دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: الله تعالی قادر مطلق ذات دی، د قدرت لاس ئې په ټولو مخلوقاتو او کائناتو باندې چاړیر دی او چه څنګه وغواړي د خپلې خوښې مطابق تصرفات پکښې کولای شي۔ لکه څرنګه چه د ټولو مخلوقاتو او کائناتو په تخلیق او له نیستي څخه ئې وجود ته په راوړلو کښې له چا څخه مدد نه دی اخیستی همدارنګه د مخلوقاتو او کائناتو د نظام په چلولو کښې هم د چا د امداد محتاج نه دی۔ د دې لپاره په هر یوه فعل کښې د هغه خوا ته د عجز نسبت کول د کفر موجب دی۔

لما قال العلامة عالم بن العلاء الدهلویؒ: و فی خزانة الفقه و لو قال الله تعالی شریك او ولد او زوجة او هو جاهلٌ او عاجز او نقص بذاته او صفاته کفر. (التاتارخانیة ج۵، ص۴۶۳، کتاب احکام المرتدین)

قال العلامة ابن نجیمؒ: فیکفر اذا وصف الله تعالی بما لا یلیق به او سخر باسمٍ من اسمائه او بامرٍ من اوامره او انکر وعدهٗ او وعیدهٗ او جعل لهٗ شریکاً او ولداً او زوجةً او نسبه الی الجهل او العجز او النقص. (البحر الرائق ج۵، ص۱۲۰، باب المرتد) و مثله فی الهندیة ج۲، ص۲۵۸، الباب التاسع فی احکام المرتدین.

حضرت عائشه رضی الله عنها ته د زنا د نسبت کوونکو حکم

سوال: کوم خلك چه د حضرت عائشه رضی الله عنها خوا ته د زنا نسبت کوي نو آیا پرې کافر کیږي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: حضرت عائشه رضی الله تعالی چه د ټولو مسلمانانو مور ده او د حضور ﷺ مبارکه بي بي ده په برائت او پاکوالي باندې نې قرآن ګواه دی او دا د دې مبارکې ذات د لوی والي څرګند ثبوت دی۔ او دا برائت او پاکوالی نې قطعي دی۔ له دې وجهې د هغې خوا ته د زنا نسبت کول نه یواځې دا چه له قرآنکریم څخه څرګند انکار دی بلکه د انساني غیرت هم خلاف دی۔ د دې لپاره د هغې خوا ته د زنا نسبت کوونکي نه یواځې دا چه کافران دي بلکه د انسانیت له دائرې څخه هم وتلي دي۔

قال العلامة عالم بن العلاء الانصاریؒ: و فی خزانة الفقه لو قذف عائشه رضی الله عنها کفر بالله تعالی و لو قذف سائر نساء النبی ﷺ لا یکفر و یستحق اللعنة. (التاتارخانیة ج۵، ص۴۸۵، کتاب احکام المرتدین، فصل فیما یعود الی الانبیاء)

و فی الهندیة: و لو قذف عائشه رضی الله عنها بالزنا کفر بالله تعالی و لو قذف سائر نسوة النبی ﷺ لا یکفر و یستحق اللعنة. (الفتاوی الهندیة ج۲، ص۲۶۴، الباب التاسع فی احکام المرتدین) و مثله فی رد المحتار ج۳، ص۳۲۱، باب المرتد.

د الله تعالی په ځینو کارونو کښې له حکمت څخه د انکار کوونکو حکم

سوال: کوم سړی چه دا عقیده ولري چه له الله تعالی څخه د اسې کارونه هم تر سره کیږي چه

(نعوذ بالله) هیڅ حکمت پکښې نه وي۔ نو آیا د دا سې عقیدې لرونکي سړي حکم څه دی؟

الجواب باسم ملهم الصواب: الله تعالی د اسې ذات دی چه د کائناتو خالق، قادر مطلق او مختار کُل دی۔ د کائناتو یوه ذره هم د ده د اختیار له دائرې څخه د باندې نه دی۔ د انسان په حیثیت سره چه څوك د ادنیٰ درجې عقل ولري هغه دا تصور هم نه شي کولای چه له الله تعالی څخه ځینې د اسې کارونه هم تر سره کیږي چه له حکمت څخه خالي وي۔ ځکه چه د الله تعالی حکیم والی یوه بدیهي خبره ده، د ده یو کار هم له حکمت څخه خالي نه دی۔ همدا وجه ده چه د قرآنکریم په ډیرو ځایونو کښې د الله تعالی د حکیم والي صراحتاً یادونه راغلي ده۔ د فقهاء کرامو د تصریحاتو مطابق چه کوم سړی دا عقیده ولري چه له الله تعالی څخه د اسې کارونه هم تر سره کیږي چه هیڅ حکمت پکښې نه وي نو د اسې کافر دی۔

قال العلامة عالم بن العلاء الانصاریؒ: رجل قال یجوز ان یفعل الله تعالی فعلاً لا حکمة فیه یکفر لانه وصف الله تعالی بالسفه و هو کفر. (التاتارخانیة ج۵، ص۴۶۳، کتاب احکام المرتدین)

قال العلامة ابن نجیمؒ: و یکفر بقوله یجوز ان یفعل الله فعلاً لا حکمة فیه. (البحر الرائق ج۵، ص۱۲۰، باب المرتد) و مثله فی الهندیة ج۲، ص۲۵۸، الباب التاسع فی احکام المرتدین.

په ارتـــــداد سره نکاح فوراً ختمیږي

سوال: که چېرته یو سړی مرتد شي نو د هغه د نکاح څه حکم دی۔ آیا په ښځې باندې نې طلاق واقع کیږي او که د قاضي قضاته به ضرورت وي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: ارتداد یو د اسې عمل دی چه له وجهې نې نکاح فوراً پرته د قاضي له قضاء څخه نکاح له منځه ځي۔ د مرتد په بي بي باندې لازمه ده چه پرته له ځنډ څخه له خپل خاوند څخه جلا شي۔ البته که چېرته خاوند نې بیا مسلمان شي نو د نکاح تجدید ورته ضروري دی۔

لما قال العلامه الحصکفیؒ: و ارتداد احدهما فسخ عاجل بلا قضاء. قال ابن عابدینؒ ای بلا توقف علی قضاء القاضی و قضاء بلا توقف علی مضی عدة فی المدخول بها کما فی البحر. (رد المحتار ج۲، ص۴۲۵، باب نکاح الکافر)

قال العلامة ابن نجیمؒ: ارتداد احدهما فسخ فی الحال یعنی فلا یتوقف علی مضی ثلاثة قروء فی المدخول بها و لا علی قضاء القاضی لان وجود المنافی یوجبه کما لمحرمیة بخلاف لانه غیر منافٍ للعصمة. (البحر الرائق ج۳، ص۲۱۴، باب نکاح الکافر)

د آسمان له وجود څخه د انکـــــار حکم

سوال: جناب مفتي صاحب! له ځینو تعلیم یافته خلکو څخه مې اوریدلي دي چه آسمان پخپله هیڅ وجود نه لري او دا چه کوم نیلي بام یا چت زمونږ تر سترګو کیږي دا هغه خلا ده چه تورو الی او د لمر رنا سره ګډ یږي او په نتیجه کښې د اسې رنګ غوره کوي۔ د پوښتنې وړ خبره دا ده چه آیا په ربښتیا هم آسمان پخپله کوم وجود نه لري۔ که چېرته نې نه لري نو په قرآن او سنتو کښې چه د کوم آسمان (السمآء، السمٰوٰت) ذکر راغلی دی له هغه څخه څه شی مراد دی؟ بینوا توجروا۔

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

الجواب باسم ملهم الصواب: د ټولو مسلمانانو دا عقیده ده چه قرآنکریم د هغه ذات کتاب دی چه ټول عالم ئې پیدا کړی دی او د عالم د کارخانې ټولې پُرزې او په هغو کښې چه کومې ځانګړتیاوې او قوت موجود دی د هم دغه ذات په علم کښې دي. نو د دې اسې ذات په کلام کښې د اسې خبرې ناممکنې دي چه له واقعیتونو او حقائقو څخه مخالفې وي. د سائنس تحقیقات که چېرته له قرآن سره مخالف یا متصادم ځرګند شي نو مونږ دې نتیجې ته پرې رسیږو چه له مخلوق څخه څه غلطي پکښې شوې ده او د خالق او حقیقي مالک د خپلې جوړې شوې کارخانې په باره کښې بدګماني ناممکنه ده. نو په دې اسې رسمي تحقیقاتو کښې که چېرته خلك بیا غور او پوره تحقیق وکړي او یو اځې له تخمیني خبرو او اندازو څخه کار وانه خلي نو خامخا به د خپلې نظریې غلط والی ورته ښکاره شي. هر مسلمان ته د دې طریقې غوره کول ضروري دي.

په موجوده زمانه کښې سائنسد انانو د اسې عجیب او غریب نظریات دنیا ته وړاندې کړي دي چه غیر مسلم (کافر) خو پریږده ځینې مسلمانان هم له هغو څخه متاثر او مرعوب تر سترګو کیږي کوم چه په پټو سترګو باندې د سائنسد انانو د هرې نظریې منلو ته تیاریږي. په د اسې حال کښې چه ډوند تقلید او پرته له کوم واضح دلیل څخه له چا مرعوب کیدل نه د عقل تقاضا ده او نه د شریعت. ځکه چه الله تعالی په عقلونو کښې تفاوت پیدا کړی دی. د چا عقل کمزوری او زر نه رسیدونکی دی او د چا قوي او ډیر لرې پورې رسیدونکی دی. همدا وجه ده چه د پخوانې سائنسد انانو نظریه جدا وه او د موجوده زمانې د سائنسد انانو نظریه جدا ده. د یوه سائنسد ان نظریه جدا وي او د بل سائنسد ان جدا. بلکه اکثره وخت د یوه سړي په یوه وخت کښې یوه نظریه وي او په بل وخت کښې له خپلې نظریې او تحقیق څخه بېرته ګرځي. نو چه کله د عقل دا حال وي نو د چا له نظریاتو څخه پرته له کوم دلیل څخه مرعوبیدل او د هغه ډوند تقلید کول سرتر پایه غلط او د عقل خلاف دي بلکه د هغه په دلیل باندې د غور له کولو وروسته د کومې رأیې قائمول صحیح لاره ده.

هغه دلائل چه له مخې نې مونږ ته د کوم شي په اړه یقین په لاس راځي درې دي:

﴿۱﴾ حواس خمسه یعنې سامعه، باصره، شامه، لامسه او ذائقه دي چه د دغو په ذریعې سره مونږ ته په محسوسې شیانو باندې علم او یقین راځي. په دې شرط چه دا حواس صحیح وي او کوم آفت ور رسیدلی نه وي. نو احول سړي ته یو شی دوه محسوسیدل او د صفراوي مزاج لرونکي سړي ته خوږ شی تریخ محسوسیدل چونکه د خارجي آفت له وجهې وي نو له دې وجهې دا غلطي په دې باندې هیڅکله خنډ نه واقع کیږي چه حواس د یقین ذرائع نه شي جوړیدلای.

﴿۲﴾ دلیل، عقل دی چه له مخې نې په یوه غیر محسوس شي باندې یقین کولای شو او له

کومه ځایه څخه چه د حواسو کار ختمیږي له هغه ځایه څخه د عقل کار شروع کیږي. د مثال په ډول چه کله مونږ لوګی وینو نو د دې ترڅنګ چه اور په نظر نه راځي زمونږ سل په سل یقین وي چه دلته اور موجود دی. او چه کله د خاورو بادبدل او د ونو د پانو ځنګیدل وینو نو زمونږ دا یقین وي چه هوا یا باد موجود دی. همدارنګه چه کله مونږ د سپوږمۍ کوچنۍ کیدل او لوییدل وینو نو دا یقین کوو چه سپوږمۍ له لمر څخه رنا اخلي.

﴿۳﴾ دلیل، د یوه معتمد سړي اطلاع او خبرداری دی چه له مخې نې مونږ په هغو شیانو باندې علم تر لاسه کولای شو چه له پیژندګلوي څخه نې حواس او عقل عاجز وي. د مثال په ډول یوه سړي مکه معظمه او مدینه منوره نه ده لیدلې لیکن د دغو ښارونو په وجود باندې نې پوره یقین دی. دا له دې وجهې نه دی چه یو اځې نې د عقل له وجهې دا یقین ته رسیدلی دی چه د اسې ښارونه موجود دي بلکه ده ته د معتمدو اطلاعاتو له وجهې دا یقین او علم حاصل شوی دی. او یو ډوند سړی چه نه نې کوهی او نه مار لیدلی دی او نه د عقل په ذریعې سره هغه ته د دغو شیانو پیژندګلوي حاصلیدلای شي نو د اسې سړي لپاره د یوه معتمد سړي اطلاع او خبر یوه واحده ذریعه ده چه هغه یقین پرې حاصلولای شي. او د ړانده دا خبره چه تر څو پورې زما په ذهن کښې رانه شي چه دا کوهی او دا مار دی تر هغو پورې نې زه د منلو لپاره تیار نه یم. نو دا به سر تر پایه د نوموړي ړانده بې عقلي وي.

ډیر ځله ځینې خلك د کوم شي له وجود څخه د دې لپاره انکار کوي چه هغه مونږ لیدلی نه دی او نه زمونږ په ذهن کښې راځي. لنډه دا چه که مونږ ته د هغه په وجود باندې کوم دلیل معلوم نه دی. لهذا دا شی موجود هم نه دی. لیکن د دې ډول کوم شي له وجود څخه انکار غلط دی ځکه چه د چا له بې علمي څخه دا نه لازمیږي چه نورو خلکو ته به هم د دې شي د وجود علم او اطلاع نه وي. لکه یو عامي سړی له دې څخه انکار وکړي چه سپوږمۍ خپله رنا له لمر څخه اخلي او دا ووایي چه دا خبره زما په ذهن کښې نه راځي. نو لکه څرنګه چه نورو خلکو ته د دلیل له مخې دا خبره ثابته ده چه سپوږمۍ خپله رنا له لمره حاصلوي له دې وجهې د مخکښینې سړي خبره به د اوریدو قابله نه وي.

د موجوده زمانې د سائنسد انانو دا ګومان دی چه آسمان کوم وجود نه لري. هغوی وایي چه دا کوم نیلي رنګه شی چه تر سترګو کیږي دا د انسان د لیدنې آخري اندازه ده. لیکن دا بالکل غلطه خبره ده ځکه چه له قرآن او حدیثو څخه دا ثابت دي چه آسمان یو مضبوط رنګ لرونکی شی دی چه دروزای هم پکښې لګیدلي دي. او په ځینو آثارو او روایتونو کښې خو د هر یوه آسمان ماده (چه هر یو آسمان له څه شي څخه جوړ شوی دی) هم بیان شوې ده او دا هم ثابته ده چه آسمان له زمکې د پنځه سوه کاله مسافې په اندازه لرې دی. او که چېرته په یو ساعت کښې د دري میله رفتار څخه مسافه معلومه شي نو تقریباً یو میلیون نهه ویشت لکه او شپیته زره میله جوړیږي. او د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

رنګ په اړه ئې حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنهما فرمایي چه د آسمان رنګ نیل رنګه شین دی۔ او ځینې فرمایي چه سور دی لیکن د لرې والي او ډیرې فاصلې له وجهې شین ښکارږي لکه څرنګه چه وینه په رګ کښې د پردې له وجهې او سور غر د لرې والي له وجهې شین ښکارږي۔ البته د قیامت په ورځ به یا د نظر د تیز والي له وجهې او یا له دې وجهې څخه چه په دې ورځ ټول حقایق منکشف کیږي د آسمان اصلي رنګ به خلکو ته څرګند کړی شي۔ چه بیان ئې په دې آیت کښې چه فَكَانَتْ وَرْدَةً كَالدِّهَانِ (سورة الرحمٰن) شوی دی۔

د قرآن او حدیثو له حقو دلائلو څخه د بې خبرۍ له وجهې آسمان د انسان لیدنې د آخري اندازې تاکل ډیره لویه غلطي ده۔ یوه د لسې راننده سړي ته چه هیڅ په نظر نه ورځي که چیرته یو څوک هغه ته د لرې پراته شي د وجود په باره کښې د پوهې له مخې خبر ورکړي نو هغه فوراً یقین پرې کوي په دلسې حال کښې چه هغه هیڅ هم نه وینې۔ او له مونږ سره د آسمان د وجود په باره کښې د معتمد ذات (محمد رسول الله ﷺ) اطلاعات، اخبارات او مشاهدات موجود دي او بیا هم مونږ آسمان ته د انسان د آخري لیدنې اندازه وایو۔ نو دا څومره عجیبه خبره ده۔ که چیرته د یوه سائنسدان مشاهده یا اطلاع تسلیمیږي نو د یوه صادق مخبر جناب محمد رسول الله ﷺ د لسې یوه اطلاع به ولې د تسلیمولو قابله نه وي؟

و الله اعلم بالصواب

د قرآن کریم د بې ادبي کوونکي شرعي حکم

سوال: یوه سړي پخپل کور کښې د خسر له مخې خپلې بې بي سره په کومې خبرې باندې جګړه وکړه په دلسې حال کښې چه په دې وخت کښې ئې بې بي د قرآنکریم په تلاوت کښې مصروفه وه۔ هغې خپل خاوند ته وویل چه کور ته په راتلو سره د چا بې عزتي باید و نه کړی۔ په دغومره خبرې باندې خاوند له بې بي څخه قرآن مجید واخیست او پرې ئې کړ او بیا ئې په جامه کښې واچاوه او اوبو ته ئې ګذار کړ۔ د دلسې سړي شرعاً څه حکم دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په صورت مسئوله کښې نوموړي سړي په ظاهره سره د قرآن کریم بې ادبي او بې حرمتي کړې ده لهذا د دې سړي لپاره د ایمان او نکاح نوي کول ضروري دي۔ (فتاوی دار العلوم دیوبند ج۳، ص۳۴۳، څلورم باب، احکام المرتد)

قال العلامة ابن عابدين: و في المسائرة و با لجملة فقد ضم الى التصديق با لقلب او با لقلب و اللسان في تحقيق الايمان امورٌ الاخلال بها اخلالٌ با لايمان اتفاقاً كترك السجود لصنم و قتل نبي و الاستخفاف به و با لمصحف و الكعبة الخ. (رد المحتار ج۳، ص۳۱۰، باب المرتد)

و في البزازية: ادخال آية القرآن في المزاح و الدعابة كفر لانه استخفاف به الخ. (الفتاوى البزازية على هامش الهندية ج۶، ص۳۳۸، كتاب الفاظ تكون اسلاماً الخ)

د ډارون د ارتقاء نظریه او اسلام

سوال: جناب مفتي صاحب! د "ډیسنټ آف مین فام" نومي کتاب کښې د ډارون د ارتقاء د نظریې تر عنوان لاندې دلسې راغلي دي چه په ابتداء کښې د دنیا ټول مخلوقات په اصل فطرت کښې یو وو چه وروسته ئې ترقي وکړه او دومره ډیر ډولونه پیدا شول۔ او انسان د دې فطري لاري آخري مرحله ده۔ یعني انسان دفعتاً نه دی پیدا شوی بلکه له څو مرحلو څخه تیر شوی او بیا ځپل منزل ته رسیدلی دی۔ د مثال په ډول له جماد اتو څخه نباتات، له نباتاتو څخه حیوانات او بیا له حیواناتو څخه انسانان جوړ شوي دي۔ ستاسو له محترم حضور څخه هیله کیږي چه د اسلامي نقطهٔ نظر او دلائلو له مخې د دې نظریې وضاحت وکړی؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د ډارون دا نظریه چه انسان لومړی نباتات او بیا حیوان (بیزو) وو او بیا انسان جوړ شو" سر تر پایه غلطه او د شرعي نصوصو په خلاف ده۔ د قرآن او حدیثو په رڼا کښې د دې نظریې وضاحت په لاندې ډول دی۔

له قرآن مجید څخه دلیلونه

﴿۱﴾ فَإِذَا سَوَّيْتُهُ وَنَفَخْتُ فِيهِ مِن رُّوحِي فَقَعُوا لَهُ سَاجِدِينَ☆ (سورة الحجرات، آیت ۲۹)

﴿۲﴾ وَخَلَقَ الْإِنسَانَ مِن صَلْصَالٍ كَالْفَخَّارِ☆ (سورة الرحمٰن، آیت ۱۴)

﴿۳﴾ قَالَ ءَأَسْجُدُ لِمَنْ خَلَقْتَ طِينًا (سورة بنی اسرائیل، آیت ۶۱)

﴿۴﴾ وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً (سورة البقرة، آیت ۳۰)

﴿۵﴾ وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ اسْجُدُوا لِآدَمَ فَسَجَدُوا إِلَّا إِبْلِيسَ أَبَى وَاسْتَكْبَرَ (سورة البقرة، ۳۴)

﴿۶﴾ وَقُلْنَا يَا آدَمُ اسْكُنْ أَنتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ وَكُلَا مِنْهَا رَغَدًا (سورة البقرة آیت ۳۵)

﴿۷﴾ وَقُلْنَا اهْبِطُوا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ وَلَكُمْ فِي الْأَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَمَتَاعٌ إِلَى حِينٍ☆ (سورة البقرة، آیت ۳۶)

﴿۸﴾ إِنَّ مَثَلَ عِيسَى عِندَ اللَّهِ كَمَثَلِ آدَمَ خَلَقَهُ مِن تُرَابٍ ثُمَّ قَالَ لَهُ كُن فَيَكُونُ☆ (سورة آل عمران، آیت ۵۹)

﴿۹﴾ قَالَ مَا مَنَعَكَ أَلَّا تَسْجُدَ إِذْ أَمَرْتُكَ قَالَ أَنَا خَيْرٌ مِّنْهُ خَلَقْتَنِي مِن نَّارٍ وَخَلَقْتَهُ مِن طِينٍ☆ (سورة الاعراف، آیت ۱۲)

﴿۱۰﴾ قَالَ اهْبِطُوا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ وَلَكُمْ فِي الْأَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَمَتَاعٌ إِلَى حِينٍ☆ (سورة الاعراف، آیت ۲۴)

د رسول الله ﷺ د حدیثو څخه دلیلونه

﴿۱﴾ عن ابی هریرة رضی الله عنه عن النبی ﷺ قال خلق الله آدم و طوله ستون ذراعاً ثم قال اذهب فسلم على اولئك من الملئكة. (الصحيح البخاری ج۱، ص۴۶۸، پاره۱۳، كتاب بدأ الخلق، باب قول الله تعالى و اذ قال ربك (الآية))

﴿۲﴾ عن انس رضی الله عنه ان رسول الله ﷺ قال لما صوّر الله آدم فی الجنّة تركه ما شاء الله ان يتركه فجعل ابليس يطيف به ينظر ما هو فلما راه اجوف عرف انه خلق خلقاً لا يتمالك. (مشكوة ج۲، ص۵۰۶، باب بدء الخلق، الفصل الاول)

﴿۳﴾ عن ابی هريرة رضی الله عنه ان رسول الله ﷺ قال كان طول آدم ستين ذراعاً فی سبع اذرع عرضاً. (مشكوة ج۲، ص۵۱۱، الفصل الثالث، باب بدء الخلق)

﴿۴﴾ عن ابی موسى الاشعری رضی الله عنه مرفوعاً ان الله خلق آدم من قبضة قبضها من جميع الارض فجاء بنو آدم على

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

قدر الارض منهم الاحمر و الابیض الخ. (جلالین شریف ج ۱، ص ۸، حاشیة ۱)

﴿۵﴾ عن ابن عباس رضی الله عنه قال کان ابلیس من حیّ من احیاء الملائکة الی قوله قال ثم امر بتربة ادم فرفعت فخلق الله ادم من طین لازب و اللازب اللازج الطیب من حمإ مسنون منتن و انما کان حماء مسنوناً بع التراب فخلق منه آدم بیده قال فمکث اربعین لیلة جسداً ملقی و کان ابلیس یاتیه فیضربه برجله فیصلصل فیصوت فهو قول الله تعالی: مِنْ صَلْصَالٍ کَالْفَخَّارِ یقول کا لشیء المنفرج الذی لیس بمصمت قال ثم یدخل فی فیه و یخرج من دبره و یدخل من دبره و یخرج من فیه ثم یقول لست شیئاً لصلصلة و لشیء ما خلقت و لئن سلطت علیك لاهلکنکو لئن سلطت علی لاعصینك قال فلما نفخ الله تعالی فیه من روحه اتت النفخة من قبل رأسه فجعل لا یجری شیء منها فی جسده الا صار لحماً و دماً فلما انتهت النفخة الی سرته نظر الی جسده فاعجبه فاری من جسده فذهب لینهض فلم یقدر فهو قول الله تعالی (وَ خُلِقَ الْاِنْسَانُ عَجُوْلاً) قال جراً لا صبر لهٗ علی سراء و لا ضراء قال فلما تمت النفخة فی جسده عطس فقال (الحمد لله رب العلمین) بالهام الله فقال الله لهٗ (یرحمك الله یا ادم) قال ثم قال تعالی للملائکة الذی کانوا مع ابلیس خاصة دون الملائکة الذین فی السمٰوٰت اسجدو لآدم فسجدوا کلهم اجمعون الا ابلیس ابی و استکبر لما کان حدث نفسه من الکبر و الاغترار فقال لا اسجد لهٗ و انا خیر منه و اکبر سنا و اقوی خلقاً خلقتنی من نار و خلقته من طین. (تفسیر ابن کثیر ج ۱، ص ۷۵)

له پورتنی تولو دلیلونو څخه څرګنده شوه چه انسان له اول پیدائش څخه کامل او مکمل پیدا شوی دی او له هم هغه وخته د عقل چښتن هم دی۔ د دې لپاره له لومړی ورځې څخه الله تعالی انسان عالم او په احکامو مُکلف پیدا کړی دی۔ د اسې نه چه له جماداتو څخه نباتات او له نباتاتو څخه ئې حیوان او له حیوان څخه ئې انسان جوړ کړی دی۔ ځکه چه الله تعالی له خاوري څخه وروسته د کُن فیکُون صیغه استعمال کړې ده چه له تدریج پرته په دفعة واحدة باندې دلالت کوي۔

زلیخا ته د زانیه وغیره ویلو حکم

سوال: که چېرته یو څوك د زلیخا په باره کښې دا الفاظ استعمال کړي چه زلیخا یوه زانیه او فاحشه ښځه وه نو د دا سې سړي په شریعت کښې څه حکم دی؟ آیا مسلمان پاتې کیدلای شي او که نه، د ه ...انو په ډله کښې شامل دی او که نه، ګواهي ئې په اسلام کښې قبوله ده او که نه۔ او آیا د مسلمانانو په هدیرې (قبرستان) کښې ئې دفن کیدلای شي او که نه، د تفصیل له مخې ځواب راکړئ؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: لکه څرنګه چه په قرآن او حدیث کښې د عزیز د ښځې په اړه دا راغلي چه نوم ئې زلیخا وو او نه دا راغلي چه یوسف علیه السلام نکاح ورسره کړې وه۔ د دې لپاره محض د اسرائیلیاتو له وجهې څوك له اسلام څخه باید و نه ایستل شي خصوصا په د اسې حال کښې چه د حال د غلبې له وجهې د حلت او حرمت څخه ذهن خالي وي۔

"عبادت را وغیبی" د کفر کلمه نه ده

سوال: یوه دیندار سړي په جومات کښې عبادت کاوه چه کله فارغ شو او کور ته راغی نو په کومې خبرې باندې ئې له ښځې سره جګړه راغله نو د غصې په حالت کښې ئې له ژبې دا خبره ووتله چه "موږ په جومات کښې څه ناڅه عبادت وکړو چه کور ته راشو نو هر څه را وغیبی" نو آیا د دې سړي دا خبره د کفر کلمه ده او که نه؟ او په دې خبرې باندې کافر کیږي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: اګر که په ظاهري لحاظ سره نومورې الفاظ صحیح نه دي لیکن دا لفظ د پښتو ژبې په محاوره کښې د کوم شي د بربادیدو او لغو کیدو په معنی کښې استعمالیږي او د کوم شي تحقیر او سپکاوی ئې مقصد نه وي۔ او همدا سې هم د کومو الفاظو چه مختلف مطالب او معاني وي نو د افتاء د اصولو مطابق د هغه اسلامي معانیو او مطالبو ته ترجیح ورکول کیږي تر څو چه یو مسلمان د کفر له فتوی څخه وساتلی شي۔ لهذا د صورت مسئوله مطابق نومورې دیندار سړی مسلمان دی او د کفر هیڅ شك او شبهه پرې مه کوی۔ البته هر یوه مسلمان باید له داسې دوه مخیزو الفاظو له استعمالولو څخه ډډه وکړي چه له مخې ئې په اسلام باندې د داغ لګیدلو اندیښنه وي۔ هکذا في عقود رسم المفتي ص ۸۰۔

و الله اعلم و علمه اتم

د الله تعالی لپاره د "خدا" د لفظ استعمالولو حکم

سوال: د جماعت المسلمین له ډلې سره اړیکې لرونکي خلك د الله تعالی لپاره د "خدای" د لفظ استعمالول حرام او ناجائز بولي۔ اوس د پوښتنې ور خبره دا ده چه آیا په ریښتیا هم د الله تعالی لپاره د "خدای" لفظ استعمالول ناجائز او حرام دي او که څنګه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: "خدا" د فارسي ژبې لفظ دی کوم چه د الله په ځای استعمالیږي او د شریعت له مخې د الله تعالی لپاره د هرې ژبې هغه لفظ استعمالول جائز دي کوم چه د واجب الوجود او قدیم مترادف وي۔

لما قال العلامة عبد العزیز فرهاریؒ: و اذا ورد الشرع باطلاق اسم بلغة کلفظ الله فهو اذن باطلاق ما یرادفه من تلك اللغة کا لواجب و القدیم او من لغة اخری کاسم خدا بالفارسیة. (النبراس ص ۱۱۲، صفات الله تعالی)

ږیرې ته د ووزې د لکۍ ویونکي سړي حکم

سوال: جناب مفتي صاحب! یوه سړي زمونږ په مخکښې یوه ږیرې لرونکي مسلمان ته وویل چه دا تا څه د ووزې د لکۍ غوندې ږیره پریښې ده او د دې ترڅنګ ئې ښه په زوره قهقهه خندا هم وکړه۔ نو آیا په دې الفاظو سره د نومورې سړي ایمان ختمیږي او که نه؟ او نکاح او نور نیك عملونه څرنګه کیږي؟ د کرم او مهربانۍ له مخې په تفصیل سره ځواب راکړئ ډیره شکریه به مووي؟ بینوا توجروا۔

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

الجواب باسم ملهم الصواب: د زیږي پریښودل د هر مسلمان لپاره سنت مؤکده بلکه واجب دي۔ په زیږي باندي توقي مسخري د الله تعالی په شعائرو باندي له توقي او مسخري سره برابري دي کوم چه شرعا حرام او ناجائز دي۔ د اسي سړی له ایمان څخه د خلاصون له سخت خطر سره مخامخ دی، نکاح ئې له منځه ځي او نیك اعمال ئې هم ضائع کیږي۔ د د اسي سړي لپاره د نکاح تجدید ضروري دی۔

لما قال العلامة ابن عابدين: و وجهه ان السنة حد الاحكام الشرعية المتفق على مشروعيتها عند علماء الدين فاذا انكر ذلك و لم يرها شيئا ثابتاً و معتبراً في الدين يكون قد استخف بها و استهانها و ذلك كفر.

مخکښې لیکي چه: اذا اراد ان يتكلم بكلمته مباحه فجرى على لسانه كلمة الكفر خطأً بلا قصد لا يصدقه القاضي و ان كان لا يكفر فيما بينه و بين ربه تعالى..... ان ما يكون كفراً اتفاقاً يبطل العمل و النكاح و ما فيه خلاف يؤمر با لاستغفار و التوبة و تجديد النكاح. (رد المحتار ج۳، ص۳۱۹)

د کوم نبي اشارةً یعني د کومې فرضي کیسې له مخې سپکاوی کفر دی

سوال: څه فرمایي علماء کرام د دي مسئلي په باره کښې چه د دوم تولګي د پښتو د تعلیم ذریعه د استاذ انو لارښود (این ډبلیو ایف پي تیکسټ بك بورډ پشاور) په مخ ۱۷۱ کښې یوه کیسه د "ابو القاسم او د هغه خر" تر عنوان لاندې لیکل شوې ده چه له مخې ئې د کوم سړي تذلیل او تحقیر (سپکاوی) ثابتیږي۔ په دي فرضي کیسې کښې د ابو القاسم او موسی نومونه استعمال شوي دي۔ نو آیا د ابو القاسم نوم په کومې د اسي کیسې کښې چه تذلیل آمیزه وي استعمالول جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: ابو القاسم یا ابو قاسم د جناب محمد رسول الله ﷺ مبارك کنیت دی۔ په مبارکو احادیثو کښې د نبي کریم ﷺ اسم کنیت نوم په ځان ایښودل منع شوي دي۔ لکه څرنګه چه دی مبارك ﷺ فرمایي: عن ابی هريرةؓ قال قال ابو القاسم ﷺ سموا باسمی و لا تكتنوا بكنيتی. (عمدة القاری ج۲۲، ص۲۰۷)

"له حضرت ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی چه نبي کریم ﷺ وفرمایل چه زما د نومونو غوندې نوم په ځان کښیږدی لیکن زما د کنیت غوندې کنیت په ځان مه ږدی"۔ د دې لپاره امام شافعي رحمه الله په مطلقه توګه ابو القاسم کنیت په ځان ایښودل ناجائز بللي دي۔

همدارنګه امام ابن حجر عسقلاني رحمه الله د امام نووي رحمه الله په حوالې سره دا خبره نقل کوي چه: الاول المنع مطلقاً سواء كان اسمه محمد ﷺ ام لا ثبت ذلك عن الشافعی. (فتح الباری ج۱۰، ص۴۷۲)

"لومړی مذهب دا دی چه دا ډول کنیت په مطلقه توګه منع دی که د چا نوم محمد وي او که نه وي۔ او د اله امام شافعي څخه ثابت دي۔ اګر که په جواز کښې ئې نور قولونه هم میندل کیږي لیکن دا ټول اقوال یواځې د نفس کنیت پورې محدود دي۔ او که چېرته د دي کنیت تذلیل، تحقیر او سپکاوی مقصود وي یا د تذلیل او سپکاوي کومه شبهه هم پکښې وي نو د

دي ډول الفاظو او یا نومونو استعمالولو د قرآن کریم د نص له مخې جائز نه دي۔

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَقُوْلُوْا رَاعِنَا وَ قُوْلُوا انْظُرْنَا وَ اسْمَعُوْا وَ لِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابٌ اَلِيْمٌ (سورة البقرة، آیت ۱۰۴)

"ای د ایمان خاوندانو راعِنا مه وایی بلکه اُنظُرنا ووایی او واورې چه د کافرانو لپاره دردناك عذاب دی"۔

علامه قرطبي رحمه الله د دي آیت لاندې لیکي چه: في هذه الآية دليلان احدهما على تجنب الالفاظ المحتملة التي فيها التعريض للنقيص و الغض. (تفسیر احکام القرآن للقرطبیؒ ج۲، ص۵۷)

"په دي آیت کښې دوه دلیلونه دي: لومړی دا چه د دي ډول الفاظو څخه باید ډډه وشي چه د سپکاوي خوا ته اشاره پکښې موجوده وي"۔

همدارنګه علامه ابو بکر الجصاص الرازي رحمه الله لیکي: و هذا يدل على ان كل لفظ احتمل الخير و الشر فغير جائز اطلاقه حتى يقيد بما يفيد الخير. (احکام القرآن للجصاص ج۱، ص۷۷)

"دا آیت په دي خبره باندې دلیل دی چه هر هغه لفظ چه د خیر او شر دواړو احتمال پکښې وي د هغه په مطلقه توګه استعمال جائز نه دی تر څو پورې چه له خیر سره مقید شوی نه وي"

همدارنګه په دي آیت کریمه کښې الله تعالی د خپل رسول ﷺ په عالي او لوړ شان کښې د د اسي الفاظو له استعمالولو څخه منع فرمایلي ده چه د نبي د تنقیص (کم ګنلو) احتمال پکښې وي اګر که د متکلم مراد هر څه وي۔

لکه څرنګه چه له استفتاء سره د اصل کتاب له لف شوي صفحاتو یعني مخونو له مطالعې څخه په څرګنده توګه دا معلومیږي چه لابي یهودي دا فرضي کیسه د جناب نبي کریم ﷺ د شان د تنقیص لپاره جوړه کړې ده چه لاتدیني امور پرې دلالت کوي۔

﴿۱﴾ د ابو قاسم د نامه استعمال کوم چه د نبي کریم ﷺ د کنیت نوم دی۔

﴿۲﴾ د هغه ملګري موسی پیدا کیدل۔ لکه څرنګه چه د یهودیانو عقیده ده چه حضرت موسی علیه السلام په تولو انبیاء کرامو باندې فوقیت لري نو موسی ته (کوم چه د موسی علیه السلام نوم دی) د ابو قاسم (کوم چه د نبي کریم ﷺ مبارك کنیت دی) په مقابله کښې راوړل همدا عقیده په ګوته کوي۔ او بیا په دي کیسې کښې موسی علیه السلام ته په عقل او فراست کښې په ابو قاسم باندې ترجیح ورکول او ابو قاسم د موسی په پرتله حقیر او خوار ثابتول د همدې نظریې ښکارندوی دی۔

﴿۳﴾ همدارنګه د ۹ تعداد هم د دي خبرې خوا ته اشاره کوي چه له دي څخه مراد د نبي کریم ﷺ مبارکې ببیاني دي ځکه چه کوم وخت د ده مبارك ﷺ وصال منځ ته راغی په هغه وخت کښې ئې نهه ببیاني ژوندی وي۔

﴿۴﴾ بیا د خره تعین هم د دي خبرې خوا ته اشاره کوي چه دی مبارك ﷺ د مکې د فتح په وخت کښې په خره باندې سپور وو۔

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

﴿۵﴾ بیا په تصویر کښې ابو قاسم ته پګړۍ ور په سرول کوم چه د نبي کریم ﷺ پاک سنت دی د همدې خلاف شرعي نظریې خوا ته اشاره کوي۔

﴿۶﴾ بیا د دې کیسې ترتیب او نظر ثاني هم یو غیر مسلم (کافر) مستر برینډا پین روز (ایډوایزر متیریل ډویلپمنټ) کړې ده۔

او که نه نو له دغو نومونو پرته ټې نور نومونه هم استعمالولی شوای۔ له دې وجهې په دې کیسې کښې دا نومونه یاد دې غوندې نور نومونه چه له مخې ټې د کوم پیغمبر د ذات تذلیل او تحقیر مقصود وي استعمالول جائز نه دي۔ اوس که چېرته د دغو نومونو له استعمالولو څخه د متکلم مراد د کوم رسول یا نبي تذلیل او تحقیر مقصود وي نو د اسې سړی له اسلام څخه ووځي۔ او که چېرته ټې تذلیل هم مقصود نه وي لیکن شبهِ تذلیل خو نو خامخا دی چه له د اسې عمل څخه ځان ساتل د هر مسلمان دیني او منصبي فریضه ده۔ لهذا د وزارتِ تعلیم د اختیار او واک خاوند ان باید له کتاب څخه نومورې نومونه وباسي او د هغو په ځای نور نومونه غوره کړي او د دې ترځنګ له تصویر څخه دې پګړۍ او ږیره هم له منځه یوسي تر څو چه د اسلامي شعائرو (پګړۍ او ږیره) تذلیل او تحقیر و نه شي۔ و الله اعلم و علمه اتم

"لمونځونه خو خره او سپي کوي" د ویلو حکم

سوال: یوه سړي نه کوم وخت لمونځ کړی دی او نه ټې کوم وخت د جومات خوا ته مخ اړولی دی۔ یو تبلیغي ملګري هغه ته د لمانځه د ادا کولو دعوت ورکړ نو هغه ورته وویل چه "لمونځونه خو خره او سپي کوي څه لاړ شه زه لمونځ نه کوم"۔ نو د د اسې سړي په باره کښې د شریعت حکم څه دی چه آیا له اسلام څخه ووځي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: لمونځ د اسلام له شعائرو څخه دی، د لمانځه توهین له اسلام څخه د وتلو سبب دی۔ لهذا په بنکاره توګه د دې سړي له نومورې الفاظو څخه د لمانځه سپکاوی معلومیږي چه له مخې ټې نومورې د اسلام له دائرې څخه وتلی دی۔ د ده لپاره د ایمان او نکاح تجدید ضروري دی۔ البته که چېرته ټې په نومورې الفاظو سره د لمانځه سپکاوی مقصد نه وو بلکه ناپوهي یا د کوم بل مقصد له وجهې وي نو اګر که له اسلام څخه خو به خارج نه وي لیکن ګنهګار شوی خو خامخا دی۔

لما قال المفتي عبد الرحیم: له نومورې الفاظو څخه په بنکاره ډول د لمانځه او د لمونځ کوونکو سپکاوی لازمیږي لیکن تاویل پکښې ممکن دی۔ که چېرته د ویونکي مقصد دا وي چه لمونځ اصل دین دی لیکن د عقیدې صحیح والی ترې مخکښې دی۔ که چېرته عقیده فاسده وي نو لمونځ د نجات لپاره کافي نه دی۔ د دې لپاره د د اسې خبرې ویونکی له اسلام څخه وتلی نه شي بلل کیدلی۔ البته که چېرته د اسې سړي پخپله لمونځونه نه کول او لمونځ ټې ضروري نه باله له دې وجهې ټې د لمانځه په اړه د اسې الفاظ استعمالول نو له شک پرته له اسلام

څخه وتلی دی او د اسې سړي ته توبه، د ایمان او نکاح تجدید ورته ضروري دي۔ (فتاوی رحیمیه ج ۱۰، ص ۴۰، کتاب الایمان)

د نبي کریم ﷺ یا کوم بل نبي د سپکاوي سزا

سوال: څه فرمایي د دین علماء او د شرع متین مفتیان کرام د دې مسئلې په باره کښې چه یو پروفیسر ډاکټر یونس شیخ خپل صنف (تولګي) ته د لیکچر (بیانیې) په دوران کښې د طلباوو په وړاندې لاندینۍ خبرې کړې دي۔ (نقل کفر کفر نه باشد)

﴿۱﴾ نبي کریم ﷺ تر څلویښت کلني پورې غیر مسلم وو۔ (معاذ الله، استغفروا الله ثم استغفروا الله)

﴿۲﴾ تر څلویښت کلني پورې نبي کریم ﷺ نه وو ختنه شوی۔

﴿۳﴾ نبي کریم ﷺ لومړنی واده د پنځه ویشتو کلونو په عمر کښې وکړ او لکه څرنګه چه په دې وخت کښې نه نبي وو او نه مسلمان۔ نو ځکه ټې نکاح نه وه شوې۔

﴿۴﴾ د څلویښتو کلونو تر عمر پورې ټې د تخرګونو او نامه د لاندې ویښتان نه پرې کول۔

﴿۵﴾ د ده مبارک ﷺ والدین هم کافران وو۔

آیا دا کلمات د رسول الله ﷺ د ګستاخۍ په زمره کښې راځي او که نه؟ او د د اسې سړي لپاره شرعي حکم څه دی؟ که چېرته د رسول الله ﷺ کوم ګستاخ توبه وباسي نو توبه ټې قبلیږي او که نه؟ دا پنځه خبرې چه هغه کړي دي د دغو خبرو شرعي حیثیت څه دی؟ د قرآن او حدیثو له مخې ټې مدلل ځوابونه راکړئ؟ همدارنګه د دغو کلماتو په باره کښې باید مسلمان څه عقیده ولري؟ آیا د یوه مسلمان لپاره د د اسې مجرم حمایت جائز دی او که نه؟ آیا یو مسلمان وکیل په عدالت کښې د د اسې مجرم وکالت کولای شي او که نه؟ او که چېرته ټې څوک وکالت وکړي نو د وکیل ټې بیا شرعي حکم څه دی؟ آیا نبي کریم ﷺ پخپل مبارک دور کښې د اسې کوم ګستاخ معاف کړی وو؟ اوس د رسول ﷺ د د اسې ګستاخ د معاف کولو څوک اختیار لري او که نه؟ او که چېرته ټې کوم عالم حمایت وکړي نو د شریعت مطهره له مخې به د د اسې عالم حکم څه وي؟ آیا د رسول ﷺ د ګستاخ او د مرتد په احکاماتو او سزاګانو کښې کوم فرق شته او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د نومورې سوالونو ځوابونه د ترتیب له مخې په لاندې ډول دي۔

سوال(۱): آیا معاذ الله حضور اقدس ﷺ تر څلویښت کلني پورې غیر مسلم وو؟

ځواب(۱): د اهل السنت و الجماعت عقیده دا ده چه ټول انبیاء کرام علیهم الصلوٰة و السلام له نبوت څخه مخکښې او وروسته له تولو صغیره او کبیره ګناهونو څخه پاک او منزه دي۔ نه له هغو څخه تر نبوت مخکښې د کفر او شرک د ارتکاب تصور کیدلای شي او نه له نبوت څخه وروسته۔ ځکه چه نبوت او کفر او شرک ډیر سره ضد دي۔

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

الله تعالی حضرات انبیاء کرامو علیهم الصلوٰة و السلام ته له ابتداء څخه د لسې طبعیتونه او نفسونه ورکړی دی چه فطرتاً له معصیت څخه لري اوسیدونکی دي او له عبودیت څخه ډك دي۔ تر دې پورې چه د کوچني والي په حالت کښې ئې هم د عبدیت اعتراف کړی دی۔ لکه څرنګه چه حضرت عیسیٰ علیه السلام په کوچنیوالي کښې د "إنّي عبد الله" کلمه له ژبې مبارکې څخه و ایستله او د دې خبرې اعلان ئې وکړ۔ چه زمونږ د عقائدو په کتابونو کښې هم لیکل شوي دي۔

لکه څرنګه چه امام ابو حنیفه رحمه الله فرمایي: الانبیاء علیهم الصلوة و السلام کلهم منزهون عن الصغائر و الکبائر و الکفر و القبائح. (شرح فقه اکبر ص۸۸/۸۹، بحث ان الانبیاء الخ)

علامه نسفي فرمایي: و فی عصمتهم عن سائر الذنوب تفصیل و هو انهم معصومون من الکفر قبل الوحی و بعده بالاجماع و کذا عن تعمده الکبائر عند الجمهور. (شرح عقائد النسفی ص۹۸)

علامه ابن حزم، امام ابو اسحٰق اسفرائني، ابن فورك، ابن برهان، نووي، قاضي خان او د اسې نور د ټول اهلسنت و الجماعت د مسلك په ګوتو کولو سره لیکي: إنّهم معصومون عن الصغائر و الکبائر جمیعاً قال انه الذی ندین به و هو الصحیح. (بحواله مکتوبات شیخ الاسلام ج۳، ص۲۴۷)

قاسم العلوم و الخیرات مولانا محمد قاسم نانوتوي فرمایي: بزعم احقر انبیاء علیهم الصلوة و السلام از صغائر و کبائر قبل النبوة و بعد النبوة بهر طور که باشد معصوم اند. (ترجمان السنة ج۳، ص۳۵۵)

علامه ابو محمد عبد الحق محدث د هلوي لیکي: لیکن له کفر او شرك څخه په اتفاق سره معصوم وو او له یوه نبي څخه هم له نبوت څخه مخکښې او وروسته کفر او شرك نه دی واقع شوی۔ (عقائد اسلام ص۳۸، ۲۹)

علامه مفتي عبد الرحیم فرمایي: (الجواب) حضرات انبیاء علیهم الصلوٰه و السلام له ابتداء څخه موحد دي۔ له نبوت څخه مخکښې او وروسته له کفر او شرك څخه بلکه د کفر او شرك له شائبه څخه هم بالکل پاك، صاف او منزه دي۔ (فتاوی رحیمیه ج۹، ص۲۹، کتاب العقائد)

د دې وجه دا ده چه الله تعالی په ځانګړتیا سره له انبیاء کرامو علیهم السلام څخه په عالم ازل (عالم ارواح) کښې د خپل عبادت او توحید او د هغه خوا ته د دعوت ورکولو مضبوطه وعده اخیستي وه۔

د الله تعالی مبارك ارشاد دی چه: وَ إِذْ أَخَذْنَا مِنَ النَّبِيّٖنَ مِيثَاقَهُمْ وَ مِنْكَ وَ مِنْ نُّوحٍ وَّ إِبْرَاهِيمَ وَ مُوسٰى وَ عِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ وَ أَخَذْنَا مِنْهُمْ مِّيثَاقاً غَلِيظاً ۝ (الاحزاب، آیت۷)

په تفسیر جلالین کښې د دې آیت تفسیر د اسې بیان شوی دی: اذکر (اذ اخذنا من النبیین میثاقهم) حین اخرجوا من صلب آدم کالذر جمع ذرة و هی اصغر النمل (وَ مِنْكَ وَ مِنْ نُّوحٍ وَّ إِبْرَاهِيمَ وَ مُوسٰى وَ عِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ) بان یعبدوا الله و یدعوا الی عبادة و ذکر الخمسة من عطف الخاص علی العام (وَ أَخَذْنَا مِنْهُمْ مِّيثَاقاً غَلِيظاً) شدیداً بما لزمنا بما حملوه و هو الیمین بالله تعالی. (جلالین مع صاوی ج۳، ص۲۵۲)

له دغو تولو عبارتونو څخه په وضاحت سره دا خبره څرګندیږي چه انبیاء کرام علیهم الصلوٰه و السلام له نبوت څخه مخکښې هم مسلمانان وو او له نبوت څخه وروسته هم په هغو باندې هیڅکله د کفر او شرك زمانه نه ده راغلې۔

(۲) په ځانګړي توګه له جناب محمد رسول الله ﷺ څخه له نبوت مخکښې او وروسته د ګناه او کفري عقائدو د ارتکاب تصور هم محال دی چه له مخې ئې دی مبارك ﷺ غیر مسلم وګڼل شي او نکاح ئې ناجائزه وبلل شي۔

امام ابو حنیفه رحمه الله د دواړو جهانو د سرد ار ﷺ په باره کښې په تخصیص سره فرمایي: و محمد ﷺ نبیّه و عبده و رسولهٗ و نبیه و صفیه و تقیه و لم یعبد الصنم و لم یشرك بالله تعالی طرفة عین قط و لم یرتکب صغیرة و لا کبیرة قط. (شرح فقه اکبر ص۹۴/۹۶، بحث فی اثبات نبوة محمد ﷺ)

علامه ملا علي قاري رحمه الله د دې عبارت په شرح کښې فرمایي چه: (و لم یعبد الصنم) ای و لا غیره لقوله (و لم یشرك بالله طرفة عین قط) ای لا قبل النبوّة و لا بعدها فان الانبیاء علیهم الصلوٰة و السلام معصومون عن الکفر مطلقاً بالاجماع و ان جوز بعضهم صدور الصغیرة بل الکبیرة قبل النبوّة بل و بعدها ایضاً فی مقام النزاع و اما هو ﷺ فکما قال الامام الاعظم (و لم یرتکب صغیرة و لا کبیرة قط). (شرح فقه الاکبر ص۹۶، بحث فی ان افضل الناس بعدهٗ الخ)

علامه حافظ ابن کثیر رحمه الله د حضرت جبیر بن مطعم رضی الله عنه په روایت سره د حضور ﷺ پاکي نقل کوي او فرمایي: عن جبیر بن مطعمٍ قال لقد رأیت رسول الله ﷺ و هو علی دین قومه قال البیهقیّ معنی قوله علی دین قومه ما کان بقی من ارث ابرٰهیمَ و اسمٰعیلَ و لم یشرك بالله قط صلوات الله و سلامه علیه دائماً. (البدایة و النهایة ج۲، ص۲۶۸)

امام فخر الدین رازي رحمه الله د رسول الله ﷺ یو روایت نقل کوي چه: لم ازل نقل من اصلاب الطاهرین الی ارحام الطاهرات. (تفسیر کبیر ج۲۳، ص۱۷۴، سورة الشعراء، آیت۲۱۹)

له دې روایت څخه څرګنده شوه چه نبي کریم ﷺ پخپله هم پاك وو او پلرونه او نیکونه ئې هم پاك لمنې وو۔ د دې وجه هم همدغه ده چه الله تعالی د ده مبارك ﷺ حفاظت کاوه او په ده مبارك ﷺ کښې ئې امور صالحه د ودیعت په توګه ایښي وو۔

علامه ابن کثیر لیکلي دي چه: و شب رسول الله ﷺ مع ابی طالب یکلوه و یحفظه و یحوطه من امور الجاهلیة و معائبها..... و ابعدهم من الفحش و الاذی ما روی ملاحیا و مماریا احد حتی سماه قومه الامین لما جمع الله فیه من الامور الصالحة. (البدایة و النهایة ج۲، ص۲۶۵، فصل فی خروجه علیه الصلوٰة و السلام مع عمه الخ)

(۳) له ده مبارك ﷺ څخه تر نبوت مخکښې او وروسته د شرك د نه کیدو تصدیق پخپله د ده مبارك ﷺ له خبرو څخه هم کیږي چه د بحیره نومي راهب په اوږدي واقعي کښې راغلي دي چه: قام الیه بحیری و قال لهٗ یا غلام اسئلك بحق اللاّت و العُزّٰی الا اخبرتنی عما اسئلك عنه انما قال لهٗ بحیری ذلك لانه سمع قومه یحلفون بهما فزعموا ان رسول الله ﷺ قال لهٗ لا تسألنی باللاّت و العزّٰی شیئًا فو الله ما ابغضت شیئًا قط فقال

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

له بحری فما لله الا ما اخبرنی عما استلک عنه فقال لهٔ سلنی عما بدا ذلك الخ. (البداية و النهاية ج۲، ص۲٦٤، فصل فی خروجه علیه الصلوة و السلام..... الخ)

(٤) د دي وجه دا هم ده چه رسول الله ﷺ د کائناتو له پیدائش څخه وروسته د الله تعالی نبي او رسول دی نو کوم سړی چه د پیغمبری په اعلی منصب باندې فائز وي نو له هغه څخه به د کفر، شرك او معاصیو ارتکاب څنګه ممکن وي؟

علامه سیوطي رحمه الله په الخصائص الکبرٰی کښې ډیر روایتونه نقل کړي دي چه له هغو څخه په څرګنده توګه معلومیږي چه د ده نبوت د حضرت آدم علیه السلام له پیدائش څخه هم مخکښې وو اګر که د بعثت په اعتبار سره نې تر ټولو انبیاء کرامو علیهم السلام څخه په آخر کښې تشریف راوړی دی.

لما اخرجه احمد و البخاری فی تاریخه و الطبرانی و الحاکم و البیهقی و ابو نعیم عن میسرة الفجر قال قلت یا رسول الله ﷺ متی کنت نبیا؟ قال و آدم بین الروح و الجسد. (الخصائص الکبرٰی ج۱، ص۱۰، باب خصوصیة النبی ﷺ)

و اخرجه الحاکم و البیهقی و ابو نعیم عن ابی هریرةؓ قیل للنبی ﷺ متی وجبت لك النبوة؟ قال بین خلق آدم و نفخ الروح فیه. (الخصائص الکبرٰی ج۱، ص۱۰)

د دي دوو نورو روایتونو د لاس ته راوړو لپاره خصائص الکبرٰی مطالعه کړی. له دغو تولو روایتونو او عبارتونو څخه څرګندیږي چه نبي کریم ﷺ له ابتداء څخه د ایمان له دولت څخه برخمن وو. په ده مبارك ﷺ باندې هیڅکله د کفر دوره نه ده تیره شوي او نه تري صغیره یا کبیره ګناهونه شوي دي بلکه دی مبارك ﷺ ګواکه له پیدایښه پیغمبر وو.

(٥) لکه څرنګه چه په ده مبارك ﷺ باندې نوی شریعت تر اوسه پورې نازل شوی نه وو نو د دي لپاره به نې تر ټولوښتو کالو پورې د ابراهیمي دین مطابق عبادتونه کول.

لکه څرنګه چه علامه عیني، ابن حجر، علامه کرماني او ابو العباس القسطلاني رحمهم الله د بخاري شریفي شارحین وایي: و فی روایة و کان یخلوا بغار حرا فیتحنث فیه و هو التعبد اللیالی الخ و سئل ابن الاعرابی عن قوله یتحنث فقال لا اعرفه و سئلت ابا عمر و الشیبانی فقال لا اعرف یتحنث انما هو یتحنف من الحنفیة دین ابراهیم علیه الصلوة و السلام قلت قد روی فی سیرة ابن هشام یتحنف بالقاف. (عمدة القاری ج۲، ص٤٩، ارشاد الساری ج۱، ص٦٢)، (کرمانی ج۱، ص۳۲، کیف کان بدأ الوحی الی رسول الله ﷺ)

همدارنګه علامه شبلي نعماني فرمایي چه دا هغه عبادت وو چه ستاسو نیکه حضرت ابراهیم علیه السلام له نبوت څخه مخکښې ادا کړی وو. (سیرت النبي ج۱، ص۱۲۹، د رسالت د لمر ختل)

لهذا که چیرته یو څوك د حضور ﷺ او یا د کوم بل پیغمبر په باره کښې دا کلمې ووایي چه له نبوت څخه مخکښې کافر وو او واده نې د کفر په حالت کښې تر سره شوی وو له دي وجهې نې نکاح نه وه شوي. دا کفري کلمې دي څوك چه د دغو تولو کلماتو نه د انبیاء

علیهم السلام سپکاوی څرګندیږي. له دي وجهې د لسو سړی مرتد او واجب القتل دی.

کما قال العلامه ابن عابدینؒ: اجمع المسلمون ان شاتمه کافر و حکمه القتل. (رد المحتار ج٤، ص۳۲۳، باب المرتد)

و قال العلامه ابن تیمیةؒ: ان من سبّ النبی ﷺ من مُسلم او کافر فانه یجب قتله هٰذا هو مذهب علیه عامة اهل العلم قال ابن المنذر اجمع عوام اهل العلم علی ان حد من سبّ النبی القتل. (الصارم المسلول ص۳، المسألة الاولی)

علامه ابن عابدینؒ د کتاب الخراج په حوالي سره د قاضي ابو یوسفؒ قول نقل کوي چه: و ایما رجل مسلم سبّ رسول الله ﷺ او کذبه او عابه او تنقصه فقد کفر بالله تعالی و بانت منه امرأته فان تاب و الا قتل. (رد المحتار ج٤، ص۲۳٤، باب مهم فی حکم سابّ الانبیاء)

بیا هم که چیرته په ریښتیا سره توبه وباسي او دا توبه نې یواځي له قانون څخه د بچ کیدو توبه نه وي نو د حنفیه ووؒ په نزد نې توبه قبلیږي.

لما قال ابو الحسین علی بن الحسین اسعدیؒ: من سبّ رسول الله ﷺ فانهٔ مرتد و یفعل به ما یفعل بالمرتد. (السنف فی الفتاوی ج۲، ص٤۲۷، کتاب المرتد الخ)

قال العلامة ابن عابدینؒ: و ظاهر فی قبول توبته کما لا یخفی. (منحة الخالق علی البحر الرائق ج٥، ص۱۳۵، باب المرتد)

و قال ایضاً: ان مذهب ابی حنیفةؒ و الشافعیؒ ان حکمه حکم المرتد و قد علم ان المرتد تقبل توبته و یؤید ما نقله هُنا عن السنف. (رسائل ابن عابدینؒ ج۱، ص۳۳۳، تنبیه الولاة و الحکام)

له دي وجهې د توبې او ایمان له تجدید څخه وروسته به مسلمان ګنل کیږي.

سوال (۲): آیا تر څلویښت کلني پورې د ده مبارك ﷺ ختنه نه وه شوي (سنت شوی نه وو)

ځواب: د رسول الله ﷺ د ختنې په باره کښې د مقدس شریعت په کتابونو کښې درې ډوله اقوال پیدا کیږي.

(۱) دی مبارك ﷺ مختون (سنت شوی) پیدا شوی وو.

(۲) د ده مبارك ﷺ ختنه په لومړي ځل کښې ملائکه وو د شق صدر په وخت کښې کړې وه.

(۳) او بله دا چه د عربو د عام عادت مطابق د ده مبارك ﷺ نیکه حضرت عبد المطلب د نبي کریم ﷺ د ولادت په اومه ورځ د ده مبارك ﷺ ختنه نې کړې وه او خلکو ته نې دعوت هم ورکړی وو.

لما قال العلامة شبیر احمد العثمانیؒ: قد اختلف فی ختانهٔ علی ثلاثة اقوال احدها انه ولد مختوناً مسروراً و روی فی ذلك حدیث لا یصح ذکره ابو الفرج ابن الجوزیؒ فی الموضوعات و لیس فیه حدیث ثابت..... و القول الثانی انهٔ ختن ﷺ یوم شق قلبه الملائکة عند ظئره حلیمة. و القول الثالث ان جده عبد المطلب ختنه یوم سابعة و صنع لهٔ مأدبة و سمّاه محمداً. (فتح الملهم ج۱، ص٤۱۸، باب تحریم بیع الرطب بالتمر الا فی العرایا)

له دغو دریو قولونو څخه پرته څلورم قول د حدیثو په کتابونو کښې نشته چه له مخې نې دا ثابته شي چه دی مبارك ﷺ تر څلویښت کلني پورې غیر مختون وو. د دي خبرې غلط والی او بې بنیادی لپاره یو اځی او یو اځی دا کافی ده چه نبي کریم ﷺ په یوی دلسی کورنۍ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

له بحیری فما لله الا ما اخبرتنی عما اسئلك عنه فقال له سلنی عما بدا ذلك الخ. (البدایة و النهایة ج۲، ص۲۶۴، فصل فی خروجه علیه الصلوٰة و السلام..... الخ)

(٤) د دې وجه دا هم ده چه رسول الله ﷺ د کائناتو له پیدا ئش څخه وروسته د الله تعالی نبي او رسول دی نو کوم سړی چه د پیغمبری په اعلی منصب باندې فائز وي نو له هغه څخه به د کفر، شرك او معاصیو ارتکاب څنګه ممکن وي؟

علامه سیوطي رحمه الله په الخصائص الکبرٰی کښې ډیر روایتونه نقل کړي دي چه له هغو څخه په څرګنده توګه معلومیږي چه د ده نبوت د حضرت آدم علیه السلام له پیدا ئش څخه هم مخکښې وو اګر که د بعثت په اعتبار سره نې تر تولو انبیاء کرامو علیهم السلام څخه په آخر کښې تشریف راوړی دی.

لما اخرجه احمد و البخاری فی تاریخه و الطبرانی و الحاکم و البیهقی و ابو نعیم عن میسرة الفجر قال قلت یا رسول الله ﷺ متی کنت نبیا؟ قال و آدم بین الروح و الجسد. (الخصائص الکبرٰی ج۱، ص۱۰، باب خصوصیة النبی ﷺ)

و اخرجه الحاکم و البیهقی و ابو نعیم عن ابی هریرةؓ قیل للنبی ﷺ متی وجبت لك النبوة؟ قال بین خلق آدم و نفخ الروح فیه. (الخصائص الکبرٰی ج۱، ص۱۰)

د دې ډول نورو روایتونو د لاس ته راوړو لپاره خصائص الکبرٰی مطالعه کړی. له دغو تولو روایتونو او عبارتونو څخه څرګندیږي چه نبي کریم ﷺ له ابتداء څخه د ایمان له دولت څخه برخمن وو. په ده مبارك ﷺ باندې هیڅکله د کفر دوره نه ده تیره شوې او نه تري صغیره یا کبیره ګناهونه شوي دي بلکه دی مبارك ﷺ ګواکه له پیدایشه پیغمبر وو.

(٥) لکه څرنګه چه په ده مبارك ﷺ باندې نوی شریعت تر اوسه پورې نازل شوی نه وو نو د دې لپاره به نې تر څلویښتو کالو پورې د ابراهیمي دین مطابق عبادتونه کول.

لکه څرنګه چه علامه عیني، ابن حجر، علامه کرماني او ابو العباس القسطلاني رحمهم الله د بخاري شریفي شارحین وایي: و فی روایة و کان یخلوا بغار حرا فیتحنث فیه و هو التعبد اللیالی الخ و سئل ابن الاعرابی عن قوله یتحنث فقال لا اعرفه و سئلت ابا عمر و الشیبانی فقال لا اعرف یتحنث انما هو یتحنف من الحنفیة دین ابراهیم علیه الصلوٰة و السلام قلت قد روی فی سیرة ابن هشام یتحنف بها لقاء. (عمدة القاری ج۲، ص۴۹، ارشاد الساری ج۱، ص۶۲)، (کرمانی ج۱، ص۳۲، کیف کان بدأ الوحی الی رسول الله ﷺ)

همدارنګه علامه شبلي نعماني فرمایي چه دا هغه عبادت وو چه ستاسو نیکه حضرت ابراهیم علیه السلام له نبوت څخه مخکښې ادا کړی وو. (سیرت النبي ج۱، ص۱۲۶، د رسالت د لمر ختل)

لهذا که چېرته یو څوك د حضور ﷺ او یا د کوم بل پیغمبر په باره کښې دا کلمې ووایي چه له نبوت څخه مخکښې کافر وو او واده نې د کفر په حالت کښې تر سره شوی وو له دي وجهې نې نکاح نه وه شوې. دا کفري کلمې دي څوك چه د دغو تولو کلماتو نه د انبیاء

علیهم السلام سپکاوی څرګندیږي. له دي وجهې د اسې سړی مرتد او واجب القتل دی.

کما قال العلامه ابن عابدینؒ: اجمع المسلمون ان شاتمه کافر و حکمه القتل. (رد المحتار ج٤، ص٣٢٣، باب المرتد)

و قال العلامه ابن تیمیةؒ: ان من سبّ النبی ﷺ من مُسلم او کافر فانه یجب قتله هذا هو مذهب علیه عامة اهل العلم قال ابن المنذر اجمع عوام اهل العلم علی ان حد من سبّ النبی القتل. (الصارم المسلول ص٣، المسألة الاولی)

علامه ابن عابدینؒ د کتاب الخراج په حوالي سره د قاضي ابو یوسفؒ قول نقل کوي چه: و ایما رجل مسلم سبّ رسول الله ﷺ او کذبه او عابه او تنقصه فقد کفر با لله تعالی و بانت منه امرأته فان تاب و الا قتل. (رد المحتار ج٤، ص٢٣٤، باب مهم فی حکم سابّ الانبیاء)

بیا هم که چېرته په ربښتیا سره توبه وباسي او دا توبه نې یواځي له قانون څخه د بچ کیدو توبه نه وي نو د حنفیه وو په نزد نې توبه قبلیږي.

لما قال ابو الحسن علی بن الحسن اسعدیؒ: من سبّ رسول الله ﷺ فانهٗ مرتد و یفعل به ما یفعل المرتد. (التف فی الفتاوٰی ج٢، ص٤٢٧، کتاب المرتد الخ)

قال العلامة ابن عابدینؒ: و ظاهر فی قبول توبته کما لا یخفی. (منحة الخالق علی البحر الرائق ج٥، ص١٣٥، باب المرتد)

و قال ایضاً: ان مذهب ابی حنیفةؒ و الشافعیؒ ان حکمه حکم المرتد و قد علم ان المرتد تقبل توبته و یؤید ما نقله هنا عن التف. (رسائل ابن عابدینؒ ج١، ص٣٣٣، تنبیه الولاة و الحکام)

له دي وجهې د توبې او ایمان له تجدید څخه وروسته به مسلمان ګنل کیږي.

سوال (٢): آیا تر څلویښت کلني پورې د ده مبارك ﷺ ختنه نه وه شوې (سنت شوی نه وو)

ځواب: د رسول الله ﷺ د ختنې په باره کښې د مقدس شریعت په کتابونو کښې درې ډوله اقوال پیدا کیږي.

(١) دی مبارك ﷺ مختون (سنت شوی) پیدا شوی وو.

(٢) د ده مبارك ﷺ ختنه په لومړي ځل کښې ملائکه وو د شق صدر په وخت کښې کړې وه.

(٣) او بله دا چه د عربو د عام عادت مطابق د ده مبارك ﷺ نیکه حضرت عبد المطلب د نبي کریم ﷺ د ولادت په اومه ورځ د [illegible] کړې وه او خلکو ته نې دعوت هم ورکړی وو.

لما قال [illegible] فی ذلك حد[illegible] القول الثا[illegible] صنع [illegible] مسروراً و روی

کښې پیدا شو چه د ابراهیمي دین په شعائرو باندې عمل کوونکي وو۔ او دا عمل (ختنه) لکه څرنګه چه د ابراهیم علیه السلام له سنتونو څخه یو سنت وو او د عربو هم له اولې ورځې څخه د خپلو بچیانو د ختنه کولو رواج وو۔ نو دا څرنګه کیدلای شي چه دی مبارک ﷺ دې تر څلویښت کلنې پورې غیر مختون پاتې وي۔ لهذا د ده مبارک ﷺ په باره کښې د اسې ویل یا د اسې ګمان د ده مبارک ﷺ توهین اوسپکاوی دی او د نبي کریم ﷺ دیر کم سپکاوی هم کفر دی۔

لما فی خلاصة الفتاوی: و لو قال لشعر محمد شُعِّرَ یکفر. (خلاصة الفتاوی ج٤، ص٣٨٦)

مخکښې لیکي: من سبّ رسول الله ﷺ او ینقصه و کان فیه ردة. (خلاصة الفتاوی ج٤، ص٣٨٦)

لهذا د استخفاف او توهین له وجهې د اسې ویونکی کافر او له اسلام څخه وتلی دی۔ د وخت د حکومت ذمه واري ده چه د شرعي تقاضو د پوره کولو له مخې هغه ته (داکتر یونس شیخ) ته سنګینه سزا ورکړي۔

سوال (۳): آیا دا ربښتیا ده چه نبي کریم ﷺ لومړی واده په پنځه ویشت کلنې کښې وکړ او چونکه په دې وخت کښې نه نبي وو او نه مسلمان۔ د دې لپاره دا نکاح نې نه وه شوې؟

ځواب: د اول سوال په ځواب کښې دا خبره څرګنده شوه چه د دی مبارک ﷺ له لومړی ورځې څخه مسلمان او پاک لمنی وو۔ لهذا د ده مبارک ﷺ نکاح بالکل صحیح او درسته وه او په صحیح والي کښې نې هیڅ شك او شبهه نه وه۔ له "نکاح نې نه وه شوې" څخه دا مطلب را ووځي چه نعوذ باالله دی مبارک له پنځه ویشت کلنې نه وروسته تر څلویښت کلنې پورې (پنځلس کاله) په زنا کښې مبتلا وو۔ په دا سې حال کښې چه په زمکنې کائناتو کښې د یوه پیغمبر ذات هم دا سې نه دی چه له هغه څخه زنا خو پریږده چه تصور نې هم محال دی۔ تر دې پورې چه د کوم نبي علیه السلام اهلیه (بي بي) کیدلای شي چه کافره وي لیکن زانیه نه۔ لهذا د هر یوه نبي علیه السلام په باره کښې د اسې له سپکاوي څخه ډکې کلمې استعمالول یا الزام لګول د کفر موجب دی او سزا نې قتل دی۔

لما فی الهندیة: سئل عمن ینسب الی الانبیاء الفواحش کعزمهم علی الزنی و نحوه الذی یقوله الحشویة فی یوسف علیه السلام قال یکفر لانه شتم لهم و استخفاف بهم. (الفتاوی الهندیة ج٢، ص٢٦٣، باب موجبات الکفر)

سوال (٤): آیا په ربښتیا هم نبي کریم ﷺ تر څلویښت کلنې پورې د تخرګونو او نامه لاندې ویښتان نه دي پرې کړي؟

ځواب: د نامه د لاندې او تخرګونو د ویښتانو د پرې کولو رواج له حضرت ابراهیم علیه السلام څخه را روان دی۔ او دی مبارک ﷺ او پلرونه او نیکونه نې د حضرت ابراهیم علیه الصلوٰة والسلام د دین پیروان وو۔ په دا سې حال کښې چه د نامه د لاندې او تخرګونو د ویښتانو صفا کول ابراهیمي سنت دی د دې لپاره د نبي کریم ﷺ پلرونه او نیکونه په دې

ابراهیمي سنت باندې د عمل کولو له مخې د نامه د لاندې او تخرګونو ویښتان صفا کول۔ په دې بناء باندې دا څنګه کیدلای شي چه دی مبارک ﷺ دې تر څلویښت کلنې پورې د نامه لاندې او تخرګونو ویښتان نه وي پرې کړي؟

دوهمه خبره دا ده چه دا عمل د انبیاوو فطرت دی۔ په حدیث شریف کښې دي چه: عن عائشه رضی الله عنها قالت قال رسول الله ﷺ عشرة من الفطرة قص الشارب و اپفا اللحیة و السواك و الاستنشاق با لماء و قص الاظفار و غسل المراجم و نتف الابط و حلق العانة انتقاص الماء. (ابو داؤد علی صدر عون المعبود ج١، ص٥٣)

علامه خلیل احمد سهارنپوري رحمه الله د پورتني حدیث په تشریح کښې فرمایي: ای عشر خصال من سُنن الانبیاء الذین امرنا ای نقتدی بهم کانوا فطرنا علیها و کذا نقل عن اکثر العلماء السنة الابراهیمیة. (بذل المجهود ج١، ص٢٩)

امام شاه ولي الله محدث د هلويؒ فرمایي: هذه الطهارات منقولة عن ابرٰهیم متداولة فی طوائف الامم الحنفیة اشربت فی قلوبهم و دخلت فی صمیم اعتقادهم علیها محیاهم و علیها مماتهم عصراً بعد عصرٍ و لذلك سمیت با لفطرة و هٰذا شعائر الملّة الحنفیة و لا بد لکل ملة من شعائر یعرفون بها و یؤاخذون علیها لیکون طاعتها و عصیانها امراً محسوساً. (فتح الملهم ج١، ص٤١٨، باب تحریم بیع الرطب الخ)

نو رسول الله ﷺ به څرنګه د ابراهیمي دین په مخالفت کولو سره تر څلویښت کلنې پورې د تخرګونو او نامه لاندې ویښتان نه وي صفا کړي؟ دا خو د رسول الله ﷺ په باره کښې سخته عجیبه خبره او په ده مبارک ﷺ باندې یو دروغ تړل دي او د ده مبارک ﷺ توهین او استخفاف کول دي۔ په دا سې حال کښې چه د هر یوه پیغمبر په باره کښې د اسې له سپکاوي او عیب څخه ډك کلمات ویل د کفر او ارتداد سبب دی۔

لما فی التاتارخانیة: من لم یقر ببعض الانبیاء او عاب نبیاً بشیءٍ او لم یرض بسنة من سنن المرسلین فقد کفر. (تاتارخانیة ج٥، ص٤٧٧)

همدارنګه د تاتارخانیه نومي کتاب په یو بل ځای کښې لیکلي دي: و لو عاب النبی ﷺ بشیءٍ من العیوب یکفر. (تاتارخانیة ج٥، ص٤٧٩)

علامه طاهر بن عبد الرشید البخاریؒ د محیط په حوالې سره لیکي: فی المحیط من شتم النبی ﷺ و اهانه او عابه فی امور دینه او فی شخصه او فی وصف من اوصاف ذاته سواء کان الشاتم مثلاً عن امه او غیرها سواء کان من اهل الکتاب وغیره ذمیاً کان او حربیاً سواء کان الشتم او الاهانة او العیب صادراً عنه عمداً او سهواً او غفلة او جداً او هزلا قد کفر خلوداً. (خلاصة الفتاوی ج٤، ص٣٨٦، الفاظ الکفر)

سوال (٥): آیا د رسول الله ﷺ والدین (مور او پلار) کافران وو؟

ځواب: د رسول الله ﷺ د والدینو په باره کښې د امت اختلاف دی چه هغو اسلام راوړی او که نه؟ هغو نجات پیدا کړی وو او که نه؟ تر دې ځایه پورې خو دا خبره یقیني ده چه د ده مبارک ﷺ والدین ده ته د نبوت له حاصلیدو څخه مخکښې وفات شوی وو او دا هم یقیني ده چه هغوی د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

فترت په دور کښې وفات شوي وو له دې وجهې هغو په اهل فترت پورې اړه درلوده۔

لما قال العلامة جلال الدين السيوطيؒ: ثم رأيت الشيخ عز الدين بن عبد السلام قال في امالیه ما نصه كل نبي ارسل الى قومه الا نبينا ﷺ قال فعلى هذا يكون ما عدا قوم كل نبي من اهل الفترة الازلية نبي سابق قالةً مقاطيون بعثة السابق الا ان تدرس الشريعة السابقة فيصير الكل من اهل الفترة بلا شك لانهم ليسا من ذرية و لا من قومه. (الحاوی للفتاوی ج۲، ص۲۵۱)

علامه جلال الدين سيوطي رحمه الله د دې مسئلې د وضاحت لپاره يوه مستقله رساله ليکلې ده او په دې باره کښې ئې درې مسلکونه ذکر کړي دي چه په لاندې ډول دي۔

﴿۱﴾ لکه څرنګه چه هغوی د نبي کريم ﷺ له بعثت څخه مخکښې وفات شوي وو د دې لپاره هغو ته به هيڅ ډول عذاب نه ورکول کيږي۔

﴿۲﴾ له هغو څخه د فترت په زمانه کښې هيڅ شرک ثابت نه دی بلکه هغوی د ابراهيمي دين پيروان وو۔

﴿۳﴾ الله تعالی د نبي کريم ﷺ د معجزې په برکت سره هغوی کراماً ژوندي کړي او په نبي کريم ﷺ ئې ايمان راوړ او بيا وفات شول۔ دا د اکثرو محدثينو، علماء کرامو او د اسې نورو رايه ده۔

علامه جلال الدين سيوطي رحمه الله فرمايي: منهم ابن شاهين الحافظ ابو بكر الخطيب البغدادي و السهيلي و القرطبي و المحب الطبري و العلامة ناصر الدين بن المنير و غيرهم. (الحاوی للفتاوی ج۱، ص۲۷۸/۲۲۷، فصل في المولد)

علامه ابن حجر عسقلاني، علامه ابن عابدين او علامه آلوسي رحمهم الله هم همدغه قول غوره کړی دی۔

قال العلامة عثماني رحمه الله: قال العلامة ابن حجر في الزواجر ان نبينا ﷺ قد اكرمه الله تعالى بحيوة ابويه حتى امنا به كما في حديث صححه القرطبي و ابن ناصر الدين حافظ الشام وغيرهما فا تنفعا با لايمان بعد الموت على خلاف القاعدة اكراماً لنبيه ﷺ. (فتح الملهم ج۱، ص۳۷۳، باب بيان ان من مات على الكفر الخ)

قال العلامة ابن عابدينؒ: الا ترى ان نبينا ﷺ قد اكرمه الله تعالى بحياة ابويه لهٗ حتى امنا به كما في حديث صححه القرطبي و ابن ناصر الدين حافظ الشام وغيرهما فا تنفعا با لايمان بعد الموت على خلاف القاعدة اكراماً لنبيه ﷺ كما احى قتيل بني اسرائيل ليخبر بقاتله الخ. (رد المحتار ج٤، ص۲۳۱، كتاب السير، مطلب في احياء ابوی النبی ﷺ)

قال العلامة آلوسي رحمه الله: و استدل با لاية (وَتَقَلُّبَكَ فِي السّٰجِدِيْنَ) على ايمان ابويه ﷺ كما ذهب اليه كثير من اجلة اهل السنة و انا اخشى الكفر على من يقول فيهما رضى الله تعالى عنهما. (روح المعاني ج۱۹، ص۱۳۸، سورة الشعراء)

و قال العلامة فخر الدين الرازی رحمه الله: و اعلم ان الرافضه ذهبوا الى آباء النبی ﷺ كانوا مؤمنين و تمسكوا في ذلك بهذه الاية و با لخبر اما هذه الاية فقالوا قوله تعالى (وَتَقَلُّبَكَ فِي السّٰجِدِيْنَ) يتحمل الوجوه التي ذكرتم و يتحمل ان يكون المراد ان الله نقل روحه من ساجد الى ساجد كما نقوله نحن و اذا احتمل كل هذا الوجوه وجب حمل الاية على الكل ضرورة انه لا منافاة و لا رجحان. (تفسير كبير ج۲۳، ص۱۷٤، سورة الشعراء)

د دې اختلاف له وجهې ځينو علماء کرامو په دې مسئلې کښې توقف ته ترجيح ورکړې ده ليکن علامه جلال الدين السيوطي، او علامه ابن عابدين رحمهما الله له تحقيق څخه څرګندېږي چه د نبي کريم ﷺ والدين ماجدين دواړه مسلمانان دي، هغو ته کافران ويل صحيح نه دي ليکن که چېرته څوک د اسې ووايي نو د ايمان له دولت څخه پرې محروم کيږي نه۔

﴿۱﴾ له دې تفصيلي ځواب څخه وروسته د صورت مسئوله مطابق فی الجمله کلمات د جناب محمد رسول الله ﷺ په مقدس شان کښې توهين آميز دي کوم چه د کفر او ارتداد موجب دي او د مرتکب سزا ئې قتل دی۔

﴿۲﴾ د امت علماء کرام بايد د دې ډول کلماتو ويونکی سړی پوه کړي او که نه وي نو عدالت ته دې ورانديږ کړي۔

﴿۳﴾ د د اسې کلماتو ويونکی سړي هر مالي او ژبنې حمايت د هيڅ يوه مسلمان لپاره جائز نه دی۔

﴿٤﴾ همدا رنګه د د اسې سړي وکالت (قانوني حمايت) هم جائز نه دی

﴿٥﴾ که چېرته وکيل ئې په کفريه کلماتو باندې راضي وي نو د "رضا با لکفر کفر" له وجهې د وکيل هم له دائرې د اسلام څخه د وتلو قوي خطر موجود دی۔

﴿٦﴾ وکيل که چېرته خپلوان وي يا پردی د تولو همدا حکم دی۔

﴿۷﴾ د رسول الله ﷺ يا هر يوه پيغمبر په مقدس شان کښې ګستاخي کول د کفر موجب دي چه سزا ئې شرعاً قتل دی۔

﴿۸﴾ البته که چېرته د دې عمل کوم مرتکب سړی د زړه له کومې څخه توبه وباسي نو د حنفيه وو په نزد د هغه د معاف کيدلو ګنجائش موجود دی۔

﴿۹﴾ د مرتد او د رسول الله ﷺ د سپکاوي کوونکي تر منځ هيڅ فرق نشته، د دواړو سزا قتل ده او که چېرته توبه وباسي نو توبه ئې مقبوله ده۔

﴿۱۰﴾ د هر مسلمان لپاره اګر که هغه ديني عالم وي يا کوم بل جاهل د رسول الله ﷺ د کوم سپکاوي کوونکي هر ډول ژبنې، مالي او قانوني حمايت جائز نه دی۔ د رضا په صورت کښې له هغه څخه هم د ايمان د وتلو خطر موجود دی۔

د نيمې کلمې په ويلو سره که چېرته روح ووځي نو

سوال څه فرمايي علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چه يو سړی په دنياوي زندګي کښې ډير پاک، نيک او د لمانځه او روژې پابند وو۔ چه کله ئې د ژوند آخري سلګۍ را نژدې شوې نو خپلوانو ئې د تلقين په نيت د هغه په مخکښې په لوړ آواز سره کلمهٔ طيبه وويله چه له مخې ئې د هغه په ژبې باندې هم د شهادت کلمه جاري شوه او يو اځې ئې اشهد ان لآ اله و وايه چه روح ئې والوت او د الآ الله د ويلو موقع په لاس نه ورغله۔ نو د د اسې سړي شرعا حکم څه دی؟ آيا په کفر باندې مړ شو او که په اسلام باندې؟ په تفصيل سره ځواب راکړی ډيره مهربانی به مو وي؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

فترت په دو

الی قو

د تقـــــدیر د مسئلې په باره کښې یوه پوښتنه

سوال: څه فرمایي علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چه که چېرته یو سړی په کافره کورنۍ کښې پیدا شوی وي او د کفر په حالت کښې له دنیا څخه رخصت شوی وي نو دا ویل کیږي چه دا خو د ده تقدیر وو۔ نو آیا د ده په کفر کښې د ده څه قصور شته؟ که چېرته نې کفر په تقدیر کښې لیکلی وي نو ده ته بې عقله ویل یا ملامت بلل نې صحیح دي او که څنګه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د قضاء او قدر مسئله او په هغې باندې یو ژور نظر

د قضاء او قدر مسئله له شك پرته یوه مشکله مسئله ده او همدا وجه ده چه د جبر او قدر په دې مسئلې کښې د روایتونو له مخې د زیاتو څه ویلو ممانعت شوی دی ځکه چه د دې مسئلې ټول اسرار او رموز ډیر په مشکله باندې په عقل کښې راځي۔ لیکن زمونږ په نزد د کائناتو د خالق وجود له تسلیمولو وروسته له هغه څخه انکار کول تر دې زیاته مشکله مسئله ده۔ چا چه هم دلته د شریعت بیان شوي د اعتدال لاره پرېښوده او هغه له هدایت څخه نې انکار وکړ یعنې یا خو نې بنده د ډېرې غوندې مجبور محض و مانه او یا نې د خالق غوندې په خالقیت کښې برابر تسلیم کړ۔ مونږ دلته ستاسو د غور او فکر د دعوت لپاره څو لیکې وړاندې کوو۔ کیدای شي چه مسئله مو پرې حل نه شي لیکن ممکنه ده چه تر یوې اندازې پورې د زیات انکشاف سبب جوړ شي۔ وبه نستعین۔

د ټولو اسلامي ډلو په دې خبرې باندې اتفاق دی چه په کائناتو کښې څه کیږي په هغو ټولو باندې له مخکښې څخه الله تعالی علم لري او دا خبره هم له قرآن او حدیثو څخه ثابته ده چه د الله تعالی د ازلي علم مطابق چه څه کیږي هغه ټول د کتابت په قید کښې هم راځي۔ او اوس د عالم یوه ذره هم د هغه په خلاف حرکت نه شي کولی۔ د دې لپاره د بحث خبره دا ده چه د انساني افعالو حقیقت څه شی وتاکل شو؟ آیا دی به مجبور ګڼل کیږي او که به مختار بلل کیږي؟ که چېرته مختار وبلل شي نو په لازمي توګه به په هغه کښې د قدرت او اختیار صفت

هم باید تسلیم شي۔ دې خو اته د قدرت او اختیار له تسلیمولو وروسته بیا د قضاء او قدر په مخکښې هغه لره د مجبور ګڼلو مفهوم باطلیږي۔ او که چېرته مجبور وبلل شي نو بیا به خامخا د هغه د قدرت او اختیار له صفت څخه به هم انکار کیږي۔ د دې لپاره د قضاء او قدر په بحث کښې د غور او فکر اصلي تکی د بندګانو افعال جوړیږي۔ په دې باندې د غور له کولو څخه مخکښې چه کله تاسو په عالم باندې یو نظر واچوی نو دوه ډوله مخلوقات به مو تر سترګو شي۔ یو هغه ډول چه د اختیار او ارادې بد اهته مالك نه دي او په ښکاره توګه د الٰهي قدرت مسخر شوي دي لکه لمر چه د حرکت په حال کښې لیدل کیږي یا په زمکو او آسمانونو کښې چه کوم شیان خوځیدونکي دي په دې ټول پوهیږي چه دا شیان پخپلې ارادې باندې خوځیدونکي نه دي بلکه د الٰهي قدرت او ارادې له مخې متحرك دي۔ دوهم ډول مخلوق هغه مخلوق دی کوم چه بد اهته د ارادې او اختیار مالك دي او دا بیا په دري ډوله دی۔ یو ډول هغه چه یواځي د خیر اراده کوي او د شر اراده بالکل کولای نه شي او دې ډول ته فرښتې ویل کیږي۔ او د دوی شان "لا یَعصُونَ ما اَمَرَهُم و یَفعَلُونَ ما یُؤمَرُونَ" یعنې چه کوم حکم دوی ته ورکول کیږي هغوی نې خلاف ورزي نه شي کولای یواځي هغه کار کوي د کوم چه حکم ورته شوی وي۔ دلته د نفی او اثبات د دواړو له یوځای کولو څخه د دې مضمون تاکید والی مقصود دی۔ دوهم ډول مخلوق د لومړني مخلوق برعکس دي او دوی له شر پرته د خیر اراده نه کوي او دا شیطانان دي۔ دریم ډول مخلوق هغه مخلوق دی چه د دواړو لرادو مالك وي او دواړه ارادې کولای شي او دا انسانان دي۔ انسانان بیا په دري ډوله دي۔ یو هغه ډول چه ایمان، عقل او معرفت نې په نفساني خواهشاتو باندې غالب وي۔ دا ډول انسانان په ترقی او پرمختګ سره له ملائکو سره یو ځای کیږي۔ دوهم ډول د لومړني ډول برعکس دي او د شیطانانو ورونه جوړیږي۔ دریم ډول هغه انسانان دي چه عقل نې د شهواني قوت تابع جوړیږي او دا ډول انسانان له څیرونکو درندګانو او ځناورو سره یو ځای کیږي۔ لکه څرنګه چه د دغو ټولو مخلوقاتو وجود یواځي د جلي او علا ښکار دی همدارنګه د هغو اراده او اختیار هم د همدې شي نتیجه ده۔

اوس مونږ د لومړني اصطلاحاتو او مذاهبو له تفصیلاتو څخه د بیلیدو په صورت کښې په ساده ډول په دې مسئلې باندې نظر اچول غواړو۔ نو دا خبره به مونږ منو چه په بنده کښې د اختیار او قدرت صفت یقیني دی او انکار تري کول له خپل بدیهي وجدان څخه انکار کول دي۔ له یوه بې وقوفه سړي څخه بې وقوف سړی هم اختیاري خوځښتونه او د یوه رعشه وهلي (مریض) سړي د حرکاتو تر منځ فرق نه پیژندلی شي۔ او هیڅکله دا جرأت نه شي کولای چه دواړه یو شی وبولي۔ لیکن دا خبره هم بدیهي ده چه د بنده خپل وجود او له هغه سره لګیدلي نور صفات نې کمزوری او ضعیف دي همدارنګه دا قدرت او اختیار نې هم ضعیف د پاسه ضعیف دی۔ وګوری انسان اوریدلی هم شي او لیدلی هم شي د دې لپاره ده ته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

الجواب باسم ملهم الصواب: مسنونه طریقه دا ده چه کله د کوم مسلمان آخري وخت را نژدې شي او د ځنکدن حالات پرې راشي نو ورسره ناست خلك به په درمیانه آواز سره د کلمۀ شهادت ویل شروع کوي تر څو چه مرګ ته نژدې سړی نې هم ووایي. لیکن نه به نې ډیر په زوره لولي او نه به مړ کیدونکي سړي ته د ویلو حکم کوي، یواځې به نې د تلقین او تذکیر لپاره وایي. که چیرته هغه کلمه شهادت شروع کړي او په منځ کښې ساه ورکړي یعنې نیمه کلمه ووایي او مړ شي نو کافر به نه ورته ویل کیږي ځکه چه کفر په قصد سره له کلمې څخه د انکار کولو پورې اړه لري. د صورت مسئوله مطابق نومورې سړي چونکه په قصد سره له الاّ الله یا محمد رسول الله څخه انکار نه دی کړی نو د دې لپاره له دنیا څخه مسلمان تللی دی. هیله ده چه الله تعالی نې مغفرت وکړي.

د تقـــــدیر د مسئلې په باره کښې یوه پوښتنه

سوال: څه فرمایي علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چه که چیرته یو سړی په کافره کورنۍ کښې پیدا شوی وي او د کفر په حالت کښې له دنیا څخه رخصت شوی وي نو دا ویل کیږي چه دا خو د ده تقدیر وو. نو آیا د ده په کفر کښې د ده څه قصور شته؟ که چیرته نې کفر په تقدیر کښې لیکلی وي نو ده ته بې عقله ویل یا ملامت بلل نې صحیح دي او که څنګه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د قضاء او قدر مسئله او په هغې باندې یو څو نظر

د قضاء او قدر مسئله له شك پرته یوه مشکله مسئله ده او همدا وجه ده چه د جبر او قدر په دې مسئلې کښې د روایتونو له مخې د زیاتو څه ویلو ممانعت شوی دی ځکه چه د دې مسئلې ټول اسرار او رموز ډیر په مشکله باندې په عقل کښې راځي. لیکن زمونږ په نزد د کائناتو د خالق وجود له تسلیمولو وروسته له هغه څخه انکار کول تر دې زیاته مشکله مسئله ده. چا چه هم دلته د شریعت بیان شوې د اعتدال لاره پریښوده او هغه له هدایت څخه نې انکار وکړ یعنې یا خو نې بنده د ډیرې غوندې مجبور محض و مانه او یا نې د خالق غوندې په خالقیت کښې برابر تسلیم کړ. سونې دلته ستاسو د غور او فکر د دعوت لپاره څو لیکې وړاندې کوو. کید ای شي چه مسئله مو پرې حل نه شي لیکن ممکنه ده چه تر یوې اندازې پورې د زیات انکشاف سبب جوړ شي. وبه نستعین.

د تولو اسلامي ډلو په دې خبرې باندې اتفاق دی چه په کائناتو کښې څه کیږي په هغو تولو باندې له مخکښې څخه الله تعالی علم لري او دا خبره هم له قرآن او حدیثو څخه ثابته ده چه د الله تعالی د ازلي علم مطابق چه څه کیږي هغه ټول د کتابت په قید کښې هم راځي. او اوس د عالم یوه ذره هم د هغه په خلاف حرکت نه شي کولی. د دې لپاره د بحث خبره دا ده چه د انساني افعالو حقیقت څه شی وتاکل شو؟ آیا دی به مجبور ګنل کیږي او که به مختار بلل کیږي؟ که چیرته مختار وبلل شي نو په لازمي توګه به په هغه کښې د قدرت او اختیار صفت

هم باید تسلیم شي. دې خو اته د قدرت او اختیار له تسلیمولو وروسته بیا د قضاء او قدر په مخکښې هغه لره د مجبور ګنلو مفهوم باطلیږي. او که چیرته مجبور وبلل شي نو بیا به خامخا د هغه د قدرت او اختیار له صفت څخه به هم انکار کیږي. د دې لپاره د قضاء او قدر په بحث کښې د غور او فکر اصلي تکی د بندګانو افعال جوړیږي. په دې باندې د غور له کولو څخه مخکښې چه کله تاسو په عالم باندې یو نظر واچوی نو دوه ډوله مخلوقات به مو تر سترګو شي. یو هغه ډول چه د اختیار او ارادې بد اهته مالك نه دي او په بنکاره توګه د الٰهي قدرت مسخر شوي دي لکه لمر چه د حرکت په حال کښې لیدل کیږي یا په زمکو او آسمانونو کښې چه کوم شیان خوځیدونکي دي په دې ټول پوهیږي چه دا شیان پخپلې ارادې باندې خوځیدونکي نه دي بلکه د الٰهي قدرت او ارادې له مخې متحرك دي. دوهم ډول مخلوق هغه مخلوق دی کوم چه بد اهته د ارادې او اختیار مالك دي او دا بیا په دري ډوله دی. یو ډول هغه چه یواځې د خیر اراده کوي او د شر اراده بالکل کولای نه شي او دي ډول ته فرښتې ویل کیږي. او د دوی شان "لاَ یَعصُونَ مَا اَمَرَهُم وَ یَفعَلُونَ مَا یُؤمَرُونَ" یعنې چه کوم حکم دوی ته ورکول کیږي هغوی نې خلاف ورزي نه شي کولای یواځې هغه کار کوي د کوم چه حکم ورته شوی وي. دلته د نفی او اثبات د دواړو له یوځای کولو څخه د دې مضمون تاکید والی مقصود دی. دوهم ډول مخلوق د لومړني مخلوق برعکس دي او دوی له شر پرته د خیر اراده نه کوي او دا شیطانان دي. دریم ډول مخلوق هغه مخلوق دی چه د دواړو ارادو مالك وي او دواړه ارادې کولای شي او دا انسانان دي. انسانان بیا په دري ډوله دي. یو هغه ډول چه ایمان، عقل او معرفت نې په نفساني خواهشاتو باندې غالب وي. دا ډول انسانان په ترقي او پرمختګ سره له ملائکو سره یو ځای کیږي. دوهم ډول د لومړني ډول برعکس دي او د شیطانانو وروسته جوړیږي. دریم ډول هغه انسانان دي چه عقل نې د شهواني قوت تابع جوړیږي او دا ډول انسانان له ځیرونکو درندګانو او ځناورو سره یو ځای کیږي. لکه څرنګه چه د دغو تولو مخلوقاتو وجود یواځې د جلي او علا بنکار دی همدارنګه د هغو اراده او اختیار هم د همدې شي نتیجه ده.

اوس مونږ د لومړني اصطلاحاتو او مذاهبو له تفصیلاتو څخه د بیلیدو په صورت کښې په ساده ډول په دې مسئلې باندې نظر اچول غواړو. نو دا خبره به مونږ منو چه په بنده کښې د اختیار او قدرت صفت یقیني دی او انکار تري کول له خپل بدیهي وجدان څخه انکار کول دي. له یوه بې وقوفه سړي څخه بې وقوف سړی هم اختیاري خوځښتونه او د یوه رعشه وهلي (مریض) سړي د حرکاتو تر منځ فرق نه پیژندلی شي. او هیڅکله دا جرأت نه شي کولای چه دواړه یو شی وبولي. لیکن دا خبره هم بدیهي ده چه د بنده خپل وجود او له هغه سره لګیدلي نور صفات نې کمزوری او ضعیف دي همدارنګه دا قدرت او اختیار نې هم ضعیف د پلسه ضعیف دی. وګوری انسان اوریدلی هم شي او لیدلی هم شي د دې لپاره ده ته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

اوریدونکی او لیدونکی ویل کیږي لیکن لکه څرنګه چه دا صفات کمزوري دي نو ځکه د هغه لپاره څه شرطونه هم شته. که چیرته هغه شرطونه نه وي نو نه اوریدلی او نه لیدلی شي. بیا له دغو شرانطو سره چه چیرته هغه اوریدلی او لیدلی هم شي هلته چه کله لږ لږي لاړ شي نو د لیدلو او اوریدلو دواړه صفتونه ني معطل په نظر راځي. مثلا له یوې خاصې مسافې یا فاصلې وروسته نه څه اوریدلی او نه څه لیدلای شي لیکن آیا د ده په دې معذوري او کمزوري باندې څوک دا ویلای شي چه په ده کښې د اوریدلو او لیدلو صفت نشته؟ زمونږ په ګومان خو دلته دوه رأیې نه شي پیدا کیدلای او په اتفاق سره دا ویل کیدلای شي چه خامخا شته لیکن دومره ضعیف او کمزوری دی چه لږ زیات لږي لاړ شي نو کار نه ورکوي. که چیرته اختیاري صفت ني هم همدلسي کمزوری صفت وي چه تر یوې اندازې لږي ځای پورې خو ني اثر ظاهر پرې لیکن لږ نور چه مخکښې لاړ شي نو اثر ني له منځه ځي نو آیا د دې کمزوری له مخې به ني له وجود څخه انکار صحیح وي؟ یا که چیرته په دې باندې اقرار وکړای شي نو آیا دا به خامخا ضروري وي چه تر آخره پورې به ني اثر تسلیمیږي؟ پس که چیرته مونږ د خپلو اختیار اتو اثرات لږي ځای ته په تګ سره معدوم او مضمحل وینو نو په دې بناء باندې مونږ ته د خپل بدیهي وجدان د انکار هیڅ وجه نشته. همدا ډول که چیرته مونږ د خپل وجدان په بنا باندې پخپل نفس کښې د اختیار صفت تسلیمو نو دا هم کومه لازمي خبره نه ده چه بیا ني اثرات هم تر آخره پورې تسلیم کړو. د دې لپاره مونږ له پوره بصیرت سره د دې خبرې په اقرار کولو باندې مجبور یو چه په مونږ کښې د قدرت او اختیار صفت موجود دی لیکن مونږ ته پخپله د اختیار په دې صفت باندې هیڅ اختیار نشته. یعنې مونږ په دې باندې قدرت نه لرو چه د اختیار دا صفت چیرته استعمال کړو هلته ني استعمالولای شو بلکه زمونږ دا صفت د الهي مشیت لاندې دلسې جبري حرکت کوي لکه څرنګه چه د یوه ډبرې اچوونکي سړي په لاس اچول شوې ډبره حرکت کوي. چه نومورې ډبره دا قدرت نه لري چه هغه سمت (طرف) پریږدي په کوم سمت باندې چه ډبرې اچوونکي اچولې ده او د کوم بل سمت په طرف لاړه شي. همدارنګه په بنده کښې هم دا طاقت نشته چه په کوم طرف باندې قدرت اختیار ورکړی دی له هغه طرف پرته یو ادنی غوندې حرکت هم وکړي. لهذا بنده چه څه کوي په یقیني توګه ني پخپل اختیار سره کوي لیکن له خپل دې اختیار څخه هغه کوي کوم چه مختار مطلق ني پرې کوي. پس په دې لحاظ سره چه مونږ څه کوو پخپل اختیار ني کوو، مختار وایي او په دې لحاظ سره هغه اختیارولای شو کوم چه الهي مشیت وي. مجبور ویل کیدلای شو یا په مرتبه د مجبور کښې لیکن دا دلسې جبر دی چه له جبر مطلق څخه ممتاز دی. ځکه چه په جبر مطلق کښې مجبور لره د خپلې ارادې تر څنګ مزاحمت (تکلیف) محسوسیږي. مثلا که چیرته کوم مؤمن د کفر د کلمې په ویلو باندې مجبور کړای شي نو اګر که هغه د کفر کلمه په زړې باندې وایي

لیکن د دې تر څنګ د دې خارجي جبر د مزاحمت احساس هم کوي، یا مثلاً یو منافق په زړې سره خو د ایمان کلمه ادا کوي لیکن دلته هم ظاهري ویره د هغه د باطني ارادې په لاره کښې مزاحم وي. لیکن کوم شی چه دلته دی په هغه کښې د مجبور له ارادې سره هیڅ مزاحمت نه وي. انسان چه کوم فعل کوي د خپل احساس مطابق ني په آزاده او پوره اختیار له مخې کوي. تر دې پورې چه که چیرته د تقدیر جبر هغه ور وُهم ښوول شي نو هغه ني په تسلیمولو کښې تأمل کوي. لکه څرنګه چه دلته د بنده جبر له مطلق جبر څخه ممتاز دی همدا ډول اختیار ني هم له مطلق اختیار څخه ممتاز دی ځکه چه هغه څه غواړي نه ني شي اختیارولای بلکه هغه څه اختیارولای شي د کوم شي اختیار چه قادر مطلق هغه ته ورکړی وي.

لنده دا چه انسان څه غواړي هغه کوي لیکن کوي هغه کوم چه الله تعالی ني غواړي. اوس که چیرته د دې اختیار تر څنګ کوم سړی خپل نفس ته مجبور وویي نو وُدې وایي لیکن هغه یه د لسې مجبور وي کوم چه معذور نه شي بللی. د پروردګار عالم د خالقیت دا کرشمه هم عجیبه ده چه یوه خالص مجبور لره د کوم حکمت له مخې د لسې مختار جوړ کړی دی چه پخپل ځا او خوا کښې د خپل احساس مطابق د ادنی اندازې جبر هم نه محسوسوي په د لسې حال کښې د جبر ټیول پرې دومره سخت وي چه د خوځیدلو هم طاقت نه لري. حقیقت دا دی چه دا صورت د دې لپاره پیدا شوی دی ځکه چه دلته په افعالو کښې جبر نشته، افعال خو پخپل اختیار سره ترسره کیږي لیکن پخپله دا اختیار د الله تعالی د کامل مشیت لاندې وي. د دې لپاره دې مختار ته د خپل جبر احساس نه کیږي. که چیرته جبر په افعالو کښې وای نو خامخا به ني احساس شوی وای. دا صفت اوس یواځې د قدیر دی چه د بندګانو په اختیار باندې هم حکومت کوي. د قضاء او قدر پټ رازونه ټول په دې تکي کښې پټ دي، بنده له مجبوری سره سره د خپل مختارتوب مدعي هم د دې لپاره وي چه هغه ته خپل اختیار هم محسوسیږي او لکه څرنګه چه هغه ته دلته له خپلې ارادې سره هیڅ مزاحمت نه محسوسیږي د دې لپاره د فوقاني جبر هغه ته هیڅ احساس هم نه کیږي. او چه کله جبر او اختیار دومره مدغم شي نو بیا پخپلو افعالو باندې د مسئول کیدلو مسئله هم حل کیږي. آیا د لسې مختار به هم مسئول نه وي کوم چه پخپل وجدان کښې هم پخپل اختیار وي. د دې فوقاني جبر حال خو یواځې انبیاء علیهم السلام بیان کړی دی. د حیرانتیا خبره ده چه یا خو انسان یوې خواته غواړي چه مختار مطلق جوړ شي، د لسې مختار چه د دې خبرې لپاره هم تیار نه وي چه د تقدیر د جبر خبره واوري او له مسلماني سره سره ني په تصدیق کښې په زړګونو حجتونه (دلیلونه) درانده کوي. او بلې خواته چه کله تقدیر تسلیم کړي نو دلته ني هم رویه ضدي رویه تر سترګو کیږي. یعنې بیا په جزاء او سزا کښې خبرې کوي. و لقد صدق الله عز وجل: وَكَانَ الْإِنسَانُ أَكْثَرَ شَيْءٍ جَدَلًا☆ (سورت) (انسان فطرتاً جګړه کوونکی دی) حالانکه باید دا فکر وشي چه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

آیا دا د حکومت تقاضا نه ده چه محکوم به د تل لپاره د حاکم تر لاس لاندې وي- بیا دلته یواځې د محکومیت رشته وجود نه لري بلکه د مخلوقیت رشته هم په منځ کښې شته- آیا دا معقوله خبره نه ده چه دلته زمونږ غیر مستقل اختیا هم د مختار کل د مشیت محکوم وي؟ چه کله دا خبره سړی خپلې مخې ته کښیږدي نو په دنیا کښې یو شور جوړ شي چه مونږ نې مجبور جوړ کړو- په داسې حال کښې چه د غور خبره خو دا وه چه کوم شی له سره موجود نه وو نو هغه په کومه ورځ مختار شو؟ بیا څه څومره مختار وو هغه اختیار نې کله تقدیر له منځه یووړ؟ بلکه په قانوني توګه نې نور څه تسلیم کړي دي- پس دلته خو دا احسان او بښګړه چه یوه معدوم محض ته نې د وجود مرتبه ورکړه، بیا نې پخپل کامل حکمت سره یو محض جماد (نطفه) لره اوریدونکی، لیدونکی او مختار جوړ کړ، دلته د احسان هیرونه، چه شکایت دا دی چه مختار نې مجبور جوړ کړ- دلته یوه مغالطه دا راغلې ده چه تقدیر او د بنده اختیار نې ځان ځانته شیان بللي دي او تقدیر نې د بنده په اختیار باندې حاکم منلی دی- حالانکه زمونږ اختیار هم پخپله د تقدیر لپاره په دائره کښې شاملیږي- همدا ډول پوښتنه یو ځل صحابۀ کرامو له حضرت نبي کریم ﷺ څخه هم وکړه چه یا رسول الله ﷺ آیا په مرضونو کښې د دوایي استعمال او په جنګونو کښې د ډال استعمال خدایي تقدیر بدلولی شي؟ یعنې چه کله خدایي تقدیر نه شي بدلولی نو بیا د دغو شیانو د استعمالولو فائده څه ده؟ نبي کریم ﷺ څومره لنډ لیکن ډاډمن ځواب ورکړ چه "ای زما صحابه کرامو! تاسو دا اسباب له تقدیر څخه ولې د باندې شماری؟ په تقدیرکښې دا هم لیکل شوي وي چه کله یو مریض تداوي وکړي نو جوړیږه شي، چه ډال استعمال کړي نو ددښمن له ګذ اړ څخه به محفوظ شي"- پس د اسبابو ارتکاب هم د تقدیر په چاپیریال کښې داخل شو-

حضرت ابن عباس رضی الله عنهما د شام د وبا په کیسه کښې وایي چه کله حضرت عمر رضی الله عنه یوه ځای ته ورسیده نو اطلاع ورته راغله چه په شام کښې خو وبا خپریږي- د دې خبرې په اوریدو سره ده مبارک اسلامي لښکر ته د بیرته راتګ حکم ورکړ- په دې باندې حضرت ابو عبیده رضی الله عنه له تعجب سره وویل چه ښه تاسو له تقدیر څخه منډې وهی؟ یعنې که چیرته مرګ مو په تقدیر کښې وي نو بیا به د دغه بیرته راتګ څه فائده وي؟ حضرت عمر رضی الله عنه په حکیمانه انداز کښې ځواب ورکړ "ای ابو عبیدهؓ! که چیرته دوه کندي وي یوه وچه او بله سرسبزه (شنه او تازه) نو ووایه چه ته خپل اوښ په کومې کندي کښې څروې؟ که چیرته نې په سرسبزه کنده کښې څروې او یقینا به نې هم په سرسبزه کښې څروې نو آیا دا به له تقدیر څخه منډې وهل وي او که دا به هم د همدې تقدیر لاندې وي؟ همدا ارنګه زما بیرته راتګ د تقدیر له احاطې څخه ولې د باندې ګڼې؟ که چیرته د مرګ له کندې څخه بچ شم نو دا به هم په تقدیر کښې لیکلې وي چه کله زه بیرته راوګرځم"- (موطأ امام مالک)

حضرت شاه ولي الله محدث دهلوي فرمایي چه له دې څخه ثابته شوه چه په تدبیر او تقدیر کښې کوم اختلاف او جنګ نشته او جنګ به هلته وای چه کله تدبیر د تقدیر له چاپیریال څخه د باندې وای- اوس خو تدبیر هم د تقدیر یوه برخه جوړه شوې ده- د تدبیر او تقدیر مراتب په دې ډول سره محفوظ ساتل د نبوت د علومو فیض او رنا ده- وګورئ حضرت یعقوب علیه السلام چه کله خپل زامن د مصر خوا ته لیږل نو د نظر او ګذر له خطر څخه د ساتنې لپاره دا هم ورته وفرمایل چه "یا بَنِیَّ لَا تَدْخُلُوا مِنْ بَابٍ وَّاحِدٍ وَّ ادْخُلُوا مِنْ اَبْوَابٍ مُّتَفَرِّقَةٍ" (ای زامنو! ګوری چه هیڅکله له یوې دروازې څخه داخل نه شی بلکه له ګڼو دروازو څخه داخل شی (تر څو چه د نبوت کورنۍ د چا نظر و نه خوري یعنې په نظر نه شي)"- یوې خوا ته د پلار شفقت له نظر او ګذر څخه د تحفظ په خاطر دا تدبیر هم کوي او بلې خوا ته د نبوت ژبه د تقدیر له رمز څخه هم خبرداری ورکوي او فرمایي چه "وَمَا اُغْنِیْ عَنْکُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ شَیْءٍ" (یعنې زما دا تدبیر د اسبابو د عالم یو ډاډ دی کوم چه په تقدیر کښې وي هغه زه کله بدلولی شم)-

دلته په دې باندې هم غور وکړئ چه کوم شی تاسو د تقدیر جبر بولی د هغه حقیقت څه شی دی؟ آیا دا چه قدرت خپل راکړل شوی اختیار پخپل لاس کښې نیولی دی یا دا چه کوم اختیار نې راکړی وو هغه نې بیرته اخیستی دی- نو بیا به د دې جبر څه اثر وي نو هغه چیرته دی؟ آیا په هغو شیانو کښې دی چه چیرته چه تاسو ته له تقدیر څخه مخکښې حاصل وو یا په هغو کښې چیرته مخکښې ته مجبور وي- د دې لپاره د اسې مه وایی چه تقدیر مونږ مختار هم مجبور جوړ کړي وو بلکه د اسې ووایی چه مونږ مجبورو لره نې د یوې محدودې اندازې پورې مختار جوړ کړي یو- د اسې مختار هم زمونږ له حیثیت څخه څه نا څه زیات وو- په یوه مجبور کښې نه بلکه په یوه معدوم محض کښې د اختیار او واک تصور هم کله معقول وي؟ دا خو د مختار مطلق کرم او مهرباني وه چه محض د خپل قدرت له کرشمې څخه نې یوه جماد ته اختیار ورکړی دی او د هغه د دې اختیار په وړاندې نې خپل جبر د اسې پټ کړی دی چه په دې عالم یا دنیا کښې پرې پوهیدل مشکل کار دی- اِنَّا خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ مِنْ نُّطْفَةٍ اَمْشَاجٍ نَّبْتَلِیْهِ فَجَعَلْنٰهُ سَمِیْعًا بَصِیْرًا (سورة الدهر آیت ۲) لږ نور هم له دقیق نظر څخه کار واخلی نو دا به در معلومه شي چه زمونږ دا نیمګړی اختیار قائم پاتې کیدلای هم شي په داسې حال کښې چه د قدرت اختیار نې تر څنګ لګیدلی وي- که چیرته د قدرت اختیار نې سرپرستي پریږدي نو زمونږ اختیار پخپله له منځه ځي- دا د یوه مثال له مخې د اسې وګڼی چه بچی چه کله دا ضد وکړي چه زه روانیږم او پخپلو پښو روانیږم- په داسې حال کښې چه مور او پلار نې په دې پوهیږي چه د ده غریب اوعاجز پخپلو پښو کښې د تګ طاقت نشته د دې لپاره مور او پلار پخپل طاقت سره هغه روانوي او چه کوم طرف ته غواړي چه لاړ شي نو هغې خوا ته نې روانوي- د غه نیمګړی اختیار چه کله په دې ډول د والدینو د مستقل اختیار په امداد کار کوي نو د بچي ارمان په دې ډول پوره کیږي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

چه کوم شی ئې ضد وو هغه ئې پوره شو او والدین د لسې خوشحاله کیږي چه په دې ډول ئې بچی خوشحاله شو او کوم نقصان هم ورنه و نه رسیده. او که چېرته نومورې بچی دا ضد را واخلي چه د والدینو له لاس نیوتې پرته پخپل طاقت باندې روان شي نو ښکاره خبره ده چه څومره فاصله ئې پخپل نیمګړي اختیار طی کړې وه هغه هم نه طی کیږي.

دلته معامله په بل ډول ده ځکه چه بچی خوپخپل مشیت او اراده هم لري او څه نا څه طاقت هم لري. او بلې خوا ته ئې والدین ګوا کې له پخپل بچي څخه زیات طاقت لري لیکن خپل مشیت، اراده او طاقت ئې د بچي تابع ګرځولی دی او هلته ئې مصرفوي په کوم ځای کښې ئې چه د بچي اراده وي. لیکن د خالق په معاملې کښې د بنده مشیت هیڅ حیثیت هم نه لري. دی که چېرته قدمونه ږدي نو هغه هم د خالق د مشیت د لسري له مخې ږدي. "وَ مَا تَشَآءُوْنَ اِلَّآ اَنْ یَّشَآءَ اللّٰهُ" (تلسو هغه اراده کولای شی کوم چه د الله تعالی مشیت ئې غوښتونکی وي) د تعجب خبره ده چه د دومره محکومیت تر څنګ که چېرته سر سري نظر واچول شي نو د لسې ځرګندیږي چه بنایي په دې عالم کښې الٰهي مشیت زمونږ د ارادې تابع جوړ شوی وي او څه چه مونږ تر سره کوو هغه کار هغه هم تر سره کوي. دا توله کرشمه د همدې حکمت کرشمه ده چه زمونږ په افعالو باندې قدرت جبر او زور نه دی اچولی بلکه پخپله زمونږ اختیار ئې پخپل اختیار کښې نیولی دی. لهذا د محض مجبور کیدو تر څنګ زمونږ دا احساس وي چه مونږ مختار مطلق یو او د دې عالم په لحاظ سره دا کومه غلطي هم نه ده. چه کوم جبر دلته دی هغه د عالم غیب په لحاظ سره دی او هغه زمونږ له لاس رسیدنې ځخه د باندې دی. اوس له دې پرته هیڅ چاره نشته چه په دې معاملې کښې یواځې د انبیاء کرامو علیهم السلام په بیان باندې اعتماد وکړو. دلته که چېرته په انبارونو دلائل بیان کړی شي نو انسان د خپل ذاتي وجدان له مخې په هغو باندې باور نه شي کولای. د دې لپاره دلته اسلام یواځې د تسلیم او رضا یوه لار را ښوولې ده، له حقیقت ځخه ئې بې خبره هم نه یو پرېښې او د دې مسئلې پوره حل لکه څرنګه چه زمونږ له وس او قدرت ځخه پورته دی د دې لپاره په دې باره کښې ئې له بحث کولو ځخه هم منع کړي یو. فَاتَّبِعُوْهُ هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِیْمٌ.

د مجازاتو مسئلـــــه

د جزاء او سزا په مسئلې کښې بحث کول هم بې فائدې دي. لومړی خو د دې لپاره چه دا یوه مسلمه (منل شوې) قاعده ده چه له مالك او خالق ځخه هیڅ پوښتنه نه شي کیدلای بلکه د مالك تعریف یواځې همدغه دی چه "مالك هغه دی چه د هر ډول تصرف اجازه ولري" تلسو یو شی په عاریت سره اخلی، په کرایه ئې هم را اخلی لیکن دلته برعکس د هغه شي حفاظت هم ستاسو په سر باندې دی او تاسو یواځې تر تاکلې مودې پورې هغه هم له ډیر احتیاط سره له هغه ځخه د فائدې اخیستنې اجازه لری، نه ئې خرڅولی شی، نه ئې هبه کولی شی، هیڅ ډول ترمیم

پکښې نه شی کولی ماتول او خرابول خو ئې ډیره لرې خبره ده. لیکن د کوم شي چه تاسو څان مالك بولی تاسو په هغه کښې د نومورې تولو تصرفاتو حق لری بلکه د کوم قیمتي شي په ضائع کولو باندې هم له تاسو ځخه پوښتنه نه کیږي. چه کله د یوه مجازي مِلك دا حقوق وي نو د حقیقي مِلك حقوق به څه وي. بیا دلته یواځې د مملوکیت رشته نه بلکه د مخلوقیت رشته هم شته. او لکه څرنګه چه هغه پرته د چا له شرکت ځخه شیان پیدا کړي دي د دې لپاره د حقیقي مالکیت حق هم باید د هغه وي. اوس له دلسې مالك ځخه چه خالق هم وي د جزا او سزا پوښتنه څه معنی لري؟

وګورې حضرت سلیمان علیه السلام ته الله تعالی مالکیت نه یواځې ملوکیت ورکړی وو او هغه هم په ډیرې محدودې اندازې باندې. لیکن د همدې نیمګړي ملوکیت لپاره ئې هم چه کوم امتیازي شان هغه ته ورکړی وو هغه د قرآنکریم له دغو الفاظو ځخه څرګندیږي چه: "هٰذَا عَطَآؤُنَا فَامْنُنْ اَوْ اَمْسِكْ بِغَیْرِ حِسَابٍ" (دا زمونږ بخښش دی اوس چه ته چا ته غواړې ورکوه او چا ته چه نه غواړې مه ورکوه له تا ځخه به د دې حساب نه اخیستل کیږي).

علامه حافظ ابن کثیر رحمه الله د زماني پخپل مشهور تصنیف د (البدایه و النهایه) په دوهم جلد کښې لیکي چه حضرت سلیمان علیه السلام ته لکه څرنګه چه له نبوت سره بادشاهي ورکړ شوې وه د دې لپاره دا خبرداري هم ورکړ شوې وه چه دا بادشاهي زمونږ یو بخښش دی لیکن چونکه له بادشاه ځخه کومه پوښتنه نه کیږي نو څه په دې باره کښې له تا ځخه هم کوم حساب نه اخیستل کیږي. په اسلام کښې د غلامی له مسئلې ځخه څه نا څه د مالکیت څرګندونه کیږي. اګر که هغه هم یواځې د دې خبرې د ثابتولو لپاره تاکل شوې ده چه ځوك د حقیقي مالك او مولا په مالکیت باندې راضي او خوښ نه وي نو هغه بیا د غلامانو په مالکیت باندې راضي کیږي. لیکن د دې مالکیت هم چه څومره حقوق دي هغه له دې ځخه څرګندیږي چه ځوك اوس اوس له غلامی ځخه مخکښې د مالك جوړیدو اهلیت درلود د محکومیت لفظ له هیڅ یوه ارخ ځخه په هغه باندې نه شي عائد کیدلای. هر تصرف به ئې جاري او هر حکم به ئې ناطق وو. هغه له غلامی ځخه وروسته دا ډول مملوك جوړیده چه د مالکیت به په هغه کښې اهلیت هم نه پاتې کیده، نه ئې کوم تصرف درست وي، نه د کوم حکم د نافذولو ور پاتې کیږي او مالك ته ئې د خرڅولو حق هم حاصلیږي تر دې پورې چه که چېرته ئې مړ هم کړي نو بیا به هم د ځینو ائمه وو په نزد که ګناه ئې هر څومره غټه وي لیکن په دُنیا کښې قصاص نه تري اخیستل کیږي.

پس کله چه د مالکیت او خالقیت له ادنی غوندې مشابهتونو ځخه وروسته د سوال او ځواب مرحله ختم کیږي نو چېرته چه دغه دواړه خبرې له خپل پوره حقیقت سره مخې ته راځي هلته د محاسبې او پوښتنې حق چا ته پاتې کیدلای شي؟ د دې لپاره ئې وفرمایل چه لَا یُسْئَلُ عَمَّا یَفْعَلُ وَ هُمْ یُسْئَلُوْنَ☆ (سورة آیت)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

بله دا چه تاسو کله په دې مسئلې باندې غور کړی دی چه آخر دا دنیا پیدا شوې د څه لپاره ده؟ دلته یواځې د هغه ذات چه جامع صفات لري خو یوه تقاضا وه له دې کبله اوس چه له کوم صورت څخه دا تقاضا پوره کیږي هغه به مناسب وي۔ کمال خو دا غواړي چه د مهر او قهر دواړو ظهور وشي د دې لپاره ضروري شوه چه د دواړو لپاره اسباب هم پیدا کړی شي او لکه څرنګه چه د جزاء او سزا عنوان دا غواړي چه په جزاء کښې د عمل څه تاثیر هم ښکاره وي تر څو چه په ښه عمل باندې ښه بدله او په بد عمل باندې سزا ورکړی شي۔ د دې لپاره دا ضروري وګڼل شوه چه بنده ته څه نا څه اختیار ورکړی شي۔ د دې تناسب لپاره چه څومره اختیار د عقل له مخې ممکن وو هغه ئې ورکړ او په همدې باندې ئې جزاء او سزا هم دائره کړه۔ اوس چه کله بنده له خپل ورکړ شوي اختیار څخه کوم بد عمل کوي نو هغه ته په دنیا کښې بد ویل کیږي او که چېرته نیک عمل کوي نو ښه او نیک ورته ویل کیږي۔ چه کله د بنده په دغو افعالو باندې په دنیا کښې د هغه نیکې او بدې بیانول معقوله خبره شوه نو په آخرت کښې به ولې معقول نه ګڼل کیږي؟۔

چلا عدم سے میں ہستی کو بول اٹھی تقدیر
بلا میں پھنسنے کو کچھ اختیار لیتا جا

پاتې شوه دا خبره چه کله بد اعمال تر سره کول بده خبره ده نو د هغو پیدا کول بیا کمال ولې ګڼل کیږي؟ نو دا داسې وګڼئ چه په پیدا کولو او کولو کښې ډیر فرق دی۔ انسان چه کله کوم عمل کوي نو هغه عمل له هغه سره په داسې دول قائمیږي لکه څرنګه چه له جامو سره سپین والی او تورو الی قائم وي۔ اوس چه کله په دې لحاظ سره جامې توري یا سپینې بلل کیږي نو د دغو اعمالو له لحاظ څخه بنده ته هم ښه یا بد ویل کیدلای شي۔ لیکن مخلوق له خالق څخه جلا اوسیږي او له هغه سره قائم نه وي۔ له دې کبله بد مخلوق د خالق صفت نه شي کیدلای، البته د هغه پیدا کول ئې صفت جوړیدلی شي، د خلق صفت په هر صورت کښې کمال دی۔ د دې لپاره ناقص نه خیر پیدا کولی شي او نه شر، ځکه چه خلق یو مطلق کمال دی۔

اوس پاتې شوه دا پوښتنه چه د شر پیدا کول ولې کمال دی؟ نو دا اوس څرګندیږي چه کله د کفر په پیدا کولو کښې د قهر او غصې د ظهور مصلحت هم وي نو بیا به دې ته د کمال مقتضا ولې و نه ویل شي؟۔

درکار خانۂ عشق از کفر ناگزیر است دوزخ کرا بسوزد گر بولہب نباشد

شاعر دلته همدا مضمون بیانوي چه د عالم کفر وجود د دې لپاره ضروري دی چه که چېرته د ابو لهب غوندې کافران نه وای نو بیا به د جهنم د پیدا کولو فائده به څه وه؟

د بادشاهي کمال د دواړه ډوله طاقتونو څخه ښکاریږي۔ د دې لپاره که د کافر په حق کښې کفر هر څومره قبیح وي لیکن د خالق په حق کښې د کمال مظهر وي۔

وګوری بیت الخلا (خاکند از) پخپله څومره بیکاره او بد شی دی لیکن یوه لویه نه لویه مهمانخانه تر هغه وخته پورې ناقصه بلل کیږي تر څو پورې چه په هغې کښې همدغه له ناقص څخه ناقص شی پکښې موجود نه وي۔ لکه څرنګه چه د یوې مهمانخانې لپاره د بیت الخلاء وجود ضروري دی همدارنګه د عالم د کمال لپاره هم د صدیق اکبر رضی الله تعالی عنه غوندې د کامل مؤمن په مقابله کښې د ابو لهب غوندې د یوه کافر هم ضرورت دی۔ بیا لکه څرنګه چه په یوې مهمانخانې کښې څوک د دې پوښتنې حق نه لري چه د زمکې دې ټکړې څه قصور درلود چه په هغې باندې بیت الخلاء جوړه شوې ده او په دې ټکړې کښې څه کمال وو چه د بادشاهانو د کښینلستو ځای ګرځیدلی دی۔ همدا دول دلته هم دا سوال نه شي کیدلای چه ابو لهب څه ګناه کړې وه چه هغه ئې کافر پیدا کړی دی او په حضرت ابو بکر صدیق رضی الله عنه کښې څه کمال وو چه په صدیقیت باندې ئې وناز اوه؟ دا ټول د مالك الملك د خپلې ارادې او خپلې خوښې خبره ده څوک په دې کښې د لاس وهنې او د معقولاتو د جنګولو حق نه لري۔

ہلیل کو دیا ہالہ تو پروانے کو جلنا تم ہم کو دیا سب سے جو مشکل نظر آیا

حضرت شاه عبد القادر صاحب رحمه الله په "فوائد قرآنکریم" کښې د دې آیت کریمه چه "وَلَا يَظْلِمُ رَبُّكَ أَحَدًا" (سورة الكهف آیت ٤٩) د تفسیر لاندې د تقدیر مسئله داسې حل کړې ده۔

"اوس چه څه کوي دا ظلم نه دی ځکه چه ټول د هغه مال دی، په ظاهره چه کوم ظلم په نظر راځي هغه هم نه کوي۔ بې ګناه سړی دوزخ ته نه اچوي او نیکي نه ضائع کوي او چه څوک څه وایي (اعتراض کوي) چه په ګناه کښې زمونږ څه اختیار دی؟ دا خبره نه ده له خپل زړه څخه پوښتنه وکړی، چه کله ګناه ته منډې وهي نو له خپل قصور څخه منډې وهي۔ او چه څوک (دا) وایي (چه) قصد هم هغه راکړی دی نو قصد دواړو خواوو ته کیدلای شي۔ او چه څوک دا ووایي چه هغه زمونږ قصد یوې خواته لګولی دی نو دا د بنده له دریافت (پوهې) څخه د باندې دی۔ له بنده سره د هغه د پوهې مطابق معامله کیږي۔ بنده هم هغه څوک نیسي چه چا بدې ورسره کړي وي او دا نه وایي چه دی څه ملامت دی چه الله تعالی دا کار پرې کړی دی" آه۔

دا څو لیکې بیا بیا ولولی نو د تقدیر د مسئلې حل چه څومره په واضحه او ساده توګه تاسو ته دلته په لاس درځي په لویو لویو او ضخیمو کتابونو کښې هم په لاس نه درځي لیکن هلته چه د پوهیدلو اراده مو هم وي او اعتراض لپاره د اعتراض نه وي۔

فقط و الله اعلم و علمه اتم و احکم

یادونه: د تقدیر او مجازاتو د مسئلې په اړه دا تفصیل له څو اهمو کتابونو څخه راټول شوی دی چه اکثره برخه ئې د "ترجمان السنه" مؤلفه حضرت مولانا الحاج محمد بدر عالم صاحب مهاجر مدني قدس الله سره څخه اخیستل شوې ده۔ د دې تفصیلاتو په غور سره په کتنې باندې انشاء الله د تقدیر او مجازاتو مسئله په ذهن کښې کښینې۔

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

په ایمان کښې د کمو والي او زیاتوالي د مسئلې تحقیق

سوال: جناب مفتي صاحب! زمونږ په کلي کښې یوه غیر مقلد دیني عالم د منبر د پاسه دا مسئله وکړه چه د بنو اعمالو په کولو سره ایمان زیاتیږي او د بدو اعمالو په کولو سره په ایمان کښې کمی راځي او د دلیل په توګه ئې په دې خبرې باندې قرآني آیتونه او نبوي حدیثونه وړاندې کړل. له دې وروسته چه کله ما د خپل حومات له امام صاحب څخه د دې مسئلې په باره کښې پوښتنه وکړه نو هغه وویل چه په ایمان کښې کمی او زیاتی نه راځي. غیر مقلد عالم دا مسئله صحیح نه ده بیان کړې. له تاسو محترم څخه هیله ده چه د قرآن او حدیثو په رنا کښې د دې مسئلې په څرګندولو سره زمونږ لارښوونه وکړئ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: په ایمان کښې د کمو والي او زیاتوالي مسئله له مخکښینو زمانې څخه اختلافي را روانه ده. په دې مسئلې کښې د اختلاف اصل وجه د ایمان په تعریف کښې اختلاف دی. او د جمهورو محققینو په نزد ایمان یوازې د زړه له تصدیق څخه عبارت دی او په ژبې سره اقرار او د اسې نور ئې شرطونه دي. امام سرخسي او علامه بزدويؒ او د اسې نورو په نزد ایمان تصدیق بالقلب او اقرار باللسان ته وایي. له امام ابو حنیفه رحمه الله څخه په "الفقه الاکبر" کښې "الایمان هو الاقرار و التصدیق" مقوله راغلې ده. په دې حال کښې چه د محدثینو عظامو په نزد ایمان د زړه له تصدیق، د ژبې له اقرار او عمل په ارکانو څخه عبارت دی. په دې لحاظ سره چه د چا په نزد ایمان له دغو درېو شیانو څخه عبارت دی نو د هغه په نزد په ایمان کښې کمی او زیاتی راځي او د چا په نزد چه ایمان له تصدیق قلبي څخه عبارت دی د هغو په نزد په ایمان کښې کمی او زیاتی نه راځي.

لیکن که چېرته په دې اختلاف باندې غور وکړی شي نو څرګندیږي چه دا اختلاف یوازې لفظي نزاع ده، د دې لپاره ایمان دري معناوي لري.

﴿۱﴾ نفس ایمان: هو التصدیق بما جآء النبي ﷺ، او دا یوازې په زړه پورې اړه لري چه کمی او زیاتی دواړه پکښې نه راځي، البته قوت او ضعف پکښې پیدا کیدلی شي. همدارنګه کمی او زیاتی هم په دوه ډوله دي. (۱) حقیقي (۲) مجازي. په حقیقي کښې د شیانو په حجم او اندازې کښې تفاوت وي. او په مجازي کښې د کیفیت (څرنګوالي) په منځ کښې شیان قوي او ضعیف وي. نو د ایمان په دې تعریف کښې له کمو الي او زیاتوالي څخه د کمیت او اندازې نفی مراد ده نه د کیفیت.

﴿۲﴾ دنیوي ایمـــــان: دنیاوي احکام په هغه سړي باندې لازم وي چا چه په ژبې باندې کلمه ویلې وي. د دې لپاره ځینو علماء کرامو د دنیاوي احکاماتو د اجراء لپاره په ژبې باندې اقرار ضروري ګڼلی دی.

﴿۳﴾ کامل ایمان: په کوم ایمان پورې چه پرته له حساب او کتاب څخه اُخروي نجات اړه لري نو

د ایمان د دې دوو لپاره د صالحه اعمالو ډیر ضرورت دی او د اعمالو له کبله علماء کرامو د ایمان د دې دوو لپاره نیک اعمال د ایمان یو جزء ګڼلی دی لیکن بیا هم چه کوم سړی په قصد سره نیک اعمال پریږدي نو د هغو په نزد هغه کافر نه دی.

له دې څخه څرګنده شوه چه د کامل ایمان لپاره اعمال صالحه ضروري دي، د نفس ایمان لپاره ـــــ له دې کبله په دې مسئلې کښې چه کوم اختلاف دی هغه یوازې لفظي او سطحي نزاع ده او په حقیقت کښې د هغو تر منځ هیڅ اختلاف نشته. او د دې خبرې دلیل دا دی چه که چېرته کوم سړی یو لمونځ هم نه کوي یا د کومې بلې لوبې ګناه مرتکب وي نو د محدثینو په نزد د اسلام له دائرې څخه نه ووځي، یوازې فاسق او فاجر ګڼل کیږي او په آخرت کښې به د خپلو بدو اعمالو د سزا له ځکلو وروسته به نجات (خلاصون) پیدا کوي. که چېرته د محدثینو حضراتو په نزد اعمال د نفس ایمان اجزاء وای نو خامخا به د اسې سړی د اسلام له دائرې څخه د باندې ګڼل کیده او د کفر فتوی به پرې لګیدلې وای (لکه څرنګه چه خوارجو د اسې کړي دي) یا کم تر کمه به ئې نوموړی سړی د کفر او ایمان تر منځ پرېښی وای (لکه څرنګه چه د معتزله وو رایه ده) له دې څخه هم دا څرګندیږي چه د محدثینو حضراتو په نزد هم اعمال د نفس ایمان جزء نه دی بلکه د کامل ایمان جزء دي. ځکه چه په ایمان کښې کمی او زیاتی د اعمالو له وجهې راځي.

د نوموړي صورت مطابق د ایمان د زیاتوالي او کمو الي په باره کښې چه کوم آیتونه او حدیثونه چه مونږ وړاندې کړل هغه ټول د کامل ایمان په باره کښې دي او که نه نو د زړه تصدیق کوم چه نفس ایمان دی او د هغه لپاره په قرآنکریم او نبوي احادیثو کښې پوره دلائل موجود دي ـــ

د قرانکریم مشهور مفسر علامه قاضي بیضاویؒ د سورت البقره په شروع کښې د ایمان د بسیط کیدو لپاره ډیر دلائل ذکر کړي دي لکه: أُولٰئِكَ كَتَبَ فِيْ قُلُوبِهِمُ الْاِيْمَانَ (الآية) قَالُوْا اٰمَنَّا بِاَفْوَاهِهِمْ وَ لَمْ تُؤْمِنْ قُلُوْبُهُمْ (الآية) او په بسیط کښې کمی او زیاتی نه کیږي او دا نفس ایمان دی. په همدې نفس ایمان باندې امام ابو حنیفه رحمه الله اقوال "ایماني کایمان جبریل" او "المؤمنون مستوون فی الایمان" محمول دي، ځکه چه نفس ایمان د ټولو مؤمنانو، د هر انسان او له لوی څخه د لوبې ملائکې ایمان سره یو شی دي او کمو الی او زیاتوالی نه قبلوي ځکه چه تصدیق د کیف له مقولې څخه عبارت دی نه د کم له مقولې څخه. او په کیف کښې قوت او ضعف خو راځي لیکن کمو الی او زیاتوالی نه راځي. له دې کبله د بنو اعمالو په کولو سره په کامل ایمان کښې زیاتوالی او د بدو اعمالو په کولو سره په کامل ایمان کښې کمو الی راځي. لیکن په کوم ایمان پورې چه اخروي نجات اړه لري په هغه کښې کمی او زیاتی نه کیږي.

ایمـــــاني کایمان جبرئیل

سوال: جناب مفتي صاحب! زمونږ یو غیر مقلد ملګری وایي چه امام محمد رحمه الله د خپل استاد امام ابو حنیفه رحمه الله دا قول چه "ایماني کایمان جبرئیل" نه خوښاوه. او امام محمدؒ فرمایي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

چه د اسي الفاظ باید سړی و نه وایي بلکه د اسي دي وایي چه "امنتُ بما امن به الجبرئیل" اوس پوښتنه دا ده چه آیا په ربښتیا هم امام محمدؒ صاحب د امام ابو حنیفهؒ د نوموړي قول مخالفت کړی دی؟ همد ارنګه دا هم روښانه کړی چه د امام صاحبؒ د دي قول چه "ایماني کایمان جبرئیل" مطلب څه دی؟ آیا د امام صاحبؒ ایمان د جبرئیل علیه السلام له ایمان سره برابر دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د امام محمدؒ دا وینا چه "اکره ان یقول ایماني کایمان جبرئیل" په ځای باید سړی دا ووایي چه "امنتُ بما امن به جبرئیل" صحیح ده۔ لیکن دا خبره غلطه ده چه ده د خپل استاذ د قول مخالفت کړی دی بلکه ده د خپل استاذ له قول څخه دا وهم لرې کړی دی تر څو له تولو وجوهو څخه خپل ایمان د جبرئیل علیه السلام له ایمان سره برابر نه کړي ځکه چه د هیچا ایمان هم د انبیاوو او ملائکه وو له ایمان سره برابر نه دی بلکه ښکاره فرق موجود دی لکه څرنګه چه د فقه اکبر شارح ملا علي قاريؒ وایي: و من هنا قال الامام محمدؒ علی ما ذکره فی الخلاصة عنه. اکره ان یقول ایماني کایمان جبرئیل علیه السلام و لکن یقول امنتُ بما آمن به جبرئیل علیه السلام انتهی. و ذلك ان الاول یوهم ان ایمانه کایمان جبرئیل علیه السلام من جمیع الوجوه و لیس الامر کذلك لما هو الفرق البیّن بینهما هنالك. (شرح فقه اکبر ص۸۸/۸۷، الایمان لا یزید و لا ینقص)

تر کومه ځایه پورې چه د امام صاحبؒ دا قول چه ایماني کایمان جبرئیل" اړه لري نو د دې مطلب له تولو وجوهو څخه تشبیه ورکول مقصود نه دي بلکه په نفس ایمان کښې یعني "التصدیق بما جاء النبیﷺ" کښې د مماثلت بیانول دي۔ او که نه نو له تولو وجوهو څخه د چا ایمان هم د انبیاوو او ملائکه وو سره نه شي برابرېدلی چه امام محمدؒ هم پرې قائل دی، دی هم په ځینو وجوهاتو کښې د دواړو په ایمان کښې د مماثلت (برابروالي) قائل دی۔ له دې څخه څرګنده شوه چه د دواړو امامانو په قولونو کښې هیڅ مخالفت نشته۔ د نور تفصیل لپاره د ملا علي قاريؒ کتاب "شرح فقه اکبر" او د حضرت شیخ الهندؒ کتابونه "ادلّه کامله" او "ایضاح الادلّه" مطالعه ډیره ضروري ده۔

د امام مهديؑ او عیسیٰ علیه السلام د راکښته کیدو په باره کښې فتوی

سوال: جناب مفتي صاحب! د دوهم ځل لپاره د امام مهديؑ د ظهور او د حضرت عیسیٰ علی نبینا و علیه الصلوٰة والسلام د راکښته کیدو او د لائديني مسائلو په باره کښې مو د اهل سنت و الجماعت له صحیحو عقائدو څخه خبر کړی۔

﴿۱﴾ آیا امام مهدي آخر الزمان به د حضرت حسین رضی الله عنه له اولاد څخه وي لکه څرنګه چه خلك وایي او که نه؟ د نبوي احادیثو په رنا کښې د دې خبرې وضاحت وکړی؟

﴿۲﴾ حضرت امام مهدي به کله او چېرته پیدا کیږي؟ د هغه نوم، د والدینو نومونه ټي، د هغه په باره کښې له غیب څخه آواز او د هغه او د عیسیٰ علیه السلام تول حالات ولیکی۔

﴿۳﴾ له راکښته کیدونکي حضرت عیسیٰ ؑ څخه عیسیٰ ابن مریم مراد دی یا کوم بل عیسیٰ؟

ځکه چه نن صبا ډیر مسیح موعود پیدا شوي دي، لامذهبه حضرات دا وایي چه د مهدي او عیسیٰ علیه السلام د نزول په اړه چه کوم حدیثونه سُني حضرات بیانوي تول موضوع او ضعیف دي بلکه اعلی مهدي ابن حسن عسکري یا مرزا غلام احمد قادیاني دی؟ د دې خبرې له څواب څخه مو خبر کړی؟

الجواب باسم ملهم الصواب: ﴿۱﴾ دا خبره له قوي احادیثو څخه ثابته ده چه حضرت امام مهدي به د فاطمي او رسول اللهﷺ له کورنۍ څخه وي۔ په ډیرو روایتونو کښې د حضرت امام مهدي په باره کښې دا الفاظ راغلي چه "رجل من اهل بیتی" (یعني زما له خاندان او اهل بیت څخه به وي) او "من عترتي" (زما له اولاد څخه به وي)۔ په ترمذي شریف کښې دي چه: عن ام سلمة قالت سمعت رسول اللهﷺ یقول المهدی من عترتی من اولاد فاطمةؓ (مشکوٰة ج۴، بروایت ابو داود شریف)

(حضرت ام سلمه رضی الله تعالی عنها فرمایي چه ما له نبي کریمﷺ څخه اوریدلي دي چه ویل به ټي چه حضرت مهدي به سید او د فاطمه الزهراء له اولادي څخه دی)۔ حضرت شیخ عبد الحق محدث د هلويؒ په اشعه اللمعات شرح مشکات کښې لیکلي دي چه په دې باره کښې ګڼ روایتونه وارد شوي دي چه د تواتر درجې ته رسیدلي دي۔ پاتې شوه دا خبره چه حضرت مهدي به د پلار او مور دواړو له خوا څخه نجیب الطرفین سید به وي، د والدینو یوه سلسله به ټي له حضرت امام حسن رضی الله تعالي عنه څخه او بله سلسله به ټي له حضرت امام حسین رضی الله عنه څخه وي۔ لکه څرنګه چه شیخ ابن حجر مکي هیثمي هم د دې تصریح کړې ده۔

﴿۲﴾ (د حضرت امام مهديؑ اجمالي حالات) د حضرت امام مهدي د ظهور علامې، د هغه حالات، شکل او شباهت، شمائل او عادات په نبوي احادیثو کښې په تفصیل سره راغلي دي۔ حضرت شاه رفیع الدین د هلويؒ د قیامت د علاماتو په ضمن کښې دا شیان هم مفصل او یو ځای جمع کړي دي۔ د دې رسالې بنیاد په قرآني آیتونو او مستند و نبوي احادیثو باندې ولاړ دی۔ دلته له نوموړې رسالې څخه په اجمالي توګه د هغه لنډ حالات نقل کیږي۔

د حضرت امام مهدي د ظهور نښه به دا وي چه د ده له راوتلو څخه مخکښې به د رمضان په میاشت کښې لمر او سپوږمۍ تندر نیسي او د بیعت په وخت کښې به له آسمان څخه غیبي آواز راځي چه "هذا خلیفة الله مهدی فاستمعوا له و اطیعوا" (دا د خدای خلیفه مهدي دی، خبره ټي واوري او حکم ټي ومني) دا آواز به په دې ځای کښې تول خاص او عام اوري، دی به سید، د فاطمي رضی اللهعنها له اولادي، قد او قامت ټي جګ او څیره به ټي د رسول اللهﷺ سره مشابه وي۔ همد ارنګه اخلاق به ټي هم له رسول اللهﷺ سره مشابهت ولري، د ده مبارك نوم به محمد، د مور نوم به ټي بي بي آمنه وي، په ژبې کښې به ټي لږ غوندي لکنت وي چه له کبله ټي زړه تنګ شي نو کله کله خپل ورون ووهي، علم به ټي لدُني (خدای ورکړی) وي، د بیعت په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

وخت کښې به ئې عمر ځلویښت کاله وي، د خلافت په مشهوریدو سره به ئې د مدینې منورې فوجونه مکې معظمې ته راشي، د شام، عراق او یمن اولیاء کرام او ابدال عظام ئې د ملګرتیا لپاره او د عربو د ملک بې حسابه خلک به ئې فوج کښې داخلیږي او هغه خزانه کومه چه په مکې معظمې کښې ښخ شوې ده او تاج الکعبه ورته وایي را باسي په آسمانونو ئې تقسیموي. (راتلونکي مفصل حالات ئې تر دې پورې چه دجال دمشق ته لاړ نه وي رسیدلی) حضرت امام مهدي علیه السلام به دمشق ته راځي او د جنګ لپاره پوره تیاري کوي او خپل فوځ تیاروي او د جنګ او جدل اسباب تقسیموي چه آذان کوونکی د مازدیګر آذان کوي. خلک د لمانځه په تیاري کښې وي چه حضرت عیسی علیه السلام د دوو ملاټکو په اوږو باندې تکیه کوونکی له آسمان ځخه د دمشق د جامع جومات په شرقي منارې باندې کوزیږي او دا آواز کوي چه (زینه راوړی). نو زینه به ورته راوړل شي او دی به پرې راکښته شي او له حضرت امام مهدیؑ سره ملاقات کوي، امام مهدي له ډیر ښه اخلاق او عاجزي سره ور مخکښې کیږي. (صحیح مسلم او داسې نور) او وایي چه ای د خدای نبي! امامت وکړی یعني لمانځه ته مخکښې شی. حضرت عیسی علیه السلام ورته وایي چه امامت تاسو وکړی ځکه چه په تاسو کښې ځینې د ځینو امامان یی او دا عزت دې امت لره الله تعالی ورکړی دی. بیا امام مهدي امامت ته وړاندې کیږي او حضرت عیسی ابن مریم علیه السلام اقتداء ورپسې کوي. (له دې وروسته دواړه یو ځای کیږي او د دجال د کفر او ګمراهۍ مقابله کوي) توله زمکه د امام مهدي د عدل او انصاف له رناګانو ځخه منوره او روښانه کیږي، ظلم او بې انصافي بیخي له منځه ځي، د ده عمر به ۴۹ کاله کیږي او وروسته له دې به حضرت امام مهدیؑ وفات شي، حضرت عیسی علیه السلام به ئې د جنازې لمونځ وکړي او دفن به ئې کړي. له دې وروسته ټول واړه او لوی انتظامات د حضرت عیسی علیه السلام لاس ته لویږي او ځلویښت کاله به په دنیا کښې پاتې کیږي. (دا ټول حالت په صحاح سته او د حدیثو په نورو کتابونو کښې مذکور دی د تفصیل لپاره د شاه رفیع الدینؒ "د قیامت علامات" کتاب وګوری. و الله اعلم!

﴿۳﴾ د اهل السنت و الجماعت عقیده ده چه له قیامت ځخه مخکښې عیسی ابن مریم علیهما السلام به له آسمانه راکوزیږي او دا عقیده د قرآن له بې شمیره نصوصو ځخه ثابته ده او د ذرې غوندې شك او شبهه پکښې نشته. د عیسی ابن مریم علیهما السلام د راکوزیدو په باره کښې دومره ډیر حدیثونه وارد شوي دي چه علماوو د مستقلو کتابونو په صورت کښې راټول کړي دي.

حضرت علامه العصر مولانا انور شاه کشمیريؒ په دې موضوع باندې "عقیده الاسلام في حیات عیسی علیه السلام" او "التصریح بما تواتر في نزول المسیح" (مرتبه مولانا مفتي محمد شفیعؒ) کښې د مسیح ژوند او راکوزیدل ئې په محققانه انداز باندې ثابت کړي دي چه

ټول ګڼ روایتونه او احادیث د تواتر تر اندازې پورې رسیږي. پاتې شوه دا چه دا عیسی، عیسی ابن مریم دی او که کوم بل عیسی؟ نو په دې باره کښې پخپله حضور ﷺ د عیسی علیه السلام د نزول په احادیثو کښې یواځې ابن مریم په ویلو سره د دغو دجالانو او کذابانو بیخ او بنیاد را ایستلی دی. د عیسی لفظ په اکثرو روایتونو کښې راغلی هم نه دی تر څوچه صبا ته کوم دجال له دې نامه ځخه غلطه استفاده و نه کړي. د حضرت ابو هریره رضی الله یو مشهور حدیث دی چه:

قال قال رسول الله ﷺ و الذی نفسی بیده لیوشکنّ ان ینزل ابن مریم حکماً عدلاً فیکسّر الصلیب و یقتل الخنزیر و یضع الجزیة و یفیض المال حتی لا یقبل احد. (حدیث حسن صحیح مشکوة ص۴۷۹، بحوالهٔ مسلم ترمذی ج۲، ص۴۶)

"نبي کریم ﷺ وفرمایل چه زما دې قسم په هغه ذات وي چه زما روح ئې په قبضه کښې دی چه نژدې دی د مریم زوی په تاسو کښې راکوز شي کوم چه عادل او په انصاف فیصله کوونکی دی. صلیب به مات کړي او خنزیر به قتل کړي او له کفارو ځخه د جذیې د نه قبلولو احکامات به جاري کړي، مال او دولت به دومره زیات شي چه څوك به ئې اخیستونکی پاتې نه وي".

د بخاري شریف او مسلم شریف په یو بل حدیث کښې دي چه:

قال کیف انتم اذا نزل ابن مریم فیکم و امامکم منکم. (متفق علیه بحواله مشکوة شریف ص۴۸۰)

"هغه وخت به ستاسو ځه حال وي چه کله ابن مریمؑ په تاسو کښې راکوز شي او ستاسو امام (مهدي) به خاص له تاسو ځخه وي.

د حضرت جابر رضی الله عنه په روایت کښې دي چه:

قال فینزل عیسی ابن مریم. (مشکوة بحواله مسلم شریف)

"حضور ﷺ وفرمایل چه بیا به عیسی ابن مریمؑ راکوز شي"

د حضرت عبد الله ابن عمر روایت دی چه:

قال قال رسول الله ﷺ ینزل عیسی ابن مریم الی الارض فیتزوج و یولد له و یمکث خمساً و اربعین سنةً ثم یموت فیدفن معی فی قبری فاقوم انا و عیسی ابن مریم فی قبرٍ واحد بین ابی بکر و عمر رضی الله عنهما. (مشکوة باب نزول عیسیٰ)

"له حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما ځخه روایت دی چه نبي کریم ﷺ وفرمایل چه حضرت عیسی ابن مریم علیه السلام به زمکي ته راکوز شي، واده به کوي او اولاد به ئې هم پیدا کیږي او تر ۴۵ کلونو پورې به پاتې شي بیا به وفات کیږي او زما په ځنګ کښې به دفن کیږي. بیا به د قیامت په ورځ زه او حضرت عیسی علیه السلام یو ځای د حضرت ابو بکر صدیق او حضرت عمر رضی الله عنهما تر منځ له قبر ځخه به پورته کیږو.

له دې برسیره نور ډیر احادیث دي چه په هغو کښې ابن مریم (د مریم زوی) تصریح موجوددی او د عیسی ابن مریم علیه السلام په باره کښې له اول ځخه تر آخره تولې نبۍ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

نښانې بیان شوي دي۔ د دغو ټولو حقائقو په موجودوالي کښې که چېرته څوک د مسیح موعود یا د مهدي آخر الزمان دعوی کوي یا د نبي کریم ﷺ په بیان شویو علامو باندې د سترګو په پټولو سره څوک د مهدي موعود یا نزول مسیح موعود یا د دجال او د اسې نورو واقعاتو په باره کښې فکرونه او قیاسونه جنګوي نو هغه ته باید له مجنون (لیونې) څخه زیاته توجه باید ورنه کړی شي۔

پاتې شوه د امام بن حسن عسکري مهدي کیدل۔ د اهل السنت و الجماعت په نزد د دې هیڅ حقیقت نشته۔ شیعه ګانو د مهدي د خروج د ابتداء په باره کښې له ځانه جوړ شوي امامان د اهل بیتو خوا ته په منسوبولو سره قیاس آرایی کړي دي کوم چه د تل لپاره غلط ثابت شوي دي۔ د دوی په کتابونو کښې دي چه:

﴿۱﴾ امامانو په ۷۰ هجري کښې د مهدي د را وتلو وعده کړې وه لیکن پوره نه شوه۔ (تصیحه الشیعه ج۲، بحواله ما في شرح کافي)

﴿۲﴾ امام جعفر صادقؒ پخپله مهدي جوړیدونکی وو لیکن جوړ نه شو۔ (تصیحه الشیعه ج۲، ص۲۳۸، بحواله کتاب الغیبت للطوسي)

﴿۳﴾ امام موسی کاظمؒ د مهدي د خروج لپاره ۲۰۰ هجري کال تاکلی وو چه هغه هم پوره نه شو۔ (پورتنی حواله ج۲، ص۲۳۸)

دا روایتونه او د مهدي د خروج دا وختونه او نیټې د امامانو په نامه د شیعه ګانو له ارتداد څخه د بچ کولو په خاطر جوړیدل چه د مهدي وخت مقرر دی او دیر زر راتلونکی دی۔ لکه څرنګه چه د شیعه ګانو د کتابونو د روایتونو له مخې پخپله امام باقرؒ ئې تردید او تکذیب کړی دی۔ د اصول کافي نومي کتاب روایت دی چه:

عن الفضل بن یسار عن ابی جعفر علیه السلام قال قلت لهذا الامر وقت فقال کذب الوقاتون کذب الوقاتون کذب الوقاتون. (تصیحة الشیعه ج۲، ص۲۳۸، بحواله اصول کافی ص۲۳۲)

"فضل بن یسار له امام باقرؒ څخه روایت کوي چه ما پوښتنه وکړه چه آیا د دې خبرې (د مهدي د خروج) لپاره کومه نیټه تاکل شوي ده؟ امام باقرؒ دري ځلي وویل چه د نیټې تاکونکو دروغ ویلي وو۔ (فقط والله اعلم)

په حضرت ابراهیم علیه السلام باندې ایمان راوړونکي خلك مسلمانان وو

سوال: جناب مفتي صاحب! آیا د حضرت ابراهیم علیه السلام منونکي خلك یا د ده د امت خلك د اسلام په دین وو او که نه؟ آیا الله تعالی په هغه وخت کښې یا له نن څخه د څوارلسو سوو کلونو مخکښینې کفارو ته چه کوم کمې او زیاتې دنیاوي ګټې رسیدلې هغه د مسلمانانو په وسیله ورسیدلې او که څنګه؟ څکه چه په سورت البقره په ۱۲۵ آیت کښې دي:

"چه کله ابراهیم علیه السلام وویل چه ای پروردګاره! ته دا ځای د امن ښار جوړ کړه او د دې

ځای اوسیدونکو ته کوم چه په الله تعالی او د قیامت په ورځې باندې ایمان راوړونکي دي له میوو څخه روزي ورکړه۔ الله تعالی وفرمایل چه زه کفارو ته هم لږه فائده ورکوم او بیا به ئې په زور او خواري بوځم عذاب د دوزخ ته، او بد ځای د ورتللو دی (هغه اور)"۔

آیا په پورتنی ترجمې کښې الله تعالی چه کفارو ته کومه لږه فائده ورکوي هغه د مسلمانانو له مخې ورکوي؟ په تفصیل سره ځواب راکړی ډیره مهرباني به مو وي؟

الجواب باسم ملهم الصواب: کومو خلکو چه په حضرت ابراهیم علیه السلام باندې ایمانونه راوړي وو هغه مؤمنان او مسلمانان وو او کومو خلکو چه ایمان پرې نه وو راوړی هغه کافران وو۔ د یوه حدیث مضمون دی چه په زمکې باندې تر څو پورې د الله د نامه اخیستونکی یو انسان هم موجود وي نو قیامت به نه راځي۔ له دې حدیث څخه څرګندیږي چه د دنیا د آبادۍ دارومدار په مسلمان پورې دی۔ (و الله اعلم بالصواب)

آیا قاتل سړی به د تل لپاره په جهنم کښې وي؟

سوال: د قرآنکریم له دې آیت چه فَجَزَآءُهٗ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا څخه څرګندیږي چه قاتل مسلمان به د تل لپاره په جهنم کښې وي په د اسې حال کښې چه د شفاعت له حدیثونو څخه دا څرګندیږي چه د تل لپاره به په جهنم کښې نه وي۔ دا تعارض څه ډول له منځه ځي؟ ځینې علماء کرام وایي چه لکه څرنګه د مقتول مرګ په هم هغه وخت کښې مقدر وي (په تقدیر کښې لیکل شوی وي) د دې لپاره په قاتل باندې به کومه ګناه نه وي۔ په د اسې حال کښې چه ځینې علماء دا وایي چه څوک بې ګناه قتل کیږي هغه شهید کیږي۔ اوس پوښتنه دا ده چه کله د مقتول مرګ په هم هغه وخت کښې تاکل شوی وي نو هغه به څرنګه شهید کیږي او قاتل ولې جهنم ته ور اچول کیږي؟ او که چېرته نومورې قاتل امام وي نو په هغه پسې لمونځ کیږي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د اهل السنت و الجماعت دا عقیده چه یوه سړي اګر که ډیر کبیره ګناهونه کړي وي چه کله د الله تعالی حضور ته وراندې کیږي په د اسې حال کښې چه هغه مؤمن وي نو خامخا دا الله تعالی جل جلاله په مغفرت باندې یا د نبي کریم ﷺ په شفاعت باندې په جهنم کښې د سزا له تیرولو او د سزا د نیټې له ختمیدو څخه وروسته خامخا جنت ته داخلیږي او د ایمان په برکت سره د تل لپاره جهنم ته نه ځي۔

د دې عقیدې په مطابق د فَجَزَآءُهٗ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا توجیه د اهل سنت و الجماعت په نزد دا ده چه قاتل به د یوې اوږدې مودې پورې په جهنم کښې پاتې کیږي، بیا به را ایستل کیږي او جنت ته به بیول کیږي نه دا چه د تل لپاره به جهنم کښې پاتې کیږي۔ د دې توجیه په مطابق له خلود څخه مراد ډیر ځنډ دی۔ دا هلته ممکن وي چه مسلمان ئې په حلال ګنلو سره نه وي قتل کړی۔ او که چېرته قاتل د مقتول قتل حلال ګنلی وي او قتل کړی ئې وي نو په دې صورت کښې د قطعي حرامو د حلال ګنلو له وجهې دی کافر کیږي او کافر به د تل لپاره په جهنم کښې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

وي۔ (اعاذنا الله منها) د دي تقدير په بناء باندې به له خلود څخه د وام (همیشه والی) مراد وي۔ علامه حافظ جلال الدين السيوطي، علامه قاضي خانؒ، علامه بيضاوي او نورو مفسرينو د دي تشريح کړې ده۔ اوس د آيت کريمه او د نبي کريمﷺ د شفاعت په حديث کښې کوم مخالفت او تکر پاتې نه شو۔

پاتې شوه دا خبره چه علماء وايي چه د مقتول مرګ په همدې دول مقرر وو نو هغه څرنګه شهيد شو او قاتل ولې جهنم ته د تللو مستحق جوړ شو؟ نو د دې ځواب د پوهيدو لپاره د لاندينې تکو خواته بايد توجه وکړی:

﴿الف﴾ يو مسلمان که چېرته دا غواړي چه زه له دنيا څخه رخصت شم او د الله تعالی دربار ته په داسې حالت کښې ورځم چه له ما سره د ايمان دولت وي نو د هغه لپاره تر ټولو مخکښې د دې شي ډېر ضرورت دی چه د خپل ايمان او عقيدې بنياد يواځې او يواځې د الله تعالی او د هغه د مکرم رسولﷺ په فرمانونو او احکاماتو باندې کښېږدي۔ د الله تعالی او د هغه د رسولﷺ له خوا څخه چه کوم حکم په لاس ورشي نو پرته له کوم چون او چرا څخه ئې اعتقاد أ تسليم کړي او په زړه کښې هيڅ ډول تنګي محسوس نه کړي او په عمل کښې پرې د پابند اوسيدو کوشش کوي۔ پاتې شوه د اسرارو او حکمتونو پلټنه نو دا اګر که بنه خبره ده ليکن يواځې د زړه د زيات اطمينان لپاره بنه ده نه د اصل ايمان لپاره۔ نو که چېرته د کوم خداوندي حکم رمز او حکمت په پوهه کښې را نه شي نو د دې به دا مطلب نه وي چه په هغه کښې د واقعيت له مخې کوم حکمت او مصلحت نشته بلکه زمونږ عقل د هغه تر حکمت پورې نه شي رسيدلی۔

﴿ب﴾ په دنيا کښې چه څومره نظامونه مخکښې تير شوي دي يا اوس د زمکې په مخ باندې قائم دي په هغو کښې يو هم داسې نظام نشته چه قوانين ئې نه وي او بيا د قوانينو په پابندي او سرغړونه کښې د جزا او سزا ورکولو اصول نه وي بلکه د هر نظام د کاميابۍ لپاره اصول او قوانين وي چه څوک ئې پابندي او احترام کوي هغه ته نيکه بدله ورکول کټړي او چه څوک ئې خلاف ورزي کوي نو هغه ته د جرم د نوعيت مطابق سزا ورکول کيږي۔

﴿ج﴾ د هر يوه نظام چلوونکي (د هم هغه نظام خلاف ورزي کوونکو) ته د قوانينو مطابق سزا ورکوي نو هيڅ يو عقلمند انسان د هغه دا کار د اعتراض وړ نه ګڼي او نه په دې خبرې کښې تردد او شک بنکاروي چه ولې د داسې وشول په داسې حال کښې چه جرم بنکاره او ثابت شوی وي اګر که دا هر څه په تقدير کښې هم ليکل شوي وي۔

اوس اصل ځواب دا دی چه د اسلام دين او محمدي شريعت يو الٰهي نظام دی، د دې نظام د اصولو، ضوابطو او قواعدو پابندي په بندګانو باندې د دې لپاره لازم کړی شوی دی چه په دنيا کښې فتنه او فساد پيدا نه شي ليکن په دې خبرې باندې هر څوک په آسانۍ سره

پوهيدلی شي چه الله تعالی مونږ ته د فکر کولو، پوهيدلو او پيژندلو توفيق راکړی دی، د بنه او بد د تميز کولو صلاحيت ئې را پکښې ايښی دی، د انتخاب او ارادې آزادي ئې راکړې ده، تصرفات او اختيارات ئې راکړي دي، مونږ ئې په بنې طريقې سره پوه کړي يو چه چا هم پخپل اختيار او ارادې باندې د الٰهي نظام له اصولو څخه انحراف يا خلاف ورزي وکړه هغه ته به خامخا سزا ورکول کيږي او چا چه د الٰهي نظام د اصولو پابندي وکړه هغه ته به انعام ورکول کيږي۔ قاتل لکه څرنګه چه له الٰهي حکم څخه سرغړونه پخپل اختيار کړې ده نو ځکه ضروري ده چه هغه پرې د سزا مستحق وګرځي۔ له مقتول څخه خلاف ورزي نه ده شوې بلکه د قانون پابند پاتې شوی دی، دی د انتقام د جذبې د ډېر جوش په وخت کښې د جبر په اختيارولو سره ميرانه بنکاره کړې ده۔ د دې لپاره د دې خبرې مستحق دی چه د الله تعالی په فضل او کرم سره د شهادت درجه ور په برخه شوه او همدا د عدل او انصاف عين تقاضا هم ده۔ په دې آيت کريمه کښې د دې خبرې خواته اشاره شوې ده چه: اَمْ نَجْعَلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ كَالْمُفْسِدِيْنَ فِي الْاَرْضِ اَمْ نَجْعَلُ الْمُتَّقِيْنَ كَالْفُجَّارِ۔

پاتې شوه دا خبره چه که چېرته قاتل د جومات امام وي نو په هغه پسې لمونځ کيږي او که نه؟ نو په دې باره کښې عرض دا دی چه که چېرته کوم بل صالح امام نه وي نو بيا لمونځ ورپسې جائز دی۔

د قيامت په ورځ به د توبه ايستونکي سړي سره هم حساب او کتاب کيږي

سوال: يوه سړي لوی او واړه ګناهونه کول او په آخر کښې ئې توبه و ايسته، د بندګانو کوم حقوق ئې چه په غاړه پاتې وو هغه ئې تول ادا کړل يا ئې پرې معاف کړل او د الله تعالی په حقوقو کښې ئې له الله تعالی څخه په زاريو او ژړا باندې معافي وغوښته او بنه د زړه په خلوص او صدق سره ئې له خپلو ګناهونو توبه و ايسته۔ له توبې وروسته بيا تر مرګه پورې کومه وړه يا لويه ګناه تري نه ده صادر شوې، د ځنکدن په حالت کښې ئې د شهادت کلمه هم په ژبې باندې جاري شوه۔ اوس پوښتنه دا ده چه د قيامت په ورځ له داسې سړي څخه هم حساب او کتاب اخيستل کيږي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د قرآن کريم ارشاد دی چه: فَاَمَّا مَنْ اُوْتِيَ كِتٰبَهٗ بِيَمِيْنِهٖ فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَّسِيْرًا ۝ وَّ يَنْقَلِبُ اِلٰٓى اَهْلِهٖ مَسْرُوْرًا ۝ وَ اَمَّا مَنْ اُوْتِيَ كِتٰبَهٗ وَرَآءَ ظَهْرِهٖ فَسَوْفَ يَدْعُوْا ثُبُوْرًا ۝ وَّيَصْلٰى سَعِيْرًا ۝ (سورة الانشقاق آيت ۷ تا ۱۲)

له دې آيت کريمه څخه څرګنده شوه چه د قيامت په ورځ له تولو خلکو سره حساب او کتاب کيږي، که هغه کامل ولي وي يا فاسق او فاجر، که ئې له مرګ څخه مخکښې توبه ايستلې وي او که پرته له توبې څخه مرګ ورته راغلی وي۔ ليکن په حساب او کتاب کښې به فرق وي، له نيکانو څخه به د محبت په بناء پوښتنې کيږي په داسې حال کښې چه له فساقو، فجارو او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

کفارو سره د مناقشې په صورت کښې محاسبه کیږي کوم چه د سختۍ او هلاکت سبب دی۔ په حدیث شریف کښې راغلي دي چه: "فان من نوقش هلك (الحدیث) (له چا سره چه مناقشه وشوه هغه هلاك شو) له دې وجهې له توبه ایستونکي سړي سره به هم حساب او کتاب کیږي لیکن د هلاکت او کلفت یعني سختۍ په اند از به نه وي بلکه د محبت په توګه به وي۔

د آسمان او سپوږمۍ تحقیق

سوال: څه فرمایي علماء کرام د لاندینۍ مسائلو په باره کښې چه:

﴿۱﴾ آسمان یو کلك او جامد جسامت لري او که یو اځې په قدرتي توګه یو ډول پرده دي؟

﴿۲﴾ آیا سپوږمۍ د آسمان په منځ کښې واقع دی او که له آسمان څخه لاندې په فضاء کښې زوړند دی؟

﴿۳﴾ د حدیثو له مخې د معراج په شپه کښې د آنحضرت ﷺ لپاره چه کومې دروازې خلاصیدلې هغه نورانې دروازې وې او که له عادي مادي څخه جوړې شوې دروازې وې؟

﴿٤﴾ دا چه د قرآن او حدیث له مخې د کوم مادي شي د سائنسي آلاتو او اسبابو په ذریعې سره تر سپوږمۍ یا مریخ پورې رسیدل ممکن دي او که نه؟

هیله ده چه تاسو په دې باره کښې زمونږ شکونه او شبهې د قرآنکریم، حدیثو او فقهي امامانو د رأیو په رنا کښې رفع کړئ؟

الجواب باسم ملهم الصواب: ستاسو د پوښتنو په ترتیب سره ځوابونه حاضر دي او هیله ده چه ستاسو د تسلّي ذریعه وګرځي۔

﴿۱﴾ د الله تبارك و تعالی ارشاد دی چه: وَبَنَيْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعًا شِدَادًا (او مونږ ستاسو په سر باندې اوه مضبوط آسمانونه جوړ کړي دي چه په هغو کښې تر ننه پورې د دومره مودې په تیریدو سره هم کوم درز نه دی پیدا شوی۔ وَفُتِحَتِ السَّمَآءُ فَكَانَتْ اَبْوَابًا☆ (یعني د قیامت په ورځ آسمان به د اسې مات شي چه گوا که ټول به دروازې دروازې وي) يَوْمَ تَشَقَّقُ السَّمَآءُ بِالْغَمَامِ (او هغه ورځ چه آسمان به په وریځو باندې وځیرل شي) اِذَا السَّمَآءُ كُشِطَتْ (او چه کله د آسمان پوستکی واړول شي) یعني لکه څرنګه چه د څناور پوستکی له حلالولو وروسته اړول کیږي نو ټول اند امونه، رګونه او ریښې ټې بښکاریږي۔ همدا ارنګه د آسمان د پوستکي له اړولو وروسته د هغه په منځ کښې به ټول شیان په نظر راځي۔ اِذَا السَّمَآءُ انْشَقَّتْ (چه کله آسمان څیرې شي) اِذَا السَّمَآءُ انْفَطَرَتْ (چه کله آسمان څیرې شي، مات شي) وغیر ذلك من الآیات مثل وَ جَعَلْنَا السَّمَآءَ سَقْفًا مَّحْفُوْظًا ــــــ

دا او په دې ډول نور قرآني آیتونه چه کله د مفسرینو د تحقیقاتو او حدیثي نصوصو د تشریحاتو په رنا کښې وکتل شي نو په څرګنده توګه ترې معلومیږي چه آسمان یو جامد او کلك جسامت لري او یو اځې قدرتي پردې نه دي ځکه چه کوم صفات په نومورې آیتونو کښې د آسمان په اړه بیان شوي دي لکه انشقاق، انفطار، فتح ابواب، شدت، سقف محفوظ او د اسې نور

نو دا د یو کلك جسامت لرونکي شي کیدلای شي۔ د دې حقیقت په بناء باندې د معراج په شپه کښې چه د حدیث له مخې کومې دروازې نبي کریم ﷺ ته خلاصې شوې دي هغه د کلك او جامد شي څخه جوړې شوې دروازې دي نه چه نورانې دروازې۔

﴿۲﴾ سپوږمۍ او لمر دوه سیارې دي او د شرعي نقطهٔ نظر له مخې تولې سیارې په فضاء (د آسمان او زمکې تر منځ) کښې معلقې (زوړندې) دي۔ په آسمان کښې د ننه یو ستوری هم نشته، دا د سلفو قول دی۔ له حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنه څخه په تفسیر روح المعاني ج۳۰، ص۵۱ کښې د سورت تکویر په تفسیر کښې منقول دي چه: النجوم قنادیل معلقة بین السماء و الارض بسلاسل من نور بایدی الملائکة. د جدید و فلاسفه وو قول هم دي ته ورته دی، هغوی هم دا وایي لیکن هغوی د جذب قائل دي او د نور د زنځیرونو قائل نه دي۔ و یقرب منه قول الفلاسفة الجدیدة لکن با لجذب ــــــ همدا ډول د امام ابو حنیفهٔ د استاذ عطاء بن رباح هم همدا خبره کړې ده۔ علامه آلوسي د سورت طلاق په تفسیر کښې د وَمِنَ الْاَرْضِ مِثْلَهُنَّ آیت لاندې لیکلي دي چه: و لم یقم دلیل علی ان شیئاً من الکواکب مغروز فی شیءٍ من السمٰوٰت کالقص فی الخاتم و المسمار فی اللوح.

په دې ځاي کښې علامه آلوسي د اسرائیلي روایتونو تردید هم کړی دی او ویلي ئې دي چه: نعم اکثر الاخبار فی امر السمٰوٰت و الارض لا یعول علیها اشار الیه النسفی فی بحر الکلام.

پاتې شوه دا چه له کومو آیتونو څخه چه د ستورو په آسمان کښې کیدل مترشح کیږي (په مجازي توګه څرګندیږي) تردید ئې د روح المعاني په ۱۷، ۱۸، ۳۰ جلد کښې موجود دی۔ علامه آلوسي د كُلٌّ فِيْ فَلَكٍ يَّسْبَحُوْنَ په تفسیر کښې لیکي: قال اکثر المفسرین هو موجٌ مکفوف تحت السمآء تجری فیه الشمس و القمر و قال الضحاك هو لیس بجسم بل مدار هذه النجوم. ګوا که د اسلام اکثرو مفسرینو د کواکبو (ستورو) محل چه په هغه کښې لمر او سپوږمۍ چکر وهي تحت السمآء یعني د آسمان لاندې تسلیموي نه فی السمآء (نه په آسمان کښې د ننه)۔

﴿۳﴾ د روس او امریکي د تسخیر له اوسني کارنامو څخه په اسلامي تعلیماتو باندې هیڅ اثر نه لویږي۔ که چیرته کوم اثر اچوي هغه په یوناني علم الفلك او بطلیموس په هیئت باندې اچوي او بیا ئې په مختلفو اسرائیلي روایتونو اچوي۔ تر اوسه پورې خو سپوږمۍ، مریخ او زهرې ته د رسیدلو کوشش دوام لري لیکن تولو کواکبو (ستورو) ته کوم چه ډیره لرې خبره ده وُ هم رسیږي نو بیا هم په اسلامي تحقیق باندې هیڅ اثر نه لویږي۔

حضرت مولانا شمس الحق افغاني صاحب د "اکثر تمول خبره کوم چه په "جغرافیهٔ عالم" نومي کتاب کښې ئې لیکلی دی، را نقل کوي چه د خورد بینونو (ذره بین) په ذریعه چه کوم ستوري په نظر راتلی شي د هغو تعداد اوو میلیارد و ته رسیږي۔ او کوم چه په هیڅ صورت کښې هم په نظر نه شي راتللی د هغو تعداد له شمیر څخه د باندې دی۔ البته که چیرته د غو تولو ستورو ته سړی ورسیږي نو بیا هم آسمان ته د رسیدو سوال هم نه پیدا کیږی یعنې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

هیڅکله آسمان ته نه شي رسیدلی.

﴿٤﴾ د سائنسي آلاتو په امداد سپوږمی. او مریخ نومي سیاري پوري د رسیدلو کوشش جاري دی لیکن دا خبره مستبعده ده.

د خلایي سفر شرعي حیثیت

سوال: جناب مفتي صاحب! د قرآن او حدیثو په رنا کښي تر لمر او سپوږمی پوري تګ ممکن دی او که نه؟ او یو مسلمان به په دي باره کښي باید څه عقیده ولري؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: په دي اړه عرض دا دی چه د انسان لپاره لمر او سپوږمی ته ور ختل ممکن دي او له دي څخه په قرآن، حدیث او ایماني حکمت باندي هیڅ اثر نه لویږي. البته په یوناني حکمت باندي خو ني خامخا اثر لویږي. په دي عقیدي باندي ډیر دلائل موجود دي، د اختصار له وجهي دلته یو اځي د دریو دلیلونو په بیانولو باندي اکتفا کوو.

﴿١﴾ د حضرت عیسیٰ علیه السلام په اړه د اهل اسلام اجماعي عقیده دا ده چه هغه آسمان ته له عنصري جسد سره ور خیژول شوی دی او دا عقیده له قرآنکریم، حدیث، اقوال سلف او اجماع امت څخه د رنا ورځي په شان ثابته ده. نو که چېرته خلایي سفر ناممکن وی نو عیسیٰ علیه السلام به آسمان ته نه وای خیژول شوی.

﴿٢﴾ خاتم الانبیاء و المرسلین حضرت محمد مصطفیﷺ د معراج په شپه کښي له خپل اطهر جسد سره آسمانونو ته وخیژول شو او سدره المنتهیٰ بلکه له دي څخه هم پورته مقام ته ورسیده. په قرآنکریم او د احادیثو په ذخیره کښي دا خبره په څرګنده توګه واضحه ده. نو معلومه شوه چه خلایي سفر د انسان لپاره اګر که د عادت خلاف دی لیکن د شریعت خلاف نه دی.

﴿٣﴾ الله تعالی فرمایي چه: وَ اِنْ كَانَ كَبُرَ عَلَيْكَ اِعْرَاضُهُمْ فَاِنِ اسْتَطَعْتَ اَنْ تَبْتَغِيَ نَفَقًا فِي الْاَرْضِ اَوْ سُلَّمًا فِي السَّمَآءِ فَتَاْتِيَهُمْ بِاٰيَةٍ. (سورة الانعام)

(که چېرته ته دا غواړي چه یو ډول نه یو ډول دا کافران مسلمانان شي نو بیا ته پخپله د دي انتظام وکړه او لسباب برابر کړه او د هغو په ذریعه باندي زمکي یا آسمان ته لاړ شه کومه فرمایشي معجزه راوړه که چېرته ته پري قدرت لري)

الله تعالی په دي آیت کښي د معجزي د غیر اختیاري والي او تسلی. د ورکولو په ضمن کښي زمکي ته د ور ننوتو او آسمان ته د ور ختلو د اسبابو د امکان په طرف هم اشاره کړې ده، لهذا دا کوم ناممکن شی نه دی بلکه ممکن او کیدونکی امر دی.

د قرآن او حدیثو له مخې په مسلمان او کافر کښي دا فرق موجود دی چه د کافر روح که له جسم سره وي او یا له جسم څخه جلا وي تر آسمانه پورې تلای شي لیکن آسمان ته ختلی نه شي. الله تعالی فرمایي: اِنَّ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَ اسْتَكْبَرُوْا عَنْهَا لَا تُفَتَّحُ لَهُمْ اَبْوَابُ السَّمَآءِ وَ لَا يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ حَتّٰى يَلِجَ الْجَمَلُ فِيْ سَمِّ الْخِيَاطِ. (سورة الاعراف، ع٥)

"کوم خلك چه زمونږ آیتونه دروغ ګڼي او د تکبر له مخي اعراض تري کوي هغو ته د آسمان دروازي نه خلاصیږي او هیڅ کله به جنت ته لاړ نه شي تر څو پوري چه اوښ د ستني له سپم څخه تیر نه شي".

او پیغمبر علیه الصلوٰة و السلام چه: فیفتح له فلا یفتح ثم قرء الآیة المذکورة ثم تطرح روحه رواه احمد. (مشکوة ص١٥٦)

"د کافر د روح لپاره به د آسمان د دروازي د خلاصولو غوښتنه وکړای شي نو د هغه لپاره به دروازه خلاصه نه شي او بیرته به را وغورځول شي".

یوه شبهه او د هغې رفع

دلته یو سوال پیدا کیږي چه د صحیحینو په روایت کښي راغلي دي چه د معراج په شپه کښي د اسلام ستر پیغمبر محمد مصطفیﷺ په اول آسمان کښي له حضرت آدم علیه السلام سره د ملاقات په وخت کښي هغه په یوه عجیب حالت کښي ولیده چه د هغه په ښي او چپي خوا کښي څه خلك په نظر راتلل. نو چه کله به حضرت آدم علیه السلام ښي طرف ته وکتل نو و به ځي خندل او چه کله به ځي کیني خوا ته وکتل نو و به ځي ژړل. د نبي کریمﷺ د پوښتني په ځواب کښي حضرت جبریل علیه السلام په دي اړه وفرمایل چه: "دا خلك د حضرت آدم علیه السلام اولاد دي. د ښي طرف خلك جنتیان دي او د کیني طرف خلك دوزخیان دي". نو سوال دا دی چه دوزخي او کافر څرنګه په آسمان کښي د نبي کریمﷺ ترسترګو شو؟ په داسي حال کښي چه د کفارو ارواح او جسمونه آسمان ته نه شي ختلای؟ بینوا توجروا.

د دي ځواب دا دی چه په قرآن او حدیث کښي د هغو ارواحو آسمان ته د نه ختلو یادونه شته کوم چه په اجسامو کښي یو ځل داخل شوي وي په داسي حال کښي چه د حضرت آدم علیه السلام سره هغه ارواح وو کوم چه تر اوسه پوري په جسمونو کښي داخل کړی شوي نه وو او تر اوسه پوري له هغو څخه د کفر ظهور نه وو شوی. او دوهم ځواب دا دی چه ځینې ارواح په هغه وخت کښي په اجسامو کښي وو او ځینې په سجین کښي وو او ځینې په هم هغه ځای کښي موجود وو په کوم ځای کښي چه له جسم سره د اړوند والي څخه مخکښي ځای په ځای وو لیکن حضرت آدم علیه السلام او نبي کریمﷺ ته د کشف له وجهي نژدې او په آسمانونو کښي ښکاریدل.

د لمر او سپوږمی صعود

په قرآن او حدیث کښي د لمر او سپوږمی د ځای په باره کښي چپ والی دی او د "كُلٌّ فِيْ فَلَكٍ يَّسْبَحُوْنَ" آیت څخه دا مه فهموی چه دوی په آسمان کښي دي ځکه چه فلك ګرد (داتري غوندي) شي ته ویل کیږي او د لمر او سپوږمی حرکت لکه څرنګه چه مستدیر (چار چاپیره

گرځیدونکی) دی د دې لپاره د دغو دواړو مدار ته قلك وویل شو که هغه آسمان وي یا هغه فضا وي کومه چه د دوو آسمانونو په منځ کښې موجوده وي یا هغه فضا چه د آسمان او زمکې تر منځ موجوده ده یاد آسمان ثخن تري مراد دی۔ له سلف صالحینو څخه د دُر منثور په تفسیر او د اسې نورو کښې مختلف تفسیرونه منقول دي۔ علامه آلوسي بغدادي رحمه الله د "كُلٌّ فِي فَلَكٍ يَسْبَحُونَ" آیت په تفسیر کښې فرمایي چه: و قال اکثر المفسرون هو موجٌ مکفوف تحت السماء تجری فیه الشمس و القمر.

"اکثر مفسرین دا وایي چه له دې څخه مراد د آسمان لاندې مکفوف موج (څپه) ده چه په هغې کښې لمر او سپوږمی خپل گردش کوي۔

البته یوناني حکماء وایي چه سپوږمی په لومړي آسمان کښې دی او لمر په څلورم آسمان کښې دی۔ اوس که چېرته کوم کافر انسان سپوږمی یا لمر ته وخیژي نو د قرآن او حدیث د تقاضو مطابق مونږ دې نتیجې ته رسیږو چه لمر او سپوږمی تر آسمان لاندې دي او د یوناني حکماوو دا عقیده غلطه ده چه لمر او سپوږمی په آسمانونو کښې دي او که چېرته په ریښتیا هم آسمان کښې وای نو بیا کافر هغو ته نه شوای رسیدلای۔ په هر حال اثر نې په ایماني حکمت باندې نه لویږي بلکه په یوناني حکمت نې لویږي۔

د عـــــروج د خاوند انو بعث

لمر او سپوږمی ته تر رسیدلو وروسته که چېرته څوك هلته مړ شي نو د هغه په اړه د قرآنکریم له ظاهرو الفاظو څخه څرګندیږي چه د هغه د بدن تولې یا ځینې اجزاوي زمکې ته له دوهم نفخ (پوکې) څخه مخکښې (په دنیا یا قیامت کښې تر لومړني نفخ څخه وروسته) رسیږي۔ الله تعالی فرمایي: مِنْهَا خَلَقْنَاكُمْ وَفِيهَا نُعِيدُكُمْ وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً أُخْرَى. (سورة طٰہٰ، ع۳)

"مونږ تاسو له زمکې څخه پیدا کړی او همدغې زمکې ته مو بیرته را ګرځوو او له همدغې زمکې مو بیرته راباسو"۔

و الله تعالی اعلم و علمه اتم

د حضرت ابراهیم علیه السلام د کورنۍ په باره کښې د یوې پوښتنې ځواب

سوال: څه فرمایي علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چه:

﴿۱﴾ زید د تقریر په دوران کښې وایي چه د حضرت ابراهیم علیه السلام کورنۍ بت فروشه او بت پرسته وه۔ په دې خبرې باندې عمر په چتکۍ سره اعتراض وکړ چه د حضرت ابراهیم علیه السلام کورنۍ توحید پرسته وه۔ نو آیا د زید خبره په حقه ده او که د عمر؟

﴿۲﴾ عمر وایي چه په لغت کښې آزر خدا پرست ته وایي۔ آیا د عمر دا خبره د قبول وړ ده او که نه؟

﴿۳﴾ "لِأَبِيهِ آزَرَ" دلته له اب څخه مراد تره او یا نور حقداران کیدلی شي او که څنګه؟ بینوا توجروا

﴿٤﴾ آیا د قرآنکریم په کوم بل ځای کښې د اب له لفظ څخه د تره معنی اخیستل شوې ده او که نه؟ د دغو تولو مسائلو تحقیقي ځوابونه راکړی؟

الجواب باسم ملهم الصواب: ﴿۱﴾ قرآنکریم د دې ګواه دی چه د سیدنا حضرت ابراهیم علیه السلام پلار مشرك او بت پرسته وو او توله کورنۍ نې په هغه وخت کښې بت پرسته وه۔ همدا وجه ده چه حضرت ابراهیم علیه السلام بابل او عراق پریښوده او د شام خوا ته په تللو باندې مجبور شو۔ یواځې حضرت لوط علیه السلام چه د هارون زوی وو او حضرت ساره رضی الله تعالی عنها چه حضرت ابراهیم علیه السلام ته تابع شوه له ابراهیم علیه السلام سره د شام خوا ته هجرت وکړ۔ او بیا حضرت لوط علیه السلام د سدوم نومي ځای ته په پیغمبرۍ باندې مبعوث کړی شو۔ په قرآنکریم کښې د الله تعالی ارشاد دی چه: وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّهُ كَانَ صِدِّيقًا نَّبِيًّا ۝ إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ يَا أَبَتِ لِمَ تَعْبُدُ مَا لَا يَسْمَعُ وَلَا يُبْصِرُ وَلَا يُغْنِي عَنكَ شَيْئًا ۝ يَا أَبَتِ إِنِّي قَدْ جَاءَنِي مِنَ الْعِلْمِ مَا لَمْ يَأْتِكَ فَاتَّبِعْنِي أَهْدِكَ صِرَاطًا سَوِيًّا ۝ يَا أَبَتِ لَا تَعْبُدِ الشَّيْطَانَ إِنَّ الشَّيْطَانَ كَانَ لِلرَّحْمَٰنِ عَصِيًّا ۝ يَا أَبَتِ إِنِّي أَخَافُ أَن يَمَسَّكَ عَذَابٌ مِّنَ الرَّحْمَٰنِ فَتَكُونَ لِلشَّيْطَانِ وَلِيًّا ۝ قَالَ أَرَاغِبٌ أَنتَ عَنْ آلِهَتِي يَا إِبْرَاهِيمُ لَئِن لَّمْ تَنتَهِ لَأَرْجُمَنَّكَ وَاهْجُرْنِي مَلِيًّا ۝ قَالَ سَلَامٌ عَلَيْكَ سَأَسْتَغْفِرُ لَكَ رَبِّي إِنَّهُ كَانَ بِي حَفِيًّا ۝ وَأَعْتَزِلُكُمْ وَمَا تَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ وَأَدْعُو رَبِّي عَسَىٰ أَلَّا أَكُونَ بِدُعَاءِ رَبِّي شَقِيًّا ۝ فَلَمَّا اعْتَزَلَهُمْ وَمَا يَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ وَهَبْنَا لَهُ إِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ وَكُلًّا جَعَلْنَا نَبِيًّا ۝ وَوَهَبْنَا لَهُم مِّن رَّحْمَتِنَا وَجَعَلْنَا لَهُمْ لِسَانَ صِدْقٍ عَلِيًّا ۝ (سورة مریم)

دا آیت کریمه په څرګنده توګه دلالت کوي چه د حضرت ابراهیم علیه السلام پلار وو او پلار او قوم نې ګمراه وو ځکه چه قوم نې حقه لاره پریښې وه او د شرك او بت پرستۍ لاره نې غوره کړې وه۔ د انساب علماوو د حضرت ابراهیم علیه السلام د پلار نوم "تارخ" لیکلی دی، کیدای شي چه تارخ به نې نوم وو او آزر به نې لقب وو۔ علامه ابن کثیر رحمه الله له مجاهد او د اسې نورو څخه نقل کوي چه "آزر" د یوه بت نوم وو۔ کیدای شي چه د همدې بُت د ډیر خدمت په کولو سره پخپله د هغه لقب آزر شوی وي۔ د لغاتو په یوه کتاب کښې هم مونږ آزر د خدا پرست په معنی نه دی لیدلی۔ او که چېرته بالفرض معنی خدا پرست هم شي نو لکه څرنګه چه هغه هم او قوم نې هم ځانونه خدا پرسته ګڼل او باطلو معبودانو ته نې د خدایی د درجې په ورکولو سره نې خدایي صفات او اختیارات هغو ته سپارل۔ له همدې وجهې څخه هغوی ځانونه خدا پرسته بللل۔ لیکن له دې څخه دا نه ثابتیږي چه هغوی موحدین هم وو په دې حال کښې چه قرآني آیتونه د هغه شرك او بُت پرستي ښکاره کوي۔ إِنِّي أَرَاكَ وَقَوْمَكَ فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ۝

له دې څخه په څرګنده او واضحه توګه ګواهي شوې ده چه اشرف المخلوقات (انسان)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

پخپل لاس باندې له ډبرو څخه جوړو شوو بتانو ته د خدایي د درجې په ورکولو سره د هغو مخې ته د سجدې سر ټیټوي او له هغو څخه خپل مرادونه غواړي- زما په نزد خو په دې مسئلې کښې زید په حقه دی-

﴿۲﴾ د لومړي سوال په ځواب کښې د دې ځواب هم وشو چه د آزر معنی خدا پرسته مونږ په یوه کتاب کښې هم نه دی لیدلی بلکه آزر د یوه بت نوم وو او د مجاهد رحمه الله په قول که چېرته ئې معنی خدا پرسته هم شي نو له دې څخه د هغه خدا پرستي نه ثابتیږي-

﴿۳﴾ په ترې باندې د اب مجازاً اطلاق کیږي لیکن د هغه لپاره باید چه قرینه موجوده وي چه دلته له اب څخه خپله حقیقي معنی مراد نه ده لکه څرنګه چه حضرت یعقوب علیه السلام له خپلو زامنو څخه پوښتنه وکړه چه "مَا تَعْبُدُوْنَ مِنْ بَعْدِیْ؟" نو زامنو ئې په ځواب کښې ورته وویل چه "نَعْبُدُ اِلٰهَكَ وَ اِلٰهَ اٰبَآئِكَ اِبْرٰهِیْمَ وَ اِسْمٰعِیْلَ وَ اِسْحٰقَ اِلٰهًا وَّاحِدًا" نو دلته ئې اسمٰعیل علیه السلام ته د یعقوب علیه السلام پلار ویلی دی په دې حال کښې چه هغه د یعقوب علیه السلام تره وو- ځکه چه له قرآنکریم څخه دا ثابته ده چه اسمٰعیل او اسحٰق علیهما السلام سره وروڼه وو او یعقوب علیه السلام د اسحٰق علیه السلام زوی وو- لیکن د انساب علماوو د ابراهیم علیه السلام د پلار نوم "تارخ" لیکلی دی او کوم څوک چه قرآنکریم د آزر په نامه یا لقب سره یاد کړی دی د دې هیڅکله تصریح نه ده شوې چه "تارخ" او "آزر" د کوم دریم سړي زامن وو- د سورت انعام له نومورې آیت څخه وروسته او د نهمې سیپارې د سورت توبه یو آیت ولولئ:

چه کوم خلك آزر لره د ابراهیم علیه د تره د ثابتولو کوشش کوي د هغوی دا ټول کوششونه د دې لپاره دي چه د حضرت ابراهیم علیه السلام پلار موحد وو، مشرك نه وو- او آزر ته قرآنکریم مشرك ویلي دي د دې لپاره آزر د ابراهیم علیه السلام تره نه وو- لیکن د هغو دا ټول کوششونه ناکامه دي ځکه چه قرآنکریم پخپله په صراحت سره وایي چه د حضرت ابراهیم علیه السلام پلار مشرك وو- "وَ مَا كَانَ اسْتِغْفَارُ اِبْرٰهِیْمَ لِاَبِیْهِ اِلَّا عَنْ مَّوْعِدَةٍ وَّعَدَهَآ اِیَّاهُ فَلَمَّا تَبَیَّنَ لَهٗۤ اَنَّهٗ عَدُوٌّ لِّلّٰهِ تَبَرَّاَ مِنْهُ." (الآیة)

په سورت مریم کښې راغلي دي چه کله د ابراهیم علیه السلام پلار د حق له قبلولو څخه مخ وګرځاوه او د ضد، حسد او عناد په بنکاره کولو سره ئې د قتل اخطارونه ورکړل نو ده مبارك علیه السلام د مور او پلار د ادب او احترام په لحاظ کولو سره ورته وویل چه: "سَلٰمٌ عَلَیْكَ سَاَسْتَغْفِرُ لَكَ رَبِّیْ اِنَّهٗ كَانَ بِیْ حَفِیًّا" "یعنې زه له خدای تعالی څخه ستا لپاره مغفرت غواړم" د دې وعدې مطابق به ده د تل لپاره د مغفرت دعاګانې ورته کولې لکه څرنګه چه په بل ځای کې هم د دې تصریح موجوده ده چه "وَ اغْفِرْ لِاَبِیْ".

د دې مطلب دا نه وو چه ابراهیم علیه السلام یوه مشرك ته د شرك په حالت باندې د باقي پاتې کیدو په صورت کښې د مغفرت دعاګانې کولې بلکه مطلب دا وو چه الله تعالی هغه

ته توفیق ورکړي چه د شرك له حالت څخه ووځي او د اسلام له برکت څخه ډکې غیږې ته راشي او د اسلام قبلول د هغه د ګناهونو د معافۍ کید و سبب وګرځي- "ان الاسلام یهدم ما کان قبله"

په قرآنکریم کښې د حضرت ابراهیم علیه السلام د استغفار د بیان په تلاوت کولو سره د ځینو صحابۀ کرامو په زړونو کښې هم دا خبره راغله چه مونږ به هم د خپلو مشرکینو والدینو په حق کښې استغفار وکړو- د دې ځواب الله تعالی دا سې ورکړ چه "ابراهیم علیه السلام یوائې د وعدې په بناء سره تر هغه وخته پورې د خپل پلار لپاره استغفار کاوه تر څو پورې چه په ده مبارك باندې په یقیني توګه دا نه وه څرګنده شوې چه دی د کفر، شرك او د خدای په دښمني باندې مړ کیږي- ځکه چه له مړ کیدو څخه مخکښې دا احتمال موجود وو چه بنایي چه توبه وکړي او مسلمان شي او وبخښل شي- بیا چه کله په کفر او شرك باندې له خاتمې څخه خبره څرګنده شوه چه هغه د حق له دښمنۍ څخه منع کیدونکی نه وو نو حضرت ابراهیم علیه السلام له هغه څخه یو مخ بیزاره شو او دُعا او استغفار ئې پریښوده-

په حدیثو کښې دي چه د قیامت په ورځ حضرت ابراهیم علیه السلام د الله تعالی له لوی دربار کښې عرض کوي چه خدایا! ستا وعده ده چه ته به ما نه رسوا کوي لیکن له دې څخه پورته رسوایي به څه وي چه پلار مې د ټول عالم په مخکښې دوزخ ته ور اچول کیږي- په دې وخت کښې به د ده د پلار صورت مسخ شي او د ضبع (کربوړي) غوندې به جوړ شي بیا ئې ملائکې را نیسي او جهنم ته ئې اچوي- (تفسیر رفیع الشان)

د کاملې پوهې او پوره عقل لرونکي خلك پخپله اندازه لګولی شي چه دا حشر به د کوم مشرك وي او که د کوم موحد؟ همدومره ځواب به کافي او شافي وي- (فقط و الله اعلم)

آیا نبي کریم ﷺ ته د دې حکم شوی وو چه بُت خانو ته لاړ شي او تبلیغ وکړي؟

سوال: محترم المقام جناب مفتي صاحب! یو سړی کوم چه د یوه جومات امام دی او خلك ورته ډیر لوی عالم دین هم وایي- یوه ورځ ئې په جومات کښې د ماسپښین د سنت لمانځه له ادا کولو وروسته وویل چه نن صباسړی چه په کار کښې ولګیږي بس هم هغه کوي او بلې خوا ته ئې هیڅ فکر او میلان نه وي- چه څوك اسلام ته راځي کوي نو هغوی یوائې په لمونځونو مشغول وي له نورې دنیا څخه بالکل خبر نه وي، چه څوك روژې نیسي نو هغه ته د بل شي هیڅ معلومات نه وي، چه څوك نوکري کوي هغه پخپل حال کښې مست وي او د پاتې دنیا هیڅ فکر ورسره نه وي- باید چه مونږ ګرجو، کلیساوو او بت خانو ته لاړ شو او د هر شي بنیاد وګورو- الله تعالی خپل حبیب حضرت محمد مصطفی ﷺ ته حکم ورکړی وو چه ته کلیساوو، ګرجو او بُت خانو ته لاړ شه- په جومات کښې یو څو لمونځ کوونکي موجود وو- له هغو څخه یوه پوښتنه وکړه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

چه آیا ته د الله تعالی دا حکم کوم چه هغه رسول الله ﷺ ته ورکړی وو له قرآنکریم څخه ثابتولی شی؟ نو په دې باندې امام صاحب ډیر خفه شو او په صبا ئې پخپلې هغې خبرې باندې د پردې د اچولو او پټولو لپاره د خلکو په وړاندې وویل چه دا د راز او نیاز خبرې دي د هر سړي سر نه پرې خلاصیږي. زما د پرون ورځې د خبرو مطلب دا وو چه الله تعالی خپل پیغمبر ﷺ ته بُت خانو ته د بُتانو ماتولو لپاره د ورتګ حکم ورکړی وو لکه څرنګه چه حضرت ابراهیم علیه السلام بُت خانې ته تللی وو او بتان ئې مات کړي وو. او رسول کریم ﷺ په کعبې مبارکې کښې د هر بُت نوم اخیست او ماتاوه ئې. اوس د پوښتنې وړ خبره دا ده چه:

﴿۱﴾ آیا الله تعالی رسول کریم ﷺ ته بُت خانو ته د تللو حکم ورکړی وو؟

﴿۲﴾ آیا الله تعالی رسول کریم ﷺ ته د دې حکم کړی وو چه بُت خانو ته لاړ شي او بُتان مات کړي؟ که جبرته ئې ورکړی وي نو له قرآنکریم څخه د سورت، رکوع او آیت حواله ولیکئ؟

﴿۳﴾ آیا په دا سې مفتري (دروغ ترونکي) امام پسې کوم چه په (نومورې امام ته د توبې او استغفار په اړه هم وویل شول لیکن هغه دې خوا ته توجه هم و نه کړه او نه ئې توبه و ایسته) الله تعالی او د هغه په رسول ﷺ پسې افتراء او دروغ ترې، لمونځ کیږي او که نه؟

نوره تشریح: ﴿۱﴾ د جومات نومورې امام نور هم ځینې له ځانه جوړې شوې کیسې په جومات کښې کښینې او خلکو ته ئې بیانوي. یو ځل هغه خپله ذاتي کیسه بیانوله چه یره ورځ زه د کشف د چښتن خوا ته وراغلم او ورته ومې ویل چه زما هیله ده چه زه هم ستاسو غوندې شم. هغه را ته وویل چه محترمه په دې کښې ډیر مشکلات دي او د ځینو شیانو قرباني هم غواړي. په ځواب کښې ما د هر ډول مشکلاتو د مقابلې او قربانۍ د ورکولو اقرار وکړ. هغه را ته وویل چه ښه خبره ده نو تر تولو مخکښې خپله ږیره وخریه او بیا لمونځ پرېږده. زړه نازړه مې ورته وویل چه ښه ده. لمونځ خو مې له هم هغه وخته پرېښود او ډم مې را وغوښت او د ږیرې د خریلو لپاره ورته کښینастم. چه کله ډم زما په ږیرې باندې چاړه کښېښوده نو ما ته ټول باطني او پټ شیان تر سترګو شو. زه له کوره ډیر لرې وم او له کور ځخه پټ تللی وم هیڅ ته مې معلومات نه وو چه ژوندی دی او که مړ او کورنۍ مې ډیر په لټون کښې وو. ما ولیدل چه ورور مې او یو بل سړي په ما پسې ګرځیدل تر څو چه ستړي شول او په هوټل کښې کښینастل.

﴿۲﴾ په یوه بل وخت کښې هم په جومات کښې کښینастه او د مولانا رومؒ یادونه ئې وکړه چه مولانا رومؒ یو ځل د حضرت شاه شمس تبریز په خدمت کښې حاضر شو او ونې ویل چه ای د کرامت چښتنه ما پخپل رنګ باندې ورنګوه، یعنې د خپل ځان غوندې مې جوړ کړه. حضرت شمس تبریزؒ وویل چه جنابه ستا منزل بیل دی هغه به پرېږدي. مولانا رومؒ ورسره ومنله نو هغه له نورو خبرو برسیره د لمانځه د پرېښودلو خبره هم ورته وکړه. مولانا رومؒ کور ته راغی او فکر ئې وکړ چه یوې خوا ته د الله تعالی حکم دی او بلې خوا ته د پیر او مُرشد حکم. آخر ئې له ځان

سره دا فیصله وکړه چه زه فرض به وکړم کوم چه د خدای حکم دی او سُنت لمونځونه به پرېږدم او په همدې ډول ئې یوا ځې فرض ادا کړل او ویده شو. خوب ویني چه رسول الله ﷺ ورته د ډیر خفګان په حالت کښې وایي چه تا د خدای فرض ادا کړل او زما سُنت دې پرېښود ل؟ سهار چه مولانا رومؒ له خوبه پاڅیده نو او د مُرشد په خدمت کښې حاضر شو او توله کیسه ئې ورته تیره کړه. مُرشد پوښتنه وکړه چه له دې څخه مخکښې تا چېرته په خوب کښې د نبي کریم ﷺ زیارت کړی دی؟ مولانا صاحب ورته وویل چه نه! په دې باندې مُرشد ورته وویل چه له شك پرته رسول الله ﷺ غصه وو لیکن ملاقات خو دې ورسره وشو. که چېرته تا فرض هم نه وای کړي نو د خدای دیدار به دې هم په نصیب شوي وای. له دې وروسته نومورې امام د مولانا رومؒ دا شعر ووایه چه:

مولوی هرگز نه شد مولای روم — تا غلام شمس تبریزی نه شد

له دې وروسته ئې وویل چه په لمانځه کښې څه شی دي، الله تعالی د لمانځه په کولو سره په لاس نه راځي. د خدای د لاس ته راتلو نورې طریقې دي. د دې ډول نورې کیسې هم بیانوي چه له هغو څخه مو دا دوه د مثال په توګه وړاندې کړې.

﴿۳﴾ برسیره پر دې نومورې امام صاحب پخپله د سهار د لمانځه د ادا کولو لپاره هیڅکله جومات ته نه راځي او په کور کښې لمونځ کوي. نو الله تعالی ښه پوهیږي چه که چېرته هغه ته وویل شي چه سهار جومات ته راشه او هلته لمونځ راکړه نو وایي چه تاسو ته څه پته لګیږي چه که چېرته زه د سهار د لمانځه لپاره وختي راپورته شم نو په ما کوم کوم آفتونه راځي.

﴿٤﴾ نومورې امام صاحب باجه (کوم چه د ساز د غږولو یوه آله ده) ډیر په شوق سره غږوي او چه کله په جوش کښې راشي نو ځنګ ته ورسره کښینې او خلکو ته وایي چه که چېرته څوك څه غواړي نو د دې غواړي. د راقم الحروف په رأیې باندې ګوا که هغه د سهار لمونځ د نحوست او دلته (نعوذ بالله) د خدایي د دعوې په کولو سره د خلکو غوښتې مرادونه پوره کوي.

د پورتنیو کیسو په رنا کښې علماء کرام د دا سې امام په باره کښې څه فتوی ورکوي؟ همدارنګه په دا سې امام پسې لمونځ کیږي او که نه؟ او کوم لمونځونه چه د هغه پسې شوي وي د هغو را ګرځول ضروري دي او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د جامعه اشرفیه، لاهور ځواب: ﴿۱﴾ څوك چه پخپله د یوه شي دعوه کوي په هغه کښې هغه شی نه وي او په چا کښې چه څه شی وي هغه هیڅ کله د دا سې دعوې نه کوي بلکه خپل ځان حقیر بولي. د ده دا ویناوي د دې خبرې دلیل دی چه دا هیڅ نه دي بلکه دی په غلط فهمي کښې مبتلا ده.

﴿۲﴾ نه! نه د پلتنې هغه ته حکم کیدلی شي کوم چه ورته ویل شوي نه وي.

﴿۳﴾ په شریعت کښې د هرې ګناه او کفر د ختمولو حکم دی. په دې کښې بُتان هم راځي، چه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

څومره د چا وس وي اوهلته د تللو حکم نشته. لیکن د نومورې امام په کم علمي باندې د دومره څراغ لګولو ضرورت نشته، هغه د پوهولو ضرورت لري، د ابه زیات ګتمن وي.

﴿٤﴾ په کلیساوو او بُت خانو کښې د هر شي د بُنیاد پلټنه له څه وجهې کیدلی هم شي. د دې لپاره د اکلمه له دې څخه وتلې ده چه سړی پرې کافر شي. له دې کلمې څخه د کفري خبرو تائید نه کیږي د دې لپاره ګناه خو خامخا ده. او په دوهمه ورځ ئې د خپلې خبرې تاویل ګوا که د رجوع غوندې دی لیکن په څرګندو الفاظو کښې ئې مه کوی هغه ته بیا بیا ووایی او که نه وي نو همدا هم کافي وګڼی که چیرته نورې خبرې پکښې نه وي. له دویم کاغذ څخه څرګنده شوه چه دی خطرناک او د خلکو ګمراه کوونکی دی، فاسق دی، امامت ئې مکروه دی، باید چه په چتکی سره ئې له امامت څخه ګوښه کړی په دې شرط چه نومورې خبرې صحیح وي

کتبه: جمیل احمد تهانوي مفتي جامعهٔ اشرفیه نیلا ګنبد لاهور

۱۳۸٤/۱۲/۱۷ هجري

د کراچۍ د دار العلوم خواب: ځواب صحیح دی: نومورې سړی د آخري درجې فاسق، مفتري او کذاب دی، دروغې کیسې او روایتونه بیانوي کوم چه خلك ګمراه او بې دینه کوي، د دلسې امام پسې لمونځ مکروه تحریمي دی، د دلسې سړی امام جوړول صحیح نه دي او مه لمونځ پسې کوی، فوراً ئې له امامت څخه ګوښه کړی او په ځای ئې یو متقي، د ښې عقیدې خاوند، د امامت او لمانځه په مسائلو باندې باخبره سړی امام وټاکی، او کوم لمونځونه مو چه پ، نومورې امام پسې کړي دي د هغو د راګرځولو ضرورت نشته. و الله اعلم

احقر العباد محمد صابر نائب مفتي دار العلوم کراچي (۱) ۱۳۸۵/۱/۱ هجري

الجواب صحیح

بنده محمد تقي عثماني دار العلوم کراچي(۱) ۱۳۸۵/۱/۲ هجري

د دار العلوم حقانیې خواب: الجواب صحیح: په رښتیا هم دا سړی ډیر دروغجن دی او پخپلو دروغو باندې د خلکو ګمراه کوونکی او بې دینه کوونکی دی. دلسې کیسې او واقعات بیانوي چه په ساده او عامو مسلمانانو باندې زیات اثر اچوي لیکن د هغه هیڅ حقیقت نه وي او د شرعي احکامو سر ترپایه خلاف دي. دلسې دروغ ویونکي لره هیڅکله امام مه جوړوی، معزول ئې کړی او په ځای ئې یو صالح، دیني عالم د امامت په منصب باندې وټاکی.

فقط و الله اعلم

نوی سائنسي تحقیق او د انساني تخلیق شـــــرعي حیثیت

سوال: جناب مفتي صاحب! ننه صبا په اردو انګریزي او دلسې نورو مختلفو ژبو کښې په خپریدونکي اخبارونو، رسائلو او جرائدو کښې د کلوننګ (د ماشین په ذریعه انسان ته د روح اچولو) مسئله ډیره په زور او شور سره راځي. په دې مسئلې کښې دا دعوی شوې ده چه د

لسکاټ لینډ یوه سائنسدان ډاکټر ولمټ د کلوننګ په ذریعې سره څو پسونه او مختلف حیوانات پیدا کړي دي او اوس اوس د انساني کلوننګ تجربه کوي. نو اوس پوښتنه دا ده چه آیا دا ممکنه ده چه له یوه جنس څخه بل جنس پیدا کړی شي؟ آیا دا د الله تعالی د تخلیق په صفت کښې لاس وهنه نه ده؟ په دلسې حال کښې چه خالقیت د الله تعالی یو ځانګړی صفت دی. آیا دا صفت په یوه انسان کښې پیدا کیدلی شي او که نه؟ مهرباني وکړی د شریعت مطهره په رنا کښې په دې باري کښې وضاحت وفرمایی؟

الجواب باسم ملهم الصواب: له سائنسي تحقیقاتو څخه څرګنديږي چه د انسانانو او نورو حیواناتو تخلیق له خُلیې (سیل) څخه کیږي. د مور په نس کښې د بچي د پیدا کیدنې شروع له دوو خُلیو څخه کیږي. په دغو کښې یوه خُلیه د پلار وي او دوهمه د مور وي. دا دواړه خُلیې سره یو ځای کیږي او د جرائیمي نظام په ذریعې سره نشو و نما کوي تر دې پورې چه یو وخت دلسې هم راځي چه پخپله سره مات شي او د څو نورو خُلیو د پیدا کیدنې سبب جوړیږي. او تر یو سل او شلو ورځو پورې ئې په شمار یا تعداد کښې زیاتوالی راځي تر دې پورې چه د دوو جنسونو شکل غوره کوي.

نو ګوا که د انسان پیدا کیدنه هم له خُلیو څخه وي او یو انسان د بې شمیره خُلیو مجموعه وي چه له هغو څخه هره یوه خُلیه د یوه مکمل شرکت کار کوي. لیکن دا د حقیقت خبره ده چه د دغو خُلیو پیدا کوونکی هم یواځې الله تعالی دی. هیڅ یو مخلوق دا خُلیې نه شي پیدا کولی او نه له مړو خُلیو څخه د کوم حیوان په پیدا کولو کښې کار اخیستلی شي. سائنسدانان خو د کائناتو په ظاهري مشاهدو باندې د غور او فکر په کولو سره په هغو باندې عملي تجربې کوي چه په هغو کښې کله کامیابیږي او کله ناکامیږي. او بله خبره دا ده چه کله چیرته سائنسدان په کومې تجربې کښې کامیاب هم شي نو بیا هم چه په کومو اجزاوو باندې هغو تجربه کړې وي هغه د سائنس حاصل نه وي، د هغو پیدا کوونکی خامخا الله تعالی دی او بس. د دې لپاره په کومې کامیابې تجربې کښې سائنس ته د خالق درجه نه شي ورکول کیدلی. د دې لپاره چه حقیقي خالق یو خو پخپل تخلیق کښې هیڅکله نه ناکامیږي او بل دا چه هغه د معدوم شي هره ماده پخپله پیدا کوي او د کوم بل چا پیدا کړل شوې ماده ځانته بنیاد نه جوړوي. د قرآنکریم دعوی ده چه "هَلْ مِنْ خَالِقٍ غَيْرُ اللهِ" (الآية) (آیا له الله تعالی څخه پرته کوم بل خالق شته؟) "لَنْ يَخْلُقُوا ذُبَابًا" (الآية) (باطل معبودان یو مچ هم نه شي پیدا کولی) یعنې له الله تعالی پرته په مخلوقاتو کښې هیڅوك هم د خالقیت په صفت باندې نه شي متصف کیدلی.

له دې وجهې د اسکاټ لینډ سائنسدانو ډاکټر ایان ولمټ او ډلې ئې چه د پسه او بیزو له خُلیو څخه د پیدا کولو کومه تجربه کړې ده له دې څخه د هغو په حق کښې باید د خالقیت عقیده و نه لری او دا تخلیق هم نه دی بلکه یوه کامیابه تجربه ده. د دې لپاره د کوم شي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

کلوننګ د هغه د ډي این اي یا کروموسوم ترقي یافته شکل وي چه په هغه کښې په قدرتي توګه د لوییدو صلاحیت وي۔ ډاکټر ولمټ او ډلې نې یو اځې د هغه پالنه کړې ده چه په نتیجه کښې نې د میږې کلون یعنې ډي این اي د میږې شکل غوره کړی دی۔ لکه څرنګه چه ډاکټر ولمټ وایي چه هغه د میږې د تې ډي این اي ته د ترقي په ورکولو سره په هغه ډي این اي کښې چه قدرت کوم امکانات پټ ایښي وو له هغو څخه د کار په اخیستلو کښې کامیاب شوم۔ (ماهنامه الحق ج۳۳، شماره۶)

له دې وجهې نوموړې ډي این اي ته د ترقي یا پالنې له ورکولو څخه هغه (ډاکټر ولمټ) د نوموړې میږې خالق نه شو لکه څرنګه چه کوم د ایبي (چه د بلې ښځې بچي ته په معاوضه باندې تی ورکوي) د شیدو په ورکولو یا پاللو باندې د بچي مور نه شي جوړیدلی۔ یا لکل په همدې ډول په سائنسي ایجاد اتو باندې د فطرت خلاف په کارنامو سره سائنسدان خالق نه شي جوړیدلی۔ د دې لپاره چه د غه اجزاء خاص الله تعالی پیدا کړي دي او په هغو کښې دا تولې ځانګړتیاوي یو اځې او یو اځې هغه ایښي دي۔ البته له دې ډول تجربو څخه د کوم څناور پیدا کیدل یا د فطرت خلاف کوم کار مخته راتلل شرعا ناممکن نه دي۔ لیکن که چېرته غور وشي نو د سائنسدانانو له دغو تجرباتو څخه د خدایي قدرت څرګندیدنه او د اسلامي ښوونو حقانیت مخې ته راځي۔ د مثال په توګه د سائنس له دې ایجاد څخه د بیا ژوندانه د اسلامي عقیدې پوره تائید کیږي۔ الله تعالی د غو ماده پرستانو او د قیامت په ورځې باندې د بیا ژوندي کیدلو په منکرینو باندې په لاشعوري کښې دا خبره په ډاګه کوي چه کله یو مخلوق د خپلې تجربې په نتیجه کښې د کوم څناور له یوې خلیې څخه یو او څناور ته بالکل هم هغه صورت، شکل او رنګ په ورکولو سره له نورو عاداتو او خویونو سره پیدا کولی شي نو د کائناتو خالق، د آسمانونو او زمکو مالک په درجهٔ اولی سره انسان له مرګ څخه وروسته بیا پیدا کولی شي۔

د سائنس له دې ایجاد څخه له مرګ څخه وروسته د بیا ژوندي کیدلو په باره کښې ځینې وارد شوی د ځینو مبارکو حدیثونو تائید هم کیږي۔ د مثال په توګه دا چه کله کوم انسان له دې فاني دنیا څخه سفر کوي او قبر ته ورځي نو د هغه د بدن ټول غړي له ډمچي (د لکۍ د سر یو هډوکي) څخه پرته خاورې کیږي او د قیامت په ورځ الله تعالی انسان لره له همدې ډمچي څخه په دنیاوي شکل او صورت کښې پورته کوي۔ (بخاري او مسلم)

او د ډمچي په باره کښې په یوه روایت کښې راغلي دي چه ډمچي د خردل (یو ډول ډېره وړه دانه ده) د دانې غوندې دی۔ (فتح الباري)

نو د سائنس د دې ډول ایجاداتو څخه د اسلامي تعلیماتو تائید او تصدیق کیږي۔ البته د انساني کلوننګ عمل د شرعي نقطهٔ نظر له مخې د څو وجوهاتو په بنا باندې ناجائز دی۔

﴿۱﴾ د دې تجربې په کامیابۍ سره د ناپوهه او بې علمه انسانانو په زړه او دماغ کښې د کوم

سائنسدان د خالق کیدو عقیده ځای نیسي کوم چه د قرآنکریم د نص له مخې ناجائز او حرام دی۔ د دې لپاره چه د خالقیت صفت یواځې د الله تعالی خاصه ده۔ کما قال الله تعالی: "هَلْ مِنْ خَالِقٍ غَيْرُ اللهِ" (الآية) "لَنْ يَخْلُقُوا ذُبَابًا" (الآية)

﴿۲﴾ په دې عمل کښې د خدای په مخلوقاتو کښې د تغیر عنصر ښکاره دی کوم چه یو شیطاني عمل دی او شیطان د الله تعالی په مخکښې د انسانانو د بې لارۍ کولو لپاره د دې خبرې اعلان کړی وو۔ "وَ لَآمُرَنَّهُمْ فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلْقَ اللهِ (الآية) (زه انسانانو ته دا خبره ور ښیم چه هغوی د الله تعالی په جوړ شوي شکل کښې تغیر او بدلون پیدا کړي او خراب نې کړي)۔ په کلوننګ کښې د الله تعالی جوړ شوی انساني شکل د مشق تخته جوړیږي او تغیر او بدلون پکښې راځي په دا سې حال کښې چه الله تعالی له دې څخه منع کوي او په قرآنکریم کښې فرمایي: "لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللهِ" (الآية)

﴿۲﴾ په دې عمل کښې د انسان پیدا کیدنه په غیر فطري توګه باندې کیږي او د توالد او تناسل کومه طریقه چه له حضرت آدم علیه السلام څخه را ونیسه تر اوسه پورې را روانه ده د هغې خلاف ورزي کیږي۔

﴿۳﴾ د عمل په دې طریقې باندې چه کوم بچی پیدا کیږي هغه له ابتداء څخه له مور او پلار څخه آزاد وي او د مور او پلار له مینې او محبت څخه محروم وي په دا سې حال کښې چه د اولاد د ښوونې او روزنې لپاره د مور او پلار درلودل ضروري دي۔

﴿۵﴾ د کلوننګ له دې عمل څخه د پیدا کیدونکي بچي په باره کښې د جګړې او اختلافونو د پیدا کیدلو قوي امکان دی۔ د دې لپاره چه په کلوننګ کښې له یو اصل څخه ځلیه را اخیستل کیږي او د کومې بلې ښځې په رحم کښې کیښودل کیږي۔ نو اوس په دې بچي باندې د نوموړې ښځې او کوم سړي څخه چه ځلیه را اخیستل شوي ده تر منځ جګړه پیدا کیږي په دا سې حال کښې چه له جنګ او جګړې څخه اسلام خلک منع کړي دي او د جنګ او جګړې د اسبابو د بندولو حکم نې کړی دی۔

﴿۶﴾ د کلوننګ په نتیجه کښې د پیدا کیدونکي بچي د نسب ثبوت لویه مسئله منځ ته راځي چه د دې بچي نسب د ځلیې د خاوند له سړي څخه ثابت کړی شي یا له هغې ښځې څخه د چا په رحم کښې چه دا ځلیه کیښودل شوي ده۔ په دا سې حال کښې چه اسلام د نسب ثبوت ته زیاته پاملرنه کړي ده او تر حتی الامکانه پورې نې د بچي د نسب د ثابتولو کوشش کړی دی۔ د مثال په توګه دا چه که چېرته له یوې واده شوې ښځې سره څوک زنا وکړي او له دې زنا څخه هغه حامله شي نو د بچي نسب د نوموړې ښځې له خاوند څخه ثابتیږي نه له زاني څخه۔ د نبي کریم ﷺ ارشاد دی چه: الولد للفراش و للعاهر الحجر (الحديث)

﴿۷﴾ الله تعالی هر انسان په مختلفو رنګونو او صورتونو کښې پیدا کړی دی تر دې پورې چه د هر انسان د لاسونو او پښو د ګوتو لیکې هم له یوه او بل سره یو شی نه دي جوړ شوي، د هر یوه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

آواز مختلف دی او دا اختلاف د دې لپاره دی چه د هغه په پیژندګلوي کښې آسانتیا وي. او که چېرته له چا څخه کومه ګناه وشي نو قانون تر هغه پورې ورسیدلی شي. په دې سې حال کښې چه په کلوننګ کښې دا سې نه شي کیدلی د دې لپاره چه د کلوننګ په ذریعې سره پیدا شوی انسان له خپل اصل سره په هر هر شي کښې برابر وي. په دواړو کښې کومه امتیازي نښه نه وي چه له مخې نې د اصل او نقل پیژندګلوي مشکل کیږي. همدا رنګه د جُرم د ارتکاب په صورت کښې تر مُجرم پورې د قانون رسیدنه هم محال ګرځي چه له وجهې نې بې قانونۍ، بد امنۍ، د جرمونو ډیروالی او په دنیا کښې د فسادونو د زیاتوالي امکانات زیاتیږي. او که چېرته په کوم جُرم کښې د اصل په ځای د هغه کلون ته د کلون په ځای اصل ته سزا ورکول شي نو دا د انصاف د تقاضو خلاف دی.

﴿۸﴾ د اولاد په ورکولو کښې د الله تعالی یو نظام دی چه د نوموړي نظام لاندې چا ته زامن ورکوي او چا ته لونړۍ. په دې سې حال کښې چه ځینو دواړه (زامن او لونړۍ) ورکوي او ځینې عقیم یعنې بې اولاده پریږدي. د الله تعالی مبارک ارشاد دی چه: يَهَبُ لِمَنْ يَّشَآءُ اِنَاثًا وَّيَهَبُ لِمَنْ يَّشَآءُ الذُّكُوْرَ اَوْ يُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَانًا وَّاِنَاثًا وَيَجْعَلُ مَنْ يَّشَآءُ عَقِيْمًا (الآیة)

د کلوننګ دا عمل د الله تعالی د دې حکم خلاف او مقابل دی. د دې لپاره چه په هر انسان کښې بار راوړونکي خُلیې بې شمیره موجودې دي چه له هغو څخه د کلون پیدا کیدل یوه لازمي خبره ده. نو له دې عمل څخه به هیڅ څوک هم د عقیم (بې اولاده) مصداق پاتې نه شي او خلک به یو اخې د نارینه اولاد غوښتنې کوي چه له مخې نې د يَهَبُ لِمَنْ يَّشَآءُ اِنَاثًا مصداق له منځه ځي.

﴿۹﴾ ځینې خلک یو اخې د دې لپاره واده کوي چه بچي نې پیدا شي په دې سې حال کښې چه د بچي پیدا کول نه فرض دي، نه واجب او نه سنت. او واده پخپل ذات کښې سنت مؤکده دی. او له واده څخه وروسته د بچیانو پیدا کیدل کومه ضروري خبره نه ده. ځینې د دې سې خلک هم شته چه د ځلور ځلور ودونو د کولو تر څنګ نې هم بچیان نه دي پیدا شوي. په دې سې حال کښې چه د طب له نګاه څخه هغه بالکل صحت او تندرست هم وي. له دې وجهې که چېرته د کلوننګ په ذریعې سره د بچي پیدا کول جائز شي نو خلک به د کلوننګ په ذریعې سره بچي پیدا کوي او مطلوب امر (واده) سنت عمل به پریږدي کوم چه د شریعت له مخې صحیح نه دی.

﴿۱۰﴾ د کلوننګ په دې عمل کښې د پردې بنځې په رحم کښې خُلیه کیښودل کیږي لکه څرنګه چه د دې عمل لپاره د نامحرم سړي په مخکښې د نوموړې بنځې عورت بنکاره کیږي کوم چه د شرعي، فطرت خلاف او حیاسوځوونکی عمل دی. اسلام د همجنس یا غیر جنس په مخکښې له شرعي ضرورت پرته د عورت د بنکاره کولو اجازه نه ده ورکړې او د خپل ستر پټول نې فرض ګرځولی دي. لهذا د دغو وجوهاتو په بناء د انساني کلوننګ عمل ناجائز او حرام دی.

د مسلمانو او کافرو محققینو رایې او تبصري: لاندې د انساني کلوننګ دا غیر فطري، د

اخلاقو خرابوونکی، حیاء سوځوونکی او په غیر شرعي طریقې سره د تولید (اولاد پیدا کیدنې) خرابی، نقصانونه او د توالد او تناسل د شرعي طریقې (نکاح) په تائید کښې د مسلمانو او کافرو محققینو، د مذهبي او حکومتي مخورو رایې درج کیږي.

﴿۱﴾ د انساني کلوننګ په باره کښې د مصر مشهور مفتي جناب فرید واصل صاحب فتوی دا ده چه:

ان الاجماع قائم من الناحية العلمية و الطبية على امتناع البشر مرفوض و ايضاً من الناحية الاخلاقية و من الناحية العقلية و من الناحية الاجتماعية. (المجتمع ۲۳، ذو القعدة ۱۴۱۸ هجری بحواله ماهنامه الحق شماره ۱۰، ج ۳۲، جولائی ۱۹۹۷ء)

یعنې د انساني کلوننګ په نه جواز باندې په علمي، طبي، اخلاقي او معاشرتي توګه اجماع قائمه شوې ده.

﴿۲﴾ همدا رنګه د جامعهٔ ازهر استاذ پروفیسر عبد المطیع هم انساني کلوننګ د ردولو په صورت کښې ویلي دي چه په انساني کلوننګ باندې دي فوراً تحقیق بند کړی شي د دې لپاره چه نقصانات نې له فائدو څخه ډیر زیات دي. (بحواله ماهنامه الحق شماره ۶، ج ۳۲، مارچ ۱۹۹۶ء)

﴿۳﴾ خپل خو پریږده اغیارو او کافر حکومتي مخورو د دې تحقیق د بندولو کوششونه کړي دي. لکه څرنګه چه د امریکي پاچا بل کلنتن د دې سې تولو تحقیقي مرکزونو ذخیري بندي کړي کوم چه د کلوننګ په شعبې کښې کار کوونکي دي. او د کومو په باره کښې چه دا ګومان دی چه هلته د انسان فوتو ستیټ کاپی تیاریږي. بل کلنتن په ذاتي (نجي) شعبو کښې کار کوونکي تحقیقي مرکزونو ته هم ویلي دي چه هغوی هم په دې سلسلې کښې په حکومتي شعبې کښې د کار کوونکو مرکزونو تقلید وکړي. (ماهنامه الحق ج ۳۲، ګنه ۷، اپریل ۱۹۹۷ء)

﴿۴﴾ د عیسایانو روحاني پیشوا پوپ جان پال په ۱۹۹۷ء کښې په ویتي کن ښار کښې د زرګونو خلکو په یوې غونډې کښې د خطاب په دوران کښې وویل چه د انساني ژوند احترام د خطرناکو تجربو نښه جوړه شوې ده. د دې لپاره د دنیا ټول ملکونه دي د انساني کلوننګ په بندولو باندې را ودانګي اوله سخت څخه سخت قوانین دي پرې ولګوي. ځکه چه د غیر جنسي عمل په ذریعه د انسان پیدا کیدنه له اخلاقیاتو سره تکر او د ازدواج د رشتې د سره لګولو د وقار د تر پښو لاندې کولو سره برابر عمل دی. (تلخیص از ماهنامهٔ الحق ج ۳۲، ګنه ۶، مارچ ۱۹۹۷ء)

﴿۵﴾ بلکه د دې ایجاد په ډلې کښې یوه سائنسدان ډاکټر ایلن کولمین وایي چه ما و نه شوای کړی چه خپله بنځه او ځوارلس کلنه لور د دې کار په باره کښې قائلې کړم. هغو به راته ویل چه د اخلاقیاتو له مخې دا یو غیر معتبر کار دی. دا سړی ویروونکی سائنس دی. (ماهنامه الحق ج ۳۲، ګنه ۶، مارچ ۱۹۹۷ء)

﴿۶﴾ او پخپله د دې ډلې مشر ډاکټر ایان ولمټ هم انساني کلوننګ لره غیر انساني عمل ګڼلی دی. لکه څرنګه چه هغه پخپلې یوې مرکې کښې ویلي دي چه د کلوننګ له عمل څخه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

خو د حیوان د تیارولو عمل صحیح دی لیکن د انسان د تیارولو عمل یو غیر انساني فعل یا کار دی۔ (بحوالہ ماهنامه الحق ج ۳۲، گڼه ۷، اپریل ۱۹۹۷ء)

د خبرې لفهیز: د شریعتِ مقدسه او کافرو محققینو او پوهانو د رأیو په رڼا کښې دا خبره له لمر څخه روښانه ښکاریږي چه کلوننگ یو داسې عمل نه دی چه ناممکن دی او نه کوم تخلیقي صفت دی چه له مخې نې کوم سائنسدان د خالقیت په صفت باندې متصف شي۔ البته د دې تجربې له مخې له انساني کلون څخه کار اخیستل د ذکر شویو تفصیلي وجوهاتو په بناء باندې ناجائز، حرام، غیر اخلاقي او غیر شرعي عمل دی۔ لهذا په بین المللي سطحي باندې دې عمل لره فوراً بندول د انسانیت د بقاء لپاره له اند ازې زیات ضروري دی۔

(هذا ما ظهر لي و الله اعلم)

بسم الله الرحمٰن الرحیم

ترسپوږمی پورې د انسان رسیدل او اسلام

خلایي پرواز په اسلامي تعلیماتو باندې هیڅ اثر نه اچوي

الله تعالی ټول کائنات د حضرت انسان د فائدې او خدمت لپاره پیدا کړي دي او دا قوت نې ورکړی دی چه ټول کائنات مسخر کولی شي۔ د تسخیر د دې قوت او سائنسي ایجاداتو په نتیجه کښې ترسپوږمی او ستورو پورې د انسان رسیدنه دنیا په حیرانتیا کښې اچولې ده او په دنیا کښې نې یو شور او غوغا جوړه شوې ده او په ځینو ذهنونو کښې دا شکوک او شبهات پیدا شوي دي چه د سائنس دا پرمختګ له اسلامي تعلیماتو سره ټکر دی۔ حضرت شیخ الحدیث مولانا عبد الحق صاحبؒ او حضرت مولانا سمیع الحق صاحب مد ظله پخپلو خپلو مضمونونو کښې د دې ډول توهماتو، شکونو او شبهاتو په ردولو سره د شریعت مطهره په رڼا کښې دا ثابته کړې ده چه ترسپوږمی او نورو سیارو پورې د انسان په رسیدلو سره په اسلامي تعلیماتو باندې هیڅ اثر نه لویږي او نه دا ډول نوي سائنسي ایجادات او پرمختګونه له اسلامي تعلیماتو سره ټکر دي۔ دلته په فتاوی حقانیه کښې نوموړي دواړه مضمونونه د عامې ګټې اخیستنې لپاره وړاندې کیږي۔

مرتب

نحمده و نصلّي علی رسول الکریم قال الله تعالی: وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ وَحَمَلْنَاهُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَفَضَّلْنَاهُمْ عَلَىٰ كَثِيرٍ مِّمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلًا☆

په کائناتو باندې د انسان فضیلت

محترمو مشرانو! الله تعالی انسان ته په کائناتو باندې صوري او معنوي فضیلت ورکړی دی۔ د حجم په لحاظ سره انسان ډیر وړوکی دی لیکن د صوري او ظاهري ښیګړو له وجهې په ټول عالم باندې سرلوړي لري۔ او د عقل او ادراک او نورو معنوي ښیګړو له مخې له ټولو مخلوقاتو څخه وړاندې والی لري ګوا که دا ټول کائنات په دې مختصر او کوچني جسم کښې ځای شوی دی او عالمِ اکبر په نوموړي عالم اصغر کښې پټ دی۔ د دې لپاره ویل کیږي چه ټولې آفاقي (د دنیا د کنارو) علامې په دې کوچني نفس کښې موجود دي۔ وَفِي أَنفُسِكُمْ أَفَلَا تُبْصِرُونَ☆

د الله تعالی ارشاد دی: وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ وَحَمَلْنَاهُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَفَضَّلْنَاهُمْ عَلَىٰ كَثِيرٍ مِّمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلًا☆ (مونږ بني آدم ته کرامت ورکړی دی او په بر او بحر (وچې او لمدې) کښې مو اوچت کړی دی او تر ډیرو مخلوقاتو مو ده ته فضیلت ورکړی دی)

د دې فضیلت وجـــــه د امانت د بار اوچتول دي

دا فضیلت په یوه بل آیت کښې دا ډول واضح کړی شوی دی إِنَّا عَرَضْنَا الْأَمَانَةَ عَلَى السَّمٰوٰتِ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

و الأرض و الجبال فأبين أن يحملنها و أشفقن منها و حملها الإنسان (سورة الاحزاب آیت ۷۲)

(عونږ آسمانونو، زمکو او غرونو ته د خپل امانت (خلافت) د پورته کولو وړاندیز وړاندي کړو هغو ټي د پورته کولو له ذمه واریو څخه معذرت وغوښت او چه کله انسان ته وړاندي کړی شو نو هغه د ذمه واري پخپلو اوږو باندي بار کړه)

یاد لری چه کله مخلوقاتو ته د امانت د بار د اوږو اندیزوشو نو هغو ته اختیار ورکړی شو چه که چېرته د امانت دا بار تلسو اوچت کړ او د هغه حق مو ادا کړ او خپل ژوند مو د هغه مطابق جوړ کړ نو تاسو ته به د الهي رضا، جنت او تل تر تله عزت در په برخه شي- او که چېرته مو د ذمه واري له قبلولو وروسته د امانت حق پوره نه کړ نو بیا به تل تر تله عذاب او جهنم ته به داخلیږی- د دي لپاره تاسو اختیار لری چه تاسو دا امانت اوچتوی او که نه، برداشت کوی ټي او که نه- په دواړو کښي ستاسو خوښه ده- لیکن که چېرته مو اوچت نه کړ نو تاسو به بیا پخپل حال پاتي شی، لکه د جماداتو غوندي به نه پرمختګ کوی او نه عروج، نه به درته د عذاب خطر وي او نه د جنت اُمید- نو زمکي او آسمانونو د امانت نه برداشتول خوښ کړل چه د اسي نه وي چه د کوتاهي په صورت کښي په عذاب کښي مبتلا نه شي-

د انسان په فطـــــرت کښي محبت دی

لیکن انسان کوم چه د طبعیت له مخي په الله رب العزت باندي مین دی او د عشق له جذبي څخه ټي روح او قلب (زړه) مست دی- او همدا وجه ده چه زړه ټي هر وخت خوځیدونکی، مضطرب (پریشانه) او په توپونو وي- ګواکه د خپل حقیقي محبوب په لټون او یاد کښي د خپل حرکت له مخي د الله الله ضربونه لګوي- د اسي طبعي عاشق ته خو د محبوب یو اځي اشاره کافي وي- نو کله چه د محبوب له خوا وړاندیز وشو نو د عشق جذبي په چتکی سره انسان د امانت قبلولو ته تیار کړ او د اپروائي و نه کړه چه په ذمه واری کښي د کوتاهی په صورت کښي کوم کوم مصیبتونه مخته ورځي؟ وګورئ! فرهاد کوم چه یو مجازي عاشق وو د محبوب د وریځو په اشاري سره د غره سوري کولو ته تیار شو نو انسان کوم چه حقیقي عاشق دی د حقیقي محبوب په اشاري باندي به ولي د امانت له اوچتولو څخه ستړی کیږي؟ او د دي نتیجه دا راووتله چه الله تعالی انسان ته په آسمانونو، زمکو او تولو مخلوقاتو باندي لوړوالی ورکړ، دی راعي او هغه رعیت جوړ شو، تول کائنات ټي مسخر شو، په بحر، بر، آسمانونو او زمکو تر منځ په تولې فضا کښي د تللو اوپه هغو کښي د تصرف د کولو اجازه ورته حاصله شوه او د بني نوع انسان غور نیکه حضرت آدم علیه السلام ته د خلیفه الله خطاب ورکړ شو او د دنیا په تولو شیانو کښي د تصرف کولو اوپه هغو کښي د تحلیل او ترکیب اجازه ورکړ شوه او د شیانو نومونه او خاصیتونه ورووښودل شو-

په کائناتو کښي د تصرف لارښوونه انبیاوو علیهم السلام خلکو ته وکړه

د دي تصرف او استعمال لارښوونه ټي د خپلو رسولانوؑ په ذریعه انسانانو ته وکړه کوم چه له خطاء او سهو څخه معصوم دي او د الله تعالی له خوا معلمین را لیږل شوي دي تر څو چه انسان د نفس او شیطان د فریب او نفساني خواهشاتو له وجهې دا امانت غلط استعمال نه کړي او د تولو شیانو ترکیب او تحلیل پخپلې خپلې موقعې باندي او د نیک مقصد لپاره وکړي، په شیانو کښي له بې ځایه تصرف څخه د وحی په ذریعې سره منع کړي دي او تر نورو فضیلتونو برسیره ټي د علم له لوی نعمت څخه برخمن کړ کوم چه د انسان یو ځانګړی خصوصیت دی. دغو انبیاوو علیهم السلام ته په ورکړ شوي علومو کښي ورځ ورځ پرمختګ وشو تر دي پوري چه نبي کریم ﷺ دنیا ته تشریف راوړ او د ده په مبارک ذات باندي د نبوت علوم پوره کړای شو-

د عـــــلومو ظهور او تکمیل (پوره والـــــی) د نبي کریم ﷺ په ذات اقـــــدس باندي وشو

نبي کریم ﷺ او امت ته ټي چه کوم علوم ورکړ شوي دي پرتله ټي په مخکښینیو زمانو او امتونو کښي نه لیدل کیږي- په بخاري شریف کښي یو حدیث دی چه کله حضور اقدس ﷺ د معراج په شپه کښي له جبرائیل علیه السلام سره پورته تشریف بوړ نو په بیت المقدس کښي د میلمستیا په توګه مختلف ډول مشروبات (د چښلو شیان) ټي په خدمت کښي وړاندي شول- یو ګیلاس له اوبو، بل ګیلاس له شهدو، بل ګیلاس له شیدو او څلورم ګیلاس له شرابو ډک پروت وو- لیکن یاد لری چه د اد جنت شراب وو، یعني شراب طهور وو کوم چه تولو مسلمانانو ته په جنت کښي ور په برخه کیږي او طیب، طاهر او همدارنګه له هر ډول خرابیو څخه به پاک او صاف وي- لیکن بیا ټي هم نوم شراب وو- نو نبي کریم ﷺ نه شراب وچنبل، نه شهد او نه شراب بلکه شیدي ټي وچنبلي- حضرت جبرائیل علیه السلام وفرمایل الحمد لله چه تا شراب وچنبل- دا د فطرت مطابق دی او شیدي په عالم مثال کښي د علم یو شکل دی. ګواکه دا اشاره وه چه د ده مبارک ﷺ امت به په علم کښي پوره او تر تول عالم به ممتاز وي- که چېرته ده مبارک ﷺ شهد چښلي وای نو امت به ټي په لذتونو او خوندونو کښي لویدلای او که چېرته ټي شراب چښلي وای نو کوم چه اګر که طیب، طاهر (پاک) وو نو امت به ټي په ګمراهی کښي مبتلا شوی وای- که چېرته ټي اوبو چښلي وای نو امت به ټي بې کماله پاتي شوی وای ځکه چه اوبو له صفتونو او کمالونو څخه خالي شی دی، نه خوږي، نه ترخي، نه سړي، نه زیږي، نه خوشبویه او نه بدبویه، په اوبو کښي با لفعل کوم کمال نشته، په شهدو کښي خوند او خوږوالی دی، دنیوي شراب د عقل لرې کوونکی دی او د رذیله اخلاقو را شنه کوونکی دی- نبي کریم ﷺ دا ټول پریښودل او شیدي ټي وچنبلي کوم چه تعبیر ټي په علم باندي صادقیږي-

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

تو په امت کښې هم علم سرايت وکړ ځکه چه قاعده ده چه د استاذ رنګ په شاګرد کښې سرايت کوي او د پلار مخفي (پټ) اثرات او کمالات په اولاد کښې پيدا کيږي۔ د نبي کريم ﷺ مبارک ارشاد دی چه: "الولد سرّ لابيه" (ېچی د پلار راز وي او د هغه پټ صفتونه پکښې منتقل کيږي)۔ په يوه بل حديث کښې دي چه: "اوتيت علم الاولين و الآخرين" (ما ته د مخکښينيو او وروستنيو خلکو علم راکړل شوی دی)۔ په يوه بل حديث کښې دي چه: "انا مدينة العلم" (زه د علم ښار يم)۔ نو د نبي کريم ﷺ اثر په تول امت باندې دی چه تول امت د علم وارث دی۔ البته دومره خبره په ذهن کښې کښينوی چه علم په دوه ډوله دی۔ يو د مادياتو علم چه صنعت او حرفت، زراعت، طب، جراحي، سائنس، جغرافيه او داسې نور تول پکښې راځي او بل د روحانياتو علم چه تول مذهبي او ديني علوم پکښې داخل دي۔

د دعوت امت او د اجابت امت

همد ارنګه د ده مبارک ﷺ امت هم په دوه ډوله دی۔ يو امت دعوت کوم چه د نبي کريم ﷺ دعوت ورته متوجه دی چه راځی او لا اله الاّ الله ووايی۔ د اسلام دا دعوت د تولې دنيا د اوسيدونکو لپاره دی او تر قيامته پورې د راتلونکو انسانانو لپاره دی۔ "وَ مَا اَرْسَلْنٰكَ اِلاَّ كَافَّةً لِّلنَّاسِ" (او موټر نه يې ليږلی مګر د تولو انسانانو لپاره مو راليږلی يې) بَشِيراً وَّ نَذِيراً (زيری ورکوونکی او ډاروونکی)۔ نو د تولې دنيا انسانان که د اروپا دي که د آسيا، که د مشرق دي او که د مغرب، که د امريکې دي يا د افريقې د لرې پرتو سيمو وحشي او غير متمدن انسانان تول په امتِ دعوت کښې شامل دي۔ نن هم د نبي کريم ﷺ دعوت هغوی مخاطب ګرځولي دي لکه څرنګه چه څوارلس سوه کاله مخکښې مخاطب وو۔ ليکن نوموړي امت دعوت قبول نه کړ د دې لپاره کافر پاتې شوي دي چه د دومره لوی نعمت ناشکري کوونکي دي۔ او کومو چه د جناب نبي کريم ﷺ دعوت قبول کړ هغوی په امتِ اجابت کښې داخل دي چه د دعوت په اجابت کښې نې لا اله الاّ الله محمد رسول الله ووېل۔ دي امت ته امتِ مسلمه هم ويل کيږي۔

اصل علوم د نبوت علوم وو چه مسلمانو ته په لاس ور اغله

تول امت ته د نبي کريم ﷺ تر راتګ او مبعوث کيدو وروسته د ده مبارک ﷺ له برکته مسلمانانو ته علم ور په برخه شو۔ ليکن امتِ دعوت ته ډيره برخه مادي علوم په لاس ور اغلل او امتِ اجابت يعنې مسلمانانو ته ډيره برخه د غيب، نبوت او آخرت علوم چه په علومو کښې لوړه مرتبه لري په لاس ور اغلل۔ په مذهبي علومو کښې چه امتِ مسلمه ته کوم مقام ور په برخه شو او په هري مسئلې او موضوع باندې چه د امت علماوو کوم تحقيقونه وړاندې کړل هيڅ يو بل قوم او ملت نې مثال نه شي وړاندې کولای چه ځينې برخه نې د لکونو کتابونو او لسګونو علومو په شکل کښې نن هم موجوده ده چه د لسمې لسمه برخه نې په تيرو امتونو

کښې نه پيدا کيږي۔

مادي او روحاني علوم د نبي کريم ﷺ له بعثت څخه وروسته بنکاره شول

همد ارنګه امتِ دعوت چه په مادي علومو، تمدني مسائلو، سائنسي تحقيقاتو او تکوينياتو د مخفي (پټو) رازونو په بنکارولو کښې چه کومه ترقي کړې ده مثال نې تر نبي کريم ﷺ څخه په مخکښينيو امتونو کښې نه شي پيدا کيدلی۔ لنډه دا چه د دغو تولو علمي کمالاتو په امت محمديه ﷺ کښې بنکاريدل د علم د همدې مخزن (ذخيرې) د کمالاتو برېښنا ده کوم چه سيد الرسل او خاتم النبيين ﷺ دی۔ بيا به هم د پرمختګ دا سلسله به جاري او نه خټميدونکې وي بلکه په ديني او دنيوي علومو کښې تر قيامته پورې پرمختګونه کيږي۔ نو د کوم امت پيغمبر چه د تولو علومو او کمالاتو سرچينه ده امت نې د علمي انکشاف او علمي پرمختګونو کله مخالفت کولای شي، يا د علم کومه نوې او صحيح خبره د جامع العلوم و الکمالات حضرت محمد رسول الله ﷺ د تعليماتو کله مخالف کيدلای شي۔

فضايـــــــي پرواز او اسلامي لاربښوونې

نن صبا تر سپږومی پورې د انسان رسيدل او پرواز د هر سړي توجه ځان ته ګرځولې ده۔ د سائنس دا پرمختګ ځينې مسلمانان هم په حيرانتيا کښې اچولي دي او په دې غلط فهمي کښې دي چه دا خو له اسلامي تعليماتو سره تکر خوري۔ په داسې حال کښې چه دا خو محض د سائنسي او تمدني پرمختګ مسئله ده۔ د ژوند په تمدني مسائلو کښې د هر دور او زمانې په خلکو کښې د مخکښينيو خلکو په نسبت پرمختګ راځي۔ او زمونږ اسلافو د داسې پرمختګونو په ليدلو سره هيڅکله دا ګومان نه دی کړی چه په دې پرمختګونو باندې اسلامي اصول زخمي کيږي۔ د مثال په ډول په مخکښيني زمانې کښې د سورلي وسيله اس، کچر او اوښ وو، بيا موټر او ريل ګاډی پيدا شو، څه وخت وروسته هوايي جهاز (طياره) پيدا شوه، اوس نوموړي ميزائل او راکټونه پيدا شوي دي او له دې وروسته ډيره ممکنه ده چه ډير تيز رفتاره نور ذرائع او اسباب پيدا شي۔

په قـــــرآنکريم کښې د تيز تلونکو سورليو خواته اشاره

د الله تبارک و تعالی ارشاد دی چه: "وَّ الْخَيْلَ وَ الْبِغَالَ وَ الْحَمِيْرَ لِتَرْكَبُوْهَا وَ زِيْنَةً وَ يَخْلُقُ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ☆

(او الله تعالی اس، کچر او خره پيدا کړل تر څو چه تاسو پرې سپاره شي او په هغو کښې ستاسو لپاره ښائست هم دی او پيدا ئې کړل له دغو پرته داسې شيان چه تاسو نې نه پيژنی) وَ يَخْلُقُ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ د مضارع صيغه ده او په دې کښې تر قيامته پورې پيدا کيدونکي تولې سورلي راغلې۔ همد ارنګه د بحري سورلي له يادونې څخه وروسته نې د ايجاد اتو خواته اشاره وکړه۔ وَ اٰيَةٌ لَّهُمْ اَنَّا حَمَلْنَا ذُرِّيَّتَهُمْ فِى الْفُلْكِ الْمَشْحُوْنِ☆ وَ خَلَقْنَا لَهُمْ مِّنْ مِّثْلِهٖ مَا يَرْكَبُوْنَ☆ (سورة يٰسٓ، آيت)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

(د هغو لپاره د قدرت نښانه ده چه مونږ د هغو اولادونه په ډکې بیړۍ کښې سپاره کړل او پیدا مو کړل د هغو لپاره د بیړیو غوندې ډول ډول شیان کوم چه دوی پرې سپریږي).

الغرض په دغو آیتونو کښې ټول بري، بحري او فضایي ایجاد اتو خواته اشاره موجوده ده. همدارنګه مخکښې په خبرې باندې د پوهیدو ذریعه مخامخ خبرې کول وو. ورځ په ورځ ترقي پکښې وشوه، تیلیفون، تار، الاسلکي او له ریډیایي لهرونو څخه کار اخیستل شروع شو او د دې ترڅنګ ځینې نور ذرائع هم په خبرو باندې د پوهیدو ذرائع پیدا شول.

خلایي تسخیر یوه خالصه تمدّني او ساینسي مسئله ده

د خلایي تسخیر مسئله هم په خاصه توګه د تمدني پرمختګ او ساینسي تحقیق مسئله ده چه کامیابي او ناکامي نې دواړه له دین سره کومه اړه نه لري. اسلام هیڅکله هم دا دعوه نه ده کړې چه انسان په زرګونو میله په یوه ساعت کښې تګ نه شي کولای او نه نې دا ویلي دي چه په فضا کښې د روح لرونکو اجسامو پرواز ناممکن دی، نه نې دا دعوه کړې ده چه په فضاء کښې د اور یا زمهریر کُرې موجودي دي چه له هغو څخه د روح لرونکو تیریدل محال وي. او نه نې دا ویلي دي چه په زمکي کښې د دروندو الي له کشش څخه د باندې وتل ناممکن دي. دا خبرې د یونان د فلاسفه وو مخترعات دي چه د هغو بطلان او تردید اسلامي معتقد اتو کړی وو.

قرآنکریم او لامحدود پروازونه

قرآنکریم د سترګو په رپ کښې په زرګونو میله د مسافت د طی کولو نه یوا څې امکان بلکه د واقع کیدو نې هم قائل دی. د سبا د ملکې تخت د سترګو په رپ کښې د حضرت سلیمان علیه السلام په خدمت کښې حاضر کړای شو. قَالَ الَّذِیْ عِنْدَهٗ عِلْمٌ مِّنَ الْكِتٰبِ اَنَا اٰتِیْكَ بِهٖ قَبْلَ اَنْ یَّرْتَدَّ اِلَیْكَ طَرْفُكَ (سورة النمل، آیت)

(او وویل هغه سړي له چا سره چه د کتاب علم وو چه زه دا تخت تاته مخکښې له دې څخه ستا نظر بیرته ستا خواته ولویږي (د سترګو په رپ کښې).

او هغه په طرفه العین کښې تخت راوړ ګوا که د راکټ غوندې تیز رفتاري له اسلام څخه انکار نه دی بلکه له راکټ څخه هم تیزه منډه او تیز حرکت ممکن دی.

فضایي یا خلایي پرواز د شرافت او لویي مدار نه دی

پاتې شوه تر ستورو پورې د پرواز خبره، نو دا خبره خو تلسو ته له تمهید څخه څرګنده شوه چه انسان اشرف المخلوقات دی او د شرافت مدار په لوړ پرواز پورې اړه نه لري. په خلاء کښې وریځې ګرځي، مینا (یو ډول تور مارغه)، تپوس، کارغان او د اسې نور مرغان په فضاء کښې ډیر لوړ لوړ الوزي، یوه هیکل دیو حضرت سلیمان علیه السلام ته د سبا د ملکې د تخت په څو لمحاتو کښې د رواړلو وړاندیز وکړ، پخپله انسان له یوې زمانې راهیسې څو څو میله

پورته په فضا کښې پروازونه کوي. نو که چېرته اوس د دې پرواز اندازه یو نیم لکه میله په خلاء کښې تر سپوږمۍ پورې رسیدلی دی یا په راتلونکي کښې تر دې هم پورته پرواز وشي نو په دې کښې څه استحاله او حیرانتیا ده؟ او د قرآنکریم د کومې دعوې په مقابل کښې واقع کیږي چه د حیرانتیا سبب جوړ شي.

د پیریانو تر آسمانه پورې رسیدنه

له قرآنکریم څخه خو د پیریانو تر آسمانه پورې پرواز او ختل ثابت دي. قرآنکریم په سورت جنّ کښې د پیریانو پخپل منځ کښې خبرې اترې را نقل کړی دی او فرمایلي نې دي چه: وَّاَنَّا لَمَسْنَا السَّمَآءَ فَوَجَدْنٰهَا مُلِئَتْ حَرَسًا شَدِیْدًا وَّ شُهُبًا☆ وَّاَنَّا كُنَّا نَقْعُدُ مِنْهَا مَقَاعِدَ لِلسَّمْعِ فَمَنْ یَّسْتَمِعِ الْاٰنَ یَجِدْ لَهٗ شِهَابًا رَّصَدًا☆ (سورت جنّ، آیت)

(او دا چه مونږ مس کړ آسمان نو له سختو چوکیدارانو او د اور له لمبو څخه مو ډک پیدا کړ، او بیشکه چه مونږ به کښیناستو په ځایونو (د آسمان په کنارو) کښې د اوریدلو لپاره. پس چه څوک اوس اوریدل غواړي نو ځان ته به د اور لمبه تیار په انتظار کښې پیدا کړي)

د دې تفصیل په بخاري شریف کښې راغلی دی چه د نبي کریم ﷺ له پیغمبرۍ څخه مخکښې به پیریان او شیطانان د دنیا آسمان ته ورسیدل او په پتو ځایونو کښې به کښیناستل تر څو چه د ملائکو پخپل منځ کښې خبرې واوري او نجومیانو او جادوګرانو ته نې ورسوي. په دغو کښې به یوه نیمه خبره رښتیا هم وه او سل خبرې به دروغ او له ځانه جوړې شوې وې چه په خلکو کښې به د مشهوریدو په صورت کښې نې په حق مذهب باندې اثر ولویدل، له هغه وروسته به بل نبي راغی او هغه به د دروغ او حق له دې مخلوط څخه باطل جلا کاوه. نبي کریم ﷺ لکه څرنګه چه آخري نبي وو، الله تعالی د اسلام دین تر قیامته پورې محفوظ ساتل او د زائغینو له زیغ څخه یې کول غوښتل د دې لپاره د نبي کریم ﷺ له پیغمبرۍ وروسته د پیریانو تر آسمانه پورې ور ختل منع کړای شو. او که چېرته به هغه د پورته ختلو کوشش کاوه نو د اور لمبه او ستورې پرې لویدل تر څو چه آسماني خبرې وا نه وري او د اسلام په دین کښې ګډوډي را نه شي. او صعود (ختل) بلکه د آسمانونو تر مس کولو (لاس لګولو) پورې ثبوت پیدا کیږي. ځینې روشن خیاله په دې کښې هم تاویلونه ډوي چه هیڅ ضرورت نې نشته. الله تعالی په پیریانو کښې تر آسمانه پورې د الوتلو صلاحیت اینبی وو او تر څو پورې چه منع شوي نه وو نو دوی به تر آسمانه پورې الوتلای شوای. اوس که چېرته انسان د خپل علم او تحقیق او د خدای له خوا د ورکړ شویو اسبابو په بناء باندې پورته وخیژي نو په دې کښې به هیڅ استحاله (د حالت تبدیلي) نه وي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

په اسلام کښې تر ستورو پورې د ختلو لپاره له آسمانونو څخه د تیریدلو یادونه نشته

دا غلطه خبره ده چه تر ستورو پورې د رسیدلو لپاره له آسمانونو څخه تیریدل منځ نه راځي۔ د دې لپاره په اسلام کښې هیڅیرته هم دا یادونه نه ده شوې چه سپوږمی د دنیا په آسمان کښې او لمر په څلورم آسمان کښې دی یا نورې سیارې په فلاني آسمان کښې دي۔ یا ثوابت سبعه (اوه ستوري) د اووم آسمان لاندې درجه په درجه (یو تر بل لاندې باندې دي)۔ دا د یونان د فلاسفه وو او بطلیموس نظریې دي چه ذکر ئې په تصریح او شرح چغمني کښې میندل کیږي نه د اسلام د فلاسفه وو۔

د سائنس متضادې نظریې او اسلام

مونږ مسلمانان نه د مخکښینیو فلاسفه وو معتقدین یو او نه د نوي دور د فلاسفه وو۔ دا فلاسفه پخپل منځ کښې لکه (فیثا غورث او داسې نورو) یو بل باطل کړي دي۔ او د نن ورځې سائنسد انان مخکښیني سائنسد انان لغو او باطل بولي۔ بیا د نوي سائنسد انانو هم پخپل منځ کښې سخت اختلاف دی او نظریات ئې پخپل منځ کښې سره تکر دي نو مونږ به خامخا اسلام ولې یو فریق جوړوو؟ البته دومره خبره باید څرګنده وي چه آسمانونو ته د داخلیدو لپاره اجازت غوښتل په کار دي۔ آسمانونه دروازې لري کومې چه بندې وي، د ننه تلونکی پرته د رب العلمین له اجازې څخه نه شي ور داخلیدلی۔ لکه څرنګه د معراج شریف له حدیث څخه څرګندیږي چه کله جبرائیل علیه السلام جناب نبي کریم ﷺ د آسمان دروازې ته رساوه او دروازه ئې وتکوله نو ملائکو پوښتنه وکړه چه څوک یې؟ هغو ورته وفرمایل چه جبرائیل، بیا هغو پوښتنه وکړه چه نور څوک درسره دي؟ من معك قال محمد صلى الله عليه وسلم قيل ارسل اليه قال نعم ففتح. (جبرائیل وویل چه محمد رسول الله ﷺ راسره دی۔ نو بیا ئې دروازه خلاصه کړه)

له دې څخه څرګنده شوه چه آسمانونو ته داخلیدل پرته له خدایي اجازې څخه نه ملائکي داخلیدلی شي او نه کوم نبي مُرسل۔ او نبي کریم ﷺ چه آسمانونو ته ور ختلی دی نو د الله تعالی له اجازې او دروازې خلاصولو څخه وروسته آسمانونو ته داخل شوی دی۔

د موجوده پرمختګونو اثر په باطلو مذ هبونو او فلسفو باندې لویږي

اوس که چیرته د ستورو په باره کښې اسلام څه ویلي وای چه ستوري په آسمانونو کښې دي نو بیا دا پوښتنه به په ځای وه چه راکټ او خلایي جهاز آسمان ته د ننه پرته له خدا وندي اجازې څخه کله داخل شو کوم چه هیڅ کله هم نه شي داخلیدلی۔ لیکن کله چه مونږ د بطلیموسي قولونو پابند نه یو بلکه د اسلام قائل او پابند یو نو دا پوښتنه مونږ ته نه متوجه کیږي۔ کومو مذ اهبو چه دا دعوه کړې ده دا پوښتنه په هغو باندې وارديږي ته به مسلمانانو باندې۔

تول ستوري تر آسمان لاندې دي

د قرآنکریم اعلان خو دا دی چه وَلَقَدْ زَيَّنَّا السَّمَآءَ الدُّنْيَا بِمَصَابِيحَ وَجَعَلْنٰهَا رُجُومًا لِّلشَّيٰطِينِ ☆ (سورة الملك آیت ۷)

(او په تحقیق سره مونږ د دنیا آسمان په ستورو باندې ښائسته کړی دی او ګرځولی مو دی د شیطانانو لپاره ویشتونکي)۔

شیطانان خو تر آسمانه پورې تلی شي لیکن له آسمانه د باندې اوسیږي او د ننه نه شي ور داخلیدلی، بیا په ستورو باندې نې ویشتل هلته کیدلای شي چه ستوري هم د دنیا له آسمان څخه وتلي وي او د آسمان ښایست هم په هغه صورت کښې ګرځیدلی شي چه ستوري له آسمان څخه دباندې وي۔ د دې لپاره خو عبد الله بن عباس رضی الله تعالی عنهما فرمایلي دي: النجوم قناديلُ معلقة بين السمآء و الارض بسلاسل من نور بايدى الملئكة. (ستوري یو ډول دلویو رومالونو په شکل کښې د آسمان او زمکې تر منځ ځړیدلي دي چه ملائکو د نور په ځنځیرونو باندې کلك نیولي دي)۔

علامه آلوسي رحمه الله په تفسیر روح المعاني کښې فرمایي چه: "د نوي سائنسد انانو قول هم دي ته ورته دی لیکن دوی دا زنځیرونه د کشش او د ثقل د مرکز په نامه سره یاد کړي دي"۔ و يقرب منه قول الفلاسفة الجديدة لكن با لجذب. (روح المعانی ج ۳۰، ص ۵۱)

د سورت طلاق د وَ مِنَ الْأَرْضِ مِثْلَهُنَّ آیت لاندې علامه آلوسي صاحب په ځرګنده توګه فرمایلي دي چه: و لم يقم دليل على ان شيئاً من الكواكب مغروزٌ فى شيء من السمٰوٰت كا لفصّ فى الخاتم و المسمار فى اللوح. (روح المعانی ج.....)

(یعني د دې خبرې هیڅ ثبوت نشته چه یو ستوری دي هم په آسمان پورې داسې لګیدلی وي لکه په ګوتې کښې ځمی یا په تختې باندې میخ)۔

د امام ابو حنیفه رحمه الله استاذ حضرت عطاء بن ابي رباح رحمه الله هم همدا خبره کړې ده۔

علامه آلوسي رحمه الله د سورت طلاق په تفسیر کښې اسرائیلي روایتونه هم رد کړي دي چه اکثره بې اعتماده دي۔ پاتې شوه دا چه له کومو آیتونه څخه د ستورو په آسمانو پورې لګیدل مترشح کیږي تردید نې د روح المعاني په مختلفو ځایونو کښې موجود دی او په عمومي توګه په داسې ځایونو کښې د ادنی ملابسي په توګه یا مجازي نسبت شوی وي۔

د كُلٌّ فِي فَلَكٍ يَّسْبَحُوْنَ تفسیر

د مثال په ډول د قرآنکریم دا آیت چه كُلٌّ فِي فَلَكٍ يَّسْبَحُوْنَ څخه په ظاهره خلکو دا پوهه اخیستې ده چه تول ستوري په آسمانونو کښې لګیدلي دي۔ لیکن علامه آلوسي رحمه الله لیکلي دي چه اکثرو مفسرینو له دې څخه هغه موج مراد اخیستی دی کوم چه له آسمان څخه لاندې منع کړی شوی دی او سپوږمی او لمر پکښې ګردش کوي۔

قال اكثر المفسرين هو موجٌ مكفوف تحت السمآء تجرى فيه الشمس و القمر و قال الضحاك هو ليس بحسم بل مدار هذه النجوم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

حضرت ضماك وايي چه له فلك څخه مراد جسم نه دی بلکه د هغو ستورو مدار دی.
حضرت مولانا اشرف علي تهانويؒ هم د دغو احتمالاتو په ذکر کولو سره آیت د آسمان په مفهوم کښې مبهم ګڼلی دی. لنډه دا چه اکثر مفسرین د ستورو هغه ځای چه هغوی یکښې ګردش کوي تر آسمان لاندې بللی دی نه د آسمان منځ. نو د روس او امریکي خلابي پروازونه او تر سپوږمی پورې رسیدل که چېرته اثر اچوي نو په یوناني هیئت او بطلیموسي فلسفه یا اسرائیلي روایتونو باندې نې اچوي نه په اسلام باندې. سپوږمی خو پریږده که چېرته تولو ستورو ته انسان ورسیږي نو بیا هم په اسلامي تعلیماتو باندې هیڅ اثر نه لویږي.

له سائنس څخه د اسلام غیبي تائید کیږي

الله تعالی د دغو سائنسد انانو په لاس د اسلام غیبي تائید کوي او په هغو باندې د حجت اتمام (پوره والی) کوي. سائنسد انانو په میلیونونو روپی ولګولې او په نتیجه کښې نې د ډیرو اسبابو په ذریعې سره له سپوږمی څخه یو موټی خاوره راوړله، لیکن سید الرسل او د مسلمانانو لوی هادي (الازبنوونکی)ﷺ د ګوتې په یوې اشارې باندې سپوږمی دوه ټکړې کړه په دلسې حال کښې چه دواړو ټکړو ..... بیا په همدې ډول الله تعالی د سپوږمی دواړه ټکړې سره یو ځای کړي. اقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ ☆ وَإِنْ يَرَوْا آيَةً يُعْرِضُوا وَيَقُولُوا سِحْرٌ مُسْتَمِرٌّ ☆ (سورة القمر آیت ۲/۱)

دومره لویه کارنامه چه کله پرته له راکتونو، اسبابونو او د میلیونونو روپو له ضائع کولو پرته بنکاره شوه نو د لرې پاد خره دماغ لرونکو نومورې معجزه تر اوسه پورې مسخره بلله، فلاسفه وو توکي پرې کولې لیکن نن ورځ نې پخپله ومنله چه تولې سیارې خرق و التیائم (پرې کیدل او بیرته سره لګیدل) او ماتیدل مني. نو حقیقت دا دی چه د نن صبا له سائنسي تحقیقاتو څخه د اسلام تعلیماتو (الازبنوونو) ملاتړ کیږي او بحمد الله چه کوم خلك له معجزو څخه منکر وو او محالي نې بللې د اسلام د نومورو دښمنانو خولې د خپلو تحقیقاتو او پلټنو له مخې الله تعالی بندې کړي.

قیـــــامت او د معراج تائید

قیامت کوم چه د دغو سیارو، د عالم فاني کیدل او نیست او نابودوالي او له نوي سره د بیا لپاره قائمیدلو ته وایي، تر نن ورځې پورې فلاسفه وو دي نظام لره د تغیر نه منونکی په ګڼلو سره نې په قدامت (پاکي او منزه والی) باندې قائل وو او له دې خرابی او بربادی څخه پخپله د دنیا د حدوث او تغیر منونکي د کیدو قائل کیدلای شي. اسلام چه کله دا اعلان وکړ چه نبي کریمﷺ د خپل عنصري جسد سره له خلا یا فضا څخه پورته لاړ او په یوې شپې کښې بیرته راغی نو دغو خلکو (فلاسفه وو) انکار وکړ چه په میلیونونو میله مسافه څرنګه دومره زر طی کیدلای شي او له اکسیجن پرته څرنګه سړی ژوندی پاتې کیدلای شي؟ د نن د خلا ماهرین له خاورین جسم سره یو اخې تر سپوږمی پورې ورسیدل او په ځینو ځایونو کښې په یوې ثانیې کښې نې په زرګونو میله پروازونه وکړل نو مالك الملك کوم چه د زمکې او آسمانونو خالق دی

د خپل رسول مکرمﷺ په رسولو کښې به څه استحاله پاتې شي؟ "سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَى بِعَبْدِهِ لَيْلًا" (پاك دی هغه ذات چه خپل بنده نې په شپه کښې بیولی وو).

د عیسی علیه السلام د پورته خیژولو تائید

قرآنکریم اعلان وکړ چه حضرت عیسی علیه السلام له عنصري جسد سره آسمان ته وخیژول شو بَلْ رَّفَعَهُ اللَّهُ إِلَيْهِ لیکن نوي تعلیم یافته خلکو دا خبره ناممکنه بلله چه له دې دنیایي جسم سره پورته څرنګه ځه ند تیریدلی شي لیکن نن صبا پخپله دوی د ځان لپاره په سپوږمی، مریخ او زهره کښې ځایونه برابروي کوم چه دا مرحلي لا ډیري لرې دي. جوړدلی دوراست

د آدم علیه السلام نزول

اسلام دا خبره کړې ده چه حضرت آدم او حضرت بي بي حوا علیهما السلام له دغې زمکې پیدا شول بیا جنت تا وخیژول شول، په جنت کښې د څه وخت له تیرولو وروسته د زمکې د خلافت لپاره زمکې ته را ولیږل شول. د هارون اولاد له دې څخه هم انکار وکړ لیکن اسلامي تعلیماتو خو له حضرت آدم علیه السلام څخه را ونیسه تر اوسه پورې د انسان د تخلیق، انساني عروج، صعود، نزول او له خلا څخه د تیریدلو تصور وړاندې کړ او د معجزې د ظهور او د خدایي قدرت د بنکارولو په توګه نې ډیر مثالونه وړاندې کړل.

تول مسلمانان له اووم آسمان څخه هم پورته ځي

همدارنګه جنت را واخلی او زمونږ عقیده ده چه تول مؤمنان او مقربین بندګان جنت ته ځي. بیا دا هم راغلي دي چه د قیامت په ورځ تول آسمانونه او زمکې فنا کیږي، د دې زمکې او آسمان ځای جهنم نیسي، تر عرش لاندې له سدرت المنتهی سره به جنت وي کوم چه له اووم آسمان څخه پورته دی. نو ګوا که تول مخکښیني او وروستني مسلمان چه انشاء الله کله جنت ته داخلیږي او دا داخلیدل د جسم او د روح د دواړو وي نو تول اووم آسمان او تر دې پورته پروازونه کوي نو بیا به جنت ته داخلیږي. نو افسوس دی چه یو داسي امت د اسلام د دښمنانو د لایعنی کارنامو څخه مرعوب کیږي یا هغه ناقابلِ تسلیم وګڼي. په داسي حال کښې چه دا د صعود او نزول ادنی درجه ده کوم چه د اتمام حجت په توګه د مادیت پرستو قومونو په لاس ظاهریږي.

کومه مسئله حل شوه؟

بیا له دغو "عظیمو کارنامو" څخه کومه انساني مسئله حل شوه؟ لوړه، مرض له منځه لاړ؟ بُغض، عناد، کینه او کورنی جنګ ختم شو؟ طبقاتي، ژبني او د رنګ او نسل جنګونه ختم شول؟ انسانیت ته کومه فائده ورسیده؟ هیڅ و نه شول! خپل منځي دښمني او نفرت نور هم زیات شول، په یوه بل باندې فخر، غرور او ځان لوړ ګڼل شروع شول، بیا په نتیجه کښې کوم ځانګړی تحقیقي انکشاف منځ ته راغی چه دنیا نې په حیرانتیا کښې اچولې وي؟ دا چه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

سپوږمی له عناصرو څخه جوړه شوې د ایرو یا رانجو رنګ لرونکی شی دی کوم چه له لمر څخه د رڼا په اخیستو سره دنیا رڼا کوي، په دې حال کښې چه دا تصور خو په ظنّي توګه مخکښینیو فلاسفه هم وړاندې کړی وو۔ په تصریح او شرح چغمني در واخلی او وټي ګوری، په هغه وخت کښې هغو خپل خیالات بنکاره کړي وو که د سپوږمی جسم د ایرو غوندې دی، او د عربي ژبې دا مقوله د عامو خلکو په ژبه کښې موجوده ده چه "نور القمر مستفادٌ من نور الشمس" (سپوږمی له لمر څخه رڼا اخیستې ده)

له سائنس څخه باطل مذ هبونه پخپله متاثر کیږي

زمونږ په نظر له دې کارنامې څخه یوه فائده لاس ته راغلې ده او هغه دا چه د باطلو مذ هبونو په اند امونو باندې لړزه ګډه شوې ده۔ د یهودیت او نصرانیت په ایانونو کښې زلزله راغلې ده۔ د نن ورځې په اخبارونو کښې راغلې دي چه یهودیانو پخپلو څینو عبادتونو کښې ترمیمات وکړل او د کلیسا خاوندان هم فریادونه کوي۔ د یونان د فلاسفه وو تغلیط وشو، له معجزاتو څخه منکر خلك شرمنده شول لیکن د اسلام په پوره ډول پخپله تائید منځ ته راغی، د اسلام یوه مسئله او یو عبادت هم تر تائیر لاندې را نه غلل او نه به تر قیامته پورې تر تائیر لاندې راشي۔ لَا تَبْدِيلَ لِكَلِمَاتِ اللهِ ذٰلِكَ الدِّيْنُ الْقَيِّمُ (دا دین قیم دی او تر قیامته پورې ژوندی پاتې کیدونکی دین دی)۔ خداوند کریم نه یواځې په دلائلو سره بلکه د دې زمانې د سائنس په برکت سره له حواس او مشاهدې څخه هم اتمام حُجت وکړ۔

وحی او د اسلام د نورو دعوو تائید

چه کله اسلام دا اعلان وکړ چه حضور اقدس ﷺ له آسمان څخه پورتنی شیان په نظر ورتلل او د وحی او الهام په ذریعې سره انبیاء کرام د الله تعالی خبرې اوریدلای شوای نو له دې څخه انکار وکړی شو او نن یو نیم لکه میله لري د خلائي جهاز له خاوند انو سره خبرې اترې کیږي، تیلیفونونه کیږي او د یو انساني ایجاد (تیلویزون) په ذریعې سره د یو نیم لك میله لري حالاتو مشاهده کیږي نو د حضور اقدس ﷺ په روحاني قوت باندې پرته له آلاتو او وسائلو ولي له جبرائیل امین او خداوند کریم سره خبرې نه شوای کولای او که نې د آسمانونو مشاهده کولای شوای نو په دې کښې به د تعجب خبره کومه یوه وي؟

معجزه د امکان دلیل دی

دومره خبره په ذهن کښې کښینوی چه د انبیاء کرامو په لاسونو باندې د داسې کارونو ظهور پرته له شبهې څخه معجزه بلل کیده کوم چه پرته له آلاتو او وسائلو څخه وو او د کوم غیر نبي په وس کښې به نه وو۔ لیکن له دې څخه په هر حال دا ثابته شوه چه د روح لرونکی جسم آسمان ته ختل ممکن دي۔ د دې لپاره چه معجزه د هغه کار ظهور ته وایي چه د خرق عادت په

توګه پرته له وسائلو وشي نه دا چه چه کوم محال شي لره ممکن وګرځوي۔ اوس که چیرته څوك په وسائلو او ذرائعو باندې هغه کار وکړي نو امکان لري لیکن معجزه نه شي بلل کیدلی۔ د مثال په توګه یو سړی پرته له ذرائع څخه کراچی ته ورسیږي نو دا به د هغه کرامت وي او که چیرته ریل، موټر، طیاره او داسې نورو په ذریعې باندې لاړ شي نو د عادي اسبابو دا عمل خرق عادت نه دی او نه کرامت ورته ویل کیږي۔

د قـــــرآنکریم بنیادي مقصد

پاتې شوه دا خبره چه د موجوده پرمختګونو یادونه په قرآنکریم کښې په صراحت سره ولې و نه شوه؟ نو دا خبره یاده لري چه د قرآنکریم موضوع د آخرت د تل ترتله او حقیقي ژوند د لاس ته راوړلو لپاره د دنیا د ځوړ ځوړ ژوند د بنه ساتلو طریقه بیانوي او د دې مقصد لپاره نې د ژوند انه په یوې مرحلې باندې هم مخته راتلونکي ضرورتونه تړې نه دي پریښي۔ د اخروي سعادتونو طریقې له ترغیب او ترهیب سره بیانوي او تجارت، سیاست، ملازمت، زراعت په تولو شعبو کښې د حلالو او حرامو لارښوونه کوي لیکن قرآنکریم د طبیعاتو، نجوم او جغرافیې کتاب نه دی چه د هرې زمانې د پرمختګونو او ارتقاء تولې مرحلې بیان کړي۔ البته د آفاقي نښو نښانو په توګه او په مبدأ او معاد کښې د غور او فکر کولو په خاطر نې چه ضرورت پیښ شي نو د دغو شیانو یادونه په داسې جامعو کلماتو باندې کوي چه له هغې څخه تر قیامته پورې مهمې فنّي مسئلې مستنبط کیدلی شي لیکن دا نه د هر سړي کار دی او نه په هغو باندې پوهیدل د ایمان لپاره ضروري دي۔

په قرآنکریم کښې د علومو نه ختمیدونکي ذخیره موجوده ده

د اولو الابصارو او عقلمندو لپاره د علومو لامتناهي (نه ختمیدونکي) ذخیره په قرآنکریم کښې موجوده ده او له دغو کلیاتو څخه تر قیامته پورې جزئیات را ایستل کیدلای شي۔

محترمو ورونو! د قرآنکریم کائنات بې اندازې او بې حسابه دي، د وسعتونو او پراخیو اندازه نې نه شي لګول کیدلای۔ په یوه حدیث کښې نې په دې الفاظو باندې تعبیر شوی دی چه د عرش معلّی لاندې زر دانې رومالونه زوړند دي او دا اوه زمکې او آسمانونه او څومره شیان چه پکښې دي تول یواځې په یوه دسمال کښې ځای شوي دي۔ په پاتې رومالونو کښې چه کوم شیان دي په هغو باندې له الله تعالی جل علی شانه څخه پرته د هیچا علم نشته۔ وَمَا يَعْلَمُ جُنُوْدَ رَبِّكَ اِلَّا هُوَ۔

په لنډه توګه دا څو تکي ستاسو په حضور کښې وړاندې شو، که چیرته په کومې بلې موقعې کښې خدای وغوښتل نو نور تفصیل به هم پکښې کوو، الله تعالی دې مسلمانان له فتنو څخه وساتي۔ وَاٰخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ۔

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

اســـــلام او د ننني زماني سائنسي ويارونه

څو ورځې مخکښې د روسي سائنسد انانو دې اعلان د علم او تحقيق په دنيا کښې هلاکت خپور کړ چه د روس د "خلايي تحقيقاتو" محکمې نهه ډوله لوناد سپوږمۍ سطحي ته ور وتوغاوه او له هغه ځای څخه ئې معلوماتي اطلاعات ـ ار کړل. بيا څو ورځې وروسته په زهره سيارې باندې د کړې د اچولو خبرونو دنيا نوره هم په حيرانتيا کښې واچوله په دې سې حال کښې چه د سپوږمۍ د لرې والي اندازه سائنسد انانو يو نيم لکه ميله ښوولې وه. او د شمسي نظام د دې دو همې سيارې (زهرې) مسافه (د سائنسد انانو په قول) په دې وخت کښې له مونږ څخه اولس ميليونه لرې وه.

د څيړنو زمانـــــــه

ننني زمانه چه پخپلو طبعي تحقـ ـاتو، علمي او فني ايجاداتو او اکتشافاتو په لحاظ سره د تاريخ اهم ترينه زمانه ده او مستحقه ده چه دا زمانه د د اکتشـ ـاتو او ايجاداتو په زماني سره ياده شي. د روس له دې محير العقولې کارنامې څخه کوم چه له شبهې پرته د سائنس او اکتشافاتو په دنيا کښې يوه عظيمه او د ويارونه کارنامه ده چېرته چه د علم او سائنس په دنيا کښې ئې يوه غلغله (شور او غوغا) پورته شوې ده. هلته په ځينو حلقو کښې په دې باندې د حيرانتيا او تعجب د يو شان جذباتو اظهار کيږي. د مذهب د ژورې مطالعې د نه موجوديت له وجهې ځيني سطحي ذهنونه د شکوکو او شبهاتو بنکار شول چه د سائنس د دې نوي نوي اکتشافاتو او محسوساتو له مشاهدې او تجربو سره اسلام تر کومه ځايه پورې ملګرتيا کوي او آيا د کائناتو د تسخير دغه بې اندازې کاميابي او د اد بريښنا غوندې په تيزۍ سره پر مختګونه خو د اسلام له کومو اصولو سره خو تکر نه خوري؟ او آيا د کائناتو او مادياتو د دې عالم په باره کښې خو به د لسې کومه متوارثه عقيده او نظريه نه وي چه د انکشاف او تسخير له کومې کارنامې سره سر نه خوري؟ د دې نه په فرصت کښې مونږ د دې نقطهٔ نظر له مخې د کائناتو د تسخير او د سائنس په نورو کارنامو باندې نظر اچوو تر څو چه يوې خواته نومورې شکونه او شبهې له منځه لاړې شي کوم چه د ذهنونو ـ ـاتي له کبله د اسلام په باره کښې پيدا کيږي. او بلې خواته د کمتري دا احساس هم له منځه لاړ شي چه ځيني کسان د دغو کارنامو له فريب څخه ډکې بنکلا او پرقيدنې له وجهې بنکار کيږي. او په آخر کښې دا احساس هغه اسلامي زړونه او ذهنونه د خپل مذهب په باره کښې له مايوسي، افلاس، د نورو خلکو ذهني غلامي او فکري مرعوبيت کښې مبتلا کوي.

د سائنس او مذهب د کـــــار حدود

تر کومه ځايه پورې چه د مذهب او سائنس او له يوه او بل سره د تکر او تصادم ويرې او وسوسې اړه لرې د عقل او پوهې د دې کړې ټکې لاړې او د پوهې او نظريې د دې ګمراهۍ

اصلي وجه دا ده چه د غو ذهنونو نه شوای کولای چه د سائنس او مذهب د کار دائره، رفتار او حدود و تعين وکړي په دا سې حال کښې چه د مذهب او سائنس لاړې په بنيادي توګه جلا جلا او د دواړو دائرې ځان ځانته دي. سائنس او تحقيق، علم او انکشاف د محسوساتو او مادياتو له دې عالم سره سر او کار لري کوم چه په يو ډول نه يو ډول زمونږ په حواسو او مشاهداتو کښې راتلای شي او د مذهب تول ګردش او چکر د غيب په هغې دنيا باندې دی کوم چه زمونږ له محسوساتو څخه لرې دی. مذهب مونږ د هغې دنيا له حقيقتونو څخه خبر راکوي کومې چه دنيا نه چه زمونږ د عقل، ادراک، احساس او شعور رسيدل په قطعي توګه ناممکن دي.

فطـــــري تجسس (پلتنه)

مذهب زمونږ د هغو سوالونو، مشکلاتو او غوټو حل وړاندې کوي کوم چه د سائنس، فلسفې، علم او شعور طاقتونه ئې نه حل کولو کښې سترې او لاهانده پاتې دي. د عالم حقيقت څه شی دی؟ د هستی د کارخانې دا هنګامې، شور او غوغاوې کوم ځای ته ځي او ختميږي؟ د اوبو او خټو څخه پيدا شوی دا عالم ولې او د څه مقصد لپاره پيدا شوی دی؟ بيا د دې کائناتو هغه "جوهرې هستي" کوم چه مونږ هغه ته انسان وايو، د جسم او مادې دا کارخانه او د قدرت په دې نه ختميدونکو خزانو باندې ولې قابض او چارپير دی؟ او بالآخره د تسخير او غلبې له قوت او طاقت څخه جوړ شوی دا عالم اصغر (کوچنی عالم) د انسان په لاسونو باندې ولې او د څه مقصد لپاره ور سپارل شوی دی؟ عقل او فکر د دغو سوالونو له ځواب ورکولو څخه قاصر او پاتې دی.

د ســـــائنس پاتې راتلنه او د سائنسد انانو اعتراف

د سائنس او تحقيق عالِم د انساني طبيعت د دغو فطري غوښتنو ځواب نه شي ورکولای او پخپله دوی د دې عاجزوالي او پاتې راتلنې اعتراف کوي او د دې دنيا د اکتشاف او انکشاف له لوی څخه لوی فلسفي او موجد، د اسبابو او مسببياتو د مشکلاتو او معما ګانو حل کوونکي له لوی څخه لوی محقق هم په زوره زوره د خپل قصور او ناپوهي اعلان کوي چه:

"د کائناتو پيل او پای پورې مشاهده نه شي رسيدلای، د دې لپاره زمونږ د کار دائره له دغو دواړو څخه جلا جلا ده". (د فرانسې د سائنس مشهور ماهر پروفيسر ليتر)

د دې دنيا يو بل مشهور شهسوار جې ډبليو اين سليون څومره په واضحه توګه اقرار کوي چه ژوند کوم چه انسان ته له تولو څخه زيات نژدې حقيقت دی، سائنس ئې له کيفيت، نوعيت او ماهيت او پيل له ادراک (پلتنې) څخه قاصر (پاتې راتلونکی) دی.

"او د انسان ژورې مسئلې د سائنس له سرحد څخه د باندې واقع دی، سائنس خ يوائې يو ابتدايي کوشش دی او تولې ښيګړې ئې مشروطې دي". (برهان ۱/۶۰)

"ډيرو سائنسد انانو د ژوند د پيل د معلومولو کوشش وکړ ليکن حقيقت دا دی چه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

اوسه پورې په دې اړه کوم پریکنده علم تر لاسه نه شو"

تهامس هنري هکسلي د نور وضاحت له مخې د عقل او سائنس په دې بې وسي او بې لاس او پښو توب باندې رنا اچوي او وایي:

"چه کله مونږ مخکښینې زمانې ته مخ اړوو او ګورو نو مونږ ته د ژوند د پیل هیڅ ثبت او ریکارډ لاس ته نه راځي او مونږ د دې ظهور په کیفیت باندې قطعي او پریکنده رایه نه شو ورکولی".

د ده یو بل همنامی جولین هکسلي اقرار کوي او وایي چه:

"مونږ یواځې تر مظاهرو پورې رسیدل تر لاسه کولی شو او تر کومه ځایه پورې چه کلي مهارت (پوره پوهنه) اړه لري، نو زمونږ علم یواځې د مظاهرو تشریح او ترجماني کوي".

"د سائنس حقیقت په آزاد انه تحقیقاتو او تجرباتو کښې پټ دی لیکن د دې دا مطلب نه دی چه اصول او مبادي ئې تغیر نه خوري بلکه په دې کښې هر وخت د حذف (له منځه وړلو)، اضافه (زیاتوالي) او ترمیم امکان شته. (برهان ص ۲٤، ج٦، ش۱)

د هکسلي د دې خبرې په ګوته شوي الفاظ په خاصه توګه د دې حقیقت بنکارندوی دی چه د استدلال او فلسفې په بنیاد باندې درول شوي اصول او مبادي څومره کمزوري او بې کفایته وي، بیا نو د ژوند د فطري سوالونو او حقائقو لاښوونه د دغو تغیر قبلوونکو نظریاتو او مبادیو څخه به څرنګه ممکن وي؟

د کائناتو حقیقت او د سائنسد انانو د عاجزوالي اعتراف

د سائنسي اصولو او نظریاتو دا بې ثباتي او کمزوري ده چه کله هم د سائنس په دنیا کښې د کائناتو د حقیقت او ماهیت په باره کښې غور او فکر وشو نو په بنیادونو کښې ئې زلزله پیدا شوه، د چهل او ناپوهۍ طوفان راپورته شو او دا اعلان وشو چه:

"زمونږ د دماغو فطري جوړښت د اشیاوو د ماهیت او کیفیت له ادراک څخه عاجز دی. مونږ یواځې د کمیت ادراک کولای شو او د کیفیت نه شو کولای" (پروفیسر کیلر، برهان ج٦، ش۱)

پروفیسر تنډل د پوهولو لپاره د ګړۍ د مثال په ورکولو سره د سائنس د اختیاراتو حدود وتاکه او وئې ویل چه:

"د فطري واقعاتو او حوادثو پخپله هم همدا حال دی، د عالم د دې ماشین په منځ کښې هم یو پټ ماشین کار کوي، او یوه د قوت خزانه ده کومه چه له دې ماشین او د قوت له ذخیرې څخه پرده پورته کوي او دا وایي چه واقعات او حوادث د هم هغو ورځو له یوه او بل سره د تعلق نتیجه ده لیکن د عالم د کارخانې دا منځنی ماشین پخپله څه شی دی؟ او څنګه جوړ شو؟ او دې ګړۍ ته چا چابۍ ورکړه؟ او د دې د چلولو قوت له کوم ځایه راغی؟ دا هغه سوالونه دي چه څوابونه ئې د سائنس له وس څخه دباندې خبره ده". (له مولانا مناظر احسن ګیلاني ص۲۸ څخه)

په دې کښې شک نشته چه د سائنس د عالم نومورې شهبازان نن فضا مسخر کوي او د لمړي نظام له لوی څخه لوی اجرامونه لاندې کوي لیکن د ژوند انه هغه فطري حقیقتونه چه په پوهیدو باندې ئې په خدای او ورځې د آخرت باندې ایمان راوړونکی هیڅوک هم بې نیازه نه شي پاتې کیدلی. نه هر هغه سړی چه په سر کښې ئې انساني دماغ دي، نه خوشایي. د هغه له پاڅمن حل څخه مستغني (بې پروا) کیدلای شي. سائنس، اختراع او د ایجاد دنیا په دې باره کښې هیڅ لاربښوونه و نه شوای کړای. او په چیغو چیغو وایي چه:

"سائنس د هیڅ یوه شي هم پوره توجیه نه شي کولی او نه د هغه شي سببونه له سره تر پایه بیانولی شي. ځکه چه د انسان له اعلی څخه اعلی علم هم په تاویل او توجیه کښې د شیانو د آغاز خواته یو څو ګامه نه شي وراندې تللی. (هکسلي)

همدغه هکسلي د سائنس د علم بنیادي اصول او مباحث، د علت سلسله، معلول انرجي، برقي سالمات (اجزاء لاتتجزی) د وخت او زماني د غوټو په خلاصولو کښې یو ژوندون په کار اچولی دی لیکن په نتیجه کښې د اسبابو او مسببیاتو تر منځ د زمکې او آسمان د حلقو او کړو په سره لګولو او د نارسا عقل د اس له زغلولو وروسته ئې په بنکاره توګه د خپل "اصول او نتائج" نومي کتاب کښې اعتراف وکړ چه:

"د وجود د اعلی علت مسئله زما د حقیر قوی له لاس رسیدنې څخه د باندې دی. په دې باب کښې چه د څومره خرافاتو د کتلو موقع په لاس راغله په هغو کښې تر تولو بد تر دلائل د هغو خلکو دي کوم چه د عالم د شروع په اړه باریک بینې کوي. لیکن د هغو خلکو مهملات (بې کاره خبرې) له دغو څخه هم ډیر مخ په وراندې ځي کوم چه دا ثابتول غواړي چه هیڅ خدای نشته". (الدین القیم)

دا یواځې یو څو نمونې او اقتباسونه دي له کومو څخه چه د غیب او غیر محسوس عالم په باره کښې د سائنس پاڅې راتلنه او د ژوند د فطري غوښتنو او پوښتنو څخه د سائنس په تیښتې او منډې باندې رنا پرې لویږي. او دا حقیقت هم څرګندیږي چه د مذهب او سائنس دائرې په قطعي توګه جلا جلا دي. په هغو کښې هیڅکله تعارض او تکر نه راځي. یوه بالغ نظر فلسفي او د زړه خاوند عالم څومره ښه ویلي دي چه: "که چېرته د وچې ریل ګاډی د بحر له بیړۍ سره تکر خوړلی شي نو سائنس هم له مذهب سره تکر خوړلی شي".

لنډه دا چه نن چه کومو خلکو ته د سائنسي کارنامو له مخې د مذهب بنیادونه نړیدونکي او لرزیدونکي معلومیږي دا د هغو خلکو د خپل نظر د لنډوالی او د عقل د کموالي دلیل دی.

ہر چہرۂ حقیقت اگر ماند پردۂ — جرم نگاہ دیدۂ صورت پرست ماست

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

د مذهب د اقلیم (چاپیریال) حدود او پـــــــراخی

د مشاهدې او محسوساتو هغه آخري سرحد چې ترته چې سائنس مونږ ېې یاره او ېې مددګاره، په ظلمتْ بعضها فوق بعض (په تیاره پسې تیاره) په عالم کښې، ناپوهي او ېې خبرې کښې پرېږدي او جدا کیږي. رښتیا هم له هم هغه ځایه څخه د مذهب د چاپیریال حدود شروع کیږي، د کوم چې بښیګړې بیخي ډیرې دي او وسعتونه ئې د علم او هدایت، فکر، د پوهې او عقل تولې خزانې را چاپیرې کړې دي، چېرته چې د ظلم او ناپوهې هیڅ صورت هم موجود نه دی، تور نور دی. حقیقي علم رنا ګانې او د قدرت او فطرت مضبوط اصول او د نه ختمیدونکو مبادیو فرمانبرداري دي. فِطْرَتَ اللهِ الَّتِيْ فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا لَا تَبْدِيْلَ لِخَلْقِ اللهِ ذٰلِكَ الدِّيْنُ الْقَيِّمُ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ۝

په کوم سرحد باندې چې د محسوساتو او مشاهدې اتو علم مونږ حیران او سرګردان کړي یو او را څخه جدا کیږي. له هم هغه ځایه څخه مذهب راځي او زمونږ لارښوونه کوي او د انساني فطرت د پوښتنو ځوابونه ورکوي. مونږ د کائناتو د تخلیق او د انسان د پیدائش له مقصدونو څخه خبروي او د شکونو او شبهاتو تولې غوټې خلاصوي او ذهنونه او زړونه له سکون او اطمینان له نعمت څخه ډکوي.

د کائناتو په تسخیـــــــر کښې د مذهب لارښوونه

د ژوند حقیقت او د دنیا د شروع او پای په باره کښې له انساني رهبري څخه وروسته مذهب مونږ ته لار ښوونه کوي چې دا ژوند به په کومو لیکو کښې تیروی او قدرت چې د تسخیر او غلبې کوم استعداد انسان ته ورکړی دی هغه باید په کومو مقاصدو کښې ولګول شي؟ مذهب وایي چې د مشاهدې اتو او محسوساتو دا ټول کائنات د هغو اعلیٰ او لوړو مقاصدو د لاس ته راوړلو وسیله ده د کومو شیانو په بناء چې د عالم دي واړه جرم (جسم) "انسان" ته په تولو کائناتو باندې وړاندې والی ورکړ شوی دی او همدغه اشرف المخلوقات ته ئې تر دې پورې چې د ربانې خلافت د عروج د مقام آخري او لوړ ځای ته خیژولی دی. مذهب وایي چې دا ژوند چې له ادراک څخه ئې ستاسو سائنس او عقل قاصر وو د اخرت او تل تـ ـله ژوندون ذریعه جوړه کړی او په دې ډول د همیشه پاتې کیدو هغه فطري غوښتنې په حقیقي معنی سره پوره کړی د کوم چې هیله او غوښتنه ستاسو په خته کښې پرته ده. مذهب هیڅکله هم مونږ د دغو تسخیري قوتونو له په کار اچولو څخه نه منع کوي کوم چې زمونږ په جوړښت کښې د قدرت له فیضه ډک لاس را کښې ایښی دی. هغه وایي چې تاسو ستوري شمیرلی شي، لمر او سپوږمی لاندې کولی شی، غرونه ځیرولی شی، هواوې او سمندرونه مغلوبولی شی او د زمکې او آسمان پراخی سره یوځای کولی او پخپلو موټو کښې راوستلای شی. تیز رفتاره او دیو هیکل بې روحه شیان د خلایې سیارې، طیارې، ریل ګاډي او بحري بیړی په شکل کښې زغلولی شی.

د کائناتو د عناصر اربعه وو حقیقتونه او ماهیتونه بدلولی شی. تر دې پورې چې له د غو کائناتو څخه د ایتمي طاقتونو په صورت کښې د قوت او طاقت لامحدوده دولت حاصلولی شی. ستاسو لپاره دا آسانه ده چې تاسو د غرونو ځیګر او د فضا پردې وځیرې او ممکنه ده چې تاسو له زمکې څخه برسیره زهره، سپوږمی او د شمسي نظام نورې سیارې هم خپل مسکن (د اوسیدو ځای) جوړ کړی چې دا ټول ستاسو لپاره پیدا شوي دي. او دا هم ممکنه ده چې د دجالي تهذیب پوره پرمختګ او عروج په زمانې کښې ستاسو د اتخلیقي قوت او اختراعي صفت د کمال درجې ته ورسیږي او وریځ، اورښت او په مصنوعي صورتونو باندې د امواتو په احیاء باندې هم قادر شی.

د ډیـــــــرو دعوی ګانو تائید او توثیق

مذهب د هغې ورځې په انتظار کښې دی چې تاسو دا هر څه وکړی چې د مذهب د ډیرو دعوو نور توثیق او تصدیق ستاسو په دغو سائنسي کارنامو پورې موقوف دی. په همدې ډول د غیب د اخبارو او رجالو هغه تولې دعوې او حقیقتونه په تاسو بنکاره کیدلی شي کومې چې تاسو د خپل تیاره زړه او دماغو او فلج شوي ذهنونو په بناء باندې ناممکن او محال ګڼلي. هغه حقیقتونه او خارق العادة کارونه چې مظاهره ئې د دې کائناتو خالق د غیبي اسرارو منادو شخصیتونو (انبیاوو او رسولانو) په لاسونو کړې وه، تاسو نن د سائنس او صنعت، راکټ او میزائل په مدد سره د فضاګانو میدانونو ته ور کوزیږی، مونږ دا خبره منلې ده چې د پیړیو پیړیو له ، حنتونو او کوشښونو څخه وروسته نن تاسو له فضاء څخه په تیریدلو سره د دنیا آخري کنارې ته ورسیږی.

رسول کـــــــریم ﷺ او د عروج او الوتنې منزلونه

لیکن آیا له نن څخه څوارلس سوه کاله مخکښې په مخلوقاتو کښې د الٰهي خلافت تر تولو لوی بنکاروونکی انسان "محمد عربي فداه ابي و امي ﷺ" په شکل کښې د عروج او الوتنې دا ټول منزلونه د سترګو په رپ کښې نه دي طی کړي؟ وَلَقَدْ رَاٰهُ نَزْلَةً اُخْرٰى.

هغه څوک چې پخپله د انساني پرمختګ او عروج آخري تکی وو (ﷺ) هغه څوک چې سپوږمی او ستوري خو پرېږده له آسمانونو او ملکوتي کائناتو څخه هم پورته ختلی وو. چېرته چې د دنیا تر تولو لوی د راز محرم او طاقتوره هستي حضرت جبریل امین علیه السلام رسیدل هم ناممکن وو. د ملأ اعلیٰ په دې اسراء او معراج کښې نه هغه ته د جسماني قوت او طاقت ضرورت ور پیښ شو او نه د مادیاتو د دې عالم د مشاهدې اتو کوم مادي قوت ئې لاس نیونه وکړه. بیا یواځې همدا اسلام او مذهب وو چې د عروج، استیلاء، معراج او ارتقاء دلسې ژوندی انځور د محمد عربي ﷺ د معراج په شکل کښې په پیړیو پیړیو مخکښې د دنیا مخې ته وړاندې کړ. کائناتو د تسخیر دومره زور تصور او د هغه د امکان په دائرې کښې د تعلیم کیدل په کوم بل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

مذهب، نظریې او دستور کښې تر اسلام مخکښې نه وو۔ د تجربې او سائنس دا غلامان او د عقل بندګانو خو تر اوسه پورې توکي بللې او د ژوند د ټولو حقیقتونو او د شروع او د پای د خدایي تقاضاوو او حکمتونو په شان ټې د دې هم تکذیب وکړ۔ بَلْ كَذَّبُوا بِمَا لَمْ يُحِيطُوا بِعِلْمِهِ

د مخلوقاتو تسخیر د خالق د معرفت ذریعه شوه

لنډه دا چه قدرت مونږ ته له پوره فیاضي سره له دې کائناتو څخه د ګټې اخیستلو اختیار راکړی دی۔ چه د ژوند په فطري سفر کښې چه کوم خنډونه ستاسو مخې ته راشي هغه زیر او زبر کړی۔ لیکن هو! د ژوند په هره لحظې او هره ثانیې کښې له دې حقیقت څخه مه غافله کیږی چه ستاسو دا ټول قوتونه او قدرتونه د کوم بل چا (الله تعالی) د کرم او مهربانی نتیجه ده۔ یوه وراء الوراء هستي ده چا چه تاسو د عقل او پوهې له نعمت څخه برخمن کړی او د تسخیر او تصرف دا لاري ټې در وښوولې، هغه د خپل بې شانه فضل او کرم څخه تاسو ته د عقل دولت درکړ، د استنباط او استخراج له نعمت څخه ټې برخمن کړی چه له مخې ټې تاسو کائنات د خپل حرکت، ګرځیدنې او تصرف میدان جوړ کړی دی۔ د انساني عقل، شعور او ادراک دا ملغلره د هغه یو بخښش دی چه له وجهې ټې تاسو عناصر اربعه ته د تحلیل او ترکیب په ورکولو سره د طاقت په لاړوال خزانو باندې قابض شوي یی۔ که چېرته د هغه د فیض او کرم کرشمې نه وای او که چېرته ټې قیمتي جوهر (ملغلره) عقل او پوهه تاسو ته نه وای درکړی نو تاسو به د کائناتو تر ټولو حقیر او ناتوانه مخلوق وای۔ ځکه چه په کائناتو کښې له عقل او پوهې څخه خالي مخلوق فیلان، غوایي او دا سې د جسم او ضخامت له مخې تر تاسو ډیر غټ غټ دي۔ بیا هم همدغه رب تعالی دی چا چه د عقل، پوهې او رباني خلافت په نعمتونو ونازولی او دا کائنات ټې ټول درته مسخر کړی دی۔

وَ لَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِيْٓ اٰدَمَ وَ حَمَلْنٰهُمْ فِي الْبَرِّ وَ الْبَحْرِ وَ رَزَقْنٰهُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ وَ فَضَّلْنٰهُمْ عَلٰى كَثِيْرٍ مِّمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيْلًا☆

"او البته مونږ بني آدم ته فضیلت ورکړ او د وچې او لمدې ټول قوتونه مو ورته تابع کړل او دوی مو په وچې او لمدې کښې سواره کړل او د دوی د روزي لپاره مو ښه ښه شیان پیدا کړي دي۔ همدارنګه کوم مخلوقات چه مونږ پیدا کړي دي په هغو کښې مو دوی ته په اکثرو باندې بهترې ورکړي ده"

هُوَ الَّذِيْ خَلَقَ لَكُمْ مَّا فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا.

"الله هغه ذات دی چا چه په زمکې کښې د ننه ټول شیان ستاسو لپاره پیدا کړي دي"۔

قرآن او تسخیر او اکتشاف

د غیب په لاړې پوهوونکي د غیب دا آخرې صحیفه وایي چه دا ایواځې یواځې خدای تعالی دی چه انسان ته ټې د ټولو مخلوقاتو حاکمیت ورکړی دي او سفلیات (کښتنی عالم)

خو پریږده په علیات (پورتنی عالم) تر لمر او سپوږمۍ پورې ټې تاسو ته تسخیر کړی دی۔

اَللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضَ وَ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَخْرَجَ بِهٖ مِنَ الثَّمَرٰتِ رِزْقًا لَّكُمْ وَ سَخَّرَ لَكُمُ الْفُلْكَ تَجْرِيْ فِي الْبَحْرِ بِاَمْرِهٖ وَ سَخَّرَ لَكُمُ الْاَنْهٰرَ☆ وَ سَخَّرَ لَكُمُ الشَّمْسَ وَ الْقَمَرَ دَآئِبَيْنِ وَ سَخَّرَ لَكُمُ الَّيْلَ وَ النَّهَارَ☆ وَ اٰتٰكُمْ مِّنْ كُلِّ مَا سَاَلْتُمُوْهُ وَ اِنْ تَعُدُّوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ لَا تُحْصُوْهَا اِنَّ الْاِنْسَانَ لَظَلُوْمٌ كَفَّارٌ☆

"هغه الله تعالی چه زمکي او آسمانونه ټې پیدا کړل او له آسمانه ټې اوبه را نازلې کړې، بیا ټې تاسو ته له زمکي څخه له مختلفو میوو څخه روزي را و ایستله او مسخره ټې کړه تاسو ته بیړی، چه د هغه په امر سره په دریاب کښې روانه شي او تابع کړي ټې دي تاسو لره بیالې او تابع کړي ټې دي تاسو ته لمر او سپوږمۍ، چه ګرځیدونکي دي او تابع کړي ټې دي تاسو ته شپه او ورځ او درکړي ټې دي تاسو ته ځینې هغه شیان چه تاسو ټې غوښتنه تري کړې ده او که وشماری تاسو د خدای نعمتونه او احسانات نو شمارلی ټې نه شی۔ بیشکه انسان خامخا ډیر ظالم (بې انصافه) او ناشکره دی" (ترجمه د شیخ الهند)

یواځې الله تعالی دی چه تاسو ټې سره له دې چه تر ټولو مخلوقاتو ټې زیات محتاج پیدا کړي یی د کائناتو هر شی ټې که سفلي دي او که علوي تاسو ته بیګار کړي دي۔

اَلَمْ تَرَوْا اَنَّ اللّٰهَ سَخَّرَ لَكُمْ مَّا فِي السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ وَ اَسْبَغَ عَلَيْكُمْ نِعَمَهٗ ظَاهِرَةً وَّ بَاطِنَةً. (پاره ۲۱، آیت ۲۰)

"آیا تاسو نه وینی چه کوم شیان په آسمانونو او زمکو کښې دي ټول الله تعالی ستاسو په کارونو کښې لګولي دي او په تاسو ټې خپل ظاهري او باطني نعمتونه پوره کړي دي" (ترجمه د احمد علي لاهوري)

همدارنګه په دې اړه ډیر آیتونه راغلي چه په لاندې ډول دي:

وَ سَخَّرَ الشَّمْسَ وَ الْقَمَرَ كُلٌّ يَّجْرِيْ لِاَجَلٍ مُّسَمًّى (پاره۲۳)، وَ سَخَّرَ الشَّمْسَ وَ الْقَمَرَ لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ (پاره ۲۱، آیت ٦١)، اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ سَخَّرَ لَكُمْ مَّا فِي الْاَرْضِ وَ الْفُلْكَ تَجْرِيْ بِاَمْرِهٖ. (پاره ۱۷، آیت ٦٥)، وَ سَخَّرَ لَكُمُ الْاَنْهٰرَ (پاره ۱۳)، وَ سَخَّرَ لَكُمُ الَّيْلَ وَ النَّهَارَ وَ الشَّمْسَ وَ الْقَمَرَ مُسَخَّرٰتٌ بِاَمْرِهٖ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ. (پاره ١٤، آیت ١٤)، وَ هُوَ الَّذِيْ سَخَّرَ الْبَحْرَ (الی قوله) لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ. (پاره ١٤، آیت ١٤)، وَ سَخَّرَ الشَّمْسَ وَ الْقَمَرَ كُلٌّ يَّجْرِيْ اِلٰى اَجَلٍ مُّسَمًّى وَّ اَنَّ اللّٰهَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ. (پاره ٢١)

وَ الْاَنْعَامَ خَلَقَهَا لَكُمْ فِيْهَا دِفْءٌ وَّ مَنَافِعُ وَ مِنْهَا تَاْكُلُوْنَ وَ لَكُمْ فِيْهَا جَمَالٌ حِيْنَ تُرِيْحُوْنَ وَ حِيْنَ تَسْرَحُوْنَ وَ تَحْمِلُ اَثْقَالَكُمْ اِلٰى بَلَدٍ لَّمْ تَكُوْنُوْا بٰلِغِيْهِ اِلَّا بِشِقِّ الْاَنْفُسِ اِنَّ رَبَّكُمْ لَرَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ. (الی قوله) وَ يَخْلُقُ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ☆

"او پیدا کړي ټې دي تاسو ته ځناور چه په هغو کښې ټې تاسو ته د ګرم والي اسباب او ډول ډول فائدې ایښي دي او له هغو ځخه ځینې تاسو خوري۔ او په هغو کښې ستاسو لپاره ښائست دی چه کله ټې کور ته راولی او کله ټې د باندې را باسی۔ او همدا ځناور ستاسو درانه بارونه هغه ښار ته وړي چه تاسو نه شی ور رسیدلی مګر د نفسونو په مشقت او تکلیف سره۔ بیشکه ستاسو پرودګار ډیر مشفق او رحم کوونکی دی۔ (الخ) او پیدا کوي هغه شیان چه تاسو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

پرې نه پوهیږی"۔

آیا دپورتنۍ آیت آخري ټکړه وَيَخْلُقُ مَا لَا تَعْلَمُونَ د نوي اکتشافاتو او د موجوده زمانې د نوي نوي اختراعاتو خواته اشاره نه کوي؟

د تسخیـــــــر (تابع والي) د نعمت حق او تقاضا

له دغو بینو آیتونو څخه دا حقیقت په ښه توګه څرګندیږي چه انسان دا تسخیري کارنامې د قدرت د منشأ په خلاف نه دي او نه اسلام تاسو له دي څخه منع کوي۔ بلکه ځای په ځای د تفکر، تدبر او پوهنې په خاطر مونږ ته د دې کائناتو د پراخې په اړوند د غور، فکر او سیر فی الارض (په ځمکې کښې د ګرځیدنې) دعوت راکوي۔ او غواړي چه مونږ د مشاهداتو د دې عالم انفُسي او آفاقي آیتونه د هغو د خالق د پیژندګلوي او نومورې قوتونه د هغه د مرضیاتو د حاصلولو ذریعه وګرځوو۔ ستاسو دا خلا نوردی، (خلایي سفرونه او ګرځیدنې) مو باید چه د هغه د قدرت او عظمت د پیژندلو ذریعه وګرځي۔ او د هر نوي انکشاف، اختراع، ایجاد او ادراک په وخت ستاسو روح او ځان د هغه په عظمت او کبرایي کښې ډوب شي۔ چه هغه ستاسو د آرام او هوساینې په خاطر د نعمتونو یوه دنیا تیاره کړې ده۔ اوس ستاسو فرض دي چه د هغه د حمد، ثنا او صفت د سندرو په ویلو سره د هغه له نعمتونو څخه کار واخلی۔ دا لمر او سپورمی د هغه د نعمتونو او اکرامونو یوه ذره ده او همدارنګه باید د دې عالم هره ذره د انسانیت د تل تر تله کامیابی، همیشنی امن او بقاء وسیله وګرځوی۔ نه دا چه ستاسو دا ساینس او تحقیق د هغه له عظمتونو او قدرتونو څخه د غفلت، انکار، د هغه د نافرمانی، سرغړوني، د دې دنیا په مخلوقاتو باندې د ظلم او تجاوز ذریعه وګرځي۔ خدای مکړه چه داسې و نه شي چه دا ایجادات ستاسو د بهیمي (څیرونکي) او حیواني (ځناوري) جبلت (فطرت) له وجهې د عالم د تباهۍ او بربادۍ او د مخلوق د له منځه تلو سبب وګرځي۔

بلکـــــــه:

ثُمَّ سَتَذْكُرُوْا نِعْمَةَ رَبِّكُمْ اِذَا اسْتَوَيْتُمْ عَلَيْهِ وَتَقُوْلُوْا سُبْحَانَ الَّذِيْ سَخَّرَ لَنَا هٰذَا وَمَا كُنَّا لَهٗ مُقْرِنِيْنَ وَاِنَّا اِلٰى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُوْنَ.

"بیا چه کله تاسو تسلط پرې راولی نو د خپل رب احسان در په زړه کړی او دا ووایی چه پاک دی هغه ذات چا چه تابع کړ مونږ ته دا شی او مونږ هیڅکله پخپلې قابو کښې نه شوای راوستلای۔ بالآخره مونږ تول د هغه خواته رجوع کوونکي یو"۔

كَذٰلِكَ سَخَّرَهَا لَكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ.

"الله تعالی دا شیان تاسو ته داسې تابع کړل ترڅو چه تاسو شکر ادا کړی"۔

كَذٰلِكَ سَخَّرَهَا لِتُكَبِّرُوا اللّٰهَ عَلٰى مَا هَدٰكُمْ.

"همدارنګه هغه ذات تاسو ته تابع کړه ترڅو چه تاسو د الله تعالی لویي بیان کړی چه هغه تاسو ته هدایت کړی دی"۔ (ترجمه د حضرت مولانا لاهوري)

ـــــ رسپورمی بورې رسیدل او د اسلام موقف

لنډه دا چه ساینسي کارنامه ویا د سپورمی او لمر د تابع کولو په باره کښې په اسلامي لیکنو کښې کومه داسې تصریح نه مینځ کیږي چه له هغه څخه د دغو شیانو نفی وشي۔ د لمر او سپورمی په کوم ځانګړي آسمان یا د نورو سیاراتو له آسمانونو څخه پورته یا په پنځم او شپږم آسمان کښې د هغو د تعین چه کوم اقوال مشهور دي هغه د یونان د فلسفي یا بطلیموسي هیئت او یا د اسرائیلي روایتونو باندې مبني دي۔ البته له قرآن او سنتو څخه د آسمانونو وجود د هغو ذي جرم والی (کلك جسم والی)، په هغو کښې د دروازو او لارو موجودوالی، د هغوی په مختلفو منازلو او برجونو باندې ویش ثابت دی۔ د اسلام په بزرګانو کښې د حضرت عبد الله ابن عباس او د داسې نور رضی الله عنهم په روایتونو کښې دا تصریح تر لاسه کیږي چه د فلکي نظام تولې سیارې د لمر او سپورمی تر څنګ د معلقه قنادیلو (زوړندو شمع دانونو) په شان کښې د آسمان لائدې زوړندې دي۔ او آسمانونه له دغو تولو سیارو څخه پورته دی۔

النجوم قنادیل معلقة بین السماء و الارض بسلاسل من نور بایدی الملائکة. (روح المعانی ج ۳۰، ص ۵۱)

طبعیاتي علوم او د امـــــام غزالي یوه اصولي خبره

نور د دغو علومو په باره کښې اصولي خبره هغه ده کومه چه امام غزالي پخپلو لیکنو او تاثراتو (المنقذ من الضلال) کښې فرمایي چه د ریاضیاتو، منطقیاتو، طبعیاتو او داسې نورو له مذهب څخه د نفی او اثبات سره هیڅ تعلق نه لري۔ او نه د مذهب د اثبات لپاره له دغو څخه د انکار ضرورت شته۔ د دغو طبعیاتي علومو په باره کښې (چه په هغو کښې د آسمانونو، ستورو عناصر اربعه وو، اجسام مرکبه او مفرده وو څخه بحث کیږي) مونږ باید دا اصولي خبره باید په زړه ولرو چه طبیعت د الله تعالی په واك او اختیار کښې دی، خپل واك نه دی۔ چه کوم خلك د دغو علومو له باریکیو څخه په مرعوب کیدلو سره دا ګومان کوي چه په غیبي علومو او حقائقو کښې به هم د دغو خلك همدا حال وي نو هغوی په دې خبرې کښې غلط دي۔

امـــــام غزالي رحمه الله یوې خواته د طبیعت د علماوو له نومورو کـــــارنامو څخه مرعوبو ذهنونو او د هغو په تقلید کښې د دین په انکـــــار او استخفاف کوونکو باندې سختي نیوکي کړي دي۔ او بلې خواته ئې په هغو سطحي ذهنونو باندې هم تنقیدونه کړي دي چه هر نوی ایجـــــاد او مادي اکتشاف له اسلام سره ټکر بولي او له منلو څخه ئې انکار کوي۔ حجة الاسلام امام غزالي رحمه الله فرمایي:

الأفة الثانية نشأت من صديق للاسلام جاهل ظن ان الدين ينبغي ان ينصر بانكار كل علم منسوب اليهم فانكر جميع علومهم و ادّعى جهلهم فيها حتى انكر قولهم في الكسوف و الخسوف و زعم ان ما قالوا خلاف الشرع فلما اقرع ذلك بسمع من عرف ذلك با لبرهان القاطع لم يشك في برهانه و لكن اعتقد ان الاسلام مبني على الجهل و انكار البرهان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

القاطع فيرداد للفلسفة حيّا و للاسلام بغضاً و لقد عظم على الدين جناية من ظن ان الاسلام ينصر بانكار هذه العلوم و ليس في الشرع تعرض لهذه العلوم بالنفي و الاثبات و لا في هذه الامور تعرضٌ لامور الدينية.

له طبیعاتو څخه د مرعوبیدو غوندې دا هم یو آفت دی چه دا سلام څینې ناپوه دوستان د فلاسفه وو او د طبیعاتو دعلماوو هر نوی ایجاد او نظریه او د هغو د هري دعوې تردید خپل فرض او د اسلام خدمت ګڼي۔ تر دې پورې چه د کسوف او خسوف په باره کښې د هغو خبرې د شرع او مذهب سره متصادم او تکر بولي۔ د دې نقصان ورکوونکی طرف دا دی چه کوم خلك د دغو نظریاتو او اکتشافاتو د ریښتونولي قائل وي او د مضبوطو دلائلو له مخې د هغو په نزد دا شیان مسلّم وي (تسلیم شوي وي) نو په دغو خبرو سره پخپله د اسلام په هکله د هغو اعتقاد کمزوری کیږي۔ او (نعوذ بالله) دا تاثر تري اخلي چه د اسلام بنیاد په جهل او له مشاهداتو څخه په انکار باندې ولاړ دی۔ نو بیا د دې په ځای چه له طبعیاتو څخه انکار وکړي له اسلام سره نوره بدګومانې هم زیاتیږي۔ د دغو خلکو د اسلام په باره کښې دا لویه بیباکي او جرأت دی د کومو خلکو چه ګومان دا دی چه اسلام د دغو علومو د انکار تائید او حمایت کوي۔ په دې حال کښې چه شریعت ته نه د دغو شیانو ثبوت مطلوب دی او نه انکار۔ او نه د دغو علومو تحقیقات له دیني اصولو سره تکر دي۔ (المنقذ من الضلال للغزالي ص ۱۰)

د بنائست او بدي د ارو مدار په مقاصدو او استعمال پورې اړه لري

تر دې ځایه پورې چه کوم شیان عرض کړی شو له هغو څخه په ښه توګه دا څرګنده شوه چه د سائنس له کوم لوی څخه لویه کارنامه د مذهب په یوه اړخ باندې هم کوم اثر نه اچوي۔ بیا دا سلام غوندې د فطرت دا سې دین چه پخپلو بنیادي اصولو، ارکانونو، روح، مزاج او مقاصدو کښې د ذري غوندې د ترمیم او تبدیلی طرفدار نه دی، مبادي او اغراض ئې لاقاني دي او په احکامو او قوانینو کښې قطعي دی۔ ناممکنه ده چه دا حنفي ملّت د سائنس، علم او نظریاتو کوم چیلنج (د مقابلې لپاره بلنه) قبول نه شي کړای۔ دوی د دغو مادي ترقیاتو مخالفت نه کوي په دې شرط چه په دې فاني کائناتو کښې ستاسو دا منډه تر ډه د مقاصدو، مبادي او انجام څخه د غفلت سبب جوړ نه شي او دا وسائل او ذرائع د ژوند انه مقصد و نه ګڼي۔ د اشیاو پخپل ذات کښې نه خیر دي او نه شر۔ که چېرته ستاسو دا قوتونه د عالم د فلاح، د انسانیت له یوه اوبل سره په همدردۍ، د انساني حقیقت د پیژندګلوي ذریعه، او د آخرت د لاس ته راوړو وسیله او سبب جوړ شي نو د هغو د ښه والي به نور څه ووایو۔ او که چېرته ستاسو دا ایجادي او اختراعي کارنامې د دنیا د مختلفو مملکتونو د تباهۍ او بربادۍ، د عالم د تخریب کارۍ، د انسان د پریشانۍ، د یوه اوبل د مغلوبولو او مقهورولو اونیست او نابودولو سبب جوړ شي۔ او لکه څرنګه چه له دوو نړیوالو جنګونو څخه واخله تر اوسه پورې د دغو شیانو له استعمال څخه ثابتیږي۔ نو ستاسو دا سائنس او تحقیق او دا د شپې او ورځې کوششونه مو یوائې د

ځناورتوب د دې جذبې د تسکین او آرامولو او د وحشت او بربریت بشکارندوی دی کوم چه له خدایه او فطرت له نوامیسو څخه د غفلت او انکار او مادیت له ډوند د پای له ګنلو وروسته دغو انسان بشکاریدونکو جسمونو له وحشي درندګانو او ځناورو څخه هم ذلیل او خوار جوړوي۔ أولئك كالأنعام بل هم اضل. که چېرته ستاسو مقصد له دغو خلایي فتوحاتو څخه د زمکې نو د کائناتو ملکوتي طاقتونه ستاسو په دغو کامیابیو باندې لعنتونه لیږي او په چغو چغو سره وایي چه:

تو کار زمین را نکو ساختی
که کر آسمان ہل و پرداختی

بیا د خدای په نزد د خلایي او ایتمي زمانې روشن خیالو او انسان نما څیرونکو کښې اوسیده لیکن زړه نې د انسانیت له احترام، فلاح او خدایي اقدارو له عظمت او تقدیس څخه آباد وو۔

ایجاد او اختراع او د عـــالم بربادي

د هیـــرو شیما زړه بوګنوونکي کیسې به د چا هیرې شي چه یو اخې پـــه یوه ورځ (شپږم اګست ۱۹۴۵ء) په یوه بم باندې د جاپان دا لوی او عظیم ښار له خاورو سره خاوري شو۔ د صدر میونسپلتي د راپور مطابق له همدې یوه بم څخه دوه لکه څلویښت زره کسان هلاك شول، تر سلګونو میله مسافې پورې فضا له تابکاري ذراتو څخه زهر جنه شوه۔ او په نتیجه کښې نې چه کوم خلك ژوندي پاتې شوي وو د هغو وینې تحلیل شوې، وینستان به نې تویېدل، اند امونه به نې کاره شول او بیا به د مرګ کندې ته ولویدل۔ (د ماذا خسر العالم ژباړه) مخکښې اونۍ کښې د فرانسې یوې مشهورې رسالې "پیرس مارچ" کښې د دې تباهۍ د هلاکت بخښونکي مفصل راپور خپور شو چه ژباړه نې د جنګ ۱۹۶۵/۳/۱۰ء کښې خپره شوه۔ دا راپور وایي چه د لسو لکو کلونو انساني پرمختګ په څو لمحو کښې له منځه لاړ۔ دې بنار "ناګاساکي" هم همدغه حال وو۔ دا خو د هغه وخت د اتوم حال وو۔ د نن صبا د شل میګاټن یو بم له هغو بمونو څخه زر چنده طاقتور دی۔ او که چېرته دا بم په دا سې بنار باندې واچول شي چه رقبه او حدود نې شل میل مربع وي نو د سترګو په رپ کښې به نې توله آبادي نیست او نابوده شي۔ د برطانوي سائنسدانو د اندازې مطابق د لندن یا نیویارك غوندې ګڼې آبادي باندې که چېرته دا یو بم واچول شي نو تر دوه سوه لکو پورې خلك د مرګ له برخلیك مخامخ کولی شي۔ امریکي حکام د دا سې لرې واټن ویشتونکو توغندیو دعوه کوي چه مخامخ روس، چین پرې تباه کولی شي۔ د روس حکومت اعلانونه کوي چه ماسل میګاټنه هایډروجن بم تیار کړی دی کوم چه له روس څخه په زرګونو میله لرې د دښمن په علاقو کښې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

هري صنعتي، اقتصادي او فوجي اداري لره له منځه وړلی شي۔ او د دي مهلك تابكاري اثرات د لكونو مربع ميل مسافي تر منځ هر روح لرونكي شي لره مفلوج كولی شي۔

د نوي تهذيب سائنسي فتنه سامانی

د نوي تهذيب د دغو نويو فتنو جوړوونكو تعبير حضرت اكبر الٰه آبادي په څومره ښو الفاظو سره كړی دی۔

جان ہی لینے کی حکمت میں ترقی دیکھی — موت کا روکنے والا کوئی پیدا نہ ہوا

دا حال خو د دغو شيانو د اختياري او ارادي استعمالولو دی۔ په غير ارادي او تكويني توګه باندي د دغو شيانو هلاكت بخښونكی حال څه دی؟ په مخكښينی يوي ميا شتي كښي د دنيا يو اځي د يوه حكومت په يوه دار الخلافت "توكيو" كښي له پرله پسي هوايي واقعاتو څخه دري سوه كسان هلاك شول۔ د دنيا په مختلفو برخو كښي اته، لس طياري ولويدي او تباه شوي۔ د امريكي له ايتمي اسلحي څخه ستيال هوايي جهاز د سپين په بحيري كښي ولويده او پوره يوه دنيا ني د هلاكت او تباهي له خطري سره مخامخ كړه۔ همدارنګه هغه درندګي او حيوانيت هم په نظر كښي ولری كوم چه د ويتنام په كمزوري او خالي لاس انسانيت باندي تر سره كيږي۔

د اسي هيبتناكو نتائجو ته په كتو سره ډاكتر الفريډ ايون له جنګ عظيم څخه وروسته ويلي دي چه له جنګ عظيم څخه وروسته د سائنسي پرمختګونو په باره كښي زما نبه توقعات (هيلي) له منځه لاړي۔ ما وليدل چه هغه علوم او فنون او انجينري حكمتونه له كومو څخه چه د انسان خدمت كيدلای شوای برعكس د هغه په حق كښي دښمن جوړ شول۔ او د هغه په وحشت، سنګدلي، شقاوت او بهيميت كښي له دغو آلاتو څخه ډير لوړ والی راغی۔ د ورانكاری او بربادی عظيم الشان ماشين مونږ څناورو ته په لاس راغی۔ د دغو ترقياتو د فريب د نظر حقيقت بل سائنسدان پروفيسر "جود" په د اسي الفاظو سره په ډاګه كړی دی چه "تاسو طياري لره په انساني فضا كښي الوتلی وينی او د هغې د موجد په عزم او همت باندي شاباسی وايی ليكن لږ خو هغو مقاصدو ته هم نظر واچوی د كومو مقاصدو لاندي چه دا طياري استعماليږي۔ هغه مقصدونه څه دي؟ له آسماني فضا څخه بې وسه او بې لاس او پښو انسانانو باندي بمباري، د انسانانو جسمونه تكړي تكړي كول د ژوندو خلكو غاړې پرې كول، د انساني جسمونو سوځول، د زهر جنو ګازونو استعمال۔ دا مقاصد خو يا د احمقو دي او يا د شيطانانو۔

إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ أَنْ يُعَذِّبَهُمْ بِهَا فِي الدُّنْيَا وَتَزْهَقَ أَنْفُسُهُمْ وَهُمْ كَافِرُونَ (الآية) هَلْ يُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ. صدق الله خالق الكل مولانا الكريم.

د سپوږمی او ستورو تسخير (تابع كول)

د سائنس په دنيا كښي له مخكښي څو كلونو څخه د خلايي فتو حاتو شور ماشور دی، امريكی خلايي جهاز اپالو د هم اوسنی تجربه او په ۲۰ جولائي ۱۹۶۹ء كښي سپوږمی ته د انسان د ورځولو له پروګرام څخه په ښكاره دا څرګندږي چه زمونږ د دي پراخ كائناتو ښكلي سياره سپوږمی غواړي چه د انساني ګامونو لاندي راشي۔ د مذهب او سائنس د كار له دائري او حدودو څخه بې خبري، په طبعي علومو كښي خامي، له مذهب څخه د لري والي يا كم علمي له وجهې دغو خلايي كارنامو ډير مسلمانان په احساس كمتري، مرعوبيت او شكوكو او شبهاتو كښي اچولي دي۔ د نن په فرصت كښي د اسلامي نقطهٔ نظر له مخي په دي مسئلي باندي څه اصولي رنا اچول كيږي۔

د انساني فطرت د پلټنې د منلو وړ څواب

د مسلمانانو عقيده ده چه د عالم دا توله كارخانه د خپل تخليق او بقا او د خپلې سلسلې په كلك درولو كښي له كومې بې روحه مادي، انرجي، دنامعلوم اليكترون يا د علت او معلول د سلسلې منت منونكی نه دی بلكه دا ډير منظم او له حكمت څخه ډك كائنات د يوه حيّ، قيّوم، حكيم او عليم ذات كرشمې دي۔ د انساني فطرت چه په دي باره كښي كومې پلټنې او بې اطمينانې ده د دي بې اطمينانی يو ساده، سيده او د منلو وړ څواب همدا دی۔ د دي ازلي او ابدي حقيقت په پريښودو سره عقلاوو، مخكښينيو فلاسفه وو يا د ننني زماني د طبعياتو ماهرينو او سائنسدانانو چه كومه لار غوره كړې ده هغه په يوې داسې پولې كښې ختمه او پاې شوه چېرته چه هغوی په حيرانتيا، اضطراب، فكري انتشار، دبيانونو تكر او بالآخره د عجز او كمزوری له اعتراف او اقرار څخه بل څه په لاس ور نه غله۔

لامحدود (بې اندازې) كائنات او سائنسي اعترافات

بيا دا كائنات يو اځي هغه نه دي كوم چه تر اوسه پوري زمونږ په علم، ادراك (پلټنې) او مشاهداتو په نيوكي كښي راغلي دي بلكه د خداوند قدوس د خدايي هيڅ پای نشته۔ موجوده سائنس لره د خپلو تحقيقاتو او تجرباتو له مخي اعتراف دی چه د علوياتو او سفلياتو څومره برخه چه زما په علم او مشاهدي كښي راغلي دي۔ هغه د دي لامحدودو كائناتو ميليونمه برخه هم نه ده كوم چه زمونږ له كمزوري نظر څخه پټ دي۔ مذهب د خپل آخري ترجمان يعني رسول كريم ﷺ په ژبې باندي دكائناتو د دغو لامحدودو پراخيو اعلان وكړ نو د عقل بندګان او د مشاهدي غلامان په تردد او شك كښي ولويدل۔ ليكن د نن سائنسدانانو د كائناتو د خالق په تخليقي لوړوالي باندي له خپلو دي ډول اعترافاتو څخه له منكر څخه د منكر انسان هم د منلو سر تيټ شو او د مذهب د تصديق او تائيد دا هغه كار دی كوم چه الله تعالى

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

نې نن له سائنس څخه اخلي۔ د کائناتو د پراخې څه حال دی؟ د دې په ځواب کښې مونږ یواځې یو مثالونه وړاندې کوو۔ د کائناتو د پراخې په باره کښې دا هم یواځې څو قیاسي اوظني تخمینونه (اندازه لګول) دي او که نه په حقیقت کښې له دې څخه لوړه خبره ده۔ یواځې ستوري را واخلی کوم چه د دې پراخو کائناتو یواځې یوه برخه او یو جز دی۔ د ورلډ اټیلس د تحقیق مطابق که چېرته د شپې مطلع صفا وي نو پنځه زره ستوري په نظر راځي۔ د کمزوري دوربین په ذریعې سره په زرګونو، د قوي دوربین په ذریعې سره په میلیونونو او د امریکې د لویې رصد ګاه د ماونټ پالومر په ذریعې سره په میلیاردونو ستوري په نظر راځي۔ ډاکټر تنډل د عالم په جغرافیې کښې د خوردبینانو په ذریعې سره د په نظر راتلونکو ستورو تعداد اوه میلیارده ښوولی دی لیکن د فلکیاتو ځینې علماء ګومان کوي چه د دغو ستورو تعداد د تولې دنیا د سمندرونو د کنارو د شګو له ذراتو څخه هم ډیر دی۔ بیا په دغو کښې ځینې ستوري په حجم کښې دومره لوی دي چه په ځینو کښې په لکونو او په ځینو کښې په میلیاردونو زمکې ځایېږي۔ بیا د دغو ستورو خپل منځي مسافه او د زمکې له کرې څخه نې د لرې والی څه حال دی۔ د دغو سائنسد انانو خبره ده چه سپوږمۍ زمونږ له زمکې څخه یو نیم لکه میله، لمر نهه میلیونه او زهره دیارلس نیم میلیونه میله لرې دی۔ په دغو سیارو کښې تر تولو لرې سیاره پلوټو ده کومه چه د اوه نیم میلیارده میله په دائره کښې تاویږي۔ بیا دا کائنات د ستورو د بې شمیره کهکشانونو په صورت کښې خوځیږي او حرکت کوي۔ او زمونږ د شمسي نظام تر تولو نژدې کهکشان پخپل محور یا دائره کښې ګرځي۔ یوه دوره په شل میلیونه کاله کښې پوره کوي۔ د تولو کائناتو د اندازه کولو لپاره د ځینو سائنسد انانو په ګومان ۸۶ میلیارده کاله او د ځینو په رایه یو میلیارد کاله وخت لګیږي۔ په دلسې حال کښې چه په نوموړي زمانې کښې زمونږ د تحقیق او پلټنې رفتار په یوې ثانیې کښې یو لک ۸۶ زره میله وي۔ دا د وس خبره نه ده بلکه هره لمحه د کائناتو په څلور خواوو کښې زیاتوالی راځي۔ د دې خپریدنې رفتار د "آئن سټائن" په ګومان دومره تیز دی چه له هر یو سلو دیرشو میلیونو کلونو وروسته د کائناتو اندازه دوه چنده کیږي۔ او دا کومه رنا چه پرک پرک زمونږ سترګې بریښنوي هغه د یو لک شپږ اتیا زره میله په یوې ثانیې له تګ څخه مونږ ته راځي۔ لیکن ډیر ستوري دلسې دي چه د نوموړي سرعت او تیزي تر څنګ د پیدا کیدو له ابتدا څخه واخله تر اوسه پورې زمکې ته هم نه دی رسیدلي۔ دا هغه څه دي چه کوم چه د دې کائناتو د پراخې په صحیح تعبیر د هغه په بې شمیره حکمتونو او صحیح اندازې په باره کښې مجبور او بې وسه کوي او د دې حقیقت په اعتراف باندې نې مجبوروي کوم چه د کائناتو خالق نې په دې الفاظو سره تعبیر کړی دی۔

وَلَوْ اَنَّ مَا فِي الْاَرْضِ مِنْ شَجَرَةٍ اَقْلَامٌ وَّ الْبَحْرُ يَمُدُّهٗ مِنْ بَعْدِهٖ سَبْعَةُ اَبْحُرٍ مَّا نَفِدَتْ كَلِمٰتُ اللّٰهِ

"که چېرته دزمکې تولې ونې قلمان شي او له موجوده سمندرونو سره اوه واړي نور همدلسې

سمندرونه سیاهي شي بیا به هم د خدای تعالی د تخلیقي کارونو او حکمتونو خبرې به ختمې نه شي"۔
او دا هغه صداقت دی کوم چه قرآنکریم د وَ مَا يَعْلَمُ جُنُوْدَ رَبِّكَ اِلَّا هُوَ (او نه پیژني ستا د رب لښکرونه مګر دی پخپله) او وَ مَا اُوْتِيْتُمْ مِّنَ الْعِلْمِ اِلَّا قَلِيْلًا
(او دی درکړی شوی تاسو ته مګر ډیر کم علم) اشاره کړې ده۔

عالم غیب

دا حالت خو یواځې د دې عالم (دنیا) دی چه مونږ نې د مادیاتو، عناصرو او محسوساتو په دنیا سره تعبیرولی شو۔ دلته یو بل عالم هم شته کوم چه د ستړګو او لیدنې له رسیدو څخه پورته او د عقل او پوهې له کوشښونو او مدو ترړو څخه ډیر لرې دی کوم چه نې مونږ د غیبو په عالم باندې نومو۔ او د کوم عالم لپاره چه دا ټول ظاهري کائنات یوه وسیله او خادم دی۔ د هغه د پراخیو او ژورواليو په مخکښې خو دا ټول مادي کائنات د ذرې غوندې د اندازې حیثیت هم نه لري چه د هغه د لاس ته راوړو، آبادي او نباتستوالي لپاره انبیاء کرام په یوه او بل پسې راتلل او د دغو ابدي حقیقتونو تلقین نې کاوه کوم چه زمونږ د دنیې کامیابي او جاودانې ژوند دارومدار دی۔

د کائناتو د تخلیق مقصد او د کائناتو د تسخیر خدایي غوښتنې

دو همه اهمه خبره په دې سلسلې کښې دا ده چه د اوبو او ختو دا ټوله دنیا الله تعالی بې مقصده او لا حاصله سعی نه ده تاکلې بلکه په زمکې کښې نې خپل خلیفه "حضرت انسان" ته له لومړی ورځې څخه په علمي قوتونو باندې وناز اوه۔ (وَعَلَّمَ اٰدَمَ الْاَسْمَآءَ كُلَّهَا) او بیا بیا په دغو کائناتو کښې د غور، فکر او تدبر د کولو، په حکمتونو باندې نې په پوهیدلو، د هغو له بې شمیره خزانو څخه د ګټو د اوچتولو څخه د آخرت د عالم لپاره تر تولو زیات دې په کار راتلو دعوتونه راځي۔ او بیا بیا دا اعلان کوي چه له عرش څخه واخله تر تر فرشه (زمکې) پورې ټول شیان ستاسو لپاره پیدا شوي دي۔ ترڅو تاسو ګټې تري پورته کړی او د دې کائناتو ذره ذره د کائناتو د خالق د پیژندګلوي او د هغه د عظمتونو ذریعه جوړه کړی۔ د کائناتو په هرې څېې کښې ستاسو لپاره د عبرت او نصیحت دفترونه پټ دي، هره ذره نې ستاسو لپاره د راحت او د ژوند د سامان یوه قیمتي خزانه له ځانه سره را اخیستې ده۔ دا لمر او سپوږمۍ، دا وچې او لمدي تولې ستاسو لپاره دي او دا د هغه رب کریم ډیرې مهربانۍ دي چه په تاسو نې د ظاهري او باطني نعمتونو بارانونه کوي کوم چه تاسو نې تر قیامته پورې په شمیر کښې نه شی راوستلی۔ یواځې دا نه بلکه د خلق، تقدیر، تخلیق او ایجاد په دې عمل کښې هره لحظه پرمختګونه او د تسلسل زیاتوالی راځي۔ وَ يَخْلُقُ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ او دا هر څه د دې لپاره دي چه تاسو د هغه له درکړل شویو نعمتونو څخه ښې ښې ګټې تر لاسه کړی او د هغه په عظمتونو کښې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

مستغرق شي. سر تر پایه عبدیت او بندګي خپله کړي. او ستاسو روح او ځان په دې کائناتو کښې ستاسو د اشرف المخلوقات والي یوه ځرګنده نښه جوړه شي.

لَمْ تَذَكَّرُوا نِعْمَةَ رَبِّكُمْ إِذَا اسْتَوَيْتُمْ عَلَيْهِ وَتَقُولُوا سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ وَإِنَّا إِلَى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُونَ

"بیا چه کله تاسو تسلط پرې راولی نو د خپل رب نېعمتګرۍ در یادې کړی او ووایی چه پاک ذات دی هغه چا چه دا شی زمونږ په وس او تسخیر کښې راووست. بیشکه مونږ خپل رب ته ور ګرځیدونکي یو".

د دې مقصد لپاره قرآنکریم د مادیاتو د تابع کولو تر څنګ کله د لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ (تر څو چه تاسو شکر وباسی) او کله د لِتُكَبِّرُوا اللهَ عَلَى مَا هَدَاكُمْ (تر څو چه تاسو د الله تعالی لویي بیان کړی چه هغه تاسو ته د دغو شیانو هدایت وکړ) غوندې کلمات هم ذکر کوي.

د مـــــذ هب او سائنس سرحدونه او سرچینې

د دې پراخو کائناتو یواځې د انسان لپاره پیدا کیدنه او په هغو کښې د تسخیر او غلبې د بې شمیره قوتونو ورکړه او له اول څخه تر آخره پورې د غور او تدبر دعوت ورکوونه پخپله د دې حقیقت ښکارندویي کوي چه د موجوده سائنس مقصد که چېرته د عناصر اربعه وو له یوه او بل سره تحلیل او ترکیب (سره ګډول) او له علوي او سفلي له یوه او بل سره رابطه او تعلق څخه د پردې په پورته کولو سره د انسان لپاره له هغه څخه د ګټې اخیستنې نوې نوې لارې رابلسي. نو د یوه ریښتوني او صحیح مذ هب په هر یوه کونج او ارخ باندې د دې هیڅ اثر نه شي لویدلی. مذ هب مستقیم تعلق له یوه بل عالم سره دی کوم چه د دې کائناتو د پیل او پای د غوټو د خلاصولو او د هدایت او اصلاح طریقې ورزده کوي. او د دې تولو کائناتو د تخلیق (پیدا کیدنې) مقصد بیانوي. د مذ هب د فرمانونو حدود له هغه ځای څخه شروع کیږي له کوم ځای څخه چه د سائنس او فلسفې بادشاهي پای ته رسیږي او د پرواز قوت نې د نه پرواز جوابونه ورکوي. په بل عبارت سره د سائنس او طبیعاتو تعلق یواځې له اوبو او ختو او کثیفو عناصرو سره دی. اګر که ظهور نې د زمکنۍ کُرې په شکل کښې وي یا د لمر او سپوږمۍ په شکل کښې، لیکن د مذ هب د کار دائره او تعلق له روحانیات او الهیات دي. هغه مونږ د انسان له ژوند مسائلو، فطري حقیقتونو، خداوندي نوامیسو، آخرت، حساب او کتاب، د عمل د مکافاتو قانون، د ژوند انه له انجام او توحید او رسالت غوندې لطیف او باقي پاتې کیدونکو امورو څخه خلك خبروي. کوم شی چه لومړی نې یادونه وشوه اصول او مبادي نې هر وخت تغیر خوړونکي دي. د هغه د تحقیق او انکشاف باندې په مبني نتائجو کښې هره لحظه ترمیم او تبدیل کیدلی شي په داسې حال کښې چه د مذ هب اصول او مبادي سیده او ریښتونولي نې ابدي او د علومو او نظریاتو ریښتونولي نې لاقاني او د هرې زمانې او هر دور لپاره یو اعلان دی. د یوه سرچینه د حی او قیوم خدای ورکړل شوې رنا وحی او نبوت دی. د دوهم سرچینه د

علم مبلغ، خام عقل او ناقصه پوهه ده. فاتن الدنیا و این الثری.

په سائنس او مذ هب کښې هیڅ تصادم یعنې تکر نشته

پس په زمکې باندې د ګرځیدونکو حیواناتو په هوا کښې له الوتونکو مرغانو او د کوم ریل ګاډي له کښتۍ سره تصادم (تکر) دومره د تعجب او حیرانتیا خبره نه ده څومره چه دا خبره څوك کوي چه په سائنس او مذ هب کښې تکر سره راتلی شي. که چېرته د سائنس کوم خبره د صحیحې معاهدې او سلیم عقل باندې مبني وي نو د مذ هب له اصولو سره ئې تکر کیدل ناممکنه دي. که چېرته په کوم وخت کښې داسې صورت حال پیدا شي نو په حقیقت کښې به هغه د عقل د تکر نتیجه وي. یا به د شیانو د حقائقو په پلتنې کښې زمونږ له علم او پوهې څخه لغزش (ښویدنه) شوې وي او یا به موبوه د داسې خبرې له مذ هب سره لګولې وي چه نه د کوم صحیح سند، مضبوط استدلال او صحیح نقل باندې مبني وي او نه به د مذ هب له لومړنیو تعلیماتو سره کومه رابطه لري. او دا د دې لپاره چه لکه څرنګه چه یوه ریښتونې مشاهده او علمي پلتنه د تسلیم (منلو) وړ ده نو په کوم قطعي او متواتر دلیل باندې مبني د مذ هب هر اصول له دې څخه په زرګونو واړي زیات ناقابل تردید او واجب التسلیم دی. په دواړو کښې تعارض ناممکن دي د دواړو د کار دائره جدا جدا او د دواړو د اختیار حدود جلا جلا دي.

د خدایي تعلیماتو اصل موضوع

دریمه د توجه قابله خبره دا ده چه د انبیاء کرامو له بعثت او آسماني تعلیماتو وحی او رسالت لومړنی مقصد یواځې او یواځې د انسانیت هدایت او لارښوونه دی. د نبي د تعلیماتو محور د ریښتونولي تلقین، د نیکو اعمالو خواته لار ښوونه، د خلکو له خالق سره جوړ، د خدای د ورکړ شوي ژوند انه او د دې کائناتو صحیح مصرف او پخپل محل کښې استعمالول او دا ژوند د جاودانې (تل تر تله) ژوند انه ذریعه جوړول وي. هغه که چېرته له آفاقي او انفسي آیاتو څخه بحث کوي نو یواځې د دې لپاره چه هغه به د وحده لاشریك له ذات د پیژندلو ذریعه جوړه شي. هغه د آخرت د عالم او له مرګ څخه وروسته د ژوند یادونه کوي نو د سائنسي او منطقي څیړنو له مخې دا نه شي ثابتیدلی بلکه په ورځنیو مشاهداتو کښې راتلونکي تکویني امورو او حقائقو خواته د توجه په ور جلبولو سره پوښتنه کوي چه که چېرته دا هر څه ممکن دي نو له مرګ څخه وروسته د بل ژوند انه او د نبوت د نورو تعلیماتو په منلو کښې څه تکلیف دی؟ ځکه بیا یواځې تر دې حده پورې هغه بیانوي چه د کومې شرعي مسئلې او د بندګي طرز او طریقې او د هغه له وخت او اندازې سره تعلق وي په اصل کښې هغه تعلیمات د هدایت تعلیمات وي. د شیانو د حقائقو او عناصرو د ماهیت او څرنګوالي څخه بحث کول نې موضوع نه وي. د سپوږمۍ په باره کښې په بیا بیا پوښتنه شوې ده نو یواځې دا ویل شوي دي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

چه "قل هی مواقیت للناس والحج" چه د اد حج او د لسي نورو امورو د وختونو ښوونه کوي. ورځ د ځي ماهیت، حقیقت او له زمکي څخه ځي لرې والی او د هغه د تسخیر وړ جوړیدو یا نه جوړیدو څخه سکوت کړی دی. چه هغه خو د هدایت کتاب وو، د کیمیا، نجوم، رمل او ریاضي کتاب نه وو. الغرض کومو مسائلو چه د غیب په علومو پورې اړه نه درلوده هغه ځي په انساني علم او پوهې پورې موقوف وګرځاوه. چه دا شیان هم د خدای ورکړ شوي شیان وو. او د اد دې لپاره چه نه خو په د لسي مسائلو باندې د مذهب اثبات موقوف وو او نه مذهب له د لسي مسائلو څخه په انکار باندې څوک مجبور اوه.

د اعتـــــدال لاره

پس که نن چېرته کوم سړی د طبیعاتو د علماوو له کومې کارنامې څخه مرعوب شي له دین څخه انکار او یا ئې سپکاوی کوي نو هغه دومره د مذمت او بدې وړ دی څومره چه هره پلتنه او پرمختګ څوک له اسلام سره تکر کړي او له منلو څخه ئې انکار کوي. دواړه د غلطي لارې او بې عقلي علامې دي.

د سپوږمۍ په تسخیر کښې د اســـــلام مؤقف

د دې تفصل په رنا کښې د سپوږمۍ او د ستورو د تسخیر مسئله را واخلی. له شبهې پرته قرآن او حدیث د دې واقع کیدل په ښکاره، پاکو او ټینګو الفاظو نه دي په ګوته کړي چه نه خو د اشیان د هغه په موضوع کښې د اخل وو او نه له څوارلسو سوو کالو وروسته په تحقیق او مشاهدې باندې مبني د کومې پلټنې ټول تفصیلات د هغه وخت د ذهنونو لپاره د پوهې وړ وو(۱). لیکن آیا اسلام د دغو فتوحاتو د متحقق کیدو او واقع کیدو نفی کړې ده؟ د اسلامي تعلیماتو، کتاب او سنتو له تصریحاتو څخه مونږ هیڅ د لسي شی په لاس نه راځي چه د دې شیانو نفی ترې ثابته شي یا تر اوسه پورې د کوم ثابت شوي شي تغلیط (غلط والی) پرې شوی وي. د سپوږمۍ یا نورو سیارو د کوم خاص آسمان سره تړاو یا په آسمانونو کښې د هغو ځای او په دې ډول نورو د لسي امورو په باره کښې چه کومې متضادې رأیې او مختلف نظریات مشهور دي هغه ټول په یوناني فلسفي، رومي علم الافلاک، د هئیت بطلیموسي علم یا بیا په اسرائیلي روایاتو بلکه پخپله تر اوسه پورې د سائنسد انانو په متضادو اقوالو پورې مبني دي.

(۱) دلته د واضح او غیر مبهم اخبار او اطلاع نفی شوې ده او که نه وي نو د قیامت د علامو په ضمن کښې د لسي ډیر شیان دي چه د تاویل په درجه کښې د عصري ایجاد اتو لپاره وړاند وینه تاکل کیدلی شي. لیکن د هغه په تعبیر کښې د دې وخت مخاطب د دُنیا محافظ تر نظر لاندې نیول شوی دی او د ورځې د رنایي غوندې ئې په یو یو کولو سره د دُنیا په مخ کښې د هغه صادق او مصدوق ﷺ د ربستینولي ګواهي ورکوي. "س"

تر پیړیو پورې د دغو افکارو او نظریاتو غلغله (شور او زور) پاتې وه. او د مسلمانانو یو دوه مفسرین هم له دغو څخه د متاثر کیدو له وجهې ئې هغوی د تاویل د پرې په توګه له کوم آیت سره ولګاوه. د محکم تفسیر په توګه هیڅکله نه دی.

فلکي نظـــــام او د سلفو امامان

بیا په دغو تفسیرونو کښې که چېرته د بطلیموس او فیثا غورث په تحقیقاتو باندې مبني قولونه پیدا کیږي نو بلې خوا ته د عبد الله ابن عباس غوندې حبر الامت صحابي رضی الله عنه او د عطاء بن ابي رباح غوندې ثقه تابعي رحمه الله قولونه او روایتونه هم موجود دي چه له هغو څخه د نن ورځې د موجوده تحقیقاتو او پلټنو تائید کیږي. د دغو حضراتو په روایتونو کښې د دې تصریح پیدا کیږي چه د فلکي نظام تولې سیارې لمر، سپوږمۍ، زهره، عطارد ټول تر آسمان لاندې د زوړندو شویو ګلد انونو غوندې دي. تر دې پورې کوم شیان چه د موجوده اصطلاح کښې ئې د مرکز، ثقل، کشش او په مدار کښې ئې د ګردش او د لسي نورو الفاظو سره تعبیر کیږي. په هغو روایتونو کښې د ا شیان د نور په زنځیرونو، تیارو موجونو، جذب، مدار او د لسي نورو الفاظو سره ئې تعبیر شوی دی. کوم خلك سپوږمۍ او ستورو لره د اسرائیلي روایاتو یا خپلو تاویلاتو له مخې په آسمانونو باندې یا د هغو په منځ کښې په ګوتیې کښې د غمي او په تخته کښې د میخ په شان ښخ شوی ثابتول غواړي محققینو علماوو او مفسرینو ئې تردید کړی دی او د ا تاویلات ئې بې دلیله او نه اعتماد وړ بللي دي. لا یعول علیها د تفصیل لپاره د روح المعاني ج۳۰/۱۸/۱۷ او د لسي نور تفسیرونه وګوری. د قرآنکریم ظاهري عبارت، سیاق او سباق هم دا خبره تائیدوي او آسمانونو لره ئې محفوظ بام بللی او په ستورو باندې ئې د رنا کولو احسان او ښیګړه یادوي.

د آســـــمـــانونو وجود

پاتې شوه د آسمانونو د وجود خبره. نو له شك پرته قرآن او سنت په بیا بیا دې لره د یو ثابت حقیقت په توګه ذکر کوي. د هغو وجود، د هغو تعدد، د هغو د جرم خاوند والی، په هغو کښې د دروازو او تیریدن ځایونو موجودوالی او په ګنو برجونو او منازلونې تقسیم. دا ټول په پاکو او څرګندو الفاظو کښې موجود دي. لیکن د کائناتو د دغو لامحدودو پراخیو تر څنګ (چه اجمالاً اشاره شوې ده) د کائناتو د یوې حقیرې اندازې او معمولي ذرې په برابر د سپوږمۍ او لمر په شکل کښې کومې سیارې ته له رسیدلو څخه دا دعوه کول چه آسمان بالکل نشته په علم، پوهې او عقل او خرد پورې خندا او د هغو رسوایي نه ده نور څه دي. د کوهي د چنګښې مثال ښایي چه له د لسي خلکو څخه زیات په نورو نه صادقیږي. په دا اوس اوس حال کښې یو تازه بیان د کوم سائنسد ان له نظره تیر شو چه له لرې پرتو سیاراتو څخه مخکښې یوه لا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

محدوده فضا ده چه د هغې د خیرولو هیڅ امکان نشته۔ الغرض یو سپوږمی۔ خو پریږده که تولې سیارې ؤمونږ تر قد مونو لاندې راشي نو په کوم اسلامي تحقیق او د آسمانونو د وجود په باره کښې د اسلام په یوې دعوې باندې هم اثر نه شي لویدلی۔

اسلام هیڅکله څوک له سائنسي او مادي ترقیاتو څخه نه دي منع کړي

د کائناتو په دغو لامحدودو پراخیو کښې د غیر قومونو پرمختګونو ته په کتو سره د اروپا په ذهني غلامي کښې ګرفتاره ډیر خلك په دي میدان کښې د مسلمانانو د بیرته پاتې ګیدنې الزام د اسلام په سر اچول غواړي۔ په دې اسې حال کښې چه د اپخپله د دې طبقې د ذهني بیرته پاتې کیدنې او فکري غلامي نتیجه ده کوم چه دوی نې په ډیرې عیارۍ او چالاکۍ سره اوس د اسلام په سر باندې اچوي۔ چه له هغه سره هغوی خپل ذهني او فکري او عملي ټرون له پیرېو راهیسې پرې کړی دی۔ پوښتنه دا ده چه اسلام مونږ له سائنسي او مادي ترقي او تسخیري کوششونو څخه کله منع کړي یو؟ اسلام د هغو بې اصله دینونو او مذاهبو عیسائیت او پاپائیت غوندې نه وو چه په هغو کښې دعصري غوښتنو او سائنسي انقلاب سره د مخکښې کیدلو طاقت نه وو۔ او اروپایي قومونه د سائنسي انقلاب لپاره د خپلو مذهبونو په لاس د اور او وینې له طوفان څخه تیریدل برداشت کړل۔ بلکه هغوی د هر دور د مبارزې د دعوت مجسم څواب پاتې شول او تر قیامته پورې به پاتې وي۔ بیا آیا د اسلام له څوارلس سوه کلن تاریخ څخه یو مثال وړاندې کیږي چه هغه علم او تحقیق، ایجاد او اختراع او مادي ترقي لره مقید کړی وي۔ د اتور تصویر که دی نو د اروپا د کلیسایي نظام دی، د اسلام نه دی۔

د مسلمانانو د تخلف اصل ذمـــــه وار

پس په طبیعاتي علومو کښې که چېرته تخلف شته نو ذمه وار نې د اروپا هغه ړوند تقلید دی کوم چه زمونږ د نظر انتخاب یو اځې د هغه ځای په فحاشي، عیاشي او نورو خرابیو باندې اچوي لیکن علم او تحقیق او د سائنس په میدان کښې خپلې پښې ماتوو او د ګدایی د کچکول په اچولو سره مونږ یو اځې د دغو مهربانیو په ژوولو او بیرته تو کولو باندې اکتفا کوو کوم چه د مغرب سړدار ان نې قی کوي او زمونږ مخې ته نې اچوي۔ که چېرته مذهب په واقعي توګه مونږ له دغو پرمختګونو څخه بندوي نو کوم خلك چه له پیرېو څخه د مذهب حاملین له کاره وتلي بولي او د مذهب یوغ له غاړې څخه اچوي او له دوو یا دوه نیم سوو کلونو څخه خپل ټول فکري او علمي قوتونه په مغربي نظام تعلیم کښې ډوبوي۔ هغو د سائنس په میدان کښې کوم غیښې ویشتلی دی۔ په دې میدان کښې د هغو تر ټولو زیاته منډه دا ده چه د مغرب د جوړو شوبو شیانو څه نا څه استعمال زده کړي نو په حقیقت کښې زمونږ د بیرته پاتې کیدنې یو اځنی وجه دا ده چه مونږ د اروپا د خرادي په ماشین باندې خپل مذهب، خپله ورثه او خپل

فکري قوتونه هم سپاره کړل۔ او په بدل کښې نې له مغرب څخه یو ناقص او جامد تعلیمي نظام قبول کړه۔ چه په نتیجه کښې نې مونږ ته پرته د ادنی او اعلی درجو مُنشیانو، مستریانو او د هغو د تهذیب او معاشرې له ډندورې کوونکو دلالانو څخه نور څه په لاس را نه غلل۔ د تعلیم له دې نظام څخه خو مونږ ته ذهني انتشار، د اروپا د مرعوبیت، له مذهب څخه د تیښتې دولت په لاس راغی لیکن د ایجاد او اختراع، تحقیق او پلټنې چابې هغو له ځان سره کیښودل۔

د تسخیري جد او جهد هیبتناکي نتیجې

په آخر کښې که چېرته د اعلی انساني ویاړونو په رنا کښې د امریکې او روس د دې مقابلې او پرله پسې جد او جهد د محرکاتو او اسبابو باندې نظر واچوو نو له نورو مایوسیو سره هم مخامخ کیږو۔ له دغو تسخیري قوتونو څخه به د انسان کوم مشکلات ختم شي، دا فیصله به په راتلونکي کښې وشي لیکن په دې سلسله کښې تر اوسه پورې چه څومره ایجادات زمونږ مخته راغلي دي د دغو قومونو د انسان دښمني، حیوانیت او درندګی له وجهې په هغو کښې د اکثرو انسانانو د خیر او نیکۍ په ځای د هغو د هلاکت او بربادۍ سبب ګرځیدلي دي۔ د عالمي جنګونو مثالونه مو په مخکښې دي۔ د سپوږمی د تسخیر د جد او جهد تر شا هم یقیناً دا حیواني جذبات کار کوونکي دي۔ دا خلك په یوې یوې تجربې باندې په میلیاردونو روپی لګوي لیکن د زمکې په مخ باندې د اوسیدونکو میلیونونو انسانانو د لوږې تندې، په ګرمي او ساړه او د جنګ په بټیو کښې سوځیدونکي انسانانو د امن او سکون او بنیادي ضرورتونو د برابرولو لپاره له سائنس سره د کیمیا کومه نسخه ده چه اوس په ستورو او آسمانونو باندې ازمایل کیږي۔ بیا د دې منډې تر پې مقصد په یوه او بل باندې لوړوالی دی۔ نو د دې پراخو او لامحدودو کائناتو او د شګو د ذراتو په برابر د ستورو د موجودوالي تر څنګ به دا مقابله آخر تر کومه ځایه پورې ځي او کله به ختمیږي؟ که څوک نې مني یا نې نه مني لیکن د انسانیت د فلاح، کامیابي، امن او سکون حل یواځې له مذهب سره وو او اروپا په ډیرې چالاکۍ سره د انسانیت مخ د یوه نه ختمیدونکي عیاشي خواته واړاوه تر څو چه زر تر زره دا عالم یا دنیا خپل انجام ته ورسیږي۔ ګوا که د الله تعالی ورکړ شوي ګواهي اوس پوره کیدل غواړي چه اِقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ او نژدې دی هغه موعود وخت چه یو ځل به د انسانانو په سر ولویږي۔ لَا يُجَلِّيهَا لِوَقْتِهَا إِلَّا هُوَ ثَقُلَتْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ لَا تَأْتِيكُمْ إِلَّا بَغْتَةً۔ (جولایي ۶۹ء)

تر سپوږمی پورې د انسان رسیدنه، څو شبهاتو او شکونو ازاله

سپوږمی ته د انسان د ختلو په باره کښې د دار الافتاء او الحق میاشتنی په دفتر کښې ډیر خطونه راغلي دي۔ په دې مسئلې باندې د جولایي/ اګست ۱۹۶۹ء په ګنو کښې تفصیلي رنا اچول شوي ده۔ په ځینو لیکونو کښې ځینو خلکو خپل شکوک او شبهات بنکاره کړي دي۔

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

د دار العلوم د ار الافتاء په دې مضمون کښې د دغو شبهاتو د لرې کولو کوشش کړی دی چه ماهنامه الحق مخکښې خپور کړی دی۔ اوس دلته هم د عامې افادې په خاطر په فتاوی کښې هم شاملیږي۔ (مرتب)

﴿الف﴾ لومړی څو بنیادي خبرې در وړاندې کیږي۔ څرګنده دې وي د ټول عالم اسلام اجتماعي عقیده ده چه د دې ټول عالم جوړوونکی یو ائې او یو ائې الله تعالی دی او بس۔ او هغه د دې عالم په هغو ټولو ذراتو او ټولو قوتونو باندې کوم چه په دې عالم کښې دي په بند توګه عالم او پرې خبر دی۔ پس کوم حقائق چه الله تعالی د وحی په ذریعې سره بیان کړي دي په هغو کښې غلطي ناممکنه ده۔ همدا وجه ده چه که چېرته په سائنس او وحی کښې تکر محسوس شي نو دا فیصله کیدلی شي چه سائنسد انانو پوره تحقیق نه دی کړی۔ او که نه نو د هغو صحیح تحقیقات له وحی سره هیڅکله هم تکر نه خوري ځکه چه په وحی او سائنس (کوم چه په واقعاتو باندې مبني وي) کښې مخالفت او تصادم ناممکن دي۔

﴿ب﴾ الله تعالی وحی د دې مقصد لپاره نازل کړې ده چه انسان ته له الله تعالی سره د تعلق لاس ته راوړو طریقې معلومې شي او د خدای د خوښ کړي شیانو او ناخوښو شیانو تمیز وکړي۔ د الهي وحی مقصد د اسلحې او کارخانې جوړول نه دي او نه قرآنکریم د تاریخ او د جغرافیې کوم کتاب دی۔ د دغو مقاصدو د لاس ته راوړو لپاره د خدای له خوا د ورکړ شوي نعمت یعني د عقل استعمال د ضرورت په وخت کښې کافي دی۔ همدا وجه ده چه په وحی کښې د داسې حقائقو خوا ته هیڅ تعرض نه کیږي د کومو نزول چه د وحی له مقصد سره کوم خاص تعلق و نه لري۔

﴿ج﴾ له عقلیاتو او اسرائیلیاتو سره اسلامي رویه دا راغلې ده چه په هغو کښې کوم امور له وحی سره مخالف وي د هغه تکذیب کوي او کوم چه مخالف نه وي نو هغه په دوه ډوله دي۔ یو دا چه له مشاهدې یا دلیل څخه ثې ثبوت شوی وي نو د هغه تصدیق کوي۔ دوهم دا چه له مشاهدې یا دلیل څخه ثې ثبوت ته وي شوی نو د هغه نه تصدیق کوي او نه تکذیب۔

﴿د﴾ له قرآن او حدیثو څخه دا حقیقت را ووځي چه کفار آسمان ته نه شي داخلیدلی۔ الله تعالی فرمایي چه: لَا تُفَتَّحُ لَهُمْ اَبْوَابُ السَّمَآءِ او د کفارو لپاره (د هغو د اعمالو، ارواحو او اجسادو لپاره) د آسمان دروازې نه خلاصیږي۔ (سورت الاعراف ع۵)

لیکن تر آسمانه پورې له تګ څخه ممنوع نه دي او نه تر آسمانه پورې تګ په مسلمانانو پورې خاص دی (و من ادعی فعلیه البیان)

بلکه د شیطانانو او پیریانو تر آسمانه پورې ختل او د آسمان مس کول د قرآن له نص له مخې ثابت دي۔ الله تعالی فرمایي: وَّاَنَّا لَمَسْنَا السَّمَآءَ فَوَجَدْنٰهَا مُلِئَتْ حَرَسًا شَدِيْدًا وَّشُهُبًا (سورة جن) له دې وجهې چه کوم شیان تر آسمان لاندې دي د کفارو لپاره ور ختل ممنوع نه دي او یو ائې د

مسلمانانو لپاره خاص نه دي۔

﴿ز﴾ د سپوږمۍ په اړه د یونان د حکماوو (سائنسد انانو) ګومان او عقیده وه چه سپوږمۍ د لومړي آسمان په ټخن کښې مرکوز دی او ډیرو مسلمانانو هم له دې خبرې سره موافقت درلود۔ په دې بناء باندې چه دا عقیده له نصوصو سره تکر نه وو۔ د دې لپاره چه په قرآن او حدیثو کښې د سپوږمۍ په اړه په څرګنده توګه څه نه وو ویل شوي چه سپوږمۍ د آسمان په ټخن کښې مرکوز دی او نه دا ویل شوي دي چه سپوږمۍ د آسمان او زمکې تر منځ په فضا کښې ده ځکه چه د قرآن د نزول مقصد له دې خبرې سره هیڅ تړاو نه درلود۔ بې شکه په قرآنکریم کښې د سپوږمۍ په اړه د "في" لفظ استعمال شوی دی۔ الله تعالی فرمایي: وَجَعَلَ الْقَمَرَ فِيْهِنَّ نُوْرًا وَّجَعَلَ فِيْهَا سِرَاجًا وَّقَمَرًا مُّنِيْرًا و قال الله تعالی: وَجَعَلَ الْقَمَرَ فِيْهِنَّ نُوْرًا و قال الله تعالی: كُلٌّ فِيْ فَلَكٍ يَّسْبَحُوْنَ☆ لیکن د "في" د کلمې مدلول ظرفیت دی نه چه مرکوزیت۔ یعني د "في" مدلول دا دی چه مدخول ئې د کوم شي لپاره زمان یا مکان وي، او دا معنی ئې نه ده چه د هغه په مدخول کښې کوم شی مرکوزپږي۔ زید فی الدار، فی المسجد، فی السوق، فی الجنة ځخه دا مراد نه دی چه زید په دغو شیانو کښې مرکوز دی۔ (و هذا مما لا یخفی علی من تفکر فی الاستعمال) نه دا د لغت تقاضا ده او نه د عرف۔ او برسیره پر دې دا چه له ظرفیت ځخه د تل لپاره دا مراد نه وي چه د "في" د کلمې مدخول په نفس الامر او حقیقت کښې ظرف وي۔ بلکه ډیر واړي له دې ځخه مراد په بادي او ظاهري نظر کښې ظرفیت وي۔ په ځانګړي توګه په داسې ځای کښې په داسې حال کښې چه د عامو ذهنونو لپاره د حقیقت په پوهیدلو باندې د مشکلاتو د وړاندې کیدو خطر وي۔ او دا معنی هم فصیحه او بلیغه ده۔ الله تعالی فرمایي: وَجَدَهَا تَغْرُبُ فِيْ عَيْنٍ حَمِئَةٍ (ذو القرنین لمر په یوه تینګ حوض کښې ډوب شوی پیدا کړ) د دې مقصد هم همدا ظاهري شی په نظر کښې راتلل وو نه چه په حقیقت کښې هم همداسې وو۔ نو د دې تحقیق په بناء سره دا ګنجائش هم پیدا شو چه د سپوږمۍ په آسمان کښې له کیدلو ځخه مراد بادي او ظاهري نظر کښې وي۔

﴿و﴾ دلته دا خبره هم په ذهن کښې کښینول ضروري دي د فلك او سماء د ځینو مفسرینو په نزد د یوه شي نوم دی لیکن حقیقت دا دی چه فلك مدار ته وایي نه آسمان ته۔ (قال العلامة الآلوسی فی تفسیره ج۱۷، ص ۴۰) و الفلك فی الاصل کل شیء دائر و منه فلکة المغزل و المراد به هنا علی ما روی عن ابن عباس و السدی رضی الله تعالی عنهم السماء و قال اکثر المفسرین هو موج مکفوف تحت السماء یجری فیه الشمس و القمر و قال الضحاك هو لیس بجسم و انما هو مدار هذه النجوم. انتهی

حکیم الامت حضرت تهانوي په "بیان القرآن" کښې فرمایي: فلك ګرد شي ته وایي چونکه د شمس او قمر حرکت مستدیر دی د دې لپاره ئې مدار ته فلك وویل شو، که هغه آسمان وي یا د دوو آسمانونو تر منځ فضاء یا د آسمان او زمکې تر فضاء، د آسمان ټخن، هیڅ قطعي نه په دې کښې نشته او له سلف ځخه مختلف تفسیرونه راغلي دي۔ کما فی الدر المنثور۔ د دې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

دا مبهم پرینبودل احتیاط ته نژدې دی۔ (سوره الانبیاء رکوع ۳)

له دې عبارت څخه معلومه شوه چه فلك او آسمان بیل بیل شیان دي۔ همد ارنګه د دې تائید چه لمر او سپوږمۍ د آسمان په ټخن کښې په یقیني توګه مرکوز نه دي۔

﴿۲﴾ د نجوم (ستورو) په اړه علامه آلوسي رحمه الله له حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنهما څخه روایت کوي:

ان النجوم قنادیل معلقة بین السماء و الارض بسلاسل منور بایدی ملئکة من نور. (روح المعانی ج ۳۰، ص ۵۰)

"یعني ستوري د آسمان او زمکي تر منځ واقع دي او د آسمان په ټخن کښې مرکوز نه دي"

مخکښې فرمایي: لم یقم دلیل علی ان شیئاً من الکواکب مغروز فی شیء من السمٰوٰت کما للفصّ فی الخاتم. (روح المعانی ج۲۸، ص ۴۵)

په دې حال کښې چه الله تعالی د هغو په اړه فرمایي چه: "تَبٰرَكَ الَّذِیْ جَعَلَ فِی السَّمَآءِ بُرُوْجًا. (سورة الفرقان)

او له بروج څخه مراد نجوم او ستوري دي۔ (فی التحقیق و هو منقول عن السلف) او فرمایي چه: وَ زَیَّنَّا السَّمَآءَ الدُّنْیَا بِمَصَابِیْحَ. (سورة الملك آیت۵) نو لکه څرنګه چه د نجوم په اړه د "في" کلمه استعمال شوې ده او هغو ته د آسمان ښائسته ویل شوي دي او د دې ترڅنګ چه دا په آسمان کښې مرکوز نه دي بلکه یوائې په ښکاره او ظاهري نظر باندې اکتفاء شوې ده۔ همد ارنګه د سپوږمۍ په اړه هم ویل کیږي چه بلکه چه کله دا ومنله شي چه زمکه او آسمان دواړه ګول (ګرد) دي نو په دې تقدیر باندې سپوږمۍ او لمر بلکه په ټولې زمکې باندې دا اطلاق له شك پرته صحیح دی چه دا شیان آسمان او په آسمانونو کښې دي۔

له دې تمهید څخه وروسته دا حقیقت څرګند شو چه د مسلمانانو لپاره لمر، سپوږمۍ بلکه آسمان پورې ختل ممکن دي۔ حضرت آدم علیه السلام، حضرت عیسیٰ علیه السلام او حضرت خاتم النبیین ﷺ آسمانونو خوا ته مافوق الاسباب ختل د دې امکان واضح دلیل دی ځکه چه د دې حکم له انبیاء علیه السلام سره په مخصوص والي باندې هیڅ دلیل نشته۔ بیشکه امریکا او د اسې نورو کفارو ته آسمان ته د اخلیدل ناممکن دي لیکن کوم شیان چه تر آسمان لاندې دي هغو ته ختل د کفارو لپاره ناممکن او ممنوع نه دي۔ پس که چېرته سپوږمۍ له آسمان څخه لاندې وي لکه څرنګه چه د اکثرو مفسرینو رأیه ده نو د کفارو لپاره سپوږمۍ ته په ور ختلو کښې هیڅ استحاله نشته۔ پاتې شوه د امریکې دا دعوه چه:

﴿۱﴾ مونږ سپوږمۍ ته انسان ور کوز کړی دی، نو د دې خبرې په تسلیمولو کښې هیڅ حرج نشته ځکه چه د اسې دعوې له وحی سره هیڅ تکر نه خوري۔

﴿۲﴾ د آلاتو او رصد ځایونو په ذریعې سره د دې خبرې مشاهده شوې ده۔

﴿۳﴾ روس او د اسې نور کوم چه د امریکا مخالفین دي هغو هم دا خبره تسلیم کړې ده۔

﴿۴﴾ همد ارنګه په شریعت کښې د کفارو په دنیاوي خبرو باندې اعتماد کول جائز دي بلکه په دې کښې دیني مصلحتونه هم موجود دي۔ خصوصاً د رفع عیسیٰ او معراج د واقعې په ذهن کښې کښینولو او په کفارو باندې اتمام حجت او د انکار په صورت کښې د قرآن مجید د تکذیب خطره ده۔ خصوصا په دا سې حال کښې چه عامې نیوکې شروع شي لهذا د دې په منلو کښې هیڅ خطر نشته۔ البته په دې سره یوناني حکمت له سختې صدمې سره مخامخ شو ځکه د هغو دا اعتقاد چه سپوږمۍ د آسمان په ټخن کښې مرکوز دی، غلط ثابت شو۔

د څو شبهاتو دفع: ﴿۱﴾ الله تعالی فرمایلي دي چه: وَ لَكُمْ فِی الْاَرْضِ مُسْتَقَرٌ (ستاسو لپاره په زمکې کښې د اوسیدو ځای دی) له دې څخه دا مراد نه دی چه انسان علویاتو (پورته ځایونو) ته نه شي ختلی او که نه نو حضرت عیسیٰ او د اسې نور پیغمبران علیهم السلام به څرنګه په آسمانونو کښې اوسیدل۔ بلکه مراد دا ترې دا دی چه په عامه توګه به د انسان د اوسیدو ځای زمکه وي ځکه چه د دنیوي ژوند د ضروریاتو انتظام دلته شوی دی۔ لهذا دا ممکنه ده چه ځینې کسان یا مافوق الاسباب او یا ماتحت الاسباب د عادت په خلاف په علویاتو کښې و اوسیږي۔

﴿۲﴾ الله تعالی فرمایي: وَ فِیْهَا نُعِیْدُكُمْ (د غې زمکې ته به تاسو بیرته راګرځوو) له دې څخه دا نتیجه نه راووځي چه انسان خلایي پرواز نه شي کولی بلکه له دې څخه مراد دا دی چه انسان په یوه وخت نه یو وخت کښې خامخا زمکې ته بیرته ور ګرځي که د مرګ په وخت کښې وي او که له محشر څخه مخکښې وي۔

﴿۳﴾ وَ حَفِظْنٰهَا مِنْ كُلِّ شَیْطٰنٍ رَّجِیْمٍ (او محفوظ موکړله هر شیطان رټلي شوي څخه) نو له دې څخه مراد د آسمان لمس او تر آسمانه پورې له ختلو څخه حفاظت نه دی بلکه له دې څخه مراد د آسمان له حالاتو څخه د خبرداری، حفاظت دی یا د آسمان له اوسیدونکو سره له ګډو اوسیدو څخه۔ (صرح به الآلوسی ی تفسیره ج ۱۴، ص ۲۳)

﴿۴﴾ شهاب ثاقب په هغه وخت کښې حمله کوي چه کله شیطان د خبرو اوریدو ته ورشي۔ قال الله تعالی: فَمَنْ یَّسْتَمِعِ الْاٰنَ یَجِدْ لَهٗ شِهَابًا رَّصَدًا او له قرآنکریم څخه دا نه څرګندیږي چه یوائې په ختلو سره دا حمله پرې شروع کیږي۔ لهذا د کفارو تر آسمانه پورې په رسیدلو کښې هیڅ مشکل نشته۔

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

بـــــاب الفرق الاسلامية و غير ها

(د اسلامي او کفري فرقو (ډلو) احـکام او مسائل)

د اهل السنت و الجماعت تعـــــريف

سوال: جناب مفتي صاحب! د اهل السنت و الجماعت مصداق کوم خلک دي او د هغو تعريف څه دی؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د اهل السنت و الجماعت مصداق هغه خلک دي چه په عقائدو او احکامو کښي د قرآن او سنتو تر څنګ د صحابۀ کرامو مسلک خپلوي او د هغو په اقوالو باندې عمل کوي.

لما قال العلامه ظفر احمد عثماني رحمه الله: اهل السنت و الجماعت هغه مسلمانان دي کوم چه په عقائدو او احکامو کښي د صحابۀ کرامو رضی الله عنهم په مسلک باندې وي او له قرآنکريم سره سُنت نبوي ﷺ هم حجت ګڼي او عمل پرې کوي.

قال فی شرح العقائد النسفية: فهبت الجبائی و ترك الاشعری مذهبه فاشتغل هو و من تبعه بابطال رأی المعتزلة و اثبات ما ورد به السنة و مضی علیه الجماعة. (امداد الاحکام ج۱، ص۱۶۹، کتاب الایمان و العقائد)

د ډاکتر مسعود الدين عثماني او د هغه د ډلې حزب الله شرعي حکم

سوال: مولانا صاحب! زه د کارو بار په خاطر په کراچۍ کښې اوسيږم. دلته يوه نوې ډله د "حزب الله" په نامه منځ ته راغلې ده چه باني يې ډاکتر مسعود الدين عثماني نومی کوم سړی دی. د دې ډلې خلک عجيبې او غريبې خبرې کوي لکه: امام احمد بن حنبل رحمه الله ته کافر وايي، د نبي ﷺ د ژوند له عقيدې، په اعمالو او ذواتو باندې توسل، د قبر عذاب او د اسې نورو څخه منکر دي، د ځلورو مذاهبو تقليد ته شرک وايي، له دې برسيره د دې خلکو نورې د اسې خبرې او عقيدې دي چه مونږ تر ننه پورې له علماوو څخه نه دي اوريدلي. نو د دې ډلې مشر او د هغه د پيروانو په باره کښې د مقدس شريعت حکم څه دی؟ همدارنګه د دغو خلکو سره نکاح او د اسې نور معاشي تعلقات سائل جائز دي او که نه؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: ډاکتر مسعود الدين عثماني د حزب الله د ډلې مشر په سوال کښې له يادو شويو عقائدو پرته د شرع د خلاف د نورو ډيرو عقائدو قائل او داعي دی. په مسلمه اُمت کښې د فتنې او فساد را پاروونکی سړی دی، د هغه په خپرو شويو رسالو کښې د مسلمه اُمت له مُتفقي او اجماعي عقيدې څخه تيښته او د يوه نوي دين بنياد ايښودل څرګندېږي. له دې برسيره د اسې د مسلمانانو په کافر کولو کښې له اندازې زيات جلد باز (بيړندی) دی. تر دې پورې چه لوی لوی مشائخ کرام او محدثين نې هم نه دي پرېښي. د دې لپاره ډاکتر عثماني او

پيروان نې ضال (ګمراه) او مضل (ګمراه کوونکي) دي. له هغو سره د نکاح له رشتې برسيره نور هيڅ ډول تعلقات هم مه ساتی او د د اسې خلکو له ملګرتيا څخه ډډه وکړی.

د محمد بن عبد الوهـــــاب نجدي او د هغه د منونکو حکم

سوال: جناب مفتي صاحب! د ديوبند حضرات علماء کرام د محمد بن عبد الوهاب نجدي او د هغه د پيروانو په باره کښې څه فرمايي؟ آيا د اخلک کافران دي او که مسلمانان؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: محمد بن عبد الوهاب يو متشدد ډول مذهبي سړی وو او د هغه پيروانو هم د هغه د نظرياتو په رنا کښې د خلکو په کافر کولو کښې له ډيرې بيړې څخه کار اخلي، د ديوبند علماء کرام حضرات د هغه له عقائدو او نظرياتو سره اتفاق نه لري او نه د هغه او د هغه د پيروانو د تکفير قائل دي. د عوام الناسو لپاره د هغه له عقائدو او نظرياتو څخه ځان ساتل ضروري دي.

لما قال العلامة انور شاه الكشميریؒ: اما محمد بن عبد الوهاب النجدی فانهٗ كان رجلاً بليداً قليل العلم فكان يتسارع الى الحكم بالكفر و لا ينبغی ان يفتحم فی هٰذا الوادی الا من يكون مسيقظاً متقنا عارفا بوجوه الكفر و اسبابه. (فيض الباری ج۱، ص۱۷۱، كتاب العلم، باب من جعل الخ)

قال العلامة خليل احمد السهارنفوریؒ: الحكم عندنا فيهم ما قال صاحب الدر المختار و خوارج هم قوم لهم منعة خرجوا عليه بتاويل يولون انهٗ على باطل كفر او معصية توجب قتاله بتاويلهم يستحلون دمائنا و اموالنا و يسبّون نسائنا الی ان قال و حكمهم حكم البغاة ثم قال و انما لم نكفرهم لكونه عن تاويل و ان كان باطلاً. (المهند علی المفند ص۴۶، السوال الثانی عشر)

د نيچريه د ډلې عقيده

سوال: د نيچريه د ډلې لارښود سرسيد احمد خان ته کافر ويل صحيح دي او که نه؟ همدارنګه د هغه او د هغه د پيروانو عقائد د قرآن، حديث او د امت له اجماع سره برابر دي او که نه؟ په عوامو کښې خو دی ډير د قدر خاوند ګڼل کيږي چه مسلمانانو ته د هغه د جد او جهد (کوششونو) په برکت سره آزادي لاس ته راغلې ده. په دې باره کښې د علماء حق څه رايه ده؟

الجواب باسم ملهم الصواب: ديوه سړي عقائد او نظريې د هغه له ليکل شويو کتابونو او نورو رسالو څخه څرګندېدلی شي په کومو کښې چه هغه خپله عقيده او نظريه په واضحو الفاظو سره ذکر کوي. د نيچريه د ډلې مشر سرسيد احمد خان او د هغه هم فکره خلکو عقيدې او نظريې پخپله د هغو په کتابونو کښې راغلې دي. په هغو کښې ځينې خو په څرګنده توګه د قرآن، حديث او د امت له اجماع څخه مخالف دي. او ځينې بدعت او ضلالت دي. د مثال په توګه د ځينو هغو عقيدو نې چه په څرګند ډول له شريعت محمدي ﷺ سره ټکر دي يادونه کيږي.

﴿۱﴾ د ملائکو، شيطانانو او شجرة الجنة له حقيقت څخه د انکار عقيده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

﴿۲﴾ د قبر له عذاب څخه د انکار عقیده۔

﴿۳﴾ له کرامت او معجزې څخه د انکار عقیده۔

﴿٤﴾ د شرابو او خنزیر د حلال ګڼلو عقیده او د اسې نور۔

له دې برسیره هم ډیرې داسې عقیدې ئې دي کوم چه د امت له اجماع سره ټکر دي۔

حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله پخپل کتاب "امداد الفتاوی" کښې د دې مُحدثې (نوې) فرقې په تولو اقوالو او عقائدو باندې په تفصیل سره بحث کړی دی او د هغو تولې باطلې عقیدې ئې د قرآن او حدیثو په رڼا کښې مردود او د قرآن او حدیثو په خلاف ګڼلي دي او د ډیرو علماء کرامو فتواوې کومې چه د هغوی په کفر او ارتداد باندې مبني دي نقل کړي دي۔ لیکن پخپله ئې له دې وجهې چه د اسلام دعوه ئې کړې وه د کفر فتوی پرې نه ده لګولې۔ البته دا ئې ویلي دي چه سرسید د لوړې درجې ضال او مضل، مبتدع دی۔ له دې وجهې د اسې سړی چه عقیده ئې د قرآن او حدیثو مخالفه وي هیڅکله د مسلمانانو خیرخواه او د هغو د آزادۍ فکر من نه شي جوړیدلی بلکه دا د عوام کالانعام بې علمي او نیک فالي ده چه هغه لره خپل خیر خواه ګڼي۔

قال الله تبارك و تعالى: وَ مَنْ يَّكْفُرْ بِاللّٰهِ وَ مَلٰٓئِكَتِهٖ وَ كُتُبِهٖ وَ رُسُلِهٖ وَ الْيَوْمِ الْاٰخِرِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًۢا بَعِيْدًا۔ (سورة النسآء آیت ۱۳۶)

و قال الله تعالى ايضاً: اٰمَنَ الرَّسُوْلُ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِ مِنْ رَّبِّهٖ وَ الْمُؤْمِنُوْنَ كُلٌّ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَ مَلٰٓئِكَتِهٖ وَ كُتُبِهٖ وَ رُسُلِهٖ۔ (سورة البقرة آیت ۲۸۶)

و قال النبی ﷺ فی حدیث جبریل: و سواله للنبی ﷺ عن الایمان فقال ان تؤمن با لله و ملائکته و کتبه و رسله و الیوم الأخر و تؤمن با لقدر خیره و شرّه. (رواه البخاری فی صحیحه، کتاب الایمان، باب ۳۷) (و مسلم فی صحیحه کتاب الایمان، باب ۱/۲، و ابو داؤد، کتاب السنة، باب ۱۵/۱۶، و النسائی کتاب الاشربة، باب ٤۸، و ابن ماجة مقدمة، باب ۹)

فهذه الاصول التی اتفقت علیها الانبیاء و الرسل صلوٰت الله علیهم و لم یؤمن بها حقیقة الایمان الاتباع الرسل.

و قال الله تبارك و تعالى: اَلنَّارُ يُعْرَضُوْنَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَّ عَشِيًّا وَ يَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ اَدْخِلُوْٓا اٰلَ فِرْعَوْنَ اَشَدَّ الْعَذَابِ۔ (سورة المؤمن، آیت ٤٦)

و قال ایضاً: وَ حُوْرٌ عِيْنٌ كَاَمْثَالِ اللُّؤْلُؤِ الْمَكْنُوْنِ وَ يَطُوْفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ مُّخَلَّدُوْنَ۔ (سورة الدهر، آیت ۱۹)

حُوْرٌ مَّقْصُوْرٰتٌ فِی الْخِيَامِ۔ (سورة الرحمٰن، آیت ۷۲)

و قال العلامة مُلاّ علی القاری رحمه الله: و الجنة و النار حق مخلوقتان الیوم لا تفنیان ابداً..... و فی شرحه و فی نسخة و لا تموت الحور العین ابداً و لا یفنی عتاب الله و لا ثوابه سرمداً..... و قال الامام الاعظم فی کتاب "الوصیة" ..... و الجنة و النار حق و هما مخلوقتان و لا فناء لهما و لا اهلهما لقوله تعالی فی حق اهل الجنة أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِيْنَ و فی حق اهل النار أُعِدَّتْ لِلْكٰفِرِيْنَ خلقهما للثواب و العقاب. و قال ایضاً: فی الوصیة و اهل الجنة فی الجنة خالدون و اهل النار فی النار خالدون. لقوله تعالی فی حق المؤمنین اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ و فی حق الکفار اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ (شرح الفقه الاکبر ص ۱٤۳، بحث حوض النبی ﷺ حق و الجنة و النار مخلوقتان الیوم) و مثله فی شرح العقیدة الطحاویة ص ٤۷٦، ان الله خلق للجنة اهلا.

د پرویزي ډلې عقائد او نظریات

سوال: یو سړی د پرویزي عقائدو او نظریاتو معتقد دی او د پرویزیت خپرونه کوي۔ همدارنګه د دې مذهب په اثبات او حقانیت باندې له خلکو سره بحثونه کوي۔ د داسې سړي شرعاً څه حکم دی؟ د هغه د جنازې په لمانځه کښې مسلمانانو ته د شریعت له مخې شریکیدل جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: پرویزیانو ته په اصل کښې د حدیثو منکرین ویل کیږي۔ د دې ډلې پیروان د نبي کریم ﷺ مبارکو احادیثو ته غیر معتبر وایي۔ په اصل کښې دا ډله په ظاهره د اسلام تر نامه لاندې د اسلامي تعلیماتو د بنیاد په ایستلو باندې مصروف دي۔ ځکه چه د اسلامي تعلیماتو زیاتره برخه په نبوي ﷺ احادیثو باندې مشتمله ده او مبارک حدیثونه د قرآنکریم د مطلب او مراد لپاره مظهر او بیّن دي۔ د مبارکو احادیثو حجیت لکه څرنګه چه پخپله له قرآن څخه ثابت دي د دې لپاره له نبوي احادیثو څخه انکار د قرآن پاک له انکار سره برابر دی۔ له دې وجهې د دوی دا ډول عقیده درلودل د محمدي ﷺ دین په خلاف دی، له داسې خلکو سره د مسلمانانو غوندې تګلاره، د هغو په جنازو او داسې تورو کښې شرکت کول جائز نه دي۔ د الله تعالی ارشاد دی چه: وَ لَا تَرْكَنُوْٓا اِلَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ۔ (هود، آیت ۱۱۳)

قال الله تعالى: هُوَ الَّذِیْ بَعَثَ فِی الْاُمِّيّٖنَ رَسُوْلًا مِّنْهُمْ يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِهٖ وَ يُزَكِّيْهِمْ وَ يُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَ الْحِكْمَةَ وَ اِنْ كَانُوْا مِنْ قَبْلُ لَفِیْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ۔ (سورة الجمعة آیت ۲)

قال ابو عبد الله محمد بن یوسف فی تفسیر هذه الآیة: وَ يُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ هو القرآن و المعنی انهٗ یفهم و یلقی الیهم معانیه و الحکمة السّنة و بیان الاحکام و قال قتادة الحکمة السنة و بیان النبی السّرائع الی غیر ذلك. (البحر المحیط ج ۱، ص ۳۹۲/۳۹۳، و بهامشه الحکمة و هی السنة التی لم تکن فی الکتب)

قال الله تعالى: وَ مَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى اِنْ هُوَ اِلَّا وَحْیٌ يُّوْحٰى۔ (سورة النجم آیت ۳)

لما ورد فی الحدیث: قال رسول الله ﷺ الا انی اوتیت القرآن و مثله معه الا یوشك رجل شبعان علی اریکته یقول علیکم بهذا القرآن فما وجدتم فیه من حلال فاحلوه و ما وجدتم فیه من حرام فحرموه و ان ما حرم رسول الله ﷺ کما حرم الله الخ. (رواه ابو داؤد بحوالهٔ مشکوة ص ۲۹، باب الاعتصام الخ) و مثله فی المرقاة شرح المشکوة مفصلاً ج ۱، ص ٤۰۰، باب الاعتصام با لکتاب و السنة.

د رسول الله ﷺ د ګستاخ سلمان رُشدي د سزا حکم

سوال: څه فرمایي علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چه نن صبا سلمان رُشدي په مخالفت کښې د هغه د زماني د بدنام کتاب "شیطاني آیات" له وجهې په عالم اسلام کښې خصوصاً په پاکستان، هندوستان او ایران کښې مظاهرې جاري دي۔ د دغو مظاهرو په دوران کښې یوه دیني عالم پخپل تقریر کښې وویل چه د دغه سلمان رشدي مرتد دی او سزا ئې قتل ده۔ او د نبي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

کریم ﷺ د سپکاوی کوونکي قتل لکه څرنګه چه د حد له مخي دی له دي وجهي له توبي وروسته به هم قتل کیږي. په دي باره کښي څه وضاحت وکړی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: کوم سړی چه د رسول الله ﷺ په لوړ شان کښي ښکنځا کوي نو له شك او شبهي پرته کافر کیږي. که چیرته پخپل همدي بد او بي کاره فعل باندي مُصر وي نو سزائي قتل ده. هو! که چیرته د زړه له کومي څخه توبه وباسي چه په راتلونکي کښي به د اسي عمل نه کوم نو د محققینو علماوو په نزد ئې توبه قبلیږي لیکن د بزازي د صاحب او د اسي نورو علماوو په نزد دي د اسي سړی حداً قتل کړی شي که توبه ئې کړي وي او که نه. البته د اسي سړی چه خبائث ئې په ټول عالم اسلام کښي خپور شوی وي او د هغه د پرینښودلو په صورت کښي په نورو خلکو کښي هم جرأت پیدا کیږي نو د د اسي ګستاخ ناپاك وجود څخه ټول بهتر دي.

لما قال العلامة ابن بزاز الکردری: الا اذا سبّ الرسول علیه السلام او واحداً من الانبیاء علیهم السلام فانهٗ یقتل حداً و لا توبة له اصلاً سواء بعد القدرة علیه و الشهادة او جاء تائباً من قبل نفسه کالزندیق لانه حد وجب فلا یسقط بالتوبة کسائر حقوق الآدمیین. (الفتاوی البزازیة علی هامش الهندیة ج٦، ص ٣٢١، الثالث فیما یتعلق بالانبیاء)

و قال العلامة الحصکفی: و الکافر بسب النبی من الانبیاء فانهٗ یقتل حداً و لا یقبل توبة مطلقاً و لو سبّ الله تعالی قبلت لانه حق الله و الاول حق عبد لا یزول بالتوبة و من شکّ فی عذابه و کفره کفر. (الدر المختار علی صدر ردّ المحتار ج٤، ص ٢٣١، باب المرتد) و مثله فی خلاصة الفتاوی ج٤/٣، ص ٣٨٦، کتاب الفاظ الکفر و یتصل بهذا.

د آغـــــاخاني ډلي عقائد او نظریي

سوال: د اسماعیلیه آغا خاني ډلي کوم چه پرنس عبد الکریم آغاخان خپل مقتدا او لارښود مني د قرآن او حدیثو په رنا کښي د دي ډلي خلك کافران دي او که مؤمنان؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د اسماعیلیه آغا خاني ډلي ټول عقائد او نظریات د قرآن او حدیثو با لکل خلاف او ورسره تکر دي. همدارنګه د هغو مسائل لمونځ، روژه، حج، زکات او د اسي نورې طریقې هم د اسلامي تعلیماتو سره سر تر پایه مخالفه ده. د غو خلکو خپل مذهب پخپله ایجاد کړی دی. د هغو هره یوه مسئله (که اصولي وي یا فرعي) له اسلامي تعلیماتو سره موافقه نه ده. دا خلك ډیري ګمراه کوونکي عقیدې لري لکه د آغا خاني امام د عکس (فوټو) پرستش (عبادت)، د تسمیه ویلو په وخت کښي د بسم الله د لفظ په ځای "اوم" ویل، د لمانځه، ذکر او اذکار او دعاء طریقه ئې هم عجیبه ده. د هغو سلام "یا علي مدد" دی او د سلام ځواب ئې "مولا علي مدد" دی، د شهادت کلمه ئې "اشهدُ انّ علیّ اللهِ" ده، اودس هیڅ هم نه بولي او وایي چه زمونږ د زړونو اودس دی، او روژه مو د غوږونو، ژبې او سترګو وي، په خوړلو او چښلو سره روژه نه ماتیږي، د زکات په ځای دوه آنې جماعت خانې ته ورکوي، حج ئې د خپل حاضر او موجود دیدار دی، دا ټول کارونه د کفر موجب او لغویات دي. اسلامي ښوونې کوم چه مونږ ته خپل رسول مقبول ﷺ راکړي دي له هغو سره دا عقائد د یوه ذرې غوندې برابر نه

دي. له دي وجهي دا ډله له اسلام څخه په میلونو میلونو لرې دي او د کفر او ارتداد په سختو تیارو کښي لویدلي دي.

لما قال العلامة علاؤ الدین الحصکفی: و الکفر لغة الستر و شرعاً تکذیبه ﷺ فی شیء مما جاء به من الدین ضرورة و الفاظه تعرف فی الفتاوی. (الدر المختار علی هامش رد المحتار ج٤، ص ٢٢٣، باب المرتد)

قال العلامة ابن عابدین: قوله تکذیبه ﷺ المراد بالتکذیب عدم التصدیق الذی ای عدم الاذعان و القبول لما علم مجیئه به ﷺ ضرورةً ای علماً ضروریاً لا یتوقف علی نظر و استدلال و لیس المراد التصریح بانهٗ کاذب فی کذا لان مجرد نسبة الکذب الیه ﷺ کفر و ظاهر کلامه تخصیص الکفر بجحد الضروری فقط مع ان الشرط عندنا نوته علی وجه القطع و ان لم یکن ضروریاً. (رد المحتار ج٤، ص ٢٢٣، باب المرتد، قبل مطلب فی منکر الاجماع) و مثله فی البحر الرائق ج٥، ص ٣١٩، باب احکام المرتدین.

د شیعه ګانو د کفـــــر او د اسلام تحقیق

سوال: آیا د شیعه عقائد او نظریاتو لرونکي خلك مسلمان دي که کافر؟ همدارنګه له هغو سره ناسته ولاړه او تعلقات جوړول شرعاً جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د شیعه ګانو مختلفې ډلې دي چه د هري ډلې عقائد او نظریات له یوه او بل څخه مخالف دي له دي وجهي د هغو په کافر ګنلو کښي له سلف او خلف څخه اختلاف را روان دی. البته په هغو کښي چه کومه یوه ډله د دین له ضروریاتو څخه منکره وي د هغو په کفر کښي د هیڅا اختلاف نشته. د مثال په توګه کومه ډله چه په حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها باندي د زنا د تهمت قائل دي یا د حضرت ابو بکر صدیق رضی الله عنه له صحابیت او خلافت منکره وي یا د حضرت علي کرم الله وجهه د الوهیت عقیده ولري او هغه نبي آخر الزمان په منلو سره د حضرت جبریل علیه السلام په اړه د وحی په راوړلو کښي د غلطی عقیده ولري، یا په قرآنکریم کښي د تغیر او تبدیل قائله وي نو د د اسي ډلي په کفر کښي هیڅ ډول شك او شبهه نشته. له د اسي ډلي سره ناسته ولاړه، تعلقات جوړول، نکاح او د هغو په جنازو کښي شرکت کول ناجائز دي او د د اسي عقیدي لرونکي ډلي څخه پرته نوري ډلي ئې مستبدع (بدعتیان) دي.

لما قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: لا شك فی تکفیر من قذف السیدة عائشة رضی الله عنها او انکر صحبة الصدیق رضی الله عنه او اعتقد الالوهیة فی علی رضی الله عنه او ان جبرئیل علیه السلام غلط فی الوحی او نحو ذلك من الکفر الصریح المخالف للقرآن. (رد المحتار ج٤، ص ٢٣٧، باب المرتد)

قال العلامة ابن البزاز: و اکفار الروافض فی قولهم برجعة الاموات الی الدنیا و بنسخ الارواح و انتقال روح الاله الی الائمة و ان الائمة آلهة و فی قولهم بخروج امام ناطق بالحق و انقطاع الامر و النهی الی ان یخرج و بقولهم ان جبرئیل علیه السلام غلط فی الوحی الی محمد ﷺ دون علی رضی الله عنه و احکام هؤلاء احکام المرتدین و من انکر خلافة ابی بکر رضی الله عنه فهو کافر فی الصحیح و منکر خلافة عمر رضی الله عنه فهو کافر فی الاصح و یجب اکفار

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

الخوارج فی اکفارهم جمیع الامة سواهم و یجب اکفارهم باکفار عثمان و علی و طلحة و الزبیر و عائشة رضی الله عنهم. (البزازیة علی هامش الهندیة ج٦، ص٣١٨، باب احکام المرتدین) و مثله فی الهندیة ج٢، ص٢٦٤، الباب التاسع فی احکام المرتدین.

د اثنا عشریه ډلې د ختم نبوت په اړه فاسد او باطل تاویل

سوال: د شیعه ګانو اثنا عشریه فرقې (ډلې) کوم چه دولس امامان مني او د هغو په اړه دا عقیده لري چه دوی د الله تعالی له خوا مامور، مفترض الطاعت او معصوم عن الخطاء وي. او دا د هغو په نزد بنیادي عقیده او د دین له اصولو څخه ده آیا دا عقیده د جناب نبي کریم ﷺ د ختم نبوت له عقیدې سره خو تکر نه دی؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د شیعه ګانو مختلفې ډلې دي. په هغو کښې ځینې په ځرګنده توګه د دین له ضروریاتو څخه انکار کوي نو د لسې ډلې نې کافره او مرتده ده. او ځینې نې د خپل کفر او ضلالت د پټولو لپاره د کوم اجتماعي کار (ما ثبت فی الدین بالضروره) ډیر لري تاویل کوي کوم چه د کتاب الله، د رسول الله ﷺ له سنتو او د امت د اجماع خلاف وي. نو د لسې خلك زندیق بلل کیږي او د هغو کفر ډیر شرته نږدې وي. د مثال په توګه د نبي کریم ﷺ د ختم نبوت ډیر لري تاویل کوي او وایي چه دی مبارك ﷺ خاتم النبیین خو دی لیکن د دې مطلب دا نه دی چه له ده مبارك ﷺ څخه وروسته چاته د نبي نوم نه ورکول کیږي او نبوت په دې معنی سره چه د کوم انسان د مخلوق خوا ته مبعوث کیدل چه اطاعت نې په مخلوق باندې فرض وي، له ګناهونو څخه معصوم وي. دا صفات سر تر پایه په دولسو امامانو کښې موجود او باقي دي. لهذا د دې ډول تاویلونو کوونکی کوم چه د قرآن حدیثو او اجماع امت مخالف وي زندیق او قتل نې روا دی.

لما قال الشاه ولی الله بن عبد الرحیم: او قال ان النبی ﷺ خاتم النبوة و لکن معنی هذه الکلام انه لا یجوز ان یتسمّی بعده احد بالنبوة اما معنی النبوة و هو کون الانسان مبعوثاً من الله الی الخلق مفترض الطاعة معصوم من الذنوب و من البقاء علی الخطاء فی ما یری فهو موجود فی الائمة بعده فذلك الزندیق و قد اتفق جماهیر الحنفیة و الشافعیة علی قتل من یجری هذا المجری. (مسوی علی المؤطا ج٢، ص١٠٩، مطبوعه دهلی)

قال العلامة التفتازانی: و ان کان مع اعترافه بنبوة النبی ﷺ و اظهار شرائع الاسلام یبطن عقائد هی کفر بالاتفاق خص باسم الزندیق. (شرح المقاصد ج٢، ص٢٦٨) و مثله فی رد المحتار ج٤، ص٢٤١، باب المرتد.

د شیعه ګانو ځینې کفـــــري عقیدې

سوال: که چیرته کوم سړی د حضرت علي رضی الله عنه الوهیت، د جبریل امین علیه السلام غلطي او نور ټول کارونه د امام مهدي تر را وتلو پورې د معطل ګڼلو عقیده ولري نو د شریعت له مخې په د لسې سړي باندې کوم حکم لګول کیږي؟

الجواب باسم ملهم الصواب: پورتنۍ عقائد په مکمله توګه په ځرګند شرك او کفر باندې مبني دي. چه کوم سړی یا ډله د داسې عقائدو درلودونکي وي نو د امت د اجماع له مخې هغه سړی د اسلام له دائرې څخه وتلی او مرتد دی. له هغه سره باید د مسلمانو غوندې ټکلاره ونه شي.

لما قال العلامة ابن عابدین: نعم لا شك فی تکفیر من قذف السیدة عائشة او انکر صحبة الصدیق او اعتقد الوهیة فی علی او ان جبرئیل غلط فی الوحی. (رد المحتار ج٣، ص٢٣٧، باب المرتد)

قال العلامة ملا علی القاری: لو استحل السبّ او القتل فهو کافر لا محالة ..... ففی شرح العقائد سبّ الصحابة و الطعن فیهم ان کان مما یخالف الادلة القطعیة فکفر کقذف عائشه رضی الله عنها. (شرح الفقه الاکبر ص٧٢، الکبیرة لا تخرج المؤمن عن الایمان) و مثله فی البزازیة علی هامش الهندیة ج٦، ص٣١٨، باب احکام المرتدین.

بهـــــایي مذهب غوره کول کفر دی

سوال: یوه سړي اسلام پریښود او بهایي مذهب ني غوره کړ او د هغه په تبلیغ کښې لګیا دی. د دلائلو له مخې دا خبره څرګنده کړی چه که یو څوك د اسلام دین پریږدي او بهایي مذهب غوره کړي نو آیا مرتد کیږي او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: بهایي ډله چونکه د دین له ضروریاتو څخه منکره ده. د مثال په توګه د قیـــــامت له ورځې او جنت او جهنم ته د داخلیدو انکار، د الله تعالی په کوم جسم کښې د حلول د کولو اعتقاد درلودل، له ختم نبوت څخه انکار، په میراث کښې د سړي او ښځې برابروالی، له عدت څخه انکار او داسې نور، دا ټولې عقیدې د دین لـــــه ضروریاتو څخه دي او د ټول مسلمه امت په دغو باندې اجماع ده. لهذا په دغو کښې له یوه څخه انکار یا د چا په جسم کښې د الله تعـــــالی د حلول عقیده درلودل د کفر او ارتداد موجب دي. په اسلام کښې د داخلیدو لپاره "کلُّ ما ثبتَ بالضرورة" باندې یقین کول او اقرار کول ضروري دي. له یوه حقیقت څخه هم انکار د کفر موجب جوړیدلی شي. د دې لپاره د بهایي مذهب غوره کوونکی کافر، مرتد او له اسلام څخه وتلی دی.

لما قال العلامة مُلاّ علی القاری: فالتحقیق ان الایمان هو تصدیق النبی ﷺ بالقلب فی جمیع ما علم بالضرورة مجیئه به من عند الله اجمالاً..... ثم المراد من المعلوم ضرورة کونه من الدین بحیث یعلم العامة من غیر افتقار الی النظر و الاستدلال کوحدة الصانع و وجوب الصلوٰة و حرمة الخمر و نحوها و انما قید بها لان منکر الاجتهادات لا یکفر اجماعاً و اما من یؤول النصوص الواردة فی حشر الاجساد و حدوث العالم و علم الباری بالجزئیات فانه یکفر لما علم قطعاً من الدین انها علی ظواهرها الخ. (شرح الفقه الاکبر ص٨٦، الایمان هو الاقرار و التصدیق)

قال العلامة ابن عابدین: المراد بالتکذیب عدم التصدیق الذی مرّ ای عدم الاذعان و القبول بما علم مجیئه به ﷺ ضرورة ای علماً ضروریاً لا یتوقف علی نظر و استدلال و لیس المراد التصریح بانه کاذب فی کذا لان مجرد نسبة الکذب الیه ﷺ کفر و ظاهر کلامهم تخصیص الکفر بجحد الضروری فقط مع ان الشرط عندنا ثبوته علی وجه القطع و ان لم یکن ضروریاً. (رد المحتار ج٤، ص٢٢٣، باب احکام المرتد) و مثله فی الدر المختار علی هامش رد المحتار ج٤، ص٢٢٣، باب احکام المرتد.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

د ختم نبوت د وخت د تاکـــــلو تحقیق

سوال: حضرت محمد ﷺ باید له کوم وخت څخه خاتم النبیین وګڼل شي؟ له ولادت څخه وروسته او که په نبوت باندې له مبعوث کیدلو څخه وروسته او یا له وفات څخه وروسته؟ مطلب دا دی چه د وحی دروازه له کوم وخت څخه باید بنده وګڼله شي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: نبي کریم ﷺ خاص د امر له ابتداء څخه خاتم النبیین دی۔ یعني الله تعالی ده لره د دې مبارک منصب لپاره له ازل څخه غوره کړی وو۔ په مشکات کښې له حضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چه صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم رسول الله ﷺ ته عرض وکړ چه تاسو ته نبوت کله در په برخه شو؟ ده مبارک ﷺ وویل چه "په دلسې وخت کښې چه آدم علیه السلام لا نه وو پیدا شوی"۔ البته په عـــــالم اجساد کښې دی مبارک له ټولو انبیاء کرامو څخه وروسته راغی او چه کله نې عمر څلویښتو کالو ته وروسید نو نبوت ور په برخه شو او د وحی راتګ شروع شو، ده مبارک ﷺ ته نوی شریعت او نوی کتاب تر لاسه شو کوم چه د ټولو مخکښینیو انبیاوو د شریعتونو ناسخ وګرځولی شو۔ لهذا تر ده مبارک ﷺ وروسته به دلسې کوم نبي نه راځي چه د ده شریعت منسوخ کړي۔ البته له قطعي نصوصو څخه ثابت دي چه حضرت عیسی علیه السلام ژوندی آسمان ته خیژول شوی وو او قیامت ته په نژدې وخت کښې به را کښته شي او محمدي شریعت به ژوندی کړي او د هغه پیروي به کوي۔ او له صحیحو احادیثو څخه دا هم ثابته ده چه په ده مبارک باندې به وحی هم راځي لیکن دا وحی به د محمدي شریعت د بدلولو لپاره نه وي بلکه د هغه د ضروري کارونو په اړه به وي۔ ګوا که د وحی له انقطاع څخه مراد هغه وحی ده کومه چه د نبي کریم ﷺ شریعت لره منسوخ کړي۔

لما ورد فی الحدیث: قال ابو هریرة رضی الله عنه قالوا یا رسول الله متی وجبت لك النبوّة قال و الآدم بین الروح و الجسد. (رواه الترمذی بحواله مشکوة ص ۵۱۳، باب فضائل سید المرسلین ﷺ، الفصل الثانی)

قال العلامة ملا علی القاری فی شرح هذا الحدیث: وجبت لی النبوّة و الحال ان آدم بین الروح و الجسد یعنی و انه مطروح علی الارض بلا روح و المعنی انه قبل تعلق روحه بجسده..... و روی ابو نعیم فی الدلائل وغیره من حدیث ابو هریرةؓ مرفوعاً کنت اول النبیین فی الخلق و آخرهم فی البعث. (مرقاة المفاتیح ج ۱۱، ص ۵۸)

و قال العلامة جلال الدین السیوطی رحمه الله: فبینما هو کذلك اوحی الله الی عیسی ابن مریم علیه السلام انی قد اخرجت عباداً لی لا ید ان لاحد بقتالهم فحوز عبادی الی الطور و یبعث الله یاجوج و ماجوج. (الحدیث).....

فذلك صریح من انه وحی حقیقی لا وحی الهام ان ما توهمه هذا الزاعم من تعذر الوحی الحقیقی فاسد لان عیسی علیه السلام نبی فای مانع من نزول الوحی علیه؟ فان تخیل نفسه ان عیسی علیه السلام قد ذهب عنه وصف النبوّة فهذا قول یقارب الکفر لان النبی لا یذهب عنه وصف النبوّة ابداً حتی بعد موته و ان تخیل اختصاص الوحی للنبی ﷺ بزمن دون زمن فهو قول لا دلیل علیه و یبطله ثبوت الدلیل علی خلافه. (نزول عیسی ابن مریم آخر الزمان، ص ۴۸/۵۲) و مثله فی اشعة اللمعات ج ۴، ص ۴۹۹، باب فضائل سید المرسلین ﷺ.

د قـــــادیانیانو کفر د قرآن او حدیثو په رنا کښې

سوال: قادیانیان کوم چه مرزا غلام احمد قادیاني خپل لارښود او رهبر ګڼي او وایي چه احمدي ریښتونی مذهب دی او نور ټول مذاهب باطل دي۔ د قرآن او حدیثو په رنا کښې د دې وضاحت وکړی چه آیا په ریښتیا هم احمدي ریښتونی مذهب دی او آیا له قرآن او حدیثو سره موافق دی او که مخالف؟ او که چېرته مخالف وي نو له هغو سره ناسته ولاړه، نکاح او دلسې نور تعلقات جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د ټول امت مسلمه دا متفقه عقیده ده چه تر نبي کریم ﷺ وروسته هیڅ نوی نبي نه راځي۔ دا د عیسی علیه السلام له نازلیدو څخه انکار نه دی د دې لپاره چه د هغه نبوت او پیغمبري له ده مبارک ﷺ څخه مخکښې وو له دې وجهې د هغه د حضور اکرم ﷺ په امت کښې نازلیدل د ده مبارک ﷺ په ختم نبوت باندې کوم اثر نه اچوي۔ په هر حال د ختم نبوت عقیده د ټول مسلمه امت متفقه عقیده ده۔ د دلسې مسلمو عقائدو څخه منکر کافر او مرتد دی، له اسلام او مسلمانانو سره هیڅ اړیکي نه لري۔ او د مرزا غلام احمد قادیاني ټولې دعوې د قرآني نصوصو او صحیحو احادیثو له مخې بالکل په دروغو او بې ځایه خبرو باندې مبني دي۔ له دې وجهې د هغه په نوموړو دروغو دعوو باندې د هغه منونکي کافر او مرتد دي۔ چه کله یوه مسلمان ته دا څرګنده شي چه فلانی قادیاني دی او د خبرولو او پوهولو تر څنګ له خپلې عقیدې څخه و نه ګرځي نو له هغه سره په اسلامي طریقې باندې تګ راتګ او ناسته ولاړه جائز نه دي۔ د الله تعالی ارشاد دی چه: وَلَا تَرْكَنُوْا إِلَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ. (هود، آیت ۱۱۳) د اسلام جمهور علماء کرام چه کله د قادیاني په عقائدو او نظریاتو باندې خبر شول نو ټولو د هغه په کفر او ارتداد باندې فتواوي ورکړې چه د هغو له مخې هغه خلك کوم چه قادیانیان سره له دې چه عقیدې ټي ور معلومې وي هغوی مسلمانان ګڼي (که هغه مرزا قادیاني نبي مني او که مسیح ظلي ټي مني او که بروزي) په هر حال کافر او مرتد دی۔ که د نور تحقیق ضرورت وي نو د "تکفیر قادیاني" نومې رساله وګوری چه په هغې کښې د سلګونو معتمدو علماوو دستخطونه ثبت دي۔

قال الله تبارك و تعالی: مَا كَانَ مُحَمَّدٌ اَبَا اَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِكُمْ وَلٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ وَخَاتَمَ النَّبِيّٖنَ وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمًا۝ (سورة الاحزاب، آیت ۴۱)

قال العلامة الحافظ ابن کثیرؒ: قوله وَخَاتَمَ النَّبِيّٖنَ. فهذه الآیة نص فی انهٗ لا نبی بعدهٗ و اذا کان لا نبی بعده فلا رسول بعده بالطریق اولٰی و الاحریٰ لا مقام الرسالة اخص من مقام النبوّة. فان کل رسول نبی و لا ینعکس بذلك و ردت احادیث المتواترة عن رسول الله ﷺ من حدیث جماعة من الصحابة. (تفسیر القرآن العظیم ج ۴، ص ۷۸۴) و مثله فی الجامع لاحکام القرآن ج ۱۴، ص ۱۲۷، سورة الاحزاب.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

د قادیانیانو دلائل او د هغو ځوابونه

سوال: یو سړی د نبي کریم ﷺ له ختم نبوت څخه وروسته د مرزا غلام احمد قادیاني د نبوت و ثبوت او د هغه د حقانیت لپاره لاندینی دلائل وړاندې کوي چه:

د قادیاني دلائل: قال الله تبارك و تعالى: مَا كَانَ مُحَمَّدٌ اَبَا اَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِكُمْ وَ لٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ وَ خَاتَمَ النَّبِيّٖنَ وَ كَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمًا ﴿سورة الاحزاب، آیت ٤١﴾

زمونږ عقیده: څرګنده دي وي چه د قرآن پاك آیت دی او د الله تعالی کلام دی۔ د هغه له کُل یا جزء څخه انکار زمونږ په نزد د کفر موجب دی۔ پس مونږ د احمدي ډلې خاوندان سیدنا حضرت محمد ﷺ خاتم النبیین تسلیمو او چه څوك ئې خاتم النبیین نه مني نو هغه زمونږ په نزد مسلمانان هم نه دي۔ لیکن د خاتم د لفظ په حقیقي معنی او مفهوم باندې پوهیدل ضروري دي۔ د ازمونږ دعوه ده چه د دنیا په هر یوه لغت کښي چه د ختم لفظ د درج مقام ته راشي نو معنی ئې ختم کوونکی او بندوونکی نه ده۔ له حضرت محمد ﷺ څخه مخکښي محاوره، یاد عربو مقوله یاد کوم عربي شاعر کوم شعر په تولو عربي لیټریچرو کښي موجود نه دی او نه له حضرت محمد ﷺ څخه وروسته هم په عربي کتابونو کښي د خاتم لفظ د بندولو او ختمولو په معنی کښي استعمال شوی دی۔ په دې اړه د لغت څو مشهور کتابونه وګوری:

لفظ	معنی	د لغاتو د کتاب نوم
(۱) خاتم	غمی، مُهر هغه شی چه په هغه باندې نوم او د اسي نور لیکل کیږي۔	لسان العرب، تاج العروس، صحاح قاموس جوهري
(۲) خاتم	ګوتیي، لکه خاتم الذهب، یعني د سرو زرو ګوتیي۔	〃 〃 〃 〃 〃
(۳) خاتم:	د اس په بدن کښي چه لږ غوندې سپین والی وي۔	قاموس، تاج العروس، منتهی الادب۔
(٤) خاتم:	د اس له تیو سره حلقي ته هم خاتم ویل کیږي۔	〃 〃 〃 〃 〃
(٥) خاتم:	د تخت لاندې چه کوم خالي ځای دی هغه ته هم خاتم ویل کیږي۔	〃 〃 〃 〃 〃
(٦) خاتم:	د مهر نقش کوم چه په په کاغذ باندې لویږي۔	لسان العرب او د اسي نور۔
(۷) خاتم النبیین:	د نبیانو بنائست او رونق۔	مجمع البحرین ج۱۔

﴿۱﴾ همد ارنګه ملا علي قاري رحمه الله په موضوعات کبیر ص٤٩ کښي د خاتم النبیین معنی دا کړې چه له نبي کریم ﷺ څخه وروسته د اسي کوم نبي نه راځي چه د ده مبارك ﷺ دین منسوخ کړي او د ده له امت څخه نه وي۔

﴿۲﴾ شاه ولي الله محدث د هلوي رحمه الله په "تفهیمات الٰهیه" نومي کتاب کښي فرمایي چه په آنحضرت ﷺ باندې د نبیانو له ختم کیدلو څخه مراد دا دی چه له ده مبارك ﷺ نه وروسته به کوم د اسي څوك نه وي چه الله تعالی ئې د خلکو لپاره د شارع د جوړولو په صورت کښي ولیږي۔

﴿۳﴾ په "مجمع البحار" نومي کتاب چه مصنف ئې شیخ محمد طاهرؒ دی کښي له حضرت عائشه رضی الله عنها څخه روایت دی چه د اسي خو ووایی چه رسول الله ﷺ خاتم النبیین دی لیکن د اسي مه وایی چه له ده مبارك ﷺ څخه وروسته کوم نبي نشته۔

﴿٤﴾ په "صافي" نومي تفسیر کښي دي چه حضرت رسول اکرم ﷺ حضرت علي رضی الله عنه ته وفرمایل چه ای علیؓ زه خاتم الانبیاء یم او ته خاتم الاولیاء یې۔ نو آیا له دي څخه دا مراد اخیستل کیږي چه له حضرت علي رضی الله عنه څخه وروسته به کوم ولي نه وي؟

﴿٥﴾ د دیلمي یو حدیث دی چه زه د مؤمنانو له فقیر انو سره تر تولو مخکښي جنت ته ځم او زه له ځانه مخکښي او وروسته د تولو انبیاوو سردار یم۔

﴿٦﴾ حضرت محمد ﷺ حضرت عباس رضی الله عنه ته خاتم المهاجرین ویلي دي نو آیا له حضرت عباسؓ نه وروسته چا هجرت نه دی کړی؟

﴿۷﴾ سیدنا حضرت محمد ﷺ خاتم دی خو د مُهر په معنی سره او د مهر کار تصدیق دی۔ یو سرکاري نوکر د دي لپاره مهر لګوي چه زه تصدیق کوم چه دا لیکنه زما په علم او حکم سره جاري شوې ده۔

﴿۹﴾ یو بادشاه د دي لپاره مُهر لګوي چه زه تصدیق کوم چه دا لیکنه یا فرمان زما په علم او حکم سره جاري شوی دی۔

﴿۱۰﴾ یوه ډاکخانه په خط باندې د دي لپاره مهر لګوي چه د دي خبري تصدیق کیږي چه دا خط له فلاني ځای څخه په فلاني تاریخ او وخت باندې ولیږل شو یا ورسیده۔

﴿۱۱﴾ یو عریضه لیکونکی خپل مهر د دي لپاره لګوي چه زه د دي خبري تصدیق کوم چه د نوموړي عهد نامي عبارت زما په لاس لیکل شوی دی۔

﴿۱۲﴾ په کوم کاتن، بوتل یا بند شوي خط باندې د دي لپاره مهر لګول کیږي چه دا شیان ما بند کړي دي۔ که چیرته مُهر روغ نه وي پاتي نو د هغه د ننه چه کوم شی دی د هغه د روغ پاتي کیدو اعتبار له منځه ځي۔

﴿۱۳﴾ د یوه مُهر لپاره دا ضروري ده چه په لازمي توګه د لیکنې په سر کښي وي۔ که ئې په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

لومړي سر کښې وي يا په آخري سر کښې۔ له دې څخه د مهر لګوونکي تصديق وي نه د هغه د ليکنې بنديدل يا بندول۔

دا د قاديانيانو دلائل وو۔ له تاسو حضراتو څخه هيله ده چه د دغو دلائلو غلبې ماتوونکي ځوابونه وليکی او د دې نوي فتنې په مخنيوي کښې مرسته وکړی۔

الجواب: د ټول امت مسله دا اجماعي او متفق عليه عقيده ده چه د دواړو جهانو سردار حضرت محمد ﷺ د الله تعالی آخري نبي دی۔ له ده مبارک ﷺ څخه وروسته پرته له عيسی عليه السلام څخه بل کوم نبي نه راځي او عيسی عليه السلام قيامت ته نژدې له آسمانونو څخه زمکې ته راکوزيږي او د محمدي ﷺ دين ژوندی کول او تجديد (نوي کول) کوي او دی به پخپله هم د محمدي ﷺ شريعت تابع وي۔ او قادياني بدبخته نومورې اجماعي عقيده پريښي ده او د خاتم د تکي بې اعتباره او نامراده معنی پسې شوی دی او د خاتم النبيين چه کومه اجتماعي معنی ده چه په هغې باندې د ټول امت اتفاق دی کوم چه د دواړو جهانو سردار ﷺ ني پخپله ښوونه کړې ده او صحابۀ کرامو هم خلک پوه کړي دي او د امت ټول محققين، محدثين، مفسرين، ائمه کرامو او علماء حق په دې باندې اتفاق دی۔ ليکن بد بختو قاديانيانو د هغو له خوا را ښوول شوي معنی دروغ ګڼي او خپله له ځانه جوړه شوي معنی ني معتبره ګڼلې ده۔

قال الله تبارك و تعالى: مَا كَانَ مُحَمَّدٌ اَبَا اَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِكُمْ وَ لٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ وَ خَاتَمَ النَّبِيّٖنَ وَ كَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمًا۝ (سورة الاحزاب، آيت ٤٠)

فقال رسول الله ﷺ انا خاتم النبيين لا نبيّ بعدی و لا رسول بعدی و لا اُمّة بعدی.

دا د څو حديثونو مجموعه ده او دا مضمون په ډيرو حديثونو کښې راغلی دی۔ (تفسير القرآن العظيم ج٤، ص٧٨٤)۔ لانفی جنس دی، چه کله دا پخپل مدخول باندې راشي نو د هغه بيخ او بنياد ووځي۔ يعني نبي کريم ﷺ د خاتم النبيين معنی دا کړې ده چه له ما وروسته به نبي نه وي۔ د دې لپاره ني فرمايلي دي چه "لا نبيّ بعدی و لا رسول بعدی الخ" (چه له ما وروسته به کوم نبي نه راځي، نه تشريعي او نه ظلي او نه بروزي)۔ ليکن بد بختو قاديانيانو عليهم ما عليهم له خاتم النبيين څخه چه نبي کريم ﷺ کومه معنی ښوولې ده هغه معنی پريښي ده او پخپله د لغاتو د کتابونو نورې معنی ګانې ني پريښي دي يو اځي د تصديق او مهر معنی ني ترې اخيستې ده کومه چه د ختميدو يا ختمولو سره مخالفه او متضاده ده۔

ملا علي قاريؒ چه "موضوعات کبير" نومي کتاب کښې د خاتم النبيين د آيت کومه معنی کړې ده او فرمايلي ني دي چه له "آنحضرت ﷺ څخه وروسته د اسې نبي نه راځي چه د نبي کريم ﷺ دين منسوخ کړي او د ده له امت څخه نه وي"۔ نو دا د حضرت عيسی ابن مريمؑ خوا ته اشاره ده چه هغه به راځي ليکن شرعي نبي به نه وي بلکه د آنحضرت ﷺ د دين حامي به وي۔ د شاه ولي الله د هلوي رحمه الله خبره چه په "تفهيم الکبير" کښې ده هغه هم بالکل صحيح ده

قاديانی په هغې هم عمل نه کوي ځکه چه هغه د بل نبي د راتګ قائل نه دی۔

ضروري خبرداری: د قاديانيانو په ليکنو کښې ټول فريب دی۔ ساده او عام مسلمانانو ته د فريب په ورکولو سره دوی د بې دينۍ خوا ته مائله کوي۔ د خاتم النبيين او ختم نبوت له اجماعي عقيدې څخه دا خلك منکر دي۔ په خلکو کښې خپل ځانونه د مسلمان ښوولو لپاره او عوام پخپلو لومو کښې درا ټيولو لپاره دا ډول الفاظ بيانوي تر څو چه ساده او عام مسلمانان پرې دوکه کړي او خطا ني کړي۔ د دوی د پليد او مردار مذهب حقيقت پخپله د هغوی له ليکل شويو کتابونو څخه څرګندیږي۔ که چيرته تاسو د قادياني مذهب له حقيقت څخه ځان خبرول غواړی نو لاندينې کتابونه وګورئ تر څو چه ايمانونه مو هم تازه شي او د دين او ايمان د غلو له فريب څخه هم نجات پيدا کړی۔ (١) عشرۀ کامله۔ (٢) ختم نبوت۔ (٣) تحقيق الظفر و الايمان بآيات القرآن۔ (٤) دعاوي مرزا۔ (٥) د مسيح موعود پيژندنه اردو۔ (٦) د قاديانيانو په کفر باندې د اسلام د علماوو فتوی۔ دا کتابونه چاپ شوي دي او عام پيدا کيږي۔ له هري مشهورې کتب خانې څخه ني وغواړی او مطالعه ني کړی۔

د خاتم د تکي لغوي تحقيق: د خاتم معنی د لغاتو له مخې (١) د مراح الارواح په ٢٨٨ مخ کښې دي چه: "ختم کردن، ختمت الشيء فهو مختوم، ختم شد او تمام گرد انيدن يقال ختم الله له بخير، اتمام خواندن قرآن، اختتام به پايان بردن، نقيض الافتتاح، خاتم بفتح التاء و کسر ما، ختام بالتاء، خاتام با لالف انگشتري جمع خواتيم، خاتم الشيء آخره، (محمد ﷺ خاتم الانبياء بالفتح صلوه الله عليه و عليهم اجمعين: گلے و موم مهر کننده، و قوله تعالى "خِتٰمُهٗ مِسْكٌ" (٢) او په غياث اللغات ١٥٣ مخ کښې دي چه: خاتم بکسر موم و مك و غيره که بر آن مُهر کنند۔ (٣) په منجد ١٦٥ مخ کښې دي چه: الختم ما يختم به الخاتم الطين او كل ما يختم به على الشيء جمع ختم الختم كل ما يختم به الخاتم جمع خواتيم، الختام ما ختم به و عاقبة كل شيء کوم چه په نبي کريم ﷺ باندې صادقيږي۔ (٤) په مفردات القرآن للامام الراغب اصفهاني ١٤٢ مخ کښې دي چه: و خاتم النبيّن لانهٗ ختم النبوّة الى ختمها بمجيئه.

له پورتنيو حواله جاتو څخه په ښه توګه څرګندیږي چه د خاتم لفظ يا تکی په ختمولو او د يوه شي د پای ته رسولو په معنی کښې هم استعمال شوی دی۔ او د خبيث قادياني دوکې او فريب ته وګورئ چه دا لفظ ني هيڅيرته هم د ختم کولو او پای يا اختتام الشيء په معنی کښې نه دی راوړی۔ په ځانګړې توګه د امام راغب اصفهاني د "صرح" الفاظ، د المنجد مصنف عيسايي دی او مسلمان هم نه دی، د همدې عيسايي الفاظ وګورئ وايي چه: عاقبة الشيء" او دا معنی په آنحضرت ﷺ باندې صادقيږي۔ که چيرته با لفرض د لغاتو په کوم کتاب کښې د خاتم د لفظ معنی ختم کول هم نه وي نو بيا هم زمونږ په مدعا او اجماعي عقيدې باندې هيڅ اثر نه شي اچولی۔ ځکه چه زمونږ په نزد د لغاتو کتابونه معتبر هم نه دي۔ او نه مونږ د خپلې مدعا د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

ثبوت لپاره له هغو څخه د استدلال کولو پابند یو۔ بلکه زمونږ دا دعوه د قرآن کریم له قطعي او یقیني نصوصو، صحیحو احادیثو او اجماع امت څخه ثابته ده۔ د قرآن او حدیث د پریښودلو په صورت کښې د لغاتو له کتابونو څخه استدلال کوونکی د آخري درجې زندیق او مُلحد دی۔ له اسلام څخه په سلګونو میله لري دی او د ارتداد په سختو تیارو کښې لویدلی دی۔ په اسلامي حکومت باندې واجب دي چه کوم سړی قادیاني مذهب خپلوي نو د رجوع د نه کولو په صورت کښې دي هغه د مرګ سزا ورکړي۔

قال الله تبارك و تعالى: مَا كَانَ مُحَمَّدٌ اَبَا اَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِكُمْ وَ لٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ وَ خَاتَمَ النَّبِيّٖنَ وَ كَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمًا۝ (سورة الاحزاب، آیت ٤٠)

قال الحافظ ابن كثيرؒ: تحت هذه الآية فهذه الآية نص في انه لا نبي بعده و اذا كان لا نبي بعده فلا رسول بعده بالطريق الاولى و الاحرى لان مقام الرسالة اخص من مقام النبوّة فان كل رسول نبي و لا ينعكس و بذلك ورد الاحاديث المتواترة عن رسول اللّٰهﷺ من حديث جماعة من الصحابة. (تفسير القرآن العظيم ج٣، ص٧٨٣)

قال العلامة القرطبيؒ: قال ابن عطية هذه الالفاظ عند جماعة علماء الامة خلفاً و سلفاً متلقاة على العموم التام مقتضية نصاً انه لا نبي بعدي. (احكام القرآن ج١٤، ص١٩٦، سورة الاحزاب)

د مـــــرزایانو لاهوري فرقه یا ډله هم کافره ده

سوال: د مرزایانو لاهوري ډله کومه چه مرزا غلام احمد قادیاني په نبوت سره نه منې او په ظاهره سره د هغه له نبوت څخه د بیزاری اظهار کوي لیکن د حضرت عیسیٰ علیه السلام د بې پلاره د پیدا کیدو عقیده نه لري۔ همدا رنګه د اډله د عیسیٰ علیه السلام آسمان ته له ختلو څخه هم منکره ده۔ آیا داسې عقیده لرونکي خلك مسلمان دي او که د قادیاني او مرزایي غوندې کافران او مرتدین دي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د مرزایانو لاهوري ډله اګر که د مرزا غلام احمد قادیاني په نبوت او غیر نبوت کښې متردد (په شك کښې) دي لیکن د نورو قطعي عقائدو لکه د حضرت عیسیٰ علیه السلام د بې پلاره له پیدا کیدو څخه انکار، آسمان ته له ور خیژولو څخه انکار، و صرّح به محمد علي لاهوري في تفسير بيان القرآن ج١، ص٣١٣)، عیسیٰ علیه السلام د یوسف نجار زوی ګڼل۔ د دې ډول عقیدې درلودل د قرآني آیاتو، صحیحو احادیثو او د امت د اجماع له مخې خلاف دي۔ له دي وجهې د مرزایانو دا (لاهوري) ډله هم د خپلو فاسدو تاویلاتو له وجهې مسلمانه نه ده او د اسلام له دائرې څخه وتلې ده۔

قال الله تعالى حكاية عن مريم: قَالَتْ اِنِّيْٓ اَعُوْذُ بِالرَّحْمٰنِ مِنْكَ اِنْ كُنْتَ تَقِيًّا☆ قَالَ اِنَّمَآ اَنَا رَسُوْلُ رَبِّكِ لِاَهَبَ لَكِ غُلٰمًا زَكِيًّا☆ قَالَتْ اَنّٰى يَكُوْنُ لِيْ غُلٰمٌ وَّ لَمْ يَمْسَسْنِيْ بَشَرٌ وَّ لَمْ اَكُ بَغِيًّا☆ قَالَ كَذٰلِكِ قَالَ رَبُّكِ هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ وَّ لِنَجْعَلَهٗٓ اٰيَةً لِّلنَّاسِ وَ رَحْمَةً مِّنَّا وَ كَانَ اَمْرًا مَّقْضِيًّا☆ (سورة مريم، آیت ١٨ تا ٢١)

و قال الله تعالى: وَ مَرْيَمَ ابْنَتَ عِمْرٰنَ الَّتِيْٓ اَحْصَنَتْ فَرْجَهَا فَنَفَخْنَا فِيْهِ مِنْ رُّوْحِنَا وَ صَدَّقَتْ بِكَلِمٰتِ رَبِّهَا وَ كُتُبِهٖ وَ كَانَتْ مِنَ

القٰنِتِيْنَ☆ (سورة التحريم، آیت ١٢)

و قال ابو عبد الله محمد بن احمد رحمه الله في تفسيره: وَ لَمْ يَمْسَسْنِيْ بَشَرٌ اى بنكاح وَ لَمْ اَكُ بَغِيًّا اى زانية و ذكرت هذا تاكيداً لا قولها لَمْ يَمْسَسْنِيْ بَشَرٌ يشمل الحلال و الحرام..... وَ لِنَجْعَلَهٗٓ آيَةً اى دلالة على عجيبة. (الجامع لاحكام القرآن ج١١، ص٩١، سورة مريم) و مثله في التفسير القرآن العظيم ج٣، ص١٨٧، سورة مريم.

لاهوري مرزایان هم کافر او له اسلام څخه وتلي دي

سوال: څه فرمایي علماء کرام د دي مسئلې په باره کښې چه پرون په تاریخ د ٨ دسمبر ١٩٩٠ء په وخت د څلورنیمې بجې د ورځې د ووکنګ د جومات مخکښینی امام محمد طفیل د مرزایانو د لاهوري ډلې د تعلق لرونکي یوه سړي د خسر جنازه نوموړي جومات ته راوړل شوه او د دي ځای سرکاري امام خواجه قمر الدین کوم چه خپل ځان په اهل السنت و الجماعت کښې شماروي، د مخکښینې مرزایي امام محمد طفیل په اقتداء کښې د جنازې لمونځ ادا کړ۔ په دې حال کښې چه څو معززینو له هغه سره د هغه د دي حرکت په اړه محاسبه وکړه نو خواجه قمر الدین د ووکنګ د جومات سرکاري امام دا دلیل وراندې کړ چه ما د دي لپاره په جنازې کښې ګډون وکړ چه مرزا محمد طفیل اکثره وخت په ما پسې لمونځونه کوي۔ او بل دلیل ئې دا وراندې کړ چه زه لاهوري مرزایان کافران نه ګڼم ځکه چه هغوی مرزا غلام احمد قادیاني لره یو اځې مجدد ګڼي او مونږ کافران نه بولي۔ له دي وجهې تاسو مهربانی وکړی د قرآن او حدیثو له مخې د دې سړي په اړه له شرعي فتوی څخه کما حقه مونږ خبر کړی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: مرزا غلام احمد قادیاني د خپلو باطلو دعوو له وجهې د قرآن او سنتو د واضحو او بدیهي نصوصو او د امت د اجماع په بنا باندې قطعي کافر او مرتد دی۔ د دغو وجوهاتو له وجهې د مرزا د دې معتقداتو خپلوونکی یا د هغه پیروي کوونکی یا د هغه تصدیق او تائید کوونکی یا په کوم ډول سره تاویل پکښې کوونکی هم قطعي کافر او مرتد دی۔ د متنبي کذاب مرزا قادیاني له مرګ څخه وروسته د هغه د متبعینو یوه ډله (کومه چه د لاهوري مرزایي ډلې په نامه مشهوره ده او قیادت ئې مولوي محمد علي لاهوري کوي) د مرزا د ځرګندو او غیر مبهمو دعوا ګانو تر څنګ د هغه د کافر ګڼلو په ځای (کوم چه باید د هر مسلمان لازمي عقیده وي) د دې سړي ټولو دعوا ګانو او کفري اقوالو تاویل شروع کړ په دې حال کښې چه هغوی پخپله پخپلو دعوو کښې په چیغو چیغو ناري وهي او وایي چه زه نبي یم تشریعي هم او غیر تشریعي هم۔ په ټولو انبیاء کرامو باندې ئې د جناب محمد رسول اللهﷺ په شمول د خپلې درجې د لوړوالي دعوې کوي۔ د ځان منکرین ټول مسلمانان جهنمیان او کافران ګڼي لیکن مولوي محمد علي لاهوري او ډلې ئې مرزا لره د کافر ګڼلو پر ځای د ځوارلسمې پیړۍ عظیم مجدد، لوی مصلح او له دي برسیره مسیح موعود پوري ئې مني۔ (د هغه پخپله تفسیر بیان القرآن وګوری لومړی برخه ص٣١٧، ریویو آف ریلجز ج٥، ص٣١٤،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

ج۱۲، ص۴۶۵ او د اسې نور وګوری) هغه د خپل تفسیر په ډیرو ځایونو کښې د معنوي تحریف او د اسې تلاعب څخه کار اخیستی دی چه د الحاد او کفر دروازه ئې پرانیستې ده۔ بیا ئې د مرزا له نبوت څخه انکار او د مصلح او مجدد په ګټلو سره ئې د نفاق، تلبیس او مسلمانانو تد دوکې ورکولو لپاره لاره غوره کړې ده۔ او که نه نو په حقیقت کښې لاهوري او قادیاني دواړه ډلو په معتقد اتو کښې کوم فرق نشته۔ وګوری پیغام صلح ۷ ستمبر، کوم چه د لاهوري ډلې ترجمانه رساله ده۔ په دې کښې د مرزا قادیاني لره د رسول منلو اعلان موجود دی۔ پخپلې رسالې ریویو ج۳، ص۱۱، ص۳۱۱ کښې مرزا ته نه یواځې رسول الله او نبي ویلې دي بلکه له تولو رسولانو څخه ئې افضل بللی دی۔ په هر حال که چېرته حقیقتِ حال همد غه وي چه هغوی مرزا یواځې مصلح او مجدد وبولي بیا به هم د هغوی په تکفیر کښې کوم کمی او زیاتی نه وای۔ د بر صغیر محققو علماوو خصوصاً علامه سید انور شاه کشمیریؒ د دې فریب او نفاق پرده هم له قطعي دلائلو څخه پرې کړه او د لاهوري ډلې د تکفیر په ضمن کښې د "اکفار الملحدین فی ضروریات الدین" غوندې معرکه الآراء کتاب لیکلی دی چه په هغه کښې ئې څرګنده کړې ده چه په قطعي، یقیني، متواتر عقائد او دیني ضروریاتو کښې تاویل او تحریف او انکار قطعي کفر دی۔ اګر که تاویل او تحریف کوونکی پخپله ځان ته مسلمان هم وایي او خپل ځان اهل قبله هم بولي او د اسلام ټول ارکان او عبادات هم په ځای کوي۔

د مسلمانانو لپاره خو د مرزایانو له لاهوري ډله د قادیاني او بوائي ډلې څخه هم خطرناکه ده ځکه چه مسلمانان هغوی په لمونځونو او د اسې نورو عباداتو باندې وینې او په هغو باندې ښه ګومان کوي او په آخر کښې د هغو د مکرونو او خباثتونو ښکار کیږي او د هغو له ژبې څخه د مرزا قادیاني صفتونه او ښیګړې اوري او د هغه په باره کښې د خوش فهمۍ ښکار کیږي چه په نتیجه کښې ئې دین او ایمان دواړه ضائع کیږي۔

لنډه دا چه د مرزایي لاهوري ډله د قادیاني مرزایانو غوندې قطعي کافران دي، نه د کوم مسلمان پسې د هغو د لمانځه ادا کول د هغو د مسلمانۍ دلیل جوړیدلی شی او نه د هغو دا ویل چه مونږ مسلمانانو لره کافران نه ګڼو۔ او اوس خو د قادیانیانو ربوه ډلې امام هم د تقیه له لارې څخه مسلمانانو ته د دوکې او فریب د ورکولو په خاطر خپلو متبعینو ته له مسلمانانو سره د لمانځه د کولو او له دوی سره د ژوند انه او ذاتي تعلقاتو د جوړولو اجازه ورکړې ده۔ آیا د دوی په د اسې کولو سره هغوی مسلمان بلل کیږي؟ که چېرته مرزایان مونږ مسلمانو ته کافر هم و نه وایي نو آیا هغوی د کفر له دائرې څخه را وتلی شي؟ نه هیڅکله نه! بلکه تر څو پورې چه هغوی د مرزا په باره کښې له خپلو کفري عقائدو څخه رجوع و نه کړي اسلام هغوی لره کافر، مرتد، واجب القتل او جهنمیان ګڼي۔ تاسو پخپل سوال کښې د کوم سړي (سرکاري امام خواجه قمر الدین) یادونه کړې ده که چېرته هغه د غلط فهمۍ او ناپوهۍ له وجهې د لاهوري مرزایي

ډلې پسې اقتداء کړې وي یا ئې هغوی مسلمانان ګڼلي وي نو هغه باید چه نادم (پښیمانه) او تائب شي او له خپل دې موقف څخه رجوع وکړي۔ او که چېرته اوس هم هغه د لاهوري مرزایانو په باره کښې پخپلې رائې باندې کلک ولاړ وي نو هغه لره د امامن له منصب څخه لرې کول او معزول کول ضروري دي۔ و الله اعلم بالصواب۔

د شیعه مذهب په اختیارولو سره د نکاح حالت

سوال: یوه هلک خپل ځان د سُني په ظاهرولو سره له یوې سُني مسلکې نجلۍ سره نکاح وکړه۔ په د اسې حال کښې چه په حقیقت کښې هغه د شیعه مذهب او شیعیت هم فکره دی۔ او اوس خپله بې بې هم د شیعه مذهب په اختیارولو باندې مجبوره کوي لیکن نجلۍ د شیعه مذهب په اختیارولو باندې خوشحاله نه ده او نه له هغه سره د اوسیدو لپاره تیاره ده۔ اوس پوښتنه دا ده چه د محمدي ﷺ شریعت له مخې د شیعه مذهب په اختیارولو سره نکاح ماتیږي او که نه؟ او آیا د یوې سُني نجلۍ له شیعه هلک سره نکاح جائزه ده او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په صورت مسئوله کښې که چېرته هلک د شیعه مذهب د هغو عقائدو درلودونکی وي کوم چه له دیني ضروریاتو سره مخالف او تکر وي لکه په حضرت عائشې رضی الله عنها باندې د زنا د تهمت لګول، د سیدنا حضرت ابو بکر صدیق رضی الله عنه له صحابیت او د ده مبارک له خلافت څخه انکار کول، همدارنګه د قرآن پاک په اړه د تحریف د عقیدې درلودل، د حضرت علي رضی الله په الوهیت باندې اقرار کول یا ده له لره نبي آخر الزمان مِنل چه حضرت جبریل علیه السلام د وحی په راوړلو کښې غلط شوی دی او د حضرت علیؓ په ځای ئې وحی په جناب محمد بن عبد الله ﷺ باندې نازله کړې ده او د اسې نور۔ نو دا ټولې خبرې د کفر او ارتداد موجبې دي۔ له دې وجهې که چېرته نومورې خاوند د اسې عقائد ولري نو له شک او شبهې پرته مرتد او کافر دی او د اسلامي شریعت له مخې د خاوند په مُرتد کیدلو باندې نکاح ماتیږي او ښځه که چېرته مدخول بها وي د عدت له تیرولو څخه وروسته له بل سړي سره نکاح کولی شي او د خپل ټول مهر حقدار ده ده او که چېرته غیر مدخول بها وي نو عدت هم پرې واجب نه دی۔ اه د نیمایي مهر به حقدار ده وي۔

لما قال العلامة علاؤ الدين الحصكفي رحمه الله: و ارتد احدهما اى الزوجين فسخ. (الدر المختار على هامش رد المحتار ج۲، ص۶۰۶، باب نكاح الكافر)

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: لا شك فى تكفير من قذف السيدة عائشة رضى الله تعالى عنها او انكر صحبة الصديق رضى الله عنه او اعتقد الالوهية فى على رضى الله عنه او ان جبرئيل عليه السلام غلط فى الوحى او نحو ذلك من الكفر الصريح المخالف للقرآن. (رد المحتار ج٤، ص٢٣٧، باب المرتد، مطلب مهم فى سبّ الشيخين)

قال العلامة ابن البزاز الكردرىؒ: و اكفار الروافض فى قولهم برجعة الاموات الى الدنيا و بنسخ الارواح و انتقال روح الاله الى الائمة و ان الائمة آلهة و فى قولهم بخروج امام ناطق با لحق و انقطاع الامر و النهى الى ان يخرج و بقولهم ان جبرئيل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

علیه السلام غلط فی الوحی الی محمدﷺ دون علی رضی الله عنه و احکام هؤلاء احکام المرتدین و من انکر خلافة ابی بکر رضی الله عنه فهو کافر فی الصحیح و منکر خلافة عمر رضی الله عنه فهو کافر فی الاصح و یجب اکفار الخوارج فی اکفارهم جمیع الامة سواهم و یجب اکفارهم باکفار عثمان و علی و طلحة و الزبیر و عائشه رضی الله عنهم. (الترازة علی هامش الهندیة ج۶، ص۳۱۸، باب احکام المرتد) و مثله فی البحر الرائق ج۵، ص۱۲۲، باب احکام المرتدین.

د ذکـــــري ډلې د کفـــــر حکم

سوال: ذکري ډله کومه چه په ضلع تربت، مکران (بلوچستان) کښې میشت دي او تولې مذهبي طور طریقې نې د اسلامي تعلیماتو په خلاف دي، کلمه نې بیله ده، له لمانځه، روژې، حج او زکات څخه منکر دي، کعبه مبارکه د قبلې په توګه نه مني او د اسې نور. د دې تر څنګ د نوموړې ډلې پیروان خپل ځانونه مسلمانان بولي نو آیا یو ائمې د اسلام د دعوې په کولو سره یو څوک مسلمان پاتې کیدلی شي او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: دا ډله محمد جونپوري یا محمد اتکي خپل رسول مني. لکه څرنګه چه د مسلمانانو د کلمې برعکس له خپله ځانه له جوړې شوې کلمې څخه هغه خپل ځان رسول ښکاروي. د دې ډلې کلمه دا ده چه "لا اله الا الله نور پاک محمد مهدي رسول الله" له دې وجهې نوموړې ډله د ختم نبوت له متفقي او مسلمې عقیدې څخه منکره ده. بله دا چه دا ډله د اسلام له بُنیادي رکنونو لکه لمونځ، روژه، حج، زکات کوم چه په قطعی الثبوت دلائلو سره ثابت دي او په دغو باندې د اسلام بناء کیښودل شوې ده څخه منکره ده. همدا ارنګه له کعبې مبارکې پرته کومې بلې خواته د خپلو مخونو ګرځول هم د کفر موجب دی. له دې وجهې د کوم سړي چه دا عقائد وي هغه هیڅکله مسلمان نه شي پاتې کیدلی. اګر که خپل زړه ته د ډاډ ورکولو لپاره په زړګونو ځله دا ووایي چه "زه مسلمان یم" "زه مسلمان یم". د دې لپاره فقهاوو او متکلمینو لیکلي دي چه د مسلمانیدو شرط دا دی چه د هغو تولو دیني ضروریاتو اقرار او تصدیق وکړي کوم چه جناب نبي کریمﷺ مونږ ته را ښوولي دي، او د دین له هیڅ یوه ضروري عمل څخه انکار و نه کړي. له دې وجهې ذکري ډله د اسلام له دغو بنیادي ضروریاتو د انکار له مخې د اسلام له دائرې څخه وتلې ده.

لما قال العلامة ابن نجیم المصریؒ: و الایمان التصدیق بجمیع ما جاء به النبیﷺ عن الله تبارك و تعالی مما علم مجیئه به ضرورة و هل هو فقط او هو مع الاقرار قولان فاکثر الحنفیة علی الثانی و المحققون علی الاول و الاقرار شرط اجراء احکام الدنیا بعد الاتفاق علی انه یعتقد متی طولب به اتی به فان طولب به لم یقر فهو کفر عناد و الکفر لغةً الستر و شرعا تکذیب محمدٌ فی شیء مما ثبت عنه ادعاه ضرورة. (البحر الرائق ج۵، ص۱۱۹، باب احکام المرتدین)

قال العلامة ملا علی القاریؒ: و کذا مخالفة ما اجمع علیه و انکاره بعد العلم به یعنی من امور الدین. (شرح الفقه الاکبر ص۱۵۲، استحلال المعصیة کفر) و مثله فی رد المحتار ج۴، ص۲۲۳، باب احکام المرتدین.

د بـــــریلوي ډلې یادونـــــه

سوال: جناب مفتي صاحب! د بریلوي ډلې بانې احمد رضا خان وو، هغه د دیوبند د اکابرو علماوو او د اسې نورو علماوو پسې څه غلط الفاظ استعمالي کړي دي چه په قلم او ژبې کښې نې راوستل هم مشکل دي. له دې برسیره هغه د دیوبند د علماوو عباراتو لره په پرې کولو او نیمګړي کولو سره د حرمینو په علماوو باندې نې په هغوی باندې د کفر فتوا ګاني لاس ته راوړي دي چه له مخې نې ډیر ساده مسلمانان له علماء حق څخه متنفر کړل او په هغو کښې نې ګنو بدعتونه او رسمونه رواج کړل. لیکن د دې تولو خبرو تر څنګ علماء حق د دې ډلې بانې او د هغه پیروان کافران و نه بلل. البته کوم غیر الله لره مافوق الاسباب حاجت روا (د حاجت پوره کوونکی) منل او د هغه لپاره د کلي علم غیب او حاضر او ناظر عقیده درلودل خو خامخا د کفر موجب دی.

لما قال الله تعالی لمجیبه: قُلْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوحَىٰ إِلَيَّ أَنَّمَا إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ (سورة الکهف، آیت ۱۱۰)

و قال ایضاً: قُلْ سُبْحَانَ رَبِّي هَلْ كُنتُ إِلَّا بَشَرًا رَّسُولًا. (سورة الاسراء، آیت ۹۳)

لما فی الحدیث: قال النبیﷺ انما انا بشرٌ مثلکم اذا امرتکم بشیء من امر دینکم فخذوه به و اذا امرتکم بشیء من رائی فانما انا بشرٌ. (مسلم بحواله مشکوة ص۲۸، باب الاعتصام با لکتاب و السنة)

قال العلامة ملا علی القاریؒ: فلیس لی اطلاع علی المغیبات انما ذلك شیء قلته بحسب الظن. (مرقاة ج۱، ص۲۲، باب الاعتصام ب الکتاب و السنة)

قال العلامة ملا علی القاریؒ: ثم اعلم ان الانبیاء لم یعلموا المغیبات من الاشیاء الا ما اعلمهم الله تعالی احیاناً و ذکر الحنفیة تصریحاً با لتکفیر باعتقاد ان النبیﷺ یعلم الغیب لمعارضة قوله تعالی: قُلْ لَّا يَعْلَمُ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَ الْأَرْضِ الْغَيْبَ إِلَّا اللَّهُ. (شرح الفقه الاکبر ص۱۵۱، حکم تصدیق الکاهن) و مثله فی الهندیة ج۲، ص۲۶۶، الباب التاسع فی احکام المرتدین و منها ما یتعلق با لانبیاء علیهم الصلوٰة و السلام.

مولانا پنج پیر او د هغه پیروانو ته کافر ویل صحیح نه دي

سوال: مولانا پنج پیر او د هغه پیروانو ته د هغو له عقائدو او نظریاتو سره د اختلاف په بناء سره کافر ویل څنګه دي؟ همدا ارنګه له هغو سره د مسلمانانو غوندې تعلقات جوړول جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د مولانا پنج پیر او د هغه د پیروانو عقیده صحیح او درسته ده او هغوی په اهل السنت و الجماعت کښې داخل دي. اګر که په ځینو مسائلو کښې له شدت (سختی) څخه کار اخلي کوم چه د اعتدال له لارې څخه نې تجاوز کړی دی. د دې سختی او بې ځایه فتوی ورکولو له وجهې حقاني علماوو خلك د هغه په ډلې کښې له داخلیدلو څخه منع کړي دي لیکن هغوی ته مرتد او کافر ویل صحیح نه دي. علماء کرامو د تکفیر په فتوی کښې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

د لوی احتیاط حکم ورکړی دی او د دوی د مسلمان والي له وجهې له دوی سره د مسلماني تعلقاتو جوړول جائز او صحیح دي. هر یوه مسلمان ته پرته له کومې وجهې کافر ویل د تعزیر موجب دی.

لما قال العلامة ملا علی القاری: و قد ذکر ان المسئلة المتعلقة بالکفر اذ کان لها تسعة و تسعون احتمال الکفر و احتمال واحد فی نفسه فا لاولی للمفتی و القاضی ان یعمل بالاحتمال النافی لان الخطاء فی الف کافر اهون من الخطاء فی افناء مسلم واحد الخ. (شرح الفقه الاکبر ص ۱۵۹، تکفیر اهل الکبائر)

قال العلامة عالم بن العلاء الانصاری: یجب ان یعلم انهٗ اذا کان فی المسئلة وجوه توجب الکفر و وجه واحد یمنع التکفیر فعلی المفتی ان یمیل الی الذی یمنع التکفیر تحسیناً للظن بالمسلم. (الفتاوی التاتارخانیة ج۵، ص۴۵۸، فی کتاب احکام المرتدین)

لما قال العلامة المرغینانی: اذا قذف مسلماً بغیر الزنا فقال یا فاسق او یا کافر او یا خبیث فوجب التعزیر. (الهدایة ج۲، ص۲۴۰، کتاب الحدود، فصل فی التعزیر) و مثله فی رد المحتار ج۴، ص۲۲۴، فی باب المرتد.

د مودودي صاحب او د هغه د هم فکرو جدت خوښوونکي نظریات

سوال: جناب مفتي صاحب! د دین ځیني علماء کرام وایي چه مودودي عقائد ګمراه کُن او د اجماع اُمت مخالف دي. مودودي صاحب پخپله ضال او مضل دی. د هغه د کتابونو کتنه له دیني عالم پرته د عوامو لپاره ناجائزه او سخته نقصاني ده. له دي ډلې سره یو ځای والی، ناسته ولاړه او حمایت ناجائزه دی. په دي باره کښې مو له خپلې رائې څخه خبر کړی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د مودودي صاحب په عقائدو او نظریاتو باندې د دیوبند اکابرو علماء کرامو تر کافي اندازې پورې رنا اچولې ده او د هغه تولې یو طرفه نظریې نې یو ځای کړې او د قرآن او حدیثو په رنا کښې نې په وضاحت سره د مسلمه اُمت مخې ته وړاندې کړې دي. دلته په لنډه توګه دا وړاندیز هم کیږي چه د مودودي صاحب تالیفات او د هغه د ډلې ځینو مخورو حضراتو له مضمونونو او خیالونو څخه خو دا څرګندیږي چه مودودي صاحب یو آزاد خیاله انسان دی کوم چه د خپل تحقیق او پلټنې او پخپل ګومان سره د اجتهاد او استنباط په شوق کښې ائمه اربعه خو پریږده ډیر واړي نې د اهل سنت و الجماعت له جمهور او مسلّمه مسلك او حدودو څخه هم تیری کړی دی. د مودودي صاحب د دغو طبع آزمائیو لازمي نتیجه دا راووځي چه له هغه د متاثر شوي کسانو په زړونو کښې هم د سلف صالحینو وقعت (قدر) او د هغو له علمي او فقهي تحقیقاتو او کارنامو څخه اعتماد پورته کیږي. د جمهورو له مسلك او قطعي منصوص مسائلو څخه بې اعتنایي او مخالفت څو مثالونه زمونږ د معلوماتو د ثبوت لپاره کافي دي تر څو چه

﴿۱﴾ له تنقید او نیوکې څخه صحابهٔ کرام نه مستثنی کول او نه هغوی لره د حق معیار ګڼل. (دستور ص۱۴).

په دا سې حال کښې چه د صحابهٔ کرامو عدل له هغو قطعي مسلّماتو څخه دی چه د دین بنیاد پرې ولاړ دی. د کتاب الله او رسول الله ﷺ د سنتو بې شمیره نصوص د هغو په د حق په معیارو الي او د عدل په میزان والي باندې ګویانه او ګواه دي. او په قول دي علامه ابن حجر عسقلاني "چه څوك د صحابهٔ کرامو تنقیص او په هغو باندې تنقید جائز بولي نو هغه په اصل کښې د قرآن او حدیثو ابطال او تنقیص کوي او د اسې سړی زندیق دی. (الاصابه)

او په قول دي شیخ الاسلام حضرت مولانا سید حسین احمد مدني رحمه الله "که چیرته نعوذ بالله د اسلام نومورې لومړني استاذ ان ناقابل اعتماد وګرځي نو د دین تولې آبادي به رنګه شي او د تنقید او جرح د دي دروازې په خلاصیدو سره تول ديني اصول او فروع ناقابل اعتماد ګرځي". (مکتوبات ج۲، ص۲۶۳)

﴿۲﴾ په همدي ډول د انبیاوو علیهم السلام په اړه ذاتي رایه او اجتهاد. (تفهیمات ج۲، ص۴۳) د حضرت موسیٰ علیه السلام په اړه (رسائل او مسائل ۳۱/۱)، د حضرت داود علیه السلام په اړه (تفهیمات ۴۲/۲)، همدارنګه د نورو انبیاء کرامو لکه حضرت ابراهیم علیه السلام په اړه (تفهیم القرآن ۵۵۸/۱)، د حضرت یونس علیه السلام په اړه (تفهیم القرآن ۲/ حاشیه ۳۱۲، ۳۱۳) او د اسې نورو په اړه سپکوونکي الفاظ او د هغو د نبوت په شان کښې له غفلت او بې پروایي څخه په د اسې اندازې باندې په هغو تبصري کړي دي چه له هغو څخه واضحه بې ادبي محسوسیږي. یا د مثال په توګه د شرعي حدودو په اړه د ظلم او بې انصافیو خیال ښکاره کول. (تفهیمات ص۴) یا مثلاً د دجال او د اسې نورو په باره کښې د نبي کریم ﷺ وړاندوینو ته د قیاسونو، ظن او تخمین د درجې په ورکولو سره هغو ته افسانې ویل. یا د حضرت عیسیٰ علیه السلام د آسمان ته د جسماني ختلو له مسلّمې او متفقې عقیدې څخه انکار او په هغې کښې شك او تردد کول. (تفهیم القرآن). او په همدي ډول نور فاسد خیالات کوم چه د قطعي نصوصو سر تر پایه خلاف دي.

له دي برسیره د مودودي په لیکنو کښې د مسلمانانو او ملت بیضاء په مسلماتو لکه رُشد او هدایت، د تصوف په طریق، مجددین او مصلحینو د ځانګړو امتیازاتو او تجدیدي کارنامو پرې توکه او خندا موجوده ده چه له وجهې نې د هغه د روشن خیالو او د خالي ذهنونو لرونکي پیروانو په زړونو کښې د اسلامي ملت د صحیحو لارښوونکو، فقهاوو، ائمه کرامو، مشائخ عظامو او د هغو د دعوت او عزیمت د طریقې او د دین د تجدید مساعي او کوششونو قدر او قیمت له منځه ځي. او د عزت او احترام جذبات نې بالکل ورکیږي. او همدغو خلکو ته د تجدید او اجتهاد د دعوت او امامت لپاره له هرې خوا پوره او جامع القضات شخصیت یواځې او یواځې مودودي صاحب په نظر ورځي. د دي ډول تحریراتو نمونه د هغه د "تجدید او احیاء دین" نومي کتاب کښې موجوده ده چه د هغه په ۴۸، ۴۸، ۷۴ مخونو کښې په امام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

غزالي، امام ابن تيميه، مجدد الف ثاني، شاه ولي الله محدث د هلوي، شاه اسمٰعيل شهيد رحمهم الله باندې ژوري نيوکي شوي دي.

له دې برسيره په راتلونکو فقهي مسائلو کښې ئې د نادرو اجتهاد اتو له مخې په مسلمانانو کښې د تشويش او انتشار د پيدا کولو لپاره خپل ټول قوتونه په کار اچولي دي. د دې يو ځو مثالونه پخپله د ده د ليکنو په رنا کښې وګورئ.

﴿۱﴾ په اضطراري حالت کښې د مُتعې د جواز فرضي صورت.

﴿۲﴾ له مسنوني پيري څخه انکار او د لطيفو حيلو څخه د هغې د اندازې او عظمت د ختمولو کوشش. (ترجمان القرآن)

﴿۳﴾ په خلع او عدت کښې ئې ذاتي رايه. (حقوق الزوجين)

﴿۴﴾ له اود اسه پرته د تلاوت د سجدې کول. (تفهيم القرآن ۱۱۶/۲، سورت الاعراف)

﴿۵﴾ د روژه لرونکي لپاره د سهار له را ختو وروسته د خوراک او څښاک جواز. (تفهيم القرآن ج۱، ص۱۴۵، سورت البقره)

چه د دغو قولونو لپاره د کوم شاذ او نادر تابعي په قول پوري د منګولي په لګولو سره د جمهورو علماوو مسلک تري پاتې کيږي.

لنډه دا چه د دين، اهل دين او ديني مسائلو په اړه بې ادبۍ او بې احتياطي او پخپلو مذعومه نظرياتو او رايو باندې غرور د دوی د آراوو او تحقيقاتو قدر مشترک دی او همد ارنګه مودودي صاحب د خپل جدت پسند طبيعت، د نوي او زاړه امتزاج څخه ئې د يوه نوي مسلک او دين د بنياد جوړولو په کوشش کښې دی چه لازمي نتيجه ئې له ملت بيضاء (ما انا عليه و اصحابي) په بيليدو سره د دين په باره کښې يوه د لسې سړي لره معتمد عليه ګڼل چه په هغه کښې د اجتهاد، امامت، تحقيق او استنباط شرائط او لوازم په هيڅ حال کښې هم موجود نه دي او کوم چه د خپل تحقيق په غرور کښې له اجماعي شيانو څخه د سترګو پټول کوي. تر دې پورې چه که چېرته مصلحت او ضرورت ئې وښولي نو د دين په مسلّمه عقائدو او اصولو پورې د حکمتِ عملي تر نامه لاندې ترميم او تبديلي کولی شي.

مذکوره الصدر ځينې هغه اشارات دي چه په هغو باندې د ديوبند اکابرو علماوو د تحقيق او تفصيل له مخې د هغه په تفرد اتو، غلط او ګمراه کوونکو نظرياتو باندې رنا اچولې ده او بيل بيل مضمونونه او رسالې ئې ليکلي دي. په دې باره کښې له خپل تحقيق څخه زيات زمونږ اعتماد په حضرت مولانا سيد حسين احمد مدني، حضرت مولانا احمد علي لاهوري، حضرت مولانا اعزاز علي رحمهم الله او د پاک او هند په نورو علماء کرامو او د فتوی په خاوند انو باندې دی کوم چه په پوره اخلاص او لِلّهيت او ديني جذبې او د مسلمانانو د خير خواهۍ او باطني بصيرت په رنا کښې مودودي صاحب لره په مجموعي حيثيت يو ګمراه او د هغه ډلې لره يو

ګمراه کوونکي ډله بولي. د دغو حضراتو اتباع او تقليد او بيا د خپلې ذاتي رايې په بنا باندې مونږ هم مودودي صاحب لره د مسلمانانو په حق کښې نه خوښوونکی، مُضر او د هغه له نظرياتو او رايو څخه ځان سائل ضروري بولي. د مودودي د نظرياتو او عقائدو تردید د اهل السنت و الجماعت له معتبرو کتابونو څخه هم څرګند ښيي.

همد ارنګه په قرآن پاک کښې د حضراتو صحابۂ کرامو رضوان الله تعالی عليهم اجمعين تعريف شوی دی او په قرآن کريم کښې چه د کومو نعمتونو ذکر شوی دی د هغو لومړني مصداق حضرات صحابۂ کرام رضی الله عنهم دي. دغو حضراتو لره مونږ اهل السنت و الجماعت معصوم نه ګڼو ليکن له ټول امت څخه ئې بهترين او افضل ترين خلک ګڼو. صحابۂ کرامؓو لره د نيوکې او تردید هدف جوړول د آخري درجې ګمراهي او ضلالت دی. او دا د اهل السنت و الجماعت عقيده ده چه صحابۂ کرامو رضی الله عنهم د دين په خپرونې کښې بالکل عدول دي او هيڅ ډول کمو الی، زياتوالی يا غفلت او ذاتي شيان ئې پکښې شامل کړي نه دي او له مِن او عن سره ئې ټول دين له حضرت محمد رسول اللهﷺ څخه تر امته پورې را رسولی دی. همد ارنګه انبياء عليهم السلام هم معصوم دي له نبوت څخه مخکښې هم او له نبوت څخه وروسته هم. دا هم د ټول اهل السنت و الجماعت اجماعي عقيده ده.

قال الله تبارك و تعالى: وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ هَاجَرُوْا وَ جٰهَدُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَ الَّذِيْنَ اٰوَوْا وَّ نَصَرُوْٓا اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ حَقًّا لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّ رِزْقٌ كَرِيْمٌ ☆ (سورة الانفال، آيت ۷۴)

لما ورد في الحديث: قال النبيﷺ لا تسبّوا اصحابي فلو ان احدكم انفق مثل احد ذهباً ما بلغ مُدّ احدهم و لا نصيفه. متفق عليه. (مشكوٰة ص۵۵۴، في باب مناقب الصحابة، في فصل الاوّل)

و قال العلامة ملا علي القاريؒ: الصحابة كلهم عدول مطلقاً لظواهر الكتاب و السنة و اجماع من يعتمد عليه. (مرقاة المفاتيح ج۱۰، ص۲۵۵)

و قال العلامة ملا علي القاريؒ و امام ابو حنيفةؒ: و الانبياء كلهم منزهون عن الصغائر و الكبائر و الكفر و القبائح و قد كانت منهم زلات و خطيئات. (شرح الفقه الاكبر ص۸۹)

لـــــه قاديانيانو سره د مسلمانانو غوندې راشه درشه قائمول جائز نه دي

سوال: زمونږ په کلي کښې يو څو قاديانيان اوسيږي نو په کومو شيانو کښې مونږ مسلمانان بايد له هغو سره تعلق وساتو او په کومو امورو کښې تري ځان بيل کړو؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د قاديانيانو تولې دعوې دروغ او په لغوياتو باندې مبتني دي. د اُمت د اجماع له مخې دا خلک کافر او مُرتد دي. له دې وجهې له هغو سره د مسلمانانو غوندې تعلقات (مناکحت، مواکلت، مشاربت او د لسې نور) جوړول ناجائز او حرام دي.

لما قال الله تعالى: وَ لَا تَرْكَنُوْٓا اِلَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ. (سورة هود، آيت ۱۱۳)

قال الامام ابو عبد الله محمد بن احمدؒ: تحت قوله تعالى اِلَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا قيل اهل الشرك و قيل عامة فيهم و في

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

﴿۱﴾ په ریښتیا هم د مشرقي په "تذکره" کښې د اسې مضمونونه شته چه نه یواځې دا چه د اسلام د منصوصي احکامو صریح خلاف دي بلکه د قرآن کریم په مضمونونو کښې ئې هم صریح تحریف کړی دی۔ دا هغه د شرعي خلاف مضامین دي چه له وجهې ئې د ټول علماء اسلام په حلقې کښې علامه مشرقي د دین، مذهب او ملت لپاره ډیر خطرناک سړی بلل شوی دی او رباني علماوو هیڅکله هم هغه ته په ښه سترګه نه دي کتلي۔

﴿۲﴾ مونږ ته د مشرقي دا حالت معلوم نه دی۔ د دې خبرې علم یواځې الله تعالی لرې او یا پخپله مشرقي ته به معلومه وي۔ (چه هغه له خپلو کفري عقائدو او نظریاتو څخه توبه ایستلې وه او که نه؟)

﴿۳﴾ د دې وجه باید له هغو خلکو څخه وپوښتل شي کوم چه علامه مشرقي په ښه او نیک سړیتوب باندې پیژني او د هغه په جنازې کښې شریك شوي دي، یا له هغو خلکو څخه پوښتنه وشي چه د هغه د جنازې لمونځ ئې ادا کړی وي۔ له مونږ څخه د دغو خبرو پوښتنه مناسبه نه ده۔

﴿٤﴾ مونږ د اسې خلکو ته کافر نه شو ویلی څکه چه د هغو عقائد مونږ ته په یقیني توګه معلوم نه دي۔ همدارنګه دا هم ممکنه ده چه د هغه په عبارتونو کښې د تاویل ګنجائش وي۔ البته فاسق به خامخا ورته وایو څکه چه د فسق د کارونو موجبات د هغه په عقائدو او نظریاتو کښې خامخا پیدا کیږي۔

﴿٥﴾ چه کله مونږ پخپله په علامه مشرقي باندې د کفر فتوی نه شو لګولی نو کومو خلکو چه د هغه د جنازې لمونځ ادا کړی وي په هغو باندې هم هیڅ حکم نه شو لګولی۔

﴿٦﴾ زمونږ د امام اعظم رحمه الله په نزد مکروه دی په د اسې حال کښې چه نور امامان ئې له کراهیت پرته د جواز قائل دي۔

فقط و الله اعلم

د مودودي صاحب د عقائدو په باره کښې د یوې پوښتنې ځواب

سوال: دلته ځینو علماوو لاندینی مضمون خپور کړی دی چه:

"دا یو مسلّم امر دی چه مودودي عقائد ګمراه کوونکي دي، له قرآن او حدیثو څخه مخالف دي، له څلورو امامانو څخه مخالف دي، مودودي ضال او مضل دی۔ د مودودي عقیدې لرونکي امام پسې لمونځ حرام دی، له هغو سره راشه درشه حرامه ده، د هغو د کتابونو کتنه پرته له دیني عالم څخه د عوامو لپاره حرامه ده، د دې ډلې حمایت حرام دی، آیا دار الافتاء د مودودي د عقائدو او د هغه د کتابونو په اړه کوم معلومات نه لري؟ آیا تاسو له دې فتوی سره متفق نه یی؟ که چیرته په ریښتیا هم مودودي ګمراه کُن وي نو د کرم او مهربانۍ له مخې زمونږ لارښوونه وکړی، که چیرته نه وي نو بیا مو هم لارښوونه وکړی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب نحمده و نصلّي علی رسول الکریم: اما بعد: دا وخت د مودودي

العصاة..... و هذا هو الصحیح فی معنی الآیة و انها دالة علی هجران اهل الکفر و المعاصی من اهل البدع و غیرهم فان صحبتهم کفر او معصیة اذ الصحبة لا تکون الا عن مودة. (و قد قال حکیم) عن المرء لا تسال و سل عن قرینه. فکل قرین بالقارن یقتدی. (احکام القرآن ج۹، ص۱۰۸، سورة الهود)

د عـــــلامه عنایت الله مشرقي په باره کښې د یوې پوښتنې ځواب

سوال: څه فرمایي علماء کرام د علامه مشرقي په باره کښې چه:

﴿۱﴾ دی څنګه سړی وو؟ څکه چه مونږ اوریدلي دي چه علامه مشرقي د اسلام دښمن او د قرآن او حدیثو په خلاف ئې سخت مذهب درلود۔ لکه څرنګه چه په تاریخ د ۲۰ جولایي ۱۹۳۹ء / ۱ اول د جمادي الثاني ۱۳۵۸ هجري کښې علامه ابو الحسنات قادري دلاهور وزیر خان د جومات خطیب د علامه مشرقي په اړه یوه فتوی جاري کړې وه چه په هغې کښې پرې د کفر فتوی لګولې وه۔ او نومورې علامه ابو الحسنات پخپلې رسالې "اسلام او خاکساري مذهب" کښې لیکلي دي چه علامه مشرقي پخپلې تذکرې او اشاراتو کښې لیکلي دي چه په مشرقي عقیده کښې پنځه وخته لمونځ فرض نه دی او په مشرقي عقیدې کښې له حضرت آدم علیه السلام څخه واخله تر ننه پورې نه کوم ریښتونی مذهب شته او نه د خدای وجود د کوم دلیل له مخې ثابت شوی دی۔ د مشرقي عقیدې مطابق په مصلّی ګانو باندې کښیناستل او د اولیاء کرامو غوندې د الله الله نارې وهل کوم عبادت نه دی بلکه ریاکاري، مکاري، شرک او کفر دي۔ آیا دا کفري مضامین د علامه مشرقي په "تذکرهٔ اشاراتو" کښې لیکل شوي دي او که نه؟

﴿۲﴾ که چیرته لیکلي وي نو آیا علامه مشرقي له خپلو لیکنو او کفري مضامینو څخه وروسته تائب شوی دی او که د کفر په حالت کښې ئې له دنیا څخه سترګې پټې کړې دي؟

﴿۳﴾ که چیرته علامه مشرقي په "تذکره" کښې له لیکل شویو خرافاتو او کفریاتو څخه تائب شوی نه وي نو بیا څه وجه ده چه ډیر خلك علامه مشرقي په ښه اونیك نامه باندې پیژني او لوی لوی علماء کرام ئې په جنازه کښې شریك شوي دي او د جنازې لمونځ ئې د لاهور په بادشاهي جومات کښې ادا شوی دی؟

﴿٤﴾ کوم خلك چه علامه مشرقي په ښه سړیتوب باندې پیژني او د خاکساري مذهب تابع وي نو د شریعت له مخې د اسې سړی کافر دی او که فاسق؟

﴿٥﴾ چه کومو خلکو د علامه مشرقي جنازه کړې ده د هغو په اړه د شریعت څه حکم دی؟

﴿٦﴾ په جومات کښې د جنازې د لمانځه ادا کول شرعا جائز دي او که نه؟ او د مجبورۍ په حالت کښې هم آیا د جنازې لمونځ په جومات کښې روا دی او که نه؟ او د امام مالك، امام احمد حنبل او امام شافعي په نزد په جومات کښې د جنازې د لمانځه ادا کول څرنګه دي؟

الجواب باسم ملهم الصواب: ستاسو د سوالونو ځوابونه د الله تعالی په توفیق سره د ترتیب مطابق درو راندې کیږي۔

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

صاحب په باره کښې د څه لیکلو فرصت نه لرو لیکن څومره معلومات چه له خپلې مطالعې او بیا له خپلو اکثرو علماء کرامو په ځانګړې توګه سیدي و سندي شیخي او مرشدي مولانا سید حسین احمد مدني قدس الله سره العزیز له تحقیق څخه او د مودودي صاحب د ځینو کورنۍ حضراتو له مضمونونو او خیالاتو څخه را ته حاصل شوي دي نو هغه دا دي چه مودودي صاحب یو آزاد خیاله انسان دی چه د خپل تحقیق او پلټنې او پخپل ګومان سره د اجتهاد او استنباط په شوق کښې ائمهٔ اربعه خو پریږده ډیر واړي ټي د اهل سنت و الجماعت جمهور او مسلّمه مسلك او حدودو څخه هم د باندې ووځي۔ د مودودي د دغو طبع آزمائیو لازمي نتیجه دا ده چه له هغه څخه متاثر شوي کسانو له زړونو څخه هم د سلفو قدر او د سلف صالحینو له علمي او فقهي تحقیقاتو او کارنامو څخه د هغوی اعتماد پورته کیږي۔ د جمهورو له مسلك او قطعي او منصوصي مسائلو څخه د بې اعتنایي او مخالفت څو مثالونه زمونږ د دغو معلوماتو د ثبوت او تائید لپاره کافي دي۔

﴿۱﴾ له نیوکو څخه صحابهٔ کرام رضی الله عنهم هم نه مستثنیٰ کول او نه هغوی د حق معیار ګڼل۔ (دستور ص۱۴) په داسي حال کښې چه د صحابهٔ کرامو عدول والی له هغو قطعي مسلّماتو څخه دی چه په هغو باندې د دین بنیاد ولاړ دی۔ د کتاب الله او سنتو بې شمیره نصوص د هغو د حق په معیار والي او میزان عدل والي باندې ناطق او ګواه دي۔ او د حافظ ابن حجر العسقلاني په قول کوم سړی چه په صحابهٔ کرامو باندې نیوکې او تنقیص جائز وبولي هغه د قرآن او سنتو د اهل ابطال او تنقیص کوي او داسي سړی زندیق دی۔ (الاصابه)۔ او په قول د شیخ الاسلام حضرت الاستاذ مولانا مدني: که چیرته معاذ الله د اسلام دا لومړني استاذان غیر قابل اعتماد شي نو د دین ټول عمارت به بالکل رنګ شي او د (نیوکو او جرم) د دې دروازې له خلاصیدلو څخه ټول دیني اصول او فروع سره ګډوډیږي۔ (مکتوبات ج۲، ص۲۶۳)

﴿۲﴾ همدارنګه د انبیاوو د عصمت د مسئلې په باره کښې د هغه ذاتي رایه او نادر اجتهاد۔ (تفهیمات ج۲، ص۴۳) بیا حضرت موسیٰ علیه السلام (رسائل او مسائل حصه اول، ص۳۱)، حضرت داود علیه السلام۔ (تفهیمات ج۲، ص۴۲)، حضرت ابراهیم علیه السلام (تفهیم القرآن ج۱، ص۵۵۸)، حضرت یونس علیه السلام (تفهیم القرآن ج۲، حاشیه ۳۱۳/۳۱۲) او داسي نورو په باره کښې ګستاخانه خبرې او د هغو د نبوت په شان کښې د غفلت او بې پروایي له مخې په داسي ډول په هغو باندې تبصري کړي دي چه د بې ادبي شان تري له ورایه څرګندیږي۔

﴿۳﴾ د شرعي حدودو د قیام په باره کښې د ظلم او بې انصافي خیال بنکاره کول۔ (تفهیمات ص)

﴿۴﴾ د دجال او داسي نورو په باره کښې د جناب نبي کریم ﷺ وړاندې وینو لره قیاسات، ګومانونه او تخمین په ګڼلو سره هغو ته اقساني او داسي نور ویل۔

﴿۵﴾ د حضرت مسیح علیه السلام آسمان ته د جسماني خیژولو له مسلّمي او متفقي عقیدې څخه انکار او تردد۔ (تفهیم القرآن) او په دې ډول نوري فاسدې لیکنې چه د قطعي منصوصاتو سر اسر خلاف دي۔ همدارنګه د مودودي صاحب په لیکنو کښې د مسلمانانو او ملت بیضاء د مسلّمه اقدارو لکه رشد او هدایت او د تصوف د طریق مجددین او مصلحینو په خصوصي امتیاز اتو او تجدیدي کارنامو باندې د توکي او مسخري او د هغوی د حقیر ګټلو ارخ موجود دی چه له وجهې ټي د هغه د روشن خیالو او د خالي ذهن لرونکو پیروانو په زړونو کښې د ملت د صحیحو لارښوونکو، فقهاء عظام، مشائخ کرام او د هغو د دعوت او عزیمت د لارې او د هغو د دین د تجدید مساعي او کوششونو قدر او قیمت له منځه ځي۔ او د احترام او عزت ورکولو جذبات ټي بالکل ورکیږي۔ او همدغو خلکو ته د تجدید او اجتهاد د دعوت او امامت لپاره له هرې خوا پوره او جامع القضات شخصیت یواځې او یواځې مودودي صاحب په نظر ورځي۔ د دې ډول تحریراتو نمونه د هغه د "تجدید او احیاء دین" نومي کتاب کښې موجوده ده چه د هغه په ۴۸، ۴۸، ۷۴ مخونو کښې په امام غزالي، امام ابن تیمیه، مجدد الف ثاني، شاه ولي الله محدث د هلوي، شاه اسمٰعیل شهید رحمهم الله باندې ژوري نیوکې شوي دي۔

له دې برسیره په راتلونکو فقهي مسائلو کښې ټي د نادرو اجتهاداتو له مخې په مسلمانانو کښې د تشویش او انتشار د پیدا کولو لپاره خپل ټول قوتونه په کار اچولي دي۔ د دې یو څو مثالونه پخپله د ده د لیکنو په رنا کښې وګورئ۔

﴿۱﴾ په اضطراري حالت کښې د مُتعې د جواز فرضي صورت۔

﴿۲﴾ له مسنوني ډیرې څخه انکار او د لطیفو حیلو څخه د هغې د اندازې او عظمت د ختمولو کوشش۔ (ترجمان القرآن)

﴿۳﴾ په خلع او عدت کښې ټي ذاتي رایه۔ (حقوق الزوجین)

﴿۴﴾ له اود اسه پرته د تلاوت د سجدې کول۔ (تفهیم القرآن ۱۱۶/۲، سورت الاعراف)

﴿۵﴾ د روژه لرونکي لپاره د سهار له را ختو وروسته د خوراك او څښاك جواز۔ (تفهیم القرآن ج۱، ص۱۴۵، سورت البقره)

چه د دغو قولونو لپاره ټي د کوم شاذ او نادر تابعي په قول پورې د منګولې په لګولو سره د جمهورو علماوو مسلك پریښی دی۔

لنډه دا چه د دین، اهل دین او دیني مسائلو په اړه بې ادبي او بې احتیاطي او پخپلو مدعومه نظریاتو او رایو باندې غرور د دوی د آراوو او تحقیقاتو قدر مشترك دی او همدارنګه مودودي صاحب د خپل جدت پسند طبیعت، د نوي او زاړه امتزاج څخه ټي د یوه نوي مسلك او دین د بنیاد جوړولو په کوشش کښې دی چه لازمي نتیجه ټي له ملت بیضاء (ما انا علیه و اصحابی) په بیلیدو سره د دین په باره کښې یوه داسي سړي لره معتمد علیه ګڼل چه په هغه کښې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

د اجتهاد، امامت، تحقیق او استنباط شرائط او لوازم په هیڅ حال کښې هم موجود نه دي او کوم چه د خپل تحقیق په غرور کښې له اجماعي شیانو څخه سترګې پټوي. تر دې پورې چه کله چې برته مصلحت او ضرورت ئې وښولي نو د دین په مسلّمه عقائدو او اصولو پورې د حکمت عملي تر نامه لاندې ترمیم او تبدیلي کولی شي.

مذکورة الصدر ځینې هغه اشارات دي چه په هغو باندې د دیوبند اکابرو علماوو د تحقیق او تفصیل له مخې د هغه په تفرد اتو، غلط او ګمراه کوونکو نظریاتو باندې رنا اچولې ده او بیل بیل مضمونونه او رسالې ئې لیکلې دي. په دې باره کښې له خپل تحقیق څخه زیات زمونږ اعتماد په حضرت مولانا سید حسین احمد مدني، حضرت مولانا احمد علي لاهوري، حضرت مولانا اعزاز علي رحمهم الله او د پاک او هند په نورو علماء کرامو او د فتوی په خاوند اتو باندې دی کوم چه په پوره اخلاص او لله‌یت او دیني جذبې او د مسلمانانو د خیر خواهۍ او باطني بصیرت په رنا کښې مودودي صاحب په مجموعي حیثیت یو ګمراه او ډله ئې بوه ګمراه کوونکي ډله بللې ده۔ د دغو حضراتو اتباع او تقلید او بیا د ځپلې ذاتي رأیې په بنا باندې مونږ هم مودودي صاحب له د مسلمانانو په حق کښې نه خوښوونکی، مُضر او د هغه له نظریاتو او رأیو څخه ځان ساتل ضروري بولو۔ و الله اعلم و علمه اتم و احکم و بیده الباطن و الارابعة ان اردنا الا الاصلاح ما استطعنا و ما التوفیق الا بالله العلی العظیم.

د یهودو ذکـــــــر په قرآنکریم کښې

له حضرت العلامه مولانا عبد الحلیم زروبويّ سابق صدر المدرسین جامعه د ار العلوم حقانیه څخه په کال ۱۹۶۷ء کښې د عربو او اسرائیلو په جنګ کښې عربو د یوه موټي اسرائیلو په مقابله کښې له ماتې سره مخامخ شول۔ نو له دې وجهې په ځینو ذ هنونو کښې د شك پیدا کیدل یوه فطري او طبعي خبره وه چه یهود کوم چه د هغو په باره کښې الله تعالی فرمایلي دي چه: "ضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ وَ الْمَسْكَنَةُ"

او همد ارنګه په ځینو نورو ځایونو کښې کتاب الله هغوی په ملعونیت او مغضوبیت باندې د تصدیق مهر لګولی دی نو هغوی ته په تولو عربو باندې فتح څرنګه حاصله شوه؟ په لاندینی مقالې کښې حضرت العلامه مولانا عبد الحلیم زروبويّ د دې شك ځواب د قرآن کریم په رنا کښې ورکړی دی چه له وجهې ئې له دې برسیره د نورو شکوکو ازاله هم کیږي. د جامعه د ار العلوم حقانیې مؤقره جریده "الحق" میاشتنی دي ماغزه لرونکي مضمون لره خپور کړ. د کتاب العقائد باب الفرق سره د مناسبت په بناء سره د عامې افادې لپاره په فتاوی حقانیه کښې هم شامل کړی شو۔ (مرتب)

د منځنۍ ختیځ په مسلمانانو باندې د یهودو له خوا څخه چه کوم عظیم مصیبت راغلی دی له دې څخه غیر مسلمو قومونو ته په مسلمانانو باندې د توکې او مسخرې د کولو موقع په لاس ورغلې ده۔ او د پیغور ورکولو سامان ئې ور برابر کړی دی چه د ګوتو په شمار یهودیانو دیارلس سوه لکه مسلمانانو ته ماته ورکړه۔ په دا سې حال کښې چه دا قوم د دنیا په مخکښې په ځانګړې توګه د مسلمانانو په نزد ذلیل ترین قوم دی۔ نه خو مسلمانانو لره دې عظیمې ډیروالي له ماتې څخه وساتل او نه ئې غیبي امداد ور په برخه شو کوم چه مسلمانان په عمومي ډول دعوه کوي چه د خدای نصرت د تل لپاره زمونږ په برخه وي۔ همد ارنګه له دې څخه په ځینو ذ هنونو کښې وسوسې پیدا شوي دي چه د یهودو حکومت او غلبه او عزت د قرآني نصوصو په خلاف دی لکه د دې آیت چه: ضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ وَ الْمَسْكَنَةُ وَ بَآءُوْا بِغَضَبٍ عَلٰى غَضَبٍ. (البقرة) وَ ضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ اَيْنَمَا ثُقِفُوْٓا اِلَّا بِحَبْلٍ مِّنَ اللّٰهِ وَ حَبْلٍ مِّنَ النَّاسِ. (آل عمران) وَ اِذْ تَاَذَّنَ رَبُّكَ لَيَبْعَثَنَّ عَلَيْهِمْ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ مَنْ يَّسُوْمُهُمْ سُوْٓءَ الْعَذَابِ. (الاعراف)

نو د یهودو ننني عزت او حکومت بلکه په مسلمانو باندې ئې تسلط څنګه راغی او د خداوندي نصرت وعده (وَ كَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِيْنَ) ولې د مسلمانانو شامل حال نه شو؟ دا تولې شبهې اکثره د تدبر د کم والي او بد فهمي په نتیجه کښې پیدا کیږي۔ دلته د دې په اړه لنډ وړاندیز کوو چه له مسلمانانو سره د غیبي امداد وعده په ایمان، اطاعت، عهد او وفاداري باندې په کلك دریدو او د دین د خپروني لپاره د کوششونو په کولو پورې مشروطه ده ---- وَ الَّذِيْنَ جَاهَدُوْا فِيْنَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا وَ اِنَّ اللّٰهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِيْنَ، وَ لَيَنْصُرَنَّ اللّٰهُ مَنْ يَّنْصُرُهٗ، وَ اَنْتُمُ الْاَعْلَوْنَ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ، وَ كَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِيْنَ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

پورتنۍ آیتونه او په دې دوو نور پې شمیره نصوص آیتونه او حدیثونه د خداوندي نصرت او امداد په بنیادي شرائطو باندې په څرګنده توګه دلالت کوي۔ بیا د دې ترڅنګ له سرکشۍ او له اطاعت څخه د مخ اړولو او په عامو بد عملیو (فسق او فجور) د ککړیدو، د اسلام د شعائرو د بې حرمتۍ په صورت کښې د عذاب او تباهۍ د مستحق کیدو وعیدونه هم راغلي دي لکه:

وَاتَّقُوْا فِتْنَةً لَّا تُصِيْبَنَّ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مِنْكُمْ خَاصَّةً.

"او ووېرېږئ له هغې فتنې څخه چه په تاسو کښې یوا ځي په ظالمانو باندې نه راځي"

وَمَا كَانَ رَبُّكَ لِيُهْلِكَ الْقُرٰى وَاَهْلُهَا مُصْلِحُوْنَ.

"ستاد پروردګار شان نه دی چه کلي تباه کړي په داسې حال کښې چه په هغو کښې اوسیدونکي نیکان وي"۔

اِنَّ اللّٰهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتّٰى يُغَيِّرُوْا مَا بِاَنْفُسِهِمْ.

"الله تعالی د هیڅ یوه قوم حالت نه بدلوي تر څو چه هغوی پخپله خپل حالت بدل نه کړي"۔

وَاِذَا اَرَدْنَا اَنْ نُّهْلِكَ قَرْيَةً اَمَرْنَا مُتْرَفِيْهَا فَفَسَقُوْا فِيْهَا فَحَقَّ عَلَيْهَا الْقَوْلُ فَدَمَّرْنٰهَا تَدْمِيْرًا.

"او چه کله اراده وکړو مونږ د دې چه هلاک کړو کوم کلی (ښار) نو امر وکړو مونږ غنیانو (متمولانو) د هغه (ښار) ته (په طاعت د الله سره) نو فسق وکړي دوی په هغه کښې نو حق (او ثابت) شي پر (ذمه د اوسیدونکي د) هغه خبره (د عذاب) نو هلاکوو مونږ په هلاکولو سختو سره (سره له ګډوډولو د کلي او ښارونو د دوی)"۔

د ننني زمانې مسلمانو په انفرادي او اجتماعي توګه د خپل عهد او پیمان په ماتولو سره د عامې سرکشۍ او بې عملۍ ارتکاب شروع کړی دی۔ هیڅ د اسې عیب نشته چه په دوی کښې نه پیدا کیږي۔ په دنیا کښې د مسلمانانو یو حکومت د اسې نشته چه په هغه کښې د اسلام احکام په پوره ډول نافذ او جاري وي۔ په اکثرو باندې مغربیت او د هریت مسلط دی۔ د اسلام له مدني سیاست تدبیر منزل، تهذیب، اخلاق، معاملات، عبادات، معاشرات او ایمانیاتو څخه عامه بې خبري بلکه د اسلام د ژوند اصولو ته "ملائیت" او د رجعت پسندي په ویلو سره په سپک نظر کتل کیږي۔ نو د خدای له نصرت څخه په محرومیدو سره الٰهي وعیدونو ته د حال په ژبې سره دعوت ورکول کیږي۔ لکه څرنګه چه اوس ئې په نتیجه کښې د خپل کړدار عواقب برداشتوي۔ او رسول اللهﷺ چه کومې پیش ګویی کړي دي تکي په تکي ریښتیا او واقع کیږي لکه څرنګه چه فرمایلي ئې دي:

﴿۱﴾ یوشك ان تداعی علیکم الامم کما تداعی الآکلة علی القصعة فقال قائل و من قلة نحن یومئذ قال انتم یومئذ کثیر و لکنکم غثاء کغثاء السیل و لینزعن الله من صدور عدوکم المهابة و لیقذفن فی قلوبکم الوهن قال قائل یا رسول اللهﷺ ما الوهن قال حب الدنیا و کراهیة الموت. (مشکوة)

"نژدې ده چه ډیر قومونه ستاسو د خوړلو او ختمولو لپاره یوه او بل ته د اسې دعوت ورکوي چه

لکه څرنګه چه د خوړو په یوې کاسې کښې د کیښودل شوي خوړو لپاره خلك یو بل سره راټولیږي۔ چا ورته وویل چه مونږ په دې وخت کښې کم یو؟ و ئې فرمایل چه نه! تاسو به دا وخت دومره زیات وی لیکن په دې وخت کښې به ستاسو حالت د اسې وي لکه د سیلاب د سر څګ۔ الله تعالی د دښمنانو له زړو څخه ستاسې هیبت او رعب یاسې او ستاسو په زړونو کښې به ضعف پیدا کوي۔ یعنې له دنیا سره محبت او د مرګ بد ګڼل"۔ (د اُمم د لفظ په عموم کښې یهود هم شامل دي)

﴿۲﴾ عن ابی سعیدؓ قال رسول اللهﷺ لتتبعن سنن من قبلکم شبراً بشبر ذراعا بذراع حتی لو دخلوا حجر ضب لتبعتموهم قیل یا رسول الله الیهود و النصاری قال فمن؟ (مشکوة)

"تاسو به خامخا د مخکښینیو امتونو په طور او طریقې باندې لویشت په لویشت او ګز په ګز (یعنې بالکل یو شی او سره برابر) تګ کوی تر دې پورې که دوی د سوسمار سوري ته داخل شوي وي نو تاسو به هم د هغو اتباع کوی"۔

﴿۳﴾ عن المرداس قال رسول اللهﷺ یذهب الصالحون الاول فالاول و تبقی حفالة کحفالة الشعیر لا یبالیهم الله بالةً. (مشکوة)

بنه خلك به په یو بل پسې ختم شي او د اسې خلك به پاتې شي چه د هغوی به هیڅ حیثیت نه وي او د اسې بې قدره به وي لکه د اوربشو وابنه۔ الله تعالی به د هغو هیڅ پروا نه کوي یعنې چه څه ډول مصیبت پرې راشي د هغوی به هیڅ امداد نه کوي او نه به ئې فریاد اوریدل کیږي"۔

د قرون مشهود لها بالخیر څخه وروسته د مسلمانانو د هرې دورې تاریخ او د دوی د انفرادي او اجتماعي ژوند انه د حالاتو د مطالعې په کولو سره او د وعد او وعید له دغو آیتونو او حدیثونو سره پرتله کړی شي نو دا شبهه هیڅکله نه شي پیدا کیدلی چه له مسلمه امت سره په وعد او مواعید کښې کوم فرق راغلی دی، یا ورته د بې ګناهۍ سزا ورکړل شوي ده۔ وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلٰكِنْ كَانُوْا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ☆ د الله تعالی شان دا نه دی چه په هغوی باندې ظلم وکړي لیکن دوی پخپله پخپلو ځانونو باندې ظلم کوي۔ د یهودو په موجوده دور کښې عارضي حکومت او د یو څه وخت لپاره لوړوالی کوم چه د قرآني نصوصو په خلاف ګڼل کیږي نو د دې غلط فهمی د لرې کولو لپاره څو وړاندیزونه ضروري دي کوم چه په لاندې ډول دي:

﴿۱﴾ د اسبابو په عالم کښې د محدثاتو په څنګ والی او د حوادثو تعاقب یوا ځي د بخت او اتفاق په بناء باندې نه دي بلکه د کائناتو خالق د هغو په منځ کښې له یوه او بل سره د ارتباط او تعلق په پیدا کولو سره ځینې اسباب او ځینې مسببات ګرځولي دي۔ د اسبابو له مهیا او موجودیدو څخه وروسته د الله تعالی د عادت مطابق مسببات پرې مرتب کیږي او بیا په وجود کښې راځي۔

﴿۲﴾ د اسبابو له تحقق څخه وروسته د مسبباتو ترتیب لزوماً وي، تخلف نه پکښې راځي مګر شاذ او نادر چه هغه ته بیا خرق عادت یا د الهي عادت خلاف ویل کیږي۔ لکه د لمر له را ختو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

څخه وروسته ورځ خامخا منځ ته راځي او د اسې نه کیږي چه لمر وخیژي نو شپه راځي. د مهلك په اندازې سره د زهرو په خوړلو سره مرګ راځي که حکیم خوړلی وي او که کوم بل څوك، د اوبو له چښلو او د خوراك له کولو څخه وروسته تنده او لوږه له منځه ځي. دا ښکاره او بدیهي خبرې دي.

﴿۳﴾ د قومونو د عروج او زوال (لوړتیا او ځوړتیا) او آزادي او غلامي هم ډیر اسباب وي. لکه د نورو حوادثو غوندې دا اسباب په دوه ډوله دي. (۱)سماوي یعني غیبي امداد. (۲)مادي یعني عادي اسباب. د لومړني سبب په اړه مخکښې وراندیز وشو چه هغه په ایمان او طاعت پورې مشروط دی. البته د مجازاتو د قانون مطابق کافران په نورو کافرانو یا مسلمانانو باندې مسلط کوي. لکه څرنګه چه الله تعالی فرمایلي دي: وَيُذِيقَ بَعْضَهُمْ بَأْسَ بَعْضٍ (او مونږ ځکه ځینو ته د ځینو سختي او جنګ) لکه څرنګه چه په یهودو باندې جالوت، بخت نصر، طیطوس رومي او هتلـــــر او د اسې نور مسلط کړی شوی دی. او په مسلمانانو باندې د جرم د سزا په صورت کښې یا د خبرداری او عبرت حاصلولو لپاره په مختلفو زمانو کښې نصارٰی یا تاتاریان او د اسې نور مسلط شوي دي.

﴿٤﴾ مادي اسباب د عروج او ازادۍ عادي اسباب چه کله کوم قوم په پوره ډول مهیا کړي (لکه اتفاق، مواسات، قرباني، په راعي او رعایا کښې تعاون او امداد، طاعت او اعتماد، مدافعت او د تسلط مطابق په هرې زمانې کښې د هر ډول اسلحې تیاري، جفا کشي، ایثار او د مدني او ملکي سیاست لپاره چه مصطفوي شریعت په تفصیل سره کوم شیان بیان کړي دي) نو حکومت او غلبه پرې حاصلیږي. کفر به د دې لپاره مانع وي. نن صبا چه امریکایانو او روسانو ته چه کوم لوړوالی تر لاسه شوی دی هغه د همدغو مادي اسبابو په بناء دي نه دا چه هغوی د کلمې ویونکي دي.

﴿٥﴾ کوم قوم ته آزاد یا غلام، حاکم یا محکوم ویل چه فلانی قوم آزاد یا حکمـــــران دی د قوم له حیثیته د اکـــــثریت او د افرادو د مجموعي په اعتبار سره ورته ویل کیږي. که چیرته د کوم قوم له میلیونونو خلکو څخه سلو زرو یا لکونو ته په کوم کُنج کښې حاکمیت او آزادي په لاس ورشي نو په دې صورت کښې من حیث القوم نوموړي قوم ته آزاد یا حکمران او باعزته نه شي ویل کیدلی.

﴿٦﴾ همدارنګه که چیرته په زرګونو کلونو کښې کوم قوم ته په عارضي توګه د څو کلونو لپاره حکومت په لاس ورشي نو د څو ورځو عارضي حکومت لکه هیڅ بلل کیږي د مجموعي یا زماني د اکثریت په اعتبار سره هغو ته ذلیل او غلام ویل کیږي. لکه څرنګه چه له احادیثو څخه په صراحت سره ثابت دي چه دجال یهودي ته پرته له حرمینو شریفینو څخه په ټولې دنیا باندې حکومت په لاس ورځي. له دې سره سره هغوی د ضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ مصداق دي.

﴿۷﴾ که چیرته کوم قوم په دیني آزادي او حکمراني غلبې کښې مستقل وي او د کوم بل قوم تر لاس لاندې نه وي نو د اسې قوم خو اته به د اقتدار او حکومت نسبت په حقیقت کښې صحیح وي. او که چیرته د کوم بل قوم لپاره د لاس آله وي او د هغو ټول طاقت او قوت د بل قوم د اغراضو او سیاسي مقصدونو د پوره کولو لپاره وي نو د اسې قوم خو اته د حکومت او تسلیط نسبت به په حقیقت کښې صحیح نه وي. بلکه حاکمیت او تسلط به د دې بل قوم لپاره وي د کوم قوم چه دوی د لاس آله او غلام دي.

له دې تمهید او ورانديز څخه وروسته په ننني زماني کښې د د غو ســـامـــــراجي کارخانو یعني د یهودو حکومت او غلبه او د دوی په وجود کښې د راتلو په عواملو او مبادیو باید غور وشي تر څو چه له حقیقت څخه په ښه توګه پرده پورته شي او د هیڅ ډول شبهې ګنجائش پاتې نه شي. اګر که مخکښینې ورانديزونه هم د شبهې د رفع کیدو لپاره اجمالاً کافي دي.

کال ۱۹٤۰ء په جنګِ عظیم (نړیوال جنګ) کښې په د غو مغضوب علیهم باندې د قدرت له خوا څخه هتلر د غضب د یوې مجسمې تازیانې په شکل کښې مسلط شو نو هغه په فتحه شوي ملکونو کښې فرمان جاري کړ چه کوم یهودي ته د خپل ځان ساتل غوره وي نو له د غو ملکونو څخه دې په اته ځلوېښتو ساعتونو کښې ووځي او که نه وي نو بیا به نې د ځان خیر نه وي. د جرمني له سقوط څخه مخکښې چه څومره یهودیان ووتل هغوی د خپلو ځانونو په ساتلو کښې کامیاب شول او چه کوم نه شوای وتلی نو هغوی ټول بندیان شول او بیا ژوندي وسوځول شول او درباب ته وغورځول شول او اکثر قتل کړای شول. دا کیسه له چا څخه پته نه ده چه کوم پاتې شول هغوی ډیر په مختلفو ملکونو کښې خپاره شوي وو. استعمارپانو دوی د خپلو سیاسي مقصدونو لپاره د لاس د آلې په جوړولو سره د عربو په زړه یعني فلسطین کښې ځای په ځای کړل. او فلسطینیان نې له خپل ملك څخه و ایســـتل. عربو ملکونو د خپلو کمزورېو او بې اتفاقیو په بناء سره ورته کتل او هیڅ نې نه شوای کولی. په ابتداء کښې ډیر په کمې اندازې کښې راغلي وو او ورځ ورځ نې په تعداد کښې ډیر والی راغی. او استعمارپانو د شلو کلونو په موده کښې د هغو د طاقتور جوړېدو او سیاسي غلبې د لاس ته راوړو لپاره بیا امداد ونه وکړل. د مدافعت او جارحیت لپاره هغوی په هر ډول اسلحې باندې مسلح کړای شول. یهودیانو په نژدې وخت کښې ډیر ظلمونه او مصیبتونه ګاللي وو. د موقع په غنیمت ګنلو سره نې له دې څخه استفاده وکړه او له یو بل سره د اتفاق، مواسات، قرباني، جفا کشي، د مال له ضائع کولو څخه تېښته لنډه دا چه د معاشرې د څرنګوالي د اصلاح او کامیابي لپاره چه کوم اخلاقي او مادي کارنامې په کار وي د هغو په لاس ته راوړلو کښې نې هر ډول قرباني ته تیار شول. اوس د اسبابو او مسبباتو د ربط د قانون له مخې هغو ته د حکومت او طاقت لاس ته راتلل د عدد مطابق وو او عرب حریفان نې چه د بې اتفاقي، عیاشي، عامې بې عملۍ او له خدایي احکامو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

څخه د بغاوت او سرکشۍ ښکار شوي وو۔ د هغو غالب راتلل غیر متوقع نه وو۔ او عجیبه نه وه چه قدرت هغو ته د ذلیل ترینو یهودیانو په لاس د مجازاتو د قانون مطابق عربو ته په ځانګړې توګه او مسلمانانو ته په عمومي توګه خبرداري او د عبرت تازیانه وي۔ بلکه ښکاره دا ده چه "وَ مَا كَانَ رَبُّكَ لِيُهْلِكَ الْقُرٰى وَ اَهْلُهَا مُصْلِحُوْنَ☆ (ستا د پروردګار شان دا نه دی چه هغه کلي هلاک کړي چه د هغو اوسیدونکي نیکان وي)۔ نن امریکا او له هغه سره د هم غاړي طاقتونو څخه پرته ټوله دنیا وایي چه دا یهود د استعمارپانو پالل شوي خلك دي۔ او هغو دوی لره د خپلو سیاسي غرضونو لپاره په عربو مسلط کړي دي۔ او که دوی ورسره نه وای نو د هغو هیڅ طاقت هم نشته۔ له دې روښانه حقیقت څخه وروسته هیڅ یو عاقل سړی دا حکومت او طاقت د هغو خوا ته نه شي منسوبولی۔ بلکه دا ټول حکومت او طاقت د استعمارپانو دی، یهودیان ئې غلامان دي او د خپل د غلامۍ حق پوره کوي۔ د یهودو موجوده حکومت ته په کتو سره د لاندینی آیت د سر تر پایه ریښتونولي باندې د غور له کولو څخه څرګنديږي چه دا د دې خبرې تصدیق دی نه خلاف دا خو پریږده چه په دې خبرې باندې شك او شبهه وشي۔ ضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ اَيْنَمَا ثُقِفُوْۤا اِلَّا بِحَبْلٍ مِّنَ اللّٰهِ وَ حَبْلٍ مِّنَ النَّاسِ (الآیة)

"مقرر کړی شو په دوی باندې ذلت (خوارۍ په سبب د کفران د نعمت) په هر ځای کښې چه وموندلی شي دوی (هیڅ وخت به دوی ته عزت نه وي) مګر (چه منګولي ولګوي) په رسۍ د الله او په رسۍ د خلکو (پناه د مسلمانانو)"۔

د قرآنکریم ریښتونولي غیر متزلزل دی په دې کښې د هیڅ شك او شبهې ځای نشته، زمونږ د پوهې کمزورتیا ده۔

لَا يَاْتِيْهِ الْبَاطِلُ مِنْۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَ لَا مِنْ خَلْفِهٖ تَنْزِيْلٌ مِّنْ حَكِيْمٍ حَمِيْدٍ☆ نه ئې مخ ته او نه شا ته باطل او دروغ راتلی شي، د حکیم او حمید (د حکمت خاوند او ستایل شوي) له خوا څخه نازل کړی شوی۔ په دې دوو آیتونه د سورت آل عمران څخه مخکښې د یهودو په یادونې کښې په سورت بقره کښې هم وارد شوي دي۔

وَ ضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ وَ الْمَسْكَنَةُ وَ بَآءُوْ بِغَضَبٍ مِّنَ اللّٰهِ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَانُوْا يَكْفُرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَ يَقْتُلُوْنَ النَّبِيّٖنَ بِغَيْرِ الْحَقِّ ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا وَّ كَانُوْا يَعْتَدُوْنَ☆

"او مقرر کړی شو په دوی باندې ذلت او پستي او د خدای د غضب مستحق ورګرځیدل له دې وجهې چه دا خلك له الٰهي احکامو څخه منکر کیدل او پیغمبران ئې په ناحقه قتلول او دا له دې وجهې چه دغو خلکو اطاعت و نه کړ او د عقل او شرعي له دائرې څخه ووتل"۔

﴿۱﴾ دلته د اینما ثُقِفُوا قید او استثناء نشته لیکن "اَلْقُرْآنُ يُفَسِّرُ بَعْضُهٗ بَعْضًا" په بناء باندې دوارو دلته هم مراد دي۔ د آل عمران آیت اګر که د اهل کتابو په یادونه کښې راغلی دی لیکن مراد ترې خاص یهود دي د مخکښینې دلیل له مخې۔

﴿۲﴾ ذلت د عزت او قوت خلاف ته ویل کیږي چه په هغه کښې د ځان او مال نه معصوم والی او د محکومیت او غلامي شامل والی پکښې راځي، مسکنت د ضعف، فقر او تیتوالي په معنی سره راځي او "اَلاَّ بِحبل" څخه له عموم احوال څخه۔ یعني فی عامة الاحوال الا معتصمین بحبل من الله و متلبسین بذمته۔ (بیضاوی)

﴿۳﴾ حبل په ګنو معناوو کښې استعمالیږي۔ (۱) کتاب الله په حدیث کښې راځي چه کتاب الله حبلا ممدوداً من السماء الی الارض بحبل الله، ای کتابه۔ حبل په معنی د عهد او میثاق، حبل په معنی دي ذمي او امان، حبل په معنی د دین او سبب هم راځي (مجمع البحار) دلته له حبل الله څخه هره معنی اخیستل کیدلی شي او له حبل مّن الناس څخه یو اځي ذمه، امان، عهد او پیمان مراد دي۔ یعني ضُرِبَت علیهم الذلّة اَینَما ثُقِفُوا فی عامة الاحوال الا معتصمین او متلبسین بکتاب الله و دینه و ذمته و عهده او بعهده او بعهد و ذمة و امان من الناس۔

"وتپل شو په دوی باندې ذلت چه چېرته وموندلی شي دوی مګر که اعتصام بکتاب الله یا بدین الله وکړي۔ د هغه په ذمي، امان او عهد کښې د اخلیږي۔ (چه د دې حاصل په اسلام کښې د اخلیدل دي) یا د خلکو په ذمي، امان او عهد کښې د اخل شي"۔

یعني له مسلمانو سره مصالحت وکړي یا جزیه قبوله کړي او ذمیان شي۔ یا د کوم بل قوم په ذمي، عهد او امان کښې د اخل شي لکه نصارٰی او د اسې نور۔ دلته د ناس لفظ عام دی۔ نصارا وو ته هم شامل دی۔ ځکه چه له دې آیت څخه چه: وَ جَاعِلُ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْكَ فَوْقَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْۤا اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ۔ (آل عمران) کښې له عیسٰی علیه السلام سره د دې خبرې وعده ده چه ستا پیروانو ته به تر قیامته پورې په یهودو باندې لوړوالی حاصل وي۔ او له اتباع څخه مراد له هغه سره د نبوت اعتقاد دی۔ او په دې کښې مسلمانان او نصارٰی دواړه شامل دي۔ او واقعات هم د دې ګواه دي چه یهود د تل لپاره د مسلمانانو یا د نصارا وو محکوم راغلي دي۔ او په دې وخت کښې دا حال دی چه په ټولې دنیا کښې یهود د نورو قومونو د اثر او حکومت لاندې دي۔ قرآنکریم چه د دې ذلت او پستي کوم علتونه بیان کړي دي هغه دا دي: د انبیاوو علیهم السلام قتل، د شرعي او عقل له حدودو څخه تیری، نافرماني، له آیتونو څخه انکار، د طبعي د ادنی والي له وجهې د نعمتونو ناشکري او د ډیر ښه شي په ډیر بد شي باندې بدلول، د انبیاوو په مشري کښې له جهاد څخه انکار او د اسې نور۔ د قبائحو او بدیو لازمي اثر ذلت او سپکوالی دی، البته کله کله یو طبعي خسیس او شریر له مکافاتو او مجازاتو څخه چه تنګ شي نو په عارضي توګه او د څه وخت لپاره په نیغه لار روان شي لکه یهود چه د عمالقې له پرله پسې قتل او چور او چپاول څخه تنګ شول له خپل نبي څخه ئې غوښتنه وکړه۔ تر څو چه د هغه په مشري کښې جهاد وکړي ښایي چه کامیاب شي او څه نا څه د آرام او اطمینان ساه واخلي۔ اِذْ قَالُوْا لِنَبِيٍّ لَّهُمُ ابْعَثْ لَنَا مَلِكًا نُّقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ لیکن د طالوت بادشاه په تاکنې باندې هم له شرارت څخه منع نه شول او بیا هم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

ډیر خلك له قتال څخه د انکار کولو په صورت کښې کښیناستل۔ لنډه دا چه د یهودو موجوده غلبه د بحبل مّن الناس مصداق ده۔ په دې ډول په سطحي ډ هنونو کښې دا آیت چه وَ اِذْ تَاَذَّنَ رَبُّكَ لَيَبْعَثَنَّ عَلَيْهِمْ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ مَنْ يَّسُوْمُهُمْ سُوْٓءَ الْعَذَابِ

ژباړه: او هغه وخت در یاد کړه چه کله ستارب تاته خبر درکړ چه خامخا به لیږم په یهودو باندې د قیامت تر ورځې پورې د اسې سړی چه دوی ته لوی عذاب ورکړي۔

څخه شبهه پیدا کیږي چه په دې آیت کښې د یهودو تر قیامته پورې د مقهوریت او محکومیت اعلان شوی دی په داسې حال کښې چه په موجوده وخت کښې دوی قاهر او حاکم دي۔ د دې شبهې د رفع کولو لپاره تیر شوی پنځم وړاندیز کافي دی۔ لیکن د نور وضاحت لپاره د آیت تفسیر مناسب دی چه وشي۔ دا آیت د سورت اعراف آیت دی۔ کوم چه د یهودو په یادونه کښې راغلی دی۔ له دې څخه په پورتني آیتونو کښې د یهودو د قبائحو او شرارتونو بیان دی۔ مخکښې په دې آیت کښې د هغو د قبائحو له دنیا څخه پرته په آخرت کښې د بد انجام یادونه شوې ده۔ یعني د الله تعالی له طرفه پوځ اعلان شوی دی چه که چېرته یهود د تورات په احکامو باندې عمل پریږدي نو الله تعالی تر قیامته پورې وخت په وخت په دوی باندې د اسې خلك مسلطوي چه دوی په بدو عذابونو کښې مبتلا کوي۔ له بد عذاب څخه دلته محکومانه ژوند، د ځان او مال نه معصوم والی، جزیه ورکول او د اسې نور مراد دي۔ لکه څرنګه چه د یهودو قوم له سلیمان علیه السلام څخه وروسته کله د یونانیانو او کله د کلد انې بادشاهانو تر حکومت لاندې راغلي دي۔ کله د بخت نصر او رومیانو د سختیو د مشق تخته ګرځیدلي دي۔ په آخر کښې د نبي کریم ﷺ تر مبارکې زمانې پورې د مجوسیان (آتش پرستانو) قلنګ ورکوونکي پاتې شوي دي۔ بیا مسلمان بادشاهان پرې مسلط شوي دي۔ غرض دا چه له هغه وخت څخه تر اوسه پورې هغو ته من حیث القوم د عزت او آزادي ژوند نه دی ورپه برخه شوی۔ بلکه چه چېرته اوسیدلي دي اکثره د ملکانو او بادشاهانو له خوا څخه ډې سخت ذلت او خطرناك تکلیفونه برداشت کړي دي۔ د هغو مال او دولت او د اسې نورو شیانو هغو ته د غلامۍ او محکومیت له دې لعنت څخه خلاصون ور نه کړای شو۔ اوس د منځني ختیځ په جنګ کښې چه کله یهودو په بیت المقدس قبضه وکړه نو د هغو وزیر په نامه د "ایشکول" مسجد اقصی ته ور ننوت او د جومات مخې ته ډې د تقریر په دوران کښې پخپله اعتراف وکړ او وئې ویل چه له دریو زرو کلونو وروسته مونږ ته بیت المقدس ته د اخلیدل را په برخه شول۔ په دې اوږدې مودې کښې زمونږ قوم ډیر سخت تکلیفونه برداشت کړي دي او ډیر در په در شول۔ په سورت ابراهیم کښې د بني اسرائیلو په تذکره کښې الله تعالی د موسی علیه السلام وینا د هغه قوم ته نقل کړی دی کوم چه د پورتني آیت د مضمون خوا ته اشاره کوي او موسی علیه السلام خپل قوم ته وفرمایل چه "وَ اِذْ تَاَذَّنَ رَبُّكُمْ لَئِنْ شَكَرْتُمْ لَاَزِيْدَنَّكُمْ" هغه وخت در یاد کړی چه

کله ستاسو رب اعلان وکړ چه که چېرته احسان او نېګړه منی نو نعمتونه نور در زیاتوم۔ "وَ لَئِنْ كَفَرْتُمْ اِنَّ عَذَابِيْ لَشَدِيْدٌ" او که چېرته ناشکري وکړی نو زما عذاب ډیر سخت دی، یعني موجوده نعمتونه له تاسو څخه اخلم۔ او د ناشکري به نوره سزا هم در په برخه شي۔ د الله تعالی نافرماني د هغه د روحاني او جسماني نعمتونو بې قدري او د نازل شویو احکامو نافرماني ده۔

نو له دې آیت او له پورتني تیر شوي آیت له سیاق څخه څرګندیږي چه د محکومیت او غلامي سزا د هغو د نافرمانیو او ناشکریو بدله ده۔ او قیامت ته د نژدې وخت قید ئې د دې لپاره ورسره لګولی دی چه له صحیحو روایتونو څخه ثابت دي چه په آخره زمانه کښې یهودي دجال به یو خو ورځې حکومت وکړي لیکن دا خو ورځنی حکومت به د اوږدې مودې د غلامۍ په نسبت سره به لکه هیڅ بلل شوی دی د الی یوم القیامه لفظ استعمال شوی دی۔ همدارنګه د دې اوږدې مودې په منځ کښې هم د اسې معمولي غوندې وقفه راغلي ده۔ ثُمَّ رَدَدْنَا لَكُمُ الْكَرَّةَ عَلَيْهِمْ وَ اَمْدَدْنٰكُمْ بِاَمْوَالٍ وَّ بَنِيْنَ وَ جَعَلْنٰكُمْ اَكْثَرَ نَفِيْرًا

"او بیا وګرځولې مونږ (در مو کړه) تاسو ته غلبه په دوی باندې او مرسته مو وکړه ستاسو په مالونو او اولادونو سره او تاسو مو ډیر وګرځولی له جهته د نفر (لښکر)"۔

د بابل والي بخت نصر په یهودو باندې مسلط شو او ټول ئې تباه او قتل کړل۔ تقریبا د سل کلن بهمن ولد اسفندیار په یهودو باندې زړه سوای وکړ او قیدیان ئې ور آزاد کړل او د انیال ئې پاچا ورته وتاکه۔ او خو ورځې آزادي ور په برخه شوه لیکن له کمې مودې وروسته د رومیانو په لاس بیا له تباهي سره مخامخ شول او آزادي ئې له منځه لاړه۔ نو د دغې لړې وقفې آزادي نسبت دري زره کلونو بلکه له دې څخه هم د غلامۍ د اوږدې زمانې خوا ته هیڅ هم نه دی۔ دې ته استغراق او استیعاب عرفي ویل کیږي۔ په ویناګانو او محاورو کښې دا استیعاب او استغراق مکمل دی۔ د دې مثالونه په حدیث "لا تزال طائفة من امتی ظاهرین علی الحق حتی یاتی امر الله" یعني قیامت به تر هغو نه راځي تر خو چه په دنیا کښې د الله الله ویونکي پاتې وي۔ لیکن دا زمانه چونکه د حق د ظهور د زمانې په نسبت ډیره کمه ده د دې لپاره دا لکه هیڅ وګڼل شوه او حتی یاتی امر الله یعني تر قیامته پورې الفاظ وویل شو۔۔ له دې وجهې د یهودو د ازادۍ دا معمولي وقفه د پورتني آیت په عموم باندې کوم اثر نه شي اچولی۔

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

د قومي اسمبلي (ولسي جرګې) تاريخي فيصله
خبرې اترې او په آئين (قانون) کښې د ترميم بل

ليکنه: مولانا سميع الحق د الحق د مياشتنی رسالې مدير

"الحق" د خپل نهم منزل په ختميدو يعنې ستمبر باندې د قادياني مسئلې د آئيني حل په شکل کښې د تولې دنيا د مسلمانانو تر څنګ د فتحې او خوشحالۍ او وصال حق ته د نژدې والې له يوه د لسې نعمت څخه سرشار شو چه د شکر ادا کول ئې د هيڅ يوه ناتوان مخلوق د وس خبره نه ده. او نه د دې نعمت خوند او خوښي له منځه تللی شي. انشاء الله العزيز په دې لاړي کښې د "الحق" ناچيزه کوششونه هم ضائع نه لاړل. د لسم کال په شروع کښې د دې نعمت د شکريې په توګه مونږ د آقائ نامدار رحمه للعلمين او خاتم النبيين ﷺ په مقدس دربار کښې د ختم نبوت د تاج او تخت او د ختم المرسلين د ناموس د آئيني تحفظ (ساتنې) په جشن کښې د عقيدت يوه حقيره او ناچيزه نذرانه وړاندې کړې. او هغه په قادياني مسئلې کښې د ملک او ملت د علم او فضل د مشاهيرو او زعماوو د جذباتو او تاثراتو ښکلې ګلدسته ده. په دې هيلې باندې چه څومره عجبه به وي چه د عقيدت د ګلونو وړاندې کوونکي او د هغو د مرتبينو "ادارة الحق" او تولو لوستونکو لپاره د قيامت په ورځ د محشر د شافع د شفاعت او خوښي ذريعه جوړه شي. او دا بضاعة مزجاة د پروردګار عالم په دربار کښې د نجات د فرمان ذريعه وګرځي چه يواځې همدا هيله د لاړې تونبه او د آخرت سرمايه ده. په هر حال د "الحق" دا څانګړې برخه د ختم المرسلين ﷺ په بارګاه کښې له دې هيلې او التجاء سره وړاندې کوو چه "و جئنا ببضاعة مزجاة فاوف لنا الكيل و تصدق علينا ان الله يجب المتصدقين".

د عقيدت د خراج په دې له برکته ډکې هديې کښې پرته له کوم بخل او مشرب او مسلک له لحاظه پرته د ماڼ او ملت او د علم او فضل سره تعلق لرونکي د فکر د مکاتبو مختلفو زعماوو، علماوو، ليکوالانو او د فکر خاوندانو ته د خپل خيال د بنکارولو دعوت ورکړ. نه مو د اقتدار او اختلاف د ډلو تر منځ فرق وکړ او نه پخپلو او پردو کښې چه هر يو د کائناتو د رحمت ﷺ د کريمانه رحمت هيله من دی او تقريباً تولو د ختم نبوت په مسئلې کښې تر خپله وسه پورې برخه واخيسته. مونږ ډير خوښ يو او د زړه له کومې څخه د دغو تولو حضراتو شکر ګذار يو چا چه له ډول ډول مصروفياتو او عوارضو تر څنګ مونږ په خپلو احساساتو او وړاندیزونو باندې وناڅولو.

د قادياني اقليت په آئيني فيصلې باندې يواځې د خوښۍ جذبات نه دي بلکه اندېښنې هم شته، د ذمه وارۍ احساس ئې هم راکړ او خطرې هم په نښه کړای شوې. او په دې ارخ باندې

هم ګنو حضراتو سير حاصل رنا اچولې ده چه له آئيني فتحې څخه وروسته مونږ له خپلو ذمه وارۍ څخه خلاصيدلی نه شو بلکه د دې مسئلې نورې غوښتنې هم زياتې شوې کوم چه په فوري توګه د حل غوښتونکي دي. په دې ضمن کښې د حکومت ذمه واری، د مسلمانانو او په ځانګړې توګه د علماوو د مجلس عمل د غور او فکر لپاره دومره مسائل په ګوته شول چه په هغو باندې د نور څه زياتوالي څخه پرته د غور او فکر په کولو سره هغو ته د عملي شکل د ورکولو لپاره د عمل کومه لاره وړاندې کړې او که نه وي نو خدا مکړه دلسې و نه شي چه له دې بنکاره فتحې څخه تر لاسه شوې لوړ شان لرونکي نتيجې زمونږ د غفلتونو له وجهې له ماتې څخه په زيات خطرناک شکل بدل نه شي. (سميع الحق ستمبر ۱۹۷۴ء/ ۱۳۹۴ هجري)

☆ رسول اکرم ﷺ لره د خاتم النبيين په توګه نه منونکی يا د نبوت د دعوې کوونکی يا د نبوت مدعي لره نبي يا مصلح منونکی مسلمان نه دی.

☆ د قاديانيانو دواړه ډلې (لاهوري او قادياني) به په راتلونکي انتخابي فهرستونو يا رجسټريشن فارم کښې غير مسلم ليکل کيږي.

☆ هيڅوک د ختم نبوت د عقيدې په خلاف پرچار نه شي کولی. که چا خلاف ورزي وکړه نو د تعزير قابل جرم به وي.

۷ ستمبر ۱۹۷۴ء زمونږ د تاريخ ډيره خليدونکي او تاريخي ورځ وه چه کله د اسلامي جمهوري پاکستان د پارليمان دواړو دفترونو په دې ورځ په جلا جلا اجلاسونو کښې په آئين کښې د ترميم يو تاريخي بل د رأيې په اتفاق سره منظور کړ چه د هغه لاندې په پاکستان کښې د قاديانيانانو دواړه ګروپونه (لاهوري او قادياني) غير مسلم اقليتونه وګڼل شول. د آئين دفعات ۱۰۶ او ۲۶۰ کښې د ترميم په کولو سره دا وتاکل شو چه د لسې کوم سړی چه د جناب محمد رسول الله په آخري نبي والې باندې ايمان و نه لري يا خپل ځان په هر يوه صورت کښې نبي يا مصلح وبولي يا همد لسې يوه کاذب لره په نبوت ومنې نو هغه به مسلمان نه وي. همد ارنګه دا هم وتاکل شو چه د قادياني او لاهوري احمدي ډلې ټول غړي په قانوني توګه په پاکستان کښې د اوسيدونکو نورو کافرانو غوندې ګڼل کيږي. او د عيسايانو، هندوانو، سکانو، بودايانو، پارسيانو او شيډول کاسټس غوندې د هغو لپاره به هم په اسمبليو کښې نوري چوکۍ په نښه کيږي.

په آئين کښې دا ترميم د قومي اسمبلي په ټول دفتر باندې د مشتملې کميټۍ سفارشاتو اړه د قبلولو په صورت کښې وشو. د اسفارشات د قومي اسمبلي يوې څانګړې کميټې د يوې متفقې لوظنامې په صورت کښې منظور کړ. د دې لوظنامې لاندې د امت مسلمه د ختم نبوت نظريې ته چه کوم آئيني تحفظ ورکړی شوی دی د هغه خلاف ورزي کوونکي ته سزا هم ورکول کيږي. د قانون جوړونې په ذريعې سره د پاکستان د تعزيراتو ۲۹۵ ماده له الف څخه وروسته ۲۹۵ ب د مادې زياتوالی به کيږي کوم چه د هغې لاندې د جناب حضرت محمد ﷺ د آخري

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

نبي والي د عقيدې په خلاف هر ډول خوځښت به د تعزير وړ جرم وي. د سفارشاتو لاندې په راتلونکي انتخابي فهرستونو کښې به قاديانيان هم د غير مسلمو په ډله کښې ليکل کيږي.

د پاکستان د آئين په اړوندو مادو کښې د ترميم شکل

قومي اسمبلي چه قاديانيانو لره د غير مسلم اقليت د ګڼلو کومه فيصله کړې ده د هغې په رڼا کښې د پاکستان آئين د اړوندو مادو له ترميم څخه وروسته به دا صورت وي.

آرټيکل ۲۶۰: کوم سړی چه له خاتم الانبياء حضرت محمد مصطفیٰ ﷺ څخه وروسته په هر صورت او شکل کښې د نبوت دعوی کوي يا د نبوت په کوم مدعي يا مذهبي مصلح باندې ايمان راوړي هغه د قانون او آئين له مخې مسلمان نه دی.

آرټيکل ۱۰۶ کلاز ۳: د آرټيکل ۱۰۶ په کلاز ۳ کښې د مذکورو طبقو تر لفظ وروسته د قادياني يا لاهوري ډلې خلک کوم چه ځانونه "احمدي" بولي د جُملې زياتوالی شوی دی.

له زياتوالي وروسته به د کلاز ۳ صورت دا وي: په صوبايي اسمبليو بلوچستان، پنجاب، شمال مغربي سرحدي صوبه او سند هر په کلاز کښې له ورکړ شويو چوکيو برسيره په دغو اسمبليو کښې د عيسايانو، هندوانو، سکانو، بودايانو، پارسيانو، قاديانيانو يا شيډول کلستس لپاره به زياتې شوې چوکۍ وي.

په آئين کښې د دوهم ترميم د بل متن: دا مصلحت ته ډيره نژدې ده چه وروسته د اغراضو د ليکلو لپاره د اسلامي جمهوريه پاکستان په آئين کښې نور ترميم وشي. لهذا د دې په ذريعې سره لاندې قانون وضع کيږي.

لنډ عنوان او د نفاذ (جاري کيدنې) پيل: (۱) دا ايکټ آئين (دوهم ترميم) ايکټ ۱۹۷۴ء ويل کيږي.

(۲) دا به په چټکۍ سره نافذ العمل وي.

د آئين په ۱۰۶ مادې کښې ترميم: د اسلامي جمهوريه پاکستان آئين کوم يوه ته چه پس له دې آئين ويل کيږي د ۱۰۶ مادې په ۳ شق کښې د "اشخاص" تر لفظ وروسته الفاظ او دوه قوسه او قادياني ډله يا د لاهوري ډلې اشخاص (کوم چه ځانونو ته احمدي وايي) ليکل کيږي.

د آئين په ۲۶۰ مادې کښې ترميم: د آئين په ۲۶۰ ماده کښې تر ۲ شق وروسته لاندينی نوی شق ليکل کيږي.

(۳) کوم سړی چه حضرت محمد ﷺ کوم چه آخري نبي دی په خاتم النبيين والي باندې قطعي او غير مشروط توګه ايمان نه لري يا کوم سړی چه تر حضرت محمد ﷺ وروسته په هر ډول مفهوم کښې يا د هر ډول نبوت دعوی کوي يا کوم سړی چه د داسې مُدعي يا ديني مُصلح لره مني هغه د آئين يا قانون د اغراضو لپاره مسلمان نه دی.

بيان او اغراض: لکه څرنګه چه د ټول ايوان د ځانګړې کميټي د سفارش مطابق په قومي اسمبلي کښې طی شو چه د دې بل مقصد د اسلامي جمهوريه پاکستان په آئين کښې دا ډول ترميمول دي تر څو چه هر هغه څوک چه د حضرت محمد ﷺ په خاتم النبيين والي باندې قطعي او غير مشروط توګه ايمان نه لري يا کوم سړی چه تر نبي کريم ﷺ څخه وروسته د نبوت دعوی کوي يا

کوم سړی چه داسې مُدعي لره نبي يا ديني مصلح مني هغه دي غير مسلم وګڼل شي. (عبد الحفيظ پيرزاده وزير انچارج)

د تاريخي لوظنامې متن: د قومي اسمبلي په ټول ايوان باندې مشتمل ځانګړې کميټي په متفقه توګه چه کومه لوظنامه طی کړې ده او د کومې لوظنامې سفارشات چه قومي اسمبلي منظوري کړې ده هغه دا دي.

﴿۱﴾ د قومي اسمبلي په ټول ايوان باندې مشتمل ځانګړې کميټي په متفقه توګه طی کوي چه لاندينې سفارشات قومي اسمبلي ته د غور او منظوري لپاره وليږي.

﴿۲﴾ په ټول ايوان باندې مشتملې ځانګړې کميټي د خپلې لارښوونکي کميټي او لاندينې کميټي په مدد سره د هغه په وړاندې يا د قومي اسمبلي له خوا څخه هغه ته په ورليږل شويو لوظنامو باندې د غور له کولو او وړانديزونو له کتنو او ګواهانو او د انجمن احمديه ربوه او انجمن احمديه اشاعت اسلام لاهورد مشرانو په شمول په شهادتونو او جرح باندې د غور له کولو څخه وروسته په متفقه توګه باندې قومي اسمبلي ته لاندينې سفارشات وړاندې کوي:

﴿الف﴾ دا چه د پاکستان په آئين کښې لاندينی ترميم وشي.

لومړی: په ۱۰۶ (۳) مادې کښې دې د قادياني او لاهوري ډلې خلک (کوم چه ځانونه احمدي بولي) يادونه وشي.

دوهم: په ۱۰۶ ماده کښې د يوه نوي شق په ذريعې سره دې د غير مسلم تعريف وليکل شي.

د پورتنيو سفارشاتو د نفاذ (جاري کيدنې) لپاره د ځانګړې کميټي له خوا څخه په متفقه توګه منظوره شوې د قانون مسوده منسلکه (لګيدلې) ده

﴿ب﴾ دا چه د پاکستان د تعزيراتو مجموعه د ۲۹۵ مادې په الف کښې دې لاندينی تشريح وليکل شي.

تشريح: کوم مسلمان چه د ۲۶۰ مادې ۳ شق د تشريحاتو مطابق د جناب حضرت محمد ﷺ د خاتم النبيين والي د تصور په خلاف عقيده ولري يا عمل او يا تبليغ وکړي هغه به د همدې مادې لاندې د سزا مستوجب وي.

﴿ج﴾ دا چه د اړوندو قوانينو لکه قومي رجسټريشن ايکټ ۱۹۷۳ء او انتخابي فهرستونو قواعد ۱۹۷۴ء منتخبه قانوني او ضابطه ترميمات دې وکړی شي.

﴿د﴾ دا چه د پاکستان د ټولو ښارګانو که هغوی له هرې ډلې سره تعلق لري ځانونه، مالونه، آزادي، عزت او بنيادي حقوقو پوره تحفظ او دفاع وشي.

(۱) عبد الحفيظ پيرزاده
(۲) مولانا مفتي محمود
(۳) مولانا شاه احمد نوراني صديقي
(٤) پروفيسر غفور احمد
(٥) غلام فاروق
(٦) چوهدري ظهور الٰهي
(۷) سردار مولا بخش سومرو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

د قاديانيانيانو په باره کښې د صدارتي آرډيننس مجريه ۱۹۸٤ء مکمل متن

په ۱۹۷٤ء کښې په آئين کښې د ترميم په ذريعې سره قاديانيانو لره د غير مسلم اقليت د ګڼلو تقريبا لس کاله وروسته جنرل ضياء الحق مرحوم د شورٰی په مجلس کښې شامل مولانا سميع الحق صاحب او د مجلس د نورو شريکانو په کوششونو سره د صدارتي آرډيننس په ذريعې سره قانون جوړونه وکړه۔ لاندې د دې آرډيننس پوره متن وړاندې کوو۔ (مرتب)

قادياني ډله، لاهوري ډله او احمديانو لره په اسلام دښمنو حرکاتو کښې له ملوّث کيدو څخه د بندولو لپاره، په قانون کښې د ترميم لپاره آرډيننس۔ لکه څرنګه چه دا ضروري ده چه قادياني لاهوري ډله او احمديانو ته په اسلام دښمنو حرکتونو کښې له ملوّث کيدو څخه د بندولو لپاره په قانون کښې ترميم وشي۔ او لکه څرنګه چه صدر له دې خبرې څخه مطمئن دی چه د لاسي حالات موجود دي چه د هغو لاندې فوري کار کول ضروري دي۔ د دې لپاره اوس پنځم جولائی ۱۹۷۷ء د فرمان لاندې او په دې سلسلې کښې د تولو اختياراتو په استعمال سره صدر لاندينی آرډيننس په اجراء کولو سره خوښي محسوسوي۔

د پيل برخـــــه

لنډ عنوان او پيل

﴿۱﴾ دا آرډيننس قادياني ډله، لاهوري ډله او احمديانو لره د (ممانعت او سزا) آرډيننس ۱۹۸٤ء ويل کيږي۔

﴿۲﴾ دا به په چتکی سره نافذ العمل وي۔

﴿۳﴾ آرډيننس به د عدالتونو له احکاماتو او فيصلو څخه لوړوالی لري۔ د دې آرډيننس مادي د هر يوه عدالت د حکم يا فيصلې تر څنګ به مؤثري وي۔

دوهمه برخه: د پاکستان د تعزيراتو (۱۸٦۰ء قانون) کښې ترميم

د پاکستان په تعزيراتو کښې د ۲۹۸ ب او ۲۹۸ ج زياتو الی: د پاکستان د تعزيراتو په پنځلسم باب کښې د ۲۹۸ الف څخه وروسته لاندينی نوي مادي شامل کړی شوي دي۔

۲۹۸ ب د مقدسو شخصيتونو او مقاماتو لپاره د مخصوصو اصطلاحاتو غلط استعمال:

﴿۱﴾ قادياني ډله يا لاهوري (کوم چه ځانونو ته احمديان يا کوم بل نوم ورکوي) هر سړی کوم چه په ژبني يا تحريري الفاظو يا ظاهري واضحې طريقې په ذريعې سره (الف) د حضرت محمد ﷺ د کوم خليفه يا صحابي څخه پرته کوم بل سړي ته امير المؤمنين، خليفة المسلمين، صحابي يا رضی الله عنه وايي يا په دې نامه سره نې مخاطب کوي۔ (ب) د حضرت محمد ﷺ له مبارکو بيبيا نو څخه پرته کومې بلې ښځې ته "ام المؤمنين" وايي۔ (ج) د حضرت محمد ﷺ له اهلبيت څخه پرته کوم بل سړي ته اهل بيت وايي يا مخاطبوي نې۔ يا (د) خپلې عبادت ګاه ته د

جومات نوم ورکوي۔

هغه ته به د دريو کلونو د قيد سزا ورکول کيږي او جرمانه به هم پرې لګيږي۔

﴿۲﴾ قادياني يا لاهوري ډله (کوم چه ځانونو ته احمديان يا کوم بل نوم ورکوي) هر سړی دا خبره وکړي او پخپله عقيده کښې د غوره شوي عبادت لپاره د بللو طريقې ته آذان ووايي يا د مسلمانانو غوندې آذان وکړي نو هغه ته به د دريو کلونو د قيد سزا ورکول کيږي او جرمانه به هم پرې لګيږي۔

۲۹۸ سي: د قادياني ډلې او د لاسي نورو سړی کوم چه ځان ته مسلمان وايي يا د خپلې عقيدې خپرونه او تبليغ کوي: د قادياني ډلې يا لاهوري ډلې (کوم چه ځان ته احمدي وايي يا کوم بل نوم ځان ته ورکوي) کوم سړی چه خپل ځان په مستقيمه يا يا لو اسطه توګه مسلمان وبنايي يا ووايي يا د خپلې عقيدې خپرونه او تبليغ وکړي يا د الفاظو په ذريعې سره ووايي يا وليکي يا کومې بلې بنګاره طريقې سره نورو ته د خپلې عقيدې د قبلولو دعوت ورکړي چه له مخې نې د مسلمانانو جذبات زخمي کيږي نو هغه ته به د دريو کلونو د قيد سزا ورکول کيږي او د جرمانې به هم ترې اخيستل کيږي۔

﴿۳﴾ د آرډيننس په ذريعې سره د فوجداري مجموعه ضابطه د ۱۸۹۸ء ۹۹ مادي په الف شق کښې هم ترميم وکړای شو چه له مخې نې صوبايي حکومتونو ته دا اختيار ورکړ شوی دی چه د لاسي اخبار، کتاب يا بل کوم وړانديز ضبط کړي کوم چه د پاکستان د تعزيراتو په مجموعې کښې د شامل شويو نويو مادو په خلاف ورزي کښې چاپ شوي وي۔ د آرډيننس په ذريعې سره د پاکستان مغربي پريس او پبلي کيشنز آرډيننس ۱۹۶۳ء د ۲٤ مادي د ترميم په ذريعې سره صوبايي حکومت ته اختيار تر لاسه کيږي چه هغه د پاکستان په مجموعه تعزيراتو کښې د شامل شويو نوي مادو د خلاف ورزي کوونکي کوم کتاب يا ليکنې د طباعت يا خپرونې لپاره استعمال شوی پريس (چاپ خانه) بند کړي۔ د هغه اخبار ډيکلريشن دي منسوخ کړي کوم چه د دغو مادو خلاف ورزي وکړي او د لاسي کوم کتاب يا ليکنه دي ضبط کړي چه په هغه کښې د لاسي مواد شامل وي چه طباعت يا خپرونه نې د نوموړي مادو له مخې ممنوع تاکل شوي وي۔

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

په قـــــادياني مسئلې کښې د مسلمانانو فتح مبين

د علماء کرامو د جد او جهد او د مسلمانانو له کلنو غوښتنو څخه د مجبوريدو په صورت کښې چه کله حکومت قاديانيان په آئيني توګه غير مسلم اقليت وبلل نو شيخ الحديث حضرت مولانا عبد الحق صاحبؒ د خوښې په ښکاره کولو سره په ۱۲ ستمبر ۱۹۷۴ء د جمعې د مبارکې ورځې په خطبه کښې اورد او مفصل بيان کړی وو۔ چه اوس ئې له قاديانيت سره د مناسبت له وجهې په فتاوی کښې شاملوو۔ (مرتب)

نحمده و نصلی علی رسول الکریم اعوذ با لله من الشیطان الرجیم قال الله تبارك و تعالی: إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَ إِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ☆

زما محترمو ورونو! د الله تعالی په پاکستان او د ټولې دنيا په مسلمانانو باندې لوی احسان او ښيګړې دي چه مسلمانو ته ئې يوه عظيمه فتح ورکړې ده۔ زمونږ د بدن يوه يوه ذره هم که چېرته سر په سجدې ولګوي نو د دې احسان او نعمت کوم چه الله تعالی په مونږ لورولی دی د شکر ادا کول وغواړي نو نه ئې شي ادا کولی۔

د نبوت د قصر ســـــاتنه

ورونو! مونږ او تاسو د خپلو ځانونو، مالونو، بچيانو پالنه کوو۔ هر سړی د خپل حيثيت او طاقت مطابق يو کور جوړوي، چاردیوالي تاووي، دروازې لګوي يو اځې د دې لپاره چه کور او اولاد مې له غلو، لاړ شکوونکو او نورو خطراتو څخه په حفاظت کښې پاتې وي۔ او چه کله د کور هر ډول حفاظت وشي نو د ټولو د خوښۍ سبب وي۔ په دنيا کښې هر قوم د خپل ملک حفاظت او ساتنه کوي، پاکستان زمونږ ملک دی مونږ ئې د سرحد اتو حفاظت کوو، په ملک کښې د هيڅ ډول خلفشار نه شو برداشتولی، د هر هيواد پاچا پخپلې خزانې کښې په ميلياردونو روپۍ لږدي، پوليس د داخلي مخالفت مخه نيسي، فوج له باندنيو حملو څخه د هيواد حفاظت کوي، د مُلکي سرحداتو د ساتنې لپاره په زرګونو او لکونو خلکو ځانونه قربانوي، او چه کله هيواد محفوظ شي نو قوم د فتح خوښي لمانځي۔

نو لکه څرنګه چه د خپل ځان او مال، عزت او آبرو، مور، پلار او اولاد په محفوظ پاتې کيدو کښې مونږ ته خوښي محسوسيږي، روح ته اطمينان ترلاسه کيږي۔ همدا رنګه د يوه مسلمان په نزد د جناب نبي کريم ﷺ عزت او ناموس له دغو ټولو شيانو څخه ډير عزتمن دی۔ نو چه کله د حضور ﷺ عزت او ناموس، د هغه لوړ شان، د هغه لوړ مقام او مرتبې ساتنه له کوم غله څخه وشي نو څومره خوښي به وي؟

د بې بې، بچيانو او د مور او پلار له حفاظت څخه ډيره خوښي په دې باندې وي۔ چه د ملک ساتنه وشي دا هم د خوښۍ خبره ده، ليکن تر دې پورته خوښي دا ده چه د اسلام دين محفوظ شي او

د حضرت محمد رسول الله ناموس، عزت او مرتبې لره الله تعالی محفوظ کړي۔

ختم نبـــــوت

زما محترمو مشرانو! الله تعالی د پاکستان او عالم اسلام په مسلمانانو باندې د ۷ ستمبر په تاريخ کښې ډيره لويه مهرباني وکړه۔ د دې لپاره چه قادياني ډلې يا لاهوري ډلې کوم چه ځان ته احمدي وايي، د هغو لارښود مرزا غلام احمد قادياني د خاتم النبوت په کلا کښې ئې سوری جوړ اوه او دې عظيم تاج ته ئې د تخريب لاس ور غزاوه کوم چه د ختم نبوت په شکل کښې الله تعالی جل مجده د جناب محمد رسول الله ﷺ په سر باندې اينبی وو۔ مَا كَانَ مُحَمَّدٌ اَبَا اَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِكُمْ وَ لٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ وَ خَاتَمَ النَّبِيّٖنَ الله تعالی تعالی د ده په ذات سره د نبوت درجه کمال ته رسولې ده او وګورې په دنيا کښې د هر شي يوه ابتداء (پيل) وي او يوه انتهاء (پای) وي پرته له حیّ او قيوم خدای څخه چه هغه سرمدي، ابدي، ازلي او دائمي دی۔ له هغه پرته د هر شي يوه ابتداء وي او يوه انتهاء، يو پيل وي او يو کمال، انسان را واخلی په لومړي سر کښې بچی وي بيا ترقي کوي په ځلوينښت کلنې کښې د کمال درجې ته رسيږي۔ بيا ئې زوال شروع کيږي بيا له منځه ځي او قبر ته ور ښکته کيږي۔

د هر شي همدا حال دی۔ د نبوت سلسله الله تعالی جل جلالُه له حضرت آدم عليه السلام څخه شروع کړه او د نبي کريم ﷺ په ذات با برکات باندې ئې د کمال درجې ته ورسوله۔ اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَ اَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ وَ رَضِيْتُ لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِيْنًا د ا مقام او مرتبه الله تعالی په جناب نبي کريم ﷺ باندې ولوروله۔

متنبّي کذّاب او د انبياووّ سپکـــــاوی

مرزا غلام احمد قادياني له ختم نبوت څخه انکار وکړ او پخپله ئې د نبوت دعوه وکړه۔ يو سړی چه کله بې حيا شي نو د هغه لپاره بيا هيڅ خندې پاتې نه شي۔ إِذَا لَمْ تَسْتَحِ فَافْعَلْ مَا شِئْتَ لکه د دنيوي غله چه لومړی په پته لږلږ شيان غلا کوي بيا لوبيږي لوبيږي او بالکل ښکاره کيږي او لوی لوی شيان غلا کوي۔ همدا رنګه مرزا قادياني هم لومړی دا وويل چه زه آدم يم، نوح يم، ابراهيم يم، موسیٰ او عيسیٰ يم، بيا تر دې پورې چه و ئې ويل چه زه محمد رسول الله ﷺ يم، بلکه له ټولو انبياووّ څخه هم افضل يم۔ په يوه بل ځای کښې ئې ليکلي دي چه محمد رسول الله ﷺ بعينه زما په شکل کښې نن راغی۔ مرزا غلام احمد قادياني دا هم ويلي دي چه حضور اقدس ﷺ د لومړی شپې سپورمی ده او زه په څوارلسمي پيړۍ کښې راغلی يم نو زه بدر (د څوارلسمي سپورمی) يم۔ دا د مرزا هغه خبرې دي چه په اسمبلي کښې مرزا ناصر هم انکار ترې و نه شوای کړای۔ هغه ځان ته بدرِ کامل او نبي کريم ﷺ ته ئې د لومړی شپې سپورمی ووايه۔ هغه يو اځې د يوه نبي سپکاوی نه دی کړی بلکه د سيد الکائنات رحمة للعلمين ﷺ ئې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

هم او د تولو انبياء کرامو عليهم السلام ني هم سپکاوی کړی دی. وايي چه عيسی ابن مريم څوک دی چه زما په منبر باندې يو قدم هم کښيږدي؟

د مسلمانانو تکفير

ورونو! دا يو کذاب (لوی دروغجن) او ډير لوی چالاکه سړی وو. الله تعالی له هغه امت څخه امتحان اخيست. او د مسلمانانو دا ايمان دی چه نبي کريم ﷺ آخري نبي دی، له ده مبارک ﷺ وروسته تر قيامته پوري نوی نبي نه مبعوث کيږي او نه راتلی شي. نه کوم ظلي او نه کوم بروزي. او د مسلمانانو دا هم عقيده ده چه که د دنيا نجات او فلاح دی او که د آخرت يواځي او يواځي د نبي کريم ﷺ په پيروي او تابعداري کښي دی. جنت هم د ده مبارک ﷺ له پيروي څخه لاس ته راځي. ليکن مرزا قادياني وايي چه چا زما پيروي و نه کړه او زه ني نبي و نه منلم که هغه زما نوم اوريدلی وي او که نه، په غرونو او څنګلونو کښي اوسيږي او که په آبادۍ کښي ليکن په ما ني ايمان نه وي راوړی نو هغه هم د اسلام له دائرې څخه وتلی او پوخ کافر دی. زمونږ د مسلمانو عقيده ده چه الله تعالی مونږ ته خپله رضا او جنت په هغه لمانځه، روژې، حج او زکات باندې راکوي کوم چه نبي کريم ﷺ مونږ ته را ښوولي دي. ليکن مرزا وايي چه نه نه! کومو شيانو ته چه زه حلال او حرام وايم د هغه هم پيروي وکړی.

د جهاد نسخ

زمونږ د مسلمانانو دا عقيده ده چه "اَلْجَنَّةُ تَحْتَ ظِلَالِ السُّيُوف (جنت د تورو تر سيورو لاندې دی) کوم مسلمان چه د الله تعالی د رضا لپاره، د ملک، قوم او اسلام د حفاظت لپاره جهاد کوي هغه ته به جنت ور په برخه کيږي. هغه له انګريز سره، سيک سره، هندو سره جهاد کوي که چيرته په هغه باندې د توري سيوری هم ولويږي نو پرته له حساب او کتاب څخه به جنت ته ځي. زمونږ دا عقيده هم ده چه "اَلْجِهَادُ مَاضٍ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَة" (جهاد به تر قيامته پوري جاري وي). نه منسوخ شوی دی او نه به منسوخ شي. په هر دور کښي چه کله د کفر مقابله راځي نو مونږ به جهاد کوو. تر دې پوري چه جناب نبي کريم ﷺ فرمايي چه که چيرته ستاسو امير او ستاسو پاچا بد کرداره هم وي چه کله د جهاد غږ پورته کړي نو له هغه سره څنګ په څنګ ودريږی.

له ايوب خان څخه څوک خوښ وو؟ ليکن کله چه هغه د لا اِلٰه اِلاَّ الله په ويلو سره د جهاد غږ پورته کړ نو تولو ته معلومه ده چه له محراب او منبر څخه آوازونه پورته شول چه په مخ ځی. دې ته ني و نه کتل چه له ايوب خان څخه څوک خوښ دي او که ناخوښ؟ يحيی خان شرابي او زاني دی او که نه؟ چه هر شی دی ليکن اوس وخت دی د جهاد. نو د جهاد دومره اهميت دی. جهاد به تر قيامته پوري وي، حقيقت دا دی چه له کوم قوم څخه جهاد پاتي شو نو هغه قوم په بې عزتی کښي واقع شو. اصل ژوند يواځي په جهاد کښي دی. د الله تعالی ارشاد دی چه: وَلَا تَقُوْلُوْا لِمَنْ يُّقْتَلُ فِیْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَمْوَاتٌ بَلْ اَحْيَاءٌ وَّلٰكِنْ لَّا تَشْعُرُوْنَ☆

د انګريز اطاعت (فرمانبرداري)

مرزا قادياني وايي چه اوس جهاد حرام دی، قطعي حرام دی، او د کوم مسلمان په زړه کښي چه د انګريز د مخالفت ګومان وي نو هغه هم دوزخي دی.

مرزا قادياني خپل امت ته چه کوم پنځه بنيادي شيان ور ښودلي دي او د مرزايي مذهب پنځ بناء دي. لکه څرنګه چه زمونږ د مسلمانانو پنځه اصوله د شهادت کلمه، لمونځ، روژه، زکات او حج دي. نو د مرزا قادياني په بنيادي لسباقو کښي دا دي چه د برطانيې او انګليسي حکومت وفاداري، اطاعت او تابعداري به وي. او مونږ دا هم په اسمبلي کښي په مرزا ناصر احمد باندې ومانه چه د استاسو د مذهب پنځه بناوې دي. يو وخت به د اسې راشي چه دا ټول مباحث د قوم مخې ته هم راشي. انشاء الله.

جهاد ته مرزا بالکل حرام وويل، عراق چه کله انګريز انو فتح کړ نو د غو خلکو په قاديان کښي خوښي لمانځله. خلکو ورته وويل چه مسلمانان ژاړي چه انګريز انو په يوه اسلامي ملک باندې قبضه کړې ده او تاسو قاديان چراغان کړی دی او خوښی لمانځئ؟ و ني ويل چه هو! صحيح دی. د دې لپاره چه دا انګريز زمونږ تورې ده او دا توره چه چيرته ورسيږي نو هلته د مرزايانو فوځ هم رسيږي. لکه څرنګه چه فرنګي په عراق کښي لومړی والي يو قادياني وتاکه، له ترکيانو سره په جنګ کښي چه انګريزانو کاميابي تر لاسه کړه نو مرزايانو هغوته مبارکي ورکړه چه شکر دی چه خدای انګريزان کامياب کړل.

له مُلک او قوم سره غداري

نو ما دا عرض درته کاوه چه د دغو خلکو کردار څه شی دی او عزائم او خوځښتونه ني څه دي؟ د پاکستان تر جوړيدو وروسته لومړی د دوی اراده دا وه چه کشمير دي قادياني رياست جوړ شي ليکن کله چه مسلمانان پوه شول نو له دوی څخه ني جيلونه ډک کړل او د دوی عزائم ني ناکام کړل. له دې وروسته مرزا بشير الدين خپلو خلکو ته وويل چه د بلوچستان رقبه ډيره لويه او پراخه ده ليکن د مسلمانانو مردم شماري پکښي کمه ده. د دې لپاره د تعداد د قلت په بناء سره بلوچستان لره قادياني رياست جوړول ډير آسانه دی. اګر که هغه غير آباده رقبه ده ليکن کله چه زمونږ يوه جلا صوبه وي نو دا به زمونږ يو حيثيت وي. دا خبره هم د اسمبلي په بحث کښي په مرزا ناصر باندې ومنل شوه. انکار ني څرنګه کولای شوای چه ليکنې، حوالې، کتابونه موجود وو، دا مو هم ثابت کړل چه د هندوستان د ويش په وخت کښي د ګودا سپور ولايت چيرته چه قاديان دی، هغو پخپله ۲۸ کاله مخکښي درخواست ورکړ چه مونږ يوه ځانته ډله يو. او لارډ ماونټ بيټن ته ني وويل چه مونږ ته دې د نورو اقليتونو او عيسايانو او د اسې نورو غوندې ځانته چوکی وتاکل شي. که چيرته ني دا درخواست په هغه وخت کښي نه وای

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

ورکړی نو دوی به په مسلمانانو کښې شماريدلی۔ او بنايي چه د ا علاقه د پاکستان په لاس کښې وای او کشمير هم له لاسه نه وای وتلای۔ د ا ويش په آخر کښې له پاکستان سره غداری وه نو گوا که ۲۸ کاله مخکښې د هغو چه کوم درخولست وو د وانسرائ هند په نامه، هغه په ۷ ستمبر د اسمبلي ذريعه منظور شو۔

پـــــــه اسمبلي کښې د حجت اتمام (پوره والی)

د ا خبره هم په زړه ولړی چه اسمبلي يا پاکستان هغوی نه دي کافران کړي هغوی پخپله تقريبا ۹۰ کاله مخکښې تولو مسلمانانو ته کافران او پوخ کافران وويل۔

چه کله په اسمبلي کښې له مرزا ناصر څخه د ا پوښتنه وشوه چه تاسو مسلمانان څنګه گڼئ؟ نو سترګې ټيټې کړې او و ني ويل چه هو مسلمانان گنو۔ نو مونږ د مرزا غلام احمد او مرزا بشير الدين د اسې عبارتونه ور وړاندې کړل چه هغوی خو کافر ورته وايي۔ و ني ويل چه کافر دي ليکن ډير پاخه کافر نه دي۔ ادنی غوندې کافر دي۔ نو مونږ ورته وويل چه بنه هغوی خو په دې عبارت کښې وايي چه کافر دي او پاخه کافر دي۔ نو اوس څرنګه کچه کافران شول؟ پلار او نيکه خو دې مونږ تول کافر ګڼي ته مونږ ته څنګه مسلمان وايي؟ نو بيا غلی شو۔ بيا مونږ دوهمه نکته را پورته کړه چه تاسو د مسلمانانو د جنازې لمونځ کوی او که نه؟ او چه کله د مسلمانانو قائد اعظم مړ شو او هغه خو له مرزا يانو او ظفر الله باندې لويې بنيګړې کړې وې چه ظفر الله ني د خارجه وزارت وزير وتاکه، او د ا چه څومره خپارې شوي يی د مسلمانانو په لاس خپاره شوي يی چه د وزارتِ خارجه په ذريعې سره سفارتخانه له قاديانيانو څخه ډکه شوې وه۔ چه څومره خرڅه کيدله د هغې هيڅ پوښتنه او ګرويژنه نه وه۔ د ا د قائد اعظم څومره لويه بنيګړه وه۔ چه کله هغه مړ شو نو ظفر الله پخپل لوی مُحسن باندې هم د جنازې لمونځ و نه کړ۔ ځکه چه د هغه د جنازې د لمانځه امامت علامه شبير احمد عثماني وکړ او بنايي چه قائد اعظم د ا وصيت هم کړی وي چه زما د جنازې لمونځ دې علامه شبير احمد عثماني ادا کړي۔ غرض د ا چه که چيرته د هغه په اقتدا کښې د جنازې د لمانځه ادا کول عذر وای نو زمونږ وکيل وويل چه بنه په دې ملک کښې خو د قائد اعظم د جنازې غائبانه لمونځونه هم ادا شول۔ وکيل وويل چه زه په هغو ورځو کښې په لندن کښې وم هلته هم د مسلمانانو اکثره خلک را جمع شوي وو او د قائد اعظم د جنازې غائبانه لمونځونه ني ادا کړل نو آيا په کومې غائبانه جنازې کښې هم کوم قادياني شريک وو؟ و ني ويل چه ما ته نه دي معلوم۔ وکيل وويل چه په هر ځای کښې خو مولانا شبير احمد عثماني هم نه وو؟ بلکه د دې وجه پخپله ظفر الله بيان کړې وه چه زه خپل ځان د بوه کافر حکومت مسلمان نوکر ګڼم يا د مسلمان حکومت کافر نوکر، يعنې په نوکر باندې د ا ضروري نه ده چه د جنازې لمونځونه هم ادا کړي۔

د انګـــــريزانو صفتونه

الغرض د مرزايانو په غير مسلم والي کښې په زړګونو شواهد او دلائل له مونږ سره موجود دي او د هغوی کتابونه له د اسې ليکنو څخه ډک پراته دي۔

مرزا قادياني د انګريز د مدح په بيانولو کښې ويلي دي چه ما پنځوس الماری کتابونه د انګريز انو د اطاعت او فرمانبرداری د کولو په تلقين باندې ليکلي دي۔ ليفټننټ والي انګريز ته مرزا وليکل چه زه خو د انګريز پخپله را شنه شوی بوتی يم۔ اوس د ا پخپله پيدا شوي بوتی به تاسو خړوبوی هم۔ او په ما باندې او زما په ډلې باندې به خانګړې مهربانی هم کوی۔ د ملکه وکتوريه په صفت او مدح باندې ئې مستقل او مکمل کتاب وليکه او د تحفۂ قيصريه په نامه سره ئې و نوماوه۔

لنډه د ا چه انسان حيرانه شي، د مرزا بنه راغلاست او زړه حضوري ته په کتو سره مونږ په اسمبلي کښې دوه څلور مولوي صاحبان يو۔ انګريزي خوان طبقه هم کوم چه د اسمبلي غړي وو هغوی هم د انګريز دومره ثنا او صفت په اوريدو سره په حيرانتيا کښې ولويدل او و ني ويل چه نبي خو پريږده د اسې سړي ته يو شريف انسان هم نه شي ويل کيدلی نبوت خو ډيره لړي خبره ده۔ د دومره چاپلوسيو تصور خو له مونږ انګريزي خوانو څخه هم نه شي کيدلی۔ ملکه وکتوريه ته "د ام اقبالها" ويل او د ا ويل چه ستا د اقبال (بخت) دي د تل لپاره پاتې وي، ته ظلّ الله (د خدای سيوری) ئې او هغه مسلمان ملعون دی، بد بخته دی څوک چه ستا د حکومت په خلاف ګومان ته هم په زړه کښې ځای ورکوي۔ نو دومره چاپلوسي خو يو ننګي هم نه شي کولی۔ بيا د يو کافر او انګريز حکومت۔

او د ا حقيقت دی چه انګريز هندوستان ته راغی او پښې ئې پکښې تينګې کړې نو په دې وخت کښې د انګريز په خلاف شاه عبد العزيزؒ او نورو اکابرو د جهاد فتواوې ورکړې، د جهاد تحريک پورته شو، په سلګونو مسلمانان په دار شول، او د جهاد غړ پورته شو۔ نو مسلمان د جهاد لپاره په د ځان او مال قربانولو ته تيار شول۔ انګريز ته د ا څرګنده شوه چه د مسلمانانو د غلام کولو علاج پرته له دې بل څه نه دی چه د هغو له زړه څخه دې د جهاد جذبه و ايستل شي۔ او د دې لپاره دې يو فرضي نبي وهڅول شي تر څو هغه جهاد حرام وګرځوي۔ د ا د هغو په لاس کيښودل شوې نيالګی۔ وه چه اقرار ئې پخپله مرزا پخپلو ليکنو کښې کړی دی۔ هغه د ا هم ليکلي دي چه ۱۸۵۷ء په غدر کښې هم زما پلار پنځوس سواره کسان له اسانو سره انګريزانو ته وړاندې کړل۔

په هر حال مرزايي مونږ مسلمانانو ته له ۹۰ کلونو راهيسې کافران وايي او چه کله ئې په اسمبلي کښې يادونه وشوه نو د خپل مطلب د تر لاسه کولو لپاره ئې تری انکار وکړ۔ نو چه کله هغه عبارتونه ورته وړاندې شول چه تاسو خو د مرزا نه منونکي د اسلام له دائرې څخه وتلي، کافر او پاخه کافران بولی۔ نو و ني ويل چه کافر دي ليکن په ملت کښې د اخل دي۔ او د ملت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

درې دائري دي. یوه د اسلام دائره، یوه تر اسلام د لاندې دائره او بله دریمه درجه ده. رانا حنیف صاحب مرکزي وزیر دی. له اسمبلي څخه د باندې راسره مخامخ شو او بیمار وو. ما ورته وویل چه وزیر صاحب څه حال دی؟ و ئې خندل او و ئې ویل چه مولانا! تر اوسه پورې خو په دریمې دائرې کښې گرځم. څرگنده نه ده چه له دې څخه به کله ووځو؟

لـــــــه معاشرتي تعلقاتو څخه ممانعت

مرزا ناصر ته وویل شول چه د مسلمانانو په معصومو بچیانو باندې د جنازې کولو څه حکم دی. ستاسو مشرانو خو ویلي دي چه بالکل ناجائز دي. او لکه څرنگه چه تاسو د هندوانو، سکانو او عیسایانو په بچیانو باندې د جنازې لمونځ نه شی کولی همدارنگه د غیر مرزایي مسلمانو بچیانو حکم دی. د دې لپاره چه د کافر بچی د کافر تابع دی. مسلمان کافر دی نو بچی به ئې هم کافر وي.

د نکاح په باره کښې ئې وویل چه آیا یوه مسلمانه ښځه له فرنگي، هندو یا سِک سره نکاح کولی شي؟ که چیرته نه شي کولی نو د یوې مرزایي ښځې هم له مسلمان سړي سره نکاح جائزه نه ده. البته مرزایان مسلماني نجوني پخپل عقد کښې رانیولی شي لکه د اهل کتابو غوندې. دا وه د نکاح په باره کښې د هغو عقیده.

لنډه دا چه ورونو! په اسمبلي کښې (په قادیانیانو باندې) د جرح لپاره په سلگونو پوښتنې رایو ځای شوې چه له هغو څخه یو څو غوڑې شوې او دوه یا څلوږ اصولي خبرې زیاتره د بحث او جرح محور وې. الحمد لله د پاکستان په آئین کښې د جناب محمد رسول الله ﷺ د آخري نبي والي یادونه مخکښې موجوده وه، د صدر او وزیر اعظم د حلف (لوړې) په عبارت کښې خو د ختم نبوت جگړه طی شوې وه چه مسلمان به یواځي هغه وي کوم چه نبي کریم ﷺ د الله تعالی آخري نبي مني. دلته د کمیټي په بحث کښې د دې خبرې حل کول وو چه آیا مرزا د نبوت دعوی کړې وه او که نه؟ او آیا د هغه پیروانو دی په نبوت مني او که نه؟ او آیا د هغو په نزد د هغه نه منونکي مسلمانان دي او که کافران؟ نو د ربوه او لاهوري مرزایانو هم دا ټول ومنل او اقرار ئې وکړ چه دوی یو ځانته امت او ډله دي.

د لاهوري ډلې منـــــــافقت

او د لاهوریانو له ربویانو سره جگړه یواځي په خلافت او گدۍ نشینۍ باندې وه لیکن هغه به ئې له منافقت څخه د کار په اخیستلو سره مسلمانانو لره پخپل جال کښې د بندولو په خاطر ئې مسلمانانو ته مسلمانان وویل. د جرح په دوران کښې لاهوریانو هم اقرار وکړ چه تاسو حقیقي مسلمانان خو نه یی البته مجازي مسلمانان یی. او کله چه له مرزایانو څخه د دې دوه مخي والي په باره کښې پوښتنه وشوه چه مسلمانان کافران هم گڼی او د هغو لپاره د مسلمان نوم هم

استعمالوی؟ نو ځواب ئې ورکړ چه حقیقي مسلمانان خو نه یی. البته په دنیا کښې یو قوم د مسلمان په نامه سره مشهور دی د دې لپاره مونږ تاسو ته عرفاً مسلمانان وایو. یهود هغه قوم وو چه په حضرت موسی علیه السلام خو ئې ایمان راوړی وو لیکن د حضرت عیسی علیه السلام په راتگ سره له هغه څخه تر انکار وروسته کافران شول. لیکن اوس هم د یهودو په نامه سره مشهور دي. عیسایان د نبي کریم ﷺ تر راتگ وروسته د نبي کریم ﷺ له نبوت څخه په انکار کولو سره کافران شول او عیسایان پاتې نه شول لیکن په ویلو سره اوس هم عیسایان ورته ویل کیږي. او لکه څرنگه چه عبد الله نامی سړی د سرکشي او نافرماني تر څنگ عبد الله بلل کیږي. حقیقي عبد الله نه وي یواځي د نامه د شهرت له وجهې څخه عبد الله وي. همدارنگه مونږ هم باید کله کله مسلمانانو ته مسلمانان ووایو.

لاهوري مرزایانو د نبي کریم ﷺ د دې حدیث چه "سینزل نبی الله عیسی بن مریم" په ضمن کښې اعتراف وکړ چه مرزا نبي وو. الغرض چه کله له نوي کلونو څخه هغوی پخپله مونږ ته کافران ویل، او کافران ئې گڼلو، او خپل ځانونه ئې جلا امت او ډله بلله لیکن اوس هغوی له خپلو نه منونکو (له هغو کافرانو) سره پُر اصرار شرکت یواځي د فائدې د تر لاسه کولو او په پته کښې د لستوني د مار د جوړیدو لپاره دی. په دې برّ صغیر کښې هندو، مسلمان، سِکھ، عیسایان وو لیکن هندوان زیات وو او مسلمانان کم تو اقلیت ته نقصان وي.

د اسلام په نامه له اسلام ســـــــره دښمني

اوس مرزایانو دا غوښتل چه په مسلمانانو کښې دې شامل یو او په همدې نامه سره دې په اختیاراتو او حقوقو باندې قابض وو او له مسلمانانو سره رویه دې د غیر مسلمو غوندې وي. په دې حال کښې چه د هیڅ یوه مسلمان غیرت هم دا نه شي زغملی چه د هندو، سِکھ یا عیسایي په اکثریت کښې وگنل شي. او دا مرزایي طبقه دومره بې غیرته طبقه ده چه مونږ مسلمانان د هغو په نزد له هندوانو، سکهانو څخه هم لوی کافران یو لیکن د دوی په نزد په همدغو کافرانو کښې شرکت د تل لپاره د هغو اصرار وو. نو د دې وجه دا ده چه له دې کید و څخه د دوی مفادات خرابیږي او سازشونه نه شي کولی.

د هند د ویش په وخت کښې د گورداسپور ولایت یواځي د دوی په وجه په هندوستان کښې شامل شو چه هغو په سر شمیرنې کښې خپل ځانونه د یوه جلا قوم په حیثیت وړاندې کول وغوښتل. په هغه وخت کښې هغوی ځانونه په کافرانو کښې د گڼلو په صورت کښې د مسلمانانو تعداد او شمار کم کړل. دا خبره هم په اسمبلي کښې ثابته شوه او همدا شی د کشمیر له لاسه د وتلو هم یو سبب جوړه شوه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

له اسرائيلو سره تعلقات

اسرائيل د ټول عالم دښمنان دي، ټول مسلمانان له اسرائيلو سره تعلقات نه لري ليکن مرزايان دي چه خوځښت ئې هلته هم روان دی. دوی په مسلمانانو کښې ځانونه شريکوي او د هغوله اعتماد او بروسې څخه د غلطي فائدې په پورته کولو سره ټول رازونه د دا سې خوځښتونو په ذريعې سره دښمنانو ته رسوي. نو دا خلك په مذهبي توګه له پخوا لا د اسلام دښمنان وو ليکن په سياسي توګه ئې هم د پاکستان او عالم اسلام بيخ او بنياد ايستل. دا خو الله تعالی فضل وکړ چه د ربوه د ريلوي سټيشن واقعه بنکاره شوه او که نه نو په همدې کال يا ډير زر د دوی په لاس باندې به مُلك د انقلاب او کورنۍ جنګ په ټنبه شوی وای. الله تعالی د دې ملك، د دې حکومت او د دې قوم مدد کاوه او که نه نو د پاکستان په سياست باندې، فوځونو باندې، د پاکستان په اقتصادياتو او لوړو عهدو باندې قبضه کوونکي وو.(۱)

د اسمبلي متفقه فيصلـــــــه

او په مذهبي توګه خو يواځې له لومړی ورځې څخه کافران وو ليکن قومي اسمبلي هم په متفقه توګه په آئين کښې د هغو حيثيت شامل کړ. په اسمبلي کښې د انګريزي خوانو اکثريت وو، نو دا يواځې د علماوو فيصله نه ده، نوې دنيا خو له منبر او محراب څخه دومره نه متاثره کيږي څومره چه له اسمبليو او پارلمانونو څخه. او الحمد لله چه هلته په اسمبلي کښې ټولو غړيو، د هرې ډلې غړيو، ټول سل په سله متفق شول او فيصله ئې وکړه، ټول غړي د مسئلې په ژورواليو او حقيقت پوه شول. هلته د طالب علمانو غوندې د بحث او مباحثې دوره وه. نو د يقين او بصيرت او ډيرو خوښيو سره ټولو غړيو په آئين کښې دا ترميمونه وکړل چه تر حضرت محمد رسول اللهﷺ وروسته چه کوم سړی په کوم ډول هم د نبوت دعوی وکړه او چه څوك ايمان پرې راوړي او هغه ئې مذهبي مُصلح وګانه هغه به غير مسلم يعنې کافر وي. او مرزايي قاديانې، لاهوري کوم چه ځان ته احمدي وايي غير مسلم اقليت دي. اوس به تر قيامته پورې انشاء الله

(۱) د دغو تعلقاتو په تفصيل باندې د خبرېدو لپاره د حقانيې د دار العلوم له خوا د خپور شوی کتاب په نامه د "له اسرائيل څخه تر قاديانه پورې" کتل ضروري دي.

په دې ملك کښې هيڅوك هم د نبوت دروغجنه دعوه نه شي کولی. او تر کومه ځايه پورې چه د اقليتونو د تحفظ مسئله ده نو زمونږ په ملك کښې هندوان، سکهان او عيسايان ټول شته ليکن مسلمانان د هغو تحفظ کوي. قوانين موجود دي، د اسلام تعليمات موجود دي، مونږ د دغو (مرزايانو) تحفظ هم کوو. په مسلمانو کليو کښې هندوان، سکهان، عيسايان هم سود اوي کوي ليکن هغوی دوی غير مسلم پيژني. دا خطره نه ده، چه په مذهبي توګه دوکه کيدلی شي او د لستوني مار جوړ شي، ليکن اوس په ټولې دنيا باندې د قاديانيانو د حقيقت له بنکاره کيدو

وروسته به دا خطر کم شي چه دا مار دي چا نه تك ورکړي. نو دا د پروردګار عالم تر ټولو لوی کرم او انعام دی چه د قوم، ملك او دين تحفظ وشو. زمونږ نوري غوښتنې هم وزير اعظم په اصولي توګه منلې دي. اوس په لومړيو عهدو کښې د هغوی پريښودل له خپلو ځانونو سره دښمني کول دي. اوس زمونږ د ټول راز له تيټولو او د هر ډول دښمني له کولو څخه دا خلك منع او دريغ نه کوي. نه له بهتو سره او نه له قوم سره بنيګړې کوي. د دې لپاره د دې خبرې ضرورت دی چه هغوی زر تر زره له لوړو عهدو څخه معزول کړی شي. په پاکستان کښې د ننه د ربوه په نامه سره دې قادياني رياست له منځه يورل شي او هغه دې فتح کړی شي.

د الله تعـــــالی مدد

نو الله تعالی پخپل فضل او کرم سره د خپل دين حفاظت وکړ. په نشتر ميډيکل پوهنتون ملتان کښې يو مسلمان طالب علم پرته له کومې وجهې د مرزايانو د ظلم او تشدد لاندې راغی. ټول قوم پورته شو، نوکران، تجار، علماء، عوام، طلباء ټولو د ايماني جرأت ثبوت ورکړ. تر ابتدايي دريو ورځو پورې مرکزي رهبري نه وه نو څه ګډوډي راغله بيا مجلس عمل جوړ شو او ټولې ډلې پکښې شاملې شوې. ټولو دا الوړه وکړه چه په دې مسئلې کښې به سياست بازي نه کوي. ټول به له جناب محمد رسول الله سره د تعلق او اسلام په خاطر دا تحريك چلوي. دوه ځلور ډيرو لويو افسرانو ما ته په لاهور کښې له يوې غونډې وروسته وويل چه څه به کوی مونږ يواځې تر ۷ ستمبر ته انتظار کوو. ما ورته وويل چه بيا به څه وکړی؟ و ئې ويل چه تاسو او ټولې دنيا ته به معلومه شي چه مونږ څه کولی شو؟ د اسلام آباد ټولو نوکرانو د ايمان او عزيمت (استقامت) عجيبه مظاهرې وکړې، الله تعالی ټول قوم متفق کړ، مجلس عمل له تدبر څخه کار واخيست او د مسلمانانو رهبري ئې سنبال کړه. بيا په اسمبلي کښې د حزب اختلاف علماوو او ډلو د مجلس عمل په لارښوونه کار وکړ. بيا ټوله قومي اسمبلي که د اقتدار ډله وه او که د اختلاف ډله په دې جهاد کښې شريك شول او فتح ور په برخه شوه. او په دومره آساني او د الله تعالی په فضل او کرم سره فتح وشوه چه له مونږ څخه د نبي کريمﷺ حق ادا نه شو. د مسيلمه کذاب په مقابلې کښې په زرګونو صحابه کرامؓو ځانونو قربانې ورکړه. ۲۸ زره کفار او مرتدين تر تيغ لاندې شول. او دا يواځې د الله تعالی فضل او کرم دی چه دلته د پنجاب د مسيلمه په مقابله کښې يواځې يو څو مسلمانان شهيدان شول. ټول قوم له ډير کم محنت سره مخامخ شول او فتحه عظيمه ور تر لاسه شوه. که چېرته په دې لار کښې ټول مسلمانان شهيدان شوي وای او د ختم نبوت د ناموس حفاظت پرې شوی وای نو بيا به هم ډيره لويه فتحه وه.

اوس ما شاء الله، الله تعالی دې ملك او قوم ته د دې مسئلې په سبب سره له پخپل فضل او کرم سره نازوي، د دې مسئلې نيکنامي ټول مسلمان قوم او ټولې اسمبلي ته رسيږي. زمونږ د علماوو کار همدغه دی، موضوع هم د توحيد او رسالت دی. ليکن د بحث او تحقيق په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

سلسلي کښې د قومي اسمبلي هر غړی په تعاون کښې له يوه او بل څخه د ورانديو والي کوشش کاوه تر څو چه کومه شبهه پاتې نه شي. الحمد لله د پاکستانيانو تر څنګ ټول مسلمان ملت خوښي لمانځي، د پون د پيړۍ د اکابرو قرباني رنګ راوړی دی. هر ځای په خوښي کښې خواره ويشل کيږي، يوه او بل ته مبارکي سره ورکوي، نن د جُمعې تر لمانځه وروسته د الله تعالی په دربار کښې د شکر اني دوره رکعته لمونځونه ادا کيږي.

البته اوس به هم نه غافل کيږی بلکه له مخکښې ځخه له زيات غور سره په دوی باندې نظر ولری، ځکه چه قاديانيان ډير منظم دي، د هغو تر شا امريکه، برطانيه او صيهوني طاقتونه ولاړ دي، که چېرته دا خلك د ذمې په جوړيدو سره په امن کښې اوسيږي نو حيثيت به نې بل وي. او که چېرته متحارب (په جګړه کښې واقع شي) شي، ذمه واری او عُهدې پرې نه پودي، د مسلمانانو او عالم اسلام په خلاف کار وکړي نو بيا مسلمانانو ته هم مناسب طرزِ عمل بايد غوره کړي، د هغو به سياسي احتساب کيږي. اوس د الله تعالی په دربار کښې په سجده شی چه الله تعالی مونږ د حضرت محمد رسول اللهﷺ په غلامانو کښې شمار کړي او د اسلام شعائر او د نبي کريمﷺ عظمت او شوکت تر قيامته پورې لوړ پاتې شي. آمين. وَ اٰخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ

د مسلمانانو فتح مُبين (بنکاره فتح)

د پاکستان د صدر جنرل محمد ضياء الحق د قاديانيانو په باره کښې په جاري شوی صدارتي آرډيننس باندې د دار العلوم حقانيې د مهتمم مولانا سميع الحق صاحب اوږده او له مغزو ډکه تبصره له الحق مياشتنی ځخه ستاسو په خدمت کښې ده. (مرتب)

د قاديانيانو په باره کښې د مملکت صدر جنرل محمد ضياء الحق له خوا ځخه جاري شوی تازه فيصلې په ذريعې سره د پنجاب مسيلمه، متنبي کذاب مرزا غلام احمد قادياني پيروان (قادياني او لاهوري دواړو ګروپونو) له هر ډول د اسلام په خلاف له خوځښتونو ځخه منع کړی شوي دي. او د پاکستان په تعزيراتو کښې يوه نوي ماده ۲۹۸ ب شامله شوي ده چه د هغې له مخې قاديانيان د اسلام او مسلمانانو ځانګړي اصطلاحات نه شي استعمالولی. نه آذان ورکولی شي ، ټيلو عبادت خانو ته جومات ويلی شي، نه خپل ځان با لواسطه مسلمان ګڼلی شي او نه خپل مذهب ته د اسلام د نامه په ورکولو سره د هغه تبليغ او تشهير کولی شي. نه به د داسي کوم خوځښت اجازه ورته وي چه له مخې نې د مسلمانانو جذبات او احساسات زخمي کيږي.

دا فيصله ځومره اهمه، ډيره ضروري، معقوله او د ستاينې او تبريك قابله ده؟ او د ځومره ژوروالي او لرې رسيدونکو نتيجو حامله ده؟ د دې اندازه هغه خلك لګولی شي چه نظر نې د مرزائيت په تاريخ، پس منظر، خوځښتونو او عزائمو او د مسلمه امت په خلاف د دې ډلې ريښې، جوړ شوي سازشونو او د اسلام د دښمني په منظمو، مربوطو او ټول نيوونکو دسيسو

باندې دی. د مسلمانانو هغه حساس، عاقبت انديش، او په اسلامي درد باندې مست رهبر انو او زعماوو ته الله تعالی د مرزائيت په باره کښې په ليدونکي زړو باندې او شرح صدر په دولت باندې نازولي دي. هغو د دې پيړۍ له پيل ځخه په علمي، فکري، سياسي او عوامي محاذونو باندې په پوره شد او مد سره د هغه له سياسي، مذهبي او معاشرتي خطراتو ځخه د مسلمانانو او بړ صغير د حکومتونو خبرول خپله لومړنی فريضه ګڼله. هغو په نازکو او له خطراتو ځخه ډکو حالاتو کښې هم د جهاد بيرغ ړپولی دی. هغوی غږونه کړي دي او مسلمانانو ته نې د لستونې له دې مار ځخه د ځان ساتلو خبرداری ورکړي ده. علامه انور شاه کشميريؒ، د ګولړه شريف پير صاحبؒ، مفکرِ اسلام علامه محمد اقبالؒ، امير شريعت سيد عطاو الله شاه بخاريؒ او د هغه تولې ډلې مولانا ظفر علي خانؒ، شورش کاشميريؒ، علامه يوسف بنوريؒ او د اسې په زرګونو علماء، مفکرين، زعماء، مصنفين، مناظر، صحافيان او مبلغين وو چه د هغو د ژوند اهم ترين مقصد د خاتم النبيين د دغو غدارانو او د ختم نبوت د تخت د دغو غلو په محاسبې او تعاقب پسې وو. کومو چه د يثرب د خواجهﷺ د ختم نبوت د ناموس د حفاظت په جد او جهد کښې خپل ژوند له لاسه ورکړل، او ځومره نيکبخته وو کوم چه په دې لاري کښې مړ شوي او د شهادت په خلعت باندې سرفراز شوی دي او د دواړو جهانو د سرداری د شفاعت او د آخرينو اوّ اولينو د نبي له خوښې او ابدي سعادت ځخه برخمن شوی وي.

د دغو ټولو قربانيو په نتيجه کښې د مسلمه ملّت د مؤمنانه جهاد، جد او جهد او اتحاد په ثمره کښې ۷ ستمبر ۱۹۷۴ء کښې له عوامي زور اچونې ځخه د مجبوريدو او بې وسه کيدو له وجهې د هغه وخته بې دينه حکومت په ګونډو شو او په دستور کښې نې قاديانيان غير مسلم اقليت وګڼل. دا د قاديانيت په خلاف د مسلمانانو لومړنی فتح وه. ليکن د هغه وخت حکومت، علماء او د مسلمانانو د پرله پسې غوښتنو تر څنګ د دې دستور عملي غوښتنې سر تر پايه له نظره غورځيدلې او د قاديانيانو په باره کښې له يو ډول قانون جوړونې ځخه نې تيښته کوله. تر دې پورې چه د موجوده حکومت دور راغی ليکن خبره هم هغسې پاتې شوه، د مسلمانانو دا دستوری فتح د عملي تقاضو د نه پوره کيدو له وجهې کاغذي او رسمي فتح پاتې شوه. په نتيجه کښې دښمن پخپلو پټو او بنکاره، داخلي او خارجي خوځښتونو کښې مصروف پاتې شو. دې خوا ته په مسلمانانو کښې د اضطراب او بې آرامي جذبې پورته کيدلې، د ډبرو سکاره پخيدل، اورونه په زړونو کښې د ننه بليدل، سړي شوي سکروټي ببرته په ګرميدو وي چه خداوندِ قدوس د ختم نبوّت د تحفظ د مجلس او د په هغه کښې د ټول ګوندیز "مجلس عمل" په وخت احساس او خالص ديني، مذهبي او غير سياسي خوځښت په نتيجه کښې موجوده حکومت او د هغه مشر جناب جنرل محمد ضياء الحق صاحب ته توفيق ورکړ چه په نومورې خبيثې ونې باندې د فيصلې په شکل کښې پوخ ګذار وکړي او د نفاق په جامه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

کښې ملبوس د کفر او ارتداد دي بې مهاره اوښ ته مهار ور ولګوي۔

دا فیصله یوه داسې جرأتمندانه او مؤمنانه فیصله ده چه له مخې ئې زمونږ د تیر شویو اکابرو د یوې پیړۍ تولې قربانۍ ځای و نیولې او د جد او جهد د عمل یو اوږد سفر له منزل سره آشنا شو۔ عالم اسلام لره یو اځې او یو اځې په ذهني انتشار او فکري اضطراب کښې مبتلا کوونکي د اسلام دښمنان، د قادیانو د منافقینو د نفاق پرده ځیرې شوه۔ او ګوا که چه له یوې پیړۍ ځخه د مسلمانانو لپاره له تکلیف او ضرر ځخه ډکه مسئله تر ډیرې اندازې پورې حل شوله۔

له شک او شبهې پرته دا داسې یوه روح تازه کوونکي او ایمان زیاتوونکي فیصله ده چه له نور ځخه ئې تول کائنات رڼا او له خوشبویي ځخه توله فضا معطره ده۔ په ملاً اعلی کښې پسرلی راغلی دی او په عالم علیین کښې د علامه کشمیریؒ، امیر شریعت سید عطاء الله شاه بخاریؒ، علامه اقبالؒ او حضرت بنوریؒ د لروا حو په آرامي کښې زیاتوالی راغلی دی۔ او بلې خوا ته کفر په لړزان دی، د نفاق د ضرار جومات له زمکې سره برابر شو، د دجال د نبوت د مانۍ منارې له خاورو سره خاورې شوې، باطل په لړزان شو او د جعلي نبوت د ظلمت خانو تیارې نورې هم زیاتې شوې۔ د جناب شفیع المذنبین ﷺ مینان او د شفاعتِ کُبرٰی هیله مند حضرات دې ته د ایماني حرارت او د رسالت د ناموس د حمیت ژباړونکي فیصله ګڼي، د اسې یوه فیصله چه د اسلامي ملّت په تاریخ کښې د تل لپاره په جلّي او د سرو زرو په اوبو لیکل کیږي۔

په دې عظیمې خوښۍ کښې د بد قسمتي له مخې که شریك شوي نه دي نو هغه یو ځو د اسې د بخت له مخې ازمایل شوي سیاستد انان دي کوم چه د "معاویه په بُغض" کښې دومره مبتلا دي چه تر ځو پورې هغوی د خپل مقصود د لیلی یعني حکومت او اقتدار ځخه په ځنګ شوي نه وي نه د هغو سترګې خلاصیږي، نه ئې په زړونو باندې اچول شوې غټې پردې لرې کیږي، په هغو کښې خو ځینې د اسې دي چه په زړونو او ذهنونو کښې د ایمان او مذهب هیڅ سپنکی نشته چه هغوی لبرل ازم، لادینیت او سیکولرازم په تیارو کښې ډوب دي۔ او څه هغه تش په نامه مغربي جمهوریت په عشق او محبت کښې هره بله مسئله ثانوي او ضمني ګڼي که هغه د نفاذ اسلام مسئله وي او که د ختم نبوت د تحفظ یا د قوم د فکري، اخلاقي، پاکوالي او معاشي استحکام او معاشرتي امن او سکون مسئله وي۔ هغوی که مصروف دي نو یو اځې په جمهوریت او انتخابي مقصدونو کښې مصروف دي اګر که ئې په نتیجه کښې تول قوم په فکري انتشار، له یوه او بل ځخه په جلاوالي او اختلاف، کورنۍ جنګونو او اباحیت او طوائف الملوکي بنکار شي۔ په دې لحاظ سره د دې فیصلې دا اړخ په ځانګړې توګه مسلمانانو ته د فکر دعوت ورکوي چه د سیاست او جمهوریت بیرغ او چتوونکي اکثر رهبران په ځانګړې توګه هغه چه د سیکولرازم داعیان یا د هغوی اتحادیان دي نه یو اځې په دې فیصلې باندې چوپه خوله پاتې شول بلکه د ځینو اخباري نمائندګانو له پوښتنو ګرویزنو ځخه د هغو په زړونو کښې

د قادیانیانو په برخه کښې نرم والی راغی او څه نا څه ئې خو له بد قسمتي ځخه دا فیصله پرته له کومې وجهې د بد ګمانیو نښه وګرځوله، او فیصله ئې د معمولي، بې اثره او بې وقعته د ګرځولو کوششونه وکړل، د منځ د میخ په را ایستلو سره ئې د قادیانیانو د خوشحالولو کوششونه هم وکړل، له شبهې پرته "د معاویه په بغض" کښې راګیر شوي دا عبرتناك مثالونه دي۔ خطر دی چه په دې ردّ عمل او طرز عمل په نتیجه کښې قادیاني ډله اوس خپل ځانونه د داسې سیاسي عناصرو په غیږ کښې واچوي او د لادیني سیاسي عناصرو او ازمایل شوي سیاستد انانو اتحاد په مخکښې تلو سره د مرزایانو د پناه سیاسي ځای او کلا جوړه شي۔

په هر حال اوس د دې انقلابي وړاندې والي څه لازمي او منطقي غوښتنې دي کوم چه د وخت حکومت ئې باید په چټکی سره پوره کړي۔ په داسې حال کښې چه له بد قسمتي ځخه د دې د کار اندازه په عامه توګه د وخت ځنډول او د مسائلو ګډوډول دي۔ چه موتر دې په یوه ډول نه په یوه ډول چلیږي او ځوك خفه نه شي۔ د کومې پالیسۍ له وجهې چه د اسلامي نظام موتر په یوې داسې کوڅې کښې بند پاتې شوی دی چه نه مخکښې تلی شي او نه وروسته، ځلورو خواوو ته تلی شي لیکن سفر سخت او منزل لالړ کیږي۔ لیکن د مرزایانو په باره کښې د دې فیصلې په جاري کولو سره هغه یو زهرجن مار مړ نه کړ بلکه یو اځې ئې زخمي کړی دی او چه کله دا مار بیرته په ښه کیدو راشي نو په هرې لمحې کښې مسلمه ملّت او پاکستان ته د تلك د ورکولو وخت نه ضائع کوي۔ هغه څه معمولي او کم دښمن نه دی بلکه د عالمي استعمار پخپلو لاسو کینبنول شوی نیالګی دی او د صیهونیت او برطانیې وروسته اوس د امریکې پالل شوي خلك دي۔ هغوی د عالم اسلام د بیداري او جهاد په خلاف د استعماریانو پټې اسلحې دي، هغوی د اسرائیل له خوا تاکل شوي دي۔ (چه د هغو تول سیاسي خوځښتونه، محرکات او دسیسو تفصیلات زمونږ په خپاره شوي کتاب "له قادیان ځخه تر اسرائیله پورې" لوستلی شی) او هغوی له پیل ځخه پخپلو د پردې لاندې دسیسو کښې مثالي بیدار مغزي، نظم او ضبط، تول نیوونکی او د کار د طریقې ژور ثبوتونه ورکوي۔ پاکستان خو د پنجاب د تقسیم او بیا د مشرقي پاکستان د سقوط او عالم عرب ئې د اسرائیلو په شکل کښې نقصان او ضرر برد اشتوي۔ د عوامو د همدردیو حاصلول، له سیاسي طریقو باندې د خپلو مقاصدو لاس ته راوړل، د ملکي نظام لپاره د کار د سړیو تیاري او په لوړو عهدو باندې برلاسي حاصلول د عالمي رأیې د ګمراه کولو لپاره د دې ډلې ځانګړې استعماري دسیسې دي۔ هغوی په هوښیاري سره د اسې لاس وهنه کوي چه تول قوم په سیاسي او معاشي سطح باندې له دوی ځخه په لړزان دي۔ لیکن عیّار او مکار دښمن بیا هم له سترګو ځخه پټ اوسیږي۔ اوس په د اسې دښمن باندې د موجوده آرډیننس په شکل کښې د پاخه ضرب له لګولو ځخه وروسته که چېرته له رواجي تساهل (سستي) درګذر (تیریدنې)، وسیع الظرفي او رواداري ځخه کار واخیستل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

شي نو په يقين سره به نه دا د مُلك د استحكام لپاره گټمن وي او نه د دي فيصلي جاري كوونكى د ملك د پاچا لپاره چه اوس هغه په دغو دواړو باندي قوي گذار كوي. د دي لپاره د وخت لومړنى غوښتنه داده چه:

﴿۱﴾ له تولو لومړنيو عهدو په څانگړي توگه د فوځ له اهمو عهدو څخه دي قاديانيان برطرف كړى شي.

﴿۲﴾ د ملك په دننه كښي د هغو تنظيمونه، خوځښتونه، مركزونه، دفترونه په څانگړي توگه د دوى مركزي څاى "ربوه" باندي دي ژور نظر واچول شي.

﴿۳﴾ د هغوى تولي ليكنې او تقريرونه دي وكتل شي او د دي فيصلي لاندي راتلونكي تول چاپ شوي او نه چاپ شوي ليكنې دي ضبط كړى شي.

﴿٤﴾ له ملك څخه د باندي دي تول عالم اسلام د دي اقدام له اهميت څخه خبر كړى شي او له عالم اسلام څخه دي د دې اسې اقدامانو او غوښتنو د پوره كيدو درخواست وشي.

﴿۵﴾ په تولي دنيا كښي دي له پاكستاني سفارت خانو او د خارجه چارو سره تړلي تولي اداري دي له قاديانيانو څخه پاكې شي.

﴿۶﴾ پخپلو سفارتخانو او علمي او ديني تنظيمونو په ذريعي سره په غير اسلامي دنيا كښي د دي ډلې په خوځښتونو او دسيسو او هر ډول تگ او راتگ باندي دي ژور نظر وساتل شي.

﴿۷﴾ د دي فيصلي په خلاف بهرنى دنيا لره گمراه كوونكى قادياني او مغربي تبليغ د مؤثر او مكمل ځواب وركولو انتظامات دي وكړى شي.

﴿۸﴾ د مرزايانو په پته نيم فوځي ډوله تنظيمونو او سياسي خوځښتونو دي پابندي ولگول شي.

﴿۹﴾ په قومي تذكره او پاسپورټ كښي دي د مذهب د په گوته كولو چتك انتظامات دي وكړى شي تر څو چه كوم قادياني د مسلمان په شكل كښي د عالم اسلام په څانگړي توگه د عربو د نوكرى په پلمه د قادياني ربښه اوږدولو مركز جوړ نه كړي او كه چېرته كوم قادياني سړى وي نو د قادياني پيژند گلوي ترخنگ مخته راځي.

﴿۱۰﴾ د راتلونكي لپاره دي د كفر او ارتداد د دي خبيثي سلسلي د مخنيوي لپاره لازمي ده چه د اسلام د ارتداد سزا دي جاري كړى شي.

﴿۱۱﴾ د دي خبري پخپله په قادياني تقريرونو كښي تحريري شواهد موجود دي چه قادياني مركز په اسرائيل كښي جوړ دى او روابط ئې له ربوه سره دي. قادياني مبلغين اسرائيل ته څي. كه چېرته په مستقيمه توگه نه وي نو له دي څايه څخه برطانيې، ماريشس، جزائر فجي، نائجيريا او نورو افريقايي ملكونو او اروپايي ملكونو په نامه او بيا له هغو څايو څخه اسرائيل ته څي. د دا سې تش په نامه مبلغينو په تبليغي، دعوتي اسفارو باندي دي په مكمله توگه پابندي ولگول شي. دا څومره د شرم او د افسوس خبره ده چه د يوه اسلامي جمهوري ملك زړ

ميادلي په استعمال سره هغوى بهرني ملكونو ته څي او د اسلام او محمدي ﷺ نبوت په خالف بغاوت خپروي او د اسلام دښمنه عقائدو په خپرولو سره بې خبره مسلمانان د دجل او فريب او مكرونو په دام كښې را نيسي. او په پاكستاني زر ميادله (روپې) باندي هغوى نه يوائې په پاكستان بلكه د عالم عرب په خلاف د اسلام دښمني ډنډوره جاري ساتي.

﴿۱۲﴾ د ربوه د مرزايي تحريك معاشي عمارت د ساده لوحو او خوش عقيدگي په كريو كښي را گير شوي پيروانو په مالي او اقتصادي استحصال باندي ولاړ دى. هغوى په دا سې جال كښي گير دي چه پخپلو خولو او وينو باندي گټلي شوي گټې په لازمي توگه د مرزايي پاپائيت په نذرانه كښي لويږي. ډير واړي له دي استحصالي شكنجې او معاشي او سماجي بادى څخه خلاصون د دغو مجبورو او بې وسه پيروانو لپاره ناممكن وي. هغوى د مجبورى له مخې د خپلې آمدنى (گټې) لسمه برخه او له مرگ څخه وروسته د تول جائيداد لسمه برخه د انجمن احمديه د صدر په نامه منتقلوي. د اسې ډير لوى جائيداد ونه د مرزايي مشر په نامه دي. او د دي څاى په معاشي گډوډى كښي دا معامله ډير لوى دخل لري. دا د مرزايانو د استحصالي حربې دي چه په هغو باندي له سره د نظر اچولو ضرورت دى. له دي څخه به نه يوائې مسلمانان مطمئن كيږي بلكه د قادياني استحصال بنكار شوي د قادياني ډلې خلك هم د خلاصون په پيدا كولو سره د خپل مذهب او عقيدې په باره كښې له سره آزادي فيصلي كولى شي.

والله يقول الحق و هو يهدى السبيل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

د قادیانیت په باره کښې د قومي اسمبلي متفقه فیصله او د هغې ذیلي تقاضاوې

د ماهنامه الحق د مدیر سوالنامه او د علم او فضل د مشاهیرو او د ملک او ملت د زعماوو ځوابونه

سوالنامه

﴿۱﴾ د آئیني فیصلې په باره کښې ستاسو خاطري او خدمتونه څه دي؟

﴿۲﴾ آیا تر دې فیصلې وروسته زمونږ ذمه واری ختمې شوې؟

﴿۳﴾ په ملک کښې د ننه او له ملک ځخه د باندې د قادیاني فتنې سیاسي او دیني اثرات څه دي؟

﴿٤﴾ د دې سې مهلکو اثراتو د تعاقب د کار طریقه او د عمل لائحه څه کیدلی شي؟

(مولانا) سمیع الحق د ماهنامه الحق مدیر

الشیخ محمد صالح القزاز

د عالم اسلامي جنرل رابطې سیکرتري مکه مکرمه

حضرت المکرم الفاضل الشیخ عبد الحق المحترم، پشاور، الباکستان. السلام علیکم و رحمة الله و برکاته

تسلمت رسالتکم الکریمة رقم ۹۲۳۷ و تاریخ ۱۷ ستمبر ۱۹۷٤ء التوا عرضتم فیها عن ابتهاجکم و ابتهاج اخواننا المسلمین بما قررته الجمعیة الوطنیة بشأن الطائفة القادیانیة و اعتبارها اقلیة غیر الاسلامیة.

و الواقع ان ذلک فضل من الله حیث جاء الحق و زهق الباطل لان هذه الفئة عاثت فی الارض فساداً و نشرت رعایتها الضلالة زهاء تسعة و تسعین عاما و سیطرت علی افکار کثیر من المسلمین فی اوربا و افریقیا حیث وقعوا فی شراک ضلالها.

و انا نحمده الله تعالی علی ما اصاب هذه الطائفة الضالة من خزی و قد افتضح امرها و ما لبثه من عوامل الفرقة بین المسلمین فی السیاسة و المجتمع علی السواء و نرجوا الله الا تقوم لها قائمة بعد الآن و ان ینبه اخواننا المسلمون الی دسائسها و نوایاها السیئة و مکایدها التی یرمیها منه المسلمین الحقیقیین.

و السلام علیکم ورحمة الله و برکاته.

الامین العام، محمد صالح القزاز، (۹٤/۹/۱۳ هجری)

"قادیانیانو لره د غیر مسلم اقلیت د ګنلو په باره کښې د قومي اسمبلي په شان لرونکي فیصلې باندې ستاسو او د ټولو مسلمانانو د خوښیو ترجماني کوونکي قدرمن لیک را ورسیده. په حقیقت کښې دا د الله تعالی فضل او کرم دی چه حق غالب شو او باطل له منځه لاړ. د دې لپاره چه دې ډلې په زمکې کښې یو فساد خپور کړی وو او د دې ډلې ګمراه کوونکی دروغجن دعوت تقریبا په سلو کښې تر ۹۹ فیصده پورې خپور شوی دی کوم چه په اروپا او افریقا کښې د

پیرو مسلمانانو د فکري ګمراهي او له لارې ځخه د کړیدو سبب جوړ شوی دی. نن مونږ د دې ګمراهي ډلې رسوایي او په مسلمانانو کښې د هغې د سیاسي او اجتماعي او تفرقه اچونې او رینې جوړونې په له منځه تلو باندې د الله تعالی حمد ادا کوو او له الله تعالی ځخه هیله لرو چه تر دې وروسته د دې ډلې پښه هیڅیرته ټینګه نه شي. زمونږ هیله ده چه زمونږ مسلمانان ورونه به د هغو په سازشونو، پټو او بدو دسیسو او فریب کاریو باندې ژور نظر ساتي کوم چه دوی نې د رینښتوني او حقیقي مسلمانانو په خلاف په کار اچوي. و السلام علیکم ورحمه الله و برکاته. (د عالم اسلامي د رابطې جنرل سیکرتر محمد صالح القزاز ۹٤/۹/۱۳ هجري)

حضرت مولانا مفتي محمود صاحب د جمیعت علماء اسلام رهبر او د قاسم العلوم ملتان شیخ الحدیث

الحمد لله وحده و الصلوة و السلام علی من لا نبیّ بعده و علی اله و صحبه و من اعزّ جنده.

د پاکستان پارلمان د ختم نبوت عقیدې ته د قانوني تحفظ په ورکولو سره مرازایان غیر مسلم اقلیت وګنل. په یقیني توګه دا یوه تاریخي فیصله ده. په دې سلسلې کښې ټول قوم او پاکستاني ملت او د پارلمان ټول غړي د مبارکۍ د ورکولو مستحق دي. د ختم نبوت د تحفظ د مجلس عمل غړي په ځانګړي توګه د تبریکۍ مستحق دي کومو چه د دریو میاشتو د کوشښونو، د قید او بند د سختیو او د حکومت د هر ظلم او تعدی د زغملو ترڅنګ ټې دا تحریک کامیاب کړ. په ډیرو ځایونو کښې پولیسو په وحشیانه ډنډو باندې ووهل او جوماتونو ته له بوټو سره د ننوتو په صورت کښې په بې ګناه او بې وسه مسلمانانو باندې ټې ناروا ظلمونه وکړل، په ټانو کښې د خاتم النبیینﷺ له قدایانو سره په ځینو ځایونو کښې دا سې ناروا حرکتونه روا وبلل شول چه یادونه ټې د یوه شریف انسان لپاره ممکنه نه ده. په ځینو ځایونو کښې شهید انو د خپلو وینو نذرانې هم ورانديکړې. په دې حالت کښې کومو حضراتو چه په دې سلسلې کښې کوم خدمت، محنت، قرباني، د نیت پښه والی او اخلاص ورانديکړی وي زما عقیده ده چه د هغو د اُخروي نجات (خلاصون) لپاره کافي دی. په دې سلسلې کښې د ځینو پوهانو خلکو په اړه د دې خبرې په اوریدو سره حیرانتیا ده چه هغوی د ختم نبوت د مسئلې د دې حل په مدد سره یواځې او یواځې د بهتو وزیر د سر د ټرلو په نامشکوري سعی کښې مصروف دي. مستر بهتو د عوامي جد او جهد په مخکښې مجبور شو او د دې فیصلې تصدیق ټې وکړ. او مونږ پوهیږو چه د اسمبلۍ په دننه او د باندې (باهر) له کومو مشکلاتو سره مخامخ شو چه له هغه وروسته هغه اسلحه واچوله. مونږ چه کله ټول قوم ته مبارکۍ ورکوو نو مونږ هیڅیرې له بخل ځخه کار نه دی اخیستی بلکه ټول قوم ته د هغو او د هغه د قوم له مستثنی کولو پرته د تبریکۍ تحفه ورانديکړې ده. نه مونږ د خپل ګوند لپاره د امتیاز د اخیستلو کوشش کړی دی او نه مونږ دې خالصې مذهبي مسئلې لره د سیاسي ګټې د لاس ته راوړو ذریعه جوړه کړې ده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

مونږ خو یو اځې د ادعا کوو چه الله تعالی د اجد و جهد (کوشش) قبول کړي او چه څوك په دې جد و جهد کښې شریك شوی وي هغو ته د دنیا او آخرت ثمره ورکړي۔

د بر صغیر (پاکستان او هندوستان) خلکو د برطانوي استعمار له غلامۍ څخه د خلاصون د تر لاسه کولو لپاره د آزادۍ غوښتنه وکړه، کوششونه ئې وکړل، آخر ئې کوششونه کامیاب شول او د برطانیې د لیبر ګوند حکومت او د هغه وخت وزیر اعظم مستر اټیلي د مجبورۍ له مخې زمونږ غوښتنې ومنلې او مونږ ته ئې آزادي راکړه۔ نو آیا د هندوستان د آزادۍ لپاره د مستر اټیلي او لیبر ګوند برطانوي حکومت ناري دي ولګول شي او که د مجاهدینو د آزادۍ تحریك ته دي زنده باد ووایل شي؟

تازه واقعه ده چه الجزائر د فرانسې له غلامۍ څخه د خلاصون د تر لاسه کولو لپاره له اوه لکو څخه تر لسو لکو پورې د مجاهدینو وینې ورانديږ کړې، په آخر کښې د فرانسې حکومت د عوامو د آزادۍ د غوښتنې په منلو سره هغو ته آزادي ورکړه۔ نو آیا اوس فرانسه او جنرل ډیګال د مبارکۍ مستحق دي او که د الجزائر شهیدان او مجاهدین؟

د اندونیشیا عوامو د سوئیکارنو تر رهبرۍ لاندې له اوږدو کوششونو وروسته له "ډچ" قوم څخه آزادي حاصله کړه، د ډچ قوم ئې غوښتنې ومنلې۔ اوس کوم خلك د مبارکۍ مستحق دي؟ ډچ قوم او که د اندونیشیا عوام؟

په هر حال د ختم نبوت د تحریك د مجاهدینو په خلاف د ظلم او تشدد، خونریزي او بربریت ګناه چه د چا پسې لیکل کیږي کم تر کمه د تحریك د کامیابیو پګړۍ دي د دا سې خلکو په سر باید و نه تړل شي۔ پیپل ګوند یو دا سې ګوند دی چه غړیو ئې په انفرادي یا اجتماعي توګه باندې د قوم له دې عظیمې غوښتنې او تحریك سره ملګرتیا و نه کړه او جلا او لرې پاتې شو۔ له عمل څخه ئې ثابته کړه چه د هغو له دې غوښتنې او تحریك سره هیڅ اړیکې نشته۔ بیا پیپل ګوند یا د هغه صدر په کوم ډول د الهام مدار ګرځول کیږي؟ فیا للعجب!

لنډه دا چه په مجموعي توګه قوم او نمایندګانو ئې د یوې تاریخي فیصلې په صادرولو سره په قانوني توګه د مرزایانو دواړه ګروپونه له اسلام څخه د باندې وګنل او هغوی ئې د پارسیانو، سکهانو، هندوانو، عیسایانو، بودایانو، شیډول کاسټ (ذلیلو او جارو کشو) په صف کښې ودرول او دا خبرې ئې انجام ته ورسولې چه:

﴿۱﴾ کوم سړی چه دا عقیده لري چه تر حضور ﷺ وروسته بل چا ته کوم ډول نبوت چه په هر شکل کښې وي یا د کوم خیال مطابق وي ورکول کیږي نو هغه کافر دی۔

﴿۲﴾ کوم سړی چه د دا سې ډول نبوت د څان لپاره دعوی کوي هغه کافر دی۔

﴿۳﴾ چه څوك دا سې د نبوت مدعي لره په نبوت مني نو هغه هم کافر دی۔

﴿۴﴾ چه څوك د نبوت دا سې مدعي مذهبي مصلح ګڼي هم کافر دی۔ دا هم فیصله شوه چه که

چېرته مرزایي منافق شي او ځان ته مسلمان ووایي نو هغه د ختم نبوت په خلاف تبلیغ نه شي کولی۔ که چېرته ئې وکړي نو د سزا مستحق به وي کوم چه د دوو کلونو د بندي کیدو په شکل کښې کیدلی شي۔

کوم مرزایي چه ځان کافر بولي نو هغه د قانون مطابق د خپل مذهب تبلیغ د قانون او عامه امن په دائره کښې به کوي۔ اګر که د دا سې څرګند کافر سړي د تبلیغ په چاباندې کوم خاص خطر نه لري لیکن مسلمانان دې باید له دې فیصلو څخه د خوښیدو په صورت کښې له غفلت څخه کار وانه خلي۔ اوس له دې مسئلې سره تعلق لرونکي ډیر اروند مسائل پیدا کیږي چه د هغو حل هم ضروري دی۔ په نژدې وخت کښې به زه په دې سلسله کښې د حکومت له نمایندګانو سره خبرې وکړم او د دغو څو مسائلو د حل په پلتنې کښې به پوره پوره کوششونه وکړم۔ الله تعالی دي توفیق را په برخه کړي۔ په بنکاره توګه اروند مسائل دا دي۔

﴿۱﴾ د مرزایانو دواړه ګروپونه دي د اوقافو حکومت پخپلې سپارښتنې کښې واخلي تر څو چه د اسلام د خپرونې لپاره خلکو چه خپل کوم جائداد ونه وقف کړي دي د هغو آمدني د کوم غیر اسلامي مذهب په خپرید و کښې مصرف نه شي۔

﴿۲﴾ په ربوه کښې واقع سپینې زمکې لره دي فوراً په مسلمانانو باندې د ویشلو په صورت کښې د خلاص او آزاد بنار د تاکلو عملي صورت دي پیدا کړی شي۔

﴿۳﴾ د مرزایانو لاهوري ګروپ یو انجمن جوړ کړی دی کوم چه د اشاعتِ اسلام د انجمن په نامه سره نومول شوی دی هغوی به دا نوم د قانون له مخې بدلوي د دې لپاره چه هغوی اوس د اسلام د خپرونې کار نه کوي۔

﴿۴﴾ مرزایي به خپل تبلیغ د اسلام په نامه سره نه شي کولی، په هغو باندې دې قانوني پابندي ولګول شي۔ د دې لپاره چه اوس د هغوی مذهب د قانون له مخې اسلام نه دی پاتې شوی۔

﴿۵﴾ د اسلام ځانګړي اصطلاحات کوم چه یواځې له اسلام او مسلمانانو سره خاص دي د هغو له استعمال څخه به د قانون له مخې منع کیږي۔ لکه جومات، امیر المؤمنین، خلیفه، صحابي، ام المؤمنین او د اسې نور۔

دا او د دې غوندې نور امور زمونږ د قانوني فیصلې لازمي نتیجې دي تر څو پورې چه دا نتائج په کار وانه چول شي نو دستوري یا قانوني فیصلې [illegible] ئې د کاغذي فیصلې حیثیت غوره کوي۔

اعاذنا الله و جمیع المسلمین فی بلادهم من هذه الفتنة الداهیة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

حضرت العلامه مولانا ظفر احمد عثماني مد ظله، خليفه حضرت تهانويؒ
د جامعه اسلاميه تنډو الله يار سند هـ شيخ الحديث

مکرمي! السلام عليکم و رحمة الله! د رمضان المبارک له وجهې په ځواب کښې لږ ځنډ راغی. نن ورځ ۳۰ د رمضان کښې ځواب درکوم.

﴿۱﴾ د قادياني مسئلې کوم حل چه د پاکستان وزير اعظم او کابينې ته کړی دی زه په دې باندې وزير اعظم او کابينې ته ټې د زړه له کومې مبارکي ورکوم چه دا فيصله د شريعت مطابق او د عامو مسلمانانو د جذباتو موافق دی. جزاکم الله خير الجزا.

﴿۲﴾ قاديانيانو لره د غير مسلم اقليت ترګټلو وروسته د حکومت فريضه ده چه هغوی له لوړو عهدو ځخه جلا کړي او د پاکستان له فوځ ځخه خو دې بالکل جلا کړي ځکه چه مرزا غلام احمد قادياني په مذهب کښې جهاد منسوخ شوی دی. د دې لپاره د ده په منونکو کښې د جهاد جذبه نه وي. له دې پرته عام مسلمانان دې له هغو سره بايد اسلامي تعلقات و نه ساتي. کوم سړی چه پخپله قادياني شوی دی هغه مرتد دی چه د دريو ورځو په مهلت ورکولو سره (که چېرته په دغو دريو ورځو کښې له قاديانيت ځخه توبه و نه باسي) ټې قتلول د حکومت فريضه ده، او کوم سړی چه پخپله مرتد نه وي بلکه د مرتد اولاد وي، هغه که چېرته نور خلک مرتد کوي نو د هغه هم دغه سزا ده او که چېرته نور خلک نه مرتد کوي نو له هغه سره دې اسلامي تعلقات نه ساتي.

﴿۳﴾ او که کوم قادياني وغواړي چه توبه وباسي نو د هغه د توبې د قبولو لپاره دا شرط دی چه هغه به مرزا غلام احمد قادياني کافر او مرتد بولي. همدارنګه چه څوک هغه لره نبي مني هغه به هم کافر او مرتد بولي.

و السلام: ظفر احمد عثماني ۳۰ رمضان ۱۳۹٤ هجري

حضرت مولانا مفتي محمد شفيع صاحب مفتي اعظم پاکستان د
دار العلوم کراچي صدر او باني

الحمد لله و کفى و سلام على عباده الذين اصطفى اما بعد:

د قادياني مسئلې په حل باندې د هر مسلمان جذبات او احساسات يو ډول دي. له اوږدې مودې ځخه وروسته الله تعالى مسلمانانو ته داسې ريښتوني خوښي ور نصيب کړې ده چه د عالم اسلام هره برخه خوشحاله معلوميږي. دا د هغه اوږده جد و جهد يوه کاميابه مرحله ده چه مسلمانانو او د اسلام علماوو د ډيرې بې وسۍ په عالم کښې شروع کړې وه. زه د دې قافلې يو ادنى غوندې ملګری يم کوم چه امام العصر حضرت علامه انور شاه کشميري صاحبؒ په رهبري کښې د قادياني فتنې د بندولو لپاره روان شوی وم. ما ته هغه وخت ښه را ياد دی چه

کله استاذ مکرم حضرت شاه صاحبؒ د دې ګمراهی له اثر او نفوذ ځخه هره ثانیه بې آرامه اوسیده او زړه ټې په هيڅ ډول قرار نه نيوه. د انګريزانو حکومت وو چه توله سرپرستي ټې قاديانيانو کوله. د دې لپاره مسئله نوره هم سره پيچلي شوې وه. او د مسلمانانو جد و جهد به ګام په ګام له حوصله ماتوونکو حالاتو سره مخامخ کيده. زما هغه وخت هم په ياد دی چه کله د بهاولپور په مقدمي کښې د کار کولو لپاره حضرت شاه صاحبؒ موټر خدامو لره په بهاولپور کښې رايو ځای کړل او چه کله په دې وړې مقدمي کښې مسلمانانو ته فتح مبين ور په برخه شو نو په هغه وخت کښې د ماتو زړونو مسلمانانو خوښي د ليدلو وړ وه. ځکه چه په هغې مقدمي کښې په لومړي ځل قاديانيان په عدالتي سطحي باندې غير مسلم وګڼل شول.

نن که چېرته حضرت شاه صاحبؒ او د هغه د حق د کاروان نور ملګري موجود وای نو د هغو د خوښي به ځه عالم وو؟ د دې اندازه کول مشکل دي. باطل به خامخا يوه ورځ له منځه تلونکی وي ليکن د الله تعالى له طرفه د هر کار لپاره يو تاکلی وخت مقرر وي. زه د الله تعالى شکر نه شم ادا کولی چه دا وخت زما په ژوند کښې راغی چه د هغې قافلې يوه ادنى غوندې خادم ته د دې خوښيو پخپلو سترګو باندې ليدل ور په برخه شول. فلله الحمد کله و له الشکرُ کله

له دې خوشحالي سره زه د پاکستان د ملک په وجود باندې هم د الله تعالى شکر نه شم ادا کولی ځکه چه که چېرته دا ملک نه وی جوړ شوی نو دا کار به سر ته نه رسيده. الله تعالى دې دا ملک قائم او دائم لري او د حق دين د خدمت دې له زيات نه زيات توفيق ور په برخه کړي. آمين

له دې کاميابي ځخه وروسته اهمه پوښتنه دا ده چه اوس به مسلمانان څه کوي؟ کوم خلک چه د دې کاميابي په نښې کښې دا اهمه پوښتنه شا ته وغورځوي يا د دې پوښتنې په ځواب کښې له پوهې، هوښياري او اخلاص ځخه کار وا نه خلي نو د دې کاميابي په تولو اثراتو باندې د اوبو د شيندلو مرتکب به وي.

واقعه دا ده چه د قاديانيت په سلسله کښې له دې کاميابي ځخه د دې خوځښت يو اځي يوه منفي مرحله طی شوې ده، د دې مرحلې مقصد دا وو چه په حق او باطل او اسلام او کفر کښې د امتياز او فرق يوه ځرګنده ليکه دې و ايستله شي او دنيا ته دا ځرګنده شي چه دا مذهب له اسلام سره هيڅ اړيکې نه لري ليکن د دې مرحلې له طی کيدو وروسته اوس مثبت کارونه تول پاتې دي.

او په هغو کارونو کښې تر تولو لومړی کار دا دی چه کوم خلک د حق له لارې ځخه په اووښتو سره د قاديانيت د فريب په دام کښې راګير شوي دي هغوی په انتهايي حکمت، دردمندي، زړه سوانده او د پيغمبرانه دعوت او تبليغ په ذريعي سره د بيرته راولو کوشش وشي.

د قادياني مذهب ډير پيروان داسې دي چه دا مذهب له مور او پلار يا چاپيريال ځخه په ميراث کښې ور پاتې دی او هغوی د دې مذهب له ډبرينو (سختو) ګمراهيو ځخه خبر نه دي

پریښودل شوي او ډیر خلك د اسې دي چه دا مذهب یوه فرقه وارانه مسلك بولي او د کوم دنیوي مقصد په خاطر د دې مذهب تابع ګرځیدلی دي۔ د اسې خلکو ته د همدردۍ، نرم او مخلصانه دعوت په ذریعه له حقیقت څخه د خبرولو او د خدای څخه د ویرولو ضرورت دی۔ د دوی په مخکښې د دې مذهب د بانې (مؤسس) هغه خبرې د نرمۍ او خیر خواهۍ له مخې د وړاندې کولو ضرورت دی له کومو خبرو څخه چه د قادیانیانو اصلي ځیره څرګندیږي۔

ځینې خلك د اسې دي چه له اسلام او د هغه له علومو څخه د ناخبرۍ په سبب سره په واقعیت کښې د غلط فهمۍ ښکار شوي دي۔ هغوی دې هم د دلائلو او تبلیغ او دعوت په ذریعه له دې ګمراهۍ څخه د را ایستلو کوشش باید وشي۔ که چېرته د حکمت، اخلاص او د دعوت د ریښتوني جذبې له مخې دا کار وکړی شي نو د الله له ذات څخه هیله ده چه د قادیانیانو یو لوی تعداد به مسلمانان شي۔ او که چېرته الله تعالی یو سړی هم زمونږ د دې دعوت په ذریعه د حق د لارې ملګری کړي نو تر دې پورته بل سعادت زمونږ لپاره نشته۔

دا کار خو باید هر مسلمان سر ته ورسوي، کوم مسلمان چه چېرته هم اوسیږي باید پخپل چاپیریال کښې په د اسې خلکو کار وکړي۔ لیکن په ځانګړي توګه عالمان، دیني ډلې او اداري دې باید د دې غرض لپاره د خپلو حالاتو او وس مطابق د کار ځانګړي طریقې جوړې کړي۔ د قادیانیت په موضوع باندې د تقریرونو کمي نشته لیکن له هغو څخه دې د مختلفو درجو تقریرونه غوره کړي او د لنډو رسالو په شکل کښې په منظمه توګه د شائع کولو او خپرولو ضرورت دی۔ په کومو ځایونو کښې چه قادیانیان زیات اوسیږي هلته دې په دې موضوع باندې پوهیدونکي خلك د تبلیغي وفدونو په شکل کښې هغو خلکو ته د اسلام دعوت ورکړي او هغوی دې سیخې لارې ته د بیرته راوستلو هر ممکن کوشش وکړي۔

بلې خواته د حکومت کار دا دی چه هغو په خوځښتونوباندې دې ژور نظر لري او د هغو هغه ټول رعایتونه دې ختم کړي کوم چه په تیر وخت کښې هغو په ناجائزه توګه تر لاسه کړي وو۔ په نوکریو کښې دې د هغو د آبادي لحاظ باید وسائل شي، هغوی دې د مسلمان په حیثیت سره د تبلیغ له کولو څخه منع کړي او بهرني ملکونو کښې د سفارت خانو په ذریعې سره د اسې خبر پاڼې تقسیم کړي چه د اوسني پارلمان د بل په تشریحاتو باندې مشتمل وي۔ چه بهرني ملکونه د دې بل له مضمراتو څخه خبر شي او د قادیانیانو له خوا څخه د تش په نامه مظلومیت چه کوم تبلیغ کیږي د هغه مخه و نیول شي۔ و الله سبحانه و تعالی هادی الصواب۔

حضرت العلامه شمس الحق افغانې صاحب د دار العلوم دیوبند او جامعه اسلامیه بهاولپور پخوانی شیخ التفسیر

عزیز القدر الحاج مولانا سمیع الحق صاحب! السلام علیکم ورحمه الله و برکاته! ستاسو له اخلاص څخه ډك لیك د قادیانیانو د فیصلې د حل د تاثراتو په باره کښې را ورسیده۔ په دننې زمانې کښې د ځینو مجبوریو له وجهې څخه چه حکومت کومه فیصله وکړه دیر د مسلمانې او جرأت څخه ډك اقدام دی چه د دې جرأت مخکښینیو پاچایانو نه شوای کولی۔ په دې دور کښې تر دې زیات ممکن هم نه وو۔

لا اله الا الله محمد رسول الله ولکن رسول الله و خاتم النبیین

﴿۱﴾ اسلام د الٰهي توحید په صورت کښې د خدای پیژندنې اصلي روح دی۔ د محمدي ﷺ رسالت په ذریعې سره ئې حقیقي تشکیل او تشخیص کیږي، له دې لحاظه د حقیقي خدای پیژندنې لپاره د رسالت پیژندنه پخپل اصلي شکل کښې لازمي او ضروري ده کوم چه ختم نبوت دی۔ که چېرته د ختم نبوت وصف له انکار سره مخامخ شي نو د رسالت حقیقي نشه له منځه ځي ځکه چه توحید، محمدي ﷺ رسالت، ختم نبوت د اسلام د اسې دري بنیادي کړۍ دي چه د یقین له درجې سره دومره ارتباط لري چه د دریم له انکار څخه دویم او د دویم له انکار څخه د لومړي حقیقي یقین هم له منځه ځي۔

﴿۲﴾ **د رالونکي لپاره د کار لانده او تجویز:** په دنیا کښې تر ټولو لوی طاقت د آواز طاقت دی، د فرعون تاج، تخت او جبروت حضرت موسیٰ علیه السلام له منځه یووړ، د قیصر او کسرٰی لوی لوی حکومتونه د محمدي ﷺ غږ په رسید و سره له زمکې سره برابر شول، د روس د زار راج لره د لینن آواز له منځه یووړ، تر دې اصول لاندې مرزایي تنظیم او اثراتو لره ئې یواځې آواز له منځه وړلی شي۔ دا د حکومت د وس خبره نه ده، حکومت خپل حق ادا کړ، اوس د غږ یا آواز یعني تحریري او تقریري تبلیغ په ذریعې سره هر مسلمان، هر مرزایي ته په اخلاص سره تبلیغ کول په ځان لازمي کړي، تاجر له تاجر سره مخامخ کیږي، ملازم له ملازم سره۔ تصنیفونه او په زرګونو تقریرونه نه شو انجامولی۔ او تر ټولو لویه خبره دا ده چه د اسلام او د اسلام د تبلیغ په نامه سره "د احمدیت" د تبلیغ کوم کار چه مخکښې کیده هغه بې اثره او بې بنیاده شو۔

﴿۳﴾ د دې فیصلې دا اثر اچونې او انقلاب پیدا کونې تر څنګ د علماوو ذمه واری نه کمیږي بلکه نورې هم زیاتې شوې۔ د مسئلې فیصله اګر که په حکومتي او انتظامي سطحې باندې شوې ده لیکن په علمي او فکري سطحې باندې د دې فیصلې د مختتم کولو لپاره د ختم نبوت په موضوع باندې د لوړو، یقین پیدا کوونکو او محققانه کتابونو او مضامینو ضرورت دی۔ کم تر کمه په عربي، اردو او انګریزي ژبو کښې او د لویو د قدر وړو او فاضلانه کتابونو په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

موجود والي کښې کوم چه تر اوسه پورې تصنیف شوي دي، اوس ئې هم ضرورت دی.
د حضرت والد ماجد په خدمت کښې سلام ووایی او زما په حق کښې ترې د دعا درخواست وکړی. (۸ نومبر ۱۹۷۴)

حکیم الاسلام مولانا قاري محمد طیب قاسمي صاحبؒ
د دار العلوم دیوبند مهتمم

د دار العلوم دیوبند د ملك له تقسیم څخه په کلونو کلونو مخکښې په اتفاق سره د بر صغیر علماوو د ختم نبوت له بنیادي او قطعي عقیدې څخه په انکار باندې قادیاني ډلې ته مرتد او له اسلام څخه وتلي بللي وه. د انګریز پیدا کړل شوی دا دروغجن نبي او د ده په ذریعې سره د اسلام د حق مذهب په خلاف په مذهبي رنګ کښې د دې ذلیل ترین او خطرناك بین الاقوامي سازش پرده ننه بحمد الله د اسلامي دنیا د اصلاح د اوږدې مودې مهلت تر ورکولو وروسته ځیري کړه او د اسلامي ملکونو د ۳۲ اسلامي تنظیمونو مشرانو کانفرانس (چه په جدې کښې ۱۹۷۳ء کښې منعقد شوی وو) په اتفاق سره تر ټولو صحیح او تاریخ اعلان وکړ چه قادیاني ډله په غیر مشروطي طریقې باندې د خاتم الانبیاء حضرت محمد رسول الله ﷺ د مقدس ذات لره د ختم نبوت په توګه د نه منلو او د انبیاء کرامو علیهم السلام د سپکاوی د کولو له وجهې څخه قطعا مُرتد او د اسلام له دائرې څخه وتلي دي. د عالم اسلام دا متفق او تاریخي د حق اعلان اهل حق ته نه یواځې قوت ور وبښه بلکه د قادیانیانو د مرتد والي په باره کښې په قرآن او حدیثو باندې مبني د اهل حق دیني موقف ته عظیم کلك والی ور بخښلي دی.

د عالم اسلام د دې متفقې فیصلې څخه وروسته د پاکستان د حق علماء او عام مسلمانان د مبارکۍ مستحق دي چه دوی د قادیاني ډلې د ارتداد په باره کښې خپل او د دنیا د ټولو مسلمانانو د حق موقف په حکومتي سطحې باندې د تائید او توثیق په حاصلولو کښې ورباندې والی وکړ. هیله ده چه د نورو اسلامي ملکونو علماء او عام مسلمانان هم د قادیانیت د فتنې په ګلي توګه د منځ کیدو په لار کښې د اسلامي حمیت لاندې د هر ممکن تقویت او تائید په رسولو کښې دریغ و نه کړي تر څو د خدای په نزد ماجور او د مسلمانانو په نزد مشکور شي.

او هر یو د خپل څنګلوري ملاتړ ته په نرمه او همدردانه توګه باندې هره ورځ چه کله موقع په لاس ورځي تبلیغ شروع کړي او د تبلیغ لپاره دې له اړوندو کتابونو او علماء کرامو څخه مرسته تر لاسه کړي او له هغو سره دې رابطه جاري ساتي. (۸ شوال ۱۳۹۴ هجري)

یاد ګار سلف، اسیر مالتا، د حضرت شیخ الهند صاحبؒ
خاص شاګرد حضرت مولانا میان عزیز ګل صاحب د امت برکاتهم

برادرم حضرت مولانا سمیع الحق صاحب زاد الله معالیکم.
السلام علیکم و رحمه الله و برکاته! اما بعد: د لطف او کرم لیك دې د سر لوړی سبب شو، ستاسو له حُسن ظن څخه شکریه ادا کوم اګر که ئې زه مستحق نه یم.
﴿۱﴾ مجلس عمل چه کوم کار کړی دی د ډیرې شاباسی وړ دی.
﴿۲﴾ کار شروع شو لیکن ختم نه شو. یو کار د حکومت وي او یو کار د رعیت. د رعیت کار د مجلس عمل د حکم عملي کول دي. له بنده سره کوم خاص تدبیر نشته، ما په قصد سره د ځواب ورکولو کوشش نه دی کړی. لیکن ستاسو دوهم ځل لیك مجبور کړم، دا عریضه د دې وړ نه ده چه مشهوره شي. والد صاحب ته مو مسنونه سلام ورانديکوم. (یکم نومبر ۱۹۷۴ء)

حضرت مولانا سید ابو الحسن علي ندوي مد ظله د ندوة العلماء لکهنو سربراه

محب ګرامي منزلت زید لطفه! السلام علیکم ورحمه الله و برکاته!
له محبته ډك لیك ۲۴ اکتوبر پرون په ۷ نومبر کښې را ورسید. له ډیرې مودې وروسته ستاسو مبارك نوم او لیك په لیدو سره خوشحاله شوم، سترګې مې د ګاونډي ملك د ملګرو او بزرګانو خطونو او لیکنو ته ډیرې شوقیني وي او کله کله به دا ګومان راغی چه ښایي اوس په ژوند کښې په مستقیمه توګه د خط او کتابت په ذریعه رابطه و نه شي. په ډیر نه فرصت کښې دا دوه لیکې ستاسو د انتظار د رفع کولو په خاطر لیکم.
﴿۱﴾ د دنیا مسلمانانو ته په عمومي توګه او د دې لویې وچې مسلمانانو له ځانګړیتوب سره د پاکستان له دې فیصلې څخه چه کومه خوښي ور په برخه شوه هغه په بهترې طریقې سره د دې شعر په ذریعې سره بیانیدلی شي کوم چه یوه شاعر د بیت المقدس د فتحې په وخت کښې پخپل قصیدې کښې د صلاح الدین ایوبي په وړاندې ویلی وو.

هذا الذی کانت الایام منتظر — فلیوف لله اقوام بما نذروا

"دا هغه مبارکه موقع ده چه له اوږدې زمانې څخه ورته په انتظار وم، اوس دې خلك خپل هغه نذرونه پوره کړي چه په هغه کښې ئې منلي وو".
دې یوې فیصلې د افهام او تفهیم او قلبي آرام هغه خدمت سر ته ورساوه چه د علماوو د سلګونو

له شك او شبهې پرته د عالم اسلام دا فیصله او تائید او توثیق بهښې د قادیاني ډلې له دوکې او فریب څخه د دنیا د مسلمانانو د ساتنې اهم ترینه ذریعه جوړیږي. د دې لپاره په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

عمومي توګه ټول علماء او د پاکستان او هندوستان ټول مسلمانان او په خصوصي توګه د دیوبند علماء د اسلام د تحفظ د دې فیصلې کوونکو ته د زړه له کومې مبارکي وړاندې کوو. او دعا کوو چه الله تعالی د حضور خاتم الانبیاء و المرسلین ﷺ په لاس د راوړل شوي دا آخري او ابدي دین ته له زیات څخه زیات غیبي نصرت او تائید وکړي. آمین

د دار العلوم دیوبند اکابر استاذ ان

مولانا فخر الحسن صاحب، مولانا محمد سالم قاسمي،

مولانا انظر شاه کشمیري، مولانا محمد شریف حسن،

مولانا معراج الحق، مولانا نصیر احمد

محترم او مکرم مولانا سمیع الحق صاحب زید مجده! السلام علیکم ورحمه الله و برکاته!

د مهربانۍ په لیک دې مشرف شولو، د قادیانیت د مسئلې د حل لپاره مؤقره میاشتنی "الحق" له ځانګړي خپرونې څخه په خبرید و باندې یوې خوا ته د زړه خوشحالي را په برخه شوه بلې خوا ته دا خبره د تاسف موجب شوه چه را لیږل شوي سوالونو ته په بیړه د ځوابونو د رالیږلو په لازښوونې باندې مشتمل ګرامي مکتوب دې په داسې وخت کښې را ورسیده چه حضرت مکتوب الیه حکیم الاسلام حضرت مولانا قاري محمد طیب صاحب مد ظله د جنوبي هند په اوږد سفر باندې وو. او چه کله راغی نو دوه درې ورځې له اهمو مصروفیاتو څخه د فارغیدو په صورت کښې فوراً د بیت الله د حج په سفر باندې لاړ. سفر خو ئې په هوایي جهاز (طیاري) کښې وکړ د دې لپاره کید ای شي چه تر ۲۰ جنورۍ پورې بیرته راشي. لیکن دا څنډ هم ستاسو د لیک په رنا کښې زیات محسوس شو. قدرمن لیک دې حضرت مهتمم صاحب ته تر وړاندې کولو وروسته ضرور در لیږم لیکن د بیړې اشاري ته دې په کتو سره مو دا مناسبه وګنله چه دا لیک د دار العلوم دیوبند حضراتو اکابرو ته وړاندې کړی شي. د قدرمن لیک د پوښتنو په باره کښې د دار العلوم دیوبند د اکابرو له خوا څخه لنډ ځوابونه ستاسو په خدمت کښې دي.

په صلیبي جنګونو کښې د مسلمانانو په لاسونو عیسایانو ته تر پیچلو ذلت ناکو تاریخي ماتو څخه وروسته تر ډیرې اندازې پورې د عیسائیت د رهبرۍ عالمي مشرانو خپل بخت او تخت انګریزانو په لاس کښې ورکړه. د دې کبرۍ قیادت د حق ادا کولو لپاره انګریزانو خپل فطري او چالاکه صلاحیتونه له اسلامي ملت څخه د انتقام اخیستلو په محور باندې مرکوز کړل. او د قومي شرافت او انساني اخلاقیاتو د قربانۍ په ورکولو سره د قیادت دې اعزاز له نورو پې قوم کومه قیمتي سودا و نه ګنله. لکه څرنګه چه له اوږد فکر او تدبر څخه وروسته د اسلامي ملت په خلاف انګریزانو خپل د غچ اخیستنې سیاست په دوو زهر جنو منصوبو باندې بنا ئسته کړ.

﴿۱﴾ د لومړنۍ دسیسې محور د مسلمانانو د اجتماعي شوکت او سیاسي وحدت لـــره

درې وړې کول وو چه سر چینه ئې اسلامي خلافت وه. د دې لپاره ئې په تُرکو او عـــربو کښې په انفرادي مفاد باندې اجتماعي ښیګړي قربانوونکي هوس کاران جعفر او صادق په لتون کښې شول او د خـــلافت د فطري ثمرې په توګه لاس ته راغلی اسلامي یو والي لـــره فرنګي دسیسه جوړوونکو په وطني ډیر والي باندې بدل کړ او ملت ئې له خپلو عظمتونو څخه لاس مینځلو ته مجبور کړ.

﴿۲﴾ د دوهمې دسیسې مقصد د اسلامي ملت د "دیني یو والي" تکړي تکړي کول وو چه د هغه ناقابل اختلاف شی، د اتحاد مرکزي تکی د نورو زرګونو اختلافاتو تر څنګ د ختم نبوت عقیده ده. د نفرت وړ دې منصوبې په سبب سره د اسلامي ملّت د دې منصوصي او قطعي عقیدې په دې ډول زخمي کول وو چه که چېرته په کلي توګه ختمه نه شي نو د تردّد او شك د تبنې په جوړید و سره کم تر کمه د اتحاد تکی خو پاتې نه شي.

د دې لپاره انګریزانو د ازلي کذاب مرزا غلام احمد قادیاني خاندانې بې ضمیرې او ایمان خرڅول معلوم کړل او نبي ئې جوړ کړ او د ختم نبوت په عقیدې باندې ئې پوخ ګذار وکړ.

بیا لکه څرنګه چه مذهبي ژوندي آثارو له د انسانیت او شرافت سوځوونکي سیاست د هدف په جوړولو باندې د تاریخ هر هر تکی به د انګریز په دنائت باندې ګواه وي. همدارنګه د تردید نه وړ دې حقیقت باندې هم د تاریخ هر هر تکی به د تل لپاره د عدل ګواه وي چه د انګریزانو دا بد نهاد غچ اخیستونکی سیاست د دوارو منصوبو په لومړنیو مرحلو باندې د هغو تر پایه پورې ورسیدل. او د فتنو له دغو درسونو څخه د ملي تحفظ تدابیرو لره د بساط (فرش) په اندازې باندې په کار راوړلو کښې د خدای په توفیق سره یواځې علماء کرام حضرات لومړي توب وکړ او له نن څخه اتیا کاله مخکښې د قادیان د کذاب او د هغه د پیروانو په باره کښې د مرتد او له اسلام څخه د خارج والي فیصله د دیوبند اکابرو د خپل دیني بصیرت او ایماني فراست له مخې صادره کړه.

د دغو مخلصینو مساعي مشکور شول او دعاګانې ئې مستجابې شوې چه نن ټول عالم اسلام په یوې ژبې باندې د لوی کذاب مرزای قادیان او د هغه د بیرغ پورته کوونکو په باره کښې الحمد لله شرعي فیصلې لره د اجتماعي فیصلې حیثیت ورکړ.

او دې "اجتماعي فیصلې" ته د آئیني او دستوري حیثیت ورکولو د لومړیتوب د مرتبې په حاصلولو سره د پاکستان ملك، علماء کرام او عام مسلمانان ئې د دې دعا تر څنګ د تهنیت او تبریکي لائق دي چه اللّٰهُمَّ اعزّ الاسلام و المسلمین و انصرهم علی عدوّك و عدوّهم.

لکه څرنګه چه د قادیاني دا دورغجن نبوت د انګریزانو د غچ اخیستنې د ذهن حاصل وو د دې لپاره ئې شروع هم په بین المللي سطحي باندې شوې وه. ځکه چه د اثراتو ئې په بین المللي سطحي باندې پراخوالی غوره کول حیرانوونکي خو نه دی لیکن د فکر ځای خو خامخا دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

له دستوري کامیابي وروسته د بلاغ او ابلاغ د لویو ذمه وارۍ پوره شعور او احساس د فراست او دیانت په تقاضا سره خو دی لیکن د مقابل لوري د راسخ العداوت د جوړیدو له وجهې د دې فرض ادا کول د ضرورت او سیاست تقاضا هم جوړه شوې ده چه د دغو ټولو وسائلو او ذرایعو متاقباً مخنیوی د بنیادي اهمیت حامل ګرځیدلی دی کومو لره چه مخالف لوري د خپل عصري تعلیمي لوړوالي، ناجائزه اقتصادي بې پروایي، په بین المللي توګه پیژندګلوي، د مؤنرو، مقتدرو شخصیاتو تائید، فکري نوي والي او عددي قلت له وجهې د اجتماعي نظم او ضبط سره استعمالوي او په راتلونکي کښې هم دا سې کوي۔

البته په دې باره کښې د باطل د اعیانو په مقابله کښې چېرته چه په "اشدآء" باندې عمل کول ضروري معلومیږي د ساده لوحي له وجهې په ګمراهۍ کښې د اخته شویو په مخ کښې د "رُحمآء" عملي تفسیر وړاندې کول تر دې هم زیات ضروري او د وخت فریضه محسوسیږي۔ په تیري زماني کښې د دین او علم د خاوند انو موقف دفاعي پاتې شوی دی کوم چه پخپل ذات کښې د پراخوالي او ټول نیوني غوښتونکی نه دی لیکن دې فیصلې د اهل علم موقف د دفاع په ځای په اقدام تبدیل کړی دی۔ او که اقدام له پراخوالي او ټول نیوني څخه خالي وي نو هغه اقدام نه پاتې کیږي۔

مونږ هم کہ آسودګۍ ناخدا ہم ہاست — مازندہ از ان ایم کہ آرام نہ گیریم

د کار د لاسې په ترتیب کښې مقامي مؤثراتو او عواملو لره په لحاظ کښې ساتل او تر خارجي مؤثراتو او عواملو پورې د ځان د رسولو اندازه کول د لوازماتو له جملې څخه وي۔ د دې لپاره په دې باره کښې له اهل خبر څخه د مشاهدې د اهل بصیرت باید زیات د اعتماد وړ وي۔ و السلام

مولانا سید ازهر شاه قیصر د دار العلوم دیوبند د میاشتنی مدیر

قدرمن محترم، سلام مسنون

ما ته ستاسو لومړی لیک نه دی را رسیدلی، دوهم لیک دې ۱۲ دسمبر نن په تاریخ د ۲۴ دسمبر را ورسید، په پاکستاني ډاکخانې کښې ډیره ګډوډي ده، هیڅ یو خط هم تر پنځلسو ورځو مخکښې نه رسیږي۔

ستاسو د "الحق" په تازه ګڼه کښې د قادیانیت په مسئلې باندې مې د پاکستاني اکابرو علماوو تاثرات هم ولوستل۔ په دې مسئلې کښې زما رایه دا ده چه دا یواځې د پاکستاني عوامو لپاره نه بلکه د اسلامي دنیا لپاره لویه کامیابي ده چه پاکستاني حکومت قادیانیان یو غیر اسلامي اقلیت وبلل۔ د دې لویه فائده دا ده چه قادیانیان د لوستونې مارانو جوړ شوي او اسلام او مسلمانانو ته تاوان رسوي، اوس په توله نړۍ کښې هغوی له اسلام څخه د وتلي په ګڼلو کښې آساني جوړه شوه۔ لیکن دا هم ضروري ده چه د یوه غیر مسلم اقلیت په حیثیت باندې په پاکستان کښې د هغو د ځانونو، مالونو، عزت او آبرو پوره ساتنه وشي۔ هغوی د یوه غیر مسلم

اقلیت (کافر) د ګڼلو مطلب هیڅکله دا نه دی چه په یوه اسلامي ملک کښې دې د هغوی عزت، آبرو او ښاري حقوق د پښو لاندې شي۔

په عملي میدان کښې د قادیانیت په خلاف په مشټې اندازې کښې د کار کولو دروازه اوس خلاصه ده، د علماوو فریضه ده چه د اسې تعمیري تقریرونه او تحریرونه تیار کړي چه د هغو له وجهې پخپله قادیانیان په ختم نبوت، نزول مسیح او د اسې نورو مسائلو په حقیقت پوه کړي۔ او د مرزا غلام احمد قادیاني متضاد، لغو او له عقل څخه لرې دعوې باطلې کړي۔ دا تبلیغ او تحریک چه په ځومره مثبت او تعمیري اندازې سره وي همدومره کامیابي به هم وي۔ پخپله په قادیانیانو کښې دې هم تبلیغ وشي او په مفکرانه اندازې سره دې هغه ګلا رنګه شي کومه چه قادیاني لیډرانو د خپلې ډلې په شا و خوا کښې وهلې ده، له نرمۍ او ملاطفت سره دې د ګمراه فرقه اسلام ته نژدې کړی شي۔ په خصوصي توګه یو کوشش باید ضرور وشي چه قادیانیان دې له کلیدي (اهمو) عهدو څخه لرې کړی شي، هغو چه په مخکښې ورځو کښې ملک ته کوم تاوان رسولی دی له هغه تلسو به تلسو ناخبره نه وی۔ لیکن کوم خلک چه لرې کړی شي هغو ته په بدل کښې بل روزګار برابرول به د حکومت فریضه وي۔ کاش چه وخت زیات وی او ما له تفصیل سره خپل خیالات وړاندې کولای شوای۔ و السلام۔

حضرت العلامه مولانا سید محمد یوسف بنوري د مجلس عمل صدر

محترمه وروره مولانا سمیع الحق صاحبه! زادکم الله توفیقاً الی الخیر السلام علیکم ورحمه الله!

څرګنده نه ده چه لیک دې کله را رسیدلی دی او چېرته دی لیکن له خپل زوی محمد بنوري سلمه له خوا دا څرګنده شوه چه تلسو د ځواب انتظار کوی او خپرونه مو معطله کړې ده۔ د دې لپاره څو تکي لیکم، د تفصیل نه حاجت، نه فرصت او نه همت شته۔ لنډ بلکه په ایمان سره عرض دی چه آئیني فیصله ډیره صحیح او با صوابه ده۔ اګر که پس له وخته او پس له ډیرې خرابۍ څخه ده۔ وزیر اعظم پخپله په اخباراتو کښې دا اعتراف کړی دی چه د "قادیاني مسئلې له حل کیدو ځخه پاکستان ته سیاسي استحکام حاصل شوی دی" او یوه صاحب دا اعلان وکړ چه "پاکستان اوس په صحیح معنی سره پاکستان جوړ شو"۔ د غو دواړو سیاستدانانو له دې اعلان څخه حقیقت څرګندیږي او دا خبره هم تري څرګندیږي چه دا کار باید ځومره وخت مخکښې شوی وای؟

دلته زمونږ ذمه واري ختمه نه شوه بلکه د غو آئیني نقوشو ته تر څو پورې چه عملي جامه ورواندې غوستل شي تر هغه وخته پورې مقصد نیمګړی دی۔ او د "مسلمان در گور و مسلماني در کتاب" غوندې معامله به وي۔ د ملک دننه قادیانیان څه ردّ عمل لري او هغه تذبذب دی، مایوسي ده او له زیات څخه زیات د ګیدړې غوندې د دروغو ډارول دي نور څه نه دي۔ د ملک د باندې تر دې پورې چه په انګلستان کښې هم د دې ښه اثرات مرتب کیږي لیکن په افریقایي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

ملکونو کښې د دې آئینې فیصلې د خپرونې او عام کولو ډیر ضرورت لاپاتې دی۔ د حکومت لپاره د خپلې لمنې د ساتلو لپاره ضروري ده چه په عربي، انګریزي، فرانسیسي ژبو کښې دا فیصله د خپلو سفیرانو په ذریعې سره په ټولې دنیا کښې عامه کړي۔

دا وخت چه د حکومت کومه پالیسي ده په هغې کښې تسامح، تغافل، تذبذب بلکه یو ډول نفاق دی، هغه په عملي صورت کښې هیڅ اقدام نه دی کړی، نه نې هغه قیدیان خوشې کړل، نه نې ربوه ته د باقاعده تحصیل شکل ورکړی دی۔ کیدای شي چه له مرکز څخه زیات د پنجاب د حکومت د دوه مخې پالیسي یا طرفدارانه پالیسي نتیجه وي۔

په هر حال حالات که چېرته مایووسونکي نه دي نو زیات امید زیاتوونکي هم نه دي، پس دا وخت د زیاتو لیکلو فرصت نه لرم یو څه تفصیلات شته۔ والسلام۔

حضرت مولانا غلام غوث هـــــزاروي مد ظله

برادرم مولانا سمیع الحق صاحب! السلام علیکم ورحمه الله وبرکاته

د قدر وړ لیک مو را ورسید۔ الله تعالی مرزائیت له منځه وړی دی، اوس نې معامله د نورو کفارو غوندې ده، دوی د پارسیانو، سکهانو، عیسایانو او هندوانو غوندې شول، د نکاح او داسې نورو مسائل حل شول۔ زمونږ په تکټ باندې دوی ممبر نه شي جوړیدلی۔ او داسې نور نور۔ د نورو مسائلو په باره کښې هم مونږ باید هیله من یو چه زر تر زره حل شي۔ زه د دې خبرې سخت خلاف یم چه ځیني خود غرضه او اقتدار خوښوونکو خلکو ویل چه حکومت مرزایي شوی دی، مرزایان نازوي، دا مسئله ځنډوي۔ زما وروره! دا کافي ده۔ باقي زه پوهیږم چه د مرزائیت مسئله ختمه شوه، کم تر کمه دا مسئله مونږ د خپل وجاهت مسئله نه شو جوړولی۔ څومره چه دیني ضرورت مخته راځي هغه به کوو۔ الله تعالی دې توفیق را نصیب کړي۔ فقط

(۱۸ اکتوبر ۱۹۷۴ء)

جناب سید ابو الاعلی مودودي باني جماعتِ اسلامي پاکستان

محترم او مکرمه! السلام علیکم ورحمه الله وبرکاته

ستاسو له مهربانۍ څخه ډک لیک را ورسیده چه په هغه کښې تاسو د قادیاني مسئلې په اړه څو پوښتنې کړې دي۔ ستاسو لومړی سوال دا دی چه د قادیاني مسئلې د حل په اړه ستاسو احساسات څه دي؟ بنکاره خبره ده چه د دې مسئلې له حل څخه ستاسو مراد د قومي اسمبلۍ اوسنی فیصله ده۔ له شبهې پرته د اسمبلۍ او حکومت دا فیصله ډیره مستحسنه او د ټولې دنیا د مسلمانانو لپاره د خوشحالۍ ذریعه ده۔ او په دې باندې چه مونږ څومره خوښي و لمانځو او د الله تعالی شکریه ادا کړو نو بالکل به پر ځای وي۔ لیکن زمونږ حکومت، قومي اسمبلي او عامه مسلمانان باید په دې غلط فهمۍ کښې را نه شي چه په دې سلسله کښې د دوی ذمه اوس

ختمه شوه او په دې فیصلې باندې قادیاني مسئله پوره پوره حل شوې ده، د دې برعکس حقیقت دا دی چه دا یواځې لومړی ګام دی چه په صحیح طرف را پورته شوی دی۔ او تر اوسه پورې ډیر ضروري کارونه داسې پاتې دي چه له هغو پرته به دا معامله هم هغسې پاتې وي بلکه دا اندیښنه هم کیدلی شي چه خدای مکړه نورې پیچلې مسئلې پیدا نه شي او مونږ د دې فیصلې له فائدو څخه بې برخې نه شو۔ ستاسو د مهربانۍ یو لیک مخکښې هم را رسیدلی وو، اوس د یادونې او غوښتنې بل لیک دې هم را ورسیده چه په دې کښې تاسو زر ځواب غوښتی دی۔ نو د کرنې یو څو ضروري کارونه کوم چه اوس وخت مې په ذهن کښې راځي په لاندې ډول دي:

﴿۱﴾ په ۷ ستمبر باندې قومي اسمبلي له آئینې ترمیم څخه پرته یو دا اقرارداد هم منظور کړی دی چه د پاکستان د تعزیراتو ماده د الف څخه وروسته دې د ب زیاتوالی وشي چه په هغه کښې دا لیکلی وي:

"کوم مسلمان چه د محمد رسول الله ﷺ د ختم نبوت د مفهوم د پاکستان د آئین د ۲۶۰ مادې ۳ شق په خلاف د عقیدې اعلان یا د هغه په خلاف عمل یا تبلیغ وکړي نو هغه د سزا او تعزیر وړ وي"

دا اقرارداد غالباً په بیړه کښې ترتیب او بیا کامیاب شوی دی او په ابتداء کښې نې د "مسلمان" د لفظ د لیکلو له وجهې ابهام او اشتباه پکښې پیدا شوی دی۔ بنکاره خبره ده چه د کوم مسلمان په اړه دا تصور هم نه شي کیدلی چه د داسې شنیع (ډیر بد) جرم مرتکب وګرځي او له مرتکب کیدو وروسته دې د مسلمان ویلو مستحق پاتې شي۔ پخپله دستوري ترمیم دا فیصله کړې ده چه داسې سړی به د اسلام له دائرې څخه وتلی وي اګر که هغه د مسلمانۍ دعوې هم وکړي۔ چنانچه د دغو الفاظو سره د دې سزا په اطلاق کښې سختي مخته راځي۔ لهذا د پاکستان په تعزیراتو کښې دې مجوزه ترمیم لره د ځرګند او غیر مبهم جوړولو او د هغه د تنفیذ د مقصد د آسانولو لپاره ضروري ده چه شروع نې دیوه مسلمان (Muslim) په ځای د اسلام له مدعي (To be A Muslim) A Person (Preacher) څخه وشي تر څو چه د بشر یو فرد هم د مسلمانۍ د دعوی تر څنګ د ختم نبوت د مسلّمې عقیدې او مفهوم په خلاف د هیڅ قول او عمل اظهار و نه شي کړی۔

﴿۲﴾ د قومي اسمبلي په فیصلې باندې د عمل کولو لپاره د یو څو نورو قوانینو له جوړولو څخه هم بالکل خلاصون نشته۔ د مثال په توګه په انتخابي قوانینو کښې باید داسې ترمیم وشي چه د هغه مطابق د ووټرانو په فارم کښې د نامه د لیکلو په وخت کښې په هر لاهوري او ربوي مرزایي باندې د قانون له مخې دا لازم کړی شي چه هغه خپل ځان د غیر مسلمو په خانه کښې مرزایي یا احمدي ولیکي او او د دواړو ګروپونو لپاره به خپل ځان مسلمان لیکل جرم وي۔ چه د هغه به کم تر کمه سزا له رأیې ورکولو څخه به بې برخې والی وي۔ د رجسټریشن ایکټ لاندې شناختي کارت (تذکره) جوړیږي په هغه کښې دې هم باید ترمیم وشي چه د هغه له مخې به په شناختي کارت کښې هم داسې څرګندونې لازمي او غلط بیاني به د سزا موجبه وي۔

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

﴿۳﴾ همد ارنګه د حکومت په هر نوکر باندې باید دا لازم وي چه که چېرته هغه د قادیانیانو په دغو دوو ګروپونو کښې له یوه سره تعلق ولري نو هغه به د دې خبرې باقاعده اطلاع د خپلې محکمې په واسطه سره حکومت ته ورکوي او چه څوک دا سې و نه کړي او یا غلطه اطلاع ورکړي نو هغه به د نوکرۍ لپاره نااهل بلل کیږي، په پاسپورټ کښې به هم د دې ډول لیکنې او په دا سې خلاف ورزي باندې د قانون له مخې باید سزا لازمه وي۔ څرګنده شوې ده چه د حکومت په ځینو محکمو کښې د قادیانیانو فهرستونه تیاریږي لیکن په هغو کښې د ځینو قادیانیانو نومونه نه دي لیکل شوي یا تر لیکلو وروسته حذف کړی شوي دي۔ لیکن په دې باندې د هیڅ یوه قادیاني په خلاف هیڅ پلټنه یا تادیبي کارواېي نه کیږي ځکه چه په قانون، قواعدو او ضوابطو کښې د دا سې ګنجائش موجود نه دی۔

﴿٤﴾ قادیانیانو چه کوم ډول په ملکي او په خصوصي توګه په فوجي نوکریو کښې د مسلمانانو په حقوقو باندې غاصبانه او ناروا قبضه کړې ده د دې پلټنه او له منځه وړل هم ضروري دي۔ لکه څرنګه چه د صدارت او وزیر اعظمي لپاره د صدر او وزیر اعظم مسلمان والی لازمي شرط دی همد ارنګه په ځینو نورو اهمو منصبونو لکه د فوځ د لوی درستیز (چیف آف آرمي سټاف) چوکی، د لوړو عدالتونو د قضا چوکی، په اسمبلي کښې د سپیکر انو چوکی، د سفارت چوکی، د ولایتونو د والي چوکی، د وزراء اعلیٰ چوکی او د ملکي نوکرۍ کمیشن د صدارت لپاره هم باید د قانون له مخې مسلمان والی شرط و تاکل شي۔ همد ارنګه په ځینو حکومتي او نیم حکومتي ادارو کښې د داخلیدو لپاره د مسلمانانو او کافرو کوټې دي ځان ځانته وتاکل شي۔ هلته هم د قادیاني امیدوارانو لپاره د داخلې په وخت کښې د خپل مذهب اعلان لازم او خلاف ورزي ئې باید د سزا موجب وي۔

﴿٥﴾ قادیانیان دا خبره په ډاګه کوي چه د قومي اسمبلي د فیصلې سره سره مونږ مسلمانان یو۔ هغوی د اسلام په نامه خپلو عقائدو ته اسلامي عقائد وایي او د ملک په دننه او د باندې د خپلې عقیدې تبلیغ او تلقین کوي۔ مرزا غلام احمد ته تر اوسه پورې نبي، مسیح موعود، مهدي معهود، د هغه منونکي صحابۀ کرام او د هغه خلیفه ته د مسیح خلیفه وایي او لیکي ئې، دا مسئله ډیره سنګینه او د حکومت او عامو مسلمانانو لپاره تر آخرې درجې پورې د غور مسئله ده۔ دا د قانون هم خلاف وزي ده او د ټولې دنیا د مسلمانانو لپاره د زړه د آزار او اشتعال انګیزي هم ده۔ کومه ډله چه قانوناً او شرعاً د اسلام له دائرې څخه وتلی ګڼل شوې وي هغې ته د اسلامي اصطلاحاتو د جوړولو او د اسلام د مُدعي او مبلغ والي هیڅ حق نشته۔ که چېرته دا خلک په همدې ډول سره د مسلمانانو سینې زخمي کوي نو دوی او د مسلمانانو تر منځ هیڅکله هم د صلحې او ورورولي فضاء نه راځي او حکمرانان د دوی له دې حرکتونو څخه چه هر څومره سترګې پټې کړي تر څو پورې چه په عامو مسلمانانو کښې د ایمان او اسلام

پو بخرکی پاتې وي نو د دوی دا سې خوځښتونه هیڅکله هم نه زغمي۔

﴿٦﴾ د قادیانیانو په مقابله کښې چه مسلمانانو کوم بې مثاله اتفاق او اتحاد بنکاره کړ د هغه د همیشه پاتې کیدلو کوشش باید وشي۔ جزوي اختلافات که چېرته موجود وي نو باید چه د مناسبو حدودو په منځ کښې پاتې شي او په علمي طریقې سره ئې باید اظهار وشي، اختلاف ته د مخالفت له رنګه ورکولو څخه باید پرهیز وشي او هر اختلاف د حق او باطل، کفر او اسلام اختلاف باید جوړ نه شي او که نه وي نو ګټه ئې یواځې قادیانیانو ته رسیږي لکه څرنګه چه مخکښې ور رسیدلې۔

﴿٧﴾ د قادیانیانو له قانوني تکفیر څخه وروسته یو ضروري کار بل هم شته چه باید وشي او هغه دا چه قادیانیان د حکمت او موعظۀ حسنه له مخې له قادیانیت څخه د توبې په کولو او د اسلام د قبلولو دعوت ورکړل شي، د قادیانیانو قیادت او سیادت چه د کومو خلکو په لاس کښې دی او د کوم خلکو مفادات چه له همدغو رهبرانو سره تړلي دي ممکنه ده چه د اسلام په راوړلو کښې له تامل او تذبذب څخه کار واخلي او د پاکستان پریښودل پرې غوره کړي لیکن عام قادیانیان کوم چه د خلافت مانۍ ته نژدې نه دي بلکه د مسلمانانو په عامو کلیو کښې میشت دي هغو ته که چېرته د اسلام صحیح لارښوونې په صحیح طریقې سره ور وړاندې شي او د قادیانیت حقیقي خیره هم هغو ته ور وښودله شي نو انشاء الله چه د اسلام په دائره کښې له داخلیدلو څخه نه بیرته کیږي۔ په هغو کښې مونږ ډیر خلك دا سې لیدلي چه د مرزا غلام احمد قادیاني او د هغه د زامنو له ډیرو لیکنو څخه خبر نه دي او چه کله په لومړي ځل د هغو مخې دا لیکنې راشي نو پخپل ځان کښې حیران او پریشانه پاتې شي او له قادیانیت څخه د توبې په ایستلو سره مسلمانان شوي دي۔

﴿٨﴾ په دې سلسله کښې له حکومت څخه زمونږ یوه غوښتنه دا ده چه صمد انې راپور دې له زور او زیر سره خپور کړي او کوم خلك چه د دې راپور له مخې مجرم دي هغوی دې پخپل سزا باندې ورسول شي۔ همد ارنګه چه کوم نور سیاسي او انتظامي وړاندیزونه د دې راپور په رنا کښې کیدونکي وي هغه دې په سمدستي توګه په عمل کښې راوستل شي۔ که چېرته ئې زمونږ، حکومت او عوامو له سستي او غفلت څخه کار واخیست نو له دې سازشي او ګمراه ډلې څخه د نورو زخمونو د خوړلو له خطر سره به مخامخ یو۔ لاتدر الله۔

و السلام

(٦نومبر ١٩٧٤ء)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

حضرت مولانا محمد اسحٰق سندیلوي کـــــــراچي

مکرم او محترم، السلام علیکم و رحمة الله و برکاته،

ستاسو ملفوفه قدرمن لیک ما ته له رمضان شریف څخه وروسته را ورسید او کارډ هم نن لاس ته راغی، په ځواب کښې د ځنډ وجه دا ده چه زه مریض وم او اوس هم څه تکلیف لا پاتې دی چه له وجې نې کار را نه پاتې شو، له نن څخه مې کم کم کار شروع کړ، ځوابونه په لاندې ډول دي:

﴿۱﴾ د قادیانیانو کفر خو له مسلّماتو څخه دی، حکومت نې منې او که نه منې مسلمان اُمت نې کافر ان ګڼي، په دې اعتبار سره د حکومت دا رویه کوم ځانګړی اهمیت نه لري، البته د ده هیله ده چه حکومت اوس په حقیقت باندې اعتراف وکړ او د سیاسي اعتبار له مخې نې هم قادیاني کافر وګڼه، زه ډیر په دې خوشحاله یم چه اوس تقریباً په ټوله اسلامي نړۍ کښې هغوی متفق په دې متفق شول چه دا خلك کافران دي، د خوښۍ ټر ښکارولو وروسته د اعرض کول هم غواړم چه زما خوښي محدوده ده، یعنې زه دومره خوښي نه محسوسوم څومره نې چه عام خلك محسوسوي۔ د دې لومړۍ وجه دا ده چه زه یواځې دا اقدام د قادیاني مسئلې حل نه بولم۔ اصل مسئله خو دا ده چه د قادیانیت له وجهې چه کوم دیني او دنیوي نقصانونه مسلمه امت ته رسیږي له هغو څخه مسلمانان محفوظ وي۔ د دې شکل دا دی چه د سیاسي اعتبار له مخې له هغو سره هغه معامله وشي چه له کوم غیر مسلم اقلیت سره کیږي، هغو ته په نوکریو او د اسې نورو کښې د هغو د آبادۍ په تناسب سره ځای ورکړل شي او په لوبو لوبو عهدو کښې و نه ګمارل شي، د باطل او کفر له خپرونې او بې خبره مسلمانانو ته دې له فریب ورکولو څخه منع کړی شي، ربوه نې چه خپل کوم مرکز جوړ کړی دی کوم چه هغو سلطنت در سلطنت ساتلی دی دا صورت حال دې په مکمله توګه له منځه یووړل شي او ربوه دې هم د اسې ډول یو بنار وګڼل شي لکه څرنګه چه د پاکستان نور بنارونه دي۔ تر څو پورې چه دا و نه شي تر هغو پورې څنګه ویل کیدلی شي د قادیانیت مسئله حل شوه؟ او مونږ ته به څنګه پوره خوښي نصیب کیدلی شي؟ بله وجه دا ده چه په مجلس عمل کښې د شیعه ګانو شاملول سخته غلطي وه چه له مخې نې سخت دیني او سیاسي نقصانونه را ورسید او په راتلونکي کښې هم د نقصان د را رسیدو قوي اندیښنه موجوده ده، په دغو نقصانونو باندې له نظر اچولو او د نفع او نقصان د مقابلې له کولو وروسته د خوښۍ اندازه نوره هم کمیږي۔

﴿۲﴾ د قادیانیت اثرات تولې دنیا ته نه شي خپریدلی لیکن تقریباً تولې دنیا ته رسیدلی دی۔ دا اثرات په دوه ډوله دي۔ یو پخپله پوره قادیانیت چه د ائره نې دومره پراخه نه ده اګر که نې قادیانیان د پراخوالي زیات تبلیغ کوي۔ بل اثر نې تشکیك (شك اچونه) او په دین او د دین په اهل باندې د بې اعتمادي پیدا کیدل، عقائد، په ځانګړې توګه د عیسٰی علیه السلام د نزول عقیده او د ختم نبوت په عقیدې کښې کمزوري او ضعف پیدا کیدل، د دې اثر خو اته زمونږ

توجه ډیره کمه ده، په د اسې حال کښې چه د دې فتنې د ائره ډیره وسیعه او پراخه ده، او په تولې دنیا کښې به ډیر کم د اسې ځایونه وي چه دا فتنه نه وي ور رسیدلې، د دې په خپرولو کښې قادیاني او شیعه دواړه شریك دي بلکه شیعه ګان ډیر پکښې د خیل دي۔ د ډنیا د لویو طاقتونو د سرپرستۍ له وجې د قادیانیت د فتنې سیاسي اثرات هم په بنکاره توګه خپاره شوي دي او زمونږ خپل ملك نې یوه نمونه ده، د افریقې په نوي حکومت باندې نې هم خاص اثر پروت دی۔

﴿۳﴾ تر څو پورې چه فتنه موجوده وي تر هغو پورې ذمه واري ختمه نه ده، او که اوس خو د نورې هوښیارۍ او بیدارۍ ضرورت دی، چه د اسې نه وي چه عام مسلمانان خپله ذمه واري ختم و نه بولي او غافل نه شي او له دې غفلت څخه قادیانیان د ګټې په پورته کولو سره په اسلامي نسل کښې ګمراهي خپره نه کړي۔ قادیاني اقلیت ته به تحفظ خامخا باید ورکړ شي، د هغو ځان، آبرو، عزت او مال باید بالکل محفوظ وي لیکن د دې معنی دا نه ده چه په مسلمانانو کښې د ګمراهۍ د خپرولو او له خپلو جائزو حقوقو څخه د تجاوز اجازه ورکړی شي۔

﴿٤﴾ تر څو پورې چه دا فتنه په دنیا کښې موجوده وي تر هغه وخته پورې نې مقابله کول او د اثر اتو د له منځه وړلو د کوشش جاري ساتل نې لازم دي۔

﴿٥﴾ د کار طریقه ظاهره ده چه پخپله دوی ته د حق د دین دعوت ورکړل شي، مسلمانان له دې فتنې څخه د خبرولو تر څنګ د فتنې له اثراتو څخه نې د ساتلو کوشش وشي، د دې لپاره د قادیانیت د ردّ او د اهل سنّت د عقائدو استحکام باندې د مناسبو لیکنو تر څنګ د وعظ او تبلیغ د مجلسونو انتظام هم باید وشي، ډیره اهمه او مؤثره او ضروري خبره دا ده چه په عوامو کښې د اسې کسان تیار کړی شي کوم چه د قادیانیت باطلوالی او د اسلام حقانیت نې په ډ هنونو کښې کښینوي۔ دا خلك د لیکنو لپاره هم خالي میدان پیدا کړي او د وعظ او تبلیغ لپاره هم فضاء تیاره کړي، دا د کار هغه طریقه ده چه زمونږ لارښوونکي دې خوا ته متوجه نه دي، برسیره پر دې چه زمونږ لیکنې باید داعیانه وي چه د استدلال د قوت تر څنګ له دعوتي نفسیاتو څخه به هم کار پکښې واخیستل شي۔

و السلام (۱۰ شوال ۱۳۹٤ هجري)

حضرت مولانا محمد اشرف صاحب صدر شعبۂ عربي اسلامیه کالج پشاور

الحمد لله وحده انجز وعده و نصر عبده و هزم الاحزاب وحده و الصلوة و السلام علی من لا نبیّ بعده. اما بعد!

محترمي و مکرمي زید مجدکم و جهادکم في سبیل الله۔ السلام علیکم و رحمة الله و برکاته۔

د قادیاني مسئلې د موجوده حل په باره کښې په څو استفساراتو (پوښتنو) باندې مشتمل لیك دې د سعادت او خوښۍ سبب وګرځید، ګواکه فقیر نې اهل نه دی لیکن د نبي کریم، فخر الانبیاء، خاتم النبیین، سید المرسلین ﷺ د ختم نبوت د تاج او د رسالت د ناموس په باره کښې څوتکي مې چه د سعادت او نجات ذریعه وګرځي نو څومره ښه قسمت به مې وي۔

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

﴿۱﴾ ختم نبوت یوه مسلّمه او متفقه عقیده ده چه له توحید څخه وروسته د اسلام بنیاد هم د دې عقیدې پرته له کوم غل و غش څخه په څرګند تعبیر باندې مبني دی۔ نبي کریم ﷺ (روحي فداه) تول کمالات په یوه نه یو صورت کښې د "ختم نبوت" ثمره دي، د ده مبارک ﷺ رحمة للعالمیني شان "عمومي بعثت"، دائمي رسالت، د ده مبارک ﷺ د امت بعثت او خیر الامم والی، د قرآني حکمونو دوام او د اسي نور تول د "ختم نبوت" نتائج او ښکارندوی دي۔ د امت مسلمه انتظام د ختم نبوت په رسي باندې اوبدل شوی دی۔ امتونه له "نبي" څخه جوړیږي، او دا الهاني او جاودانی امت د ختم نبوت په برکت سره ژوندی او ولاړ دی۔ د دې لپاره په هر دور، هر زماني کښې د امت هر طبقې او مکتبۀ فکر دا عقیده د اسلام روح او بدن ومانه او د ختم نبوت د ناموس لپاره د خپل هر څه په قربانولو کښې خپله کامیابي او کامراني ومنله۔ او که چېرته کوم مخترې او بدبخته د نبوت په حریم کښې د قدم اینبودلو زړورتیا کړی دی هغه ئې سمدستي ختم کړی او اُمت په یوه دور کښې هم له ختم نبوت څخه بغاوت او دا ابلیسي او شیطاني سازش نه دی زغملی۔ لکه څرنګه چه زمونږ او ستاسو د تولو باد ار او مولی سید دو عالم حضرت محمد ﷺ له دُنیا څخه تر رحلت مخکښې چه کله یو څو بخت ازموونکو لکه مسیلمه کذاب او اسود عنسي په شکل کښې خپل پټ خباثت ښکاره کړ نو د نبوت درباب د هغو انجام په یوه پوکي سره له منځه یووړ۔

په صدیقي دور کښې د امت او صحابه ووّ لومړی اجماع او عملي اقدام له دغو متنبینو سره په قتال باندې وه۔ همدارنګه په کوم دور کښې هم چه په چا باندې نه دا منحوس خبط سپور شو نو اُمت هغه لره ختم کړی دی۔ دا د دې دور کم نصیبي، زمونږ د اعمالو د بدوالي او د انګریزي استعمار او سیاست انتهایي دجل، فریب او دوکه وه چه د پنجاب مسیلمه آنجهاني مرزا غلام احمد قادیاني او اُمت ته ئې په اسلامي معاشرې کښې د پاتې کیدو دومره اوږده موده په لاس وراغله، په امت کښې د ابلیس له خوا را لیږل شوي متنبینو کښې لکه څرنګه چه د انګریزي استعمار دا خپل کرل شوی بوتی پیدا شو او څوان شو او د خپل دعوت لیکونه ئې خپاره کړل نو دا د اسلام د تاریخ یوه غمناکه دروازه ده۔ ګوا که د مرزا قادیاني د نبوت د مشئومه دعوت له لومړی ورځې څخه د امت خواص او عوام د دې "خبیثې ونې" مهلك اثرات پیژندلي وو او د دفاع او له منځه وړلو کوشش ئې شروع کړی وو۔ لیکن مرزا قادیاني او اُمت ئې د انګریزانو او استعماري طاقتونو د سیوري لاندې او د هغو د ایجنټ (نمایندې) په حیثیت سره د اسلامي امت لپاره د ناسور او آکاش بیل (PERASITE) شکل اختیار کړی دی۔ له برکو چك څخه د انګریزانو تر ایستلو وروسته زمونږ د ځینو لیډرانو د کم حوصلګي او لنډ لیدنې په پاکستان کښې د هغو لپاره مواقع پیدا کړي وي چه قادیانیت کوم چه انتهایي کم او حقیر اقلیت دی د هر سپین او تور مالك جوړیده او د خپل کفر ئې برملا ښکاره کړ چه یو په یو د حق غیرت په

جوش کښې راغی او د ربوه ریلوي سټیشن واقعه مخته راغله کوم چه په حقیقت کښې د قادیاني سیاست او سازش ډیر مضبوط او انتظام شوی اقدام وو چه د اکثریت د جذباتو او حالاتو د معلومولو لپاره د (FEELKR) په حیثیت سره ازمیل شوی وو لیکن "کوهی کیندونکی پخپل کوهي کښې" له مخې خپله د دوی د بې هوشي سبب وګرځید۔ د سوات په فقیر کښې (۲۸ مني څخه د جون تر لومړي تاریخ ۱۹۷۴ء پورې) حضرت الاستاذ علامه سید محمد یوسف البنوري مد ظله العالي سره په سفر کښې یو ځای وم۔ غالباً د مني د میاشتي دیرشمه وه چه مونږ له مینګوري څخه په موټر کښې تیریدو چه اخبار مې را واخیست چه د ربوه واقعه او د نهټر میدیکل کالج ملتان په طلباوو باندې د قادیانیانو د حملي ذکر وو۔ ما علامه بنوري مد ظله ته د اخبار خبره وکړه، حضرت موصوف په ژور فکر کښې ډوب شو، د علاج پوښتنه مې نري وکړه نو نه ځ، چوپتیا وروسته ئې وفرمایل:

"عدو شرّی بر انگیزد که خیر ما دران باشد"

مونږ نه سره یو کیدلو یعنې زمونږ اتفاق نه راتلو، ممکنه ده چه دا واقعه مونږ مسلمانان سره یو او متحد کړي او د دې فتنې مخه و نیوله شي"۔

رښتیا ده چه:

قلندر هر چه گوید دیده گوید

په ۷ ستمبر ۱۹۷۴ء دري میاشتې او لس ورځې وروسته د حق رحمت متوجه شو او زما د قدیر او لایزال خدای قدرت د داخلي او خارجي قوتونو، د قادیانیانو د یقین او وړاندوینو په علی الرغم او د خوږ رسول خاتم النبیین حضرت محمد رسول الله ﷺ د ختم نبوت په لازوال تاج باندې د ډمنانو د ګرد پاشلو نامسعوده کوششونه ناکام کړل او د مسلمانانو د متحده کوششونو او قربانیو ته ئې د قبولیت شرف د ور په برخه کولو سره د پاکستان قومي اسمبلي ته د توفیق ورکړ چه یو مسلّمه او منل شوي رښتینولي او ثابت شوي حقیقت ته د قانوني شکل په ورکولو سره د خدای او د خلکو په مخکښې سرخروی او عزت مند شي۔

مبارك دي هغه حضرات چا چه دا فیصله وړاندې کړې ده او خوش بخته دي د اسمبلي هغه غړي چه دا فیصله ئې له زور او زیر سره قبوله کړه او د قانون شکل ئې ورکړ۔ د ستاینې او صد آفرین وړ دي هغه خلك او ډلې کومو چه له اسمبلي څخه د باندې هر ډول سختي او مشکلات په زغملو سره ئې له دې مسئلې څخه د انکار ګنجائش له منځه یووړ۔ الله تعالی دې بې شمیره او لامتناهي رحمتونه د هغو شهید انو ارواحو ته ولیږي کومو چه د رسالت د ناموس په ساتنه کښې ئې ابدي ژوند پیدا کړ۔ او الله تعالی دې د هغو تولو علماوو، مشائخو او مجاهدینو قیرونه پخپلو انوارو باندې منور کړي کومو چه د قادیاني فتنې له لومړی ورځې څخه د دې لعنت د ختم کولو کوششونه کړي دي۔ بحمد الله که چېرته د قادیاني مسئلې په دې قومي حل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

باندې او د مضمراتو (مخفي شيانو) او مقتضياتو (غوښتنو) په رنا کښې په ديانتداري او اخلاص سره عمل وشي او عملاً په کار واچول شي نو دا حل به د مسلمانانو د توقعاتو (هيلو) مطابق ګنل کيدلی شي، ليکن دا حل تر اوسه پورې يوه آئيني فيصله او تدبير دی، قانون چه څومره ښه او صحيح وي چه تر څو پورې عمل پرې و نه شي د هغه له ثمراتو او ګټو څخه ځوک برخه من کيدلی نه شي۔ د دې لپاره ضرورت د دې دی چه موجوده فيصلې ته د الفاظ او معنی او د هغې د آئيني روح په مطابق عملي جامه ور واغوستل شي او د دې په ضمن کښې د وخت د حکومت ذمه واري ده چه کم تر کمه په لاندينې خبرو باندې سمدلاسه عمل وکړي۔

﴿۱﴾ د پاکستان لـــــه نظرياتي مسلم مملکت لـــــه تولو لويو لويو څوکيو څخه دې قـــــاديانيان لرې کړی شي۔

﴿۲﴾ په عامو حکومتي نوکريو کښې دې د خپل نفوس مطابق وتاکل شي او په تيرو ۲۷ کلونو کښې چه دوی څومره په نوکريو کښې له خپلې برخې څخه زيات د مسلمانانو په حق باندې قبضه کړې ده تر څو پورې چه د خپل حق مطابق برابر نه شي تر هغو پورې دې نوي تاکنې بندې شي۔

﴿۳﴾ د ربوه مستقل حيثيت دې له منځه يوړل شي او په عملي توګه دې يو آزاد بنار جوړ کړی شي او عام مسلمانان دې هلته آباد کړی شي۔

﴿٤﴾ "فرقان رجمنټ" او د قاديانيانو نور فوځي او نيمه فوځي تنظيمونه دې سمدستي له منځه يووړل شي۔

﴿٥﴾ د هغوی د ليکنو او ادبياتو تول کتابونه، رسالې او عبارتونه دې ضبط کړی شي او په خپرونې باندې دې بنديز ولګول شي چه په کوم کښې چه د انبياء عليهم السلام او د اسلام د شعائرو بې حرمتي او سپکاوی شوی وي او يا د قرآنکريم په الفاظو او معنی کښې تحريف او د ختم نبوت ځان ځاني تشريح پکښې شوی وي۔

﴿٦﴾ په ملي شورٰی (نيشنل يعنې قومي اسمبلي) کښې دې په قادياني مسئلې کښې د کار کولو نګرانې (څارنه) و شي او بيا دې خپور کړی شي خصوصاً د شورٰی د قرارداد (فيصلې) ضميمه "د ملت اسلاميه موقف" کتاب دې په حکومتي سطحې باندې په عربي، انګريزي او اردو ژبو کښې وژبارل شي او ديوه روښانه راپور په توګه دې په تولې دنيا کښې خپور کړی شي او سفارتخانو ته دې د دغو کتابونو نقلونه وليږل شي تر څو د دې فيصلې حقانيت تولو خلکو ته ښکاره شي۔

﴿۷﴾ د قاديانيانو ثبت نام، نفوس شماري، تذکرې (شناختي کارډونه)، پاسپورټونه او نورو تولو حکومتي فورمو کښې چېرته چه د مذهب خانه وي هلته دې دوی د غير مسلم په حيث وليکل شي۔ که چېرته په دې اړه دوی له غلط بياني څخه کار واخلي او له تحقيق څخه وروسته ټې غلطي ثابته شي نو د سزا او ږ جرم دې وګنل شي چه د پاسپورټ په دائمي ضبط او له نوکرۍ څخه د را ايستلو او داسې نورو سزاګانو په شکل کښې وي۔

﴿۸﴾ قاديانيان دې د مسلمانانو د مسلمه شرعي او ديني اصطلاحاتو له استعمالولو څخه منع کړی شي او د هغو عبادت ځايونه دې د جومات په ځای د قادياني معبد يا په کوم بل نامه باندې ونومول شي او همدارنګه د هغوی ذبيحه، غم او بنادي او داسې نورو تولو اسلامي احکامو کښې چه د کفارو په باره کښې کوم احکام راغلي دي هغسې معامله دې له دوی سره هم وشي، د ژمياتو غوندې که چېرته هغو خپل ځانونه غير مسلم او وفادار بنارې په توګه اوسيدل غوښتل نو د هغوی د هم هغو حقوقو سانته دې وشي کوم چه په اسلامي شريعت کښې د ذميانو او نورو کفارو لپاره ټې فيصله شوې ده او که چېرته له دې حيثيت څخه انکار وکړي او خپل ځانونه د مخکښې غوندې مسلمانان وبولي او د رعايت د تر لاسه کولو کوشښونه وکړي نو له هغوی سره دې اقتصادي او معاشرتي مقاطعه اعلان شي۔

﴿۹﴾ په دنيا کښې باطل مذهب د تل لپاره د ملک او مال په سيوري يا د ښځې، زر او زمکې په لالچ کښې خپريږي او يا د غلط فهمۍ له مخې او فريب ورکولو سره ساده مسلمانان د خپلې دوکې او تزوير په لومې کښې ښکوي۔ "قاديانيت" هم د دجل، فريب يوه مرقع (ناوې) او د تحريف او تلميح او دسيسې جوړولو يوه ځاله ده چه د انګريزي استعمار او دنياوي حرص په غيږ کښې پيدا شوې او پالنه ټې هم له همدې ځايه اخيستې ده۔ ښکاره خبره ده چه ډير دنيا پرسته خلک يا سادګـــــان د دنياوي محبت يا تحريف په دوکې کښې لويدلي او د دې لعنت ښکار شوي دي نو دې خبرې ته زيات ضرورت دی چه ښه په زړه سوانده او توجه سره هغه خلک خالص اسلامي دين او اصل اسلام ته دعوت شي او بيرته د خاتم النبيين حضرت محمدرسول الله ﷺ په مبارک دين کښې داخل کړی شي تر څو چه د خپل تيـــــر شوي غلط ژوند څخه توبه وښلوي او د مافاته شيانو (چه کوم اعمال ټې ضائع شوي دي) تلافي دې وکړی شي۔ د هيواد له د ننه څخه پرته په نورو هيوادونو کښې په ځانګړې توګه په افريقا، اروپـــــا او امريکا کښې چه کومو ساده فکـــــرو خلکو قاديانيت د اسلام په توګه پيژني هغو ته صحيح اسلام ور وپيژندل شي او له دې فريب او دوکې څخه د دوی خلاصوالی زمونږ د تولو مسلمانانو اهمه فريضه ده، په دې سلسلې کښې د وفدونه، ليکنې او په حکومتي او عامې سطحې باندې دې تول تدابير بايد په کار واچول شي۔ په دې باره کښې له سفارتخـــــانو څخه د قاديانيانو تبديلي او ايستل به يو ډير ښه عمل وي۔

خير دا خو د ساده او بيل لاري قاديانيانو خبره ده ليکن په دوی کښې يوه ډله داسې هم ده چه پخپلو بيلارو او غلطو عقائدو باندې ټينګ ولاړ دي او خپل ځانونه مسلمانان بولي او په دې باندې ټينګار هم کوي۔ دوی د ملي شورٰی (قومي اسمبلي) فيصله د زړه له کومې نه ده قبوله کړې او د زخمي مارانو غوندې د تك ورکولو د موقع انتظار کوي او له سازشونو څخه ټې په ځانګړې توګه پاکستان او په عمومي توګه عام مسلمانان په امن کښې نه دي، ملت ته له هغوی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

څخه د اسې خطرات متوجه دي لکه څرنګه چه په يوې زمانې کښې له حسن بن صباح څخه وو. ګوا که د اسمبلي او مسلمانانو په دې متفقې فیصلې باندې مرزا ناصر احمد او امت نې په لاتدیني مبنوکه کښې دي. او د اکتوبر په خوارلسمې نیټې باندې د جمعې په خطبه کښې مرزا ناصر احمد ویلي دي چه په قادیاني مسئلې باندې د قومي اسمبلي په فیصلې باندې د جنوري او یا فروري څخه مخکښې هیڅ تبصره(۱) نه کوم. معلومه نه ده چه مرزا صاحب د کومې خبرې انتظار کوي. البته د مرزا صاحب او د هغه د امت ذهنیت د مرزا ناصر د جمعې له هغې خطبې څخه بنه څرګندیږي چه د آزاد کشمیر په اسمبلي کښې د قادیانیانو د غیر مسلم اقلیت د ګرځولو په وخت کښې هغه د تش په نامه مسجد اقصیٰ (ربوه) کښې(۲) ورکړې وه د قادیاني ذهنیت د عکاسي لپاره د هغې خطبې ځینې اهم او را اتول شوي نکات وړاندې کوم. د آزاد کشمیر د فیصلې له یادونې سره مرزا ناصر احمد وایي:

((۱)) "یعني د ایو د اسې بیل نه دی پاس شوی چه مونږ اقلیت وګرځوي بلکه دا یو سفارش دی چه د آزاد کشمیر حکومت ته شوی دی چه احمدي ډله اقلیت وګرځوی او د هغو په مذهبي تلبیغ باندې بندیز ولګوی او احمدي دي د غیر مسلم په صورت کښې خپل نومونه په فورمو کښې ثبت کړي. لکه څرنګه چه د آزاد کشمیر ځینې مشران خلك مې را وبلل، په دې وخت کښې صحیح حالات مخې ته را نه غلل، بله ورځ ما ته راغلل ما ورته وویل چه وګوری "یوه خبره زه تاسو ته د بنیادي نصیحت په توګه کوم چه که چېرته دا فیصله د قانون په شکل کښې منظوره هم شي نو قانون دا وایي چه هر هغه احمدي چه خپل ځان غیر مسلم ګڼي هغوی دي خپل نومونه ثبت کړي زمونږ په هغه باندې هیڅ اعتراض نشته ځکه چه هر احمدي ځان مسلمان بولي او دعلیم او خبیر خدای په نظر کښې هم مسلمان دي له دي وجې دا قانون نه پلي کیږي" او یو سړی چه خپل ځان مسلمان بولي هغه د غیر مسلم (کافر) په حیث کله خپل نوم ثبتوي او که د اسې کوي نو ګوا که هغه دروغ وایي او اسلام د دروغ ویلو اجازه نه ورکوي". (مذکوره پمفلټ ص۳)

له دې اقتباس (غور چاڼ) څخه څرګندیږي چه د قادیاني ذهنیت تر څنګ د خپل صریح کفر او د نبي کریم، خاتم النبیین ﷺ څخه د څرګند بغاوت سره سره خپل ځانونه د مسلمان بللو تر څنګ په قانون باندې اصرار کوونکي هم بولي.

(۱) د نوای وخت اخبار راولپنډي ۱۶ اکتوبر ۱۹۷۴ء (۲) دا خطبه په الفضل کښې د مئی په ۱۳ ۱۹۷۳ء کښې خپره شوه بیا د بیانونو او تنصیفونو د خپرونې نظارت د پاکستان د احمدیه صدر انجمن د "د آزاد کشمیر د اسمبلي په یوه قرارداد باندې تبصره د احمدي جماعت د حضرت امام له خوا" په عنوان سره د بیل پمفلټ په صورت کښې خپره کړه.

((۲)) مخکښې د اخطار په توګه وایي:

"پس که چېرته ۹ یا ۱۲ کسه سړي دا ډول فیصلې پاس کړي نو د خدای پاك له خوا څخه په جوړې شوې ډلې باندې څه اثر کولی شي. د دې په نتیجه کښې چه کومې خرابۍ پیدا کیدلی شي هغه دا نه دي چه احمدي ډله به غیر مسلم ګرځي. کومې ډلې ته چه الله تعالی مسلمان وایي هغې لره یو ناپوه انسان غیر مسلم وبولي نو څه فرق کوي ځکه چه هغه فکر نه لري. زمونږ فکر د دې خبرې خواته دی چه که چېرته خدای مکړه دا خرابي انتهاء ته ورسیږي نو د اسې ډول فتنې او فساد په نتیجه کښې پاکستان قائم نه شي پاتې کیدلی. ځکه زمونږ دُعا ګانې دي، زمونږ او زمونږ په دننه کښې د حب الوطنۍ دا جذبه موجوده ده چه هیڅ ډول فتنه هم پورته نه شي چه پاکستان تري خطر ووینې. آخر فتنه او فساد دي ته و نه رسیږي چه سرونه پرې شي څوك زخمیان شي، څوك به وي او ځنګه به وي، په دې باندې الله تعالی ښه پوهیږي. (ص٤/٥)

په پورتنۍ عبارا تو کښې په ځانګړې توګه په کومو عبارا تو باندې چه لیکه کش شوې ده چه کوم ډول اخطارونه ښکاره دي هغه د هر ربښتوني پاکستاني لپاره د فکر وړ خبره ده او د قادیاني د سازشي ذهن عکاس دی چه هر وخت ورته تیار اوسیدل ضروري دي. بلکه له دي څخه مخکښې هم په واضحو الفاظو سره د تعلیل او مقابلې دعوت دی. لکه څرنګه چه مرزا فرمایي:

(۳) "لیکن تر کومه ځایه پورې چه احمدي ډله تعلق لري تاسو ګیدړان له خپلو غاړونو څخه د باندې وتلی یاست او پوهیږی چه تاسو به په چیغو سره د احمدي ډلې ځړي وویروی نه! هیڅکله مونږ نه ډاریږو". (ص۱۰)

(٤)------ "نن هغه خلك کومو چه په ۱۹۵۳ء کښې د فتنې او فساد د پورته کولو منصوبې جوړې کړي دي په عاجزانه توګه ټې د پوهولو کوشش کوم چه په غلط فهمۍ کښې مه لویږی، د احمدي جماعت په لکونو بالغ افراد چه د پاکستان اوسیدونکي دي د خدای په لاره کښې مرګ د اسې خوښوي لکه څرنګه چه یو عاشق پخپل معشوق باندې مستانه قربانی. ته تیار ولاړ وي. پس چېرته چه په نرمی او خوږوالي سره مونږ د خلکو د زړونو د ګټلو حکم دی هلته د الله تعالی دا فرمان هم موجود دی چه: "أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا (الحج، آیت ٤٠، ص١١)

(٥) ---------- جو خدا کا هے اُسے للکارنا اچھا نهیں

هاتھ شیروں پر نه ڈال اسے روبه ازارو ترا

تاسو د ګیدړانو جامه اغوستې ده او وتلي یاست او چیغې وهی چه مونږ به مرعوب شو مونږ ته خداوند متعال د زمري له جرئت څخه هم زیات جرأت راکړی دی او مونږ ته الله تعالی د زمري له رعب څخه زیات رعب راکړی دی. د زمري له غږ مبهار څخه په میلونو میلونو لرې نور ځناور

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

ویرپرې، مونږ ته دا وعده راکړل شوې ده چه: نصرت با لرعب مسیر شهر (ص ۱۳)

(۶) مونږ له تولې دنیا څخه نه ډارپږو کله چه انګریز پوهیده چه د دوی په مشترک دولت باندې لمر نه ډوبیږي په هغه وخت کښې هغوی له احرار و سره یو ځای شول (چه دلاور است فزود... نافل) په هغه وخت کښې هم مونږ نه ډاریدلو او نه مونږ ته څه نقصان ورسیده۔ اوس چه کله د خدای تعالی په فضل سره حالات بدل شول او په احمدیت باندې لمر نه ډوبیږي نو ولې به ډارپږو؟ مونږ په انو ارو کښې اوسیدونکي یو، په تورو تیارو کښې د چغید ونکو ګیدړانو (مسلمانانو) څخه څرنګه ډاریدلی شو"! (ص ۱۳)

(۷) "احمدي ډله به قربانی ورکوي، ځینې وګړي ښایي چه د ځانونو له قربانی سره هم مخامخ شي، ځینې به د مال له قربانی سره مخامخ کیږي، دا به ضرور وي لیکن چه د کوم مقصد لپاره دا ډله پیدا شوې ده په هغه مقصد کښې به انشاء الله ناکامي نه وي"۔

د مرزا ناصر احمد دا تولې وړاندوینې د مرزا غلام احمد د محمدي بیګم د وړاندوینې غوندې به پوره کیږي او که نه؟ لیکن له دې لیکنو څخه یوه خبره څرګندیږي چه مرزا ناصر په خلاص لاس سره "هل من بارز" د جنګ او مقابلې دعوت ورکوي۔ هغه ته هیڅکله داد منلو وړ نه ده چه کفر ته ټې کفر وویل شي او له اسلام څخه ټې اخراج او بغاوت په واضحه توګه ښکاره شي او کوم بنیادي مصلحتونه، بخت آزمویني، د مسلمانانو په خلاف سازشونه او د غیر ملکي استعمار د ایجنټ د جوړیدو لپاره د منافقینو غوندې د تش په نامه اسلام او مسلمانانو جامه اغوستې ده له هغې څخه پرده پورته شي۔ او د دوی چه کوم اصل حقیقت دی هغه دې د دُنیا په خلکو کښې ښکاره شي۔ غرض دا چه مرزا ناصر احمد او ملت ټې هیڅکله هم په ښه زړه سره د ملي شورٰی (قومي اسمبلي) فیصله نه مني، له هغوی څخه واضح خطرونه تر سترګو کیږي آن تر دې پورې چه د پاکستان د سالمیت په باره کښې اخطارونه راکوي، مونږ ګیدړان بولي۔ نو ځکه عام مسلمانان او حکومت باید له مخکښې څخه زیات د هغوی او د هغوی د خوځښتنو ساتنه او ځارنه وکړي۔ داسې نه چه د سرګودې د واقعې غوندې حالات پیدا کړي او تول ملک په وینو ورنګوي۔

له پورته سرسري ګډ اړشاتو څخه دا خبره څرګندیږي چه د قومي اسمبلي فیصله د مسئلې یو ښه او غوره حل دی لیکن دا تر اوسه پورې لومړنی قدم دی۔ اوس دې ملت مسلمه باید بې فکره او له قادیاني فتنې څخه باید غافل نه شي بلکه په ملک کښې د ننه او د باندې د دعوتي، سیاسي او معاشرتي مقصد په هر میدان کښې له پوره فکر او احتیاط، هوښیاري او ضبط څخه باید د هغوی مقابله وشي۔ د الله تعالی دا امر چه وَقٰتِلُوهُمْ حَتّٰى لَا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ وَّيَكُوْنَ الدِّيْنُ كُلُّهٗ لِلّٰهِ په ظاهر او باطن کښې پوره شي او د انګریزي استعمار دا بوټی د تل لپاره له منځه یوړل شي۔ په آخر کښې د ختم نبوت د مجلس نورو مشرانو او هغو تولو ګوندونو ته چه په دې دیني

فریضې او د فخر موجودات سید الکائنات خاتم النبیین حبیب رب العٰلمین ﷺ د ناموس لپاره خپل هر څه قربان کړي دي مخلصانه مبارکي وړاندې کوم چه د هغو نظم و ضبط، اتحاد، صبر او حوصله، فراست او همت دي فیصلې ته د رسیدو سبب وګرځیدل۔ زمونږ لپاره د ۲۲ ګوندونو اتحاد د حضور نبي کریم ﷺ معجزه او فیض دی۔ دښمن به ښکاره او پټې حربې او دسیسې استعمال کړي او په دې اتحاد کښې د درز او بې اتفاقي اچولو کوشش به وکړي۔ کاش! چه تول فروعي اختلافات مو له نظره غورځولي وای او په دې ډول د اویل شوي دیوال غوندې سره یو شوي وای تر څو چه د دې جد او جهد تول مقاصد پوره او ثمرات (ګټې) ټې ښکاره شوي وای بلکه د مجلس تحفظ ختم نبوت کار تر هغه وخته پورې نه ختمیږي تر څو پورې چه د خاتم النبیین حضرت محمد رسول الله ﷺ "خاتم الشرائع" له زور او زیر سره په تول ملک او تولې دنیا کښې نافذ نه شي۔ الله تعالی دې زمونږ مشرانو او عامو مسلمانانو ته د دې توفیق ورکړي چه له مخکښې څخه هم زیات په اتحاد، نظم او ضبط، یقین او هوښیاري سره خپلې تولې ذمه واری پوره کړي او د حضور خاتم النبیین و المرسلین ﷺ د ختم نبوت له فیض څخه تول عالم روښانه کړي۔ آمین

مولانا قـــــاضي عبد الکریم صاحب مهتمم نجم المدارس کُلاچي

مکرم او محترم وفقکم الله لما یحبه و یرضاه۔ السلام علیکم و رحمة الله و برکاته۔

سو النامه او بیا په بیا بیا توګه یادونه د احسان مندۍ موجب دی۔ جوابي ګډارش دی چه زه بخپل ژوند انه کښې تر اسلام وروسته په یوه شي باندې دومره نه یم خوشحاله شوی څومره چه په ۷ ستمبر ۱۹۷۴ء کښې د ایماني، روحاني او تاریخي فیصلې له دې اعلان څخه خوشحاله شوم۔ فما فرحت بشئ بعد الاسلام فرحی بهذا الاعلان ځکه چه:

﴿الف﴾ په دې کښې د اسلام ښکاره او شان لرونکي کامیابي او د ارتداد او مرزائیت ذلیل او خوار ترین شکست وو۔

﴿ب﴾ د پاکستان په تاریخ کښې په یوې اسلامي او ایماني مطالبې کښې د دومره صریحي او څرګندې کامیابۍ مثال موجود نه وو۔

﴿ج﴾ چاپیریال ته په پام کولو سره او پخپله د قوم د ما ظهر او ما بطن معاصي، د مظالمو او آثامو په تیارو کښې مو هیڅکله له ګناهونو ډکو غرورونو او په ګناه ککړې سترګې د دې قابلې ولیدلې چه د دین د عزت داسې سامع نواز خبره واوریدلی شم یا د اسلام د اعزاز داسې له خونده ډک منظر ولیدلی شم۔ سبحان الحی الکریم۔

﴿د﴾ او په ځانګړې توګه د دې لپاره که چېرته معاذ الله ثم معاذ الله فیصله د دې پر خلاف شوې وای نو د زرګونو بلکه لکونو له دین څخه بې خبره لیک او لوست لرونکي خلکو ایمانونه متزلزل شوي وای، دوی به د قادیانیانو او لاهوریانو په کفر او ارتداد کښې به متردّد شوي وای و د دنیاوي ګټې د لاس ته راوړو یا له دنیوي نقصانونو څخه د ځان ساتنې په خاطر د حکومت تابعداري کړې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

وای او د ټولې دُنیا د علماوو او فضلاوو د اجماع په خلاف به ئې د مرزایانو د مسلمان ویلو تاروا جرأت کړې وای او خپل ایمانونه ئې به له منځه وړې وای۔ الحمد لله ثم الحمد لله چه په دې فیصلې سره د ټولو ایمانونه له خطر څخه محفوظ (خوندي) پاتې شول۔

د الله د خلکو روحاني تصرفات، د مجاهدو او باریکه بینو علماوو د شپې او ورځې منډې تړې او د مخلصو مسلمانانو آهونه او دُعا ګاني وې چه الحمد لله د عام رجحان برخلاف حالات بدل شول او یو دم بدل شول او په غیر متوقع توګه د مسلمانانو د ډیرې مودې هیلې ترسره شوې۔

شکر الله هر آنچیز که خاطر می خواست آخر آمد و پس از پردهٔ تقدیر پدید

و نعوذ بالله من الحور بعد الکور۔

الٰهی چون عزیزم کردی امروز مکن فردا به پیش خلق خوارم

د دوهم سوال خواب: ستاسو دوهمه پوښتنه دا ده چه د مسلمانانو ذمه واري په دې فیصلې باندې سر ته رسیدلې ده او که د دې فتنې د مهلکو اثراتو تعاقب او احتساب به نور هم جاري وي؟

په ځوابې توګه وایم چه دا فیصله د اسلام د قبول اعلان دی او په دې باندې که چېرته استقامت و نه شي او غوښتنې ئې ترسره نه شي بلکه ځنډ او تاخیر پکښې وشي نو حشر به ئې هغه وي کوم چه د پاکستان تر جوړېدو وروسته د پاکستان له نظریې څخه تغافل وشو چه پخپله پاکستان ته ترې ضربه ورسیده له او دوه توکه شو۔ که چېرته دلته هم هغسې غلطي تکرار شي نو دا فیصله به هم د مسلمانانو په حق کښې د ګټمن والي په ځای به معاذ الله د خلکو د ارتداد په لار کښې برعکس لاره هواره کړي۔ لاقدرها الله۔

په دې سلسلې کښې ځو تجویزونه (مشورې) ستاسو په خدمت کښې دي:

اوله مشوره: د فیصلې غوښتنې دې ترسره شي: زما مراد د فیصلې له غوښتنو څخه دا دی چه اوس اوس سمدستي او په حکومي سطحې باندې:

﴿۱﴾ دا کفار دي له اهمو منصبونو څخه لرې کړی شي۔

﴿۲﴾ د هغوی اوقاف دې د حکومت تر قبضې لاندې راوستلی شي۔

﴿۳﴾ د هغوی اسلامي نومونه لکه انجمن حمایتِ اسلام او د اسې نور دې قانوناً ممنوع وګرځول شي۔ د یوه کافر د اسلام د حمایت تر بیرغ لاندې کار کول سخت دجل، فریب او دوکه نه دی نور څه دي؟

﴿۴﴾ د اسلامي شعائرو لکه آذان، جومات او د اسې نور دې د اکفار هیڅکله نه شي استعمالولی۔

﴿۵﴾ او د هغو نیمه فوځي تنظیمونه دې پرته له کوم ځنډ څخه د قانون له مخې ممنوع وګرځول شي۔

د دغو غوښتنو د پوره کولو لپاره د مسلمانانو هغه اتحاد او اتفاق په ځای ساتل ډیر ضروري دي کوم چه له ۲۹ مئی څخه تر ۷ ستمبره پورې پاتې شوی وو۔ تاسو خبر یاست چه د دې فیصلې د له منځه وړلو کار شروع شوی دی چه د شیعه نصاب د بیلولو لپاره د شیعه تحریکونو اخطارونه ئې اوله زینه ده۔ له دې پرته خدای خبر چه د پردې شا ته څه ځه کیږي؟ له کال ۱۹۵۳ء څخه

وروسته د دیوبندي او بریلوي اتحاد ئې ځنګه توتې توتې کړ او قوم ئې پخپل منځ کښې سره وجنګول۔

دوهمه مشوره: مجلس عمل دې په مسلسله توګه اجتماع ګاني کوي: زما په نزد د دې لپاره د مجلس عمل د برقراره ساتلو تر ځنګ دې په ظاهري توګه پرله پسې اجتماع ګاني او مجلسونه وشي او د مجلس عمل مشران دې پخپلو روحاني توجهاتو او تصرفاتو کښې کمی نه راولي او له دې پرته په یوه جذباتي قوم کښې د اتحاد د برقراره ساتل ناممکن دي۔ والامر بید الله تعالی۔

دریمه مشوره: د پاکستان خارجه پالیسي دې آزاده وي: د دغو ټولو غوښتنو د پوره کولو تر ځنګ هم د دغو مرتدینو سیاسي ملاتړی د دوی تر شا ولاړ دی او د پاکستان او ټول عالم اسلام د خرابولو لپاره ئې استعمالوي نو ځکه د دې خبرې ضرورت دی چه د پاکستان او ټول عالم اسلام بهرنۍ پالیسي دې آزاده وي او په حقیقي توګه دې آزاده وي۔ آیا له دې حقیقت څخه تن سترګې پټیدلی شي چه کوم ممالک هم د مغربي ملکونو له تسلط څخه آزاد وي او کوم هیوادونه چه د امریکې تر تسلط لاندې نه دي آیا په هغو هیوادونو کښې هم مرزائیت کومه مسئله کیدلی شي؟ د آزادې بهرنۍ پالیسي په خپلولو سره به ملک پخپلو پښو ودریږي او دا فتنه به پخپل مرګ باندې مړه کیږي۔

څلورمه مشوره: په تبلیغي توګه: د مرزایي او قادیاني پیروکارانو ته خصوصاً په تعلیم یافته طبقې کښې دې تلبیغ وکړی شي۔

پنځمه مشوره: په عربي مدارسو او د اسې نور کښې دې پرته له ځنډ او تاخیر څخه د القادیاني و القادیانیه په نامه سره کتابونه دې نصاب ته ور داخل کړی شي۔ کم تر کمه د وفاق المدارس په امتحان کښې دې د دې امتحان باید لازمي وي، د ادیانو د تقابل په نامه سره دې د وفاق په امتحان کښې دې یوه پرچه زیاته شي او تر څو پورې چه کوم مستقل کتاب په دې عنوان باندې خپور او په نصاب کښې ورګډ نه شي چه په هغه کښې د مرزائیت، سبائیت، اباحیت او د اسلام معاشي، اقتصادي او سیاسي نظام ته د مخامخ کیدونکو نظامونو اصطلاحات له دروغو څخه پاک شوي نه وي، د هغو د دلائلو په بیانولو سره د عقل او نقل له مخې ئې غوټې خلاصې شوي نه وي تر هغو پورې دې یو اځې په همدې کتاب "القادیاني و القادیانیه" په امتحان باندې اکتفاء وشي۔ د خیر له خاوند انو څخه دې هیله وشي چه د دې کتاب د ضرورت مطابق نسخې دې له وفاق المدارس سره د لګیدلو د علیا درجې مدارسو ته مفت ور تقسیم شي او د مدارسو له مهتممینو څخه دې غوښتنه وکړي چه د دورهٔ حدیث طلباوو ته دا کتاب یا خلاصه د دې کتاب وویل شي۔

په دې دول سره د ختم نبوّت تحفظ او د اسلام او آئین تحفظ او د اسلام د نظامونو د کار په ټول ملک کښې په خپرېدو سره د حقّه عقائدو د حفاظت او ساتنې ذریعه جوړیږي او په وختې توګه به نه وي بلکه انشاء الله صدقه جاریه به وي او د تل لپاره به وي۔ والامر بید الله۔

(۱۸ شوال ۱۳۹۱ هجری)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

حضرت مولانا امین احسن اصلاحي د لاهور د میثاق د میاشتنی مدیر

مکرمي زاد لطفه السلام علیکم و رحمة الله و برکاته

افسوس دی چه ستاسو سوالنامه ما ته ډیر ناوخته را ورسیده او وجه ئې دا ده چه زه اوس له لاهور څخه د شیخوپوره یوه کلي ته تللی یم او تاسو خپل مبارک خط ما ته د لاهور په آدرس باندې را لیږلی وو، پرون ډاکټر اسرار احمد صاحب ملاقات ته راغلی وو او سوالنامه ئې هم له ځان سره راوړې وه۔

د قادیاني مسئلې په باره کښې زما رأیه ډاکټر اسرار احمد صاحب د میثاق په رسالې کښې خپره کړې ده۔ زما په نزد قادیاني اقلیت د حقوقو د ورکولو لائق نه وو لیکن زمونږ په ملک کښې لکه څرنګه چه شرعي قوانین جاري نه دي له دې وجهې د مسئلې با لفعل ممکن حل همدغه وو۔ دا له نرمي څخه نرمه رویه ده کومه چه له دوی سره شوې ده۔ که چېرته قادیانیانو د دې قدر وکړ نو د ځان لپاره په دې ملک کښې د امن د ژوند انه څه اجازه پیدا کولی شي او که چېرته ئې له دې رعایت څخه د غلطې فائدې پورته کولو کوشش وکړي نو نتائج ئې ډیر خطرناک کیدلی شي۔ زه دا محسوسوم چه قادیانیان خامخا له دې رعایت څخه د غلطې فائدې د پورته کولو کوشش کوي او په ځانګړې توګه د دې خبرې اندیښنه موجوده ده چه بعضې غلط فکره خلك د اقلیت تر نامه لاندې د دوی سرپرستي کوي۔ د دغو خطرونو د مخنیوي یوا ځینی شکل دا دی چه مسلمانان هر وخت بیدار او اوسي۔ که چېرته مسلمانان په دې معاملې کښې له غفلت او سستی څخه کار واخلي نو اوس چه قادیانیانو ته کوم قانوني تحفظ ورپه برخه شوی دی له دې وجې څخه زمونږ مذهب او ملك دواړو ته د مخکښې په نسبت سره زیات تاوان رسولی شي۔ (۱۰ نومبر ۱۹۷٤ء)

مولانا محمد طاسین صاحب ناظم مجلس علمي کراچي

عزیز محترم و صدیق مکرم زادکم الله لطفاً عنایتاً۔ السلام علیکم و رحمه الله و برکاته۔

په الهي شکر باندې له ډك زړګي څخه د دغه ښکاره او زړه راښکونکي کامیابۍ باندې د تبریك او خوشحالۍ ډالۍ وړاندې کوم کومه چه د قادیاني مسئلې په اړه الله تعالی د حق علماوو ته ورکړې ده۔ د دې تبریك تر تولو زیات مستحق تاسو یی ځکه چه په دې میدان کښې مو ډیر زیات جد و جهد او کوششونه کړي دي۔ که چېرته دا وویل شي نو غلطه به نه وي چه په دې مبارك کار کښې د نوي دور آغاز ستاسو په جرأتمند انه لیکنو باندې شوی دی کوم چه څه وخت مخکښې په الحق میاشتنی کښې د خلکو د عامي کتنې په وړاندې راغلل په داسي حال کښې چه هرې خوا ته په دې مسئلې باندې چوپه چوپتیا وه۔ بارك الله لکم و فیك و شکر مساعیکم۔

د الله تعالی له دربارې غوښتونکي یو چه دا کامیابي زمونږ د راتلونکي لپاره د نورو ډیرو

کامیابیو ذریعه وګرځوي او ملك په حقیقي او عملي توګه د دار الاسلام جوړ شي او دنیا ئې په تقلید او پیروي باندې مجبوره شي۔

لومړی سوال: په دې اړه زما ځواب دا دی چه په قادیاني مسئلې کښې، په کومو حالاتو کښې، په کومې طریقې سره چه کومه فیصله شوې ده نو دا زه د الله تعالی له لورې په مسلمانانو باندې خاص او عظیم فضل ګڼم۔ له دې ځخه یوې خوا ته خو د دې فتنې په سر باندې یو لوی ګذار ولګید او د دوی انقلابي عزم له منځه لاړ کوم چه په راتلونکي کښې به د ډیرې لویې تباهۍ او بربادۍ سبب جوړیده او بلې خوا ته د دې وخت مسلمانان له یوې لویې وینې تویونې څخه په امن کښې پاتې شول چه له وجې به ئې بې شمیره مالي او ځاني نقصانونه ور اووښتي وو۔ لهذا په دې باندې چه د الله تعالی څومره شکر و ایستل شي نو کم به وي۔

دویم سوال: په دې باره کښې دا ویلی شم چه د قادیاني فتنې کوم اثرات چه د پاکستان په دننه کښې او د باندې (باهر) خپاره شوي دي د هغو د له منځه وړلو لپاره په مختلفو علمي او عملي طریقو سره په لویې کچې باندې د منظم او پرله پسې کار کولو ضرورت دی، په اجتماعي صلاح او مشورې سره د اسي طریقې باید ولتولي شي چه د دې فتنې د مخنیوي په لاره کښې ګټورې او مؤثرې ثابتې شي او مکمله او پوره خاتمه او ازاله ئې وشي۔ په هر حال د کومې فتنې د اثراتو د له منځه وړلو لپاره ضروري وي چه د فتنې د شته والي چه کوم اسباب دي هغه باید ښه وپیژندل شي او بیا وکتل شي چه دا اسباب په کومې طریقې سره لرې کیدلی شي۔ ځکه چه د هغو د دفع کولو ځخه پرته فتنه نه شي له منځه تللی او نه ئې اثرات له منځه تللی شي۔

دریم سوال: په دې اړه زما حتمي او قطعي رأیه دا ده چه قومي اسمبلي د قادیانیانو په اړه د غیر مسلم اقلیت والي کومه فیصله کړې ده، دا فیصله لکه څرنګه چه اصل مقصد نه دی بلکه اصل مقصد ته د رسیدو یوه ذریعه ده۔ لهذا تر څو پورې چه اصل مقصد لاس ته نه وي راغلی د مسلمانانو ذمه واری پای ته نه رسیږي۔ زه پوهیږم چه اصل باید دا وي چه په پاکستان کښې یو د اسي آواز او لیکنه پیدا نه شي چه له هغو ځخه دا ښکاره شي چه تر حضرت محمد رسول الله ﷺ وروسته کوم سړی په یوې معنی سره هم نبي او رسول دی او بیا دا چه د هغه په حق کښې اسلام، قرآن او حدیث هم استعمال شي۔ له دې وروسته لومړی منزل او مقصد باید دا وي چه د مسلمانانو تر منځ له محمدیؐ شریعت پرته نور تول غیر اسلامي قوانین له منځه لاړ شي او په دوی باندې یوا ځي د محمدیؐ شریعت حکمرانې وي کوم چه د الله تعالی آخري نبي په آخري توګه وړاندې کړې ده ځکه چه د ختم نبوت د عقیدې لازمي او غوښتنه همدغه ده چه مسلمانان یوا ځي محمدي شریعت د خپل ژوند دستور او د عمل لائحه وګرځوي او له دې پرته له نورو تولو قوانینو ځخه لاس پرې مینځي۔

څلورم سوال: د دې مقصد د لاس ته راوړلو لپاره مونږ ته کومه آئیني ذریعه او کومه علمي او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

عملي طريقه په کار ده چه غوره ئې کړو؟ د دې ځواب د ډير تفصيل غوښتونکی دی او ډير مشکل هم دی۔ لهذا زما په نزد بهتره خو دا ده چه په ديني او دنيوي علومو باندې پوهيدونکي خلك دې په يو ځای سره جمع شي او په تولو ارخونو باندې له غور، فکر او تدبير نه وروسته په مشوري سره دا فيصله وکړي چه مونږ نن له کومو ذهني، خارجي، اندروني او بيروني حالاتو سره مخامخ يو له دې سره سره د نوموړي مقصد لپاره کومه طريقه ډيره ګټوره ثابتيدلی شي چه مونږ ئې عملاً غوره کړو؟۔

په هر حال د دې لپاره چه کومه طريقه فيصله شي په هغې کښې دې هغه ردِ عمل ملحوظ وساتل شي کوم چه په نتيجه کښې ئې په پاکستان کښې د ننه او له پاکستان ځخه د باندې ظاهريدلی شي۔ تر ځو چه نقصان له کم ځخه کم او ګټه له زياتې ځخه زياته په لاس راشي۔ له پورته جذ باتيت او بې ځايه انتهاء پسندي ځخه به په هر حال ګټور وي۔ تر کومه ځايه پورې چه کيدلی شي له عقل، شعور او اعتدال پسندي ځخه بايد کار واخيستل شي۔ اللهم وفقنا لما تحب وترضى۔

حضـــــــرت مولانا عبد الحلـــــــيم صاحب زروبوي صدر المدرسين د ار العلوم حقانيه

د انګريزانو په زماني کښې د قادياني مسئلې حل ډير مشکل وو ځکه چه انګريزانو پخپله دا ډله د خپلو اغراضو او مقاصدو د پوره کولو په خاطر جوړه کړې وه۔ په تيرې زماني کښې هم هغوی د دوی سرپرستي کوله او اوس ئې هم کوي نو له انګريزي حکومت ځخه د قاديانيانو په خلاف د اقليت او کفر فيصله د هغوی د مقاصدو خلاف وو اګر چه په جزوي توګه په ځينو عد التونو کښې هغوی له مسلمه اُمت ځخه خارج ګرځول شوي وو او د هغو په باره کښې ئې د نکاح د فسخ فيصله کړې وه۔

بيا چه کله انګريز ملك پريښود او د پاکستان نظريه منځ ته راغله نو دا نظريه په دوه قومونو باندې ولاړه وه او د متحده هندوستان د تقسيم د اړومدار هم په اکثريت او اقليت پورې وتړل شو نو ځينو خلکو چه په هغو کښې مسلم ليګيان وړاندې وو ښايي د ملکي مفاد په خاطر د غير مسلم (هندوسکهـ او د اسې نورو) مقابل وګڼل۔ له دې سره سره چه سر ظفر الله په ځرګنده توګه دا اعلان کړی وو چه احمدي ډله هغه خلك کافران بولي چه د مرزا له نبوّت ځخه انکار کوي۔ چه حاصل ئې دا دی چه دا خلك متعارف او مشهور مسلمانان نه دي او پخپله مرزايانو د يوه بل قوم په حيثيت سره د جلا ريلست د لاس ته راوړلو کوشش وکړ، اګر که په هغه وخت کښې ځينو رهبرانو او د اسلام خواخوږو خبرداري ورکړې وه چه احمدي ډله له اسلام ځخه وتلې ده او په مسلمانانو کښې ئې شاملول د ملك او ملّت دوړو لپاره مضر او سخت تاواني دی ليکن افسوس چه د د هغو غږ ته چا غوږ و نه نيو ليکن وروسته واقعاتو ځرګنده کړه چه هغه خلك په حق باندې وو۔

اوس هم هغه خلك د ختم نبوّت د تحريك خلاف دي کومو چه هغوی په مسلمانانو کښې شامل کړي وو او دا مسئله ئې يوه سياسي مسئله وبلله تر ځو په دې سره د مسلمانانو خيالات بدل کړي۔ دا خلك د امکان تر حده پورې د دې تحريك ناکامول غواړي، دا خلك تر ۲۵ کلونو پورې په چوکۍ کښې پاتې شول او د انګريز په لاس د کرل شوي دي بوټي او د لستوني مار مکمل حفاظت ئې وکړ۔ عام مسلمانان لکه ځرنګه چه دا اوس ئې ډله د لمانځه او روژې پابنده ده او په اصولو او فروعو کښې له تحري ځخه وروسته د قرآني نصوصو او احاديثو ځخه استدلال کوي ليکن دا تحريفات او په عقائدو کښې رد او بدل چونکه له عاميانه پوهې ځخه پورته دي له دې وجهې عوامو د هغوی د ظاهري اعمالو پر بناء په امت کښې شامل ګڼل او د هغوی په خلاف ئې د تکفير فتوی مولويانه ضد يا احمقانه سياست ګڼل۔ الحمد لله چه ملي شورٰی (قومي اسمبلي) له ډير غور او تامل نه وروسته د دې مسئلې دا سي صحيح حل وړاندې کړ چه يوې خوا ته د دُنيا د مسلمانانو د شکريې مستحق وګرځيدل، له ختم نبوت سره ئې صحيح زړه لګونه او له نبي کريم ﷺ سره ئې د قلبي محبت ثبوت ورکړ او بلې خوا ته ئې د هغو خلکو فاسد خيالات او باطل شبهات له منځه يووړ کومو چه دا تحريك يو احمقانه سياست يا مولويانه ضد او يا ئې د کفرسازی نتيجه ګڼله۔

ليکن مرزايي ډله له مخکښې ځخه د اسلام او مسلمانانو بد ترين دښمنه وه او له يوې زماني ځخه ئې دا خوبونه ليدل چه په يو وخت کښې به په پاکستان قبضه کوي او کوم مسلمانان يا علماء کرام چه د دوی په خلاف کوم تحريك جوړ او چلوي په جبر يا د دُنيا په لالچ ورکولو سره مرزايي ډلې ته را واړوي او يا ئې قتل کړي۔ چنانچه له دغو معاملاتو او بياناتو ځخه ځرګنده شوي دي۔ په دې خاطر ئې په فوځي لوړو منصبونو باندې قبضه کړې ده۔ په برّي (وچه)، بحري (لمده) او هوايي فوځي مشرانو کښې اکثريت د دوی دی، د عوامي محکمو لوړ منصبونه د دوی په لاس کښې دي، په بهرنيو هيوادونو کښې د حکومت په وسائلو سره خپله مذهبي مشهورتيا کوي او د مسلمانانو په خلاف ډليږ او حکومتي ذرايع دواړه استعمالوي، له شخصي وسائلو، اثر او رسوخ ځخه هم کار اخلي، د ربوه يو بند بنار ګرځول، هلته د هر ډول اسلحې جمع کول، يو متوازي حکومت جوړول او د اسې نور۔ دا ټول کارونه د دوی د شومو ارادو ترجماني کوي۔ اوس چه کله د هغوی په خلاف د ملي شورٰی (قومي اسمبلي) فيصله صادره شوې هم ده نو هر مسلمان به ډير محتاط اوسيږي ځکه چه د دوی د غچ اخيستنې جذبه له مخکښې ځخه لازيات تيزيږي۔ موجوده حالات د دې ګواه دي، بيا ډير د نامه مسلمانان له دوی سره همدردي هم لري کوم چه د دوی خوښتونه جائز ګڼي۔

نو په دا سې صورت کښې عامو مسلمانانو ته په عمومي توګه او په پاکستاني مسلمانانو باندې په خصوصي توګه فرض دي چه د قوم، ملك او دين د حفاظت لپاره له مخکښې ځخه زيات

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

بیدار و اوسي او له هیڅ ډول قربانۍ څخه ډډه و نه کړي او د الله تعالی په دې فرمان چه وَاَعِدُّوا لَهُمْ مَّا اسْتَطَعْتُمْ باندې عمل وکړي او له حکومت څخه هم دا غوښتنه وکړي چه د مسلمانانو له پاره وخت څخه په غوښتنو باندې زر تر زره عمل وکړي او قوم او ملك له فتنې څخه د ساتلو په لاره کښې خپله فریضه سر ته ورسوي۔ لینصرنّ الله من ینصرهٗ

حضرت مولانا محمد فرید صاحب مفتي و مدرس د ار العلوم حقانیه

﴿۱﴾ د قومي اسمبلي دا فیصله چه قادیانیان له اسلام څخه وتلي دي په عوامو او تعلیم یافته طبقې باندې د ړنا ورځې په شان ښکاره شوه، په دې فیصلې سره د دوی مورال کمزوری شو او د مجبوری له مخې به اوس دوی پخپلو ارادو کښې بدلون راولي۔ په دې فیصلې سره به د دوی تبلیغ، خپرونې او د عوامو د رانیولو لومې به تر ډیرې اندازې پورې بیکاره او له منځه لاړې شي۔

﴿۲﴾ دا مسئله اګر که په کاغذي توګه خو حل شوې ده لیکن په عملي توګه تر اوسه ډیر څه باید وشي ځکه چه قادیانیانو تر اوسه پورې دا فیصله نه ده منلې۔ په ټولو مسلمانانو باندې فرض دي چه په حکومت باندې دا فیصله په عملي توګه نافذه کړي او که نه نو په دُنیا او آخرت کښې به له انتقام سره مخامخ شي۔

﴿۳﴾ د قادیانیانو د شومو اثراتو د له منځه وړلو لپاره مناسبه دا ده چه دا فیصله په هرې ژبې او هر حکومت کښې خپره شي او هر مسلمان حکومت قادیانیان په قانوني توګه غیر مسلم ومني او د اسلامي ممالکو ګډ وډونه دې غیر مسلم هیوادونه خبر کړي او له هغوی څخه دې وغواړي چه قادیانیانو ته له مسلمانانو څخه جلا حقوق ورکړي۔

حضرت مولانا عبید الله انور د خدام الدین لاهور د اونیزې مدیر

مکرمي او محترمي السلام علیکم و رحمة الله و برکاته۔

هیله ده چه صحت مو روغ وي۔ ستاسو قدر من لیك را ورسیده لیکن افسوس چه د بې شمیره مصروفیاتو له وجې مې و نه شو کړی چه ستاسو د غوښتنې مطابق سمدستي ځواب درکړم۔ هیله ده چه معذرت مې قبول کړی۔ ستاسو د سوالونو ځوابونه ډیر تفصیل غواړي۔ البته ستاسو د اصرار او غوښتنو په پام کښې نیولو سره سمدستي لنډ ځوابونه لیکم۔

ستاسو لومړی سوال دا دی چه د قادیاني مسئلې په دې حل باندې ستاسو احساسات، جذبات او تاثرات څه دي؟

﴿۱﴾ د یوه مسلمان په حیثیت سره د پاکستان د ملي شورٰی په دې فیصلې باندې مانه دومره خوشحالي حاصل شوې ده لکه څرنګه چه د ټولې دُنیا مسلمانانو ته حاصل شوې ده لیکن زه د خوش فهمۍ او غلط فهمۍ ښکار شوی هم نه یم، زه پوهیږم چه اوس خو یواځې زمونږ د کار شروع دی او د دُنیا د مسلمانانو لپاره عموماً او د پاکستان مسلمانانو ته خصوصاً اوس هم د

هغه یو والي ضرورت شته کوم چه دوی د تحریك ختم نبوت په وخت کښې عملاً ښکاره کړی دی۔ زما دیانتدارانه رأیه دا ده چه مونږ ته کومه لپه او ډیره کامیابي په لاس راغلې ده نو دا د اسلامي ملت اتحاد، اجتماعي فکر او له اخلاص څخه د ډکو کوششونو، د زړه له منځه اوګډې یو والي نتیجه او برکت دی۔ که چیرته خدای مکړه مونږ په دغو کښې یو شی هم له نظر وغورځوو نو زمونږ ډیر خطرناك او مکار دښمن به تري ګټه پورته کړي او : مونږ د اسلاقو د عظیمو قربانیو، زمونږ د بې ساري کوششونو او د ختم نبوت د مجاهدینو د شهادتونو د وینو د بې نتیجې کولو کوشش به وکړي۔

﴿۲﴾ زما ګومان دا دی چه د قادیاني فتنې دیني او سیاسي اثرات عالمګیر نه دي لیکن له دې خبرې څخه هم انکار نه شي کیدلی چه زمونږ د غفلت او بې خبرۍ له وجهې په ځینو هیوادونو کښې قادیانیانو څه ناڅه کامیابي هم تر لاسه کړي دي لیکن د پاکستان ملي شورٰی (قومي اسمبلي) له تاریخي فیصلې څخه وروسته په هیواد کښې د ننه او د باندې تې ملا ماته شوې ده امّا اوس د صدیقي د ګذار سخت ضرورت دی تر څو چه د دوی پاتې قوت او طاقت هم له منځه لاړ شي۔

﴿۳﴾ د مسلمانانو ذمه واري او مبارزه د یوې فتنې د عارضي او وختي له منځه وړلو پورې محدوده نه ده بلکه تر څو پورې چه فتنه په مکمله توګه له منځه تللې نه وي تر هغو پورې ایثار، کوشش، سعی او د فکر او عمل یو والي ته ډیر ضرورت وي، ذمه واري تر هغو پورې سر ته نه رسیږي تر څو پورې چه د فتنې څه نا څه نښه او نښان هم باقي پاتې وي۔ بلکه زه دا وایم چه له هغه وروسته هم ذمه واري سر ته نه رسیږي ځکه چه مسلمان د اسلام محافظ او ساتندوی دی او محافظ باید که امن وي او که جنګ غرض په هر وخت کښې تیار و اوسي، د دښمن او غلو معلومات نه کیږي چه کله او په کوم وخت حمله کوي؟ د دې لپاره د ذمه واري د سر ته رسیدو سوال هم نه پیدا کیږي۔

﴿۴﴾ ستاسو د ځلورم سوال ځواب زما د مذکوره ځوابونو په ضمن کښې شوی دی۔

﴿۵﴾ اوس پاتې شوه دا پوښتنه چـــــه د دې د کار طریقه او د عمل لائحه باید څنګه وي؟ نوعـــــرض دی چه:

د قومي اسمبلي له فیصلې څخه وروسته ذمه واري له عوامي سطحې څخه لوړې شوې او په حکومتي سطح خپریدونکي دي۔ د عوامو کار دا دی چه د امن په فضا کښې دا تحریك خپلو آخري او منطقي نتائجو پورې د رسولو په لاره کښې هر ډول مالي، ځاني او ژبنی قربانۍ جاري وساتي۔ علماء، طلباء او سیاسي لیډران د سست کیدو په ځای د کامیابۍ تر آخـــــري مراحلو پورې خپل پرمختګ جاري وساتي او د مقصد د حصول په لاره کښې چه کوم خنډونه موجود دي د هغو د لـــــرې کولو لپاره دي له اجتماعي صلاحیتونو څخه کار واخلي او په هغو ملکونو کښې چه قادیانیانو زهر شیندلي دي هلته د وعظ او تلبیغ لپاره خلك ولیږي تر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

څو د هغه ځای خلکو ته د قادیاني فتني اسلام دښمن تحریکونه او د عالم اسلام په خلاف د دوی خطرناك مقصدونه په ډاګه کړي.

حکومت باید په سفارتي سطحې باندې ټول دوست ممالك د دې خطرناك تحریك له نتائجو، عواقبو او مضمراتو څخه خبر کړي او له ټولو اسلامي ممالکو څخه وغواړي چه پخپلو ملکونو کښې قادیانیان غیر مسلم اقلیت وګڼي او د هغوی په خوځښتونو باندې ژوره کتنه ولري. د ملك په دننه کښې د حکومت تر ټولو لومړی او اهمه ذمه واري دا ده چه د اسلام تر نامه لاندې د قادیانیانو کافرانه تلبیغ بند کړي، د اسلامي شعائرو او اسلامي اصطلاحاتو له استعمالولو څخه منع کړی شي او د هغوی د زهرجنو او مهلکو لیکنو په ضبطولو سره دې د علماوو یو بورډ جوړ کړي چه د قادیانیانو د لیکنو د فاسدو اثراتو د له منځه وړلو تر څنګ د عوامو لپاره د اسلامي تعلیماتو درلودونکي لیکنې تیاري کړي او بیا دې دا لیکنې په ملك کښې د ننه او د باندې خپرې کړي. له دې برسیره په دستور کښې چه په کوم ځای کښې دا الفاظ راغلي دي چه "کوم مسلمان څوك چه د نبي کریم ﷺ د ختم نبوّت د مفهوم د پاکستان د درج شوي آئین دفعه ۲۶۰ شق ۳ بر خلاف د خپلې عقیدې اعلان وکړي او یا نې تبلیغ وکړي نو د سزا او تعزیر قابل به وي" هلته دې د یو مسلمان لفظ په ځای دې د کوم سړي لفظ ولیکل شي ځکه چه د یوه مسلمان په اړه دا فکر هم نه شي کیدلی چه د دا سې لغوي او بې فائدې عقیدې مشهورتیا او اعلان وکړي. د "کوم سړي" لفظ چونکه عام دی نو د دې لپاره د دې لفظ په شتون کښې که چیرته د اسلام کوم مدعي او یا کوم نوی مرشد دا سې وکړي نو هغه به د سزا او تعزیر مستوجب وي.

حضرت مولانا منظور احمد چینوتي صاحب ناظم اداره و ارشاد چینوټ

له ډیرو ورځو څخه ستاسو خط وصول شوی دی او د خپل ډول ډول مصروفیاتو له وجهې زر مو ستاسو حکم عملي نه شو کړی چه له دې امله زه ستاسو څخه معذرت غواړم.

﴿۱﴾ د دې سوال تفصیلي ځواب خو ډیر اوږد دی. په لنډه توګه مې احساسات او جذبات دا دي چه په دې وخت کښې ما د خپل عمر درې څلویښت کاله عمر تیر کړی دی او په دې زماني کښې الله تعالی لویې لویې خوشحالۍ را په برخه کړي دي. اخترونه هم را باندې راغلي دي، واده مې کړی دی، الله تعالی بچیان هم راکړي دي، د حرمینو شریفینو زیارت مې هم ډیر ډیر واړي را نصیب شوی دی، له قادیانیانو سره مې ډیر ډیر واړي مناظرې هم کړي دي چه الله تعالی په هغو کښې هم کامیابه کړی یم. مرزا بشیر الدین محمود ته مې چه کوم د مباهلې اعلان کړی وو په هغه کښې هم الله تعالی کامراني او سرخرویې را په برخه کړ. لیکن حقیقت دا دی چه په ټول ژوند کښې ټولې خوښۍ سره یو ځای کړې نو ټولې خوشحالۍ د دې خوښۍ او خوشحالۍ مقابله نه شي کولی کوم چه خوښي چه په ۷ ستمبر ۱۹۷۴ء کښې د قادیانیانو په اړه

د ملي شورٰی (قومي اسمبلي) له فیصلې څخه ما ته را په برخه شوه. بنده د دې خوښۍ احساسات د خپلو الفاظو په قالب کښې د اچولو او وړاندې کولو څخه قاصر دی. د قادیانیانو په اړه د اتاریخي فیصلې د دې پیړۍ اهمه فیصله او عظیمه کارنامه ګڼل کیږي.

﴿۲﴾ دا بالکل په ځای دی چه د قادیاني فتني دیني او سیاسي اثرات په هیواد کښې د ننه او د باندې په ټوله نړۍ کښې خپره شوي ده لیکن اوس دا اثرات د الله تعالی په فضل او کرم سره په کمو الي باندې شروع کړي ده. اوس په هغو باندې پرله پسې ګذارونه کیږي. اول ګذار خو د آزاد کشمیر د اسمبلۍ په فیصلې کښې پرې وشو، دوهم سخت ګذار هغوی نیم بسمله (زخمي او نیم حلال شوي) وګرځول کوم چه د رابطۀ عالم اسلام د قرارداد ونو په شکل کښې وو. اوس چه کوم باقي کسر پاتې وو هغه د پاکستان د پارلمان "تاریخي فیصلې" را و ایست.

بهرنۍ نړۍ ته چه دوی د اسلام او پاکستان په نامه کومې دوکې ورکولې الحمد لله له هغو څخه پرده پورته شوه.

﴿۳﴾ تر څو پورې چه دا خطرناکه او مهلکه (هلاکوونکې) فتنه یو مخ له منځه لاړه نه شي تر هغو پورې د مسلمانانو ذمه واری سر ته نه رسیږي لیکن اوس په آئین کښې له ترمیم څخه وروسته د عوامو په نسبت سره د حکومت ذمه واری نورې هم زیاتې شوې چه د آئین د غوښتنو په پوره کولو سره به د آئین احترام پخپل حال ساتي. قوم چه د تحریك په دوران کښې له قادیانیانو سره کوم پرې کړون او پخپل منځ کښې د یووالي کومه مظاهره کړې وه د مجلس عمل په سرپرستۍ کښې د دغو دواړو کامیابو اسلحو استعمال باید تر هغو پورې جاري وساتل شي چه تر څو پورې د آئیني ترمیم غوښتنې په مکمله توګه پوره شوي نه وي. په بهرنیو هیوادونو کښې د هغوی د پلټنې او احتساب لپاره ضروري ده چه د مجلس عمل له خوا یو مؤثر وفد د دې فیصلې د پس منظر او تفصیلاتو د وضاحت لپاره په چټکه توګه دوره وکړي ځکه چه سر ظفر الله او د قادیانیانو نور وتلي مشران له هیواد څخه د باندې په ډیرو خطرناکو او مهلکو تبلیغاتو کښې مصروف دي چه پلټنې ته ډیره ضروري ده.

مولانا ظفر احمد انصاري صاحب ایم، این اے (د ملي شورٰی غړی) کراچي

مکرمي السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

ستاسو یو لیك مخکښې را ورسیده او بل اړخ مې هغه بله ورځ را ورسیده. د ځواب په درلیږلو کښې د څه وجوهاتو له امله څنډه رانه وشو چه معذرت تري غواړم.

تر کومه ځایه پورې چه د قادیاني مسئلې د حل په اړه زما د "تاثراتو، احتیاطي تدبیرونو او وړاندیزونو" په باره کښې زما د مشورې تعلق دی نو زه پوهیږم چه د کومو مشرانو چه د اقتدار له خاوند انو سره د خبرو اترو او مفاهمت په نتیجه کښې دا فارموله تیاره شوې ده هغوی د دې خبرې زیات اهل دي چه په ما له او ما علیه باندې نې رنا واچوي او د راتلونکي لپاره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

تدبیرونه او وړاندیزونه جوړ کړي. په فارمولا کښې لیکل شوي دفعات تر کومه حده پوري چه عملاً مؤثر دي هغه هم ورو په ورو څرګندیږي. زما په دې مرحلې باندې څه ویل بې ځایه معلومیږي بلکه سکوت را ته ډیر مناسب ښکاریږي. که حضرت مولانا صاحب په اکوړه خټک کښې تشریف ولري نو زما سلامونه ورواندې کړی.(۳نومبر ۱۹۷٤ء)

د اسلام شاعر ابو الاثر حفیظ جالندهري لاهور

کرم فرما مولانا سمیع الحق صاحب! مسنون سلامونه قبول کړی. د الحق د ستمبر ګڼه را ورسیده. چه کله مې د مطالعې لاندې راوسته نو ستاسو لیک هم په لاس راغی کوم چه د ځواب غوښتونکی دی د دې لپاره ستاسو د حکم په تعمیل کښې لګیا یم. ستاسو په لیک کښې څو اهمې پوښتنې دي چه د قادیاني مسئلې د هغه حل په اړه دي کوم چه د ۷ستمبر په مابنام د اسلامي پاکستان له قانون جوړوونکي اسمبلۍ څخه د غوره شوي ځانګړي کمیټې په سفارش باندې د متفقه قرارداد په صورت کښې منظوره شوې ده او اعلان ئې د موجوده عوامي حکومت محترم وزیر اعظم مسټر ذو الفقار علي بهتو کړی دی.

مولانا! که چېرته ستاسو په نزد دا هم د قادیاني مسئلې داسې حل دی چه خوشحالی پرې ولمانځم او په مطمئن کیدو سره هو بناغلیه ووایم او دا پته فتنه خښه شوې وګنم او له تاسو تولو سره په دې کښې شامل شم نو زما افسوس دی چه زه له داسې کولو څخه په قطعي توګه معذور یم. زه ډاریږم او پوهیږم چه پخپله سمیع الحق صاحب دې ولې نه وي هغه آواز ته حق وایي چه پخپله د هغه د فیصلې په تائید کښې د هغه غوږو ته راشي. ما په دې وجه بنایي چه خاموشي یعني ستاسو د سوالونو په ځوابونو کښې چوپتیا غوره کړې وای لیکن کوم احترام، بلکه احترام هم نه مونږ ستاسو او د مولانا عبد الحق صاحب عقیدتي یو له دې وجې ځواب نه ورکول هم د تعلقاتو د ادب خلاف دی. د دې لپاره په بیړه باندې یو څه لیکم.

﴿۱﴾ ستاسو د اداري لومړنۍ کلمه د قومي اسمبلۍ فیصله تاریخي اسلامي فیصله بولي او تاسو یوه عظیمه او مبارکه فیصله بللې ده.

زما په نزد دا د قادیاني مسئلې هغه حل نه دی کوم چه قرآن کریم او حکیم مخکښې فیصله کړې ده. البته دا یوه فیصله ده چه د اسلام له قراني عدالت څخه نه بلکه د انګریز مسلط شوي جمهوري عدالت کړې ده.

دا جمهوري عدالت د ستاینې وړ دی ځکه چه کوم شی چه تاسو علماء صاحبانو غوښته هغه په لاس درغله. د دې لپاره چه لکه څرنګه چه د قادیاني فتنې په خلاف تاسو په میلونونو ځان ته مسلمان ویونکي (مونږ خلکو) ته د عملي آواز لپاره د یو والي دعوت راکړی وو، همدارنګه د پاکستان د حکومت په دې فیصلې باندې تاسو خوشحاله شوی او د جشن د لمانځلو صورت مو هم پیدا کړ. دا جشن د مسئلې د حل جشن نه دی بلکه د علماوو د دې غوښتنې جشن دی چه

په انتهایي توګه محدوده هم وه او نه نتیجه ورکوونکي هم وه. او داسې ده چه اوس د قادیان فتنه یواځې پاکستان نه بلکه د ټولې اسلامي دُنیا د تباه کولو لپاره له مخکې څخه زیاته مضبوطه شوه چه څه وغواړي هغه به کوي.

د پاکستان د سرزمین په سینې کښې د خپل بیرغ په خښولو سره په اطمینان او آرام سره اوسیدونکي د یهودیت د اصل او بیخ دواړه ډلې که لاهوري ده او که ربواهي، آیا له خپلو ملعونو مقاصدو څخه به لاس واخلي او منع به شي؟

ستاسو سره کومه حربه ده چه د هغوی د حربو د لرې کولو لپاره ئې تاسو استعمالوی؟

تاسو مطمئن شوی، ملت مو مطمئن کړ، ستاسو نیت صحیح دی، په ځای دی، لیکن:

سخن شناس نئی دلبرا خطا اینجاست

لهذا د سوالونه ځوابونه په اوس وخت کښې بې ځایه دي، ما دا ځو لیکې د انتهایي ادب له مخې ولیکل. ما د دغو قادیانیانو پیژندنه له پوره اویا کلونو راهیسې شروع کړې ده، د دوی عظیم مبلغ چوهدري ظفر الله خان زما دیوال په دیوال ګاونډي تیر شوی دی، شپه ورځ له هغوی څخه د هغه د الحاد د تبلیغ هدف پاې شوی یم نو ځکه اوس یو مفصل کتاب هم لیکم او یقین لرم چه الله تعالی به مې د جناب محمد رسول الله ﷺ په طفیل مدد هم کوي. (۱۵ اکتوبر ۱۹۷٤ء)

مولانا ماهر القادري صاحب مدیر ماهنامه "فاران" کـــــراچي

جناب مکرم! السلام علیکم و رحمة الله و برکاته

لیک مو رأ ورسیده زما په یادولو سره مو د زړه له کومې مننه کوم، ستاسو لومړی سوال دا دی چه:

﴿۱﴾ د قادیاني په دې حل باندې ستاسو احساسات، جذبات او تاثرات څه دي؟

ځواب ئې د اکتوبر د میاشتې د "فاران" د اداریې په اول نقش باندې زما د احساساتو هندارې او د جذباتو مې ترجماني کوي. د دې مسئلې په حل کیدو سره هیواد له ډیر لوی فساد څخه محفوظ شو. او که نه نو د ختم نبوت په مسئله کښې د مسلمانانو جذبات ډیر لوړ شوي وو او آخري اندازې ته رسیدلي وو او په دستوري توګه باندې د دې مسئلې د معلق والي څخه ډیر تنګ شوي وو. د اقتدار د خاوند انو دا حال دی چه د دې مسئلې نیک نامي هم غواړي او یادونه ئې زیات خوند هم نه ورکوي، د غیشي له لیندې څخه د وتلې غوندې معامله ده.

﴿۲﴾ د قادیاني فتنې دیني او سیاسي اثرات په ملک کښې دننه او د باندې خپاره شوي دي. د اقلیتونو د تحفظ په لحاظ ساتلو سره آیا د مسلمانانو ذمه واري په دې فیصلې باندې سر ته ورسیده او که د دې فتنې د مهلکو اثراتو پلتنه او احتساب به جاري وي؟

ځواب: د مسلمانانو ذمه واري نوره هم زیاته شوې ده، په قادیانیانو کښې د تبلیغ دا بهترینه موقعه ده، په هغوی باندې دې د اخلاق، محبت او همدردۍ، د جذبې لاندې کار وشي او په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

ځانګړې توګه دې د مرزا قادیاني لیکنې د هغو په مخکښې ولوستل شي چه له نبي سره خو څه کوي د یوه شریف سړي سره هم د اسې متضادي او ګډوډي خبرې نه بناتي؟ د اقلیت د حقوقو تحفظ پخپل ځای کښې یو حقیقت دی لیکن د مولانا مودودي په خبره حکومت مار په لرګي وواهه او پرې نې نښود۔ او زخمي مار ډیر خطرناک هم وي۔ قادیانیان په ساده توګه د غیر مسلم ذمي په حیثیت سره په پاکستان کښې په امن او امان سره اوسیدلی شي لیکن د پاکستان او اسلامي ملت په خلاف د دوی یو ډول سازش هم نه شي زغمل کیدلی۔ دا مسئله ډیر په اهمیت او خاصه توګه د غور قابله ده چه د مسلمانانو په حکومت او معاشرې کښې د کاذب نبي د دروغجن نبوت دعوت دي نه ورکول کیږي۔ د یهودو، نصارا وو، هندوانو او زردشتیانو کفر او د دروغجن نبي د نبوت موقف سره یو نه دي۔ دا هغه کفر دی چه تبلیغ او خپرول نې په مسلمانانو کښې قانوناً باید منع وي۔ لکه څرنګه چه د مسلیمه کذاب له نامه سره د حضرت او علیه السلام القاب ښه نه بریښیدل همدارنګه د مرزا غلام احمد قادیاني له نامه سره د تکریم، تعظیم او احترام القاب نه شي زغمل کیدلی۔ ابو جهل او ابو لهب کافران وو، له نبوت څخه منکر وو، د نبي کریم ﷺ دښمنان وو لیکن د نبي کریم ﷺ د نبوت حریف او مدِ مقابل نه وو۔ مرزا غلام احمد قادیاني چونکه د نبوت مدعي دی نو ځکه نې موقف د نبي کریم ﷺ د حریف موقف دی۔ (استغفرو الله) (۲۹ رمضان ۱۳۹٤ هجري)

مولانا عبد القدوس هاشمي صاحب اداره تحقیقات اسلامیه اسلام آباد

مولانا محترم او مکرم وفقکم الله بما هو رضاه و علیکم السلام و رحمة الله و برکاته۔

ستاسو قدرمن لیك نښه ۱۲۳۲ مؤرخه ۲۹ اکتوبر ۱۹۷٤ء را ورسیده۔ تاسو په دې قدرمن لیك کښې چه کوم سوالونه لیکلي دي د هغو په سلسله کښې لاندینې ځوابونه ورانده کوم۔

﴿۱﴾ قادیاني مسئلې لره چه کوم ډول اسمبلي حل کړې ده هغه په هر صورت کښې د ستاینې وړ دی، الله تعالی دې هغو ټولو حضراتو ته د خیر جزاء ورکړي کومو چه په دې لاره کښې سعی او کوشش کړی دی۔ علماء کرامو او دیندارې مسلمانانو خو د قادیانیت د فتنې له ابتداء څخه دا خلك د دین او دُنیا دواړو لپاره د عظیم خطر په ګنلو سره د اسلام له دائرې څخه وتلي بللي دي۔ د شکر ځای دی چه الله تعالی د اسمبلي نورو غړو ته هم د حق خوا ته لارښوونه وکړه، ما د اسمبلي د فیصلې په اوریدو سره د شکر سجده ادا کړه۔

﴿۲﴾ قادیانیانو د اسلام د دُښمنانو په ملګرتیا او امداد سره توله دُنیا خو نه لیکن په ډیرو ملکونو کښې خپل زهر پاشلي دي۔ اوس د دې خبرې ضرورت دی چه مونږ د دې زهر تریاق له ځان سره واخلو او په مختلفو ملکونو کښې خپاره شو او د هغوی د دیني او سیاسي زهر مقابله وکړو۔ زما په ګومان دا ډیر ضروري کار دی چه وشي۔ د افریقا دوه ملکونه د دې تریاق ډیر

ضرورت لري چه یو نې نائجیریا او بل نې مشرقي افریقا ده۔ همدارنګه د جنوب ختیځي آسیا د دوه ملکونو ملیشیا خواته د چټکي توجه ډیر ضرورت دی۔

﴿۳﴾ د اقلیتونو د حفاظت او د هغو د عمراني حقوقو د ساتنې مطلب هیڅکله دا نه شي کیدلی چه مونږ به هغو ته مکمله آزادي ورکړو کوم چه نه خو د وطن وفادار دي او نه د حق دین وفادار دي۔ له مسلمانانو څخه زیات د اقلیتونو په حق کښې نرم او پراخې سینې درلودونکی د دُنیا کوم بل قوم نه دی لیکن کوم اقلیت ته دا حق نه شي ورکول کیدلی چه د اختلاف فتنه پیدا کړي او د مسلمانانو د اجتماعي طاقت په خلاف د دین له دښمنانو سره یو ځای شي او دسیسې جوړې کړي۔ او نه د دې اجازه ورکول کیدلی شي چه د ملك په کومې برخې کښې خپله ځانته آبادي جوړه او متوازي حکومت په پښو ودروي یا ځینې له دین څخه بې خبره افسرانو له ملي بیباکي څخه د حکومت او معیشت نظم خراب کړي۔

دا زمونږ مذهبي فریضه ده چه مونږ دا ټول خراب شوي حالات اصلاح کړو او په دې ډول سره نې اصلاح کړو چه قادیانیان د مسلمانانو په شکل کښې چه کومې لومې اچوي د هغو د منع کولو هر مناسب تدبیر غوره کړو، د هغو په تذکرو (شناختي کارت) باندې د دوی دین په واضحه توګه ولیکل شي او په پاسپورتونو کښې نې هم دین ښکاره شي تر څو چه د تلبیس او التباس دروازه بنده شي۔

﴿٤﴾ مسلمانان باید له هیڅا څخه غافل نه وي، هر وخت به تیار اوسیږي، په پاکستان کښې د قادیانیانو په منځ کښې په حکومتي او غیر حکومتي سطحې باندې د دین د تبلیغ پراخ انتظام باید وشي، انشاء الله ډیر قادیانیان به مسلمان کیدو ته تیار شي۔ دا بیچارګان د مرزا له هغو اتو (بې ځایه خبرو) څخه خبر نه دي، هغوی دا وایي چه د پیري او مریدي د نورو سلسلو غوندې دا هم یوه سلسله ده۔ او چه کله دوی په دې پوه شي چه دا اسلام نه دی بلکه بالکل یو جلا دین او مذهب دی نو هیله ده چه ډیر قادیانیان به توبې وبلسي او ایمان به راوړي۔ او له دې نه به نور څه بهتر وي چه یو غولول شوی انسان حق دین ته راوګرځي۔ دا عمل دي په نورو ممالکو کښې جاري کړی شي نو انشاء الله تعالی چه ډیرې ښې نتیجې به ورکړي۔ (۳۰ اکتوبر ۱۹۷٤ء)

جناب ډاکټر محمد حمید الله صاحب پیرس (فرانسه)

محترمي زاد مجدکم! سلام مسنون و رحمة الله و برکاته۔

دلته له دوه میاشتو راهیسې د ډاك خانې هرتالونه وو د دې لپاره ستاسو د ۱۰ نومبر خط اوس په جنوري کښې را ورسیده۔ ستاسو شکریه ادا کوم۔ زما له قادیانیت سره هیڅکله هم دومره دلچسپي نه وه چه په اړه نې کوم مضمون یا کتاب وګورم۔

لکه څرنګه چه دیندارو خلکو د هغه په خلاف په روح، ځان او دلچسپي باندې کار کړی دی د دې لپاره دا به ډیره ښه وي، الله تعالی دې عظیم اجرونه ورکړي۔

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

لیکن په عالم اسلام کښې نور مسائل هم شته کوم چه تر دې کم نه دي بلکه ښایي چه تر دې اهم وي. د اسلحې په ځای د مستعملې او بې کاره اسلحې په اخیستلو باندې به مونږ تر څو پورې قانع یو؟ د اشتراکیت او الحاد له مقابلې څخه به تر څو پورې ویده یو؟

زه دلته د خپل حقیر صلاحیت مطابق په نورو علمي کارونو کښې مصروف بلکه غرق یم. کاش چه ملګري په دې کښې څنډه نه شي.

ستاسو د محترم حضور له خوا رسالې راځي. مننه!

جناب ډاکټر پروفیسر صغیر حسن معصومي، اسلام آباد

جناب مکرمي د ماهنامه الحق اکوړه خټک مدیر صاحب: السلام علیکم! ستاسو د پوښتنو په جواب کښې دا خو لیکې ستاسو په خدمت کښې وړاندې کوم.

﴿۱﴾ د قادیاني مسئلې په حل باندې مونږ حکومت ته مبارکي ورکوو چه ډیر ښه او مناسب حل ئې د عوامو او خصوصاً د علماء کرامو د غوښتنې مطابق په اسمبلي کښې تصویب (پاس) کړ. په دې حل سره الله تعالی علماء کرامو ته په ځانګړې توګه او عامو مسلمانانو ته په عامه توګه سرخروبي ورپه برخه کړ. د توحید بچیان د نبي کریم ﷺ د ختم نبوت عقیده لري. د الله تعالی په لکونو لکونو شکر دی چه حکومت د دې عقیدې د حرمت په ساتلو کښې ډیر کوشش وکړ او د دې عقیدې مخالفین ئې د اسلام دښمنان وګڼل.

﴿۲﴾ لکه څرنګه چه قادیاني فتنه په ځلور ګڼجه عالم کښې خپره شوې ده، د دې لپاره د دینې او دُنیاوي اثرانو د له منځه وړلو لپاره ئې دا ضروري ده چه هر احمدي یا قادیاني د حکومت په تذکرې (شناختي)، پاسپورټ او فورمو (ډومیسائلونو) باندې د قادیاني توب او احمدي توب څرګند اظهار وکړي. که چیرته دلسې تدبیر غوره نه شي نو دا خلك د نفاق په اختیارولو سره او په حلقیه توګه خپل ځان مسلمان او د ختم نبوت معتقد په ښکارولو سره مسلمانانو ته د تل لپاره د دوکې ورکولو کوششونه به وکړي او بیا به د ملك په دننه او باهر کښې به اسلامي ملت ته له هر ډول نقصان رسولو څخه په ډډه نه کوي.

﴿۳﴾ غرض له دې فتنې څخه د ځان ساتلو لپاره ضروري ده چه د پاکستان حکومت کومه ماده پاس کړي او هر احمدي او قادیاني په دې باندې مجبور کړي چه د خپلې عقیدې اظهار وکړي. چه کله هغوی په قانوني توګه غیر مسلم وګڼل شول نو د هغو د تعداد په مناسبت دې هغوی ته حقوق ورکړل شي او په هره شعبې کښې دې په هغې مناسبت سره د دوی د حقوقو ساتنه وشي.

پر دې بناء باندې د ختم نبوت د عقیدې درلودونکي په هغه وخت کښې حقیقي خوښي محسوسولی شي چه د پاکستان حکومت پخپل عملي اقدام سره دُنیا ته دا وښایي چه په اهل

نفاق (منافقینو) یعنې احمدي او قادیاني او صحیح عقیدې په درلودونکي مسلمانانو کښې امتیاز او فرق ښکاره دی، یا پخپله د حکومت په الفاظو کښې ځینو غیر مسلمو ته د مسلمانانو غوندې حقوق او امتیازات ورنه کړل شي.

اهل علم حضرات په هغه وخت کښې د آرام ساه اخیستلی شي چه اهل نفاق په صحیح توګه توبه وباسي او د مسلمانانو په ډلې کښې شامل شي. له دوی سره یو ځای اوسیدل شروع کړي، د دوی جوماتونو ته راشي او په مینه او محبت سره خپل ژوند تیر کړي.

(۲۵ اکتوبر ۱۹۷۴ء)

جناب محترم ډاکټر سیّد عبـــــــد الله صاحب د دائره معارف اسلامیه پنجاب یونیورسټي (لاهور) د شعبې صدر

د قادیانیانو په باره کښې د اقلیت فیصله وشوه، همدارنګه د علماء کرامو کوششونه کامیاب شول کوم چه له سلو کلونو راهیسې نې جګړې پرې کولې. او زه دا وایم چه یو اخې جنګیدلي یو.

زه چه کله دا وایم چه دا جنګ یو اخې علماوو کړی دی نو بالکل حقیقت بیانوم، له علماوو پرته چه څومره ډلې دلته موجودې دي د هغو ډیري لیکنې د شهادت په توګه وړاندې کولی شم چه نقطهٔ نظر ئې په عمومي توګه د علماوو د موقف په خلاف د قادیانیانو په حق کښې پاتې شوی دی. او په دې کښې د لویو لویو اکابرو نومونه وړاندې کولی شم.

د خبرو اترو مقصد دا دی چه دا په خالصه توګه د علماوو د موقف کامیابي ده چه کوم سیاسي مفاد او مصلحت پکښې دخل نه لري. او اوس په داسې حال کښې چه علماء کرام د عقیدې په دې جنګ کښې کامیاب، با مراد او عزتمند کیدو سره د باندې راځي نو دا د علماء کرامو فریضه ده چه تر دې فیصلې وروسته کومې نتیجې را ووځي د هغو په باره کښې خپل ذهنونه پاك کړي او په یوه نظم او اجتماعي قوت سره د دغو نویو فرائضو لپاره ملاوتړي او خپل ځانونه تیار کړي کوم چه په دې سلسلې کښې دوی ته مخامخ کیږي ځکه چه بالآخره د دین خدمت به یو اخې علماء کرام کوي او دوی نې کولی شي ځکه چه د دین په خاطر (نه د سیاست او دنیوي ګټو په خاطر) د کار کولو اصولي صلاحیت یو اخې له علماوو سره دی او بس.

له اقلیتي فیصلې څخه په علماوو باندې باید دا په ډاګه شي چه په دې ملك (بلکه د دُنیا په هر ملك) کښې د اسلام د دین په برکت سره په دې صورت کښې هر چا ته دا څرګندیدلی شي چه په اصولو کښې د اُمت د علماوو تر منځ اتحاد او یو والی شته.

تر ننه پورې د اسلام په باره کښې چه څومره بې حسي او بې خبري موجوده ده د دې یو لوی سبب د علماوو خپل منځي اختلاف دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

مونږ دا وایو چه په پاکستان او اسلامي ډنیا کښې د اسلام قانون او د ژوند انه اسلامي طریقه رائجه شي لیکن د تل لپاره مو لیدلي دي چه د اسلامي قانون فروعات د کار محور جوړ شوی او د اختلاف بازار پرې ګرم شوی دی او د عامو ښاري مسلمانانو لپاره دا پوهیدل مشکل شوي دي چه د چا په اسلام باندې عمل وکړو بلکه له دې پریشان خیالي څخه د بچ کیدو لپاره عام خلك دا وایي چه وروره د دغو خلکو سره چه کله د کار یوه طریقه او دستور العمل وجود نه لري نو په دې پریشاني کښې د لویدلو ضرورت څه دی؟

زه راقم الحروف د اسلام په دین ژوره عقیده لرم او د علماء کرامو پیرو او معتقد یم۔ لهذا دا خبرې په تنقیص او بدګماني باندې مه محمولوی۔ دا خبرې له عامي تعلیم یافته طبقې څخه پرته په بې علمه، عامي طبقې کښې هم خپرې شوي دي او د دې قابلې دي چه په سارې د دماغ غور پرې وشي تر څو د خلکو بې یقیني او د اعتقاد کمزورې لرې شي۔

دا صحیح ده چه زمونږ مخکښینې دیني ادب کښې د فقهاوو اختلاف یو مصلحت درلود او مصلحت دا وو چه د حق دین تر آخري برخې پورې دا پلتنه وشي د خدای او د خدای د رسول ﷺ په دې باب کښې منشأ څه وه ـــ دا د ربښتونولي او حق پلټنه وه او په دې کښې مضائقه د دې لپاره نه وه چه په مسلمه اُمت باندې نې بد اثر نه لویده او د چا د ګمراه کیدلو اندیښنه نه وه، هر مسلمان چه کوم مسلك خپلاوه په هر حال کښې په دین باندې به نې منګولې لګول غیر متزلزل وو۔

لیکن اوس صورت حال بدل شوی دی، اوس د مغرب طوفان د عقائدو عمارت خراب کړی دی، ډنیا د اري زیاته شوې ده او د اروپا ماده پرور سائنس د شکوکو او شبهاتو مینار درولی دی۔

په دا سې حالت کښې د ما به الاختلاف په ځای په ما به الاشتراك باندې د زور اچولو ضرورت دی، د علماوو په وړاندې په دې ملك کښې ډیرې اهمې مسئلې پرتې دي چه د هغو لپاره د علماوو پخپل منځ کښې یو والی ـــ او د لویې مسئلې په باره کښې کم او زیات متفقه یا مفاهمتي دستور العمل باید تیار شي تر څو چه عامو خلکو ته نې په قبلولو او غوره کولو کښې پریشاني نه وي۔

علماء کرام ښه پرې خبر دي چه د اوخت د اسلام په وړاندې دوه عظیم خطرونه موجود دي۔ یو د مغرب افکار او د ژوند انه د طریقې خطر او بل د اشتراکیت (کمیونزم، سوشلزم او د اسې نورو) خطر۔ دا دواړه فتنې له قادیاني فتنې څخه کمې خطرناکې نه دي۔

اوس په دا سې حال کښې چه علماء له خپل قوت څخه خبر شول او دا ئې هم وپیژندل چه د دوی اصل طاقت په یو والي کښې دی، په دې باندې د افریضه را ګرځي چه د پورتنیو یادو شویو دوه فتنو د مقابلې کولو لپاره پخپل منځ کښې سره یو شي۔

زمونږ د ملك ډیر علماء کرام د دغو مغربي فتنو تاوان د دې لپاره کم او معمولي ګڼي چه د هغوی له پتو عقیدوي نظامونو څخه خبر نه دي۔ که چېرته تري خبر شي نو د دغو مغربي

عقائدو په هر هر پیچ کښې څومره څومره سومنات غلي دي نو بیا به ښه احساس ورته وشي چه د دغو مقابله یو اځې ضروري نه بلکه فرض عین ده۔

لهذا په علماء کرامو باندې واجب دي چه د دغو فتنو په باره کښې صحیح معلومات سره راټول کړي او بیا ئې د مقابلې لپاره سره یو شي، د بې خبرې په صورت کښې د دغو خطرناکو فلسفو او عقیدو مقابله نه شي کیدلی۔

له قادیاني فیصله څخه وروسته په تعلیم یافته خلکو کښې ځلور قسمه خبرې په ډیرې تیزۍ سره خپریږي یا خپرول کیږي۔ یو ګومان دا خپریږي چه له قادیانیانو وروسته اوس د شیعه ګانو او نورو وړو ډلو نمبر به راشي، په دیني توګه هم او سیاسي توګه هم۔ یوه مغالطه دا خپریږي چه تر اوسه پورې خو په غیر اسلامي ملکونو کښې لږ ډیر د اسلام نوم د قادیانیانو په ذریعې سره خپریده۔

له دې فیصلې څخه وروسته تر څو پورې چه په دغو ملکونو کښې (زمونږ د تبلیغ) کوم بل نظم موجود نه شي تر هغه وخته پورې دا ډول آواز به اوس نه پاتې کیږي۔ او دا هم ویل کیږي چه علماء له خپلو موجوده اکتساباتو سره په دغو ممالکو کښې د تبلیغ اهلیت نه لري ـــ او غیر قادیاني تعلیم یافته طبقه دومره بې حسه ده چه د دین له معاملاتو سره هیڅ دلچسپي نه لري ـــ لهذا یو خیال دا خپرول کیږي چه له دې څخه په آخر کښې د اسلام ګټو ته نقصان رسیږي۔ زما په رأیه کښې دا مغالطه ده لیکن د علماوو لپاره په هر حال کښې دا اړخ د غور وړ او د چتکې توجه قابل دی۔

یو ګومان دا هم خپریږي چه د مسلمانانو د معاشرت (ژوند انه) حقیقي طرز او طریقه د قادیانیانو په کورونو کښې موجوده ده او که نه نو عام تعلیم یافته مسلمان خو له د اسې ژوند انه څخه بیزاره لیدل کیږي۔ په تعلیم یافته (غیر قادیاني) ځوانانو کښې پرده، حیا، د جُمعې او جماعت پابندي بلکه پخپله د لمانځه التزام، له قرآنکریم سره تعلق (یو اځې له مخې څخه د ویلو وغیره تر اندازې پورې هم) اوس بالکل وجود نه لري۔

پوښتنه دا کیږي چه د اسلامي ژوند انه د طریقو پابنده قادیاني او نه پابند غیر قادیاني تعلیم یافته خلکو باندې په نورو ملکونو (بلکه پخپله خپل ملك کښې هم) آیا زیات اثر لرونکي به نه وي؟ د اسلام له بنیادي مزاج څخه مختلف دي، چه کله مقصد اسلام وي نو بیا د اسلام نوم ولې نه اخیستل کیږي، د اسلام په لارې او د اسلام په ذریعې سره هره مسئله حل کیدلی شي۔ د دې خیال د خپرولو لپاره زبردست تنظیم په کار دی۔

بله مسئله د معاشي او معاشرتي ده۔ ربښتیا خو دا ده چه علماء کرام یو اځې په عقیدې باندې دومره زور اچوي چه د معاشي او معاشرتي برخه پکښې ورکیږي۔ د ننورځې معاشي ذهن ته په کتو سره د معاشي عدل او انصاف په حق کښې او د معاشي بدیو په خلاف د ځرګند پروګرام د جوړولو په صورت کښې ډیر کار باید وشي او که نه وي نو مخالفین دا مغالطه پیدا کوي چه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

علماء کرام د معاشي انصاف او د غریبانو د ګټو مخالف دي.

په معاشرتي توګه باندې د فحاشي، عریاني (لغو والي) او مغربیت په خلاف د منظم کار کولو ضرورت دی، له معاشرت څخه د کوم نظام یا مذهب خارجي فروغ او غلبه څرګندیږي، د سینما له فحشو اشتهاراتو څخه نې ابتداء کیدلی شي.

د دیني علم په نصابونو او نصب العین باندې باید له سره غور وشي، په اوس مهال کښې خو له دیني لحاظ څخه مکمل لیکن له تبلیغي لحاظ څخه نیمګړی دی. په نورو ملکونو کښې د اسلام د تبلیغ لپاره علماء باید (په نوي لسلحو باندې سنبال شي) او کار وکړي.

د نفس د پاکوالي او د زړونو د تزکیې لپاره ځنډنی نظام باید له سره را ژوندی شي تر څو چه غړي له حرص او هوا څخه پاک شي.

تر اقلیتي فیصلي وروسته په دې خبرې باندې نظر وساتل شي چه کومه ډله د حکومت له رویې او کمزورۍ څخه ګټه پورته نه کړي او تر تولو زیات ضروري دا دی چه علماء خپل ځانونه د اسې ډول تیار او آماده کړي چه د چا د سیاسي ګټو د کار آله جوړ نه شي.

و السلام

حضرت مولانا محمد شریف صاحب جالندهري ناظم مرکزي دفتر مجلس تحفظ ختم نبوّت (ملتان)

اسلام د فطرت دین دی چه د فخرِ موجودات حضرت خاتم الانبیاء ﷺ په تشریف راوړلو باندې پوره شوی دی. مخبر صادق ﷺ چه چېرته د مسلمه اُمت لپاره د داخلي او بهرنۍ فتنې په ګوته کړي دي هلته نې د نبوت د دروغجنو مدعیانو په اړه له شرح او بسط سره فرمایلي دي چه:

"فتنې که هر څومره تول نبیوونکي شي ختمیدونکي دي او یواځې د فطرت دین پاتې کیدونکی دی، طوفان چه څومره لوی وي لیکن عمر نې ډیر کم وي".

اَمَّا الزَّبَدُ فَیَذْهَبُ جُفَاءً وَ اَمَّا مَا یَنْفَعُ النَّاسَ فَیَمْکُثُ فِی الْاَرْضِ.

د مرزائیت فتنه د مسلمانانو لپاره یوه توره فتنه وه او توره فتنه ده. مرزائیت د اسلام د دښمن قوتونو د کار آله جوړه شوې ده او د عالم اسلام لپاره نې مشکلات پیدا کړي دي او د اغیارو لپاره د خوښۍ او انبساط سامانونه پیدا کړي دي. د ۷ ستمبر فیصلي د دې فتنې ملا ماته کړه — لیکن تر اوسه ډیر کار لاپاتې دی کوم چه د تولو مسلمانو ډلو په اتحاد او اتفاق سره سر ته رسیدلی شي. د مجلس عمل قائم پاتې کیدل او له مضبوط څخه مضبوط والی نې نه یواځې د مرزائیت د توري فتنې د سرتکونې لپاره ضروري ده بلکه په وطن عزیز کښې د اسلامي اقدارو د ژوندي کولو لپاره هم ضروري ده. که چېرته خدای مکړه د مجلس عمل غړي د خپلو خپلو ډلو تنګو کوڅو ته ننوځي، د دې د بیخ د ځړوبولو په ځای د هغې په پانو باندې د اوبو په پاشلو

کښې مصروف شي نو نه یواځې دا چه د ۷ ستمبر فیصله به کاغذي فیصله وي بلکه د ملت دښمنان له دې انتشار (تیت پرک والي) څخه ګټه پورته کړي او په تولو کړو باندې به مو اوبو تویې کړي. وَ لَا تَکُوْنُوْا کَالَّتِیْ نَقَضَتْ غَزْلَهَا مِنْ بَعْدِ قُوَّةٍ اَنْکَاثًا.

د ختم نبوت د تحفظ مجلس جوړیدنه د مسلمانو ډلو د یووالي او د مرزائیت د تردید لپاره دی. مجلس د تولو مسلمانو ډلو له رهبرانو څخه غواړي چه د ۷ ستمبر ۱۹۷۴ء د فیصلي اجراء له لوړو منصبونو څخه د مرزایانو لرې کول، په ربوه کښې په عملي توګه د اهل اسلام لپاره د اوسیدلو د ځایونو جوړول او مجلس عمل تحفظ ختم نبوت دي د یوه فعال جماعت په حیث سره ژوندی وساتي. (۱۸ شوال ۱۳۹۴ هجري)

حضرت مولانا احمد عبد الحلیم کانپوري (کراچی)

﴿۱﴾ په عامه توګه تول مسلمانان په دې خبر دي چه مرزا غلام احمد د خپل نبوت د اعلان یا په نورو الفاظو سره د خپل کفر او ارتداد له اعلان څخه وروسته له انګریزي حکومت سره د خپل عبودیت د بنکاروولو لپاره دا اعلان هم کړی دی چه زما په مذهب کښې جهاد حرام دی او له دې سره سره مرتدِ اعظم دا اعلان هم وکړ چه زه خوني (وینې تویوونکی) نبي نه یم. (آتش بگورش) دې مردود د "خوني" لفظ په ویلو سره د سید البشر خاتم الانبیاء و المرسلین ﷺ په اقدس ذات باندې ډیر حقیر او سپک تعریج او تنقید (نیوکې) کړی دی او (معاذ الله) د ده ﷺ مبارک دین نې قاتل او بې رحمه بللی دی. په داسې حال کښې چه جهاد د اسلام پنځم بنیادي او ضروري رکن دی چه له هغه پرته د اسلام حفاظت کیدلی نه شي. د دې لپاره په دې باره کښې عالي ارشاد دی چه "الجهاد ماض الی یوم القیمة" (یعني جهاد به تر قیامته پورې جاري وي او هیڅکله به منسوخ او معطلیږي نه) هغه په دې خبرې پوه وو چه انګریز د ۱۸۵۷ء په جهاد کښې له سخت ګذار، ځاني او مالي نقصان پورته کولو څخه وروسته له جهاد څخه بې اندازه په ویره او په لرزه کښې دی. او د دې لپاره ده په تولې اسلحې باندې تر دې پورې چه په لوبې چرې او چاقو باندې هم پابندي لګولې وه چه دا هم د جهاد آلات او اسباب دي. د دې لپاره مرتد مرزا له انګریز سره خپله وفاداري او عبودیت (بندګي) د خوني د نه نبي والي په جاهلانه او کافرانه نفي سره ټینګ کړ. ځکه چه هر مرزایي او قادیاني چه د ده په نبوت باندې ایمان لري هغه هیڅکله پخپل رضا او خوښي سره په جهاد کښې نه شي شریکیدلی او که چېرته د ریاکاري او دوکه ورکولو لپاره شریک هم شي نو فرائض نې بیا سر ته نه رسوي. لکه څرنګه چه زمونږ فوځ د مجاهدینو یوه ډله ده د دې لپاره له فوځ څخه زر تر زره دوی باید و ایستل شي.

﴿۲﴾ مرتد مرزا په قرآنکریم کښې د نورو تحریفاتو تر څنګ دا تحریف هم کړی دی چه زما د نبوت وړاند وینه مسیح ابن مریم علیه السلام ته هم شوې ده چه ذکر نې د انجیل په حوالي سره په قرآنکریم کښې په دې ډول راغلی دی. مُبَشِّرًا بِرَسُوْلٍ یَّاْتِیْ مِنْ بَعْدِی اسْمُهٗ اَحْمَدُ (یعني الله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

تعالی مسیح ابن مریم لره د احمد نومي یو پیغمبر باندې زیری ورکوونکی جوړ کړی دی).
مرزا به ویل چه هغه احمد زه یم۔ او نبي کریم ﷺ د قرآنکریم د تصریح مطابق محمد دی۔ په
دا سې حال کښې چه که څوک پوښتنه تري وکړي چه ته خو احمد کله ئې ته خو غلام احمد ئې،
او غلام هم ډیر عیار او بې وفا۔ د دغو مرزایي خرافاتو پر بناء د دې متابعین څان ته احمدیان
وایي، مرزایي او قادیاني نه وایي، د دې لپاره مونږ باید له هغو سره له مشابهت او د هغو د کفر
له تائید څخه د ځان ساتلو په خاطر دوی ته هیڅکله احمدیان و نه وایو بلکه مرزایان یا قادیانیان باید
ورته ووایو، د دې نمونه په قرآنکریم کښې هم راغلې ده: یٰاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا لَا تَقُوْلُوْا رَاعِنَا وَقُوْلُوا انْظُرْنَا
(یعني ای د ایمان خاوند انو! تاسو نبي کریم ﷺ د مخاطب ګرځولو لپاره د منافقینو غوندې
راعنا مه وایی بلکه انظرنا ووایي یعني په مونږ باندې نظر وکړه) ګوا که په ظاهره دا کلمه له
مراعات څخه د مشتق والي له وجې د ادب او تعظیم کلمه ده چه معنی ئې دا ده چه زمونږ
رعایت هم وکړی، او د دې ضرورت لپاره تاسو "انظرنا" ووایی چه معنی ئې دا ده چه په مونږ
باندې هم نظر واچوی۔ منافقینو او یهودیانو د "راعِنا" زیر به دومره راکش کړ چه "راعینا" به
تري جوړ شو چه معنی په ئې دا شوه چه (ای زمونږ د میړو څرووونکیه)۔ همد ارنګه که به ئې
چېرته زیر راکش نه کړ نو بیاهم ئې د راعن منادي تري جوړ کړ کوم چه له رعونت څخه مشتق
دی او معنی ئې تکبر او په دې روحاني مرض کښې د ککړیدو دی۔ یعني ای متکبر او
مغروره۔ او مؤمنانو چه کله د خطاب لپاره د هغوی په تقلید کښې راعنا ویل نو هغوی به ډیر
خوشحاله شول چه مونږ د ده مبارک ﷺ په جانثار انو باندې ده مبارک ﷺ ته هغه ښکنځا وکړه
کومه ښکنځا چه مونږ پخپله ورته کوو۔

﴿۳﴾ په اسلام کښې د دنیاوي کارونو حکومتي نوکري اهل ذمه کفارو ته له ورکولو څخه منع
نه کوي۔ هو! هغه خدمتونه هغوی ته نه ورکول کیږي کوم چه په یوه نه یوې طریقې سره له دین
سره ئې تعلق وي، لکه څرنګه چه فوځي نوکري د جهاد یوه نوکري ده د دې لپاره غیر مسلم د
فوځي توب اهل نه دی۔

﴿٤﴾ ربوه کوم چه په دې وخت کښې خالص کفرستان دی۔ دا ښار دي هم د نورو پاکستاني
ښارونو غوندې د هر پاکستاني د اوسیدنې لپاره باید عام شي بلکه د مرزایانو له ملکیت څخه
دې باید و ایستل شي۔ اول خو حکومت د سر ظفر الله د اثر په نتیجه کښې د زمکې دا توله
تکړه په ډیر کم قیمت سره پرې خرڅه او په پاکستان کښې دننه ئې یو کفرستان جوړ کړی وو۔ د
دې لپاره یا خو دې د دې تکړې مخکښینی قیمت هغو ته بیرته ورکړي او په دې تکړې دې بیرته
قبضه وکړي او بیا دې په پاکستان کښې شامله کړي او یا دې همد اسې پرته له قیمت څخه باید
ترڅو وګرځوي لکه څرنګه چه د زمینداړانو او زیات جائداد لرونکو څخه زائدې زمکې او
کارخانې مفتي اخیستل شوي دي۔ حالانکه په اسلام کښې د چا د سرمایي او جائداد باندې

هیڅ پابندي نشته۔ لکه څرنګه چه پخپله د خاتم الانبیاء و المرسلین ﷺ په مسعودي زماني
کښې حضرت عبد الرحمٰن بن عوف او حضرت عثمان بن عفان رضی الله عنهما میلونړان وو او
څینې صحابۀ کرامؓ دومره مفلس وو چه د وربشو د ډوډۍ وس به ئې هم نه درلودل او د باغونو
په لویدلو خامو خرماوو باندې ئې خپله ګذاره کوله۔ په همدې ډول چه کله به یو مالدار صحابي
دا غوښتل چه د فقیر صحابي کوم خدمت وکړي نو هغه به نه قبلاوه او ویل به ئې چه ته غواړې
چه زما د جنت نعمتونه کم شي۔ چه کله په هیڅ اندازې جائداد او سرمایي باندې اسلام کومه
پابندي نه ده لګولې په دې شرط چه په جائز او روا طریقې سره حاصل شوي وي نو د اسلام دعوه
لرونکي حکومت هم باید په دې باندې پابندي و نه لګوي۔ لکه څرنګه چه په قرآنکریم کښې
راغلي دي چه: یٰاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا لَا تُحَرِّمُوْا مَا اَحَلَّ اللّٰهُ لَكُمْ (ای د ایمان خاوند انو هغه شیان مه در باندې
حراموی چه الله تعالی تاسو ته حلال ګرځولي دي)
و ما علینا الا البلاغ۔ و السلام علی من اتبع الهدیٰ و الله المستعان۔

جناب محترم زید اے سلهری صاحب (لاهور)

مکرمي او محترمي جناب مولانا سمیع الحق صاحب! السلام علیکم و رحمة الله و برکاته۔
معافي را ته وکړی، په ځواب کښې ځنډ وشو، ستاسو رساله په ډیر شوق سره مطالعه کوم او د
علم یوه خزانه ئې بولم۔ زما شعوري ژوند په همدې تمنا کښې تیر شو چه د قادیاني مسئلې په
باره کښې مسلمانان خپله قیمتي ذمه واري ادا کړي۔ په اصل کښې قادیاني ازم د انګریز انو د
ذمه واریو په حفاظت کښې خپل کرداړ ترسره کړ۔ په یوې آزادې مسلم معاشرې کښې د دوی
پرمختګ ناممکن وو، د ده مقصد د اسلام د تعلیماتو له منځه وړل وو او په مغرب کښې د دې
مذموم او شوم مقصد د لاس ته راوړلو یواځې یوه ذریعه غوره شوې وه چه د نبي کریم ﷺ
ذات او صفاتو ته تاوان ورسیږي۔ لکه څرنګه چه هلته په پیړیو پیړیو چه څومره تبلیغات د
اسلام په خلاف وشول په هغو کښې اسلامي عقائد دومره د تنقید هدف نه وو ګرځول شوي
لکه څومره چه د نبي کریم ﷺ شخصیت هدف ګرځول شوی وو۔ مغربیانو د دې خبرې صحیح
اندازه کړې ده چه د مسلمه اُمت محور رسالت دی، که چېرته په مسلمانانو کښې د رسالت
مرتبه (نعوذ با لله) له نظره وغورځول شي یا پرې نه ښودل شي چه د اروپایانو په نظر کښې
لوړوالی پیدا کړي نو له اسلام سره مقابله کیدلی شي۔ د مرزا قادیاني د نبوت د دعوې قوي
مقصد خو په هندوستان کښې د وفاداروالي د یوې ډلې پیدا کول وو لیکن د دې اصل
مقصد د اسې اسلام رواجول وو چه دا رو مدار ئې د حضرت رسول الله ﷺ په ذات اقدس
باندې نه وي او د منشأ مطابق هر ډول عقیده پکښې شامله وي۔ لکه څرنګه چه قادیاني ازم،
هر غیر مسلم بلکه اسلام دښمنه حکومت ته هم د قبول وړ وي۔ تر څو پورې چه د انګریز انو
حکومت وو د قادیاني مسئلې مؤثر حل د مسلمانانو تر لاس رسي څخه د باندې وو۔ انګریز انو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

سګهانو ته د هغوی له غوښتنې پرته له هند وانو څخه جلا اقلیت وګنل لیکن د قادیانیانو په باره کښې د علامه اقبال غوښتنه نې د پام وړ و نه بلله. لیکن د پاکستان له تخلیق او آزادۍ وروسته د دې صورت حال هیڅ جواز نه وو پاتې شوی چه قادیانیان په باقاعده توګه په مسلمانانو کښې د جزو لاینفك په درجې کښې پاتې شي. د الله تعالی شکر دی چه:

کفر لوتا خدا خدا کر کے

اوس په ژوند کښې یو ډول پاکوالی محسوسیږي او د درود شریف له لوستلو څخه یو ډول د زړه طمانیت (آرام والی) حاصلیږي.

اړوند مسائل څه پاتې دي لیکن زما په ګومان تر ټولو اهمه مسئله له ملك څخه د باندې د اسلام د تبلیغ مسئله ده. زما یقین دی چه د پاکستان د پارلیمان د فیصلې اثر به په ټولې دُنیا پریووزي او د اسلام غوښتونکی به د اسلام اصل تعلیم خوا ته رجوع وکړي. لیکن بیا هم زمونږ فریضه ده چه دا امید ان قادیانیانو ته خلاص پرې نه ردو. په اروپا او افریقا کښې د دغو خلکو پښې تر ډیره اندازې پورې ټینګې شوي دي او په خلا کښې د دوی ډلییز نظم او نسق ټینګوالی له قیاسه لرې نه دی. که چېرته کوم غیر مسلم (کافر) د اسلام په لټون کښې وي نو قادیاني مبلغ محض د خپل مشن (تحریك) له موجودوالي څخه ګټه پورته کولی شي. په ځانګړې توګه چه کله هغه په بهرنیو ملکونو کښې اسلام په دې اسې ډول وړاندې کوي لکه څرنګه چه د مرزا قادیاني د نبوت له هغه سره هیڅ تعلق نه وي. له دې څخه د دوی غرض د خپلې ډلې مضبوط والی وي لیکن چه کله یو څوك یو ځل د دوی په واسطه سره د دوی په لومه کښې راګیر شي نو ورو په ورو د خپلې کم علمۍ او ناپوهۍ پر بناء د دوی هم خیاله جوړیږي. زه پوهیږم چه په نورو ممالکو کښې د اسلام د تبلیغ ډیر سخت ضرورت دی. خصوصاً په نن صبا وخت کښې د مغربي افکارو د زوال او د روسي کمونستانو د اقدارو عملي انسانیت وژونکي نتائج له لمر څخه تر روښانو الي وروسته عالمي فضاء د اسلام د نفوذ او خپریدو لپاره د تیاری په حال کښې دی او په دُنیا کښې د مسلمانانو لپاره د اعزاز حاصلولو لپاره له دې پرته به بله کومه لاره وي چه هغوی ته د اسلام تحفه وړاندې کړي؟

زه دا کار (تبلیغ) دومره ضروري ګڼم او زما مشوره دا ده چه مسلمان ملکونه د اسلام تبلیغ د خپل بهرني حکمتِ عملي یوه برخه وګڼي او په اجتماعي توګه د دې فریضې په ادا کولو کښې برخه واخلي. یاد ولری چه د کمیونزم د کامیابۍ لاره کمونستي تبلیغ هواره کړې وه. په اذهانو او زړونو کښې غلبه د ننني زمانې تر ټولو لوی محاذ جهاد دی. که چېرته مسلمانان د اسلام د فکري افضلیت په څرګندولو کښې کامیاب شي نو د دُنیا د نعمتونو او طاقتونو مأخذ پخپله د دوی په تصرف کښې راځي.

(٦ نومبر ١٩٧٤ء)

د اقلیت د غوښتنې یوه سرسري کتنه

حضرت مولانا سمیع الحق صاحب مد ظله

د پاکستان په نوي قانون کښې د نبي کریم ﷺ حیثیت د خاتم النبیین یعني آخري نبي په توګه د یوه حقیقت په شکل کښې ومنل شو. د دې دستور د درې اونیو (هفتو) له پوره کیدو وروسته د کشمیر له ګرنګونو څخه یو روح خوشحاله کوونکی آواز پورته شو، د باطل کور او دیوال په لړزان شو، کفر په رپیدو شو او د جعلي نبوت د تیارو تیاره نوره پسې زیاته شوه. دا د آزاد کشمیر په اسمبلي کښې په ایمان کښې یو پټ آواز وو. دا د ایماني حرارت او د رسالت د ناموس د ساتنې ترجماني کوونکي فیصله وه چه په هغې کښې قادیانیانو لره د غیر مسلم اقلیت د ګڼلو حق اعلان شوی وو. د دې خبرې په خپریدو سره د پاکستان په مسلمانانو کښې د خوښۍ او خوشحالۍ فضا خپره شوه ـــــ په دې جرأتمندانه او مؤمنانه فیصلې باندې د آزاد کشمیر اسمبلي او صدر سردار عبد القیوم خان ته د زړه له کومې ډیرې ډالۍ وړاندې کوم چه د اسې کول د ایمان غوښتنه وه. لیکن د کومو خلکو زړونه چه له دې رنا څخه محروم وو او د کومو باطن چه د رسالت په ناموس باندې د مړه کیدو له جذبات څخه خالي وو او کوم خلك چه د سترګو رانده نه بلکه د زړونو رانده وو د هغو د دجل او تلبیس په درمند باندې دا قرارداد (فیصله) یوه ناخاپي تکه وه چه ولویده. او د دوی د سازشونو سلسله له زر څخه زر ورڅیده. د آزاد کشمیر حکومت د دې جرم په بدله کښې به معزول کیدلی که چېرته د مسلمه اُمت د فدائیت جذبه او په ناموس رسالت باندې قربانیدونکي عزائم د دې منصوبې معاون او مددګار نه وای ګرځیدلي.

د چا چه دا فیصله خوښه نه وه د هغو حقیقت د سردار عبد القیوم خان له دغو الفاظو څخه معلومیدلی شي چه هغه د مرکزي وزیر داخله خان عبد القیوم خان په نامه په یوه تفصیلي لیك کښې لیکلي او ویلي دي چه "په اصل کښې خبره زما په خلاف د الزاماتو نه بلکه تاسو حضراتو ته دا تکلیف دی چه زه دلته په آزاد کشمیر کښې اسلامي قوانین په تیزي سره ولي جاري کوم؟ او د قادیانیانو د غیر مسلم والي توفیق له ما څخه غوښتنې کیږي. غالباً له قادیانیانو څخه هم تاسو دومره پریشانه نه یی لکه څومره چه د اسلامي نظام له جاري کیدلو څخه یی".

په هر حال دا مسئله یواځې د آزاد کشمیرنه د برّ صغیر نه بلکه د ټول عالم اسلام مسئله ده بلکه د زمکې په مخ باندې د اوسیدونکو د محمد عربي ﷺ هر نوم اخیستونکي اُمتي او د رسالت د دربار له چوکاټ سره نسبت درلودونکي له ادنی څخه ادنی غلام مسئله ده. "د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

قادیاني مسلم نزاع" چه څومره زر له منځه لاړ شي په همدومره تیزي او شدت سره به د امت د ایمان د اساسي او رسالت د تصور له وجهې مسلمانانو ته به د فکر او عمل دعوت ورکوي. د اسلام قطعي معتقدات، د قرآن او سنت متواتر تعلیمات، له نبي کریم ﷺ سره عشق او محبت له رسول عربي ﷺ سره د غلامي نسبت، د اسلافو اجماعي فیصلې او د ملي یو والي حفاظت او همدارنګه په زرګونو ملي، دیني، سیاسي او معاشرتي غوښتنې مونږ دې ته مجبوروي چه مونږ په یو ځل جګ شو او د "دورغجن نبوت" تولې نښې نښانې ځان څانته او له منځه یوسو. د اسلامي چوپاڼي په اغوستو سره په دُنیا کښې خپرېدونکي دا دجّالي کفر ته تر څو پورې چه پوره ګذار ور نه کړل شي تر هغو پورې به قادیانیت د اُمت لپاره یو اخطار پاتې وي او د محمد عربي ﷺ تول اُمت د خپل محبوب پیغمبر په مخکښې سرخرو (عزتمند) نه شي. قرآنکریم مونږ په دې معاملاتو کښې د وَقَاتِلُوهُمْ حَتّٰى لَا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ وَّيَكُوْنَ الدِّيْنُ كُلُّهٗ لِلّٰهِ حکم راکوي. کوم خلک چه په دې باره کښې د رواداري او وسیع النظري غوښتنه کوي او کوم خلک چه دا خبرې تنګ نظري او فرقه واریت ګڼي هغوی د ایمان له حقیقت څخه ډیر لرې دي او د ایمان او اسلام د زرګونو دعوو تر څنګ د خدای په نظر کښې د دوی وقعت او مرتبه د سید الشهداء حضرت حمزه رضی الله تعالی عنه د قاتل (وحشي) د متیازو د څاځکي په برابر نه دي چا چه د نبي کریم ﷺ د زړه د آزارولو کفاره (پتې) د خپل وخت دروغجن نبي مسیلمه کذاب د خپلې توري د لاندې کولو په شکل کښې ورکړه. او تر څو پورې ټې چه دا ملعون جهنم ته نه وو رسولی تر هغه وخته پورې د خدای د رحمت او مغفرت امیدوار نه شو جوړیدلی.

ـــــ تعجبه ده چه ځینې خلک د قادیانیانو په باره کښې د مسلمانانو د اقلیت په غوښتنې باندې هم خپل تندي تریو کوي. حالانکه دلته د کفر او اسلام مسئله نه بلکه د اسلام او ارتداد مسئله وه. او په تول اسلامي تاریخ کښې د داسې خلکو سزا له قتل څخه هیڅکله هم کمه نه وه. دا د مسلمانانو رواداري دي او که مجبوري، چه هغوی د قادیانیانو په باره کښې "د اقلیت ګنلو" له کم څخه د کمې درجې غوښتنه کوي.

نو راشی! مونږ د دې اقلیت په غوښتنې باندې سرسري کتنه وکړو ـــــ تر کومه ځایه پورې چه د اقلیت مسئله ده.

د دین او دُنیا په هرې شعبې کښې د جلا اُمت والي اعلان

د قادیانیانو د یوه جلا او بیل او متوازي اُمت د حیثیت والي نه یواځې بنکاره حقیقت دی بلکه پخپله مرزائیت پخپلو تولو لاربنوونو او اعمالو کښې نه یواځې د یوه متوازي اُمت والي اعتراف کوي بلکه د خپلو پیروانو په عباداتو، معاملاتو، د دین او دُنیا د معاشرت او ژوندانه په هرې شعبې کښې هغوته د جلا تشخص (شخصیت والي) تلقین او تاکید کوي. او له دې دائرې څخه د باندې تول غیر مرزایي مسلمانانو ته د یوه جلا اُمت او ډلې د ویلو او ګنلو په

زرګونو بیلګې له مونږ سره موجودې دي. مرزا غلام احمد ویلي دي چه "هر هغه سړی چه زما دعوت ور رسیدلی وي او هغه قبول کړی نه وي هغه مسلمان نه دی" ـــــ (تشحید الاذهان ج۶، ص۱۳۵) او ویلي ټي دي چه زما په بیعت کښې توقف کوونکی هم کافر دی. (قادیاني قول او فعل الیاس برني ص۱۷) د هغه خلیفه یو قدم ورانده پرې دي او تر دې پورې اعلان کوي چه ـــــ د مرزا د دعوت نه قبلوونکي اګر که ټي د مرزا نوم هم نه وي اوریدلی کافر او د اسلام له دائرې څخه وتلی دی (ص۱۷). د دوی انکار د الٰهي غضب موجب او کفر دی (ص۱۵) د اسې خلك د خدای او رسول نافرمانه او جهنمي دي (ص۱۶). مرزا خپل نه منونکي په څومره پاکو القابو سره یادوي او وایي چه: کل مؤمن یطعننی الا ذریة البغایا ـــــ زما مخالفین د څنګل خنزیران شول د دوی ښځې له سپیو څخه بد تري شوي. (نجم الهدیٰ ص۵۳). زمونږ په فتح باندې نه قائلیدونکي ولد الزنا دي او حلال زاده نه دي.

د مرزا خلیفه او ستائل شوی زوی احمد د قادیانیت د نمائنده په حیث د ګورداسپور په عدالت کښې وویل چه: "له یوه نبي څخه انکار هم کفر دی (د دې لپاره) غیر احمدي کافران دي (الفضل ۲۶ جون ۱۹۲۲ء) د قادیانیت نړیوال ترجمان ظفر الله خان د محمد علي جناح له جنازې څخه انکار له چا څخه پټ دی. او چه کله تري پوښتنه وشوه نو ظفر الله وویل چه ما د کافر حکومت مسلمان نوکر ګڼی او که د مسلمان حکومت کافر نوکر ـــــ له مستر جناح څخه ډیر مخکښې همدغه ظفر الله د خپل یو بل محسن (احسان منونکی) سر فضل حسین له جنازې سره هم همدغه رویه ترسره کړه او له هندوانو او سکهانو سره یو ځای لرې ولاړ وو. (قادیاني قول او فعل ص۲۳) یواځې دا نه دی بلکه چه کله د مرزایانو د موقف د ژبارنې ضرورت پیښ شوی دی نو ظفر الله په عدالت کښې د دې موقف تائید کړی دی چه دوی غیر احمدیانو ته کافر وایي. (ص۱۹)

اوس مخکښې کلونو کښې ایم ایم احمد پخپل ځان باندې د قاتلانه حملې په معامله کښې د مرزایانو دا موقف له ډیر تاکید سره تکرار کړه او د جنازې په مسئله کښې ټي د ظفر الله موقف هم تصویب کړ ـــــ د مسلمانانو په باره کښې د مرزایانو دا موقف دومره په ډاګه او څرګند دی چه ۱۹۵۳ء په روښانه انکوائري کښې هم د زرګونو بد دیانتیو او یو اړخیزې رویې تر څنګ پخپل راپور کښې لیکلي دي چه ـــــ. مونږ په دې باره کښې د احمدیانو بې شمیره اعلانونه لیدلي دي او زمونږ لپاره له دې پرته د دې هیڅ تعبیر ممکن نه دی د مرزا نه منونکي د دوی په نزد د اسلام له دائرې څخه وتلي دي (راپور ص۲۱۲)

دا خو د مسلمانانو په باره کښې د دوی اصولي طرز عمل وو چه هغوی ځانونه له مسلمانانو څخه یو جلا او بیل اُمت وګڼل، مخکښې د دې اصولي موقف د برقراره ساتلو لپاره د دین او دُنیا یو کونج هم داسې نه وو چه مرزایانو پکښې له مسلمانانو څخه د جلا تشخص د ساتلو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

تلقین نه وي کړی۔

عبادات: ویل شوي دي چه د مسلمانانو لپاره د مغفرت دُعا منع ده ځکه چه کفارو ته د مغفرت دعا جائزه نه ده (قادیاني قول او فعل ص۲۲) د غیر احمدي جنازه هیڅکله جائزه نه ده۔ (ص۲۳) د دې خلکو د معصومو بچیانو جنازه هم جائزه نه ده (ص۲۹) مرزا د خپل یوه زوی محض جنازه د دې لپاره اد انه کړه چه هغه غیر احمدي (مسلمان) وو (ص۲۳) په کوم غیر احمدي پسې د لمانځه او اکول خو پریږده که چېرته یوه احمدي د دې پسې وکړل نو د هغه جنازه هم جائزه نه ده (ص۲٤)

معاشرتي معاملات: د اخو د عباداتو حکم وو۔ معاشرتي (د ژوند انه) معاملات نې وګوری۔ د مرزا قطعي حکم دی چه هیڅ یو احمدي به غیر احمدي نه نجلي۔ نه ورکوي (ص۲٦)۔ البته د دوی نجونې لکه د یهودي او عیسایي نجونو غوندې په نکاح کولی شي (ص۲۷)۔ پخپله د مرزا د خلیفه په الفاظو کښې ـــــ دیني لار ښوونې لکه لمونځ او د اسې نور، د نبوي تعلقات لکه د نکاح رشته او د اسې نور ځخه وروسته اوس ځه پاتې شول چه زمونږ لپاره له هغوی سره قائمول جائز وي۔ سلام اچول برې هم جائز نه دي (ص۲۸ بحوالۂ کلمه الفضل) مرزا په ټول عمر کښې د غیر احمدیانو د کوم انجمن غړی پاتې شوی دی، نه نې هغوی خپل غړی جوړ کړی دی او نه نې هغو ته چنده ورکړې ده (ص۲۸) له مرزایانو سره اختلاف فروعي او جزوي اختلاف ګڼونکي بې غوره مسلمانانو په خوله باندې پخپله مرزایانو خپله ناولي ځاپیره په دې ډول ورکړه چه هغوی په ښکاره توګه وایي چه: "دا غلطه خبره ده چه له نورو خلکو سره زمونږ اختلاف یوا ځي د مسیح وفات یا ځه نور مسائلو باندې دی۔ د الله په ذات، رسول کریم ﷺ، قرآن، لمونځ، روژه، حج، زکات غرض لکه څرنګه ده په تفصیل سره وویل چه په هر یوه جُز کښې زمونږ له هغوی سره اختلاف دی"۔ (خطبه مرزا بشیر الدین، الفضل ۳ جولایی ۱۹۳۱ء)

د اسلامي اصطلاحاتو او ټکنو استعمال: مرزایي خپل ځان ته مسلمان وایي لیکن مرزا پخپله له دې دعوې ځخه پرده د اسې پورته کړې ده که د دغو (مسلمانانو) اسلام ببیل دی او زمونږ ببیل دی (ایضاً ۳۱ دسمبر ۱۹۱٤ء)

له مسلمانانو سره د دین او معاشرت او په هر لحاظ سره د جلا والي تلقین ځخه وروسته نې خپل ببیل تشخص په کومو کوم طریقو سره په حیث د یوه جلا اُمت والي قائم کړی دی د دې تفصیل وګوری۔

﴿۱﴾ خپل پیروان نې د "زما اُمت" په الفاظو تعبیر کړی دی۔

﴿۲﴾ خپل ملګرو ته نې د صحابه وو نوم ورکړی دی۔

﴿۳﴾ خپلې ښځې نې د امهات المؤمنین او سیّده النساء په القابو یادې کړې دي۔

﴿٤﴾ د مرزا مدفن نې له ګنبد خضراء سره یو شان بللی دی۔

﴿٥﴾ قادیان نې له مکې او مدینې سره برابر بللی دی۔

﴿٦﴾ د قادیان سفر ته نې د ظلي حج لقب ورکړی دی۔

﴿۷﴾ له هجري کال ځخه پرته نې د نوي جنتري بنیاد ایښی دی۔

الغرض د یوه دین لوازمات او مناسبات نې یو یو کړي او د هر یوه د غوره کولو کوشش نې کړی دی۔ خپل مخالف یعني محمدي ﷺ اُمت نې په سیاسي سطحي باندې لکه څرنګه چه په بر صغیر او تولې دُنیا کښې د ختمولو کوشښونه کړي دي او کوي نې هغه د ننورځې د فرصت موضوع نه دی۔ کله به په راتلونکي کښې په دې باندې به مفصلې خبرې کیږي انشاء الله۔

له دغو تولو خبرو سره سره چه کله هم د مسلمانانو له خوا ځخه آواز پورته شو چه هغوی دې اقلیت وګڼل شي نو تولو مسلمانانو ته د کافر او جهنمي ویونکو د "اسلامیت رګ" پرې کیږي او یو ډول شور او غوغا پورته کیږي چه په دې ډول سره هغوی په اسلامي لباس کښې د لستوني د مار په شان د مسلمانانو په منځ کښې په اوسیدلو سره له سیاسي، اقتصادي، معاشرتي او سماجي ګټو ځخه بې برخې کیږي او په بد قسمتی سره د انګریز له خوا دې پیدا شوي اُمت ته د انګریز د کم اصله ذریت (اولاد) په شکل کښې سرپرست هم پیدا کیږي۔

د مسلمان او کلمه ویونکي حقیقت: د اوس وخت مرزایانو چه کومه نوې سلسله شروع کړې ده هغه د خپل ایمان، اسلام او مسلمان والي تبلیغ دی۔ کور کور ته د اسې جریدې او رسالې لیږل کیږي چه مونږ مسلمانان یو، غیر احمدیان مسلمان ګڼو، حضور نبي کریم ﷺ خاتم النبیین بولو، کلمه وایو، د لمانځه، روژې، حج او زکات قائل یو۔ په دې ډول ډیرو خبرو په ذریعې سره ساده او عامو مسلمانانو ته د دوکې او فریب ورکولو کوشښونه کیږي۔ دلته مونږ د اسې دعوو هم سرسري کتنه ضروري بولو۔

﴿۱﴾ هغوی دې حضور نبي کریم ﷺ ته زر واري خاتم النبیین ووایي لیکن له دې ځخه د دوی مراد د اُمت متفقه مفهوم یعني آخري نبي والی نه وي بلکه د اسې نبي چه مهر (خاتم) نې اُمت له نبي جوړ کړي۔ د مرزا دوهم خلیفه محمود احمد په عدالت کښې بیان ورکړ چه په لغت کښې خاتم النبیین معنی په یوه ځای کښې هم آخري نبي نه ده لیکل شوي۔ (عدالت ګورداسپور کښې بیان، شائع کرده انجمن احمدیه لاهور ص۲۰۱)

﴿۲﴾ د مرزا اکثر د اسې عبارتونه په هغو کتابچو کښې وړاندې کیږي کوم چه د ده د نبوت د دعوی له کال ۱۹۰۱ء ځخه مخکښې لیکل شوي دي۔ په د اسې حال کښې چه په دې زماني کښې پخپله مرزا د نبوت دعوه کوونکي کاذب، کافر، بد بخت، د قرآن دښمن، بې شرمه او نور ځه ځه بلل۔ (وګوری آسماني فیصله ص۲۵، تلبیغ رسالت ج۲، ص۲۳ او د اسې نور) لیکن کله چه د نبوت دوره راغله نو یوا ځي نبي نه بلکه حقیقي نبي (حقیقت النبوت ص۱۷٤) رسول (دافع البلاء ص۱۰/۱۱)، مهدي او محمد (الفضل ۲٦ جنوري ۱۹۱٦ء)، له تولو انبیاوو ځخه افضل (در ثمین) جوړ شو۔

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

﴿۳﴾ مرزایي خپل ځان ته کلمه ویونکی وایي چه زمونږ د شهادت کلمه یوه ده۔ د دې حقیقت هم واوری۔ د مرزایانو په نزد له دې کلمې څخه مراد د مرزا د نبوت د تصدیق او د مرزا ذات وي۔ هغوی که کلمه ویونکي دي نو د مرزا کلمه ویونکي دي نه محمد عربي علیه السلام۔ د دې لپاره مرزا وایي چه له محمد رسول الله څخه مراد زه یم او محمد رسول الله خدای ما ته ویلي دي۔ (الفضل ۱۵ جولایي ۱۹۱۵ء) له احمد څخه مراد مرزا دی۔ (الفضل ۱۹ اګست ۱۹۱۸ء) په قرآنکریم کښې خاص د ده د بشارت ذکر دی ــــــــ

اوس (خاوري دي په خوله وي) محمد رسول الله ته هم د مرزا له اتباع څخه بله لاره نه وه۔ (پیغام صلح ج۲، ص۲۴)، په دې وحی کښې الله تعالی زما نوم محمد ایښی دی او رسول هم۔ (تبلیغ رسالت ج۲، ص۱۴) د دې لپاره مرزایانو پخپله منلي ده چه مونږ ته د نوي کلمې ضرورت نه پیښ کیږي ځکه چه مسیح موعود له رسول کریم ﷺ څخه کوم بیل شی نه دی۔ (مرزا) پخپله محمد رسول الله دی۔ د دې لپاره مونږ ته دې نوي کلمې ضرورت نشته، که چیرته د محمد رسول الله په ځای بل راغلی وی نو بیا به د نوي کلمې ضرورت وو۔ (کلمه الفصل رساله ریویو آف ریلجنز ج۱۴، ص۱۵۸)

﴿۴﴾ هغه پخپلو موجوده لیکنو کښې مسلمانانو ته مسلمان وایي په دې اسې حال کښې چه له پورتنیو حوالو څخه تاسو ته د دې برخلاف څرګند شو نو د دې تقیي، دجل او تلبیس حقیقت ته ځیر پام وکړی او پخپله له مرزایانو څخه واوری۔ مرزا بشیر الدین محمود پخپله دا کړکیچ لري کړی دی چه مونږ غیر احمدیان د مسلمانانو په نامه سره یادوو یوائې د دې لپاره چه هغوی د مسلمان په نامه سره بلل کیږي ځکه چه له دې لفظ څخه پرته ئې معلومات نه کیږي لیکن د خدای په نزد هغوی مسلمانان ته دي، هغوی باید له سره مسلمانان شي۔ (مرزا بشیر احمد ص۲۱)

﴿۵﴾ هغوی که چیرته دا وایي چه مونږ مسلمانان یو نو د مرزا د اصطلاح له مخې "د دوی (د مسلمانانو) اسلام بیل دی او زمونږ اسلام بیل دی"۔

﴿۶﴾ **امتونه له انبیاوو څخه جوړیږي**: که چیرته یو سړی په زرګونو واړي کلمه ویونکی وبلل شي او د شهادت کلمه د شپې ورځې ورد وګرځوي لیکن د دین له کومې قطعي عقیدې یا ضروریاتو کښې د یوې خبرې منکر وي نو د ټول اُمت په نزد با لاجماع کافر کیږي۔ مرزا محمد احمد هم همدا طرز عمل د غیر قادیانیانو یعني مسلمانانو په باره کښې غوره کړی دی۔ له هغه څخه پوښتنه وشوه چه آیا دوی یعني مسلمانان کلمه ویونکي نه دي چه تاسو هغو ته کافران وایی۔ مرزا په ځواب کښې وویل چه بې شکه دوی کلمه ویونکي دي لیکن د مسلمان لپاره توحید، تمام انبیاء، ملائکه او آسماني کتابونو باندې ایمان راوړل ضروري دي او چه څوک په دغو کښې له یوه شي څخه منکر شي نو کافر کیږي۔ همد ارنګه غیر احمدي د مرزا له نبوت څخه منکر شوي او په کفارو کښې شامل شوي دي۔ (الفضل ج۲، جون ۱۹۲۳ء) پخپله مرزا یو ځل په ښکاره

توګه ځواب ورکړ چه د روژې او لمانځه پابند سړی هم که چیرته یو حکم و نه منې نو کافر کیږي، که چیرته زنا یا غلا ته جائز ووایي نو کافر کیږي۔ (البدر ۲۶، جون ۱۹۱۳ء)

پس د مسلمانانو همدا موقف د مرزایانو په باره کښې دی که چیرته کوم سړی له اسلام، قرآن، حدیث، د اسلام له ارکانو، د اسلام له شعائرو، د نبي کریم ﷺ له صفتونو څخه دفترونه ډک کړي لیکن تر حضور خاتم النبیین ﷺ څخه وروسته بل کوم سړی د هر ډول نبوت په توګه تسلیم کړي بلکه هغه کافر او ملعون نه بولي نو هغه د اسلام د قطعي فیصلې له مخې کافر او تر کافر به بد تر وي۔ د دې لپاره امتونه له انبیاء څخه جوړیږي۔ عیسایي د حضرت موسی علیه السلام نبوت، تورات او ټولو احکامو په تسلیمولو سره د یهودیانو په نزد د دې لپاره نوی اُمت وګنل شو چه د حضرت عیسی علیه السلام نبوت ئې تسلیم کړ۔ مسلمانان حضرت موسی او حضرت عیسی علیهما السلام، د دوی کتابونه، د دوی دین او ربنتوني لارښوونې په زرګونو واړي د زړه له کومې منې لیکن دوی عیسایان او یهودیان نه بلکه محمدي ﷺ ځکه بلل کیږي چه د نبي کریم ﷺ په نبوت ئې ایمان راوړی دی او چا چه تسلیم نه کړ هغوی هم هغه عیسایان او یهودیان پاتې شول۔ همد ارنګه مرزایي د حضور نبي کریم ﷺ او د اسلام د لارښوونو د منلو ترځنګ هم د مرزا غلام احمد سره په ادنی رابطې او تعلق ساتلو باندې هم له اسلام او محمدي ﷺ امت څخه پخپله ووځي۔

"پس که چیرته نن دا غوښتنه کیږي چه هغوی دي له مسلمانانو څخه جلا او ځانته اقلیت وبلل شي نو دا د دغو دواړو ډلو (مسلمانان او مرزایان) د معتقد اتو لازمي نتیجه ده۔ لیکن مرزایان د مسلمانان په منځ کښې د سیاسي، معاشي او معاشراتي مفاد اتو په خاطر د نفاق جامه اغوستې ده او اوسیږي چه په دې ډول دیني پردې کښې د اسلامي ملّت په یو والي باندې کارنده ګذار هم وکړی شي او ګټې هم لاس ته ورشي"۔

لیکن حالات چه هر څنګه دي د ټول پاکستان او ټول عالم اسلام د محمد عربي فدایان او د ټول اسلامي اُمت به همدا غوښتنه او هیله وي کومه چه له نن څخه پیر مخکښې مفکر اسلام علامه اقبال انګریزي حکومت ته د خطاب په شکل کښې دا الفاظ وړاندې کړي وو چه:

"مونږ باید د قادیانیانو حکمتِ عملي او له اسلامي دُنیا سره د دوی رویه هیره نه کړو۔ چه کله قادیاني په مذهبي او معاشرتي معاملاتو کښې د جلا والي پالیسي غوره کوي نو بیا په سیاسي میدان کښې په مسلمانانو کښې د شاملیدو لپاره ولې سرګردانه دي؟ اسلامي ملّت د دې غوښتنې پوره پوره حق لري چه قادیانیان له ځانه جلا کړي۔ که چیرته حکومت دا غوښتنه و نه منې نو مسلمانانو ته به دا شك ور ولویږي چه حکومت د نوي مذهب په جلا والي کښې ځنډ کوي ځکه چه قادیانیان اوس د دې قابل نه دي چه د ځلورمې ډلې د تش په نامه حیثیت سره اکثریت ته ګذار ورکړي ــــــــ"۔ (استیسمین په نامه خط ۱۰ جون ۱۹۳۵ء)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

علامه اقبال د وخت د حکومت طرز عمل په ګوته کولو سره مخکښې وفرمایل:

"که چېرته د حکومت لپاره دا ډله ګټوره وي نو بیا د دې د خدماتو په صله ورکولو کښې په پوره ډول مجاز دی۔ لیکن د دې ملت لپاره دا له نظره غورځول مشکل دي د کوم چه اجتماعي وجود ئې د دې په سبب سره په خطر کښې دی"۔

الغرض نن هم د مسلمانانو همدا غونډنه ده چه د مرزا قادیان ټول پیروان دي د هندوانو، سکهانو او عیسویانو غوندې غیر مسلم اقلیت وګڼل شي۔ هغوی دې له تولو اهمو منصبونو څخه لرې کړی شي، د هغو په تبلیغي حرکتونو باندې دې پابندي ولګول شي او له نبي کریم ﷺ څخه وروسته د نبوت هر ډول دعوی او د دې لسې دروغجن مدعي د تصدیق او تائید کوونکي سزا دي د مرتد له سزا څخه هیڅکله کمه نه وي۔ (ج۸، ش ۹ جمادی الاول ۱۳۹۳ هجري، جون ۱۹۷۳ء)

قادیانیت او د مکې معظمې اجتماعي قرارداد

حضرت مولانا سمیع الحق صاحب

د قادیانیت په باره کښې په همدې اوس مهال له مکې معظمې څخه د اسلامي تنظیمونو د متفقه قرارداد په شکل کښې چه کوم آواز پورته شوی دی۔ ګوا که د قادیانیت په باره کښې دا آواز په ټول عالم اسلام کښې د متفقه او تازه اجماع حیثیت لري۔ د شریعت د مآخذونو یعني قرآن او سنت او د اُمت د اجماع له مخې هیڅکله هم د قادیانیانو مرتد والی او له اسلام څخه خارج والی کومه اختلافي خبره نه ده پاتې شوې او د دې اجماع ظهور د رأیو په اتفاق سره کیږي لیکن په همدې اوس مهال کښې له ۱۴ ربیع الاول څخه واخله تر پنځه ورځو پورې د ټولې دُنیا د اسلامي د پرله پسې جاري کانفرنس له متفقه قرارداد څخه د دې خبیثې وڼې په باره کښې د عالم اسلام په اجتماعي توګه هم د اجماع یو شکل رابنکاره شو۔

د دې کانفرنس دا قرارداد د مسلمه ملت لپاره چه څومره اهم دی د بد قسمتۍ له مخې د خاصو حالاتو لهوجهې زمونږ په ملک کښې دومره له نظره وغورځول شوه تر څو چه د کعبة الله په مناري پورې تړلې د پاکستان مسلمانان له دې خبرې څخه خبر نه شي۔ مونږ د سعودي عرب له پریس څخه د دې قرارداد او کانفرانس له تفصیلاتو څخه خبر شوو۔ مونږ د دې قرارداد اصل متن او د هغه د ژباړې په خپرولو سره د پاکستان له حکومت څخه او د عالم له مسلمانانو او حکومتونو څخه هیله کوو چه د دې قرارداد غوښتنو ته دې لبیک ووایي او مسلمان ملت او عالم اسلام دې د خبیثې ډلې یعني مرزائیت او د هغې له سازشونو څخه دې د ساتلو اجتماعي تدبیرونه غوره کړي، دا آواز د صفاله غوندیو څخه پورته شو او مونږ یوائې دا نه چه د هغه له هر هر حرف سره متفق نه یو بلکه هغه د خپلو زړونو هیله ګڼو او د د ختم نبوت د ناموس

ساتونکي رابطهٔ عالم اسلام، د کانفرنس شریکانو په ځانګړې توګه خادم الحرمین الشریفین ملک فیصل ته په ډیر اخلاص سره د خوښۍ ډالۍ وړاندې کوو۔

د ربیع الاول ۱۳۹۴ هجري په مطابق د ۸ اپریل ۱۹۷۴ء په مابنام د مکې مکرمې په مقدسو فضاوو او د بیت الحرام تر سیوري لاندې د ټولې دُنیا یو سل او څلور څلویښت (۱۴۴) علمي او د اسلامي تنظیمونو کانفرانس شروع شو۔ دا له مراکش څخه واخله تر اندونیزیا پورې د مسلمانانو یوه نماینده اجتماع وه چه د اسلامي ډلو او تنظیمونو مشرانو، نمایندګانو، د علم او فضل په لحاظ سره د اسلامي دُنیا مشهور علماء، ادباء، صحافیان او د قلم او فکر خاوندان په متفقه توګه د عالم اسلام له نورو مسائلو سربیره په علمي او دیني لحاظ سره د الحاد او ارتداد تحریکونه او فتنې هم د بحث موضوع جوړه کړې وه۔ قادیانیت، صیهونیت، بهائیت، فري میسن او له هغه سره لګیدلي تنظیمونه، عیسایي ماشینونه، کمیونیزم، د هریت، مغربیت او د الحاد او د لسې نورو په بندولو باندې غور وشو۔ په دغو غیر اسلامي او باطلو فتنو کښې د سر تکی د قادیانیت مسئله وه۔ کوم چه اوس الحمد لله د عربو لپاره هم د فکر لمحه جوړیږي او د سعودي عرب بادشاه شاه فیصل او د رابطهٔ عالم اسلامي مساعي (کوششونه) په دې سلسلې کښې په ځانګړې توګه د ستائنې وړ دي۔

د باطلو مذهبونو په باره کښې د قرارادونو د ترتیبوونکي کمیسون مشر علامه محمود صوّاف د قرارد له وړاندې کولو څخه مخکښې قادیاني فتنه په مفصله توګه خلکو ته ور وپیژندله۔ د دې ډلې د تاسیس سامراجي محرّکات او غیر اسلامي فکرونه او رأیې او د عالم اسلام او مسلمه ملّت په خلاف د مرزایانو سیاسي کردار، سازشونه او منصوبې ټې په ډاګه کړې۔ د قادیاني ازم کوم چه په یقیني توګه د مسلمه ملت د اتحاد لپاره په ټولې دُنیا کښې یو پوخ ګذار ګرځیدلی دی د تاریخ له بیانولو نه وروسته قرارداد په ډیر جوش او خروش سره ومنل شو۔ په قرارداد کښې له اسلامي حکومتونو څخه دا غوښتنه هم شوې وه چه یوائې دا نه چه له مرزایانو سره به هیڅ ډول تعاونه نه کوي بلکه هغو ته به په هیڅ یوه اهم منصب باندې د دربدلو اجازه نه ورکوي۔

له ټولې دُنیا څخه راغلي له تولو مسلمانو مندوبینو څخه دا بدبختي او شقاوت یوائې د پاکستان د یوه مندوب تې ایچ هاشمي په برخه شو چا چه د قرارداد په دې برخې باندې غیر جانبداري په غوره کولو سره د حق او باطل په دې معرکه کښې په یوه عالمي منبر باندې د پاکستان لپاره د ذلت او رسوایي اسباب برابر کړ۔ مونږ د پاکستان د رسوا کوونکي د لسې سړي نه یوائې مذمت کوو بلکه د ده په د لسې شرمناکې رویې باندې په هغه باندې د لعنت له لیږلو څخه پرته نه شو پاتې کیدلی او د دې تر څنګ د لسې خلکو په کوم بین الاسلامي اجتماع د مندوب په انتخابولو باندې د حکومت له ذمه وارانو څخه د احتجاج په کولو سره د دې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

پوښتنې پرته نه شو پاتې کیدلی چه دا ډول د یوه موتي برابر قادیانیانو او یهودیانو په خوشحالولو سره د ټول عالم اسلام د شبهاتو او خدشاتو څخه مخ ګرځول او د عرب دُنیا د اسلامي ورورلي د جذباتو زخمي کول د کوم ځای د انشمندي ده؟

په هر حال تې ایچ هاشمي غوندې له ديني حمیت او غیرت څخه خالي یو اځي د یوه سړي په غیر جانبدار پاتې کیدو سره د قرارداد اهمیت او اجماعي حیثیت نور هم روښانه او مخې ته راغلی دی چه د علماوو په کتابونو، د قلم د خاوند انو په لیکنې، د خطباوو خطبې، د اهل تحقیق تصنیفونه، د مفتیانو فتواوې، د عدالت قاضیان او د ځینو اسمبلیانو تر قرارداد ونو وروسته اوس د اسلام په مرکز ام القرٰی په مکه معظمه کښې کیدونکي د ټولې دُنیا د اسلامي فکر او نظر نمایندګي کوونکی کانفرانس په سترګو کښې هم قادیانیت قطعي کفر، دجل او تلبیس، د اسلام او عالم اسلام په خلاف د یهودیانو او سامراجیانو ګوډاګی او د اسلام دښمن تحریک دی. وګورئ اوس د دې اجماع په باره کښې د مرزایانو کذاب علیه لعنه څه وایي؟ لیکن له دې څخه قطع نظر د عالم اسلام او د هغو ذمه وار غړي له بیت الله څخه پورته کیدونکی دا آواز په ګوته کوي چه د تاجدار مدینه ﷺ د ختم نبوت عصمت او خلعت د پاش پاش کولو د ناکام کوشش کوونکي ذلیل لاسونه تر څو پورې د اسلامي نړۍ غیرت ته چیلنج ورکوي.

په دې تاریخي قرارداد (چه عربي متن ټې وروسته راځي) کښې قادیانیت د عالم اسلام لپاره تر ټولو بدترین او مضر خطر ګڼل شوی دی او کوم چه د کانفرانس د منشور په سر کښې ځای ورکول شوی دی ترجمه ټې په لاندې ډول دی.

قـــــــرارداد

قادیانیت یوه باطله ډله ده چه د اسلامي جامې په اغوستلو سره د خپلو خبیثو اغراضو په تکمیل کښې مصروفه ده د اسلام د قطعي اصولو له مخې د دې ډلې مخالفت له دغو خبرو څخه څرګندیږي چه:

((الف)): د دې ډلې د باندې د نبوت د دعوې کول.

((ب)): په قرآني آیتونو کښې تحریف.

((ج)): د جهاد د باطل والي فتوی ورکول

د قادیانیت بنیاد برطانوي سامراج ایښی دی او دوی دې ډلې ته ترقي ورکړې ده. دوی د سامراج تر سرپرستي لاندې د عمل سرګرم دي. قادیانیانو د اسلام دښمنو طاقتونو په ملګرتیا د مسلمانانو له مفاداتو سره غداري کوي او د همدغو طاقتونو په امداد سره د اسلام په بنیادي عقائدو کښې د تحریف، تبدیل او له منځه وړلو لپاره ډیري دسیسي استعمالوي لکه:

((الف)): په دُنیا کښې د جوماتونو په نامه د اسلام دښمنه طاقتونو په کفالت سره د ارتداد د اډو قائمول.

((ب)): د مدارسو، مکتبونو، یتیم خانو او امدادي کمپونو تر نامه لاندې د غیر مسلم قوتونو په امداد سره د دغو مقصدونو پوره کول.

((ج)): د دُنیا په مختلفو ژبو کښې د قرآنکریم د تحریف شوي نسخو خپرونه او د اسي نور.

د دغو خطراتو په پام کښې نیولو سره په کانفرانس کښې په متفقه توګه فیصله وشوه چه:

﴿۱﴾ د ټولې دُنیا د ټولو اسلامي تنظیمونو او ډلو دا فریضه ده چه په قادیانیت او د هغوی په هر ډول اسلام دښمنه خوځښتونو، د هغو په عبادت خانو، مرکزونو، یتیم خانو او د اسي نورو په ژوره څارنه کوي او د هغو د پردې لاندې ټولو سیاسي خوځښتونو محاسبه به کوي او له دې وروسته د هغو په خپاره شوي جال، منصوبو او سازشونو څخه د حفاظت لپاره د عالم اسلام په مخکښې به هغوی په پوره ډول سره په ډاګه کوي. همدارنګه

﴿۲﴾ د دې ډلې د کفر او له اسلام څخه د خارج والي اعلان به کوي او بله دا چه له دې وجې به دوی مقدسو مقاماتو حرمین شریفین او د اسي نورو ته به د داخلید و اجازه نه ورکول کیږي.

﴿۳﴾ مسلمانان به له دې خلکو سره هیڅ ډول معامله نه کوي، په اقتصادي، معاشرتي، اجتماعي، خاندانې او د اسي نور په هر میدان کښې به له دوی سره پریکړون کوي، له هغوی سره به دوستي او نکاح نه کوي او نه به د مسلمانانو په مقبرو کښې هغوی خښول کیږي. الغرض په هر شي کښې به له هغوی سره د کافرانو غوندې رویه وشي.

﴿٤﴾ کانفرانس له ټولو اسلامي ملکونو څخه غواړي چه د قادیانیانو په هر ډول خوځښتونو باندې پابندي ولګوي، د هغوی ټول وسائل او ذرائع دې ضبط کړي او هیڅ یو قادیاني ته دې په کوم اسلامي ملک کښې هیڅ ډول ذمه دارانه منصب نه ورکوي.

﴿٥﴾ په قرآن مجید کښې د قادیانیانو له تحریفاتو څخه دې خلک خبر کړی شي او د هغوی له خوا خپاره شوي د قرآن ټولې ترجمې دې وګنل شي، په ګوته دې شي او خلکو ته دې ورو ښوول شي او د دغو ترجمو د نورې خپرونې مخه دې ونیول شي.

مونږ په دې قرارداد باندې یو ځل بیا جلاله الملک فیصل المعظم، رابطهٔ عالم اسلامي مکه مکرمه او د کانفرانس ټولو شریکانو او مندوبینو ته د نیکو هیلو ډالۍ وړاندې کوو او له عالم اسلام په ځانګړې توګه له خپل حکومت څخه هیله کوو چه دا قرارداد د څو ملایانو د جذباتي خبرو د ګنلو په ځای دې د هغه په اهمیت، دور رسي او ژورو والي باندې د غور په کولو سره تر ټولو مخکښې دې آواز ته لبیک ووایي.(۲ مني، ج۹، ش٦ ـ۷مني ۱۹۷٤ء ربیع الثاني ۱۳۹٤هجري)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

د رابطۀ عالم اسلام د قرارداد عربي متن

نداءٌ من مكّة المكرمة تنادي المسلمين

نحلة هدامة تجعل من اسلام الاسلام شعائر السنراغرا منها الخبيثة ابرز مخالفاتها للاسلام.

﴿الف﴾ ادعاء زعيمها النبوة.

﴿ب﴾ تحريف النصوص القرآنية.

﴿ج﴾ ابطالهم للجهاد.

القاديانية ربيبة الاستعمار البريطاني و لا تظهر الا في ظل حمايته..... تخوف القاديانية قضايا الامة الاسلامية و تقف موالية للاستعمار و الصهيونية تتعاون القاديانية مع القوى المناهضة للاسلام و تتخذها هذه القوى واجهة لتحطيم العقيدة الاسلامية و تحريفها و ذلك بما يأتي.

الف: انشاء مساجد تحولها القوى المعادية و يتم فيها التبشير با لفكر القاديانى المنحرف.

ب: فتح مدارس و معاهد و ملاجئ للايتام و فيها جميعا تمارس القاديانية نشاطها التخريبى لحساب القوى المعادية للاسلام.

ج: تقوم القاديانية بنشر ترجمات محرفة لمعانى القرآن الكريم بمختلف اللغات العالمية و اللهجات الحلية بامكانية القوى المعادية و لا يقاف هذا النشاط التخريبى للاسلام يقترح ما يأتى.

﴿١﴾ تقوم كل هيئة اسلامية بحصر النشاط القادياني فى مساجدهم و مدارسهم و ملاجئهم و كل الامكنة التى يمارسون فيها نشاطهم الهدام فى منطقتها و كشف القاديانيين و التحريف بهم للعالم الاسلامى تماديا للوقوع فى حبائلهم.

﴿٢﴾ اعلان كفر هذه الطائفة و خروجها عن الاسلام و هى لهذا تمنع من دخول الاراضى المقدسة.

﴿٣﴾ عدم التعامل معهم و مقاطعتهم اقتصاديا و اجتماعياً و نكاحيا و عدم التزوج منهم دفنهم فى مقابر المسلمين و معاملتهم ككفّار.

﴿٤﴾ مطالبة الحكومات الاسلامية بمصادره كل نشاط هذه الجماعات و تسليمه للمسلمين الحقيقين و عدم توظيف اى قادياني او السماح له بحزاوله اى عمل.

﴿٥﴾ نشر مصوّرات لكل التحريفات القاديانية فى القرآن الكريم مع حصر الترجمات القاديانية لمعانى القرآن و التنبيه عليها. (الندوة مكة المكرمة ٨ ابريل ١٩٧٤ء)

بهائيت

په دُنيا کښې چه کومه فتنه د دين د تخريب لپاره پيدا شوې ده هغې له ځان سره څه نوري فتنې هم زيږولې دي۔ د رفض (شيعت) فتنې چه کله په دُنيا باندې قدم کيښود نو د هغه له خيټې څخه يو څو نورې فتنې پيدا شوې چه له هغو څخه يوه فتنه د بهائيت فتنه ده۔ دې سازشي ډلې د مسلمانانو د عقائدو د خرابولو او د نقصان په ور رسولو کښې هيڅ صرفه نه ده کړې۔ په دې اړوند لاندينې ليک کښې حضرت مولانا سميع الحق صاحب دامت برکاتهم د دې فتنې په

اصليت او عزائمو باندې په ډير دلچسپ انداز کښې رڼا اچولې ده۔ له باب الفرق سره د مناسبت په بناء په "فتاوی حقانيه" کښې شاملېږي۔ (مرتب)

له قاهره څخه عرب ليګ له اسرائيلو سره د ژوند په هرې شعبې کښې د پريکړون (مكاتب المقاطعة العربية لاسرائيل) اداره له خوا خپل يو ډير اهم او د توجه ور قرارداد خپور کړی دی چه د تولو اسلامي ملکونو د چتکې توجه مستحق دی۔

غير اسلامي صيهوني ډله: په قرارداد کښې ويل شوي دي چه د بهايي فرقې په باره کښې داسې قطعي شواهد لاس ته راغلي چه د پردې لاندې د عربي نړۍ او د مسلمانانو په خلاف د اسرائيلو او صيهونيت د لاس آله ده او په اسرائيلو کښې د جوړ شوي خپل مرکز په ذريعې سره په تولې عربي نړۍ کښې د خپلو سازشونو لومې خپروي۔ دا خلک د اسرائيلو مالي امداد هم کوي۔ په قرارداد کښې بهائيت يوه قطعي غير اسلامي صيهوني ډله وګڼل شوه او په تورلست کښې شامل کړې شوی دی۔ او په عربي نړۍ کښې د دې ډلې په تولو خوځښتونو باندې د پابندۍ لګولو خبره پکښې شوې ده۔ عرب پريس او علمي او سياسي شخصيتونو دې قرارداد ته ځای په ځای ښه راغلاست ووايه۔ سعودي عرب او رابطۀ عالم اسلامي په دې وختي خبرداری باندې د عربي نړۍ جنرل سيکرټري په دې ميدان کښې شاملو عربي اداره ته مبارکي ورکړه۔ له دې څخه يو کال مخکښې په مکه مکرمه کښې دتولې دُنيا اسلامي تنظيمونو هم پخپل اجلاس اپريل ۱۹۷٤ کښې د بهائيت په باره کښې په دې ډول خرګند او غير مبهم قرارداد کښې له مسلمانانو څخه غوښتنه کړې وه چه د بهائي تنظيم تول مرکزونه، ليکنې او خوځښتونه باندې دې پابندي ولګول شي۔ په دې اجلاس کښې د قاديانيت د غير مسلم والي او له هغو سره د پوره مقاطعې (پريکړون) هغه تاريخي قرارداد هم منظور شوی وو چه وروسته د قادياني تحريک په دوران کښې د مسلمانانو عزم ته د تقويت رسيدو باعث وګرځيد۔ عربي پريس د بهائيت په باره کښې په دې قرارداد باندې د بحث په کولو سره د دې فرقې له ډيرو صيهوني او اسلام دښمنو خوځښتونو څخه پرده پورته کوي۔

له مذهب څخه زيات صيهوني سياسي جماعت

او حقيقت هم همدا دی چه بهائي فرقه کوم مذهب او ډله نه بلکه په اصل کښې د پردې لاندې د اسلام او اسلامي نړۍ په خلاف د صيهوني، سامراجي او يهودي منصوبو د پوره کولو يوه اهمه کړۍ ده۔ همدا منصوبې دي کوم چه يوې خوا ته فري ميسن روتري کلب، لائنز کلب، غير مسلم مشينري اداري، فحش او بربنډ جنسي لټريچر او د استشراق او تحقيق تش په نامه اداره په شکل کښې په مسلمانانو کښې انساني او اخلاقي قدرونو تباهي، فکري انتشار او اختلاف، سياسي ضعف او سُستي په پيدا کولو کښې مصروف دي نو بلې خوا ته بهائيت، قاديانيت او په دې ډول يو څو نور د ډلو او فرقو په شکل کښې په مسلمه ملّت باندې د ناڅاپي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

حملې لپاره کار کوي۔ د بهائیت شروع، خوځښتونو، عقائدو او اعمالو ته له تګ څخه پرته په یوه سطحي نظر سره هم د دې ډلې د اصل عزائمو او مقاصدو اند ازه لګول کیږي۔

د بهائیت سرچشمه او مقصدونه

بهائیت له شیعیت څخه زیږیدلی دی او بانې یې مرزا علي محمد باب شیرازي ۱۸۲۰ء د شیعي غلو محبت او اعتقاد څخه جذبې واخیست او دې مذهب ته یې فروغ ورکړ او د عقائدو، اعمالو او اوهامو یو داسې معجون یې جوړ کړ او وړاندې کړ چه له اسلام سره خو پریږده له هیڅ یوه آسمانې مذهب د هدایت او ارشاد د دعوه لرونکي نظام سره لږي تعلق هم نه درلود۔ لکه څرنګه چه د دې ډلې تاسیس هم په حقیقت کښې د مذهب په رنګ کښې له مسلمانانو سره په عداوت او دښمنۍ باندې کیښودل شوی دی نو د دې ډلې علمبرداران هم له کوم اخلاقي مجدد شرف، انساني اقدار او شرافت، د عقل او فکر له پوځوالي، د عقیدې او عمل له کلکوالي پرته په دې ملغوبې کښې هر هغه عنصر شامل کړ کوم چه په یوه نه یو ډول له اخلاقي او مذهبي اقدارو څخه باغي اباحیت وهلي انسانانو لپاره د ور کشولو باعث جوړ شي۔ په دې سلسلې کښې د حیاء، شرافت، حلال او حرام، جائز او ناجائز، عقیدې او اوهام، عقل او بې عقلي هیڅ پوښتنه مطرح نه وه۔ د اباحیت په څاپیړې وهل شوي یهودو او نصارا وو دا د خپلې تندې علاج او صیهونیت او استعمار دا د مسلمانانو په خلاف د خپلو شرمووونکو مقاصدو د تکمیل یوه ذریعه وګڼله او په دې ډول دا ډله د مغرب د یهودو او نصارا وو، د مشرق د مجوسیانو او د مریضو ذهنیتونو د کړه کتنې مرکز وګرځید۔

د اروپا خلك په دې ډله کښې ډلې ډلې شاملیدل۔

مشهور مستشرق ګولډزیهیر اعتراف کوي او وایي چه:

په امریکا کښې جوړ شوي علمي او ادبي کمیسونونو د دې ډلې د اصولو او ضوابطو په استحکام او خپریدو کښې مکمله برخه واخیسته۔ (د دغو اصولو او ضوابطو استحکام زمونږ په نزد روټري کلب، لائنز کلب غوندې د انجمنونو رونق خپل کړ۔ راقم) په طبعي توګه بهائیت د خپلو سرپرستانو د ملك تر لږي پرتو سیمو پورې خپور شو او شیکاګو نې خپل مرکز جوړ کړ۔ (العقیده الشرعیه ص ۲۵۰)

د استعماري مقاصدو لاسپوڅی

تر لومړي او دوهم جنګ عظیم نه وروسته نړیوال استعمار ته له اسلامي نړۍ څخه خطر محسوس شو نو با لکل همدغه زمانه په دنیا کښې د بهائیت د فروغ او ترویج لپاره ډیره ښه ثابته شوه۔ له ډیرې مودې مخکښې چه کله د مصر د حکومت په مخکښې د دې فرقې غیر اسلامي والی، غیر انساني او صیهوني تصویر راغی نو د هغه ځای د قضا محکمې تر دې

پورې چه پارلیمان او د اخله وزارت هم دې ډلې ته پر امن او د مسلمانو ښاریانو د حقوقو له ورکولو څخه انکار وکړ۔

د اسلامي حکومتونو فریضه

اوس په د اسې حال کښې چه د عربي نړۍ ډیر اهم کمان عربي ملکونو په دومره ذمه واري سره له بهائیت څخه عربي ملکونه خبردار کړی دی نو له هغو سره به قطعي او بنکاره شواهد وي۔ (که چیرته ګنجائش وای نو مونږ خپله هم له دې ډلې څخه د پردې د پورته کولو تفصیل ته به تلو) نو نه یوا ځې عربي نړۍ بلکه د ټولو اسلامي ملکونو د ملي غیرت، دیني حمیت، قومي او سیاسي مقاصدو تقاضا ده چه په دې قرارداد باندې د لبیك په ویلو سره د بهائیت ټولې دعوتي، ثقافتي او سیاسي فعالیتونه له منځه یوسي۔

فکري میسن روټري او لائنز کلب

په عربي پریس کښې له دې قرارداد سره فکري میسن، روټري او لائنز کلب یادونه هم شوې ده او د قادیانیت د فعالیتونو هم۔ په لومړي سر کښې په پاکستان کښې رسمي او قانوني پابندي لګیدلی وو۔ ګوا که د دې ډلې فعالیتونه تر اوسه پورې جاري او مشتبه دي۔ د روټري او لائنز کلب مسئله هم ۵ جولائي ۱۹۷۳ء په قومي اسمبلي کښې شیخ الحدیث مولانا عبد الحق صاحب د قرارداد په ضمن کښې د بحث لاندې راغی نو حکومت هغوی د علمي او ثقافتي اداره په ګڼلو سره د هغوی د اسلام دښمنه فعالیتونو څخه بې خبري بنکاره کړه۔ لیکن اوس په د اسې حال کښې چه د دغو اداره او ډلو فعالیتونه د ټولې اسلامي نړۍ لپاره د فکر لمحه جوړه شوې ده نو حکومت هم باید له ډیرې دانشمندۍ سره د دغو اداره په باره کښې نظر ثاني وکړي۔ له بده مرغه زمونږ ملك د دغو ټولو ملت ګڼشو عناصرو لپاره ډیر زرخیزه ثابتیږي او بهائي فرقه هم په منظم شکل سره پخپلو کوششونو کښې مصروفه ده۔ د ملك په لویو لویو ښارونو کښې نې مرکزونه دي او لیکنې او رسالې نې هم ویشل کیږي۔ په کراچي، لاهور، لائلپور کښې د دې ډلې تبلیغي فعالیتونه ورځ په ورځ زور نیسي۔ اوس حکومت او د ټولو اسلامي هیوادونو فریضه ده چه د اسې ټولو عناصرو مخه ونیسي کوم چه د لستوني د مار په شکل کښې د ملك او ملت د بنیاد په پرې کولو کښې مصروف دي۔

د رفض فتنه او له صحابه وو څخه انکار

الله تعالی د رسول الله ﷺ لپاره یوه قربانوونکي ډله (صحابۀ کرام رضوان الله علیهم اجمعین) غوره کړه کوم چه د خپل ځان او مال د اسلام لپاره د قربانولو په لاره کښې په مکمله توګه هر وخت تیار وو۔ د دغې پاکې ډلې د رسول الله ﷺ پاکه لمن په هیڅ حال کښې هم پرې نه ښوده۔ د دې لپاره الله تعالی د صحابه وؓ ایمان د نورو خلکو لپاره نمونه او معیار په ټاکلو سره په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

قرآنکریم کښې وفرمایل چه: امنوا کما امن الناس (الآیه) د رسول الله ﷺ په زمانه کښې مشهور یهودي عبد الله بن سبا او تر هغه وروسته د هغه روحاني اولاد د صحابۂ کرامو د تقدس او تعدیل د تر پښو لاندې کوشش وکړ. د اُمت علماوو په هر وخت کښې د سبائي ډلې د ناپاکو عزائمو په پوره توګه د خبرنې په کولو سره د حضراتو صحابۂ کرامؓو ناموس جنګ کړی دی. د دې سلسلې یوه کړۍ د حضرت مولانا سمیع الحق صاحب مد ظله د لاندینی مضمون دا هم دی کوم چه د دار العلوم حقانیې ترجمان د "الحق" میاشتنی کښې هم خپور شو. په فتاوی حقانیه کښې د باب الفرق سره ئې د مناسبت له وجهې د عامې افادې (گټه اخیستنې) لپاره شاملیږي.

(مرتب)

د صحـــــابه ووّ تعدیل د دین مدار دی

د قدوسیانو دا ډله یعنې د صحابه ووّ په تقدیس او تعدیل باندې زمونږ فکرونه او نظریې، زمونږ قرآن، زمونږ سُنت او ټول اسلامي نظام ترلی دی. دوی د دین او شریعت اساس دي، دوی زمونږ د قرآن د رښتونولي او زمونږ د پیغمبر د حقانیت گواهان دي، پردي خو پریږده که چېرته په خپلو کښې یو څوک را ولاړ شي او دا متهه رنګه کړي، د هغوی د عدالت د زخمي کولو مذموم سعی او کوشش وکړي، د دوی عظمت او تقدس ته داغونه ورکوي نو مونږ هغه ملي خودکُشي او له خپل دین، پیغمبر او شریعت سره دښمني ګڼو او په پوره خیر خواهي، اخلاق او خدای ویریدنې سره د هغه قلم، د هغه لاس او ژبې د بندولو کوشش کوو چه که چېرته د دین دا لومړني محافظین یعنې ساتونکي (خاوري مې دې په خوله وي) منافق، سازشي، خود غرضه یا خپل پالونکي او معاذ الله جابران او ظالمان وو ایو نو چه کوم دین او شریعت او کوم کتاب او سُنت چه د دوی په ذریعې سره مونږ ته رسیدلي او په کومو چه د دین عمارت ولاړ دی. دا ټول عمارت او ټول قالب به پخپله به له بیخه ولویږي. د صحابۂ کرامو د ثقاهت تقدس او د تعدل مسئله یواځې د جذباتو او عقیدت مسئله نه ده او نه باید په تعصب او بد خواهي باندې محمول شي. دا د ټول شریعت او د اسلام د پیغمبر ﷺ د صداقت او حقانیت پوښتنه ده د کومو خلکو د ځاني قرباني، اخلاص، د همت لوړوالي، ایثار او جهاد په برکت سره نن مونږ مسلمانان یو. که چېرته مونږ د "علم او تحقیق" یا عناد او تعصب تر خپه په دوی باندې وچلوو نو له دې څخه پورته ناشکري به نور څه کیدلی شي؟ په دې صورت کښې د امام شعبي په قول (چه شیخ الاسلام ابن تیمیة په منهاج السنه کښې نقل کړی دی) مونږ به له یهودو او نصارا وو څخه بدتر خلک ثابت شو او یهود او نصارٰی به زمونږ په پرتله ډیر د مرتبې پیژندونکي او قدردان دي چه کله له دوی څخه پوښتنه وشوه چه ستاسو په ملت کښې ډیر بهتر کوم خلک دي؟ نو یهودو وویل چه د حضرت موسٰی علیه السلام ملګري. او عیسایانو وویل چه د حضرت عیسٰی علیه السلام حواري (صحابه) او یو مونږ یو چه د خپل رسول ﷺ صحابۂ کرامو بدترین اُمت ثابتول

شروع کړل ــــــــ". آیا مونږ کله دا غور کړی دی چه د فریاد او ماتم په دي طوفان کښې زمونږ ټول کور (دین او شریعت) نه ډوبیږي؟ او زمونږ د "تحقیق او انکشاف" په تبر باندې د اسلام په کلا کښې سوری نه پیدا کیږي؟ و لا تعل الله ذلك فاعتبروا یا اولی الابصار.

د صحابه د عظمت او عدالت په شـــــان باندې حملې

صحابۂ کرام رضوان الله علیهم اجمعین زمونږ د دین سرکاري ګواهان دي چه عدالت او پاکوالی ئې لـــــــوی خداوند متعال او رسول کریم ﷺ پخپله بیان کړی دی. د قرآن او سُنت، دین او شریعت په نامه سره چه څومره شیان له مونږ سره دي هغه د دې قدسي صفته ډلې په ذریعې سره مونږ ته رسیدلي دي. د هغو بې دریغه قربانیو او کوششونو په نتیجه کښې مونږ او زمونږ اسلافو ته د کفر، شرک ظلم او ضلالت دتیارو په ځای د ایمان، یقین، عدل او انصاف رڼایي را نصیب شوه.

د علم او تحقیق تر نامه لاندې: پس دا د کومې بدبختۍ او شقاوت انتها ده چه نن پخپله زمونږ په خلکو کښې ځینې ناعاقبت اندیشه او د خداوندي ویرې له دولت څخه خالي لاس په دغو بنیادونو باندې ترخز چلوي او هغه ژبې کومې چه د دین د اقامت او اسلامي نظام د ژوندي کولو په ناروسره نه ستړې کیږي او د ګویایي خپل ټول قوت د صحابه ووّ د تعدیل او تقدیس په زخمي کولو کښې لګوي. او د صحابه ووّ غوندې د دین قیمتي سرمایه او د ایمان بوټی د خپل ډلییزو اخبار اتو او رسالو کښې سر بازار لګول کیږي. که چېرته د علم او تحقیق په نامه د اسلام دښمني او د خپلو لومړنیو محسنینو ناقدري او ناشکري دا شغل جاري پاتې شو نو د اسلام درد لرونکي او د حقاني علماوو به لومړنی فریضه وي چه سره متفق شي او د عیارۍ او چالاکۍ دا چوپانه وشلوي. له شبهې پرته د اسې شوخې او ګستاخې ژبې باید ګونګې او د اسې مکار لاسونه باید شل شي چه له لاس اوږدولو څخه نې د مظلوم عثمان او مرحوم معاویه رضی الله عنهما د عصمت او تقدیس قُبا او د صحابه ووّ د عدالت او تعدیل شان هم محفوظ نه شي پاتې کیدلی. لیکن کوم قلم چه د شهید عثمانؓ په دې وینې باندې رنګول کیږي کوم چه د حضرت عثمانؓ له بدن څخه د څڅیدلو په وخت کښې د قرآن کریم د فسیکفیکهم الله آیت فولادي ضمانت کښې پناه اخیستې وه. آیا نن د الله تعالی کفایت د دې وینې د تقدس له حفاظت او ضمانت څخه مجبوره او بې وسه کیدلی شي؟ حاشا و کلاّ هیڅکله نه شي کیدلی. دا وینې نن هم تازه دي. د حضرت عثمان رضی الله عنه مظلومیت او د دار د شهید بې کسي د ټولو صحابۂ کرامؓو په عظمت باندې د قسم په خورلو سره د حال په ژبې سره په دغو تش په نامه د تحقیق په خاوند انو پورې خاندي او په چیغو چیغو سره ناري وهي چه فسیکفیکهم الله وهو السمیع العلیم.

د برات اظهار (څرګندونه): د صحابه ووّ د عظمت زخمي کوونکي کومه وبا چه د "خلافت او ملوکیت" په نامه سره زمونږ په ځای کښې خپره شوې او خپریږي، افسوس چه ځینې ثقه او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

متديني اداري هم په دې ضمن کښې راغلي دي۔ د دهلي مشهوري اداري "ندوة المصنفين" په آرګن برهان کښې مخکښې میاشت یوه کیپټن قطب الدین د خلافت راشده په ضمن کښې د حضرت امیر معاویهؓ په باره کښې ډیره بې ادبي وکړه بلکه په اصولي توګه د صحابه وؓ په عدالت باندې هم ډیر په سخیف انداز کښې خپله طبع وازمویله۔ ندوة المصنفین زمونږ یوه د فخر وړ اشاعتي اداره ده، بیا د دې اداري مشهور مدیر مولانا سعید احمد اکبر آبادي خو پخپله یو ثقه، متدین او محقق د قلم خاوند او له دیوبند سره تړلی یو جید دیني عالم دی۔ په دلسې کاغذ کښې یو دلسې ډول مضمون راتلل د ډیر تاسف او حیرانتیا خبره وه۔ لکه څرنګه چه د برهان د مدیر توجه د دې خبرې خوا ته واړول شوه کوم چه په هغو ورځو کښې د علي ګړه په پوهنتون کښې د اسلامیاتو صدر او هم هلته اوسیږي۔ مونږ خوښ یو چه د توقع مطابق مولانا سعید احمد اکبر آبادي پخپل ځوابي خط کښې له دې مضمون سره خپله او د خپلې اداري له خوا څخه د بیزاري او برأت اعلان وکړ او په برهان کښې ئې ډیر زر د دې د له منځه وړلو وعده هم وکړه۔

د صحابه کرامؓ دفاع او زمونږ فریضه

قومي یو والی، استحکام، یو له بله لورونه او د اتفاق او اتحاد له ضرورت او اهمیت څخه کوم له شعوره ډک انسان انکار کولی شي د کومو خلکو په لاس کښې چه د اقتدار واګی دی د هغو له خوا څخه هم د ملکي سالمیت په خاطر قومي یو والی، اتحاد او ښه ژوند انه باندې زور اچول کیږي۔ د دې ملک زیات اکثریت د اهل سُنت و الجماعت دی چه د هغو په رګ رګ کښې د صحابه کرامؓ عظمت او تقدیس تر څنګ د اهل بیت او ائمه اطهار (پاکو امامانو) محبت هم ځای میندلی دی۔

د صحابه کرامؓ دفاع د سُني مسلمانانو فریضه ده

یو دلسې اکثریت که چېرته خپل لسلسي نظریات، ديني معتقد اتو او مسلّماتو د تحفظ او دفاع لپاره د کومې اقلیتي ډلې په هغو فعالیتونو کښې اصلاح راولي چه اثر ئې په ديني عظمت او تقدس او ديني افکارو او نظریاتو باندې لویږي، یا له کومو څخه چه د هغو د مسلك او مذهب د هغو خلکو عظمت زخمي کیږي چه وجود ئې د دین د نمونې او چوکیدار ی مقام ولري —— نو په یوه اسلامي او جمهوري ملك کښې دا هیڅکله په انتشار پسندي او تفرقه انګیزي باندې نه شي محمولیدلی۔ د دې اخلاقي، سیاسي، جمهوري او ديني برخه درلودنې تر څنګ د دې ځای اکثریت یو اخې د قومي یو والي او مُلکي استحکام په خاطر (یا د خپلو ديني اقدارو، مسلّماتو څخه د غفلت او بې حسۍ له وجهې) له اقلیتي طبقو او ډلو څخه د کومې لورونې یا مساواتو او ښې رویې مظاهره کوي، مناسبه خو دا وه چه د دې حسن معاشرت او فراخدلی خبر

مقدم (ښه راغلاست) ګیدلی۔ او د خپلو زړه آزارونکو معتقدات ئې تر خپلو حدودو پورې محدود ساتلی۔ نه دا چه د ټول ملك په سواد اعظم باندې د خپلو جارحانه عزائمو او توسیعي ارادو د نافذولو کوشش ئې کولی او د دې لپاره هغه رویه اختیارولی چه نه د پاکستان د سالمیت او بُنیادي اصولو سره سمون خوري او نه د اکثریت له مسلك او مذهب سره ارخ لګولی شي۔

د الحـــــاد او فتنو د خلکو زور ازمونه

لیکن دلته معامله سر چپه ده، کومه ډله یا فرقه خو پریږده یو فرد هم جګیدلی شي او د ټول ملك اعتقاد اتو او د پاکستان اساسي نظریه یعني اسلام خپل هدف ګرځولی شي۔ هغه ته د دین او مذهب د یوې یوې متې د رنګولو او د اسلام د پوره فکري نظام د کښته پورته کولو پوره اجازه ده۔ هغه د نیښې په تك سره علم او مشیخیت، مدرسه او خانقاه، جومات او مکتب، درس او تدریس، تصنیف او مطالعه، ارشاد او تربیت غرض د اسلام ترجماني کوونکي ټول مظاهر، اداري او شخصیتونه د غلط حرف د له منځه وړلو په شان د ختمولو تبلیغ کوي۔ د څو کسانو یوه ډله د جدّت او روشن خیالي په هندار ه کښې د فطرت ټول دین اسلام د ملکي ترقي لپاره د "شا تګ ګیر" ګڼي او د اسلام ترجماني کوونکي د حق ټول علماء کرام د "ملاتیت" تر نامه لاندې په غږوندیو او څنګیرونو کښې د بندولو مشوري ورکوي۔ (وګورئ نظر او فکر اګست ۱۹۶۷ء) یو سړی (غلام احمد پرویز) پورته کیږي او د اسلام په توله (حدیثي ذخیره) او د پیغمبر په تشریعي حیثیت باندې خپل لاس پاکوي لیکن د هغه ټول جارحانه غیر جمهوري، غیر اخلاقي او لادیني لیکنې او ویناوې د قومي یو والي خلاف او د اکثریت د زړه آزارول نه بولي بلکه د اسلام د تحقیق او ریسرچ په نامه د دې اسلام دښمني او سیکولر پرستي حوصلې لوړوي۔ که چېرته د دې ظلم او افراتفري په خلاف اکثریت کوم آواز پورته کړي نو برعکس هغوی انتشار پسند او تفرقه اچوونکي ګڼل کیږي۔

د دروغجن نبوت خپرونـــــــه

د جعلي نبوت علمبرد ار یوې ډلې (څوك چه توله اسلامي نړۍ ئې له لومړۍ ورځې څخه کافر، مرتد او له اسلام څخه وتلی بولي) پرته له کوم ممانعت څخه د خپل دوغجن نبوت خپرونه او د مسلمانانو د ختم نبوت د بنیادي عقیدې او د حضور اقدس ﷺ سالمیت خپل هدف ګرځوي۔ په ملکي زر مبادله باندې د تبلیغ په نامه په کلي کلي کښې د هغه د اسلام خلاف کوششونه جاري دي۔ د دې ډلې امیر په پوره شور او غوغا او شان او شوکت سره د اسلام نماینده او د مسلمانانو خلیفه او د پاکستان مذهبي لار ښوونکی په جوړیدو سره د اروپا په سرکاري او عوامي ماحفلونو کښې وړاندې کیږي۔ د اسلامي نړۍ بدترین دښمن اسرائیل پورې د دې ډلې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

مشن قائم دی چه اعلان نې پرته له کومې ویرې پخپلو لیکنو کښې کوي. لیکن د ارتداد دا لړی نه خو له قومي یو والي سره تکر بلل کیږي او نه د مسلمانانو د عزتمند ترینو اعتقاد اتو لپاره اعلان په دا سې حال کښې چه د دې ملك اکثریت خلك له خپل دین او پیغمبر ﷺ سره د زړه او فدائیانه جذبه لري.

د شیعـــــــه معتقد اتو فروغ

د اهل سُنت و الجماعت (یا په نورو الفاظو سره د پاکستان غالب اکثریت) له پراخې حوصلې څخه د غلطې فائدې اخیستنې کوشش زمونږ شیعه حضراتو هم له څه مودې راهیسې شروع کړی دی. د دوی د یوې لویې ډلې له خوا څخه:

۱ــــــ د شیعه مسلمانانو لپاره د تعلیم او تربیت د جلا نصاب جوړولو

۲ــــــ د عزا داري (یا په نورو الفاظو سره تبرّا او په صحابه وؓ پسې بد رد ویل) په جلوسونو باندې د هر ډول پابندی د لرې کولو.

۳ــــــ او د شیعه ګانو لپاره د اوقاف د یوه جلا بورډ د جوړولو غوښتنې وړاندې کیږي. د دغو غوښتنو په خاطر د "کربلا د میدان" د یاد تازه کولو پورې اخطارونه هم ورکول شوي دي. تر اوسه پورې د اکثریتي طبقې علمي او فطري حلقو دغه له انتشار څخه ډکې خبرې بدې هم و نه بللې چه د ملکي استحکام او بقاء د خرابوونکي په دغو فتنه اچوونکو خبرو باندې د غور کولو تصور هم نه شي کیدلی د کومو خبرو چه هلاکت آفرینې نې د شیعه حضراتو پوهانو ته به هم احساس وشي چه د جلا والي دا احساس او د بیلتون غوښتنې دا جد او جهد که چېرته یوې خوا ته د ملك په سالمیت باندې یو پوخ ګذار دی نو بلې خوا ته د عظیم اکثریت د رد عمل په شکل کښې پخپله د شیعه ګانو لپاره د بیلتون غوښتنې دا اند از د بې شمیره مشکلاتو سبب جوړیدلی شي. د بیلتون غوښتنې د دغو رجحاناتو رد عمل به بیا تر اوقاف او تعلیم پورې محدود نه شي پاتې بلکه په یو څو نورو امورو کښې نې هم ظهور کیدلی شي چه تصور نې هم د ملك او ملت یو خیر خواه نه شي کولی.

له حکومتي نصاب څخه د خـــــــلاقت راشده ایستل

د دغو وجوهاتو له وجهې دا غوښتنې د دیوالونو یو تصویر وګانه لیکن له بده مرغه په لوړې سطحې باندې دا سې خبرې ښکاره شوې چه له هغو څخه د اهل سُنتو خوش فهمي او حسن ظن غلط ثابت شو. د مثال په توګه دا دردناکه خبره چه د سرکاري مدرسو د اسلامیات له نصاب څخه د خلافت راشده عنوان حذف کړی شو. یا په نورو الفاظو سره سکولونه د یوه سرکلر په ذریعې سره د سیدنا ابو بکر، سیدنا عمر، سیدنا عثمان رضی الله عنهم غوندې د اسلام د معمارانو د احوال او سوانحو څخه منع کړی شول. (د کومو سوانح چه د اروپا د ځینو

پوهانونو په نصاب کښې شامل او د هغو لپاره د لاري څراغ دی) د کومو چه پاك معیاري سیرت د ملك او معاشري د جوړښت لپاره د بُنیاد د ډبرې حیثیت لري. بلې خوا ته د مغربي پاکستان د ګورنر له خوا څخه د شیعه مطالباتو باندې د غور کولو لپاره د بورډ د تومولو خبرونه راغلل. د دغو کارونو په حقیقت کښې هم اهل سنت ته تکلیف رسولی دی او دا خبرونه د ټول ملك لپاره د فکر ځای جوړ شوی دی. یو دا سې تحریك چه په نتیجه کښې نې ملك او ملت د تل لپاره په دوه ډول تقسیمیږي او نه ختمیدونکي بیلتون سلسله شروع کیږي، کومه معمولي سانحه نه ده چه اهل سُنت او د ملك نور خیر خواه خلك نې له نظره وغورځوي.

سُني کنونشن (کمیسون)

په دې سلسله کښې څو ورځې مخکښې په ملتان کښې د اهل سنت د تنظیم له خوا د سُني کمیسون انعقاد د وخت یو اهم ضرورت او په هر لحاظ سره یو موزون او ښه اقدام دی. په دې کمیسون کښې د مغربي پاکستان مختلفو دیني عناصرو په ډیر تعداد سره شرکت کړی وو او د مسئلې په تولو اړخونو باندې نې له غور څخه وروسته څو قرارادونه تصویب کړل چه د هغو له جملې څخه د هغو کارونو سخته محاسبه شوې ده چه په نتیجه کښې نې یو تر بله عناد، فساد او د فرقه واریت ترخې خاطرې او تکرونو د پیدا کیدلو اندیښنه وي. په دې ضمن کښې د اهل سنت د فکر ګڼ شمیر خاوند انو په خپلو مسلکونو باندې په قائم اوسیدو سره د یو له بله د اتفاق او یو والي غوښتنه او د شیعه ګانو زړه آزارووونکي کوششونه، جلسې جلوسونه او د صحابۂ کرامو په بې حرمتي او ګستاخي باندې د پابندی غوښتنه او په نصاب کښې د خلفاء راشدینو د سیرت د ایستلو سازش او دا سې نورو امورو باندې سخت احتجاج وشو. دلته په هغو تولو قرارادونو باندې د تفصیلي بحث ګنجائش نشته ــــــ دا قرارادونه د ملك د خیرخواهي، د دین د ساتنې او قومي سالمیت ترجمان دي او په هر لحاظ سره د تائید مستحق دي ــــــ ښکاره خبره ده چه له یوه موتي سره برابرې ډلې په خاطر ملك او ملت د دې تیت پرك والي او یو له بله د جلا کیدو متحمل دی او نه اهل سُنت د خپلو دغو بزرګانو او پاکو اسلافو بې حرمتي، بد رد ویل او تبرّا بازي یا معاند انه (له ضد څخه ډکه) رویه زغملی شي کوم چه د خلفاء راشدینو یا صحابۂ کرامو په نامه سره یادیږي.

په سُنّي سواد اعظم باندې ښکاره زور زیاتی

د حیرانتیا خبره ده چه یوې خوا ته خو د ملك په اکثریت سره د قانون او آرډر ډول پریس نوټونو او فیصلو په ذریعې سره د نورو ډلو تحفظ کیږي او هغوی په دې باندې مجبوریږي چه د خپلو دیني نظریاتو، اعتقاد اتو او قطعي مسلّماتو ښکاره توهین او تحقیر وزغمي لیکن هیڅ ډول د شکایت تکی د ژبې او قلم له څوکې څخه و نه ښلي چه له دې څخه د نورو ډلو تحفظ زخمي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

کیږي۔ لیکن بلې خوا ته د لوړ حوصلګي او لوړیني عجیبه مظاهره کیږي۔ اقلیتي ډلې پوره حق لري چه د مسلمانانو په اساسي عقیدې یعني ختم نبوت باندې تبرګی وچلوي، د انبیاوو او د اُمت د صلحاوو په باره کښې د ډیرو ګستاخانه الهاماتو او مکاشفاتو خپرندوی وکړي، د تولې دُنیا مسلمانان د کنجرانو او خنزیرانو اولاد وګڼي، د محمدي ﷺ ملت تول امتیازات او خصوصیات په یو یو کولو سره اسلامي اصطلاحات او شعائر د خپل ملت او اُمت مصداق وبولي، دغو خلکو ته د دې آزادي شته چه د نبي کریم ﷺ له احادیثو څخه د انکار بنکاره دعوت ورکړي۔ د حضور ﷺ په تشریعي حیثیت (خاوري مو دې په خوله وي) توکي مسخري وکړي، د خدای او رسول اطاعت ته د ځان ځاني جامه واغوندي، هغو ته بنکاره اجازه ده د نبوت د وحی او د جبریل په اړه چه څه وغواړي هغه تاویل وکړي، جسماني معراج او د مسیح پورته کونه یوه زړه کیسه وبولي، شراب، جواري او سود حلال وبولي، لمونځ، روژه، زکات او حج د اسلام ارکانونو په مقدار کښې کموالی او زیاتوالی وکړي او غواړي چه د مار د نیښې د تک ورکولو په شان اسلام ته د کمیونزم یا سوشلزم چوپانه ور واغوندي۔ هغوی ته د احتساب له ویرې پرته دا حق حاصل وي چه د مسلمانانو په منل شوي بزرګانو، صحابهٔ کرامؓ او خلافت راشدهؓ باندې هر ډول لاسونه اوږده کړي لیکن نه له دغو خلکو څخه څه پوښتنه کیږي او نه له دا سې حرکاتو څخه ملک او ملت ته د انتشار او افتراق خطر ورورسیده۔ د دې مطلب دا نه شي کیدلی چه د دې ملک د اهل سُنت و الجماعت عظیم اکثریت خو یا نه کومه عقیده لري او که لري ئې نو نه زخمي کیږي او نه په هغو باندې د مخالفینو د لاس د اوږدولو کوم اثر لویږي۔ بیا که د اسې نه وي نو آیا د دې ملک د سواد اعظم دیني متعتقداد او مسلّمات د کوم تحفظ او احترام لاتق نه دي؟ که چېرته حالاتو او واقعاتو دا صورت غوره کړی وي نو دا به د دې ملک له هغو ټولو مسلمانانو سره ظلم وي کومو چه د خپل دین او شریعت او خپل محبوب معتقداتو حفاظت او ترویض او د باطل د له منځه وړلو لپاره د تاریخ بې مثاله قربانی ورکولو په نتیجه کښې دا ملک حاصل کړی دی۔ که چېرته د هغوی دین او عقائد د کوم غیر مسلم غالب اکثریت په رحم او کرم باندې پرېښودلی وو نو هغو ته د اور او وینې له دې درياب څخه د تیریدلو څه ضرورت وو؟ د دین او دینې وياړونو د وینې کیدلو دا هولناکه ننداره هغو په کوم سیکولر ملک کښې هم لیدلی شوای ـــــ پاکستان یو نظریاتي هیواد دی، اساس ئې کتاب او سُنت او هغه تشریع او تعبیر دی چه له څوارلسو کلونو راهیسې د مسلمانانو په نزد د قبول او منلو سند تر لاسه کړی دی۔ پس آیا یوه د اسې نظریه کومه چه د یوه هیواد لپاره د ملا د تیر او د ثقل د مرکز حیثیت ولري د اسې محفوظ پاتې کیدلی شي چه منونکي ئې په د اسې ډول بې لاسه او بې پښو جوړ شي او د دې نظام بربادوونکو ته د اسې رخصت ورکړ شي بلکه د هغو د تحفظ او دفاع انتظام وي۔ په د اسې صورت حال کښې د کوم قوم یا کوم نظریاتي ملک ګرفتاره کیدل د بصیرت

او تدبر مرګ او ناعاقبت اندیشي بنکاره ثبوت او له سلیم عقل او پوهې څخه د بې برخي توب علامه ده۔ او مونږ حق لرو چه د ملک او ملت خیر خواهي، دیني ذمه واری او زمونږ له اساسي نظریاتو سره وفاداري په بناء د دې دردناک صورت حال څارنه وکړو۔

له اختلافي معتقداتو څخه د اسلام جوړه شوي کلمه

په ملک کښې د شیعه سُني د نصاب د جلا والي مسئله پورته شوه۔ مونږ په خو خو خلي د دې فیصلي قومي او ملي خطرناکو عواقبو باندې د اختیار او واک خاوندان خبر کړي دي، پوهیدونکي طبقي خپله حیرانتیا او تشویش بنکاره کړ، په اسمبلي کښې آواز پورته شو لیکن دا هر څه هیڅ نتیجه ور نه کړه او د مشترکه او جلا جلا نصابونو په ذریعي سره په قوم کښې د تفریق او انتشار بُنیاد کیښودل شو۔ او اوس هغه څه مخکښې راغلل د کوم چه خطر موجود وو۔ دیني نصاب د متضاد مو خیالاتو او نظریاتو خس او خاشاک وګنل شو او د یوې خاصې ډلې معتقداتو ته د سواد اعظم د سر تیټولو دور شروع شو۔ د نصاب او درسي کتابونو د قومي اداري، د تعلیم وزارت او صوبایي رابطه اسلام آباد چاپ شوی کتاب "رهنمائے اساتذہ اسلامیات جماعت نهم و دهم" سکولونو ته راغی، سُني مسلمانان او علماء حیرانه او په تشویش کښې شول چه کله هغو د دې کتاب په دریمي برخي کښې د اسلام کلمه هم په نوي اند از کښې ولیدله۔ د شیعه حضراتو په اړه په دې باب کښې علی ولی الله وصی رسول الله او خلیفة بلا فصل په ذریعي سره د امامت او خلافت جنګونه د اسلام د کلمي برخه وګرځول شوه او یواځې په دې باندې اکتفاء و نه کړه بلکه همدغه کلمه ئې د اسلام ګنل شوی دی۔ او دا عقیدې ئې د ایمان او اسلام ذریعه وګڼلې۔ (وګورئ ص۳۵) د مسلک او مشرب د امتیاز لپاره که چېرته دا لیکل کیدلی چه د اسلام معیار کلمه طیبه ده لیکن د شیعه ګانو په معتقداتو کښې د امامت او خلافت بلا فصل زیاتوالی هم شوی دی نو بیا به هم څه خبره وه لیکن دلته په اختلافي معتقداتو باندې مبني مسائل د اسلام کلمه ګنل او دا چه د دې په ویلو سره کافر مسلمانیږي۔ نه عقلاً او نه نقلاً صحیح دی نه د ملک او ملت سواد اعظم د خطونو لاندې راوستل او په اشاراتو او تلمیحاتو کښې کافر ګنل د ملک او ملّت خیر خواهي دی ـــــ دغو حضراتو ته پخپله هم معلوم دی چه د نبي کریم ﷺ په نزد په اسلام کښې د داخلید و علامه یواځې کلمهٔ طیبه ده او د صحابه وؓ په دور او خیر القرون کښې یواځې کلمه طیبه به اسلام ګنل کیده۔ پخپله د شیعه ګانو روایتونه هم په دې باب کښې ډیر دي۔ د دې لپاره یوه د اسې خبره چه د مسلمه اُمت د عظیم اکثریت په نزد اختلافي او د منلو ور نه ده په یوه د اسې نصاب کښې شاملول چه د اکثریتي طبقي په مخکښې په جبر او زور سره کیښودل کیږي ډیر له انجام څخه ناخبري ده۔ په ملک کښې ځای په ځای په دې مسئلې باندې د بې آرامی موجونه پورته کیږي۔ د لاهور په یوه عدالت کښې دا مسئله هم مخته کیښودل شوه، په چکوال کښې تر دې پورې

زیاتوالی وشو چه پولیس د جومات د تقدس په زخمي کولو سره د ننه داخل شو او په لمونځ کوونکو باندې ټې ظلم وکړ۔ نامور عالم قاضي مظهر حسین صاحب او نور خلك وښیول شول۔ په قومي اسمبلي کښې شیخ الحدیث حضرت مولانا عبد الحق صاحب د چکوال د واقعې په ضمن کښې د دې مسئلې په محرکاتو باندې د التواء تحریك وړاندې کړ۔ حکومت باید چه هغه نصاب د ډنیات په شکل کښې چه اور بلوي د خدای لپاره د ملك او ملّت د سالمیت په خاطر د هغه په خطرناکو عواقبو باندې فکر وکړي او د اور له بلولو مخکښې ټې د له منځه وړلو اقدامات وکړي۔ (مارچ ۱۹۷۶ء)

متجدّدین او د حدیثو د منکرینو د نبوت جاهلانه تصور

حضرت مولانا سمیع الحق صاحب

"په اسلام کښې تر قرآنکریم وروسته سُنت او نبوي احادیث دوهم مقام لري

د رسالت منصب

قرآن کریم له اول څخه تر آخره پورې د نبوي سُنتو په هغه اهم ترین مرکزي او بنیادي حیثیت باندې زور اچوي۔ هغه د حضور اقدسﷺ ذات مبارك د داسې یوه رسول په حیث زمونږ مخې ته وړاندې کوي کوم چه په یوه وخت کښې معلم او مربّي، د کتاب الله شارح هم او د تول مسلمه اُمت لارښوونکی او د تقلید یوه نمونه هم دی۔ قرآنکریم د رسول اتباع او اطاعت د خداوندي محبت او د آخرت د ورځې د امیدواري علامه ګڼي او د حضورﷺ ژوند او د ده مبارکﷺ اقوال او افعال د خپل ځان لپاره د اسوۀ حسنه نه جوړوونکي د کافرانو په ډله کښې شماروي۔ د هغه بې شمیره آیتونه په دې باندې ګویانه دي چه د رسولﷺ کار یوائې د کتاب رسول نه بلکه د هغه تشریح او تعبیر او تفسیر او تبیین هم د ده مبارکﷺ د نبوت په فریضه کښې شامل او د رسالت د منصب تقاضا ده چه ځای په ځای ټې رسولﷺ د شارع په حیثیت سره په وړاندې کولو سره هغه تشریعي اختیارات (LEGISLATIVE POWERS) ورکوي او کله کله په مختلفو شکلونو کښې د دې تصریح کوي چه رسول کریمﷺ د الله تعالی له خوا تاکل شوی حاکم، فرمانروا او قاضي دی۔ هغه د رسول درب جل جلالُه په قسم سره اعلان کوي چه ستا په رب دي قسم وي چه تر څو پورې دا خلك په زړه او روح سره ستا د فیصلو په وړاندې د تسلیم سر کښته نه کړي هغوی هیڅکله مؤمنان نه شي جوړیدلی۔ ستا د خوښې له فیصلې څخه ټې انکار خو پریږده که چیرته په زړونو کښې ټې معمولي غوندې تنګي هم محسوس شي نو دا به د دوی د ایمان د سرمایې ضیاع او د اسلام دد ین د بربادۍ سبب به وي۔ د مؤمنینو شیوه خو دا ده چه کله الله تعالی او د هغه رسولﷺ د کومې خبرې او فیصلې خوا ته را وبلل شي نو په منډه به ورته راځي او ووایي چه مونږ واوریده او مونږ ومنله۔ (النور ۵۱) پاتې شول

کافران او منافقین نو د هغو حال دا دی چه په داسې موقع کښې له رسول اللهﷺ څخه ځان سپموي۔ (النساء ۶) هغه قرآن چه د هغه د مدد په اخیستو سره نن په دین او اسلامي ملّت باندې ناڅاپه حمله کوونکي حملې کوي، د دې بنکاره کتاب اعلان دی چه د رسول اللهﷺ اطاعت د خدای اطاعت دی او د هغه له تشریعي منصب څخه انکار د خدای او د هغه له کتاب څخه انکار دی۔ همدغه کتاب وایي چه د رسول اللهﷺ ژبه د الله تعالی ژبه، د هغه لاس د خدای لاس، د هغه خبره د خدای وحی، د هغه عمل د الله تعالی منشأ او د هغه فیصله د لوی او برتر خدای مسلّم قانون وي۔

بیا افسوس! د دغو خلکو د نفساني مرداریو او فطري غلط فهمیو په کومو الفاظو باندې یادونه وشي کوم چه د قرآن د نامه په اخیستو سره له اولین او آخرین رسولﷺ څخه دا تول منصبونه (خاوري مې دي په خوله وي) غواړي چه واخلي "چه څومره شیان دي هغه په کتاب الله کښې دي، رسولﷺ پخپله هیڅ حیثیت نه لري، نه د هغه ارشادات او د قرآن تشریحات د قرآن برخه ګڼل کیدلی شي او نه هغه د مسلمانانو د قانون مأخذ ګڼل کیدلی شي"۔ په داسې حال کښې چه سُنت د قانون د دویم مأخذ (SOURCE OF LAW) په حیثیت والي باندې له صحابۀ کرامؓ څخه واخله تر ننه پورې د اُمت اجماع پرې روانه ده۔ لیکن په اسلام کښې چه سنتو ته د څومره اهم کردار او اساسي حیثیت ورکول شوی دی، د اسلام او رسولﷺ له اقدس ذات سره عناد درلودونکي منافقین او ملحدین د سنتو د تشریعي حیثیت په له منځه وړلو باندې دومره زور لګولی دی چه کله د رسول اللهﷺ تشریح او تفسیر د قرآنکریم له احکامو او اصطلاحاتو څخه جلا کړی شي نو د اسلام او قرآن د ځان ځاني تاویل او تحریف لپاره لاره خلاصیږي۔ قرامطه، معتزله، خوارج او داسې نورو بې شمیره باطلو فرقو کښې دا شی تلسو ته په مشترګه توګه په لاس درځي اګر که دا خلك په حدیثو باندې د عمل کولو دعوی وکړي او که په بنکاره سره انکار تري وکړي۔

د رسول اللهﷺ سُنت او د مستشرقینو او تجدّد وهلي طبقه

له مخکښینیو دوو پیړیو څخه د اروپا مستشرقین او د مسلمانانو تجدّد وهلي طبقو کوششونو محور هم تر تول زیات د "رسول اللهﷺ سُنت" پاتې شوی دی، کله کله په بنکاره الفاظو سره ټې د تحقیق نښانه وګرځوي او کله کله منافقانه چوپانه واغوندي او د سُنت د نوي تعبیرونو په شکل کښې، زمونږ د ملك تجدّد وهلي حضرات کوم چه نه خپل علمي او کفري قوتونه د خدای او رسولﷺ په مرضیاتو باندې پرینبودل غواړي او نه د مجبوري او مصلحتونو له وجې په واضحه او څرګنده توګه له اسلام او ایمان څخه انکار کولی شي۔ د دوی د کوششونو تعلق هم زیاتره د رسولﷺ د سُنتو تشریعي حیثیت ته د نقصان له رسولو سره لري۔ د اسې خلك د کومو چه توله علمي سرمایه د خپلو لارښوونکو مغربي استاذانو تحقیق او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

پلتنه ده، د تل لپاره د نبويؐ سُنتو مصداق او د هغه اهمیت او استنادي حیثیت د زخمي کولو او مشکوک کولو په لټه کښې دي. له دغه خلکو څخه یو غلام احمد پرویز او ډله ئي په خلاص لاس د رسول اللهﷺ له احادیثو څخه د انکار دعوت ورکوي.

د سُنتو او حدیثو په باره کښې منافقانه کردار

او څه خلك له ښکاره اعلان څخه پرته سُنّت او حدیث ته د خپلو ملحدانه اغراضو په بناء سره د اسې معاني ور اغوندي چه د سُنتو حقیقت پرې له منځه لاړ شي او د دوی د حدیثو د انکار له الزام څخه ئي لمن هم پاکه پاتې شي. د تحقیق د دې طرز تاج په تولې نړۍ کښې رسوا یهودي مستشرق پروفیسر جوزف شاخت په سر باندې دی. او زمونږ په ملك کښې د دې نظریې د فروغ او خپرونې فریضه د هغه وفا شعار شاګرد ډاکټر فضل الرحمٰن او د هغه همنوا ډلې په غاړه کوي. لومړی ډله د خپلو فاسدو اغراضو او خواهشاتو په لاره کښې د رسول اللهﷺ سُنت د یوې درنې ډېرې په ګنلو سره له لارې څخه ئي لرې کول غواړي.

د سنتِ جاریه او غیر جاریه نظریه

لیکن د ډاکټر فضل الرحمٰن نظریه "سنتِ جاریه او غیر جاریه" هغه جارحانه حربه ده چه په لاس کښې ئي اخیستې او په هر ډول چالاکۍ باندې د تقوٰی او بزرګۍ په خلاف وچلولی شي. د دې نظریې خلاصه پخپله د فضل الرحمٰن په الفاظو کښې دا ده چه "سنت په حقیقت کښې یوه "تعاملي اصطلاح" ده چه تشکیل ئي له "آزادې شخصي رأیې" څخه کېږي. او د "عوام الناس" یا عامه رأیې تر قبلولو وروسته هغه شی "سنت" جوړېږي او د عامه رأیه دې قبلونې ته "اجماع" وایي چه هغه ئي د "آزادې اجماع" په نامه سره یادوي. د هغه د تحقیق مطابق ملّت په مجموعي توګه د سُنتِ نبويﷺ د مسئولاتو د پیدا کولو مستحق دی، ملّت په الفاظو باندې زور نه اچوي بلکه د هغه په روح باندې د پوهیدلو کوشش کوي(۱). اوده دې تعاملي اصطلاح د جاري ساتلو لپاره موصوف ډاکټر د هغه نوم سُنت جاریه (ژوندی سنت) ردي او د نبي کریمﷺ سنتِ غیر جاریه سنت (نعوذ باالله مړ سُنت) بولي. چه تشریح ئي په لنډه توګه دا ده چه په کتاب او سنتو او شریعي لارښوونو کښې دومره "توسیع" وشي چه د نوي تهذیب او تمدن پیدا کېدو شوي تول مسائل او خرابی د عامو خلکو د رأیې او تعامل له وجې د غوښتنې مطابق په شریعت او سُنت کښې ځای ونیسي.

له پرویزي نظریې څخه زیات مهلك

د تحریف او تلبیس او د دین په بنیادونو کښې د نقصان پیدا کولو په لحاظ سره د څوارلسمې پېړۍ دا تحقیق د حدیثو د منکرینو له لومړنۍ ډلې څخه زیات مهلك او خطرناك دی. د چېرانتیا خبره ده چه د ځینو ساده لوحو خلکو نظرونه یا د دیني بې غیرتی له وجې د فضل

الرحمٰن په دې تخنیك باندې نه لویږي او هغه "انکار حدیث" څخه د بلې ډلې برائت غواړي. په داسې حال کښې چه د فضل الرحمٰن یا د هغه د اداري له خوا څخه که چېرته د "پرویزي نظریې" په خارنه کښې کوم مضمون راځي نو هغه یواځې په دې وجهې سره چه هغوی ته د پرویزي انداز فکر د مسلمانانو د دیني احساساتو او جذباتو له وجې د (۱) د پورتنۍ نظریې د تفصیلاتو لپاره د فکر او نظر میاشتنۍ جولایي، اګست ۱۹۶۳ء د تصوّر سُنت تر مقالې لاندې او نور مضامین وګورئ.

اسلام په حق کښې کم خطرناك معلومیږي. په داسې حال کښې چه دا خلك د اسلام مانې (خاورې مې دې په خوله وي) زر تر زره له خاوروسره خاورې غواړي. (و لا فعل الله کذلك) دا خلك د خپل مقصد لپاره غل او منافق جوړ شي او په پتو حربو باندې په دې مانې کښې سوری کول زیات مؤثر او ګټور ګڼي. د پرویز غوندې جارحانه او واضحه طریقه نشته. که چېرته پرویزي ډله د ښکاره ارتداد او خرګند کفر لاره پرېږدي او د نورو غوندې د نفاق او چل ول لاره غوره کړي نو نن هم دغه دواړه مکتب فکر سره یو کیدلی شي. بیا په دغو دواړو د فکر مکتبونو کښې د الحاد او تجدد د میدان سیادت او قیادت جذبه هم کارفرما دی کوم چه دوی د یوه او بل رقیب او حریف په جوړولو باندې مجبوروي. او که نه نو د باطلو ډلو له نفسیاتي مطالعې او د نبويؐ ارشاد اتو په رڼا کښې په اصل کښې اسلام او مسلمانانو ته په نقصان رسولو کښې تول سره یو دي. یواځې د کار په طریقه، د بیان په انداز او تعبیراتو کښې فرق وي.

آزاده اجمـــــاع او شخصي رأیه

د څوارلسمې پېړۍ اباحیت وهلي خلك له اسلامي ویاړونو څخه د تېښتې لپاره د اروپا مستشرقینو، زمونږ د ملك د اهل تجدد او د اسلام د نوي تعمیر (NEW CONSTRUTION) چیغې وهونکي او دې لړه د حالاتو او ظروفو تابع جوړوونکو دا تحقیق ښه دلیل دی چه د هوس وهلي عوام اکثریت او له دین څخه بې خبره د عامو خلکو خواهشات او فیصلې په دین کښې د سُنت جاریه، آزادې اجماع، شخصي اجتهاد او داسې نورو په نامه سره د حجت او دلیل مقام ورکړي. بیا وګورئ چه کوم فواحش او منکرات چه په دین کښې قطعي حرام وو څرنګه یو په بل د عامو خلکو په خپلولو سره جائز او حلال بلکه د قانون او شریعت درجه حاصلوي.

عوامو ته د فیصلې کولو حـــــق؟

که چېرته دا آزاده "اجماع" او "شخصي رأیه" د شرعي احکامو د مأخذ او "سُنت جاریه" په توګه و منل شي نو بیا به څوك وي چه سینما، بې پردګي، فحاشي، سودي بانك، جواري الغرض د اروپا تول اخلاقي او معاشرتي او اقتصادي مسائل له اسلام سره مخالف وګڼي. صبا که چېرته له آزادې شخصي رأیې څخه تشکیل میندونکي "سُنت جاریه" سوشلزم خوشحاله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

کړي، بله ورځ کمیونزم یا کپیټل ازم او څه وخت وروسته دجال او د هغه راوړل شوي لرویایي تهذیب ته غاړه ورکړي نو له هغو څخه هر یوه ته به د نبويؐ سنتو مقام حاصلیږي- و العیاذ باالله.

لږ د دې مسئلې ژوروالي ته لاړ شی نو د نتیجې په لحاظ سره له "سُنت او حدیث" سره لوبې او توکې کوونکي دواړه ډلې په دې تکې باندې سره یو ځای کیږي چه "د رسول اللهﷺ د اطاعت او شریعت" په ځای د هرې زمانې د عوامو فیصلې ته هغه حیثیت ورکړی کوم چه رسولﷺ او د هغه سُنتو ته حاصل دی- البته په پرویزي متکبّرانه فکر کښې دا د "مرکز ملّت" په نامه سره تعبیریږي او د متجدّدینو په نزد د "ژوندي او مړ سُنت" په نامه سره او کله د آزادي اجماع او د اجتهاد په شکل کښې عوام یا د هغو له خوا په غوره شوي پارلیمان (مقننه- که چیرته د اسلامي نقطهٔ نظر له مخې مقننه ویل ورته جائز هم وي) ته د هر ډول فیصلې د کولو حق ورکول کیږي- اګر که د دغو فیصلو مقصد له کتاب او سُنت او د هغو له منصوصو احکامو سره تکر ولې نه وي او په دې خود ساخته اجماع سره د اُمت د لومړنیو ټولو اجماعي مسائلو ماتوالی ولې نه وي-

د جمهوریت تر نامه لاندې د اجماع او د اسې نورو په باره کښې د صدر ایوب غلط خیالات

بیا د اجماع د دې غلط او خطرناک تصویر تبلیغات په دومره شوق او ذوق سره کیږي چه له بده مرغه نور خو پریږده زمونږ د احترام وړ د ملك تر صدره پورې له دې نظریې څخه متاثر لیدل کیږي- پخپل کتاب "فرینډز ناټ ماسټر" (۱-) په یوولسم باب کښې "آئین او د حیات نظریه" کښې هغه د "اجماع" دا مفهوم خپل د عمل لاتحه جوړول غوښتی دی- او لکه څرنګه چه ملکي آئین او د ژوند د ضابطې تشکیل کښې محترم صدر ته اهم ترین مقام حاصل دی د دې لپاره ښکاره خبره ده چه په همدغو لیکو باندې هغه د ملك قانون جوړول ښه ګنل چه له اثراتو څخه ئې په راتلونکي کښې د ټول ملك د مسلمان اکثریت متاثر کیدل لازمي خبره وه- د اجماع هغه تصویر کوم چه اسلافو د کتاب او سُنت په رنا کښې مونږ ته راکړی دی ښکاره خبره ده چه د هغه لپاره کوم اهلیت او صلاحیت په لحاظ کښې نیول شوی دی عوام خو پریږده د دې دور د اُمت تر خواصو پورې د هغه صلاحیت او اهلیت پیدا کیدل مشکل دي- د صدر محترم په خیال کښې له دا سې اجماع څخه د جمهوري ویاړونو پایمالي راځي- د دې لپاره هغه په قانون او شریعت باندې د علماوو یا دیني علومو سره د تړلې کومې خاصې ډلې اجاره داري ناجائز ګڼي او په نوي زمانې کښې د اجماع مصداق یواځې د قانون سازو ادارو رایې بولي-

(۱-) د وخت صدر محمد ایوب خان تصنیف چه اردو ترجمه ئې "جس رزق سے آتی هو پرواز میں کوتاهی" په نامه سره خپور شوی دی-

ملائیت، پاپائیت نه دی

حالانکه ښکاره خبره ده چه په اسلام کښې "علما، او ملا" د کوم خاص رنګ او نسل یا کومې ځانګړې کسب یا کوم خاص قوم او نسب سره نسبت درلودونکي ډلې ته نه وایي، نه په اسلام کښې د دا سې پاپائیت او برهمنیت اجازه شته بلکه د مسلمانانو له هرې طبقې څخه چه څوك هم وغواړي پرته د رنګ او نسل له امتیازه، د قوم او کسب له تفریقه د کتاب او سُنت او اسلامي علومو د صحیح پوهې په لاس ته راوړلو سره عالم جوړیږي او د نبوت د وراثت په منصب باندې فائز کیدلی شي- د رنګ او نسل امتیاز خو پریږده د دین د ترجمانۍ دا منصب د جلیلو مسلمانانو ښځو او غلامانو ته هم ور په برخه کیدلی شي- نو بیا اصل معامله د "ملا" د اجاره داري کله پاتې کیږي؟ په دې صورت کښې که چیرته مونږ د "ملا" نوم واخلو د دین په اجاره داري او تعبیر او ترجمانۍ کښې خپل ځان شریکول وغواړو نو په حقیقت کښې به مونږ د تشریع او قانون جوړونې لپاره د کتاب او سُنتو د بالادستۍ او اجاره داري رواداري نه یو-

د جمهورو رأیه او جمهوریت تر کومه ځایه پورې اهمیت لري

بیشکه اسلام د اُمت جمهور او د مسلمانانو د عمومي خوښونې او غوره والي اهمیت منلی دی- تر دې پورې چه دې ته د اجماع، استحسان، عرف او د امت د تعامل په نامه سره د اسلامي قانون یو اهم رکن تاکل شوی دی لیکن د دې ترڅنګ هغه دا هم لازم کړي دي د جمهور هره فیصله به نه د کتاب او سُنتو او د خدای او رسولﷺ د خوښې او د دین له عمومي مزاج سره تکروي او نه د کوم شي په خپلولو کښې خواهش پرستي، نفس پروري او له دین څخه د تیښتې کومه داعیه شامله وي-

اجاره داري نه، اهلیت شرط دی

د جمهوریت په نامه سره په دین او شریعت کښې عوامو ته دا ډول د آزاد قانون جوړونې حق ورکول با لکل دا سې دی لکه مونږ چه د ملك په تعمیري او ترقیاتي منصوبو کښې د کوم انجنیر له رأي او قابلیت څخه د ګټه اخیستنې په ځای عامو خلکو ته چه د انجنیرۍ له معمولي شي څخه هم خبر نه وي ټول کار ور وسپارو- د کوم قابلیت او صلاحیت څخه پرته عوامو ته د تربیله او منګله غوندې د درنو منصوبو د تعمیر او تشکیل کار ور سپارل جمهوریت پروري نه بلکه له جمهوریت او جمهوري ویاړونو سره به دښمني وي- همدارنګه ډاکټري او دوایي را واخلی- د خلکو د صحت او بیماري او په ځانګړې توګه د انساني جسمونو د ځیرلو او ګنډلو غوندې نازك کار عوامو ته نه شي سپارل کیدلی- آیا د یوه ملك هر اوسیدونکي ته د سختو مریضانو د آپریشن کولو حق د دې لپاره ورکول کیږي چه نه ورکول به ئې د جمهوریت د پښو لاندې کول وي؟ نه! بلکه د سرجري نازك ترین کار هغه سړي ته سره کولی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

شي چه مطلوبه قابلیت، تعلیم، ډګري او تجربه ئې په پوره توګه حاصله کړې وي۔ او آیا د ملک هر اوسیدونکی اګر که په مروّجه عدالتي قوانینو او عدالتي نظام باندې معمولي خبر هم نه وي د احق ورکول کیدلی شي چه چیف جسټس (قاضی القضات) یا د تولې عدلیې فیصلو ته چیلنج ورکړي، یا د قتل او د اسې نورو فیصلې وکړي، یا هغه ته د وکالت اختیار ورکړی شي۔ پس بنکاره خبره ده چه کله په دنیوي علومو کښې د اډول اجاره داري ته مونږ حق تلفي نه شو ویلی نو دین، شریعت او په ژوند انه باندې د جاري کیدونکو قوانینو لپاره مخصوص شرائط، قیودات او خاص اډول قابلیت او اهلیت التزام ولې د جمهوري ویاړونو خلاف ورزي بولو؟

اجتهـــــاد او اجمـــــاع

پس له شبهې پرته شریعت هر کس او ناکس ته نه د اجتهاد حق ورکړی دی او نه په شخصي رایې باندې پورته کړل شوې آزادي اجماع ته د دین د اصل درجه ورکوي بلکه اجماع به د داسې خلکو معتبره وي چه د خدای ویریدنې، تقوی، خشیت، ایماني فراست، دیني بصیرت، د خیر خواهي له جذبې او حق کوشي غوندې صفاتو څخه مالا مال (ډک) وي، له علمي او فني لحاظ څخه کامل، مکمل، جامع او عبقري شخصیتونه وي۔ د هغو هیڅ یوه فیصله هم د تعصب، تخریب، عناد، جهل، خود غرضي او نفساني خواهشاتو باندې مبني نه وي او بیا د دغو فیصلو لپاره له الله تعالی، رسول الله ﷺ، او د صحابه وؤ یا تابعینو د زمانې کوم قوي سند هم موجود وي ـــــ یواځې داسې خلک د اجتهاد او استنباط اهل وي او د داسې تولو بزرګانو اتفاق "اجماع" بلل کیږي۔ ممکنه وه چه نن هم د دغو شرائطو او قابلیتونو سره د اجتهاد دروازه خلاصه وای لیکن افسوس چه په واقعاتي دُنیا کښې له پیرپور راهیسې هغه کلي ورکه شوې ده چه سړی ئې واخلي او د امام ابو حنیفه، امام شافعي، امام احمد بن حنبل او امام مالک رحمهم الله د علم او فضل لساطینو غوندې ئې د اډروازه خلاصولی شوای۔

اب انهیں ڈھونڈ چراغِ رُخ زیبا لیکر

د بحث خـــــلاصه

په هر تقدیر سره د اسلام په نظر کښې اصل اطاعت د الله تعالی او د هغه د رسول ﷺ دی او اصل مقام د کتاب او سنت او له هغو څخه د مستنبط شوي احکامو دی۔ که چېرته د امت اکثریت یا د مسلمانو د غوره شوي کوم پارلیمان په کومې غیر شرعي فیصلې یا کومه ګمراهي باندې سره متفق هم شي نو بیا هم په اُمت کښې د تل لپاره داسې یوه مضبوطه تولې پیدا کیږي چه د داسې "ضلالت د اجماع" نه یواځې مخالفت بلکه د حق اعلان او خپرونه به کوي۔ تول اُمت په ګمراهي باندې د نبويؐ بشارت په مطابق چه (لا تجتمع اُمتی علی الضلالة) هیڅکله نه شي متفق کیدلی۔ پر دې بناء نه خو مرکزِ ملت حاکمه یاقوت لره د رسول ﷺ اطاعت ګنلی شي

او نه مونږ د اروپا د اسلام دښمن یهودو او نصارا وو څخه را داخل شوي نظریاتو ته سُنت جاریه ویلی شو او نه زنا با لرضا غوندې څرګندې عیاشۍ ته د قانوني حیثیت په ورکولو باندې د اتفاق کوونکي پارلیمان فیصلو ته "اجماع" ویلی شو۔ بلکه لکه څرنګه چه نور دیني اصطلاحاتي لکه لمونځ، روژه، زکات، حج، قرباني او داسې نور چه یو خاص شرعي مفهوم دی چه نه ئې څوک بدلولی شي، نه په هغو کښې ترمیم او توسیع کیدلی شي او لکه څرنګه چه له "کتاب" څخه مراد به هغه قرآن وي کوم یو چه اُمت ئې تر اوسه پورې د متواتري آسماني صحیفې په توګه مني۔ همدارنګه سُنت، اجماع او اجتهاد هغه معنی به د قبول وړ وي کوم چه د صحابه وؤ له زماني څخه را واخله تر اوسه پورې را روانه ده۔ او لکه څرنګه چه کتاب، وحی، نبوت، رسالت او د داسې نورو الفاظو شرعي مفهومات قطعي او په هغو کښې تبدیلي، تحریف او ظلّي بروزي تفریق الحاد، کفر او زندقه ده همدارنګه د اسلام څلوریزه اصول کتاب، سنّت، اجماع او اجتهاد له خپل اصلي معنې څخه جدا کول او ځان ځاني معنی ور اغوستل په دین کښې تحریف او له دین سره لوبې او توقې ګنل کیږي چه د اډول اعمال د اُمت عمومي ديني مزاج تر قیامته پورې نه شي زغملی۔

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

د حدیثو د انکـــــار فتنه

مقدس شریعت ته د نقصان رسولو او د مسلمانانو له زړونو څخه د اسلام د عظمت او تول نیوونکی جامعیت د را کمولو لپاره ورځ په ورځ یوه نه یوه فتنه سر پورته کوي. څوك په ختم نبوت باندې د چاپې په اچولو سره د نبي جوړید و ناپاکه کوششونه کوي او څوك د قرآن د پوهې تر جذبې لاندې د وحی غیر متلو یعنې حدیث او سُنت له حُجیت څخه انکار کوي. د نننې زمانې د دې فتنې (انکار حدیث) سربراه غلام احمد پرویز وو. څینې پوه او د قلم خاوندان هم د پرویز له دې "قرآن پوهیدنې" څخه متاثر شول. حضرت مولانا سمیع الحق صاحب مد ظله د دینې فریضې په ګڼلو سره د دار العلوم حقانیې په ترجمان (ماهنامه الحق) کښې د دې فتنې پوره څارنه وکړه. لاندینۍ لیکنه هم په "الحق" کښې څه وخت مخکښې شائع شوې وه چه د اهمیت او افادیت له مخې د عامې ګټه اخیستنې لپاره په "فتاوی حقانیه" کښې هم شاملیږي.

(مرتب)

د حدیثو د منکرینو بې ځایه وکـــــالت

د ملك مشهور ادیب او شاعر او صحافي جناب شورش کاشمیري ته یو په یو څه فکر ولویده چه په ۱۳ مئی په غونډې کښې ئې د دې ملك د فتنۀ انکار حدیث د سر براه غلام احمد پرویز د مدح سرایي (ستاینې) او وکالت خبره پورته کړه او په دې زور او شور سره چه پرویز ته د اسلام د افکارو په کربلا کښې د حسیني قافلې آواز او د قرآني فکر یو اهم او فاضل شخصیت په ګڼلو سره هغه د رسالت په دربار کښې د سرخـــــرویې او د امت د فضلاوو په صف کښې د دریدلو "زیري" هم ورکړی. نور ئې وویل چه کوم کار د تول اُمت د علماوو په وس کښې نه وو، پرویز هغه کار وکړ او د اسلام له لمنې څخه ئې عجمي ګرد پورته کړ. د پرویز د یوه کتاب یواځې یو بـــــاب په ویلو سره د هغه په باره کښې یوه "بنه تبدیلي" محسوس کـــــړ. او بیا د دې په نتیجه کښې د امت د تول مکاتب فکر په زړګونو علماء، مشائخ، د علم او تقوی خاوندان او د تحقیق او فتوی ارباب ته مشوره ورکړه چه اوس لکه څرنګه چه اصل حقیقت مانه معلوم شو د دې لپاره تول علماء باید چه د پرویز په خلاف ورکړ شوې فتوی بیرته واخلي. او د تماشا خبره خو دا ده چه د اسلام په باره کښې په شورش صاحب باندې د دغه څوارلس طبقه ایز کتاب یواځې د څوارلسم باب په ویلو سره روښانه شوه، څـــــرګنده نه ده چه د تول کتاب تر کتلو وروسته به معامله کوم ځای ته ورسیږي.

تر کومه ځایه پورې چه د شورش صاحب تعلق دی له هغه څخه د بې شمیره اختلافاتو او هر ورځ د هغه په سیاسي او غیر سیاسي موقف کښې د تبدیلیو تر څنګ مونږ هم د هغو خلکو په

جملې کښې یو کوم چه د شورش جرأت او همت او په ځانګړې توګه د قادیانیانو په باره کښې د هغه مؤمنانه جرأت او جرأت مندانه کردار له وجهې پخپلو زړونو کښې د هغه لپاره د محبت او والې جذبات پیدا کوي او د ملك په لکونو اهل علم او دیني حلقې د حمیت د دې جذبې له وجهې له هغو "سینانو" څخه سترګې پټوي او حسنات ئې د قدر وړ ګڼي.

د حیرانتیا خبره خو دا ده چه د ارأیه شورش صاحب د یوه د اسې سړي د یوه کتاب د څه برخې په کښې سره ودروله کوم چه یواځې مشتبه او مشکوك نه دی بلکه د اُمت د اساطینو او تولو اجله علماوو په نزد کافر او مرتد دی او د د اسې خلکو تول نظریات او مخصوصو رایو څخه د سترګو په پټولو سره د یوه کتاب په بنه توب سره رأیه خپله رأیه نه تبدیلوي. مرزا غلام احمد قادیاني سره له دومره دجل او تلبیس په قرآن او سنتو کښې د نبوت د تحریفاتو د بغاوت تر څنګ د هغه د یو دوه د اسې کتابونو په مطالعې سره صبا تول اُمت ته د هغه په باره کښې د خپل موقف د بدلولو مشوره ورکوي او د هغه یو څو د اسې قصیدې، اشعار یا مضامین او کتابونو په ویلو سره هغه د اسلام او خاتم النبیین ﷺ رښتونې وفادار ګڼي په کومو کښې چه د رسول ﷺ عشق او له اسلام سره د محبت اظهار شوی وي. نو آیا شورش صاحب چا ته د د اسې کولو حق ورکولی شي؟

الغرض د شورش صاحب خدمتونه او جذبات چه څومره د قدر وړ وي د حدیثو د منکرینو په دومره زور او شور سره د ا ترجماني د اسې یوه خبره نه ده چه اهل علم خو پریږده کوم مسلمان هم له هغې څخه سترګې پټې کړي د دې لپاره چه د ا با لواسطه د دین د قطعي او فیصله شویو مسلماتو باندې د لاس اچونې او پخپله پخپل لاس باندې د نبوت د دې ناموس د تار په تار کولو ظالمانه جسارت دی چه حفاظت ئې او د هغه په خاطر شورش صاحب د سر د قربانولو اعلان کوي. په دې تبدیلي او "خوشګوار انقلاب" کښې د مسلمانانو نه بلکه پخپله د آغا صاحب د دین او ایمان ضیاع او نقصان دی. د دې لپاره مونږ له هغه سره د خیر خواهي د جذبې، نصیحت او دیني مسئولیت پر بنا له دې التجاء او هیلې څخه پرته نه شو پاتې کیدلی چه هغه د دین ـــــ او عقیدې په دنیا کښې د خدای په ژبه کښې د هغې بوډې بنځې په شان نه شي کوم چه پخپل لاس باندې پخپلو تولو کړنو باندې ټ ا بو تویوي. کما لقی نقضت غزلها من بعد قوة انکاثاً.

د دین او عقیدې په لاره کښې په ۰۰۰ شې او بدې کندې کښې لویدل د هغو شاعرانو فطرت دی کوم چه الله تعالی له ایمان او عشق رسول ﷺ له دولت څخه محروم او بې برخې کړي دي لیکن شورش صاحب خو د ختم نبوت په دفاع کښې حساني (حضرت حسانؓ صحابي ته منسوب) رنګ اخیستی دی نو دا به څومره بدبختي او د حسرت او افسوس خبره وي چه یو په یو د وَالشُّعَرَآءُ يَتَّبِعُهُمُ الْغَاوُۥنَ ☆ اَلَمْ تَرَ اَنَّهُمْ فِیْ كُلِّ وَادٍ يَّهِيْمُوْنَ ☆ وَيَقُوْلُوْنَ مَا لَا يَفْعَلُوْنَ ☆ مصداق جوړ شي.

که چېرته دیني مسئولیت نه او د معاملې د سنګینې احساس نه وی نو مونږ په دې معاملې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

کښې سکوت (چوپتیا) غوره کړې وای د دې لپاره چه د شورش صاحب له قادیانیانو سره عین په حالت د جنګ کښې له خپل ځان څخه د ملک تولې دیني او علمي طبقې او د رسالت له ناموس څخه سرشاره مسلمانان نار اضه کول د هغه په حق کښې هم ګټور نه وو او د دښمنانو د شومتیا ذریعه هم وه۔ لیکن افسوس چه د اسامان هغه پخپله تیار کړ او له قادیانیت سره جنګیدونکې توره د ډیرو خلکو په نظر کښې پخه او غیر مؤثره وګرځیده او نن هغه "الحق" هم له بده مرغه د شورش په دې نوي موقف باندې له ملامتو الې پرته نه شي پاتې کیدلی چه د مرزایي ځارنې او استیصال له وجې قادیاني پریس د چتان (غوندې چه د شورش کاشمیري له خوا یو جوړ شوی کتاب دی) هم سفر ګرځوي او "الحق" د قادیاني رسائلو د بد اورد ویلو په زغملو کښې د چتان (غوندې) غوندې یو شان شریک دی۔

د حدیثو د انکـــــــار فتنه

لیکن د دې ترخې فریضې ادا کول په هر حال کښې د هغو دیني او علمي تقاضا او هیله ده چه د حدیثو د انکار او د دې فتنې لارښود غلام احمد پرویز د حقیقت په پوهیدو سره د ناموس رسالت او اسلام لپاره دومره خطرناکه ګڼي لکه څومره چه دا خلک پخپله د شورش صاحب یو بل غلام احمد قادیاني فتنه د اسلام لپاره زهرجن ګڼي۔ د دې لپاره چه د نبوت له مقام او منصب څخه د بغاوت په لحاظ سره د حدیثو د انکار په تاریخ، محرکات، دواعي او عواملو باندې د نظر په اچولو سره او په پاکستان کښې د دې فتنې د لارښود پرویز تولې لیکنې او خیالات په نظر کښې ونیول شي او د اسلام او نبوت د منصب په غوښتنو او حقیقت باندې پرویزي فلسفۀ فکر وازمویل شي نو دا حقیقت به په هغه باندې هم ښکاره شوی وای چه دا فتنه د خپلو فتنه سامانیو په لحاظ سره د اسلام لپاره له هغو فتنو څخه هیڅ کمه نه ده چه د تاریخ په هر دور کښې الحاد او زنادقه او بیا د نبوت دروغجن مدعیانو د نبوت په منصب کښې د دجل او تلبیس په کولو سره د اسلام په خلاف را پاروي دي۔

او دا د هغو تولو عجمي سازشونو څخه پورته عجمي بلکه یهودي سازش دی چه د اسلام له بنسټه مخ څخه د پاکولو نیکنامي نن شورش صاحب پرویز ته ورکوي۔ د دې برعکس که چېرته نهنډ نومی زنګي کافور عجمي سازشونو تاریخ که چېرته د شورش په سترګو کښې وی نو هغه به د دې تاریخ د هرې پانې په هرې لیکې کښې د پردې لاندې د حدیثو د انکار کافرانه چلونه په نظر راتلی۔ قرامطه، باطنیه، خوارج، معتزله، مجسمه، معطله، د قرآن محرفین، د صحابهؤ منکرین او داسې نور خلک وو کومو چه په هر دور کښې د سُنتو په خلاف شکوک او شبهات په را پورته کولو سره د اسلام دښمنه سازشونو لپاره لاره هواره کړې وه۔ بیا په دې لاړې باندې د عقلیت، عجمیت، کفر، الحاد، تشکیک او زندیقي تخم کرلی دی۔ دا خو د اسلامي لباس په اغوستلو سره سُنت او حدیث د خپل تلبیس د هدف ګرځوونکو حال وو۔

د استشراق فتنـــــــه

د اسلام بد ترین دښمنان چه په صلیبي جنګونو کښې د ماتې تر خوړلو وروسته خپل دیني عصبیت او ملّي حمیت او له دې څخه پورته سیاسي اوستعماري او سامراجي عزائم دې ته مجبور کړل چه د اسلام په خلاف د آخري جنګ لپاره خپل تدبیرونه او منصوبې منظمې کړي۔ نو هغو د مسلمانانو په علمي او فکري محاذ کښې تر تولو اهم ګذار د مستشرقینو او استشراق په نامه سره استعمال کړ چه اولین مقصد ئې دا دی چه د اسلام او د اسلام د رسول ﷺ په باره کښې په هر هغه شي کښې شک، بد ګماني او ریب او تذبذب پیدا شي چه نسبت ئې په یو نه یوه ډول د اسلام خواته کیږي یا په کومې درجې کښې هم د اسلام په عزت او افتخار کښې د زیاتوالي ذریعه وي۔ اګر که دا شی پخپله د حضور ﷺ ذات او د هغه سیرت وي یا د هغه لارښوونې، احادیث، آثار، اخبار او د مسلمانانو د عملي او اعتقادي نظام لپاره د قانون او آئین سرچینه وه۔ اګر که هغه قرآن وي یا د رسول حدیث، د دې مقصد لپاره د حضور ﷺ آئیني او تشریعي حیثیت ئې زخمي کول وغوښتل۔ د سنت د راویانو هغه پاکه ډله اګر که د صحابه وؤ په طبقه کښې هم شامله وه د طعن او تشنیع (بد رد ویلو) هدف وګرځول شول، په راوي باندې نکته چینې وشوه، د حدیثو د لومړني مدوّنینو کردار په شک کښې واچول شول، لکه څرنګه چه د مستشرقینو تر تولو لوی مشر ګروګولډ زیهر په مستقله توګه د ابو هریرهؓ په ذات او د حدیثو لومړنی مدوّن امام زهري شخصیت د بدنامولو نامشکوره سعی وکړه، د اسلام د ویاړ وړ مشاهیرو په خلاف د تبلیغاتو طوفان همدغو مستشرقینو پورته کړ او د یوې پاکې مثالي معاشري یو وحشي تصویر ئې جوړ کړ۔

الغرض اسلام، د اسلام د اعي ﷺ او مسلمانانو سره چه د کوم شي څه نا څه نسبت وو هغه ئې د تحقیق مشق جوړ او بیا ئې عیب جن او داغ لرونکی کړ او تر تولو برسیره دا چه د اسلام بنیادي مصدر او مأخذ قانو او شریعت، سنت او حدیثو تشریعي او آئیني حیثیت ئې په ځانګړې توګه خپل هدف وتاکه۔ د اسلام په خلاف دسیسې او د اسلامي تحقیق په پردې کښې د دجل او تلبیس په دې میدان کښې د اسلام د دښمنانو په نزد ګولډزیهر، مارګولتهـ، شناخت او داسې نور د ضلال او الحاد امامانو نومونه د سروزرو په اوبو لیکل شوي دي۔

د حدیثو د منکرینو ترجماني کوونکي مستشرقین او د اسلام د دښمنانو له ډیرې مودې راهیسې منظم علمي منصوبې او د هغوی محرکات، رأیې او افکارو ژوره مطالعه وشي نو دا حقیقت د رنا ورځې غوندې هغو ته ښکاریږي چه د مرزائیت غوندې د د حدیثو د انکار فتنه هم د سامراجي منصوبو او صیهوني سازشونو یوه برخه ده۔ که چېرته هغوی پخپل ملک د متجددینو، روشن خیالانو، تش په نامه ترقي خوښوونکو او د حدیثو د منکرینو د افکارو او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

نظریاتو د سرچینو صحیح معلومات کړی وای نو هغو ته به څرګند شوي وای چه دا خلك د اسلام په خلاف هغې قې شوي را تولوي او خوري ئې کوم چه سامراجي او اشتراکي سپیو د علمي تحقیق او مشرق دوستي په جامه کښې له مخکښینیو یو نیم پیړیو څخه قې کوي. دوی له ځانه هیڅ نوې خبره نه کوي. دا هغه طنبوري دي چه هر ساز او سُرنا ئې د کوم بل چا په لاس کښې دی.

په انکارِ حدیث او انکارِ ختم نبوت کښې یو له بلـــــــه مماثلت

حقیقت دا دی چه که د ختم نبوت انکار دی او که د حدیثو انکار دواړه په یو شان د نبي کریم ﷺ د منصب، د نبوت د مقام او د هغه له خوا د راوړل شوي دین او شریعت په خلاف د اسې بغاوت او سرکشي ده چه په دواړو کښې امتیاز او فرق کول هم ډیر مشکل کار دی. د دواړو تر منځه د مماثلي (یو شان والي) باندې هم لږ غور وکړی نو دواړه غلام احمد ان (پرویز او د قادیان مرزا) د یوه او بل سیوري او ملګري معلومیږي.

وعدۂ وصل بحدیست میان من و تو — که رقیب آمد و پرسید نشان من و تو

او د تناسخ د خاوند انو په ژبه کښې د اسې معلومیږي چه د قادیاني د جال بد بویي لرونکی روح د پنجاب په کندو الو کښې خپل یو همنام او هموطن غلام احمد پرویز په غلیظ قالب کښې د دوهم ځل لپاره بښکاره شو.

ـــــ راشی لږ غوندې د دواړو تر منځ د دغو وجوهاتو د مشابهت څه نا څه کتنه وکړی.

(۱) مرزا غلام احمد د حضور اکرم ﷺ نبوت او د هغه په تشریعي حیثیت باندې د اعتراف په کولو سره د ځان لپاره هم د تشریعي حیثیت دروازه خلاصه کړه نو:

غـــــلام احمد پرویز د حضور ﷺ په تشریعي او آئیني منصب بـــــاندې خو لاسونه پاك کړه لیکن د "مرکزِ ملت" او مرکزي حکومت د اطاعت او پیروي په نامه سره ئې هر ښه او بد حکومت ته د تشریع حق ورکړ او دا چه د الله تعالی او رسول الله اطاعت، تـــــابعداري، اقتداء او پیروي دا ټول شیان د رسول نه د مرکز ملّت د پیروي مطالبه کوي او دا چه له اولوا الامر څخه پورتنۍ افسران مـــــراد دي.

(۲) غلام احمد قادیاني ختم نبوت ته ځان ځاني عجیبه او غریبه معنی ور واغوستله او په ظلي او بروزي مسئلو معاملاتو کښې ئې یو قطعي، واضح او بدیهي حقیقت د عیسایانو د تثلیث د عقیدې غوندې معنی جوړه کړه نو:

غلام احمد پرویز د محمدیّ رسالت د منلو دعوه خو وکړه لیکن د هغه حیثیت ئې (خاوري دې په خوله وي) یواځې د ډاکیه (لیکن رسوونکی) ورکړ او له ختم نبوت څخه په واضحو الفاظو سره دا مطلب واخیست چه اوس به انسانان خپلې فیصلې به خپله کوي او دا چه له ختم نبوت څخه مراد دا دی چه اوس په دُنیا کښې انقلاب د شخصیتونو په لاس کښې نه دی، د تصوراتو

او اشخاصو په ځای به د نظام په لاسو کښې وي ـــــ وګوری د سلیم په نامه د پرویز خط نمبر ۱۵، ص ۲۵۰۔ ګوا که دا تصورات دې اشتراکي او لادیني ولې نه وي او نظام دې د کارل مارکس او لینن ولې نه وي هر څه د ختم نبوت خاتې ته ځي.

(۳) غلام احمد مرزا او د هغه ملګرو د خپل دروغجن نبوت د اثبات لپاره پخپله قرآن او د حضور ﷺ ذات اسره ونیوله نو:

غلام احمد پرویز او د حدیثو نور منکرین د کتاب الله او قرآنکریم د اسرې په نیولو سره د قرآنکریم او سنتو او د خدای او رسول ﷺ د یو له بله د تعلق د پرې کولو کوشش وکړ او قرآنکریم څخه ئې په دې سلسله کښې د حربې په توګه کار واخیست.

(٤) غلام احمد متنبي د نوي نبوت په پورته کولو سره د مسلمانانو یوه قطعي اجماعي عقیدي کښې درز واچاوه او همدا ئې د ملت د یووالي د دیوال رنګولو ذریعه جوړه کړه نو:

غلام احمد پرویز د سُنت له آئیني حیثیت څخه د انکار په کولو سره په یوې د اسې متفقه صریح اجماعي مسئلې کښې مداخله وکړه چه د ختم نبوت غوندې د صحابه وؓو له زمانې څخه را واخله تر ننه پورې د اُمت په نزد له فیصله شوي مسلّماتو څخه وه.

(٥) د غلام احمد قادیاني او ډله ئې د خپل نبي لپاره د لارې د پاکولو په خاطر د انبیاووؑ له عیب جویي، بد رد ویلو څخه صرفه و نه کړه تر دې پورې چه د رسول عربي ﷺ په ذات کښې له نقص ایستلو څخه هم تیښته و نه کړه نو:

غلام احمد پرویز او د هغه ملګري هم خپل نظام اجتماعي او مرکز ملت د لارې پیدا کولو په خاطر په سُنت رسول ﷺ کښې د عیب پلټنه وکړه.

(٦) غلام احمد قادیاني په نوي امر او نهی باندې د مبني شریعت بیرغ پورته کړ او په مخکښیني ټول دین باندې ئې د نسخ خط کش کړ یا ئې خپل ځان ته په هغه کښې د هر ډول تبدیلی حق او اجازه ورکړه نو:

غلام احمد پرویز وویل چه د قرآنکریم ټول احکامات وراثت، قرضه، راکړه ورکړه، صدقات، زکات او د اسې ټول له عبوري دور سره تعلق لري. (نظام ربوبیّت از پرویز ص۲۵، ص۱٦۷ او د اسې نور) او دا چه مرکز ملّت اختیار لري چه په عباداتو، لمونځ، روژه، معاملاتو او اخلاق غرض چه په کوم شي کښې وغواړي رد او بدل کولی شي. (مقام حدیث ج۱، ص۳۹۱، ص۳۹۲، ص۳۹۳) په د اسې حال کښې چه په عباداتو باندې دومره په زړورتیا سره د هغه لاربنود مرزا هم چاره نه وه چلولې.

(۷) متبنّی کذاب مرزا قادیاني د شریعت ټول اصطلاحات د تحریف هدف وګرځول نو:

غلام احمد پرویز د امت له متفقه او مسلّمه شرعي اصطلاحاتو باندې د توقي په کولو سره یو بې ځایه مفهوم او مطالب وبلل او د هغه په نزد له آخرت څخه مراد راتلونکي زمانه ده. (د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

سلیم په نامه خط ج۲، ص۱۲٤) جنت او دوزخ مقامات نه دي بلکه انساني کیفیتونه دي. (لغات القرآن از پرویز ج۱، ص٤٤۹) ملائکي نفساني محرکات دي او ایمان په ملائکه وو دا مطلب دی چه دا قوتونه د انسان په مخکښې تیتیدل غواړي. (ابلیس او آدم از پرویز ص۱۹۵، لغات القرآن ج۱، ص۲٤٤)

جبرئیل د حقیقت د انکشاف رنایي ته وایي. (ابلیس او آدم ص۳۸۳) آدم کوم شخصي وجود نه دی د بني نوع انسان نوم دی او دا چه د انسان پیدائش د ډارون د ارتقاء د نظریې مطابق شوی دی. (لغات ج۱، ص۲۱٤) له لمانځه څخه مراد د ربوبیت نظام دی. (نظام ربوبیت ص۸۷) د زکات او واجبو صدقاتو مطلب تیکس دی. (قرآني فیصلي ص۳۷، ص۱۲) د ثواب او اعمالو د وزن عقیده یو افیون دی. (قرآني فیصلي ص٦۷)

د تقدیر عقیده د مجوسیانو داخل شوی شی دی. (۱۹۰) صدقهٔ فطر د ډاك خاني تکټ دی. حج یو بین المللي کانفرانس او قرباني د دې کانفرانس لپاره د خوراك د تیارولو انتظام دی. د قرآن تلاوت د جادو او منتر د دور نښه ده. (وګورئ لغات القرآن، رسالهٔ قرباني، قرآني فیصلي او د اسې نور)

(۸) غلام احمد قادیاني له خپلو پیروانو پرته ټول مسلمانان کافران وبلل نو:

غلام احمد پرویز وویل چه په دي وخت کښې د دین په هر کونج کښې تحریف شوی دی. (قرآني فیصلي ص٦٦) او اوس د قرآن له مخې ټول مسلمانان کافران شوي دي. (د سلیم په نامه خط ۳۷ ج۳، ص۱۹۸ تر ص۱۹۹) موجوده مسلمانان خو بر همو سماجي مسلمانان دي. (د سلیم په نامه خط ج۲، ص۱۸/۱۵)

(۹) د غلام احمد قادیاني په نوي شریعت کښې حلال هم شته او حرام هم. یعني هغه دا حق لري چه کوم شی وغواړي حلال ورته ووایي او چه کوم شی وغواړي حرام ورته ووایي نو:

د غلام احمد پرویز په نظر کښې د حلال او حرام هم چه کوم اورده فهرستونه دي هغه ټول د انسانانو خپل جوړ شوي شیان دي او په پرویزي شریعت کښې یواځي څلور شیان حرام دي. (د اسلام طلوع منی ص۵۲، ص٦۹)

(۱۰) د غلام محمد وحی او الهام ـــــ د "من ولد من" د قسم هذیانات (بې فائدې تکې) څخه ډك دی نو د غلام احمد پرویز په تفسیري تکو کښې تلسو ته د وَيَسْئَلُوْنَكَ عَنِ الْمَحِيْضِ مطلب د سرمایه دارانه معاشي نظام د اسې قرآن دانې او د اسې میرنې په لاس درځي. تلك عشرة كاملة.

په دې وخت کښې د صفحاتو د کم والي له وجهې له دغو څو مثالونو څخه د دواړو له یوه او بل سره مشابهت خواته د اشاري په کولو سره د حدیثو د منکرین د وکالت کوونکو په څانګړې توګه له شورش صاحب څخه دا پوښتنه کوو چه دا څنګه د ناموس رسالت جذبه او دیني حمیت دی او د اسې ولې دی چه د یوه غلام احمد په باره کښې خو ستاسو رأیه یا لکل صحیح او اخیاروي لیکن په بل غلام احمد کښې د حسینؓ مظلومیت او د اُمت د فضلاوو عبقریت په نظر درځي.

ترکومه ځایه پورې چه د کوم حدیث په ظاهره له قرآ ... مخالفت یا د حدیثو امامانو امام بخاري، مسلم او داسې نورو د لکونو حدیثونو څخه د څو زرو حدیثونو غوره کول او داسې نورې خبرې تعلق لري نو نه یواځې دا بلکه د حدیث جمع، تدوین، کتابت او داسې نور او له دې سره اړوند ټول بحثونه تر دې حده پورې د علماء اُمت په ذریعې سره له دروغو څخه پاك شوي دي چه په هغو باندې نور زیاتوالی ممکن نه دی. د علم او تحقیق دا خبرې چه شورش صاحب و نه پلټي نو ښه به وي او که چېرته خامخا د خبرو شوق لري نو علماوو د دغو ټولو تفصیل په ډیر بسط او تفصیل سره له پیړیو مخکښې فیصله کړې ده. د یوه نظر په اچولو سره دې پرې تیر شي. په اسلامي لیکنو کښې اوس د حدیثو حجیت یو مستقل علم ګرځیدلی دی او هندي نژاده پرویز خو پریږده چه د اروپا تر مستشرقینو پورې د خلکو عقلونه پکښې پاتې راغلي دي. په اصولي توګه د شورش صاحب د پرویز د نبي کریم ﷺ د مقام، منصب او تشریعي حیثیت په باره کښې د اوتو بوتو پرته د هغه خیالات معلوم کړي له هغه وروسته بیا معامله صفا کیږي.

د رسول تشـــــــریعي منصب

قرآنکریم خو په واضحو او غیر مبهم الفاظو سره په بیا بیا توګه د رسولؐ هغه ټول حیثیتونه متعین کړي دي. دلته مونږ په اشاراتو باندې اکتفاء کوو.

☆ رسول د معلّم او مربي په حیثیت سره. (بقره آیت ۱۲۹/۱۵۱، آل عمران ۱٦٤ او داسې نور)

☆ رسول د کتاب الله شارح دی. هغه د قرآن په بیانولو باندې مامور دی. (نحل آیت ٤٤)

☆ رسول د الله تعالی غوندې شارع (LEGISLATOR) دی. (اعراف آیت ۱۵۷، حشر آیت ۷)

☆ رسول قاضي او فیصله کوونکی قوت دی. (النساء ۱۰۵، الشوریٰ ۱۵، النور ۵۱، النساء ٦۵)

☆ رسول اکرم ﷺ د نبي په حیثیت سره د الله تعالی تاکل شوی حاکم او فرمانروا دی. (النساء ٦٤، ۵۹، ۸۰، الفتح ۱۰، محمد ۳۰)

الغرض د سنتو او اهل سنتو په باره کښې د پرویز اصولي موقف څه دی چه د مأخذ او مصدر والي باندې نې د اُمت اجماع قائمه شوې ده او د کوم چه اتباع او اطاعت د ایمان لومړنی شرط دی. په دې باره کښې د امت څرګند او اجماعي طرزِ عمل، د قرآن کریم څرګند هدایات او د نبي کریم ﷺ د بنکاره ارشاد اتو په موجودوالي کښې د کوم منکر حدیث په باره کښې شورش صاحب د کوم منصب په ګومان کښې دا حق لري چه د هر مکتبِ فکر د اجماعي فتوىٰ بیرته اخیستني مشوره ورکړی شي په داسې حال کښې چه دا حق د اُمت کوم لوی عالم او لارښود ته هم حاصل نه دی نو بیا آیا شورش صاحب په اخلاص او خیر خواهي باندې مبني په دغو معروضاتو باندې د غور په کولو سره له خپل نوي خوشګوار موقف باندې به نظر ثاني وکړي. خدای دې وکړي چه پخپل جذباتي طبعیت باندې مبني له داسې موقف څخه زر تر زره رجوع وکړي. (جمادی الاول ۱۳۹٤ هجري)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

د تجدد او الحاد فتنه

د تجدد او اصلاح د چیغو او نارو اصل حقیقت

د حکومت په سرپرستي کښې چه کله هم په اسلامي لاربښوونو کښې د دین تر عنوان لاندې د تغیر او تبدیل کوششونه شوي دي نو له دین سره درد لرونکي اهل علم حضراتو د هغې فتنې مکمله څارنه کړې ده او د هغې اصلیت ني خلکو ته څرګند کړی دی۔ د عزیز ملک پاکستان سابق صدر جنرل محمد ایوب خان په سرپرستي کښې د تجدّد او الحاد فتنه د تحقیق او ریسرچ تر نامه لاندې په ډیر زور او شور سره شروع شوه او په اسلام کښې د تحریف په کولو سره ني "جدید اسلام" خلکو ته۴ وړاندې کولو کوشش وکړ۔ په دې موقعې باندې د نورو علماء حق غوندې حضرت مولانا سمیع الحق صاحب هم د دې فتنې په خلاف قلم پورته کړا و د هغې حقیقت ني څرګند کړ۔ د هند د تاریخ له کتنې څخه څرګندیږي چه د مغلو په بادشاهانو کښې اکبر بادشاه هم همدا طریقه غوره کړې وه۔ ـــــ حضرت مولانا سمیع الحق صاحب د صدر ایوب خان له خیټې څخه د زیږیدل شوي دي فتنې د څارنې ترڅنګ د اکبر الٰهي دین ني هم پخپل یوه مضمون کښې په وضاحت سره خلکو ته وړاندې کړی دی چه د "الحق" په میاشتنی کښې د "اکبر دي ګریټ" تر عنوان لاندې خپور شوی هم دی۔ اوس دا مضمون د عامې ګټې اخیستنې لپاره په "فتاوی حقانیه" کښې هم شاملیږي۔

(مرتب)

د اکبر دي ګریټ ماډرن (نوی) اسلام، د اکبریت نوی شکل

حضرت مولانا سمیع الحق صاحب

الحمد لله چه د اسلام قافله منزل په منزل غر په غر د نبوت د سعادت له زمانې څخه واخله تر اوسه پورې را روان دی۔ د اسلام هغه نعمت چه حضور سرور کائناتﷺ خپل امت ور وسپارلو دا امانت له ځان څخه هم عزتمند وګانه او له سینې سره ولګاوه او تر مونږ پورې ني ورساوه۔ د هدایت او فلاح دا اکبریت احمر تن هم پخپل اصلي خدو خال کښې موجود دی۔ اسلافو د دې امانت د ساتنې لپاره څه وکړل؟ دا داستان څه عجیب او غریب داستان دی۔ زمونږ تاریخ کوم چه دعوت او عزیمت، جهاد او قربانی یو مسلسل داستان دی، له دې څخه پاک پروت دی۔ د اخلاص او وفا خاوند ان کله کله په دې لاري کښې له اورونو او وینو څخه تیر شوي دي او کله کله د صرصر او سموم له تُندو او تیزو موجونو سره مخامخ شوي دي کوم چه د الله تعالی د دې رنایي د له منځه وړلو لپاره را پورته کیدل۔ ډیر ځله د الحاد او زندقه وو تیاري د متین دین د ښائسته مخ د پټولو کوششونه کړي دي، د کفر او ګمراهي ظالمو لاسونو د الله تعالی د دې رسی پرې کول غوښتي دي لیکن دا د اسلام کلکوالی او د خداوند متعال د دین د حفاظت د وعدې ظهور وو په دغو تاریکیو کښې هم د رنا وړانګه بلکاریدله، تیاري او تورتمونه له منځه تلل، د اسلام روښانه لمر اوس هم چنکیږي، د نجات لاره اوس هم د اسې پاکه او خلاصه ده لکه څرنګه چه د سعادت په لومړنی زمانې کښې وه۔ المسحة البیضاء لیلها کنهار.

د دین د غربت عبرتناکه زمـــــانه

په دې سرزمین (بر صغیر پاک او هند) کښې په اسلام او مسلمانانو باندې له نازک څخه نازک حالت د لسمې پیړۍ هجري د تاجدار مغل سلطان جلال الدین اکبر (۹۶۳ هجري څخه تر ۱۰۱۴ هجري پورې) په زمانې کښې راغلی وو۔ دا پنځوس کلنه د "عهدِ اکبر" زمانه د دین د غربت، د اهل دین د بې کسۍ او د اسلام د شعائرو د تباهي او بربادي عبرتناکه زمانه وه۔ تاریخ خپل ځان اړوي۔ که چېرته د اکبري عهد د دې داستان په تیرولو کښې د دین او د دین د ویاړونو د له منځه وړونکو لپاره څه سبق شته نو د دین د خلکو لپاره د نصیحت او تسلي سامان هم د خداوندي رحمت ظهور د مایوسیو تر حد کماله پورې په رسیدو کښې دی او دا چه دینِ متین تر دباو لاندې نه شي راتللی۔ نه د اسلام حفاظت د توپ، توپک، تول نیوونکي تحریکات، منظمو پروګرامونو او ډلو احسان منونکی دی ـــــ د نن په فرصت کښې مونږ د اکبر "الٰهي دین" یو اجمالي تصویر وړاندې کوو چه له مخې ني د اکبر په خدو خال باندې څه رنا ولویږي۔

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

د بې دینانو بې دینه ترجمـــــــانې

او د اسلام په باره کښې د دغو خلکو باطني عزائمو هم اندازه ولګول شي چه د هغه وخت د مغل بادشاهي د دې "لوی طاغوت" نوم د نمونې په توګه وړاندې کوو او ویل کیږي چه:

"د اکبر بادشاه او د هغه د زمانې د علماوو تر منځ د مناقشاتو (اختلافاتو) د پیدا کیدو بنیادي وجه د مذهبي جذباتو پر بناء باندې د علماوو خپل ځان طاقتور جوړول وو کوم چه د مذهب تر سیوري لاندې په هري معاملې کښې هغه ته دخل ورکول غوښتل چه د هغو رسوخ لوړ شي، حکومت تري مرعوبه شي او هغوی په حقیقي معناوو کښې د تخت پشت پناه جوړ شي. د علماوو د اقتدار د دې هوس په تائید کښې پخپله د اکبر دا قول وړاندې کیږي چه "علماء می خواهند که در فرمانروایی و کارگذاری شریك بادشاهی باشند. (علماء غواړي چه په فرمانروایي او حکومت کښې له مونږ سره شریك شي ـــــــ" (فکر او نظر ص۴۶۳ ج۴، اسلام آباد)

ګوا که په خلاص لاس سره اکبر حق په جانبه وګڼي او د اهل حق د سر بایلونکو او قربانیو باندې توکي وکړي چه مظاهره ئې حضرت مجدد الف ثاني شیخ احمد سرهندي فاروقي او د هغه ملګري علماء حق د دین د ژوندانه او د اسلام د نشأة ثانیه لپاره کړې وه. د اکبري عهد دا تور تصویر څخه د هغو خلکو د نظریاتو او عزائمو راز هم څرګندیږي چه دا خلك کله دا اکبر او کله د مصطفی کمال د نامه په اخیستلو سره دلته د کوم ډول اسلام د ژوندي کولو هیله من دي. هغه کوم حالات وو چه علماء حق او اهل حق ئې د اکبر او د هغه د لادیني نظریاتو په مقابله کښې ودرول؟ آیا د دعوت او عزیمت او د دین د ژوندي کولو په میدان کښې د هغو سر بایلل او قرباني د الله تعالی د "سنت ماضیه" او "عادت جاریه" ظهور وو او که د اقتدار په هوس کښې د اکبري زماني دا تور تصویر د تاریخ په صفحاتو کښې محفوظول وو. مونږ پخپل مضمون کښې د اکبري زماني یو ډیر ثقه، دیندار عالم او مستند مؤرخ ملا عبد القادر بد ایوانی (م۱۰۱۰هجري) د سترګو لیدلي معلومات بنیاد جوړوو چه هغه د "شهادت د حلقیه" څخه وروسته خپل کتاب "منتخب التواریخ" کښې جمع کړي دي چه بیا زمونږ د زماني د فخر وړ محقق عالم مولانا مناظر احسن ګیلاني مرحوم د مذکوره کتاب له څلورو سوو مخونو څخه پلتلي پخپلې مقالې "د الف ثاني تجدیدي کارنامه" کښې ځای ورکړی دی. د منتخب التواریخ د حوالو په باره کښې زمونږ اعتماد د مولانا مرحوم په مضمون باندې دی. له منتخب څخه پرته د اکبري زماني دا تور نقشونه، د مذاهبو باغ او پخپله د اکبر زوی جهانګیر په تزك جهانګیري کښې هم میندل کیږي او حضرت مجدد الف ثاني غوندې ثقه، امین امام او جلیل له مکتوباتو څخه ئې هم تائید کیږي.

له دا ټولونکي تفصیل څخه څرګندیږي چه په یوه سنجول شوي پروګرام او تدریجي رفتار سره اکبري دین د ارتقاء تر مقامه پورې ورسول شو او د اجتهاد، امامت او تشریع او قانون جوړونې له مناصبو څخه تیریدونکی بالآخر اکبر هغه مقام ته ورسیده له کوم ځای څخه چه امامت او

نبوت خو پریږده نعوذ باالله تر الوهیت پورې رسیږي.

د اجتهـــــاد منصب

تر ټولو مخکښې اکبر ته "د اجتهاد د منصب" تاج ور په سر شو. ملا مبارك ناګوري (د ناګور غویي چه د هندوستان تر ټولو ښائسته غویي بلل کیږي) او د هغه دواړو زامنو ابو الفضل او فیضي یوه محضر نامه مرتب کړه چه په هغې کښې اکبر ته په اجتهاد او دیني مسائلو کښې د بني آدم معاشي او دنیوي سهولتونو په پام کښې نیولو سره یوه ارخ ته د ترجیح ورکولو او د بل ارخ د ساقطولو حق ورکړ شو او دا چه په عوامو باندې د هغه د فیصلو او احکامو پابندي به لازمي اوله هغه څخه مخالفت به د دیني او دنیوي بربادي موجب وي. په دې محضر نامې کښې بادشاه ته ګواکه د "مرکز ملّت" مقام په ورکولو سره ورته ویل شوي وو چه د خدای په نزد د سلطان درجه د مجتهد له درجې څخه زیاته ده. (وګوری ټوله محضرنامه. منتخب التواریخ ص۲۷۲)

د سلفوّ بې حـــــــرمتي

د اکبر منصب اجتهاد ته تر رسیدو وروسته ائمهٔ سلف او د امت د مجتهدینو په ښکاره توګه سپکاوی او تحقیر شروع شو. په هغو باندې د "راننده فقیه"، خشك ملا او د زماني له رفتار څخه د سترګو پټوونکي جامد او متعصب والي تاپې ولګیدلې. د اکبري دربار د فخر وړ محقق ابو الفضل د امت د فقهاوو او مجتهدینو فیصلې د دې خبرې په ویلو سره له پامه غورځولې چه "فلان حلوایی، فلان کفش دوز او فلان چرم فروش" خبرې زه څنګه ومنم.

د صحـــــابه ووّ بې ادبي

د سلفو بې حرمتیو او ګستاخیو دې جرأت ورو ورو تر ټولو افضل او مقدس تریني ډلې صحابهٔ کرامؓ (په کومو باندې چه د ټول دین آبادي ولاړه ده) هم پخپل ګرفت کښې را ونیول. د هغو عظمت او حرمت له زړونو څخه و ایستل شول، په ځانګړې توګه په خلفاء ثلاثه ووّ (حضرت ابو بکر، حضرت عمر، حضرت عثمان رضی الله عنهم) په شان کښې د اسې د اسې خبرې ووتلې چه په ژبې باندې نه شي را اوستل کیدلی. (منتخب)

د رسالتؐ په شـــــان کښې لاس وهنه

اوس (خاوري مې دې په خوله وي) د شان رسالت علی صاحبها الصلوٰة و التسلیمات وار وو. د نبوت په حریم قدس باندې تر لاس وهنې مخکښې دا ضروري وه چه د حضور ﷺ راوړل شوي احکام او لارښوونې او د اسلام د اساسي ارکانونو تر عباداتو پورې د زماني په اوښتو سره بې جوړې، نامناسب او بې فائدې وګڼل شول او په دې ډول سره با لواسطه له "اسلامي لارښوونو او شعائرو" څخه د لرې کیدو په نتیجه کښې د اُمت مسلمه تعلق د هغو له راوړونکي پیغمبر سره هم پرې شي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

چنانچه صحابهٔ کرام، د دین امامان او سلف صالحینو اتباع او تقلید د روایت پرستي، شخصیت پروري او قدامت پسندي تر ګنلو څخه وروسته د اسلام د تولې سرمایې په اړه په دې ویلو سره خپل لاسونه پاک کړل چه العیاذ با لله د اسلامي ملت تولې سرمایه حادثه (له ځانه جوړه شوي) او نامعقوله ده۔ د دې سرمایې جوړوونکي یو څو بیچاره بدوګان (کوچیان) وو کوم چه معاذ الله تر تولو مفسدین، غله او چپاول ګران وو۔ د اسلام د ارکانو د ا حال چه روژه، حج او زکات په جبر سره ساقط کړی شو۔ (ص۲۵۱) د چا قدرت نه وو چه د اکبر په دربار کښې نې په بنکاره لمونځ کړی وای۔ (ص۳۱۵)

د روشن خیالي تر نامه لاندې په دین باندې توکې

په دې ډول سره دین او د دین تولو شعائرو ته "تقلید ات" وویل شول ص۲۱۶ یعنې غیر معقولې خبرې، "روایت پسندي" او "وقیانوسیت" یو شور جوړ شو د دین مدار په عقل باندې نه په نقل باندې۔ ص۲۱۱۔ که چېرته په کومې مسئلې کښې د هغې دیني او شرعي حیثیت وړاندې کړی شو نو د الف ثاني د ا "محرف اعظم" به د ا وویل او غصه به شو چه ـــــــ د ا د ملایانو خبرې دي۔ له ما څخه د هغو خبرو پوښتنه وکړی چه له حکمت او عقل سره تعلق لري (ص۳۰۸)۔

د تولې دیني او اسلامي سرمایې په باره کښې په مجموعي توګه د بد اعتمادی او بد ګومانی تر پیدا کولو وروسته نې تولې سرمایه د یو یو کولو سره په دغو تولو اصولو او فروعو باندې د "تحقیق ترخز" وچلول شو په کوم باندې چه د خدایي دین (اسلام) تولې آبادي ولاړه وه۔ د ملا عبد القادر بدایوني په قول ـــــ د دین د ارکانو هر رکن او د اسلامي عقائدو هرې عقیدې په اړه که له اصولو سره تعلق لري او که له فروعو سره مثلا نبوت، د کلام مسئله، د الله تعالی رویت، د انسان مکلف والی، د عالم تکوین، حشر او نشر او د اسې نورو پورې توکې او مسخرې وشوې (ص۳۰۷) ـــ په تول دربار کښې نې اسلامي معتقدات د خبرو د تختې په جوړولو سره د هرې مسئلې او شعار په باره کښې شکوک او شبهات پیدا کیدل۔ د نورو مذاهبو هر هغه رکن چه اسلام ته ترې نقصان رسیده هغه به نې نص قاطع، قطعي دلیل او د اسلام تولې خبرې نې بې ځایه، نامعقوله، نوې پیدا او د عربو د مفلسینو د جوړ شوي شیانو ګومان پرې کیده۔ (۲۵۹)

له نبوت او غیب له اخبارو څخه انکار

د شریعت مصدر او د اسلام سرچینه نبوت کبرٰی علی صاحبها الصلوٰة و السلام عظمت او وقار د زخمي کولو دا ناولي کوششونه ورځ په ورځ زیاتیدل او په آخر کښې د اجتهاد او امامت دا دعوه کوونکی د نبوت د خاوند له غلامي او تشریعي حیثیت له منلو څخه هم منکر شو او بادشاه د وحی په محال والي باندې هم اصرار شروع کړ۔ د غیب او عالم غیب په باره کښې د

حضور رسالتمآب ﷺ خبرې نې دروغ وبللې او له جن (پیري) ملاتکو، معجزاتو، تواتر، قرآن او د هغه د خدای د کلام والي، بعث بعد الموت، حساب او کتاب، ثواب او عذاب څخه نې په ځرګنده توګه انکار وکړ۔ (۲۷۳)

د معجـــــزاتو سپکاوی

د نبوت له معجزاتو څخه نې نه یوائې انکار وکړ بلکه د بادشاه د جهالت او کور مغزي انتها وه چه په ډک دربار کښې په یوې پښې باندې ودرید او د رسول الله ﷺ په معراج پورې نې توقې وکړې او و نې ویل چه کله زه د دوهمې پښې په پورته کولو سره نه شم دریدلی نو په شپه شپه کښې یو سړی څرنګه له آسمانونو څخه پورته ورسیده، له خدای سره نې خبرې وکړې او چه کله بېرته راغی نو بیا نې هم بستره ګرمه وه ـــــ د توقو او مسخرو همدا حال په شق القمر او د اسې نورو معجزاتو باندې هم وو۔ (۳۱۷)

د رسالتؐ په شان کښې بې حمیتي (بې غیرتي)

دې ګستاخ په دې باندې اکتفاء و نه کړه بلکه د مسلمانانو تعلق نې د هغو له مرکز حضور اقدس ﷺ سره د پرې کولو په خاطر د درباریانو هغه نومونه هم بدل کړل چه احمد او مصطفٰی به پکښې وو۔ بدایوانيؔ لیکي چه د ا نومونه په هغه باندې ګران تمامیدل۔ (ج۲، ص۲۱۵) تر دې پورې له غیرت او حمیت څخه خلاص د ا "مغل اعظم" په دربار کښې د عیسایي ماشین پادریانو په بنکاره توګه د رسالتؐ په شان کښې هغه غلط او بې ځایه کلمات استعمالول چه په اوریدو سره نې زړونه چودل۔ لیکن اکبر د هغو هر ډول حوصله افزایي وکړه، په اعزاز او اکرام سره نې و نازول او خپل یوه زوی ته نې حکم وکړ چه د تبرک له مخې له هغوی څخه څه سبق ووایه۔ (ص۲۶۹)

اکبر د رسالت په منصب باندې (معاذ الله)

په خپل باطل ګومان کښې نې د محمدي ﷺ دین تخریب، د اسلامي شعائرو ګډوډوالی او له رسالتؐ او عهد رسالت څخه د مسلمانانو د تعلق د کمزوري کولو څخه وروسته د اکبر لپاره ضروري وه چه د تشریع او قانون جوړونې منصب اوس پخپله سنبال کړي او د "زاړه دین په دې پاتې شونو" باندې کوم چه د هغه په خیال سره د خپل عمر زر کلونه تیر کړي وو یو نوی دین، نوی ملت او پر مخ تللي نظام دیوالونه پورته کړي ځکه چه له تخریب څخه وروسته د بېرته آبادولو لاري ورته خلاصې وې۔ امامت خو پریږده تر نبوت او الوهیت پورې (معاذ الله) ورسیده او هغه به ځوک وو چه منع کړی نې وی۔ د مؤرخینو په قول په دې ګومان سره هغه د خپل دین نوم "الٰهي مذهب" په نامه سره ونوماوه او د نبوت د دعوې په نه کولو سره نې هم د رسالت منصب، تشریع، تبدیل، نسخ احکام او د اسې نور کارونه پخپل لاس کښې واخیستل۔

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

اوس په پوره توګه هغه د "الهي دين" په تدوين، د خپلو خود ساخته قوانينو ترويج او د اسلامي احکامو او شرائعو بربادي او له منځه وړلو پسې شو۔ اعمال او فروع خو پريږده په عقائدو او اصولو کښې ئې هم نوي شيان رائج کړل او په دې ډول سره باقاعده د يوه نوي ملّت او سائنټيفک اسلام بنياد کيښودل شو۔ ليکن د الهي دين د "تدوين او تنقيح" يواځې د اکبر په وس کښې کله وو ځکه چه هغه بيچاره وو۔ په هر حال يو ناپوه او جاهل چه د دين له مبادي ځخه هم بې خبره وي د زماني روشن خيالو "محققينو" بام ته وخيژاوه او د اقتدار او غرور په نشه کښې ئې اکبر د "انا و لاغيري" باندې کښيناوه۔

اسلامي مشاورتي کميسون او تحقيقاتي اداري

په عقائدو، احکامو، فروع، اصول او د دين په هري يوې شعبې کښې ئې د نوي نوي اجتهاد او تحقيقاتو لپاره په باقاعده توګه اداري خلاصې کړې۔ تحقيقي مجلسونه ئې جوړ کړل او د شلمې پيړۍ په اصطلاح کښې د اسلامي تحقيق، د اسلام آزاده مطالعه، سائنټيفک ريسرچ (پلټنه) لپاره ئې قانون سازي اداري جوړې کړې، د يو له بله بحث او تمحيص لپاره کميسونونه جوړ شول، د نورو مذهبونو د ثقافتي ليکنو د ترجمو لپاره دفترونه خلاص شول، ملا مبارک او د هغه مشهور زامن ابو الفضل او فيضي د دغو تحقيقاتي امورو مدير او پخپله "اکبر دي ګريټ" ذات د دې تشريع او تجديد آخري طاقت او قوت نافذه وو۔ د اکبري دربار د اثقه او په سترګو ليدونکی راوي ملا عبد القادر بدايوانيّ خو د اکبر د دې "اسلامک ايډوائزري کونسل" د ارکانو تعداد هم ليکلی دی۔

بادشاه حکم کردند که از مقربان چهل کس بعدد چهل تن بنشينند و هر کس هر چه داند بگويد او هر چه خواهد پرسد. (ص۳۰۸)

"بادشاه حکم وکړ چه له نژدې خلکو ځخه دې څلوېښت کسان په يوه ځای سره کښينې او هر سړی چه هر څه غواړي هغه دې وايي او چه هر ډول پوښتنه وغواړي و دې کړي"۔

په دې کميسون کښې د اسلامي عقائدو او مسلماتو په اړه د عقل (سائنس) په رنا کښې فيصله کيدله۔ ډول ډول شبهې د خندا او توقو په شکل کښې کيدلې او که چېرته کوم غړي اختلافي ليکنه وړاندې کړه نو هغه به منع کيده۔ (ص۳۰۷)۔ په دې تحقيقاتي تکسال (د نوي محققينو د جوړيدو کارخانه) کښې د ابو الفضل څو شاګردانو او په اصطلاح پوهانو هم د دين د تجديد په کار کښې شريک وو او د منتخب التواريخ په قول سره يواځې يوه شاګرد د اسلامي عباداتو په اړه د اعتراض او توقو په لباس کښې څو رسالې وليکلې او کوم چه په شاهي دربار کښې لوی مقبوليت پرې تر لاسه کړ۔ (ص۲۵۱)

د تـــــاريخ پاکوالی

د دغو روشن خيالانو او آزادي پلټنې شهسوارانو يوې ډلې ته حکم ورکړ شو چه د "تاريخ الفي" په نامه سره د اسلام د زرکلني دورې يو تاريخ جوړ کړي کوم چه د نورو تولو تاريخونو نلسځ وي او چه په هغه کښې د هجري کال په ځای د رحلت کال شروع بلل شوی وي۔ (ص۳۰۶)

د دې مقصد په ظاهره د نن صبا په اصطلاح (۱) کښې دا ووچه په اسلامي تاريخ باندې د "عجمي اثراتو"، ديني تعصب او تصلّب او فقهي کلکوالي کومې وريځې خپرې شوې دي له هغو ګډوډيو ځخه اسلامي تاريخ پاک شي چه يواځې په تاريخ پورې ځه تړلې دي تول اسلامي نظام او ديني سرمايه د هغو په نزد د تحريف او تلبيس ښکار شوي او د نه اعتماد وړ ګرځول شوي وو۔ د ابو الفضل او فيضي پلار ملا مبارک د ناګوري (د هندوستان د ناګور غويي کوم چه تر تولو غوايانو ئې ښائسته زيات دی) بادشاه په مخکښې هندوانو ته به ويل چه ستاسو د دين غوندې زمونږ په دين کښې هم تحريف شوی دی۔ (ص۲۱۱)۔ ګوا که عجمي سازش، قدامت او توهم پرستي دا تولې سرمايه د نه اعتماد وړ او غير معتمده ګرځولې ده۔ د اسلام په پرتله د نورو مذهبونو او بې ځايه رسمونو او رواجونو چه په کومو کومو طريقو سره حوصله افزايي کيدله له هغو ځخه دا حقيقت ځرګندېږي او مخې ته راځي چه دا تولې لورونه او پراخ خيالي يواځې له هغو نظرياتو، مذاهبو او خيالاتو سره وه چه له هغو ځخه به د اسلام کوم حکم ماتيده۔ (ص۲۵۶)۔

د اکبر د لورينې نتيجـــــــه

د اسلامي ملّت برخلاف د اکبر په خيال کښې د هغه "غريب دين" تولې خبرې بې ځايه، نامعقوله، نو پيدا او د عربو د مفلسانو له ځانه جوړې شوې وې۔ دا "رواداراکبر" به چه څوک هم پخپل اعتقاد او معيار باندې پوره پيدا نه کړ نو هغه به واجب القتل او له درګاه ځخه به رتلی وو او د فقيه (ملاّ) نوم به ئې پرې کيښود۔ (ص۳۳۹)۔ د اسلام په مقابله کښې له نورو مذهبونو سره "رواداري" (کوم چه له هميشه ځخه د الحاد او ګمراهي مبدأ او سرچينه وي) د اديانو د مساواتو او د رأيې د آزادي دا ثمره ووتله چه اکبر د فرنګيانو عيسايي ماشينونو ته حکم وکړ چه په ډک دربار کښې انجيل او د عيسايانو د تثليث عقيده او نصرانيت په دلائلو سره بيان کړي او ابو الفضل ته حکم ورکړ شو چه د دغو پادريانو په مدد سره دې انجيل ترجمه کړي۔ (۳۰۸)۔

فـــــــرنګئ ثقافت او کلچر

د فرنګيانو تګ راتګ شروع شو او بادشاه ځينې عقلي اعتقادات له هغو ځخه تر لاسه کړ۔ (ص۳۱۲)۔ او د پوهې او رواداري تر نامه لاندې له اروپا ځخه د راوړل شوي لعنت لومړی بار يا

(۱) د حديثو د منکرينو لارښود غلام احمد پرويز اوتش په نامه پوه او تجدد وهلي طبقې دا اصطلاحات استعمالوي۔

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

غوته دا وه چه په نتیجه کښې ئې ملك تر پیړیو پیړیو غلام وگرځید. دا د "افرنګه پوهه" ده چه نن مسلمانانو ته تر ټولو لویه او نازکه مسئله جوړه شوې ده ـــــ د نوروز په جشن کښې به فرنګیان هم شریکیدل کوم چه هارمونیم او باجې به ئې غږولې د خپل ثقافت او کلچر مظاهره به ئې وکړه او د اکبري ورکړې او ستاینې وړ به ګرځیدل. (وګورئ تذکرهٔ مجددؒ)

د دې رواداري مظاهري د دنیا له نورو بې کاره مذاهبو سره هم وشوه. آتش پرستان به راغلل او د زردشتي دین حقیقت به ئې بیان کړ. (۳۰۸)ـــــ بیا څه ځند پرې لګیده چه دا وسیع الظرف او روشن خیال بادشاه د هغو د زړه خوشحالولو لپاره په شاهي محلاتو کښې د شپې او ورځې د اور بلولو حکم ورکړ. (ص۳۰۸).

سیاست که الحـــــاد

له هندوانو او د هغو له مذاهبو او غیر فطري رسم او رواج سره چه اکبر د کومې لوړینې مظاهرې وکړه نو یو داسې ښکاره حقیقت دی چه د بیانولو ضرورت ئې نشته. آخر له غاړې څخه د اسلام د "ربقه" (طوق) د لرې کولو لپاره دا ټول فریبونه د هغو د زړه د حاصلولو لپاره تر سره کیږي نو ښکاره خبره ده چه له هغه هندومت سره به د اکبر د فراخ حوصلګیو څه حال وي؟ د هندوانو د جشن په ورځو کښې قشقه (یو ډول نښه چه هندوان ئې د خپلو خپلو رواجونو مطابق لګوي) لګول، د برهمنیانو په لاس د تبرك له مخې لاس ته تار اچول، بهجن (د هندوانو د خدای ستاینه) پخپله ویل او په بل باندې ویل، تر دې پورې چه د خپلې مور په وفات باندې ئې ټول غم د هندوانو د رواج "کریا" په شان و لمانځه. سر، ږیره، بریتونه کمول او ماتمي لباس اغوستل او د بادشاه په تقلید کښې په زرګونو خلك په دغو رسوماتو کښې شریك شول. (شاند ار ماضي ج۱، ص۸۹ بحواله تزك جهانګیري، از مولانا محمد میاںؒ) له نورو سره دومره لوړه حوصله د اکبر لپاره یوه عامه خبره وه. که دې ته د اکبر د الحادي ذهنیت او نتیجه وبولو او که د سیاست او مصلحت ښائسته نوم پرې کښیږدو.

ملّت جدیده یا ماډرن اسلام (نوی ملت او که نوی اسلام)

غرض دا چه د اکبر دا ټولې لوروني او د اسلام او نورو مذهبونو آزاده سائنټیفك مطالعه او د روشن خیالانو شپه ورځ بې رحمه او بې واکې پلټنې په نتیجه کښې د هند سرزمین باندې یو نوی اسلام او نوی ملّت را څرګند شو چه عقائد، اخلاق، سیاست، معاشرت، تهذیب او تمدن، احکامو او مسائلو غرض د قدیم اسلام هره شعبه او له جزئي څخه جزئي مسئلې او حکم ته ئې د نوي توب لباس ور واغوست چه خدای دې تري وساته. د هندوستان دې لویې فتنې پخپل ګومان سره د مسلمه ملت هر هر بند وخوځاوه. او د ترویج لپاره ئې د قوت، طاقت، دولت او خزانو ټولې دروازې خلاصې شوې وې.

د وفاداري حلف (قسم)

په دې دین کښې د داخلیدو په وخت کښې چه به چا د شهادت کلمه ولوستله نو هغه کلمه د مؤرخینو په قول دا وه چه "لا اله الا الله اکبر خلیفه الله". او نه یواځې مریدان بلکه عام خلك ئې هم د دې ایمان او شهادت د کلمې مکلف وګرځول. (ص۲۷۳). دې نوي مذهب به په دغو الفاظو سره د وفاداري قسم کاوه چه "زه د زړه له کومې روایتي دین او د پلار او نیکه ګانو تقلیدي مذهب پریږدم او د اکبر شاهي دین کښې داخلیږم. (ص۱۱)

تمغې (د حکومتي خلکو ډالۍ او نښې نښانې)

او په دې ډول سره د غو روشن خیالانو او ابن الوقتانو د بې ځایه روایتونو له غلاف یا پوښ څخه د را ایستل شوي آزادي فضا او رنا ته راتلل او د دین او ملّت عزتمنه سرمایه به ئې د اکبر په قدمونو باندې د قربانولو په صورت کښې د په اصطلاح له مبارك دربار څخه به ئې د "شجره" په نامه سره یوه تمغه حاصلوله.

دیني فروخت و چه ارزان فروخت

د مقبولیت دا تمغه (ډالۍ) هم د مولانا ګیلانيؒ په قول سره د تجدّد د پلویانو لپاره د رشك (رقابت) باعث دی. د بادشاه یو تصویر به هغو وفادارانو ته ورکول کیده چه له جواهرو څخه جوړ ښائسته غلاف کښې به ئې بند او پخپلو پګړیو کښې به ئې کینبود. (ص۳۴۱) (آیا د مغرب تصویر پرست تهذیب په شلمې پیړۍ کښې هم داسې جدّت لیدلی دی. اوس خبره د تصویر د پردې پورته کولو او نمانځونو پورې محدوده ده)ـــــ بادشاه به هر سهار له یوې کړکۍ څخه ننداره کوله نو له پردې څخه په وتلو سره په زرګونو خلك د دې معبود "الله اکبر" په مخکښې به سجدې لګولې (ص۳۲۶). په دې نوي تهذیب کښې به له یوه بل سره د مخامخ کیدلو په وخت کښې د "السلام علیکم" په ځای د "الله اکبر" او "جل جلاله" الفاظ یو له بله سره ویل. (ص۳۶۵)

د اکبر په لویدلي طبعیت او د اکبر په "الٰهي دین" باندې د دې طائرانه او اصولي نظر تر اچولو وروسته مونږ مناسب ګڼو چه د "اکبری دین" ځینې معتقدات په معاشرتي او اخلاقي میدان کښې د هغه د روشن خیالونو او په شرعي احکامو او فروعاتو کښې د هغه د لاس وهنو یوه نمونه هم وړاندې کړو. بنایي چه د دین د ګډوډۍ او عیش پرستۍ په دې هنداري کښې وګوري او له تاریخ څخه عبرت اخیستونکي څه ناڅه عبرت حاصل کړي. إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَذِكْرَىٰ لِمَن كَانَ لَهُ قَلْبٌ أَوْ أَلْقَى السَّمْعَ وَهُوَ شَهِيدٌ چه بیشکه په دې کښې نصیحت دی اوریدونکو او پوهیدونکو خلکو لپاره.

تو خود حدیث مفصل بخوان ازین مجمل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

اکبـــــري عقائد او عبادات

د اکبر په ذهن کښې چه د الوهیت او نبوت کوم مقام وو د هغه اندازه خو ولګیده هغه نه یواځې دا چه خپل ځان ئې په خدایي منصب او د نبوت په مقام باندې فائز وګانه بلکه په خلکو باندې د خپلو عباداتو د کولو ترځنګ د فطرت د ښکاره شیانو لکه اور، اوبه، ونه تر دې پورې چه د غوا او د غواد خوشایي عبادت هم شروع شو۔ (ص۳۶۱)۔ د لمر عبادت په لازمي توګه د ورځې ځلور واري کیده۔ (ص۱۱)۔ د لمر د زرو نومونو ذکر ئې د وظیفې په توګه کاوه (ص۱۱) د لمر د را ختو په وخت کښې ئې نغاره غږوله۔ (ص۱۱) او دا فرمان ئې جاري کړ چه د لمر په یادونې سره جلّت قدرته (د هغه قدرت ډیر لوی دی) ووایي۔ نه یواځې دا چه د لمر عبادت شروع شو بلکه د کائناتو په ربوبیت کښې هم لمر شریك وګنل شو۔ (ص۲۶۱) د ستورو عبادت هم شروع شو او تر دې پورې چه (معاذ الله) خنزیر د خدای مظهر وګنل شو چه هغه (خدای) په هغه (خنزیر) کښې حلول کړی دی۔ (ص۲۶۱) معاد، حشر نشر، له مرګه وروسته ژوندون ځکه د انکار په کولو سره د هندوانو د تناسخ په عقیدې باندې ئې ایمان راوړ۔ (ص۲۵۸) پخپله مقربینو باندې ئې لازم کړ چه د شمع او ځراغ د بلیدو په وخت کښې ودریږی او تعظیم په ځای کړی۔ (ص۳۱۲) د اور پرستي لپاره یوه ځان ته آتش کده به همیشه تازه وه۔ اور ئې د خدای نښه او د هغه نور وګانه۔ (ص۱۱)

دا د دې مذهب اعتقادات او د دې تحقیقي علم الکلام و العقائد څو "شه پاري" (نمونې) دي چه د "برعکس نهند نام زنګی کافور" "توحید الٰهي" سره نومول شوي وو۔ د اجتهاد او روشن خیالي په دې لوبې کښې د اخلاق او کردار، معاشري او تمدن په میدانونو کښې هغه فساد خپور کړ چه د عقل او پوهې او دیانت او شرافت دُنیا په غم او افسوس کښې پاتې شو۔ "مشتی نمونه از خروارے" غوندې ئې څو مثالونه وړاندې کیږي۔

د ریس (جواري د مقابلې) کورس او تقاوي سود (هغه روپۍ چه د حکومت له خوا خلکو ته په سود ورکول کیږي) حلالوالی

سود او جواري (قمار) حلال وګرځول شول۔ له شاهي خزانې څخه سودي قرضه ورکول شروع شو۔ د جواري لپاره په شاهي دربار کښې د جوارګري (قمار بازي) یو جلا ځای (ریس کورس) جوړ شو۔ (ص۲۴۷)

شـــــراب حلال دي

له اکبري دربار څخه فتوی جاري شوه چه په طبي توګه د بدن د اصلاح، صحت او قوت لپاره شراب حلال دي۔ البته د چښلو په صورت کښې ئې په سرکونو باندې غل غدوی او شر فساد ممنوع دی۔ (ص۲۴۷)

د آبکاري محکمـــــه

د یوې ښځې تر ځارنې لاندې د شراب خرڅولو یو دوکان د دربار تر څنګ جوړ شو چه نرخ او قیمت به ئې پخپله حکومت ورته ټاکه۔

جـــــام صحت

په تقریباتو او مجالسو کښې یوه بل ته جامونه نیول کیدل۔ له شرابو څخه یوه او بل ته جام صحت خوښول۔ په دربار اکبري کښې د تجدد او روشن خیالي یو ویاړلی رهبر فیضي به یو جام د "ملایانو" د جمود او تعصب په نامه سره غوره کړ۔

شیو

په دې پرمختللي مذهب کښې تر شرابو وروسته ډیر زور د پیړې په کمولو باندې اچول کیده او د شیو په باره کښې د عقلي او نقلي دلائلو قطار جوړیده۔

د جنابت غسل منسوخ

د نوي دین یوه مسئله دا وه چه جنابت واجب نه دی چه له مني څخه نیک خلك پیدا کیږي۔ بلکه بهتره دا ده چه له ښځې سره تر یو ځای کیدو مخکښې غسل وشي۔ (تذکرۂ مجدد الف ثاني ص۷۲، مرتبه مولانا منظور نعماني)

د عـــــائلي قوانینو اصلاح

د نکاح او طلاق په اړه هم د مسلمانانو په شخصي قانون کښې رد او بدل وکړی شو۔ د نوي "عائلي قوانینو" ځینې مادې دا وې۔

(۱) د تره لور او د ماما له لور سره نکاح حرامه، که میل کم شوه (دا پردی تهذیب د هندوانو اثر وو چه تر څو پردیو ته د اعتراض موقع پاتې نه شي۔

(۲) له شپاړس کلني څخه مخکښې د هلکانو او له څوارلس کلني څخه مخکښې د نجونو نکاح ممنوع وبلل شو او وجه دا وه چه فرزند ضعیف می شود. ګواکه چه کوم شی د "سارداایکټ" په نامه سره مشهور شو۔ هغه په اصل کښې د مغل اعظم ایکټ (قانون، آئین) د ویلو مستحق وو۔

(۳) دا به ئې ویل چه "خدا یکي و زن یکي" له یوه څخه په زیاتو ودونو باندې پابندي ولګول شوه۔ ګواکه په اسلامي دُنیا کښې چه د ازواجو د تعدد د مسئلې چه کومه غلغله ده د هغه امتیاز هم یواځې "اکبر اعظم" ته حاصل دی ـــــ د عائلي فیصلې ځینې مادې دا وې۔

(٤) آنسه ښځه (د کومې چه ماهواري بنده وي) نکاح نه شي کولی۔

(٥) له نارینه څخه دولس کاله مشرې ښځې سره یو ځای کیدل منع شول۔

(٦) تر واده مخکښې د هلك او نجلۍ د کلي د کوتوال (ولسوال) په مخکښې ورانديږ کیدل ضروري وو چه هغه ئې د عمر او د لسې نورو تصدیق وکړي او په باقاعده اجازه نامه ورکړي او راجستر شي۔

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

(۷) کومه هندوه که چېرته مسلمانه شي او له کوم مسلمان سره واده وکړي نو هغه به په زوره خپلې کورنۍ ته سپارل کیږي. (منتخب التواریخ)

د بنځو آزادي

د بنځو لپاره پرده ممنوع شوه. د شاهي فرمان وو چه د باندې وتلو په وخت کښې به بنځې مخ لوڅ پریږدي او که چېرته ئې برقع په سر وي نو مخ به ترې ښکاروي. (ص۲۹۱)

مخلوط (گډ) کلب او د زنا او فحاشیو تـــرویج

یوې خوا ته په دو هم نکاح باندې بندیز ولګول شو بلې خوا ته له نکاح پرته د زنا ښکاره اجازه ورکړی شوه. "متعه" رواج شوه او د منتخب التواریخ په قول له ښار څخه د باندې د "شیطان پوره" په نامه یوه مستقله آبادي جوړه شوه چه باقاعده څوکیدار، پولیس او ساتونکي ئې درلودل. د چا به چه څه زړه وغوښت نو را به غې او پخپل منځي رضا او رغبت سره به ئې چه څه غوښتل هغه به ئې کول او چه څوک به ئې غوښت هغه به ئې له ځان سره بوت. (ص۲۹۱) ګوا که د اباز اړ د بالرضا یو "مخلوط کلب" وو له کوم ځای څخه چه ناجائزې بنځې پیدا کیدلې. د ګرل فرینډ (د نجونو ملګرتیا) یوه ډنیا آباده وه ـــ د نوي تهذیب تیاري چه پخپل جدت باندې ناز کوي ـــ آیا له پیرپو څخه خپره شوې د اتیاري بیا هم د رنا ویلو مستحقې دي. تیاره په هر حال کښې تیاره ده. د شلمې پیړۍ دي او که د اکبري د زمانې. ما اشبه اللیلة بالبارحة.

نـــور اصلاحـــات

د مړي په غاړه کښې به ئې خامه غله یا پخې خښتې وترلې او اوبو ته ور اچول کیده، که به اوبه نـــه وې نو بیا سوځول کیده یا ئې له کومې وڼې سره به وتاړه او که چېرته به بنخ کړی شو نو حکم دا وو چه د مړې پښې د مغرب (قبلې) خوا ته کړی او سر ئې د مشرق (المـــرخاته) خوا ته کړی. (ص۳۷۵) دا په رنو سترګو د قبلې سپکاوی او د مسلمانانو له زړونو څخه د حجـــاز د کعبې د لوړوالي د ایستلو یو صورت وو. چنانچـــه ده پخپله هم د خپل خوب ځای همد اسې جوړ کړی وو.

په ختنې (سُنتي) باندې بندیـــز

له دولس کلنې څخه مخکښې په ختنې باندې بندیز ولګیده. (ص۳۷۲) او د عمر له پوخوالي به وروسته په مشکله سره به یو څوک په دې سُنتو باندې عمل کولو ته تیاریده.

ســـره زر او وریښم حلال

د سړو لپاره سره زر او وریښمو لستعمال نه یوازې جائز بلکه تقریباً واجب وګڼل شو.

له خنزیـــر او سپو سره زړه لګونه

د اسلام په خلاف د خنزیر او سپي نجس والی منسوخ وګڼل شو او پخپلو محلاتو کښې ئې د هغو د ساتلو انتظام وکړ. تر دې پورې چه سهار وختي هغو ته کتل عبادت ګڼل کیده. (ص۳۵۷)ـــــ بادشاه خو پریږده روشن خیال فیضي حال دا وو چه په سفر کښې به ئې هم څو سپي له ځان سره ساتل او له هم هغو سپو سره به ئې خوراک هم کاوه. ځینو شاعرانو تر دې پورې چه د سپیو ژبې به ئې په خولو کښې ونیولې. (۳۵۷)

سپی پـــرسته تهذیب

ن مغربي تهذیب له سپیو سره شوق او د زړه مینې ته فیشن وایي او د سپیو په نامه جاند ادونه وقف کیږي. ګوا که د دې "سګ پرسته" تهذیب بُنیاد هم له انګریزانو څخه مخکښې د "دین الٰهي" په لاسونو اچول شوی وو.

د غوا په ذبحه کولو باندې بندیـــز

له سپیو سره د ګډون او تعلق تر څنګ د هندوانو د خوشحاله کولو لپاره د غوا، غویې او د مینې غوښه حرامه وګرځول شوه. که چېرته به یوه چا له قصاب سره خوراک وکړ نو که ئې بنځه به هم وه نو حکم وو چه لاس ئې پرې کړی.

علماء حق او دیني مدارسو باندې تجـــاوز

دا هر څه د هغه د جګو دعوو تر څنګ چه هیڅ یو مذهب به تر بل پورته نه وي لیکن دغو واقعاتو ثابت کړ چه ټول فریبونه یوازې د غربب اسلام لپاره په لاړي اچول کیدل. او که نه نو اکبر د مسلمانانو ټول تهذیبي ویاړونه او تمدني اندامونه د یو یو کولو په صورت کښې د مسخ کولو کوششونه وکړل. د اکبر الحاد خوښوونکی طبیعت یوازې په دې باندې قناعت و نه کړ بلکه اراده ئې وکړه چه د ټل لپاره له اسلام او اسلامي ورثې څخه د مسلمانانو رابطه پرې کړي ـــ د دې مقصد لپاره اکبر دین او د دین خلك خپل هدف وګرځول. په هغو دیني مرکزونو او اسلامي مدرسو باندې ئې لاس واچاوه چه د قرآن او سنت او رباني تعلیماتو سرچینې وې. هغو خانقاوو ته ئې لاس وغزاوه له کومو سره د مسلمانانو دیني تربیت او تزکیې کـــار ترلی وو. عربي ژبـــه، اسلامي علوم کوم چه له اسلام سره د مسلمانانو د تړون یوه مضبوطه ذریعه وه، اکبر ورو په ورو په دغو ټولو شیانو خپله نیوکه (ګرفت) سخت کړ. له عربي ژبې او عربي ثقافت سره د هغه معامله بالکل د اسې وه لکه په مخکښې ورځو کښې چه د ترکیانو د مصطفی کمال وه ـــ په اکبري دور کښې د عربي ژبې ګډوډي، د اسلامي علومو او خلکو او دین غربت او بې کسي، د دیني مرکزونو بد حالي او د اسلامي شعائرو بربادي او تباهي باندې هم د حسرت او عبرت یو نظر واچوی ـــ قرآني ژبې لره له ملك څخه د ایستلو په خاطر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

عربي ویل او بل ته ور زده کول عیب وګڼل شو۔ (ص ۳۲۰)

له عـــــربي ژبې سره د بښمني

بل حکم دا وو چه د اسي حروف چه له عربي ژبې سره مخصوص وو لکه ث، ح، ع، ص، ض، ط، ظ له مقامي بول چال څخه بادشاه و ایستل۔ (ص۳۰۷) عبد الله به ني ابد الله او احدي به ني اهدي ویل۔ د عربي نومونو ترکیب ني په هندي ژبې باندې بدل کړ۔ (تذکره مجددؒ مرتبه مولانا منظور نعماني)

د اســـــلامي علومو بې قدري

له اسلامیاتو او دینیاتو څخه حکومي سرپرستي پورته شوه۔ د فقهي، تفسیر او حدیثو ویونکي مردود او مطعون وبلل شول۔ (ص۳۲۰) چه بنایي د اکبر په خیال کښې د اسي خلك بې کاره، په قوم باندې بار او د معاشي مید ان او مادي کارخاني کښې بې کاره غړي وو او د اکبر د اصلاحاتو او تجدید اتو د ستائلو په ځای ني د هغه مخالفت کاوه۔ او د نن صبا په ژبې کښې د هغو نوم مخالفت او فساد او انتشار پاتې شوی دی۔ دې خلکو د اکبر په "ترقیاتي پروګرام" کولې ـــــ د اسلامي علومو په ځای ني د اوخت پرمخ تللي علوم، سائنسي فنون، نجوم، طب، حکمت، حساب، شعر، تاریخ، کیسې رائج او معروض رائج شول۔ یو شاهي فرمان جاري شو چه هر قوم دې عربي علوم پریږدي او نادر او غریب علوم لکه نجوم، حساب او طب دې حاصلوي۔ (ص۳۹۳)، د تعلیم د نصاب د دې تطهیر او اصلاح تر څنګ یو ایجابي کار ني دا هم وکړ چه هندي تهذیب او تمدن او د هندوانو د روحاني بزرګانو د کتابونو ذخیره ني په فارسي ترجمه کړې، د دغو کتابونو د خپرولو او ترویج لپاره ني باقاعده دفتر جوړ کړ۔ (ص۳۲۰)

په دیني اداره باندې بندیزونـــــــه

د دین علم او اهل له حکومتي کارونو څخه د ایستلو څخه وروسته اوس دا ضروري وه چه د ملك د نورو شعبو غوندې د هغو هم پاکوالی وشي او له دې سره سره د هغو معاشي ذریعه هم له هرې خوا څخه بنده شي۔

د قضاء د محکمې خـــــاتمه

د حضرت مجدد الف ثاني علیه الرحمه په قول له اسلامي شعائرو څخه په اسلامي آبادیو کښې د قاضي مقرر کول هم دې کوم چه په اکبري زمانې کښې له منځه یووړل شو۔ (مکتوبات ج۱، ص۱۹۵) قضاء او حکومت خو غته خبره وه جُمعه، عیدین او اسلامي جشنونو کار هم اکبر پخپلو لاسو کښې واخیست۔

د رویت هـــــلال کمیسون

د اختر په میاشت کښې به اختلاف وو۔ له شرعي ثبوت څخه مخکښې به اکبر د اختر اعلان کاوه او د خلکو روژې به ني ماتولې۔ (تذکره حضرت مجدد ص۹۴)۔ په همد اسي یوې موقع باندې ابو الفضل د روژې د نه ماتولو له وجې پوښتنه وکړه۔ نو حضرت مجدد الف ثاني سرهندیؒ وفرمایل چه "بادشاه بی دین است اعتباری ندارد"۔

اوقـــــاف په حکومتي غیږه کښې

د علماوو، مشائخو او خطباوو په نامه چه کوم ځایونه له پیرپو راهیسې وقف شوي وو هغه ني په حکومتي سرپرستي کښې واخیستل۔ (تذکره ص۸۲) د اسلامي علومو او اهل علم د دې مقتل نتیجه د ملاّ بد ایواني په الفاظو کښې دا ښکارول وو چه "مدرسې او جوماتونه وران او اکثره علماء کرام له وطن څخه و ایستل شول۔ (منتخب التواریخ ص۲۷۴)

د حضـــــرت مجددؒ په شکل کښې د حق د رحمت ظهور

د دین او د دین د شعائرو دا غربت او بې کسي وه چه یو په یو د حق رحمت په جوش کښې راغی۔ دغو حالاتو سیدنا الامام ناصر سُنت قاطع بدعت، د دین د مجددینو آبرو، د الله تعالی د دین روښانه شمع، د الله په دښمنانو باندې پریکنده توره، امام عارف، بدر الدین ابو البرکات مجددؒ الف ثاني شیخ احمد سرهندي رحمه الله غوندې پاك او حساس شخصیت را وپښ کړ۔ د دعوت او عزیمت هغه جلیل القدره امام چه تول ژوند ني له درد او اضطراب، سوز او ساز، جهاد او جنګ، جذبه او ولوله، د دعوت او اصلاح په روښانه احوالو او ویاړونو څخه ډك دی۔ دی په ظاهره فقیر او بې نوا وو لیکن د دعوت او عزیمت په اقلیم کښې تاج لرونکی را پورته شو او په دې شان کښې را پورته شو چه:

جهانی را دگر گون کرد یك مردی خود آگاهی

اهل حق او د رباني علماوو لارښود د ابراهیمي دین او محمدؐ امت په دې بې کسي باندې ني چه څومره ژړا کولی شوی و ني ژړل تر دې پورې چه د هغه له زړه سوا ندي، فریاد او زاریو څخه زمکه په لرزان شوه، آسمان وتریده او ویده شوي ضمیرونه را وښې شول۔

د دین د بې کسي مـــــاتم

د مجددیؒ د جهاد او دعوت دا روښانه نقشونه د هغه د مکتوباتو په یوې صفحې باندې نقش دي هغه چیغې وهي ـــــ چه د رسول اللهﷺ د سُنتو نور او رنا د بدعتونو تاریکیو پته کړې ده او د مصطفویؐ ملت رونق او رنایي هغو نوي پیدا شوي خبرو برباد کړي دي۔ (مکتوب ص۲۶۱، دفتر اول ص۳۰۳) په اکبري دور کښې د دین د بې کسي څومره ویروونکي نقشه وړاندې کوي۔

غربت اسلام نزدیك به یك قرن به نهجی قرار یافته است که اهل کفر به مجرد اجراء احکام کفر بر ملا در بلاد اسلام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

راضی نمی شوند می خواهند کهی احکام اسلامیه با لکلیه زائل گردند و اثری از مسلمانان و مسلمانی پیدا نه شود، کار تا به آن سرحد رسانیده اند که اگر مسلمانی از شعائر اسلام اظهار نماید به قتل می رسد.

"په یوې پیړۍ کښې د اسلام غربت دې درجې ته ورسید چه د اهل کفر په دې باندې خوشحاله او راضي نه دي چه د یو اخې د کفر احکام په بنکاره توګه په اسلامي ښارونو کښې برپا او اجراء شي هغوی دا غواړي چه اسلامي احکام په کلي توګه با لکل له منځه لاړ شي او د اسلام او مسلمانانو هیڅ یو اثر پاتي نه شي. خبره تر دې ځایه پورې ورسیده چه که چېرته کوم مسلمان د کوم اسلامي شعار اظهار وکړي نو د قتل تر انجامه پورې به ورسیږي.

د شـــــاه ولي الله تبصره

د اسلامي ملت یو بل جلیل زوی شاه ولي الله په الفاظو کښې دي چه "اکبر زندیقیت اختیار کړی دی او د جهالت او ګمراهی تیاره ئې خپرې کړې دي. له هرې خوا ځخه د مختلفو ملتونو او باطلو مذهبونو خلك منډې را وهي او عظیمې فتنې پیدا شوي دي". (شرح رساله رد الرفضه از تذکرهٔ مجددؒ ص ۳۰۰)

دا وو هغه روشن خیاله، صلح کل، وسیع المشرب "رند با صفا" او د "جدید ملت" د بانې د مغلي دولت تاج لرونکی "اکبر دي ګریټ" دین او مذهب یوه اجمالي څیره او مور او پلار آزار وهلي اکبري تهذیب حقیقت چه آوازې ئې د الحاد او اباحیت په ایوانونو کښې په زور او شور سره بدرګه شوي دي چه آسائش غیر متناهی خلق در آن بود.

د اکبر د نظـــــریې وړاندې کوونکي

او نن هم تش په نامه روشن خیاله طبقې د اکبر د نظریې په وړاندې کولو سره د الحاد او د دین د تحریف ستائنه کوي ــــــ

دا دی د مغل ایمپلاټر یو مطلق العنانه حاکم او د عصر حاضر د لادیني حلقو یو د فخر وړ "هیرو" (منلی شوي شخصیت) لږ غوندې نمونه چه "روشن خیالي" او "ترقي خوښونه" ئې بولي او د دین او د اهل دین د استحصال او بیخ کني په سلسله کښې د هغه د تولو کارنامو تائید او تصویب کیږي او اصلاح او خیر خواهي کوونکي علماء حق خود غرضه، د اقتدار حریص، مجرم او واجب القتل ګڼي. له دې ځخه مخکښې چه د دغو خبرو حقیقت د احکم الحاکمین په دربار کښې بنکاره شي تاریخ دلته هم د خپلې حقې فیصلې په حق کښې محفوظې کړي. قدرت د اکبر په تخت باندې جهانګیر او بیا محي الدین اورنګ زیب عالمګیر کښیناوه او ډیر زر د اکبر په الحادي سلطنت باندې د حق او اهل حق بیرغ په رپیدو شـــــو نن د اکبر د "الٰهي دین" نوم او نښان هم له منځه لاړ او حق قائم او دائم دی ــــــ

و الحق یعلوا و لا یعلی ان فی ذلك لذکری لمن کان له قلب او القی السمع و هو شهید.

د تجدّد او اصلاح د نارو اصل حقیقت

☆ د راولپنډي اسلامي کانفرانس

☆ اداره تحقیقات اسلامیه او ډاکټر فضل الرحمٰن.

په مخکښې اونۍ کښې په راولپنډي کښې د ادارۀ تحقیقات اسلامیه تر اهتمام لاندې یو بین الاقوامي اسلامي کانفرانس جوړ شو. چه ځینې تقریبات ئې راقم هم په ناڅاپي توګه ولیدل. د مختلفو اسلامي ملکونو علماء او پوهانو برسیره د پاکستان دوه درې علماء حق ته هم په دې کښې د شرکت موقع ورکړې شوې وه. د عالم اسلام د مختلفو برخو علماء او د قدیم او جدید د یو له بله سره د خبرو اترو او د اسلامي نړۍ ته پیښې شوي مسائلو باندې غور او بحث، د مسلمانانو خپل منځي یو والی او اتحاد د ضرورت احساس داسې کارونه دي چه په دې لحاظ سره د کانفرانس جوړول د ستاینې وړ ګرځي لیکن د تصویر دوهم اړخ هغه دی چه مونږ ئې د ادارې تحقیقات او د هغې د کارکوونکو په ذهني جوړښت او نظریاتو او تحقیقي کارنامو په پس منظر کښې وینو. په افتتاحي اجلاس کښې منتظمینو د دې کانفرانس له جوړولو ځخه د خپلو هغو توقعاتو د ترلو کوم اظهار چه وکړ له هغو ځخه هم دا حقیقت یو ځل بیا په بنکاره توګه مخې ته راځي چه اظهار ئې دین د نویو غوښتنو په قالب کښې د اچولو او د حالاتو د مطابق جوړولو او د اسې نورو الفاظو ځخه په بیا بیا توګه غوښتنه کیږي.

په اسلامي نړۍ کښې د قدیم او جدید معرکه

په دې وخت کښې تقریبا ټول اسلامي ملکونه په یوه ذهني اړ او دور کښې ګرفتار دي. کومو ته چه مونږ د اسلامي افکارو او ویاړونو او مغربي تهذیب او ویاړونو د معرکې نوم ورکولی شو. کومه طبقه چه په تجدّد او مغربي افکارو باور ده که چېرته د هغې ټول شور او زور مقصد یو اخې دا وی چه د مغربي تهذیب د اخلاقي او روحاني خرابیو ځخه د خپل اړخ د ساتلو په صورت کښې د قرآن او سُنت او اسلامي اقدارو باندې مضبوطې منګولې ولګوي او له موجوده عصري علومو او سائنسي ترقیاتو ځخه استفاده وکړي او ننني زمانې ته د ور مخکښې شوي مسائلو د اسلامي شریعت په رنا کښې شرعي حیثیت څرګند کړی شي. که چېرته هغه مسائل او نظریات چه د اسلام له اساس سره تکر نه وي هغه ئې خپل کړي وای.

د مغرب په باره کښې معتدله لاره

او د نوي تهذیب چه کومې خبرې له اسلامي شریعت سره جوړ نه خوري هغه ئې پرته له غور او فکر له یوه پلوه له پامه غورځولې وای. نو د دې مقصد په ښیګړه کښې د هیڅ یوه عالم او متصلّب مسلمان به دوه رایې نه شوای جوړیدلی. ځکه چه اسلام د هر دور او هرې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

زماني د ښو خبرو د خپلولو له تولو مذاهبو څخه زیات اهتمام کړی دی۔ هغه انسان د الله تعالی خلیفه او د وچې او لمدې مالك ګڼي۔ هغه انسان ته د کائناتو او عناصرو تول جوهري قوتونو تسخیر له دولت څخه نازولی دی۔ اسلام د جائزو حدودو د ننه د انسان د ضروریاتو د تکمیل او قومي، ملکي او ملي ګټو د حفاظت او دفاع لپاره د زماني له پرمختګونو څخه ګټه اخیستنه او د علومو او فنونو د حصول لپاره له نورو قومونو سره د اوږه په اوږه تګ څخه هیڅکله ممانعت نه کوي۔ کومه طبقه چه د اسلامي علومو او فنونو علمبرداره ده د هغې له خوا په څو څلي دا چیلنج ورکړ شوی دی د اسلام یا نظریې او علماء حق د هیڅ یوې ډلې په لاربښوونو کښې په عصري او تجرباتي علومو کښې د پرمختګ او زیاتوالي څخه د منع کولو یو مثال که چېرته موجود وي نو تاسو ني وړاندې کړی۔

د تجدّد او اصلاح د علمبردارانو اصل عزائم

الغرض د تجدّد او د مذهب د اصلاح د نعرو پورته کوونکو عزائم او مقاصد که چېرته یو اځي دا وی نو د اختلاف هیڅ یو صورت به نه وی پیدا شوی لیکن د دې برعکس حقیقت دا دی چه کوم خلك اسلام د نویو غوښتنو قالب ته اچول غواړي د هغو ذهني جوړښت، بنوونه او روزنه۔ ذاتي او سیاسي بنیګړې، په مغربي تهذیب او تمدّن کښې له سره تر پښو استغراق او له کومو سرچینو څخه چه د هغو نظریات اوبه کیږي او په اسلام باندې د تحقیق او پلټنې چه کومې نوې نوې نمونې د مسلمانانو په مخکښې راځي۔ د دغو تولو څخه دا مسلّم حقیقت مخې ته راځي چه په اصل کښې د دغو خلکو مقصد توله اسلامي معاشره په مغربي تهذیب او تمدّن او لادیني افکارو او خیالاتو کښې اچول او د اسلامي ملکونو د مغربي ملکونو په نقش قدم باندې روانول دي۔ په دې لاره کښې چه څومره ديني تصوّرات او ضوابط، قوانین او ديني ویاړونه او روایتونه خنډ ګرځي په هغو تولو کښې ترمیم او تنسیخ وشي یا له یوې او بلې خوا څخه په اندازه کولو او پرې کولو سره د اسلام په دائره کښې راوستل شي۔

د تجدید آوازه او که د فرنګ تقلید

او په لنډه توګه دا چه له دې ډول حقیقي خد او خال څخه په محرومیدو سره ملك او معاشره د "مغربیت" په قالب کښې د اچولو لپاره خنډ جوړ نه شي۔ دا هغه دردناك صورتِ حال دی چه د تجدّد او اصلاح له ښائسته نومونو سره اسلام او راسخ العقیده مسلمان ګرفتار دی۔ د تجدید په نامه د مغربي تهذیب او افکارو هغه رونډ تقلید دی چه په دې ژړا سره علامه اقبال مخکښې لاژړلی دي۔

لیکن مجھے ڈر ھے کہ یہ آوازۂ تجدید — مشرق میں ھے تقلیدِ فرنگی کا بھانہ

د علماوو او مسلمانانو تشویش

او دا هغه له تشویش څخه ډك صورت حال دی کوم چه په دیني ویاړونو او افکارو باندې قربانیدونکي علماء او غیور مسلمانان ني په پریشاني او اضطراب کښې مبتلا کړي دي۔ او دوی هیڅکله هم اسلام ته د اروپا له اخلاقي او روحاني ویاړونو څخه د بري برخي نظام رنګ ورکولو ته نه شي تیاریدلی۔ او په دې لاره کښې دوی بې خطره په هر میدان کښې درنې پېرې ثابتیږي چه څه مظاهره او تمونه ني د راولپنډي په کانفرانس کښې د لادیني نظریاتو په وړاندې کولو باندې د حاضرینو سواد اعظم د سخت نفرت او بیزاري ظاهرولو په شکل کښې ښکاره شوه۔

اهل تجدّد او مغرب وهلي طبقې په نزد د نویو غوښتنو او حالاتو ته مخه کول او د مذهب د پرمختګ متني مطلب په ښکاره الفاظو کښې دا دی چه مذهب د حالاتو تابع جوړ شي نه دا چه حالات او زمانه دې د مذهب په مطابق جوړ شي۔

د ننني زماني غوښتنې او اسلام

تر کومه ځایه پورې چه د نوي زماني تعلق دی مونږ حیران یو چه آخر هغه کومې هیلې او غوښتنې دي چه له مذهب سره په تکر کښې دي او اسلام پخپل موجوده شکل کښې له هغو سره ملګرتیا نه شي کولی۔ که چېرته انسان د پیاده تګ او اوښانو، غویو او موټر په ځای په جیټ طیارو او خلائي جازونو کښې والوت۔ د لاس د پکې د چلولو په ځای اثیر کنډیشن استعمال کړ، د لاس د کارونو په ځای ني د رانه مشینونه او کارخانې سنبال کړي۔ د دال، ډوډۍ په ځای ني د کیك، ډبل روټۍ او بسکوټونو خوړل شروع کړل۔ د واوري او سړو اوبو په ځای ني د ترموز، یخچال او د اسي نورو مشروبات استعمالول ني شروع کړل، د کچه کورونو په ځای ني په جګو جګو عمارتونو کښې اوسیدل۔ د زینو په ځای په لفټونو کښې ختل، د غیښې او توري په ځای توپك او د توپك په ځای په ایتم او میزائل باند قادر شول۔ نو آخر هغه د مذهب کوم اصول دي چه له دغو تبدیلیو او تغیراتو سره سمون نه خوري؟ بې شکه د خوراك، ځښاك، ناسته ولاړه او مال او ځان د حفاظت په شکل کښې چه د انسان کوم بنیادي ضرورتونه وو عصر حاضر په پرمختللي شکل کښې هغه ته پوره کړه کوم چه د زماني د اوردوالي طبعي نتیجه وه۔ مذهب مخکښې هم په څو قواعدو او غوښتنو باندې مشروط د دغو ضرورتونو د لاس ته راوړلو او پوره کولو اجازه ورکړې وه او نن هم مذهب مسلمانانو ته د دغو هیلو په نظر کښې نیولو سره د دغو مادي ضرورتونو حصول او له هغو څخه د استفادې پوره اجازه ورکوي۔

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

مغربي بد عملیو ته د عصر حاضر غوښتنې نه ویل کیږي

هو! که چېرته له نویو غوښتنو او عصري ضروریاتو څخه یو اخې سائنسي ترقیات او تجرباتي علوم او فنون مراد نه وي بلکه هغه پوره تهذیب دی چه په هغه کښې تن اروپا مبتلا ده او کوم چه د یوه زهرجن سرطان او مُهلك جذام په شکل کښې د ټول انسانیت بدن خوري. او تاسو اسلام ته له د اسې مغربي طرز معاشرت سمون ورکوی چه مطلب ئې جنسي بې لاري توب، اخلاقي ناپاکي، د ښځې او سړي آزاد انه ګډون، د کلبونو ژوند، کاك ټیل ګروپونه، سود، شراب، جواري، د ښائسته ښوونه، سینما میرج، د هلکانو او نجونو ملګرتیا، الغرض له تولو اخلاقي او دیني اصولو او حدودو څخه سرکشي ده.

د اسلام جمود او تصلّب

نو په یقین سره و منی چه اسلام په دې باره کښې قطعي جامد او متعصّب دی، په اسلام کښې هیڅکله د عصر حاضر د دغو قبیحو غوښتنو سره د تګ کولو لار نشته او د یو ګام هم د اسې "ترقي یافته" او "مهذب" خلکو سره نه شي تللی. د اسلام دا جمود او تصلّب (کلکوالی) پخپله په تجدّد خوښوونکو باندې ثابت شوی دی. د دې لپاره اسلام د خپلو خواهشاتو د تابع جوړولو او د هغه یو اخې نوم له ځان سره په هر حال کښې د لګولو په ځای جرأت مندانه خبره خو دا ده چه هغه ته په مخه ښه ووایی. تاسو پرته له شك څخه دا نوي غوښتنې خپلې کړی لیکن بیچاره اسلام د ستم او ظلم تخته مه جوړوی. دا د خدای آخري نعمت دی. او تر څو چه دُنیاوي تر هغو پورې د ټولو انسانانو د حقیقي فلاح او بهبود د شفاء په دې نسخې پورې تړلی دی. که چېرته د ننني زماني فطرت مسخ شوی دی او مزاج ئې له اسلام سره سر نه خوري نو د راتلونکي نسلونو د هدایت له دې نسخې څخه د بې برخې کولو ولې کوششونه کوی. د خپل نفس او ګیډې او خواهشاتو د پرستش په خاطر له دومره لوی نعمت سره دا لوبې او توقې او دا تعصب او عناد یوه د اسې بد ترینه ناشکري ده چه نمونه ئې په انساني تاریخ کښې په مشکله لاس ته راځي.

د تحقیق او پلټنې اصل هدف

که چېرته تاسو د زړه له کومې غواړی چه اسلام دې په هرې زمانې کښې سر لوړی وي او ستاسو د اړتیاوو عقیده وي چه په قرآن او اسلام کښې د هرې زمانې د حوادثو او نوازلو حل موجود دی. او مغربي تهذیب چه کوم ناجائز معاشرتي او معاشي مسائل پیدا کړي دي، اسلام د هغو تولو متبادل حل وړاندې کولی شي. نو ستاسو د تحقیق او پلټنې هدف باید دا نه وي چه د اروپا حرام طور او طریقې د جائز ثابتولو لپاره د اسلام حرام شوي شیان حلا وګڼی. بلکه د خپل تحقیق محور دا جوړ کړی چه د اروپا د دغو غلطو او حرامو شیانو په ځای له کومو

جائزو او حلالو صورتونو ځخه د نوې زمانې ضرورت پوره کیږي. په بانکي نظام او سود باندې بحث وکړی لیکن د هغه د حلال ثابتولو لپاره نه بلکه د هغه د متبادلو حلالو صورتونو لکه مضاربت، مشارکت او د اسې نور د بحث لاندې راولی او وني آزمویی. شراب، بې پردګي او مخلوط ژوند په اندازه کولو او کچلو سره په اسلام کښې د داخلولو په ځای معاشره له عصري پرمختګونو سره ملګري کړی او له دغو خرابیو ځخه د ساتنې تدبیرونه را وباسی. د معاشرتي حقوقو پامالي، حق تلفي او ظلم او تعدی ځخه د بچ کولو د اسلامي معاشري د جوړولو او د ظلم د اسبابو په پلټنې باندې غور وکړی. نه دا چه د ازواجو په تعداد باندې پابندي لګوی یا په نورو معاشرتي مسائلو لکه طلاق، عدّت او د اسې نورو کښې کموالی او زیاتوالی شروع کړی. معاشي تفاوت، د دولت غیر منصفانه تقسیم او طبقاتي اړو دوړ د له منځه وړلو لپاره تاسو د اسلام د اقتصاد او اعتدال نظام مخې ته راولی او وني آزمویی نه دا چه د اسلام تعلق له سوشلزم، مارکسزم یا سرمایه دارانه نظام سره جوړ کړی. د نوي واقعاتو او مسائلو حل د قرآن او سُنّتو او د صحابه وؤ آثارو او د سلفو د فتاووو په رنا کښې په مخصوصو شرائطو او حدودو کښې له اوسیدو سره وباسی، نه دا چه تاسو عقل ته په شریعت باندې د ترجیح په ورکولو سره د عقل کردار ته پوره اجازه ورکړی پوره شریعت او د هغه منصوصات هم تار په تار کړي. عقل د شریعت په چوکاټ کښې د اوسیدو ذریعه جوړ کړی نه له شریعت ځخه د فرار او تښتې ذریعه. تاسو په ساینس او تیکنالوجي کښې بې له شکه پرمختګ وکړی، د مادي آسانتیاوو لاري ولټوی، لیکن د دې مطلب به هیڅکله دا نه وي چه د نورو مادي قومونو غوندې یو اخې همدا علم او حکمت وګڼی او کښینی. د کائناتو تسخیر یا په نورو الفاظو سره د "شکم پروري تدبیرونه" د قرآني لاربنوونو خلاصه، د پیغمبر ﷺ د لاربنوونو مطلب، د انساني تخلیق مقصد او د قرآنکریم د تفکر او تدبر د دعوت محور وګڼی او کښینی، او د قرآني لاربنوونو حقیقي مقصد د خدای بندګي، د الٰهي مرضیاتو لاس ته راوړنه او د آخرت د کامیابیو ته دویم حیثیت ورکړی. که چېرته تاسو د اسې کوی نو تاسو اسلام ته یو اخې د مادي نظام، او شکم پروره مذهب شکل ورکول غواړی چه مقصد ئې د سرمایه داري یا کمیونزم غوندې یو اخې د بادۍ او ګیډې پروربنت پاتې شي او تول اخلاقي او روحاني وپاړونه د پښو لاندې شي چه نتیجه به ئې دا شي چه په دې ډول سره تاسو د مذهب نوم هم واخیستلی شی او د هغه له تولو غوښتنو ځخه هم خوندي پاتې شی. د نړۍ د مذاهبو په تاریخ کښې له مذهب سره د دې چالاکۍ، توقې او سپکاوی مثال په مشکله لاس ته راتلی شي.

زمونږ د اندیښنو تائیـــــــد

مونږ د مذهب د تجدّد او اصلاح د دغو کوششونو په باره کښې چه کومې اندیښنې ښکاره کړې د تجدد اهل به په یقیني توګه دا بدګومانې، زمونږ تنګ نظري او رجعت پسندي وبولي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

لکه څرنګه چه دا الزامات په مخکښې ورځو کښې د تحقیقاتو اداري او لارښود نې ډاکټر فضل الرحمن په تعارف باندې مشتمل د ځینو ورځپانو په مضامینو کښې په بیا بیا توګه تکرار شوی وو۔ د تحقیقاتو اداره او د هغې فاضل لارښود ډاکټر فضل الرحمان صاحب وجود په دې ملک کښې د تجدّد د تحریک او د مغربیت تر تولو څرګنده نښه ده۔ د دې لپاره مونږ د نوموړي ډاکټر "تحقیقي شاهکار" د نمونې په توګه د خپلو لوستونکو په وړاندې ردو او فیصله هم دوی ته پریږدو چه مونږ د دغو اندیښنو، بې آرامي او پریشانې کښې تر کومه ځایه پورې حق په جانب یو او د نویو غوښتنو په قالب کښې د اچولو په صورت کښې کوم اسلام تصنیفیږي۔ دا تولې په اصطلاح د جواهرو تکړي د ادارۀ تحقیقات د ترجمان "فکر او نظر" په مجله کښې د هغه مضمونونه یا بیا د هغه یو نوی تصنیف "اسلام" (مطبوعه ویډنفیلډ اینډ نکلسن لندن ۱۹۶۶ء څخه ماخوذ دي۔ د ډاکټر صاحب تحقیق دا دی چه:

د ډاکټر فضل الـــــــرحمان څېنې ملحد انه خیالات

(۱) د قرآنکریم احکامات ابدي نه دي بلکه علل او مقاصد نې ابدي دي۔ (یعنې لمونځ، روژه، حج، زکات پخپل ځای کښې لازمي نه دي بلکه د هغو مقاصد ابدي دي که په هر شکل کښې هم ښکاره شي) تر اوسه پورې د دې تحقیق دوه مثالونه مخې ته راغلي دي۔ مخکښې په لمانځه، روژې او حج کښې هم د دې اصولو له مخې د ترمیم او تبدیلي لاره خلاصه ده۔

الف: زکات عبادت نه دی او مالیه ده۔ او که چېرته له مروّجه نصاب څخه مقصد تر لاسه نه شي نو حکومت په هغه کښې زیاتوالی او کموالی کولی شي۔

ب: د اسلام په ابتدایي دور کښې د دوه ښځو ګواهي د یوه نارینه له ګواهي سره برابره وه۔ په دې وخت کښې ښځې تعلیم یافته دي او د یوې ښځې ګواهي هم له یوه نارینه سره برابره ده۔

(۲) اسلامي شریعت ځیر متبدل، تول نیوونکی او ابدي نه دی۔

(۳) هغه وحی د منلو وړ ده چه د عقل او بصیرت له معیار باندې پوره برابره وي۔

(۴) الٰهي وحی او رسول ﷺ دواړه له حالاتو او زمانې څخه له متاثر کیدو پرته نه شي پاتې کیدلی۔

(۵) د قرآن کریم فیصلې او د نبي کریم ﷺ احادیث قطعي قوانین نه دي۔ له زیات څخه زیات د یوې "اسوۀ حسنه" (ټیکي طریقې) نمونه او مثالونه دي۔

(۶) د قرآن او سنتو اکثر احکام له خاصو حالاتو سره تړلي وو او وختي او اضطراري حیثیت لري۔

(۷) د اجتهاد دروازه هر وخت خلاصه ده۔ او قرآني احکام هم د اجتهاد تر اثر لاندې دي چه تغیر او تبدل پکښې کیدلی شي۔

(۸) وحی یو وارداتِ قلبي (په زړه کښې چه کومې خبرې تیریږي) او د نبيؐ د شعور آواز دی۔

(۹) د جبرائیل علیه السلام هیڅ خارجي وجود نه وو۔ دا تول خیالات د دوهمي او دریمي پیړۍ زیږنده دي۔

(۱۰) حضور ﷺ یو اخي د یوه اخلاقي مصلح حیثیت درلود۔

(۱۱) پیغمبر د یوه عرب قوم په جوړښت کښې مصروف وو او د قوانینو د جوړولو لپاره فرصت په لاس نه ورغی۔

(۱۲) معراج یوه له ځانه جوړه شوې کیسه ده کوم چه په وروستۍ زمانې کښې د راتولونې او رفع مسیح څخه د استعارې په توګه را اخیستل شوې ده۔

(۱۳) قرآني قصص محض بې بنیاده کیسې دي۔

(۱۴) د حدیثو ډیره ذخیره له ځانه جوړه شوې او موضوعي ده۔

(۱۵) په اسلامي قانون کښې حدیث حُجت نه شي جوړیدلی۔

(۱۶) حضور ﷺ د پنځګونې لمونځونو او د هغو د احکامو کومه څرګنده لارښوونه نه ده کړې۔ پنجوقته لمونځونه د حضرت عبد العزیز تر زمانې پورې رواج نه وو او له هغه څخه د وروسته زمانې اختراع (په دین کښې یو نوی کار) ده۔

(۱۷) د سُنتِ نبويؐ اکثره برخه له اسلام څخه د مخه په رسمونو باندې مشتمله ده۔ او فقهاوو د روم، ایران او یهودو روایتونه را اخیستي او په سُنتو کښې نې داخل کړي دي۔

(د ډاکټر صاحب په نزد سُنت له هغو تولو فقهي قوانینو څخه عبارت دی چه د هغه په ګومان له مذکوره قومونو او د هغو له قومونو څخه اخیستل شوي دي۔)

(۱۸) د جاهلیت په زمانه کښې چه کوم سود رواج وو هغه حرام دی۔ او مطلق سود حرام نه دی۔

(۱۹) یو اخي له انګورو څخه جوړ شوی شراب حرام دی له هغه پرته د بیرو او د اسې نورو شیانو څخه جوړ شوي د شرابو ټول قسمونه حلال دي۔

(۲۰) د نزول عیسیٰ عقیده د عیسایانو څخه مستعار دی۔

(۲۱) د شفاعت او مهدي د راوتلو د عقیدې هم همدا حال دی۔

(۲۲) د اسلام خلا (خالي ځایونه) یو اخي د مغرب له لارښوونو څخه ډکیدلی شی۔

د ډاکټر د نظریاتو دا څو نمونې دي چه تاروته نې د اروپا د مستشرقینو له تحقیقاتو څخه تیاریږي۔ او بیا د مسلمانانو مخې ته وړاندې کیږي۔ او دا هغه اسلام دی چه هیولی نې د سر سیّد احمد خان نیچریت، سید امیر علي او طٰهٰ حسین د معذرت د اظهار کوم چه زڼ شاخت او ګولډ تسهیر په تشکیک او تلبیس او ولفریډ اسمتھ (یهودي) د نقشې مطابق د اسلام منصوبه له د اسې عناصرو څخه تشکیل پیدا کړی او د مسلمانانو په مخ کښې د تجدّد او اصلاح د دعوو سره وړاندې کیږي۔ او که چېرته د اهل حق علماوو له خوا څخه کوم آواز پورته کیږي نو هغوی تنګ نظره، انتشار خوښوونکي، متعصّب او ګردن وهونکي ګڼل کیږي۔

فانا لله و انا اليه راجعون فيا للاسلام و لخيبة المسلمين. اللّٰهمّ انا نسئلك الثبات و الاستقامة و التوفيق و السداد و العافية.

و الله يقول الحق و هو يهدى السبيل۔

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

د ماډرن ازم یا باطنیت نوی رنګ

حضرت مولانا سمیع الحق صاحب مد ظلّه

اسلام لره ماډرن (نوی) جوړول او له انساني خواهشاتو سره ئې د روانولو لپاره په ده کښې تحریف او ترمیم کوونکو یو خاص تکنیك (چل ول) دا هم دی چه د قرآن او سُنتو د الفاظو او اصطلاحاتو چه کوم معنی او مفهوم پخپله شارح علیه السلام تاکلی دی او د کومو حقائق چه زمانه په زمانه په ملّت مسلمه کښې په تواتر او تسلسل را روان دی- دا قطعي او ابدي معاني له خپلو الفاظو او اصطلاحاتو سره د تعلق او جوړوالي رسی پرې کړي - او بیا د نبوت او رسالت، سنت او اجتهاد، اجماع او قیاس، صلوٰه او زکات او د اسي نورو شرعي اصطلاحاتو چه کوم ځان ځاني تشریح په زړه کښې راشي هغه غوره کړي او په هغو کښې دومره پراخوالی (EXTENTION) وشي چه د اروپا دجالي تهذیب او تمدّن ټول مسائل او مفاسد، سودي بنکاري، جوا ر ګري، رقص (ګډا) او سرود، ثقافت او کلچر، زنا کاري، شراب نوشي، بې پردګي، ګډ تعلیم او د بنځې او نارینه مساوات (برابروالی) او د اسي نورو باندې د اسلام ټاپه یا مهر ولګول شي- د اسلام فکري او عملي نظام د کښته پورته کولو لپاره د ننني زماني تش په نامه متجدّدین او محققین همدا حربه ازمایي- تر اوسه پورې چه د دې تلبیس او تحریف کومې نمونې مخې ته راغلي دي له هغو څخه یو څو په لاندې ډول دي-

(۱) د قرآن یواځې علل غایات ابدي دي- په احکامو کښې د بدلیدونکو حالاتو لاندې له نظره تصرف پکښې کیدلی شي-

(۲) د سُنتو معنی د هر یوه سړي یا ډلې شخصي رأیه ده او د دې په عامو وګړو کښې قبولیت حاصلول اجماع دی-

(۳) له زکات څخه مراد د اسلامي حکومت ټیکس (مالیه) ده او حکومت د زکات په منصوصو مقادیرو (اندازو) او مصارفو کښې رد او بدل کولی شي-

(٤) موجوده تجارتي سود او منافع په قرآني ربٰو کښې نه راځي-

(٥) د خمر لفظ د شراب په موجوده څو ډولونه باندې نه صادقیږي- (د ادارۀ تحقیقات اسلامیه مختلفې رسالې "فکر او نظر" وګورې)

د قـــــرآني اصطلاحاتو نوی لُغت

د دغو حضراتو ملګري منکرین حدیث او د هغو لاربنود مستر پرویز خو دا قرآني تحریف او تلبیس له مخکښې څخه د مسلمه امت لپاره د شفاء نسخه ګڼلې وه- مستر پرویز لیکي:

"زمونږ په نزد د قرآن د الفاظو چه کوم مفهوم مروّج دی و اکثره غیر قرآني دي- (قُرآني فیصلې ص ۲٦۰)

مخکښې وایي چه د قرآن دا تاکل شوي معاني او مفهومونه د څو تصوراتو او رسوماتو لاشونه دي چه مسلمانان له سینو سره لګولی دی- (اسباب زوال اُمت ص ۱۷)

د مسلمانانو له دغو لاشونو څخه د جلا کولو علاج د ګمراهانو د دې امام په نزد دا دی چه د قرآن ټول مصطلح الفاظو یو نوی لُغت جوړ شي چه څانګړتیاوي ئې دا وي چه "د قرآن چه کوم مفهوم د دې لُغت په رنا کښې تاکل کیږي هغه به د هري راتلونکي زماني له علمي سطحي سره سره (IMPROVE) وي- بدلیږي او زیاتیږي به- (قرآني فیصلي ص ۲٦٦)

د هغو له بد قسمتي څخه چه د دې سائنتیفك پلټنې امداد هم د دوی په سر نه دی بلکه دا خلك په تحقیقاتو کښې د خپلو هغو استاذانو یهودي مستشرقینو شاخت او د اسي نورو د در سو الګر دي-

د بـــــــاطنیت تجدید

د کومو خلکو اسلام دښمني چه قرآن کریم ډیر ډیر ځله په څرګندو الفاظو کښې څرګند کړي دي او د کوم خلکو چه دجل او تلبیس (چل او فریب) د تل لپاره عادت پاتې شوی دی- وَمِنَ الَّذِیْنَ هَادُوْا یُحَرِّفُوْنَ الْکَلِمَ عَنْ مَّوَاضِعِهٖ د متجددینو او مستشرقینو دا فتنه په دریمه هجري پیړۍ کښې د باطنیت په شکل کښې بنکاره شوه چه د دین او شریعت د ټولو اصطلاحاتو نوي معناګاني او مفهومونه ئې وتاکل- د دین بنیادي اصولو پورې شیان ئې بدل کړل- دې ډلې ته په مصر کښې تر پیړیو پورې د عبیدي سلطنت (فاطمین له ۳۹٦ هجري څخه تر ۵٦۷ هجري پورې) په شکل کښې اقتدار او عروج تر لاسه شو- او د اقتدار په سیوري کښې ئې پر له پسې له اسلامي عقائدو او شرعي اعمالو او سُنتو سره توقي او مسخري کیدلې- تر دې پورې چه د میراث په قانون کښې ترمیم وشو- د تراویحو او صلوٰه الضحی (څاښت) په لمونځ کوونکو ته تعزیر ورکول کیده- د دې سلطنت یو حاکم یا بادشاه الظاهر الدین الله د شرابو عامه اجازه ورکړه- اهلِ حق مقهور او مظلوم وو او اهل هوا غالب او حاوي وو- تر دې پورې چه د دین د حفاظت لپاره د خداوندي سُنت ظهور د سلطان صلاح الدین ایوبي علیه الرحمه په شکل کښې وشو چا چه دا فتنه له منځه یووړه-

دا به له حیرانتیا څخه خالي نه وي چه په دې فرقې کښې هم د یهودیت روح کار کوونکی وو- ځکه چه د انسابو د محققینو په نزد په اتفاق سره د دغو خلکو مورثِ اعلی (جګ پورې لاربنود) عبید مجوسي یا یهودي وو-

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

کتاب

الاجتہاد و التقلید

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned with CamScanner

کتاب الاجتهاد و التقلید

د تقلید شرعي حیثیت

سوال: ځینې خلك وایي چه د چا تقلید شرك دی او څوك چه د ائمهٔ اربعه وو تقلید کوي هغه مشرك دی۔ اوس پوښتنه دا ده چه د ائمهٔ اربعه وو تقلید د شریعت له مخې څه حکم لري؟ آیا په ربښتیا هم د تقلید په کولو سره یو مسلمان مشرك کیږي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د شریعت د یوه ماهر په لارښوونې کښې تقلید پخپله د مقدس شریعت اتباع ته وایي۔ قرآني آیتونه، نبوي احادیث او د صحابهٔ کرامو په حالاتو کښې هم عام سړي ته د شریعت د یوه ماهر سړي د پیروي حکم پیدا کیږي۔ ځکه چه د یوه عام سړي لپاره په ائمهٔ اربعه وو کښې د یوه تقلید واجب دی او په دې سره شرك نه لازمیږي۔

قال العلامه ابن نجیم رحمه الله: ان الاجماع انعقد علی عدم العمل بمذهب مخالفو للاربعة لانضباط مذاهبهم وانتشارها و کثرة اتباعهم۔ (الاشباه و النظائر ج۱، ص۳۳۳، القاعدة الاولی/ الاجتهاد لا ینقض با لاجتهاد)

قال العلامة عبد العزیز القرهادی: ثم من لم یکن مجتهداً وجب علیه اتباع المجتهد۔ (لمراس شرح شرح عقالد ص۷۲، تقلید المجتهد) و مثله فی البحر الرائق ج۷، ص۲۶۶، کتاب القضاء)

د مجتهد او مقلد په دلالتلو کښې فرق

سوال: په ادلة المجتهد او ادلة المقلد (د مجتهد او مقلد په دلالتلو) کښې څه فرق شته او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: مجتهد د یوې مسئلې د اثبات لپاره په څلورو دلالتلو سره استدلال کوي او مقلد د خپلې مسئلې لپاره د مجتهد قول وړاندې کوي۔ مقلد چونکه له کتاب او سنتو څخه ناخبره وي نو ځکه د مسئلې د ثبوت لپاره دلیل نه شي وړاندې کولی۔

لما قال العلامة صدر الشریعة: و قولنا یتوصل بها الیه الظاهر ان هذا یختص المجتهد فان المجوت عنه فی هذا العلم قواعد یتوصل المجتهد بها الی الفقه لیس الا المجتهد فان الفقه هو العلم با لاحکام من الادلة التی لیس دلیل المقلد منها فلهذا لم یذکر مباحث التقلید و الاستفتاء فی کتبنا و لا یبعد ان یقال انه یعم المجتهد و المقلد فا لادلة الاربعة انما یتوصل بها المجتهد لا المقلد فاما المقلد فا لدلیل عنده قول المجتهد فا لمقلد یقول هذا الحکم واقع عندی لانه ادی الیه رأی ابی حنیفة و کل ما ادری الیه رایه فهو واقع عندی۔ (توضیح و تلویح ص ٥٤، مقدمة)

قال العلامة ابن عابدین: و ظیفة العوام التمسك بقول الفقهاء و اتباعهم فی اقوالهم و افعالهم دون التمسك با لکتاب و السنة۔ (الفتاوی تنقیح حامدیه ج۲، ص۳۶۷، مسائل و فوائد شتّی من الخطر و الاباحة) و مثله فی البحر الرائق ج۱، ص۵، کتاب الطهارة)

د څلورو مذهبونو د حق ګڼلو تر څنګ په قرآن او حدیثو باندې د عمل کولو حکم

سوال: یو سړی څلور واړه مذهبونه حق ګڼي او دا هم وایي چه کوم شیان په قرآن او حدیثو کښې دي په هغو باندې باید عمل وکړی شي نو د داسې سړي شرعاً حکم څه دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: داسې سړی له دوو حالتونو څخه خالي نه وي یا به مقلد وي او یا به مجتهد۔ اوس که چېرته مقلد وي نو په مقلد باندې تقلید واجب دی او که چېرته مجتهد وي نو له قرآن او احادیثو څخه استدلال کولی شي لیکن په ننني زماني کښې چونکه په هیڅا کښې د اجتهاد لیاقت موجود نه دی د دې لپاره د داسې سړي خیال غلط دی۔

لما قال العلامة الحصکفی: و قد ذکروا ان المجتهد المطلق قد فقد۔ (الدر المختار علی هامش رد المحتار ج۱، ص۷۷، مطلب فی طبقات الفقهاء)

لما قال العلامة الحصکفی: و قد ذکروا ان المجتهد المطلق قد فقد۔ قال السید احمد الطحطاوی (قوله فقد) و هو جائز الوجود لان فضل الله تعالی لا یقید بزمن دون زمن۔ (حاشیة الطحطاوی علی الدر المختار ج۱، ص۵۱، مقدمة)

په دوو مذهبونو باندې د عمل کولو حکم

سوال: په ائمه اربعه وو کښې د یوه امام مقلد د بل امام په مذهب باندې عمل کولی شي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: له مذهب څخه په وتلو کښې یعني خروج له مذهب چونکه د خواهشاتو اتباع ده نو له دې وجهې که چېرته یو سړی په څلورو مذهبونو کښې له اول څخه په یوه مذهب باندې عمل وکړي نو بیا به تر آخره پورې په هم هغه مذهب عمل کوي او په دوهم مذهب عمل نه شي کولی۔ او که څوك ئې وکړي نو دې ته په اصطلاح کښې تلفیق وایي او دا باطل دی۔ بیا هم د سخت ضرورت په وخت کښې اهل علم حضرات پخپل مذهب باندې د کلك دریدو تر څنګ په بل مذهب باندې فتوی ورکولی شي۔

لما قال العلامة ابن عابدین: (تحت قول الحصکفی) و ان الحکم الملفق باطل با لاجماع) مثاله متوضیء سال من بدنه دم و لمس امرأة ثم صلی قال صحة هذه الصلوة ملفقة من مذهب الشافعی و الحنفی و التلفیق باطل فصحته۔ (رد المحتار ج۱، ص۷۵، مطلب فی حکم التقلید و الرجوع عنه)

قال العلامة الطحطاوی: متوضی سال من بدنه دم و لمس امرأة ثم صلی الخ۔ (طحطاوی علی الدر المختار ج۱، ص۵۰) و مثله فی خلاصة التحقیق فی بیان حکم التقلید و التلفیق عبد الغنی النابلسی)

د ضرورت په وخت کښې په بل مذهب باندې د عمل کولو حکم

سوال: آیا د ضرورت په وخت کښې په بل مذهب باندې عمل کول جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د ضرورت په وخت کښې په بل مذهب عمل کول جائز دي لیکن د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

ضرورت تعین به اکابر علماء کرام کوي لکه په زوجه د مفقود الخبر کښي د امام مالک صاحبؒ په مذهب فتوی ورکول د ضرورت په وخت کښي جائز دي۔

لما قال العلامة ابن عابدینؒ: و قد کان بعض اصحابنا یفتون بقول مالك فی هذه الحالة للضرورة. (رد المحتار ج۳، ص۵۰۹، کتاب المفقود، مطلب الافتاء بمذهب مالك) ایضاً قال لو افتی مفت بشیء من هذه الافعال للضرورة طلباً للتیسیر کان حسناً. (رد المحتار ج۱۰، ص۷۴، مطلب لا یجوز العمل بالضعیف الخ)

لما قال العلامة عبد العزیز الفرهاری رحمه الله: اذا اشتدت الحاجة فیجوز الرجوع الی قاضی مذهب آخر یفی بحاجته و هذه الفوائد مما تحفظ. (السراس ص۷۳، تقلید المجتهد)

د اهل الظاهر په فتوی باندې د عمل کولو حکم

سوال: آیا د یو حنفي مذهبه لپاره د اهل الظاهر په فتوی باندې عمل کول صحیح دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د یوه حنفي لپاره د اهل حدیث په فتوی باندې عمل کول صحیح نه دي ځکه چه اهل الظاهر یعني اهل حدیث د فتوی اهلیت نه لري۔

لما قال العلامة الکیرانویؒ: قال ابو بکر الرازی الجصاص فی اصوله لا یعد بخلاف من لا یعرف اصول الشریعة و لم یرتض بطریق المقاییس و وجوه اجهاد الرائی کد اود الصفهانی (امام اهل الظاهر) و الکرابیسی اضرابهما. (مقدمة اعلاء السنن ج۲، ص۱۸۵، الفائدة الثانیة لا یعتد بخلاف الظاهریة)

قال العلامة ابن عابدینؒ: و قد استقر ای الاصولیین علی ان المفتی هو المجتهد فاما غیر المجتهد فمن یحفظ اقوال المجتهد فلیس بمفت و الواجب علیه اذا سئل ان یذکر قول المجتهد کما لامام علی وجهه الحکایة. (رد المحتار ج۱، ص۶۹، مطلب رسم المفتی) و مثله فی الطحطاوی علی در المختار ج۱)

امام ابو حنیفه رحمه الله تابعي دی

سوال: امام ابوحنیفه رحمه الله تعالی تابعي دی او که تبع تابعي؟ که چیرته تابعي وي نو له کوم صحابي رضی الله عنه سره ئې ملاقات کړی دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: امام ابو حنیفه رحمه الله په ۸۰ هجري کښې پیدا شوی دی او په دې زمانې کښې ډیر صحابه کرام رضی الله عنهم ژوندي وو له دې وجهې ده د څو صحابهٔ کرامو زیارت کړی دی چه د هغو له جملې څخه حضرت انس بن مالك رضی الله عنه هم دی نو ځکه دی تابعي دی او د جمهورو علماوو هم همدغه رأیه ده۔

لما قال الملا علی القاریؒ: قد ثبت رؤیته بعض الصحابة و اختلف فی روایته عنهم و المعتمد ثبوتها..... فهو من التابعین الاعلام. (مقدمة اعلاء السنن ج۳، ص۴، الفصل الاول)

قال العلامة ابن الجوزی رحمه الله: انما رأی انس بن مالك بعینه. (العلل المتناهیة ج۱، ص۱۲۸، باب الکفالة برزق الفقه) و مثله فی رد المحتار ج۱، ص۶۴، مطلب فی اختلف فیما من روای الامام عن الصحابةؓ)

د امام ابو حنیفه رحمه الله تعالی د مرویاتو شمیر

سوال: آیا دا خبره صحیح ده چه د امام ابو حنیفه رحمه الله تعالی له اولسو احادیثو څخه زیات احادیث زده نه وو لکه څرنګه چه ابن خلدون دا خبره ذکر کړې ده؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: کوم خلك چه دا وایي چه امام ابو حنیفه رحمه الله یوائې په اولسو حدیثونو باندې پوهیده د دوی دا خبره غلطه ده او د دوی دا خبره د لاتدیني وجوهاتو پر بناء باندې باطله ده۔

﴿۱﴾ امام ابو حنیفه رحمه الله د امت په اتفاق سره مجتهد دی او پخپله ابن خلدون وایي چه د مجتهدینو استنباط له قرآن او سنتو څخه وي نو که چیرته څوك په اولسو حدیثونو باندې مجتهد جوړیدلی شوای نو نن به هر یو اهل حدیث مجتهد وای۔

لما قال ابن خلدونؒ: و لا سبیل الی هذا المنقد فی کبار الاسمه ملان الشریعة اتم توخذ من الکتاب و السنة. (مقدمهٔ ابن خلدون ج۱، ص۳۷۱)

﴿۲﴾ ابن خلدون دا قول په یقال سره ذکر کړی دی کوم چه د تمریض صیغه ده او بیا پخپله ده هم رده کړې ده۔

﴿۳﴾ یوائې امام ابو یوسف رحمه الله په "کتاب الآثار" کښې د ابو حنیفه رحمه الله د روایاتو تعداد ۱۰۶۷ ذکر کړی دی۔

﴿۴﴾ د امام ابو حنیفه رحمه الله صاحب خپل مسند موجود دی چه په هغه کښې ئې په زرګونو روایتونه لیکلي دي۔

﴿۵﴾ امام ذهبیؒ ده مبارك لره په حفاظو کښې ذکر کړی دی او حافظ هغه وي چه یو لك حدیثونه ئې یاد وي۔

﴿۶﴾ و قال محمد بن سماعةؒ: ان الامام ذکر فی تصانیفه نیفا و سبعین الفاً حدیث و انتخب الآثار من اربعین الف حدیث. (مقدمات اعلاء السنن ج۱، ص۱۹۲، الفصل التاسع فی تراجم الائمة الثلاثة)

نو له دې وجهې په امام ابو حنیفه رحمه الله باندې د اسې بې ځایه اعتراضونه له بغض او حسد څخه خالي نه دي۔

په صحاح سته کښې د امام ابو حنیفه رحمه الله روایتونه

سوال: په صحاح سته خصوصا بخاري شریف او مسلم شریف کښې د امام ابو حنیفه رحمه الله علیه روایتونه ولې منقول نه دي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د امام ابو حنیفه رحمه الله کار له روایتونو څخه د مسائلو استنباط و نه د روایتونو بیانول۔ په فقهي استنباطاتو کښې د شپې او ورځې د مشغولیت له وجهې له ډیر روایتونه موجود نه دي۔ او دا خبره دې هم واضحه وي چه امام بخاري او امام مسـ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

ضرورت تعین په اکابر علماء کرام کوي لکه په زوجه د مفقود الخبر کښې د امام مالك صاحبؒ په مذهب فتوی ورکول د ضرورت په وخت کښې جائز دي۔

لما قال العلامة ابن عابدينؒ: و قد كان بعض اصحابنا يفتون بقول مالك في هذه الحالة للضرورة. (رد المحتار ج۳، ص۵۰۹، كتاب المفقود، مطلب الافتاء بمذهب مالك) ايضاً قال لو افتى مفت بشيء من هذه الافعال للضرورة طلباً للتيسير كان حسناً. (رد المحتار ج۱۰، ص۷۴، مطلب لا يجوز العمل بالضعيف الخ)

لما قال العلامة عبد العزيز الفرهادی رحمه الله: اذا اشتدت الحاجة فيجوز الرجوع الى قاضی مذهب آخر يفتی بحاجته و هذه الفوائد مما تحفظ. (النبراس ص۷۳، تقليد المجتهد)

د اهل الظاهر په فتوی باندې د عمل کولو حکم

سوال: آیا د یو حنفي مذهب لپاره د اهل الظاهر په فتوی باندې عمل کول صحیح دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د یوه حنفي لپاره د اهل حدیث په فتوی باندې عمل کول صحیح نه دي ځکه چه اهل الظاهر یعني اهل حدیث د فتوی اهلیت نه لري۔

لما قال العلامة الكيرانویؒ: قال ابو بكر الرازی الجصاص في اصوله لا يعد بخلاف من لا يعرف اصول الشريعة و لم يرتض بطريق المقاييس و وجوه اجهاد الرائی كد اود الصفهانی (امام اهل الظاهر) و الكرابيسی اضرابهما. (مقدمة اعلاء السنن ج۲، ص۱۸۵، الفائدة الثانية لا يعتد بخلاف الظاهرية)

قال العلامة ابن عابدينؒ: و قد استقر ای الاصوليين على ان المفتی هو المجتهد فاما غير المجتهد فمن يحفظ اقوال المجتهد فليس بمفت و الواجب عليه اذا سئل ان يذكر قول المجتهد كا لامام على وجهه الحكاية. (رد المحتار ج۱، ص۶۹، مطلب رسم المفتی) و مثله في الطحطاوی على در المختار ج۱)

امام ابو حنیفه رحمه الله تابعي دی

سوال: امام ابو حنیفه رحمه الله تعالی تابعي دی او که تبع تابعي؟ که چېرته تابعي وي نو له کوم صحابي رضی الله عنه سره ئې ملاقات کړی دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: امام ابو حنیفه رحمه الله په ۸۰ هجري کښې پیدا شوی دی او په دې زمانې کښې ډیر صحابه کرام رضی الله عنهم ژوندي وو له دې وجهې ده د څو صحابۀ کرامو زیارت کړی دی چه د هغو له جملې څخه حضرت انس بن مالك رضی الله عنه هم دی نو ځکه دی تابعي دی او د جمهورو علماوو هم همدغه رأیه ده۔

لما قال الملا علی القاریؒ: قد ثبت رؤيته بعض الصحابة و اختلف في روايته عنهم و المعتمد ثبوتها..... فهو من التابعين الاعلام. (مقدمة اعلاء السنن ج۳، ص۴، الفصل الاول)

قال العلامة ابن الجوزی رحمه الله: انما رأى انس بن مالك بعينه. (العلل المتناهية ج۱، ص۱۲۸، باب الكفالة برزق النفقه) و مثله في رد المحتار ج۱، ص۶۴، مطلب في اختلف فيما من روای الامام عن الصحابةؓ)

د امام ابو حنیفه رحمه الله تعالی د مرویاتو شمیر

سوال: آیا دا خبره صحیح ده چه د امام ابو حنیفه رحمه الله تعالی له اولسو احادیثو څخه زیات احادیث زده نه وو لکه څرنګه چه ابن خلدون دا خبره ذکر کړې ده؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: کوم خلك چه دا وایي چه امام ابو حنیفه رحمه الله یواځې په اولسو حدیثونو باندې پوهیده د دوی دا خبره غلطه ده او د دوی دا خبره د لاندینې وجوهاتو پر بناء باندې باطله ده۔

﴿۱﴾ امام ابو حنیفه رحمه الله د امت په اتفاق سره مجتهد دی او پخپله ابن خلدون وایي چه د مجتهدینو استنباط له قرآن او سنتو څخه وي نو که چېرته څوك په اولسو حدیثونو باندې مجتهد جوړیدلی شوای نو نن به هر یو اهل حدیث مجتهد وای۔

لما قال ابن خلدونؒ: و لا سبيل الى هذا المنقد في كبار الاسمه ملان الشريعة انما تؤخذ من الكتاب و السنة. (مقدمۀ ابن خلدون ج۱، ص۳۷۱)

﴿۲﴾ ابن خلدون دا قول په یقال سره ذکر کړی دی کوم چه د تمریض صیغه ده او بیا پخپله ده هم رده کړي ده۔

﴿۳﴾ یواځې امام ابو یوسف رحمه الله په "کتاب الآثار" کښې د ابو حنیفه رحمه الله د روایاتو تعداد ۱۰۶۷ ذکر کړی دی۔

﴿۴﴾ د امام ابو حنیفه رحمه الله صاحب خپل مسند موجود دی چه په هغه کښې ئې په زرګونو روایتونه لیکلي دي۔

﴿۵﴾ امام ذهبي ده مبارك لره په حفاظو کښې ذکر کړی دی او حافظ هغه وي چه یو لك حدیثونه ئې یاد وي۔

﴿۶﴾ و قال محمد بن سماعةؒ: ان الامام ذكر في تصانيفه نيفا و سبعين الفاً حديث و انتخب الآثار من اربعين الف حديث. (مقدمات اعلاء السنن ج۱، ص۱۹۲، الفصل التاسع في تراجم المتنا الثلاثة)

نو له دې وجهې په امام ابو حنیفه رحمه الله باندې د اسې بې ځایه اعتراضونه له بغض او حسد څخه خالي نه دي۔

په صحاح سته کښې د امام ابو حنیفه رحمه الله روایتونه

سوال: په صحاح سته خصوصا بخاري شریف او مسلم شریف کښې د امام ابو حنیفه رحمه الله علیه روایتونه ولې منقول نه دي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د امام ابو حنیفه رحمه الله کار له روایتونو څخه د مسائلو استنباط وو نه د روایتونو بیانول۔ په فقهي استنباطاتو کښې د شپې او ورځې د مشغولیت له وجهې له ده څخه ډیر روایتونه موجود نه دي۔ او دا خبره دې هم واضحه وي چه امام بخاري او امام مسلم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

رحمهما الله لکه څرنګه چه د امام ابو حنیفه رحمه الله روایات نه دي ذکر کړي عمدا رنګه د امام شافعي رحمه الله روایات ني هم نه دي ذکر کړي۔

او د حدیثو د امام احمد ابن حنبل هم یواځي دوه روایتونه موجود دي چه یو روایت ني تعلیق او دوهم روایت ني د نازل په واسطي سره دی۔

لما قال العلامة الكوثريؒ: و مما يلتقت ان شيخين لم يخرجا في الصحيح شيئاً من حديث الامام ابي حنيفةؒ مع انهما ادركا صغار اصحاب اصحابه و اخذا عنهم و لم يخرجا ايضاً من حديث الامام الشافعيؒ مع انهما لقيا بعض اصحابه و لا اخرج البخاريؒ من حديث احمدؒ الاّ حديثين احدهما تعليقا و الآخر بواسطة مع انه ادركه الائمة. (التعليق على شروط الائمة الستة ص ۸۱)

د "میزان الاعتدال" د عبارت تحقیق

سوال: علامه ذهبي رحمه الله پخپل مشهور کتاب "میزان الاعتدال" کښي امام ابو حنیفه رحمه الله په ضعفاوو کښي شمارلی دی آیا دا صحیح ده او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: کوم خلك چه دا وایي چه په میزان الاعتدال کښي امام ابو حنیفه رحمه الله ضعیف ګڼل شوی دی نو دا د غلطی پر بنا ویل شوي دي۔ د احنافو علماء کرامؒ د دي څو وجوهات بیان کړي دي چه په لاندي ډول دي:

﴿۱﴾ دا عبارت پخپله د علامه ذهبي صاحبؒ نه دی بلکه په کتاب کښي ني وروسته داخل کړی شوی دی۔

لما قال العلامة ظفر احمد العثمانيؒ: (بعد تحقيق) فقد تضافرت الادلّة على تمس ترجمة ابي حنيفةؒ في الميزان انهام الحقت في بعض النسخ بغير قلم مؤلفه. (مقدمه اعلاء السنن ج۱، ص۱۳۵، ثبوت العدالة با لاستفاضة.

و ان هذه العبارة ليست لها اثر في بعض النسخ المعتبرة على ما رأيتها بعين نقلاً من الامام عبد الحي الكهنويؒ ما تمس اليه الحاجة. (ص٤٧، مقدمة ابن ماجة)

﴿۲﴾ او پخپله علامه ذهبي رحمه الله لیکي چه ائمهٔ اربعه او امام ابو حنیفه رحمهم الله مي د دوی د شان د لوړوالي او عظمت له وجهي په "میزان الاعتدال" کښي نه دي ذکر کړي۔ کذلك لا اذكر في كتابي من الائمة المتبوعين في الفروع احداً لجلالتهم في الاسلام و عظمتهم في النفوس مثل ابي حنيفةؒ و الشافعيؒ. (میزان الاعتدال ج۱، ص۲۰)

﴿۳﴾ دا جرح مبهمه ده له دي وجهي د قبول ور نه ده۔ انما الجرح فانه لا يقبل الا مفسراً بيّنا بسبب الجرح. (اعلاء السنن ج۱، ص۱۰۳/ تدريب الراوي ج۱، ص۳۰۵)

په پاکستان او افغانستان کښي د نورو مذهبونو د تقلید حکم

سوال: محترم مفتي صاحب! آیا په پاکستان او افغانستان کښي له حنفي مذهب پرته د شافعي مذهب او یا نورو مذاهبو تقلید جائز دی او که نه؟ په دا سي حال کښي چه په نورو مذاهبو باندي د عمل له وجهي هر وخت د فتني او فساد خطره وي او نه دلته خلك نور مذاهب پیژني؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د څلورو واړو مذهبونو (حنفي، شافعي، مالکي او حنبلي) په حقانیت باندي د ټول امت اجماع دی لیکن په کومو ځایونو کښي چه کوم مذاهب رائج وي هلته باید د هم هغه مذهب تقلید وشي او د بل مذهب تقلید و نه شي خصوصاً په دا سي وخت کښي چه د فتني او فساد خطره هم وي ځکه چه په دا سي صورت کښي د بل مذهب تقلید جائز هم نه وي۔

لما قال الشيخ شاه ولي الله الدهلويؒ: فاذا كان جاهل في بلاد الهند و بلاد ما وراء النهر و ليس هناك علام شافعي و لا مالكي و لا حنبلي و لا كتاب من كتب هذه المذاهب وجب عليه ان يقلد لمذهب ابي حنيفة و يحرم عليه ان يخرج من مذهبه لانه حينئذ يخلع من عنقه ربقة الشريعة و يبقى سدى مهملاً. (الانصاف مع كشاف ص۷۰/۷۱، په هندوستان کښي په جاهلانو باندي د ابو حنیفة تقلید واجب دی)

شاه ولي الله د هلوي رحمه الله تعالی مقلد وو

سوال: مونږ له ځینو علماوو ځخه اوریدلي دي چه شاه ولي الله د هلويؒ مقلد نه وو آیا په ربښتیا هم شاه ولي الله د هلويؒ مقلد نه وو؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: دا خبره صحیح نه ده چه حضرت شاه صاحب مقلد نه وو بلکه ده مبارك له تقلید ځخه د خروج ممانعت کړی وو چنانچه دی پخپله فرمایي:

و استخدت منه ﷺ لغة امور خلاف ما كان عندي و ما كانت طبعي تميل اليه اشد ميل فصارت هذه الاستفادة من براهين الحق تعالى عليّ..... و ثانيها الوصاة با لتقليد بهذه المذاهب. (فيوض الحرمين ص٦٤/٦٥)

حنفي مذهب د سنتو موافق دی

سوال: نن صبا غیر مقلدینو په عوامو کښي دا آوازه خپره کړي ده چه حنفي مذهب د سنتو خلاف دی ځکه چه دا خلك په لمانځه کښي رفع الیدین نه کوي په دا سي حال کښي چه رفع الیدین په لمانځه کښي سنت دی او دا خلك د قرائت خلف الامام هم قائل نه دي چه دا هم سنت دي او له دي برسیره ځینې نوري دا سي خبري هم کوي۔ نو آیا حنفي مذهب په ربښتیا هم د سنتو خلاف دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د حنفي مذهب په باره کښي دا ټولي خبري بې بنیاده دي۔ دا مذهب له نورو مذاهبو ځخه زیات د سنتو پابند دی۔ تر کومه ځایه پوري چه ذکر شوي خبري تعلق لري نو اګر که در فع الیدین او د امام پسې د قرائت ویلو او د دا سي نورو په باره کښي له حضور ﷺ ځخه روایتونه نقل دي همدا رنګه د رفع الیدین د نه کولو او د دا سي نورو روایتونو هم له حضور ﷺ ځخه منقول دي او دا روایات د نورو روایتونو په مقابله کښي ډیر قوي دي له دي وجهي د حنفي حضراتوؒ په باره کښي دا سي ویل صحیح نه دي۔

قال الشيخ شاه ولي الدهلويؒ: و عرفني رسول الله ﷺ ان في المذهب الحنفي طريقة انيقة هي اوفق الطرق با لسنّة المعروفة التي جمعت و نضجت في زمان البخاريؒ و اصحابه. (فيوض الحرمين ص٤٨)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

د څلورو مذ اهبو د مخالفت حکم

سوال: ټن صبا غیر مقلدین او د داسې نورو ډلو خلك مذاهب اربعه او د هغوی مقلدین مشرکین بولي او مخالفت ټي کوي نو آیا د مذاهب اربعه وو مخالفت جائز دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب په څلورو اړو مذهبونو باندې د امت اجماع منعقده شوې ده له هغو څخه خروج او مخالفت صحیح نه دی بلکه د ګناه سبب دی۔

قال العلامة ابن نجیمؒ: و ما خالف الائمة الاربعة فهو مخالف للاجماع. (الاشباه و النظائر ص ۱۳۱)

قال العلامة احمد المعروف بملاجیونؒ: و قد وقع الاجماع علی ان الاتباع انما یجوز للاربع..... و کذا لا یجوز الاتباع لمن حدث مجتهداً مخالف لهم. (التفسیرات الاحمدیة ص ۳٤٦، سورة آل عمران) و مثله فی التفسیر المظهری ج ۲، ص ٦٤، سورة آل عمران)

له مذ اهب اربعه وو پرته د نورو مذ اهبو د تقلید حکم

سوال: جناب مفتي صاحب! په تننی زمانې کښې له مذ اهب اربعه وو پرته د بل کوم نوي مذهب تقلید جائز دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د علماء کرامو د تصریحاتو په رنا کښې په دې زمانې کښې له مذ اهب اربعه وو پرته په بل مذهب باندې عمل کول جائز نه دي ځکه چه د اسې کومه شرعي جزئیه نشته چه د هغې په باره کښې دوی تصریح نه وي کړې۔

لما قال العلامة لشیخ احمد الطحطاویؒ: فعلیکم یا معشر المؤمنین باتباع الفرقة الناجیة المسماة باهل السنة و الجماعة فان نصرته فی موافقتهم و خذلانه و سخطه و مقته فی مخالفتهم و هذه الطائفة الناجیة قد اجتمعت الیوم فی المذاهب الاربعة هم الحنفیون و المالکیون و الشافعیون و الحنبلیون و من کان خارجاً من هذه المذاهب الاربعة ذلك الزمان من اهل البدعة و النار. (الطحطاوی علی الدر المختار ج ٤، ص ۱۵۳، کتاب الذبائح)

قال العلامة ان الهمامؒ: و علی هذا ما ذکر بعض المتاخرین منع التقلید علی غیر الاربعة لانضباط مذاهبهم و تقلید مسائلهم و تخصیص عمومها و لم یرّ مثله فی غیرهم الآن لانقراض اتباعهم و هو صحیح. (التحریر فی اصول الفقه ص ۵۵۲، بحوالهٔ فتاوی رحیمیه ج ۱، ص ۸۹/۹۰، کتاب العلم)

د اجتهاد د دروازې د خلاصوالي حکم

سوال: جناب مفتي صاحب! آیا په دې دور کښې هم اجتهاد کیدلی شي او که نه؟ د ځینو خلکو نه مې اوریدلي دي چه د اجتهاد دروازه بنده شوې ده نو آیا په ربښتیا هم د اجتهاد دروازه بنده شوې ده؟ هیله ده چه د قرآن او حدیثو په رنا کښې ځواب راکړئ؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د مطلق اجتهاد سلسله په ائمه اربعه وو باندې بنده شوې ده ټن صبا هیڅوك هم دومره صلاحیت نه لري چه د مطلق اجتهاد درجې ته ورسیږي البته د اجتهاد فی

المسائل اجازه اوس هم شته لیکن کوم خلك چه په نوي مسائلو کښې اجتهاد کوي په هغو کښې د اجتهاد د صلاحیت موجود والی ضروري دی پرته د اجتهاد له صلاحیت څخه د اجتهاد اجازه چاته نشته۔

قال العلامة النوویؒ: اما الاجتهاد مطلق فقالوا اختتم بالائمة الاربعة حتی اوجبوا تقلید واحد من هؤلاء علی امته و نقل امام الحرمین الاجماع علیه. (روضة الطالبین بحواله فتاوی رحیمیه ج ٤، ص ۱٤٦، کتاب العلم)

قال العلامه قاري محمد طیب صاحبؒ! باقي زه دا اعرض کوم چه د اجتهاد هغه نوع چه د علل، استنباط او اجتهاد فی الدین سره تعلق لري ټن ځکه نه ده موجوده چه ضرورت ټي پاتې شوی نه دی۔ ائمهٔ کرامو رحمهم الله دا کار تر هغه ځایه پوري د تکمیل درجې ته رسولی دی چه په راتلونکي کښې هم له هغه څخه د نفع اخیستلو صورت باقي پاتې کیږي او د زیات تحقیق او پلټنې هیڅ موقع نه پاتې کیږي۔ هو! د دې خاصې نوع په پریښودلو سره دکومې نوع چه په پرده باندې اوس هم جنس اجتهاد باقي دی چه هغه د عام تحقیق او پلټنې، په کتاب او سنتو کښې تدبیر، د هغه له لطائفو او حقائقو استخراج، د هرې زمانې د تکویني حوادثو سره تشریعي مسائلو ته تطبیق ورکول او مناسبه فتوی ورکول، د اسلام د معاندینو د نوي نوي شکوکو او شبهاتو تردید ات او له نصوصو څخه استنباط، د اسلام د اصولو د اثبات او تحقیق لپاره له کتاب او سنتو څخه مؤید ات پیدا کول او د اسې نور شیان دي۔ د اجتهاد دا نوع پرون هم وه ټن به هم وي او تل تر تله به وي۔ (اجتهاد او تقلید ص ۵۹ تا ٦٤ د اجتهاد یوه نوع ختم شوې ده)

د صحابهٔ کرامو په دور کښې د تقلید مسئله

سوال: جناب مفتي صاحب! لکه څرنګه چه ټن صبا د مذاهب اربعه وو تقلید کیږي همدا رنګه د صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم په دور کښې هم تقلید کیده او که تولو صحابهٔ کرامو پخپل اجتهاد سره کار کاوه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په صحابهٔ کرامو کښې هم دوه قسمه خلك وو ځینې مجتهد او ځینې مقلد وو نو لکه څرنګه چه په هغې زمانې کښې اجتهاد رائج وو همدا رنګه د مجتهد و صحابهٔ کرامو تقلید هم کیده او غیر مجتهد صحابهٔ کرامو د نورو مجتهد و صحابهٔ کرامو تقلید کاوه او د هغو په فتواوو به ټي عمل کاوه۔

عن سالم قال سئل ابن عمر عن رجل یکون له الدین علی الرجل الی اجل فیضع عنه صاحب الحق یعجله الأخر فکره ذلك عبد الله بن عمر و نهی عنه. (موطا امام مالکؒ ص ٤۲۷، کتاب البیوع، باب ما جاء فی الربا فی الدین)

قال الشیخ شاه ولی الدهلویؒ: لان الناس لم یزالوا من زمن الصحابة الی ان ظهرت المذاهب الاربعة یقلدون من اتفق من العلماء من غیر نکیر من احد یعتبر الکاره و لو کان ذلك باطلا لا نکروه. (عقد الجید مع سلك مروارید ص ۲۹، آخر باب دوم) و مثله فی اجتهاد و تقلید ص ٥٤، په صحابه وو کښې تقلید رواج وو۔

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

مجتهد ته په خطايي باندې هم اجر ورکول کيږي

سوال: که چېرته مجتهد په کومې مسئلې کښې اجتهاد وکړي او په هغې کښې خطايي وکړي نو آيا د خدای په نزد به ماخوذ وي او که ماجور؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: کله چه يو مجتهد په کومې مسئلې کښې اجتهاد وکړي او هغه مسئله صواب ته ورسيږي او صحيح شي نو هغه ته دوه ګوني اجر ورکول کيږي او که چېرته پکښې خطا شي نو د خدای په نزد به هغه ته بيا هم يو اجر ورکول کيږي۔

لما قال النبی ﷺ اذا حکم الحاکم فاجتهد فاصاب فله اجران و اذا حکم فاجتهد ثم اخطأ فله اجر واحد. (الصحیح البخاری ج۲، ص۱۰۹۲، باب اجر الحاکم)

د مجتهدينو په اقوالو باندې د فتوی د ورکولو حکم

سوال: محترم مفتي صاحب! کوم عالم چه پخپله مجتهد نه وي يعنې له قرآن او احاديثو څخه پرته له واسطې استنباط نه شي کولی نو د فتوی د ورکولو په وخت کښې هغه بايد څه وکړي؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: کوم عالم چه مفتي وي او د اجتهاد درجې ته نه وي رسيدلی نو د هغه لپاره دا ضروري ده چه د خپل امام د مذهب نقل به کوي او په هغه باندې به فتوی ورکوي۔

قال العلامة الحصکفیؒ: و ان الخلاف خاص بالقاضی المجتهد و اما المقلد فلا ینفذ قضاؤه بخلاف مذهبه اصلاً کما فی القنیة. (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج۱، ص۷۵، مطلب فی حکم التقلید و الرجوع عنه)

قال ابو حفص قال لی ابو اسحاق لما جلستُ فی جامع المنصور للفتیا ذکرتُ هذه المسئلة (ای مسألة حفظ اربعمائة حدیث للفتیا) فقال لی رجلٌ فاتت هو ذا الا تحفظ هذا المقدار حتی تفتی للناس فقلت لهٗ عافاك الله ان کنتُ لا احفظ هذا المقدار فانی هو ذا افتی الناس بقول من کان یحفظ هذا المقدار و اکثر منه هذا یرشدك الی انه اذا لم یکن الرجل من اهل الفتوی و الاجتهاد فعلیه ان یفتی بقول المجتهد. (مقدمة اعلاء السنن ج۲، ص۹، شرائط الافتاء، قواعد الفقه)

د څلورو مذاهبو تقليد ثبوت د حديثو په رنا کښې

سوال: محترم مفتي صاحب! زما يو ملګری د کارو بار په سلسله کښې له څو کلونو راهيسې په کراچی کښې اوسيږي او کله چه له کلي څخه کراچی ته تلو نو صحيح سني مسلمان وو۔ اوس په کراچی کښې اوسيږي او نظريات نې بدل شوي دي او وايي چه د مذاهب اربعه وو تقليد شرک دی ځکه چه له رسول الله ﷺ څخه د دې هيڅ ثبوت نشته۔ نو ستاسو له حضور څخه هيله ده چه آيا د مذاهب اربعه وو تقليد په ربښتيا هم شرک دی او له رسول الله ﷺ څخه نې څه ثبوت نشته او که څنګه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د مذاهب اربعه وو تقليد ته شرک ويل لاعلمي او جهل دی له غير مقلدينو څخه پرته هيڅا هم دي ته شرک نه دي ويلي بلکه په دې باندې د ټول امت تعامل

راغلی دی او د قرآن کريم ډير آيتونه او ګڼ شمير حديثونه د تقليد د اثبات تائيد کوي۔ د رسول الله ﷺ ارشاد ګرامي دی چه "اتبعوا السواد الاعظم" حضرت شاه ولي الله محدث دهلوي د دې حديث په تفسير کښې ليکي چه:

و لما اندرست المذاهب الحقة الا هذه الاربعة کان اتباعها اتباعاً للسواد الاعظم. (عقد الجید مع سلك مروارید ص۳۳، دریم باب، د دغو څلورو مذاهبو د غوره کولو الخ)

له دې وجهې ستاسو د ملګري دا خبره غلطه ده چه د مذاهب اربعه وو تقليد شرک او په حديثو باندې ثابت نه دی۔

شاه اسمٰعيل شهيد مقلد وو

سوال: ځينې خلك وايي چه حضرت مولانا شاه اسمٰعيل شهيد غير مقلد وو۔ په ائمه اربعه وو کښې نې د يوه تقليد هم نه کاوه نو آيا د دغو خلکو دا خبره صحيح ده او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: حضرت شاه اسمٰعيل شهيد رحمه الله ډير لوی عالم دين وو۔ الله تعالی ده ته لوی صلاحيت ورکړی وو چه پرته له واسطې څخه نې له قرآنکريم او نبوي احاديثو څخه مسئلې حل کولی او استخراج نې کولی شوای۔ ليکن چېرته چه صريح نص نه ور پيدا کيده هلته به نې بيا د امام ابو حنيفه رحمه الله په قول عمل کاوه۔ لکه څرنګه چه د ده له تصانيفو څخه هم څرګنديږي۔ د دې لپاره د خلکو دا وينا غلطه ده چه حضرت شاه اسمٰعيل شهيد په ائمه اربعه وو کښې د چا مقلد نه وو۔

لما قال الشیخ رشید احمد گنگوهیؒ: بنده چه کومې خبرې اوريدلې دي د مرحوم مولانا حال دا دی چه تر څو پورې ورته صحيح او غير منسوخ حديث پيدا کيده نو په هغه به نې عمل کاوه او که چېرته نه ور پيدا کيده نو د امام ابو حنيفه رحمه الله تقليد به نې کاوه۔ (فتاوی رشيديه، تاليفات رشيديه ص۲۰۹، د تقليد او اجتهاد مسائل)

د اجماع او قياس شرعي حيثيت

سوال: جناب مفتي صاحب! ځنې صبا غير مقلدين اجماع امت او قياس شرعي حجت نه مني او نه په اجماع او قياس سره ثابت شوي مسائل مني نو آيا د اجماع او قياس څه شرعي حيثيت شته او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د اسلامي احکاماتو استنباط د ادلهٔ اربعه وو په نتيجه کښې را ووځي چه د هغو له جملې څخه اجماع او قياس هم دي او له قرآني نصوصو، صحيحو احاديثو او د صحابه وو رضوان الله تعالی عليهم اجمعين له آثارو څخه هم ثابت دي نو څوك نې چه شرعي دليل نه مني هغه جاهل مرکب دی۔ (فتاوی رشيديه، تاليفات رشيديه ص۲۰۵، د تقليد او اجتهاد مسائل)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

مقلدینو ته د مشرك ویونکي د ایمان حکم

سوال: جناب مفتي صاحب! زمونږ په کلي کښې له جماعت المسلمین سره تعلق لرونکی یو سړی دی چه تولو مقلدینو ته مشرکین وایي او دا خبره هم کوي چه څوك چه په ائمه اربعه وو کښې د کوم یوه تقلید هم کوي هغه د اسلام له دائري څخه وتلی دی۔ د دا سې سړي په باره کښې د شریعت حکم څه دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: مطلق تقلید د قرآن او سنت له مخې ثابت دی او د خیر القرون څخه پرې تعامل جاري دی کوم سړی چه تقلید ته شرك وایي او د ائمه اربعه ووّ مقلدینو ته مشرکین وایي او د اسلام له دائري څخه ني وتلي بولي نو پخپله د نوموړي سړي په ایمان کښې نیمگړتیاوي شته چه لمونځ هم نه ورپسې کیږي۔ د دا سې سړي ته په کار دي چه د دا سې الفاظو له ویلو څخه پرهیز وکړي۔

لما قال العلامه المفتي کفایت الله رحمه الله: کوم سړی چه تقلید ته شرك وایي هغه په غلطه دی۔ او که چېرته تولو مقلدینو ته مشرکین ووایي نو د هغه د ایمان سلامتوالی مخدوش دی۔ په دا سې سړي پسې لمونځ نه کیږي، ځکه چه د تقلید ثبوت له قرآن مجید، صحیحو احادیثو، د صحابه ووّ له اقوالو، او اهل سلف له تعامل څخه په یقیني توګه موجود دی۔ او د شخصي تقلید جواز هم له قرآن، حدیثو، صحابه ووّ له اقوالو او د اهل سلف له تعامل څخه ثابت دی۔ پس دي ته شرك ویل جهالت دی۔ (کفایت المفتي ج۱، ص۳۲۵، کتاب العقائد، تقلید او اجتهاد)


څلور مذ هبونه د قرآن او سنتو موافق دي

سوال: نن صبا چه کوم څلور مذ هبونه په مسلمانانو کښې رواج دي، ځینې حنفیان، ځینې شافعیان، ځینې حنبلیان او ځینې مالکیان دي۔ په دغو څلورو مذ هبونو کښې کوم مذ هب له قرآن او سنتو سره موافق دی؟ ځکه چه غیر مقلدین دا وایي چه څلور واړه مذ هبونه له قرآن او سنتو سره موافق نه دي۔ آیا دي خلکو دا خبره کوم حقیقت لري او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د دین په اصولو او مبادیو کښې د اسلام تول امامان سره متفق دي، د عقائدو په اصولو کښې د هغوی تر منځ هیڅ اختلاف نشته، هو! په فروعي جزئیاتو کښې ني اختلاف تر منځ پیدا کیږي۔ لیکن دا اختلاف د اسلام په اصولو کښې نه بلکه له آنحضرت ﷺ څخه په مختلفو وختونو کښې د مختلفو اعمالو په ظهور باندي دی۔ د هغو د مختلفو مدارجو د ترتیب د نه معلوم والي یا نه تسلیمولو یا په مختلفو مواقعو او مقاصدو باندي ني د محمول کولو له وجهې دا څلور مذ هبونه پیدا شوي دي۔ او همدارنګه د ځینو غیر منصوصي مسائلو په حل کښې د دماغي تناسب او میلانونو د اختلاف له وجهې هم څه اختلافات پیدا شوي دي۔ یا په عربي لغاتو کښې د کثیر المعاني لفظ په تعین کښې د اختلاف

په بناء باندي په څلورو مذ هبونو کښې اختلاف پیدا شوی دی۔ د دي تر څنګ دا خبره هم باید په ذ هن کښې کښینوی چه له دي ډول اختلافاتو څخه یوه زمانه هم خالي نه ده پاتي شوي تر دي پورې چه د انبیاء کرامو علیهم السلام په شریعتونو کښې هم دا ډول اختلاقونه وو۔ په صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم کښې هم په فروعي مسائلو کښې اختلاف وو، او شرعاً په دي کښې هیڅ بدي نشته۔ د رحمت نبي ﷺ د دي اختلاف په باره کښې فرمایلي دي چه "اختلاف امتی رحمة" (زما د امت د امامانو اختلاف رحمت دی) لهذا څلور مذ هبونه په حق باندي دي او یو مذ هب هم په باطله نه دی۔

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

کتاب البدعة و الرسوم

(د بدعتونو او رواجونو احکام او مسئلې)

د بدعت تعریف

سوال: جناب مفتي صاحب! د بدعت جامع او مانع تعریف څه شی دی نن صبا ځینې خلك هر نوي شي ته بدعت وایي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د بدعت لغوي معنٰی الاحداث یعني د نوی شی پیدا کیدل دي او د شریعت په اصطلاح کښې ئې مختلف تعریفونه شوي دي او په تولو تعریفونو کښې ئې جامع او مانع تعریف هغه دی کوم چه علامه ابن رجب رحمه الله تعالی او د دلسې نورو محققینو بیان کړی دی چه بدعت د شریعت له مخې هغه عمل ته وایي چه د اسلام په مقدس دین کښې ئې بنیاد نه وي۔ د دي تعریف له مخې تول هغه اعمال چه ځینې حضرات ورته بدعت وایي خارجیږي۔

لما قال العلامة ابن رجب الحنبلیؒ: و المراد با لبدعة ما احدث مما لا اصل لهٗ فی الشریعة یدل علیه و اما ما کان لهٗ اصل من الشرع یدل فلیس ببدعة شرعاً و ان کان بدعة لغة. (کتاب جامع العلوم و الحکم ص ۲۳۳، الحدیث الثامن و العشرون)

قال العلامة القرطبی رحمه الله: کل بدعة صدرت من مخلوق فلا یخلو ان یکون لها اصل فی الشرع اولا فان کان لها اصل کانت واقعه تحت ما ندب الله الیه و حض رسُوله الیه فهی فی حیز المدح و ان لم یکن مثالهٗ الخ (احکام القرآن للقرطبیؒ ج ۱، ص ۸۷، سورة البقرة) و مثله فی صفوة التفاسیر ج ۱، ص ۹۲، سورة البقرة)

د بدعت حسنه او بدعت سیئه تحقیق

سوال: په بدعت حسنه او بدعت سیئه کښې فرق څرګند کړی ځینې خلك د بدعت دا تعریف یعني حسنه او سیئه بالکل نه منې په دلسې حال کښې چه مونږ له اکثرو علماوو څخه دا تقسیم اوریدلی دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: اصطلاحي او شرعي بدعت په هر صورت کښې مذموم او بد دی البته لغوي بدعت د خپلو قسمونو په اعتبار سره شرعي او حقیقي بدعت نه پاتې کیږي بلکه صوري بدعت ترې جوړیږي او د بدعت دي صورت ته له سنتو سره د مشابهت له وجهې بدعت حسنه ویل کیږي۔ چنانچه حضرت تهانوي صاحب فرمایي چه په دي باب کښې قاعده کلیه دا ده چه کوم امر کلیا او جزئیا په دین کښې نه وي او په شبهې سره عملا او علماً د دین جزء جوړ شوی وي او له شرعي احکامو سره څه مزاحمت ولري نو دا بدعت دی۔ د دي خبرې لپاره دا حدیث شریف دلیل دی "من احدث فی امرنا هذا ما لیس منه فهو رد" د "من" او فی" کلمه په دي باندې واضح دلالت کوي او حقیقي بدعت د همیشه لپاره سیئه وي لیکن صوري بدعت حسنه وي۔ (امداد الفتاوٰی ج ۵، ص ۲۸۵، کتاب البدعات)

قال العلامة ابن حجر العسقلانیؒ: و التحقیق انها ان کانت مما تندرج تحت مستحسن فی الشرع فهی حسنة و ان کانت من ما تندرج تحت مستقبح فی الشرع فهی مستقبحة و الا فهی من قسم المباح و قد تنقسم الی الاحکام الخمسة. (فتح الباری ج ٤، ص ۲۱۹، کتاب الصلوٰة التراویح) و مثله فی المنهاج الواضح، بحوالهٗ راه سنت ص ۹۸)

د بدعت للدین د جواز حکم

سوال: په بدعت فی الدین او بدعت للدین کښې څه فرق دی؟ او هغه کوم اصول دي چه له مخې ئې په دوارو بدعتونو کښې تفریق او تمیز کیدلی شي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: الله تعالی د خپل مکرم رسول جناب محمد رسول الله د دین تولې ضروري خبرې په قرآن او حدیث کښې بندګانو ته بنودلي دي او اوس په دین کښې د کومې نوي خبرې ایستل چه په دینِ متین کښې نه وي او خلك ئې دین وګڼي او عمل پرې وکړي نو دلسې نوي خبرې ته بدعت فی الدین او احداث فی الدین ویل کیږي او دي ته فقهاوو ناجائز ویلي دي او د دي برعکس هغه کار چه اصل ئې په دینِ متین کښې وي نو هغه د بدعت للدین په حساب کښې راځي او دلسې بدعت فقهاء کرامو له ځینو شرائطو سره جائز ګرځولی دی۔

چنانچه حکیم الامت حضرت تهانوي رحمه الله فرمایي چه د بدعت حقیقت خو دا دی چه هغه دین وګڼي او غوره ئې کړي او که چیرته ئې معالجه وبولي او اختیار ئې کړي نو بیا څنګه بدعت کیدلی شي؟ پس یو احداث للدین دی او بل احداث فی الدین دی او د احداث للدین معنی سنت دی او احداث فی الدین معنی بدعت دی۔ (تحفه العلماء ج ۲، ص ۱٤۰، د حنفي فقهي اصولو او ضوابطو الباب السادس د سنتو تعریف)

په قبر باندې د آذان کولو حکم

سوال: په ځینو علاقو کښې دا رواج دی چه کله مړی په لحد کښې کښیږدي نو د ډبرې له اینبودلو نه وروسته او د خاورې له اړولو نه مخکښې آذان پرې کوي په دي باره کښې د شریعت څه حکم دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په قبر باندې آذان کول د آذان له مواقعو څخه نه دی په دلسې حال کښې چه د آذان مواقع شرعا بنکاره دي۔ لهذا دا بنکاره خبره ده چه په قبر باندې آذان کول بدعت دي له دي وجهې باید پرهیز ترې وشي۔

قال العلامة ابن عابدینؒ: تحت (دفن المیت) لا یسن الآذان عند ادخال المیت فی قبره کما هو المعتاد الآن. وقد صرح ابن الحجرؒ فی فتاوٰی بانه بدعة و قال و من ظن انهٗ سنة قیاساً علی ندبها للمولود الحاقاً لخاتمة الامر. (رد المحتار ج ۱، ص ۲۵۸، باب الآذان)

لما قال العلامة اشرف علی التهانویؒ: په هر حال په شرعي دلیل سره د نه ثابتوالي له وجهې دا عمل بدعت دی۔ (امداد الفتاوٰی ج ۵، ص ۳۰۲، کتاب البدعات)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

مـــــړي ته د غسل له ورکولو نه مخکښې د تعزیت حکم

سوال: په ځینو علاقو کښې د ارواح دی چه مړي ته د غسل له ورکولو او تجهیز او تکفین نه مخکښې خلك د مړي وارثانو ته تعزیت شروع کوي نو د دې تعزیت شرعي حکم څه دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د مړي وارثانو ته په هغه وخت کښې تعزیت مسنون دی کله چه هغوی د تعزیت لپاره کښینی که هغوی د مړي له ښخولو نه مخکښې کښینی او که وروسته۔ البته د تعزیت لپاره د مړي له ښخولو نه وروسته کښیناستل بهتر دي لیکن که چېرته له دفن کولو نه مخکښې یا وروسته له تعزیت څخه د مړي وارثان پریشانه کیدل نو بیا تعزیت ورته مکروه دی۔

و فی الهندیة: و هی بعد الدفن اولی منها قبله. (الفتاوی الهندیة ج۱، ص۱۶۷، کتاب الجنائز، یتصل بذلك المسائل)

قال العلامة ابن عابدینؒ: و قال کثیر من متاخرین المتنا یکره الاجتماع عند صاحب البیت و یکره له الجلوس فی بیته حتی یاتی الیه من یعزی بل اذا فرغ و رجع من الدفن فلیتفرقوا و یشتغل الناس بامورهم و صاحب البیت بامره. آه. (رد المحتار علی الدر المختار ج۱، ص۶۰۴، کتاب الجنائز)

قال العلامة وهبة الزحیلیؒ: و هی بعد الدفن افضل منها قبله لان اهل المیت مشغولون بتجهیز و وحشتهم بعد الدفن لقراقه اکثر. (الفقه الاسلامی و ادلتهٗ ج۲، ص۵۴۳، المطلب الثالث التعزیة الخ)

له دریو ورځو وروسته د تعـــــزیت حکم

سوال: په عامه توګه سره لیدل شوي دي چه د چا مړی وشي او له هغه څخه وروسته دري ورځې په خونه یا جومات کښې د تعزیت لپاره کښینی آیا شرعا دري ورځې تعزیت جائز دی او که نه؟ او آیا له دریو ورځو وروسته تعزیت څه حکم لري؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د مقیمو خلکو لپاره تر دریو ورځو پورې د مړي وارثانو لپاره تعزیت جائز دی۔ البته غائب سړی چه هیڅ ډول تعزیت ني ورته نه وي کړی نو چه کله کور ته راشي تعزیت کولی شي اګر که له ډیر وخت نه وروسته هم وي۔

لما فی الهندیة: وقتها حین یموت الی ثلاثة ایام و یکره بعدها الا ان یکون المعزی او المعزٰی الیه غائباً فلا باس بها. (الفتاوی الهندیة ج۱، ص۱۶۷، کتاب الجنائز، فصل فی التعزیة)

قال العلامة ابن عابدینؒ: و فی الاحکام عن خزانة الفتاوٰی الجلوس فی المصیبة ثلاثة ایام للرجال جاءت الرخصة فیه و لا تجلس النساء قطعاً. (رد المحتار علی الدر المختار ج۱، ص۶۰۴، کتاب الجنائز)

په چاړه سره د ډوډۍ د پرې کولو د رواج حکم

سوال: نن صبا د ارواح عام دی چه په ودونو او نورو خوښیو کښې خلك ډوډۍ، غوښه او د لسي نور شیان په چرو باندې پرې کوي او خوري ني د دې رواج په باره کښې د شریعت څه حکم دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: مناسبه او بهتره دا ده چه حتی الامکان ډوډۍ، غوښه او د لسي نور شیان په چرو او چاقو ګانو پرې نه کړي۔ د یوه مسلمان لپاره د ډوډۍ ادب او احترام ډیر ضروري دی لیکن په ودونو او نورو خوښیو کښې د لسي کول جائز او مرخص دي او کوم روایت چه د منع په باره کښې مشهور دی هغه شرعا صحیح نه دی۔

لما قال العلامة ابن الجوزی رحمه الله: قال نهی رسول اللهﷺ ان یقطع الخبز بالسکین و قال اکرموه فان الله عز وجل قد اکرمه. قال ابن الجوزیؒ قال دار قطنی تفرد به نوح و هو متروك و کذلك قال مسلم بن الحجاج و ابو حاتم الرازی هو متروك و قال یحیٰی نوح لا یکتب حدیثهٗ لیس بشیء. و قال ابن حبان لا یجوز الاحتجاج به. (الموضوعات ج۲، ص۲۹۱، باب فصل الخبز)

د تعزیت لپاره په مناسب ځای کښې کښیناستل په کار دي

سوال: ځینې خلك د تعزیت لپاره په لاره کښې دری، غورۍ او کښینی او ځینې خلك حجرې او جومات ونه د دې کار لپاره استعمالوي نو د تعزیت لپاره باید شرعا په کوم ځای کښې سړی کښینی او همدارنګه په تعزیت کښې د کومو الفاظو ویل په کار دي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د یوه مسلمان په مړینې باندې د هغوی د وارثانو لپاره تعزیت سنت دی۔ نو د تعزیت لپاره چه کوم ځای مناسب وي استعمالولی ني شي یعني د لسي ځای چه په تعزیت کښې کښیناستونکو او راتلونکو خلکو ته تکلیف نه وي۔ البته په لاره او دروازو کښې کښیناستل بده خبره ده او د دې لازم ګڼل بدعت دي۔

لما فی الهندیة: و لا باس لاهل المصیبة ان یجلسوا فی البیت او فی مسجد ثلاثة ایام و الناس یاتونهم و یعزونهم و یکره الجلوس علی باب الدار و ما یصنع فی بلاد العجم من فرش البسط و القیام علی قوارع الطرق من اقبح القبائح، کذا فی الظهیریة. (الفتاوی الهندیة ج۱، ص۱۶۷، کتاب الجنائز، فصل فی التعزیة)

قال العلامة وهبة الزحیلی: و قال الحنفیة لا باس بالجلوس للتعزیة فی غیر المسجد ثلاثة ایام و اولها افضلها. (الفقه الاسلامی و ادلتهٗ ج۲، ص۵۴۴، المطلب الثالث فی التعزیة)

په تعزیت کښې د صبر، د غم د هیرولو او له حوصلې څخه د کار اخیستلو الفاظ استعمالول مناسب دي۔ او بهترینې کلمې دا دي: ان الله ما اخذ والهٗ ما اعطی و کل شیء عنده باجل مسمّٰی. (الفتاوی الهندیة ج۱، ص۱۶۷، فصل فی التعزیة)

د ایصال ثواب لپاره قرآن خواني او د ځلوینښتمې ورځې شرعي حیثیت

سوال: نن صبا د مړي د ایصال ثواب لپاره ډیر په اهتمام سره د جُمعې د شپې، دریمې، لسمې او ځلوینښتمې رسمونه او رواجونه ادا کیږي او چه څوك ني نه کوي هغه ملامت کیږي او خلك رد بد ورته وایي۔ پوښتنه دا ده چه د دغو رواجونو په مقدس شریعت کښې څه حیثیت شته او که نه او که د ځینو خلکو د وینا مطابق بدعت دي؟ بینوا توجروا۔

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

الجواب باسم ملهم الصواب: د مړي و ارثانو ته د ایصال ثواب لپاره صدقات هر وخت جائز دي لیکن د وخت د تعین چه کوم صورتونه په عوامو کښي مروج دي لکه د جُمعې د شپې، دریمه، لسمه، څلویښتمه او د اسې نور۔ نو د دې تخصیص له وجهې شرعاً ناجائز دي ځکه چه د تخصیص او التزام له وجهې کله کله مباح او جائز افعال هم ناجائز ګرځي۔

قال العلامه النوویؒ: و الطعام فی الایام المخصوصة کالثالث و الخامس و التاسع و العشرین و الاربعین و الشهر السادس و السنة بدعة ممنوعة. (شرح منهاج بحوالهٔ راه سنت ص ۲۶۵)

قال العلامه ابن البزاز رحمه الله: و یکره اتخاذ الطعام فی الیوم الاوّل و الثالث و بعد الاسبوع و الاعیاد. (الفتاوی البزازیة علی هامش الهندیة ج ٤، ص ٨١) و مثله فی رد المحتار ج ١، ص ٦٠٣، مطلب فی کراهة الضیافة من اهل المیت)

په صفر المظفر کښي د ډوډۍ د مالیدې د رواج شرعي حیثیت

سوال: په عوامو کښي مشهوره ده چه د صفر په میاشت کښي له آسمان څخه بلا ګاني نازلیږي او بیا د دې میاشتي په آخري چهار شنبې کښي کور وغیره صفا کوي او شیرینې او چورې (په غورو کښي پاخه شوي غنم) تقسیموي۔ نو آیا د ارواج شرعاً جائز دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: دا ټول خرافات او د جاهلیت خبرې دي۔ په دې مبارکه میاشت کښي هیڅ بلا له آسمان څخه نه نازلیږي او د خوڑو او چوریو د تقسیمولو اهتمام او التزام بدعت دی۔

عن جابر رضی الله عنه قال سمعت رسول الله ﷺ یقول لا عدوی و لا صفر و لا غول. اخرجه مسلم. (ما ثبت بالسنة للشیخ عبد الحق محدث دهلوی ص ٢٦٦)

د بزرګانو د لاسونو بنکلول بدعت نه دي

سوال: د علماوو او مشائخو او نیکو خلکو لاسونه په تیتي ملاسره بنکلول څنګه دي؟ او آیا دي ته بدعت ویل صحیح دي؟ په دې اسې حال کښي چه په افغانستان او ځینو نورو منطقو کښي د دي عام رواج دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د مشائخ کرامو او نیکو خلکو د لاسونو بنکلول جائز دي البته په دې موقع کښي د رکوع غوندې کیفیت اختیارول او تیتیدل ناجائز او حرام دي۔ د دې لپاره که چیرته نې له تیتیدو پرته بنکل کړي نو پروا نه لري او بدعت ویل ورته هم صحیح نه دي۔

لما قال العلامة ملا علی قاری رحمه الله: و قیل لا یکره التقبیل لزهد و علم و کبر سن قال النوویؒ تقبیل یدا لغیر ان کان لعلمه و صیانته و زهده و دیانته و نحو ذلك من الامور الدینیّة لم یکره بل یستحب و ان کان لغناه او جاهه فی دنیاه کره. (مرقات ج ٩، ص ٧٦، باب المصافحة و المعانقة، الفصل الثانی)

قال العلامة ابن عابدینؒ: و لا بأس بتقبیل ید الرجل العالم و المتورع علی سبیل التبرك..... الخ. (رد المحتار ج ٥، ص ٢٧١، قبیل فصل فی البیع، کتاب الخطر و الاباحة)

په تشهد کښي په ګوتي سره د اشـــــاري حکم

سوال: زمونږ په کلي کښي یوې مسلي ډیر شدت اختیار کړی دی چه د لمانځه په تشهد یعني التحیاتو کښي د اشهد ان لا اله الا الله د ویلو په وخت کښي اشاري کولو ته ځیني خلك بدعت وایي آن تر دي پورې چه د ځینو خلکو ګوتي هم ماتي کړی شوي نو شرعاً د دا سې اشاري څه حکم دی؟ که چیرته جائزه وي نو بدعت ویل ورته ځنګه دي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په تشهد کښي د اشهد ان لا اله الا الله ویلو په وخت کښي په ګوتي سره اشاره په نبوي احادیثو سره ثابته ده چه مختلف شکلونه ئې دي لیکن د احنافوؒ په نزد مختاره طریقه هغه ده کومه چه وائل بن حجر په روایت کښي راغلي ده چه د وسطی یعني منځنۍ ګوتي او ابهام یعني غټي ګوتي ځخه دي حلقه جوړه کړي او خنصره (خچه ګوته) او بنصره (تر خچې ګوتي وروسته دوهمه ګوته) دي ماتي کړي او سرونه دي له ورغوي سره ولګوي او په سبابه (د شهادت) په ګوته دي اشاره وکړي۔

کما فعل علیه السلام: عن وائل ابن حجر عن رسول الله ﷺ قال ثم جلس فافترش رجله الیسری و وضع یده الیسری علی فخذه الیسری و مد مرفقه الیمنی علی مخذه الیمنی و قبض ثنتین و حلق حلقة ثم رفع اصبعه فرأیته یحرکها یدعو بها. (مشکوٰة ص ٨٥، باب التشهد، الفصل الثانی)

دا ټولې طریقې فقهاء کرامو ذکر کړي دي له دي وجهې بدعت ورته ویل له علم ځخه د لرې والي دلیل دی۔ علامه ملا علي قاري دغه ټولې طریقې نقل کړي دي او نومورې طریقه ئې راجحه یعني غوره ګڼلې ده او فرمایلي ئې دي چه:

و الاخیر هو المختار عندنا. (مرقات ج ٢، ص ٣٢٨، باب التشهد، الفصل الثانی)

اخرج الامام ابو داؤدؒ: عن وائل ابن حجر قال کان رسول الله ﷺ اذا قعد فی الصلوة جعل قدمه الیسری تحت فخذه الیمنی و ساقه و فرش قدمه الیمنی و وضع یده الیسری علی رکبته الیسری و وضع یده الیمنی علی فخذه الیمنی و اشار باصبعه و ارانا عبد الواحد و اشار بالسبابة. (سنن ابی داؤد ج ١، ص ١٢٩، کتاب الصلوة، باب الاشارة فی التشهد) و مثله فی رد المحتار ج ١، ص ٤٤١، کتاب الصلوة، باب صفة الصلوة)

د تـــــل لپاره له پګړۍ سره د لمانځه د کولو حکم

سوال: ځیني حضرات له پګړۍ سره لمونځ سنت بولي او دوام پرې کوي او هغو خلکو پسې ردي بدي خبرې کوي چه له پګړۍ پرته لمونځونه کوي۔ نو آیا له پګړۍ پرته لمونځ جائز دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: پګړۍ د نبي کریم ﷺ له سنتونو ځخه یو سنت دی او بهتره دا ده چه سړی لمونځ له پګړۍ سره وکړي او مستحب هم دی۔ لیکن دومره دوام او همیشه توب پرې کول چه له پګړۍ پرته لمونځ کوونکو پسې یو ځوك رد بد وایي نو دا د غلو فی الدین سره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

برابره ده کوم چه شرعاً ممنوع دی له دې وجهې له پګړۍ څخه پرته هم لمونځ له کراهیت پرته جائز دی۔ بیا هم که چېرته یوه مستحب کار ته د وجوب درجه ورکړی شي نو بیا ئې پریښودل واجب دي۔

لما قال العلامة طاهر بن عبد الرشيد البخاريؒ: و المستحب ان يصلي الرجل في ثلاثة ثواب قميص و ازار و عمامة (خلاصة الفتاوى مع مجموعة الفتاوى ج ۱، ص ۷۳، الفصل السادس في ستر العورة)

قال العلامة ابراهيم الحلبيؒ: و فيه لو صلى في ثوب واحد متوشحا به جمع بدنه كما يفعلهُ القصّار في المقصرة جاز من غير كراهة مع ليسر وجود الواتد و لكن فيه ترك الاستحباب حينئذ. (كبيرى شرح منية ص ۳۴۹، فصل في ما يكره فعله في الصلوة و ما لا يكره) و مثله في الهندية ج ۱، ص ۵۹، الباب الثالث في شروط الصلوة، الفصل الاول في الطهارة و ستر العورة)

له دریو ورځو مخکښې د مړي په کور کښې د خوراک او څښاک حکم

سوال: څه فرمایي علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چه لومړیو دریو ورځو کښې د مړي په کور کښې خوراک او څښاک جائز دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د مړي په کور کښې تر دریو ورځو پورې خوراک څښاک فقهاوو مکروه بللی دی علامه ابن عابدین فرمایي:

و قال ايضاً يكره اتخاذ الضيافة من الطعام من اهل الميت لانه شرع في السرور لا في الشرور و هي بدعة مستقبحة روى الامام احمد و ابن ماجة باسناد صحيح عن جرير ابن عبد الله قال كنا نعد الاجتماع الى اهل الميت و صنعهم الطعام من النياحة. (رد المحتار ج ۱، ص ۶۰۳، كتاب الجنائز، مطلب في كراهة الضيافة من اهل الميت)

البته دا حکم د هغه خوراک په باره کښې دی چه د مړي په کور کښې د ضیافت په توګه پخیږي لکه په ځینو علاقو کښې ئې چه عام رواج دی او که چېرته د مړي کور ته نور خلك ډوډۍ راوړي او په دوی باندې نور خلك ډوډۍ وخوري نو بیا څه پروا نه لري بلکه دا یو مستحب کار دی۔ علامه ابن عابدین رحمه الله فرمایي:

قال في الفتح و يستحب لجيران الميّت و اقربائه الا باعد تهيئة طعام لهم يشبعهم يومهم و ليلتهم لقوله عليه السلام اصنعوا لآل جعفر طعاماً فقد جاء هم ما يشغلهم حسنه الترمذى و صححه الحاكم و لانهُ برٌّ و معروف و يلح عليهم في الاكل لان الحزن يمنعهم من ذلك فيضعفون. (رد المحتار ج ۱، ص ۶۰۳، باب صلوة الجنائز، تحت مطلب في كراهة الضيافة من اهل الميت)

باقي پاتې شوه دا خبره چه که چېرته د مړي وارثان او اولیاء د مړي په کور کښې خوراک تیار کړي او په نورو خلکو باندې ئې د ایصال ثواب په نیت وخوري نو په دا سې ډوډۍ کښې هم څه حرج نشته لیکن په دې کښې د کومې خاصې ورځې او خاص وخت تعین ضروري نه دی او د ورځو د تخصیص له وجهې علماوو دې ته هم مکروه ویلي دي۔

قال العلامة ابن النجارؒ: و يكره اتخاذ الطعام في اليوم الاول و الثالث و بعد الاسبوع و اتخاذ الدعوة لقراءة القرآن و جمع الصلحاء و القرّاء للختم الخ و الحاصل ان اتخاذ الطعام عند قراءة القرآن لاجل الاكل يكره. او په معراج الدرایه

کښې دي چه: و هذه الافعال كلها للسمعة و الرياء فيتحرز عنها لانهم لا يريدون بها وجه الله تعالى. (الفتاوى البزازية على هامش الهندية ج ۴، ص ۸۱، كتاب الجنائز)

او د ایصال ثواب لپاره د مړي په کور کښې د خوراک تیارول او خیرات کول هغه وخت جائز دی چه لاندینې شرائط پکښې موجود وي۔

﴿۱﴾ په خیرات کښې ئې د رسم او رواج د پوره کولو هیڅ نیت نه وي۔

﴿۲﴾ د ریا او ځان ښوونې لپاره هم نه وي۔

﴿۳﴾ د ترکې له تقسیم نه وروسته وي او که چېرته د ترکې له تقسیم نه مخکښې وي نو د تولو مستحقو وارثانو چه بالغ او عاقل وي او د تولو له خوا ځخه په طیب خاطر سره یعني په ښه زړه سره اجازه وي۔ او که چېرته په وارثانو کښې د یوه اجازه هم نه وي نو بیا ناروا ده۔ په دې صورت کښې که چېرته بالغ وارث د نورو وارثانو له اجازې پرته خرچه وکړه نو ذمه واري به ئې په نورو وارثانو باندې نه وي بلکه خرڅ کوونکی به ئې پخپله ذمه وار وي۔ یعني د خیرات تول مصرف به یواځې د هغه پر غاړه وي۔

﴿۴﴾ له حلال مال ځخه وي۔ د سود او په نورو حرامو طریقو سره په ګټل شوي مال باندې هم جائز نه دی۔

﴿۵﴾ او همدارنګه د وخت او ورځې تخصیص هم پکښې نه وي او که وي نو بیا به بدعت ګټل کیږي۔

د ډوډۍ ښکُلول بدعت نه دي

سوال: له یوه سړي ځخه په غلطۍ باندې ډوډۍ ولویده نو بل سړي ورته وویل چه ډوډۍ پورته کړه، ښکُل ئې کړه، ادب او احترام ئې وکړه که نه نو بد دعا درته کوي۔ ده په ځواب کښې ورته وویل چه نه دا تو هم پرستي او بدعت دی۔ نو آیا په ریښتیا هم د ډوډۍ ښکُلول تو هم پرستي او بدعت دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: لاندې لویدلې ډوډۍ پورته کول او له ضائع کیدو نه ئې بچ کول په ریښتیا هم د رزق ادب دی او له اسراف ځخه د ځان ساتل دي لیکن بیا هم د لویدلې ډوډۍ ښکُلول او نه ښکل کوونکی ئې ګنهګار بلل او په بد فالي باندې نیول او بدعت ورته ویل صحیح نه دي۔ چونکه رزق د الله تعالی لوی نعمت دی او د الله تعالی د نعمت قدر کول او ښکُلول ئې هم مباح او جائز دي۔

قال العلامة الحصكفيؒ: و اما تقبيل الخبز فحرّزه الشافعية انهُ بدعة مباحة و قيل حسنة..... الخ و قواعدنا لا تأباه. (الدر المختار على هامش ردا لمحتار ج ۵، ص ۲۷۲، كتاب الحظر و الاباحة، باب الاستبراء و غيره، فصل في البيع)

د ضرورت په وخت کښې په چاړه سره د ډوډۍ د پرې کولو حکم

سوال: نن صبا د بیکرۍ دوکاندار ان ډبلې ډوډۍ (ډبل روټی) په لفافې کښې د اچولو د آسانتیا لپاره په تیري چرې باندې پرې کوي او بیا ئې لفافې ته اچوي نو آیا د دا سې کول له ډوډۍ سره بې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

ادبي او يو بد رواج نه دی؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د ضرورت په وخت کښې دوډی او د اسې نور شيان په چرو پرې کول جائز دي او کومه ګناه او بد رواج نه دی۔

قال العلامة ابن عابدينؒ: و في المجتبى لا يكره قطع الخبز و اللحم با لسكين. (رد المحتار على الدر المختار ج۵، ص۲۷۲، كتاب الخطر و الاباحة، باب الاستبراء، قبيل فصل في البيع)

د جنازې د پورته کولو په وخت کښې ذکر بالجهر مکروه دی

سوال: نن صبا اکثره ليدل شوي دي چه کله جنازه قبرستان او د جنازې ځای ته وړې نو د جنازې هر نوی پورته کوونکی سړی د شهادت کلمه په زوره سره وايي۔ په مقدس شريعت کښې د دې څه حکم دی په د اسې حال کښې چه ځينې خلك بدعت ورته وايي؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په جنازې کښې شريك خلك که چېرته غواړي چه ذکر وکړي نو پخپل زړه کښې دي په پته سره وکړي۔ د آواز د پورته کول او نعرې لګول علماء کرامو مکروه بللي دي ځکه چه د اسې وخت د عبرت او تفکر وخت وي نو په د اسې وخت کښې خاموشي (چپتيا) بهتره وي۔

قال العلامة عبد الحي الكهنويؒ: يكره رفع الصوت با لذكر و القراءة لحامل الجنازة و من معهم تحريماً و قيل تنزيهاً و ينبغي ان يطيلوا الصمت و لو ارادو الذكر ذكروا في انفسهم. كذا في فتح القدير و في الجواهر النفيسة شرح الدرة المنيفة: لا يرفع صوتهٗ با لذكر اى يكره رفع الصوت با لذكر و القراءة و التكبير خلف الجنازة. (سباحة الفكر في الجهر با لذكر ص۵۵، الباب الثاني في ذكر مواضع الجهر)

قال العلامة وهبة الزحيلي: اللفظ اى رفع الصوت بذكر او قراءة و الصياح خلف الجنازة كقول استغفروا لها و نحو لما روى البيهقي ان الصحابة كرهوا رفع الصوت عند الجنائز و عند القتال و عند الذكر..... و الصواب ما كان عليه السلف من السكوت في حال السير مع الجنازة و الاشتغال با لتفكر في الموت و ما يتعلق به. (الفقه الاسلامي و ادلتهٗ ج۲، ص۵۱۷، مكروهات الجنازة)

په قرآني آيتونو باندې منقش شوی څادر په مړي باندې د اچولو حکم

سوال: په اکثرو ځايونو کښې له غسل او کفن څخه وروسته د بنځولو لپاره د وړلو په وخت کښې په مړي باندې د اسې څادر اچول کيږي چه قرآني آيتونه پکښې ليکلي او منقش شوي وي کوم چه ځينې خلك بدعت ورته وايي۔ نو په مقدس شريعت کښې د دې څه حکم دی؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د صورت مسئوله مطابق په مړي باندې په قرآني آيتونو ليکل شوی څادر اچول اګر که في نفسه جائز دي ليکن د قرآن د توهين او بې ادبی له وجهې جائز نه دي۔

قال العلامة الحصكفي رحمه الله: بساط او غيره كُتِبَ عليه الملك لله يكره بسطه و استعمالهٗ لا تعليقه للزينة آه. ثم قال بعد اسطرٍ قلتُ و ظاهره النفاء الكراهة بمجرد تعظيمه و حفظه. (الدر المختار على هامش رد المحتار ج۱،

ص۶۲۰، باب المياه، كتاب الطهارة)

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: القول في فتح القدير و نكره كتابة القرآن و اسماء الله تعالى على الدراهم و المحاريب و الجدران و ما يفرش آه. و قال ما ذالك الا لاحترامه و خشيه وطئه و نحوه مما فيه اهانة. (رد المحتار ج۱، ص۶۰۷، قبيل باب الشهيد، كتاب الصلوة)

د خپل ځان لپاره له مخکښې څخه قبر تيارول بدعت نه دي

سوال: زمونږ په کلي کښې يوه سړي د خپل ځان لپاره په ژوندوني قبر جوړ کړی دی چه کله کله پکښې پريووځي او ويده کيږي هم۔ ځينو خلك بدعت ورته وايي او ځينې وايي چه نه بدعت نه دی بلکه يو لوی دعوت دی۔ په دې باره کښې د شريعت څه حکم دی؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د مرګ يادول او د آخرت د مناظرو تصور او يقين په زړه کښې پيدا کول او کښينول د قرآنکريم او نبوي احاديثو د ډيرو روايتونو له مخې ثابت دي او همدارنګه د صحابهٗ کرامو او مشائخ عظامو له مسلسلو واقعاتو څخه په قطعي توګه ثابت دي چه د دې پر بنا سره په نيکو اعمالو کښې ډير والی ډير ضروري شی دی۔ او بله دا چه په حسي توګه د قبر ځای اخيستل او مخصوصول هم په يوه اعتبار سره د مرګ لپاره تيارولی دی او د مرګ د په زړه کولو نومورې صورت او طريقه د دعوت د مبلغينو حضراتو په نزد نه رائج دی او نه رائج وو۔ البته که چېرته څوك په انفرادي توګه سره د مرګ د وريادیدو په نيت په ژوندوني ځان ته قبر جوړ کړي نو د اسې کول د شريعت خلاف نه دی بلکه د اسې کوونکي سړی به د اجر مستحق هم وي۔

لما قال العلامة ابن عابدينؒ: تحت قوله (و يحفر قبراً لنفسه) اى و لا بأس به. و التاتارخانية لا بأس به و يؤجر عليه هكذا عمل عمر بن عبد العزيز و الربيع بن خيثم و غيرهما. (رد المحتار ج۱، ص۶۰۶، كتاب الجنائز، قبيل الصفحة الواحدة من باب الشهيد)

د جُمعې او عيدينو د لمونځونو نه وروسته د مروجه مصافحې حکم

سوال: نن صبا د جُمعې او اخترونو تر لمونځونو وروسته په جوماتونو کښې چه کومه مصافحه مروجه ده په دې باره کښې د شريعت څه حکم دی؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د جُمعې او عيدينو د لمانځه نه وروسته په مصافحه کولو کښې د علماء کرامو اختلاف دی۔ حضرت تهانوي رحمه الله او د اسې نورو محققينو علماء کرامو منع کړې ده او ځينو نورو حضراتو بيا اجازه ورکړې ده۔ له دې وجهې که چېرته په مصافحه کښې التزام ما لا يلزم وي نو بيا ممنوع دی او که نه وي نو بيا ممنوع نه دی۔ بيا هم نه کول ئې بهتر دي۔

قال العلامة ابن عابدينؒ: و نقل في تبيين المحارم عن الملتقط انهٗ تكره المصافحة بعد اداء الصلوة بكل حال لان الصحابة رضي الله عنهم ما صافحوا بعد اداء الصلوة و لانها من سنن الروافض ثم نقل عن ابن حجر عن الشافعية انه بدعة مكروهة لا اصل لها في الشرع و انهٗ فاعلها اوّلاً و يعزر ثانياً ثم قال ابن الحاج من المالكية في المدخل انها من البدع و موضع المصافحة في الشرع انما هو عند لقاء المسلم لاخيه لا في ادبار الصلوة فحيث وضعها الشرع بضعها فينهى عن ذلك و

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

یزجر فاعلهٗ لما اتی به خلاف السنة. (رد المحتار ج۵، ص۲۵۲، و ایضاً فی النسخة الاخری. (رد المحتار ج۵، ص۲۷۰، کتاب الخطر و الاباحة)

قال العلامة الحصکفیؒ: ..... ما نقله عن شارح المجمع من انها بعد الفجر و العصر لیس بشیء. (الدر المختار علی هامش رد المحتار ج۵، ص۲۷۰، کتاب الخطر و الاباحة) و مثله فی مائة مسائل ص۶۸، سوال چهل و پنجم)

لـــــــه عذر پرته د مړي په تابوت کښې د ښخولو حکم

سوال: زمونږ په علاقې کښې ځینې سجاده نشین حضرات خپل مړي دیر په اعزاز سره په تابوتونو کښې ښخوي. ځینې خلك د دوی دې عمل ته بدعت او ځینې بیا جائز ورته وایي. په دې باره کښې د شریعت څه حکم دی او همد ارنګه د مړي لپاره د اوسپنې تابوت څنګه دی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: پرته له سخت عذر څخه نر مړی په تابوت کښې ښخول مکروه دي او البته که چېرته ښخه وي نو بیا ئې په تابوت کښې ښخول افضل دي په دې شرط چه تابوت د لرګي وي او د اوسپنې د تابوت استعمال صحیح نه دي.

قال العلامة ابن عابدینؒ: (و لا بأس باتخاذ تابوت و لو من حجر او حدید لهٗ عند الحاجة کرخاوة الارض) قولهٗ لا بأس باتخاذ تابوت ای یرخص ذلك عند الحاجة و الاکراه قدمناه آنفا. قال فی المحلیة نقل عن غیر واحد عن الامام ابو القضلؒ انهٗ جوزهٗ فی اراضیهم لرخاوتها. و قال لکن ینبغی ان یفرش فیه التراب..... و السنة ان یفرش فی القبر التراب ثم لم یتعقبوا الرخصة فی اتخاذه من حدید بشیء و لا شك فی کراهته کما هو ظاهر الوجه. (قولهٗ لهٗ) و مفهومه انهٗ لا بأس به للمرأة مطلقاً و به صرح فی شرح المُنیة فقال و فی المحیط و استحسن مشائخنا اتخاذ التابوت للنساء یعنی و لو لم تکن الارض الرخوة فانه اقرب للستر و التحرز عن مسها عند الوضع فی القبر. (رد المحتار ج۱، ص۵۹۹، کتاب الجنائز)

د جنازې تر لمانځه وروسته د دعـــــا حکم

سوال: د جنازې تر لمانځه وروسته دعا ممنوع ده او که مشروع، که چېرته مشروع وي نو د اختر له آذان سره ئې څه فرق دی چه هغه ممنوع دی او دا مشروع؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د جنازې په لمانځه کښې چه صفونه جوړ وي په ولاړ حالت دعا بدعت ده او که چېرته د صفونو له ړنګولو وروسته او له التزام پرته وي نو ممنوع نه دی. البته له سلام نه مخکښې په دعا باندې اکتفا کول افضل او منصوصي قول دی.

دلیل: له رسول اللهﷺ او سلف صالحین رضی الله تعالی عنهم اجمعین څخه د دې دعا د کولو او نه کولو هیڅ یو حدیث مروي نه دی "کما لا یخفی علی من راجع الی کتب الحدیث". او علامه ابن همام او نورو محققینو تصریح کړې ده چه اصل په اشیاوو کښې اباحت دی "و یؤیدهم ما رواه ابو داؤد انهٗ ما سکت عنه فهو عفوٌ. له دې وجهې د جنازې تر لمانځه وروسته دعا مباح او جائز دی ځکه چه جنازه پخپله یو لوی عبادت دی. په خلاف د اختر د آذان ځکه چه د هغه د نه کولو په اړه

روایت راغلی دی و هو ما رواه ابو داود "ان رسول اللهﷺ صلی العید بلا آذان و لا اقامة و ابا بکر و عمر. (ابو داؤد ج۱، ص۱۶۴، باب ترك الآذان فی العید) یعنې حضورﷺ او صدیق اکبر او عمر فاروق رضی الله عنهما د اختر لمونځ له اذان او اقامت پرته ادا کړ. پس په عدم الروایت او روایت العدم او عدم ذکر او ذکر عدم کښې فرق نه کول غباوت یا جهالت دی.

یو سوال او د هغه خواب: که چېرته یو څوك دا ووایي چه له جنازې وروسته د دعا په اړه حدیث وارد دی.

یعنې کله چه تاسو په مړي باندې جنازه کوی نو د هغه لپاره په دعا کښې ښه اخلاص کوی او امام کساني رحمه الله په بدائع الصنائع ج۱، ص۳۱۱، کښې له حضرت عمر رضی الله نه روایت کړی دی چه له حضرت عمر رضی الله عنه نه یو ځل د جنازې لمونځ فوت شوی وو نو د دوهم ځل د ادا کولو اراده ئې وکړه نو پیغمبرﷺ ورته وفرمایل چه الصلوة علی الجنازة لا تعاد و لکن ادع للمیت و استغفر له. (بدائع الصنائع ج۱، ص۳۱۱، کتاب الجنائز) یعنې د جنازې لمونځ بیا نه را اګرځول کیږي لیکن د مړي لپاره دعا او استغفار کوه.

و روی عن ابن عباس و ابن عمر رضی الله تعالی عنهما فاتتهما صلوةٌ علی جنازةٍ فلما حضرا ما زادا علی الاستغفار لهٗ. و روی عن عبد الله بن سلام انهٗ فاتته الصلوة علی جنازه عمر رضی الله تعالی عنه فلما جهز قال ان سبقتمونی بالصلوة علیه فلا تسبقونی بالدعاء لهٗ. انتهی (بدائع الصنائع ج۱، ص۳۱۱، فصل الکلام فی صلوة الجنازة)

"د ابن عباس او ابن عمر رضی الله عنهما څخه په یوه مړي باندې د جنازې لمونځ فوت شوی وو نو هغوی چه کله حاضر شول نو یواځې ئې د نومورې مړي لپاره په استغفار باندې اکتفاء وکړه او د حضرت عبد الله بن سلام رضی الله عنه څخه روایت دی چه له حضرت عمر رضی الله عنه څخه د جنازې لمونځ قضاء شو نو خلکو ته ئې وویل چه که چېرته تاسو د جنازې په لمانځه کښې له ما نه ورانديو والی حاصل کړ لیکن د دعا په کولو کښې له ما نه ورانديو والی نه شی حاصلولی".

نو د دې په څواب کښې دا ویل کیږي چه په حدیث مرفوعه کښې له دعا څخه مراد هغه دعا ده چه له سلام څخه مخکښې ده. محدثینو او فقهاوو همدا معنی تري مراد کړې ده او کوم روایتونه چه صاحب د بدائع الصنائع ذکر کړي دي په هغو کښې د هغه سړي دعا کول ذکر دي چه له چا څخه جنازه تیره شوې وي او دا د نزاع محل نه دی.

د ملهم وو د دلیل جائزه: او که چېرته دا تسلیم کړو چه پیغمبرﷺ او سلف صالحینو رضی الله عنهم د جنازې تر لمانځه وروسته دعا نه ده کړې که چېرته ئې کړې وای نو منقول او مروي به وای. او په ظاهره هم دا معلومیږي. نو له دې څخه د دې دعا بدعت او مکروه والی نه لازمیږي او که نه نو له فرائضو نه وروسته په اجتماعي هیئت سره دعا او د قرآن مجید په پښتو او فارسي او اردو سره ترجمه کول هم باید بدعت وای په داسې حال کښې چه دا امور بدعت نه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

دي- پس همد ارنګه له جنازي وروسته دعا هم بدعت او مکروه نه ده- زمونږ کومو مشائخو، فقهاوو او مفسرینو دا دعا مکروه ګڼلې ده؟ هیڅا هم دا کراهیت په دي سلفي دلیل باندې نه ده بنا کړي هغوی په نورو دلائلو سره دا مُدعا په بنکاره توګه معلومه کړي ده-

د پوه وهم ازاله: ځینې هغه خلك چه د دیوبندیت او حنفیت په جامه کښې د نجدیت او سلفیت اشاعت کوي او د صاحب هدایې او ملاعلي قاري په ځینو مختصرو عبارتونو باندې تمسك کوي چه کوم کار نبي کریم ﷺ نه وي کړی هغه به بدعت وي دا د هغو خلکو خود غرضي او مطلب پرستي ده ځکه چه حدیث یوائځي د رسول الله فعل ته نه وایي بلکه حدیث د پیغمبر ﷺ فعل، قول او تقریر دریو اړو ته ویل کیږي- د ده عبارات، اشارات، دلالات، اقتضاء او اعتبار یو شی هم بدعت نه دي- د زیات تفصیل لپاره "التعلیق الممجد ص۱٤٤، باب القنوت فی الفجر" ته رجوع وکړی-

د فقهاء کرامو رایې: د اکثرو فقهاء کرامو له عباراتو ځخه له جنازي نه وروسته د دعا ممانعت څرګندیږي البته د امام فضلي بخاري ځخه ئې جواز مروي دی- (کما فی البحر ج۲، ص۱۸۳، کتاب الجنائز) و عن الفضلی لا بأس به. انتهی.

او څرګنده دي وي چه په دغو مشائخو (مانعینو) کښې ځینو ئې د دلیل تذکره نه ده کړې او ځینو بیا د ملا علي قاري زیادت علی الجنازه مبني ګرځولې ده حیث و قال فی المرقات (ج٤، ص٩٤، کتاب الجنائز) "لانه یشبه الزیادة فی صلوٰة الجنازة" او ځینو (صاحب د هدایې) د جنازه د تکرار د مبني کیدو خواته اشاره کړې ده- حیث قال لانه دعا مرة لان اکثرها دعاءٌ (البزازیة علی هامش الهندیة ج٤، ص۹۰، کتاب الجنائز) ځینو ویلي دي چه د جنازي د لمانځه ځخه مقصد دعا وي- نو ګوا که د جنازي لمونځ عبارت له دعا ځخه ده نو د دعا په کولو سره د جنازي تکرار لازمیږي- ځکه چه د دعا تکرار پخپل ذات کښې ممنوع نه ده او که نه نو په پنځو وختونو کښې له سلام ځخه مخکښې د دعا په کولو سره د دعا بعد السلام ممانعت لازمیږي-

پس بناء پر دي تحقیق دا کراهت په تشبیه باندې مبني ده چه په دي دعا سره د جنازي په لمانځه کښې د زیاتوالي او تکرار توهم لازمیږي لکه څرنګه چه له فرائضو نه وروسته پیوسته په هم هغه ځای کښې سنت کول هم له دي وجهې مکروه دي- او دا تشبیه په هغه وخت کښې لازمیږي چه کله په صفوفو کښې ودریږي او دعا وکړی شي او چونکه د صفوفو له ړنګولو نه وروسته دا تشبیه نه پاتي کیږي نو له دي وجهې کراهیت به هم نه وي- و یشیرُ الیه تعبیرهم بلا یقوم یا لدعاء مع کون التعبیر بلا یدعو احصر.

الزام بدعت دی: چونکه دا دعا نه لازمه ده او نه واجبه او نه سنت مؤکده ده او نه زائده- له دي وجهې د دي دعا سنت یا واجب ګڼل او تارك ته ئې بنه نه ویل به بدعت وي لکه څرنګه چه د هغه مطلق فاعل ته مبتدع ویل منکر دي- و لاحول و لاقوه الا بالله العلي العظیم-

مـــــــروجه قضاء عمري بدعت دی

سوال: څه فرمایي علماء کرام د دي مسئلي په باره کښې چه په ځینو علاقو کښې خلك په یوي خاصي طریقي سره د رمضان المبارك په آخري جُمعې کښې په جمع باندې لمونځ په دي عقیدې سره ادا کوي چه په دي سره د ټول عمر قضایي لمونځونه ادا کیږي او په عرف عام کښې دي ته قضاء عمري ویل کیږي او د اثبات لپاره د لیلة التعریس او د خندق احادیث وړاندې کوي- نو شرعاً د قضاء عمري ځه حکم دی؟ بینوا توجروا-

الجواب باسم ملهم الصواب: قضاء عمري کوم چه په ځینو علاقو کښې په متعارفي طریقي سره ادا کیږي نه د حضور ﷺ له احادیثو ځخه ثابته ده او نه حضور ﷺ پخپله د المونځ کړی دی او نه ئې د دي ترغیب ورکړی دی- همد ارنګه دا المونځ د حضور ﷺ صحابه رضی الله عنهم، تابعین رضی الله عنهم او تبع تابعینو له قول او فعل ځخه هم ثابت نه دی- د ائمه اربعه وو د مذهب په معتبرو کتابونو کښې ئې هم ذکر، نوم او نشان نشته- نو په دي بناء سره دا المونځ په یقیني توګه بدعت دی او فاعل ئې د شریعت له مخې مبتدع دی- د احنافو کتابونو ته ئې منسوبول کذب او په ائمه دین باندې افتراء ده- د حنفي فقهي په کتابونو کښې د قضایي لمونځونو د ادا کولو چه کومه طریقه بیان شوې ده هغه بل ډول ده او مروجه قضاء عمري بیل شی دی- په دي کښې خو یواځي پنځه لمونځونه د رمضان المبارك په آخري جُمعې کښې په آذان او اقامت سره په جماعت سره ادا کول د ټول عمر یا د اویا او اتیاوو کلونو د قضاء شوي لمونځونو قائم مقام او د هغو جبیره او کفاره ګڼل کیږي- د فقه حنفي په کتابونو کښې د ټول عمر د ټولو لمونځونو د قضاء په ډول سره د ادا کولو طریقه داسې راغلې ده یعني که چېرته د ټول عمر د قضایي لمونځونو تعداد یو زر وي نو زر لمونځونه به ادا کوي او که چېرته یو لك وي نو یو لك لمونځونه به ادا کوي- په دغو دواړو طریقو کښې د زمکې او آسمان فرق دی- پاتي شو هغه حدیث چه له هغه ځخه ئې مروجه قضاء عمري ثابت کړي ده په هغه باندې ائمه وو جرح او تعدیل کړی دی او محدثینو ورته موضوعي حدیث ویلی دی چه له ځانه جوړ شوی یعني موضوعي حدیث دی کوم چه استدلال پرې جائز نه دی-

﴿۱﴾ ملا علي قاري رحمه الله فرمایي: حدیث من قضی صلوة من الفرائض فی آخر جمعة من رمضان کان جابراً لکل صلوٰة فائتة فی عمره الی سبعین سنة باطل قطعاً لانهٗ مناقض للاجماع علی ان شیئاً من العبادات لا یقوم مقام فائتة سنوات. آه. (الموضوعات الکبیر ص۲٤۲، رقم حدیث۹۵۳ حرف المیم)

﴿۲﴾ علامه قاضي شوکاني فرمایي: حدیث من صلّی فی آخر جمعة من رمضان خمس صلوٰة من الفرائض فی الیوم و اللیلة قضت عنه ما اخل به من صلوٰة سنته آه. هذا موضوع لا شکل فیه و لم اجدهٗ فی شیء من الکتب التی جمع مصنفوها صنعاء فی عصرنا هذا و صار کثیرٌ منهم یفعلون ذلك و لا ادری من وضعهٗ لهم فقبح الله الکذّابین. انتهیٰ. (الفوائد المجموعة فی الاحادیث الموضوعة ص٥٤، النوع الثامن صلوٰة المفیدة بایام الشهور و بلیالٍ منها)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

﴿۳﴾ شاه عبد العزيز دهلوي فرمايي: الخامس ان يكون الحديث مخالفاً لمقتضى العقل و النقل و لكنه القواعد الشرعية مثل حديث قضاء العمرى و نحوه. انتهى. (العجالة النافعة ص ۳۰، في بيان قرائن وضع الحديث)

﴿٤﴾ علامه ابن حجر مكي فرمايي: و اقبح من ذلك ما اعتيد في بعض البلاد من الصلوة الخمس في آخر جمعة من رمضان عقب صلوتها زاعمين انها تكفر صلوة العام او العمر المتروكة و ذلك حرام بوجوه لا تخفى. انتهى. (تحفة منهاج النووى)

آيا له دغو تصريحاتو څخه د نومورې حديث موضوعيت اظهر من الشمس غوندې ثابت نه شو؟ اوس له دې سره سره چه کوم خلك دا حديث د رسول الله ﷺ حديث ګڼي او د قضاء عمرې د اثبات لپاره ئې د دليل په توګه وړاندې کوي نو مع سلم نې الله تعالى ته سپارل کيږي څکه چه د معاند علاج ممکن نه وي.

همدا رنګه دا مروجه قضاء عمرې له څو نورو مفاسدو څخه هم خالي نه ده يوه لمانځه په اړه عوام او ځينې کم علمه خواص هم دا عقيده لري چه په دې لمانځه سره د ټول عمر يا د اويا او اتياوو کلونو يا کم تر کمه د يوه کال د قضايي لمونځونو څخه مو غاړې خلاصيږي لکه څرنګه چه د دې لمانځه له نامه څخه هم څرګنديږي. همدا وجه ده چه دا خلك د دې لمانځه لپاره خومره کوشش او سعى کوي او د دې لمانځه خومره اهتمام کوي د نورو فرائضو او واجباتو دومره نه کوي او له هغوى څخه ډير په معمولي طريقې سره ځان خلاصوي، دا خيال کوي او دا اعتقاد لري چه د ټول عمر قضاء شوي لمونځونه ئې په يوه لمانځه سره ادا کيږي. حالانکه دا اعتقاد د اسلام د فقهاوو د تصريح له مخې موجب د کفر ګرځي.

په فتاوى هنديه کښې دي چه: رجلٌ يصلّى في رمضان لا غير و يقول ابن خود بسيار است او يقول زيارت مى آيد لان كل صلوة في رمضان تعدل سبعين صلوةً بكفر. انتهى. (الفتاوى الهندية ج۲، ص۲٦۸، باب التاسع في احكام المرتدين و منها ما يتعلق بالصلوة و الصوم و الزكوة) و مثله في جامع الفصولين ج۲، ص۲۲۳)

همدا رنګه فقهاء کرامو دا هم ليکلي دي چه قضايي لمونځونه په دا ډول کول چه خلکو او کتونکو ته دا څرګنده شي چه نومورې قضايي لمونځونه کوي مکروه تحريمي دى که په جومات کښې وي او که د جومات نه د باندې وي.

قال العلامة الحصكفي: و يكره قضاء ها في المسجد لان التاخير معصية فلا يظهرها. و في رد المحتار: و يظهر من تعليلها ان المكروه قضاء ها مع الاطلاع عليها و لو في غير المسجد. آه. (رد المحتار على الدر المختار ج۱، ص٤۹٥، قبيل باب السجود، باب قضاء الفوائت)

علامه حصكفي مخكښې ليکي: و ينبغي ان لا يطلع غيره على قضاء ه لان التاخير معصية.

او علامه ابن عابدين د دې عبارت په شرح کښې فرمايي: قلت و الظاهر ان هنا ينبغي هٰهُنا للوجوب و ان الكراهة تحريمية لان اظهار المعصية معصية لحديث الصحيحين كل أمتي معافى الا المجاهرين و ان من الجهار ان يعمل الرجل بالليل عملا ثم يصبح و قد ستره الله عليه فيقول عملت البارحة كذا و كذا و قد بات يستره ربّهُ و يصبح يكشف

ستر الله عنه. (رد المحتار على الدر المختار ج۱، ص٤۹٥، قبيل باب السجود، باب قضاء الفوائت)

چونکه د قضاء عمرې په دې مروجه لمانځه کښې نورو خلکو ته اطلاع او اعلان دى له دې وجهې دا به هم مکروه تحريمي وي.

باقي د غزوۀ خندق او د ليله التعريس په احاديثو سره هم د دې اثبات صحيح نه دى ځکه چه په هغو احاديثو کښې يواځې دا راغلي دي چه له حضور ﷺ څخه د عارضۀ نوم (خوب) او يا په جنګ کښې د مشغوليت له وجهې يو يا څو لمونځونه قضاء شوي وو او له خوب څخه تر ويښيدو او له جنګ څخه تر فارغيدو وروسته فوراً ټول لمونځونه ادا کړل کوم چه نه پکښې د رمضان ذکر راغلى دى او نه د رمضان د آخري جمعې او نه دا چه هغه نې د ټول عمر د قضايي لمونځونو لپاره کافي ګڼلي دي.

په هر حال مقدس شريعت د قضايي لمونځونو په اړه خپله قطعي فيصله دا کړې ده چه خومره لمونځونه قضا شوي وي د هغوى د ټولو يوره پوره ادا کول فرض دي او له ادا کولو پرته نې غاړې نه خلاصيږي. حضور نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: من نام عن صلوة او نسيها فليصلها اذا ذكرها لا كفارة لها الا ذلك (صحيح بخارى ج۱، ص۸٤، باب من نسى صلوة فليصلّ اذا ذكرها لا يعيد الا تلك الصلوة)

د فقهاء کرامو، ائمه وو د جرح او تعديل، د محدثين کرامو د دغو تصريحاتو په رنا کښې مروجه قضاء عمرې ته مونږ بدعت قبيحه وايو او په دين کښې نې مداخلت ګڼو. فقط و الله اعلم.

د حيلۀ اسقاط شرعي حيثيت

سوال: نن صبا په اکثرو علاقو کښې دا رواج دى چه له مړي سره قرآن مجيد قبرستان ته وړي او له قرآن مجيد سره څه نقدي روپۍ. ردي او څوکسان نې پخپل منځ کښې سره ګرځوي او دې طريقې ته اسقاط ويل کيږي او په جواز کښې نې د قرآن مجيد دا آيت چه "وَ ابْتَغُوا إِلَيْهِ الْوَسِيلَةَ" (الآية) وړاندې کوي. نو مهرباني وکړئ د دې مسئلې د جواز يا نه جواز په اړه مکمل وضاحت وکړئ؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب ځرګند دي وي چه که چېرته له يوه عاقل او بالغ مسلمان څخه لمونځونه او روژې عمداً يا سهواً فوت شوي وي نو په هغه باندې فرض دي چه قضايي نې را وګرځوي او د قضايي د نه ګرځولو په صورت کښې به نومورى ګنهګار وي او له ژوند څخه د مايوسى. په وخت کښې به پرې وصيت لازم وي يعنې وصيت به وکړي چه د هغه له جائداد منقوله او غير منقوله څخه به د هغه له يو پر دريمې حصې څخه د هر لمانځه او روژې په بدل کښې به دوه دوه کيلو غنم او يا نې قيمت مسکينانو ته په فديه کښې ورکوي او د وصيت د نه کولو په صورت کښې به هم ګنهګار له دنيا څخه ځي. البته که چېرته نې مال نه وي او يا نې د مال له دريمې حصې څخه نې د روژې او لمونځونو فديه نه ادا کيدله او يا د جهل او فسق او يا سستى له وجهې نې د فديې په باره کښې وصيت نه وي کړى نو وارثان او خپلوان نې د ده له

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

خوا څخه په باقاعده توګه سره حیلهٔ اسقاط کولی شي۔ (رد المحتار ج۱، ص۴۹۱، ۴۹۲، باب صلوٰة الجنائز، مطلب في اسقاط الصلوٰة عن الميت)

د حیلهٔ اسقاط تشریح

حیله یا مخرج هغه مباح کار او ګفتار ته ویل کیږي چه د هغه په ذریعې سره په پته سره مقصود ته ورسیږي۔ کما فی المفردات ص۱۳۸) الحيلة ما يُتوصّلُ به الى حالة ما خفيةٍ . انتهى۔ و فی فتح الباری (ج۱۲، ص۲۷۴) هی ما يُتوصل به الى مقصود طريق خفيّ. انتهى

د حیلې اقسام: د حیلې ډیر قسمونه دي چه ځینې ئې په لاندې ډول دي۔

﴿الف﴾ هغه حیله چه د حرامو د تحلیل لپاره وي او د شریعت د ابطال لپاره وي لکه چه اصحاب السبت د بنکار د تحلیل لپاره کړي وه او ځینو یهودیانو د شحم (وازګي) د تحلیل لپاره کړي وه (رواه البخاري) دا حیله پرته له شك او شبهې حرامه او ناجائزه ده۔

﴿ب﴾ یوه هغه حیله ده چه کوم چه له حرامو ځخه د بچ کیدو او د غاړې د خلاصولو لپاره او د واجب د اسقاط لپاره وي لکه ځرنګه چه حضرت ایوب علیه السلام کړې وه او لکه ځرنګه چه پیغمبر علیه الصلوٰة و السلام د یوه ناوړه شوي لپاره کړې وه۔ رواه ابو داؤد ص۶۱۴ قالوا ما رؤيا باحد من الناس من الضر مثل الذى هو به لو حملنا الهك لتفسّحت عظامهٗ ما هو الا جلدٌ على عظم فامر رسول الله ﷺ ان ياخذوا له مائة شمراخ فيضربوهُ بها ضربةً واحدةً. (ابو داؤد ج۲، ص۲۵۸، كتاب الحدود، باب فی اقامة الحد على المريض)

خلاصه دا چه صحابهٔ کرامو رضی الله تعالی عنهم د هغه سړي په حق کښې (کوم چه زنا تري صادره شوې وه او واده ئې نه وو کړی) بارګاه رسالت ته عرض وکړ چه د ده غوندې په تکلیف کښې مبتلا مونږ هیڅوك هم نه دي لیدلي که چېرته ئې مونږ دلته راوړو نو هډوکي ئې میده میده کیږي او په هډوکو باندې ئې یواځې پوستکی پاتې شوی دی۔ پس حضور اکرم ﷺ وفرمایل چه د خرما یو اوڑی چه سل ښاخونه ئې وي را واخلی او یو ځل ئې پرې باندې ووهی۔ نو داسې حیله جائزه ده نه منسوخ ده او نه مخصوص او دا له عطاء او امام شعبي ځخه هم مروي ده او دې ته احنافوٓ، شوافعوٓ او حنابله ووٓ مختار ویلي دي په خلاف د مالکیه ووٓ او سلفیه وو چه د هغو په نزد دا حیله هم مشروع نه ده۔ فلیراجع الی تفسیر القرطبی ج۱، ص۲۱۳، و شرح الاشباه للحموی ص۴۱۸، و فتح الباری ج۱۲، ص۲۷۵، کتاب الحیل۔

د فقهاء کرامو رایې: د اسقاط حیله لکه ځرنګه چه پخپل اصل سره ثابته ده همدارنګه فقهاء کرامو (خصوصا هغه فقهاء چه د هغوی فتواوي اکابر دیوبند نقل کوي) ئې په مشروعیت باندې تصریح کړې ده۔ (فلیراجع الی رد المحتار ج۲، ص۹۱، و الاشباه و النظائر ص۴۱۸، و هکذا فی غیر واحد من الفتاوی) له دې وجهې د دې حیلې په مشروعیت کښې هیڅ شك او شبهه نشته۔

خو نوٹ: البته د دې حیلې د مشروعیت لپاره ځو شرائط هم شته چه رعایت کول ئې ډیر ضروري دي۔

﴿الف﴾ دا چه په وارثانو کښې ئې غائب او نابالغ د نه وصیت په صورت کښې نه وي ځکه چه د

هغوی له مالونو ځخه تبرع جائز نه دی۔

﴿ب﴾ دا چه په دائره کښې به یواځې مسکینان کښینې او غنی ته ئې په هبه کولو کښې غاړې نه خلاصیږي۔

﴿ج﴾ دا چه مسکین ته ئې په ربښتیا سره تملیك کړي فرضي او لساني نه او که نه نو په دا سې حیلې سره به ئې مقصود حاصل نه شي۔ (کما فی منة الجلیل ج۱، ص۲۲۵، و یجب الاحتراز من ان یلاحظ الوصیّ عند دفع الفقیر الهزل و الحیلة ان یدفعها حقیقة لا تحیلاً ملاحظا ان الفقیر اذا ابی عن الهبة الی الوصیّ کان له ذلك و لا یُجبر علی الهبة. انتهی)

خلاصه دا چه په وصي او نورو باندې ضروري دي چه مسکین ته د هغه شي په ورکولو کښې د حزل او حیلې اراده و نه کړي۔ کومه غوته یا پنده چه ورسره ده د مسکین ملك ته به ئې په واقعي او حقیقي توګه ورسپاري تر دې پورې که چېرته دا مال په کافي اندازي سره وي او د حیلې په وخت کښې د حج د داخلي اعلان شوی وي نو په نومورې مسکین باندې حج فرض کیږي او بل سړي ته ئې په هبه کولو سره ئې د حج فریضه له غاړې نه ساقطیږي او د دې لحاظ به هم یکښې ساتي چه که چېرته مسکین ئې له بېرته ورکولو ځخه انکار وکړي نو د هغه لپاره به صحیح وي او په بېرته ورکولو باندې به ئې نه مجبوروي۔

د فقهاء کرامو حیله اسقاط او په مروجه اسقاط کښې فرق

﴿۱﴾ فقهاء کرام خپل اسقاط په حیله اسقاط باندې تعبیر کوي چه له دې ځخه په ځرګنده توګه معلومیږي چه د دوی په نزد دا اسقاط نه فرض دی نه واجب او نه سنت او نه مستحب ځکه چه د حیلې شرعي حیثیت د اسې نه وي بلکه د زیات نه زیات حیثیت ئې اباحت دی۔ هغه هم په هغه وخت کښې چه د شرعي محرماتو ارتکاب پکښې نه وي بلکه د مروجه اسقاط حیثیت په عوامو کښې له فرض او واجب ځخه هم تیر شوی دی بلکه په پوره کولو کښې ئې د قطعي فرائضو د پریښودلو پروا هم نه کوي۔

و نص علیه فی تبیین المحارم فقال لا یجب علی الولی فعل الدور و ان اوصی به المیت لانها وصیّة بالشر و الواجب علی المیت ان یوصی بما یفی بما علیه ان لهٗ لم یضق الثلث عنه الخ. (رد المحتار ج۱، ص۴۹۲، باب الفوائت، تحت مطلب فی بطلان الوصیة بالختمات و التهاليل)

﴿۲﴾ فقهاء کرامو رحمهم الله دا تصریح هم کړې ده چه د دوري په توګه حیلهٔ اسقاط یواځې د هغو مردګانو لپاره ده چه فقیران او مسکینان وي یعنې د هغه په ترکه کښې دومره شی پاتې نه وي چه په شرعي توګه د قضاء شوي لمونځونو او روژو فدیه چه نیمه صاع غنم ده پوره کړي۔ او د امراوو او اغنیاوو لپاره دا حیله نه ده ایجاد شوې" لیکن په عوامو کښې دا حیله یواځې د فقراوو او غریبانو مړو لپاره نه بلکه د امراوو، غرباوو او تر سلاطینو پورې په یوې طریقې سره عیله اسقاط ادا کیږي په دا سې حال کښې چه د کومو مړو له ترکې ځخه چه فدیه پوره کیږي د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

هغو له ترکې څخه به د پوره لمونځونو او روژو فدیه ورکول ضروري دي په دې شرط چه مړي وصیت هم کړی وي او د ترکې له دریمې څخه ئې پوره کیدله هم، نه چه د هغه لپاره هم مروجه حیله اسقاط وکړی شي۔

﴿۳﴾ دا هم د فقهاء کرامو په کتابونو کښې په صراحت سره راغلې ده چه که چېرته مړی مالدار وي او وصیت ئې نه وي کړی نو د مړي په اولیاوو باندې د اسقاط دا حیله لازم نه ده او نه په هغو کښې یو وارث د نورو وارثانو له اجازې پرته په ترکه کښې د اسې ډول تصرفات او مصرفونه کولی شي څکه چه شرعاً د اسې کولو حق نه لري او که چېرته یو وارث د نورو وارثانو له اجازې پرته د اسې وکړي نو شرعاً به د نورو وارثانو د حق ضامن وي د دې خبرې په فتاوی برازیه کښې تصریح موجوده ده۔ په د اسې حال کښې چه په مروجه اسقاط کښې د دې خیال اصلاً نه کیږي بلکه په هر حالت کښې لازم او ضروري ګڼل کیږي تر دې پورې چه که چېرته په وارثانو کښې څوک نابالغ او غیر حاضر وارثان هم موجود وي او یا حاضر وارثان ناراض هم وي نو په دې وخت کښې هم په هغو کښې چه کوم یو مشر وارث وي خامخا دا اسقاط کوي او د ټولو وارثانو بې ځایه حق تلفي کوي او خرڅ کړل شوي روپۍ ټول وارثان په مشترکه توګه سره اچوي۔ حالانکه دا د مقدس شریعت سراسر خلاف ورزي ده۔

﴿٤﴾ فقهاء کرام د اسقاط د مال مصرف یواځې فقراء او مساکین ګرځولي دي کومه خاصه طبقه خلک ئې ورته نه دي مخصوص کړي او نه ئې کوم وخت ورته مقرر کړی دی لیکن د عوامو په اسقاط کښې یوې خواته مخصوصه طبقه ورته مقرره وي چه که چېرته له تاکل شوې طبقې نه پرته د اسقاط مال د ښار نورو فقیرانو او مسکینانو یا یتیمانو باندې تقسیم کړی شي نو د اسې اسقاط د دوی په نزد جائز کیدلی هم نه شي او بلې خواته ئې خاص د جنازې وخت ورته مقرر کړی دی چه د دوی په نزد له تاکل شوي وخت نه نه مخکښې کیدلی شي او نه وروسته۔ او نه ئې مخکښې کول او وروسته کول دوی جائز بولي حالانکه په شریعت کښې دا ډول یو قید هم نشته۔

﴿٥﴾ فقهاء کرامو دا هم لیکلي دي چه د دوړې له فعل نه مخکښې د مړي قضا شوي لمونځونه او روژې ګڼل کیږي هم بیا چه څومره مال د فدیې لپاره یعنې څومره اسقاط چه وتاکل شي هغه اندازه کیږي چه د څومره لمونځونو لپاره فدیه ګرځیدلی شي او د دوړې فعل تر هغه وخته پورې جاري ساتل کیږي چه تر څو د ټول عمر د قضا شوي لمونځونه لپاره فدیه وګرځي۔ یعنې د دوړې فعل د پوره لمونځونو د اندازې او تعداد مطابق به کیږي نه کم۔ په د اسې حال کښې چه د عوامو دوره دري واړي کیږي اګر که دا دري ځله دوره د ټولو لمونځونو لپاره کافي نه وي بلکه د ټولو لمونځونو د فدیې له پوره کیدو څخه کمه وي۔ همدارنګه د مړي د لمونځونو شمار هم نه کیږي او نه د فدیې اندازه معلوموي۔

﴿٦﴾ فقهاء کرامو دا هم لیکلي دي چه په ګومې دوړې او حلقې کښې چه د اسقاط د مال دوره کیږي په هغې کښې به مالدار او غني نه کښینې څکه چه د غني او مالدار لپاره د واجبې فدیې مال اخیستل جائز نه بلکه حرام دي۔ لهذا د دوړې په حلقه کښې به غني سړی هیڅکله نه کښینې لیکن د عوامو په اسقاط کښې چه کوم خلك په دوره کښې شریك وي هغوی اکثره غنیان وي کوم چه د هغو لپاره د واجبو صدقاتو اخیستل په قطعي توګه حرام دي لهذا دا مروجه اسقاط هیڅکله د فقهاء کرامو اسقاط نه شي کیدلی۔

﴿۷﴾ د عوامو په اسقاط کښې قرآنکریم د فدیې جز ګرځول کیږي او له قرآن مجید نه پرته څوك حیله اسقاط هم نه کوي حالانکه د فقهې په معتبرو کتابونو کښې چېرته چه د اسقاط مسئلې راغلې دي هلته د قرآن مجید په اړه د دې خبرې نوم او نشان هم نشته چه قرآن مجید دې د اسقاط د مال یوه برخه وګرځول شي او په دوره کښې دې وګرځول شي۔ په دې موقع کښې د جوماتونو ځینې امامان د قرآنکریم سره د بیع معامله کوي۔ کوم چه ډیره غلطه خبره هم ده او دوکه هم ده۔ لهذا که چېرته د مړي دوارث خپل قرآن مجید نه وي نو دا امامان حضرات په هغه باندې د بل سړي قرآن مجید په زر دوه زره روپۍ هزلاً پلوري۔ په دې کښې د دوی غرض دا وي چه کله په زر دوه زره روپو باندې قرآنکریم وپلوري او بیا هغه د فدیې په مال کښې ورسره یو ځای کړی شي او د فدیې جز وګرځول شي نو د فدیې تعداد زیاتیږي څکه چه له فدیې سره د دوو زرو روپو قرآنکریم هم شامل کړی شو۔ حالانکه دا بیعه خو لومړی بیع نه ده څکه چه دا بیع هزلاً ده جداً نه ده او د فقهې او اصولو ټولو علماوو لیکلي چه هزلاً بیع شرعي بیع نه ده۔ نه په دې بیعې سره یو شی د چا په ملك کښې راتلی شي تر څو پورې چه له هزل څخه اعراض و نه کړي او دوباره د جداً په توګه بیعه و نه کړي۔ دوهمه دا چه که چېرته فرض ئې کړی دا بیع منعقده هم شي نو له فدیې سره د قرآن کریم په اینبودلو کښې د فدیې تعداد زر دوه زره څنګه زیاتیږي په د اسې حال کښې چه زر دوه زره خو ئې قیمت نه دی بلکه یواځې د مشتري په ذمې باندې ئې پیسې مقرري کړي دي نو که په فدیې کښې شاملیدلی شي نو د قرآن کریم یواځې اصلي قیمت او مالیت شاملیدلی شي کومه چه ظاهره خبره ده چه زر دوه زر نه ده بلکه یواځې پنځوس یا شپیته روپۍ دي۔ د فقهاء کرامو په اسقاط کښې د د اسې له فریب ډکو چلونو اصلاً هیڅ یادونه نشته۔ دا یواځې په مروجه عوامي اسقاطونو کښې موجود دي۔

﴿۸﴾ د فقهاء کرامو په نزد اسقاط هغې دوړې ته وایي چه د حلقې د ټنه وشي په دې سره د دوی په نزد اسقاط پوره کیږي او له دې نه وروسته د مال ویشل په وارثانو باندې فرض یا واجب نه وي او نه په هغو باندې د تاکل شوي اسقاط ویشل شته که یخپلې خوښې سره غواړي چه صدقه کړي نو کولی ئې شي لیکن دا ضروري نه ده چه ټول مال دې صدقه کړي او یا هغو خلکو ته صدقه ورکول پرې لازم وي چه د کټ شا و خوا ناست وي او حلقه ئې جوړه کړې وي۔ بلکه که په هغو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

کښې لږ هم مصرف کړي او له دغو حلقي جوړوونکو خلکو نه پرته نورو مسکینانو او فقیرانو ته ئې ور کړي نو بیا ئې هم ثواب کیږي او په اسقاط کښې هیڅ ډول نقصان او کمی نه راځي. د دې بر عکس په مروجه حیلهٔ اسقاط کښې له اسقاط نه وروسته د مال ویشل هم ضروري وي او له ویشلو پرته د دوی په نزد اسقاط بیخي نه کیږي او یا مکمل نه وي او د تقسیم او ویش هم په هغو خلکو باندې ضروري وي چا چه محنت کړي وي او دوره ئې کړې وي. له دوی نه پرته که چېرته په نورو مسکینانو او فقیرانو باندې ئې وویشي نو د خپل اسقاط تماشا بیا وکړه چه څه ورنه جوړیږي.

﴿۹﴾ د دغو ټولو شیانو برسیره ۹۹ فیصده خلك دا اسقاط یو رسم او رواج جوړ کړی دی او د ریا او ځان ښوونې لپاره ئې کوي چه په خلکو کښې ئې بدنامي و نه شي او خلك بد ورته و نه وایي. د داسې خلکو نیت په اصل کښې د ثواب نه وي. او که چېرته د ریا او ځان ښوونې او د خلکو له بد ویلو څخه د بچ کیدو لپاره په لکونو روپۍ ولګوي نو یوه ذره ثواب ئې هم نه ورپسې رسیږي لهذا د داسې اسقاطونو ثواب مړي ته نفع نه ورکوي. البته په خلکو کښې د اسقاط کوونکي نیك نامي جوړیږي او له هغه څخه خلکو ته دنیاوي ګټه رسیږي چه د اسقاط یو څو روپۍ ورکول کیږي. او مړي غریب ته د داسې اسقاطونو څخه هیڅ شی هم نه حاصلیږي.

﴿۱۰﴾ له دې پرته د عوامو په اسقاط کښې مال هم په ډیرې غلطې طریقې سره ویشل کیږي یعنې کوم خلك چه عزت مند او د مشهور جومات امام وي هغو ته ډیرې ډیرې روپۍ ورکول کیږي او غریب او محتاج یا طالب علم ته او یا نورو مسکینانو او فقیرانو ته کوم چه د جوماتونو امامان نه وي هغو ته لږې لږې روپۍ ورکول کیږي نو اوس په انصاف سره ووایی چه دا ټول ذکر شوي شیان د عوامو په اسقاط کښې شته او که نه؟ او که چېرته وي پکښې او یقینا پکښې شته، نو مهرباني وکړی دا هم وښایاست چه د مروجه اسقاط څه مناسبت د فقهاء کرامو له اسقاط سره شته او که نه؟ بیا څنګه دا دعوه کیدلی شي چه چونکه فقهاوو پخپلو کتابونو کښې د اسقاط ذکر کړی دی ځکه چه په عوامو کښې چه کوم اسقاط رائج دی دا به هم جائز وي ځکه چه د دې نوم هم اسقاط دی حاشا و کلا.

نو د دې لپاره د اسقاط په باره کښې زمونږ رایه دا ده چه که چېرته دا اسقاط د فقهاء کرامو د اسقاط موافق وي او له پورته ذکر شویو مفاسدو څخه یو هم پکښې نه وي نو جائز او د ثواب کار به وي خو په دې شرط چه دا او نه وایی چه دا فرض دی او یا واجب یعنې د فرضیت او وجوب عقیده به پرې نه لري. او که چېرته د پورته ذکر شویو څخه یو هم پکښې موجود وي نو داسې اسقاط به د هغو مفاسدو له وجهې ناجائز وي دا خو پرېږده چه د ثواب کار به وي. نو داسې حضراتو ته په کار دي چه اول د قانون وړاندې له مخې د مړي له ترکې څخه د هغه قرضي ادا کړي او بیا دې پاتې شوې ترکه د شرعي قانون له مخې د وارثانو تر منځ وویشي او هر یوه وارث

ته خپله خپله حصه ورکړي او بیا له وارثانو څخه چه کوم یوه پخپلې خوښې سره د مړي د ایصال ثواب لپاره څومره مال چه غواړي مصرف دي کړي. دا صحیح او شرعي طریقه ده کومه چه له سلف صالحینو څخه منقوله او تر نننه پورې چلیږي او د قرآن او حدیثو له احکاماتو سره مطابقت هم لري. و الله اعلم بالصواب.

له سنتو څخه وروسته په اجتماعي صورت سره د دعا شرعي حیثیت

سوال: جناب مفتي صاحب! یوه مسئله زمونږ په نزد د لویې نزاع باعث جوړه شوې ده. څینې خلك وایي چه له سنتو وروسته په اجتماعي توګه دعا علی الاطلاق او څینې وایي چه له سنتو وروسته په اجتماعي توګه دعا ضرور باید وکړی شي. مهرباني وکړی د صحیح مسئلې خواته مو لارښوونه وکړی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: له سنتو وروسته په اجتماعي توګه سره دعا یوه معرکه الآراء مسئله ګرځیدلې ده څینې خلك د دې دعا په پریښودلو کښې سختي او افراط او دومره غلو کوي چه دا عمل مطلقاً بدعت بولي او څینې بیا په برعکس دومره غلو کوي چه د دعا بعد السنت با لالتزام مرتکب کیږي. په داسې حال کښې چه حقیقت دا دی چه دا دواړه ډلې د اعتدال له لارې څخه وتلي او مسئله بیانوي. اصل مسئله دا ده چه مقدس شریعت د دعا لپاره کوم خاص وخت نه دی مقرر کړی. له رسول الله ﷺ او صحابهٔ کرامو رضی الله تعالی عنهم څخه په اجتماعي او انفرادي هیئت سره دواړه قسمه دُعا ثابته ده. همدارنګه په مبارکو احادیثو کښې له رسول الله ﷺ څخه د دُبر صلوه (تر لمونځونو وروسته) د دعا کولو ترغیب هم ورکړ شوی دی په داسې حال کښې چه د دُبر اطلاق لکه څرنګه چه د مکتوباتو په متصل وخت باندې کیږي نو همدارنګه په منفصل وخت یعنې وروسته له سنتونو باندې هم کیږي. لهذا که چېرته وروسته له سنتو څخه په اجتماعي هیئت سره له التزام پرته دعا وغوښتل شي نو په دې کښې شرعا څه قباحت نشته. لیکن دا خبره یاده ساتی چه دا مسئله د فتنې او فساد ذریعه مه ګرځوی.

کما قال العلامة یوسف البنوری رحمه الله تعالی: الدعاء للامام و الماموم و المنفرد مستحب عقب کل صلوٰة بلا خلاف و یقول و یستحب ان یقبل علی الناس فیدعوا. (معارف السنن ج۳، ص۱۲۳)

د رسول الله ﷺ د موی مبارك شرعي حیثیت

سوال: جناب مفتي صاحب! په افغانستان او مقبوضه کشمیر کښې د څینو خلکو د وینا له مخې د رسول الله موی (ویښته) مبارك موجود دي او خلك ئې د زیارت لپاره د ثواب په نیت ورځي او هلته نذرونه او داسې نور اداکوي. نو اوس پوښتنه دا ده چه آیا په رښتیا هم په څینو ځایونو کښې تر اوسه پورې د رسول الله ﷺ موی مبارك موجود دی او که موجود وي نو د زیارت کولو ئې شرعي حیثیت څه دی؟ بینوا توجروا.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

الجواب باسم ملهم الصواب: له روایتونو څخه ثابت دي چه د ځینو صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم سره د رسول الله ﷺ موی مبارك موجود وو پخپله رسول الله ﷺ د حجه الوداع په وخت کښې له احرام څخه د وتلو لپاره حلق وفرمایه نو هغه ویښته مبارك ئې د حضرت طلحه رضی الله عنه په ذریعې سره په صحابهٔ کرامو باندې وویشل کوم چه د حضور ﷺ جانثار صحابهٔ کرامو د خپلو څانونو لپاره ګران او خوږه وګڼل او د هغو حفاظت ئې وفرمایل۔

لما رواه الامام ابو عیسٰی الترمذی رحمه الله عن انس بن مالكؓ قال: لما رمی رسول الله ﷺ الجمرة نحر نسكه ثم ناول الحالق شقه الایمن فحلقه فاعطاه ابا طلحة ثم ناوله شقه الایسر فحلقه فقال: اقسمه بین الناس. (الجامع الترمذی علی صدر معارف السنن ج۶، ص۲۷۵، باب ما جاء بای جانب الراس یبدأ فی الحلق، کتاب الحج)

د حضرت خالد بن ولید رضی الله عنه سره هم د حضور ﷺ موی مبارك موجود وو چه پخپلې حفاظتي خولې کښې ئې ایښي وو خصوصاً د جنګ په وخت کښې به ئې له څان سره ساتل چه د هغو په برکت سره به الله تعالی فتح ورکوله۔

قال العلامة العینی رحمه الله: و ذکر غیر واحد ان خالد ابن الولیدؓ کان فی قلنسوته شعرات من شعره ﷺ فلذلك کان لا یقدم علی وجه الا فتح لهٗ و یؤیده ما ذکره الملا فی السیرة ان خالد سأل ابا طلحة حین فرق شعره ﷺ بین الناس ان یعطیه شعرة ناصیته فاعطاه ایاه فکان مقدم ناصیته مناسباً لفتح کل ما اقدم علیه. (عمدة القاری ج۱۰، ص۶۳، کتاب الحج، باب الحلق و التقصیر عند الاحلال)

د حضور ﷺ موی مبارك د صحابهٔ کرامو او د هغوی د اهل او عیال په ذریعې سره نورو ځایونو ته هم ورسید چه د هغوی په نزد له دنیا او ما فیها څخه هغوی ته محبوب وو۔ چونکه د حضور ﷺ د حقیقي وصال څخه وروسته صحابهٔ کرام په ټولې نړۍ کښې خپاره شول نو ځکه ممکنه ده چه د ده موی مبارك د صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم په ذریعه د کشمیر او افغانستان په علاقو کښې هم له چا سره موجود او محفوظ وي۔

علامه سید محمد یوسف بنوري د صحیح بخاري په حوالې سره لیکلي دي چه: عن ابن سیرین قال: قلت لعبیدة عندنا من شعر النبی ﷺ اصبناه من قبل انس او من اهل انس فقال لان تکون عندی شعرة منه احبّ الی من الدنیا و ما فیها. (معارف السنن ج۶، ص۲۷۸/ ۲۷۹، کتاب الحج)

نو له دغو روایتونو او په دې ډول نورو روایتونو څخه په واضحه توګه څرګندیږي چه د حضور ﷺ موی مبارك محفوظ دي او تر ننه پورې نقل کیږي۔ نو ځکه دا د تعجب خبره نه ده چه د دنیا په کوم ځای کښې دي د حضور ﷺ موی مبارك موجود وي او خلك ئې د زیارت لپاره سفر وکړي۔ بیا هم که چیرته د دې په باره کښې څه شك چا ته پیدا شي نو خاموشي ورته بهتره ده۔ او خامخا دې د نزاع د صورت د اختیارولو څخه دې اجتناب وکړي۔

له فرض لمونځونو نه وروسته په جګ آواز سره د کلمه طیبه د ویلو حکم

سوال: څه فرمایي علماء کرام او مفتیان عظام د دې مسئلې په باره کښې چه په ځینو جوماتونو کښې د فرض تر لمانځه وروسته امام صاحب سره له مقتدیانو ئې دري واري په جګ آواز سره کلمه لولي۔ درود شریف او اللهم انت السلام الخ هم په جګ آواز سره لولي حالانکه په لمانځه کښې مسبوقین هم موجود وي نو آیا دا جائزه ده او که نه؟ په خاصه توګه چه په پریښودونکي باندې ئې لعن او طعن او بد رد هم ویل کیږي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د کلمه طیبه او درود شریف په زوره لوسټل په اجتماعي او انفرادي توګه جائز دي خو په دې شرط چه لمونځ کوونکي ته تکلیف نه وي او که چیرته لمونځ کوونکو ته په لمانځه کښې د خلل سبب جوړیده نو بیا په زوره لوسټل ئې صحیح نه دي۔

یوه بل ته د دې خبرې چه "اختر دې مبارك شه" د ویلو شرعي حیثیت

سوال: تن صبا په اخترونو کښې اکثره خلك یوه او بل ته دا الفاظ وایي چه "اختر دې مبارك شه" په دې حال کښې چه ځینې خلك ورته بدعت وایي نو آیا دې الفاظ ویل شرعاً جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په اخترونو کښې په اسلام کښې څو کارونه سنت دي کوم چه د هر مسلمان لپاره د خوشحالۍ په مواقعو کښې جائز ګرځول شوي دي لکه څرنګه چه په احادیثو او د سلف صالحینو په آثارو کښې وارد دي۔ البته د مروجو قبیحو (بدو) رسوماتو او بدعاتو څخه څان ساتل هم ډیر ضروري دي۔ د صورت مسئوله مطابق د اخترونو د خوشحالۍ په موقع کښې که چیرته یو مؤمن بل مؤمن ته دا ووایي چه "اختر دې مبارك شه" او الله تعالی دې لمونځونه، روژې او تراویح قبولې کړي۔ او الله تعالی دې ستاسو قربانۍ قبوله کړي نو دا د یوه عبادت په ادا کولو باندې شاباشي او ترغیب ورکول دي او د صالح عمل لپاره عند الله د قبولیت دُعا ده۔ په دې ویلو کښې په ظاهره سره څه قباحت نشته۔ البته د دې عمل لازمي ګڼل او له پریښودونکي څخه ناراضه کیدل او یا ئې دومره اهتمام کول چه د اختر د مبارکۍ لپاره په هرې ګلۍ او هر کور کښې د ثواب په نیت او ارادې سره ګرځیدل یقیناً مکروه او احداث فی الدین عمل دی۔

په در مختار کښې دي چه: و التهنئة بقبل الله منا و منکم لا تنکر الخ او په رد المحتار کښې دي چه: قولهٗ و التهنئة و انما قال ذلك لانهٗ لم یحفظ فیها شیء عن ابی حنیفةؒ و اصحابه و ذکر فی القنیة انه لم ینقل عن اصحابنا کراهة و عن مالكؒ انهٗ کرهها و عن الاوزاعیؒ انها بدعة و قال المحقق ابن امیر الحاج بل الاشبه انها جائزة مستحبة فی الجملة ثم ساق آثاراً باسانید صحیحة عن الصحابة فی فعل ذلك ثم ذلك و المتعامل فی البلاد الشامیة و المصریة عید مبارك علیك و نحوه و قال یمکن ان یلحق بذلك فی المشروعیة و الاستحباب لما بینها من التلازم فان قبلت طاعتهٗ فی زمان کان ذلك الزمان علیه مبارکاً علی انهٗ قد ورد الدعاء بالبرکة بها هنا ایضاً آه. (رد المحتار علی الدر المختار ج۱، ص۵۵۷)

قال ابن الحاجؒ فی المدخل: قد اختلف علماؤنا رحمة الله علیهم فی قول الرجل لاخیل یوم العید تقبل الله منا و منك و غ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

لنا و لك على اربعة اقوال جائز لانه قول حسن، مكروه لانهٗ من فعل اليهود مندوب اليه لانهٗ دعاء و دعاء المؤمن لاخيه مستحب الرابع لا يبتدئ به فان قال لهٗ أحد ردّ عليه مثلهٗ و اذا كان اختلافهم في هذا الدعاء الحسن مع تقديم حمدوله فما بالك بقول القائل عيد مبارك مجرداً عن تلك الالفاظ مع انهٗ متاخر الحدوث فمن باب اولى ان يكرهوه و هو مثل قولهم يوم مبارك و ليلة مباركة و صبحك الله بالخير و مساك بالخير. (المدخل لابن الحاج المالكي ج۲، ص ۲۸۲، فصل في سلام العيد)

جوماتونو ته د تعزيې د راوړلو حكم

سوال: زمونږ په كلي كښې د بريلويانو جومات دی او په محرم الحرام كښې دا خلك تعزيه جوړوي او جومات ته ئې راوړي او هلته د امام حسين رضی الله عنه په ياد كښې مرثيه خواني كوي او د وعظ او نصيحت مجالس جوړوي. نو آيا جومات ته د تعزيې راوړل او د مرثيه خواني او د اسې نورو مجالس جوړول شرعا جائز دي او كه نه؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: اول خو په اسلام كښې د يوه مړي له دريو ورځو څخه زيات غم كول حرام او ناجائز دي. په مبارکو احاديثو كښې پرې ډير وعيدونه راغلي دي. البته بښځې ته د خپل خاوند په مرينې باندې تر څلورو مياشتو او لسو ورځو پورې غمرازي جائزه ده. دوهمه دا چه په اسلام كښې د تعزيه سازی وجود نشته. بيائې جومات ته راوړل د شرعي خلاف يو عمل او بدعت دی.

لما قال العلامه مفتي عزيز الرحمٰن: تعزيه داري او د مرثيه خواني مجلسونه او د اسې نور په هر څای او هر وخت كښې حرام او كبيره ګناهونه دي. او په ځانګړې توګه په جوماتونو كښې دا كار سخت ظلم، معصيت او د الٰهي عتاب موجب دی. مسلمانان بايد له د اسې حركاتو څخه توبه وكړي، دا كارونه حرام او كبيره ګناهونه دي ليكن كفر نه دی. په دغو كارونو باندې اصرار كوونكی فاسق او د تعزير مستحق دی. (عزيز الفتاوی ج۱، ص۱۰۳، كتاب السنة و البدعة)

د ختنې (سنتي) دعوت بـــــدعت نه دی

سوال: د ماشومانو د سنت كولو په خوښي كښې خلكو ته د شركت كولو دعوت وركول شرعا جائز دي او كه نه؟ په د اسې حال كښې چه ځينې حضرات ورته بدعت وايي؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: په ودونو، ختنې او د اسې نورو خوښيو په مواقعو كښې د خوراكونو پخول او خلكو ته په هغو كښې د شركت كولو د دعوت په وركولو كښې هيڅ قباحت نشته. البته ضروري او لازم ګڼل ئې بنه نه دي.

قال العلامة عبد الحق الدهلوی: در مجمع البحار گفته كه ضيافت بر هشت نوع است وليمه برای عرس و خرس بضم خای معجمه برای ولادت و اعذاء برای ختان و وكيره برای بنا و نقيعه برای قدوم مسافر.... الخ. (اشعة اللمعات ج۳، ص۱۳۹، باب الوليمة)

قال العلامة قطب الدين: (عرس او نحوه) له دي څخه د ختنې، عقيقې او د اسې نورو ميلمستيا مراد ده. (مظاهر حق ج۳، ص۳۵۸، باب الوليمه) و مثله في حاشية صحيح البخاری ج۲، ص۷۷۶، باب الوليمة حق)

د درود شريف لپاره د د ريدلو حكم

سوال: ځينې خلك په جلسو او وعظ او نصيحت په مجالسو كښې د حضورﷺ د نوم مبارك اوريدلو او په جګ آواز سره صلوٰة او سلام كولو ته دريږي. نو آيا شرعا د دلسې دريدلو حكم څه دی؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: په حضورﷺ باندې درود ويل اګر كه د ثواب موجب دی ليكن د درود شريف د لوستلو لپاره دريدل د سلف او خلف له هيڅ يوه فرد څخه ثابت نه دي. له دې برسيره پخپله رسول اللهﷺ د خپل ځان لپاره دريدل نه خوښاوه. لهذا د حضورﷺ د نامه په اوريدلو سره دريدل او درود شريف لوستل او بيا په د اسې عمل باندې التزام كول د شرعي خلاف دی.

لما ورد في الحديث: عن انسؓ قال لم يكن شخص احبّ اليهم من رسول اللهﷺ و كانوا اذا رأوه لم يقوموا لما يعلمون من كراهيته لذلك. (رواه الترمذی و قال حديث حسنٌ صحيح. (مشكوة المصابيح ص۴۰۳، باب القيام)

په مصائبو كښې د بخاري شريف د ختم كولو حكم

سوال: جناب مفتي صاحب! په ځينو ديني مدارسو كښې د مصيبت په وخت كښې د بخاري شريف ختم كيږي نو آيا شرعا د بخاري شريف د ختم څه ثبوت شته او كه نه؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: په مصيبت كښې د بخاري شريف ختم په خير القرون كښې نه وو ليكن متاخرينو علماوو جائز ګرځولی دی.

لما قال العلامه رشيد احمد ګنګوهيؒ: په قرون ثلاثه كښې بخاري شريف نه وو تاليف شوی ليكن ختم ئې صحيح ده ځكه چه د خير له ذكر نه وروسته دعا قبليږي او اصل ئې له شرعي څخه ثابت دی او بدعت نه دی.

د لويو لويو خلكو سالګره (د كال د پوره كيدو) د ورځې د لمانځلو حكم

سوال: نن صبا په عوامو كښې دا يو عام رواج دی چه هر كال د قوم د مقتدا ايانو يعنې رهبرانو او لويو خلكو د كال د پوره كيدو ورځې لمانځي لكه يوم صديق اكبر رضی الله عنه، يوم فاروق اعظم رضی الله عنه، يوم علامه اقبال، يوم قائد اعظم او د اسې نور. نو شرعا د دلسې ورځو د لمانځلو حكم څه دی؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: اسلام يو كامل او مكمل دين او د ژوند ضابطه ده كوم چه د خدای پرستي دا عي دی اوله شخص پرستي څخه منع كوونكی دی. همدا وجه ده چه په خير القرون كښې دا ډول اعمال يعنې د دلسې كلنۍ مراسمو او د اسې نورو هيڅ ثبوت نشته. د رسول اللهﷺ غوندې عظيم شخصيت له دنيا څخه د تللو نه وروسته خلفاء راشدينو او نورو صحابه كرامو رضوان الله تعالى عليهم اجمعين او وروسته راتلونكي تابعينو او تبع تابعين تر دې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

پوري چه يو امام او محدث هم د رسول الله ﷺ کال نه دی لمانځلی او نه ئې په دې باره کښې کومه رخصتي کړې ده۔ ځکه چه رسول الله ﷺ پخپله فرمايي:

لا يحل لامرأة تؤمن بالله و اليوم الآخر ان تحد على ميت فوق ثلثة ايام الا على زوجها اربعة اشهر و عشراً. (الهداية ج۲، ص۴۰۷، باب العدة، فصل في الحداد)

البته د ايصال ثواب لپاره ئې لمانځل او په هغې ورځې کښې د مردګانو د ايصال ثواب لپاره د قرآنکريم ختمونه او د اسې نور اعمال تر سره کول نو دا هم د دغو ورځو د تخصيص له وجهې د شرعي خلاف دی ځکه چه په مقدس شريعت کښې د ايصال ثواب لپاره څه خاص وخت مقرر نه دی۔ بلکه هر وخت او په هر ځای کښې ئې ګنجائش شته۔ د خپل ځان له خوا څخه د يوې خاصې ورځې تاکنه په دين کښې زياتوالي دی کوم چه د اسلام د دين د کامل والي او مکمل والي خلاف دی۔ نو ځکه مسلمانانو ته په کار دي چه د د اسې خرافاتو او بيهوده رسوماتو څخه اجتناب وکړي او د يهودو او هنودو طريقې پريږدي۔

د واده په وخت کښې د تاج ترلو حکم

سوال: جناب مفتي صاحب! نن صبا په ودونو کښې ناوې ته تاج ور په سر کيږي او د ودونو يوه لازمي برخه ګڼل کيږي نو آيا په شريعت کښې ئې څه ثبوت شته او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: تاج جوړول د هندوانو رسم او رواج دی چه تر ډيره وخته پورې د هندوانو او مسلمانانو پخپل منځ کښې د ګډون له مخې سره پيدا شوی دی۔ نو ځکه د اسې کار پرېښودل واجب دي او اصرار او التزام پرې د ګناه سبب دی۔

لما قال العلامه مفتي محمد کفايت الله: د نکاح او يا بل تقريب په موقع باندې ساز او سرود، د تاجونو ترل، نڅا او ګډا ناجائز اعمال دي۔

د کال د پوره کيدو د لمانځلو شرعي حيثيت

سوال: نن صبا د ودونو او نورو خوښيو يو عجيب رسم او رواج جوړ شوی دی او هغه دا چه کله چه د چا د پيدائش تاريخ او ورځ راشي نو خپلو خپلوانو ته د ډوډۍ لپاره دعوت ورکوي او بيا ډير په جوش او خروش سره بتي (شمعې) او د اسې نور شيان بلوي او يو مخصوص ډول کيک پرې کوي۔ په معاشرې کښې د دې د رواج ډير اهتمام کيږي او خلك په دې خوښيو کښې يوه او بل ته ډيرې ګرانقدري تحفې ورکوي او دې ټولو کارونو ته په اصطلاح کښې سالګره ويل کيږي۔ نو آيا شرعا د د اسې سالګرې څه ثبوت شته او که نه؟ او په د اسې دعوتونو کښې شريکيدل او تحفې او د اسې نور شيان ورکول او قبلول جائز دي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په اسلام کښې د دې ډول رسمونو او رواجونو هيڅ ثبوت نسشته۔ په خير القرون کښې هيڅ يوه صحابي، تابعي، تبع تابعي او په ائمه اربعه وو کښې له هيڅ يوه څخه

هم په مروجې طريقې سره کلنی لمانځنه يا سالګره ثابته نه ده۔ دغه بد رسم او رواج انګريزانو جوړ کړی دی او هغو ته په کتو سره دغه رسم او رواج په مسلمانانو کښې هم پيدا شوی دی۔ نو ځکه د د اسې رسمونو او رواجونو ضروري ګڼل او دعوتونو کښې ئې شريکيدل او تحفې او د اسې نور اخيستل او ورکول عبث دي او په مقدس شريعت کښې ئې هيڅ اجازه نشته۔

د عيسوي کال په شروع باندې د خوښۍ حکم

سوال: جناب مفتي صاحب! د دنيا د نورو ممالکو غوندې زمونږ په ملك پاکستان کښې هم دا رواج دی چه کله نوی عيسوي کال شروع کيږي نو خلك يوه او بل ته د (نيو ايئر نائټ تر عنوان لاندې) مبارکی ورکوي او په ټول ملك کښې خوښۍ جوړوي نو آيا د عيسوي کال په شروع کښې په دې طريقې سره د خوشحالی د کولو په مقدس شريعت کښې څه ثبوت شته او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د مسلمانانو لپاره هجري کال مقرر دی او په دې سره زمونږ د اسلامي تشخص اظهار کيږي او عيسوي کال د عيسايانو دی او هغوی د دې کال په راتلو باندې خوشحالی کوي۔ ځينې مسلمانان د جهالت او ناپوهی له وجهې د عيسوي کال په راتلو باندې خوښي کوي۔ له دې وجهې مسلمانان بايد د خپل اسلامي تشخص د برقرارہ ساتلو لپاره هجري کال خپل کړي او د خپل حساب او کتاب دارو مدار ټول د دې کال په مطابق جوړ کړي ځکه چه د اسلامي عباداتو تعلق د قمري يعني هجري کال پورې دی نه د عيسوي کال پورې۔

د نوي کار د شروع کولو په وخت کښې د قرآن خوانی د اهتمام حکم

سوال: جناب مفتي صاحب! نن صبا عام رواج جوړ شوی دی چه کله يو څوك نوی کاروبار شروع کوي او يا کور او د اسې نور جوړوي نو د خير او برکت په غرض سره خو کسان را ټولي او په هغو باندې د قرآن کريم ختم کوي او تر دومره اندازې پورې ئې اهتمام کوي چه يو کار يا لکل نه شروع کوي تر څو پورې ئې چه د قرآنکريم ختم نه وي کړی۔ نو شرعا په د اسې مواقعو کښې د قرآنکريم ختم څه حکم لري؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د قرآنکريم تلاوت في نفسه د خير او برکت ذريعه ده او په تلاوت سره ئې کاروبار، دوکان او د اسې نورو کښې برکتونه لويږي ليکن د دين جزء بايد و نه ګرځول شي۔ د قرآنکريم له ختم نه پرته هم د خير او برکت دعاګاني غوښتل کيدلی شي۔ البته د قرآنکريم ختم ته د يو رواج شکل ورکول او ضروري ګڼل او اهتمام ئې کول په دين کښې له زياتوالي سره برابر دی۔

د جُمعې تر لمانځه نه وروسته د درود شريف د لوستلو حکم

سوال: جناب مفتي صاحب! له ډير وخت څخه په ځينو جوماتونو کښې د جُمعې د لمانځه نه وروسته په اجتماعي توګه سره خلك درېږي او په لاسپيکر کښې په جګ آواز سره د صلوٰة او سلام د ويلو رواج ئې جوړ کړی دی او په نه ويونکو پسې لعن، طعن او بد رد ويل کيږي نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

شرعاً د دې څه حکم دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په حضور ﷺ باندې درود او سلام لوستل د اقرب القربا ئو څخه دی لیکن مقدس شریعت د دې لپاره کوم خاص وخت او ورځ نه دی تاکلی بلکه یو مسلمان چه کله هم او په کوم ځای کښې هم وي په حضور ﷺ باندې درود شریف ویلی شي او دا عمل د اجر او ثواب باعث هم دی۔ د بریلوي حضراتو د دې نوي ایجاد شوي عمل په خیر القرون کښې کوم ثبوت نشته۔ دا عمل د دغو حضرانو خود ساخته عمل دی کوم چه شرعائي پریښودل واجب دي۔

په خوراك باندې لاس اینبودل او دعا کول

سوال: په څینو علاقو کښې دا عام رواج دی چه بنځې خوراك او د اوبو گیلاس خپل مخته ردي او لاس پرې ردي او بیا فاتحه خواني کوي۔ دا عمل شرعاً څه حکم لري؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د ایصال ثواب لپاره خوراك او د لسې نور شیان په فقیرانو او مسکینانو باندې ویښل جائز دي لیکن د لاس اینبودل او بیا دعا غوښتل کوم اصل نه لري او د شریعت خلاف عمل دی۔

لما قال العلامه المفتي کفایت الله صاحبؒ: خوراك په مخکښې کیښودل او فاتحه خواني کولو رواج اصل نه لري۔ خوراك د الله تعالی لپاره یوه مسکین ته ورکړی بس همدا کافي دی او په کوم شي باندې چه ثواب ورته رسوی هغه پرته له خوراك نه ولولی ثواب ئې ور ورسوی۔ نیمه مړی په دریاب او یا ویالي کښې اچول جائز دي او دا ثواب ګنل غلط دي۔ (کفایت المفتي ج۱، ص۲۱۹، کتاب العقائد)

و لما قال العلامه مفتي محمود حسن ګنګوهيؒ: (سوال) آیا حضور اکرم ﷺ، صحابۂ کرامو، امام حسن او امام حسین، تابعینو، حضرت امام ابو حنیفه رضی الله عنهم اجمعین، حضرت غوث پاك، حضرت خواجه معین الدین چشتي رحمهما الله خپل مخته خوراکونه کیښودل او بیا ئې د فاتحې په لوستلو سره په چاپسې بخښل او که څنګه؟

(ځواب) نومورې اکابرین د شریعت او سنت تابع وو دا بې دلیله او غلطې طریقې به دوی څنګه غوره کولې؟ (فتاوی محمودیه ج۱۵، ص۴۰۷/۴۰۸، باب البدعات و الرسوم)

د اولیاء الله ووّ په قبرونو باندې د طواف حکم

سوال: تن صبا څینې خلك خصوصا بنځې د اولیاء الله وو رحمهم الله په قبرونو باندې ګرد چاپیره د کعبې د طواف غوندې تاویږي او ثواب ئې بولي شرعاً د دې څه حکم دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د اولیاء الله ووّ په مزارونو او قبرونو باندې طواف کول حرام او ناجائز دي او دې کار ته ثواب ویل کفر دی۔ نو له دې وجهې له د لسې ګنده او مشرکانه عمل څخه ځان ساتنه ضروري ده۔

لما قال العلامة ملا علی قاریؒ: و لا یطوف ای و لا یدور حول البقعة الشریفة لان الطواف من مختصات الکعبة المنیفة فیحرم حول قبور الانبیاء و الاولیاء و لا اعتبار بما یفعله العامة الجهلة و لو کانوا فی صورة المشائخ و الاولیاء. (ارشاد الساری ص ۳۴۲، فصل و بلغتم ایام مقامه)

لما قال العلامة شاه محمد اسحٰق الدهلویؒ: طواف کردن قبر سه بار باشد یا غیر سه بار شرعاً غیر جائز و حرام است و مرتکب حرام که اصرار بران و فاسق می شود و اگر جائز و مستحب دانسته طواف نموده باشد موجب کفر است. (مائة مسائل ص ۵۹، سوال سی و چهارم) و مثله فی تالیفات رشیدیة ص ۱۳۵، کتاب البدعات)

په قبرونو باندې د څادر غوړولو حکم

سوال: څینې خلك د اولیاء الله ووّ په قبرونو باندې د ګلانو او څادرونو غوړولو عمل ترسره کوي نو شرعاً دا عمل څه حکم لري؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: تازه ګلان او شنې پانې یا بناخونه او د اسې نور په قبرونو باندې په دې نیت سره اچول چه د قبر عذاب پرې سپك شي او د دغو شیانو په حمد او ثنا باندې به مړي ته نفع ورسیږي اګر که شرعاً جائز دي لیکن د شر، فساد او فتنو په دې دور کښې چونکه په نیتونو کښې اکثر فتور پیدا شوی دی نو ځکه علماء کرامو د اولیاء الله ووّ په قبرونو ګلان او څادرونه اچول د شرعي خلاف ګرځولي دي۔

لما قال العلامه اشرف علي تهانوي رحمه الله: آیا د عوامو دغه نیت وي؟ که چیرته ئې دا نیت وای نو د فساقو، ګنهګارانو په قبرونو باندې به ئې ګلان شیندل او د اولیاء الله ووّ په قبرونو باندې به ئې نه شیندل۔ او که چیرته د چا همدا نیت هم وي بیا هم دا فعل د عوامو لپاره د فساد موجب ګرځي۔ نو د دې لپاره د هغوی لپاره هم منهي عنه دی۔ (امداد الفتاوی ج۵، ص۳۴۰، کتاب البدعات)

قال العلامة محمد یوسف البنوریؒ: فتری العامة یلقون الزهور علی القبور و ربما لاتخص علی قبور الصلحاء و الاولیاء و الجهلة منهم ازداد و اصراراً علی ذلك و تقالوا فیه و اوصحت ذلك منشأ فی الجهلة لعقائد فاسدة تابها الشریعة النقیة و طوا ذلك سبباً للثواب و الاجر الجزیل فا لمصلحة العامة فی الشریعة تقتضی منع ذلك بتاتاً استصالاً لشائة البدع و حسما لمادة المنکرات المحدثة و بالجملة هذه بدعة مشرقیة منکرة. (معارف السنن ج۱، ص۲۶۵، باب التشدید فی البول)

قال العلامة عبد الحق الدهلویؒ: این قدر تعظیم قبر در شرع آمده که بران جلوس نکند و پا ننهد و نعل بران نه دارند و از غائط و بول بران احتراز سازد و تعظیم قبر بوسه دادن و دست مالیدن و سجده و طواف و تقبیل نمودن و منحنی شدن درو بخاك مالیدن درست نیست. چنانچه روایات این امور در جوابات سابقه گذشته و ازان جمله در کتاب کشف الغطاء شیخ الاسلام مذکور است دست ننهند بر قبر و مسح نکند و بوسه ندهد و منحنی نه شود و بخاك او نمالد زیرا که این عادت نصاری است و مشائخ در منع آن تشدید بسیار دارند و آنچه عوام مردم الان کنند از بدعتهای منکر است شرعاً و بالجملة شك نیست. (مائة مسائل ص ۶۷، سوال چهل و چهارم)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

د والدینو د قبرونو د ښکولو په باره کښې شرعي حکم

سوال: جناب مفتي صاحب! د وعظ په دوران کښې مې له یوه مولوي صاحب څخه واوریدل چه د والدینو د قبرونو ښکلول جائز دي په دا سې حال کښې چه مونږ له علماء کرامو څخه دا اورو چه د قبرونو ښکلول حرام او قبر پرستي ده نو آیا د والدینو د قبرونو ښکلول له دي حکم څخه مستثنٰی دی او آیا دا قبر پرستي نه ده؟ د قرآن او سنتو په رنا کښې د دي وضاحت وکړئ؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: قبر پرستي که د والدینو وي او که د بل چا ناجائزه او حرامه ده۔ په اسلام کښې ئې قطعا اجازه نشته۔ مولوي صاحب چه کومه خبره په وعظ کښې کړې ده دا خبره د یوه نادر الوقوع کتاب مصنف کړې ده لیکن دا د فتوٰی ور فتوٰی نه ده ځکه چه په نادر الوقوع کتابونو باندې فتواوي ورکول د افتاء د قواعدو خلاف دی نو د دي لپاره صحیح او د فتوٰی ور قول دا دی چه د والدینو د قبرونو ښکلول هم حرام او ناجائز دي۔

لما قال العلامة عبد الحیؒ: بوسه دادن قبر والدین جائز است یا نه؟ (الجواب) حرام است کذا صرح ملا علی القاری و غیره. (مجموعة الفتاوٰی ج۳، ص ۶۷۰، ما یتعلق با لقبور، کتاب الجنائز)

له لمانځه پرته د شبینې حکم

سوال: په ځینو علاقو کښې د مړي د ایصال ثواب او یا د تقرب الٰهي لپاره څو کسه حفاظ کرام د شبینې اهتمام کوي او کیفیت ئې دا وي چه هر حافظ پخپل وار باندې قرآن کریم خپلې مخې ته نیسي او بغیر د لمانځه نه ئې په لاسپیکر کښې تلاوت کوي او د اسلسله توله شپه جاري وي چه له مخې ئې د خلکو خوبونه خرابیږي، مریضانو ته هم تکلیف وي په دا سې حال کښې چه په ځینو خاصو حالاتو کښې د قرآنکریم اوریدل بې ادبي هم وي۔ اوس د پوښتنې ور خبره دا ده چه په دي طریقې سره په شریعت کښې د قرآنکریم د تلاوت کولو ګنجائش شته او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د قرآنکریم تلاوت اګر که له اعظم القربات (خدای ته د نژدې کیدو له تولو ذرائعو) څخه یوه لویه ذریعه ده لیکن سره له دي د قرآنکریم د تلاوت لپاره هم هغه طریقه او کیفیت غوره کړی چه آثار ئې په قرون ثلاثه کښې شتون ولري۔ د خپل ځان له خوا څخه د قرآنکریم د تلاوت لپاره یوه دا سې طریقه او کیفیت اختیارول چه په خیر القرون کښې ئې مثال نه وي او سره له دي خلکو ته د تکلیف د رسولو له وجهې د ګناه او عذاب باعث هم دی۔ نو ځکه د صورت مسئوله مطابق دا سې شبینې درست نه بلکه پرینبودل ئې واجب دي۔

دریمه (رسم قل) او د اسې نورو کښې د قرآنکریم د ختم حکم

سوال: د برصغیر یعني پاک او هند په اکثرو علاقو کښې دا رواج عام دی چه د مړي په دریمه ورځ د کلي د جومات امام، حفاظ کرام او د اسې نور خلك جمع کوي او د مړي د ایصال ثواب لپاره د قرآنکریم ختم کوي او په دي رسم او رواج باندې په سختي سره عمل کوي او په نه

کوونکو باندې ډیر لوی لوی الزامونه لګوي۔ نو آیا شرعا د ایصال ثواب د دي طریقې څه حکم دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د مړي د ایصال ثواب لپاره د قرآنکریم تلاوت، نفل لمونځونه او دا سې نور نیك عملونه مرخص دي او مړي ته نفع پرې رسیږي لیکن د دي کار لپاره د وخت او ورځو تخصیص د شریعت له مخې ثابت نه دی نو د دي لپاره د ایصال ثواب پورته ذکر شوي طریقه فقهاء کرامو بدعت بللي ده۔

لما قال العلامة رشید احمد گنگوهیؒ: مقرر کردن روز سوم و غیره با لتخصیص و اورا ضروری انگاشتن در شریعت محمدیه ثابت نیست. صاحب نصاب الاحتساب آن را مکروه نوشته رسم و راه تخصیص بگذارند هر روزیکه خواهند بروح میّت رسانند و میت قریب مرگ خود زیاده تر محتاج مدد می شود. هر قدر کهی ایصال ثواب بهر روزیکه شود موجب خیر است. (تالیفات رشیدیه ص ۱۴۲، کتاب البدعات)

تر لمانځه وروسته "ان الله و ملٰئکته الخ" التزاما لوستل

سوال: د جوماتونو ځینې امامان د فرض تر لمانځه وروسته په التزام سره په جګ آواز باندې دا آیت کریمه "ان الله و ملٰئکته الخ" تلاوت کوي او بیا درود شریف لولي او په نه لوستونکو باندې د وهابیت او منکرِ درود فتواوي لګوي نو آیا د فرض لمونځونو نه وروسته په جګ آواز سره د درود شریف لوستل ضروري دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: درود شریف که په جګ آواز سره اوي که په تیت آواز سره له التزام پرته د اجر او ثواب باعث دی لیکن په صورت مسئوله کښې ذکر شوي طریقه نه په قرون با لخیر کښې او نه په ائمه اربعه ووّ کښې له چا څخه ثابته ده۔ نو د دي لپاره نوموړي طریقه که انفرادي وي او که اجتماعي دواړه د شریعت خلاف او بدعت ده۔

لما قال العلامة ابن امیر الحاج المالکیؒ: الصلٰوة و التسلیم علی النبیﷺ لا یشك مسلم انها من اکبر العبادات و اجلها و ان کان ذکر الله تعالی و الصلٰوة و السلام علی النبی حسنا سراً و علانیا لکن لیس لنا ان نفع العبادات الا فی مواضعها التی وضعها الشارع فیها و مضی علیه سلف الامة الا تری الی قول عبد الله بن عمرؓ رأیناه یفعل..... و الصلٰوة و التسلیم علی النبیﷺ احد ثوابها فی اربعة مواضع لم تکن تفعل فیها فی عهد من مضی و الخیر کل فی الاتباع لهم. (المدخل ج۲، ص ۲۶/۲۵)

و لما قال العلامه مفتي کفایت الله صاحبؒ: (سوال) له سنتو نه وروسته د امام په اجتماعي شکل سره فاتحه خواني او درود ویل د ثواب کار دی او که بدعت؟

(ځواب) له سنتو نه وروسته د دي عمل التزام سنت نه دی او په دي باندې اصرار او التزام بدعت دی۔ (کفایت المفتي ج۱، ص۲۴۵، کتاب العقائد)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

د عـــــــرفي په ورځ له حجاجو سره د مشابهت له وجهې له بنـــــــار څخه د باندې وتلو حکم

سوال: جناب مفتي صاحب! د عرفي ورځ ډيره مبارکه ورځ ده۔ په دې ورځې باندې حاجي صاحبان د عرفات په ميدان کښې جمع کيږي او د ماسپښين او مازديګر لمونځونه په يو ځای ادا کوي۔ نو که چېرته مونږ په پاکستان کښې له کلي او بنار څخه د باندې لاړ شو او په يوې غرنۍ علاقې کښې د غره په لمن کښې له حجاجو سره د مشابهت لپاره د ماسپښين او مازديګر لمونځونه ادا کړو نو آيا زمونږ به ثواب کيږي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د عرفي ورځ اګر که ډيره مبارکه ورځ ده ليکن له حجاجو کرامو سره د تشبيه لپاره د عرفات له ميدان څخه پرته پخپلو خپلو علاقو کښې د باندې ميدان ته وتل او د ماسپښين او مازديګر د لمونځونو ادا کول په مقدس شريعت کښې نشته له دې وجهې فقهاء کرامو دا عمل بې اصله او بدعت ګرځولی دی نو د دې لپاره په دې عمل باندې د اجر او ثواب اميد خو پريږده د عذاب خطره ده۔

لما قال العلامة ابن عابدينؒ: و الحاصل ان الصحيح الكراهة كما في الدرر بل في البحر ان ظاهر ما في غاية البيان انها تحريمية و في شرح المنية انما مفاتيح هذه الاشياء البدع..... و ما لم يكن من امرهم فهو بدعة و البدعة اذا لم يستلزم سنة فهي ضلالة. (رد المحتار)

لما قال العلامة مفتي عزيز الرحمنؒ: د عرفي په ورځ د خلکو له حاجيانو سره د مشابهت له مخې دريدل او په جمعې سره د ډيرو نفلونو کول په دې خيال چه د بې شکه حج ثواب ورکول کيږي بې اصله، بدعت او مکروه دي۔ (عزيز الفتاوی ج۱، ص۱۰۲، کتاب السنة و البدعة)

د چندې له روپو څخه د خورو د تقسيمولو شرعي حيثيت

سوال: نن صبا په ځينو جوماتونو کښې د رمضان المبارک په مياشت کښې په تراويحو کښې د قرآنکريم د ختم په وخت په آخري شپه کښې خلک چندې جمع کوي او په حاضرينو باندې خواره ويشي په دې حال کښې چه ځيني خلک وايي چه دا بدعت دی۔ د مقدس شريعت په رنا کښې د دې مسئلې وضاحت وکړی چه آيا په ربنتيا هم دا سې کول بدعت دي؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د قرآنکريم د ختم په وخت کښې د خورو ويشل شرعا جائز او مرخص دي او بدعت ورته ويل صحيح نه دي۔ البته د چندې په روپو باندې خواره اخيستل او ويشل صحيح نه دي۔ بيا هم که چېرته يو څوک له چندې پرته په انفرادي توګه پخپلو روپو باندې خواره راوړي او په خلکو ني وويشي نو بيا پروا نه لري۔

لما قال العلامه رشيد احمد ګنګوهي صاحبؒ: د چندې په روپو باندې په دا سې ډول سره د خورو ويشل صحيح نه دي خصوصا په هغو ځايونو کښې چه په التزام سره ويشل کيږي او نه

ويشونکي ملامت کيږي۔ (تاليفات رشيديه ص۱۴۸، کتاب البدعات)

لما قال العلامه اشرف علي تهانوي رحمه الله: د الم ترکيف او د تول قرآن حکم په دې امورو کښې يو شان دی۔ ځينې بې فائدې رنا کول اسراف او بدعت دي او د خورو ويشل لازمي ګڼل هم بدعت دي۔ (امداد الفتاوی ج۵، ص۲۸۹، کتاب البدعات)

د قـــــــرآنکريم د ختم په ورځ د جوماتونو د رنا کولو حکم

سوال: نن صبا په رمضان المبارک کښې د قرآنکريم د ختم په موقعو کښې اکثره جوماتونه په برقونو باندې رنا کيږي او په ډول ډول رنا ګانو باندې ني ښاڼسته کوي۔ آيا په شريعت کښې ني خه ثبوت شته او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په جوماتونو او نورو ځايونو کښې له ضرورت څخه زياته رنايي د اسراف په حکم کښې راځي او بيا د دا سې کول بنه ګڼل او اصرار پرې کول او ضروري ګڼل ني د بدعت په حکم کښې راځي۔ نو له دې وجهې په رمضان او غير رمضان کښې د دا سې کارونو اهتمام د ګناه سبب او موجب دی۔

لما قال العلامه رشيد احمد ګنګوهي صاحبؒ: له ضرورت څخه زياته رنايي او بيا د هغې ضروري ګڼل اسراف او بدعت او صحيح نه دی۔ (تاليفات رشيديه ص۱۵۲، کتاب البدعات)

و لما قال العلامه اشرف علي تهانويؒ: د الم ترکيف او تول قرآنکريم حکم په دې امورو کښې يو شان دی يعنې له ضرورت پرته رنايي اسراف او بدعت دی او د خورو د ويشلو لازم ګڼل هم بدعت دی الخ۔ (امداد الفتاوی ج۵، ص۲۸۹، کتاب البدعات)

د تعزيې په توګه د بُراق د صورت د جوړولو حکم

سوال: د محرم الحرام په مياشت کښې ځيني خلک د براق صورت او شکل جوړوي او بيا ني د تعزيې په توګه وړاندې کوي او د ثواب او د خير کار ني ګڼي نو آيا شرعا د دې خه ثبوت شته او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: اسلام په هر ډګر کښې د بتانو د جوړولو ممانعت کړی دی او خلک ني د دې قبيح عمل څخه په سختي سره منع کړي دي۔ چونکه براق هم يو جاندار يعنې روح لرونکی مخلوق دی نو له دې وجهې په هر يوه عنوان سره ني چه شکل او صورت جوړ شي په شرع کښې ممنوع دی او همدا رنګه دا سې ډول تعزيه جوړول که په محرم الحرام کښې وي او که په نورو مياشتو کښې حرام او بدعت دي۔

لما ورد في الحديث: عن سعيد بن الحسن قال كنت عند ابن عباس اذ جاءه رجل فقال يا ابن عباس اني رجل انما معيشتي من صنعة يدي و اني اصنع هذه التصاوير فقال ابن عباسؓ الا احدثك ما سمعت من رسول اللهﷺ سمعته يقول من صور صورة فان الله معذبه حتى ينفخ فيها الروح و ليس بنافخ فيها ابداً فربا الرجل ربوة شديداً و اصفر وجهه فقال ويحك ان ابيت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

الا ان تصنع فعليك بهذه الشجرة و كل شيء فيه روح. (مشكوة ص ۳۸٦، باب التصاوير، الفصل الثالث)

و عن ابي طلحة قال قال النبي ﷺ لا تدخل الملئكة بيتاً فيه كلب و لا تصاوير. متفق عليه. (صحيح بخاري ج۲، ص ۸۸۱، باب من كره القعود على الصور، كتاب اللباس) و مثله في امداد الفتاوى ج۵، ص ۳۳۲، كتاب البدعات، الفصل المحرم في فصل المحرم)

د تعزيې په جلوس کښې شرکت حـــــرام دی

سوال: جناب مفتي صاحب! هر کال اهل تشيع په لسم د محرم الحرام کښې د تعزيت جلوسونه جوړوي او اهل سنت و الجماعت حضرات هم په ډير جوش او خروش سره د اجر او ثواب په نيت سره د دوی په جلوسونو کښې ور شريکيږي. نو آيا په داسې ډول جلوسونو کښې شرکت د شريعت له مخې جائز دی او که نه؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: په لسم د محرم کښې تعزيه جوړول او جلوسونه ايستل تول مخترعات او بې اصله امور دي. د داسې ډول اعمال د شريعت خلاف او د بدعت په حکم کښې راځي. نو د دې لپاره په دا ډول جلسو او جلوسونو کښې شرکت ناجائز او حرام دی.

لما قال العلامة شاه عبد العزيز: تعزيه داری در عشرهٔ محرم و ساختن ضرائح و صورت قبور وغيره درست نيست. (فتاوی عزيزی ج۱، ص ٦۸)

ايضا قال: دران مجلس به نيت زيارت و گريه و زاری حاضر شدن هم جائز نيست زيرا که آنجا زيارت نيست که برای او حاضر شود و اين جوبها که ساخته شده است قابل زيارت نيستند بلکه قابل ازاله اند. (فتاوی عزيزی ج۱، ص ٦۹)

و لما قال المولوي احمد رضا خانؒ: د تعزيې علم (بيرغ)، نکريزي لکه څرنګه چه رائج دی، بدعت دی. او بدعت د اسلام شوکت نه دی او تعزيه حاجت روا (د حاجت د پوره کيدو ذريعه بلل) په جهالت د پلسه جهالت دی او له تعزيې څخه د خپلو حاجتونو غوښتل حماقت دی او نه کوونکي ټې د نقصان باعث ګڼل وهم او محض خيال دی. مسلمانانو ته په کار دي چه له داسې حرکاتو څخه دي لرې او منع شي. (رساله مُحرم او تعزيه داري ص۵۹) بحواله فتاوی رحيميه ج۱۰، ص۴۳۸، رد بدعات) و مثله في فتاوی رحيميه ج۱۰، ص۴۳۵، تا ص۴۴۲، رد بدعات)

د صفر المظفر په آخري چهار شنبې کښې د خوشحالۍ د کولو شرعي حيثيت

سوال: جناب مفتي صاحب! په ځينو علاقو کښې دا رواج دی چه ځينې خلك د صفر المظفر په آخري چهار شنبې کښې خوشحالي کوي او دا وايي چه په دي ورځ کښې رسول الله ﷺ ته له مرض څخه شفا حاصله شوې وه. او په دي ورځ باندې بلاګاني د آسمان په طرف ټي نو ځکه په دي ورځ بايد خوشحالي وشي او خواره وويشل شي. اوس پوښتنه دا ده چه د صفر په ميا شت کښې د دې عمل شرعا څه ثبوت شته او که نه؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د صفر ميا شت منحوسه ګڼل د اسلافو له اسلامي عقيدې سره ټکر

دی او رسول الله ﷺ د داسې عمل څخه په سختي سره منع فرمايلي ده. په دي مبارکي مياشت کښې نه بلاګاني له آسمان څخه کوزيږي او نه ټي په آخري چهار شنبې کښې بيرته پورته کيږي او نه امام الانبياء محمد رسول الله ﷺ په دي ورځ له مرض څخه بنه شوی دی بلکه مؤرخينو ليکلي دي چه په ۲۸ د صفر کښې حضور ﷺ مريض شوی وو.

لما قال العلامه مفتي عبد الرحيمؒ: د مسلمانانو لپاره د صفر المظفر د مياشتي په آخري چهار شنبې کښې خوشحالي جائزه نه ده. په شمس التواريخ کښې راغلي دي چه په ۲۹ صفر ۱۱ هجري کښې د دوشنبې په ورځ حضور ﷺ له روميانو سره د جهاد حکم کړی وو. او په ۲۷ د صفر کښې ټي د سه شنبې په ورځ اسامه بن زيد د لښکر امير مقرر کړ او په ۲۸ د صفر کښې د چهار شنبې په ورځ حضور ﷺ بيمار شوی وو ليکن بيا ټي هم پخپل لاس نښه تياره کړي وه او اسامه ته ټي ورکړي وه. تر اوسه پوري لا لښکر نه وو روان شوی چه د چهار شنبې د ورځي په آخري برخه او د پنجشنبې په ورځ د حضور ﷺ علالت خراب او خوفناك شوی وو او يو قيامت جوړ شوی وو. د دي ورځي له ماسخوتن څخه حضور ﷺ حضرت ابو بکر صديق رضی الله عنه ته د لمانځه د امامت کولو حکم ورکړ او هغه ټي مقرر کړ. (شمس التواريخ ج۲، ص۱۰۰۸) له دي څخه خو دا ثابتيږي چه ۲۸ د صفر د چهار شنبې ورځ د حضور ﷺ په مرض کښې زياتوالی راغلی وو او دا ورځ د چهار شنبې ورځ وه. يعني دا د صفر د مياشتي د آخري چهار شنبې ورځ وه نو دا ورځ خو د مسلمانانو لپاره بالکل د خوښي ورځ نه شي کيدلی البته د يهودو او نورو قومونو لپاره د خوشحالي او خوښي ورځ کيدلی شي. په دي ورځ کښې جشن جوړول، خوښي کول او په مدارسو او داسې نورو ادارو کښې تعطيل او رخصتي کول دا تولې خبرې خلاف د شرعي او ناجائزې دي. (فتاوی رحيميه ج۱، ص۱۱۹/ ۱۲۰، کتاب العلم)

و قال المولوي احمد رضا خان البريلويؒ: (الجواب) د آخري چهار شنبې هيڅ اصل نشته. نه په دي ورځي باندې د حضور ﷺ د صحت څه ثبوت شته بلکه د ده مبارك ﷺ مرض چه له مخې ټي دی مبارك ﷺ وفات هم شو ابتداء ټي له همدي ورځي څخه وشوه. (احکام شريعت ج۲، ص۵۰، بحواله فتاوی رحيميه ج۱، ص۱۲۰، کتاب العلم) ومثله في کفايت المفتي (ج۱، ص۲۲۷، کتاب العقائد)

د رمضان المبارك په درويشتمه شپه د خوږو د ويشلو حکم

سوال: په ځينو علاقو کښې دا دستور دی چه د رمضان المبارك په درويشتمه شپه د شپې د تراويحو تر لمانځه وروسته د جومات امام او يا د قرآن حافظ د سورت عنکبوت او د سورت روم تلاوت کوي او خواړه او داسې نور پري دموي او هغه خواړه بيا په حاضرينو باندې ويشي او دا عمل مستحب بولي. نو آيا په ربښتيا هم دا طريقه مستحبه ده؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د رمضان المبارك په درويشتمه شپه کښې د قرآنکريم د ځينو

جلد اول

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

سورتونو لکه د سورت عنکبوت او سورت روم تعین او لوستل او بیا ئې په خوږو باندې دمول او هغه خواږه په حاضرینو باندې ویشل بې اصله او بدعت دی۔ په مقدس شریعت کښې د دې هیڅ ثبوت نشته۔ لهذا اله دې څخه اجتناب وکړی اګر که د قرآنکریم اوریدل او اورول د اجر او ثواب کار دی۔

لما قال العلامة ابن نجيم المصريؒ: لان ذكر الله اذا قصد به التخصيص بوقت دون او شيء دون شيء لم يكن مشروعا حيث لم يرد الشرع به لانه خلاف المشروع. (البحر الرائق ج۲، ص۱۵۹، باب العیدین)

قال العلامة ابن عابدينؒ: بان تخصيص الذكر بوقت لم يرد به الشرع غير مشروع. (رد المحتار ج۲، ص۱۷۰، باب العیدین، مطلب يطلق المستحب على السنة و بالعكس)

د فرض تر لمانځه وروسته په جګ آواز سره دعا بدعت نه ده

سوال: زمونږ د کلي د جومات امام صاحب ته مقتدیانو وویل چه محترمه! د فرض تر لمانځه وروسته چه کله دعا کوې نو په اول او آخر کښې نې څه کلمې په جګ آواز سره ولولی تر څو چه مونږ ته د دعا د شروع او ختم کیدو معلومات وشي نو په دې باندې امام صاحب وفرمایل چه د فرض لمانځه نه وروسته په جګ آواز سره دعا کول بدعت دي۔ او اسلام دا کار ممنوع ګرځولی دی۔ که چېرته نې څوک ثابت کړي نو زه دې ته تیار یم چه غاړې ته مې رسۍ واچوی او په بازار کښې مې وځکوی۔ نو اوس عرض دا دی چه مونږ ته د دې مسئلې حل د قرآن او حدیثو او اسلامي فقهې په رنا کښې عنایت کړئ؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د صورت مسئوله د ځواب لپاره په څو مقدماتو باندې پوهیدل ضروري دي چه لاندې په تفصیل سره نمبروار لیکل کیږي۔

﴿۱﴾ له حضور ﷺ څخه د فرض تر لمانځه وروسته دعا قولاً او عملاً دواړه ثابت دي۔

﴿الف﴾ امام ابو عیسیٰ ترمذي د حضرت ثوبان رضی الله عنه څخه روایت نقل کړی دی۔ کان رسول الله ﷺ اذا اراد ان ينصرف من صلاته استغفر ثلاث مرات ثم قال و انت السلام و منك السلام تباركت يا ذا الجلال و الاكرام. (ترمذی علی صدر معارف السنن ج۳، ص۱۲۱، باب ما يقول اذا سلم)

﴿ب﴾ امام ابن ابي شيبه نقل کوي: حدثني رجل من الانصار قال سمعتُ رسول الله ﷺ يقول في دبر الصلوٰة اللّٰهم اغفر لي و تب عليّ انك انت التواب الرحيم مائة مرة.

﴿ج﴾ عن ام سلمة ان النبي ﷺ كان يقول اذا صلى الصبح حين يسلم اللّٰهم اني اسئلك علماً نافعاً و رزقاً طيباً و عملاً متقبلاً. (رواهما مصنف ابن ابی شیبة ج۷، ص۳۹، رقم ۱۵/۱٤، کتاب الدعاء)

﴿د﴾ علامه ابن السني روایت کوي: عن انس ان النبي ﷺ قال ما من عبد يبسط كفيه في دبر كل صلوة يقول اللّٰهم الهي و اله ابراهيم و اسحاق و يعقوب..... الا كان حقاً على الله ان لا يرد يديه خائبتين. (عمل الیوم و اللیلة بحواله معارف السنن ج۳، ص۱۲۳، باب ما يقول اذا سلم)

له دې برسیره نور هم ډیر روایتونه د حدیثو په کتابونو کښې راغلي دي چه له فرائضو وروسته

دعا ثابتوي نو له دې وجهې علامه محمد یوسف بنوري رحمه الله فرمایي:

الدعاء للامام و المأموم و المنفرد مستحب عقب كل صلوٰت بلا خلاف و يقول و يستحب ان يقبل على الناس فيدعوا. (معارف السنن ج۳، ص۱۲۳، باب ما يقول اذا سلم)

﴿۲﴾ همدارنګه له رسول الله ﷺ څخه په اجتماعي هیئت سره د صحیحو روایتونو له مخې دعا ثابته ده۔ علامه بنوري رحمه الله فرمایي:

فهذه و ما شاكلها من الروايات في الباب تكفي حجة لما اعتاده الناس في البلاد من الدعوات الاجتماعية دبر الصلوٰة و لذا ذكره فقهائنا ايضاً كما في نور الايضاح و شرحه مراقي الفلاح. (معارف السنن ج۳، ص۱۲۳، باب ما يقول اذا سلم)

﴿۳﴾ د ذکر او دعا په باره کښې دواړه قسمه روایتونه وجود لري۔ له ځینو روایتونو څخه په خفیه توګه ذکر او دعا ثابته ده په داسې حال کښې چه په جهر سره دعا کول هم ثابت دي۔ رسول الله ﷺ او د ده د صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم اجمعین په اتباع کښې فقهاوو، صلحاوو او د امت علماوو په جګ آواز سره دعا ګانې کړې دي۔ څو دلیلونه د نمونې په توګه وړاندې کوو۔

﴿الف﴾ علامه بنوري رحمه الله د كنز العمال په حوالې سره یو روایت نقل کړی دی چه: "لا يجتمع ملاء فيدعوا بعضهم و يؤمن بعضهم الا اجابهم الله" (معارف السنن ج۳، ص۲۲، باب ما يقول اذا سلم)

له دې روایت څخه په جګ آواز سره دعا کول په واضحه توګه څرګندیږي ځکه چه په دعا باندې آمین په هغه وخت کښې ویل کیږي چه دعا کوونکی په جګ آواز سره دعا وکړي او بل سړی نې واوري۔

﴿ب﴾ علامه شبیر احمد عثماني رحمه الله له حضور ﷺ څخه روایت نقل کړی دی: كان رسول الله ﷺ اذا سلم من صلوته يقول بصوته الاعلى لا إله الاّ الله وحدهُ لا شريك له الخ. (فتح الملهم ج۲، ص۱۷۱، باب الذكر بعد الصلوٰة)

﴿ج﴾ په صحیح المسلم کښې دي چه: ان ابن عباسؓ اخبره ان رفع الصوت با لذكر حين ينصرف الناس من المكتوبة كان على عهد النبي ﷺ و انه قال قال ابن عباسؓ كنت اعلم اذا انصرفوا بذلك اذا سمعتهُ. (صحیح مسلم علی صدر فتح الملهم ج۲، ص۱۷۱، باب الذكر بعد الصلوٰة)

له دغو دواړو روایتونو څخه هم په جګ آواز سره ذکر او دعا ثابتیږي ځکه چه ابن عباس رضی الله عنهما په دې وخت کښې حدیث السن وو۔ هغه له لمانځه څخه د فارغیدو نه وروسته دا ذکر یا په آخري صف کښې اوریدلی دی او یا له جومات څخه دباندې۔

د دې لپاره علامه عثماني د دې روایت لاندې لیکي: و استدل بحديث الباب بعض السلف على استحباب رفع الصوت با لتكبير و الذكر. (فتح الملهم ج۲، ص۱۷۱، باب الذكر بعد الصلوٰة)

او همدارنګه علامه نووي رحمه الله هم د دې حدیث لاندې لیکي: هٰذا الحديث دليل لما قاله بعض السلف انه يستحب رفع الصوت با لذكر عقيب المكتوبة. (مجموعة رسائل الكهنوی ج۳، ص۴۹۰، سباحة الفكر الجهر با لذكر ص۳٤، الباب الاول في حكم الجهر)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

﴿۴﴾ همد ارنګه علامه لکهنوي رحمه الله د عبد الله ابن عباس رضی الله عنهما قول نقل کړی دی: قال قال رسول الله ﷺ اذکروا الله ذکراً حتی یقول المنافقون انکم مرائون. (مجمع الزوائد ج۴، ص۷۶، مباحة الفکر ص۲۹، الباب الاول فی حکم الجهر)

په جګ آواز سره په ذکر کولو باندې له دې روایت او نورو روایتونو څخه د استدلال په نتیجه کښې علامه سیوطي صاحبؒ لیکي: وجه الاستدلال بهذین الحدیثین انهٗ انما یقال لذلک عند الجهر لا عند السرّ. (الحاوی للفتاوی ج۱، ص۳۹۰ نتیجة الفکر فی الجهر فی الذکر)

﴿۵﴾ علامه جلال الدین سیوطي رحمه الله لیکي: اخرج البخاری عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ یقول انا عند ظن عبدی و انا معه اذا ذکرنی فان ذکرنی فی نفسه ذکرته فی نفسی او ذکرنی فی ملاء ذکرته فی ملاء خیر منه و الذکر فی الملاء یکون الا مع الجهر. (الحاوی للفتاوی ج۱، ص۳۹۷، نتیجة الفکر فی الجهر فی الذکر)

﴿۶﴾ عن جابر ان رجلا کان یرفع صوته با لذکر فقال رجل لو ان هذا خفض من صوته فقال رسول الله ﷺ اترکه الله اواه. (رسائل عبد الحی الکهنوی ج۳، ص۴۸۷، مباحة الفکر فی الجهر با لذکر ص۳۱، الباب الاول)

﴿۷﴾ عن شداد بن اوس رضی الله تعالی عنه قال کناعند رسول الله ﷺ و قال ارفعوا ایدیکم فقولوا لا الله الاّ الله فقعلنا فقال رسول الله ﷺ اللّٰهم انک بعثتنی بهذه الکلم و امرتنی بها و وعدتنی علیها انک لا تخلف المیعاد. (مستدرک حاکم ج۱، ص۵۰۱، کتاب الدعاء، باب رفع الایدی عند لا اله الاّ الله)

له نومورې روایتونو څخه د رسول الله ﷺ تر لمانځه وروسته په جګ آواز سره ذکر هم ثابتیږي او دعا هم. او له دې سره سره ئې صحابهٔ کرامو ته هم د دې ترغیب ورکړی دی. همدا وجه ده چه د ده مبارک ﷺ صحابهٔ کرامؓ د ده په نقش قدم باندې د تللو په صورت کښې د لمانځه نه وروسته په جګ آواز سره ذکر او دعاګانې فرمایلي دي. یو څو آثار د نمونې په توګه ستاسو په حضور کښې وړاندې کیږي.

﴿۱﴾ کان عمر رضی الله عنه اذا انصرف من صلوته قال اللّٰهم استغفرک لذنبی و استهد بک لارشد امری و اتوب الیک فتب علی اللّٰهم انت ربی فا جعل رغبتی الیک و اجعل غنائی فی صدری و بارک لی فیما رزقتنی و تقبل منی انک انت ربی. (مصنف ابن ابی شیبة ج۷، ص۳۹، رقم ۱۷، کتاب الدعاء.

﴿۲﴾ عن صلبة بن زفر قال سمعت ابن عمر یقول فی دبر الصلوٰة اللّٰهم انت السلام و منک السلام تبارکت یا ذا الجلال و الاکرام. (مصنف ابن ابی شیبة ج۷، ص۳۸، کتاب الدعاء)

﴿۳﴾ عن ابی بکر بن ابی موسیٰ عن ابی موسیٰ انهٗ کان یقول اذا فرغ من صلوته اللّٰهمّ اغفر لی ذنبی و یسر لی امری و بارک فی رزقی. (مصنف ابن ابی شیبة ج۷، ص۳۶، کتاب الدعاء)

مصنف ابن ابي شیبه، سباحه الفکر او الحاوي للفتاوی او د احادیثو په نورو کتابونو کښې د صحابهٔ کرامو آثار موجود دي کوم چه تر لمانځه وروسته په جګ آواز سره ذکر او دعا ترې ثابتیږي.

نو د دغو دریو مقدماتو څخه څرګندیږي چه د فرض لمونځونو څخه وروسته په جګ آواز سره

دعا او ذکر جائز دي. د امت له علماوو څخه هیڅا هم په اصطلاحي بدعت کښې نه دي شمار کړي. البته محققینو علماوو د ریا د ویرې له وجهې څخه جهر خلاف اولی ګرځولی دی نو له دې وجهې دوی وایي چه بهتره دا ده چه دعا په خفیه توګه وشي.

چنانچه علامه سیوطي رحمه الله فرمایي: و الدعاء بخصوص الافضل فیه الاسرار لانه اقرب الی الاجابة. (الخاص للفتاوی ج۱، ص۳۹۴، نتیجة الفکر فی الجهر فی الذکر)

او علامه عثماني فرمایي: و اقل ابن بطال اصحاب المذاهب المتبعة و غیرهم متفقون علی عدم استهباب رفع الصوت با لتکبیر و الذکر عقیب المکتوبة. (فتح الملهم ج۲، ص۱۷۱، باب الذکر بعد الصلوٰة)

له مفتي عبد الرحیم صاحبؒ څخه چه کله د دې مسئلې په باره کښې پوښتنه وشوه نو وئې فرمایل:

(الجواب) سرّي دعا افضله ده چه لمونځ کوونکو ته حرج نه وي نو کله کله په لږ غوندي جګ آواز سره دعا کول جائز دي. د تل لپاره د جهري دعا عادت جوړول مکروه دي. (فتاوی رحیمیه ج۱، ص۱۸۳)

علامه ابو بکر الجصاص الرازي لیکي: و ما ذکر من الآثار دلیل علی ان اخفاء الدعاء افضل من اظهاره لان الخفیة هی السر. (احکام القرآن ج۴، ص۲۰۸، سورة الاعراف)

لیکن دا کراهیت هم په هغه وخت کښې دی چه په جوماتونو او نورو ځایونو کښې په جګ آواز سره په دعا کولو باندې خلکو ته تکلیف وي، د هغو په خوښونو او نورو امورو کښې خلل واقع کیږي. او که نه نو له دې پرته په جګ آواز سره دعا له کراهیت پرته جائزه ده. اګر که علامه شعراني په ځینو مواقعو کښې په جګ آواز سره دعا مستحبه هم بللې ده.

چنانچه علامه شبیر احمد عثماني رحمه الله فرمایي: عن الامام الشعراني اجمع العلماء سلفاً و خلفاً علی استحباب ذکر الجماعة فی المساجد و غیرها الا ان یشوش جهرهم علی نائم او مصلی او قاری. (فتح الملهم ج۲، ص۱۷۲، باب الذکر بعد الصلوٰة)

او تر کومه ځایه پورې چه د "أدعوا ربّکم تضرّعاً وّ خفیةً" (الآیة) تعلق دی نو دا آیت په جهر سره د مطلق دعا کولو څخه په منع باندې دال نه دی. له دې منع څخه مراد په بې ځایه جګ آواز سره په دعا کولو باندې محمول دی. د امت علماوو دا آیت په دې باندې محمول کړی دی.

چنانچه علامه عبد الحی لکهنوي رحمه الله لیکلي دي: ان هذه الآیة تدل علی اثبات الجهر الغیر الفرط لا علی منعه بناء علی ما فسره الامام الرازیؒ فی تفسیره من ان قوله: اُذْکُرْ رَّبَّکَ فِیْ نَفْسِکَ معناه ذکر خفیة و سرّاً و معنی قوله دُوْنَ الْجَهْرِ المفرط و المراد منه ان یقع الذکر بحیث یکون بین المخافة و الجهر ما قال الله تعالی: وَ لَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِکَ وَ لَا تُخَافِتْ بِهَا وَ ابْتَغِ بَیْنَ ذٰلِکَ سَبِیْلًا ۞ و علی هذا تدل الآیة علی جواز السرّ و الجهر کلیهما و الفضلیة السرّ للتضرّع و الخفیة. (سباحة الفکر ص۱۶، الباب الاول فی حکم الجهر با لذکر)

او د "لا تدعون اصم" حدیث هم په جهر مفرط باندې محمول دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

علامه عثماني صاحب لیکي: و اما حدیث انکم لا تدعون اصم و لا غائباً فمحمول عندی علی الافراط فی رفع الصوت. (فتح الملهم ج۲، ص۱۷۲، باب الذکر بعد الصلوة)

له دي تول تفصیل څخه څرګنديږي چه له فرائضو څخه وروسته په جګ آواز سره دعا کول جائز دي اګر که په پته توګه دعا کول افضل او بهتر دي او بدعت ورته ویل په لاعلمي او د حدیثو او فقهي په کتابونو باندې د نه پوهیدو دلیل دی. پرته له کومي وجهي یوه ثابت شوي شي ته بدعت ویل شرعاً عظیمه ګناه ده چه توبه تري ضروري ده.

په صورت مسئوله کښي که چېرته د مقتدیانو دا مطالبه او غوښتنه وي چه امام صاحب له التزام پرته د دعا په اول او آخر کښي څو الفاظ په جګ آواز سره ووایي تر څو چه مقتدیانو ته د دعا د شروع او ختم کیدو معلومات وشي او سنت او ضروري ټي و نه ګڼي نو د اسي کول له کراهیت پرته جائز دي.

چنانچه علامه آلوسي رحمه الله فرمایي: الاخفاء افضل عن خوف الریا او کان فی الجهر تشویش علی نحو مصلی او نائم او قارئ او مشغل بعلم شرعی و بتقدیم الجهر علی الاخفاء فیما اذا خلا عن ذلك و کان فیه قصد تعلیم الجاهل او نحو ازالة وحشة عن متوحش او طرد نحو نعاس او کسل علی الداعی نفسه او ادخال سرور علی قلب مؤمن الخ. (روح المعانی ج۸، ص۱٤، سورة الاعراف)

د مسئلي د زیات وضاحت لپاره د مولانا عبد الحی لکهنوي رساله "سباحة الفکر" او د علامه سیوطي صاحب "الحاوي للفتاوی" او د علامه جصاص الرازي "احکام القرآن"، "معارف القرآن" او "سعایه في حل شرح الوقایه" مطالعه کړی. (هذا ما ظهر لي و الله اعلم)

د جُمعې او عیدینو په خطبو کښې لاس پورته کول او دعا کول

سوال: که چېرته خطیب د جُمعې او یا عیدینو په دوهمې خطبې کښې د دعا کولو په وخت کښې لاسونه پورته کړي او دعا وکړي او مقتدیان هم د لاسونو په پورته کولو سره دعا وکړي او آمین ووایي نو شرعاً ئې څه ثبوت شته او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د عیدینو او جُمعې په خطبو کښې چه کومه دعا کیږي په دې کښې د امام لپاره د لاسونو پورته کول او د مقتدیانو لپاره د آمین ویل ثابت نه دي. عجیبه خبره خو دا ده چه په دې مسئلې کښې د بریلوي حضراتو فتوی هم همدغه ده.

لما قال العلامه مفتي عبد الرحیم: (سوال) د جُمعې او عیدینو په دوهمې خطبې کښې څینې خطیب صاحبان دعا کوي او په دې وخت کښې حاضرین لاسونه پورته کوي او آمین وایي د دې څه حکم دی؟

(الجواب) په دې وخت کښې د لاسونو پورته کول او آمین ویل منع دي. په دې کښې د دیوبندي او علماوو او احمد رضا خان بریلوي اختلاف نشته. د مولوي احمد رضا خان په مصدقه کتاب کښې دي چه کوم خطیب چه د مسلمانانو لپاره دعا وکړي نو د سامعینو لپاره د

لاسونو پورته کول او یا آمین ویل منع دي که چېرته دا عمل وکړي نو ګنهګار به وي. په خطبې کښې د درود شریف د لوستلو په وخت کښې نبي او چپ طرف ته مخ ګرځول هم بدعت دی. (فتاوی رحیمیه ج۲، ص۳۰۲، باب رد بدعات)

د عید میلاد النبي شرعي حیثیت

سوال: ﴿۱﴾ څه فرمایي د دین علماء او د حنفي مذهب مفتیان کرام د دې مسئلې په باره کښې چه نن صبا د میلاد شریف تر نامه لاندې د وعظ او نصیحت مجالس منعقد کیږي او په هغه کښې علماء کرام د کتاب الله او رسول اللهﷺ د سنتو په رنا کښې د ترغیب او ترهیب مسائل وړاندې کوي او نعت خوانان او شعراء حضرات پخپلو منظومو کلامونو کښې د توحید، رسالت، ختم نبوت، حب علی الاطاعت او داسې نور بهترین مضامین بیانوي نو آیا په داسې تقریباتو کښې د علماء کرامو او عامو مسلمانانو لپاره شرکت کول جائز دي او که څنګه؟

﴿۲﴾ زید د دې خبرې قائل دی چه د داسې مجلسونو او اجتماعاتو جوړول بدعت او ضلالت دی او شریکیدل پکښې د زنا، قیمار، شراب خوري او قتل و غارت څخه هم لویه ګناه ده ځکه چه په خیر القرون کښې دا ډول اجتماعات نه وو نو د زید دا عقیده صحیح ده او که نه؟ که چېرته صحیح نه وي نو د دې لپاره په تفصیل سره شرعي تعزیر وښایی او د دارینو اجر حاصل کړی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: زمونږ په نزد د محققینو علماوو د تصریحاتو مطابق د عید میلاد تر نامه لاندې چه کوم مجلسونه منعقد کیږي او کوم ته چه د نن صبا علماء او جهلاء له ټولو څخه بهترین عبادت او کار خیر وایي. دا ابد ترین ډول بدعت دی. د حضورﷺ سره عشق او محبت ساتل عین ایمان دی. د ده له ولادت با سعادت څخه واخله د ده مبارک تر وفاته پورې د ژوند حالات په صحیح طریقه ذکر کول عبادت او د ثواب کار دی. د کال په هرې میاشتې کښې او د میاشت په هرې هفتې کښې او د هفتې په هرې ورځې کښې او د ورځې په هر ساعت کښې او د ساعت په هرې دقیقې کښې او د دقیقې په هرې سانیې کښې د حضورﷺ ذکر خیر جائز دی. په دې کښې نه هیڅ یوه مسلمان ته د اختلاف ګنجائش شته او نه څوک تري د انکار مجال لري. لیکن د نزاع او بحث موضوع هغه مجلسونه دي چه د ثواب په نیت سره په خاصو میاشتو کښې مثلاً د ربیع الاول په میاشت کښې چه جوړیږي او میلاد لمانځل کیږي نو دا بیل شی دی او د حضورﷺ ذکر بیل شی دی. اولنی شی بدعت دی او دوهم شی مندوب مستحب دی. د صحابهٔ کرامو څخه زیات د حضورﷺ عاشقان هیڅوک هم نه شي کیدلی او نه له هغوی څخه زیات څوک د نبي اکرمﷺ عزت او تعظیم کولی شي. د حضورﷺ عشق او محبت په دوی کښې کامل وو. تر درویشتو کلونو پورې حضور اکرمﷺ په صحابه وو کښې د نبوت سره ژوندی وو او بیا تر درویشتو کلونو پورې د خلافت راشده حکومت وو او تقریباً تر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

هجري پورې د صحابۂ کرامو دور وو او کم و زیات دوه سوه شل کاله د تابعینو او د تبع تابعینو دور وو لیکن تر قیامته پورې هیڅوک هم د دې خبرې ثبوت په صحیح سند سره نه شي وړاندې کولی چه په دومره اوږدې زمانې کښې د رسول اللهﷺ په عشاقو کښې دې یو ریښتونی عاشق د اسې محفل انعقاد کړی وي یا ئې د انعقاد لپاره صراحتاً یا اشارتاً چا ته اشاره کړې وي او نه د حضور اکرمﷺ په مبارکې زمانې کښې دا مجلس د ده په اجازې سره منعقد شوې دي۔ نو اوس پوښتنه دا ده چه دغه د ثواب کار او مبارک تقریب په هغو زمانو کښې ولې نه جوړیده؟ تاسو ئې ظاهري شکل او صورت ته په کتو سره د ترغیب او ترهیب په بناء غواړی چه مستحب ئې وګرځوی لیکن لږ غوندې د افکر وکړی چه هغه کوم شرعي بدعت دی چه شکل او صورت ئې د عبادت نه وي؟ په خاصه توګه چه کله د هغه په اړه د دیوبند اکابرینو رحمهم الله صریحي فتواوي هم د حرمت او ممانعت په باره کښې موجودې وي۔ نو چه دیوبندیان ئې ولې د اسې مجلس خوا ته راغب معلومیږي؟ ما پخپله له خپل شیخ حضرت العلامه مفتي اعظم هند مولانا مفتي محمد کفایت الله دهلوي صاحب نور الله مرقده څخه مې د زباني دورۂ حدیث د لوستلو په وخت کښې اوریدلي دي چه د د اسې مجلسونو انعقاد بدعت دی۔ حضرت مولانا رشید احمد ګنګوهي صاحب رحمه الله هم نومورې مجلسونه ممنوع ګرځولي دي۔ په فتاوی رشیدیه ج۱، ص۱۱۰ کښې فرمایي "محض د فخر دو عالمﷺ ذکر ولادت با سعادت مندوب دی لیکن د دغو قیودو انضمام له وجهې د اسې مجلسونه منع شوي دي۔

د عید میلاد النبيﷺ د مجالسو تاریخي پس منظر

د دې رسم او بدعت پس منظر د اسې دی چه د اسلامي تاریخ په ابتدائي شپږو پیړیو کښې ئې هیڅ رواج نه وو۔ نه کوم صحابي رواج کړی وو او نه کوم تابعي، نه کوم محدث او نه کوم فقیه، بزرګ او ولي الله۔ دا بدعت چه ایجاد کړی دی نو یو مسرف بادشاه او د هغه ملګري دنیا پرسته مولوي په ۶۰۴ هجري کښې د موصل په ښار کښې د مظفر الدین کوکري په حکم سره ایجاد کړ چه نومورې یو مسرف بادشاه او له دین څخه بې پروا اسړی وو۔ (ابن خلکان)

د نومورې بادشاه په اړه امام احمد بن محمد بصري مالکي رحمه الله لیکي:

كان ملكاً مسرفاً يأمر علماء زمانه ان يعملوا باستنباطهم و اجتهادهم و ان لا يتبعوا مذهب غيرهم حتى مالت اليه جماعة من العلماء و طائفة من الفضلاء و يحتفل مولد النبيﷺ في الربيع الاول و هو اول من احدث من الملوك هذا العمل. (القول المعتمد في عمل المولد)

"یو مسرف بادشاه چه د زماني علماوو ته به ئې ویل چه پخپل استنباط او اجتهاد باندې عمل وکړی او د نورو په مذهبونو باندې عمل مه کوی تر دې پورې چه د دنیا پرستو علماوو او فضلاوو یوې ټولې د هغه خوا ته مائله شوه او په ربیع الاول کښې ئې د میلاد محفل منعقد کړ۔ په بادشاهانو کښې اول سړی همدا بادشاه وو چه دا بدعت ئې شروع کړ"۔

د میلاد په دې محفل کښې چه هغه څومره شیان مصرفول د هغه په اړه علامه ذهبي نقل فرمایي: كان ينفق كل سنة على مولد النبيﷺ نحو ثلاث مائة الف. (دول الاسلام ج۲، ص۱۰۳)

"هغه هر کال په میلاد باندې تقریبا دري لکه روپۍ مصرف کولې"۔

او کوم دنیا پرسته مولوي چه د دې د جواز لپاره ئې مواد جمع کړي وو د هغه نوم عمر و بن د احیه ابو خطاب وو۔ حافظ ابن حجر العسقلاني رحمه الله ئې په اړه لیکي:

كان كثير الوقيعة في الائمة و في السلف من العلماء خبيث اللسان احمق شديد الكبر قليل النظر في امور الدين متهاوناً. (لسان المیزان ج٤، ص١٩٦)

"هغه د ائمۂ دین او سلف صالحینو په شان کښې ډیر ګستاخ وو۔ د ګنده ژبې خاوند، ډیر احمق او متکبر وو او د دین په کارونو کښې ډیر بې پروا او سست وو"۔

د غو دواړو مبتدعینو په ګډه سره د ابدعت ایجاد کړ او له هغه څخه وروسته له علماء حق څخه شیخ الاسلام ابن تیمیه پخپلې فتاوي ج۱، ص۳۱۲ کښې او امام نصیر الدین شافعي په ارشاد الاختیار ص۲۰ کښې، حضرت مجدد الف ثاني رحمه الله په مکتوبات ج۵، ص۲۲ کښې او علامه امیر الحاج مالکي پوره په صراحت او وضاحت سره د هغه تردید کړی دی۔ چنانچه علامه موصوف په "مدخل ابن الحجاج ج۱، ص۸۵ کښې لیکي:

و من جملة ما احدثوه من البدع مع اعتقادهم ان ذلك من اكبر العبادات و اظهار الشعائر ما يفعلونه في شهر الربيع الاول من المولد و قد دلك على بدع و محرمات الى ان قال و هذه المفاسد مترتبة على فعل المولد اذا عمل با لسماع فان خلا منه و عمل طعاما فقط و نوى به المولد و دعى اليه الاخوان و سلم من كل ما تقدم ذكره فهو بدعة بنفس نيه فقط لان ذلك زيادة في الدين و ليس من عمل السلف الماضين و اتباع السلف اولى. آه. (مدخل ابن الحاج مطبوعة مصر ج۱، ص۸۵)

"خلکو ته په دغو بدعتونو کښې کوم چه هغوی ئې لوی عبادت ګڼي او د کوم کار چه هغوی ئې د اسلامي شعائرو اظهار ګڼي هغه د میلاد مجلس دی کوم چه هغوی ئې د ربیع الاول په میاشت کښې لمانځي، دا مجلس په ډیرو بدعاتو او محرماتو باندې مشتمل دي۔ (په آخر کښې فرمایي) او د میلاد دا مجلس په د اسې صورت او شکل کښې مرتب کیږي چه سماع هم پکښې وي، پس که چېرته له سماع څخه پاک وي او د مولود په نیت تیار شوی وي او ورونه او ملګري ئې د دې لپاره بللي وي او له ټولو پورتنیو یادو شیوو مفاسدو څخه محفوظ وي بیا هم د میلاد مجلس د انعقاد په نیت سره بدعت دی۔ ځکه چه دا په دین کښې د یوه نوي کار زیاتوالی دی کوم چه اسلافو پرې عمل نه دی کړی او د اسلافو پیروي ډیر بهتر دی"

علامه عبد الرحمٰن پخپلې فتاوي کښې فرمایي: ان عمل المولد بدعة لم ينقل به و لم يفعله رسول اللهﷺ و الخلفاء و الائمة.

"د میلاد د مجلس انعقاد بدعت دی۔ حضور اکرمﷺ، صحابۂ کرامو، خلفاء راشدینو رضی الله عنهم او په ائمه اربعه وو کښې چا هم نه دی انعقاد کړی او نه ئې چا ته د دې اجازه ورکړې ده"۔

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

علامه احمد بن محمد مصري مالکي ليکي: اتفق علماء المذاهب الاربعة بذم هذا العمل. آه

"د څلورو اړو مذاهبو علماء د ميلاد په مذمت باندې متفق دي"

د لمانځه نه وروسته د مصافحې حکم

سوال: د څينو خلکو دا عادت دی چه د جُمعې تر لمانځه وروسته له يوه او بل سره مصافحه کوي او دې ته د سنت درجه ورکوي آيا شرعاً دې څه ثبوت شته او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: مسنونه طريقه دا ده چه دوه مسلمانان چه په لومړي ځل سره يو ځای شي نو مصافحه دې وکړي۔ په حديث شريف کښې د دې ډير فضيلت راغلی۔ د حضور ﷺ مبارک ارشاد دی چه: ما من مسلمين يلتقيان فيتصافحان الا غفر لهما قبل ان يتفرقا. (جامع الترمذی ج۲، ص۹۷)

ليکن تر لمانځه وروسته مصافحه په صحيحو احاديثو او يا د سلف صالحينو په اقوالو کښې نه ده راغلې د دې لپاره د سنتو په نيت سره نې کول د شرعي خلاف او بدعت دی۔

لما قال العلامة ملا علی قاریؒ: فان محل المصافحة المشروعة اول الملاقات و قد يكون جماعة يتلاقون من غير مصافحة و يتصاحبون با لكلام و مذاكرة العلم و غيره مدة مديدة ثم اذا صلّوا يتصافحون فاين هذا من السنة المشروعة و لهذا صرح بعض علمائنا بانها مكروهة حينئذٍ و انها من البدع المذمومة. (مرقات شرح مشکوٰة ج٤، ص٥٧٥)

د محـــــــرم الحرام په مياشت کښې د واده د کولو حکم

سوال: څينې خلك د محرم الحرام په مياشت کښې واده کول ناجائز بولي او دا مياشت د غم او مصائبو مياشت بولي نو آيا په محرم الحرام کښې واده کول جائز دي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د محرم الحرام مياشت هم د کال د نورو مياشتو غوندې يوه مياشت ده لکه څرنګه چه د کال په نورو مياشتو کښې واده کول جائز دي همدا رنګه په دې مياشت کښې هم جائز دي۔ له هيڅ يوه شرعي دليل څخه نې ممانعت او حرمت ثابت نه دی۔ دا قبيح او بې بنياده عمل روافضو او شيعه ګانو په خلکو کښې رواج کړی دی د مسلمانانو لپاره لازم دي چه هغوی د اسې بدعت پريږدي۔

په جومات کښې د ذکر بالجهر حکم

سوال: يو صاحب چه خپل ځان د چشتيې خاندان لويانو او مشرانو ته منسوب کوي د ملسخوتن تر لمانځه وروسته په جومات کښې حلقه جوړوي او له خپلو ملګرو سره يو ځای ذکر بالجهر کوي او په جګ آواز سره څه اشعار هم وايي چه د دغو اشعارو له وجهې نې په ملګرو باندې شديد وجد طاري کيږي او لويږي او د غشي او بې هوشۍ حالت پرې راځي۔ په دې حالت کښې لاس او پښې هم غورځوي، شور او چيغې هم وهي، په جومات کښې يوې او بلې خوا ته هم کيږي او کله نې چه څوك منع کوي نو نه منع کيږي بلکه دا وايي چه دا جائز اعمال دي، شرعاً په دې کښې هيڅ ممانعت نشته او په دې باره کښې چه کله له دوی سره د فيصلې لپاره علماء را

غونډتل کيږي نو دی وايي چه زه د ظاهري شريعت د علماوو په ځای د باطني شريعت له علماوو سره فيصله کول غواړم۔ نو آيا د نوموړي سړي پورته ذکر شوي حرکات او طرز عمل شرعاً جائز دی او که نه؟ په مفصل ځواب سره مو خبر کړئ؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په جومات کښې د ذکر بالجهر په باره کښې د فقهاوو مختلف اقوال دي۔ د يوې ډلې په نزد حرام دی په دې اسې حال کښې چه بله ډله نې جائز بولي او له دواړو ډلو سره د قرآن او سنتو له مخې دلائل هم شته او وړاندې کړي نې هم دي۔ د فقهاوو يوه بله ډله هم شته چه د دواړو ډلو تر منځ نې د تطبيق کوشش کړی دی۔

چنانچه د دوی خيال دا دی چه ذکر بالجهر که چېرته د لمونځ کوونکي، يا ويده او قاري لپاره د اذيت موجب نه وي او همدا رنګه د ريا کاري ويره هم پکښې نه وي نو جائز دی او که نه نو بيا حرام دی۔

علامه حصکفيؒ رفع الصوت با لذكر په محرماتو کښې شماري او فرمايي: و يحرم رفع الصوت با لذكر في المسجد. آه. په بزازيه کښې دي چه: الجهر بالذكر حرام. آه (حموی) ليکن شامي نقل کوي چه: اضطرب كلام البزازية في ذلك فتارة قال انهٗ حرام و تارة قال انه جائز. آه له فتاوی خيريه څخه علامه شاميؒ جواز نقل کړی دی او په آخر کښې له حمويؒ څخه نقل کوي او وايي: و في حاشية الحموی عن الامام الشّعرانی اجمع العلماء سلفاء و خلفاء على استحباب ذكر الجماعة في المساجد و غيرها. الا ان يشوش جهرهم على نائم او مصلي او قارئ الخ. دا تطبيق په فتاوی خيريه کښې هم شوی دی چنانچه علامه خير الدينؒ ليکي: و لا يعارض ذلك حديث خير الذكر الخفي لانه حديث خيف الرياء او تاذى المصلين او النيام فان خلا عن ذلك فقال البعض الجهر افضل. آه.

حاصل التطبيق: د فقهاوو له عباراتو څخه دا معلوميږي چه د ممانعت په فتوی او قول با لجواز دواړو کښې څه مخالفت نشته۔ ممانعت به نې په هغه وخت کښې وي چه نورو ته نې د اذيت د رسيدلو خطره وي او کله چه له دې خطرې څخه ذکر بالجهر خالي وي نو جائز به وي۔ دا د تطبيق حاصل دی ليکن زمونږ په نزد د څو وجوهاتو په بناء سره دا تطبيق قابل قبول نه دی۔

﴿۱﴾ اول دا چه دا تطبيق د حضرت عبد الله ابن مسعود رضی الله تعالی عنهما د دې فتوی سره صريح مخالف دی کومه چه ده مبارک د يوې د اسې تولی۔ په باره کښې ورکړې وه چه په خاص وخت او مخصوص هيئت سره په ذکر بالجهر باندې مشغوله وه۔ دا واقعه د حنفي فقهي او حديثو په دواړو کتابونو کښې مذکوره ده چه الفاظ نې په لاندې ډول دي:

عن ابن مسعود انه سمع قوماً اجتمعوا في مسجد يهللون و يصلون على النبی ﷺ جهرا فراح اليهم و قال ما عهدوا ذلك على عهده عليه الصلوٰة و السلام و ما اراكم الا مبتدعين فما زال يذكر ذلك حتى اخرجهم من المسجد. آه. (حموی، بزازيه، بحر، شامی)

په دې واقعې کښې چه د قوم په کوم عمل باندې حضرت عبد الله ابن مسعود رضی الله عنهما

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

د بدعت فتوی ورکړي وه او ممنوع ئې ګرځولی وو هغه په اجتماعي هیئت سره او په خاص جومات کښې په جهر سره د دوی ذکر کول او درود لوستل وو او د دائې په دې بنیاد ممنوع نه وو ګرځولی چه هلته څوک ویده یا لمونځ کوونکي او یا تلاوت کوونکي سړي ته د اذیت د رسیدو خطره وه او یا حضرت عبد الله ابن مسعود رضی الله تعالی عنهما ته د هغوی د زړونو د ریا په صفت باندې علم حاصل شوی وو۔ بلکه د ممانعت بنیاد په دې خبرې باندې ایښودل شوی وو چه د حضور ﷺ په زمانې کښې دا ډول معهود ذکر نه وو۔ نو له دې وجهې ئې ممنوع ګرځولی وو چه بدعت فی الدین وو۔ په دې بناء سره ئې فرمایلي وو چه "ما اراکم الا مبتدعین" د حضرت عبد الله ابن مسعود رضی الله عنهما له دې فتوی څخه د حرمت قائلینو ذکر بالجهر په حرمت باندې استدلال کړی دی۔ چنانچه اول هغوی د دعوې په صورت سره دا ذکر کړی دی۔ في فتاوی قاضیخان "الجهر بالذکر حرام آه" له دې نه وروسته صفا څرګندیږي چه په جومات کښې ذکر بالجهر چه د کومو فقهاوو په نزد حرام دی د اذیت د خطرې په بناء سره نه بلکه د ابتداع او احداث فی الدین له وجهې حرام دی۔ نو د هغوی د قول بالحرمت لپاره د اذیت خطره محل جوړول لکه څرنګه چه په ذکر شوي تطبیق کښې اختیار کړی شوی دی توجیه الکلام بما لایرضی به قائله نه دی نو څه شی دی؟

﴿۲﴾ دوهم دا چه د کتاب اوسنتو له ظواهرو څخه که چېرته په هغو کښې بې ځایه تاویلات و نه شي د جهر مطلقا ممانعت ښکاره دی۔ "اُدْعُوا رَبَّكُمْ تَضَرُّعاً وَّ خُفْيَةً إِنَّهُ لاَ يُحِبُّ الْمُعْتَدِيْنَ" څخه په ظاهره خو دا مفهوم په ذهن کښې راځي چه اخفاء ضروري دی او جهر د اعتداء په حد کښې داخل دی۔ البته د نورو نصوصو له مخې چېرته چه شارع علیه السلام د جهر اجازه ورکړې ده هلته جائز دی۔ او چېرته چه د جهر ثبوت پیدا نه شي هلته د دې آیت له عموم څخه یواځې د ممانعت حکم ورکول کیږي نه د جواز۔ همدا رنګه د حضور اکرم ﷺ له دې ارشاد څخه چه "اربعوا علی انفسکم انکم لا تدعون اصم و لا غائبا (الحدیث)" هم په ظاهره دا څرګندیږي چه د شارع علیه السلام په نزد اخفاء محبوبه ده نه جهر۔

الحاصل: له دلائلو څخه چه کوم شیان ظاهراً معلومیږي هغه دا دي چه پرته له هغو ځایونو څخه چه شارع علیه السلام د جهر اجازه ورکړې وي لکه آذان، تکبیرات تشریق، تلبیه په حج کښې او د اسې نور په نورو ځایونو کښې به مطلقا جهر مکروه او اخفاء به مطلقا مندوبه وي۔ په دې کښې د اذیت او د اسې نورو هیڅ تخصیص نشته۔ یعني ممانعت د اذیت له صورتونو سره مخصوص نه دی۔

ترجیح یا صحیح تطبیق: د فقهاء کرامو چه کله ذکر شوی تطبیق د ذکر شوي وجوهاتو په بناء باندې صحیح ثابت نه شو نو له دې نه وروسته دوه صورتونه پاتې کیږي۔ اول دا چه مونږ د فقهاء کرامو په دواړو قولونو کښې په صحیح طریقې سره تطبیق وکړو او یا یوه قول ته په بل باندې

ترجیح ورکړو۔ اول صورت، ته که چېرته مونږ ترجیح ورکړو او اختیار ئې کړو نو په صحیح طریقې سره ئې تطبیق د اسې کیږي چه جهر بالذکر به په هغه وخت کښې جائز وي چه نه په کښې بل چا ته اذیت موجود وي او نه د بدعت څه شائبه پکښې وي۔ د قول بالجواز لپاره محمل همدغه دی۔ او کله چه هم پکښې بل ته اذیت موجود وي او هم ئې د بدعت صورت اختیار کړي وي نو بیا ممنوع او ناجائز ګرځي۔ په اول صورت کښې ځکه چه په هغه کښې ضرار موجود شوی دی کوم چه شرعا لا ضرار فی الاسلام له وجهې ممنوع او ناجائز دی او په دو هم صورت کښې به ممانعت په دې بناء باندې وي چه په بدعت کښې د اخل شوی دی کوم چه یو مردود فعل دی او همدا د فقهاوو د دې قول چه الجهر بالذکر حرام محمل دی۔

ترجیح: لیکن که مونږ د ترجیح مسلک اختیار کړو نو د ترجیح اصولو ته په نظر کولو سره به قول بالحرمت ته په قول بالجواز باندې ترجیح وي۔ د دې لپاره مونږ دوه وجهې وړاندې کوو۔

﴿۱﴾ دا چه فقهاوو دا اصول مقرر کړي دي چه په یوې مسئلې کښې چه کله دوه روایتونه د مذهب له امامانو څخه مروي وي کوم چه پخپل منځ کښې سره مختلف وي نو په هغو کښې به ترجیح هغه روایت ته وي چه کوم چه علامه قاضي خان اختیار کړی دی ځکه چه دی له اهل د ترجیح څخه دی۔ د دې خبرې تشریح علامه شامي په رد محتار ج٤ کښې د بیع الوفا په بحث کښې کړې ده۔ په دې مسئلې کښې هم لکه څرنګه چه حموي او بزازیه تصریح کړې ده۔ نو چونکه علامه قاضیخان د جهر د حرمت قائل دی نو په دې بناء باندې حرمت ته په جواز باندې ترجیح ورکول کیږي۔

﴿۲﴾ دا چه حضور اکرم ﷺ فرمایلي دي چه "ما اجتمع الحلال و الحرام الا و قد غلب الحرام علی الحلال" فقهاء کرامو له دې ارشاد څخه د ترجیح لپاره دا اصول مستنبط کړي دي چه کله هم په مبیح او محرم کښې تعارض واقع شي نو ترجیح به محرم ته وي نه مبیح ته۔ نو بناء پر دې باندې دلته هم په حرمت او اباحت کښې چونکه د فقهاوو اقوال متعارض دی نو د دې لپاره د نومورې قاعدې له مخې دلته هم حرمت ته په اباحت باندې ترجیح حاصل دی۔

په هر حال له ذکر شوي تحقیق څخه دا ثابته شوه چه ذکر بالجهر که چېرته د اذیت الی الغیر ذریعه وي او یا په د اسې طریقې سره وي چه د مسنون ﷺ څخه ثابته نه وي چه له وجهې ئې د بدعت په حد کښې داخلیږي نو ممنوع او ناجائز دی۔ چونکه په مسئوله صورت کښې هم ذکر بالجهر په نه ثابت شوي طریقې باندې دی نو له دې وجهې لا محاله د بدعت په حد کښې داخل او ممنوع دی۔ د دې عمل حالت د هغه قوم د عمل له حالت څخه هیڅ مختلف نه دی په کومو باندې چه ابن مسعود رضی الله تعالی عنهما د مبتدعینو حکم لګولی وو نو په دې بناء باندې په د اسې طریقې ذکر هم بدعت او ممنوع دی۔

د وخت او هیئت تخصیص: له نبوي سنتو او د شریعت د علماوو له تصریحاتو څخه دا خبره د ثبوت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

درجې ته رسيدلي ده چه کوم عبادت لره شريعت مطلق پريښی وي د هغه لپاره له ځانه کوم مخصوص وخت او مخصوص کيفيت او هيئت معين کړی شي نو د اسې عبادت بدعت گرځي

امام شاطبي رحمه الله ليکي:

و منها التزام الكيفيات و الهيئات المعينة كالذكر بهيئة الاجتماع على صوت واحد..... و منها التزام العبادات المعينة في اوقات معينة لم يوجد لها ذلك التعين في الشريعة آه. (اعتصام ج۱، ص ۳٤)

"او دغو مخصوصو کيفيتونو او هيئتونو التزام هم له بدعاتو څخه دی لکه په اجتماعي هيئت په يوه آواز سره ذکر کول او همدارنګه په خاصو وختونو کښې د ننه د دلسې معينه عباداتو التزام هم له بدعاتو څخه دی کوم چه مقدس شريعت د هغو لپاره اوقات نه دي مقرر کړي".

صاحب د "مجالس الابرار" په خاص هيئت او کيفيت سره په جومات کښې په اجتماعي توګه سره د ذکر کوونکي په يادولو سره د حضرت عبد الله ابن مسعود رضی الله تعالی عنه د مخکښيني روايت په حوالې سره فرمايي:

و هكذا يقال لكل من اتى في العبادات البدنية المحضة بصفة لم تكن في زمن الصحابة. آه. (مجالس الابرار ص۱۲۳)

" همدارنګه د هغه سړي په اړه ويل کيږي چه "بدعتي دی" کوم چه په خالص بدني عباداتو کښې څه صفت او هيئت د لسې پيدا کړي چه د صحابګ کرامو په زمانه کښې ئې مثال نه وي".

حافظ ابن دقيق العيد رحمه الله فرمايي:

ان هذه الخصوصيات با لوقت او با لحال و الهيئة و الفعل المخصوص يحتاج الى دليل خاص يقتضي استحبابه بخصوصه و هذا اقرب. آه.

" وخت او حال او يا له هيئت سره دا خصوصيات او فعل مخصوص دواړه د خاص دليل محتاج دي کوم چه على الخصوص ئې په استحباب باندې دلالت وکړي او همدا اقرب الى الصواب دی".

دا هم علماوو د مسلمو اصولو په توګه منلي ده چه د مطلق عبادت د مشروع والي او مرغوب والي څخه مقصد دا نه دی چه د قيود اتو او تخصيصاتو سره عبادت مقيد او مخصوص کيږي او مشروع او مرغوب کيږي. بلکه ډير وخت په تقييد اتو او تخصيصاتو سره هغه بدعت او د نفرت قابل گرځي. امام شاطبي رحمه الله فرمايي:

فاذا ندب الشرع مثلاً الى ذكر الله فالتزم قوم الاجتماع على لسان واحد و بصوت واحد او في وقت معلوم مخصوص عن سائر الاوقات لم يكن في ندب الشرع ما يدل على هذا التخصيص الملتزم بل فيه ما يدل على خلافه. آه (اعتصام ج۱، ص۳۳۵)

"شريعت چه کله د يوه شي ترغيب ورکړی وي مثلاً د الله تعالی ذکر بيا يو قوم د اجتماع التزام وکړي او په يوه آواز سره ئې شروع کړي او يا په تولو اوقاتو کښې ئې يو تاکلی او مخصوص وخت معين کړی وي نو د شريعت دا مطلق ترغيب د تخصيص او التزام دليل نه شي جوړيدلی بلکه په خلاف ئې دليل جوړيږي".

دغو مسلمو اصولو ته په نظر کولو سره چه کله مونږ په مسئوله صورت باندې غور وکړو نو څرګندیږي چه په دې کښې د ځان له خوا ځخه ډير تخصيصات ايجاد شوي دي او ورسره يو ځای شوي دي. يو د وخت تخصيص، دوهم د هيئت تخصيص او دريم د کيفيت تخصيص. د دغو تولو تخصيصاتو له وجهې د لسې اجتماع او ذکر د علماوو د وړاندې کړل شوي قانون له مخې دواړه بدعت گرځي.

﴿۴﴾ په جومات کښې يوې او بلې خوا نه کيدل او چيغې او نعرې وهل

په صحيحو احاديثو کښې چه د جوماتونو کوم احکام او آداب بيان شوي دي له هغو څخه يو دا هم دی چه په جوماتونو کښې د نعرو او چيغو له وهلو څخه په کلي توګه پرهيز او مکمل اجتناب وکړی شي. د حضور اکرم ﷺ ارشاد مبارک دی چه: "اياکم و هيئات الاسواق في المساجد او كما قال عليه السلام"

"په جوماتونو کښې له شور جوړولو، چيغو وهلو څخه کوم چه په عامو بازارونو کښې وهل کيږي پرهيز وکړی".

په احاديثو کښې د قيامت د نژدې والي چه کومې نښې نښانې بيان شوي دي او د عامو بلاګانو د نزول چه کوم اسباب متعين شوي دي له هغو څخه يو دا هم دی چه په جوماتونو کښې په جګو آوازونو سره چيغې وهل دي الحديث. د دغو نبوي ارشاد اتو څخه په صراحت سره دا څرګندیږي چه په جوماتونو کښې چيغې وهل شرعاً ناجائز دي. په ذکر شوي سوال کښې د دې تصريح موجوده ده چه په نوموړي واقعي (واقعهٔ مسئول عنها) کښې دا خلک په جومات کښې د وجد په حالت کښې چيغې وهي کوم چه شرعاً ممنوع دی.

﴿۵﴾ وجد يا تواجد: دا هم په دې سوال کښې ذکر دی چه هغه خلک چه په دې مجلس کښې د اشعارو او د لسې نورو په ويلو او اوريدلو سره په وجد او تواجد کښې راځي او په جومات کښې يوې او بلې خوا ته کيږي. د وجد يا تواجد مسئله د صوفيانو او مشائخو تر منځ هم اختلافي ده او د فقهاوو او د شريعت د علماوو تر منځ هم اختلافي ده. محققين صوفيان او فقهاء دواړه په دې باره کښې چه خپله کومه فيصله وړاندې کړې ده او کوم چه شامي او د لسې نورو فقهاوو نقل کړې ده خلاصه ئې دا ده چه د کوم سالک چه انفرادي او اجتماعي دواړه ژوندونه د سنتو د اتباع مکمله نمونه وي او الهي خوف او خشيت پرې غالب وي او د خدای پاک د جلال آثار پکښې ښکاره وي نو د ده يعنې د لسې سالک څخه که چيرته وجد يا تواجد وشي نو د هغه د عام ژوند حالت ته په کتلو سره ئې د لسې حرکات غير اختياري بلل کيږي او د لسې سالک د ملامت او سرزنش قابل نه بلل کيږي. ليکن که چيرته پخپل عام ژوند انه کښې د نبي عليه السلام د سنتو پابند نه وي او عام اعمال ئې هم د مطهر شريعت خلاف وي نو د لسې حرکات به ئې اختياري او يو ډول تصنع بلل کيږي او له د لسې اعمالو څخه به منع کيږي او د لسې حرکات

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

په د ملامتیا لائق بلل کیږي۔ زمونږ په زمانې کښې چونکه د شرعي خلاف حرکات او بدعات په ترقي کښې دي او د نبوي سنتو اتباع له حد څخه هم په کمه درجه کښې دی خصوصا د عصر حاضر په صوفیاوو کښې چه لیدل کیږي کوم چه د خپلو ایجاد شویو سنتونو (بدعاتو) په شدت سره پابند دي او د نبوي سنتو پابندي نشته۔ چونکه په ژبې سره د حضور اکرم ﷺ سره د عشق او محبت دعوی کوي لیکن په زړه کښې نې عشق او محبت نه وي نو په دې بناء باندې د دلسې خلکو په حق کښې زمونږ رایه دا ده چه هغوی د دلسې دول حرکاتو څخه باید چه منع کړی شي۔

اصل الجواب: ﴿۱﴾ نوموړي پنځو امورو ته په نظر کولو سره د دې اجتماع په اړه کوم چه په دغو امورو باندې مشتمله ده چه ټول خلاف شرع دي زمونږ فیصله دا ده چه دا یو بدعت او ناجائز عمل دی او بدعت شرعا مذموم او ممنوع دی او په دلسې اجتماع کښې شاملیدل اعانت علی البدعت دی او د مبتدع توقیر دی۔ د حضور اکرم ﷺ مبارک ارشاد دی چه "من وقر صاحب بدعة اعان علی هدم الاسلام (الحدیث)" مسلمانان باید له دې څخه پرهیز وکړي او علماء دې باید له جګړو او شخړو څخه قطع نظر دوی په حکمت او دانایي سره پوه کړي۔ ځکه چه الله تعالی فرمایي چه "اُدْعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ (الآیة)" او همدارنګه نوموړی سړی چه دا وایي چه دا ټول امور جائز دي دا خبره نې سخته غلطه ده او د مخکښینیو دلائلو له مخې نې غلطي په بنکاره توګه څرګنده شوي ده۔

﴿۲﴾ د شرعي فیصلي د مطالعې په ځواب کښې چه هغه دا وایي چه زه د ظاهري شریعت په علماوو باندې فیصله نه کوم او د علم باطني په علماوو باندې فیصله کوم۔ نو که چېرته د ده دا ځواب په دې خیال باندې مبني وي چه علماء کرام چونکه په ظاهري شکل باندې فیصله کوي او ظاهري شریعت ته دا مقام حاصل نه دی چه فیصله پرې وکړی شي نو دا له شریعت څخه انکار دی او له شریعت څخه انکار صریح کفر دی او که چېرته هغه ظاهري شریعت د فیصلې کُن قانون په حیثیت سره مني لیکن د فیصلې له منلو څخه تیښته او ځنګ کوي نو دا د منافقینو خوی دی۔ قرآنکریم دلسې خوی ته د منافقینو نښه او طریقه ګرځولې ده۔ وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا إِلَىٰ مَا أَنْزَلَ اللَّهُ وَإِلَى الرَّسُولِ رَأَيْتَ الْمُنَافِقِينَ يَصُدُّونَ عَنْكَ صُدُودًا۔ (الآیة)

او که چېرته په دې لحاظ سره ترې ځنګ کوي چه د ظاهري شریعت علماء حقه فیصله نه کوي نو دا د هغه بې ځایه سوء ظن دی چه له دې څخه هم قرآنکریم د ځان ساتلو حکم کوي۔ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيرًا مِنَ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ۔ (الآیة) فقط و الله اعلم

د بنځو لپاره د قبرونو د زیارت لپاره د تللو حکم

سوال: محترم مفتي صاحب! "چه مې فرمایند علماء دین درین مسئله که رفتن مستورات برای زیارت قبور جائز است یا ممنوع؟" د دې مسئلې مکمله تشریح له حوالې سره بیان کړی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د بنځو لپاره د قبرونو د زیارت حکم د مفتی به مذهب مطابق جواز نه

لري۔ په اصل کښې په دې مسئلې کښې دوه حدیثونه زمونږ په مخکښې دي۔ یو هغه روایت کوم چه د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما څخه منقول دی۔

قال لعن رسول الله ﷺ زائرات القبور. (الحدیث)

"حضور اکرم ﷺ لعنت فرمایلی دی په هغو بنځو باندې چه قبرونو ته ځي"۔

دوهم حدیث هغه دی چه په سنن ابي داود او د حدیثو په نورو کتابونو کښې راغلی دی کوم چه عام جواز ترې ثابتیږي او هغه حدیث دا دی:

کنت نهیت عن زیارة القبور الا فزوروها لانها تذکرة الآخرة. (الحدیث)

مجوزین حضرات فرمایي چه له ابن عباس رضی الله عنهما څخه، چه کوم لعن ثابت دی هغه د هغه وخت حکم دی چه حضور ﷺ د قبرونو له زیارت څخه منع فرمایلې وه او کله چه نهی منسوخه شوه نو بنځو ته اجازه ورکړی شوه لکه څرنګه چه سړو ته ورکړ شوې وه۔ او مانعین حضرات فرمایي چه د بنځو په حق کښې نهی تر اوسه پورې باقي پاتې ده۔ له دې وجهې چه په دوی کښې د صبر کمی او جزع فزع (فریاد) زیاتی دی۔ او همدا وجه ده چه په حدیث کښې خاص د دوی ذکر شوی دی۔ چنانچه په فتح ابو داود حاشیه د ابو داوود کښې دي۔

قیل کان ذلك حین النهی ثم اذن لهن حین نسخ النهی و قیل لیقین تحت النهی لقلة صبرهن و کثرة عجزهن و هو الاقرب الی تخصیصهن بالذکر.

او ملا علي قاري رحمه الله په مرقات شرح مشکات کښې لیکي: فی الشرح السنة قیل هذا قبل الترخیص فلما رخص دخل فی الرخصة الرجال و النساء و قیل بل نهی النساء باق لقلة صبرهن و کثرة عجزهن.

لیکن د حدیث ظاهر د دې قول تائید کوي چه همدا د دوی په حق کښې باقي پاتې دی لیکن له عموم څخه نې د حضور ﷺ د قبر مبارک زیارت مراد وو، د جمهورو علماوو په نزد د حضور ﷺ د قبر مبارک زیارت تري مستثنی ده یعني د حضور ﷺ د قبر مبارک زیارت تولو ته جائز دی که بنځه وي او که نر۔

د حضرت مولانا شاه اسحاق رحمه الله تحقیق دا دی چه د بنځو زیارت ته تلل د صحیح قول مطابق مکروه تحریمي دی چنانچه په "مستملي" کتاب کښې لیکلي دي چه د سړیو لپاره د قبرونو زیارت مستحب دی او د بنځو لپاره مکروه دی۔ په مظاهر حق شرح د مشکات کښې نقل شوی دی چه بنځو ته روا نه ده چه د قبرونو د زیارت لپاره ووځي ځکه چه له ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی چه "انه علیه الصلوة و السلام لعن زورات القبور". او په نصاب الاحتساب کښې راغلي دي چه له قاضي عیاض څخه د قبرونو د زیارت لپاره د بنځو د تللو د قباحت په باره کښې پوښتنه وشوه نو هغه ورته وویل چه ای سائله د دې مسئلې د جواز او فساد په اړه پوښتنه مه کوه بلکه د دې د ګناه د اندازې په اړه پوښتنه وکړه چه له وجهې نې بنځو ته لعنت لاحق کیږي او پوه شی چه کله بنځې د قبرونو د زیارت لپاره د تللو اراده وکړي نو د الله تعالی او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

د هغه د ملاتکو له خوا څخه په دوی باندې لعنت راوریږي او له هري خوا څخه په دوی باندې شیطانان مسلط کیږي۔ او کله چه دوی قبر ته راځي نو د مړي روح پرې هم لعنت کوي۔ او کله چه له قبر څخه بیرته روانیږي نو الله تعالی کور ته تر رسیدو پورې لعنت پرې وایي۔ او په حدیث شریف کښې راغلي دي چه کومه بنځه چه په کور کښې ناسته وي او د مړو په حق کښې دعا کوي نو هغې ته د حج او د عمري ثواب ورکول کیږي۔ له حضرت سلمان او حضرت ابو هریره رضی الله عنهما څخه روایت دی چه یوه ورځ حضور ﷺ له جومات څخه د باندې ووت او کور ته راغی، په دروازې کښې ولاړ وو چه په دې وخت کښې سیدتنا حضرت فاطمه الزهراء رضی الله تعالی عنها راغله۔ حضور ﷺ ورته وفرمایل چه لوري! له کوم ځایه راغلې؟ عرض ئې وکړ چه فلانۍ بنځه وفات شوې وه د هغې کور ته تللې وم۔ حضور ﷺ ورته وفرمایل! آیا د هغې قبر ته هم تللې وې؟ حضرت فاطمه الزهرا رضی الله تعالی عنها ورته وویل معاذ الله! کله چه مې د یوه شي ممانعت له تا څخه اوریدلی وي نو هغه کار بیا زه کولی شم؟ پس حضور اکرم ﷺ وفرمایل چه که چیرته ته قبر ته تللې وای نو د جنت بوی به تا ته نه وای رسیدلی۔

قاضي ثناء الله پاني پتي په ما لابد منه کتاب کښې لیکي چه د قبرونو زیارت ته تلل د سړو لپاره جائز ده نه د بنځو لپاره۔

د علماء کرامو دغو تحقیقاتو او روایتونو ته کوم چه په وعیدونو باندې مشتمل دي په کتلو سره د نن صباء له فتنې څخه یې دور کښې چه هري خوا ته د مستوراتو د عصمت د خرابولو لپاره شیطاني دروازې خلاصې دي په دې بناء باندې فتوی په دې قول دی چه د بنځو لپاره د قبرونو زیارت ته تلل جائز نه دي بلکه حرام دي۔ هذا ما عندي و الله اعلم۔

د ایصال ثواب او د ورځو د تخصیص په باره کښې څو سوالونه

سوال: جناب مفتي صاحب! د ایصال ثواب په باره کښې د لاندې درج شوي سوالونو ځوابونه د شریعت مطهره په رنا کښې عنایت کړی مهرباني به مو وي؟

﴿۱﴾ د مړي او ژوندي لپاره د قرآن شریف په ختم کولو کښې څه فرق شته او که نه؟ په دې کښې د خورو او د اسې نورو شیانو د پخولو ضروري ګنل څه حکم لري؟

﴿۲﴾ د صدقې او نذر په کوم شي باندې چه د قرآنکریم ختم وکړای شي او په خلکو باندې وخوړل شي په دې باره کښې د شریعت څه حکم دی؟ او ځینې علماء کرام په قرآن باندې اجرت اخیستل جائز بللې دي او هغوی ئې د اجرت په مسئلې باندې حمل کوي۔ په دې باره کښې شرعي حکم څه دی؟

﴿۳﴾ په دولسم د ربیع الاول کښې اکثره خلك په یوه ځای کښې سره یو ځای کیږي یعنې را تولیږي او وعظ او تبلیغ کوي او اکثره خلك په دغو ورځو کښې صدقې او خیراتونه ضروري او بهتر بولی او په خاصه توګه په دولسم تاریخ ئې خامخا باسي او چیرته چه وعظ او تبلیغ او

د اسې نور کیږي په هغه کښې لوی لوی علماء او عوام او خواص، غني او فقیر ټول موجود وي او بیا په خلکو باندې صدقې او د اسې نور ویسل کیږي۔ په شریعت مطهره کښې د دغو افعالو حیثیت څه دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د پورته ذکر شوي سوالونو ځوابونه په ترتیب سره په لاندې ډول دي:

﴿۱﴾ او ﴿۲﴾ د مړي او د ژوندي لپاره د قرآنکریم په ختم کښې ضرور فرق شته او د اجرت په اخیستلو کښې هم پرې تفصیل شته که د نقدو په صورت کښې وي او یا د خوراك او د اسې نورو په صورت کښې۔ د فقهي د کتابونو له تصریحاتو څخه په واضحه توګه ځرګندیږي چه د قرآن کریم په ښوولو او تعلیم باندې اجرت اخیستل جائز دي۔ متقدمینو حنفي فقهاوو منع کړی دی لیکن متاخرینو ئې د جواز فتوی ورکړې ده۔ د علم د تلف د خطرې له مخې د دینې علومو او قرآنکریم په تعلیم باندې اجرت اخیستل په احادیثو باندې ثابت دي۔ په دې کښې د بحث کوم ضرورت نشته لیکن په مړي پسې د ایصال ثواب لپاره د قرآنکریم په ختم باندې اجرت اخیستل حرام دي ځکه چه دا اجرت علی الطاعت دی۔ د تعلیم اجرت خو ضرورتاً جائز ګرځول شوی دی او په ایصال ثواب کښې نه ضرورت شته او نه کوم حرج او نه د دین دنیا مقصودي کار دی۔ لهذا د ثواب رسولو په نیت د قرآنکریم په تلاوت باندې اجرت اخیستل د هیڅا په نزد هم روا نه دی۔ که چیرته څوك لږم یا منګور وچیچي او د قرآنکریم کوم سورت یا آیت پرې ولولي او دم ئې کړي نو دا علاج دی او اجرت اخیستل پرې جائز دی۔ نور تفصیل ئې له شامي او د اسې نورو څخه ځرګندولی شی۔

همدارنګه فقهاوو دا هم لیکلي دي چه په رمضان شریف کښې په تراویحو او نوافلو کښې چه قرآنکریم تلاوت کیږي او اوریدل کیږي اجرت پرې اخیستل او ورکول دواړه حرام دي او په فتاوی رشیدیه کښې حضرت ګنګوهي رحمه الله لیکلي دي چه که چیرته د حافظ په زړه کښې د اخیستلو خیال نه وي او بیا څوك څه ورکړي نو صحیح ده او کوم چه د عرف او رواج په بناء سره ئې ورکوي او حافظ هم د اخیستلو په خیال ختم کوي اګر که ئې په ژبې سره څه نه وي ویلي نو صحیح نه دی۔

﴿۳﴾ په دې کښې د شك او شبهې هیڅ ګنجائش هم نشته چه د حضور اکرم ﷺ سره عشق، محبت او عقیدت عین ایمان دی او د ده مبارك ﷺ له ولادت باسعادت څخه واخله تر وفاته پورې ئې د ژوند د هري شعبې صحیح حالات او واقعات او اقوال او افعال وراندې کول د خداوندي رحمت د نزول باعث دی او د هر مسلمان دا دیني فریضه ده چه د ده مبارك ﷺ د پاك ژوند حالات او واقعات معلوم کړي او بیا ئې خپله تګ لاره جوړه کړي۔ د کال په هري میاشتې کښې او د میاشتې په هري هفتې کښې او د هفتې په هري ورځې کښې او د ورځې په هر ساعت کښې او د ساعت په هري دقیقې کښې یو وخت هم د اسې نشته چه په هغه کښې د ده

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

مبارک ﷺ د ژوند د حالاتو بیانول او وریدل ممنوع وي۔ دا خبره د نزاع محل نه دی لیکن خبره دا ده چه آیا د ربیع الاول په دولسم تاریخ د دي کار لپاره متعین کول او میلاد جوړول، محفلونه او مجلسونه جوړول، جلوسونه ایستل او یا په مساکینو او فقراوو باندي خاص په همدي ورځي باندي د صدقاتو ویشل او د اسي نور له حضور ﷺ، صحابۀ کرامو رضی الله عنهم او له خیر القرون څخه ثابت دي؟ که چیرته ثابت و ای نو هیڅ اته به هم په دي کښي د څه ویلو حق نه و ای ځکه چه کوم شیان هغه مبارک قولاً یا فعلاً کړي وي هغ دین دی او مخالفت نې بې دیني ده۔ له نبوت څخه وروسته درویشت کاله دی مبارک ﷺ ژوندی وو او بیا درویشت کاله د خلافت راشده دور وو تر شلو کلونو پوري د تابعینو دور وو او د رسول الله ﷺ عشق او محبت په هغو کښي تر مونږ زیات وو نو د حضور اکرم ﷺ احترام او تعظیم له هغو څخه زیات څوک کولی شي؟ که چیرته څوک همت وکړي او له هغوی څخه پورتني ذکر شوي شیان ثابت کړي نو چشم ما روشن دل ما شاد۔ او هیڅ یوه مسلمان ته هم له هغه څخه د یو ویښته غوندي مخالفت په کار نه دی۔ لیکن که چیرته نې څوک په خیر القرون کښي ثبوت نه شي وړاندي کولی او تر قیامته پورې نې نه شي وړاندي کولی نو پوښتنه دا ده چه د محرک او سبب باوجود دغه مبارک او د ثواب عمل په هغه وخت کښي ولې نه ترسره کیده او نن څرنګه دا عمل مبارک او د ثواب کار جوړ شو؟ هغه ټول فوائد، برکتونه او منافع په هغه وخت کښي هم وو کوم چه دوی نې نن بیانوي۔

به مصطفیٰ برسان خویش را کہ دین ہمہ اوست اگر بہ او نرسیدی تمام بولہبی ست

د میلاد محفل، د میلاد مجلس بیل شی دی او د حضور ﷺ نفس ذکر د ولادت باسعادت بیل شی دی۔ اول بدعت دی او دوهم مستحب او مندوب دی۔ چنانچه حضرت مولانا رشید احمد ګنګوهي لیکلي دي چه محض د ولادت ذکر مندوب دی په دي کښي د قیودو په سبب سره کراهیت راځي۔ (فتاوی رشیدیه)

حضرت ګنګوهي مزید لیکي: د فخر دو عالم ﷺ نفس ذکر مندوب دی لیکن د انضمام او قیودو له وجهې د اسي مجلس ممنوع ګرځي۔ (فتاوی رشیدیه)

همدا رنګه علامه ابن امیر الحاج مالکي په مدخل کښي په پوره وضاحت او صراحت سره د دي تردید کړی دی او لیکي:

و من جملة ما احدثوه من البدع مع اعتقادهم ان ذلك من اكبر العبادات و اظهار الشعائر ما يفعلونه في الشهر الربيع الاول من المولد و قد احتوى ذلك على بدع و محرمات الى ان قال و هذه المفاسد مرتبة على فعل المولد اذا عمل با لسماع فان خلا منه و عمل طعاماً فقط و نوى به المولد و دعا اليه الاخوان و سلم من كل ما تقدم ذكره فهو بدعة بنفس نيته فقط، لان ذلك زيادة في الدين و ليس من عمل السلف الماضيين و اتباع السلف اولى۔

او امام جلال الدین سیوطي رحمه الله په "حسن المقصد في العمل المولد" کښي لیکي: ليس فيه نص و لكن فيه قياس

او همدا رنګه علامه عبد الرحمن المغربي پخپلي فتاوی کښي لیکي: ان عمل المولد بدعة طريقل به و لم يفعله رسول الله ﷺ و الخلفاء و الائمة

دا په مختصره توګه د مروجه میلاد حقیقت دی چه تاسو ته څرګند کړی شو۔

﴿٤﴾ د صفر د میاشتي آخري چهار شنبه "چوري" او د خیرات او صدقې خاص خیال ساتلو هیڅ ثبوت نشته۔ چنانچه حضرت مولانا رشید احمد ګنګوهي رحمه الله لیکي د صفر د میاشتي آخري چهارشنبي ته اکثره عوام د خوښی او سرور او د اطعام الطعام انتظام کوي۔ شرعا په دي باب کښي څه ثبوت نشته دا د جاهلانو خبرې دي۔ (فتاوی رشیدیه)

حضرت مولانا مفتي محمد شفیع صاحب رحمه الله په "امداد المفتین" کښي لیکي: دا خبره با لکل بې اصله او غلطه ده بلکه په حدیثو کښي د صفر د میاشتي د کوم خاص اهتمام مخالفت وارد شوی دی۔ قال علیه السلام لا هامة و لا صفر۔ (الحدیث)

د مسلمانانو له تولو نه لوی عبادت دا دی چه د سرور کائنات ﷺ اتباع وکړي او د اتباع په کولو کښي په ښې طریقې سره له علماوو څخه تحقیق وکړي چه دا فعل له حضور اکرم ﷺ څخه ثابت دی او که نه؟ یواځي په اوریدلو باندي عمل او اتباع ګناه ده۔ (امداد المفتیین)

همدا رنګه شاه عبد العزیز محدث د هلوي رحمه الله په فتاوی "عزیزیه" کښي لیکلي دي چه د دي هیڅ ثبوت نشته او د ابدعت دی۔ فقط و الله اعلم۔

د اپریل فول د جوړولو حکم

سوال: د دار العلوم حقانیه جناب مفتي صاحب! له څو ورځو څخه مې په ذهن کښي د اپریل فول په باره کښي یوه پوښتنه ذهن ته راغلي ده چه زمونږ په خواره ملك پاکستان کښي هر کال د اپریل د انګریزي میاشتي په اوله ورځ خلك پرته له کومې وجهې د یوه او بل کورونو او دوکانونو ته د اسي دروغجن حادثاتي خبرونه رسوي چه ځینې کمزوري او د زړه مریضانو ته تري مرګ هم واقع کیږي او د ځینو خلکو مالي نقصانونه کیږي او ځینې خلك مریضان کیږي۔ دي کار ته خلك اپریل فول وایي (خلك پرته له کومې وجهې په مصیبت کښي مبتلا کول او ځان پرې خوشحاله کول) اوس پوښتنه دا ده چه په شریعت کښي د دي مذموم عمل حیثیت څه شی دی؟ د د اسي اعمالو بنیاد جوړول او خلکو ته پرې ځاني او مالي نقصان رسول جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: اسلامي نظام یو د اسي نظام دی چه دوکه، فریب او نورو خلکو ته پرته له کومې وجهې نقصان رسول هیڅکله پکښي ځای نه لري او نه په اسلامي تعلیماتو کښي چا ته د دي خبرې اجازه ورکول کیږي چه بل چا ته د اپریل فول او د اسي نورو بیکارو خبرو او رسم و رواج باندي ځاني او مالي نقصان ورسوي او پخپله پرې خوښي وکړي په د اسي حال کښي چه اسلامي نظام د هر چا (مسلم او غیر مسلم ذمي) د ځان، مال، عزت او آبرو د تحفظ درس

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

ورکړی دی او چا ته ئې پرته له کومې وجهې تکلیف ورکول حرام ګرځولي دي۔
لاضرر و لاضرار فی الاسلام (الحدیث)
اسلام دروغ ویل هم حرام ګرځولي دي بلکه د منافقینو له علامو څخه یوه علامه دروغ ویل بللی دی۔ ایة المنافق ثلاثة اذا حدث کذب و اذا اؤتمن خان و اذا وعد اخلف۔ (الحدیث)
او د نورو د مال او ځان د تحفظ لپاره ئې واضح قانون جاري کړی دی۔ من قال لا الٰه الا الله عصم منی دماته و اموالہ الا بحقه۔ (الحدیث)
خلاصه دا چه د خلکو د نفسونو او مالونو چه څومره تحفظ په اسلامي قانون کښې دی د دنیا په بل قانون کښې نشته۔ نن صبا بلکه له مخکښینې زمانې څخه هر کال د اپریل په اوله کښې چه کوم فول لمانځل کیږي په دې کښې پورته ذکر شوي تولې خرابۍ موجودې دي کومې چه په اسلام کښې هیڅ ګنجائش نه لري۔ له دغو خرابیو بغیر په اپریل فول کښې د بت پرستۍ توهم هم موجود دی او د یهودیانو سره په توهین رسالت کښې مشابهت (یو شی والی) او له الله تعالی سره د تمسخر غوندې قبیح امور هم شامل دي ځکه چه په تاریخ کښې د دې فول په وجه درې قسمه اقوال وجود لري۔ ځینو مؤرخینو لیکلي دي چه په فرانسې کښې د اولسمې عیسوي صدۍ د کال اوله ورځ به د جنوري د اولې ورځې په ځای به د اپریل په اوله ورځ لمانځل کیدله۔ دغه میاشت رومیان د خپل دیوي وینس خوا ته نسبت کوي او مقدس ئې ګڼي چه ترجمه ئې په یوناني ژبه APHRO DITE دی او دا ښایي چه له دغه یوناني نوم څخه مشتق شوي وي او اپریل نوم ئې پرې اېښې وي۔ (برټانیکا پنځلسم ایډیشن ج۸، ص۲۹۲، بحوالۂ ذکر و فکر)
په دې لحاظ سره د صنم پرستي توهم هم په دې اپریل فول کښې موجود دی نو ځکه مسلمانان باید له دغو توهماتو څخه په کلکه ځانونه وساتي۔
او ځینو ئې وجه دا لیکلي ده چه له یو ویشتم مارچ څخه په موسم کښې بدلونونه راځي دا بدلونونه ځینې خلك د لسې تعبیروي چه (نعوذ باالله) قدرت له مونږ سره توکه وکړه او مونږ پې وقوف جوړوي له دې وجهې خلك هم په دې زمانې کښې له یوه او بل څخه پې وقوف جوړول شروع کوي۔ (برټانیکا ج۱، ص۴۹۶، بحوالۂ ذکر او فکر ص۶۷)
د تاریخ په دې حوالې سره (نعوذ باالله) له قدرت څخه د انتقام اخیستل مستفاد کیږي کوم چه صریح کفر دی او یوه وجه ئې دا هم لیکلي ده چه اول اپریل هغه تاریخ دی چه په هغه کښې د یهودیانو او رومیانو له خوا څخه حضرت عیسٰی علیه السلام د توقو او مسخرو سمبول جوړ کړی وو۔ په موجوده تش په نامه انجیل کښې د دې واقعې تفصیل بیان شوی دی۔
د لوقاد انجیل الفاظ دادي:
او کوم سړي چه حضرت عیسٰی علیه السلام ئې نیولی وو هغه ئې په خراب ځای یعنې ګندګۍ کښې څملولی وو او واهه ئې او سترګې ئې ور بندي کړې وې او په خوله خوله ئې په څاپیرو

باندې واهه او ورته ویل او پوښتنه ئې تري کوله چه په نبوت سره وښایه چه ته چا وهلی ئې او طعنې ئې ورکولې او ډیرې نورې خبرې ئې هم د هغه په خلاف وکړې۔ (لوقا ۲۲، ۶۳-۶۵)
له دې څخه ثابتیږي چه یهودیان په دغې شرموونکي او توهین رسالت باندې مبني واقعې په یاد کښې د اپریل فول لمانځي۔ او ځینې محققین وایي چه په دې ورځ کښې له سپین څخه د اسلامي خلافت مکمله خاتمه شوې وه چه د هغې په خوشحالی کښې عیسویان دغه ورځ لمانځي او دا اورځ د خپلې مکملې آزادۍ ورځ بولي۔
نو د دې لپاره مسلمانان باید دا ډول فضول او بیهوده او ناروا جشنونه و نه لمانځي او که چیرته دا ډول جشنونه و لمانځي او یو بل ته ځائې او مالي نقصانونه ورسوي نو د خدای او د خلکو په نزد به مجرم وي او د اسلامي حکومت ذمه واري ده چه د لسې سړي ته سخته سزا ورکړي۔ و الله اعلم۔

د بسنت د جشن لمانځل جائز نه دي

سوال: د دار العلوم حقانیه جناب مفتي صاحب! زمونږ د خواره ملك پاکستان په اکثرو ښارونو او کلیو کښې خصوصاً د لاهور خلك د پسرلي د موسم په راتلو یو موسمي جشن د بسنت تر نامه لاندې په ډیر جوش او خروش سره لمانځي۔ سړ کال په حکومتي سطح د ۸۰ جشن د لمانځلو اهتمام شوی دی۔ اوس پوښتنه دا ده چه د دې ډول جشنونو لمانځل د مقدس شریعت له مخې جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔
الجواب باسم ملهم الصواب: د خوښۍ هر یو جشن چه پکښې د غیر شرعي امورو ارتکاب او د کوم غیر اسلامي ګوند جز نه وي یو اځي د محبت د اظهار تر حده پورې په جشن جوړولو کښې کوم حرج نشته۔ پخپله په اسلام کښې د جشن په توګه د عیدینو د لمانځلو حکم موجود دی لیکن کوم جشن چه له کوم غیر اسلامي مذهب سره تړاو ولري مسلمانان باید له هغو جشنونو څخه په دې بناء باندې منع کړی شي چه "من تشبه بقوم فهو منهم" (الحدیث)
د بسنت د جشن په لمانځلو کښې د نورو محرماتو له ارتکاب سره سره دا علت هم موجود دی چه دا اجشن د هندوانو یو مذهبي جشن دی۔
مشهور محقق او مسلم سائنسدان علامه ابو ریحان البیروني پخپل مشهور کتاب "کتاب الهند" کښې د بسنت په باره کښې لیکلي دي چه په دې میاشت کښې استواء ربیعي وي چه نوم ئې بسنت دی۔ په دې حساب سره هندوان د دې وخت معلومات کوي او په دې ورځ کښې جشن جوړوي او برهمنانو ته خوراکونه ورکوي او د دیوانو په نامه باندې نذرونه کوي۔ (کتاب الهند باب ۷۶، ص۳۶۷)
د دې جشن د لمانځلو حقیقت دا دی چه د هندوانو یوه دیو چا تښتولې وه او د زمکې لاندې ئې وړې وه۔ د دې یو عاشق ور پسې ګرځیده او غوښته ئې او له دریو میاشتو مکملې پلټنې نه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner



وروسته نې خلاصه کړه۔ د دیوي د خلاصون نه وروسته بیا هریالي شروع شوه او د هغې په خوشحالی کښې دوی د اورځ د بسنت په نامه سره لمانځل شروع کړل۔

د دې برعکس د پاکستان په اکثرو ښارونو او خصوصا په لاهور کښې په دې ورځ د بسنت دومره په جوش سره په لمانځلو کښې یو بل علت هم شته چه له وجهې نې په هندوستان کښې د بسنت قصه په هر سکول کښې لوستل کیږي۔ او هغه قصه دا ده چه د مغلو د حکومت په دور کښې په لاهور کښې د "حقیقت رائے" نومې یوه هندو طالب علم د حضور اکرم ﷺ په مقدس شان کښې گستاخي کړې وه او قاضي د وخت د اعدام حکم پرې وکړ۔ چنانچه د لاهور د "کهوړي شاه" سکه نیشنل پوهنتون په انګړ کښې نې حقیقت رائے په دار وځړاوه یعنې اعدام نې کړ۔ هندوانو دې ته د یوه تاریخي واقعې حیثیت ورکړ او د خوښۍ په توګه نې د دې ورځې لمانځل شروع کړل چه د هغوی یوه ځوان د خپل مذهب لپاره دومره قرباني ورکړه او د اعدام له سزا ځځه نې د بچ کیدو په خاطر د اسلام د قبلولو خبره رده کړه او د خپل ځان قرباني نې ورانديکړه۔

له دې وجهې د دغو حقائقو او واقعاتو په رنا کښې دا خبره ځرګنديږي چه بسنت کوم موسمي جشن نه دی بلکه دا د هندوانو یو مذهبي جشن دی۔ د مسلمانانو لپاره د دې جشن لمانځل او په دې کښې شرکت کول ناجائز دي۔ باقي پاتې شوه دا خبره چه حکومت د دې جشن د لمانځلو په سرکاري سطحه اراده لري شرعاً ښه کار نه کوي۔ دا یواځې دا نه چه د ایماني غیرت تقاضا نه دی بلکه د اسلامي حکومت ذمه واري ده چه بسنت او د بسنت غوندې ټول غیر اسلامي جشنونو باندې پابندي ولګوي تر څو چه په دې سره د کفارو حوصله افزائي و نه شي۔

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

کتاب العلم

(د علم احکام او مسئلې)

په لاسپیکر کښې د قرآنکریم د درس ورکولو حکم

سوال: په لاسپیکر کښې د قرآن عظیم الشان تلاوت، نعت خواني او یا د قرآن مجید درس ورکول په ځینو وختونو کښې د خدایې مخلوق د ایذا سبب جوړیږي نو آیا د دلسې لاسپیکرونو استعمال د شریعت له مخې جائز دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د قرآن مجید درس ورکول، تلاوت، نعت خواني او دلسې نور که په لاسپیکر کښې وي او که له لاسپیکره پرته وي د اجر او ثواب باعث دی۔ بیا هم که چیرته د خدای مخلوقاتو ته تري تکلیف رسیده او د قرآن کریم پې حرمتي راتله نو بیا مکروه او د ګناه سبب دی۔

لما قال العلامة طاهر بن عبد الرشید البخاریؒ: و علی هذا لو قرأ علی السطح فی اللیل جهراً و الناس ینام یأثم ای فا لاثم علی القاری. (خلاصة الفتاوی ج۱، ص۱۰۳، فصل فی القرائت)

لما قال العلامة ابن الهمامؒ: و علی هذا لو قرأ علی السطح فی اللیل جهراً و الناس ینام یأثم. (فتح القدیر ج۱، ص۲۹۸، کتاب الصلوة، فصل فی صفة الصلوة) و مثلی فی البحر الرائق ج۱، ص۳۴۳، کتاب الصلوة، فصل فی صفة الصلوة)

د قرآنکریم د پرې شوې پانو د حفاظت طریقه

سوال: د قرآنکریم او نورو اسلامي کتابونو د شکیدلې پانو سوځول جائز دي او که نه؟ او که چیرته ئې سوځول جائز نه وي نو بیا ئې د حفاظت طریقه څنګه ده؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د قرآنکریم او نورو کتابونو ادب او احترام د هر مسلمان دیني ذمه واري او فریضه ده چونکه د شکیدلو پانو سوځول ئې پې ادبي ده نو ځکه بهتره دا ده چه د قرآنکریم او نورو دیني کتابونو پرې او شکیدلې پانې په کوم محفوظ ځای کښې ښخ کړی او یا ئې دریاب ته واچوی چه اوبو ئې یوسي۔ او سوځول ئې شرعا مناسب نه دي۔

لما قال العلامة ابن عابدینؒ: المصحف اذا صار خلقا و تعذر القرائت منه لا یحرق بل ینار الیه اشار محمد و به ناخذ و لا یکره دفنه و ینبغی ان تلف بخرقة طاهرة و یلحد لهٗ. (رد المحتار ج۶، ص۴۲۲، کتاب الحظر و الاباحة، فصل فی البیع)

لما فی الهندیة: و المصحف اذا صار خلقاً لا یقرأ منه و یخاف ان یضیع یجعل فی خرقه و یدفن و دفنه اولی من وضعه موضعا یخاف ان یقع علیه النجاسة او نحو ذلك و یلحد لهٗ. (الفتاوی الهندیة ج۵، ص۳۲۲، الباب الخامس فی آداب المسجد و القبلة و المصحف)

قال اللّٰه تعالیٰ

یرفع اللّٰه الذین اٰمنوا منکم

و الذین اوتوا العلم درجٰت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

د معـــــاش او کسب لپاره د تدریس د پریښودلو حکم

سوال: که چېرته د یوه چا ګذاره د تدریس په تنخواه باندې مشکله وي نو آیا د دیني علومو تدریس ورته پریښودلی شي او دنیایي کاروبار شروع کولی شي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په تنخواه باندې ګذاره نه کیدل یو مبهم حقیقت دی۔ په دې صورت کښې دې پخپلو ضروریاتو باندې له سره غور وکړي او خپل مصارف دې محدود کړي او له غیر ضروري مصارفو څخه دې اجتناب وکړي تر څو چه د تدریس غوندې له مقدس عبادت څخه ئې تعلق منقطع نه شي۔ بیا هم که چېرته د اهل او عیال د نفقې پوره کول ئې له تنخواه څخه مشکل شي او په جزوي اوقاتو کښې د آمدن د متبادلې ذریعې اختیارول هم ممکن نه وي نو بیا د نفقې په غوښتنې پسې د تدریس پریښودل جائز دي ځکه چه تدریس فرض کفایه دی او د اهل او عیال د نفقې بندوبست فرض عین دی۔

لما قال الله تعالی: وَ مَا كَانَ الْمُؤْمِنُوْنَ لِيَنْفِرُوْا كَآفَّةً فَلَوْ لَا نَفَرَ مِنْ كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَآئِفَةٌ لِّيَتَفَقَّهُوْا فِي الدِّيْنِ وَ لِيُنْذِرُوْا قَوْمَهُمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُوْنَ☆ (سورة التوبة آیت ۱۲۲)

لما قال العلامة جلال الدین السیوطیؒ: قولهٗ تعالی (وَ مَا كَانَ الْمُؤْمِنُوْنَ لِيَنْفِرُوْا كَآفَّةً. الآیة) فیها ان الجهاد فرض کفایة و ان النفقة فی الدین و تعلیم الجهال کذلك. (الاکلیل فی استنباط التنزیل ص ۱۲۳، سورة التوبة)

د نجونو لپاره د عصري تعلیم حکم

سوال: په عصر حاضر کښې د نجونو لپاره په مکتبونو او پوهنتونونو کښې د تعلیم د حاصلولو شرعاً څه حکم دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د مستور اتو د تعلیم او تعلم په باره کښې د مقدس شریعت رأیه مثبته ده په دې شرط چه د حدود الله رعایت پکښې وي۔ بیا هم په ننني زمانې کښې د پردې او د لسې نورو د نه موجودیت په بناء سره په مکتبونو او پوهنتونونو کښې د نجونو لپاره د تعلیم حاصلول د ډیرو مفاسدو لپاره د لارو د پرانیستلو ذریعه ده۔

لما قال الشیخ المحدث علی بن سلطان محمد القاریؒ: تحت قول النبیﷺ الا تعلمین هذه رقیة النملة لما علمتها الکتابة) قال الخطابی فیه دلیل علی ان تعلم النساء الکتابة غیر مکروه قلت یحتمل ان یکون جائزا للسلف دون الخلف لفساد النسوان فی هذا الزمان. (مرقات شرح مشکوة ج۸، ص ۳٦٤، باب الرقی)

رواه الامام محمد بن اسمٰعیل البخاریؒ: عن ابی سعید الخدریؓ قال قال النساء للنبیﷺ غلبنا علیك الرجال فاجعل لنا یوما من نفسك فوعدهن یوما لقیهن فیه فوعظهن و امرهن الخ. (الصحیح البخاری ج۱، ص ۲۰، باب هل یجعل للنساء یوماً علیحدة فی العلم) و مثله فی سنن ابی داؤد ج۲، ص ۱۸٦، باب فی الرقی)

د تعلیم او تهذیب په خاطر کم عمره کوچنیانو ته د سزا ورکولو حکم

سوال: د یوه هلك عمر لس کاله دی لیکن د تعلیم او تهذیب په زده کړه کښې ئې زړه نه لګیږي او د وخت د ضائع کولو عادي دی نو آیا د دلسې هلك زجراً وهل د شرعي له مخې جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: مقدس شریعت خپل ځان ته او خپل اهل او عیال ته د تعلیم او تربیې د ورکولو حکم کړی دی۔ الله تعالی په قرآنکریم کښې فرمایلي دي چه "ای د ایمان خاوندانو تاسو خپل ځانونه او خپل اهل او عیال د جهنم له اور څخه وساتئ" او دا په هغه وخت کښې کیږي چه کله بچیانو تعلیم، تربیه او ادب ور زده کړی او ښکاره خیره ده چه د تعلیم او تعلم لپاره کله واړي په کوچنیانو باندې سختي هم کیږي۔ له دې وجهې د صورت مسئوله مطابق که چېرته د بچي په زړه کښې تعلیم ځای نه نیسي او وخت ضائع کوي نو زجراً سزا ورکول ورته جائز دي بلکه د ثواب اُمید هم پکښې شته۔ بیا هم په سزا کښې چه دومره مبالغه نه وي چه جسماني نقصان او یا د زړه د ماتیدو ذریعه جوړه شي۔

لما قال الله تبارك و تعالی: یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا قُوْۤا اَنْفُسَكُمْ وَ اَهْلِیْكُمْ نَارًا. (پاره ۲۸، سورة التحریم، آیت ٦)

قال العلامة الحصکفیؒ: و فی القنیة له اکراه طفله علی تعلیم قرآن و ادب و علم لفریضة علی الوالدین. (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج٤، ص۷۸، باب التعزیر) و مثله فی الاحکام الصغار علی هامش جامع الفصولین ج۱، ص ۱۰، مطلب لیس للمعلم ان یضرب)

د استاد لپاره شاګرد ته د سزا ورکولو حکم

سوال: آیا د استاد لپاره جائز دي چه د ادب په خاطر خپل شاګرد ته سزا ورکړي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: استاد خپل شاګرد ته سزا ورکولی شي لیکن استاد ته په سزا ورکولو کښې دومره مبالغه په کار نه ده چه شاګرد ته جسماني نقصان ورسیږي او یا د استاد د سختي له وجهې شاګرد تعلیمي میدان با لکل پریږدي۔ بلکه د شاګرد د اصلاح لپاره استاد هغه ته معمولي سزا ورکولی شي۔

لما قال العلامة ابن عابدینؒ: و لو امر غیره یضرب عبده حل للمامور ضربه بخلاف الحر قال فهذا تنصیص علی عدم جواز ضرب الولد بامره بخلاف المعلم لان المامور یضربه نیابةً عن الاب لمصلحة. (رد المحتار ج۳، ص۱۹۳، باب التعزیر)

قال العلامة محمد بن محمود الاسترشنیؒ: بلغ اثنتی عشر سنین یضرب لاجل الصلوٰة (بحذف یسیر) و کذا المعلم لیس له ان یجوز الثلاث. (احکام الصغار علی هامش جامع الفصولین ج۱، ص ۱۰، مطلب لیس للمعلم ان یضرب)

د دیني علومو د طالب علم د نفقې حکم

سوال: یو طالب په دیني مدرسي کښې دیني علوم حاصلوي او پلار ئې غني او بنه پیاوړی دی۔ نو آیا په والد باندې ئې د خپل د اسې بچي د ضروریاتو پوره کول لازم دي او که نه؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

الجواب باسم ملهم الصواب: د دین زده کړه د هر مسلمان سړي او ښځي ذمه واري ده تر څو چه د خپلو دیني ضروریاتو څخه خبر شي او د هغه مطابق خپل ژوند تیر کړي۔ کوم انسان چه د دیني علومو د حاصلولو لپاره وتلی وي او په صحیح توګه علم حاصلوي او وخت نه ضائع کوي نو د داسي طالب علم په والد باندي د هغه د تولو ضروریاتو پوره کول لازمي دي۔

لما قال العلامة ابن عابدينؒ: و كذا طلبة العلم اذا كانوا عاجزين عن الكسب لا يهتدون اليه لا تسقط نفقاتهم من آبائهم اذا كانوا مشتغلين بالعلوم الشرعية. (فتاوى التنقيح الحامدية ج ۱، ص ۷۲)

لما في الهندية و كذا طلبة العلم اذا كانوا عاجزين عن الكسب لا يهتدون اليه لا تسقط نفقتهم عن آبائهم اذا كانوا مشتغلين بالعلوم الشرعية. (الفتاوى الهندية ج ۱، ص ۵۶۳، الفصل الرابع في نفقة الاولاد، كتاب الطلاق)

د ديني علماوو د توهين (سپکاوي) حکم

سوال: یو سړی ډیرې بدې خبرې کوي او ډیر بد اخلاقه دی پرته له کوم سبب او جرم څخه د دیني علماوو توهین کوي، د حقارت په نظر ورته ګوري او ښکنځل هم ورته کوي نو شرعاً د داسي سړي څه حکم دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د خدای په نزد د دیني علماوو ډیر لوی مقام دی د اللہ تعالیٰ ارشاد دی: هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ☆ (سورة الزمر، آیت ۹)

"یعني عالم او جاهل سره برابر نه دي او نبي کریم ﷺ علماء کرام د انبیاوو وارثان ګرځولي دي۔ د قرآن او حدیثو له مخې د علماوو کرامو درجه معلومه ده او له کوم دیني عالم سره پرته له کومې وجهې کینه او حسد سائل ډیر لوی جرم دی۔ که چیرته یو څوک پرته له کوم دنیوي او دیني سبب څخه د کوم دیني عالم توهین کوي۔ ښکنځل ورته کوي او بدې ردي خبرې ورپسې کوي نو د ملا علي قاري او داسي نورو جیدو علماء کرامو په نزد د نوموړي سړي دا حرکت د کفر سبب دی او که چیرته د کوم دنیوي وجهې په بناء سره ئې توهین کوي نو دا سې سړی ګنهګار او فاسق دی۔

قال العلامة ملا علي القاريؒ: من ابغض عالماً من غير سبب ظاهر خيف عليه الكفر قلت الظاهر انهٗ يكفر لانهٗ اذا ابغض عالماً من غير سبب دنيوى او أخروى فيكون بغضه لعلم الشريعة و لا شك في كفر من انكره فضلاً عمن ابغضه. (شرح فقه الاكبر ص ۱۷۳)

قال العلامة طاهر بن عبد الرشيد البخاريؒ: من ابغض عالماً من غير سبب ظاهر خيف عليه الكفر. (خلاصة الفتاوى ج ۴، ص ۳۸۸، كتاب الفاظ الكفر)

هر کال پرته له کوم دلیل څخه نوې نوې مدرسې ته د تللو حکم

سوال: د دیني مدارسو د ځینو طالبانو دا عادت وي چه هر کال بلکه په کال کښې دوه درې مدرسې بدلوي په دا سې حال کښې چه په لومړنۍ مدرسې کښې هر ډول سهولیات ورته میسر

وي، آب و هوا هم موافق وي، اسباب هم ډیر ښه وي، استاذ ان ټي هم ډیر مشفق او مهربان وي۔ د دغو تولو شیانو سره سره ځینې طالبان کله یوې او بلې مدرسې ته ځي چه له مخې ټي په مدرسو باندې ډیر بد اثر پریووځي او عزت ټي هم متاثر کیږي۔ په دې باره کښې د مطهر شریعت څه حکم دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د تولو سهولیاتو سره سره له یوې مدرسې نه بلې مدرسې ته تلل د خدای د نعمت ناشکري ده کومه چه شرعاً ناجائزه ده۔ نو د دې لپاره پرته له کوم شرعي عذر څخه له دې کار څخه باید طالبان پرهیز وکړي۔ د کومو طالبانو چه دا عادت وي او د دې عادت له مخې دیني مدرسې متاثري کیږي نو د اسې طالبان به د خدای په نزد مسئول وي۔

لقوله تعالى: لَئِنْ شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ وَلَئِنْ كَفَرْتُمْ إِنَّ عَذَابِي لَشَدِيدٌ (سورة ابراهيم، آيت ۷)

د حرام مال د صدقه کولو حکم

سوال: جناب مفتي صاحب! د ځینو کتابونو له مطالعې څخه مې یو سوال ذهن ته راغلی دی چه د حرام مال صدقه کول هم حرام دي او ښکاره خبره ده چه د ګناه په کارونو کښې څه اجر او ثواب نه وي په دا سې حال کښې چه په ځینو کتابونو کښې لیکلي دي چه د حرام مال صدقه کول د اجر او ثواب موجب دی۔ نو اوس به د دې تعارض څه حل وي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: حرام مال د ثواب په نیت سره صدقه کول معصیت او ګناه ده په دا سې حال کښې چه پرته د ثواب له نیت څخه ئې صدقه د شارع علیه السلام د امر منل دي کوم چه د اجر او ثواب موجب دی۔ لهذا په دواړو کښې څه تعارض نشته۔ په کومو کتابونو کښې چه معصیت لیکل شوی دی له هغه څخه د حرام مال صدقه کول د ثواب په نیت سره تري مراد دی او چه په کومو کتابونو کښې د اجر او ثواب خبره شوې ده نو له هغه څخه د حرام مال د ثواب له نیت څخه پرته صدق کول تري مراد دي۔

لما قال العلامة انور شاه الكشميريؒ: القول في دفع التعارض ان ههُنا شيئان احدهما اثمار امر الشارع و الثواب عليه و الثاني التصدق بمالٍ خبيث و الرجاء من نفس المال بدون لحاظ رجاء الثواب من امتثال الشارع فالثواب انما يكون على اثمار الشارع و اما رجاء الثواب من نفس المال فحرام. (عرف الشذى على جامع الترمذى ج ۱، ص ۳، باب ما جاء في فضل الطهور)

د فیض الباري د یوه عبارت تحقیق

سوال: بخدمت محترم المقام حضرت مولانا مفتي محمد فرید مد ظله العالي! السلام علیکم ورحمه الله و برکاته۔ محترمه د فیض الباري ج۳، ص۳۹۵ کښې د دې عبارت په مطلب باندې خان یو هول غواړم امید دی چه تاسو مې ضرور لارښوونه وکړی؟

و اعلم ان في التحريف للائة مذاهب ذهب جماعة ان التحريف في الكتب السماوية قد وقع بكل نحو في اللفظ و المعنى

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

جمیعاً و هو الذی مال الیه ابن حزمؒ و ذهب جماعة الی ان التحریف قلیل و لعل الحافظ ابن تیمیةؒ جنح الیه و ذهب جماعة الی انکار التحریف اللفظی رأساً فا لتحریف عندهم کله معنوی قلت یلزم علی هذا المذهب ان یکون القرآن ایضاً محرفاً فان التحریف المعنوی غیر قلیل فیه ایضاً و الذی تحقق عندی ان التحریف لفظی ایضاً اما انه عن عمد منهم او لمغلطة فا لله تعالی اعلم.

دا عبارت چه مې ولوستل سر مې وګرځیده۔ یوې خوا ته د قرآنکریم د محفوظیت بنیادي او قطعي او یا ضروري عقیده "و إنا له لحافظون" تر قانون لاندې قدیماً او حدیثاً د مفسرینو یو یو حرف بلکه تر زور او زیر پورې د حفاظت تصریح۔ د امام ابن حزم د الملل و النحل ج۲، ص۸۰ دا لیکنه: ..... ثم مات ابو بکرؓ و ولیَ عمرؓ..... ان لم یکن عند المسلمین اذا مات عمرؓ مائة الف مصحف من مصر الی العراق الی الشام الی الیمن فما بین ذلك فلم یکن اقل ثم ولیَ عثمانؓ فزادت الفتوح فلو رام احد احصاء مصاحف اهل الاسلام ما قدر..... و اعلموا انهٗ لو رام احد ان یزید فی شعر النابغة او شعر زهیر کلمة او ینقص اخری ما قدر لانه کان یفتضح الوقت و تخالفه النسخ المنقولة فکیف القرآن فی المصاحف و هی من آخر الأندلس و بلاد البربر و بلاد السودان الی آخر السند و کابل و خراسان و الترك و الصقالبة و بلاد الهند فما بین ذلك فظهر حمق الرافضة و مجاهرتها با لکذب الخ و قبل ذلك فی ص۷۸ و اما قولهم فی دعوی الروافض تبدیل القرآن فان الروافض لیسوا من المسلمین.

او پخپله علامه خفاجي او د قاضي عیاض شفا او د نسیم الریاض (ج۴، ص۵۵۳) دا لیکنه: و کذلك کما کفرنا هذا نکفر من انکر القرآن کله او انکر حرفاً منه او کلمة او غیر شیئا منه بابدال او زیادة او نقص فیه کلاماً لیس منه او له دې نه مخکښې و المرتاب فی ذلك المعلوم من الدین با لضرورة و المنکر بعد البحث و صحة المسلمین کافر با لاتفاق و لا یعذر بقوله لا ادری الخ.

په هر حال دا او د دې غوندې په شل ګونو بلکه تر دې زیاتو تصریحاتو سره سره مونږ تولو طالبانو ته معلوم او څرګند دي د حضرت شاه صاحب د پورتني ذکر شوي الفاظو مقصد څه شی دی؟ خدای دي وکړي چه دا زمانا پوهې وي او تاسو د اسې ډاډمنه توجیه را ته وکړی چه زما زړه ته د اطمینان دولت حاصل شي۔ نه پوهیږم چه زما په عقل او فهم باندې څه شوي دي چه له دې خبرې څخه دومره پریشانه یم او بار بار د "ربنا لا تزغ قلوبنا" دعا هم کوم۔ دوه درې شخصیتونو ته چه په هغو پورې مې روحاني امیدونه ترلي دي خپل غم او تکلیف وړاندې کوم چه په هغوی کښې له جناب والا څخه په خصوصي توګه هیله مند یم۔ په دې وخت کښې یو اځې تاته خپله عریضه وړاندې کوم هیله ده چه زر مې دستګیري وکړی ډیره مهرباني به مو وي۔ زه باید پخپله حاضر شوی وای او ډاډګیرنه مې حاصل کړې وای لیکن کم همتي مې مانع دی۔ که چیرته له دغو الفاظو څخه ظاهري معنی مراد وي کوم چه زه پرې پوهیږي چه په قرآن پاك کښې لفظي تحریف موجود دی (العیاذ با لله) ځکه چه نه د "فیه" مرجع مخکښینې آسماني کتابونه جوړیدلی شي او که چیرته "فیها" وویل شي او غلطي تې د کاتب په سر واچول شي نو "اما انه عن محمد منهم او لمغلطه" د دې مانع دی ځکه چه د دغو کفارو تحریف یقیناً عن

عمد وو لقوله تعالی: تَلْبِسُوْنَ الحَقَّ بِا لْبَاطِلِ وَ تَكْتُمُوْنَ الحَقَّ وَ اَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ (سورة البقرة)

نو په هر حال آیا کوم مسلمان د تحریف ارتکاب کړی دی؟ و العیاذ بالله نو که داسې وي نو په قول د شفاء سره ان هذ سکر اذا جوز علی جمیع الامة الوهم و الغلط مما نقلوه..... دخل الامة انه فی جمیع الشریعة اذ هم الناقلون لنا و للقرآن و النحلت عری الدین. (نسیم الریاض)

او که چیرته نعوذ با لله خبره دغه وي کومه چه له ظاهري الفاظو څخه څرګندیږي نو د دیوبندیانو حاسدینو او دښمنانو دا خبره تر اوسه پورې د اکابرینو په خلاف ظاهره کړي ولي نه ده؟

اللّٰهم فلا تکلنا الی انفسنا طرفة عین و لا الی احد من خلقك و الا اقل من ذلك و اصلح شاننا کله بجاه نبیك المصطفی و حبیبك المرتضی علیه و علی آله و اصحابه من الصلوٰة اکملها و من التسلیمات افضلها.

ناکاره: عبد الکریم غفر له و لوالدیه از نجم المدارس کلاچي

۲۰ جمادي الثاني ۱۴۱۲ هجري / ۲۸ دسمبر ۱۹۹۱ء

درین کتاب پریشان چو نیست از ترتیب

عجب مدار کہ چون حال من پریشان است

دې ته د حضرت شاه صاحب تفرد نه شي ویل کیدلی ځکه چه په قطعیاتو یا ضروریاتو کښې د تفرد څه مطلب وي؟ که چیرته دغو الفاظو ته تفرد وویل شي نو په خلاف نې که د حضرت شاه صاحب کوم صریح عبارت موجود وي هغه په ګوته کړی تر څو د بنده ډاډګیرنه وشي؟ بینوا توجروا۔

جواب له طرفه دې حضرت مولانا مفتي محمد فرید صاحب مد ظله العالي: محترم المقام جناب قاضي صاحب د امت برکاتکم امابعد: پس کله چه تاسو زما غوندې په کم عمر او کم علم سړي باندې اعتماد وکړ نو په دې بناء باندې د دې اشکال د ازالې په اړه عرض دا دی چه ما د حضرت شاه صاحب د تلمیذ (شاګرد) تحریر حضرت شیخ الحدیث مولانا عبد الرحمن صاحب کامل پوري څخه اوریدلي دي چه فیض الباري زمونږ د شیخ صاحب امالي ده او سره له بلیغي سعیې او کوشش څخه ډیرې غلطیاني پکښې پاتې دي مثلا د حضرت عیسی علیه السلام قبل الرفع الی السماء د عمر په اړه او په قرض کښې د حوالې د عدم صحت په اړه او داسې نور۔ نو د دې امالي په تفرد اتو باندې له غور څخه کار اخیستل ضروري دي۔

د تحریف والي د دې عبارت په اړه د کال په سر کښې یوه پوښتنه شوې وه او ځواب نې دا لیکل شوی وو چه شاه صاحب د مخکښینې آسماني کتابونو په اړه دوه مذهبونه ذکر کړي دي۔ اول دا چه په هغو کښې لفظي او معنوي تحریف دواړه متحقق کیدلی شي۔ دوهم دا چه په هغو کښې لفظي تحریف نه دی واقع شوی بلکه یواځې معنوي تحریف پکښې متحقق شوی دی۔ له دې نه وروسته حضرت شاه صاحب په دوهم مذهب باندې پخپله اعتراض کوي چه له دې څخه دا لازمیږي چه قرآنکریم هم محرف دی ځکه چه په دې کښې هم معنوي تحریف واقع شوی دی حالانکه قرآن مجید محفوظ دی او له دې نه وروسته حضرت شاه صاحب اول مذهب ته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

ترجیح ورکړی دی چه په آسماني کتابونو کښې لفظي تحریف هم واقع شوی دی۔ یواځې مترجم د مؤنث په ځای د مذکر ضمیر راوړی دی۔ و حق العبارة: "و الذی تحقق عندی ان التحریف فیها لفظی ایضاً" الخ هو الموفق. (محمد فرید عفی عنه)

خواب له طرفه د حضرت مولانا مفتي سيف الله حقاني صاحب مد ظله العالي: تاسو چه د فیض الباري کوم عبارت په ګوته کړی دی له دې پرته نور عبارتونه هم د اعتراض مورد دي مثلاً:

و اما رفعه فکان علی ثمانین سنة. و صححه الحافظ فی الاصابة و هو الذی رجع الیه السیوطی فی مرقاة الصعود. (فیض الباری ج۳، ص۲۶۳، کتاب البیوع، باب قتل الخنزیر)

او حال دا چه پخپله د الاصابه في تمیز الصحابه عبارت ملاحظه کړی: و اختلف فی عمره متی ولد الی ان رفع فقیل ثلاث و ثمانون سنة و هذا اشهر و قیل اربع و ثلاثون و فی مرسل سعید بن المسیب انهٗ عاش ثمانین ذکره من روایة علی بن زید عنه و هو ضعیف و فی مستدرک الحاکم عن فاطمة رضی الله تعالی عنها ان النبی ﷺ اخبرها ان عیسی عاش مائة و عشرین سنة فی حدیث ذکره. (الاصابة فی تمیز الصحابة ج۳، ص۵۴، حرف العین ۶۱۴۹)

العلامه الشیخ سلیمان الجمل فرمایي: فقی زاد المعاد ما یذکر ان عیسی رفع و هو ابن ثلاث و ثلثین سنة لا یعرف به اثر متصل یجب المصیر الیه قال الشامی و هو کما قال فان ذلك انما یروی عن النصاری و المصرح فی الاحادیث النبویة انهٗ انما رفع و هو ابن مائة و عشرین سنة ثم قال ای الزرقانی مهمة. وقع للحافظ جلال الدین السیوطی فی تکملة تفسیر المحلی و شرح النقایة و غیرهما من کتبه الجزم بان عیسی رفع و هو ابن ثلاث و ثلاثین سنة و یمکث بعد نزوله سبع سنین و ما زالت التعجب منه مع مزید حفظه و اتقانه و جمعه المعقول و المنقول حتی رأیته فی مرقاة الصعود رجع عن ذلك. (الفتوحات الالهیة ج۱، ص۲۸۰، سورة البقرة)

د فیض الباري ج۳، ص۲۸۳ په کتاب الکفاله کښې دي چه: و کذا لا تصح الکفالة فی القرض لانهٗ من باب الاعتماد الخ.

او حالانکه فقهاء کرامؒ کفاله فی القرض صحیح بولي۔ په شرح التنویر کښې دي چه: قلت و من حیل تاجیل القرض کفالته مؤجلا فیتاخر عن الاصیل لان الدّین واحد. و فی رد المحتار (قوله لان الدّین واحد) ای فاذا تاخر عن الکفیل لزم تاخیره عن الاصیل ایضاً اذ یثبت ضمنا ما یمتنع قصداً کبیع الشرب و الطریق کما فی البحر عن تلخیص الجامع لکن فی النهر عن السراج قال ابو یوسف اذا اقرض رجل رجلا مالا فکفل به رجل عنه الی وقت کان علی الکفیل الی وقته و علی المستقرض حالاً الی قوله و حاصله ان الجمهور علی انه یتاجل علی الکفیل دون الاصیل و به افتی العلامة قارئ الهدایة و غیره (ج۴، ص۱۹۰) و فی رد المحتار ایضاً و نقل عبارتها و یستثنی ایضاً ما لو کفل بالقرض مؤجلا الی سنة مثلا فهو علی الکفیل الی الاجل و علی الاصیل حال الخ (ج۴، ص۳۰۵) و فی شرح التنویر لو کفل الحال مؤجلا..... تاخر عن الاصیل و لو قرضاً لان الدّین واحد. الخ. (ج۴، ص۳۱۷)

نو په ظاهره خو دا معلومیږي چه د نیوکي وړ دا عبارتونه د جامع په توهم باندې مبني دی نو ځکه اوس به دا وینا بې ځایه نه وي چه کوم عبارت تاسو په نخښه کړی دی نو دا دي هم د جامع په توهم باندې مبني شي۔ له دې برسیره د دې عبارت دا توجیه هم کیدلی شي او هغه دا چه

حضرت الشیخ الاتورؒ دا عبارت چه: و الذی تحقق عندی ان التحریف فیه لفظی ایضاً اما انه عن عمد منهم او لمغلطة فا لله تعالی اعلم به.

د قرآن پاك په باره کښې نه دی بلکه د آسماني کتابونو په باره کښې دی۔ الشیخ الاتور د دې عبارت څخه دا مضمون ادا کیږي چه زما په نزد متحققه دا ده چه په مخکښینې آسماني کتابونو کښې یواځې معنوي تحریف نه دی شوی بلکه له معنوي تحریف سره سره لفظي تحریف هم پکښې شوی دی۔ او و الذی تحقق عندی ان التحریف فیه کښې د فیه ضمیر مجرور بتاویل مذکور آسماني کتابونو ته راجع کیږي او دا ویل کیدای شي چه جامع د مؤنث ضمیر په ځای مذکر ضمیر راوړی دی۔ و حق العبارة و الذی تحقق عندی ان التحریف فیها لفظی ایضاً الخ لیکن په دې توجیه سره د "اما انه عن عمد منهم الخ" جملې سره مساعدت او موافقت نه کوي۔ اللّٰهم ان یقال قیل ما قیل باعتبار بعض المحرفین الذین ما علم قصدهم و عدمه لیکن و فیه ما فیه. فلا سبیل و لا مخلص لا ان یثبت بالوهم.

و الله اعلم.

د رحم د استبراء لپاره د عدت په نشت والي باندې د یوه اشکال ازاله

سوال: جناب مفتي صاحب! له څو ورځو څخه مې یو اشکال ذهن ته راغلی دی چه اسلام خو د مطلقې او کونډې لپاره عدت مقرر کړی دی لیکن د رحم د استبراء لپاره ئې کومه نیته نه ده تاکلې۔ شرعاً د دې څه وجه ده؟ مهرباني وکړی زما دا سوال د شریعت مطهره په رنا کښې دفع کړی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په اسلام کښې د طلاق او وفات عدت ځکه تاکل شوی دی چه مطلقه او کونډه د یو چا پتی پاتې شوې وي او د یوه سړي پتي ته بل سړی اوبه نه شي ورکولی۔ په خلاف د استبراء د رحم ځکه چه هلته یواځې د حمل احتمال وي او هغه واطي بالشبه او یا د مولی پتی نه وي له دې وجهې ئې استبراء لازمه وګرځوله۔

لما قال علیه السلام: من کان یؤمن با لله و الیوم الآخر فلا یسقین ماء ذرع غیره. (الجامع الترمذی ج۱، ص۲۱۴، باب الرجل یشتری الجاریة و هی حامل، کتاب النکاح)

د قیل د لفظ وضاحت

سوال: جناب محترم مفتي صاحب! مونږ چه کله د فقهي او یا د احادیثو شروح، تفاسیر او یا نور ديني کتابونه مطالعه کوو نو په هغو کښې ځینې اقوال د قیل په لفظ سره ذکر شوي وي۔ د دا سې اقوالو څه مطلب وي وضاحت ئې وکړی ډیره شکریه به مو وي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په کوم ديني کتاب کښې چه کوم قول د قیل په لفظ سره ذکر وي نو هلته دا وګورې چه ټول اقوال په قیل سره لیکل شوي دي او که یو قول د قال په لفظ یعني د معروف په صیغې سره هم ذکر دی؟ که چیرته ځینې قولونه د قال یعني د معروف په صیغې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

سره هم ذکر وي نو د کتاب د مصنف په نزد د قال قول راجح وي او د نورو اقوالو د هغوی د ضعف له وجهې ئې په صیغه د مجهول سره اشاره ورته کړې وي۔ او که چېرته ټول قولونه د قیل په صیغې سره ذکر وي نو په دې صورت کښې د یوه قول ترجیح هم مقصود نه وي۔

د ګنو میړونو والا ښځه به په جنت کښې له کوم یوه سره وي؟

سوال: که چېرته یوې ښځې یو په بل پسې دیر خاوند ان کړي وي نو په جنت کښې به د کوم خاوند سره وي؟ د قرآن او سنتو په رنا کښې ځواب راکړئ؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب کومه ښځه چې په دنیا کښې یو په بل پسې دوه دري خاوند ان کړي وي نو په جنت کښې ئې د اوسیدو په اړه دوه قولونه راغلي دي۔ اول قول دا دی چه هغې ته به اختیار ورکول کیږي چه له کوم خاوند سره اوسیږي۔ او دوهم قول دا دی چه له آخري خاوند سره به وي۔

حضرت علي ته د کرم الله وجهه ویلو وجه

سوال: جناب مفتي صاحب! کله چه مونږ د رسول الله ﷺ د کوم صحابي نوم اورو نو د هغوی له مبارکو نومونو سره رضی الله عنه وایو او کله چه د حضرت علي نوم اورو او یا ئې وایو نو کرم الله وجهه ورسره وایو او له اکثرو علماوو څخه مو هم اوریدلي دي شرعا د دې څه وجه ده؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب د حضرت علي رضی الله عنه لپاره عموما د رضی په ځای د تکریم صیغه یا خو دې لپاره استعمالیږي چه ده هیڅکله هم د بتانو په وړاندې خپل سر نه دی ټیټ کړی ځکه چه ده مبارک له بلوغ مخکښې اسلام قبول کړی دی او یا ځکه چه د صفینو په جنګ کښې ځینو خلکو د ده په باره کښې د سوء الله وجهه الفاظ استعمال کړي وو نو د دې د تردید لپاره د امت علماوو د ده له نامه سره د کرم الله وجهه لفظ استعمالول شروع کړل۔

ذبیح الله اسمٰعیل علیه السلام وو او که اسحاق علیه السلام؟

سوال: حضرت ابراهیم علیه السلام د الله تعالی د حکم په تعمیل کښې خپل کوم څوی ذبح کړی وو؟ ځینې علماء کرام وایي چه اسحاق علیه السلام وو او مونږ تر اوسه پورې دا اوریدلي دي چه حضرت اسمٰعیل علیه السلام ئې ذبح کړی وو۔ نو مهرباني وکړی زمونږ دا شك ختم کړی چه ذبیح الله څوك وو؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب حضرت ابراهیم علیه السلام د الله تعالی د حکم په عملي کولو کښې خپل کوم زوی چه ذبح کړی وو د هغه په تعین کښې اختلاف دی۔ ځینو علماء کرامو حضرت اسحاق علیه السلام ذبیح الله بللی دی په دلسې حال کښې چه جمهورو علماوو حضرت اسمٰعیل علیه السلام ذبیح الله ګرځولی دی او همدا قول راجح او مشهور دی۔

د خدا نراد هار دی مطلب


سوال: جناب مفتي صاحب! مولانا شاه عبد القادر صاحب د الله الصمد معنی "خدا نراد هار دی" لیکلی دی۔ مهرباني وکړی د مقدس شریعت په رنا کښې د نراد هار لفظ تشریح وکړی؟

الجواب باسم ملهم الصواب "نراد هارا" د سنسکرت ژبې لفظ دی او معنی ئې دی "هغه ذات چه د چا محتاج نه وي او د نورو خلکو کار پرته له هغه څخه نه کیږي او نور ټول ورته محتاج وي" له دې څخه معلومه شوه چه د الله الصمد دا معنی چه "بې نیازه دی" اګر که صحیح دی لیکن نیمه ترجمه ده ځکه چه بې نیازه هغه ذات ته ویل کیږي چه چا ته محتاج نه وي۔

لما قال المفتي محمود حسن ګنګوهي: مولانا عطاء الله شاه بخاري وفرمایل چه ما په جیل کښې د کلام الله د ترجمې مطالعه کوله کومه چه مولانا شاه عبد القادر صاحب لیکلې وه نو په هغې کښې د الله الصمد همدا ترجمه کړې وه چه خدا نراد هار دی۔ نو زه ئې په مطلب پوه نه شوم یو زوړ هندو څخه مې پوښتنه وکړه چه د نراد هار څه مطلب دی؟ هغه وویل چه تا دا لفظ چېرته اوریدلی دی؟ دا سنسکرت لفظ دی د مذهب لوړ خلك ئې په معنی پوهیږي۔ ما ورته وویل چه تا به چېرته ښایي اوریدلی وي را وئې ښایه آیا بې نیازه معنی ئې صحیح ده؟ هغه وویل چه نه د دې معنی ده چه د چا محتاج نه وي او د نورو خلکو پرته له هغه څخه کار نه کیږي او ټول ورته محتاج وي او په بې نیازه سره ئې نیمه ترجمه کیږي۔

(ملفوظات فقیه الامت ج۲، قسط۷، ص۵٤)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

کتاب التفسیر

(د قرآنکریم د تفسیر په بیان کښې)

د قرآن مجید رسم الخط توقیفي دی

سوال: په قرآنکریم کښې د باؤ، فاؤ، او جاؤ لفظ د جمع د قوانینو مطابق په دغو کلماتو کښې الف ولې نه دی لیکل شوی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د قرآنکریم په رسم الخط کښې د عثماني مصحف اتباع شوې ده کوم چه اصل او بنیاد دی او د کبارو صحابۂ کرامو په موجود والي کښې په یوې خاصې طریقې سره خلاف القیاس مرتب شوی دی او دا رسم خط توقیفي دی نو له دې وجهې که چېرته د کوم قیاسي قانون له وجهې تبدیلي پکښې جائز نه دی۔ لهذا په دغو کلماتو کښې هم د عثماني مصحف اتباع شوی دی نه د عربي د ژبې د قوانینو۔

لما قال احمد مُصطفى المراغيؒ: اما كتابة المصحف فهي تابعة للطريق التي كتب بها في عهد عثمان رضي الله عنه الخليفة الثالث على يد جماعة من كبار الصّحابة و تسمّى الرسم العثماني و قد اتبع فيها نهج خاص يخالف ما اتبع فيما بعد في كثير من المواضع و من ثم قيل خطان لا يقاس عليهما خط العروض و خط المصحف العثماني. (تفسير مراغي ج۱، ص۱۳، مقدمة، طريق كتابة القرآن الكريم)

و قال عبد العظيم الزرقانيؒ: في مسئلة رسم خط القرآن ثلاثة اقوال. الاول انه توفيقي لا تجوز مخالفة ذلك مذهب الجمهور الخ. (مناهل العرفان ج۱، ص۳۷۰، هل رسم المصحف توفيقي؟)

د قرآنکریم د حروفو تعداد

سوال: د قرآنکریم د حروفو صحیح شمیر او تعداد څومره دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: لکه څرنګه چه د قرآنکریم د آیتونو په شمیر او تعداد کښې اختلاف دی همدارنګه د حروفو په تعداد کښې ئې هم د علماوو اختلاف دی چه څو مشهور قولونه ئې په لاندې ډول دي:

﴿۱﴾ امام قرطبي رحمه الله پخپل مشهور تفسیر "احکام القرآن" کښې د سلام ابو محمد الحماني رحمه الله څخه نقل کوي چه د حجاج بن یوسف ثقفي په زماني کښې د هغه په حکم سره د قرآنکریم حروف وګڼل شو نو ټول تعداد ئې ۳۴۹۷۴۰ شو۔ (احکام القرآن للقرطبي ج۱، ص۶۴، باب ما جاء في ترتيب سور القرآن و آياته و شكله)

﴿۲﴾ د عطاء بن یسار څخه منقول دی چه د قرآن کریم د حروفو تعداد ۳۲۳۰۱۵ دی۔ (البرهان في علوم القرآن ج۱، ص۲۴۹، فصل في عدد سور القرآن و آياته و كلماته و حروفه)

﴿۳﴾ علامه شمس الحق افغاني رحمه الله له ابن الجوزي څخه نقل کوي چه د حضرت عبد الله

ابن مسعود رضی الله تعالی عنه د حساب مطابق د قرآنکریم ټول حروف ۳۲۲۶۷۱ دی۔ (علوم القرآن ص۱۷۰، تعداد حروف القرآن)

د قرآنکریم د آیتونو تعداد

سوال: د قرآنکریم د آیتونو تعداد څومره دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د قرآنکریم د آیتونو په انتها او ابتداء کښې د اختلاف له وجهې د تعداد په باره کښې هم د علماوو تر منځ اختلاف دی۔ بیا هم په دې خبرې باندې د ټولو اتفاق دی چه د قرآنکریم آیتونه له شپږو زرو څخه زیات دي۔ دلته د څو مشهورو علماء کرامو اقوال نقل کیږي چه په لاندې ډول دي:

﴿۱﴾ علامه شمس الحق افغاني د ابن جوزي په حوالې سره نقل کړی دی چه د ام المؤمنین په شمار سره د قرآنکریم د آیتونو ټول تعداد ۶۶۶۶ دی۔ (علوم القرآن ص۱۷۰، تعداد آیات)

﴿۲﴾ له اهل مدینه وو څخه په دې باره کښې دوه قولونه منقول دي۔ د اول قول مطابق ۶۲۱۷ دي کوم چه حضرت نافع ته منسوب دی او د دوهم قول مطابق ۶۲۱۴ دي۔

﴿۳﴾ د اهل مکه وو د رائې مطابق د قرآن مجید ټول آیتونه ۶۲۲۰ دي کوم چه د حضرت عبد الله ابن عباس رضی الله تعالی عنهما خواته منسوب دی۔

﴿۴﴾ د اهل کوفه وو په نزد ټول آیتونه ۶۲۳۶ دي۔

﴿۵﴾ د اهل بصره وو څخه دوه قولونه منقول دي چه د هغوی مطابق ټول آیتونه ۶۲۰۵ او یا ۶۲۱۹ دي۔

﴿۶﴾ له اهل د شام څخه د ۶۲۲۲۵ او ۶۲۲۶ روایتونه هم مروي دي۔

(البرهان في علوم القرآن لبدر الدين زركشيؒ ج۱، ص۲۴۹، فصل في عدد سور القرآن و آياته و كلماته و حروفه مناهل العرفان از محمد عبد العظيم زرقانيؒ ج۱، ص۳۳۶، تحت قوله عدد آيات القرآن)

په مکي او مدني سورتونو کښې فرق

سوال: د قرآنکریم ځینې سورتونه ته مکي او ځینو ته مدني ویل کیږي نو آیا په دغو سورتونو کښې فرق څه شی دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د قرآنکریم سورتونه په دوه ډوله دي یو مکي او بل مدني لیکن په دې باره کښې له حضور ﷺ څخه هیڅ ارشاد منقول نه دی او وجه ئې دا ده چه د دې مبارک ﷺ په ژوند او مبارکې زماني کښې صحابۂ کرامو د وحی زمان، مکان او نورو حرکات پخپلو سترګو لیدل۔ له دې وجهې هغو ته د مکي او مدني سورتونو د پیژندلو ضرورت نه وو لیکن کله حضور ﷺ له دنیا څخه رحلت وکړ او صحابۂ کرامو ته د ناسخ او منسوخ د پیژندلو ضرورت پیدا شو نو له هغه وروسته صحابۂ کرامو ته ئې د پیژندلو احساس پیدا شو تر څو چه د ناسخ او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

منسوخ په پیژندلو کښې سهولت پیدا شي. همدا وجه ده چه د مکي او مدني سورتونو د پیژندګلوي په باره کښې یو اځي د صحابۀ کرامو او تابعینو قول لاس ته راوړل کیدلی شي.

شیخ محمد عبد العظیم زرقاني فرمایي: لا سبیل الی معرفة المکّی و المدنی الا بما ورد عن الصحابةؓ و التابعینؒ فی ذلك لانهٗ لم یرو عن النبیﷺ بیان المکّی و المدنی و ذلك لان المسلمین فی زمانه لم یکونوا فی حاجة الی هٰذا البیان کیف و هم یشاهدون الوحی و التنزیل و یشهدون مکانهٗ و زمانه و اسباب النزول عیاناً الخ. (مناهل العرفان ج۱، ص۱۸۹، الطریق الموصلة الی معرفة المکّی و المدنی)

اوله اصطلاح: له دې وروسته مفسرینو د مضامینو، حالاتو او واقعاتو په رڼا کښې د مکي او مدني سورتونو تقسیم کړی دی چه د هر یوه سورت ئې مختلف ډول خصوصیات بیان کړي دي. د ځینو په نزد کوم سورتونه چه له هجرت څخه وروسته نازل شوی دی هغه ته مدني سورت ویل کیږي او کوم سورتونه چه له هجرت څخه مخکښې نازل شوي دي هغو ته مکي سورتونه ویل کیږي. او په دې ویش کښې ځای لره اعتبار نشته. دا اصطلاح له تولو نه مشهوره اصطلاح ده.

دوهمه اصطلاح: کوم سورتونه چه په مکه کښې نازل شوي دي هغوی ته مکي سورتونه ویل کیږي او کوم سورتونه چه په مدینه منوره کښې نازل شوي دي هغو ته مدني سورتونه ویل کیږي. په دې صورت کښې د مکي او مدني سورتونو تر منځه واسطه ثابتیږي او هغه د مکي او مدیني څخه باندیني سورتونه دي.

دریمه اصطلاح: په کومو سورتونو کښې چه اهل مکه وو ته خطاب شوی دی هغه مکي دي او په کومو سورتونو کښې چه د مدیني خلکو ته خطاب شوي وي هغه مدني سورتونه دي. (البرهان في علوم القرآن ج۱، ص۱۸۷تا ۱۹۰، النوع التاسع معرفه المکي و المدني)

د مکي او مدني سورتونو پیژندنه

سوال: د مکي او مدني سورتونو د پیژندني ننبني کومې دي؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: له حضورﷺ څخه په دې باره کښې هیڅ روایت مروي نه دی. بیا هم وروسته بیا مفسرینو د خپل علمي استطاعت مطابق ننبني ښودلي دي کوم چه په لاندې ډول دي.

﴿۱﴾ په کومو سورتونو کښې چه د کلا لفظ راغلی وي هغه مکي دي.

﴿۲﴾ په کومو سورتونو کښې چه د سجدې آیت وي هغه مکي دي.

﴿۳﴾ له سورت بقرې پرته په کومو سورتونو کښې چه د مخکښینې انبیاوو او امتونو کیسې او واقعات ذکر وي هغه مکي دي.

﴿٤﴾ په کومو سورتونو کښې چه خطاب په "یا ایها الناس" باندې شوی وي هغه مکي دي.

﴿٥﴾ په کومو سورتونو کښې چه د حضرت آدم علیه السلام قصه راغلي وي هغه مکي دي.

﴿٦﴾ کوم سورتونه چه په حروف تهجي باندې شروع شوي وي هغه مکي دي پرته له سورت آل عمران څخه.

د مدني سورتونو ننبني

﴿۱﴾ په کومو سورتونو کښې چه د حدودو او فرائضو ذکر وي هغه مدني دي.

﴿۲﴾ په کومو سورتونو کښې چه جهاد او د جهاد احکام ذکر وي هغه مدني دي.

﴿۳﴾ په کومو سورتونو کښې چه د منافقینو ذکر وي هغه مدني دي پرته له سورت عنکبوت څخه.

﴿٤﴾ په کومو سورتونو کښې چه خطاب په "یاأیها الذین اٰمنوا" باندې شوی وي هغه مدني دي.

(البرهان فی علوم القرآن بدر الدین زرکشیؒ ج۱، ص۱۹۱/۱۸۸، النوع التاسع معرفة المکی و المدنی، مناهل العرفان محمد عبد العظیم الزرقانیؒ ج۱، ص۱۹۰، الطریق الموصلة الی معرفة المکی و المدنی)

د تعوذ حکم

سوال: د تلاوت په ابتدا کښې أعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیطٰنِ الرَّجِیمِ لوستل فرض دي، که واجب او که سنت؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: په سورت نحل کښې د دې آیت چه "فَاِذَا قَرَاْتَ الْقُرْاٰنَ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیطٰنِ الرَّجِیمِ" له مخې دا څرګندیږي چه کله هم یو مسلمان د قرآنکریم تلاوت شروع کوي نو باید چه اعوذ باالله من الشیطان الرجیم ولولي او بیا په دې آیت کریمه کښې د اکثرو مفسرینو په نزد امر د وجوب لپاره نه دی بلکه یو اځي د مستحب والي لپاره ده.

لما قال القاضی ثناء الله رحمه الله: قد صح عن النبیﷺ انهٗ کان یصلّی ای یتعوذ قبل القراۃ و علیه انعقد الاجماع من السّلف و الخلف لکنهٗ سنةٌ عند الجمهور العلماء. (تفسیر مظهری ج۵، ص۳۷۰، سورة النحل، تحت تفسیر الآیة ۹۸)

و قال محمد بن احمد القرطبیؒ: هٰذا الامر علی الندب فی قول الجمهور فی کل قراۃ فی غیر الصلوٰة. (احکام القرآن ج۱، ص۸٦، القول فی الاستعاذة) و مثله فی مختصر تفسیر ابن کثیر ج۲، ص۳٤٦، سورة النحل، آیت۹۸.

د تعوذ د جزئیت حکم

سوال: أعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیطٰنِ الرَّجِیمِ د قرآن کریم جز دی او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: اعوذ باالله من الشیطان الرجیم په دغو مخصوصو الفاظو سره د قرآن کریم جزء نه دی. بیا هم په یوه بل ځای کښې د تعوذ حکم په دغو الفاظو شوی دی چه "فَاِذَا قَرَاْتَ الْقُرْاٰنَ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیطٰنِ الرَّجِیمِ"

قال الشیخ عبد الرحمٰن بن محمد الثعالبیؒ: اجمع العلماء علی ان قول القاری اعوذ باالله من الشیطٰن الرجیم لیس بآیة من کتاب الله. (تفسیر الثعالبی ج۱، ص۱۹، سورة الفاتحة)

د تسمیې د جزئیت حکم

سوال: بسم الله الرحمٰن الرحیم د قرآنکریم جزء دی او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: کوم بسم الله الرحمٰن الرحیم چه په سورت نمل کښې دی په هغه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

باندې د ټولو علماوو اتفاق دی چه د قرآنکریم جزء دی او له دې پرته د باقي سورتونو په ابتدا کښې چه کومه تسمیه لیکل شوې ده په جزئیت باندې ئې اختلاف دی۔ د احنافو فقهاوؒ او مدینې، بصرې او شام د قراؤ په نزد بسم الله الخ د یوه سورت جزء هم نه دی۔

لما قال القرطبیؒ: قد اختلفت العلماء علی هذا المعنی علی ثلاثة اقوال، الاول لیست بآیة من الفاتحة و لا من غیرها و هو قول مالك..... الصحیح من هذه الاقوال قول مالك لان القرآن لا یثبت باخبار الاحاد و انما بطریقة التواتر القطعی الخ.

(احکام القرآن للقرطبی ج۱، ص۹۳، الکلام علی البسملة)

و قال عبد الله النسفیؒ: قراء المدینة و البصرة و الشام و فقهائها علی ان التسمیة لیست بآیة من الفاتحة و لا من غیرها من السُّور و انما کتبت للفصل و التبرك للابتداء بها و هو مذهب ابی حنیفة رحمه الله و من تابعه الخ. (مدارك التنزیل ج۱، ص۳، فاتحة الکتاب) و مثله فی تفسیر روح المعانی ج۱، ص۳۹، مباحث فی البسملة.

د سورت فـــــاتحې د آیتونو شمیر یا تعداد

سوال: د سورت فاتحې د آیتونو تعداد څومره دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د سورت فاتحې په باره کښې د علماوو اتفاق یواځې په دې خبرې باندې دی چه د آیتونو تعداد ئې اوه دي چه له مخې ئې نومورې سورت ته سبع من المثاني ویل شوي دي۔ لیکن د آیتونو په تعین کښې ئې د فقهاوو تر منځ اختلاف دی۔ د امام شافعيؒ په نزد چونکه صراط الذین انعمت علیهم مستقل آیت نه دی له دې وجهې د ده په نزد بسم الله الرحمٰن الرحیم په آیت کښې شمار دی۔ په دې اساسي حال کښې چه د احنافوؒ په نزد صراط الذین انعمت علیهم مستقل آیت دی نو د اضرورت هم نشته چه بسم الله الرحمٰن الرحیم دې د سورت فاتحې جزء وګرځي۔

قال العلامة ابو بکر الجصاص الرازیؒ: قال سعید بن جبیر سألتُ ابن عباس عن السبع المثانی فقال السبع المثانی هو ام القرآن و انما اراد بالسبع الها سبع آیات. (احکام القرآن ج۱، ص۲۸، قبل احکام سورة البقرة)

قال الإمام ابن جریر الطبریؒ: و اما تاویل اسمها انها سبع آیات فانها سبع آیات لا خلاف بین الجمیع من القراء و العلماء و ذلك. (تفسیر طبری ج۱، ص۴۸، القول فی تاویل اسماء فاتحة الکتاب)

سورت فاتحه او د قرآن جزئیت

سوال: لکه څرنګه چه سورت فاتحه د قرآنکریم جزء دی نو آیا په دیرشو سیپارو کښې د یوې سیپارې جزء دی او که د قرآنکریم مستقله یوه برخه ده؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د قرآنکریم د سیپارو تقسیم د حجاج بن یوسف په دور کښې شوی دی او د صحابۂ کرامو په دور کښې قرآنکریم په سیپارو باندې نه وو ویشل شوی او بیا هم صحابۂ کرام پخپل منځ کښې د خپلو ځانو د سهولت لپاره قرآنکریم په څو حصو باندې ویشلی وو چه د منزل او د اسې نورو ثبوت لوی دلیل دی۔ چونکه د سیپارو تعین د صحابه وو په دور کښې نه

وو نو ځکه مونږ په دې باره کښې یو روایت نه شو وراندې کولی چه سورت فاتحه د کومې سیپارې جزء وګرځوو۔ بیا هم د قرآنکریم په دیرشو سیپارو کښې مشهوره دا ده چه اوله پاره له الم ځخه شروع کیږي نو له دې ځخه دا اندازه لګیږي چه سورت فاتحه د کومې سیپارې د جزء په ځای د ټول قرآن اجمالي انځور دی۔

قال ابن جریر الطبریؒ: صح الخبر عن رسول اللهﷺ قال هی ام القرآن، هی فاتحة الکتاب و هی السبع المثانی، فهذه اسماء فاتحة الکتاب و سمیت فاتحة الکتاب لانها یفتتح بکتابتها المصاحف..... فهی فواتح لما یتلوها من سور القرآن فی الکتابة و القراءة. (تفسیر الطبری ج۱، ص۴۷، القول فی تاویل اسماء فاتحة الکتاب)

قال العلامة ابو عبد الله القرطبی رحمه الله: اجمعت الامة ایضاً علی انها من القرآن. (تفسیر قرطبی ج۱، ص۱۱۴۰، سورة الفاتحة)

د سورت فـــــاتحې نومونه

سوال: د سورت فاتحه څو نومونه دي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د سورت فاتحې ګڼ نومونه دي کوم چه مفسرینو حضراتو ذکر کړي دي له هغو ځخه ئې یو څو نومونه په لاندې ډول دي۔

(۱)فاتحة الکتاب (۲) فاتحة القرآن (۳)أم الکتاب (۴)أم القرآن (۵)الکنز (۶)الوافیة (۷)الکافیة (۸)الاساس (۹)سورة الرقیة (۱۰)سورة الشفاء (۱۱)سورة الشافیة (۱۲)سورة الحمد (۱۳)سورة الشکر (۱۴)سورة الدعاء (۱۵)سورة تعلیم المسئلة (۱۶)سورة السؤال (۱۷)سوره المناجات (۱۸)سورة الصلوٰة (۱۹)سورة النور (۲۰)القرآن العظیم (۲۱)السبع المثانی. (روح المعانی ج۱، ص۳۴ تا ۳۸)

و ذکر القرطبی اکثرها. (احکام القرآن ج۱، ص۱۱۱ تا ۱۱۳، المسئلة الرابعة و فی اسمائها و هی اثنا عشر اسماً) و ذکر بعضها ابن کثیر. (تفسیر ابن کثیر ج۱، ص۸، سورة الفاتحة)

د یوه آیت د ترجمې د خپرولو حکم

سوال: که چېرته د قرآنکریم د یوه آیت ژباړه په هره ژبه چه وي په دې طریقې سره خپره شي چه عربي الفاظ ورسره نه وي لیکل شوی بلکه په آخر کښې ئې یواځې د آیت په شمار او نامه باندې اکتفاء شوې وي نو آیا د ترجمې دا طریقه جائزه ده او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: پرته له عربي عبارته د یوه آیت د ترجمې خپرول پروا نه لري لیکن د ټول قرآنکریم اویا د مکمل سورت د ترجمې خپرول او شائع کول پرته له عربي عبارته جائز نه دي۔

لما قال العلامة علاؤ الدین الحصکفیؒ: و تجوز کتابة آیة او آیتین بالفارسیة لا اکثر. قال ابن عابدینؒ: و الظاهر ان الفارسیة غیر قید الخ. (الدر المختار علی رد المحتار ج۱، ص۳۲۶)

قال ابن الهمامؒ: او اراد ان یکتب مصحفاً بها یمنع و ان فعل فی آیة او آیتین لا اکثر الخ. (فتح القدیر ج۱، ص۲۴۸)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

د شیطان ابتد ائي ذمه واری

سوال: شیطان له مردود والي او مسخ والي څخه مخکښې په کومو مشاغلو او امورو باندې مامور وو؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د شیطان په باره کښې د مفسرینو د مختلفو معمولاتو ذکر کړی دی۔ د حضرت عبد الله ابن عباس رضی الله عنهما څخه روایت دی چه ابلیس د فرښتو له یوې قبیلې څخه وو چه هغو ته جن ویل کیدل او له نار سموم څخه الله تعالی پیدا کړي وو په دا سې حال کښې نوري فرښتې ئې له نور څخه پیدا کړي دي۔ په سریاني ژبې کښې د شیطان عزازیل وو او په عربي کښې حارث او دا د جنت د خزانچیانو څخه وو۔ د دنیا د آسمان رئیس وو او د دنیا په آسمان او زمکې باندې ئې حکومت وو او په فرښتو کښې تر ټولو زیات د اجتهاد او علم خاوند وو چه له همدې وجهې تکبر پکښې پیدا شو او کفر ئې وکړ او مردود شو۔

لما قال القرطبیؒ: عن ابن عباس رضی الله عنه ان ابلیس کان من حی من احیاء الملائکة یقال لهم الجنّ خلقوا من نار السموم و خلقت الملائکة من نور و کان اسمهٗ با لسریانیة عزازیل و با لعربیة الحارث و من کان من خزان الجنّة و کان رئیس ملائکة سماء الدنیا و کان له سلطانها و سلطان الارض و کان من اشدّ الملائکة اجتهاداً و اکثرهم علماً و کان یسوس ما بین السمآء و الارض الخ. (احکام القرآن ج۱، ص۲۹۵، تحت قوله تعالی إلاّ اِبْلِیْس. (البقرة))

همد ارنګه حافظ ابن کثیرؒ هم مختلف روایتونه نقل کړي دي چه په هغو کښې په لاندینې الفاظو سره ئې یادونه شوې ده مثلاً کان من اشد الملائکة اجتهاداً و اکثرهم علماً، کان من اشرف الملائکة و اکرمهم قبیلةً و کان حازناً علی الجنان، کان لهٗ سلطان سماء الدنیا و کان لهٗ سلطان الارض و کان یسوس ما بین السمآء و الارض فعصی فمسخه الله تعالی شیطاناً رجیماً. (تفسیر ابن کثیر ج۱، ص۷۷، سورة البقرة تحت قوله وَ اَعْلَمُ مَا تَکْتُمُوْن)

د حضـــــــرت عیسیٰ علیه السلام د آدم علیه السلام په مثل بـــــــاندې د کیدلو خبره

سوال: د سورت آل عمران په آیت ۵۹ کښې د الله تعالی ارشاد دی چه "اِنَّ مَثَلَ عِیْسٰی کَمَثَلِ اٰدَمَ" په دې ارشاد کښې ئې حضرت عیسیٰ علیه السلام د حضرت آدم علیه السلام مثل او شبه ښودلی دی لیکن آدم علیه السلام پرته له مور او پلار څخه پیدا شوی دی او حضرت عیسیٰ علیه السلام پرته له پلار څخه پیدا شوی دی نو آیا دا تشبیه څنګه صحیح کیدلی شي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: چونکه د سیدنا حضرت عیسیٰ علیه السلام پیدائش د مستمره عادت په خلاف شوی وو کوم چه پرته له پلار څخه پیدا شوی وو او دا یوه عجیبه واقعه وه۔ لیکن د آدم علیه السلام د پیدائش واقعه تر دې هم عجیبه وه کوم چه له مور او پلار دواړو څخه بغیر پیدا شوی وو نو دلته عجیبي واقعې ته د عجیب تري واقعې سره تشبیه ورکړ شوی

دی او په تشبیه کښې د مشبه به سره دا لازم نه دي چه په ټولو وجوهاتو کښې سره یو شی وي۔ بلکه د مشبه به په مشبه کښې د ځینو صفاتو موجودوالی د تشبیه او تمثیل لپاره کافي دی لکه څرنګه چه د انسان د بهادرۍ تشبیه د زمري سره ورکړ شوی دی اګر که من کل الوجوه سره یو شی نه دي۔

لما قال الشیخ علاؤ الدینؒ: علی تحت قوله تعالی اِنَّ مَثَلَ عِیْسٰی عِنْدَ اللّٰهِ کَمَثَلِ اٰدَمَ قلت هو مثله فی احد الطرفین فلا یمنع اختصاصه دونه با لطرف الآخر من تشبیهه لان المماثلة مشارکة فی بعض الاوصاف و لا شبه به فی ان لهٗ وجوداً خارجاً عن العادة المستمرة و هما فی ذلك نظیران لان الوجود من غیر اَبٍ و اُمٍّ اغرب فی العادة من الوجود من غیر اَبٍ فشبّهه الغریب با لاغرب لیکون القطع للخصم و احسم لمادة شبهته. (تفسیر خازن ج۱، ص۳۰۱، سورة البقرة)

و قال القرطبی رحمه الله: فیه دلیل علی صحة القیاس و التشبیه واقع علی ان عیسٰی خلق من غیر اَبٍ کآدم لا علی انه خلق من تراب و الشیء قد یشبّه با لشیء و ان کان بینهما فرق کبیر بعد ان یجتمعا فی وصف واحد فان آدم خلق من تراب و لم یخلق عیسٰی من تراب فکان بینهما فرق من هذه الجهة و لکن شبّه ما بینهما انهما خلقاً من غیر اَبٍ. (احکام القرآن ج۱، ص۱۰۲، تحت ان مثل عیسٰی عند الله الخ، سورة البقرة) و مثله فی تفسیره الشهیر با لصاوی ج۱، ص۱۵۹، سورة البقرة.

د قـــــــاتل د توبې قبول والی

سوال: د سورت نسآء په آیت ۹۳ کښې راغلي دي چه "وَ مَنْ یَّقْتُلْ مُؤْمِناً مُّتَعَمِّداً فَجَزَآؤُهٗ جَهَنَّمُ خَالِداً فِیْهَا" له دې څخه خو دا څرګندیږي چه چه په قصد سره قتل کوونکی به همیشه په جهنم کښې وي په دا سې حال کښې چه د شفاعت له حدیث څخه څرګندیږي چه په جهنم کښې د همیشه لپاره نه پاتې کیږي۔ په دې دواړو کښې په کوم یوه باندې عمل کیږي او قصداً قتل کوونکی به د تل لپاره په جهنم کښې وي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د عمداً قتل کوونکي په باره کښې اختلاف دی چه توبه ئې قبلیږي او که نه؟ او دا سړی د تل لپاره په جهنم کښې پاتې کیږي او که نه؟ بیا هم د جمهور اهل سنت و الجماعت په نزد باندې که چېرته دا سړی مؤمن وي نو د الله تعالی د مغفرت او یا د حضور ﷺ په شفاعت سره به د جهنم د سزا له تیرولو وروسته جنت ته ځي او د ایمان په وجه سره همیشه په جهنم کښې نه پاتې کیږي لیکن دا په شرط وخت کښې چه کله قاتل دا قتل حلال نه وي ګڼلی او که ئې حلال ګڼلی وي نو د استحلال حرام له وجهې به همیشه په جهنم کښې وي۔ نو په دې وجهې سره جمهور علماء په دې آیت کښې د خالداً ترجمه په مکث طویل سره کړې ده۔

لما قال الشیخ ابن کثیرؒ: و الذی علیه الجمهور من سلف الامة و خلفها ان القاتل لهٗ توبة فیما بینهٗ و بین الله عزّ و جلّ فان تاب و اناب و خشع و خضع و عمل عملاً صالحاً بدل الله سیئاته حسنات و عوض المقتول من ظلامتهٗ و ارضاه عن طلابة..... و معنی هذه الصیحة ان هذا جزائهٗ ان جوزی علیه. و بتقدیر دخول القاتل فی النار..... فلیس بمخلدا فیها ابداً بل الخلود المکث الطویل و تواترت الاحادیث عن رسول الله ﷺ انهٗ یخرج من النار من کان فی قلبه ادنی مثقال ذرّة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

من ایمان الخ. (تفسیر ابن کثیر ج۱، ص۵۳۷، تحت من یقتل مؤمنا متعمداً)

و قال النسفیؒ: فجزاته ای ان جازاه قال علیه السلام هی جزاله ان جازاه و الخلود قد یراد به طول القیام. (مدارك التنزیل ج۱، ص۲۴۴، تحت قوله تعالی فَجَزَآؤُهٗ جَهَنَّمُ خٰلِدًا فِیْهَا) و مثله فی جامع البیان للطبریؒ ج۴، ص۲۲۱، تحت قوله تعالی: مَنْ یَّقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا.

د آدم علیه السلام په زامنو کښې د نزاع سبب

سوال: د حضرت آدم علیه السلام د زامنو تر منځ د جنګ سبب څه شی وو او په هغوی کښې د ورور او خور امتیاز څه شی وو؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د دې نزاع او جنګ د سبب په باره کښې د اکثرو مفسرینو خیال دا دی چه د حضرت آدم علیه السلام چه کله اولاد پیدا کیده نو دوه اولادونه به ئې جوړه پیدا کیدل چه یو به هلك وو او بل به نجلی وه۔ چونکه آدم علیه السلام په دنیا کښې اول انسان وو او خدای پاك ته دا منظوره وه چه نسل ئې په دنیا کښې پاتې شي نو لهٰذا دې وجهې الله تعالی یوه ضابطه ورته مقرره کړې وه چه د هرې جوړې پخپل منځ کښې نکاح جائز نه وو بلکه د یوې او بلې جوړې به سره جائز وو او د هغو لپاره د ضرورت په بناء سره افتراق د طوق په درجه د افتراق د نسب کښې وه۔ نو همدا ډول د آدم علیه السلام د یوه زوی یعنې قابیل سره چه کومه نجلی پیدا شوه اقلیما نومیده او ډیره حسینه هم وه او له دوی نه وروسته له بلې ګیډې څخه چه کوم هلك پیدا شو هابیل نومیده او خور ئې لبودا نومیده۔ نو اوس د اصولو مطابق کله چه د نکاح وخت راغی او د اقلیما نکاح له هابیل سره وشو نو قابیل انکار تري وکړ او وئې ویل چه اقلیما چونکه له ما سره پیدا شوې ده نو له دې وجهې دا زما حق دی او له لبودا څخه حسینه هم ده۔ په دې باندې حضرت آدم علیه السلام پوه کړو لیکن و ئې نه منل۔ نو بیا حضرت آدم علیه السلام قابیل او هابیل دواړو ته د نذر حکم ورکړ چه د چا نذر قبول شي فیصله به د هغه په حق کښې کیږي۔ نو نذر هم د هابیل قبول شو په دې باندې د قابیل غصه نوره هم زیاته شوه او هابیل ئې آخر قتل کړ۔

لما نقل الطبریؒ: عن ابن عباسؓ و عن مرةؓ و عن ابن مسعودؓ و ناس من اصحاب رسول اللهﷺ کان لا یولد لآدم مولود الا ولد مع جاریة فکان یزوج غلام هذا البطن جاریة هذا البطن الآخر، و یزوج جاریة هذا البطن غلام هذا البطن الآخر حتی ولد لهٗ ابنان یقال لهما قابیل و هابیل و کان قابیل صاحب زرع و کان هابیل صاحب ضرع و کان قابیل اکبرهما و کان لهٗ اخت احسن من اخت هابیل و ان هابیل طلب ان ینکح اخت قابیل فابیٰ علیه و قال هی أختی و لدت معی و هی احسن من أختك و انا احق ان تزوجها فامره ابوه ان یزوجها هابیل فابی و انهما قربا قرباناً الی الله ایهما احق بها لجاریة الخ. (طبری ج۴، ص۱۸۸، سورة المائدة)

و قال ابن کثیرؒ: قال السیدی فیما ذکر عن ابن عباسؓ و عن ابن مسعودؓ و ناس من اصحاب رسول اللهﷺ کان لا یولد لآدم مولود الا ولد مع جاریة فکان یزوج غلام هذا البطن جاریة هذا البطن الآخر، و یزوج جاریته هذا البطن غلام هذا البطن

الآخر حتی ولد لهٗ ابنان یقال لهما قابیل و هابیل و کان قابیل صاحب زرع و کان هابیل صاحب ضرع و کان قابیل اکبرهما و کان لهٗ اخت احسن من اخت هابیل و ان هابیل طلب ان ینکح اخت قابیل فابی علیه و قال هی أختی و لدت معی و هی احسن من أختك و انا احق ان تزوجها فامره ابوه ان یزوجها هابیل فابی و انهما قربا قرباناً الی الله ایهما احق بها لجاریة الخ. (تفسیر ابن کثیر ج۲، ص۴۱، سورة المائدة، تحت الآیة و اتلُ علیهِم نبَأَ ابنَیْ آدم.....) و مثله فی التفسیر المظهری للقاضی ثناء الله پانی پتیؒ ج۲، ص۷۸، سورة المائدة)

د غیر ذوی العقولو لپاره د ذوی العقول د لفظ استعمال

سوال: په سورت اعراف آیت ۱۹۱ "وَ هُمْ یَخْلُقُوْنَ" او په آیت ۱۹۳ "وَ اِنْ تَدْعُوْهُمْ اِلَی الْهُدٰی" کښې د هم د ضمیر مرجع څه شی دی؟ او که چیرته یت ته راجع وي نو د ذوی العقولو ضمیر غیر ذوی العقولو ته څنګه استعمالیږي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په دغو دواړو آیتونو کښې د هم ضمیر بتانو ته راجع دی کوم چه په اول آیت ۱۹۱ چه د لفظ ما په ضمن کښې مذکور دی او د هم ضمیر اګر که د ذوی العقولو لپاره استعمالیږي لیکن چونکه مشرکین بتانو لره خپل خدایان جوړ کړي وو او هغوی ئې عقلمند ګڼل نو ځکه د قرآن کریم اسلوب هم د زجر په توګه د دوی د عقائدو مطابق چلیدلی دی۔

لما قال الشیخ محمود الآلوسیؒ: و ایراد ضمیر العقلاء مع ان الاصنام مما لا یعقل انما هو بحسب اعتقادهم فیها و اجرائهم لها مجری العقلاء و تسمیتهم لها الهةً. (روح المعانی ج۹، ص۱۴۳)

و قال القاضی ثناء الله پانی پتیؒ: هُم ضمیر الاصنام جیء به بناءً علی ان تسمیتهم الهةً. (تفسیر مظهری ج۳، ص۴۴۴، تحت آیة اِنَّ الَّذِیْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ (الاعراف))

په مـــــا لایخلق کښې د "ما" معنی او مراد

سوال: په سورت اعراف آیت ۱۹۱ کښې د الله تعالی ارشاد دی چه "اَیُشْرِکُوْنَ مَا لَا یَخْلُقُ شَیْئًا وَّ هُمْ یُخْلَقُوْنَ" دلته د "ما" له لفظ څخه څه مراد دي او د ما لفظ د ذوی العقولو لپاره استعمالیږي او که د غیر ذوی العقولو لپاره؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په دې آیت کریمه کښې د "ما" له لفظ څخه مراد ابلیس او بت دی او د ما لفظ اکثره د غیر ذوی العقولو لپاره استعمالیږي۔ بیا هم په ځینو وختونو کښې د ذوی العقولو لپاره هم استعمالیږي۔

لما قال البغویؒ: اَیُشْرِکُوْنَ مَا ای ابلیس و الاصنام. (معالم التنزیل ج۲، ص۲۲۲، سورة الاعراف)

و قال البیضاویؒ: ما ای الاصنام. (تفسیر بیضاوی ج۳، ص۳۸، سورة الاعراف) و مثله فی تفسیر المظهری ج۳، ص۴۴۴، تحت الآیة اِنَّ الَّذِیْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ (الاعراف).

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

د لفظ عبـــــادٌ تفسیر

سوال: په سورت اعراف آیت ۱۹۴ "اِنَّ الَّذِیْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ عِبَادٌ اَمْثَالُكُمْ" کښې له عبادٌ څخه څه مراد دي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: عبادٌ د عبد جمع دی کوم چه د مملوك په معنی سره راځي او مقصود نې دا دی چه الله تعالی د شرك رد کوي او د مکې مشرکینو ته باور ورکوي چه د کومو شیانو تاسو عبادت کوی او د ځانونو لپاره مو معبودان جوړ کړي دي په تاسو او هغوی کښې فرق نشته لکه څرنګه چه ستاسو مالك الله تعالی دی همدا رارنګه د هغوی مالك هم الله تعالی دی او معبود خو باید داسې څوك وي چه له عابد څخه په لوړه درجه کښې وي۔

لما قال القاضی بانی بنیٰ: عبادٌ اَمْثَالُكُمْ ای مخلوقةٌ مملوكةٌ مذللةٌ مسخرة لما اريد منهم. (التفسير المظهری ج۳، ص۴۴۴، سورة الاعراف، پاره ۹)

و قال البيضاوی: اَمثالكم من حيث انها مملوكةٌ مسخرة. (تفسير بيضاوی ج۳، ص۳۹، سورة الاعراف، آيت ۱۹۴) و مثله فی معالم التنزيل للبغوی ج۲، ص۲۲۲، سورة الاعراف.

د فـــــــرعون د لاش (تنې) تحقیق

سوال: د مصر په موزیم کښې د فراعنه وو د دور یو جسم (لاش) پروت دی چه د هغه په باره کښې دا اویل کیږي چه دا د هغه فرعون جسم دی چه له موسی علیه السلام سره نې مقابله راغلې وه۔ او ځینې خلك نې د ثبوت لپاره د سورت یونس دا آیت کریمه چه "فَالْيَوْمَ نُنَجِّيكَ بِبَدَنِكَ" آیا په ربښتیا هم له دې آیت څخه همدا مقصد دی چه د فرعون جسم به تر ننه او بیا تر قیامته پورې د مصر په موزیم کښې محفوظ پروت وي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: مصریانو په ۱۹۲۶ء کښې ځینې لاشونه پیدا کړل او د قدیمي آثارو ځینو ماهرینو دا رایه ورکړه چه دا د هغه فرعون لاش دی کوم چه له موسی علیه السلام سره نې مقابله راغلې وه ځکه چه په هغې زمانې کښې د مصر هر بادشاه د فرعون په نامه باندې یادیده او تر کومه ځایه پورې چه د سورت یونس په دې آیت کریمه باندې د ثبوت کوشش کوي نو دا بې فایدې دی۔ د قرآنکریم د دې آیت کریمه مطلب دا نه دی چه د فرعون لاش به تر قیامته پورې پورې محفوظ وي او که نه نو د هغه لاس اوس نه لیدل کیږي په دې صورت کښې بیا د قرآنکریم تکذیب لازمیږي۔ حضرت تهانوي صاحبؒ د دې آیت ترجمه د لسې کړې ده چه پس په اوبه کښې د غرقیدو په ځای ستا لاش ته په مطلوبه نجات سره نجات ورکوو تر څو چه د هغو خلکو لپاره چه ستا نه وروسته موجود دي د عبرت موجب وګرځي چه ستا بد حالي او تباهي وویني نو د الٰهي احکامو له مخالفت څخه وویریږي۔ (بیان القرآن ج۵، ص۳۰)

د مفسرینو په نزد د نُنَجِّيكَ معنی ای نُلقيك بنجوةٍ من الارض الخ "یعنې ستا لاش په کومې لوړ ځای

باندې اچوو" (مدارك التنزيل ج۲، ص۱۷۵، و قال البيضاوی: نلقيك على نجوةٍ من الارض لتراك بنو اسرائيل الخ (تفسير بيضاوی ج۳، ص۱۰۰، و هكذا قال الزمخشری فی تفسيره المشهور بالكشاف ج۲، ص۳۶۸، سورة الاعراف)

د لاجـــــــرم د لفظ تحقیق

سوال: د قرآنکریم په ګڼو ځایونو کښې د لاجرم لفظ استعمال شوی دی مثلاً په سورت نحل، سورت مؤمن او داسې نورو کښې۔ د دې لفظ لفظي معنی څه ده او د صرفي او نحوي تحقیق مطابق نې ترکیب څه دی؟ که چېرته له لاجرم له لام سره چه کوم الف دی هغه و نه وایي نو لمونځ پرې فاسدیږي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: لاجرم بغیر له الف څخه لوستلو سره نې معنی کښې تغیر راځي نو له دې وجهې لمونځ پرې فاسدیږي او دا د احنافو له مشهورو اقوالو څخه دی۔ د دې لفظ په صرفي او نحوي ترکیب کښې علماء کرامو ګڼ توجیهات کړي دي چه په لاندې ډول دي۔

﴿۱﴾ د امام سیبویه خلیل او جمهورو علماوو قول دا دی چه لاجرم د خمسه عشر ګوندې د مرکب بنائي ده او مجموعه نې د فعل په معنی کښې ده یعنې حق او له هغه نه وروسته کلام مصدر بأنْ دی کوم چه د لاجرم فاعل دی۔

﴿۲﴾ د ځینو نورو علماوو په نزد جرم فعل ماضي په معنی د ثبت او وجب سره دی او له هغه وروسته جمله نې فاعل دی او لا پکښې نافیه ده کوم چه د ماقبل د مضمون نفی کوي۔

﴿۳﴾ د زجاج وینا ده چه جرم په معنی د کسب سره ده او کوم نې چه فاعل دی د هغه ضمیر پکښې مستتر دی کوم چه د مخکښینې کلام د مناسب مضمون خوا ته راجع دی او روسته کلام د جرم مفعول دی او لا پکښې نافیه ده۔

﴿۴﴾ له زجاج څخه دا هم منقول دي چه لاجرم په اصل کښې لابد خلتكم فی الجرم په معنی سره ده او بیا د کثرت استعمال له وجهې د لابد په معنی کښې استعمال شوی دی۔

﴿۵﴾ له کسایي څخه منقول دي چه په جرم کښې لا نافیه ده او جرم نې اسم دی او مبني په فتحه سره ده لکه څنګه چه لا رجل او معنی نې لا صدق و لا منع ده۔ (تفسیر روح المعاني ج۲، ص۳۲ / تفسیر قرطبي ج۵، ص۲۰)

د حضرت یوسف علیه السلام او زلیخا د نکاح تحقیق

سوال: د حضرت یوسف علیه السلام او زلیخا تر منځ د نکاح عقد شوی وو او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: حضرت یوسف علیه السلام چه کله د مصر بادشاه ته ورغی نو د مصر عزیز له بې بي سره د پیښیدونکي واقعي له صفایي څخه وروسته شاه مصر ده لره پخپلو خواصو کښې مقام ورکړ او بیا د عزیز مصر له وفات نه وروسته حضرت یوسف علیه السلام د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

هغه په منصب باندې فائز شو او کومه ښځه چه نوم ئې مفسرینو زلیخا ښوولې ده له یوسف علیه السلام سره نکاح وکړه. چونکه عزیز مصر نامرده وو د دې لپاره زلیخا تر هغې وخته پورې باکره پاتې وه او بیا له زلیخا څخه د حضرت یوسف علیه السلام درې بچي پیدا شول چه نومونه ئې افرائیم، میشا او رحمت دی.

قال الغوی: عن ابن اسحق قالو لم ان قطفیر ای عزیز مصر هلك فی تلك اللیالی فزوج الملك لیوسف راعیل امراة قطفیر فلما دخل علیها قال الیس هذا خیراً مما کنت تریدین منی قالت ان العزیز کان لا یاتی النساء..... فقرّب منها یوسف فوجدها عذراء. (معالم التنزیل ج۲، ص۴۳۳)

قال القرطبی: ثم مات قطفیر ای عزیز مصر فزوجه الولید بزوجة قطفیر راعیل فدخل بها یوسف فوجدها عذراء و ولدت له ولدین الخ. (احکام القرآن ج۵، ص۲۱۸، سورة یوسف) و مثله فی تفسیر ابن کثیر ج۲، ص۴۸۲، سورة یوسف.

د حضـــــرت یوسف علیه السلام د حیلې حقیقت

سوال: سورت یوسف آیت ۷۰ کښې دي چه "ثُمَّ اَذَّنَ مُؤَذِّنٌ اَیَّتُهَا الْعِیْرُ اِنَّكُمْ لَسٰرِقُوْنَ" په دې کښې د یوسف علیه السلام ورونه غله جوړ شوي دي کوم چه په اصل کښې بې ګناه وو. او په سورت نساء کښې د الله تعالی ارشاد دی چه "وَ مَنْ یَّكْسِبْ خَطِیْٓـَٔةً ثُمَّ یَرْمِ بِهٖ بَرِیْٓـًٔا فَقَدِ احْتَمَلَ بُهْتَانًا وَّ اِثْمًا مُّبِیْنًا" او د دې آیت له مخې په بې ګناه باندې د ګناه الزام لګول ګناه دی. له دې وجهې یوسف علیه السلام ولې د اسې کار وکړ؟ بیینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب حضرت یوسف علیه السلام خپل ورور له خپل ځان سره د ساتلو چه کومه طریقه اختیار کړې ده د الهي وحی مطابق وه چه له دې وروسته الله تعالی دا خبره د "کَذٰلِكَ كِدْنَا لِیُوْسُفَ" په ذریعه روښانه کړې ده او تحسین ئې هم کړی دی. له دې وجهې په دې کښې په حضرت یوسف علیه السلام باندې هیڅ الزام نه عائد کیږي.

لما قال احمد الصاوی: کَذٰلِكَ كِدْنَا لِیُوْسُفَ علماه الاحتیال. ای فما وقع من یوسف فی تلك الواقعة بوحی من الله تعالی و حینئذ فلا یقال کیف ناذی علی اخوته بالسرقة و انهم بها مع انهم بریئون. (تفسیر صاوی ج۲، ص۲۵۲، سورة یوسف) و قال الحافظ ابن کثیر: و هذا من الکید المحبوب المراد الذی یحبه الله و یرضاه لما فیه من الحکمة و المصلحة المطلوبة الخ. (تفسیر ابن کثیر ج۲، ص۴۸۵، سورة یوسف) و مثله فی تفسیر جامع البیان للطبری ج۸، ص۲۴، سورة یوسف.

د روح مسئلـــــــه

سوال: جناب مفتي صاحب! د روح حقیقت څه شی دی؟ دا مسئله لږ په وضاحت سره بیان کړی؟

الجواب باسم ملهم الصواب کله چه له حضور علیه الصلوٰة و السلام څخه د روح په باره کښې پوښتنه وشوه نو د الهي وحی په ذریعه الله تعالی یواځې په دې باندې اکتفاء وکړه چه "قُلِ الرُّوْحُ مِنْ اَمْرِ رَبِّیْ" یعنې روح هم زما د رب په امر کُن سره دی او هغه هم مخلوق دی.

له دې وروسته د هرې زمانې فلاسفه، عقلاء سائنسدانان غرض د هر مذهب پیروکاران راغلي

او د خپل علمي بساط مطابق ئې د روح په باره کښې خلکو ته د خیال اظهار کړی دی تر دې پورې چه روح یوه مستقله موضوع جوړه شوې ده کوم چه ډیر کتابونه او رسالې پرې لیکل شوي دي. همدارنګه مفسرین حضرات هم په دوو برخو ویشل شوي دي ځینو د روح له تفصیل څخه تیښته کړې ده یعنې تفصیل ئې نه دی بیان کړی او همدغه اجمال ته ئې ترجیح ورکړې ده کومه چه په کلام الله کښې بیان کړی شوی دی. چنانچه ابن جوزي رحمه الله فرمایي چه د روح په باره کښې خلکو کوم اختلاف کړی دی د هغه د ذکر کولو هیڅ ضرورت نشته ځکه چه هیڅ دلیل پرې نشته او چه کوم تفصیلات او تحقیقات ئې کړي دي له طب او فلسفې څخه ئې اخذ کړي دي په د اسې حال کښې چه سلفو "قل الروح من امر ربي" ته په نظر کولو سره سکوت اختیار کړی دی ځکه چه سلف صالحینو چه کله دا ولیدل چه مشرکینو پوښتنه وکړه او په هغه وخت کښې رسول الله ﷺ هم موجود وو لیکن سره له دې ئې مشرکینو ته تفصیلي ځواب ورنه کړ نو له دې وجهې په دې مسئله کښې سکوت اولی او بهتر دی.

لما قال و قد اختلف الناس فی ماهیة الروح ثم اختلفوا هل الروح النفس ام هما شیئان فلا یحتاج الی ذکر اختلافهم لانه لا برهان علی شیء من ذلك و انما هو شیء اخلوه عن الطبّ و الفلاسفة فلما السّلف فانهم سکتوا عن ذلك لقوله تعالی: قُلِ الرُّوْحُ مِنْ اَمْرِ رَبِّیْ فلما رأوا ان القوم سألوا عن الروح فلم یجابوا او الوحی ینزل و الرسول حی علموا ان سکوت عمّا لم یحفظ بحقیقة علمه اولی. (زاد المسیر ج۵، ص۸۶، سورة الاسراء)

او همدا ځکه امام قرطبي رحمه الله هم دې ابهام ته ترجیح ورکړی دی کوم چه په قرآنکریم کښې اختیار کړی شوی دی دی فرمایي: د "قلِ الرّوحُ مِن امرِ ربّي" له وجهې بهتره دا ده چه په دې کښې ابهام وشي او الله تعالی ئې چه تفصیل نه دی بیان کړی او مبهم ئې پریښی دی د دې لپاره تر څو چه انسان پخپل ځان باندې د علم تر څنګ له خپل حقیقت څخه جاهل پاتې شي او د خپل عجز اعتراف وکړي. نو کله ئې چه د خپل نفس په باره کښې دا حالت وي نو د الله تعالی جل جلاله د حقیقت د معلومولو په باره کښې به خامخا عاجز کیږي.

لما قال الصحیح الابهام لقوله تعالی: قُلِ الرُّوْحُ مِنْ اَمْرِ رَبِّیْ ای هو امر عظیم و شان کبیر من امر الله تعالی مبهماً و تارکاً تفصیله لیعرف الانسان علی القطع عجزه عن علم حقیقة نفسه مع العلم بوجودها و اذا کان الانسان فی معرفة نفسه هکذا کان بعجزه عن ادراك حقیقة الحق اولی الخ. (احکام القرآن للقرطبی ج۱۰، ص۳۲۴)

د دې برعکس ځینې مفسرین د اسې دي چه د روح په باره کښې تفصیل کوي او خیال ئې دا دی چه دا آیت کریمه چه "قل الرّوحُ من امرِ ربّي" د دې لپاره مجمل نه دی غوره شوی چه امت مرحومه ئې په حقیقت باندې نه پوهیږي بلکه دا اجمال ځکه غوره شوی دی چه اکثریت ئې د حقیقت ادراك نه شي کولی اګر که په ځینو افرادو باندې دا حقیقت خلاصیدلی شي. او دا ضروري نه ده چه له کوم شي څخه شریعت سکوت کړی وي نو د هغه پیژندنه دې ناممکنه وي بلکه اکثر د اسې وي چه د یوه مصلحت په خاطر ئې سکوت اختیار کړی وي چه اکثره خلك ئې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

نه شي معلومولی۔

لما قال الامام ولی اللّٰہ الدهلویؒ: و لیست الآیة نهائی انه لا یعلم احد من الامة المرحومة حقیقة الروح کما یظن و لیس کل ما سکت عنه الشرع لا یمکن معرفته البتة بل کثیراً ما یسکت عنه لاجل انهٗ معرفة دقیقة لا یصلح لتعاطیها جمهور الامة و ان امکن لبعضهم الخ۔ (حجة اللّٰہ البالغة ج۱، ص۱۸، باب حقیقة الروح)

له دي وروسته د روح په باره کښي د تفصیل په بیانولو سره امام شاه ولي الله صاحبؒ فرمایي: "پوه شي چه د روح په اړه لومړی دا څرګندیدلی شي چه روح په حیوان کښي د ژوند باعث دی کله چه په حیوان کښي روح اچول کیږي نو ژوندی کیږي او کله چه روح تري و ایستل شي نو حیوان مړ کیږي۔ له دي وروسته د غور له کولو څخه څرګندیږي چه په بدن کښي یو باریک غوندي لوګی وي چه د اخلاطو له خلاصي څخه پیدا کیږي۔ بیا چه کله زیات غور وشي نو څرګندیږي چه د اروح د حقیقي روح مرکب دی او حقیقي روح له بدن سره د متعلق کیدو ماده ده۔ او حقیقي روح یو جلا شی دی چه یوه نوراني نقطه ده۔ د دغو تولو متغیراتو چه ځینې جوهر او ځینې عرض دي څخه ئې رنګ او شکل ئې نادر دی۔

لما فی الحجة البالغة و اعلم ان الروح اوّل ما یدرك من حقیقتها انها مبدء الحیاة فی الحیوان و انهٗ یکون حیّاً ینفخ الروح فیه و یکون میتاً بمفارقتها منه ثم اذا امعن فی التامل یتجلی ان فی البدن بخاراً لطیفاً متولداً فی القلب من خلاصة الاخلاط..... ثم اذا امعن فی النظر ایضاً انجلی ان هذا الروح مطیة للروح الحقیقة و مادة لتعلقها..... بل الروح فی الحقیقة حقیقة فردانیة و نقطة نورانیة یجل طورها عن طور هذه الاطوار المتغیرة المتغائرة التی بعضها جواهر و بعضها اعراض. (حجة اللّٰہ البالغة ج۱، ص۱۸، باب حقیقة الروح)

و قال احمد مصطفی المراغی رحمه اللّٰہ: ان الروح جسم نورانی حی متحرك من العالم العلوی مخالف بطبعه لهذا الجسم المحسوس سارٍ فیه سریان الماء فی الورد و الدهن فی الزیتون و النار فی الفحم لا یقبل التبدل و التفرق و التمزق یفید الجسم المحسوس الحیاة و توابعها ما دام صالحاً لقبول الفیض و عدم حدوث ما یمنع السریان و الاحداث الموت. و اختاره الرازی و ابن القیم. (تفسیر مراغی ج۱۵، ص۸۹، آراء العلماء فی الروح)

د اصحابِ کهف د سپي جنت ته تلل

سوال: څه فرمایي علماء دین په دي باره کښي چه د اصحابِ کهفو سپی جنت ته ځي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: قرآنکریم په دي مسئله کښي ساکت پاتي شوی او په احادیثو کښي ئې هم ذکر نه پیدا کیږي۔ لیکن مفسرینو حضراتو د لسي څو حیوانات بنوولي دي چه جنت ته ځي چه د اصحابِ کهفو سپی هم په دي فهرست کښي ګنل شوی دی۔

لما قال العلامة اسمٰعیل حقی البروسویؒ: و روی انهٗ یدخل الجنة مع المؤمنین علی ما قال مقاتل عشرة من الحیوانات تدخل الجنة ناقة صالحؑ و عجل ابراهیمؑ و کبش اسمٰعیلؑ و بقرة موسیٰؑ و حوت یونسؑ و حمار عزیرؑ و نملة سلیمانؑ و هدهد بلقیس و کلب اصحاب الکهف و ناقة محمدﷺ فکلهم یصیرون علی صورت کبش و یدخلون الجنة. (روح البیان ج۵، ص۲۲۶، سورة الکهف)

و قال العلامة محمود الآلوسی رحمه اللّٰہ: و جاء فی شان کلبهم انهٗ یدخل الجنة یوم القیامة فعن خالد بن معدان لیس فی الجنة من الدواب الا کلب اصحاب کهف و حمار بلعم. (روح المعانی ج۱۵، ص۲۲۶، تحت و کلبهم باسط ذراعیه، الکهف) و مثله فی تفسیر خمل ج۳، ص۱۲، سورة الکهف۔

د موسیٰ علیه السلام د ملګري بشـــــرو الی

سوال: حضرت موسیٰ علیه السلام ته چه کوم سپي ته د ورتګ حکم د استفادي لپاره ورکړ شوی وو هغه څوك وو ملائکه وه او که انسان؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په دي باره کښي یو ضعیف قول دا دی چه دا کس ملایکه وه او حضرت موسیٰ علیه السلام ته ترې د استفادي حکم ورکړ شوی وو لیکن دا قول دیر کمزوری او غیر معتد به دی او د جمهورو علماوو په نزد دا حضرت خضرؑ وو کوم چه د آدم علیه السلام له اولاد څخه وو او ملایکه نه بلکه انسان وو۔

لما قال الشیخ آلوسی رحمه اللّٰہ: قوله تعالی: عَبْداً مِّنْ عِبَادِنَا الجمهور علی انه الخضر بفتح الخاء و قیل الیاس و قیل ملك من الملائکة و هو قول غریب باطل کما فی شرح مسلم و الحق الذی تشهد له الاخبار الصحیحة هو الاول الخ. (روح المعانی ج۱۵، ص۳۱۹)

و قال القرطبی رحمه اللّٰہ: هو الخضر علیه السلام فی قول الجمهور..... و قیل کان ملکاً امر اللّٰہ موسیٰ ان یأخذ عنه مما حمله من علم الباطن و الاوّل الصحیح. (تفسیر قرطبی ج۶، ص۱۶، سورة الکهف، آیت ۸۳)

د حضرت خضر علیه السلام نبوت

سوال: حضرت خضر علیه السلام نبي وو او که عام یو نیك سړی وو؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د حضرت خضر علیه السلام په نبوت، رسالت او ولایت کښي اختلاف دی۔ د ځینو علماوو په نزد هغه د اللّٰہ تعالی یو ولي او نیك بنده وو او ځینو نورو حضراتو په نزد هغه نبي وو چه په دي باندي دوی مختلف دلائل او شواهد وړاندي کوي۔

لما قال الحافظ ابن کثیرؒ: تحت قوله تعالی: وَ مَا فَعَلْتُهٗ عَنْ اَمْرِیْ و فیه دلالةٌ من قال بنبوّة الخضر علیه السلام و قال آخرون کان رسولاً و قیل بل کان ملکاً و ذهب کثرون الی انهٗ لم یکن نبیّاً بل کان ولیّاً. فاللّٰہ اعلم. (تفسیر ابن کثیر ج۳، ص۹۹، سورة الکهف، آیت ۸۲)

و قال الرازی رحمه اللّٰہ: قال الاکثرون ان ذلك العبد کان نبیّاً و احتجو علیه بوجوه الخ. (تفسیر کبیر ج۲۱، ص۱۴۸، سورة الکهف، آیت ۶۵)

و قال القرطبی رحمه اللّٰہ: و الخضر لیس عند الجمهور و قیل هو عبد صالح غیر نبی و الآیة تشهد بنبوّته لان بواطن الغائب لا تکون الاّ بوحی. (تفسیر احکام القرآن للقرطبی ج۱۱، ص۱۶، سورة کهف، آیت ۶۵)

و قال ابو حیان الأندلسی رحمه اللّٰہ: و الجمهور علی ان الخضر نبی و کان علمه معرفته بواطن قد اوحیت الیه الخ. (تفسیر البحر المحیط ج۶، ص۱۴۷، سورة الکهف، آیت ۶۵)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

د خضر علیه السلام د حیات تحقیق

سوال: حضرت خضر علیه السلام اوس هم ژوندی دی او که وفات شوی دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د حضرت خضر علیه السلام د ژوند په اړه علماء کرام په دوو برخو ویشل شوي دي۔ د ځینو محدثینو حضراتو قول دا دی چه خضر علیه السلام وفات شوی دی او په مړینې باندې مختلف دلائل وړاندې کوي لیکن د دوی په مقابله کښې د جمهورو علماء کرامو قول دا دی چه حضرت خضر علیه السلام تر اوسه پورې ژوندی دی او همدا قول د صوفیاء کرامو هم دی۔

لما قال العلامة آلوسیؒ: و ذهب جمهور العلماء الی انهٗ حیٌّ موجود بین اظهرنا و ذلك متفقٌ علیه عند الصوفیة.

قال النوویؒ: و قال ابن صلاح: هو حیٌّ الیوم عند جمهور العلماء و العامة معهم فی ذلك و انما ذهب الی الکاره بعض المحدثین الخ. (روح المعانی ج۱۵، ص۲۹۵، سورة الکهف، آیت ۶۵)

و قال الثعالبیؒ: و الخضر شرب من ماء الحیاة فهو حیٌّ الی ان یخرج الدجال و انه الرجل الذی یقتله الدجال. (تفسیر ثعالبی ج۲، ص۲۸۸، سورة الکهف، آیت ۶۰)

و قال القرطبیؒ: الصحیح انه حیٌّ علی ما نذکره من الدلائل. (تفسیر قرطبی ج۱۱، ص۴۱، سورة الکهف، آیت ۸۲)

لیکن بیا هم چونکه مسئله اختلافي ده او په دواړو خواوو کښې محققین علماء کرام وجود لري او دي مسئلې سره د عقیدې هم کوم تړاو نشته له دي وجهې په دي باره کښې هغه طریقه اختیارول په کار دی کوم چه قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله پخپل تفسیر کښې د مجدد الف ثاني رحمه الله څخه نقل کړی دی او د دواړو خواوو اشکالات ئې رفع کړي دي۔ او هغه دا چه "حضرت مجدد الف ثاني رحمه الله په عالم کشف کښې پخپله له حضرت خضر علیه السلام څخه پوښتنه وکړه؟ نو هغه ورته وفرمایل چه زه او حضرت الیاس علیه السلام دواړه ژوندي نه یو لیکن الله تعالی مونږ ته دا قدرت راکړی دی چه مونږ د ژوندي انسانانو په شکل خانونه متشکل کولی شو او په مختلفو اشکالو سره د خلکو امداد کوو۔ دا یو دلسي حل دی چه په دي سره د جانبینو د استدلالاتو او شواهدو رعایت کیږي۔

و لا یمکن حل هذا الاشکال الاّ بکلام المجدد للالف ثانیؒ فانهٗ حین سئل عن حیاة الخضرؑ و وفاته توجه الی الله سبحانه متعلماً من جنابه عن هذا الامر فرئ الخضرؑ حاضراً عنده فسئله عن حاله فقال انا و الیاس لسنا من الاحیاء لکن الله سبحانهٗ اعطی لارواحنا قوة نتجسد بها و نفعل بها افعال الاحیاء من ارشاد الضّال و اغاثة الملهوف اذا شاء الله و تعلیم اللدنّی و اعطاء النسبة لمن شاء الله تعالی. (تفسیر مظهری ج۶، ص۶۲، سورة الکهف، آیت ۸۲)

ذو القرنین څوک وو؟

سوال: په قرآنکریم کښې د ذو القرنین ذکر راغلی دی۔ دا سړی په اصل کښې څوک وو؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د ذو القرنین په اړه په قرآنکریم کښې یواځې دومره څرګندونه شوي ده چه هغه یو نیک او عادل بادشاه وو چه له مشرق څخه ئې تر مغربه پورې ملکونه فتح کړي دي

او د عدل او انصاف حکومتونه ئې پکښې قائم کړي وو۔ په دي کار کښې د الله تعالی له لوري څخه هر ډول سامان او د ضروریاتو ټول اسباب هغه ته ورکړ شوي وو۔ هغه د خپلو فتوحاتو په دوران کښې د خپل ملك په مختلفو طرفونو وګرځید چه مشرق اقصی او مغرب اقصی او شمالي کوهستان هم پکښې راځي۔ د دي سفر په دوران کښې هغه د دوو غرونو په منځ کښې ئې یوه دره د اوسپنې د دیوال په ذریعه بنده کړه له کوم ځایه څخه چه یأجوج او مأجوج راوتل او خلك به ئې ډارول او تکلیفول۔ چونکه د قرآنکریم نزول د ضروریاتو مطابق کیده نو د دي لپاره په هغه وخت کښې د حضورﷺ څخه کومه پوښتنه وشوه او د سوال کوونکو تسلي په همدومره ځواب سره وشوه ځومره چه په قرآنکریم کښې راغلي دي۔ نو له دي وجهې په قرآنکریم کښې د ذو القرنین په باره کښې له دي نه زیاته یادونه ونه شوه او نه د احادیثو په ذخیره کښې د هغه په باره کښې کومه خاصه یادونه شتون لري۔ البته په دي باره کښې تاریخي او اسرائیلي روایات پیدا کیږي لیکن چونکه د ذو القرنین د تعین په باره کښې تاریخي روایات مختلف دي د دي لپاره د هغو له جملې څخه یو څو قولونه په لاندې توګه مطالعه کړی۔

﴿۱﴾ ځینو مفسرینو ویلي دي چه له دي څخه مراد سکندر مقدوني یوناني دی کوم چه له عیسیٰ علیه السلام څخه تقریبا دري سوه کاله مخکښې تیر شوی دی او دي ته علامه الوسي رحمه الله هم ترجیح ورکړي ده۔

لما قال: و الاقرب عندی لالزام اهل الملل و النحل..... اختیار الله الاسکندر بن فیلقوس غالب دار الخ. (روح المعانی ج۱۶، ص۳۰، سورة الکهف، آیت ۸۴)

﴿۲﴾ او همدارنګه امام رازيؒ د دي د تفصیل په بیانولو سره له تولو نه مخکښې دا قول ذکر کړی او دلائل ئې هم پرې وړاندې کړي دي او په آخر کښې وایي چه: و القول الاول اظهر لما ذکرنا الخ. (تفسیر کبیر ج۲۱، ص۱۶۵، سورة الکهف، آیت ۸۴)

لیکن حافظ ابن کثیر دي قول لره په ډیرو سختو الفاظو رد کړی دی چه سکندر مقدوني مشرك او کافر وو او د کوم سړي ذکر چه په قرآنکریم کښې راغلی دی هغه په اتفاق سره مؤمن وو بلکه د ځینو په نزد نبي هم وو۔ له دي وجهې دي ته سکندر مقدوني ویل غلط دي۔ د تفصیل لپاره البدایه و النهایه ج۲، ص۹۷، خبر ذو القرنین مطالعه کړی۔

﴿۳﴾ د ځینو مؤرخینو او مفسرینو په نزد له ذو القرنین څخه مراد ابو کرب شمر بن عبیر حمیري دی او دلیل پرې د بنو حمیر د شعراوو قصیدې وړاندې کوي چه په هغو کښې د ذو القرنین تعریف شوی دی۔ او دي قول ته ابو ریحان بیروني هم ترجیح ورکړي ده۔ (تفسیر کبیر، روح المعاني)

﴿۴﴾ او د اکثرو متقدمینو په نزد ذو القرنین د حضرت ابراهیم علیه السلام معاصر وو یعني د هغه په زماني کښې وو۔ د حج په موسم کښې د حضرت ابراهیم علیه السلام سره ملاقات هم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

شوی وو او د خضر علیه السلام مشیر او وزیر وو۔

﴿۵﴾ د جدید دور محققینو او د قرآن کریم د تاریخ ماهرینو لکه مولانا حفظ الرحمٰن سیوهارویؒ، مولانا ابو الکلام آزاد او داسې نورو موقف دا دی چه په قرآنکریم کښې له مذکوره ذو القرنین څخه مراد د فارس هغه بادشاه دی چه یهودو ورته خورش، یونیانیانو سائرس، فارسیانو گورش او عربو خسرویل۔ او پخپل دې قول باندې دوی قرآنکریم، تاریخي شواهد او اسرائیلي روایات د دلائلو په توگه وړاندې کوي۔ (قصص القرآن ج۳، ص۱۱۷ تا ۱۸۹، ذو القرنین)

د "لاتبدیل لِخلقِ اللهِ" تفسیر

سوال: شیخ سعدي صاحبؒ فرمایلي دي چه: "سگ اصحاب کهف روزی چند پے نیکان گرفت مردم شد" له دې څخه معلومیږي چه د اصحابِ کهفو له سپي نه سړی جوړ شوی دی لیکن په ذهن کښې څه شکوک او شبهات پیدا شوي دي چه د اصحاب کهفو له سپي څخه څرنگه انسان جوړ شوی دی په داسې حال کښې چه الله تعالی فرمایي چه "لاتبدیل لِخلقِ اللهِ" نو پوښتنه دا ده چه څرنگه کیدلی شي چه له سپي څخه دې انسان جوړ شي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د قرآنکریم او احادیثو په ذخیره کښې هیڅکله دا خبره وجود نه لري چه د اصحاب کهفو له سپي څخه انسان جوړ شوی دی او نه د شیخ سعدي صاحبؒ د شعر دا مراد دی بلکه شیخ سعدي صاحب د نیکو بندگانو د صحبت د اختیارولو ښو اثراتو ته د اشاري په کولو سره فرمایي چه کله چه سپی (کوم چه نجس حیوان دی) د الله تعالی د نیکو بندگانو صحبت غوره کړ نو الله تعالی په قرآنکریم کښې یاد کړ۔ نو کله چه سپي ته د نیکو بندگانو د صحبت له وجهې دومره لویه مرتبه ورکول کیږي نو مؤمن موحد چه کله د اسي وکړي نو خامخا به د د اسي رتبي مستحق جوړیږي۔

لما قال محمد بن احمدؒ قلتُ اذا کان بعض الکلاب قد نال هٰذه الدرجة العلیا بصحبته و مخالطته الصلحاء و الاولیاء حتی اخبر الله تعالی بذلك فی کتابه جلّ و علا فما ظنّك بالمؤمنین الخ. (قرطبی ج۱۰، ص۳۷۱، سورة الکهف، آیت۱۸)

او د "مردم شد" معنی دا ده چه د اسپی به له انسانانو سره جنت ته داخل شي دا نه ده چه انسان جوړ شو، ـ ای مردمان د اخل جنت شد۔ (روح البیان ج۵، ص۲۲۶، سورت کهف آیت ۱۸)

او په "لاتبدیل لِخلقِ اللهِ" کښې له خلق څخه مراد دین او فطرت سلیمه ده۔

لما قال اسمٰعیل ابن کثیرؒ: قال بعضهم لا تبدلوا خلق الله فتغیروا الناس عن فطرتهم التی فطرهم الله علیها و هو معنیً حسنٌ. (تفسیر ابن کثیر ج۳، ص۴۴۷، سورة الروم، آیت ۳۰)

و قال حافظ الدین النسفیؒ: لا تبدیل ای ما ینبغی ان تبدل تلك الفطرة او تغیّر. و قال الزجاج معناه لا تبدیل لدین الله و یدل علیه ما بعدهٗ. (مدارك التنزیل ج۳، ص۲۷۲، سورة الروم، آیت ۳۰)

د حضرت ایوب علیه السلام د بیماری تحقیق

سوال: ځینې خلك د حضرت ایوب علیه السلام خوا ته د یوه خاص مرض نسبت کوي او وایي چه د دې مرض له وجهې د هغه په جسم کښې چینجي شوي وو۔ آیا دا واقعه تر کومه ځایه پورې ریښتیا ده او د قرآن او حدیثو له مخې ئې څه حیثیت دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په دې باره کښې په قرآنکریم کښې یواځې دومره تصریح شته چه حضرت ایوب علیه السلام په یوې سختې بیماری باندې بیمار شوی وو چه له هغې څخه د نجات لپاره ئې الله تعالی ته دعا وکړه او الله تعالی بیا ورته شفاء ورکړه لیکن د دې بیماری د تعین په باره کښې قرآنکریم څه نه دي ویلي او همدارنگه د احادیثو په ذخیره کښې ئې هم د تعین په باره کښې څه نشته۔ البته له ځینو آثارو څخه دومره څرگندیږي چه د ده په ټول جسم کښې دانې شوي وې چه له مخې ئې خلکو تري نفرت کاوه لیکن محققینو مفسرینو د داسې آثارو له صحت څخه انکار کړی دی او وایي چه په انبیاوو علیهم السلام باندې مرض راتلی شي لیکن الله تعالی ئې په داسې مرض باندې نه اخته کوي چه د عوامو د نفرت سبب تري جوړ شي۔ له دې وجهې د حضرت ایوب مرض کوم خاص مرض نه وو بلکه عام مرض وو او په کومو آثارو کښې چه دا ویل شوي چه په بدن کښې ئې چینجي شوي وو په هغو باندې روایتاً او درایتاً اعتماد نه شي کیدلی۔

لما قال محمود الآلوسیؒ: و کل هٰذه الاقوال عندی منصمةٌ ما لا یلیق بمنصب الانبیاء علیهم السلام. (تفسیر روح المعانی ج۲۳، ص۲۰۶)

و لا شك ان هٰذا الحدیث من اخبار الاحاد التی تصادم اساس الدین الصحیحة من ان الانبیاء یجب ان لا یکون فیهم من الامراض ما ینفر الناس منهم. (تفسیر مراغی احمد مصطفی ج۲۳، ص۱۲۵)

حضرت داود علیه السلام او اسرائیلي روایتونه

سوال: د قرآنکریم په سورت صاد کښې له حضرت داود علیه السلام سره د پیښیدونکي واقعي په اړه د جلالین په تفسیر کښې "بمحبة تلك المراة" سره ئې تفسیر کړی دی او حافظ ابن کثیر رحمه الله توقف ته ترجیح ورکړی دی او همدارنگه په تفسیر روح البیان کښې راغلي دي چه حضرت علي رضی الله تعالی عنه د دې واقعي بیانوونکي ته حد ناکلی دی۔ نو په دغو واقعو کښې تر کومه پورې ریښتونولي پرته ده؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: جلالین شریف اگر که یو بهترین تفسیر دی لیکن په ځینو مقاماتو کښې ئې تفسیر د مؤاخذې وړ دی چه له هغو څخه یو ځای نومورې ځای هم دی۔ انبیاوو علیهم السلام ته داسې نسبتونه کول د تنقیص سبب دی کوم چه انبیاء کرام علیهم السلام تري محفوظ دي۔ همدا وجه ده چه محققین مفسرین له دې واقعي څخه انکار کوي۔ چنانچه حافظ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

اسمٰعیل ابن کثیر رحمه الله پخپل تفسیر کښې لیکي:

قد ذكر المفسّرون ههنا قصّةً اكثرها ماخوذ من الاسرائيليات و لم يثبت فيها عن المعصوم حديث يجب اتّباعه..... فالاولى ان يقتصر على مجرد تلاوة هذه الآية و ان يرد علمها الى الله عزّ و جلّ الخ. (تفسير ابن كثير ج۳، ص۳۵۷، سورة صٓ)

او علامه احمد مصطفٰی رحمه الله تعالی په دې باره کښې لیکي:

انما جاء من القصص عن ذكر السّبب فى مجيء الملكين فما يخلّ بمنصب النّبوّة و فيه نسبةُ الكبائر الى الانبياء فيجب علينا ان نطرحهُ اذ يبطل الوثوق بالشّرائع الخ. (تفسير مراغى ج۲۳، ص۱۱۱، سورة صٓ)

برسیره پر دې د حضرت علي کرم الله وجهه د حد د مقرر ولو چه کومه خبره ده دا هم په یوه روایت باندې ثابته نه ده او د ثبوت په صورت کښې دا خبره د هغه په اجتهاد پورې اړه لري چه اتباع ئې ضروري نه ده.

علامه آلوسي رحمه الله په دې موقع کښې تفسیر کوي او لیکي:

قال عليٌّ على ما فى بعض الكتب من حدّث بحديث داؤد عليه السلام على ما يرويه القصاص جلدتهُ مائة و ستّين و ذلك حد الفرية على الانبياءؑ. و هذا اجتهاد منه كرّم الله وجههُ الا ان الزين العراقى ذكر ان الخبر نفسهُ لم يصح عن الامير رضى الله عنه. (تفسير روح المعانى ج۲۳، ص۱۵۸، سورة صٓ)

له دې وجهې د دې آیت هغه تفسیر او مطلب د قبول وړ دی کوم چه حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنهما له اثر څخه څرګند یږي.

عن عبد الله بن عباس رضى الله عنهما قال ما اصاب داؤد ما اصابهُ بعد القدر الا من عجب به من نفسه و ذلك انهُ قال يا ربّ ما من ساعة من الليل و لا نهارٍ الا و عابد من آل داؤد يعبدك يصلّى لك و يسبّح او يكبّر و ذكر اشياء فكره الله و قال يا داؤد انّ ذلك لم يكن الا بى فلو لا عونى ما قويت عليه و جلالى لاكلّفنّك الى نفسك يوماً قال يا ربّ فاخبرنى به فاصابت الفتنة ذلك اليوم. (رواه الحاكم فى المستدرك ج۲، ص۴۳۳)

چه د هغو خلاصه دا ده چه ځینې کارونه لکه ښه انتظام او هر وخت په عبادت کښې له مشغول والي څخه د یو ډول اعجاب له وجهې د عتاب (ملامتیا) په توګه دا واقعه مخې ته راغله.

د حضرت داود علیه السلام د بیبیانو تعداد

سوال: د حضرت داود علیه السلام څو بیبیانې وې؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د حضرت داود علیه السلام د بیبیانو تعداد مؤرخینو او مفسرینو ۱۰۰ ښوولي دي. لیکن دا کومه نادره خبره نه ده ځکه چه د هغه په شریعت کښې د بیبیانو د تعداد په باره کښې څه خاص حد مقرر نه وو چه پابندي ئې شوې وای.

لما قال الحافظ ابن كثير رحمه الله: و كانت لداؤد مائة امرأة منهم امرأة ورِيا ام سليمان التى تزوّجها بعد الفتنة و قد ذكر الكلبى نحو هذا. (البداية و النهاية ج۲، ص۱۵)

و قال القرطبيّ: و فى التفسير له تسع و تسعون امرأة. قال ابن العربيّ ان كان جمع هن احراراً فذلك شرعه و ان كن اماءً فذلك شرعنا و الظاهر ان شرع من تقدم قبلنا لم يكن محصوراً بعدد و انما الحصر فى شريعة محمدﷺ لضعف الابدان و

قلة الاعمار. (احكام القرآن للقرطبى ج۱۵، ص۱۶۱، سورة صٓ) و مثله فى تفسير جلالين ج۲، ص۳۸۱، سورة صٓ.

د "أم كُنت مِن العالِين" تفسیر

سوال: د سورت ص آیت ۷۵ "اَسْتَكْبَرْتَ اَمْ كُنْتَ مِنَ الْعَالِيْنَ" کښې د عالین له لفظ څخه ځینې خلك د "پنج تن پاك" مراد تري اخلي او د هغو خلکو په نزد پنج تن پاك څخه مراد رسول اللهﷺ، حضرت فاطمه، حضرت علي، حضرت حسن او حضرت حسین رضی الله تعالی عنهم اجمعین دي کوم چه حضرت آدم علیه السلام ته د سجدې له کولو څخه مستثنی دي. آیا په رښتیا هم د اسې ټولې موجوده وه چه حضرت آدم علیه السلام ته د سجدې له کولو څخه مستثنی شوي وو؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: حضرت آدم علیه السلام د سجدې د کولو حکم یواځې فرښتو ته شوی وو چه له فرښتو پرته بل څوك پکښې داخل نه وو. په دې اسې حال کښې چه پنج تن پاك په هغه وخت کښې پیدا شوي هم نه وو. له دې پرته په یوه تفسیر کښې هم نشته چه دلته له عالین څخه مراد پنج تن پاك دي. په دې اسې حال کښې چه د دې آیت تفسیر دا دی چه "کله ابلیس لعین حضرت آدم علیه السلام ته د سجدې له کولو څخه انکار وکړو نو الله تعالی وفرمایل چه ای ابلیسه تا زما دې خاص مخلوق ته سجده ولې و نه کړه؟ په دې اسې حال کښې چه زما حکم وو. تا اوس تکبر وکړو او که له مخکښې څخه متکبره وې؟

لما قال العلامة محمود الآلوسيّ: استكبرت من غير استحقاق اَمْ كُنتَ مِنَ الْعَالِيْنَ او كنت مستحقاً للعلو فاتق فيه. و قيل المعنى احدثت لك الاستكبار ام لم تزل منذ كنت من المستكبرين الخ. (روح المعانى ج۲۳، ص۲۲۶، سورة صٓ)

و قال ابن الجوزيّ: استكبرت بنفسك حين ابيت السجود اَمْ كُنتَ مِنَ الْعَالِيْنَ اى من قوم يتكبرون فتكبرت على السجود لكونك من قوم يتكبرون. (زاد المسير ج۷، ص۱۵۷، سورة صٓ) و مثله قال الصابونى فى صفوة التفاسير ج۳، ص۶۵، سورة صٓ.

د اعداء الله د لفظ تفسیر

سوال: آیا د سورت حم السجده له دې آیت کریمه چه وَيَوْمَ يُحْشَرُ اَعْدَاءُ اللّٰهِ اِلَى النَّارِ فَهُمْ يُوْزَعُوْنَ ☆ حَتّٰى اِذَا مَا جَآءُوْهَا شَهِدَ عَلَيْهِمْ سَمْعُهُمْ وَ اَبْصَارُهُمْ وَ جُلُوْدُهُمْ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ☆ (آیت ۲۰/۱۹) څخه یهود او نصارٰی، مشرکین، د هریان او د اسې نور مراد دي او که کوم خلك ئې چه کله ولولي او د الله تعالی له حدودو څخه تجاوز وکړي او د خدای او رسولﷺ نافرماني کوي هم په دې کښې داخل دي؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د کوم آیت د مفهوم په باره کښې په قطعي توګه دا فیصله چه له دې څخه دا مراد دی بل مراد نې ښکاره په هغه وخت کښې کیدلی شي چه کله د الفاظو دلالت پرې یقیني او قطعي وي، بل احتمال پکښې نه وي او یا د هغه په باره کښې د حضورﷺ څخه کومه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

تصریح موجوده وي۔ دد غو دواړو صورتونو څخه پرته قطعي فیصله کول مشکل دي۔ بیا هم د آیت کریمه سیاق او سباق، موقع او محل، مناسبت او قرائن او د لسې نورو شهادتونه د لسې شیان دي چه د عقل سلیم و الاسړی نې د کوم آیت د مفهوم په باره کښې د ظن غالب په توګه دا فیصله کولی شي چه له دې څخه دا مراد دي۔

اوس د غور لاندې آیت کریمه په باره کښې پورته ذکر شوي امورو ته په نظر کولو سره کله چه فکر وکړی شي نو څرګندیږي چه له اعداء الله څخه مراد کفار، مشرکین دي او عاصین مؤمنین تري مراد نه دي۔

﴿۱﴾ **سیاق او سباق:** د سورت له شروع څخه د عربو له کفارو او مشرکینو سره په دریو خبرو باندې خبره روانه ده۔ یوه دا چه قرآنکریم د الله تعالی له لوري نازل شوی کتاب دی۔ دوهم د توحید اثبات۔ دریم د رسالت اثبات۔ دا خبرې نې په مختلفو دلائلو او براهینو سره ثابت کړي دي او له دي نه وروسته نې په "یوم یُحشرُ اعداءُ الله الی النارِ" سره د عقوباتو ذکر کړی دی۔

﴿۲﴾ **مقامي قرائن:** په دې مقام کښې د اعداء الله درې ډلې او علامي ښودل شوي دي کومې چه له کفارو سره خاص دي۔ یوه دا چه و لٰکن ظننتم ان الله لا یعلم کثیراً ممّا تعملُون"۔ دوهم د اند امونو ګواهي۔ دریم فالنارُ مثوًی لّهُم۔

﴿۳﴾ دا چه د اعداء الله د لفظ اطلاق په قرآن کریم کښې په کفارو باندې څو ځایه شوی دی۔

(۱) ذٰلِكَ جَزَآءُ اَعْدَآءِ اللّٰهِ النَّارُ (حم سجده، آیت ۲۸)

(۲) فَاِنَّ اللّٰهَ عَدُوٌّ لِّلْكٰفِرِيْنَ (بقره، آیت ۹۸)

(۳) لَا تَتَّخِذُوْا عَدُوِّيْ وَ عَدُوَّكُمْ اَوْلِيَآءَ (الممتحنه آیت ۱)

(٤) وَ كَذٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا مِّنَ الْمُجْرِمِيْنَ (الفرقان آیت ۳۱)

(٥) عَدُوًّا شَيٰطِيْنَ الْاِنْسِ وَ الْجِنِّ (الانعام)

د دې برعکس په قرآنکریم کښې چه کله الله تعالی مؤمنینو ته خطاب کوي نو د ولي او اولیاوو په الفاظو سره نې خطاب کړی دی لکه

(۱) اَللّٰهُ وَلِيُّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا (البقره آیت ۲۵۷)

(۲) اَللّٰهُ وَلِيُّ الْمُؤْمِنِيْنَ (آل عمران)

(۳) اِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللّٰهُ وَ رَسُوْلُهٗ (المائده آیت ۵۵)

(٤) اَلَآ اِنَّ اَوْلِيَآءَ اللّٰهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَ لَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ (یونس آیت ٦۲)

له دغو ټولو شواهدو څخه څرګندیږي چه له اعداء الله وو څخه مراد کفار دي نه فاسقان مؤمنان۔ اوس د مفسرینو اقوال مطالعه کړی۔

علامه حافظ الدین نسفي فرمایي: (وَيَوْمَ يُحشرُ اَعْدَآءُ اللّٰهِ) ای الکفار من الاولین و الآخرین. (تفسیر مدارك ج٤، ص۹۲، سورة حم السجدة، آیت ۱۹)

علامه ابو حیان اندلسي فرمایي: و اعدّ الله هم الکفار من الاولین و الآخرین. (البحر المحیط ج۷، ص ٤۹۱، حم السجدة، آیت ۱۹) و مثله فی احکام القرآن ج۱٥، ص ۳٥۰، سورة حم السجدة، آیت ۱۹.

د منافقینو له لرګي سره تشبیه

سوال: د سورت منافقون آیت ٤ "كَاَنَّهُمْ خُشُبٌ مُّسَنَّدَةٌ" معنی او مطلب څه دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: له دې څخه مخکښې د منافقینو بحث شروع وو۔ په دې آیت کریمه کښې الله تعالی د منافقینو کم عقلي او بې ایماني له وجهې د لرګي سره تشبیه ورکړي ده چه لرګی چه څومره غټ هم وي لیکن بې روحه وي۔ همدا رنګه د منافقینو حالت هم دغسې دی چه اګر که په ظاهري توګه څومره لوی او د غټ جسم خاوند هم وي لیکن د ننه خالي وي۔

لما قال الامام فخر الدین الرازیؒ: و الخشب لا تعقل و لا تفهم فکذلك اهل النفاق کانهم فی ترك التفهم و الاستبصار بمنزلة الخشب. (تفسیر کبیر ج۳٥، ص ۱٥، سورة المنافقون، آیت ٤)

وقال القاضی البیضاوی رحمه الله: ای مشبّهین باخشاب منصوبة مسندة الی الحائط فی کونهم اشباحاً خالیة عن العلم و النظر. (تفسیر بیضاوی ج٥، ص ۱۳۳، سورة منافقون، آیت ٤) و مثله فی تفسیر معالم التنزیل للبغوی ج٤، ص ۳٤۸، سورة المنافقون، آیت ٤)

د "و رفعنا لك ذكرك" په عموم باندې حمل کول

سوال: که چېرته یو سړی د سورت الم نشرح د "و رفعنا لك ذكرك" په باره کښې دا ووایي چه له دې څخه مراد یواځې حضور ﷺ نه بلکه هر هغه عام سړی دی چه د ژوند په تشکیلي دور کښې له محنت څخه کار اخلي او لویه مرتبه حاصله کړي۔ نو آیا د دې آیت د لسې مفهوم اخیستل صحیح دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: چونکه و رفعنا لك ذكرك کښې کاف د واحد مخاطب ضمیر دی د دې لپاره په دې آیت کښې خطاب په خصوصي توګه حضور ﷺ ته دی او د دې آیت عام کول او هر سړی پکښې داخلول صحیح نه دي۔ د لته د ذکر له رفعت څخه مراد د آذان په تشهد او د لسې نورو امورو کښې د حضور ﷺ مبارك نوم دی چه د الله تعالی له نامه سره یو ځای یاد شوی دی کوم چه بل څوك دا مرتبه نه شي حاصلولی۔

لما قال محمد بن احمدؒ: تحت هذه الآیة روی عن الضحاك عن ابن عباس رضی الله عنه قال یقول لهٗ لا ذکرت الا ذکرت معی فی الآذان و الاقامة و التشهد و یوم الجمعه علی المنابر الخ. (احکام القرآن للقرطبی ج۲۰، ص ۱۰٦، سورة الانشراح، آیت ٤)

و قال المحلی رحمه الله: بان تذکر مع ذکری فی الآذان و الاقامة و التشهد الخطبة و غیرها. (تفسیر جلالین ج۲، ص ٥۰۲، سورة الانشراح، آیت ٤) و مثله فی تفسیر روح المعانی ج۳۰، ص ۱٦۹، سورة الانشراح، آیت ٤.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

د قـــــرآنکریم د ښکلولو حکم

سوال: اکثره خلك قرآنکریم لره د اخیستلو او اینبودلو په وخت کښې ښکلوي۔ آیا د قرآنکریم ښکلول جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د سلف صالحینو او صحابۂ کرامو مبارك عادت دا وو چه هغوی قرآنکریم ښکلول او په دې کښې د قرآنکریم تکریم او تعظیم پټ دی۔ له دې وجهې د قرآنکریم په ښکلولو کښې شرعا څه قباحت نشته۔

قال العلامة ابن عابدینؒ: روی عن عمرؓ انہ کان یاخذ المصحف کل غداۃ و یقبلہ و یقول عهد ربی و منشور ربی عزّ و جلّ و کان عثمان رضی اللّٰہ عنہ یقبل المصحف و یمسحہ علی وجهہ۔ (الدر المختار علی رد المحتار ج۵، ص۲۴۶، کتاب الحظر و الاباحۃ، باب الاستبراء و غیرہ)

د قرآنکریم د ختم په وخت کښې سورت اخلاص دري ځله لوستل

سوال: جناب مفتي صاحب! ځینې استاذان د ناظره قرآن مجید او د قرآن مجید د حفظ پوره کوونکي طالب علم ته دا تلقین کوي چه د قرآنکریم د ختم کولو په وخت کښې سورت اخلاص دري ځله تلاوت کړي۔ آیا دا طریقه صحیح ده او که څنګه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: نوموړی صورت د فقهاوو تر منځ مختلف فیه دی۔ د ځینو مشائخو په نزد دا سې کول مستحسن نه دي په دا سې حال کښې چه د اکثرو مشائخو په نزد دا سې کول مستحسن دي۔ البته که چیرته د قرآنکریم ختم په فرض لمانځه کښې وي نو له یو ځل څخه زیات نې مه وایی۔

قال العلامة ابراهیم الحلبیؒ: قرأۃ قل هُوَ اللّٰہ احد ثلث مرّات عند ختم القرآن لم یستحسنها بعض المشائخ و قال الفقیه ابو اللیثؒ هذا شیء استحسنہ اهل القرآن و ائمة الامصار فلا بأس بہ الا ان یکون الختم فی المکتوبة فلا یزیدہ علی مرّۃ۔ (کبیری ص۴۹۶، اما القرأۃ خارج الصلوٰۃ)

و فی الهندیة: قرأۃ قل هُوَ اللّٰہ احد ثلاث مرّات عقیب الختم لم یستحسنها بعض المشائخ و استحسنها اکثر المشائخ لخبر نقصان دخل فی قرأۃ البعض الا ان یکون ختم القرآن فی الصلوٰۃ المکتوبة فلا یزید علی مرّۃ واحدۃ کذا فی الغرائب۔ (الفتاوی الهندیة ج۵، ص۳۱۷، الباب الرابع فی الصلوٰۃ و التسبیح و قرأۃ القرآن و الذکر و الدعاء و رفع الصوت عند قرأۃ القرآن)

په قـــــرائت سبعه باندې د قرآنکریم د لوستلو حکم

سوال: جناب مفتي صاحب! ما په یوه جومات کښې د یوه امام صاحب په اقتداء کښې لمونځ وکړ چه هغه له عام قرائت پرته په قرائت سبعه باندې د قرآن پاك تلاوت وکړ او لمونځ نې ادا کړ نو آیا په دا سې صورت کښې د مقتدیانو لمونځونه وشول او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: کوم قرائتونه چه تر مونږ پورې رسیدلی دی په هغو کښې ځینې

متواتر دي، ځینې مشهور دي او ځینې بیا د آحادو او شاذ په درجې کښې دي۔ تر کومه ځایه پورې چه د قرائت سبعه تعلق دی نو دا له سبعه قراوو څخه ثابت دي۔ البته د جمهورو په نزد له رسول اللّٰہ ﷺ څخه نې ثبوت د تواتر درجې ته نه دی رسیدلی په دا سې حال کښې چه ځینې نې د تواتر قائل دي۔ او تر کومه ځایه پورې چه د لمانځه تعلق دی نو لمونځ په قرائت سبعه سره کیږي۔

قال العلامة السیوطیؒ: قال فی اول کتابہ النشر کل قرأۃ وافقت العربیة و لو بوجه و وافقت احد المصاحف العثمانیة و لو احتمالاً و صح سندها فهی القرأۃ الصحیحة التی لا یجوز ردها و لا یحل انکارها بل هی من الاحرف السبعة التی نزل بها القرآن و وجب علی الناس قبولها سواء کانت عن الائمة السبعة ام عن العشرۃ ام عن غیرهم من الائمة المقبولین۔ (الاتقان فی علوم القرآن، ج۱، ص۷۵، النوع الثانی..... معرفة التواتر و المشهور)

و قال صاحب مناهل العرفان: و جاء اقتصارہ علی هؤلآء السبعة مصادفة و اتفاقاً من غیر قصد و لا عمد ذلك انہ اخذ علی نفسہ الا یروی الا عمن اشتهر بالضبط و الامانة و طول العمر فی ملازمة القرأۃ و اتفاق الآراء علی الاخذ عنہ و التلقی منہ..... بل کل قرأۃ توافرت فیها الارکان الثلاثة للضابط المشهور وجب قبولها۔ (مناهل العرفان ج۱، ص۴۱۰، اعداد القرآت)

د قرائت عشره ثبوت

سوال: جناب مفتي صاحب! د قرائت سبعه خو په تواتر سره ثبوت شته او له دې پرته چه کوم سړی په قرائت عشره سره تلاوت کوي نو خطا کار پرې ګڼل کیږي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: قرائت عشره اګر که په تواتر سره ثابت نه دی لیکن ثبوت د شهرت درجې ته رسیدلی دی۔ او په قرائت عشره سره د قرآنکریم تلاوت کوونکي ته خاطي یعني خطا کار ویل درست نه دي ځکه چه په دې ډله کښې صحابۂ کرام او کبار تابعین هم راځي۔

قال صاحب مناهل العرفان: الاوّل المتواتر..... و الثانی المشهور..... و هذان النوعان هما اللّٰہ ان یقرأ بهما مع وجوب اعتقادهما و لا یجوز انکار شیء منهما۔ (مناهل العرفان ج۱، ص۴۲۳، المبحث الحادی عشر فی القرآت و القرأ و الشبهات التی اثیرت فی هذا المقام)

و قال العلامة جلال الدین السیوطیؒ: اعلم ان القاضی جلال الدین البلقینی قال القرأۃ تنقسم الی المتواتر و احاد و شاذ فالمتواتر القرآت السبعة المشهورۃ و الاحاد قرآت الثلاثة التی هی تمام العشر و یلحق بها قرأۃ الصحابة و الشاذ قرأۃ التابعین..... قال الرانی و ائمة القرأ لا تعمل فی شیء من حروف القرآن علی الافشاء و اللغة و الا قیس فی العربیة بل علی الاثبت فی الاثر و الاصح فی النقل و اذا ثبت الروایة لم یردّها قیاس عربیة و لا فشو لغة لان القرأۃ سنة متبعة یلزم قبولها و المصیر الیها۔ (الاتقان فی علوم القرآن ج۱، ص۷۵، النوع الثانی..... معرفة المتواتر و المشهور و الاحاد..... الخ)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

لـــــــه مقام محمود څخه څه مراد دي

سوال: د الله تعالی ارشاد گرامي دی چه "عسی ان یبعثک ربک مقاماً محمودا" (سورت اسرآء آیت ۷۹) څخه څه مراد دي؟ آیا مقام محمود په جنت کښي کوم مقام دی کوم چه حضورﷺ ته ورکول کیږي او که کوم بل خاص ځای ترې مراد دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د صحابۀ کرامو، تابعینو رضوان الله تعالی علیهم اجمعین او د امت له جمهورو علماوو څخه د دي مقام تفسیر د اسې راغلی دی چه له دي څخه مراد د حضورﷺ شفاعت کبری ده۔ دا اوچته او لوړه مرتبه هیڅ یوه بل نبي او رسول ته نه ورکول کیږي۔ چنانچه ځینې روایتونه هم د دي قول تائید کوي۔

قال العلامة ابن الجوزیؒ: قوله مقاماً محموداً و هو الذی یحمده لاجله جمیع اهل الموقف و فیه قولان احدهما انه الشفاعة للناس یوم القیامة. قاله ابن مسعود و حذیفة بن الیمان و ابن عمر و سلمان الفارسی و جابر بن عبد الله و الحسن و هی روایة ابن ابی نجیح عن مجاهد و الثانی یجلسه علی العرش یوم القیامة روی ابو وائل عن عبد الله انهٗ قرأ هذه الآیة و قال یقعده علی العرش و کذلك روی الضحاك عن ابن عباس و لیث عن مجاهد. (تفسیر زاد المسیر ج۵، ص۷۶، قول تعالی: عَسٰۤی اَنْ یَّبْعَثَكَ رَبُّكَ)

و قال العلامة الآلوسیؒ: مقاماً محموداً و المراد بذلك المقام مقام الشفاعة العظمٰی فی فصل القضاء حیث لا احد الآ و هو تحت لوائهﷺ فقد اخرج البخاری و غیره عن ابن عمر قال سمعت رسول اللهﷺ یقول ان الشمس لتدنوا حتی یبلغ العرق نصف الاذن فبینما هم کذلك استغاثوا بآدم فیقول لست بصاحب ذلك ثم موسٰی فیقول کذلك ثم محمد فیشفع فیقضی الله تعالی بین الخلق فیمشی حتی یأخذ بحلقة باب الجنة فیومئذ یبعثهٗ الله تعالی مقاماً محموداً یحمده اهل الجمع کلهم. (تفسیر روح المعانی ج۵، ص۱۴۰، عَسٰۤی اَنْ یَّبْعَثَكَ رَبُّكَ)

د تـــــلاوت په دوران کښي د حضور انورﷺ د نـــــــامه په راتلو باندي د درود د لوستلو حکم

سوال: که چېرته د تلاوت په دوران کښي د حضور اکرمﷺ نوم مبارك راشي نو آیا په دي وخت کښي په حضورﷺ باندي درود او سلام ویل ضروري دي او که د تلاوت څخه تر فارغیدو وروسته به درود او سلام وایي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: اګر که د نبي اکرمﷺ د نامه له اوریدو سره فوراً په حضورﷺ باندي درود لوستل واجب دي لیکن د قرآن د تلاوت په دوران کښي افضله دا ده چه تلاوت جاري وساتل شي او له تلاوت څخه د فارغیدو نه وروسته درود ولولي۔ بیا هم که چېرته د تلاوت په دوران کښي درود ولولي بیا هم جائز دي۔

قال العلامة ابن عابدینؒ: و لو قرأ القرآن فمر علی اسم النبیﷺ فقراءة القرآن علی تالیفه و نظمه افضل من الصلٰوة علی النبیﷺ فی ذلك الوقت فان فرغ ففعل فهو الفضل و الا فلا شیء علیه. (رد المحتار ج۱، ص۵۱۹، مطلب فی المواضع

التی تکره فیها الصلٰوة علی النبیﷺ)

قال العلامة قاضیخانؒ: رجلٌ یقرء القرآن فسمع اسم النبیﷺ ذکر الناطقیؒ انهٗ لا یجب علیه الصلٰوة و التسلیم لان قرأة القرآن علی النظم و التالیف افضل من الصلٰوة علیهﷺ فاذا فرغ من القرأة ان صلی علی النبیﷺ کان حسناً و ان لم یصل فلا شیء علیه..... الخ. (فتاوی قاضی خان ج۴، ص۳۷۷، کتاب الحظر و الاباحة) و مثله فی الهندیة ج۵، ص۳۱۶، کتاب الکراهیة، الباب الرابع فی الصلٰوة و التسبیح..... الخ

د آذان په دوران کښي د قرآنکریم د تلاوت حکم

سوال: زید یوه ورځ په جومات کښي د قرآنکریم تلاوت کاوه چه آذان شروع شو نو یوه سړي په ډیري سختی سره له تلاوت څخه منع کړ۔ نو آیا د آذان په دوران کښي د قرآنکریم تلاوت کول ممنوع دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د آذان په وخت کښي اګرکه د قرآنکریم تلاوت ممنوع نه دی لیکن ښه خبره دا ده چه د آذان د شروع کیدو په وخت کښي تلاوت بند کړی شي او آذان واوریدلی شي او ځواب ئې ورکړی شي۔

قال القاضی خانؒ: و لو سمع القاری الآذان فالافضل له ان یمسك عن القرأة و یسمع الآذان الخ. (فتاوی قاضی خان ج۴، ص۳۷۷، کتاب الحظر و الاباحة)

و فی الهندیة: و لا ینبغی ان یتکلم السامع فی خلال الآذان و الاقامة و لا یشتغل بقرأة القرآن و لا بشیء من الاعمال سوی الاجابة و لو کان فی القرأة ینبغی ان یقطع و یشتغل بالاستماع و الاجابة. (الفتاوی الهندیة ج۱، ص۵۷، الباب الثانی فی الآذان، و مما یتصل بذلك اجابة المؤذن) و مثله فی البدائع الصنائع ج۱، ص۱۵۵، فصل و امّا بیان ما یجب علی السامعین..... الخ.

د قرآنکریم تلاوت افضل دی او که د درود شریف

سوال: د دوو کسانو په یوه ځای کښي په دي خبري باندي بحث وو چه د قرآنکریم تلاوت به بهتر وي او که په حضورﷺ باندي د درود شریف لوستل؟ یوه ویل چه تلاوت بهتر دی او بل ویل چه درود شریف بهتر دی۔ د مهربانی له مخي مو د قرآن او حدیثو په رنا کښي لاربښونه وکړئ؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: مولانا عبد الحی لکهنوي صاحبؒ فرمایي چه په مکروه وختونو یعني په کومو وختونو کښي چه لمونځ مکروه دی په هغو وختونو کښي نور تسبیحات، ذکرونه او درود شریف لوستل تر تلاوت بهتر دي۔ لیکن له دغو وختونو څخه پرته په نورو وختونو کښي تر نورو اذکارو پیا د قرآنکریم تلاوت بهتر دی۔

لما قال الشیخ عبد الحی اللکهنوی رحمه الله: القرآن افضل الاذکار لانه کلام الله تعالی کما فی الحصن الحصین لکن فی الاوقات التی یکره الصلٰوة فیها کما بعد صلٰوة الصبح الی طلوع الشمس فالتسبیح و الدعاء و الصلٰوة علی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

النبی ﷺ افضل من قراءة القرآن و کان السلف یستحبون فی ذلك الوقت و لا یقرأ القرآن. (نفع المفتی و السائل ص ۱۱۲، ما یتعلق بقراءة القرآن)

و قال العلامة ابراهیم الحلبیؒ: و سئل القالی عن قراءة القرآن فی الاوقات التی نهی عن الصلوٰة فیها أ هی افضل ام الصلوٰة علی النبی ﷺ و الذکر و التسبیح فقال الصلوٰة علی النبی ﷺ و الذکر و التسبیح افضل..... الخ. (حلبی کبیر ص ۴۹۶، تتمات فیما یکره من القرآن فی الصلوٰة و ما لا یکره و فی القراءة خارج الصلوٰة) و مثله فی الهندیة ج ۵، ص ۳۱۶، کتاب الکراهیة، الباب الرابع فی الصلوٰة و التسبیح..... الخ.

د قـــــــرآنکریم د پرې شویو پانو سوځول جائز نه دي

سوال: جناب مفتي صاحب! د زید او بکر تر منځ د قرآنکریم د پرې شویو پانو په باره کښې بحث راغی۔ زید ویل چه د قرآنکریم هغه نسخه چه شکیدلې وي سوځول ئې جائز دي او په دلیل کښې ئې د حضرت عثمان رضی الله عنه عمل وړاندې کړې په دا سې حال کښې چه بکر وویل چه د قرآنکریم سوځول مطلقاً جائز نه دي اګر که پرې او شکیدلی هم وي۔ نو د مهربانۍ له مخې د قرآن او حدیثو په رنا کښې په دې مسئلې کښې زمونږ لارښوونه وکړئ؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: فقهاء کرامو لیکلي دي چه کله د قرآنکریم کومه نسخه پرې شي او وشکیږي او د تلاوت وړ پاتې نه شي نو سوځوی ئې مه بلکه په یوه محفوظ ځای کښې ئې ښخ کړی۔ له دې وجهې په صورت مسئوله کښې د بکر قول صحیح دی۔ تر کومه ځایه پورې چه په دې باره کښې د حضرت عثمان د عمل تعلق دی نو محدثینو د دې مختلف ځوابونه کړي دي۔ قاضي عیاض رحمه الله فرمایي چه حضرت عثمان رضی الله عنه لومړی هغه پاڼې په اوبه پرې مینځلې او بیا ئې په اور کښې وسوځولې۔ ګواکه حضرت عثمان رضی الله عنه خالي پاڼې اور ته اچولې دي او سوځولې ئې دي او قرآنکریم ئې نه دی سوځولی۔

قال العلامة ابن عابدینؒ: و فی الذخیرة المصحف اذا صار خلقاً و تعذر القراءة منه لا یحرق بالنار الیه أشار محمد و به نأخذ. (رد المحتار ج ۶، ص ۴۲۲، کتاب الحظر و الاباحة، فصل فی البیع)

و فی الهندیة: المصحف اذا صار خلقاً و تعذرت القراءة منه لا یحرق بالنار أشار الشیبانی (ای محمد) الی هذا فی السیر الکبیر و به نأخذ. (الفتاوی الهندیة ج ۵، ص ۳۲۳، کتاب الکراهیة، الباب الخامس فی آداب المسجد و القبلة و المصحف الخ)

د نیکر (چوته) د اغوستونکو په مخکښې د قرآنکریم تلاوت کول بې ادبي ده

سوال: جناب مفتي صاحب! زه یو فوجي خطیب یم او فوجي قانون دا دی چه سهار وختي فوجي ځوانان نیکرې اغوندي او د پریډ لپاره لسمبلي ته راځي ورنونه ئې برېنډ وي۔ په دې حالت کښې ما ته د دوی په مخکښې د قرآنکریم د تلاوت حکم کیږي۔ نو آیا په دې حالت کښې د هغوی په وړاندې د قرآنکریم تلاوت کول جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د امت د علماوو په اتفاق سره د سړي ورون عورت (ستر) دی پرته له کوم شرعي عذر ځخه د ورون برېنډوالی حرام او ناجائز دی۔ او په کوم ځای کښې چه خلك په ناجائزو او حرامو باندې مشغول وي په هغه ځای کښې د قرآنکریم تلاوت کول او یا ئې درس کول له قرآنکریم سره بې ادبي ده۔ نو د دې لپاره په نوموړي صورت کښې د فوجیانو په مخکښې له تلاوت ځخه پرهیز وکړی او فوجیانو ته د شریعت د پابندی تلقین وکړی۔

لما قال العلامة الحصکفیؒ: سلامك مکروه علی من یتمخط..... و من بعد ما ابدی یبس و یشرع و دع کافر ایضاً مکشوف عورة..... و من هو فی حال التغوط اشنع. (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج ۱، ص ۶۱۶، باب ما یفسد الصلوٰة و ما یکره فیها، مطلب المواضع التی یکره فیها السلام)

و فی الهندیة: و لا یسلم علی الذی یتغنی و الذی یبول و الذی یطیر الحمام و لا یسلم فی الحمام و لا علی العاری اذا کان معذوراً و لا یجب علیهم الردّ..... الخ. (الفتاوی الهندیة ج ۵، ص ۳۲۶، کتاب الکراهیة، الباب السابع فی السلام و تشمیت العاطس) و مثله فی البحر الرائق ج ۸، ص ۲۰۷، کتاب الکراهیة.

د شکیدلـــــــــي قرآنکریم ښخول جائز دي

سوال: کوم مصاحف (د قرآنکریم نسخې) چه زاړه او پرې شوي وي او د تلاوت وړ نه وي پاتې شوي نو په دا سې قرآني نسخو باندې مونږ څه وکړو؟ د شریعت له مخې ئې د حفاظت څه طریقه ده؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: فقهاء کرامو لیکلي دي چه کومې قرآني نسخې چه دومره زړې شوي وي چه تلاوت پرې ناممکن وي نو بیا ئې د مسلمان مړي غوندې په احترام سره په یوه محفوظ ځای کښې ښخ کړی تر څو د خلکو تر پښو لاندې نه شي۔ بیا هم که چیرته په کومې برخې او د اسې نورو کښې ئې واچوی او غټه تیږه هم ورسره واچوی او بیا ئې دریاب ته واچوی نو دا هم پروا نه لري۔

قال العلامة الحصکفیؒ: المصحف اذا صار بحال لا یقرأ فیه یدفن کما لمسلم، قال ابن عابدینؒ: (تحت قوله یدفن) ای یجعل فی خرقة طاهرة و یدفن فی محل غیر ممتهن لا یوطأ. (رد المحتار ج ۱، ص ۱۷۷، کتاب الطهارة، قبل باب المیاه فی ابحاث الغسل)

و فی الهندیة: المصحف اذا صار خلقاً لا یقرأ منه و یخاف ان یضیع یجعل فی خرقة طاهرة و یدفن و دفنه اولی من وضعه موضعاً یخاف ان یقع علیه النجاسة او نحو ذلك..... الخ. (الفتاوی الهندیة ج ۵، ص ۳۲۳، کتاب الکراهیة، الباب الخامس فی آداب المسجد و القبلة و المصحف الخ)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

په کومې کوتې کښې چه د قرآنکـــــــریم نسخه وي د هغې کوتې بام ته د ختلو حکـــــم

سوال: تقریباً په هرې مسلمانې کورنۍ کښې د قرآنکریم نسخه خامخا موجوده وي او خلك د ضرورت په وخت کښې بام ته خیژي نو آیا په کومې کوتې کښې چه د قرآنکریم نسخه موجوده وي د هغې بام ته ختل جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د فقهاء کرامو له واضحو عبارتونو څخه دا څرګندیږي چه په کومې کوتې کښې د قرآنکریم نسخې موجودې وي او په بام ئې څوك متیازي وکړي نو څه پروا نه لري۔ نو کله چه په کوتې کښې د قرآنکریم په موجودوالي کښې د هغې کوتې په بام باندې متیازي کول روا دي نو دغسې ختل خو به ئې په طریقهٔ اولی سره جائز دي۔

لما قال العلامة ابن عابدين: فهذا كما لو بال على سطح بيت فيه مصحف و ذلك لا يكره. (رد المحتار ج۱، ص۶۱۵)

د قیامت د ورځې په مقدار کښې د اختـــــلاف تطبیق

سوال: جناب مفتي صاحب! له څو ورځو راهیسې مې یو سوال په ذهن کښې راځي چه په قرآنکریم کښې الله تعالی د قیامت یوه ورځ په یوه آیت کښې زر کاله او په بل آیت کښې ئې پنځوس زره ښوولې دي په دې حال کښې چه دا خبره له مسلمانو څخه ده چه د قیامت خو یوه ورځ ده نو بیا د دغو مختلفو مودو له بیانولو څخه مقصد څه دی؟ د مهربانۍ له مخې زما دا اشکال دفع کړئ؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: اګر که په دغو دواړو آیتونو کښې ظاهري تعارض دی لیکن حقیقي تعارض پکښې نشته۔ الله تعالی دا مختلف وختونه د خلکو د جرانمو د فرق له وجهې بیان کړي دي چه خلکو ته د قیامت په ورځ کښې له سخت عذاب په مودي کښې اوږدوالی څرګندیږي۔

قال الشيخ اشرف علي التهانوي رحمه الله: دغه دواړه آیتونه د قیامت د ورځې په باره کښې دي او تطبیق په دواړو کښې دا دی چه مختلفو خلکو ته د اشتداد (سختی) په تفاوت سره په امتداد (اوږدوالي) کښې تفاوت وي او تفاوت به محسوسوي۔ (امداد الفتاوی ج۵، ص۱۵، کتاب ما یتعلق بتفسیر القرآن)

قال ابن عباس رضي الله عنه: هو يوم القيامة جعله الله على الكافرين مقدار خمسين الف سنة ثم يدخلون النار للاستقرار. (تفسیر قرطبی ج۱۸، ص۲۸۲، سورة المعارج) و مثله في بوادر النوادر ج۲، ص۳۷۹، دریمه برخه د نوادر، دریمه نادره)

ابلیس هم د سجـــــدې د حکم مکلف وو

سوال: د قرآنکریم له سیاق او سباق څخه څرګندیږي چه "وَ إِذْ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ اسْجُدُوا لِآدَمَ فَسَجَدُوا الخ" کښې حکم یوازې ملائکه وو ته وو په دې حال کښې چه ابلیس د ملائکه وو له جنس څخه

نه وو نو بیا الله تعالی هغه له ده د سجدې د نه کولو په بدل کښې ولې ملعون وګرځاوه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په آیت کښې اګر که په ظاهره یوازې د ملائکه وو ذکر دی لیکن دا حرفاً تغلیباً دی او که نه نو ابلیس ته هم حکم ورکړ شوی وو۔ په دې باندې قرینه د الله تعالی عتاب، سوال او ځواب دی۔ ډیر واړې د قرینه د قیام له وجهې په یوه سړي باندې حکم لګول کیږي۔

قال الشيخ اشرف علي التهانوي: هغه ته هم د سجدې حکم شوی وو او په کوم امر باندې چه قرینه قائمیږي تصریح ته ئې حاجت نه وي او دلته قرینه په قصه کښې موجوده ده او هغه دا چه کله په هغه باندې د عتاب حکایت بیان شو نو پخپله له هغه څخه څرګندیږي چه هغه هم مامور وو او دوهم دا چه په سورت اعراف کښې دا آیت چه "مَا مَنَعَكَ أَلَّا تَسْجُدَ إِذْ أَمَرْتُكَ" په دې کښې امر مصرح دی۔ اول دلیل عقلي او دوهم دلیل نقلي دی۔ (امداد الفتاوی ج۵، ص۱۲، کتاب ما یتعلق بالتفسیر)

و قال مولانا محمد ادریس کاندهلوي رحمه الله: ابلیس اګر که له ملائکه وو څخه نه وو کما قال الله تعالی "كَانَ مِنَ الْجِنِّ" لیکن د سجدې په خطاب کښې په تابعیت د ملائکه وو با لاولی داخل وو۔ (معارف القرآن ج۱، ص۹۲، سورت البقره) و مثله في تفسير ماجدي ج۱، ص۱۰۴، سورت البقره)

د معیشه ضنکاً تفسیـــــــر

سوال: جناب مفتي صاحب! په قرآنکیم کښې د الله تعالی ارشاد دی چه "وَ مَنْ أَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِيْ فَإِنَّ لَهُ مَعِيْشَةً ضَنْكًا (سورة طٰهٰ آیت ۱۲۴) له دې آیت څخه معلومیږي چه سړی د خدای له ذکر څخه اعراض وکړي یعنې مخ تري وګرځوي نو د هغه ژوند به تنګ وي حالانکه اکثره داسې څرګندیږي چه کفار او فجار کوم چه د الٰهي دین د بنسټان دي ژوند ئې ډیر آسانه وي نو په دې آیت کښې د ژوند د تنګ والي څه مطلب دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د اسلام د بنسټان او د خدای باغیان اګر که په ظاهري توګه په دنیا کښې په کافي اندازې سره آسوده حال او پُرسکون معلومیږي لیکن په حقیقت کښې ئې زړونه تنګ وي او دا خوشحالي او مسرت ئې په ظاهري توګه وي۔ همدا ډول په نوموړي آیت کښې هم باطني تنګوالی مراد دی نه ظاهري تنګوالی۔

قال الشيخ محمد ادريس كاندهلوي: په دنیا کښې داسې تحقیق چه د هغوی ژوند به تنګ وي د راحت او سکون او اطمینان څخه به خالي وي۔ د کافر په زړه باندې د حرص او ترقی دومره غلبه وي چه شپه او ورځ دوی بې آرامه وي او دولت، عزت، وجاهت او د زوال خطرات ئې هر وخت ترسترګو کیږي۔ په دوی کښې ډیر خوش قسمته دی هغه څوك چه په شپه او ورځ کښې دوه درې ساعته خوب وکړي۔ د دوی په برخه کښې هیڅکله راحت او سکون نه وي۔ نو دوی ته به د دولت څه فائده حاصله شي۔ په ظاهره ئې ډیر دولت وي لیکن د قناعت د دولت څخه زړه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

خالي وي او حيراني او پريشاني څخه نې زړه ډك وي..... الخ۔ (معارف القرآن ج٤، ص٥٩٨)

قال العلامه اشرف علي تهانوي: اين عملي متعلق به قلب است هرگز كسي را از عصاة نخواهيد ديد كه در دلش شگفتگي و فراغتي باشد سراسر پريشاني و تكدر ميباشد۔ (امداد الفتاوى ج ٥، ص ١٦، كتاب يتعلق بتفسير القرآن)

د الـــــزاني لاينكح الازانيه الخ تفسير

سوال: په قرآنكريم كښې د الله تعالى ارشاد دى چه "اَلزَّانِي لَا يَنْكِحُ اِلَّا زَانِيَةً اَوْمُشْرِكَةً وَ الزَّانِيَةُ لَا يَنْكِحُهَا اِلَّا زَانٍ اَوْ مُشْرِكٌ وَ حُرِّمَ ذٰلِكَ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ" (سورة النور آيت٣) له دې آيت څخه څرګندېږي چه له زانيې سره د نيك مسلمان سړي نكاح صحيح نه ده په داسې حال كښې چه د فقهې په كتابونو كښې صراحتاً ليكل شوي دي چه يصح نكاح الحبلى من الزنا او همد ارنګه د اسې شوي هم دي چه له يوې زانيې سره كوم نيك متقي او پرهيزګار سړي نكاح كړي وي۔ نو آيا د اسې نكاح صحيح نه ده او كه صحيح وي نو د دې آيت كريمه مطلب څه دى؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: اګر چه په دې آيت كريمه كښې مفسرين عظامو مختلف تاويلات كړي دي ليكن د جمع بين الروايات تر قانون لاندې دا قول زيات راجح معلوميږي چه له دې آيت څخه مقصود اخبار دى نه شرعي حكم۔ يعني زانيه بنځه عادتاً له يوه صالح سړي سره د نكاح كولو شوقي نه وي او نه چېرته صالح سړى له زانيې سره د نكاح كولو رغبت لري ځكه چه پاك لمن والى او عفت سره محبت يو طبعي امر دى۔ د ائمهٔ ثلاثه وو په نزد له زانيې سره نكاح د شرعي حكم د قانون لاندې جائزه او صحيح ده۔

قال القاضي ثناء الله الپاني پتي: و عند الائمة الثلاثة نكاح الزاني و الزانية صحيح ففي تفسير هذه الآية قال بعضهم معناه الاخبار كما هو ظاهر الصيغة و المعنى ان الزاني لاجل فسقه لا يرغب غالباً في نكاح الصالحات و الزانية لا يرغب فيها الصلحاء فان المشاكلة علّة الالفة و التضاد و المخالفة سبب للنفرة و الافتراق و كان حق المقابلة ان يقال و الزانية لا تنكح الا من زانٍ او مشرك لكن المراد بيان احوال الرجال في الرغبة فيهنّ لما ذكرنا انها نزلت في استئذان الرجال من المؤمنين. (تفسير المظهري ج٦، ص٤٤٢، سورة النور)

د اقيمو الصلٰوه څخه مراد لمونځ دى

سوال: د نن صبا ذكري فرقي خلك له يقيمون الصلوٰة، اقيموا الصلوٰه او د اسې نورو آيتونو څخه د نفس ذكر د اثبات لپاره استدلال پرې كوي آيا واقعي د دوى دا استدلال صحيح دى او كه له دغو آيتونو څخه يواځې لمونځ مراد دى؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: له صحيحو احاديثو او اجماع څخه دا خبره څرګندېږي چه له دې آيتونو څخه مراد او مطلب معهود لمونځ دى۔ او يواځې د الٰهي ذكر مراد ترې اخيستل او لمونځ ترې نفى كول د قرآن له تحريف سره برابره ده كوم چه كفر ترې لازميږي۔

قال العلامة ابو البركات عبد الله بن محمد النسفي رحمه الله: (وَيُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوة) اى يؤدونها فعبر عن الاداء با لاقامة لان القيام بعض اركانها كما عبر عنه با لقنوت و هو القيام و با لركوع و السجود و التسبيح لوجودها فيها..... الخ

(تفسير نسفى ج١، ص١٣، و يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوة)

و قال ابن عباسؓ و يُقيمون الصلٰوة اى يقيمون الصلٰوة بفروضها. و قال الضحاكؒ عن ابن عباسؓ اقامة الصلٰوة اتمام الركوع و السجود و التلاوة و الخشوع و الاقبال عليها فيها. و قال قتادةؒ اقامة الصلٰوة المحافظة على مواقيتها وضوئها و ركوعها و سجودها. (تفسير ابن كثير ج١، ص١٢، سورة البقرة)

(اَقِيْمُوا الصَّلٰوة) امرهم ان يصلّوا مع النبيﷺ. (تفسير ابن كثير ج١، ص٨٤) و مثله فى الدر المنثور ج١، ص٦٢، سورة البقرة.

له لمانځه څخه د باندې د قرآنكريم د تلاوت حكم

سوال: د لمانځه نه د باندې (باهر) چه د قرآنكريم كوم تلاوت كيږي آيا اوريدل نې واجب دي او كه نه؟ او كه چېرته واجب وي نو په رمضان المبارك كښې كوم قاري صاحبان او حفاظ كرام چه په لاسپيكرونو كښې تلاوتونه كوي او خلك پخپلو كارونو كښې د مشغولتيا له وجهې د قرآنكريم تلاوت نه شي اوريدلى نو آيا په دې باندې به څوك ګنهګار وي؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په دې باره كښې دوه قوله راغلي دي يو د وجوب او بل د نه وجوب۔ متاخرينو علماء كرامو د آسانتيا او سهولت لپاره دوهم قول ته ترجيح وركړې دى۔ له دې وجهې له لمانځه د باندې د قرآنكريم اوريدل واجب نه دي۔ ليكن مستحب خو خامخا دى۔

و حكى ابن المنذرؒ الاجماع على عدم وجوب الاستماع و الانصات فى غير الصلٰوة و الخطبة و ذلك ان يحابهما على كل من يسمع احداً يقرأ فيه حرجٌ عظيم لانهٗ يفتضى ان يترك له المستَمِع با تعلم علمه و المستَمِع با لحكم حكمه و المتاعان مساومتهما و تعاقدهما و كل ذى شغل شغله. (تفسير المنار ج٩، ص٥٥٢/٥٥٣)

قال الجصاصؒ فى تفسير الآية: وَ اِذَا قُرِئَ الْقُرْاٰنُ فَا سْتَمِعُوْا لَهٗ وَ اَنْصِتُوْا..... المؤمن فى سعة من الاستماع اليه الا فى صلٰوة مفروضة. (احكام القرآن ج٣، ص٣٩)

د وَعَلَى الَّذِيْنَ يُطِيْقُوْنَهٗ فِدْيَةٌ الخ حكم منسوخ دى

سوال: جناب مفتي صاحب! زمونږ په كلي كښې يو تعليم يافته سړى دى او د پنځه وخته لمونځونو پابند دى ليكن د رمضان په مياشت كښې روژې نه نيسي بلكه فديه وركوي او د ځان د خلاصون كوشش كوي په داسې حال كښې چه تندرست هم دى او پخپل دې عمل باندې د قرآن كريم دا آيت چه "وَعَلَى الَّذِيْنَ يُطِيْقُوْنَهٗ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِيْنٍ" (سورة البقرة، آيت) د دليل په توګه وړاندې كوي۔ نو آيا د صحت او تندرستى سره سره د فديې وركول او روژه نه نيول جائز دي؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د صحت په حالت كښې د روژې له نيولو پرته هيڅ يو بل عمل كه هر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

خومره لوی وي د الله تعالی په درګاه کښې مقبول نه دی۔ تر کومه ځایه پورې چه لومړی آیت اړه لري نو دا حکم د اسلام په ابتداء کښې وو لیکن وروسته په "فمَنْ شَهِدَ مِنكُمُ الشَّهرَ باندې منسوخ شو۔ له دې وجهې د نومورې سړي په دې آیت کریمه باندې د فدیې د جواز استدلال صحیح نه دی۔

لما قال الحافظ ابن کثیرؒ: (وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍ) فکان من شاء صام و من شاء اطعم مسکیناً فاجزا ذلک عنه ثم ان الله عز وجل انزل الآیة الاخری (شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِيْ اُنْزِلَ فِيْهِ الْقُرْاٰنُ) الی قوله (فَمَنْ شَهِدَ مِنكُمُ الشَّهرَ فَلْيَصُمْهُ) فاثبت صیامه علی المقیم الصحیح و رخص فی للمریض و المسافر و ثبت الاطعام للکبیر الذ لا یستطیع الصیام. (تفسیر ابن کثیر ج۱، ص۲۱٤، سورة البقرة)

حدثنا ابن حمید قال ثنا جریر عن منصور عن ابراهیم عن علقمة فی قوله (وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍ) قال کان من شاء صام و من شاء افطر و اطعم نصف صاع مسکیناً فنسخها (شَهْرُ رَمَضَانَ .....) الی قوله (فَمَنْ شَهِدَ مِنكُمُ الشَّهرَ) عن مغیرة عن ابراهیم بنحوه و زاد فیه قال فنسخها هذه الآیة و صارت الآیة الاولی للشیخ الذی لا یستطیع الصوم یتصدق مکان کل یوم علی مسکین نصف صاع.

ثنا ابن ادریس قال سألت الاعمش عن قوله (و عَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍ).

فحدثنا عن ابراهیم عن علقمة قال نسخها. (فَمَنْ شَهِدَ مِنكُمُ الشَّهرَ فَلْيَصُمْهُ). (جامع البیان ج۲، ص۱۳۳، سورة البقرة) و مثله فی الدر المنثور ج۱، ص۳۲۲، سورة البقرة.

د قرآني آیتونو له عربي رسم الخط پرته د یو اخې ترجمې د خپرولو حکم

سوال: جناب مفتي صاحب! نن صبا په اخبارونو او رسائلو او جرائدو کښې له عربي متن پرته د قرآني آیتونو ترجمې شائع کیږي۔ نو آیا یو اخې د ترجمې شائع کول یا خپرول جائز دي او که نه؟ په دا سې حال کښې چه په اخبارونو کښې د قرآنکریم د آیتونو لیکل د قرآنکریم توهین هم دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د امت د علماوو په دې خبرې باندې اجماع دی چه له عربي متن پرته د قرآن د ترجمې خپرول حرام او ناجائز دي۔ د دېډول اعمالو ځخه اجتناب وکړی۔ په دې موضوع باندې د حضرت مولانا مفتي محمد شفیع صاحبؒ یو کتاب "جواهر الفقه" خپور شوی دی۔ د زیات تفصیل لپاره هغه ته مراجعه وکړی۔ البته د یوه یا دوو آیتونو د ترجمې خپرول په دې حکم کښې د اخل نه دي۔ هوا که چېرته په دې سره د قرآنکریم توهین مقصود وي نو دا نور هم حرام او ناجائز دی چه ځان سائل تري واجب دي۔

قال الشیخ ابن الهمام رحمه الله: و فی الکافی ان اعتاد القراة با لفارسیة او اراد ان یکتب مصحفاً بها یمنع و ان فعل فی آیة او آیتین لا فان کتب القرآن و تفسیر کل حرف و ترجمته جاز آه. (فتح القدیر ج۱، ص۲٤۸، باب صفة الصلوة)

قال العلامة الحصکفی رحمه الله: و تجوز کتابة آیة او آیتین با لفارسیة لا اکثر. (قال الشامی) و الظاهر ان الفارسیة غیر قید الخ. (الدر المختار مع رد المحتار ج۱، ص٤٥۳، مطلب فی حکم القراة با لفارسیة او التوراة و الانجیل)

د تولو سورتونو نومونه توقیفي دي

سوال: جناب مفتي صاحب! د قرآن کریم د یو سل او خوارلس سورتونو نومونه کوم چه مشهور دي ثبوت ني له حضور ﷺ ځخه شوی دی او که علماء کرامو دا نومونه پرې اینبي دي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د قرآنکریم د تولو سورتونو نومونه توقیفي دي۔ رسول الله ﷺ په الهي حکم سره پخپله دا نومونه پرې اینبي دي۔ علماء کرام په دې کښې هیڅ مداخله نه ده کړې۔

قال الامام ولی الدین محمد بن عبد الله الخطیب العمری: عن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ لا تجعلوا بیوتکم مقابر ان الشیطٰن ینفر من البیت الذی یقرا فیه سورة البقرة. رواه مسلم. (مشکوة مترجم اردو ج۱، ص٤٥۸، فضائل القرآن)

قال الشیخ المفتی محمد شفیعؒ: (سوال) زید وایي چه د بقرې سورت نوم الله تعالی او رسول الله ﷺ نه دی اینبی، علماوو پخپله دا نوم په دې سورت باندې اینبی دی۔ آیا د زید دا خبره صحیح ده او که نه؟

(الجواب) د زید خبره غلطه ده، په ګنو احادیثو کښې له رسول الله ﷺ ځخه د سورتونو نومونه راغلي دي، د مسلم شریف په یوه حدیث کښې راغلي دي چه: اقرؤا الزهراوین البقرة و سورة آل عمران. الحدیث. رواه مسلم. (مشکوة)

ان الشیطٰن ینفر من البیت الذی یقرؤ فیه سورة البقرة، الحدیث، رواه مسلم. (مشکوة) و الله اعلم. (عزیز الفتاوی ج۱، ص۱۳٤، کتاب السنة و البدعة)

د هـــاروت او مـــاروت د کیسې تحقیق

سوال: په سورت بقره کښې چه د هاروت او ماروت په نامه سره چه کومه قصه مشهوره ده ځینې علماوو ني په سختي سره تردید کړی دی په دا سې حال کښې چه په ځینو تفاسیرو کښې په سند سره دا کیسه راغلي ده۔ د دې کیسې اصل حقیقت څه شی دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: هاروت او ماروت یوه اسرائیلي واقعه ده اګر که ځینې مفسرینو دا واقعه په صحیح سند سره ذکر کړې ده لیکن د منتهي په اعتبار سره دا یوه اسرائیلي واقعه ده چه د دې په باره کښې مسلمانانو ته دا حکم دی چه د اسرائیلیاتو مه تصدیق او مه تردید کوی او مه تکذیب بلکه په دې باره کښې له توقف ځخه کار واخلی۔

قال المفتي محمد شفیع رحمه الله: (الجواب) د هاروت او مارت کیسه په تفسیر معالم التنزیل او نورو تفاسیرو کښې ډیر مفصل لیکل شوی دی لیکن دا ټول اسرائیلي روایتونه دي۔ لاندې سندونه ني اګر که قوي هم دي لیکن د تولو منتهایي سندونه په اسرائیلي روایتونو پورې ترلي دي چه حکم ني دا دی چه نه ني تصدیق وکړی او نه تکذیب۔ الغرض له حضور ﷺ ځخه د دې کیسې ثبوت په یوه روایت کښې هم نشته او په اسرائیلي روایتونو کښې ني ثبوت شته چه هغو لره اعتبار نشته۔ و الله تعالی اعلم۔ (امداد المفتیین ج۲، ص۲۲۳، کتاب التفسیر)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

قال العلامة قاضی محمد ثناء الله پانی پتیؒ: و هذه القصة من اخبار الاحاد بل من الروايات الضعيفة الشاذة و لا دلالة عليها في القرآن بشيء..... و بعد اسطر: قال العاصی ان هذه الاخبار لم يرو منها شيء صحيح و لا سقيم عن النبی ﷺ قال و هذه الاخبار من كعب اليهود و افترائهم الخ. (التفسير المظهری ج۱، ص۱۰۹، سورة البقرة) و مثله فی معارف القرآن للشيخ محمد ادريس كاندهلویؒ ج۱، ص۱۹۱.

د حضرت ابراهيم عليه السلام د ذبيحي غوښه چا وخوړه

سوال: څه فرمايي علماء کرام د دي مسئلي په باره کښې چه حضرت ابراهيم عليه السلام چه د حضرت اسمٰعيل عليه السلام په ځای کوم مړ يعنې پسه حلال کړی وو غوښه ئې چا وخوړه؟ په دي باره کښې له خلکو څخه ډير شيان اوريدل کيږي؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د حضرت ابراهيم عليه السلام د ذبيحي د غوښې په باره کښې د تفسير حاوي خاوند ليکلي دي چه درندګانو او مرغانو ئې غوښه وخوړه څکه چه پخول ئې مشکل بلکه ناممکن وو څکه چه په جنتي غوښې باندې اور اثر نه شي کولی۔

قال العلامة الصاوی رحمه الله: و بقی قرناه معلقين على الكعبة الى ان احترق البيت فی زمن ابن الزبير و ما بقی من الكبش اكلته السباع و الطيور لان النار لا تؤثر فيها هو من الجنة. (حاشية العلامة الصاوی على الجلالين ج٤، ص٣٤٣، سورة الصافات)

قال العلامة سليمان بن عمرؒ العجيلی الشافعی الشهير با لجمل رحمه الله: و قد بقی قرناه معلقين على الكعبة الى ان احترق البيت فی زمن..... و من المعلوم المقرر ان كل ما هو من الجنة لا تؤثر فيه النار فلم يطبخ لحم الكبش بل اكلة السباع و الطيور تأمل. (التفسير الجمل ج٣، ص٥٤٩، سورة الصافات) و مثله فی بدائع الزهور فی وقائع الدهور ص٨٠، قصة ذبح اسمٰعيل عليه السلام.

د "قَالُوْا اَلَمْ تَكُنْ اَرْضُ اللّٰهِ وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُوْا فِيْهَا" آيت تشريح او تحقيق

سوال: په پاکستان کښې دا وخت په قرآن او سنتو باندې مبني نظام نافذ نه دی او ټول معاشي او اقتصادي نظامونه ئې په سود او حرامي روزی باندې ولاړ دی او کفري انګريزي قانون پکښې نافذ دی۔ د قرآن مجيد په پنځمي سيپاري، يوولسمي رکوع د اول آيت په تشريح کښې علامه عثماني رحمه الله فرمايي چه: "ځينې مسلمانان د اسي هم دي چه په زړه کښې خو رينتونی مسلمان وي ليکن د کافرو په حکومت کښې وي او له هغوی څخه مغلوب شوی وي او د کفارو د ويرې له وجهې نه آزادي اسلامي خبرې کولی شي او نه د جهاد حکم چا ته کولی شي پس په هغو باندې فرض دي چه له هغه ځای څخه هجرت وکړي۔۔ الخ" او همدغه مضمون شاه عبد القادر محدث دهلوي رحمه الله هم ليکلی کوم چه په تفسير موضح القرآن کښې دی۔ دی فرمايي فايده: له دي څخه څرګنده شوه چه په کوم ملک کښې مسلمانان په آزاد انه توګه نه شي اوسيدلی له هغه ملک څخه هجرت فرض دی"۔ نو آيا د پاکستان په مسلمانانو باندې د دي آيت

له مخې د کفري نظام د رواج له مخې هجرت فرض دی او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: هجرت له دار الحرب او د دار الكفر څخه کيږي په د اسي حال کښې چه پاکستان دار الاسلام دی چه پکښې مسلمانانو ته د ټولو ديني امورو، تبليغ او جهاد په عملي توګه په ادا کولو کښې هيڅ پابندي نشته ليکن د ايماني کمزورۍ له وجهې د پاکستان خلك د خپلو فرائضو په ادا کولو کښې د روايتي غفلت ښکار دي۔ او د آيت کريمه تفسير او تشريح هغه دی کوم چه اکابرينو کړی دی او په دي مقام باندې علامه شبير احمد عثماني نور وضاحت کوي او فرمايي چه: "د کفارو د ويرې له وجهې نه اسلامي خبرې کولی شي او نه د جهاد د حکم تعميل او تکميل کولی شي نو هجرت په هغو خلکو باندې فرض دی" ۔ د دي وجهې د فرائضو د سر ته رسولو په صورت کښې د مذکوره آيت له مخې له پاکستان څخه هجرت فرض نه بلکه دا لازمي او ضروري ده چه دا نظام لرې کړي او په ځای ئې شرعي نظام نافذ کړي۔ (تفسير عثماني ص۱۲۳، پاره۵، سورت النساء، ع۱۱)

قال العلامة قاضی ثناء الله القانی فتیؒ: الم تكن ارض الله واسعة فتهاجروا فيها يعنی كنتم قادرين على الخروج من مكة الى ارض لا تمنعون فيها من اظهار الاسلام و مخالفة الكفار و اعلاء كلمة الله كما فعل المهاجرون الى المدينة و الحبشة و نصب فيها جروا على جواب الاستفهام. (التفسير المظهری ج۲، ص۲۰۸، پ۵، سورة النسآء) و مثله فی تفسير روح المعانی ج۲، ص۱۲۶، پ۵، سورة النسآء.

له مسخې څخه مخکښې د شيطان له ملائکو څخه د بهترۍ مسئله

سوال: څه فرمايي علماء کرام د دي مسئلي په باره کښې چه د بارګاه الٰهي څخه تر وتلو مخکښې د شيطام علم له ملائکه وو څخه ډير وو او که نه؟ او په هغه وخت کښې شيطان تر نورو ملائکو افضل وو او که ملائکې افضلي وې؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د شيطان په باره کښې په تفسير ابن کثير کښې مختلف عبارتونه راغلي دي چه له هغو څخه څرګند ثبوت را ووځي چه كان قبل المسخ من اشراف الملائكة، خازن الجنة، سلطان سماء الدنيا و الارض او همد ارنګه په علم اجتهاد کښې له ملائکه وو څخه پورته وو۔

قال العلامة عماد الدين ابن كثيرؒ: كان من اشدهم ای اشد الملائكة اجتهاداً و اكثرهم علماً. كان من اشراف الملائكة من ذو الاجنحة الاربعة كان من اشراف الملائكة و اكرمهم قبيلةً و كان خازناً على الجنان، كان له سلطان السمآء الدنيا و كان لهٗ سلطان الارض و كان يسوس ما بين السمآء و الارض فعصٰى فمسخه الله شيطاناً رجيماً، كان ابليس رئيس ملائكة سماء الدنيا. (تفسير ابن كثير ج۱، ص۷۵، سجود الملائكة لآدم)

قال العلامة بدر الدين محمد بن عبد الله الشبلي الحنفیؒ: قلت و قد ذكر الطبری فی تاريخه قول ابن عباسؓ قال قال ابن عباسؓ كان ابليس من اشرف الملائكة و اكرمهم قبيلة و كان خازناً على الجنان و كان لهٗ سلطان السمآء الدنيا و كان لهٗ سلطان الارض. (آكام المرجان فی احكام الجان ص۱۵۵، الباب فی بيان هل كان ابليس من الملائكة) و مثله فی حياة الحيوان الكبرٰی للدميریؒ ج۱، ص۲۹۸، سورة الجن)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

د وَ اللّٰهُ اَنْبَتَكُمْ مِّنَ الْاَرْضِ نَبَاتاً آیت او د ډارون د ارتقاء نظریه

سوال: جناب مفتي صاحب! یو سړی دا وایي چه حضرت آدم علیه السلام د روح له ور اچولو نه مخکښې هم ژوندی وو لیکن شکل او صورت ئې د حیوان غوندې وو او په دې حیواني شکل کښې د جمـــــاد اتو او نباتاتو له مراحلو څخه تیر شوی او دې مرحلې ته رسیدلی وو او وَ اللّٰهُ اَنْبَتَكُمْ مِّنَ الْاَرْضِ نَبَاتاً (سورة نوح) د دې آیت مطابق خو د حضرت آدم علیه السلام د جسماني تخلیق د هغو پخپلې دې عقیدې باندې دوی د قرآنکریم په دې آیت باندې استدلال کوي چه مـــــراحلو څخه له نومورېو مراحلو څخه تیریدل او حیواني شکل ته د رسیدلو او ډارون د ارتقاء نظریه ثابتیږي. د مقدس شریعت له مخې په دې آیت باندې د دوی استدلال صحیح دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په پورته ذکر شوي آیت کریمه سره د ډارون د ارتقاء نظریه ثابتول سراسر تحریف او غلط دی په دا سې حال کښې چه په قرآنکریم کښې تحریف کفر دی۔ برسیره پر دې آیت نور آیتونه هم د حضرت آدم علیه السلام د تخلیق په باره کښې ښکاره ثبوتونه دي چه په هغو کښې د ارتقاء د نظریې بالکل شائبه هم نشته بلکه په دې آیت کریمه کښې د غور له کولو څخه د ارتقاء د نظریې نفی ثابتیږي۔

قال العلامة جلال الدین سیوطیؒ: وَ اللّٰهُ اَنْبَتَكُمْ ای خلقکم مِّنَ الْاَرْضِ نَبَاتاً اذ خلق اباکم آدم منها. (تفسیر جلالین سورة نوح پاره ۱۹، آیت ۱۷)

قال العلامه شبیر احمد عثمانیؒ: یعنی له زمکې څخه ئې ښه په جماو سره پیدا کړ۔ اول ئې زمونږ پلار آدم علیه السلام له خاورې څخه پیدا کړ او بیا نطفه چه له هغې څخه بنې آدم پیدا کیږي۔ د غذا خلاصه هغه ده چه له خاورې څخه را ووځي۔ (تفسیر عثماني ص۷۵۷، سورت نوح، آیت ۱۷)

قال العلامة قاضی ثناء الله الفانی فی رحمه الله: وَ اللّٰهُ اَنْبَتَكُمْ ..... ای انشأکم فاستعیر الانبات للانشأ لانهٗ ادل علی الحدوث، مِنَ الْاَرْضِ بان خلق اباکم آدم منها او بانه خلقکم من النطف و النطف من الغذاء المنبت من الارض نَبَاتاً..... تقدیره وَ اللّٰهُ اَنْبَتَكُمْ فنبتم نباتاً فاقتصر اکتفاء بما لدلالة اللالتزامیة. (التفسیر المظهری ج۱۰، ص۷۶، سورة نوح) و مثله فی تفسیر البحر المحیط ج۸، ص۳۴۰، سورة نوح.

د مِنَ الْجِنَّةِ وَ النَّاسِ تفسیر او مصداق

سوال: د قرآنکریم په څینې پښتو تفسیرونو کښې د سورت و الناس آیت مِنَ الْجِنَّةِ وَ النَّاسِ ترجمه ئې دا سې کړې ده چه "پیریان اوسړي دي په انسانانو کښې بدعتیان، مشرکان، پیران او ملایان دي" آیا د دې آیت کریمه دغه تفسیر، ترجمه او مصداق صحیح دی او آیا د الناس ترجمه په سړي سره صحیح ده؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د من الجنّة و النّاس پښتو ترجمه دا ده "له جناتو او انسانانو څخه" تر څو چه سړي او ښځې ټول پکښې شامل شي او سړی او ښځه دواړه د حضرت آدم علیه السلام اولاد دي څکه دوی ته "آدمي" یعني د آدم علیه السلام خوا ته منسوب ترجمه ئې هم شوې ده۔ د دې لپاره په آدم کښې سړی او ښځه دواړه داخل دي۔ او له سړي سره په ترجمه کښې په ښځې تغلیباً داخلې وي۔ نو له دې وجهې په سړي سره ترجمه هم صحیح ده۔ حضرت شیخ الهند رحمه الله د دې مبارک آیت ترجمه دا سې کړې ده چه "په جناتو کښې او آدمیانو کښې" یعني له جناتو څخه او سړیو څخه او په انسانانو کښې ئې مصداق هغه څوک دی چه د خلکو په زړونو کښې وسوسې اچوي که له هري طبقې سره ئې تعلق وي۔

په فوائد عثمانیه کښې لیکلي دي چه شیطان په پیریانو کښې هم شته او په انسانانو کښې هم۔ وَ كَذٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا شَيٰطِيْنَ الْاِنْسِ وَ الْجِنِّ يُوْحِيْ بَعْضُهُمْ اِلٰى بَعْضٍ زُخْرُفَ الْقَوْلِ غُرُوْرًا. (سورة انعام، ع۱۴)

(تفسیر عثمانی ص۸۰۷، سورة الناس)

قال العلامة مراد علیؒ: مِنَ الْجِنَّةِ وَ النَّاسِ له پیریانو او سړو نه یعني له شیطانانو د جنّ او انس څخه۔

(تفسیر یسیر فوق الیسیر ج۲، ص۱۰۵۱، سورة الناس) و مثله فی تفسیر عثمانی کابلی پښتو ج۲، ص۱۷۸۲، سورة الناس.

د اِنَّهٗ مِنْ سُلَيْمَانَ وَ اِنَّهٗ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ آیت تحقیق

سوال: د قرآنکریم د پښتو په یوې ترجمې کښې د دې آیت کریمه چه اِنَّهٗ مِنْ سُلَيْمَانَ وَ اِنَّهٗ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ترجمه دا سې کړې ده چه "دا کاغذ له سلیمان نه دی" مطلب دا دی چه امداد غواړي یواځې د الله تعالی په نامه چه بې حده مهربانه او رحم ئې خوی دی" نو آیا حضرت سلیمان علیه السلام پخپله له دې آیت څخه ابتدا کوي او که ملکهٔ صبا ته حکم کوي چه ته استعانت علی اسم الله یعني بسم الله ولوله؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په دې آیت کښې د بسم الله د ویلو حکم ملکه صبا ته نه دی بلکه دا د حضرت سلیمان علیه السلام له خوا استعانت باسم الله تعالی علی الغیر دی۔ لکه څرنګه چه په عامه توګه بسم الله الرحمٰن الرحیم د هر نیک کار په شروع کښې لوستل کیږي کوم چه د خیر او برکت باعث دی۔

قال العلامة القرطبیؒ: لانهٗ بدأ فیه بسم اللّٰهِ الرحمٰن الرحیم و قد قال ﷺ کل کلام لا یبدأ فیه بسم الله الرحمٰن الرحیم فهو اجذم. (تفسیر قرطبی ج۱۳، ص۱۹۱، سورة النمل)

قال العلامة الآلوسیؒ: و کتابة البسملة فی اوائل الکتب مما جرت به سنّة نبیّنا ﷺ نزول هذه الآیة بلا خلاف..... عن الشعبیؒ قال کان اهل الجاهلیة یکتبون باسمک اللّٰهم فکتب النبی ﷺ اوّل ما کتب باسمک اللّٰهم حتی نزلت بسم الله مجریها و مُرْسٰهَا فکتب بسم الله ثم نزلت (اُدعو اللّٰهَ اَو ادْعُو الرَّحْمٰنَ) فکتب بسم الله الرحمٰن ثم نزلت آیة النمل الخ.

(تفسیر روح المعانی ج۷، ص۱۹۵، سورة النمل) و مثله فی الدر المنثور ج۶، ص۳۵۴، سورة النمل.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

د "لعمرك" (سورت الحجر) جمله قسميه ده

سوال: د قرآنکريم په ځينو پښتو ترجمو کښې د سورت الحجر په آي ۷۲ کښې د لعمرك ترجمه دلسې شوې ده (الله دې ژوندی ساتي تا (اې نبي)) نو آيا دا جمله قسميه ده او که دعائيه؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: "لعمرك" جمله قسميه ده۔ دا مبتدا ده چه خبر ئې وجوباً محذوف دی او "انهم" او خبر ئې د قسم جواب دی۔ د عبارت تقدير دلسې دی لعمرك قسمي۔

قال المحشّی لجلالين: قوله لعمرك آه لعمرك مبتداء محذوف الخبر وجوباً و انهم وما فی حيزه جواب القسم تقديره لعمرك قسمی او بمعنی اتهم و العمر و العمرك با لفتح والضم هوالبقاء الا انهم التزموا الفتح فی القسم. (هامش الجلالين ص ۲۱٤، سورة الحجر، ع۵)

قال العلامة القاضی ثناء الله پانی پتیؒ: لعمرك يا محمد و حياتك قسمی و هو لُغة فی العمر يختص به القسم لا يثار الاحلى فيه لانه كثير الدور على الالسنة. قال البغویؒ: روی عن ابی الجوزاء عن ابن عباس قال ما خلق الله نفساً اكرم عليه من محمدﷺ و ما اقسم بحيٰوة احد الاّ بحياته. (التفسير المظهری ج۵، ص ۳۱۰، سورة الحجر) و مثله فی تفسير القرطبی ج۵، ص ۳۹، سورة الحجر.

د تفسير جواهر القرآن پخپله ويل او نورو ته ئې د لوستلو حکم

سوال: د تفسير جواهر القرآن مؤلف شيخ الحديث و القرآن مولانا غلام الله خان مطالعه کول او بل چا ته ويل ئې څنګه دي؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د تفسير جواهر القرآن لوستل او ور ښودل دلسې دی لکه تفسير کشاف غوندې او دا تفسير د العالم العارف حضرت العلامه مولانا حسين علي الفنجابي د تفسيري نکاتو او فوائدو او افاداتو مجموعه ده۔ د حضرت الشيخ قدس سره العزيز فهم القرآن او تفسيري فوائدو او نکاتو په مسئلهٔ توحيد کښې استغراق ته د دين علماوو په ښه نظر کتلي دي۔

شيخ الحديث حضرت مولانا غورغوشتوي قدس سره العزيز د دې تفسير په تقريظ کښې ليکي: انی نظرتُ فی هذا التفسير و كررت النظر و المطالعة فوجدته بحمد الله و منّه نافعاً مفيداً للناس مباركاً. (تقريظ مولانا نصير الدين غورغشتویؒ علی تفسير جواهر القرآن ج۱، ص۸)

قال العلامة محمد يوسف البنوریؒ: و فی اثناء ذٰلك تتابعت تراجم القرآن و فوائده التفسيرية بعضها صحيحة من اهل الحق كتفريرات ترجمة القرآن الفاذها العالم العارف مولانا الشيخ حسين علی الفنجابیؒ طال بقائه من تلامذة قطب العصر مولانا المحدث ابی مسعود رشيد احمد گنگوهی الديوبندیؒ. (البيان لمشكلات القرآن ص ۳۹) و مثله فی مقدمة لامع الدراری لمحمد زكريا السهارنفوری ج۱، ص ۱۵۰.

د سليمان عليه السلام د ګوتې او د شيطان د بادشاهۍ کيسه

سوال: څه فرمايي علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چه ځينې خلك په درس قرآن کښې د حضرت سليمان عليه السلام دا واقعه بيانوي چه حضرت سليمان عليه السلام خپله ګوتې

امنه بي بي سره د غسل په وخت کښې د ګوتې نه و ايسته او کې ئې ښوده۔ بيا شيطان د حضرت سليمان عليه السلام په شکل کښې راغی او ګوتې ئې واخيسته او بادشاه شو۔ بيا حضرت سليمان عليه السلام له يوه ماهي ګير (کب نيوونکي) سره نوکر شو، ځلوېښت ورځې وروسته شيطان تخت پرېښوده او د سليمان عليه السلام ګوتې ئې درياب ته وغورځوله او بيا سليمان عليه السلام خپلې ګوتې لره د کب له نس څخه وايستله او بيا بادشاه شو او شيطان ئې درياب ته واچاوه نو آيا دا واقعه ريښتيا ده او که نه؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د دې واقعې بنياد په يوه اسرائيلي روايت باندې قائم دی کوم چه دروغ او يا لکل غلط دی۔ شيطان د يوه نبي په شکل کښې هم نه شي جوړېدلی او نه خپل شکل د نبي عليه السلام په شکل باندې جوړولی شي۔

قال الامام محمد بن سيرين التابعیؒ: ان الشيطٰن يتمثل فی الرؤيا بكلّ شیء الا با لله تعالی و ملائكته و رسله. (منتخب الكلام فی تفسير الاحلام علی هامش تعطير الانام ج۲، ص۵)

قال العلامة شبير احمد العثمانیؒ: اكثره مفسرين د آيت تفسير بل ډول کړی دی او په دې موقع کښې ئې ډيرې بې سره او سامانه کيسې د سليمان عليه السلام د ګوتيې او د پيريانو نقل کړي دي۔ ابن كثير ليکي: و قد رويت هذه القصة مطولة عن جماعة من السّلف رضی الله عنهم و كلّها متلقاة من قصص اهل الكتب. (تفسير عثمانی ص۶۰۷، سورة صٓ) و مثله فی التفسير المظهری ج۸، ص ۱۸۱، پاره ۲۳، سورة صٓ.

په پښتو ژبې کښې د قرآنکريم معتبر تفسيرونه

سوال: په پښتو ژبه کښې د قرآنکريم ډير تفاسير ليکل شوي دي چه هر يو په مختلف انداز کښې ليکل شوی دی لکه ځينې ئې پيرانو او مقبرو ته تلل جائز بللي دي او ځينې ناجائز۔ مړي نه اوري او ځينو ويلي چه اوري، دعا وروسته تر سنتو جائزه ده او دلسې نور۔ لهذا د مطالعې لپاره په پښتو ژبې کښې کوم دلسې تفسير شته چه ويل ئې او بل ښوول ئې ډير مفيد وي؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: تفسير معارف القرآن (از مفتي اعظم پاکستان مفتي محمد شفيع صاحب رحمه الله) او تفسير عثماني (از علامه شبير احمد عثماني ترجمه د شيخ الهند مولانا محمود حسن رحمه الله) په پښتو ژبې کښې شائع او خپاره شوي دي دا دواړه تفسيرونه ښه معتبر تفسيرونه دي چه خپله مطالعه کول او بل ته ئې ور ښوول ډير مفيد دی۔

له دې برسيره لائديني تفسيرونه هم د مطالعې لپاره مفيد دي۔

(۱) تفسير حبيبی لمولانا الحاج حبيب الرحمٰن خلف الرشيد شيخ المفسرين مولانا محمد حسنؒ.

(۲) موضح القرآن، بيضاوی، فتح الرحمٰن، روح البيان، ابن كثير، فتح البيان.

(۳) تفسير حسينی (پښتو) ترجمه شاه ولی الله الدهلویؒ پښتو ترجمه ملاّ عبد الله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

د حضـــــرت یوسف علیه السلام په بـــــرائت کښې د کوچنې هلک دګواهۍ مسئلـــــه

سوال: په حضرت یوسف علیه السلام باندې زلیخا چه کوم بې بنیاده الزام لګولی وو نو د ده مبارک د برائت ګواهي چاکړې وه۔ او کوم ګواه چه په قرآنکریم کښې ذکر دی چه "و شهد شاهدٌ من اهلها" (سورت یوسف، آیت ۲۶) نو دغه شاهد څوک وو آیا کوم بالغ سړی وو او که کوم تې رودونکی کوچنی وو؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: هغه ګواه کوچنی هلک وو چه د مور په غیږ کښې نې تی روده او د یوسف علیه السلام په معجزې سره وغږیده او د یوسف علیه السلام په برائت او نزاهت باندې نې ګواهي ورکړه۔ (تفسیر بیان القرآن ج۵، ص۷۶، سورت یوسف)

و شهد شاهدٌ مّنْ اَهْلِهَا ای ابن عمها روی انّه کان فی المهد و علی هامش الجلالین قوله روی انه ای الشّاهد کان فی المهد صبیّا۔ و فی الحدیث لم یتکلم فی المهد الا اربعة و ذکر منها شاهد یوسف۔ رواه احمد عن ابن عباسؓ۔ (حاشیة جلالین ج۱، ص۱۹۲، سورة یوسف، پاره ۱۲) ومثله فی تفسیر عثمانی ج۱، ص۳۱۶، فائده ٤/٥، سورة یوسف، پ۱۲۔

د حنفیانوؒ په نزد د سورت حج دو همه سجده

سوال: په سورت الحج کښې دوه سجدې دي اوله سجده خو نې د حنفیانوؒ په نزد کیږي او دوهمه نې نه کیږي۔ نو دا دوهمه سجده د حنفاوؒ په نزد ولې نه کیږي او همدارنګه د دې سجدې حکم په لمانځه کښې او له لمانځه څخه باندې څه دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په امداد الفتاوی ج۱، ص۳۷۱ کښې دي چه د حنفیه ووؒ په نزد اوله سجده واجبه ده او دوهمه سجده نه ده واجبه۔ لیکن حنفیه ووؒ دا کلیه لیکلې ده چه په اختلافي مسائلو کښې د اختلاف مراعات ساتل افضل دي خو په دې شرط چه د خپل مذهب په نزد د مکروه ارتکاب ترې و نه شي۔ نو د دې قاعدې په بناء سره د لمانځه نه د باندې د دوهمې سجدې کول بهتر دي البته د لمانځه د ننه چونکه سجدهٔ زائده پرته له کوم سبب څخه د لمانځه د موضوع خلاف دی نو له دې وجهې د لمانځه د ننه دوهمه سجده مه کوی۔ لیکن په یوه خاصه طریقه سره نې په لمانځه کښې د ننه هم کولی شی چه د مکروه له مرتکب والي څخه هم پرې بچ کیږی او هغه دا چه د دوهمې سجدې آیت ولولی نو فوراً رکوع ته لاړ شی نو د لمانځه په سجدې کښې دا سجده هم ادا کیږي۔ په هر حال د سورت حج دوهمه سجده د حنفیه ووؒ په نزد ثابته نه ده بلکه هغه د لمانځه سجده ده۔

قال العلامة الکاسانیؒ: و لما ما روی عن ابی هریرة رضی الله عنه انه عدد السجدات التی سمعها من رسول اللهﷺ وعد فی الحج سجدة واحدة و قال عبد الله بن عباسؓ و عبد الله ابن عمرؓ سجدة التلاوة فی الحج هی الاولی و الثانیة سجدة الصلوة و هو تاویل الحدیث و هذا لان السجدة متی قرنت بالرکوع کانت عبارة عن سجدة الصلوة کما فی قوله تعالی:

فاسْجُدی و ارْکَعی۔ (بدائع الصنائع ج۱، ص۱۹۳، فصل و اما بیان مواضع السجدة)

و قال العلامة علاؤ الدین الحصکفیؒ: منها اولی الحج اما ثانیة فصلاتیة لاقترانها بالرکوع۔ و قال ابن عابدینؒ: لان السجدة متی قرنت بالرکوع کانت عبارة عن السجدة الصلاتیة کما فی قوله تعالی: و اسْجُدی و ارْکَعی۔ بدائع۔ (الدر المختار علی هامش رد المحتار ج۱، ص۵۶۵، باب سجود التلاوة) و مثله فی حاشیة الطحطاوی ج۱، ص۳۹۲، باب سجود التلاوة۔

د "و قیل من راق" (الآیه) پښتو تـــــرجمه

سوال: د دین علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې څه فرمایي چه د سورت القیامه ۲۷ آیت "و قیل من راق" پښتو ترجمه د لسې شوې ده "او و به ویلی شي چه څوک غواړي هغه به ووایي چه دم ګری غواړم د مریض خپلوان به پوښتنه وکړي چه څوک غواړي نو هغه به ووایي چه دموونکی غواړم"۔ نو آیا دا ترجمه صحیح ده او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: علامه شبیر احمد عثمانی د دې آیت ترجمه د لسې کړې ده "او خلك وایي چه دموونکی څوک دی؟" علامه عثمانیؒ په فائده کښې لیکي چه "د دلسې مایوسی په وخت کښې د طبیبانو او ډاکترانو هیڅ نه چلیږي"۔ کله چه خلك له ظاهري علاج او تدبیر څخه عاجزه شي نو دمونو او تعویذونو ته منډې وهي او وایي چه صاحبه دلسې څوک شته چه دم او تعویذ وکړي او دا سړی له مرګه خلاص کړي۔ او ځینو سلفو ویلي دي چه "من راق" د ملائکو کلام دی چه د ملك الموت سره د انسانانو د روحونو د قبضولو لپاره راځي هغوی پخپل منځ کښې پوښتنې سره کوي چه څوک د دې مړي روح وړي؟ د رحمت فرښتې او د عذاب فرښتې؟ په دې تقدیر باندې "راقي" له رقی څخه مشتق دی چه معنی نې ده "پورته ختل"۔ له رقیه څخه به نه وي کوم چه د دم معنی ورکوي۔ (تفسیر عثمانی ص۷۶۸، سورت القیامه پاره ۲۹)

قال العلامة ثناء الله پانی پتی رحمه الله: و قِیْلَ مَنْ سکنة رَاقٍ ای قال حاض و المحتضر من یرقیه ممن به من الرقیة کذا قال قتادة او قالت الملائکة الموت ایکم یرقی بروحه ملائکة الرحمة او ملائکة العذاب من الرق کذا قال سلیمان التیمی و مقاتل بن سلیمان۔ (التفسیر المظهری ج۱۰، ص۱۴۵، سورة القیامة) و مثله فی معالم التنزیل (تفسیر البغوی) ج٤، ص٤٢٤، سورة القیامة)

حضـــــرت سلیمان علیه السلام د خپلو اسونو د قتل کولو د واقعې تحقیق

سوال: ځینو مفسرینو حضراتو د سلیمان علیه السلام دا واقعه ذکر کړې ده چه دی د خپلو اسونو په ساتنه کښې مشغول وو چه د مازدیګر لمونځ تر قضا شو او له دې وجهې نې خپل ټول اسونه مړه کړل نو الله تعالی لمر ودراوه او ده خپل لمونځ وکړ۔ نو اوس پوښتنه دا ده چه د هغو اسونو ګناه څه وه او په ربښتیا هم لمر درول شوی وو؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د اسونو د قتل په باره کښې د مفسرینو دوه رائي دي یوه دا چه د حضرت سلیمان علیه السلام په وړاندې د جهاد لپاره ښه ساتل شوي تیز رفتاره اسونه وړاندې کړی شو نو د نومورې اسونو په کتلو کتلو کښې د مازدیګر لمونځ نې لړ ناوخته شو نو وې ویل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

چه هیڅ برو انه کوي چه دواړه عبادت دي. جهاد هم د الله تعالی په ذکر کښي داخل دی. نو د جهاد په دی جذبي سره ئي هغه اسونه واخیستل او په انتهایي محبت سره ئي د هغوی پښي او غاړې پاکي کړي. او بله دا چه د مال د محبت له وجهي ئي په لمانځه کښي غفلت محسوس کړ نو د ډیر غیرت له او د الٰهي محبت د غلبي له وجهي ئي توره را واخیسته او د اسونو سرونه ئي پرې کړل تر څو چه دا می په لمانځه کښي د تاخیر کفاره شي. بنایي چه د هغه په شریعت کښي د انسانو قرباني جائزه وه او په دي بناء باندي ئي دا انسان مړه کړل او مشهوره داده چه لمر بیرته را وخوت او حضرت سلیمان علیه السلام لمونځ ادا کړ.

علامه شبیر احمد عثماني رحمه الله فرمایي چه اصل واقعه داده چه "د حضرت سلیمان علیه السلام په وړاندي اصیل او تیز رفتار اسونه د جهاد لپاره د ساتنې په خاطر وړاندي کړی شو نو له سلیمان علیه السلام څخه د هغو د کتنې له وجهي د مازدیګر په لمانځه کښي تري تاخیر وشو لیکن بیا هم حضرت سلیمان علیه السلام د آوویل چه که چیرته یوي خواته د الله تعالی له ذکر څخه لري والی وشو نو بلي خواته د جهاد د اسونو محبت او ساتنه هم د الله تعالی په ذکر کښي شامله ده۔ هر کله چه له جهاد څخه مقصد اعلاء کلمه الله دی نو د هغه د مبادي تفقد به څرنګه د الله د ذکر لاندي داخل نه وي نو د جهاد د جوش او جذبي په خاطر ئي حکم وکړ چه هغه اسونه ما ته واپس راولی. چنانچه اسونه ئي ورته بیرته راوستل او په انتهایي اکرام او محبت سره ئي د اسونو غاړې او پښي پاکي کړي۔ او ځینو مفسرینو دا تعبیر کړی دی چه سلیمان علیه السلام وویل چه د مال محبت زه د الله تعالی له ذکر څخه غافل کړم نو د ډیر غیرت اود الٰهي حکم د غلبي له وجهي ئي توره را واخیسته او د اسونو پښي او غاړې ئي پرې کړې تر څو چه هغه اسونه تول د دي غفلت کفاره وګرځي نو بنایي چه د هغه په شریعت کښي د اسونو قرباني به جائزه وه۔(تفسیر عثماني ص۶۰۶، پاره ۲۳، سوره ص)

قال العلامة ثناء الله پاني پتي: رُدُّوْهَا عَلَيَّ بتقدير القول عطف على قال إِنِّيْ أَحْبَبْتُ و قال رُدُّوْهَا اى الصافنات على فردوها عليه..... مسحاً اى يمسح السيف مسحاً..... عن ابى بن كعبؓ عن النبىﷺ قال قطع سوقها و أعناقها با لسيف و كان ذلك باذن الله تعالى توبةً عما غفل من ذكره و تقرباً اليه و طلباً لمرضاته..... قال بعض المفسرين انه ذبحها و تصدق بلحومها و كان لحوم الخيل حلالاً كما هو فى شريعتنا عند الجمهور خلافاً لابى حنيفةؒ فانه قال يكره..... قال البغوى حكى عن علىؓ كرم الله وجهه فى قوله رُدُّوْهَا عَلَيَّ..... رُدّوها اى الشمس على فردوها عليه حتى صل العصر فى وقتها..... و قال الزهرى و ابن كيسان يمسح سوقها و اعناقها بيده يكشف الغبار عنها حبّاً لها و شفقة عليها الخ.

(تفسیر مظهری ج۸، ص۱۷۶، سورة صٓ) و مثله فى معالم التنزيل (تفسیر بغوی) ج٤، ص۳۸، سورة صٓ.

د وَاَنَّ الْمَسَاجِدَ لِلّٰهِ فَلَا تَدْعُوْا مَعَ اللّٰهِ (الآیه) تفسیر

سوال: مفسرین علماء کرام د دي مسئلي په باره کښي څه فرمایي چه اَنَّ الْمَسَاجِدَ لِلّٰهِ فَلَا تَدْعُوْا مَعَ اللّٰهِ اَحَدًا کښي له ان المساجد څخه عام مسجدونه مراد دي او که عبادت تري مراد دی؟

الجواب باسم ملهم الصواب: په دي آیت کښي له مساجدو څخه حال او محال دواړه مراد دي څکه ځینو مفسرینو محل یعني مساجد او ځینو حال یعني عبادت مراد اخیستی دی او دواړه لازم او ملزوم دي څکه دواړه مراد دي.

حکیم الامت مولانا اشرف علیه تهانوي رحمه الله د دي آیت ترجمه داسي کړي ده "او د وحی شوي مضامینو څخه یو دا دی چه ځومره سجدي دي هغه د الله تعالی حق دی نو د الله تعالی له عبادت سره د بل چا عبادت مه کوی" (تفسیر بیان القرآن ج۲، ص۴۹، پ۲۹، سورت الجن)

حضرت شیخ الهند رحمه الله د دي آیت ترجمه داسي کړي ده چه "او دا چه مساجد د الله د ذکر لپاره دي نو له الله تعالی سره نور هیڅوک مه بولی" او په فوائد عثمانیه کښي لیکلي دي "داسي خو د خدای توله زمکه د دي امت لپاره جوماتونه جوړ شوي دي لیکن په خصوصي توګه هغه ځایونه چه د جوماتونو په نامه سره د الله تعالی د عبادت لپاره ځانګړي شوي دي هغو ته له نورو ځایونو څخه نور امتیاز هم حاصل دی چه په هغو جوماتونو کښي له الله تعالی پرته بلي هستۍ ته عبادت کول عظیم ظلم او د شرک بد ترین صورت دی. (تفسیر عثماني ص۷۶۹، پاره ۲۹، سورت الجن آیت ۱۸)

قال العلامة قاضى ثناء الله الپانى پتى رحمه الله: وَ اَنَّ الْمَسَاجِدَ لِلّٰهِ عطف على ان لو استقاموا على الوحى به قيل المراد با لمساجد المواضع التى بنيت للصلوة..... فامر الله المؤمنين ان يخلصوا لله الدعوات اذا دخلوا المساجد الخ. (التفسیر المظهری ج۱۰، ص۹۲، پاره۲۹، سورة الجن) و مثله فى تفسیر مواهب الرحمٰن للسید امیر پاره ۲۹، ج۲۹، ص۱۳٤.

د عوام الناس لپاره د تفهیم القرآن د تفسیر مطالعه کول صحیح نه دي

سوال: جناب مفتي صاحب! د یوي مشکلي او په دین پوري تړلي مسئلي د وضاحت لپاره غوښتنه ده چه زما اکثر ملګري د مولانا سید ابو الاعلی مودودي تفهیم القرآن مطالعه په ډیر شوق سره کوي او د قرآن د فهم او زده کړي لپاره ئي ډیر مفید بولي. نو اوس پوښتنه دا ده چه د تفهیم القرآن مطالعه څرنګه ده آیا په ربنتیا هم په دي تفسیر کښي هغه خبرې شته چه زمونږ علماء کرام ئي په نخښه کړي دي. مهرباني وکړی مدلل څواب راکړئ؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: سید ابو الاعلی مودودي یو آزاد خیاله سړی وو او د تفهیم القرآن تفسیر ئي هم د خپل ځان غوندي په آزاد خیالي باندي مبني د خپلو جوړو شویو اصولو لاندي لیکلی دی. هغه پخپله لیکلي دي چه "په دي کار کښي ما ته د محققینو علماوو ضرورت نشته او ما په دي کتاب کښي د ترجمې عامي طریقي پریښي دي او د آزادي ترجمانۍ طریقه مي اختیار کړې ده، ما په دي کښي د قرآن د الفاظو د اردو د جامي د اغوستلو په ځای دا کوشش کړی دی چه د قرآن یو عبارت حتی الامکان له صحت سره پخپله ژبه کښي منتقل کړم۔ (دیباچه تفهیم القرآن ج۱، ص۵ تا ص۱۰)

لهذا د دي خود ساخته ترجمانۍ له وجهي مودودي په ترجمه او تفسیر کښي ډیري غلطیاني

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

کړي دي چه آن تر دي پوري د حضراتو انبیاء علیهم السلام او صحابۀ کرامو رضی الله عنهم په شان کښې د گستاخۍ مرتکب گرځیدلی دی۔ د نمونې په توگه څو ځایونه په گوته شوي دي چه په لاندې ډول دي۔

﴿۱﴾ د الحمد لله رب العٰلمین ترجمه کوي او لیکي چه تعریف د الله تعالی لپاره ده چه د ټولو کائناتو رب دی۔ (تفهیم القرآن ج۱، ص۴۳) مودودي د آیت کریمه په ترجمه کښې الف لام استغراقي او جنسي له نظره غورځولې دی او حال دا چه نور ټولو مترجمینو د الف لام لحاظ کړی دی او د الحمد ترجمه ئې داسې کړې ده چه ټول تعریفونه الله تعالی لره دي۔ د ده له ترجمې څخه څرگندیږي چه په قرآن کریم کښې ځینې الفاظ بې فائدې دي حالانکه د قرآنکریم یو لفظ هم بې حکمته او بې فائدې نه دی۔

﴿۲﴾ د دي آزاد خیالی په بناء باندې د حضرات انبیاء علیهم السلام په شان کښې ټې ډیر توهین آمیزه کلمې استعمال کړي دي لکه:

﴿الف﴾ د حضرت داود علیه السلام په کار کښې د خواهش نفس دخل وو او هغه داسې فعل وو کوم چه له حق سره د حکومت کوونکي بادشاه سره ښه نه معلومیده۔ (تفهیم القرآن ج۴، ص۳۲۷)

﴿ب﴾ د حضرت یونس علیه السلام څخه د رسالت د فریضې په ادا کولو کښې تقصیرات شوي وو الخ (تفهیم القرآن ج۲، ص۳۱۷)

﴿ج﴾ حضرت نوح علیه السلام د خپلو بشري کمزوریو څخه مغلوب او د جاهلیت د جذبې بنکار شوی وو۔ (بحواله مودودي مذهب ص۲۶)

نو د مودودي د دغو اغلاطو له وجهې د عوام الناس لپاره د تفهیم القرآن مطالعه کول صحیح نه بلکه د گمراهۍ باعث دی۔

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner